# ثَمْرَةُ الْعَقَائِدْ

د عَقِيْدُوْ لپاره د آيَتُوْنُوْ او حَدِيْثُوْنُوْ يَوَه غَټّه ذَخِيْرَهْ

مُؤَلِّفْ

## حضرت مَوْلَانَا ثَمِيْرُالدِّيْنْ قَاسِمِيْ صَاحِبْ دَامَتْ بَرَكَاتُهُمْ

په دغه كتاب كي د ضرورت تَقْرِيْبًا ۳۵۰ عَقِيدې دي او دهري هري عَقِيدې لپاره لَسْ لَسْ آيَتُوْنَهْ او لَسْ لَسْ حَدِيْثُوْنَهْ دي بلكه تر دې هم زِيَاتْ دي

په دغه كِتَابْ كي ۵۶۳ آيَتُوْنَهْ او ۳۷۳ حَدِيْثُوْنَهْ دي

مُتَرْجِمْ

## حضرت مَوْلَانَا اَلشَّيْخْ عَبْدُ الْمَتِيْنْ قُطَبْ دَامَتْ بَرَكَاتُهُمْ

نَاشِرْ : مَكْتَبَهْ رَشِيْدِيَّهْ، سِركي رُوډ كوټه

... څه د كِتَابْ په اَړه ...

د كِتَابْ نوم ........................................ ثَمْرَةُ الْعَقَائِدْ
تَالِيْفْ.................... حضرت مَوْلَانَا ثَمِيْرُ الدِّيْنْ صَاحِبْ مَدَّظِلُّهُ
مُتَرْجِمْ.............................................. اَبُوالْحُسَيْنْ حضرت مَوْلَانَا عَبْدُالْمَتِيْنْ قُطَبْ
نَاشِرْ............................. مَكْتَبَهْ رَشِيْدِيَّهْ سِرْكي روډ كوټه
تَعْدَادْ.............................. يَوُلَس سوه (۱۱۰۰)
اِهْتِمَامْ............................... مَوْلَانَا خَالِدْ مَحْمُوْدْ
كمپوز............. اَلْبَيْضَآءْ كمپوز اداره شَيْخْ قُطَبْ مَسْجِدْ مَحْمُوْدْآبَادْ كوټه

قيمت.......................................... ۴۰۰
ضخامت................................................ ۲۸۰
تَارِيْخْ اِشَاعَتْ ...................... يَکُمْ رَمَضَانُ الْمُبَارَكْ ۱۴۴۱ هجري
پيشکش........................ مَكْتَبَهْ اِسْحَاقِيَّهْ مَحْمُوْدْ آبَادْ کوټه
خبرتيا : د کتاب ټوله حقوق د مُترجم سره خوندي دي هيڅ څوك دې د طبع کولو کوشش نَه کوي ! وَالسّلاَمُ

د مُتَرْجِمْ پَتّه: مَوْلَانَا عَبْدُ الْمَتِيْنْ قُطَبْ، مَحَلَّهْ شَيْخْ قُطَبْ مَسْجِدْ ، نِزْدْ حاجِي اِبْرَاهِيْمْ قِلْعَهْ مَحْمُوْدْ آبَادْ
پَښْتُوْنْ آبَادْ کوټه

د ټيليفون شمېره (0312- 1827127)
(0300- 3805270)

## فِهْرَسْتِ مَضَامِيْنْ

نَمْبَرْ
صَفْحَهْ نَمْبَرْ


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | مُقَدَّمَهْ................................................ | ۱ |
| ۲ | ثَمْرَةُ الْعَقَائِدْ د قَدْرْ وَړ کِتَابْ دئ.......................... | ۶ |
| ۳ | د کِتَابْ د لِيکلو مَقْصَدْ .................................. | ۹ |
| ۴ | خُدَائ دي وکي چي ټول سره يَو ځائ سي ..................... | ۱۰ |
| ۱ | د اَللهْ ذَاتْ .............................................. | ۱۵ |
| ۰ | صِرف اَللهْ رُوزِي رَسَانَ دئ ............................ | ۳۰ |
| ۰ | بَس تَنْهَا اَللهْ بَچَئ دئ .................................. | ۳۳ |
| ۰ | بَس تَنْهَا اَللهْ شِفَاءْ ورکوي ................................. | ۳۵ |
| ۲ | پر اَللهْ باندي جَزَا يا سزَا ورکول وَاجِبْ نَه ده .................. | ۳۷ |
| ۳ | دَهْرِيَانْ بَايَدْ چي اَللهْ تَعَالٰي وَمَنِي ...................... | ۴۲ |
| ۰ | نَه کولائي سي چي همېشه ځُوَانْ پاته سې؟ .................. | ۴۴ |
| ۴ | رُوئِيَتِ بَارِئ تَعَالٰي ........................................ | ۴۷ |
| ۵ | د حُضُور صَلّي اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ لَس غَټ فَضِيْلَتُوْنَهْ ............... | ۵۸ |
| ۰ | حُضُور خَاتَمُ النَّبِيّيْنْ دئ بَل څوک نَه ...................... | ۶۴ |
| ۶ | حُضُوربَشَرْ دئ.لېکن د اَللهْ تَعَالٰي وروسته ترټولواَفْضَلْ ......... | ۷۲ |
| ۰ | په حُضُور يې دا اِعْلَانْ وکئ چي زَهْ اِنْسَانْ يَم ................... | ۷۴ |
| ۰ | په قُرْآنْ کي د ,,نُوْرْ,, لَفظ په پنځُومَعْنٰي سره اِسْتِعْمَالْ سوئ دئ ... | ۸۷ |

| | | |
|---|---|---|
| ۰ | د حَقَارَتْ په تُوګه حُضُور ته بَشَرْ وَيَل بالْکُلْ غَلَطْ دئ .......... | ۹۰ |
| ۰ | حُضُور په خپله فرمائلي دي چي مَا ته دېره لُوېي مَه راکوئ .... | ۹۴ |
| ۷ | حُضُورپه قَبْرْ کي ژُوَندَئ دئ.او بَدَنْ مُبَارَکْ يي بالْکُلْ مَحْفُوْظَ دئ.. | ۹۶ |
| ۸ | حَاضِرْ نَاظِرْ، حُضُور هر ځائ نَه دئ حَاضِرْ .................... | ۱۱۶ |
| ۹ | مُخْتَار کُلْ صِرف اَللّٰهْ تَعَالٰي دئ. د اِخْتِيَارْ څلور قِسْمُوْنَه دي ....... | ۱۴۲ |
| ۱۰ | عِلْمِ غَيْبْ ..................................... | ۱۶۲ |
| ۰ | د حُضُور دا اِعْلَانْ. چي زَمَا سره عِلْمِ غَيْبْ نَسته ................ | ۱۶۹ |
| ۰ | د حُضُور اِعْلَانْ. که عِلْمِ غَيْبْ وائ نو مَا ته به هيڅ نُقْصَانْ نَه رسېدلائي.. | ۱۷۳ |
| ۱۱ | صِرف د اَللّٰهْ څخه مَدَ دْ غُوَښتَل کېدلائي سی ................ | ۲۰۴ |
| ۰ | دُعَاءْ صِرف د اَللّٰهْ څخه غُوَښتَل په کار ده .................... | ۲۰۷ |
| ۰ | په قِيَامَتْ به هم حُضُور د اَللّٰهْ څخه غُواړي، او اَللّٰهْ به ورکوي ... | ۲۱۵ |
| ۱۲ | وَسِيْلَهْ، د وَسِيْلي پنځَه صُوْرَتُوْنَهْ ......................... | ۲۲۳ |
| ۰ | دُعَاءْ صِرف دَاَللّٰهْ څخه غُوَاړئ،لېکن ديَوچَاپه تَوَسُّطْ سره يې غُوَاړئ. | ۲۲۵ |
| ۱۳ | دغه پنځَه عَقِيدي ډېري مُهِمّي دي ......................... | ۲۳۸ |
| ۱۴ | د شَفَاعَتْ بَيَانْ ................................. | ۲۴۲ |
| ۰ | په قِيَامَتْ کي د شَفَاعَتْ کولو اَته صُوْرَتُوْنَهْ دي ............... | ۲۴۳ |
| ۱۵ | پر ټولو نَبِيَانُوْ باندي اِيْمَانْ رَاوړل ضروري دئ ............. | ۲۵۰ |
| ۰ | د ټولو نَبِيَانُوْ په دِيْنْ کي وُو چي اَللّٰهْ يَو دئ ................ | ۲۵۴ |
| ۰ | اُوس پر حُضُور عَلَيْهِ السَّلَامْ باندي اِيْمَانْ رَاوړل ضروري دئ .. | ۲۵۶ |
| ۱۶ | د رَسُوْلْ (صَلَّي اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ) بي اِحْتِرَامِي ...................... | ۲۶۲ |
| ۰ | د حُضُور (صَلَّي اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ) بي اِحْتِرَامِيْ کول ډېر غَټْ وَبَالْ دئ . | ۲۶۳ |
| ۰ | په غَيْرِ مُسْلِمْ مُلْکْ کي د رَسُوْلْ ګُسْتَاخِيْ .......... | ۲۷۷ |
| ۰ | په مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ کي ګُسْتَاخِ رَسُوْلْ يَوَه غَټّه مَسْئَلَهْ ده .......... | ۲۷۹ |
| ۱۷ | د ټولو اَصْحَابَانُوْ اِحْتِرَامْ ډېر ضروري دئ ........... | ۲۸۲ |

| | | |
|---|---|---|
| ۰ | د صَحَابَهْ كِرَامُوْ سره زِيَاتْ مُحَبَّتْ كوئ، د اِمَامِ طَحَاوِيْ حُكْمْ ...... | ۲۸۴ |
| ۰ | د اَصْحَابَانُوْ په فَضِيْلَتْ كي اَتَه آيَتُوْنَهْ راغلي دي .............. | ۲۸۵ |
| ۰ | د اَصْحَابَانُوْ تر مينځ چي كُوم اِخْتِلَافْ راغلئ دئ مُوږ بَايَدْ د هغه څخه خپل ځانونه وَ ساتو ....................... | ۲۹۶ |
| ۰ | دغه لَس اَصْحَابَانْ دي چي په دُنْيَا كې د جَنَّتْ زېرئ وركئ ..... | ۲۹۷ |
| ۱۸ | د اَهْلِ بَيْتْ سره مُحَبَّتْ كول د اِيْمَانْ جُزْ دئ.................. | ۲۹۹ |
| ۰ | په اَهْلِ بَيْتْ كي څوك دَاخِلْ دي؟ ................... | ۳۰۰ |
| ۰ | د سَيِّدَهْ حضرت فَاطِمَهْ (رَضِيَ اللهُ عَنْهَا) فَضِيْلَتْ ............... | ۳۱۱ |
| ۰ | و سَيِّدَهْ حضرت فَاطِمَهْ (رَضِيَ اللهُ عَنْهَا) ته مِيْرَاثْ وَلِي وَر نَه كئ؟ . | ۳۱۲ |
| ۰ | حضرت اَبُوْبَكْرْ ؓ عَهْدْ وكئ چي زَهْ به و اَهْلِ بَيْتْ ته هرڅَه وَركوَم. | ۳۱۵ |
| ۰ | حضرت عَلِيْ ؓ د حضرت اَبُوْبَكْرْ ؓ سره غَارَهْ په غَارَهْ سو ...... | ۳۱۶ |
| ۰ | د اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْنْ حضرت عَلِيْ ؓ فَضِيْلَتْ ...................... | ۳۱۸ |
| ۰ | حضرت عَلِيْ ؓ ته تر حَدْ زِيَاتَهْ مَرْتَبَهْ وركول هم هَلَاكتْ دئ ... | ۳۱۹ |
| ۰ | د اُمُّ الْمُؤْمِنِيْنْ حضرت عَائِشَهْ (رَضِيَ اللهُ عَنْهَا) فَضِيْلَتْ ........ | ۳۲۷ |
| ۰ | د اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْنْ حضرت اَبُوْبَكْرْ ؓ فَضَائِلْ .................. | ۳۳۰ |
| ۰ | حضرت اَبُوْبَكْرْ ؓ تر دغه اَصْحَابَانُوْ اَفْضَلْ وُو ............... | ۳۳۵ |
| ۰ | حضرت اَبُوْبَكْرْ ؓ او حضرت عُمَرْ ؓ د حُضُور ﷺ خُسَرَانْ دي .. | ۳۳۶ |
| ۰ | د اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْنْ حضرت عُمَرْ ؓ فَضَائِلْ ................. | ۳۳۷ |
| ۰ | حضرت عُمَرْ ؓ د حضرت عَلِيْ ؓ زُوْمْ دئ ..................... | ۳۳۸ |
| ۰ | د اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْنْ حضرت عُثْمَانْ ؓ فَضَائِلْ .................. | ۳۴۰ |
| ۰ | زِمَا اُسْتَاذَانُوْ څومره اِحْتِرَامْ رَابښُوَلَئ دئ؟ .................. | ۳۴۵ |
| ۱۹ | د خِلَافَتْ مَسْئَلَهْ .................... | ۳۴۶ |
| ۰ | حضرت عَلِيْ ؓ فرمائلي دي چي مَا ته د خِلَافَتْ وَصِيَّتْ نَه دئ | ۳۴۷ |

| | | |
|---|---|---|
| | کړئ | |
| ۰ | تولو په اِتِّفَاقْ سره حضرت اَبُوْبَكْرْ﷜ خَلِيْفَهْ کړئ ........... | ۳۵۵ |
| ۰ | حضرت عَلِيْ﷜ د حضرت اَبُوْبَكْرْ﷜ سره بَيْعَتْ کړئ وُو ....... | ۳۵۶ |
| ۰ | د پنځو خَلِيْفَهْ گانُوْ د خِلَافَتْ مُدَهْ ............................ | ۳۵۹ |
| ۲۰ | وَلِيْ كُوم چَا ته وَيَل كيږي؟ ........................ | ۳۶۲ |
| ۰ | د وَلِيْ عَلَامَتْ دادئ چي هغه ته وَگُوري نو خُدَایْ دَر په يَادْ سی. | ۳۶۴ |
| ۰ | چي د شَرِيْعَتْ پَابَندَه نَه وي هغه وَلِيْ نَه دئ ................. | ۳۶۵ |
| ۲۱ | د فَرِشْتُوْ (مَلَائِكُوْ) بَيَانْ .................................. | ۳۷۰ |
| ۲۲ | د جِنَّاتُوْ (پيرَانَانُوْ) بَيَانْ ................................ | ۳۷۸ |
| ۰ | جِنَّاتْ اِنْسَانْ پرېشَانَ کوي . لېکن دُومره نَه څومره چي نَنْ سَبَا . | ۳۸۰ |
| ۰ | د جِنَّاتُوْ د ټيکَهْ دَارَانُوْ څخه هُوښيَار وسيږئ ................ | ۳۸۱ |
| ۲۳ | حَشْرْ نَشْرْ به قَائِمْ سي .................................. | ۳۸۴ |
| ۲۴ | مِيْزَانْ (تَرَازُوْ) بَرْ حَقْ دئ .............................. | ۳۹۱ |
| ۲۵ | اَللّٰهْ تَعَالٰى جَنَّتْ پَيدَا کړئ دئ ............................ | ۳۹۳ |
| ۲۶ | قُرْآنْ د اَللّٰهْ تَعَالٰى کَلَامْ دئ ............................. | ۴۰۰ |
| ۰ | په قُرْآنْ کي نَه خو تَحْرِيْفْ سوئ دئ او نَه به وسي .......... | ۴۰۶ |
| ۲۷ | اَللّٰهْ تَعَالٰى چيري دئ؟ ........................................ | ۴۱۰ |
| ۰ | عَرْشْ يَو ډېر غَټْ مَخْلُوْقْ دئ ............................ | ۴۱۷ |
| ۲۸ | قَلَمْ څشَئ دئ؟ ........................................ | ۴۳۴ |
| ۲۹ | د اِيْمَانْ تَفْصِيْلَاتْ ........................................ | ۴۳۷ |
| ۰ | چي پر شَيَرُوْ شَيَانُوْ يې اِيْمَانْ وي نو هغه ته مُؤْمِنْ وَيَلَائي سي .. | ۴۳۷ |
| ۰ | چي ددغه شَيَرُوْ څخه د يَوَه اِنْكَار وكي نو كَافِرْ كيږي .......... | ۴۴۶ |
| ۰ | په زَرَهْ سره تَصْدِيْقْ او په ژَبَهْ سره اِقْرَارْ كولو ته اِيْمَانْ وائي... | ۴۴۷ |
| ۳۰ | تَقْدِيْرْ .................................................... | ۴۵۴ |
| ۰ | چي څوک څنگه وي دهغه رنگه كار تَوْفِيْقْ ورته مِلاوېږي .. | ۴۵۷ |
| ۰ | د تَقْدِيْرْ په اړه ډېر بَحْثْ كول په كار نَه دئ .................. | ۴۵۹ |

| | | |
|---|---|---|
| ۳۱ | اِسْتِطَاعَتْ. خَلْقْ او كسَبْ چشئ دي؟ ........................ | ۴۶۰ |
| ۳۲ | شِرْكْ په ټولو آسْمَانِيْ كِتَابُوْ كي مَمْنُوْعْ دئ .................... | ۴۶۷ |
| ۰ | د شِرْكْ اَنْجَامْ دادئ چي اَللهْ تَعَالٰي يې په هيڅ وَخْتْ نَه مَعَافَوِي | ۴۷۰ |
| ۰ | د اَللهْ سره په عِبَادَتْ كي شِرْكْ كول حَرَامْ دئ ................ | ۴۷۳ |
| ۰ | د اَللهْ څخه عَلَاوَهْ بَل چَا ته سَجْدَهْ او رُكُوْعْ كول جَوَازْ نَه لري .... | ۴۷۴ |
| ۰ | چي كبيْرَهْ ګُنَاهْ حَلَالَ وګڼي نو كافِرْ كيږي .................... | ۴۸۳ |
| ۳۳ | مُسَلْمَانْ كله مُرْتَدْ ګرزي؟ ................................ | ۴۸۷ |
| ۰ | مُرْتَدْ ته به شَرْعِيْ قَاضِيْ د قَتْلْ سَزَا وركوي ................... | ۴۸۸ |
| ۰ | په نِيمَئ لَفْظ (جُمْلَهْ) څوک مَه مُشْرِكْ كوئ .................. | ۴۹۳ |
| ۳۴ | اَهْلِ قِبْلَهْ ګُوم خلګ دي؟ .................................. | ۴۹۷ |
| ۰ | په اِسْلَامْ كي سَخْتِيْ (تَشَدُّدْ) هم نَسته.او ډېر ډيل (سُسْتِيْ) هم نَستَه | ۵۰۲ |
| ۳۵ | پِيرِيْ او مُرِيْدِيْ .......................................... | ۵۰۴ |
| ۰ | چي پِيْرْ صَاحِبْ خُدَائ تَرْسْ اِنْسَانْ وي نو دهغه اَثَرْ ډېر وي .. | ۵۰۷ |
| ۰ | د طَلَبِ دُنْيَا لپاره پِيْرْ جوړول، يا مُرِيْدْ جوړول ښَه خَبَرَهْ نَه ده .... | ۵۰۹ |
| ۰ | حُضُورﷺ به د ښځو (زَنَانُوْ) سره بَيْعَتْ كاوئ. لېكن............ | ۵۱۴ |
| ۰ | پِيْرْ صَاحِبْ دي تَا ته ګُوم مَعْنَوِيْ فَيْضْ دركړي دغه رنګه نَه ده ...... | ۵۱۵ |
| ۳۶ | تَعْوِيْذْ په غَارَهْ كول څنګه دئ؟ .............................. | ۵۱۷ |
| ۰ | تَعْوِيْذْ پر اُوَهْ (۷) قِسْمَهْ دئ ............................ | ۵۱۷ |
| ۰ | د بعضو تَعْوِيْذْ ګرَانُوْ مَكْرُوْنَهْ .......................... | ۵۱۸ |
| ۰ | په ګُوم كُوْرْ كي چي د تَعْوِيْذْ رِوَاجْ وي هغه ځان نَه سي خلاسولائي | ۵۲۰ |
| ۰ | د تَعْوِيْذْ څخه لَږ څه ذِهْنِيْ تَسَلِّيْ مِلاوېږي ................. | ۵۲۱ |
| ۰ | چي تَعْوِيْذْ نَه وَځَړوِي او صَبْرْ وكي نو دغه د تَقْوِيْ اَعْلٰى دَرَجَهْ ده . | ۵۳۱ |
| ۰ | كه د تَسَلِّيْ لپاره يَو وَخْتْ تَعْوِيْذْ وَځَړوِي نو ددې لَږ څه ګُنجَائِش سته.................. | ۵۳۲ |

| | | |
|---|---|---|
| ٠ | لېکن د تَعْوِیْذَانُوْ کَارْ و بَارْ جوړول جَوَازْ نَه لري ............. | ٥٣٥ |
| ٠ | جَادُوْ کول حَرَامْ دئ ........................................... | ٥٣٩ |
| ٠ | چي عَرَّافْ ته وُلاړْ سي نو څلوېښت وُرَځي يې عِبَادَتْ نَه قَبلېږي ... | ٥٤٢ |
| ٠ | جنّاتْ يعني پيْرَانَانْ اِيستَل (ليرى كول) ............ | ٥٤٤ |
| ٣٧ | د قَبْرُوْ زِيَارَتْ کول .............................................. | ٥٤٥ |
| ٠ | تر حَدْ زِيَاتْ د قَبْرُوْ تَعْظِيْمْ کول مَنَعْ دئ ............ | ٥٤٧ |
| ٠ | قَبْرْ ته په دې وَجْهَ تلل چي هلته آخِرَتْ وَر په يَادْ سي ............ | ٥٤٩ |
| ٠ | د اُوَه (٧) شَرْطُوْ سره قَبْرْ ته تَلَل جَائِزْ دئ ............ | ٥٥١ |
| ٠ | د اَللهْ بَغَيْرَهْ د بَل چَا عِبَادَتْ وَنَه کي ........................ | ٥٥١ |
| ٠ | د صَاحِبِ قَبْرْ څخه څَه وَنَه غُواړي ........................... | ٥٥٢ |
| ٠ | په پَرْدَهْ کي وُلَاړَهْ سي. په بې پَرْدگيْ کي هيڅ کله نَه ............ | ٥٥٧ |
| ٠ | په عُمُوْمِيْ حَالَا تُوْ کي د ښځُو لپاره قَبْرُوْ ته تَلَل مَنْعَ دئ ....... | ٥٦٥ |
| ٠ | پر قَبْرْ باندي عِمَارَتْ جوړول مَکْرُوْهْ دئ ...................... | ٥٦٨ |
| ٠ | د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ پر قَبْرْ مُبَارَکْ وَلِي گُمْبَتَّهْ سته؟ .... | ٥٧٠ |
| ٠ | د مَړي د کُوْرْ ډُوْډَئ خُوړَل مَکْرُوْهْ ده ........................ | ٥٨٣ |
| ٣٨ | پر قَبْرْ باندي عُرْسْ کول نَاجَائِزْ دئ ........................ | ٥٨٩ |
| ٠ | غَزَلِيْ او دَرْيَا. او رَبَابْ او ډُوْلْ وَهَل حَرَامْ دي ................ | ٥٩٣ |
| ٠ | په غُنِي (گانګوړَه) اَوَازْ سره غَزَلِيْ وَيَل هم مَکْرُوْهْ دي ........ | ٥٩٥ |
| ٣٩ | فَيْضْ حَاصِلَوَل .................................................. | ٦٠١ |
| ٠ | د قَبْرُوْ او د مُرْدَهْ گانُوْ څخه بيا کُوم فَيْضْ حَاصِلېږي؟ ......... | ٦٠٧ |
| ٤٠ | قَبْرْ ته نِژدې ذَبْحَ کول مَنْعَ ده .............................. | ٦١٣ |
| ٠ | د ذَبْحْ کولو څلور صُوْرَتُوْنَهْ دي ............................ | ٦١٣ |
| ٠ | څَلُوْرَمْ صُوْرَتْ، د اَللهْ پر نُوْمْ يې ذَبْحَ کي او د قَبرسْتَانْ څخه ليري .. | ٦١٩ |
| ٤١ | مَاتَمْ کول حَرَامْ دئ ..... ................................ | ٦٢١ |
| ٠ | د مُصِيْبَتْ په وَخْتْ کي قُرْآنْ د صَبْرْ کولو دَرْسْ ورکوي ........... | ٦٢١ |

| | | |
|---|---|---|
| ۰ | آهْ و فرْيَادْ كول مَنْعَ دئ ......................... | ۶۲۴ |
| ۴۲ | اِيْصَالِ ثَوَابْ يَو مُسْتَحَبْ كار دئ ............................. | ۶۲۷ |
| ۰ | د مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ زيَاتُوْبْ ................................... | ۶۲۹ |
| ۰ | د اِيْصَالِ ثَوَابْ درې صُوْرَتُوْنَهْ .............................. | ۶۳۰ |
| ۰ | مَالِيْ صَدَقَهْ كول او ثَوَابْ يې بَخښَل ............................ | ۶۳۱ |
| ۰ | بَدَنِيْ اَعْمَالْ كول او ثَوَابْ يې بَل چَا ته رَسَوَل .................. | ۶۳۴ |
| ۰ | څَه وَيَل او ثَوَابْ يې بَل چَا ته رَسَوَل .......................... | ۶۳۵ |
| ۰ | د بعضو حَضرَاتُو رَأيَهْ ده چي ثَوَابْ نَه سي رسولائي .......... | ۶۳۹ |
| ۰ | د قَبْرْ د خُرَافَاتْ (نَاجَائِزْ كارو) څخه ثَوَابْ نَه مِلاوېږي ......... | ۶۴۴ |
| ۴۳ | مُرْدَهْ ګانْ (مَړي/ مَيِّتْ) اَورِي كه نَه؟ ........................... | ۶۴۶ |
| ۰ | هغه حَضرَات چي دا وائي چي مَړي (مُرْدَهْ ګانْ) نَه اَوري .... | ۶۴۷ |
| ۰ | لېكن چي اَللّٰهْ څومره وَغُواړي هغونه په اَورَوِي .............. | ۶۵۲ |
| ۴۴ | دغه لَسْ شِيَانْ د قِيَامَتْ د عَلَامَاتُوْ څخه دي .................. | ۶۵۵ |
| ۰ | مُوږ د قِيَامَتْ پر دغه عَلَامَاتُوْ باندي اِيْمَانْ لرو ................ | ۶۵۵ |
| ۰ | حضرت عِيْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامْ به دُوَهَمْ وارْ مځكي ته رَاشَوَه كيږي .. | ۶۵۷ |
| ۰ | حضرت اِمَامِ مِهْدِيْ عَلَيْهِ السَّلَامْ ............................ | ۶۶۰ |
| ۰ | دَجَّالْ / يَأجُوْجْ مَأجُوْجْ / لُمَرْ د غَرْبْ لَخُوَا ...................... | ۶۶۳ |

# د ثَمْرَةُ الْعَقَائِدْ خُصُوْصِيَّاتْ

| | |
|---|---|
| ۱ | كِتَابْ مُو په ډېر اَسَانَ اَنْدَازْ کي لِيکلئ دئ . |
| ۲ | د مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ عَقَائِدْ مُو بَيَانْ کړي دي . |
| ۳ | دهري عَقِيدي لپاره مُوصَرِيْحْ آيَتُوْنَهْ او صَحِيْحْ حَدِيْثُوْنَهْ راوړي دي. |
| ۴ | دا کُوښښ مُو کړئ دئ چي د ټولو مَسْلَکُوْ خلک پر دې مُتَّفِقْ سي. |
| ۵ | په جُمْعَهْ کي د تَقْرِيْرْ کونکو خَطِيْبَانُوْ لپاره دا اَسَانِيْ ده چي ددې ځايَه څخه آيَتْ او حَدِيْثُوْنَهْ وَاخلَه بَس تَقْرِيْرْ شروع که . |
| ۶ | كِتَابْ مُو په ډېره يُوهَنَهْ سره لِيکلئ دئ، او د هر مَسْلکْ دخلکو لپاره فَائِدَهْ مَنْدْ دئ . |
| ۷ | د هري عَقِيْدي د اِثْبَاتْ لپاره څومره آيَتُوْنَهْ دي، او څومره حَدِيْثُوْنَهْ دي، د هغو شُمېره مُو ور کړې ده، او د هر آيَتْ او هر حَدِيْثْ مُو مُکَمَّلَهْ حَوَالَهْ ورکړې ده . |
| ۸ | په دغه كِتَابْ کي، د ضرورت تَقْرِيْبًا ۳۵۰ عَقِيدِي دي، ددغه عَقِيْدُوْ د اِثْبَاتْ لپاره لَسْ لَسْ آيَتُوْنَهْ او لَسْ لَسْ حَدِيْثُوْنَهْ دي، بلکه تر دې هم زِيَاتْ دي، مګر د ضرورت لکبله زِيَاتْ او کَمْ هم پکي راغلي دي . |
| ۹ | په دغه كِتَابْ کي، د ضرورت تَقْرِيْبًا ۳۵۰ عَقِيدِي دي، ددغه عَقِيْدُوْ د اِثْبَاتْ لپاره لَسْ لَسْ آيَتُوْنَهْ او لَسْ لَسْ حَدِيْثُوْنَهْ دي، بلکه تر دې هم زِيَاتْ دي، مګر د ضرورت لکبله زِيَاتْ او کَمْ هم پکي راغلي دي . |

| | |
|---|---|
| ١ | کِتَابْ مُو په ډېر اَسَانْ اَنْدَازْ کي لِيکلئ دئ . |
| ٢ | د مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ عَقَائِدْ مُو بَيَانْ کړي دي . |
| ٣ | د هري عَقِيدي لپاره مُو صَرِيْحْ آيَتُوْنَهْ او صَحِيْحْ حَدِيْثُوْنَهْ راوړي دي . |
| ۴ | دا کُوښښ مُو کړئ دئ چي د ټولو مَسْلَکُوْ خلګ پر دې مُتَّفِقْ سي. |
| ۵ | په جُمْعَهْ کي د تَقْرِيْرْ کونکو خَطِيْبَانُوْ لپاره دا اَسَانِيْ ده چي ددې ځايَه څخه آيَتْ او حَدِيْثُوْنَهْ وَاخلَه بَس تَقْرِيْرْ شروع که . |
| ۶ | کِتَابْ مُو په ډېره پُوهَنَهْ سره لِيکلئ دئ، او د هر مَسْلَکْ دخلګو لپاره فَائِدَهْ مَنْدْ دئ . |
| ٧ | د هري عَقِيْدي د اِثْبَاتْ لپاره څومره آيَتُوْنَهْ دي، او څومره حَدِيْثُوْنَهْ دي، د هغو شُمېره مُو ور کړې ده، او د هر آيَتْ او هر حَدِيْثْ مُو مُکمَّلَهْ حَوَالَهْ ورکړې ده . |
| ٨ | په دغه کِتَابْ کي، د ضرورت تَقْرِيْبًا ٣۵٠ عَقِيدي دي، ددغه عَقِيْدُوْ د اِثْبَاتْ لپاره لَسْ لَسْ آيَتُوْنَهْ او لَسْ لَسْ حَدِيْثُوْنَهْ دي، بلکه تر دې هم زيَاتْ دي، مګر د ضرورت لکبله زيَاتْ او کمْ هم پکي راغلي دي . |
| ٩ | ددغه عَقِيْدُوْ د اِثْبَاتْ لپاره ۵۶٣ آيَتُوْنَهْ او ٣٧٣ حَدِيْثُوْنَهْ دي، او ټوټل عُنْوَانُوْنَهْ ۴۶۵ دي . |

## مُقَدَّمَهْ

## عِلْمُ الْکَلَامْ يا عَقَائِدْ

**اَزْ.** حضرت **مَوْلَانَا مَرْغُوْبْ صَاحِبْ لَاجْپُوْرِيْ، دَامَتْ بَرَکَاتُهُم**

**يَامْ لَرَنَهْ** :- حضرت **مَوْلَانَا مَرْغُوْبُ صَاحِبْ لَاجْپُوْرِيْ**، يَو ښه **جَيِّدْ عَالِمْ** دئ، **تَقْرِيْبًا** د **سلْ رَسَائِلُ مُصَنِّفْ** دئ، او ډېر **کِتَابُوْنَهْ** دده په **قَلَمْ** او **لَاسْ** سره ليکل سوي دي، او ډېر **مَقْبُوْلَ** دئ، ډېر **ښَهْ نَظَرْ** لري، او **ښَهْ مَشْوَرَهْ** ورکوي، **زَهْ** دغه **وَيْنَا** د ځان لپاره هيڅ **پيغُوْرْ** نَه ګڼَم چي دئ **زَمَا** شَاګرد دئ، لېکن **زَمَا** څخه ډېر مَختَه تللئ دئ، نو ځکه **مَا** د **تَصْحِيْحْ** لپاره خپل **کِتَابْ** ده ته ورکئ، ده ډېره ښَه **تَصْحِيْحْ** وکړه، او ښې په **زَرَهْ** پُورِي **مَشْوَرِي** يې **مَا** تَه راکړې، دده د **تَصْحِيْحْ** سره دغه **کِتَابْ** اُوس **دُوَهَمْ وَارْ** چَاپ ته **رَوَانْ** دئ. **اِدَارَهْ**

د عَقَائِدُوْ اِصْلَاحْ ډېره مُهِمَّهْ او ضروري ده، د عَقَائِدُوْ د تَصْحِيْحْ بَغَيْرَهْ د اِيْمَانْ حِفَاظَتْ يَو مُشْكِلْ تَرِيْنْ کار دئ. دغه جُمْلَهْ خو مَشْهُوْرَهْ ده چي د اَعْمَالُوْ کمزوري خو مَعَافْ کېدلائي سي لېکن د عَقَائِدُوْ کمزوري د مَعَافِيْ قَابِلَهْ نَه ده. په وَجْهَ خو ويل کېږي چي دارنګه ډېر اَعْمَالْ سته چي دهغه د نَه کولو لکبله اِنْسَانْ ګُنَاهْ ګارَهْ کېږی لېکن د کُفْرْ حُکْمْ نَه لګېږي. ددې تر ځنګه دهغه اَعْمَالُوْ چي څوک عَقِيْدَهْ نَه لري نو دهغه اِيْمَانْ په خَطَرْ کي دئ. چی د عَقِيدې غَلَطِيْ وکي نو د اِنْسَانْ څخه صِرَاطِ مُسْتَقِيْمْ پاته د ضَلَالَتْ د لَارِ مُسَافِرْ سي. زَمَا نيکه مُحْتَرَمْ حضرت مَوْلَانَا مَرْغُوْبْ اَحْمَدْ صَاحِبْ رَحِمَهُ اللّٰهْ ددې يَو ډېر بِنَهْ مِثَالْ ورکړئ دئ. حضرت ليکي چي

,, په عَقِيْدَهْ کي د غَلَطِيْ کونکو مِثَالْ دهغه مُسَافِرْ وَاخلَه! چي د مَنْزَلِ مَقْصُوْدْ غَتْ سَرَکْ يې پرېښَئ وي په غَلَطِيْ سره بَلَه لَارَهْ اَخستې وي. او ګُوم خلګ چي د خپلو خُوَاهِشَاتُ څخه مَغْلُوْبْ سوي وي دهغوي وَاقِعِيْ حَالَتْ دارنګه دئ چي مَنْزَلِ مَقْصُوْدْ او پر سِيْدَه لَارَهْ رَوَانْ وی. لېکن د مُخَالِفْ طَرَفْ تېزي هَوَاوِيْ او تيزي جَنګُو لکبله ډُوي په ډېر مُشْکِلْ سره ګامُوْنَهْ اَخلِي ,, .

(تَوْحِيْدُ الْاِسْلَامْ. تَالِيْفَاتِ مَرْغُوْبْ. ص: ۳۴)

ددغه اَهْمِيَّتْ لکبله فُقَهَاءِ عِظَامُوْ او عُلَمَاءِ کِرَامُوْ اِيْمَانْ او عَقَائِدْ په ډېر تَفْصِيْلْ سره لِيکلي دي. اِسْلَامِيْ عَقَائِدْ ګُوم دي؟ که يَو طَالِبِ عِلْمْ ددې مُطَالَعَهْ کول وَغُوَاړي نو هغه دي د حَکِيْمُ الْاُمَّتْ حضرت تِهَانَوِيْ رَحِمَهُ اللّٰهْ ,, بَهِشْتِيْ زِيْوَرْ ,, د حضرت مَوْلَانَا سَيِّدْ زَوَّارْ حُسَيْنْ شَاهْ صَاحِبْ ,, عُمْدَةُ الْفِقْهْ ,, او د عَيْنُ الْهِدَايَهْ جِلْدْ اَوَّلْ مُقَدَّمَهْ او دغه رنګه نور کِتَابُوْنَهْ مُطَالَعَهْ کي په هغه کي ډېري فَائِدَهْ مَنْدِيْ خَبَرِيْ راغلي دي .

پر دغه مَوْضُوْعْ باندي زُمُوږ د اَکَابِرِيْنُوْ څو مُسْتَقِلْ کِتَابُوْنَهْ هم سته، د حضرت مَوْلَانَا مُحَمَّدْ اِدْرِيْسْ صَاحِب کانْدِهْلَوِيْ رَحِمَهُ اللّٰهْ ,, عِلْمُ الْکَلَامْ ,, او ,, عَقَائِدِ اِسْلَامْ ,, ډېر د قَدْرْ وَړ دي. د حضرت مَوْلَانَا مُفْتِيْ مَحْمُوْدْ حَسَنْ صَاحِبْ اَجْمِيْرِيْ رَحِمَهُ اللّٰهْ (سَابِقْ شَيْخُ الْحَدِيْثْ و مُفْتِيْ جَامِعَهْ حُسَيْنِيَّهْ رَانْدِيْرْ) يَوَه مُخْتَصَرَهْ رِسَالَهْ ,, مُعِيْنُ الْعَقَائِدْ ,, د طَالِبَانُوْ ليَاره ډېره فَائِدَهْ مَنْدْ دئ. د اِخْتِصَارْ سره سره په جَامِعِيَّتْ کي يَو بې مِثَالَ شَئ دئ. اِمَامْ اَبُوْحَنِيْفَهْ رَحِمَهُ اللّٰهْ په خپل ژُوَنْد کي د ,, اَلْفِقْهُ الْاَکْبَرْ ,, په نوم يوه رِسَالَهْ و ليکله او د خپل ژُوَنْدْ په آخِرِيْ زَمَانَهْ کي د ,, کِتَابُ الْوَصِيَّةْ ,, په نوم يوه بَله

رِسَالَهْ تَصْنِيْفْ کړه. او ددغه دواړو رِسَالُوْ شَرح بيا د مِشْکوٰةْ شَارِحْ مُلَّا عَلِيْ قَارِيْ رَحِمَهُ اللّٰهْ په تَفْصِيْلْ سره ليکلې ده، او بيايې د تَتِمَّهْ او تَکْمِلَهْ په تُوګه د نورو عَقَائِدُوْ اِضَافَهْ هم ورسره کړې يَو ډېر مُفِيْدْ تَصْنِيْفْ يې تَيَّارْ کړئ دئ. چې د شَرْح فِقْهِ اَکْبَرْ په نُوم سره طَبْعْ (چَاپْ) سوئ دئ، په اُرْدُوْ ژَبَهْ کې هم ددې شُرُوْحَاتِ شَائِعْ سوي دي .

د اُمَّتْ د قَدْرْ وَړ کُوښښوڅخه يو د اِعْتِمَادْ وَړ مَتْنْ ,,اَلْعَقَائِدُ النَّسَفِيَّةْ,, هم دئ چې د عُمَرْ بِنْ مُحَمَّدْ نَجْمُ الدِّيْنْ اَلنَّسَفِيْ (٥٣٧ هجري) تَالِيْفْ دئ، چې د فِقْهِ حَنَفِيْ په غَټُو غَټُو تَمْبُوْ کې شُمېرل سوئ دئ، او دده قَلَمْ د فِقْهِ، کَلَامْ، اَدَبْ، تَارِيْخْ او دغه رنګه نور نور تَقْرِيْبًا سَل کِتَابُوْنَهْ تَدْوِيْنْ کړي دي، اِمَامْ نَسَفِيْ رَحِمَهُ اللّٰهْ د خپلو مَخکنَيُو عُلَمَاءُ د مِحْنَتُوْ څخه په اِسْتِفَادَهْ کولو سره د عَقَائِدِ صَحِيْحَهْ په اړه يَو مَتْنْ تَيَّارْ کړئ چې په اُمَّتْ کې مَقْبُوْلِيَّتِ عَامَّهْ ورته نَصِيْبْ سو. د اَتَمِّيْ صَدِيْ مَشْهُوْرَهْ مُحَقِّقْ عَالِمْ چې ډېر زِيَاتْ تَصْنِيْفُوْنَهْ يې هم کړي دي مَسْعُوْدْ بِنْ عُمَرْ چې د عَلَّامَهْ تَفْتَازَانِيْ په نُوم سره شُهْرَتْ لري(مُتَوَفِّيْ ٧٩٣) ددغه مَتْنْ شَرْحْ وليکله. چې نُومَوړي د مَاتُرِيَّهْ او د اَشَاعِرَهْ د عُلُوْمُ څخه په اِسْتِفَادَهْ کولو سره په خَالِصْ فَنِّيْ اَنْدَازْ کې د عِلْمِ کَلَامْ مَسَائِلِيْ په نَقْلِيْ او عَقْلِيْ دَلَائِلُوْ سره مُبَرْهَنْ کړې. عَلَّامَهْ مَوْصُوْفْ د مَسْئَلُوْ په ټينګار او جُوړْ عِلْمْ کې يَو مِثَالْ دئ، نُومَوړئ د تَارِيْخْ په پَاڼُوْ کې تَنْهَا هغه خُوْشْ قِسْمَتْ مُصَنِّفْ دئ چې په بېلا بېلو عُلُوْمْ و فُنُوْنْ کې دده ګڼشمېر کِتَابُوْنَهْ د تَعْلِيْمْ په نِصَابْ کې شَامِلْ دي، او تر نَنْ وُرَځِيْ پُوري عِلْمِيْ نړئ وَال دده تر اِحْسَانْ لَانْدِيْ دي .

دا چې د مُتَقَدِّمِيْنُوْ دغه کِتَابُوْنَهْ ډېر مُهِمْ او په نِصَابْ کې دَاخِلْ دي خو ددې سره سره دا خَبَرَهْ ضروري ده چې په نَنْ زَمَانْ کې د طَالِبَانُوْ لپاره د اُوس وَخْتْ دهغه ګُمْرَاهْ عَقَائِدُوْ فِرْقُوْ په اړه خو بُنْيَادِيْ او پر مُهِمُّوْ مَوْضُوْعَاتُوْ باندې مُشْتَمِلْ کِتَابُوْنَهْ تَيَّارْ سي او دُوي ته دَرْسًا دَرْسًا وويل سي. زُمُوږ د فَارِغُ التَّحْصِيْلْ طَالِبَانُوْ ډېر تَعْدَادْ د نَنْ زَمَانْ د ګُمْرَاهْ فِرْقُوْ د بُنْيَادِيْ عَقَائِدُوْ څخه نَاخَبَرَهْ دي، چې د عَقَائِدُوْ څخه نَاخَبَرَهْ دي نو دهغوي تَرْدِيْدْ او دهغوي د ختمَوُلُو هَڅې به څنګه کوي؟ په بعضو مَدْرَسُوْ کې د ,, فِرْقَهْ بَاطِلْ ,, په نُوم سره يَوه مُسْتَقِلَّهْ شُعْبَهْ شروع سوې ده چې د مُبَارَکِئْ وَړ ده، لېکن خو د ټولو طَالِبَانُوْ لپاره په دَرْسْ کې هم څو مَضَامِيْنْ بَايَدْ په نِصَابْ کې دَاخِلْ سي .

## تَدْوِيْنِ عِلْمِ کَلَامْ ..... عِلْمْ کَلَامْ او دهغه ضرورت

د مِفْتَاحُ السَّعَادَةْ مُصَنِّفْ لِيکلي دي چي د عِلْمِ کَلَامْ لُومړئ اِشَاعَتْ په اَوَّلَهْ هِجْرِيْ کي مُعْتَزِلَهْ او قَدْرِيَّهْ وُ وکړئ. او د اَهْلِ سُنَّتْ وَالْجَمَاعَتْ د عِلْمْ کَلَامْ بُنْيَادْ د هِجْرَتْ په دَرِيَمَّهْ صَدَئ کي لُوېدَلَئ دئ. ځکه چي د اِعْتِزَالْ اِبْتِدَاءْ خو وَاصِلْ بِنِ عَطَاءْ وکړه، چي په ۸۰ هِجْرِيْ کي پَيدَا سو او په ۱۳۱ هِجْرِيْ کي وَفَاتْ سو، او د اَهْلِ سُنَّتْ وَالْجَمَاعَتْ د عِلْمِ کَلَامْ بُنْيَادْ بيا اِمَامْ اَبُوالْحَسَنْ اَشْعَرِيْ اَچَولَئ دئ چي په دَرِيَمَّهْ صَدَئ کي وُو او په خپله هم تر يَو وَختَه پُوري مُعْتَزِلِيْ وُو، په دغه وَجْهَ عِلْمِ کَلَامْ تر دُوُو صَدَيُوْ پُوري په مُسْتَقِلَّهْ تُوګه د مُعْتَزِلَهْ وُو په لَاسْ کي پاته وُو .

**عِلْمِ کلَامْ** او دهغه ضرورت:..... دا چي فَلْسَفَهْ يَو عُمُومِي وَقْعَتْ تر لَاسَ کړئ او د اَرَسْطُوْ او اَفْلَاطُوْنْ د نُومُونُو د عَظْمَتْ څخه ډېر خلک مَرْعُوْبْ سوي وُو، او د دُوی د زُرُوْ څخه د مَذْهَبْ اَثَرْ خَتم سوئ وُو، نو ځکه دا ضروري وُو چي د فَلْسَفَهْ پر مَسَائِلُوْ او د حُکُمَاءُ پر خِيَالَاتُوْ باندي تَنْقِيْدْ وسي او دهغوي وَقْعَتْ او اَثَرْ لَږ کړي، د اِسْلَامْ په مُتَکَلِّمِيْنُوْ کي اِمَامِ غَزَالِيْ رَحِمَهُ اللّٰهُ ددغه ضرورت لکبله ,, تَهَافَتُ الْفَلَاسِفَةْ ,, وليکئ .

په عُلُوْمِ دِيْنِيَّهْ کي دغه عِلْمْ تر ټولو غَټّه مَرتَبَه لري، ځکه چي د ټولو دِيْنِيْ عُلُوْمُ دارو مَدَار د عَقِيْدِي پر تَصْحِيْحْ دئ. که اِنْسَانْ ټوله عُمُرْ نيک اَعْمَالْ کوي لېکن چي کُوم وَخْتْ په عَقِيْدَهْ کي څه نُقْصَانْ راسي نو ټولي نيکئ يي بَرْبَادْ سي، او که عَقِيْدَهْ صَحِيْحْ وي نو دُومره خُو به وي چي د اَبَدِيْ عَذَابْ څخه به نِجَاتْ ورته مِلاوْ سي. په قُرْآنِيْ تَعْلِيْمَاتُوْ کي هم د عَقَائِدُوْ پر فَضِيْلَتْ او اَهْمِيَّتْ باندي ډېري اِشَارې او تَصْرِيْحَاتْ مَوْجُوْدْ دي، او په کُوم ځائ کي چي د اَعْمَالِ صَالِحَهْ بَيَانْ راغلئ دئ هلته په اَوَّلْ کي اِيْمَانْ بِالْاِلْتِزَامْ (په ضروري تُوګه سره) رَاوړئ دئ، چي دهغه څخه په وَاضِحْ تُوګه د اِيْمَانْ او د حُسْنِ عَقِيْدَهْ اَهْمِيَّتْ ثَابتيږي. (مُعِيْنُ الْعَقَائِدْ ص: ۱۴)

## ثَمْرَةُ الْعَقَائِدْ د قَدْرْ وَړ کِتَابْ دئ

د اِيْمَانْ د حِفَاظَتْ لپاره پر صَحِيْحْ عَقَائِدُوْ مُشْتَمِلْ حضرت مَوْلَانَا ثَمِيْرُ الدِّيْنْ قَاسِمِيْ صَاحِبْ مَدَّظِلُّهُ يَو ضَخِيْمْ کِتَابْ ,, ثَمْرَةُ الْعَقَائِدْ مُرَتَّبْ کړئ، مَوْلَانَا د خپل عَادَتْ او ددې اُوس وَخْتْ د ضرورت او طَرْزْ مُطَابِقْ د هري عَقِيدې د اِثْبَاتْ لپاره د دَلَائِلُوْ په تُوګه د قُرْآنِ کَرِيْمْ د آيَتُوْ او د اَحَادِيْثِ نَبَوِيَّهْ يَوه په زَړَهْ پُوري حِصَّهْ جَمَعْ کړه، د هري عَقِيدي کښتَه اَوَّلْ د قُرْآنْ آيَتُوْنَهْ بيايي د

نَبِيْ عَلَيْهِ السَّلَامْ اِرْشَادَاتْ د مُكَمَّلُوْ حَوَالَجَاتُوْ سره په يَوَه ډېر ښَه تَرْتِيْبْ سره لِيكلي دي، چي هغه وَوَائِي نو هر د اِيْمَانْ مَالِک د خپلي عَقِيدي اِصْلَاحْ كولائي سي .

دغه كِتَابْ يې په ډېر اَسَانَ اَنْدَازْ سره لِيكلئ دئ، او په كُومُو عَقَائِدُوْ كي چي ډېر اِخْتِلَافْ يا تَرَدُّدْ وُو هلته ډېر آيَتُوْنَهْ رَاوړي دي، او حَدِيثُوْنَهْ يې هم ډېر سره جَمَعْ كړي دي، چي په هغه عَقِيْدَهْ كي خلكو ته تَشَفِّيْ (اِطْمِيْنَانْ) سي، اَلْبَتَّهْ په كُومُو عَقَائِدُوْ كي چي ډېر تَرَدُّدْ (اِخْتِلَافْ) نَه وُو هلته يې لَږ آيَتُوْنَهْ رَاوړي دي، او حَدِيْثُوْنَهْ يې لَږ وُړاندِي كړي دي .

حضرت د خپل طَرْزْ مُطَابِقْ اِشَارَةً هم پر چَا طَنْزْ (پُسْخَنْدْ) نَه كوي، او نَه دا كوي چي د بَل چَا خَبَرَهْ ذِكر كي بيا دهغه رَدْ وكي چي كِتَابْ وُږدْ نَه سي، ده عَقِيْدَهْ وُړَاندِي كړې ده، او دهغه لپاره آيَتُوْنَهْ او حَدِيْثُوْنَهْ وُړَاندي كړي دي، چي د اُمَّتْ يَو ډېر مُهِمْ ضرورت دئ .

په اُوس وَخْتْ كي د ګُمْرَاهِيْ يَوَه عَجِيْبْ فِتْنَهْ رَامِينځ ته سوې ده، او د حَدِيْثُوْ په رَنَا كي هغه زَمَانَهْ رَارَسېدَلې ده ګُوم چي حُضُور صَلَّي اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ دا پيشګوئي كړې وه چي قِيَامَتْ ته نِژدې به دارنګه حَالَاتْ راسي چي يَو كس به سَهَارْ مُؤْمِنْ وي او مَابْنَامْ به كَافِرْ سوئ وي، او مَابْنَامْ به مُؤْمِنْ وي سَهَارْ ته به كَافِرْ سوئ وي، اَللّٰهُمَّ احْفَظْنَا مِنْهُ، دغه د فِتْنُوْ په دَوْرْ كي بَايَدْ هر مُسْلْمَانْ ددې كِتَابْ مُطَالَعَهْ وكي، او د خپلي عَقِيدې فِكْرْ او اِصْلَاحْ وكي .

مَا ته اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ د ټوله كِتَابْ د مُطَالَعَهْ كولو شَرَفْ حَاصِلْ سو، مَاشَاءَ اللّٰهْ په هر لِحَاظْ سره ډېر مُفِيْدْ دئ، كه چيري اَهْلِ عِلْمْ ددې مُطَالَعَهْ وكي او كله نَا كله په مَسْجِدُوْ كي ددې خُلَاصَهْ اَورَوِي نو اِنْشَآءَ اللّٰهْ زُمُوږ د عَوَامُوْ عَقَائِدْ به هم صَحِيْحْ پاته وي، او د هر ډول ګُمْرَهِيْ څخه به مَحْفُوْظَ پاته وي .

پر عَقَائِدُوْ باندي مَا بعض كِتَابُوْنَهْ لِيدَلي او دهغوي د مُطَالَعَهْ كولو تَوْفِيْقْ راته مِلاؤ سوئ دئ، زَهْ دا اِقْرَارْ كوم چي هغه هم فَائِدَهْ مَنْدْ دي خو ددې بَاوُجُوْدْ كُوم جَامِعِيَّتْ او د قُرْآنْ و حَدِيْثْ د حَوَالَهْ جَاتُوْ څخه ډَک دغه رنګه بَل كِتَابْ مَا تر اُوسَه نَه دئ لِيدَلَئ، وَاقِعَةً دغه كِتَابْ ډېر فَائِدَهْ مَنْدْ دئ، وَالْعِلْمُ عِنْدَ اللّٰهْ .

دغه كِتَابْ خو ډېر ضَخِيْمْ (غَټْ/ وُږدْ) دئ، زَمَا اِرَادَهْ ده چي زَهْ ددې تَلْخِيْصْ هم وُړَاندي كم، كه چيري هغه تَلْخِيْصْ مُكَمَّلْ سو نو ډېر اِمْكَانْ سته چي د مَدْرَسُوْ او مَكْتَبُوْ د طَالِبَانُوْ لپاره به فَائِدَهْ مَنْدْ وي، كه چيري مُهْتَمِمَانْ

او د مَكْتَبُوْ او مَدْرَسُوْ اُسْتَاذَانْ خپلو طَالِبَانُوْ ته ددې كِتَابْ د مُطَالَعَهْ كولو تَرْغِيْبْ وركي نو دهغوي لپاره به هم ډېره فَائِدَهْ وي .

خُصُوْصًا د مَكْتَبُوْنُوْ (اِسْكُوْلُوْ/كَالَجُوْ/يُوْنِيْوَرْسَتِيَانُوْ/يُوْهَنْتُوْنُوْ) و هَلْكانُوْ ته په هَفْتَهْ كي يَوَه وُرَځْ دَرْسًا دَرْسًا وَيَل په كار دئ، ځكه چې د مَكْتَبُوْ اكثَرَه طَالِبَانْ بيا د دُنْيَاوِيْ تَعْلِيْمْ په حُصُوْلْ كي بُخْتْ سي او بيا ذُوي ته د دِيْنِيْ عُلُوْمُوْ د اِزْدَهْ كولو ډېر وَخْتْ نَه مِلاوېږي، او اَكثَرَه دغه رنګه طَالِبَانْ په عَقَائِدُوْ كي كمزُورِ پاته سي كله نَا كله د ګُمْرَهَانُوْ فِرْقُوْ د لَاسْ لَكِره (مَرْسْتِيَالَانْ) وګرزي .

اَللّٰهْ تَعَالٰي دي دغه كِتَابْ ته د قَبُوْلِيَّتْ شَرَفْ وركي، خُدَائ دي وكي چي دغه كِتَابْ د عَقَائِدُوْ د صَحِيْحْ كولو ښِهْ سَلَاحْ ثَابتْ سي، او مَوْلَانَا ته په دُوَارُو جِهَانُوْ كي ښَهْ اَجْرْ وركړي د آخِرَتْ ذَخِيْرَهْ او د نِجَاتْ ذَرِيْعَهْ وګرزوي، آمِيْنْ .

كَتَبَهُ مَرْغُوْبْ اَحْمَدْ لَاجْپُوْرِيْ

۴ شَعْبَانْ ۱۴۳۹ هجري/ مُطَابِقْ ۲۱ اَپريل ۲۰۱۸ عِيسَوِيْ، شَمْبَهْ

## بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمْ

## د كِتَابْ د لِيكلو وَمَقْصَدْ

نَحْمَدُهُ وَنُصَلِّيْ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْم. اَمَّا بَعْدُ

### يَو وَخْتْ ځَه طَالِبَانْ راغلو

يَو وَخْتْ ځَه طَالِبَانْ راغلو او وويل چي مَوْلَانَا په عَقَائِدُوْ كي يَو دارنګه كِتَابْ وليكه چي زُمُوږ په شَان طَالِبَانْ هم په اَسَانِيْ سره په پُوه سي، مُوږ اَورُو چي د عَقَائِدُوْ لپاره نَصِّ قَطْعِيْ په كار دئ، يعني چي په آيَتْ او صَحِيْحْ حَدِيْثْ سره يې اِسْتِدْلَالْ كړئ وي، نو ځكه دارنګه كِتَابْ وَلِيكه چي صِرف په

آيَتْ او حَدِيْثْ سره عَقِيْدَهْ ثَابِتَّهْ كړې وي، بَل دا چي دارنګه آيَتْ او حَدِيْثْ راؤړه چي اَسَانَ او هر كس په پُوه سي، او د ټولو مَسْلَكُوْ خلګ يې وَمَنِي، كِتَابْ په ډېر اَسَانْ طَرْزْ سره وَلِيكه چي يَو عَامْ طَالِب عِلْمْ هم په پُوه سي، په كِتَابْ كي دي هغه عَقَائِدْ زِيَاتِي بَيَانْ سي كُوم چي نَنْ سَبَا يې ډېر ضرورت پېښيږي .

مَا ډېري وُرځِي پر دغه خَبَرَهْ غَوَرْ كاوئ كاوئ، بيامو د يَو څُو وُرځُوْ د مِحْنَتْ وروسته د اَللّٰهْ په فَضْلْ و كَرَمْ سره دغه مَجْمُوْعَهْ تَيَّارَ كړه. اَللّٰهْ دي دغه قَبُوْلَهْ كي، ددې په تَيَّارِيْ كي مُو د مَكْتَبَهْ شَامِلَهْ څخه ډېره مَرَستَه اَخَستې ده .

په دغه كِتَابْ كي مُو د طَالِب عِلْمْ د غُوَښتَنِي پُوره مَرَاعَتْ كړئ دئ. مَثَلًا، په دي كي صِرف په آيَتْ او حَدِيْثْ سره عَقَائِدْ ثَابِتْ سوي دي، اَلْبَتَّهْ دا خَبَرَهْ ضرور ده چي په كُومَه عَقِيْدَهْ كي ډېر اِخْتِلَافْ وُو، په هغه كي مُو آيَتُوْنَهْ يا حَدِيْثُوْنَهْ ډېر رَاوړي دي چي و نَاظِرِيْنُوْ (لُوَستُونكُو) ته په خپله فَيْصَلَهْ كول اَسَانَ سي. او په كُومُو عَقَائِدُوْ كي چي ډېر اِخْتِلَافْ نَه وُو په هغه كي مُو حَدِيْثُوْنَهْ، يا آيَتُوْنَهْ لَږ رَاوړي دي، چي كِتَابْ ډېر وُږد نَه سي، او لُوَستُونكي ستړي نَه سي .

زَهْ د عُلَمَاءُ اَقْوَالْ، قَوْلِ صَحَابِيْ، اِجْمَاعْ او قِيَاسْ د زړَهْ لَكُومِي مَنَم، او دهغه قَدْرْ كوم، لېكن د هغه طَالِب عِلْمْ دا خُوَاهِشْ يا غُوَښتَنَه وه چي قُرْآنْ او حَدِيْثْ ډېر وي، نو ځكه مَا خپل زِيَاتْ اِسْتِدْلَالْ د آيَتْ او حَدِيْثْ څخه كړئ دئ، بَلَه خَبَرَهْ دا هم ده چي عُلَمَاءْ فرمائي د عَقَائِدُوْ د اِثْبَاتْ لپاره نَصِّ قَطْعِيْ په كار دئ، يعني آيَتْ او حَدِيْثْ بَايَدْ وي، نو په دغه وَجْهَ هم مَا زِيَاتْ طَاقَتْ په دغه كي مَصْرَفْ كړئ دئ .

كِتَابْ مُو په اَسَانَ اَنْدَازْ سره وَلِيكئ چي هر كسْ او هر مُسَلْمَانْ وګړئ يې وَوَائِي، او هغه عَقَائِدُوْ ته مُو تَرْجِيْحْ وركړې ده كُوم چي نَنْ سَبَا يې ډېر ضرورت دئ.په كِتَابْ كي مُولَفْظِيْ بَحْثُوْنَهْ نَه دي كړي چي كِتَابْ وُږد نَه سي .

## خُدَائ دي وكي چي ټول سره يَو ځائ سي

په دغه وَجْهَ مُو هم پر آيَتْ او حَدِيْثْ باندي زِيَاتْ زُور وركړئ دئ چي دغه اَصِلْ دي، د هر مَسْلَكْ خلګ يې مَنِي، نو ځكه دا اُمِيْدْ سته چي پر دغه عَقَائِدُوْ دي ټول سره مُتَّفِقْ سي، او د اِخْتِلَافَاتُوْ دغه فَتْوَاوِيْ لَږ سي، او په

مُسْلْمَانَانُوْ کي اِتِّفَاقْ راسي، يا لَږ تر لَږ په غَتُّوْ غَتُّوْ عَقِيْدُوْ کي اِتِّفَاقْ سره وکي، او د جُزْيَاتِيْ مَسْئَلُوْ لپاره دغه لَارَهْ خَلَاسَ پرېږدي چي د هر مَسْلَکْ خلګ دي په خپل خپل اَنْدَازْ سره عَمَلْ وکي. بَس ددغه اِتِّفَاقْ په خَاطِرْ مُو ددغه کِتَابْ د لِیکلُو هڅه کړې ده، خُدَائ دي وکي چي زَمَا حَقِيْرْ دغه مَقْصَدْ پُورَه سي او خلګ مَا ته دُعَاوِيْ وکي، آمِيْنْ يَارَبَّ الْعٰلَمِيْنَ!

## د زِړَهْ لَګُومِي مَعَافِيْ غُوَاړَم

د عَقَائِدُوْ مَعَامَلَهْ ډېره دَرَنَهْ مَعَامَلَهْ ده، په دغه اړه ډېر اِخْتِلَافَاتْ هم سته، او د هر يَوَه لپاره دَلَائِلْ هم ډېر دي، نو ځکه زَمَا لپاره دا وَيَل ډېر مُشْکِلْ کار دئ چي مَا ټولي عَقِيْدِي صَحِيْحْ لِیکلِي دي، او دهغه لپاره مُو دَلَائِلْ هم بِالْکُلْ صَحِيْحْ ورکړي دي، بلکه زَمَا دا خِيَالْ دئ چي په دي کي به غَلَطِيْ سوې وي، نو که چيري په دې کِتَابْ کي يو څوک غَلَطِيْ وَوِينِي نو مَا ته دي ضرور دهغه په اړه اِطِّلَاعْ راکي. او که يَو چَا ته تَکْلِيْفْ رسېدلَئ وي نو مَا ته دي د زِړَهْ لَګُومِي مَعَافِيْ وکي، زَهْ به يې ډېره شُکْرِيَّهْ اداء کم .

مګر دا خَبَرَهْ ضرور په يَامْ کي ولرئ چي که په صَرِيْحْ آيَتْ يا په صَرِيْحْ حَدِيْثْ سره کُومَه خَبَرَهْ ثَابِتَهْ وي، او مَا دهغه په خِلَافْ لِیکلي وي، نو ضرور مَا ته اِطِّلَاعْ راکئ، ځکه چي د آيَتْ يا صَحِيْحْ حَدِيْثْ په خِلَافْ عَقِيْدَهْ وُړَاندي کول به مَا په ګُنَاهْ کي مُبْتَلَاءْ کي، او ددغه بُوْجْ سره سره زَهْ د دُنْيَا څخه تَلَل نَه غُوَاړَم .

هو که چيري د عُلَمَاءُ په رَأْيَهْ کي اِخْتِلَافْ وي نو زَهْ دهغوي هم ډېر اِحْتِرَامْ لرم، او د زِړَهْ لَګُومِي يې تَسْلِيْمَوَمَّهْ، لېکن ددې څخه به کِتَابْ ډېر وُږْدْ سي، په دغه وَجْهَ مُو هغه پرېښې دي .

## د حضرت عَبْدُ اللّٰهْ بِنِ عَبَّاسْ د تَفْسِيْرْ څخه مو حَلْ وُړَاندي کړئ دئ

چي د آيَتْ کُوم لَفْظْ مُغْلَقْ وي نو هغه مو د حضرت عَبْدُ اللّٰهْ بِنِ عَبَّاسْ د تَفْسِيْرْ، تَنْوِيْرُ الْمِقْيَاسْ څخه حَلْ کړئ دئ، ځکه چي ددغه تَفْسِيْرْ نِسْبَتْ و يَو عَظِيْمْ صَحَابِيْ ته سوئ دئ، او بعضو حضراتو فرمائلي دي چي دده تَفْسِيْرْ ډېر زِيَاتْ صَحِيْحْ وي، نو ځکه د نورو تَفْسِيْرُوْ څخه زَهْ اِنْکَارْ نَه کوم، لېکن د حَلْ لپاره مُو دغه مُنْتَخَبْ کړئ دئ .

د آيَتْ تَرْجَمَهْ مُو د حضرت مَوْلَانَا مُفْتِيْ مُحَمَّدْ تَقِيْ عُثْمَانِيْ د اَسَانَ تَرْجَمَهْ قُرْآنْ څخه اَخستي ده. او د اَحَادِيْثُوْ تَرْجَمَهْ مَا په خپله کړې ده، ځکه چي د اَحَادِيْثُوْ د ټولو کِتَابُوْ لپاره کُومَه تَرْجَمَهْ نَه رسېدله .

## د طَنْزْ (يُسْخَنْدْ) او مَذَاقْ څخه مُو اِحْتِرَازْ کړئ دئ

په دغه کِتَابْ کي مُو په خُصُوْصِيْ تُوګه ددې خَبَرِيْ خِيَالْ سَاتَلَئ دئ چي د هيڅ چَا نُوم نَه وَاخستَل سي چي هغه يې بَدَّهْ نَه کي مَحْسُوْسَ، د هيڅ چَا په اړه مُو کِنَايَهْ او اِشَارَهْ هم نَه ده کړې،چي دهغه تَوْهِيْنْ وَنَه سي، او اِخْتِلَافَاتْ نور زِيَاتْ نَه سي، که چيري بيا هم يَو څوک بَدَّهْ مَحْسُوْسَ کي نو د زِړَهْ لَګُومِي مَعَافِيْ غْوَاړِمَهْ. د اَللّٰهْ لپاره مَا ته عَفْوَ وکئ .

## شُکْرِيَّهْ

ددغه کِتَابْ په تَيَّارَوُلُوْ کي چي کُوم کُوم چَا تَعَاوَنْ کړئ دئ، زَهْ دهغوي ټُولو شُکْرِيَّهْ اَدَاءْ کوَمّه، په خُصُوْصِيْ تُوګه زَمَا د اَهْلِيَّهْ شُکْرِيَّهْ اَدَاءْ کوَمّه چي دې مَا ته هر ډَول اَسَانْتِيَا رارَسَوَلي ده چي دهغه لکبله زَهْ ددغه کِتَابْ و لِيکلُو ته وَتْوَانِيدَمَهْ. اَللّٰهْ تَعَالٰي دي و دې ته په دُوَاړُو جِهَانُوْ کي ددغه بِنَهْ بَدْلَهْ ورکي .

د حضرت عَلَّامَهْ اَخْتَرْ صَاحِبْ، او حضرت مَوْلَانَا عَبْدُ الرَّؤُفْ صَاحِبْ، لَاجْپُوْرِيْ دَامَتْ بَرَکَاتُهُمْ هم خُصُوْصِيْ شُکْرِيَّهْ اَدَاءْ کوَمّه، دُوي همېشَه مَا ته هِمَّتْ راکړئ دئ، او زَمَا و کِتَابْ ته خَاصْ رُغْبَتْ کړئ دئ، او ښې ښې مَشْوَرِي يې رَاکولې .

حضرت مَوْلَانَا مَرْغُوْبْ صَاحِبْ لَاجْپُوْرِيْ دَامَتْ بَرَکَاتُهُمْ خو زَمَا د ټوله کِتَابْ اِصْلَاحْ هم وکړه، او بِنَهْ اِصْلَاحْ يې کړې ده نو ځکه دهغه هم شُکْرِيَّهْ اَدَاءْ کوَمّه، اَللّٰهْ تَعَالٰي دي دخپل دَرْبَارْ څخه دُوي ته بِنَهْ بَدْلَهْ ورکي، او جَنَّتُ الْفِرْدَوْسْ دي ورکي، آمِيْنْ يَا رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ .

## زَمَا لپاره دُعَاءْ وکئ

د عُلَمَاءْ او صُلَحَاءْ په خِدْمَتْ کي دا عَرْضْ دئ چي زَمَا آخِرَتْ په رَاحَتْ سي، او اَللّٰهْ تَعَالٰي ټوله ګُنَاهُوْنَهْ رَا مَعَافْ کي، جَنَّتُ الْفِرْدَوْسْ رَا نَصِيْبْ کي،

ددغه **دُعَاءْ** رَاتَه وکئ، **زَهْ** اُوس د **اَتَهْ شيپيتُوْ (68)** کالُو و **عُمْرْ** ته رَسيدَلَئ يَم، د **بُوْډَاوَالِيْ زَمَانَهْ** ده، **بِالْكُلْ خَالِيْ لَاسْ** يَم، نَه **مَعْلُوْمْ** چي کله د **اَجَلْ رَغْ** وسي، **لِهٰذَا** چي په كُوم **وَخْتْ** هم دَر په **يَادْ** سَم په **شَرْطْ** د **اَسَانِيْ مَا** ته **دُعَاءْ** کوئ، بَس دغه **زَمَا گُزَارِشْ** دئ .

د **دُعَاءْ مُحْتَاجْ**، **اَحْقَرْ ثَمِيْرُ الدِّيْنْ قَاسِمِي**، **غُفِرَلَهُ**، **مَانْچِيْسْتَرْ**، **اِنْگلِينْډْ**،

**۱۳/ ۲/ ۲۰۱۸**

**مُوْبَائِلْ نَمْبَرْ ۰۰۴۴ ۷۴۵۹۱۳۱۱۵۷**

اي مِيل. **Samirddin qasmi agmall. com**

## **۱: د اَللّٰهْ ذَاتْ**

ددغه عَقِيدې په اړه **۶۱ آيَتُوْنَهْ** او **۴ حَدِيْثُوْنَهْ** دي، تاسو د هر يَوَه **تَفْصِيْلْ مُلَاحظَهْ** کئ .

په **مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ** کي بعض خلګ وائي چي خُدَائ ګر سره نَستَه، دغه **دُنْيَا** په خپله پَيدَا سوې ده، نَه **حِسَابْ** و **كِتَابْ** سته او نَه **قِيَامَتْ** سته، نو ځکه مُوږ ته پر **اَللّٰهْ** باندي د **يَقِيْنْ** کولو او دهغه د **عِبَادَتْ** کولو ضرورت نَستَه، دغه **مُصِيْبَتْ** د ټولو **آسْمَانِيْ مَذْهَبْ** د خلګو لپاره دئ، نو ځکه **مَا** دغه **آيَتُوْنَهْ** وُړَاندي کړل، ددې ښخه **مَعْلُوْمْ** سو چي **اَللّٰهْ** سته، هغه ټوله **كائِنَاتْ** پَيدَا کړئ دئ، او هغه به ټوله **خَتْمْ** کوي، او **قِيَامَتْ** به رَاوَلي، او د ټولو **حِسَابْ** به اَخلِي، او ښوک چي د **اِيْمَانْ** سره **وُلَاړْ** سي هغه ته به **جَنَّتْ** ورکوي، او ښوک چي **بې اِيْمَانْ** مَړ سي هغه به په **دُوْزَخْ** کي **دَاخِلْ** کي .

په دغه **كِتَابْ** كي **مَا** دا **خَبَرَهْ** هم په **شِدَّتْ** سره **بَيَانْ** كړې ده چي **مَرګْ**، **ژُوَنْدْ**، **شِفَاءْ**، **نَاجُوْړِيْ**، **رُوْزِيْ**، **بِيْ بِيْ**، **اَوْلَادْ**، دغه ټولَ **شِيَانْ** صِرف **اَللّٰهْ** وركوي، نو ځكه **بَايَدْ تَنْهَا** دهغه **عِبَادَتْ** وكړل سي، او صِرف دهغه څخه د ټولو **ضَرُوْرِيَّاتُ** غُوَښتَنَه په كار ده .

## د **اَللّٰهْ ذَاتِيْ نُوْمْ**، **اَللّٰهْ**، دئ، نور يې **صِفَاتِيْ نُوْمُوْنَهْ** دي

د **اَللّٰهْ لَفْظْ**، د **اَللّٰهْ ذَاتِيْ نُوْمْ** دئ، او ددې څخه **عَلَاوَهْ** چي څومره **نُوْمُوْنَـهْ** هم دي، هغه ټولَ **صِفَاتِيْ نُوْمُوْنَـهْ** دي، يعني د **اَللّٰهْ** د **صِفَتْ** لكبله يې هغه **نُوْمْ** ګرزېدلئ دئ، **مَـثَلًا رَزَّاقْ**، پـه دې **وَجْــهَ** د **اَللّٰهْ نُــوْمْ** دئ چـي **اَللّٰهْ رُوْزِيْ** وركونكئ دئ .

**١ : قُلِ اللهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَّهُوَ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ (آيَتْ ١٦، سُوْرَةُ الرَّعْدْ١٣)**

**تَرْجُمَهْ**: **وَوَايَهْ** چي **اَللّٰهْ** د هر شِي پَيدَا كونكئ دئ، هغه **تَنْهَا** دارنګه دئ چي دده **اِقْتِدَارْ** پر ټولو **حَاوِي** دئ .

**٢ : سُبْحٰنَهُ هُوَاللهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ (آيَتْ ٤، سُوْرَةُ الزُّمَرْ ٣٩)**

**تَرْجُمَهْ**: **اَللّٰهْ پَاكْ** دئ، هغه د **زَبَرْدَسْتَهْ اِقْتِدَارْ مَالِكْ** دئ .

په دغه دواړو **آيَتُوْ** كي د **اَللّٰهْ ذَاتِيْ نُوْمُوْنَهْ اِسْتِعْمَالْ** سوي دي .

ددې څخه **عَلَاوَهْ** نور هم ډېر **آيَتُوْنَـهْ** سته چي پـه هغـه كـي د **اَللّٰهْ ذَاتِـيْ نُـوْمْ اِسْتِعْمَالْ** سوئ دئ .

## **اَللّٰهْ** همېشه ؤُو او همېشه به پاته وي

**اَللّٰهْ** و هغه **ذَاتْ** ته ويل كيږي چي د همېشَه څخه دئ او همېشه به پاتـه وي، د هغه نَه كُومَه **اِبْتِدَاءْ** سته، او نَه دهغه كُومَه **اِنْتِهَاءْ** سته. **دَلِيْلْ** يې دادئ

**۳: هُوَ الاَ وَّلُ وَالْاٰخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيْمٌ (آيَتْ ۳،سُوْرَۃُ الْحَدِيْدْ ۵۷)**
**تَرْجُمَهْ:** هغه اَللّٰهْ اَوَّلْ هم دئ،او آخِرْ هم دئ، ظَاهِرْ هم دئ، او بَاطِنْ هم دئ او دئ په هر شِي پُوْرَهْ خَبَرْدَارَهْ دئ .
**۴: كُلُّ شَىْءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَه . (آيَتْ ۸۸، سُوْرَۃُ الْقَصَصْ ۲۸)**
**تَرْجُمَهْ:** هر شَئ فَنَا كېدونكئ دئ مَاسِوَا د اَللّٰهْ د ذَاتْ څخه .

په حَدِيْثْ كي دئ
**۱: اَللّٰهُمَّ اَنْتَ الاَ وَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَىْءٌ، وَاَنْتَ الْاٰخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَىْءٌ، اَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَىْءٌ، وَاَنْتَ الْبَاطِنُ فَلَيْسَ دُوْنَكَ شَىْءٌ .**
**(مُسْلِمْ شَرِيْفْ، بَابُ الدُّعَاءْ عِنْدَ النَّوْم، ص ۱۷۹، نمبر ۲۷۱۳/ ۶۸۸۹)**
**تَرْجُمَهْ:** اېٔ اَللّٰهْ تَه اَوَّلْ يې، ستا څخه مخكي هم هيڅ شَئ نَستَه، تَه آخِرْ يې ستا څخه وروسته هم هيڅ شَئ نَستَه، تَه ظَاهِرْ يې در تَا لُوړْ هم هيڅ شَئ نستَه، تَه بَاطِنْ يې ستا څخه عَلَاوَهْ هم هيڅ شَئ نستَه .
په دغه آيَتُوْ او حَدِيْثْ كي دئ چي اَللّٰهْ د همېشَه څخه دئ او همېشه به پاته وي .

## د اَللّٰهْ ذَاتْ نَه فَنَا كېږي او نَه هغه ته مَرګ رَاځِي

د اَللّٰهْ ذَاتْ د فَنَا څخه پَاکْ دئ. دَلِيْلْ يې دغه آيَتْ دئ
**۵: كُلُّ شَىْءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَه . (آيَتْ ۸۸، سُوْرَۃُ الْقَصَصْ ۲۸)**
**تَرْجُمَهْ:** هر شَئ فَنَا كېدونكئ دئ مَاسِوَا د اَللّٰهْ د ذَاتْ څخه .
**۶: وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِىْ لَايَمُوْتُ . (آيَتْ ۵۸، سُوْرَۃُ الْفُرْقَانْ ۲۵)**
**تَرْجُمَهْ:** تَه پر هغه ذَاتْ بَرُوْسَهْ وكه چي ژُوَنْدَئ دئ، چي هغه تـه هيڅ كله مَرګ نَه رَاځِي .
په دغه آيَتُوْ كي دئ چي اَللّٰهْ د فَنَا او مرګ څخه پَاکْ دئ .

## د حَيَاتْ څلور قِسْمُوْنَه دي

(۱) يَو د اَللّٰهْ حَيَاتْ دئ، په هغه كي نَه فَنَا سته نَه مرګ، دا د همېشه څخه دئ او همېشه به پاته وي .

(**٢**) **حَيَاتِ دُنْيَوِيْ**. دا د **اِنْسَانْ** او **حَيْوَانْ حَيَاتْ** دئ، د دُوي **حَيَاتْ** په يَو **وَخْتْ** کي نَه وُ، بيا د **اَللّٰهْ** د پَيدَا کولو په **نَتِيْجَهْ** کي **مَوْجُوْدْ** سو، او بيا به **فَنَا** سي، او مرګ به پر رَاسِي .

(**٣**) **حَيَاتِ بَرْزَخِيْ**. دا د **قَبْرْ حَيَاتْ** دئ، دي ته **حِيَاتِ بَرْزَخِيْ** وائي،دا تر مرګ وروسته شروع کيږي، او تر **قِيَامَتَّهْ** پُوري به پاته وي .

(**۴**) د **جَنَّتْ** او **دُوْزَخْ حِيَاتْ**، دغه **حَيَاتْ** به **جَنَّتْ** او **دُوْزَخْ** ته د دَاخِلېدُو وروسته شروع کيږي، او همېشه به وي .

دغه ټولو ته **حَيَاتْ** ويل کيږي، لېکن ددې په **کَيْفِيَّتْ** کي ډېر **فَرْقْ** سته .

## د **اَللّٰهْ** په **شَانْ** هيڅ شَئ نَستَه

په **آسْمَانْ** او **مځکه** کي چي څومره **شِيَانْ** دي، په دي کي يَو شَئ هم د **اَللّٰهْ** د **ذَاتْ** يا د هغه د **صِفَاتُوْ** په **شَانْ** نَستَه، ځکه چي د **اَللّٰهْ ذَاتْ** خو **وَاجِبُ الْوُجُوْدْ** دئ، او د **دُنْيَا** ټوله **شِيَانْ فَانِيْ** دي، بَل شَئ دده د **ذَاتْ** يا **صِفَاتُوْ** په **شَانْ** څنګه کېدلائي سي؟ **دَلِيْلْ** يې دادئ

**٧: لَيْسَ كَمِثْلِه شَيْءٌ وَّهُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ (آيَتْ ١١، سُوْرَةُ الشُّوْرٰى ۴٢)**

**تَرْجُمَهْ:** يَو شَئ د **اَللّٰهْ** په **شَانْ** نَستَه، او هغه دئ چي هره **خَبَرَهْ** اَورِي، هر څَه وِينِي .

**٨: وَ لَمْ يَكُنْ لَّه كُفُوًا اَحَدٌ (آيَتْ ۴، سُوْرَةُ الْاِخْلَاصْ ١١٢)**

**تَرْجُمَهْ:** او د **اَللّٰهْ** په څِير (**بَرَابَرْ**) خو يَو شَئ هم نَستَه .

**٩: اِذْ تَاْمُرُوْنَنَآ اَنْ نَّكْفُرَ بِاللهِ وَنَجْعَلَ لَهٓ اَنْدَادًا (آيَتْ ٣٣، سُوْرَةُ السَّبَا ٣۴)**

**تَرْجُمَهْ:** چي کُوم **وَخْتْ** تاسو موږ ته **تَاكِيْدْ** کاوئ چي مُوږ د **اَللّٰهْ** سره د **کُفْرْ مَعَامَلَهْ** وکو، او دهغه سره **شَرِيْكْ تَسْلِيْمْ** کو .

**١٠: فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا وَّ اَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ (آيَتْ ٢٢، سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ٢)**

**تَرْجُمَهْ:** د **اَللّٰهْ** سره شريک مَه جوړوئ سره ددې چي تاسو په دغه **خَبَرُوْ** پُوهېږئ .

په دغه **آيَتُوْ** کي دئ چي د **اَللّٰهْ** په **شَانْ** هيڅ شَئ نَستَه .

## د **اَللّٰهْ** نَه **اَوْلَادْ** سته، نَه دئ د بَل چَا څخه پَيدَا سوئ دئ، او نَه دده **بَرَابَرْ** بَل څوک سته

په دغه **وَجْهْ** بَل څوک د **اَللّٰهْ** سره **بَرَابَرْ** ګڼل **شِرْکْ** دئ ددغه څخه ډېر ځان سَاتَل په کارئ دئ .

د عِيْسَائِيَانُوْ دا خِيَالْ دئ چي حضرت عِيْسٰى عَلَيْـهِ السَّلَامْ د اَللّٰهْ تَعَالٰى زُوئ دئ، د مَكِّي مُشْرِكانُوْ به ويل چي مَلَائِكِيْ د اَللّٰهْ تَعَالٰى لُوْنِيْ دي، لېكن قُرْآنْ فرمائلي دي چي د اَللّٰهْ خو نَه اَوْلَادْ سته او نَـه دئ د بَل چَا څخـه پَيدَا سوئ دئ، هغه بي نِيَازَ دئ. ددې لپاره آيَتُوْنَهْ دغه دي:-

۱۱: قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۝ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۝ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ ۝ وَلَمْ يَكُنْ لَّـه كُفُوًا اَحَدٌ ۝ (آيَتْ ۱ تـا ۳ سُوْرَةُ الْاِخْلَاصْ ۱۱۲) تَرْجَمَهْ:- وَوَايَهْ: خَبَرَهْ داده چي اَللّٰهْ په هر لِحَاظْ سره يَوْ دئ. ۝ تَنْهَا اَللّٰهْ دارنګه دئ چي ټوله دده مُحْتَاجَ دي، دئ د هيڅ چَا مُحْتَاجْ نَه دئ، ۝ نَه دده اَوْلَادْ سته، او نَه دئ د بَلْ چَا اَوْلَادْ دئ. ۝ او دده په مِثْلْ هيڅ څوک هم نستَه. ۝

۱۲: قُلْ سُبْحٰنَهٗ اَنْ يَّكُوْنَ لَه وَلَدٌ لَّه مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ .
(آيَتْ ۱۷۱ ،سُوْرَةُ النِّسَآءْ ۴)
تَرْجَمَهْ:- وَوَايَهْ: چي دئ ددې خَبَرِيْ څخـه بِالْكُلْ پَـاکْ دئ چي دده دي زُوْئ وي، په آسمَانُو او مځکه کي چي څَه دي ټولَ دده دي .

۱۳: قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا سُبْحٰنَه هُوَ الْغَنِىُّ لَه مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَـا فِى الْاَرْضِ .
(آيَتْ ۶۸ ،سُوْرَةُ يُوْنُسْ ۱۰)
تَرْجَمَهْ:- (بعضو) خلګو وويل چي اَللّٰهْ تَعَالٰى اَوْلَادْ لري، دهغه ذَاتْ پاک دئ، هغه دهر شِي څخه بي نِيَازَ دئ، په آسمانو او مځکو کي چي هر څَه دي، دهغه دي.
په دغه آيَتُوْ کي دئ چي د اَللّٰهْ څخه نَه څوک پَيدَا سوئ دئ، او نَـه دئ د بَل چَا څخه پَيدَا سوئ دئ، او نَه دده په مِثْلْ څوک سته .

## اَللّٰهْ ته نَه خوب وَرځي او نَه خوب دده سره بنَايِي

دَلِيْلْ يې دغه دئ

۱۴: اَللّٰهُ لَآ اِلٰـهَ اِلَّا هُوَ اَلْحَىُّ الْقَيُّوْمُ لَاتَاْخُذُه سِنَةٌ وَّلَانَوْمٌ (آيَتْ ۱۵۵ ،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲)
تَرْجَمَهْ:- اَللّٰهْ هغه دئ چي دهغه بغيره بَل مَعْبُوْدْ نسته، چي همېشـه ژُوَنـدَئ دئ (يَعنِي وَاجِدُ الْوُجُوْدْ دئ )، چي ټول کَائِنَاتْ يـې سَمْبَالْ کـري دي،(يعنـي وَاهِبُ الْوُجُـوْدْ دئ)، چي نَه پريشَانِي (د خُوب څخه مخکنئ کَيْفِيَّتْ) ورته راځي، نَه خُوب .
په حَدِيْثْ کي دئ.

۲: اِنَّ اللّٰهَ لَايَنَامُ وَلَايَنْبَغِىْ لَه اَنْ يَّنَامَ.
(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،بَابٌ فِىْ قَوْلِه عَلَيْهِ السَّلَامُ اِنَّ اللّٰهَ لَايَنَامُ، ص۹۱، نمبر ۱۷۹/ ۴۴۵)

تَرْجَمَهْ:- اَللّٰهْ نَه بيديږي، او دده لپاره خوب مُنَاسِبْ هم نَه دئ .
په دغه آيَتْ او حَدِيْثْ كي دئ چي اَللّٰهْ ته خوب نَه وَرځِي، او دغه خوب دده لپاره مُنَاسِبْ هم نَه دئ .

# اَللّٰهْ پر هر څَه قُدْرَتْ لري

**۱۵: اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ (آيَتْ ۱۰۶ ،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲)**

تَرْجَمَهْ:- اَيَا تاته دا خبره نَه ده معلومه چي اَللّٰهْ پر هر څَه قُدْرَتْ لري .

**۱۶: لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَافِيْهِنَّ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ(آيَتْ ۱۰۲ ،سُوْرَةُ الْمَآئِدَةْ ۵)**

تَرْجَمَهْ:- د ټولو آسمانو او مځكي او چي څَه په دي كي مَوْجُوْدْ دي دهغه ټولو بَاچَاهِي د اَللّٰهْ ده، او هغه پر هر شِي باندي پُوْرَهْ قُدْرَتْ لري .

**۱۷: اَيْنَ مَاتَكُوْنُوْا يَاْتِ بِكُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا ط اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ(آيَتْ ۱۴۸ ،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲)**

تَرْجَمَهْ:- چي تاسو چيري هم ياست، اَللّٰهْ به تاسو ټول (خپل ځان ته) راولي، يَقِيْنًا اَللّٰهْ پر هر څَه قَادِرْ دئ .

**۱۸: فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَ يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ط وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ(آيَتْ ۲۸۴ ،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲)**

تَرْجَمَهْ:- اَللّٰهْ چي څوک وغواړي هغه به مَعَافْ كړي او چي څوک وغواړي هغه ته به سَزَاءْ وركړي، او اَللّٰهْ پر هر شِي (هر څَه) قُدْرَتْ لري .

**۱۹: وَيَعْلَمُ مَافِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ ط وَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ(آيَتْ ۲۹ ،سُوْرَةُ آل عِمْرَانْ ۳)**

تَرْجَمَهْ:- او چي څَه په آسْمَانُوْ كي دي او چي څَه په مځكهْ كي دي، هغه ته ټول مَعْلُوْمْ دي، او اَللّٰهْ پر هر څَه قُدْرَتْ لري

**۲۰: وَ لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ(آيَتْ ۱۸۹ ،سُوْرَةُ آل عِمْرَانْ ۳)**

تَرْجَمَهْ:- او د آسمانو او مځكي سَلْطَنَتْ (حُكُوْمَتْ) صِرف د اَللّٰهْ دئ، او اَللّٰهْ پر هر څَه قُدْرَتْ لري .

دغه رنګه په څلوېښت (۴۰) آيَتُوْ کې فرمائلي دي چي اَللّٰهْ پر هر څه قَادِرْ دئ .

## د هر شِي پَيدَا کونکئ اَللّٰهْ دئ

دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دئ

۲۱: ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ ج لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ج خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ فَاعْبُدُوْهُ ج (آيَتْ ۱۰۲ ،سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ۶)

تَرْجَمَهْ:- خلکو! هغه اَللّٰهْ دئ چي ستاسو رُوْزَنَهْ کوي! دهغه بغيره بَلْ مَعْبُوْدْ نستَه، هغه د هر شِي خَالِقْ دئ، لِهٰذَا دهغه عِبَادَتْ کوئ .

۲۲: قُلِ اللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَّهُوَ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ (آيَتْ ۱۶ ،سُوْرَةُ الرَّعْدْ ۱۳)

تَرْجَمَهْ:- وَوَايَهْ چي:,, صِرف اَللّٰهْ د هر شِي خَالِقْ دئ، او هغه تَنْهَا دارنګه دئ چي دده اِقْتِدَارْ پر ټولو حَاوِيْ دئ,,

۲۳: ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ م لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ز ج (آيَتْ ۶۲ ،سُوْرَةُ الْمُؤْمِنْ ۴۰)

تَرْجَمَهْ:- دغه اَللّٰهْ دئ چي ستاسو پَرْوَرْدِګَارْ دئ، هر شَيْ پَيدَا کونکئ، دهغه بغَيْرَهْ بَلْ مَعْبُوْدْ نستَه .

د هر شِي پَيدَا کونکئ اَللّٰهْ دئ نو ځکه د اَللّٰهْ څخه اَوْلَادْ غُوَښتَل په کار دئ، د کُوم پِيْرْ يا فَقِيْرْ څخه غُوَښتَل په کار نَه دئ، دغه شِرْکْ دئ، او اَللّٰهْ تَعَالٰي ددغه څخه نَارَاضَ کيږي .

## اَللّٰهْ د ټولو جِهَانُوْ مَالِکْ دئ

دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دئ

۲۴: وَ لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ(آيَتْ ۱۸۹،سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳)

تَرْجَمَهْ:- او د آسمانو او مځکي مِلْکِيَّتْ صِرف د اَللّٰهْ دئ، او اَللّٰهْ پر هر څه قُدْرَتْ لري .

۲۵: وَ لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَ مَا بَيْنَهُمَا ط (آيَتْ ۱۷،سُوْرَةُ الْمَآئِدَهْ ۵)

تَرْجَمَهْ:- د ټولو آسمَانُوْ او مځکِيْ، او کُوم چي د دُوي په مَابَيْنْ کي دي ددې مِلْکِيَّتْ صِرف د اَللّٰهْ دئ .

۲۶: وَ لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَ مَا بَيْنَهُمَا ز وَ اِلَيْهِ الْمَصِيْرُ (آيَتْ ۱۸،سُوْرَةُ الْمَآئِدَهْ ۵)

تَرْجَمَهْ:- د ټولو آسمانو او مځکي، او کُوم چي د دُوي په مَابَيْنْ کي دي ددې مِلْکِيَّتْ صِرف د اَللّٰهْ دئ، او دهغه و طَرَفْ ته به د ټولو بېرته تَګْ (تَلَل) وي .

۲۷: فَسُبْحٰنَ الَّذِیْ بِیَدِه مَلَکُوْتُ کُلِّ شَیْءٍ وَّ اِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ (آیَتْ ۸۳،سُوْرَةُ یٰسٓ ۳۶)

تَرْجَمَهْ:- غَرَضْ پَاکْ دئ هغه ذَاتْ چي د هر شِي مِلْکِيَّتْ دده په لَاسْ کي دئ، او دهغه وَ طَرَفْ ته به آخِرْ کارْ تاسو ټولَ بېوَل کېږئ.

ددغه آيَتُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي اَللّٰهْ د ټولو شِيَانُوْ مَالِکْ دئ .

## د حَشْرْ وُرَځْ ډېره غَټّه وُرَځْ ده، اَللّٰهْ دهغه وُرَځِيْ هم مَالِکْ دئ

دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دئ

۲۸: مٰلِکِ یَوْمِ الدِّیْنِ (آیَتْ ۳،سُوْرَةُ الْفَاتِحَةْ ۱)

تَرْجَمَهْ:- د بَدْلي د وُرَځِيْ مالک دئ .

۲۹: وَلَهُ الْمُلْکُ یَوْمَ یُنْفَخُ فِی الصُّوْرِ ط (آیَتْ ۷۳،سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ۶)

تَرْجَمَهْ:- او په کُومَه وُرَځْ چي په صُوْرْ کي پُوْهْ کېږي، هغه وُرَځْ به بَاچَهِيْ دده وي .

## اَللّٰهْ د جَوْهَرْ، عَرْضْ، بَدَنْ او کَيْفِيَّتْ څخه پَاکْ دئ

اَللّٰهْ تَعَالٰي د جَوْهَرْ، عَرْضْ، جِسْمْ او کَيْفِيَّتْ څخه پَاکْ دئ، ځکه چي دغه شِيَانْ د مَخْلُوْقَاتُوْ لپاره دي، او اَللّٰهْ وَاجِبُ الْوُجُوْدْ دئ، نو ځکه دئ ددغه صِفَاتُوْ څخه پَاکْ دئ . دَلِيْلْ يې دغه آيَتْ دئ

۳۰: لَیْسَ کَمِثْلِه شَیْءٌ ج وَهُوَ السَّمِیْعُ الْبَصِیْرُ (آیَتْ ۱۱،سُوْرَةُ الشُّوْرٰی ۴۲)

تَرْجَمَهْ:- يَو شَئ دهغه په مِثْلْ نَستَه، او هغه دئ چي هره خَبَرَهْ اَورِي، هر څَه وِينِي.

په دغه آيَتْ کي دئ چي د اَللّٰهْ په شَانْ بَل هيڅ شَئ نَستَه .

## اَللّٰهْ تَعَالٰي د جِهَتْ، او مَکَانْ څخه پَاکْ دئ

دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي

۳۱: اَ لَآ اِنَّه بِکُلِّ شَیْءٍ مُّحِیْطٌ (آیَتْ ۵۴،سُوْرَةُ فُصِّلَتْ ۴۱)

تَرْجَمَهْ:- وَاوْرَئ اَللّٰهْ د هر شِي اِحَاطَهْ کړې ده .

۳۲: وَکَانَ اللّٰهُ بِکُلِّ شَیْءٍ مُّحِیْطًا (آیَتْ ۲۶،سُوْرَةُ النِّسَآءْ ۴)

تَرْجَمَهْ:- او اَللّٰهْ د هر شِي اِحَاطَهْ کړې ده .
په دغه آيَتُوْ کي دئ چي اَللّٰهْ تَعَالٰى د هر شِي اِحَاطَهْ کړې ده، لِهٰذَا د جِهَتْ اِحَاطَهْ يې هم کړې ده، نو ځکه دده لپاره ګُوم جِهَتْ (سِمْتْ/ طَرَفْ) نَستَه .

## اَللّٰهْ تَعَالٰى د هر ډَوَل تَعْرِيْفْ لَائِقْ دئ

دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي

۳۳: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ وَلَهُ الْحَمْدُ فِی الْاٰخِرَةِ ؕ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ (آيَتْ ۱، سُوْرَةُ السَّبَاْ ۳۴)

تَرْجَمَهْ:- ټُول تَعْرِيْفُوْنَهْ دهغه اَللّٰهْ دي چي صِفَتْ يې دادئ چي په آسْمَانُوْ او مځکه څه دي، ټُولَ دهغه دي، او په آخِرَتْ کي هم تَعْرِيْفْ دهغه دئ، او هغه دئ چي د حِكْمَتْ مَالِكْ دئ، په مُکَمَّلَهْ ټُوګه خَبَرْدَارَهْ دئ .

۳۴: لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ؕ وَ اِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ الْغَنِیُّ الْحَمِيْدُ (آيَتْ ۶۴،سُوْرَةُ الْحَجّ ۲۲)

تَرْجَمَهْ:- چي څَه په آسْمَانُوْ کي دي، او چي څَه په مځکهْ کي دي، ټول دهغه دي، او يَقِيْنْ وکه چي اَللّٰهْ هغه ذَاتْ دئ چي د ټولو څخه بِی نِيَازْ دئ، په خپل ذَاتْ کي د تَعْرِيْفْ قَابِلْ دئ .

۳۵: وَ اعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ غَنِیٌّ حَمِيْدٌ (آيَتْ ۲۶۷، سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲)

تَرْجَمَهْ:- او يَادْ لرئ چي اَللّٰهْ دارنګه بِی نِيَازْ دئ چي هر ډول تَعْرِيْفْ (سَتَايَنَهْ) هغه ته رسيږي .

۳۶: لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِیُّ الْحَمِيْدُ (آيَتْ ۲۶،سُوْرَةُ لُقْمَانْ ۳۱)

تَرْجَمَهْ:- او تَنْهَا د اَللّٰهْ دي چي هر څَه په آسْمَانُوْ او مځکهْ کي دي، بېشَکَّهْ اَللّٰهْ دئ چي د ټولو څخه بِی نِيَازْ دئ، بِذَاتِ خُوْدْ د تَعْرِيْفْ قَابِلْ دئ .
په دغه آيَتُوْ کي دئ چي ټولَ تَعْرِيْفُوْنَهْ صِرف د اَللّٰهْ دي .

## اَللّٰهْ د دَرْوَاغُ څخه پَاکْ دئ

دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي

۳۷: وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ قِيْلًا . (آيَتْ ۱۲۲،سُوْرَةُ النِّسَآءْ ۴)

**تَرْجَمَهْ**:- د **اَللّٰهْ وَعْدَهْ رِشْتُوْنِي** ده، او تر **اَللّٰهْ** نو د **خَبَرُوْ** په **حَوَالَهْ** څوک **رِشْتُوْنَئ** کېدلائي سي؟

**۳۸: وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللهِ حَدِيْثًا** . (**آيَتْ ۸۷**،**سُوْرَةُ النِّسَآءْ ۴**)

**تَرْجَمَهْ**:- او څوک دئ چي تر **اَللّٰهْ** په **خَبَرُوْ** کي ډېر **رِشْتُوْنَئْ** وي؟
په دغه **آيَتُوْ** کي دئ چي **اَللّٰهْ** خو بَس **رِشْتُوْنَئ** دئ .

بعضو خلګو دا **مَنْطِقِيْ بَحْثْ** شروع کړئ دئ چي **دَرْوَاغْ** ويل هم يَو شَئ دئ او **اَللّٰهْ** پر هر **شِيِ قَادِرْ** دئ نو آيا **اَللّٰهْ** پر **دَرْوَاغْ** هم **قَادِرْ** دئ؟ او بعضو خلګو دا **خَبَرَهْ** اَخستي ده چي دا هم يَو شَئ دئ، نو دايي وويل چي **اَللّٰهْ** پر **دَرْوَاغْ** هم **قَادِرْ** دئ، لېکن خو **دَرْوَاغْ** نَه وَايِي .
لېکن دغه **بَحْثْ** هم **مَنْطِقِيْ** دئ، او **جَوَابْ** هم **مَنْطِقِيْ** دئ، **صَحِيْحْ خَبَرَهْ** داده چي د **اَللّٰهْ ذَاتْ** دارنګه دئ چي په هغه کي د **نَقَائِصُ تَصَوُّرْ** هم نَه سي کېدلائي، **لِهٰذَا** که **دَرْوَاغْ** وي که د **نَقَائِصُ** يَو بَل شَئ وي، **اَللّٰهْ** دهغه ټولو څخه **پَاکْ** دئ. دا خو د **اِنْسَانَانُوْ** او **پِيرَانَانُوْ خَاصَهْ** ده چي په دُوي کي **بِنَهْ وَالَئ** هم سته، او **نَقَائِصْ** (**عَيْبُوْنَهْ**) هم .

## اَللّٰهْ هر څَه اَورِي او په هر شِي خَبَرْ دئ

د **اَللّٰهْ بِغَيْرَهْ** بَل دارنګه **ذَاتْ** نَستَه چي هر شَئ اَورِي، او په هر څَه **خَبَرْ** وي .
د **هِنْدُوَانُوْ** دا **عَقِيْدَهْ** ده چي د دُوي **بُتَانْ** د دُوي **دُعَا** اَورِي، او د دُوي په **حَالْ خَبَرْ** دي، په دغه **وَجْهَ** خو دُوي د **بُتَانُوْ** په مَخکِي خپل ضرورتونه وړَاندِي کوي، او دهغه څخه **حَاجَتُوْنَهْ** غُوَاړِي .
**مُسَلْمَانْ** هيڅ کله **بَايَدْ** دارنګه وَنَه کي، دا خو په **مَرَسْتَهْ** او **مَدَدْ** غُوښتلُو کي **شِرْکْ** دئ. **دَلِيْلْ** يي دغه **آيَتُوْنَهْ** دي

**۳۹: رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا ط اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ** . (**آيَتْ ۱۲۷**،**سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲**)

**تَرْجَمَهْ**:- ائ زمونږ **پَرْوَرْدِګَارَهْ**! زمونږ څخه (دغه **خِدْمَتْ**) **قَبُوْلْ** کړې، بېشکه تَه، او صِرف ته، د هر يوه خبره (**دُعَاءْ**) اوربدونکئ، او هر څوک پېژندُونکئ يي .

**۴۰: قُلْ اَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللهِ مَالَايَمْلِكُ لَکُمْ ضَرًّاوَّلَانَفْعًا ط وَاللهُ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ** .

(**آيَتْ ۷۶**،**سُوْرَةُ الْمَآئِدَةْ ۵**)

تَرْجَمَهْ:- ائ (ائ پیغمبره! دُوي تـه) وَوَایـهْ چـي :,, اَیـا تاسـو د اَللّٰهْ بغیره د دارنګه مَخْلُوْقْ عِبَادَتْ کوئ چي نَه تاسوته د نُقْصَانْ رسولو طَاقَتْ لري، او نَه د فَائدي رَسَوُلُو. سره ددې چي صِرف اَللّٰهْ هره خَبَرَهْ اَورِي، او هر شَئ وِینِي.

**۴۱: قٰلَ رَبِّیْ یَعْلَمُ الْقَوْلَ فِی السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ز وَهُوَالسَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ . (اَیـتْ ۴،سُوْرَةُ الْاَنْبِیَآءْ ۲۱)**

تَرْجَمَهْ:- پیغَمْبَرْ (په جَوَابْ کي) وفرمائل چي:,, په آسمان او مځکه کي ګومي خَبَرِيْ کیږي، زَمَا و پَرْوَرْدِګارْ ته هغه ټولي مَعْلُوْمِيْ دي ، هغه هره خَبَرِيْ اَورِي، پـه هر څـه خَبْردَارَهْ دئ .

**۴۲: وَالَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا یَقْضُوْنَ بِشَیْءٍ ط اِنَّ اللهَ هُوَ السَّمِیْعُ الْبَصِیْرُ. (اَیَتْ ۲۰،سُوْرَةُ الْمُؤْمِنْ ۴۰)**

تَرْجَمَهْ:- او دهغه بَغَیْرَهْ ګوم (دَرْوَاغْجَنْ خُدَایَانْ) چي دُوي یې رَابُولِي، هغه د هیڅ شِيْ فَیْصِلَهْ نَه سي کولائي. یَقِیْنًا اَللّٰهْ دئ چي هره خَبَرَهْ اَورِي، هر څَه وِینِي .

## د اَللّٰهْ ذَاتْ بُلَنْدْ او د عَظْمَتْ والا دئ

د اَللّٰهْ ذَاتْ ډېر بُلَنْدْ دئ، او ډېر عَظِیْمْ دئ، دهغه د لُویِي مُورِ تَصَوُّرْ هم نَـه سو کولائي، بَس دغه عَقِیْدَهْ سَاتَل په کار ده. دَلِیْلْ دا اَیَتُوْنَهْ دي

**۴۳: وَلَایَئُوْدُهٗ حِفْظُهُمَا ج وَهُوَ الْعَلِیُّ الْعَظِیْمُ . (اَیَتْ ۲۵۵،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲)**

تَرْجَمَـهْ:- او ددې دواړو (مځکـي او آسـمان) د نِګرَانَـئ څخـه ده هـیڅ بُـوج نَـه دئ محسوسَه کړئ،او هغه ډېر عَالِيْ شَانْ،دعَظْمَتْ مَالِکْ دئ .

**۴۴: لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ط وَهُوَ الْعَلِیُّ الْعَظِیْمُ . (اَیَتْ ۴،سُوْرَةُ الشُّوْرٰی ۴۲)**

تَرْجَمَهْ:- چي څَه په آسمَانُوْ کي دي او چي څَه په مځکـو کـي دي، ټـولَ دهغـه دي، او هغه دئ چي د لُوْیِيْ او عَظْمَتْ مَالِکْ دئ.

**۴۵: وَ اَنَّ مَا یَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِـهٖ هُوَ الْبَاطِلُ وَ اَنَّ اللهَ هُوَ الْعَلِـیُّ الْکَبِیْـرُ . (اَیَتْ ۶۲،سُوْرَةُ الْحَجْ ۲۲)**

تَرْجَمَهْ:- او دغه خلګ دده په بېله چي د کومو شِیَانُوْ عِبَادَتْ کوي، هغه ټول بَاطِلْ دي، او تَنْهَا اَللّٰهْ هغه ذَاتْ دئ چي شَانْ یې هم لُوړ دئ، رُتْبَهْ یې هم غَتَّهْ ده .

په دغه آیَتُوْ کي دئ چي د اَللّٰهْ ذَاتْ ډېر بُلَنْدْ دئ، او د ډېر عَظْمَتْ والا دئ . لِهٰذَا صِرف د اَللّٰهْ څخه غُوښتَل په کار دئ، او دهغه عِبَادَتْ کول پـه کـار دئ .

## صِرف اَللّٰهْ رُوْزِيْ رَسَانَ دئ

لِهٰذَا د اَللّٰهْ څخه بغَيْرَهْ د بَل چَا څخه رُوْزِيْ غُوښتَل په كار نَه ده. دَلِيْلْ يې په دغه آيَتُوْ كي دئ

**۴۶: اِنَّ اللهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِيْنُ . (آيَتْ ۵۸،سُوْرَةُ الذّٰرِيٰتْ ۵۱)**

تَرْجَمَهْ:- يَقِيْنًا صِرف اَللّٰهْ رُوْزِيْ رَسَانَ دئ ، د مَضْبُوْطْ قُوَّتْ والا دئ!

**۴۷: اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ط. (آيَتْ ۲۶،سُوْرَةُ الرَّعْدْ ۱۳)**

تَرْجَمَهْ:- چي د کُوم چالپاره وَغُوَارِي، په رِزْقْ کې پَرَاخِي رَاوَلِي،او(دچالپاره چې وَغُوَارِي) تَنگِي رَاوَلِي .

په دغه آيَتُوْ كي دئ چي تَنْهَا اَللّٰهْ رُوْزِيْ رَسَانَ دئ، بَل چَا ته ددې اِخْتِيَارْ نَستَه، نو ځکه د اَللّٰهْ بغَيْرَهْ د بَل چَا څخه رُوْزِيْ غُوَښتَل په كار نَه ده .

## د اَللّٰهْ بغَيْرَهْ د بَل چَا څخه رُوْزِيْ غُوښتَل په كار نَه ده

د بعضو غَيْر مُسْلِمِيْنُ دا عَقِيْدَهْ ده چي اَللّٰهْ بعض مَخْلُوْقَاتْ د رُوْزِيْ وركولو مَالِكانْ گرزولي دي، نو ځکه مُوږ دهغه بَنْدگِيْ كوو، او دهغه څخه رُوْزِيْ غُوَاړُو، او خپل حَاجَتُوْنَهْ ځينِي غُوَاړُو

اَللّٰهْ تَعَالٰي فرمائي چي د رُوْزِيْ وركولو مَالِكْ زَهْ په خپله يَم، مَا بَل څوک د رُوْزِيْ وَركوُلُو مَالِكْ نَه دئ جوړ كړئ، نو ځکه زَمَا څخه رُوْزِيْ غُوَښتَل په كار ده، دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي

**۴۸: اِنَّ الَّذِيْنَ تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللهِ لَا يَمْلِكُوْنَ لَكُمْ رِزْقًا فَابْتَغُوْا عِنْدَ اللهِ الرِّزْقَ وَاعْبُدُوْهُ . (آيَتْ ۱۷،سُوْرَةُ الْعَنْكَبُوْتْ ۲۹)**

تَرْجَمَهْ:- يَقِيْنْ وكئ چي د اَللّٰهْ په بيلَه د کُوم کُوم چَا چي تاسو عِبَادَتْ كوئ، هغه تاسو ته د رِزْقْ دَركوُلُو اِخْتِيَارْ نَه لري، نو ځکه رِزْقْ د اَللّٰهْ سره طَلَبْ كئ (وَگورَئ)، او بَسْ دهغه عِبَادَتْ كوئ .

**۴۹: يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللهِ مَا لَايَمْلِكُ لَهُمْ رِزْقًا مِّنَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ شَيْئًا وَّ لَايَسْتَطِيْعُوْنَ . (آيَتْ ۷۳،سُوْرَةُ النَّحْلْ ۱۶)**

تَرْجَمَهْ:- دُوي د اَللّٰهْ بغيره د دارنگه شِيَانُوْ عِبَادَتْ كوي چي دُوي ته د آسمانو او مځکي څخه دهيڅ ډَول رِزْقْ وركولو نه څَهْ اِخْتِيَارْ لري، نَه دَرلُوَلائي سي .

په دغه آيَتْ كي دئ چي په آسْمَانْ او مځکَهْ كي د اَللّٰهْ څخه بغَيْرَهْ هيڅ څوک نَه د رُوْزِيْ وركولو مَالِكْ سته، او نَه رُوْزِيْ وَركوَلائي سي .

لِهٰذَا د اَللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ د يَو وَلِيْ يا نَبِيْ څخه، يا د پِيْرْ ، فَقِيْرْ او مَلَنْگْ څخه رُوْزِيْ غُوَښتَل په كار نَه ده .

# د اَللّٰهْ بَغَيْرَهْ هيڅ څوک د تَكْلِيْفْ د لِيرې كولو قُدْرَتْ نَه لري

دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي

**۵۰: وَ اِنْ يَّمْسَسْكَ اللهُ بِضُرٍّ فَلَاكَاشِفَ لَهٗ اِلَّا هُوَ** ط . (آيَتْ ۱۷،سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ۶)

تَرْجَمَهْ:- كه اَللّٰهْ تَا ته يَو تَكْلِيْفْ ورسوي نو په خپله دهغه بغيره ددغه (تَكْلِيْفْ) د ليرې كولو والا بَلْ څوک نَسته .

**۵۱: فَلَايَمْلِكُوْنَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنْكُمْ وَلَاتَحْوِيْلًا** . (آيَتْ ۵۶،سُوْرَةُ الْاَسْرَاءْ ۱۷)

تَرْجَمَهْ:- كُوم چي تاسو د اَللّٰهْ بَغَيْرَهْ مَعْبُوْدَانْ ګڼلي دي، نَه هغه د تَكْلِيْفْ د ليرې كولو مَالِكَانْ دي، نَه دهغه تَكْلِيْفْ د بَدلَوُلو مَالِكَانْ دي .

**۵۲: قُلْ لَّآ اَمْلِكُ لِنَفْسِىْ نَفْعًا وَّ لَا ضَرًّا اِلَّا مَا شَآءَ اللهُ** ط . (آيَتْ ۱۸۸،سُوْرَةُ الْاَعْرَافْ ۷)

تَرْجَمَهْ:- وَوَايَهْ چي:،، تر څو چي اَللّٰهْ نَه وَغُوَارِي، زَهْ په خپله خپل ځان ته هم د فَائِدَهْ يا نُقْصَانْ رسولو اِخْتِيَارْ نَه لرم .

**۵۳: قُلْ لَّآ اَمْلِكُ لِنَفْسِىْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا اِلَّا مَا شَآءَ اللهُ** ط . (آيَتْ ۴۹،سُوْرَةُ يُوْنُسْ ۱۰)

تَرْجَمَهْ:- وَوَايَهْ چي:،، تر څو چي اَللّٰهْ نَه وَغُوَارِي، زَهْ په خپله خپل ځان ته هم د نُقْصَانْ يا فَائِدَهْ رسولو اِخْتِيَارْ نَه لرم .

چي و نَبِيْ ته يې هم په خپله و خپل ځان ته د فَائِدي او نُقْصَانْ رَسَوُلو اِخْتِيَارْ نَه دئ وَركړئ نو و نورو ته به څَه اِخْتِيَارْ وي؟

**۵۴: وَ مَا بِكُمْ مِّنْ نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللهِ ثُمَّ اِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فَاِلَيْهِ تَجْئرُوْنَ** ج .
(آيَتْ ۵۳،سُوْرَةُ النَّحْلْ ۱۶)

تَرْجَمَهْ:- او تاسو ته چي كُوم نِعْمَتْ مِلاوېږي، هغه د اَللّٰهْ لَطَرَفْ څخه وي، بيا چي تاسو ته يَو تَكْلِيْفْ رسېږي نو دهغه څخه فَرْيَادْ كوئ .

ددغه آيَتُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي د اَللّٰهْ بَغَيْرَهْ بَل څوک تَكْلِيْفْ نَه سي ليرې كولائي، لِهٰذَا د بَل چَا څخه د تَكْلِيْفْ د ليرې كولو اِلْتِجَاءْ كول په كار نَه ده .

## بَسْ تَنْهَا اَللّٰهْ بَچِئ وَركوي

اَوْلَادْ وَرکول صِرف د اَللّٰهْ په لَاسْ دئ، لِهٰذَا د بَل چَا څخه اَوْلَادْ غُوښتَل په
کار نَه دئ، و کُوم قَبَرْ، يا يو پِيرْ، يا يو مَلَنْګْ ته دهغه د غُوَښتَلُو لپاره تَلَل په
کار نَه دئ، ثُبُوْتْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي

**۵۵: لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ط يَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ اِنَاثًا وَّيَهَبُ**
**لِمَنْ يَّشَآءُ الذُّكُوْرَ ۝ لا اَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَّ اِنَاثًا ج وَيَجْعَلُ مَنْ يَّشَآءُ عَقِيْمًا ط**
**اِنَّه□ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ۝ . (آيَتْ ۵۰،سُوْرَةُ الشُّوْرٰى ۴۲)**

تَرْجَمَهْ:- د ټولو آسْمَانُوْ او مځکو حُکُوْمَتْ تَنْهَا د اَللّٰهْ دئ. هغه چې څَـه غُوَاړِي، پَيدَا کوي يې. هغـه چې چَا تـه وَغُوَاړِي، لُوْنِيْ ورکـوي، او چـا تـه چـې وَغُـوَاړِي، نَـرَانْ ورکوي، ۝ يا خو بيا ګډْ وَډْ نَرَانْ هم ورکوي، او لُوْنِيْ هم، او چا ته چې وَغُـوَاړِي، وَچْ يې کي. يَقِيْنًا هغه د عِلْمْ هم مَالِکْ دئ، د قُدْرَتْ هم مَالِکْ دئ.۝

په دغه آيَتْ کي دئ تَنْهَا اَللّٰهْ اَوْلَادْ ورکوي .

**۵۶: فَلَمَّآ اَثْقَلَتْ دَّعَوَا اللّٰهَ رَبَّهُمَا لَئِنْ اٰتَيْتَنَا صَالِحًا لَّنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ۝**
**فَلَمَّآ اٰتٰهُمَا صَالِحًا جَعَلَا لَه□ شُرَكَآءَ فِيْمَآ اٰتٰهُمَا ج فَتَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا**
**يُشْرِكُوْنَ۝ اَيُشْرِكُوْنَ مَا لَا يَخْلُقُ شَيْئًا وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ۝ ز صلى وَ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ**
**لَهُمْ نَصْرًا وَّ لَآ اَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُوْنَ۝ (آيَتْ ۱۹۰،تا ۱۹۲ سُوْرَةُ الْاَعْرَافْ ۷)**

تَرْجَمَهْ:- بيا چې کله دا درنه (وَزنِيْ/حَمَلْدَارَهْ) سوه نو دواړو (مېړه او مِينې) د خپل پَروَردِګار (اَللّٰهْ) څخه دُعَاءْ وکړه چې:,, که چيرې تَا مُوږ تـه رُوْغْ رَمَـتْ اَوْلَادْ راکړئ نو مُوږبه ضَرُوْر بِالضَّرُوْرْ ستا شُکْرْ اداء کوو ,,۝ ليکن چې کلـه اَللّٰهْ دُوي تـه يَورُوْغْ رَمَتْ بَچئ ورکړئ نو دُوي دواړو د اَللّٰهْ په ورکړي نِعْمَتْ کي د اَللّٰهْ سره د نُور شريکان نِيوَل شروع کړل، حَالَانْکِهْ اَللّٰهْ د دُوي د مُشْرِکَانَهْ خَبَرُوْ څخه ډير لُوړ (ليري) دئ۝ آيَا دُوي دارنګه شِيَان (د اَللّٰهْ سره په خُدَايِيْ کي) شَرِيکان مَنِي چې هيڅ شَئ نَـه سـي پيدا کولائي، بلکه په خپله هغه پيدا سوي دي؟۝ او هغه چې نَـه د دُوي هيڅ ډول مرسته کولائي سي او نَه په خپله د خپل ځان مرسته کوي۝

په دغه آيَتْ کي دئ تَنْهَا اَللّٰهْ اَوْلَادْ ورکوي، لـيکن د اَفْسُوْسْ خَبَرَهْ داده چې کله اَوْلَادْ پَيدَا سي نو د اِنْسَانْ دا خِيَالْ وي چې دا خو نورو بَابَاګَانُوْ او پِيرَانُـوْ مَلَنْګَانُوْ راکړئ دئ، او دهغه بَنْدَګِيْ شروع کي، او هغه شَرِيْکْ وَګڼي .

**۵۷: هُوَ الَّذِيْ يُصَوِّرُکُمْ فِى الْاَرْحَامِ کَيْفَ يَشَآءُ ط لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ**
**الْحَکِيْمُ۝**

**(آيَتْ ۶، سُوْرَةُ آل عِمْرَانْ ۳)**

تَرْجَمَهْ:- هغه (اَللّٰهْ) دئ چې د مَنْدُوْ په نَسُوْنُوْ کي چې څنګه وَغُوَاړِي ستاسو صُوْرَتُوْنَهْ جوړوي، دهغه بغيره بَل مَعْبُوْدْ نسته، هغه د زَبَرْدَسْتْ اِقْتِدَارْ مَالِکْ هم دئ، ډير حِکْمَتِيْ ذَاتْ هم دئ .

**۵۸**: **وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَقْضُوْنَ بِشَیْءٍ ط اِنَّ اللّٰهَ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ**
**(آيَتْ ۲۰، سُوْرَةُ غَافِرْ ۴۰)**
**تَرْجَمَهْ**:- او دهغه **بَغَيْرَهْ** کُوم (**دَرْوَاغْجَنْ خُدَايَانْ**) چې دُوي يې رَابُولِي، هغه د هيڅ **شِيْ فَيْصَلَهْ** نَه سي کولائي. **يَقِيْنًا اَللّٰهْ** دئ چې هره **خَبَرَهْ** اَورِي، هر څَه وِينِي.
په دغه **آيَتُوْ** کي دئ چي **اَللّٰهْ دُعَاګَانْ** قَبلَوي، او **تَنْهَا اَللّٰهْ اَوْلَادْ** ورکوي .
بعضې **زَنَانِي** د **اَللّٰهْ** څخه **بَغَيْرَهْ** د نورو څخه د **اَوْلَادْ طَلَبْ** لري، دا **صَحِيْحْ لَارَهْ** نَه ده، دغه **زَنَانَهْ** په خپله هم **اَللّٰهْ** پَيدَا کړې ده او **اَللّٰهْ** دې ته بَچَئ وَرکوَلائي سي، دهغه څخه غُوښتَل په کار دئ، بعض **نَايُوْهَانْ** په دغه رنګه **وَخْتْ** کي **شِرْکْ** هم په وکي، او د **اَللّٰهْ** په بېله د نورو بَندَګِي هم په وکي، ددغه رنګه **عَمَلْ** څخه ځان سَاتَل په کار دئ .

## بَسْ تَنْهَا اَللّٰهْ شِفَاءْ (صِحَّتْ) وَرکوي

**اِنْسَانْ عِلَاجْ** کولائي سي، لېکن د **شِفَاءْ** ورکولو **اِخْتِيَارْ** صِرف د **اَللّٰهْ** سره دئ، نو ځکه صِرف د **اَللّٰهْ** څخه دي د **شِفَاءْ سُوَالْ** کوي، کُوم **پِيْرْ** یا **وَلِيْ** ته د **شِفَاءْ** ورکولو **اِخْتِيَارْ** نَستَه، **لِهٰذَا** د دُوي څخه **شِفَاءْ** غُوښتَل په کار نَه ده .
**دَلِيْلْ** يې دغه **آيَتُوْنَه** دي
**۵۹**: **وَاِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِيْنِ** . (**آيَتْ ۸۰**،**سُوْرَةُ الشُّعَرَآءْ ۲۶**)
**تَرْجَمَهْ**:- او چي **زَهْ** کله **نَاجُوْړَهْ** سَم نو صِرف هغه **مَا** ته **شِفَاءْ** رَاکوِي .
**۶۰**: **وَ اِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَاکَاشِفَ لَهٗٓ اِلَّا هُوَ** ط . (**آيَتْ ۱۷**،**سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ۶**)
**تَرْجَمَهْ**:- که **اَللّٰهْ تَا** ته يَو **تَکْلِيْفْ** ورسوي نو په خپله دهغه بغيره ددغه (**تَکْلِيْفْ**) د ليري کولو والا **بَلْ** څوک نَستَه .
**۶۱**: **فَلَايَمْلِکُوْنَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنْكُمْ وَلَاتَحْوِيْلًا** . (**آيَتْ ۵۶**،**سُوْرَةُ الْاَسْرَاءْ ۱۷**)
**تَرْجَمَهْ**:- کُوم چي تاسو د **اَللّٰهْ بَغَيْرَهْ مَعْبُوْدَانْ** ګڼلي دي، نَه هغه د **تَکْلِيْفْ** د ليري کولو **مَالِکَانْ** دي، نَه دهغه **تَکْلِيْفْ** د بَدلَوُلو **مَالِکَانْ** دي .
ددې لپاره **حَدِيْثُوْنَه** دغه دي
**۳**: **عَنْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ اِذَا اشْتَكٰی مِنَّا**

مِنْ اِنْسَانٍ مَسَحَهُ بِيَمِيْنِهٖ ثُمَّ قَالَ اِذْهَبِ الْبَأْسَ رَبِّ النَّاسِ وَاشْفِ اَنْتَ الشَّافِيْ لَاشِفَاءَ اِلَّا شِفَاءُكَ شِفَاءً لَايُغَادِرُ سَقْمًا. (مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ السَّلَامْ، بَابُ اِسْتِحْبَابِ رُقْيَةِ الْمَرِيْضْ، ص: ۹۷۲، نمبر ۲۱۹۱/ ۵۷۰۷)

تَرْجَمَهْ:- چي په مُوږ کي به څوک نَاجُوړه سو نو حُضُور به په خپل ښِي لَاسْ سره هغه مَسْ کاوئ، بیا به دغه دُعَاءْ وَيَله، د اِنْسَانَانُوْ رَبَّ تَکْلِيْفْ لِيري کې، تَنْهَا تَه شِفَاءْ وَرکوُنکئ يې، لِهٰذَا شِفَاءْ ورکې، تَنْهَا ستا شِفَاءْ ده، دارنګه شِفَاءْ چي نَاجُوړِي نَه پرې اِږدي .

۴: عَنْ عَبْدِ الْعَزِيْزِ قَالَ دَخَلْتُ اَنَا وَثَابِتٌ عَلٰى اَنَسِ بنِ مَالِكٍ، قَالَ ثَابِتٌ يَا اَبَاحَمْزَةَ اِشْتَكَيْتُ فَقَالَ اَنَسٌ: اَ لَا اُرْقِيْكَ بِرُقْيَةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ؟ قَالَ بَلٰى، قَالَ اَللّٰهُمَّ رَبَّ النَّاسِ مُذْهِبَ الْبَأْسِ، اِشْفِ اَنْتَ الشَّافِيْ لَا شَافِيَ اِلَّا اَنْتَ، شِفَاءً لَايُغَادِرُ سَقْمًا . (بُخَارِيْ شَرِيْفْ، بَابُ رُقْيَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ص: ۱۰۱۴، نمبر ۵۷۴۲)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عُمَرْ بِن عَبْدُ الْعَزِيْزْ فرمائي چي زَهْ او ثَابِتْ حضرت اَنَسْ بِن مَالِكْ ته راغلو، حضرت ثَابِتْ وويل، ائ اَبُوْحَمْزَهْ زَهْ نَاجُوْړَهْ يَم، نو حضرت اَنَسْ وفرمائل چي زَهْ د حُضُورﷺ تَعْوِيْذْ پر تَا باندي نَه ووايَم؟حضرت ثَابِتْ وفرمائل، هُوْ! حضرت اَنَسْ وفرمائل. ائ د اِنْسَانَانُوْ رَبَّا! تَکْلِيْفْ لِيرِي کونکې، شِفَاءْ ورکې، شِفَاءْ وَرکوُنکئ صِرف تَه يې، دارنګه شِفَاءْ چي نَاجُوْړِي نَه پرېږدي .

په دغه دواړو حَدِيْثُوْ کي دئ چي شِفَاءْ وَرکوُنکئ ذَاتْ صِرف اَللّٰهْ تَعَالٰى دئ، لِهٰذَا د بَل چَا څخه شِفَاءْ غُوَښتَل په کار نَه ده .

په مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ کي ډېر اِنْسَانَانْ د شِفَاءْ غُوَښتُلو لپاره مُخْتَلِفُوْ مَصْنُوْعِيْ بَادَارَانُوْ ته او خُدَائ خَبَرْ چي څنګه څنګه خلګو ته وَرځِي، هغه په چَمْ او دُوْکَهْ سره پَيسې هم ځِيني اَخلِي، او اِيْمَانْ يې هم وَرخَرَابوِي، د دُوي څخه ځَان سَاتَل په کار دئ .

## ۲: پر اَللّٰهْ باندي جَزَا يا سَزَا ورکول وَاجِبْ نَه ده

ددغه عَقِيدي په اړه ۱۵ آيَتُوْنَهْ او( ۰ ) حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يوه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کئ

مُعْتَزِلَهْ: يَو جَمَاعَتْ وُو هغوي وَيلِي وُو چي پر اَللّٰهْ باندي بَدْلَهْ وَرکوَل وَاجِبْ ده

لېکن د اَهْلِ سُنَّتْ وَالْجَمَاعَتْ مَذْهَبْ دادئ چي پر اَللّٰهْ باندي يَو شَئ وَاجِبْ نَه دئ، هر شَئ دده پر مَرْضِيْ دئ. دَلِيْلْ يې دادئ

۱: فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَ يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ط وَاللّٰهُ عَلٰی كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ .
(آيَتْ ۲۸۴، سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲)

تَرْجَمَهْ:- بيا چي څوک وغواړي هغه به مَعَافْ کړي او چي څوک وغواړي هغه ته به سَزَا ورکړي، او اَللّٰهْ پر هر شِي (هر څَه) قُدْرَتْ لري .

۲: فَيُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِیْ مَنْ يَّشَآءُط وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ .
(آيَتْ ۴، سُوْرَةُ اِبْرَاهِيْمْ ۱۴)

تَرْجَمَهْ:- بيا چې اَللّٰهْ يې وَغُوَاړِي،گُمْرَاهْ يې کړي، او چي وَغُوَاړِي، هغه ته هِدَايَتْ ورکړي، او هغه دئ چي اِقْتِدَارْ يې هم كَامِلْ دئ، حِكْمَتْ يې هم كَامِلْ دئ .

۳: اِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَايُرِيْدُ . (آيَتْ ۱۴، سُوْرَةُ الْحَجْ ۲۲)

تَرْجَمَهْ:- اَللّٰهْ چي څَه وَغُوَاړِي هغه کوي .

۴: وَيَفْعَلُ اللّٰهُ مَايَشَآءُ . (آيَتْ ۲۷، سُوْرَةُ اِبْرَاهِيْمْ ۱۴)

تَرْجَمَهْ:- اَللّٰهْ چي څَه وَغُوَاړِي هغه کوي .

په دغه آيَتُوْ کي دئ چي اَللّٰهْ څَه وَغُوَاړِي هغه کوي، پر هغه باندي يَو کار کول هم وَاجِبْ (لَازِمْ) نَه دئ .

## اَللّٰهْ چي هر څَه ورکي هغه دده فَضْلْ دئ

پر اَللّٰهْ تَعَالٰی باندي يَو شَئ وَرکَوَل وَجِبْ نَه دئ، هغه چي کُوم چا ته کُوم شَئ وَرکي هغه د اَللّٰهْ تَعَالٰی خپل فَضْلْ دئ، دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَه دي

۵: ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُط وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ . (آيَتْ ۲۱،سُوْرَةُ الْحَدِيْدْ ۵۷)

تَرْجَمَهْ:- دا د اَللّٰهْ فَضْلْ دئ چي دئ يې چَا ته وَغُوَاړِي، وَرکوي يې، او اَللّٰهْ د غَټْ فَضْلْ وَالا دئ .

۶: ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُط وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ . (آيَتْ ۴،سُوْرَةُ الْجُمْعَةْ ۶۲)

تَرْجَمَهْ:- دا د اَللّٰهْ فَضْلْ دئ چي دئ يې چَا ته وَغُوَاړِي، وَرکوي يې، او اَللّٰهْ د غَټْ فَضْلْ وَالا دئ .

۷: وَ اَنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُط وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ .
(آيَتْ ۲۹،سُوْرَةُ الْحَدِيْدْ ۵۷)

تَرْجَمَهْ:- او يَقِيْنًا ټولَ فَضْلْ د اَللّٰهْ په لَاسْ کي دئ، چي چَا ته يې وَغُوَاړِي، وَرکوي يې، او اَللّٰهْ د غَټْ فَضْلْ مَالِکْ دئ .

۸: وَاللّٰهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ . (آيَتْ ۱۰۵،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲)

تَرْجَمَهْ:- اَللّٰهْ چي وَغُوَاړِي هغه د خپل رَحْمَتْ لپاره خَاصْ کي،او اَللّٰهْ د غَټْ فَضْلْ مَالِکْ دئ .

په دغه آيَتُوْ کي دئ چي څه اَللّٰهْ ورکوي، هغه دده خپل فَضْلْ دئ، پر ده باندي هيڅ شَئ وَاجِبْ نَه دئ .

## د اَهْلِ سُنَّتْ وَالْجَمَاعَتْ عَقِيْدَهْ داده چي د خَيْرْ او شَرْ ټولو پَيدَا کونکئ اَللّٰهْ دئ

په تېر وَخْتْ کي د بعضو خلګو دا نَظْرِيَّهْ وه چي د شَرْ کارُوْنَهْ خو بَنَهْ کارُوْنَهْ نَه دي، نو ځکه ذُوي د شَرْ د پَيدَا کولو نِسْبَتْ د اَللّٰهْ تَعَالٰی وَ طَرَفْ ته کول مُنَاسِبْ نَه ګانړئ، او دا به وَيَل چي د شَرْ پيدَا کونکئ شَيْطَانْ دئ .

لېکن خو په آيَتْ کي دئ چي د هر شِي پَيدَا کونکئ اَللّٰهْ پَاکْ دئ، نو ځکه دغه صَحِيْحْ عَقِيْدَهْ ده چي د خَيْرْ او شَرْ دواړو پَيدَا کونکئ اَللّٰهْ دئ. او اِنْسَانْ ته چي کُوم ثَوَابْ يا عَذَابْ وَرکوَل کېږي هغه دده د کَسْبْ يعني د کار کولو په وَجْهَ وَرکوَل کېږي. دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي

۹: اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ ۫ وَّهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ . (آيَتْ ۶۲،سُوْرَةُ الزُّمَرْ ۳۹)

تَرْجَمَهْ:- اَللّٰهْ د هر شِيْ پَيدَا کونکئ دئ، او هغه د هر شِيْ سَاتُونکئ دئ .

۱۰: ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ . (آيَتْ ۶۲،سُوْرَةُ الْمُؤْمِنْ ۴۰)

تَرْجَمَهْ:- دغه اَللّٰهْ دئ چي ستاسو پَرْوَرْدِګَارْ دئ، هر شَيْ پَيدَا کونکئ دئ .

۱۱: قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ . (آيَتْ ۷۸،سُوْرَةُ النِّسَآءْ ۴)

تَرْجَمَهْ:- وَوَايَهْ هر شَئ د اَللّٰهْ لَخْوَا څخه دئ .

ددغه آيَتُوْ څخه ثَابِتْ سو چي د هر شِي پَيدَا کونکئ صِرف اَللّٰهْ دئ .

## اَلْبَتَّهْ چي اِنْسَانْ د شَرْ کار وکي نو اَللّٰهْ په هغه نَه رَاضِيْ کيږي، او چي د خَيْرْ کار وکي نو اَللّٰهْ په هغه رَاضِيْ کيږي

هسي خو ټولَ کارونَه اَللّٰهْ پَيدَا کړي دي، اَلْبَتَّهْ په ښَهْ کَارْ کولو سره اَللّٰهْ رَاضِيْ کيږي، او د بَدْ کار کولو څخه نَه رَاضِيْ کيږي

دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي

۱۲: وَ لَا يَرْضٰى لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ . (آيَتْ ۷،سُوْرَةُ الزُّمَرْ ۳۹)

تَرْجَمَهْ:- اَللّٰهْ د خپلو بَنْدَهْ ګانُوْ لپاره کُفْرْ نَه خُوښَوِي .

په دغه آيَتْ کي دئ چي اَللّٰهْ په کُفْرْ نَه رَاضِيْ کيږي .

۱۳: وَ اَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضٰىهُ . (آيَتْ ۱۹،سُوْرَةُ النَّمْلْ ۲۷)

تَرْجَمَهْ:- او زَهْ هغه نيک عَمَلْ وکم کُوم چي تَه په رَاضِيْ کيږې .

۱۴: وَ اَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضٰىهُ . (آيَتْ ۱۵،سُوْرَةُ الْاَحْقَافْ ۴۶)

تَرْجَمَهْ:- او زَهْ هغه نيک عَمَلْ وکم کُوم چي تَه په رَاضِيْ کيږې .

په دغه دواړو آيَتُوْ کي دئ چي په ښُوْ اَعْمَالُوْ سره اَللّٰهْ رَاضِيْ کيږي .

## د اَللّٰهْ ټوله صِفَاتْ هم اَزَلِيْ او هم اَبَدِيْ دي

په تېر وَخْتْ کي د خلکو تر مِنيځ دا بَحْثْ هم سوئ دئ چي، مَثَلًا د پَيدَا کولو څخه مخکي اَللّٰهْ تَعَالٰي خَالِقْ دئ يا نَه دئ؟ نو په دې اړه تَفْصِيْلْ دادئ چي د اَللّٰهْ ټوله صِفَاتْ اَزَلِيْ او اَبَدِيْ دي، يعني تر څو چې دغه کَائِنَاتْ نَه وُ پَيدَا کړئ هغه وَخْتْ هم اَللّٰهْ تَعَالٰي د خَالِقِيَّتْ او رَازِقِيَّتْ په صِفَاتُوْ سره مَوْصُوْفْ وُو، او د پَيدَا کولو وروسته هم دئ په دغه صِفَاتُوْ سره مَوْصُوْفْ دئ، په هغه کي هيڅ زِيَاتُوْبْ او کَمْبُوْتْ نَه دئ راغلئ. او چي کله دغه کَائِنَاتْ خَتم کي هغه وَخْتْ به هم اَللّٰهْ تَعَالٰي خَالِقْ پاته وي په هغه کي به هيڅ کَمْبُوْتْ نَه رَاځِي، ځکه چي د اَللّٰهْ تَعَالٰي ټوله صِفَاتْ اَبَدِيْ دي. دَلِيْلْ يې دغه آيَتْ دئ

۱۵: اِنَّ ذٰلِكَ لَمُحْيِ الْمَوْتٰى ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ . (آيَتْ ۵۰،سُوْرَةُ الرُّوْمْ ۳۰)

تَرْجَمَهْ:- حَقِيْقَتْ دادئ چي دئ مَړِي ژُوَندِي کوي، او دئ پر هر شي باندي پُوْرَهْ قُدْرَتْ لري .

اَللّٰهْ مَړي تر اُوْسَهْ نَه دي ژُوَندِي کړي. بلکه په قِيَامَتْ به ژُوَندِي کوي، مګر بيا هم د اُوْسَهْ څخه لَا هم اَللّٰهْ تَعَالٰی ته د مَړُوْ (مُرْدَهْ ګـانُوْ) ژُونـدَئ کـونکئ وَيَل کيږي. ددې څخه مَعْلُوْمْ سو چي د ژُونـدِي کولـو څخـه مَخکـي هـم دئ د ژُوَندِي کولو صِفَتْ لري. دغه رنګه د ټولو صِفَاتُوْ حَالَتْ دئ .

ددغه عَقِيدې په اړه ۱۵ آيَتُوْنَهْ او ( ۰ ) حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ وَګُوري .

# ۳: دَهْرِيَانْ بايَد خُدَائ وَمَنِي

ددې ۷ دَلَائِلْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کئ

د بعضو خلګو دا نَظْرِيَّهْ ده چي اَللّٰهْ وُجُوْدْ نَه لري، دغه کائِنَـاتْ پـه خپلـه پَيـدَا سوئ دئ، او په خپله بـه خَتْمْ سي، ددې پَيدَا کـونکئ نَستَه، دغـه خلګـو تـه دَهْرِيَّهْ وَيَل کيږي، او دغه ته نَاسْتِکْ هم وَيَل کيږي .
د دُوي دَلِيْلْ دادئ چي مُوږ په هيڅ وَخْتْ خُدَائ نـه دئ لِيدَلَئ نـو ځکـه هغـه وُجُوْدْ نَه لري

## ددې جَوَابْ دادئ چي

په دغه سترګو خو خُدَائ لِيدَلَئ هم نـه سـي، هغـه وَاجِبُ الْوُجُـوْدْ دئ، هغـه د دُنْيَا د شِيَانُوْ په رنګه نَه دئ چي مُوږ يې په سترګو وَوِينُـو، اَلْبَتَّـهْ پـه آخِـرَتْ کي به و مُؤْمِنَانُوْ ته اَللّٰهْ تَعَالٰی دارنګه سترګي ورکي چي پـه هغـه سره دُوي اَللّٰهْ تَعَالٰی وَوِيني، په دُنْيَا کي دغه خَبَرَهْ هيڅ اِمْکَانْ نَه لري
د اَللّٰهْ تَعَالٰی ذَاتْ د نُوْرْ په اَوْيَا زَرَهْ (۷۰۰۰۰) پَرْدُوْ کي دئ نو هغه به څنګه ويني؟ په خپله حُضُور صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ د مِعْرَاجْ د شپې په اړه وَفَرْمَائِلْ.
نُوْرٌ اَنّٰى اَرَاهُ؟ يعني هغه يو نُوْرْ دئ هغه څنګه لِيدَلائي سَم؟
حَدِيْثْ دغه دئ

۱: عَنْ اَبِیْ ذَرٍّ قَالَ سَاَلْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ هَلْ رَأَيْتَ رَبَّكَ؟ قَالَ نُوْرٌ اَنّٰى أَرَاهُ ؟ . (مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْاِيْمَانْ، بَابُ قَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامْ نُوْرٌ أَنّٰى أَرَاهُ، ص ۹۱، نمبر ۱۷۸/ ۴۴۳)
تَرْجَمَهْ:- حضرت اَبُوْذَرْ فرمائي چي، مَا د حُضُور څخه پُوښتَنَه وکړه چـي آيَـا تَـا خپـل رَبْ لِيدَلَئ دئ؟ نو وفرمائل چي، هغه خو نُوْرْ دئ، هغه څنګه لِيدَلائي سَم؟

**۲**: په دُنْيَا کي د اَللّٰهْ پَيدَا کړئ لُمَرْ هم د مَايُبْنِيْنْ (غَرْمِي) په وَخْتْ کي ځوک نَه سي لِيدَلائي چي په هغه کي ډېر اَدْنٰي (لَږْ خَه) نُوْرْ سته، نو د اَللّٰهْ تَعَالٰي ذَاتْ چي ټوله سَرْ تر پَايَه بَس نُوْرْ نُوْرْ دئ هغه به زُمُوږ سترګي څنګه وَوِينِي؟

## د اَللّٰهْ ذَاتْ به نو څنګه نَه مَنِي؟

**۳**: په دُنْيَا کي په مِلْيَنُوْنُوْ اِنْسَانَانْ دي، د هر کس چِهْرَهْ بِالْکُلْ جَلَا جَلَا ده، بلکه د يَوَه مُوْرْ و پَلَارْ دُوَه بَچَانْ وي، نو د دواړو چِهرې بِالْکُلْ جَلَا جَلَا وي، دغه جَلَا جَلَا چِهْرَهْ د کُوم ذَاتْ په وَجْهَ ده؟ چي د کُوم ذَاتْ په وَجْهَ دغه چِهرې جَلَا جَلَا دي دهغه ذَاتْ نُوم خُدَا دئ، په قُرْآنِ کَرِيْمْ کې دغه ته رَبُّ الْعٰلَمِيْنْ وَيلِي دي. دَلِيْلْ يې دغه آيَتْ دئ
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ. (آيَتْ ۱،سُوْرَةُ الْفَاتِحَهْ ۵)
تَرْجَمَهْ:- ټول تَعْرِيْفُوْنَهْ د اَللّٰهْ لپاره دي چي د ټولو جَهَانُوْ پَالُونکئ دئ .
په دغه آيَتْ کي دئ چي اَللّٰهْ تَعَالٰي د ټولي دُنْيَا رُوْزَنَهْ کوي .
چي دا خَبَرَهْ يَقِيْنِيْ سوه چي د هر کس چِهْرَهْ جَلَا جَلَا ده نو دا به هم مَنِې چي دغه جَلَا جَلَا چِهرې پَيدَا کونکي ذَاتْ ته خُدَا وائي .

## تَه خو مَړ سَه چي مُوږ خو دي وَوِينُو

**۴**: دَهْرِيَانْ وائي چي مُوږ په خپله پَيدَا سوي يُو، که چيري دغه رنګه ده چي تاسو په خپله پَيدَا سوي ياست نو تاسو مَړَه سئ چي مُوږ مُو وَوِينُو، مَرګ ستاسو په اِخْتِيَارْ کي دئ مګر بيا هم تاسو په خپله نَه سئ مَړَه کېدلائي نو په خپله پَيدَا سوي څنګه ياست؟

## تَه کولائي سې چي همېشه ځُوَانْ پاته سې؟

**۵**: دَهْرِيْ په خپله دا غُوَاړي چي زَهْ ځُوَان پاته سَم او ددغه لپاره ډُوي ښې نُسخې هم اِسْتِعْمَالَوِيْ، لېکن بيا هم چي کُوم شَئ (کُوم ذَاتْ) دئ بُوډَا کوي، او لَاسْ و پُښې يې وَر نَاکارَهْ کوي، دهغه ذَاتْ نُوم خُدَا دئ. په قُرْآنْ کي دئ .

**وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرَدُّ اِلٰی اَرْذَلِ الْعُمُرِ لِکَیْ لَایَعْلَمَ بَعْدَ عِلْمٍ شَیْئًا** (**آيَتْ ۷۰،سُوْرَةُ النَّحْلْ ۱۶**)
**تَرْجَمَهْ**:- او په تاسو کي يَو څوک دارنګه وي چي د **عُمْرْ** هغه **نَاکارَهْ** حِصّي ته ورسول سي، هغه ته د رَسېدَلُو وروسته دئ د هر څَه **پُوْهَنِيْ بَاوُجُوْدْ** هم په هيڅ نَه پُوهيږي .
که چيري **تَه** په خپله پَيدَا سوئ يې نو تر نِيوِي کالَه پُوري **ځُوَانْ** وَوسَه، که چيري دغه کار نَه سې کولائي نو کُوم **ذَاتْ** چي **تَا بُوْدَا** کوي دهغه **ذَاتْ نُـوْمْ خُدَا** دئ، **لِهٰذَا خُدَائ** وَمَنَه .

# تَه دا کولائي سې چي **يَوْ سَلْ پِنْځَهْ وِيْشْتْ** کالَه ژُوَندَئ پاته سې؟

**۶**: **دَهْرِيَانْ** غُوَاړي چي تر ډېره **وَخْتَهْ** پُورِي ژُونـدِي پاتـه سـي، کـه چيـري دُوي په خپله پَيدَا سوي دي، نو چَلُو **يَوْ سَلْ پِنْځَـهْ وِيْشْتْ** (**۱۲۵**) کالـه دي ژُوَندِي پاته سي، که چيري دُوي په خپله پَيدَا سوي دي نـو **بَايَدْ** چـي دُوي پـه خپله ژُوَندِي هم پاتـه سـي، لېکن کُوم **ذَاتْ** چـي دُوي **وَژْنِـيْ** دهغـه **ذَاتْ** نُـوم **خُدَائ** دئ .
حضرت **اِبْرَاهِيْمْ عَلَيْهِ السَّلَامْ** د **اَللّٰهْ تَعَالٰی** د **ذَاتْ** د **تَعَارُفْ** لپاره وَيَلِي وُو، آيَت دادئ
**اِذْ قَالَ اِبْرٰهمُ رَبِّیَ الَّذِیْ يُحْیِ وَيُمِيْتُ** (**آيَتْ ۲۵۸،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲**)
**تَرْجَمَهْ**:- چي کله **اِبْرَاهِيْمْ** وويل چي **زَمَا رَبْ** هغه چي **ژُوَنْدْ** هم ورکوي او **مَرْګْ** هم ورکوي .
نو چي کُوم **ذَاتْ تَا وَژْنِيْ** دهغه **نُوْمْ خُدَائ** دئ،اوهغه **ذَاتْ** تَه پَيدَا کړئ هم يـې .

# چي کُوم **ذَاتْ تَا وَژْنِيْ** دهغه **نُوْمْ خُدَائ** دئ

**۷**: د **قُرْآنْ** او **حَدِيْثْ رِهْنَمَـايِيْ** خو پر خپل ځائ ده چي ده، لېکن مُوږ **خُدَائ** مَنُو هغه يې په دې **وَجْهَ** سره مَنُو چـي دئ يَـوَه نَـه يَـوَه **وُرَځْ** مُـوږ **وَژْنِـيْ**، او چي کُوم **ذَاتْ وَژَنَـهْ** کوي هغه **ذَاتْ** پَيـدَا کـونکئ هـم دئ، او چـي دغـه دوارِي **خَبَرِيْ بِالْکُلْ** مَخَامَخ دي چي تَه يې **اِنْکارْ** نَه سې کولائي، نو ددې څخه دا هـم په **يَقِيْنِيْ** تُوګه **مَعْلُوْمَهْ** ده چي **قِيَامَتْ** هم ستِه، او **جَنَّتْ** او **جَهَنَّمْ** هم ستـه، ددې لپاره د وُږدُو وُږدُو **دَلَائِلُوْ** ضرورت نَستَه .

# تَه وَمَنَه چي پَيدَا كونكئ **ذَاتْ** بَس **خُدَاىٔ** دئ

تَه وَمَنَه چي ستا پَيدَا كونكئ **خُدَاىٔ** دئ، او دهغه په حُضُور كي دا **مَعَافِيْ** وَغُوَاړَه چي اىٔ وَرْنكي **خُدَايَهْ** **مَا** ته **عَفْوَ** وكي، او **مَا** ته **جَنَّتْ** رَاكي، كه دي چيري د **زِرَهْ** لَكُومِي دا وويل، او پر دغه **وَيْنَا** مړ سوې نو ډېر **اِمْكَانْ** سته چي **اَللّٰهْ** **تَعَالٰي** به **تَا** **مَعَافْ** كي .

## **۴**: **رُؤْيَتِ بَارِيْ تَعَالٰى**

### ... د **اَللّٰهْ** **تَعَالٰي** لِيدَل ...

ددغه عَقِيدې په اړه **۵** **آيَتُوْنَهْ** او **۱۰** **حَدِيْثُوْنَهْ** دي، تاسو د هر يَوَه **تَفْصِيْلْ** وَگورَئ

د **مِعْرَاجْ** په شپه حُضُور **صَلَّي اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ** **اَللّٰهْ** **تَعَالٰي** وَلِيدَئ؟ كه نَه وَلِيدَئ؟ په دې اړه د **عُلَمَاءُ** **اِخْتِلَافْ** دئ

**۱**: يَو **جَمَاعَتْ** دا وائي چي حُضُور **اَللّٰهْ** **تَعَالٰي** نَه دئ لِيدَلَئ .

**۲**: **دُوَيَمْ جَمَاعَتْ** دا وائي چي **اَللهْ تَعَالٰي** يې لِيدَلَئ دئ لېکن دده **نُوْرْ** يې لِيدَلَئ دئ. **بَهَرْ حَالْ** لِيدَلَئ يې ضرور دئ، د **اَكْثَرُوْ** حَضرَاتُو دغه **رَأْيَه** ده .

**۳**: **دَرِيَمْ جَمَاعَتْ** دا وائي چي د **لُوَرْ لُوَرْ** ښخه (په **تَلْوَارْ تَلْوَارْ/ مَعْمُوْلِيْ** ښَه) لِيدَلَئ دئ، د **دَنَنَهْ حَالَتْ** يې نَه دئ لِيدَلَئ، او هغه يې لِيدَلائي هم نَه سو، ځکه چي د **اَللهْ تَعَالٰي ذَاتْ** خو **لَامُتَنَاهِيْ** دئ .

**۴**: **څَلُوْرَمْ جَمَاعَتْ** دا وائي چي **اَللهْ تَعَالٰي** يې په **زَرَهْ** سره لِيدَلَئ دئ .

## د هر يَوه دَلَائِلْ دغه دي

**۱**: **اَوَّلْ جَمَاعَتْ** :- ګُومُو حَضرَاتُو چي وويل چي **اَللهْ** يې نَه دئ لِيدَلَئ د هغوي **دَلَائِلْ** دغه دي

حضرت **مُوْسٰي عَلَيْهِ السَّلَامْ** د **اَللهْ تَعَالٰي** د لِيدَلُو **فَرْمَائِشْ** وکئ نو **اَللهْ تَعَالٰي** وفرمائل چي هغه **غَرَهْ** ته وَګُورَه، يعني **كُوْهِ طُوْرْ** (د **طُوْرْ غَرَهْ**) ته وَګُورَه، که چيري هغه پر خپل ځائ وَدَرېدَئ نو تَه **مَا** لِيدَلائي سې، او که چيري هغه پر خپل ځائ نَه وَدَرېدَئ نو تَه په **دُنْيَا** کي **مَا** نَه سې لِيدَلائي، چي کله **اَللهْ تَعَالٰي** پر **غَرَهْ** باندي **تَجَلِّيْ** وکړه نو **غَرْ** رېزه رېزه سو، او حضرت **مُوْسٰي عَلَيْهِ السَّلَامْ** بېهُوښنَه سو، ددې ښخه **مَعْلُوْمْ** سو چي په **دُنْيَا** کي د **اَللهْ تَعَالٰي** لِيدَل **نَامُمْكِنْ** دي، ځکه چي په **دُنْيَا** کي زُمُوږ سترګي دارنګه نَه دي چي د **اَللهْ تَعَالٰي** په لِيدَلُو سره دي وَتوَانېږي، **دَلَائِلْ** يې دادي

**۱**: **قَالَ رَبِّ اَرِنِيْٓ اَنْظُرْ اِلَيْكَ ط قَالَ لَنْ تَرٰنِيْ وَلٰكِنِ انْظُرْ اِلَى الْجَبَلِ فَاِنِ اسْتَقَرَّ مَكَا نَه فَسَوْفَ تَرٰنِيْ فَلَمَّا تَجَلّٰى رَبُّه لِلْجَبَلِ جَعَلَه دَكًّا وَّخَرَّ مُوْسٰى صَعِقًا** ج.

**(آيَتْ ۱۴۳ ،سُوْرَةُ الْاَعْرَافْ ۷)**

**تَرْجَمَهْ**:- ده وويل:,, **زَمَا پَرْوَرْدِګَارَهْ!** په **مَا** باندي خپل **دِيْدَارْ** وکړې چي **زَهْ تَا** ووينَم ,, وفرمايل:,, **تَه** هيڅ کله **مَا** نَه سي ليدلائي، **اَلْبَتَّهْ غَرَهْ** ته **نَظَرْ** پورته کَه، دهغه وروسته که چيري دئ (**غَرْ**) پر خپل ځائ **بَرْقَرَارْ** پاته سو نو تَه **مَا** ليدلائي سې.,, بيا چي کله دده **رَبْ** پر **غَرَهْ** باندي **تَجَلِّيْ** وکړه نو هغه يې رېزه رېزه کړئ، او **مُوْسٰي** بېهوښنه **رَايِلَهْ** سو .

په دغه **آيَتْ** کي دئ چي حضرت **مُوْسٰي عَلَيْهِ السَّلَامْ اَللهْ تَعَالٰي** نَه وُ لِيدَلَئ، نو ځکه په **دُنْيَا** کي په دغه سترګو سره **اَللهْ تَعَالٰي** لِيدَل **اِمْكَانْ** نَه لري، **هُو** په **آخِرَتْ** کي به **دِيْدَارْ** کېږي .

۲: لَا تُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ وَ هُوَ يُدْرِكُ الْاَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ .
(آيَتْ ۱۰۳،سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ۶)
تَرْجَمَهْ:- نَظَرُوْنَه (سترګي) دهغه اِدْرَاکْ (اِحَاطَهْ) نه سي کولائ، او هغه د ټولو نَظَرُوْنُوْ اِحَاطَهْ کوي، دهغه ذَاتْ ډېر لَطِيْفْ دئ، او ډېر خَبَرْدَارَهْ دئ .
په دغه آيَتْ کي دئ چي سترګي د اَللّٰهْ تَعَالٰي اِحَاطَهْ نه سي کولائي، لِهٰذَا د اَللّٰهْ تَعَالٰي ذَاتْ څوک نه سي لِيدَلائي .
۳: وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُّكَلِّمَهُ اللهُ اِلَّا وَحْيًا اَوْ مِنْ وَّرَآئِ حِجَابٍ .
(آيَتْ ۵۱،سُوْرَةُ الشُّوْرٰى ۴۲/ بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ التَّفْسِيْرْ،سُوْرَةُ النَّجْمْ ۵۳، ص: ۸۶۰،نَمْبَرْ ۴۸۵۵)
تَرْجَمَهْ:- په يوه اِنْسَانْ کي دا طَاقَتْ نسته چي اَللّٰهْ دده سره (رُوْبَرُوْ/مَخَامَخْ) خَبَرِيْ وکي، مَاسِوَا ددې چي هغه د وَحْيِ په ذَرِيْعَهْ سره وي، يا د پَرْدِي وَ شَا ته وي .
په دغه آيَتْ کي دئ چي اَللّٰهْ تَعَالٰي په دُنْيَا کي د يو اِنْسَانْ سره د وَحْيِ په ذَرِيْعَهْ سره خَبَرِيْ کوي، يا په پَرْدَهْ (پَرْدَهْ) کي خَبَرِيْ وَرسره کوي، نو څکه د بعضو حَضَرَاتُو وَيْنَا داده چي د مِعْرَاجْ په شپه حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ په پَرْدَهْ کي د اَللّٰهْ تَعَالٰي سره خَبَرِيْ کړي دي، اَللّٰهْ يې په سترګو نه دئ لِيدَلَئ .

## د حضرت عَائِشَهْ مَوْقِفْ دادئ چي په دُنْيَا کي څوک اَللّٰهْ نه سي لِيدَلائي

دَلَائِلْ يې دا دي

۱: عَنْ مَسْرُوْقٍ قَالَ: قُلْتُ لِعَائِشَةَ (رضي الله عنها) يَا اُمَّتَاهُ هَلْ رَاٰى مُحَمَّدٌ (ﷺ) رَبَّهُ؟ فَقَالَتْ لَقَدْ قَفَّ شَعْرِيْ مِمَّا قُلْتَ، اَيْنَ اَنْتَ مِنْ ثَلٰثٍ، مَنْ حَدَّثَكُنَّ فَقَدْ كَذِبَ؟ مَنْ حَدَّثَكَ اَنَّ مُحَمَّدٌ (ﷺ) رَاٰى رَبَّهُ فَقَدْ كَذِبَ، ثُمَّ قَرَاَتْ (لَا تُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكَ الْاَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ (آيَتْ ۱۰۳،سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ۶ / بُخَارِيْ شَرِيْفْ، كِتَابُ التَّفْسِيْرْ، سُوْرَةُ النَّجْمْ ۵۳،ص: ۸۶۰ / نَمْبَرْ ۴۸۵۵)
تَرْجَمَهْ:- حضرت مَسْرُوْقْ وويل چي، مَا د حضرت عَائِشَهْ څخه پُوښتَنَه وکړه چي، ای مُوْرْجَانْ! آيَا حُضُور خپل رَبْ لِيدَلَئ دئ؟ نو حضرت عَائِشَهْ وفرمائل چي ستا د خَبَرِيْ څخه خو زَمَا بِيښتَانْ جَګْ جَګْ وَدرېدل، دغه درې خَبَرِيْ تَا ته نه دي مَعلوم! ددغه دُرُو خَبَرُوْ په اړه که څوک وَرَغږېږي نو دا دَرْوَاغْ دي، چي څوک دا ووائي چي مُحَمَّدْ خپل رَبْ لِيدَلَئ دئ نو دغه دَرْوَاغْ دي، بيايې دغه آيَت ووايئ، (لَا تُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الْاَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ)

**تَرْجَمَهْ**:- **نَظَرُوْنَهْ** (ستركي) دهغه **اِدْرَاكْ** (**اِحَاطَهْ**) نَه سي كولائ، او هغه د ټولو **نَظَرُوْنَوْ اِحَاطَهْ** كوي، دهغه **ذَاتْ** ډېر **لَطِيْفْ** دئ، او ډېر **خَبَرْدَارَهْ** دئ .

په دغه **حَدِيْثْ** كي دئ چي حُضُور په خپلو ستركو **اَللّٰهْ تَعَالٰي** نَه دئ لِيدَلَئ .

**۲: عَنْ مَسْرُوْقٍ ..... يَا اُمَّ الْمُؤْمِنِيْنَ! اُنْظُرِيْنِيْ وَلَاتَعْجِلِيْنِيْ. اَ لَمْ يَقُلِ اللّٰهُ تَعَالٰي وَلَقَدْ رَاٰهُ بِالْاُفُقِ الْمُبِيْنِ (اٰيَتْ ۲۳،سُوْرَةُ التَّكْوِيْرْ ۸۱) وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى، (اٰيَتْ ۱۳،سُوْرَةُ النَّجْمْ ۵۳) فَقَالَتْ اَنَا اَوَّلُ هٰذِهِ الْاُمَّةِ سَاَلَ عَنْ ذٰلِكَ رَسُوْلَ اللّٰهِ (ﷺ) فَقَالَ اِنَّمَا هُوَ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ، لَمْ اَرَاهُ عَلٰي صُوْرَتِهِ الَّتِيْ خُلِقَ عَلَيْهَا غَيْرَ هَاتَيْنِ الْمَرَّتَيْنِ رَاَيْتُهُ مُنْهَبِطًا مِّنَ السَّمَآءِ سَادًا عِظَمُ خَلْقِهِ □ مَابَيْنَ السَّمَآءِ اِلَي الْاَرْضِ .**

**(مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْاِيْمَانْ،بَابُ مَعْنٰي قَوْلِ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ، وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى،وَهَلْ رَاٰى النَّبِيُّ رَبَّهُ لَيْلَةَ الْاَسْرَاءِ، ص: ۹۰ / نَمْبَرْ ۱۷۷/ ۴۳۹)**

**تَرْجَمَهْ**:- حضرت **مَسْرُوْقْ** وويل، **اُمُّ الْمُؤْمِنِيْنْ مَا** ته **مُهْلَتْ** راكه او **تَلْوَارْ** مَه كوه، اَيَا **اَللّٰهْ تَعَالٰي** نَه دي فرمائلي (**وَلَقَدْ رَاٰهُ بِالْاُفُقِ الْمُبِيْنِ**) او (**وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى**) چي **حُضُوْرْ**ؐ پر **اُفُقِ مُبِيْنْ** باندي وَلِيدَئ، او هغه يې **دُوَهَمْ وَارْ** وَلِيدَئ، نو حضرت **عَائِشَهْ** وفرمائل چي **زَهْ** ددې **اُمَّتْ** هغه **اَوَّلْ كسْ** (**اِنْسَانْ**) يَم چي د حُضُورؐ څخه مِي په دې اَرَه **يُوْښْتَنَهْ** وكړه، نو حُضُورؐ وفرمائل چي، هغه **جِبْرَئِيْلْ** مُو لِيدَلَئ دئ، ددغه دُوَه **وَارَهْ بِغَيْرَهْ مَا جِبْرَئِيْلْ** پر خپل **اَصْلِيْ صُوْرَتْ** نَه دئ لِيدَلَئ، **مَا** دئ وَلِيدَئ چي دئ د **آسْمَانْ** څخه رَاښَوَه كيږي، او دده **خَلْقَتْ** د **آسْمَانْ** او **مځكي مَابَيْنْ** (**حِصَّهْ**) ډكه كړې ده .

په دغه **آيَتْ** كي حضرت **عَائِشي** فرمائلي دي چي، **وَلَقَدْ رَاٰهُ بِالْاُفُقِ الْمُبِيْنِ** او **وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى** كي چي د **لِيْدَلُوْ** كُوم **بَيَانْ** كړئ دئ، هغه د **اَللّٰهْ** لِيدَل نَه دئ، بلكه حُضُورؐ حضرت **جِبْرَئِيْلْ دُوَهْ وَارْ** پر خپل **اَصْلِيْ صُوْرَتْ** لِيدَلَئ دئ .

ددغه **حَدِيْثْ** څخه هم **ثَابِتْ** سو چي حُضُور په **دُنْيَا** كي **اَللّٰهْ** نَه دئ لِيدَلَئ .

**۳: عَنْ اَبِيْ ذَرٍّ قَالَ سَاَ لْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ (ﷺ) هَلْ رَاَيْتَ رَبَّكَ؟ قَالَ نُوْرٌ اَنّٰى اَرَاهُ؟ . (مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْاِيْمَانْ،بَابُ قَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامْ نُوْرٌ اَنّٰى اَرَاهُ،ص: ۹۱، نَمْبَرْ ۱۷۸/ ۴۴۳)**

**تَرْجَمَهْ**:- حضرا **اَبُوْذَرْ** فرمائي چي، **مَا** د حُضُور څخه **يُوْښْتَنَهْ** وكړه چي اَيَا **تَا** خپل **رَبْ** لِيدَلَئ دئ؟ نو حُضُور وفرمائل چي دهغه **حِجَابْ** خو **نُوْرْ** دئ، نو ځكه هغه څنګه لِيدَلائي سم؟

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي، د حُضُور (ﷺ) څخه پُوْښْتَنَهْ وسوه چي تَا د مِعْرَاجْ په شپه اَللّٰهْ تَعَالٰي لِيدَلَئ دئ؟ نو حُضُور (ﷺ) وفرمائل چي دهغه حِجَابْ ,, نُوْرْ ,, دئ، نو هغه به څوک څنګه لِيدَلائي سي .

**٤: عَنْ اَبِیْ مُوْسٰی قَالَ قَامَ فِيْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) بِخَمْسِ كَلِمَاتٍ ..... حِجَابُهُ نُوْرٌ، وَفِیْ رِوَايَةِ اَبِیْ بَكْرٍ، اَلنَّارُ لَوْ كَشَفَهُ لَاَحْرَقَتْ سبحَاتُ وَجْهِهِ مَا انْتَهٰی اِلَيْهِ بَصَرُهُ مِنْ خَلْقِهِ.**

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْاِيْمَانْ،بَابُ قَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامْ اِنَّ اللّٰهَ لَايَنَامُ،ص: ٩١، نَمْبَرْ ١٧٩/ ٤٤٥)

تَرْجَمَهْ:- حضور زُمُوږ په مَابَيْنْ کي د پنځو کلِمَاتُوْ سره وَلَاړْ سو ..... حُضُور وفرمائل چي د اَللّٰهْ حِجَابْ خو نُوْرْ دئ، او د اَبُوْبَكْرْ په رِوَايَتْ کي راغلي دي چي، وُوْرْ، دئ، که چيري هغه د خلګو په مَخ کي خَلَاسْ کي نو دهغه د چهرې د رَنَا (پِرَکْ) څخه به تر کُوم ځايَه پُوري چي سترګي دِيْدْ کوي تر هغه ځايَه به وَسْوَځَلْ سي اِيْرَهْ اِيْرَهْ به سي .

ددغه څلورو سره حَدِيْثُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي پر اَللّٰهْ باندي د نُوْرْ حِجَابْ پروت دئ، نو ځکه په دُنْيَا کې څوک نَه سي لِيدَلائي .

## ٢: دُوَيَمْ جَمَاعَتْ :-

دُوَيَمْ جَمَاعَتْ دا وائي چي اَللّٰهْ تَعَالٰي يې لِيدَلَئ دئ لېکن دده نُوْرْ يې لِيدَلَئ دئ. بِهَرْ حَالْ لِيدَلَئ يې ضرور دئ، د اَكْثَرُوْ حضرَاتُو دغه رَأْيَهْ ده دَلِيْلْ يې دا حَدِيْثْ دئ

**٥: قُلْتُ لِاَبِیْ ذَرٍّ ..... قَالَ كُنْتُ اَسْاَلُهُ: هَلْ رَاَيْتَ رَبَّكَ؟ قَالَ اَبُوْذَرٍّ قَدْ سَاَلْتُهُ فَقَالَ رَاَيْتُ نُوْرًا .**

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْاِيْمَانْ،بَابُ قَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامْ نُوْرٌ اَنّٰی اَرَاهُ،ص: ٩١، نَمْبَرْ ١٧٨/ ٤٤٤)

تَرْجَمَهْ:- مَا د حضرت اَبُوْذَرْ څخه پُوْښْتَنَهْ وکړه ... مَا د حُضُور څخه پُوْښْتَنَهْ وکړه چي اَيَا تَا خپل رَبْ وَلِيدَئ؟ نو حُضُور وفرمائل چي، مَا نُوْرْ وَلِيدَئ .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي مَا خو نُوْرْ لِيدَلَئ دئ .

## ٣: دَرِيَمْ جَمَاعَتْ :-

دَرِيَمْ جَمَاعَتْ دا وائي چي د لُوَړْ لُوَړْ څخه (په تَلْوَارْ تَلْوَارْ/ مَعْمُوْلِيْ ځَه) لِيدَلَئ دئ، د دَنَنَهْ حَالَتْ يې نَه دئ لِيدَلَئ، او هغه يې لِيدَلائي هم نَه سو، ځکه چي د اَللّٰهْ تَعَالٰي ذَاتْ خو لَامُتَنَاهِيْ دئ .

د دُوي دَلِيْلْ دغه د صَحَابِيْ قَوْلْ دئ

۶: قَالَ سَمِعْتُ عِكْرَمَةَ يَقُوْلُ سَمِعْتُ اِبْنَ عَبَّاسٍ يَقُوْلُ اَنَّ مُحَمَّدًا (ﷺ) رَاٰى رَبَّهُ عَزَّ وَ جَلَّ . (سُنَنِ كُبْرٰى لِلنَّسَائى،بَابُ قَوْلِه تَعَالٰى مَاكَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَاٰى، ج: ۱۰، ص: ۲۷۶، نَمْبَرْ: ۱۱۴۷۳/ طَبْرَانِيْ كَبِيْرْ، بَابُ عِكْرَمَةَ عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ، ج: ۱۱، ص: ۲۴۲،نَمْبَرْ: ۱۱۶۱۹) .

تَرْجَمَهْ:- حضرت عِكْرَمَهْ فرمائي چي مَا د حضرت عَبْدُ اللهْ بِن عَبَّاسْ څخه دغه وَيْنَا اَوريدَلي ده چي ده وَيَل ، مُحَمَّدْ (ﷺ) خپل رَبْ لِيدَلَئ دئ .

لېكن په آيَتْ كي دئ چي ستركي د اَللهْ اِحَاطَهْ نه سي كولائي (لَاتُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ) نو ځكه دغه وَينَا صَحِيْحْ ده چي اَللهْ تَعَالٰي يې په مَعْمُوْلِيْ تُوكه څه نَا څه لِيدَلَئ دئ .

## ۴: څُلُوْرَمْ جَمَاعَتْ :-

څُلُوْرَمْ جَمَاعَتْ دا دئ چي اَللهْ يې په زَړَهْ سره لِيدَلَئ دئ. دَلِيْلْ يې دادئ

۴: عَنْ يُوْسُفَ بن مِهْرَانَ عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ (مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَاٰى) (سُوْرَةُ النَّجْمْ ۵۳، آيَتْ ۱۱) قَالَ رَاٰى رَبَّهُ عَزَّ وَجَلَّ بِفُؤَادِه .

(طَبْرَانِيْ كَبِيْرْ،بَابُ يُوْسُفْ بن مِهْرَانْ عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ، ج:۱۲، ص: ۲۱۹، نَمْبَرْ ۱۲۹۴۱) .

تَرْجَمَهْ:- د حضرت اِبْنِ عَبَّاسْ څخه رِوَايَتْ دئ چي (مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَاٰى) كُوم آيت دئ، ددې په اړه حضرت اِبْنِ عَبَّاسْ وفرمائل چي، حُضُور خپل رَبْ په زَړَهْ سره لِيدَلَئ دئ .

ددغه صَحَابِيْ په قَوْلْ (اَثَرْ) كي دئ چي حُضُور په زَړَهْ سره اَللهْ تَعَالٰي لِيدَلَئ دئ .

# مُؤْمِنَانْ به په آخِرَتْ كي اَللهْ تَعَالٰي وَوِينِي

په تېر وَخْتْ كي جَهْمِيَّهْ فِرْقَهْ وه هغوي په آخِرَتْ كي هم د اَللهْ تَعَالٰي د لِيدَلُو څخه اِنْكَارْ كړئ وُو. په مَوْجُوْدَهْ زَمَانَهْ كي پر دې اِتِّفَاقْ سوئ دئ چي په آخِرَتْ كي به د اَللهْ تَعَالٰي رُؤْيَتْ وي .

په آخِرَتْ كي به اَللهْ تَعَالٰي دارنګه ستركي پَيدَا كي چي مُؤْمِنَانْ به مَخَامَخ اَللهْ تَعَالٰي وِينِي. دَلِيْلْ يې دغه آيَتْ او حَدِيْثُوْنَهْ دي

۴: وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ۙ اِلٰى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ۚ (سُوْرَةُ الْقِيٰمَةِ ۷۵، آيَتْ ۲۳) .

تَرْجَمَهْ:- هغه وُرَځْ به ډېر مَخَانْ تَرْ و تَازَهْ وي، [redacted] د خپل پَرْوَرْدِګَارْ و طَرَفْ ته به ګورِي .

۸: اِنَّ اَبَاهُرَيْرَةَ اَنَّ نَاسًا قَالُوْا لِرَسُوْلِ اللّٰهِ (ﷺ) يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ هَلْ نَرٰى رَبَّنَا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ..... هَلْ تُضَارُّوْنَ فِي الشَّمْسِ لَيْسَ دُوْنَهَا سَحَابٌ؟ قَالُوْا لَا، يَارَسُوْلَ اللّٰهِ! قَالَ فَاِنَّكُمْ تَرَوْنَهُ كَذٰلِكَ.

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْاِيْمَانْ،بَابُ اِثْبَاتِ رُؤْيَةِ الْمُؤْمِنِيْنَ فِي الْاٰخِرَةِ رَبَّهُمْ،ص: ۹۲، نَمْبَرْ ۱۸۲/ ۴۵۱/ اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ،بَابٌ فِيْ مَا اَنْكَرَتِ الْجَهَمِيَّةُ، ص: ۲۷، نَمْبَرْ ۱۷۸)

تَرْجَمَهْ:- څو خلګو د حُضُور څخه پُوْښْتَنَهْ وکړه، چي اَيَا مُوږ به د قِيَامَتْ په وُرَځْ خپل رَبْ وِينُو ..... نو حُضُور وفرمائل چي وَرْيَځْ نه وي نو د لُمَرْ په لِيدَلُو کي څه پرېشَانِي وي؟ خلګو وويل، يَا رَسُوْلَ اللّٰهْ نَه، حُضُور وفرمائل دغه رنګه به تاسو بې ګومِي پرېشَانَئ اَللّٰهْ وِينَئ .

په دغه آيَتْ او حَدِيْثْ کي دئ چي په جَنَّتْ کي به د اَللّٰهْ تَعَالٰي دِيْدَارْ وي .

۹: عَنْ صُهَيْبٍ قَالَ تَلَا رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) هٰذِهِ الْاٰيَةَ ( لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوا الْحُسْنٰى وَ زِيَادَةٌ ط، آيَتْ ۲۶ ،سُوْرَةُ يُوْنُسْ ۱۰) . وَقَالَ اِذَا دَخَلَ اَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ وَ اَهْلُ النَّارِ النَّارَ نَادٰى مُنَادٍ يَا اَهْلَ الْجَنَّةِ اِنَّ لَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ مَوْعِدًا يُرِيْدُ اَنْ يُّنْجِزَكُمُوْهُ، فَيَقُوْلُوْنَ وَمَا هُوَ؟ اَ لَمْ يُثَقِّلِ اللّٰهُ مَوَازِيْنَنَا وَيُبَيِّضُ وُجُوْهَنَا وَيُدْخِلْنَا الْجَنَّةَ وَيُنْجِيْنَا مِنَ النَّارِ قَالَ فَيَكْشِفُ الْحِجَابَ فَيَنْظُرُوْنَ اِلَيْهِ فَوَ اللّٰهِ مَا اَعْطَاهُ اللّٰهُ شَيْئًا اَحَبَّ اِلَيْهِمْ مِنَ النَّظَرِ يَعْنِيْ اِلَيْهِ ، وَلَا اَ قَرَّ لِاَعْيُنِهِمْ . (اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ،كِتَابُ مُقَدَّمَةٌ، بَابُ فِيْمَا اَنْكَرَتِ الْجَهَمِيَّةُ، ص: ۲۸، نَمْبَرْ ۱۸۷/ مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْاِيْمَانْ، بَابُ اِثْبَاتِ رُؤْيَةِ الْمُؤْمِنِيْنَ فِي الْاٰخِرَةِ رَبَّهُمْ،ص: ۹۲، نَمْبَرْ ۱۸۱/ ۴۴۹)
.

تَرْجَمَهْ:- حضرت صُهَيْبْ وفرمائل چي حُضُور دغه آيَتْ تِلَاوَتْ کئ،لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوا الْحُسْنٰى وَ زِيَادَةٌ ، تَرْجَمَهْ:- او ګُوم چي ښَهْ کارُوْنَهْ يې وکړل دهغه لپاره به حُسْنٰي، ښه وَالَئ وي، او څه نور زِيَاتْ به هم مِلاوېږي. ددې په اړه حُضُور وفرمائل چي کله جَنَّتِيَانْ په جَنَّتْ کي دَاخِلْ سي، او دُوْزَخِيَانْ په دُوْزَخْ کي دَاخِلْ سي، نو يَو رَږْ کونکئ به رَږْ وکي.اۍ د جَنَّتْ خلګو! د اَللّٰهْ سره ستاسو يَوَه وَعْدَهْ سته، اَللّٰهْ غُوَاړي چي تاسو ته دهغه بَدْلَهْ درکي، نو خلګ به پُوْښْتَنَهْ وکي چي هغه چِش ده؟ اَيَا اَللّٰهْ زُمُوږ وَزْنْ نَه دئ دُرُوْنْدْ کړئ؟ او زُمُوږ مَخَانْ يې وَځَلَوَل، او مُوږ يې په جَنَّتْ کي دَاخِلْ کړو، د دُوْزَخْ څخه يې خَلَاسْ کړو، تر دغه زِيَاتْ به نور چِشْ رَاکوي؟ نو اَللّٰهْ به حِجَابْ پُورتَه کي، بيا به خلګ و اَللّٰهْ ته ګُوري، قَسَمْ په خُدَائ اَللّٰهْ چي دُوي ته څومره نِعْمَتْ ورکړئ وُو، د اَللّٰهْ دِيْدَارْ (لِيدَنَه) به تر هغه ټولو ښَه وي، او د دُوي د سترګو لپاره به تر ټولو ښَهْ يَخْنِيْ (بَاعِثِ اِطْمِيْنَانْ شَئ) وي .

**۱۰: اَنَّ اَبَا هُرَيْرَةَ اَخْبَرَهُمَا ..... قَالَ فَهَلْ تُمَارُوْنَ فِیْ رُؤْيَـةِ الشَّمْسِ لَيْسَ دُوْنَـهَا سَحَابٌ ؟ قَالُوْا لَا، قَالَ فَاِنَّكُمْ تَرَوْنَهُ كَذٰلِكَ .**

(**بُخَارِیْ شَرِيْفْ**،**كِتَابُ الْاَذَانْ**، **بَابُ فَضْلِ السُّجُوْدْ** ، **ص**: ۱۳۰، **نَمْبَرْ** ۸۰۶) .

**تَرْجَمَهْ**:- حُضُور وفرمائل چي **وَرْيَځْ** نَه وي نو د **لُمَرْ** په لِيدَلُو كي كُوم **شَكْ** وي؟ خلګو وويل چي **نَهْ**! حُضُور وفرمائل چي تاسو به دغه رنګه د **شَکْ بغَيْرَهْ** **اَللّٰهْ** وَوِينئ .

## جَهْمِيَّهْ فِرقي وَيَلِي وُو چي په آخِرَتْ كي به هم د اَللّٰهْ تَعَالٰی دِيْدَارْ نَه وي

د دُوي **دَلِيْلْ** دغه **آيَتْ** دئ

**۵: لَا تُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ** ز وَ **هُوَ يُدْرِكُ الْاَبْصَارَ** ج **وَهُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ** .

(**آيَتْ** ۱۰۳،**سُوْرَةُ الْاَ نْعَامْ** ۶)

**تَرْجَمَهْ**:- **نَظَرُوْنَـهْ** (ستركي) دهغه **اِدْرَاكْ** (**اِحَاطَـهْ**) نَـه سـي كـولائ، او هغـه د ټولـو **نَظَرُوْنُوْ اِحَاطَهْ** كوي، دهغه **ذَاتْ** ډېر **لَطِيْفْ** دئ، او ډېر **خَبَرْدَارَهْ** دئ .

په دغه **آيَتْ** كي دئ چي ستركي د **اَللّٰهْ تَعَالٰی اِحَاطَـهْ** نَـه سي كـولائي، ددغـه څخه دُوي **اِسْتِدْلَالْ** كړئ دئ چي مُوږ پـه **آخِرَتْ** كـی هم **اَللّٰهْ تَعَالٰی** نَـه سو لِيدَلائي .

**جَمْهُوْرْ عُلَمَاءُ** ددې **آيَتْ جَوَابْ** دا وركړئ دئ چي د ,,**دَرَكْ**,, **مَعْنٰی** ده پـه **مُكمَّلَـهْ** تُوګـه رَاګِيـرَوَل او **اِحَاطَـهْ** كـول، زْمُـوږ سـتركي د **اَللّٰهْ تَعَالٰی** د **ذَاتْ اِحَاطَهْ** نَه سي كولائي، صِرف لِيدَلائي سي، او په دغه **آيَتْ** كې دا **بَيَانْ** كـړئ دئ چي په **جَنَّتْ** كي به هم مُوږ **اَللّٰهْ تَعَالٰی** وِينُو، لـيكن دهغـه **اِحَاطَـهْ** نَـه سو كولائي، ځكه چي دا خو **نَامُمْكِنْ** ده. ددې **آيَتْ** دا **مَطْلَبْ** نَـه دئ چي مُوږ بـه په **آخِرَتْ** كي **اَللّٰهْ تَعَالٰی** ګر سره وِينُو هم نَه .

ددغه عَقِيدې په اړه **۵ آيَتُوْنَهْ** او **۱۰ حَدِيْثُوْنَهْ** دي، تاسو د هر يَوَه **تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ** كئ .

# ۵: د حُضُور صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ لَس غټ فَضِيْلَتُوْنَه

ددغه عَقِيدې په اړه ۱۲ آيَتُوْنَهْ او ۱۶ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کئ .

د حُضُور صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ خو ډېر فَضِيْلَتُوْنَهْ دي، چي هغه وَ بَل رَسُوْلْ او نَبِيْ ته نَه دي وَرکوَل سوي . لېکن دَلتَه ۱۰ غټْ غټْ فَضِيْلَتُوْنَهْ بَيَانْ کيږي، چي دا اَنْدَازَهْ وسي چي د حُضُور کُوم مَقَامْ دئ؟ په دي کي هيڅ شَکْ نَستَه چي دده فَضِيْلَتُوْنَهْ تر ټولو زِيَاتْ دي، او د اَللّٰهْ تَعَالٰی وروسته تر ټولو غټْ شَخْصِيَّتْ دئ

ع بَعْد اَزْ خُدَا بُزُرْگِ تُوْئی قِصَّهْ مُخْتَصَرْ

| | |
|---|---|
| بَلَغَ الْعُلٰی بِکَمَالِه | کَشَفَ الدُّجٰی بِجَمَالِه |
| حَسُنَتْ جَمِيْعُ خِصَالِه | صَلُّوْا عَلَيْهِ وَ اٰلِه |

تَرْجَمَهْ:- په خپل کَمَالْ دئ و لُوړ مَقَامْ وَرَسېدئ. په خپل ښَايَستْ سره يې تَارِيْکَهْ رَڼَا کړه، دده ټوله عَادَتُوْنَهْ ډېر ښَهْ دي، پر ده باندي او ده پر اَوْلَادْ دي دَرُوْدْ و سَلَامْ وي .

کله نَا کله اِنْسَانْ ته د حُضُور مَرْتَبَهْ نَه وي مَعْلُوْمَهْ، نو دئ دهغه په شَانْ کي گُسْتَاخِيْ او بِی اَدَبِیْ وکي، او کلـه نَـا کلـه بيـا د حُضُـور د خَتْمِ نَبُوَّتْ څخـه اِنْکَارْ وکي چي دهغه لکبله دئ کَافِرْ سي، په دغه وَجَهَ مَا دغـه فَضَائِلْ ذِکْرْ کړل چي د حُضُور مُحَبَّتْ د اِنْسَانَانُوْ پـه زُړُوْ کـي کښېني، او ددغـه مُحَبَّتْ سره د دُنْيَا څخه رُخْصَتْ سي .

## ۱: حُضُور (ﷺ) ته به شَفَاعَتِ کُبْرٰی وَرکوَل سي

د حَشْرْ په مَيْدَانْ كي چې كله حِسَابْ و كِتَابْ نه كېږي نو خلک به ډېر پريشَانْ وي، او دا به غُوَاړي چي بَس زَرْ تر زَرْ حِسَابْ وسي، ددغه لپاره به ډېرو نَبِيَانُوْ ته وَرسي، لېکن هر نَبِيْ به اِنْكَارْ ورته وکي چي زَهْ خو ددغه سفَارِشْ لَائِقْ نَه يَمَه، ددغه لپاره تاسو حضرت مُحَمَّدْ صَلَّي اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ ته وَرسَئ، خلک به حُضُور ته راسي، بيا به دئ سَفَارِشْ وکي، ددغه نُوْمْ شَفَاعَتِ كُبْرٰي دئ، چي صِرف د حُضُور صَلَّي اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ سره خَاصْ دئ .

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

١ : عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) يَجْمَعُ اللهُ النَّاسَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَيَقُوْلُوْنَ لَوْ اِسْتَشْفَعْنَا عَلٰى رَبِّنَا حَتّٰى يُرِيْحُنَا مِنْ مَكَانِنَا ..... ثُمَّ يُقَالُ لِيْ : اِرْفَعْ رَأْسَكَ وَسَلْ تُعْطَهُ،وَقُلْ يُسْمَعْ،وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ فَاَرْفَعُ رَأْسِيْ فَاَحْمَدُ رَبِّيْ بِتَحْمِيْدٍ يُّعَلِّمُنِيْ،ثُمَّ اَشْفَعُ فَيُحَدُّ لِيْ حَدًّا ثُمَّ اُخْرِجُهُمْ مِّنَ النَّارِ وَ اُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ ثُمَّ اَعُوْدُ فَاَقَعُ سَاجِدًا مِّثْلَهُ فِي الثَّالِثَةِ اَوِ الرَّابِعَةِ حَتّٰى مَا يَبْقٰى فِى النَّارِ اِلَّا مَنْ حَبَسَهُ الْقُرْاٰنُ .

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الرَّقَاقْ، بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ، ص: ١١٣٦، نَمْبَرْ ٦٥٦٥) .

تَرْجَمَهْ:- حُضُورِ پَاکْ (ﷺ) وفرمائل چي اَللهْ به د قِيَامَتْ په وُرَځْ خلک سره جَمَعْ کي، خلک به ووائي، زُمُوږ د رَبْ په مَخکي که يَو ځَا سفَارِشْ کړئ وائ نو ددغه ځايَه څخه به مُوږ ته عَافِيَّتْ مِلاؤ سوئ وائ ..... بيا به مَا ته وويل سي، سَرْ پُورتَه که او وَغُوَاړه (هغه څه به) دَرکَول کيږي، وَوَايَه خَبَرَهْ به دي اَوريدَل کيږي، سفَارِشْ وکه سفَارِشْ به دي قَبليږي، نو زَهْ به سَرْ پُورتَه کم، او دارنګه حَمْدْ به وکم چي اَللهْ به په هغه وَخْتْ مَا ته رَاوبَنايِيْ، بيا به زَهْ سفَارِشْ وکم نو يَو حَدْ (مَقَامْ) به مُتَعَيَّنْ کړي، بيا به زَهْ هغه خلک د دُوْږَخْ څخه رَاوبَاسَمْ او په جَنَّتْ کي به دَاخِلْ کم، بيا به د اَوَّلْ وَارْ په شَانْ دُوهَمْ وَارْ سَجدي ته ځَم، دا به دَرِيَمْ وَارْ وي يا څَلُوْرَمْ وَارْ وي، آنْ تر دې چي په دُوْږَخْ کي به هغه پاته سي کُوم چي قُرْآنْ مَنْعْ کړي دي (يعني صِرف کَافِرَانْ به په دُوْږَخْ کي پاته سي) .

په دغه حَدِيْثْ کي درې خَبَرِيْ دي

(١) اَوَّلَهْ خَبَرَهْ داده چي شَفَاعَتِ كُبْرٰي به حُضُور کوي .

(٢) دُوَهَمَّهْ خَبَرَهْ داده چي په قِيَامَتْ کي به هم حُضُور د اَللهْ تَعَالٰى څخه وَغُوَاړي، او اَللهْ به وَرکوِي .

(٣) دَرِيَمَّهْ خَبَرَهْ داده چي د څومره بَنْدَهْ ګانُوْ د رَااِيستَلُو اِجَازَتْ وي هغونه به د دُوْږَخْ څخه رَاوَباسي .

# ۲: حُضُور (ﷺ) ته به حَوْضِ کَوْثَرْ وَرکوَل سي

۱: اِنَّآ اَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ ۝ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ۝. (آيَتْ ۱ ـــ ۲ . سُوْرَةُ الْكَوْثَرْ ۱۰۸)

تَرْجَمَهْ:- (اې پيْغَمْبَرَهْ!) يَقِيْنْ وکه مُونږ تَا ته کَوْثَرْ درکړې دې، ۝ لِهٰذَا ته د خپل پَرْوَرْدِګَارْ (د رَضَامَنْدَئ) لپاره لُمُوْنْځْ کوه، او قُرْبَانِيْ کوه ، ۝

په دغه آيَتْ کي اَللّٰهْ تَعَالٰي فرمائي چي و حُضُور ﷺ ته مُونږ کَوْثَرْ ورکړې، حدِيْثُوْنَهْ دغه دي

۲: عَنْ عَبْدِ اللهِ بنِ عَمْرٍو قَالَ النَّبِيُّ (ﷺ) حَوْضِيْ مَسِيْرَةُ شَهْرٍ مَآؤُهُ اَبْيَضُ مِنَ اللَّبَنِ وَرِيْحُهُ اَطْيَبُ مِنَ الْمِسْكِ وَكِيْزَانُهُ كَنُجُوْمِ السَّمَآءِ، مَنْ شَرِبَ مِنْهَا فَلَا يَظْمَأُ اَبَدًا . (بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الرِّقَاقْ،بَابٌ فِي الْحَوْضِ،ص: ۱۱۳۸، نَمْبَرْ ۶۵۷۹)

تَرْجَمَهْ:- حُضُور ﷺ وفرمائل چي زَمَا حَوْضْ د يوې مِيَاشْتِيْ د تَګ (سَفَرْ) په اَنْدَازَهْ وُږدْ دې، دهغه خُوْشْبُوْ تر مُشْکْ هم زيَاتَهْ ده، او پر هغه چي کُومي پيَالي مَوْجُوْدِ دي هغه د آسْمَانْ د سْتُوْرُوْ په اَنْدَازَهْ دي، څوک چي يَوْ وَارْ دهغه اُوْبَهْ وَڅِيښِي هغه به په هيڅ وَخْتْ تږې نَه سي .

۳: سَمِعْتُ اَنَسَ بن مَالِكٍ يَقُوْلُ ..... فَقَالَ اِنَّهُ اُنْزِلَتْ عَلَيَّ اٰنِفًا سُوْرَةٌ فَقَرَأَ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، اِنَّآ اَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ، حَتّٰى خَتَمَهَا فَلَمَّا قَرَأَهَا هَلْ تَدْرُوْنَ مَا الْكَوْثَرُ؟ قَالُوْا اَللهُ وَ رَسُوْلُهُ اَعْلَمُ؟ قَالَ فَاِنَّهُ نَهْرٌ وَعَدَنِيْهِ رَبِّيْ عَزَّ وَجَلَّ فِي الْجَنَّةِ وَعَلَيْهِ خَيْرٌ كَثِيْرٌ، عَلَيْهِ حَوْضٌ تَرِدُ عَلَيْهِ اُمَّتِيْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اٰنِيَتُهُ عَدَدَ الْكَوَاكِبِ.

(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ،كِتَابُ السُّنَّةِ،بَابٌ فِي الْحَوْضِ،ص: ۶۷۱، نَمْبَرْ ۴۷۴۷)

تَرْجَمَهْ:- حضرَت اَنَسْ بن مَالِکْ فرمائي چي ..... حُضُور ﷺ وفرمائل چي مَا باندي اُوس اُوس يَو سُوْرَةْ نَازِلْ سو، بيايې بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، وويل او اِنَّآ اَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ، سُوْرَةْ يي تر آخِرْ پُورې تِلَاوَتْ کړ، چي تِلَاوَتْ يې مُکَمَّلْ کړ نو پُوْښْتَنَهْ يې وکړه چي تَا ته مَعْلُوْمْ دئ چي کَوْثَرْ څِشَئ دئ؟ خلکو وويل چي اَللّٰهْ او دهغه و رَسُوْلْ ته مَعْلُوْمْ دئ، نو حُضُور اِرْشَادْ وفرمايَه چي يَو نِهْرْ دئ، اَللّٰهْ په جَنَّتْ کي زَمَا سره دهغه وَعْدَهْ کړې ده، په دغه نِهْرْ کي ډېر خَيْرْ دئ، پر هغه باندي حَوْضْ دئ، د قِيَامَتْ په وُرَځْ به هغه ته زَمَا اُمَّتْ رَاسي، پر هغه چي کُوم لُوْښِيْ دي هغه د سْتُوْرُوْ په اَنْدَازَهْ (ډېر) دي .

ددغه آيَتْ او حَدِيْثْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي حُضُور ته به حَوْضِ کَوْثَرْ وَرکوَل کيږي، او بَس بَل چَا ته به نَه وَرکوَل کيږي .

## ۳: وَسِيْلَهْ يَو ډېر غَټْ مَقَامْ دئ چي صِرف وَ حُضُور (ﷺ) ته به وَرکوَل کيږي

۴: عَنْ عَبْدِ اللهِ بن عَمْرِو بن الْعَاصِ اَنَّـهُ سَمِعَ النَّبِـيَّ (ﷺ) يَقُوْلُ ..... ثُمَّ سَلُوْا لِـيَ الْوَسِيْلَةَ، فَاِنَّهَا مَنْزِلَـةٌ فِـي الْجَنَّـةِ لَايَنْبَغِيْ اِلَّا لِعَبْدٍ مِّنْ عِبَادِ اللهِ وَ اَرْجُوْا اَنْ اَكُوْنَ اَنَا هُوَ، فَمَنْ سَأَلَ لِـيَ الْوَسِيْلَةَ حَلَّتْ عَلَيْـهِ الشَّفَاعَةُ . (مُسْلِمْ شَرِيْفْ،بَابُ اِسْتِحْبَاب الْقَوْلِ مِثْلَ قَوْلِ الْمُؤَذِّنِ لِمَنْ سَمِعَهُ، ثُمَّ يُصَلِّيْ عَلَى النَّبِيِّ ثُمَّ يَسَأَلُ اللهَ لَهُ الْوَسِيْلَةَ،ص: ۱۶۳، نَمْبَرْ ۳۸۳/ ۸۴۹ / تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْمَنَاقِبْ، بَابُ سَلُوْا لِيَ الْوَسِيْلَةَ، ص: ۸۲۴، نَمْبَرْ ۳۶۱۲)

تَرْجَمَهْ:- حُضُورﷺ وفرمائل ..... بيا دي زَمَا لپاره د وَسِيْلَهْ دُعَاءْ وکي، وَسِيْلَهْ په جَنَّتْ کي يَو مَقَامْ دئ، چي د اَللهْ د بَنْدَهْ ګانُوْ څخه د يَوه لپاره (بَس) مُنَاسِبْ دئ، او زَهْ دا اُمِيْدْ لرم چي هغه به زَهْ يَم، نو چي کُوم څوک زَمَا لپاره وَسِيْلَهْ وَغُواړي دهغه لپاره زَمَا شَفَاعَتْ حَلَالْ (ثَابِتْ) سو .

۵: عَنْ جَابِرَ بـن عَبْـدِ اللهِ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) قَالَ مَنْ قَـالَ حِيْنَ يَسْمَعُ النِّدَاءَ، اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الـدَّعْوَةِ التَّامَّـةِ وَ الصَّلَاةِ الْقَائِمَـةِ اٰتِ مُحَمَّدَنِ الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَّحْمُوْدَا الَّذِيْ وَعَدْتَّهُ، حَلَّتْ لَهُ شَفَاعَتِيْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ .

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْاَذَانْ،بَابُ الدُّعَاءِ عِنْدَ النِّدَاءْ،ص: ۱۰۲، نَمْبَرْ ۶۱۴)

تَرْجَمَهْ:- حُضُورﷺ وفرمائل د اَذَانْ د اَورېدُو پر وَخْتْ چي څوک ووائـي، ائ اَللّٰهْ... حُضُور ته وَسِيْلَهْ ورکې، فَضِيْلَتْ ورکې، او پر مَقَامْ مَحْمُوْدْ يې فَائِزْ کې (يعني مَقَامْ مَحْمُوْدْ وَرکې) کُوم چي تَا يې وَعْدَهْ کړې ده، نو د قِيَامَتْ په وُرَځْ به دهغه لپاره زَمَا سفَارِشْ حَلَالْ (ثَابِتْ) سي .

په دغه دُوو حَدِيْثُوْ کي دئ چي وَسِيْلَهْ يَو ډېر غَټْ مَقَامْ دئ چي صِرف و يَوه بَنْدَهْ ته به وَرکوَل کيږي، او هغه به صِرف د حُضُور لپاره وي .

## ۴: حُضُور (ﷺ) ته به لِوَاءُ الْحَمْدْ وَرکوَل سي

د لِوَاءُ الْحَمْدْ مَعْنٰی ده د تَعْرِيْفْ بَيْرَغْ (جَنْډَئ)، په قِيَامَتْ به حُضُور د اَللّٰهْ تَعَالٰی دارنګه تَعْرِيْفْ وکي چي بَل چَا به نَه وي کړئ، په دغه وَجْهَ و دې ته لِوَآءُ الْحَمْدْ وَيَل کيږي، دغه به صُرف حُضُور ته وَرکوَل کيږي .

۶: عَنْ اَنَسِ بن مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) اَنَا اَوَّلُ النَّاسِ خُرُوْجًا اِذَا بُعِثُوْا، وَاَنَا خَطِيْبُهُمْ اِذَا وَفَدُوْا، وَ اَنَا مُبَشِّرُهُمْ اِذَا أَيِسُوْا، لِوَاءُ الْحَمْدِ يَوْمَئِذٍ بِيَدِيْ، وَاَنَا اَكْرَمُ وُلْدِ اٰدَمَ عَلٰی رَبِّيْ وَلَا فَخْرَ .

(تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ، اَنَا اَوَّلُ النَّاسِ خُرُوْجًا اِذَا بُعِثُوْا،ص: ۸۲۳، نَمْبَرْ ۳۶۱۰)

تَرْجَمَهْ:- حُضُور ﷺ وفرمائل چي كله په قِيَامَتْ خلک رَاوُزِي نو زَهْ به تر ټولو مخكې رَاوَزَم، چي كله د اَللهْ و حُضُور ته د وَفْدْ په صُوْرَتْ كي ځي نو زَهْ به دهغو خَطِيْبْ (مُتَكَلِّمْ) يَم، چي كله خلک نَااُمِيْدَ سي نو زَهْ به هغوي ته زِيرَئ وَركوُنكئ يَم، هغه وُرَځْ به د حَمْدْ جَنْډَئ زَمَا په لَاسْ كي وي، زَهْ به د آدَمْ په اَوْلَادَهْ كي د اَللهْ په حُضُور كي تر ټولو زِيَاتْ مُكرَّمْ يَم، لېكن زَهْ په دغه كي هيڅ فَخْرْ نَه كوم .

په دغه حَدِيْثْ كي دئ چي د قِيَامَتْ په وُرَځْ به د حَمْدْ جَنْډَئ زَمَا په لَاسْ كي وي .

## ۵: حُضُور (ﷺ) خَاتَمُ النَّبِيّيْنْ دئ

د خَاتَمُ النَّبِيّيْنْ، مَطْلَبْ دادئ چي دئ آخِرِيْ نَبِيْ دئ، اُوس دده بَعْدْ بَل نَبِيْ نَه سي رَاتلائي، دَلِيْلْ يې دادئ .

۲: مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّنَ ط .

(آيَتْ ۴۰،سُوْرَةُ الْاَحْزَابْ ۳۳)

تَرْجَمَهْ:- حُضُور ﷺ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ) ستاسو د نَرانُوْ څخه د يَوه پلَارْ نَه دئ، لېكن هغه د اَللهْ رَسُوْلْ دئ، او په ټولو نَبِيَانُوْ كي تر ټولو آخِرِيْ نَبِيْ دئ .

۷: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) قَالَ ..... اَنَا خَاتَمُ النَّبِيّيْنَ .

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،بَابُ خَاتَمُ النَّبِيّيْنْ،ص: ۵۹۵، نَمْبَرْ ۳۵۳۵/ تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ،بَابُ مَاجَاءَ لَاتَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى يَخْرُجَ كَذَّابُوْنَ،ص: ۵۰۹، نَمْبَرْ ۲۲۱۹) .

تَرْجَمَهْ:- حُضُور ﷺ وفرمائل چي ..... زَهْ آخِرِيْ نَبِيْ يَم .

۸: عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) ..... وَ اِنَّهُ فِيْ اُمَّتِيْ كَذَّابُوْنَ ثَلَاثُوْنَ كُلُّهُمْ يَزْعَمُ اَنَّهُ نَبِيٌّ وَ اَنَا خَاتَمُ النَّبِيّيْنَ لَانَبِيَّ بَعْدِيْ .

(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْفِتَنْ، بَابُ ذِكْرِ الْفِتَنِ وَدَلَائِلُهَا،ص: ۵۶۹، نَمْبَرْ ۴۲۵۲) .

تَرْجَمَهْ:- حُضُور ﷺ وفرمائل ..... زَمَا په اُمَّتْ كي به ډېرش دَرْوَاغْجَنَانْ وي، هر يَو به دا گُمَانْ كوي چي دئ نَبِيْ دئ، لېكن خَبَرَهْ داده چي زَهْ آخِرِيْ نَبِيْ يَم، زَمَا بَعْدْ بَل نَبِيْ نستَه .

په دغه آيَتْ او اَحَادِيْثُوْ كي دئ چي حُضُور آخِرِيْ نَبِيْ دئ، او دا هم دئ چي زَمَا وروسته بَل نَبِيْ نَه سي رَاتلائي، لِهٰذَا چي څوک ددې وروسته د نَبُوَّتْ دَعْوَهْ كوي، هغه دَرْوَاغْجَنْ دئ، هغه هيڅ كله نَبِيْ مه مَنئ .

## ۶: حُضُور (ﷺ) د ټولو اِنْسَانَانُوْ لپاره نَبِيْ دئ

او چي څومره اَنْبِيَآءِ كِرَامْ عَلَيْهِمُ السَّلَامْ راغلي دي هغه د يَو خَاصْ قَوْمْ لپاره وُو، ليكن حُضُور صَلَّي اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ د ټولو خلكو لپاره نَبِيْ راغلئ دئ، د پيرَانَانُوْ لپاره هم نَبِيْ دئ، او د اِنْسَانَانُوْ لپاره هم نَبِيْ دئ، او تر قِيَامَتَّهْ پُوري نَبِيْ او رَسُوْلْ دئ، نو ځكه دئ تر ټولو اَفْضَلْ دئ
دَلَائِلْ يې دادي

**۳: وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيْرًا وَّ نَذِيْرًا . (آيَتْ ۲۸،سُوْرَةُ السَّبَاءْ ۳۴)**

تَرْجَمَهْ:- او (اِئ پيغَمْبَرَهْ!) مُونږ تَه د ټولو اِنْسَانَانُوْ لپاره دارنګه نَبِيْ جُوړ كړئ اَستَوَلَئ يې چي زيْرَيْ هم وَركي، او خَبْرْدَارَهْ هم كې .

**۴: قُلْ يٰاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا . (آيَتْ ۱۵۸،سُوْرَةُ الْاَعْرَافْ ۷)**

تَرْجَمَهْ:- تَه وَوَايَهْ اِئ خلكو! زَهْ يې تاسو ټولوته د اَللّٰهْ لَطَرَفْ څخه رَسُوْلْ رَااَستَوَلئ يم .

**۵: وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ . (آيَتْ ۱۰۷،سُوْرَةُ الْاَنْبِيَآءْ ۲۱)**

تَرْجَمَهْ:- او اِئ پيغَمْبَرَهْ! مُونږ تَه د ټولو جَهَانُوْ لپاره رَحْمَتْ جوړ كړئ اَستَوَلَئ يې .

**۶: اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَ اَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَ رَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا .**

**(آيَتْ ۳،سُوْرَةُ الْمَآئِدَةْ ۵)**

تَرْجَمَهْ:- نَنْ مَا ستاسو لپاره ستاسو دِيْنْ مُكَمَّلْ كئ، پر تاسو مِي خپل رَحْمَتْ پُورَه كئ، او ستاسو لپاره مُو اِسْلَامْ د دِيْنْ په حَيْثْ سره د همېشه لپاره خُوښْ كئ .

**۷: يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ اَ لَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ . (آيَتْ ۱۳۰،سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ۶)**

تَرْجَمَهْ:- اِئ د اِنْسَانَانُوْ او پيرَانَانُوْ ډَلُو! اَيَا تاسو ته په خپله ستاسو څخه هغه پيغَمْبَرَانْ نَه دي راغلي چي تاسو ته به يې زَمَا اَيَتُوْنَهْ په لُوستَلُو سره اَورَوَل .
ددغه اَيَتُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي حُضُور د اِنْسَانَانُوْ او پيرَانَانُوْ ټولو لپاره نَبِيْ دئ .

## ۷: حُضُور (ﷺ) يې مِعْرَاجْ ته بُوتلَئ او غَتِي غَتِي نِښَانَئ يې وَرښكاره كړې

حُضُور يې مِعْرَاجْ تـه بُوتلَئ او غَتِي غَتِي نِښَانَئ يې وَرښكاره كې. دغه فَضِيْلَتْ صِرف د حُضُور (ﷺ) لپاره دئ، بَلْ چَا ته دغه نَه دئ حَاصِلْ ..... په دغه اَيَتُوْ كي دهغه بَيَانْ دئ

۸: سُبۡحٰنَ الَّذِیۡۤ اَسۡرٰی بِعَبۡدِہٖ لَیۡلًا مِّنَ الۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ اِلَی الۡمَسۡجِدِ الۡاَقۡصَا الَّذِیۡ بٰرَکۡنَا حَوۡلَہٗ لِنُرِیَہٗ مِنۡ اٰیٰتِنَا ؕ اِنَّہٗ هُوَ السَّمِیۡعُ الۡبَصِیۡرُ . (آيَتْ ۱،سُوْرَةُ الْاَسْرَآءْ ۱۷)

تَرْجَمَهْ:- پَاکْ دئ هغه ذَاتْ چي خپل بَنْدَهْ يې په شِپَهْ شِپَهْ کي د مَسْجِدِ حَرَامْ څخه تر مَسْجِدِ اَقْصٰی پُوري يُوړَئ چي دهغه پر مَاحَوْلْ باندي مُوږ بَرَکَتُوْنَهْ نَازِلْ کړي دي، چي مُوږ ده ته خپلي بعضي نِښَانَئ وَربښکاره کړو، بېشَکَّهْ هغه هره خَبَرَهْ اَوريدُونکئ، هر شَئ لِيدُونکئ ذَاتْ دئ .

۹: لَقَدْ رَاٰی مِنْ اٰيٰتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰی (آيَتْ ۱۸،سُوْرَةُ النَّجْمْ ۵۳)

تَرْجَمَهْ:- رِشْتِيَا خَبَرَهْ خو داده چي ده دخپل پَرْوَرْدِګَارْ د غَټُوْ غَټُوْ نِښَانَيُوْ څخه ډېر څه وَلِيدَل .

۹: عَنْ مَالِكِ بنِ صَعْصَعَةَ اَنَّ نَبِيَّ اللهِ (ﷺ) حَدَّثَهٗ عَنْ لَيْلَةِ اُسْرِیَ بِهٖ، قَالَ بَيْنَمَا اَنَا فِی الْحَطِيْمِ، رُبَمَا قَالَ فِی الْحِجْرِ، مُضْطَجِعًا اِذَا اَتَانِیْ اٰتٍ ..... فَانْطَلَقَ بِیْ جِبْرِيْلُ حَتّٰی اَتَی السَّمَآءَ الدُّنْيَا فَاسْتَفْتَحَ ..... ثُمَّ رُفِعَ لِیَ الْبَيْتُ الْمَعْمُوْرُ اِلَخْ .

(بُخَارِیْ شَرِيْفْ،كِتَابُ مَنَاقِبِ الْاَنْصَارْ،بَابُ الْمِعْرَاجْ ،ص: ۶۵۲، نَمْبَرْ ۳۸۸۷)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْر پَاکْ د مِعْرَاجْ د شپې په اړه بَيَانْ وکئ، چي زَهْ په حَطِيْمْ کي وَم، په يَوَه رِوَايَتْ کي راغلي دي چي زَهْ په حِجْرْ کي پُروت وَم، چي يَو رَاتْلُونکئ (جِبْرَئِيْلْ) راغلئ ..... جِبْرَئِيْلْ زَهْ آسْمَانْ دُنْيَا ته بُوتلَم، او دَرْوَازَهْ يې په رَاخلاسَه کړه ..... بيايې زَهْ تر بَيْتُ الْمَعْمُوْرْ پُوري بُوتلَم .

په دغه آيَتُوْ او حَدِيْثُوْ کي دا بَيَانْ هم سوئ دئ چي مِعْرَاجْ ته بُوتلَئ، او دا هم چي نِښَانَئ يې وَربښکاره کړې .

## ۸: پر حُضُور (ﷺ) يې قُرْآنْ نَازِلْ کئ

پر نورو اَنْبِيَآءُ باندې کِښني کِښنِي کِتَابُوْنَهْ نَازِلْ کړل، لېکن پر حُضُور يې د قُرْآنْ په شَانْ يو عَظِيْمْ کِتَابْ نَازِلْ کړئ، چي پر بَل نَبِيْ يې نَه دئ نَازِلْ کړئ

۱۰: اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ تَنْزِيْلًا . (آيَتْ ۲۳،سُوْرَةُ الْاِنْسَانْ / سُوْرَةُ الدَّهْرْ ۷۶) .

تَرْجَمَهْ:- ای پيغَمْبَرَهْ مُوږ دغه قُرْآنْ په لَږْ لَږْ پر تَا باندي نَازِلْ کړئ دئ .

په دغه آيَتْ کي دئ چي مُوږ پر تَا باندي قُرْآنْ نَازِلْ کړئ دئ .

## ۹: حُضُور د رَبُّ الْعٰلَمِيْنْ مَحْبُوْبْ دئ

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثُوْنَهْ دي

**١٠: عَنْ عَلِيّ بن عَلِيّ الْمَالِكِيّ الْهِلَالِيّ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ دَخَلْتُ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ (ﷺ) فِيْ شَكَايَتِهِ الَّذِيْ قُبِضَ فِيْهَا ..... اَنَا خَاتَمُ النَّبِيّيْنَ وَاَكْرَمُ النَّبِيّيْنَ عَلَى اللّٰهِ وَاَحَبُّ الْمَخْلُوْقِيْنَ اِلَى اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ .**

**(طَبْرَانِيْ كَبِيْرْ، ج: ٣، بَقِيَّةُ الْاَخْبَارِ الْحَسَنِ بن عَلِيّ: ٥٧، نَمْبَرْ ٢٦٧٥/ مُسْتَدْرَكْ لِلْحَاكِمْ، كِتَابُ تَوَارِخُ الْمُتَقَدِّمِيْنَ مِنَ الْاَنْبِيَآءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ،بَابُ وَمِنْ كِتَابِ آيَاتِ رَسُوْلِ اللّٰهِ (ﷺ) اَلَّتِيْ هِيَ دَلَائِلُ النُّبُوَّةِ ، ص: ٢ ، ص: ٦٧٢، نَمْبَرْ ٤٢٢٨)**

**تَرْجَمَهْ:- حَضْرَتْ عَلِيْ اَلْهِلَالِيْ** فرمائي په کُوم **مَرَضْ** کي چي د حُضُور **وَفَاتْ** وسو، **زَهْ** هغه **وَخْتْ** د حُضُور سره **مَوْجُوْدْ** وَم ..... حُضُور وفرمائل **زَهْ آخِرِيْ نَبِيْ** يَم، او د **اَللّٰهْ** په نيز تر ټولو **زِيَاتْ مُكَرَّمْ** يَم، او د **اَللّٰهْ** په **مَخْلُوْقَاتُوْ** کي تر ټولو **زِيَاتْ مَحْبُوْبْ** يَم .

**١١: عَنْ اَنَسِ بنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) ..... وَ اَنَا اَكْرَمُ وَلَدِ اٰدَمَ عَلٰى رَبِّيْ وَلَا فَخْرَ. (تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ، اَنَا اَوَّلُ النَّاسِ خُرُوْجًا اِذَا بُعِثُوْا،ص: ٨٢٣، نَمْبَرْ ٣٦١٠) .**

**تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ** وفرمائل چي د خپل **رَبْ** په نيز د **آدَمْ** په **اَوْلَادْ** کي **زَهْ** تر ټولو **زِيَاتْ مُعْجِزْ (عِزَّتْ مَنْدْ)** يَم، ليکن په دي کي هيڅ د **فَخْرْ خَبَرَهْ** نَستَه .

په دغه **حَدِيْثُوْ** کي دئ چي حُضُورﷺ د **اَللّٰهْ** په **مَخْلُوْقَاتُوْ** کي تر ټولو **زِيَاتْ مَحْبُوْبْ** دئ .

## ١٠: حُضُور د اَوَّلِيْنُ او آخِرِيْنُ سَرْدَارْ دئ

**١٢: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ (ﷺ) فِيْ دَعْوَةٍ ..... وَقَالَ اَنَا سَيِّدُ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ .**

**(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ اَحَادِيْثُ الْاَنْبِيَآءِ،بَابُ قَوْلِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ [ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهِ ] ... (آيَتْ ٢٥،سُوْرَةُ هُوْدْ ١٧)... ، ص: ٥٥٥ ، نَمْبَرْ ٣٣٤٠)**

**تَرْجَمَهْ:- حَضْرَتْ اَبُوْهُرَيْرَةْ** وفرمائل چي **زَهْ** په يَوَه **دَعْوَتْ** کي د حُضُور سره **مَوْجُوْدْ** وَم ..... او حُضُور وفرمائل چي **زَهْ** به د **قِيَامَتْ** په **وُرَځْ** د خلکو **سَرْدَارْ** يَم .

**١٣: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) اَنَا سَيِّدُ وَلَدِ اٰدَمَ، وَ اَوَّلُ مَنْ تُنْشَقُّ عَنْهُ الْاَرْضُ، وَ اَوَّلُ شَافِعٍ وَ اَوَّلُ مُشَفَّعٍ .**

**(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ،بَابُ فِي التَّخْيِيْرِ بَيْنَ الْاَنْبِيَآءِ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ، ص: ٦٦٠ ، نَمْبَرْ ٤٦٧٣)**

**تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ** وفرمائل چي **زَهْ** د **اَوْلَادِ آدَمْ سَرْدَارْ** يَم، چي کله مځکه څله څيري سي نو تر ټولو مَخکِي به **زَهْ** رَاوَزَم، تر ټولو مَخکِي به **زَهْ سِفَارِشْ** کوم، او **زَمَا شَفَارِشْ** به تر ټولو مَخکِي قَبلېږي .

په دغه ۱۰ آيَتُوْ او ۱۳ حَدِيْثُوْ كې د حُضُور فَضِيْلَتْ بَيَانْ كړئ دئ .
لِهٰذَا د حُضُور اِتِّبَاعْ وكئ، په هيڅ وَخْتْ دهغه په شَانْ كي ګُسْتَاخِيْ مَه كوئ، او دارنګه جُملې(لَفْظُوْنَه) مَه اِسْتِعْمَالَوَئ چي دهغه څخه دده ګُسْتَاخِيْ ښكاره كيږي، لېكن دا خَبَرَهْ هم په ذِهْنْ كي ولرئ چي دئ د عِيْسَائِيَانُوْ په شَانْ ډُومره زِيَاتْ هم مَه لُوړَوَئ چي د اَللّٰهْ و دَرَجَهْ او مَرْتَبَهْ ته يې وَرَسَوَئ، حُضُور ددغه څخه هم مَنْعْ كړې ده .

## د حُضُور چي څومره فَضِيْلَتُوْنَهْ دي بَايَدْ پر هغه بَرْقَرَارَهْ وَسَاتَل سي، تر هغه زِيَاتْ غُلُوَ كول جَوَازْ نَه لري

دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي
۱۱: قُلْ يٰٓاَ هْلَ الْكِتٰبِ لَاتَغْلُوْا فِىْ دِيْنِكُمْ غَيْرَ الْحَقِّ . (آيَتْ ۷۷،سُوْرَةُ الْمَآئِدَةْ ۵) .
تَرْجَمَهْ:- ائ اَهْلِ كِتَابُوْ په خپل دِيْنْ كي نَاحَقْ غُلْوَ مَه كوئ .
۱۲: لَاتَغْلُوْا فِىْ دِيْنِكُمْ وَلَا تَقُوْلُوْا عَلَى اللهِ اِلَّا الْحَقَّ . (آيَتْ ۱۷۱،سُوْرَةُ النِّسَآءْ ۴) .
تَرْجَمَهْ:- ائ اَهْلِ كِتَابُوْ په دِيْنْ كي تر خپل حَدْ مَه تيرېږئ، او د اَللّٰهْ په اړه د حَقْ بِغَيْرَهْ بَلَه خَبَرَهْ مَه كوئ .

حُضُور ته چي څومره فَضِيْلَتُوْنَهْ په قُرْآنْ كي وركړي دي پر هغه يې بَرْقَرَارَهْ سَاتَل اَفْضَلْ دئ، تر هغه يې زِيَاتَوَل ښه كار نَه دئ .
ددې لپاره حَدِيْثُوْنَه دادي
۱۴: سُمِعَ عُمَرُ يَقُوْلُ عَلَى الْمَنْبَرِ سَمِعْتُ النَّبِيَّ (ﷺ) يَقُوْلُ لَاتَطْرُوْنِىْ كَمَا اَطْرَتِ النَّصَارٰى اِبْنَ مَرْيَمَ فَاِنَّمَا اَنَا عَبْدُهُ فَقُوْلُوْا عَبْدَاللهِ وَ رَسُوْلَهُ .
(بُخَارِىْ شَرِيْفْ،اَحَادِيْثُ الْاَنْبِيَآءْ،بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالٰى[ وَ اذْ كُرْ فِى الْكِتٰبِ مَرْيَمَ اِذِ انْتَبَذَتْ مِنْ اَهْلِهَا] ... (آيَتْ ۱۶،سُوْرَةُ مَرْيَمْ ۱۹)... ،صِ: ۵۸۰ ، نَمْبَرْ ۳۴۴۵)
تَرْجَمَهْ:- حضْرَتْ عُمَرْ وفرمائل چي پر مَنْبَرْ وَلَاړْ د حُضُوْرْ څخه مَا دا آورېدلي دي، چي

مَا په تَعْرِيْفْ کي تر حَدْ مَه زِيَاتَوَئ لکه څنګه چي حضرت عِيْسٰي بِنْ مَرْيَمْ زِيَاتْ کړئ وُو، زَهْ د اَللّٰهْ بَنْدَهْ يَم، نو ځکه د اَللّٰهْ بَنْدَهْ او د اَللّٰهْ رَسُوْلْ (رَاتَه) وَايَاست .

**۱۵: عَنْ اَبِیْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) لَاتُخَيِّرُوْا بَيْنَ الْاَنْبِيَآءِ .**

(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ،بَابٌ فِي التَّخْيِيْر بَيْنَ الْاَ نْبِيَآءِ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ، ص: ۶۶۰ ، نَمْبَرْ ۴۶۶۸)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ وفرمائل چي مَا ته د اَنْبِيَآءُ په مَابَيْنْ کي فَضِيْلَتْ مَه رَاکوَئ .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي څومره په قُرْآنْ و حَدِيْثْ کي راغلي دي، تر هغه زِيَاتَوَل بِدْعَتْ دئ، او د بِدْعَتْ اَنْجَامْ ګمرَاهِي ده، نو ځکه دغه رنګه کار کول په کار نَه دئ .

**۱۶: حَدَّثَنِيْ عَبْدُ الرَّحْمٰنَ بن عُمَرَ السُّلَمِيِّ ..... وَ اِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتُ الْاُمُوْرِ فَاِنَّ كُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَ كُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ .**

(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ، كِتَابُ السُّنَّةِ، بَابٌ فِيْ لُزُوْمِ السُّنَّةِ، ص: ۶۵۱ ، نَمْبَرْ ۴۶۰۷ / مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجُمْعَةِ، بَابُ تَخْفِيْفِ الصَّلَاةِ وَالْخُطْبَةِ ، ص: ۳۴۷ ، نَمْبَرْ ۸۶۷/ ۲۰۰۵)

تَرْجَمَهْ:- په دِيْنْ کي د نَوُو نَوُو خَبَرُوْ د پَيدَا کولو څخه ځَانُوْنَهْ ګُورَئ، ځکه چي په دِيْنْ کي نَوِي نَوِي خَبَرِيْ کول بِدْعَتْ دئ، او د هر بِدْعَتْ اَنْجَامْ ګمرَاهِي ده .

په دغه دُوُ آيَتُوْ او دُرُو حَدِيْثُوْ کي دئ چي په قُرْآنْ و حَدِيْثْ کي چي څومره راغلي دي، تر هغه يې زِيَاتَوَل صَحِيْحْ کار نَه دئ ..... دا ګُمْرَاهِيْ ده .

ددغه عَقِيدې په اړه ۱۲ آيَتُوْنَهْ او ۱۶ حَدِيْثُوْنَهْ دي تاسو د هر يوه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کئ .

## ۶: حُضُور (ﷺ) بَشَرْ دئ
## لېکن د اَللّٰهْ تَعَالٰي وروسته تر ټولو کَائِنَاتُوْ اَفْضَلْ دئ

ددغه عَقِيدې په اړه ۲۹ آيَتُوْنَهْ او ۸ حَدِيْثُوْنَهْ دي تاسو د هر يوه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کئ .

پر حُضُور باندي چي کُوم آيَتُوْنَهْ نَازِلْ سوي دي هغه نُوْرْ دي، د حُضُور رِسَالَتْ نُوْرْ دئ، پر ده باندي نَازِلْ سوئ قُرْآنْ نُوْرْ دئ، اِيْمَانْ نُوْرْ دئ، او دغه ټولَ صِفَتُوْنَهْ په حُضُور کي په مُکَمَّلَهْ تُوګه مَوْجُوْدْ دي نو ځکه ددغه صِفَاتُوْ په اِعْتِبَارْ سره حُضُور نُوْرِيْ دئ، لېکن د ذَاتْ په اِعْتِبَارْ سره حُضُور اِنْسَانْ دئ ځکه چي دئ يې په اِنْسَانَانُوْ کي پيدَا کړئ دئ، ده خُوْرَکْ کاوئ، چِښَاکْ يې کاوئ، وَادَهْ يې کړئ دئ، او د اِنْسَانْ په شَانْ يې ژُوَنْدْ تېر کړئ .

ع بَعْد اَزْ خُدَا بُزَرْګِ تُوْئی قِصَّهْ مُخْتَصَرْ

## حُضُور (ﷺ) په مَخْلُوْقَاتُوْ کي تر ټولو زِيَاتْ مَحْبُوْبَ دئ

ددي لپاره حَدِيْثُوْنَهْ دادي

**١ : عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ قَالَ اَوْحَى اللهُ اِلٰى عِيْسٰى بن مَرْيَمَ ..... فَلَوْلَا مُحَمَّدٌ مَا خَلَقْتُ اٰدَمَ وَلَوْلَا مُحَمَّدٌ مَاخَلَقْتُ الْجَنَّةَ وَلَا النَّارَ، وَلَقَدْ خَلَقْتُ الْعَرْشَ عَلَى الْمَآءِ فَاضْطَرَبَ فَكَتَبْتُ عَلَيْهِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ فَسَكَنَ .**

**(مُسْتَدْرَکْ لِلْحَاكِمْ، وَمِنْ كِتَاب اٰيَاتِ رَسُوْلِ اللهِ اَلَّتِيْ هِيَ دَلَائِلُ النُّبُوَّةِ، ج: ٢ ، ص: ٦٧٢، نَمبَرْ ٤٢٢٧/ مُتَوَفّٰي ٤٠٥ هجرى)**

تَرْجَمَهْ:- حضرت اِبْنِ عَبَّاسْ فرمائي، چي اَللّٰهْ تَعَالٰي و حضرت عِيْسٰي عَلَيْهِ السَّلَامْ ته وَحْي وَاستَوَلي ..... اَللّٰهْ وفرمائل، که مُحَمَّدْ نَه واې نو مَا حضرت آدَمْ نَه پيدَا کاوئ، او که مُحَمَّدْ نَه واې نو مَا جَنَّتْ او دُوْزَخْ نَه پيدَا کول، مَا عَرْشْ پر اُوْبُوْ باندي پيدَا کړئ نو هغه سره ښُورېدَئ، مَا پر هغه عَرْشْ باندي لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ ، وَلِيکله نو هغه سَاکِنْ سو (وَدَرېدَئ) .

**٢ : عَنْ عُمَرَ بن الْخَطَّاب قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) لَمَّا اقْتَرَفَ اٰدَمُ الْخَطِيَّةَ ..... فَرَأَيْتُ عَلٰى قَوَائِمِ الْعَرْشِ مَكْتُوْبًا، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ، فَعَلِمْتُ اَنَّكَ لَمْ تَضِفْ اِلٰى اِسْمِكَ اِلَّا اَحَبَّ الْخَلْقِ اِلَيْكَ، فَقَالَ اللهُ : صَدَقْتَ يَا اٰدَمُ اِنَّهُ لَاَحَبُّ الْخَلْقِ اِلَيَّ، اُدْعُنِيْ بِحَقِّهِ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكَ، وَلَوْ لَا مُحَمَّدٌ مَا خَلَقْتُكَ .**

**(مُسْتَدْرَکْ لِلْحَاكِمْ، وَمِنْ كِتَاب اٰيَاتِ رَسُوْلِ اللهِ اَلَّتِيْ هِيَ دَلَائِلُ النُّبُوَّةِ، ج: ٢ ، ص: ٦٧٢، نَمبَرْ ٤٢٢٨/ مُتَوَفّٰي ٤٠٥ هجرى)**

**تَرْجَمَهْ**:- حُضُور وفرمائل، چي کله **آدَمْ** (**عَلَيْهِ السَّلَامْ**) **غَلَطِيْ** وکړه ..... **مَا** د **عَرْشْ** پر **پُښَهْ** باندي **لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ** لیکلي وَلِیدَلَه، نو **زَهْ** پُوه سوم چي **اَللّٰهْ تَعَالٰي** د خپل نُوم سره صِرف **مَحْبُوْبْ** مِلاوَوَلائي سي، نو **اَللّٰهْ** وفرمائل، **آدَمْ! تَا رِشْتِیَا** وویل، حضرت **مُحَمَّدْ مَا** ته په **مَخْلُوْقَاتُوْ** کي تر ټولو **زِيَاتْ مَحْبُوْبْ** دئ، **تَا** دده په **وَسِیْلَهْ** سره **دُعَاءْ** وکړه نو **مَا** تَه **مَعَافْ** کړې، که چیري **مُحَمَّدْ** نَه وائ نو **مَا** به تَه هم نَه وائ پَیدَا کړئ .

ددغه دواړو **حَدِیْثُوْ** څخه **مَعْلُوْمْ** سو چي حُضُور په **کائِنَاتُوْ** کي تر ټولو **اَفْضَلْ** دئ .

**یَامْ لَرَنَهْ** : دغه **حَدِیْثْ** په **صِحَاحْ سِتَّهْ**، یا تر دي په لُوړ **کِتَابْ** کي **مَا** ته نَه دئ مِلاؤ سوئ، او **مُحَشِّيْ** لیکلي دي چي **زَمَا** دا **ګُمَانْ** دئ چي دغه **حَدِیْثْ مَوْضُوْعِيْ** دئ، لېکن خو په **فَضِیْلَتْ** کي راغلئ دئ، نو ځکه **مَا** دغه **ذِکْرْ** کئ .

## په حُضُور يې دا **اِعْلَانْ** وکئ چي **زَهْ اِنْسَانْ** يَم

په دغه درو **آیَتُوْ** کي د **حَصْرْ** او **تَاکِیْدْ** سره يې په حُضُور دا **اِعْلَانْ** وکئ چي تَه **بَشَرْ** يې، **اَلْبَتَّهْ** پر **تَا** باندي **وَحِيْ** رَاځِي، چي دېره د **فَضِیْلَتْ خَبَرَهْ** ده .

**١: قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُکُمْ یُوْحٰۤی اِلَیَّ اَنَّمَآ اِلٰهُکُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ** . (**آیَتْ ١١٠**،**سُوْرَةُ الْکَهْفْ ١٨**)

**تَرْجَمَهْ**:- تَه **وَوَایَهْ** چي:,, **زَهْ** خو ستا سو په شَان یو **اِنْسَانْ** یَم، (**اَلْبَتَّهْ**) پر **مَا** باندي دا **وَحْي** رَاځِي چي ستاسو د ټولو خُدَائ بَس يو خُدَائ دئ .

**٢: قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُکُمْ یُوْحٰۤی اِلَیَّ اَنَّمَآ اِلٰهُکُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ** .(**آیَتْ ٦**،**سُوْرَةُ حٰمٓ اَلسَّجْدَةْ ٤١**)

**تَرْجَمَهْ**:- تَه **وَوَایَهْ** چي:,, **زَهْ** خو ستا سو په شَان یو **اِنْسَانْ** یَم، (**اَلْبَتَّهْ**) پر **مَا** باندي دا **وَحْي** رَاځِي چي ستاسو د ټولو خُدَائ بَس يو خُدَائ دئ .

**٣: قُلْ سُبْحٰنَ رَبِّیْ هَلْ کُنْتُ اِلَّا بَشَرًا رَّسُوْلًا** .(**آیَتْ ٩٣**،**سُوْرَةُ بَنِیْ اِسْرَآئِیْلْ ١٧**) .

**تَرْجَمَهْ**:- **وَوَایَهْ** ، **سُبْحَانْ اللّٰهْ**، **زَهْ** خو يو **بَشَرْ** یَم، چي **پیغَمْبَرْ** يې جوړ کړئ اَستوَلئ یَم .

په دغه درو سره **آیَتُوْ** کي په حُضُور باندي دا **اِعْلَانْ** کړئ دئ چي **زَهْ** ستاسو په **شَانْ اِنْسَانْ** یَم، **اَلْبَتَّهْ مَا** ته **وَحِيْ** کیږي .

**٤: وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّنْ قَبْلِکَ الْخُلْدَ ؕ اَفَائِنْ مِّتَّ فَهُمُ الْخٰلِدُوْنَ** .

(آيَتْ ٣٤،سُوْرَةُ الْاَنْبِيَآءْ ٢١) .
تَرْجَمَهْ:- او (اې پيغَمْبَرَهْ!) ستا څخه مخکي هم همېشه ژُوندئ پاته کېدل د يَوه فَرْدِ بَشَرْ لپاره مُوږ نَه دئ تَاكلَئ (فَيْصلَهْ مو نَه ده کړې). نو که چيري ستا اِنْتِقَالْ وسي نو دغه خلګ دارنګه دي چي همېشه دي ژُوندِي پاته سي؟ .

٥: قَالَت لَهُمْ رُسُلُهُمْ اِنْ نَّحْنُ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ. (آيَتْ ١١،سُوْرَةُ اِبْرَاهِيْمْ ١٤) .
تَرْجَمَهْ:- او (اې پيغَمْبَرَهْ!) ستا هغه قَوْمُوْ ته د دُوی پيغَمْبَرَانُوْ وويل چي:،، مُوږ وَاقِعَةً ستاسو په شَانْ اِنْسَانَانْ يُو .

٦: وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُّكَلِّمَهُ اللهُ اِلَّا وَحْيًا اَوْ مِنْ وَّرَآئِ حِجَابٍ .
(آيَتْ ٥١،سُوْرَةُ الشُّوْرٰى ٤٢) .
تَرْجَمَهْ:- او په يَوه اِنْسَانْ کي دا طَاقَتْ نَستَه چي اَللّٰهْ دده سره (رُوْبَرُوْ/مَخَامَخْ) خَبَرِئ وکي، مَاسِوَا ددې چي هغه د وَحْي په ذَرِيْعَهْ سره وي، يا د پَرْدي وَ شَا ته وي .
په دغه دُرُوْ آيَتُوْ کي په رَسُوْلْ خو يې دا اِعْلَانْ نَه دئ کړئ، لېکن دا اِشَارَهْ ستِه چي رَسُوْلَانْ هم اِنْسَانَانْ وي .

## په دغه حدِيْثُوْ کي حُضُور دا اِعْلَانْ کړئ دئ چي زَهْ اِنْسَانْ يَم

حدِيْثُوْنَهْ دغه دي .

٣: قَالَ عَبْدُ اللهِ صَلَّى النَّبِيُّ (ﷺ) ..... فَقَالَ اِنَّهُ لَوْحَدَثَ فِي الصَّلٰوةِ شَيْءٌ لَنَبَأْتُكُمْ بِه وَلٰكِنْ اِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ اَنْسٰى كَمَا تَنْسَوْنَ فَاِذَا نَسِيْتُ فَذَكِّرُوْنِيْ .
(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الصَّلَاةْ،بَابُ التَّوَجُّهْ نَحْوَ الْقِبْلَةِ حَيْثُ كانَ، ص: ٧٠، نَمْبَرْ ٤٠١/ مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْمَسَاجِدْ،بَابُ السَّهْوِ فِي الصَّلَاةِ وَالسُّجُوْدُ لَهُ ، ص: ٢٣٢، نَمْبَرْ ٥٧٢/ ١٢٨٥ )
تَرْجَمَهْ:- حضرت عَبْدُ اللهْ وفرمائل چي حُضُور لُمُوْنْځ (جَمَاعَتْ) راکئ ..... حُضُور وفرمائل که چيري په لُمَانْځَهْ کي کُوم نَوئ حُکْمْ راغلئ وائ نو مَا به تاسو ته ضرور وَيَلئ وائ، زَهْ ستاسو په شَانْ اِنْسَانْ يَم، لکه څنګه چي ستاسو څخه هېره کيږي زَمَا څخه هم هېره کيږي، نو چي کله زَمَا هېر سي نو مَا ته يې په يَادْ رَاوَلَئ .

٤: اِنَّهَا اُمَّ سَلَمَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ (ﷺ) ..... فَخَرَجَ اِلَيْهِمْ فَقَالَ اِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ وَ اِنَّهُ يَأْتِيْنِي الْخَصمَ فَلَعَلَّ بَعْضُكُمْ اَنْ يَّكُوْنَ اَبْلَغُ مِنْ بَعْضٍ فَاَحْسِبُ اَنَّهُ صَدَقَ فَاَقْضِيْ لَهُ بِذَالِكَ .

(بُخَارِئ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْمَظَالِمْ،بَابُ اِثْمُ مَنْ خَاصَمَ فِئ بَاطِلٍ وَهُوَ يَعْلَمُهُ، ص: ٣٩۶، نَمْبَرْ ٢۴۵٨)

تَرْجَمَهْ:- اُمِّ سَلَمَهْ وفرمائل چي ..... حُضُور هغه مُخَاصِمِيْنُ ته راغلئ او وفرمائل چي، زَهْ اِنْسَانْ يم، مَا ته مُدَّعِئْ او مُدَّعٰي عَلَيْه راسي، دارنگه کېدلائي سي چي بعض خلک د خپل دَلِيْلْ په وُړاندي کولو کي ډېر مَاهِرْ وي، چي دهغه لکبله زَمَا دا گمَانْ سي چي دغه رِشْتُوْنئ دئ، چي دهغه په نَتِيْجَهْ کي زَهْ دهغه په حَقْ کي د يَو شِي فَيْصَلَهْ وکم .

٥: اَنَّهُ سُمِعَ مُوْسٰي بن طَلْحَةَ بن عُبَيْدِ اللهِ يُحَدِّثُ عَنْ اَبِيْهِ، قَالَ مَرَرْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ (ﷺ) فِئ نَخْلٍ ..... فَبَلَغَ النَّبِيَّ (ﷺ) فَقَالَ اِنَّمَا هُوَ الظَّنُّ اِنْ كَانَ يُغْنِئ شَيْئًا فَاصْنَعُوْهُ، فَاِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ، وَ اِنَّ الظَّنَّ يُخْطِئُ وَيُصِيْبُ .

(اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْمَرْهُوْنْ،بَابُ تَلْقِيْحُ النَّخْلِ، ص: ٣٥۴، نَمْبَرْ ٢۴٧٠)

تَرْجَمَهْ:- حُضُور د خُوْرْمَا د بَاغْ سره تېرېدئ ..... حُضُور ته دا خَبَرْ رَاوَرسېدئ چي سَرْ (په دغه مَوْجُوْدَهْ) کال خُوْرْمَا لَږ سوي ده، نو حُضُور وفرمائل چي دغه زَمَا يَو گمَانْ وُو، که چيري يَو کار په گټه کي وي نو هغه وکئ، زَهْ خو ستاسو په شَانْ يَو اِنْسَانْ يم، گمَانْ خو کله صَحِيْحْ هم وي، کله غَلَطْ هم وي .

په دغه شَپږ آيَتُوْ او دُرُو حَدِيْثُوْ کي په څو څو کرَتّه حُضُور دا اِعْلَانْ کړئ دئ چي زَهْ يَو اِنْسَانْ يم. هسي خو هم حُضُور په اِنْسَانِئ نَسْلْ کي پَيدَا سوئ دئ، په اِنْسَانِئْ نَسْلْ کي وَادَهْ مَادَهْ کړئ دئ نو بيا دئ څنگه نُوْرْ کېدلائي سی .

# اِنْسَانْ تر فَرِشْتُوْ هم اَعْلٰي دئ

اِنْسَانْ تر فَرِشْتُوْ هم اَعْلٰي دئ، نو ځکه دئ په فَرِشْتُوْ کي، يا په نُوْرِئْ مَخْلُوْقْ کي دَاخِلَوَل مُنَاسِبْ نه دئ .

دَلِيْلْ يې دادئ

په شَرْحِ عَقَائِدْ کي دغه عِبَارَتْ مَوْجُوْدْ دئ. رُسُلُ الْبَشَرِ اَفْضَلُ مِنْ رُّسُلِ الْمَلَائِكَةِ ، وَرُسُلُ الْمَلَائِكَةِ اَفْضَلُ مِنْ عَامَّةِ الْبَشَرِ ، وَعَامَّةُ الْبَشَرِ اَفْضَلُ مِنْ عَامَّةِ الْمَلَائِكَةِ .

(شَرْحُ عَقَائِدِ النَّسَفِيَّةِ، ص: ١٧۶)

تَرْجَمَهْ:- په اِنْسَانَانُوْ کي چي کُوم رَسُوْلَانْ دي هغه د فَرِشْتُوْ تر رَسُوْلَانُوْ اَفْضَلَ دي، او په فَرِشْتُوْ کي چي کُوم رَسُوْلَانْ دي هغه تر عَامَّهْ اِنْسَانَانُوْ اَفْضَلَ دي، او عَامَّهْ اِنْسَانَانْ تر عَامَّهْ فَرِشْتُوْ اَفْضَلَ دي .

د شَرْحِ عقَائِدْ د عِبَارَتْ څخه درې خَبرِيْ مَعْلُوْمِيْ سوې

(١) عَامَّهْ اِنْسَانَانْ تر عَامَّهْ فَرشْتُوْ اَفْضَلَ دي .

(٢) غټي فَرِشْتي چې د فَرشْتُوْ رَسُوْلَانْ ورته وَيَل کېږي هغه تر عَامَّهْ اِنْسَانَانُوْ اَفْضَلَ دي .

(٣) او دَرَيمَّهْ خَبرَهْ داده چې د فَرشْتُوْ تر رَسُوْلَانُوْ هم د اِنْسَانَانُوْ رَسُوْلَانْ اَفضَلَ دي، نو ځکه حُضُور (ﷺ) د اِنْسَانِيَّتْ په لِحَاظْ سره تر ټولو فَرشْتُوْ اَفضَلَ دئ، لِهٰذَا په نُوْرِيْ مَخْلُوْقَاتُوْ کي حُضُور (ﷺ) شَامِلَوَلْ د حُضُور شَانْ کمَوَل دئ .

## د اَهْلِ سُنَّتْ وَالْجَمَاعَتْ دا عَقِيْدَهْ ده چې د اَللّٰهْ تَعَالٰی وروسته حُضُور (ﷺ) تر ټولو اَفْضَلَ دئ

حُضُور په مَخْلُوْقَاتُوْ کي ۷ درجې لُوړ دئ

(١) ځکه چي حُضُور (ﷺ) خَاتَمُ الرُّسُلْ دئ .

(٢) ټولَ رَسُوْلَانْ تر حُضُور (ﷺ) کښتَّهْ دي .

(٣) تر هغه کښتَّهْ بيا ټولَ نَبِيَانْ دي .

(٤) تر هغه کښتَّهْ بيا غَټِيْ فَرشْتي دي .

(٥) تر هغه کښتَّهْ بيا عَامَّهْ اِنْسَانَانْ دي .

(٦) تر هغه کښتَّهْ بيا عَامَّهْ فَرشْتي دي .

(٧) تر هغه کښتَّهْ بيا پاته نور مَخْلُوْقَاتْ دي .

## هغه آيَتُوْنَهْ چي په هغه کې اِنْسَانْ تر فَرشْتُوْ اَفْضَلَ کېږئ دئ

عَامَّهْ اِنْسَانَانْ تر عَامَّهْ فَرشْتُوْ اَفْضَلَ دي، دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي

۷: وَلَقَدْ خَلَقْنٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنٰكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ ق صلى فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ط . (آيَتْ ۱۱،سُوْرَةُ الْاَعْرَافْ ۷) .

تَرْجَمَهْ:- ائ پيغَمْبَرَهْ حَقِيْقَتْ دادئ چي مُوږ تاسو پيدا کړي ياست،بيا مُو ستاسو صُوْرَتْ جوړ کئ، بيا مُو فَرِشْتُوْ ته وويل چي:,, آدَمْ ته سَجْدَهْ وکئ ,,. نو ټولو سَجْدَهْ وکړل، مَاسِوَا د اِبْلِيْسْ څخه .

۸: فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ . (آيَتْ ۳۹،سُوْرَةُ الْحِجْرْ ۱۵) .

تَرْجَمَهْ:- نو ټولو فَرِشْتُوْ و حضرت آدَمْ ته سَجْدَهْ وکړه .

۹: فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ . (آيَتْ ۷۳،سُوْرَةُ صٓ ۱۵) .

تَرْجَمَهْ:- نو ټولو فَرِشْتُوْ سَجْدَهْ وکړه .

په دغه درو (۳) آيَتُوْ کي دئ چي په ټولو فَرِشْتُوْ باندي و اِنْسَانْ ته دتَعْظِيْمْ سَجْدَهْ وکړه.ددې څخه مَعْلُوْمْ سو چي عَامَّهْ اِنْسَانَانْ تر عَامَّهْ فَرِشْتُوْ اَفْضَلْ دي .

۱۰: وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيْٓ اٰدَمَ وَحَمَلْنٰهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ . (آيَتْ ۷۰،سُوْرَةُ الْاَسْرَاءْ ۱۷) .

تَرْجَمَهْ:- او حَقِيْقَتْ دادئ چي مُوږ د آدَمْ و اَوْلَادَهْ ته عِزَّتْ ورکئ، او دُوي ته مُو په دَرْيَابْ او وَچَّهْ (خُشْکي) دواړو کي سُوَارلَئ ورکي .

۱۱: وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ لا وَطُوْرِ سِيْنِيْنَ لا وَ هٰذَا الْبَلَدِ الْاَمِيْنِ لا لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ز .

تَرْجَمَهْ:- قَسَمْ دئ په اِنْځَرُوْ او په زَيْتُوْنَهْ سره، او د صَحْرَاءِ سِيْنَا په طُوْرْ غَرَهْ سره، او په دغه د اَمْنْ و اَمَانْ وَالا ښَارْ سره، چي مُوږ اِنْسَانْ په ښَهْ غَالَبْ (ډانْچَهْ) کي اَچولَئ پَيدَا کړئ دئ، .

په دغه آيَتُوْ کې څلور قَسَمُوْنَهْ اَخستِي دي او بيايې وَيَلِي دي چي مُوږ اِنْسَانْ په ښَهْ اَنْدَازْ کي پَيدَا کړئ دئ .

۱۲: وَعَلَّمَ اٰدَمَ الْاَسْمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلٰٓئِكَةِ لا فَقَالَ اَنْۢبِـُٔوْنِيْ بِاَسْمَآءِ هٰٓؤُلَآءِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ قَالُوْا سُبْحٰنَكَ لَاعِلْمَ لَنَآ اِلَّا مَاعَلَّمْتَنَا ط اِنَّكَ اَنْتَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ قَالَ يٰٓاٰدَمُ اَنْۢبِئْهُمْ بِاَسْمَآئِهِمْ ج فَلَمَّآ اَنْۢبَاَهُمْ بِاَسْمَآئِهِمْ لا قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ اِنِّيْٓ اَعْلَمُ غَيْبَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لا .

تَرْجَمَهْ:- او آدَمْ ته (اَللّٰهْ تَعَالٰي) ټوله نُوْمُوْنَهْ وَروَښُوَل، بيايې هغه د فَرِشْتُوْ په مخکي وَړانډي کړل او (دُوي ته) وويل: که چيري تاسو رِشتُوني ياست نو مَا ته ددې نومونه رَاوَښَايَاست هغو وويل: خَالِصْ ستا ذَاتْ پَاکْ دئ،کُوم عِلْمْ چي تَا موږ ته راکړئ دئ دهغه بغيره موږ په هيڅ نَه پوهيږو، په حَقِيْقَتْ کي د عِلْمْ او حِکْمَتْ مَالِکْ خو يواځي تَه يې اَللّٰهْ تَعَالٰي وفرمائل: ,, ائ آدَمْ! ته و دُوي ته ددې شِيَانُوْ نُوْمُوْنَهْ وَروَښَايَه,, نو

چي کله ده دهغه نُوْمُوْنَهْ ذُوي ته وَروښوَل نو اَللّٰهْ تَعَالٰي (و فَرِشْتُوْ ته) وفرمائل: ,,اَيَا مَا تاسو ته نَه وُ ويلي چي زَهْ د آسمانو او مځکو په پټُو (رَازُونُو) خَبَرْ يم؟
د دغه شپږُو آيَتُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي عَامْ اِنْسَانْ تر عَامْ فَرِشْتي اَفْضَلَ دئ، په دغه وَجْهْ خو وَ اِنْسَانْ ته اَشْرَفُ الْمَخْلُوْقَاتْ وَيَل کيږي .
او د اِنْسَانَانُوْ رَسُوْلَانْ د فَرِشْتُوْ تر رَسُوْلَانُوْ په دې وَجْـهْ اَفْضَلَ دي چي تر ټولو غَټَّهْ او اَفْضَلَ فَرِشْتَهْ حضرت جِبْرَئِيْلْ عَلَيْهِ السَّلَامْ ده، او جِبْرَئِيْلْ عَلَيْـهِ السَّلَامْ و ټولو رَسُوْلَانُوْ ته پيغَامْ رَارَسَاوَئ، ددې څخه مَعْلُوْمْ سو چي رَسُوْلْ تر مُهِمُّوْ فَرِشْتُوْ هم اَفْضَلَ دئ .
د مِعْرَاجْ په شپَه حضرت جِبْرَئِيْلْ عَلَيْهِ السَّلَامْ د حُضُور صَلَّي اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ د خَادِمْ په حَيْثِيَّتْ سره دئ آسْمَانُوْ تـه بُوتلَئ، ددې څخـه هم مَعْلُوْمْ سو چي حُضُور صَلَّي اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ تر ټولو فَرِشْتُوْ اَفْضَلَ دئ .
دَلِيْلْ يې دا حَدِيْثْ دئ

**٦: مُضْطَجِعًا اِذَا اَتَانِيْ اٰتٍ ..... فَانْطَلَقَ بِيْ جِبْرِيْلُ حَتّٰـى اَتَـى السَّمَآءَ الـدُّنْيَا فَاسْتَفْتَحَ ..... ثُمَّ رُفِعَ لِيَ الْبَيْتُ الْمَعْمُوْرُ، اَلَخْ .**

**(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ مَنَاقِبِ الْاَنْصَار،بَابُ الْمِعْرَاجْ،ص: ٦٥٢، نَمْبَرْ ٣٨٨٧)**

تَرْجَمَهْ:- زَهْ په حَطِيْمْ کي بِيْدَهْ (وِيْدَهْ) وَم ..... زَهْ جِبْرَئِيْلْ عَلَيْـهِ السَّلَامْ بُوتلَم، اَنْ تـر دې چـي آسـمَانْ دُنْيَـا تـه رَاوَستلَم، او دَرْوَازَهْ يـې رَاخَلَاسَـهْ کـړه ..... بيـايې تـر بَيْـتُ الْمَعْمُوْرْ پُوري بوتلَم .

او حُضُور(ﷺ) تر ټولو رَسُوْلَانُوْ اَفْضَلَ دئ، ددې لپاره ډېر آيَتُوْنَهْ تېر سوي دي، خو يَو آيَتْ دا هم دئ

**١٣: مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ط .**

**(آيَتْ ٤٠،سُوْرَةُ الْاَحْزَابْ ٣٣)**

تَرْجَمَهْ:- مُسَلْمَانَانُوْ! مُحَمَّدْ ﷺ (صَلَّي اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ) ستاسو د نَرَانُوْ څخه د يَوَه پلَارْ نَه دئ، لېکن هغه د اَللّٰهْ رَسُوْلْ دئ، او په ټولو نَبِيَانُوْ کي تر ټولو آخِرِيْ نَبِيْ دئ .
ددغه ٧ آيَتُوْ او ١ حَدِيْثْ څخـه مَعْلُوْمْ سـو چـي اِنْسَـانْ د فَرِشْـتُوْ څخـه اَفْضَلَ دئ، او حُضُور ﷺ تر ټولو اَفْضَلَ دئ .

## د هِنْدُوَانُوْ دا عَقِيْدَهْ ده چي بَگْوَانْ د ذُوي د دِيْوِيْ او دِيْوْتَا په بَڼَهْ کي رَاځِي

د هِنْدُوَانُوْ دا عَقِيْدَهْ ده چي بَګْوَانْ يعني خُدَائ زُمُوږ د دِيْوِي او دِيْوْتَاګَانُوْ په شَکْلْ (بَنَهْ) کي ځي رَاځِي، او نَنْ وُرَځْ هم ځي رَاځِي، نو ځکه مُوږ د دِيْوِيْ او دِيْوْتَاګَانُوْ عِبَادَتْ کوو، دهغوي په مَخکِي خپل تَنْدَيْ پر مځکه اِږدِي، پر هغه باندي نِيَازْ اِږدِي، او دهغه څخه خپل حَاجَتُوْنَهْ غُوَاړِي .

مُسْلْمَانَانْ دي هم په دا شَکْ او شُبْهَهْ کي ځان نَه اَچوِي چي خُدَائ دي د حُضُور ﷺ په بَنَهْ کي راغلئ وي، او دئ دي هم د اَللّٰهْ د نُوْرْ يَوَه حِصَّهْ وي، په دغه وَجْهَ خو يې په شَپږ آيَتُوْ کي په حُضُور ﷺ باندي په ډېر تَاکِيْدْ سره دا اِعْلَانْ وکئ چي زَهْ بَشَرْ يَم، اِنْسَانْ يَم، زَهْ نُوْرِيْ مَخْلُوْقْ نَه يَم، خُدَائ زَمَا په بَنَهْ يا شَکْلْ کي نَه دئ راغلئ، لِهٰذَا مَه زَمَا عِبَادَتْ کوئ، او مَه زَمَا څخه د خپل حَاجَتْ رَوَايِيْ غُوښْتَنَهْ کوئ، زَهْ يې هم د خُدَائ څخه غُوَاړَم، او تاسو يې هم د خُدَائ څخه وَغُوَاړَئ، ددغه تَعْلِيْمْ د وَرکوُلُو لپاره يې حُضُور ﷺ مَبْعُوْثْ کړئ وُو، او دغه دِيْنِ اِسْلَامْ دئ .

## هغه آيَتُوْنَهْ او حَدِيْثُوْنَهْ چي دهغه څخه دا شُبْهَهْ پَيدَا کيږي چي حُضُور ﷺ نُوْرِيْ دئ

۱۴: يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيْرًا مِّمَّا كُنْتُمْ تُخْفُوْنَ مِنَ الْكِتٰبِ وَ يَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ ط قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ نُوْرٌ وَّ كِتٰبٌ مُّبِيْنٌ ۝ لا يَّهْدِيْ بِهِ اللّٰهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهٗ سُبُلَ السَّلٰمِ وَيُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ بِاِذْنِهٖ وَيَهْدِيْهِمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝ . (آيَتْ ۱۵، ۱۶/ سُوْرَةُ الْمَآئِدَةْ ۵)

تَرْجَمَهْ:- ائ اَهْلِ کِتَابْ! تاسو لره زموږ (دغه) پيغَمْبَرْ راغلئ دئ چي د کِتَابْ (يعني تَوْرَاةْ او اِنْجِيْلْ) ډېري هغه خَبَرِيْ په وَضَاحَتْ سره بيانوي کُوم چي تاسو يې پټَوَئ، او د ډېرو خَبَرُوْ څخه دَرګُزَرْ کوي، تاسو ته د اَللّٰهْ لطرف څخه يَوَهْ رَنَا راغلي ده، او يو دارنګه کِتَابْ چي حَقْ په وَاضَاحَتْ سره بيانوي ۝ چي دهغه په ذريعه سره اَللّٰهْ هغه خلګو ته د سَلَامَتِئ لَارِيْ ښکاره کوي کُوم چي د ده د رِضَامَنْدَيْ طَلَبْګَارَ وي، او ذُوي په خپل حُکْمْ سره د تَارِيْکيُوْ څخه رَنَا ته رَاوَلِي، او ذُوي ته د سيدې لَارِيْ هِدَايَتْ ورکوي ۝

په دغه آيَتْ کې فرمائلي دي چي د ,,نُوْرٌ,, څخه حُضُور مُرَاد دئ، او ددې وَجْهَ داده چي په تَفْسِيْرِ جَلَالَيْنْ کې د ,,نُوْرٌ,, په تَفْسِيْرْ کي صِرف ,,هُوَ النَّبِيُّ,, وَيلِي دي، ددې څخه مَعْلُوْمْ سو چي د ,,نُوْرٌ,, څخه مُحَمَّدْ (ﷺ) مُرَاد دئ .

لېکن په تَفْسِيْرِ اِبْنِ عَبَّاسْ کي دئ چي په دې آيَتْ کي د ,,نُوْرٌ,, څخه مُرَاد د حُضُور رِسَالَتْ دئ .
د حضرت عَبْدُ اللّٰهْ بِن عَبَّاسْ تَفْسِيْرْ دادئ. (قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللهِ نُوْرٌ) [رَسُوْلٌ، يَعْنِيْ مُحَمَّدٌ] دَلتَه د ,,نُوْرٌ,, په تَفْسِيْرْ کي اَوَّلْ د ,,رَسُوْلٌ,, لَفْظْ رَاوړئ دئ، بيايې د ,,مُحَمَّدٌ,, لَفْظْ رَاوړئ دئ، ددې مَطْلَبْ دا سو چي دده رِسَالَتْ نُوْرْ دئ، په خپله د حُضُور (ﷺ) ذَاتْ نُوْرْ نَه سو، او هغه څنګه نُوْرْ کېدلائي سي څکه چي مَخکې په ګنښمېرو آيَتُوْ کي اِعْلَانْ وکئ چي دئ خو اِنْسَانْ دئ .
مَخته په آيَتْ نَمْبَرْ ۱۶ کي د ,,نُوْرْ,, څخه بيا اِيْمَانْ مُرَاد دئ، تَفْسِيْرْ دادئ
(وَيُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ بِاِذْنِه) [مِنَ الْكُفْرِ اِلَى الْاِيْمَانِ] . (تَنْوِيْرُ الْمِقْيَاسْ،مِنْ تَفْسِيْرِ اِبْنِ عَبَّاسْ،ص: ۱۱۹،آيَتْ ۱۵،/ ۱۶ ، سُوْرَةُ الْمَآئِدَةْ ۵) . په دغه تَفْسِيْرْ کې د ,,نُوْرٌ,, تَرْجَمَهْ په اِيْمَانْ سره کړې ده، ددې څخه مَعْلُوْمْ سو چي د ,,نُوْرٌ,, ډېري تَرْجمي يا مَعْنَاګان دي .
دَرَيَمْ دَلِيْلْ يې دادئ چي، ددغه آيَتْ په شروع کې يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلُنَا، وَيَلِي دي، دا وَ اَهْلِ کِتَابْ ته وائي چي تاسو ته زُمُوږ رَسُوْلْ راغلئ دئ، ددې څخه مَعْلُوْمْ سو چي دَلتَه د ,,نُوْرٌ,, څخه د حُضُور (ﷺ) رِسَالَتْ مُرَاد دئ .
او په دې کي خو شَکْ نَستَه چي د حُضُور (ﷺ) دِيْنْ، دده رِسَالَتْ او دده هِدَايَتْ يَو ,,نُوْرْ,, دئ، او دارنګه ,,نُوْرْ,, دئ چي د لَمَرْ او سُيُوْږمَيْ تر رَنَا هم بَالَا دئ .
بعضو مُفَسِّرِيْنُوْ د ,,نُوْرٌ,, تَفْسِيْرْ صِرف په ,,مُحَمَّدٌ,, سره کړئ دئ، چي دهغه څخه د بعضو خلګو دا خِيَالْ سو چي د حُضُور (ﷺ) ذَاتْ مُبَارَکْ ,,نُوْرْ,, دئ، لېکن چي د حضرت عَبَّاسْ اَصْلِيْ تَفْسِيْرْ وَګورې دهغه څخه دا مَعلُومېږي چي دَلتَه د حُضُور (ﷺ) رِسَالَتْ مُرَاد دئ، که نَه نو د ,,نُوْرٌ,, تَفْسِيْرْ به د ډېرو آيَتُوْ سره تَضَادْ رَامينځ ته کي .
د ,,نُوْرٌ,, مَعْنٰی په بعضو ځايو کي نُوْرِ نَبُوَّتْ، په بعضو ځايو کي قُرْآنْ، په بعضو ځايو کي هِدَايَتْ ده، لِهٰذَا د يَو مُبْهَمْ لَفْظْ څخه د حُضُور (ﷺ) ذَاتْ مُبَارَکْ ,,نُوْرْ,, ثَابتَوَلْ مُشْکِلْ دئ .
دغه هغه آيَتْ دئ چي بعضو حضراتو ددې څخه دا کُوښښ کړئ دئ چي حُضُور (ﷺ) ,,نُوْرْ,, ثَابتْ کړي .
تاسو هم غَوْرْ وکئ .

ددغه آيَتْ ښخه هم بعضو حَضَرَاتُوْ دا اِسْتِدْلَالْ کړئ دئ چي حُضُور (ﷺ) ,,نُوْرْ,, دئ .

**١٥: يَاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ۙ وَّ دَاعِيًا اِلَى اللّٰهِ بِاِذْنِه وَسِرَاجًا مُّنِيْرًا . (آيَتْ ۴۵، ۴۶/ سُوْرَةُ الْاَحْزَابْ ٣٣)**

تَرْجَمَهْ:- اې نَبِيْ! بېشَکَّهْ مُوږ تَه دارنګه جُوړ کړئ اَستوَلَئ يې چي تَه ګَوَاهِيْ ورکونکئ، زېرئ ورکونکئ او خَبَرْدَارَهْ کونکئ يې، او د اَللّٰهْ په حُکْمْ سره خلګ د اَللّٰهْ و طَرَفْ ته رَابلُونکئ يې، او رَنَا خُورَوُنکئ څَرَاغْ يې.

د حضرت عَبْدُ اللّٰهْ بن عَبَّاسْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا په تَفْسِيْرْ کي دئ چي دَلتَه د سِرَاجًا مُّنِيْرًا ښخه دارنګه رَنَا مُرَاد ده چي دهغه اِقْتِدَا وسي، يعني دده هِدَايَتْ او نَبُوَّتْ، تَفْسِيْرْ يې داده.(سِرَاجًا مُّنِيْرًا) [مُضِيًّا يَقْتَدِيْ بِكَ] . (تَنْوِيْرُ الْمِقْيَاسْ،مِنْ تَفْسِيْرِ اِبْنِ عَبَّاسْ،ص: ۴۴۶،آيَتْ ۴۶ ، سُوْرَةُ الْاَحْزَابْ ٣٣) . په دغه تَفْسِيْرْ کي د سِرَاجْ ښخه څَرَاغْ مُرَاد نَه دئ، بلکه د حُضُور (ﷺ) د نَبُوَّتْ رَنَا مُرَاد ده، چي خلګ دهغه (رَنَا) اِقْتِدَاءْ وکي .

## په قُرْآنْ کي نُوْرٌ په پِنځُو مَعْنٰى وُو کي اِسْتِعْمَالْ دئ

په قُرْآنِ کرِيْمْ کي د ,,نُوْرْ,, لَفْظْ په پِنځو مَعْنٰى وُو کي اِسْتِعْمَالْ سوئ دئ، کله خو د قُرْآنْ په مَعْنٰى راغلئ دئ، کله د رِسَالَتْ په مَعْنٰى، کله د اِيْمَانْ په مَعْنٰى، کله د اَحْکامَاتُوْ په مَعْنٰى، او کله د دِيْنْ په مَعْنٰى کي اِسْتِعْمَالْ سوئ دئ، نو ځکه د قُرْآنْ د دغه آيَتْ قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ نُوْرٌ وَّ كِتٰبٌ مُّبِيْنٌ (آيَتْ ١۵،سُوْرَةُ الْمَآئِدَةْ ۵) . ښخه صِرف د حُضُور ذَاتْ مُرَادوَل ضروري نَه دئ،نو لِهٰذَا دده رِسَالَتْ هم مُرَادېدَلائي سي لکه ښنګه چې په تَفْسِيْرِ اِبْنِ عَبَّاسْ کي د ,,نُوْرٌ,, ښخه رِسَالَتْ اَخستئ دئ، او که چيري د ,,نُوْرٌ,, ښخه د حُضُور ذَاتْ مُرَاد سي نو بيا به ددغه آيَتْ د مَختَه تېر سوو ١٢ آيَتُوْ سره تَضَادْ رَاسِي، دهغه ښخه به خِلَافْ سي، چي په هغه کې په حَصَرْ او تَاکِيْدْ سره دا اِعْلَانْ کړئ وُو چي زَهْ اِنْسَانْ يَم .

تاسو په خپله هم غَوْرْ وکئ .

١: په دغه دُو آيَتُوْ کي د نُوْرْ ښخه قُرْآنْ مُرَاد دئ

**١٦: وَاتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِىْٓ اُنْزِلَ مَعَهٗ ۙ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ .**

**(آيَتْ ١۵٧ ،سُوْرَةُ الْاَعْرَافْ ٧) .**

په تَفْسِيْرِ اِبْنِ عَبَّاسْ کې دَلتَه د ,,نُوْرٌ,, ښخه قُرْآنْ مُرَاد کړئ دئ .

**۱۷**: **مَا كُنْتَ تَدْرِىْ مَا الْكِتٰبُ وَلَا الْاِيْمَانُ وَلٰكِنْ جَعَلْنٰهُ نُوْرًا** . (**آيَتْ ۵۲**،**سُوْرَةُ الشُّوْرٰى ۴۲**) .

په **تَفْسِيْرِ اِبْنِ عَبَّاسْ** كښې دَلتَه و **قُرْآنْ** تـه ,, **نُـوْرٌ**,, وَيَلـې دي،( **وَلٰكِنْ جَعَلْنٰـهُ**) **قُلْنَاهُ يَعْنِىْ اَلْقُرْاٰنَ** (**نُوْرًا**) **بَيَانًا لِلْاَمْرِ وَالنَّهْىِ**. (**آيَتْ ۵۲**،**سُوْرَةُ الشُّوْرٰى ۴۲**) .

په دغه **آيَتُوْ** كښې د ,, **نُوْرٌ**,, څخه **قُرْآنْ** اَخستَئ دیٔ .

**۲**: په دغه دُوْ **آيَتُوْ** كښې د **نُوْرْ** څخه **اِيْمَانْ** مُرَاد دیٔ

**۱۹**: **وَيُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ بِاِذْنِه** (**آيَتْ ۱۶** ، **سُـوْرَةُ الْمَآئِـدَةْ ۵**) . په **تَفْسِيْرِ اِبْنِ عَبَّـاسْ** كـښې دیٔ چې دَلتَـه د ,, **نُـوْرٌ**,, څخـه **اِيْمَـانْ** مُـرَاد دیٔ (**وَيُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ**) [**مِنَ الْكُفْرِ اِلَى الْاِيْمَـانِ**] (**آيَـتْ ۱۶** ، **سُوْرَةُ الْمَآئِدَةْ ۵**) .

**۲۰**: **هُوَ الَّذِىْ يُصَلِّىْ عَلَيْكُمْ وَمَلٰٓئِكَتُه لِيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ط وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَحِيْمًا** (**آيَتْ ۴۳** ، **سُوْرَةُ الْاَحْزَابْ ۳۳**) .

د حضرت **عَبْدُ اللّٰهْ اِبْنِ عَبَّاسْ** په **تَفْسِيْرْ** كښې دلته د ,, **نُوْرٌ**,, څخه **اِيْمَـانْ** مُـرَاد دیٔ، او د ,, **ظُلُمٰتٌ**,, څخه **كُفْرْ** مُرَاد دیٔ، **تَفْسِيْرْ** يې دادیٔ

**لِيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ** [**قَدْ اَخْرَجَكُمْ مِنَ الْكُفْرِ اِلَـى الْاِيْمَـانِ**] . (**آيَتْ ۴۳**،**سُوْرَةُ الْاَحْزَابْ ۳۳**) . پـه دغـه **تَفْسِيْرْ** كـښې د ,, **نُـوْرٌ**,, **مَعْنَـى** (**تَرْجَمَـهْ**) پـه **اِيْمَانْ** سره كړې ده .

**۳**: په دغه **آيَتْ** كښې د **نُوْرْ** څخه **احْكَامَاتْ** مُرَاد دي

**۲۱**: **اِنَّآ اَنْزَلْنَا التَّوْرٰىةَ فِيْهَا هُدًى وَّنُوْرٌ ج** . (**آيَتْ ۴۴** ، **سُـوْرَةُ الْمَآئِـدَةْ ۵**) .

په **تَفْسِيْرِ اِبْنِ عَبَّاسْ** كښې دیٔ چې دَلتَه د ,, **نُوْرٌ**,, څخه **اَحْكَامَاتْ** مُرَاد دي (**اِنَّآ اَنْزَلْنَا التَّوْرٰىةَ فِيْهَا هُدًى**) [**مِنَ الضَّلَالَةِ**] ( **وَّنُوْرٌ**) [**بَيَـانُ الـرَّجْمِ**] . (**آيَـتْ ۴۴** ، **سُوْرَةُ الْمَآئِدَةْ ۵**) .

**۴**: په دغه **آيَتْ** كښې د **نُوْرْ** څخه **دِيْنْ** مُرَاد دیٔ

**۲۲**: **يُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّطْفِـئُوْا نُـوْرَ اللّٰهِ بِـاَفْوَاهِهِمْ وَيَـاْبَى اللّٰهُ اِلَّآ اَنْ يُّتِمَّ نُـوْرَه وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ** . (**آيَتْ ۳۲** ، **سُوْرَةُ التَّوْبَـةْ ۹**) . د حضـرت **عَبْدُ اللّٰهْ بِـنِ عَبَّاسْ** په **تَفْسِيْرْ** كښې دَلتَه د ,, **نُوْرٌ**,, څخه د **اَللّٰهْ دِيْنْ** مُرَاد دیٔ، **تَفْسِيْرْ** ددیٔ

(نُوْرُ اللهِ) [دِيْنُ اللهِ] (اِلَّا اَنْ يُتِمَّ نُوْرَهُ) [اِلَّا اَنْ يَّظْهَرَ دِيْنَهُ الْاِسْلَامَ] .
(تَنْوِيْرُ الْمِقْيَاسْ،مِنْ تَفْسِيْرِ اِبْنِ عَبَّاسْ،ص: ۲۰۲،آيَتْ ۳۲ ، سُوْرَةُ التَّوْبَةْ ۹) . په دغه تَفْسِيْرْ کې د ,,نُوْرْ,, مَعْنٰي په دِيْنِ اِسْلَامْ سره کړې ده .

۵: په دغه آيَتْ کي د نُوْرْ څخه د حُضُور (ﷺ) رِسَالَتْ مُرَاد دئ

۱۸: قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللهِ نُوْرٌ (رَسُوْلٌ، يَعْنِيْ مُحَمَّدٌ) دَلتَه يې د نُوْرٌ په تَفْسِيْرْ کي اَوَّلْ د رَسُوْلٌ لَفْظْ رَاوړی دئ بيايې د مُحَمَّدٌ لَفْظْ رَاوړی دئ، ددې مَطْلَبْ دا سو چي دده رِسَالَتْ نُوْرْ دئ، په خپله د حُضُور ذَاتْ نُوْرْ نَه سو .
چي د ,,نُوْرْ,, لَفْظْ په قُرْآنْ کي په پِنځُو مَعْنٰي وُ کي اِسْتِعْمَالْ سوئ دئ نو په،
قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللهِ نُوْرٌ وَّ كِتٰبٌ مُّبِيْنٌ (آيَتْ ۱۵،سُوْرَةُ الْمَآئِدَةْ ۵) . کي صِرف د حُضُور ذَاتْ وَلي اَخستَل کيږي؟ سره ددې چي دا به د شُيَارَس ۱۶ مَقَامَاتُوْ څخه خِلَافْ هم سي، نو ځکه بِهْتَرَهْ خَبَرَهْ داده چي دا وويل سي چي حُضُور (ﷺ) بَشَرْ وُو، لېکن په ده کي د اِيْمَانْ، رِسَالَتْ، قُرْآنْ، دِيْنْ او اَحْكَامَاتُوْ صِفَتُوْنَهْ په کامِلَهْ تُوګه مَوْجُوْدْ وُو چي نُوْرْ دي، نو لِهٰذَا دئ د صِفَتْ په لِحَاظْ سره نُوْرْ وُو .

## د حَقَارَتْ په تُوګه رَسُوْلْ ته بَشَرْ وَيَل بِالْكُلْ غَلَطْ دئ

رَسُوْلْ هم اِنْسَانْ وي، لېکن د حُضُوْرْ په شَانْ کي دارنګه وَيْنَا کول چي دئ هم زُمُوږ په شَانْ اِنْسَانْ دئ، او دا تَاْثُرْ وَرکوَل چي مُوږ ته وَحِيْ نَه رَاځِي، لِهٰذَا نو ده ته هم وَحِيْ نَه رَاځِي، نو ځکه دئ دي مُوږ ته نَصِيْحَتْ نَه کوي، او نَه مُوږ ددې پَابَنْدْ يُو چي پر ده باندي اِيْمَانْ رَاوړو، دغه رنګه وَيْنَا کول د رَسُوْلْ په شَانْ کي بې اَدَبِيْ ده، او پر ده باندي اِيْمَانْ نَه رَاوړل دئ، نو ځکه ده ته دغه رنګه بَشَرْ وَيَل مُنَاسِبْ نَه دئ، په دي کي د اِيْمَانْ څخه اِعْرَاضْ رَاځِي .
ددې دَلِيْلْ دادئ

۲۴: مَآ اَنْتَ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ج صلى فَاْتِ بِاٰيَةٍ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ
(آيَتْ ۱۵۴،سُوْرَةُ الشُّعَرَآءْ ۲۶) .
تَرْجَمَهْ:- ته خو ددې بِغَيْرَهْ نور هيڅ حَقِيْقَتْ هم نَه لرې چي ته خو زُمُوږ په شَانْ يَو اِنْسَانْ يې، لِهٰذَا که رِشْتُوْنَيْ يې نو يَوَه نِبْنَانِي رَاوړه .

**۲۵: وَمَآ اَنْتَ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا وَ اِنْ نَّظُنُّكَ لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَ**

**(آيَتْ ۱۸۶،سُوْرَةُ الشُّعَرَآءْ ۲۶)** .

**تَرْجَمَهْ**:- او ستا **حَقِيْقَتْ** ددي څخه **بِغَيْرَهْ** نور هيڅ نَه دئ چي تَه بَس زُمُوږ په **شَانْ** يَو **اِنْسَانْ** يې، او مُوږ په **مُكَمَّلْ يَقِيْنْ** سره **تَا دَرْوَاغْجَنْ** ګڼو.

**۲۶: فَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِه مَا نَرٰىكَ اِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا ..... بَلْ نَظُنُّكُمْ كٰذِبِيْنَ** . **(آيَتْ ۲۷،سُوْرَةُ هُوْدْ ۱۱)** .

**تَرْجَمَهْ**:- دده د **قَوْمْ** هغه **سَرْدَارَانُوْ** خلګو ګوم چي **كُفْرْ** يې **مُخْتَارْ** کړئ وُو، وويل چي:,, مُوږ خو تر دي زِيَاتَ (په **تَا** كي) بَلَه هيڅ يَوه **خَبَرَهْ** نَه وِينُو چي **تَهْ** زُمُوږ په **شَانْ** بَس يَو **اِنْسَانْ** يې ..... بلکه زُمُوږ **خِيَالْ** خو دادئ چي تاسو ټول **دَرْوَاغْجَنْ** ياست . په دغه درو **آيَتُوْ** كي **كَافِرَانُوْ** و **رَسُوْلَانُوْ** ته د خپل **ځَانْ** په **شَانْ بَشَرْ** يعني **اِنْسَانْ** وَيَلِي دي چي ذُوي تـه **وَحِيْ** نَـه رَاځِي او د ذُوي **اِتِّبَاعْ** مَه کوئ، **خُلَاصَهْ** دا چي و **رَسُوْلْ** ته دغه رنګه **بَشَرْ** وَيَل، د ذُوي **بِي اَدَبِيْ** ده، ددغه **وَيْنَا** څخه هر **اِنْسَانْ بَايَدْ پَرْهيزْ** وکي .

## دغه **حَدِيْثْ ثَابتْ** نَه دئ

## **قَدْ خُلِقَ قَبْلَ الْاَشْيَآءِ نُوْرُ نَبِيِّكَ مِنْ نُوْرِه**

بعضو خلګو دا ګوښښ کړئ دئ چي ددغـه **حَدِيْثْ** څخـه دا **ثَابِتْ** كي چي حُضُور (ﷺ) **نُوْرْ** دئ، په دي کې د **مُصَنَّفِ عَبْدُ الرَّزَّاقْ حَوَالَـهْ** ورکړې ده، بيا بعضو خلګو د **دَلَائِلُ النَّبُوَّةْ لِلْبَيْهَقِيْ**، او د **مُسْتَدْرَكْ حَاكِمْ حَوَالَـهْ** هم ورکړې ده، لېکن **مَا** دغه درې سره **كِتَابُوْنَهْ** خپل مَختَه کښېښوَل ډېره **پَلْتَنَـهْ** مُو وکړه، او د **مَكْتَبَةُ الشَّامِلَهْ** په **ذَرِيْعَهْ** سره مُو هم **پَلْتَنَهْ** وکړه، لېکن په يَوَه ځائ کي مُو **حَدِيْثْ** پَيدَا نَه کئ، بلکه د تېري زَمَاني ډېرو **حَضَرَاتُوْ** لِيکلِي دي چي دا **مَوْضُوْعِيْ حَدِيْثْ** دئ، دا ښکاره **خَبَرَهْ** ده چي د **مَوْضُوْعِيْ حَدِيْثْ** څخه د **قُرْآنْ** په **خِلَافْ** څنګه **اِسْتِدْلَالْ** کېدلائي سي؟ نو ځکه ددغه **حَدِيْثْ** څخه هم دا **ثَابتَوَلْ** چي **حُضُوْرْ** (ﷺ) **نُوْرْ** دئ، دا ډېر **مُشْكِلْ** دئ .

**حَدِيْثْ** دادئ

**رَوٰى عَبْدُ الرَّزَّاقُ بِسَنَدِه عَنْ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ! بِاَبِيْ اَنْتَ وَ اُمِّيْ اَخْبِرْنِيْ عَنْ اَوَّلِ شَيْءٍ خَلَقَهُ اللهُ تَعَالٰى قَبْلَ اَشْيَاءٍ؟ قَالَ: يَاجَابِرُ اِنَّ اللهَ تَعَالٰى قَدْ خَلَقَ قَبْلَ الْاَشْيَاءِ نُوْرُ نَبِيِّكَ مِنْ نُوْرِه . اِلَخْ (اَلْمَوَاهِبُ اللَّدُنِيَّةْ،**

لِلْقَسْطَلَانِيْ، [مُتَوَفّٰی ۹۲۳ هِجْرِیْ] ج: ۱، اَلْمَقْصَدُ الْاَوَّلْ،بَابُ تَشْرِيْفِ اللهِ تَعَالٰی، ص: ۴۸)

يَامْ لَرَنَهْ: دغه حَدِيْثْ اِمَامِ قَسْطَلَانِيْ مُتَوَفّٰی ۹۲۳ هِجْرِیْ په خپل کِتَابْ اَلْمَوَاهِبُ اللَّدُنِيَّةْ کي ذِکْرْ کړئ دئ، لېکن دغه حَدِيْثْ زَهْ د اِسْتِدْلَالْ په تُوګه نه سَم وُړَاندِي کولائي، ځکه چي مَا دغه اِلْتِزَامْ کړئ دئ چي د تَبْعِ تَابِعِيْنُ د زَمَانِي د کِتَابُوْ څخه حَدِيْثْ اَخلَم، يا د صِحَاحِ سِتَّهْ يا د هغوي د اُسْتَاذَانُوْ د کِتَابُوْ څخه حَدِيْثْ اَخلَم، ځکه چي هغه اَصْلْ دي، او قَسْطَلَانِيْ خو ډېر وروستَه دئ، او د تَابِعِيْ او تَبْعِ تَابِعِيْ د زَمَانِي په کِتَابُوْ کي دغه حَدِيْثْ نَستَه،نو ځکه دهغه وُړَاندِي کول مُشْکِلْ دئ، هسي خو هم دا د اِعْتِقَادْ مَسْئَلَهْ ده، او دغه حَدِيْثْ د ۱۲ آيَتُوْ او ۳ حَدِيْثُوْ سره تَکَرْ (تَضَادْ) دئ، نو ځکه دغه حَدِيْثْ په دَلِيْلْ کي وُړَاندِي کول بِنَهْ خَبَرَهْ نَه ده .

بَلْ طَرَفْ ته ددې په خِلَافْ په بَل حَدِيْثْ کي راغلي دي چي اَللّٰهْ تَعَالٰي تر ټولو مَخکِي قَلَمْ پيدَا کړئ دئ، لِهٰذَا قَدْ خُلِقَ قَبْلَ الْاَشْيَآءِ نُوْرُ نَبِيِّكَ مِنْ نُوْرِه□ حَدِيْثْ څنګه اَخستَلائي سو؟

حَدِيْثْ دادئ

۷: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بن سُلَيْم ..... لَقِيْتُ الْوَلِيْدَ بن عِبَادَةَ بن الصَّامِتِ فَقَالَ حَدَّثَنِیْ اَبِیْ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) يَقُوْلُ اِنَّ اَوَّلَ مَاخَلَقَ اللهُ الْقَلَمَ فَقَالَ لَهُ اُكْتُبْ فَجَرٰی بِمَا هُوَ كَائِنٌ اِلَی الْاَبَدِ .

(تِرْمِذِیْ شَرِيْفْ،کِتَابُ تَفْسِيْرِ الْقُرْاٰنْ،بَابُ وَمِنْ سُوْرَةِ نُوْنْ وَالْقَلَمْ،ص: ۷۵۷، نَمْبَرْ ۳۳۱۹)

تَرْجَمَهْ:- مَا د حُضُورِ پَاک څخه اَوريدَلِي دي، وفرمائل اَللّٰهْ تر ټولو مَخکِي قَلَمْ پيدَا کئ، بيايې و قَلَمْ ته وويل چي وَلِيکه، نو تر قِيَامَتّْ پُوري چي څومره خَبَرِيْ کېدلې ټولي يې وَلِيکلې .

ددغه آيَتْ څخه هم اِشَارَةً بنکاره کېږي چي تر ټولو مَخکِي قَلَمْ پيدَا سوئ دئ

۲۷: نٓ وَالْقَلَمِ وَمَايَسْطُرُوْنَ . (آيَتْ ۱،سُوْرَةُ الْقَلَمْ ۶۸) .

تَرْجَمَهْ:- نٓ . (اِئ پيْغَمْبَرَهْ!) په قَلَمْ دي مِي قَسَمْ وي، او په هغه شي چي هغه (فَرِشْتي) يې ليکي .

د تېر حَدِيْثْ څخه صَرَاحَةً او ددغه آيَتْ څخه اِشَارَةً دا بنکاره کېږي چي تر ټولو مَخکي قَلَمْ پيدَا کئ، نو ځکه دغه د هغه حَدِيْثْ يعني ,, نُوْرُ نَبِيِّكَ ,, څخه خِلَافْ دئ .

په **۱۲ آيَتُوْ** او **۳ حَدِيْثُوْ** کې په ښو ښو کرَتّه وَفَرمَائِل چي حُضُور (ﷺ) **بَشَرْ** وُو، نو اُوس د **نُوْرْ** د ثَابِتَوُلُو لپاره **بَايَدْ** کُوم **آيَتْ** وي يـا **مَضْبُوْطَ حَدِيْثْ** وي، چي په هغه کې په **صَرَاحَتْ** سره دا **بَيَانْ** کړئ وي چي حُضُور (ﷺ) **نُوْرْ** وُو، نو بيا به **نُوْرْ** ثَابِتيږي، د **مَوْضُوْعِيْ حَدِيْثْ** څخه يـا د کُوم **تَفْسِيْرْ** کـونکي د **مُبْهَمْ خَبَرِيْ** څخه **نُوْرْ** نَه سي ثَابِتېدَلائي، ځکه چي دا خو د عَقِيدي **مَسْئَلَهْ** ده . **مَا اَصْلِيْ تَحْقِيْقْ** وُړَاندِي کړئ. تاسو په خپله **غَوْرْ** وکئ .
**وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابْ** .

# حُضُور (ﷺ) په خپله فرمائلي دي چي مَا ته ډېره لُوېي مَه راکوئ

**عِيْسَايَانُوْ** و حضرت **عِيْسٰي عَلَيْهِ السَّلَامْ** تـه تـر خپل **مَقَامْ** او مَرتبې **زِيَاتَـهْ** لُوېي ورکړه، **آنْ** تر دې چي ده ته يې د **اَللّٰهْ** زُوئ وويل، او دغه ټول څـه يـې دده د **تَعْظِيْمْ** لپاره وکړل، لېکن دغه **صَحِيْحْ خَبَرَهْ** او **صَحِيْحْ** کـار نَـه وُو، پـه دغه **وَجْهَ** په **قُرْآنْ** کي **مَنْعْ** کړې ده چي د **نَبِيْ** هغونَه **تَعْظِيْمْ** وکئ ځومره چـي د ده **حَقْ** دئ، تر هغه **زِيَاتْ** کول **غُلْوَ** ده، چي **سَمْ صَحِيْحْ** کار نَه دئ .
په دغه **وَجْهَ** حُضُور (ﷺ) و خپل **اُمَّتْ** ته دا **تَعْلِيْمْ** ورکړئ دئ چي **زِمَا** په اړه هم **غُلْوَ** مَه کوئ، **لِهٰذَا** که چيري حُضُور **بَشَرْ** دئ نو بيـا دئ **بَشَرْ** مَنَـل **اَصْلْ** او **بِنَهْ** کار دئ، او په دغه کي دده **تَعْظِيْمْ** دئ. ددې لپاره **حَدِيْثْ** دادئ

**۸: سُمِعَ عُمَرُ يَقُوْلُ عَلَى الْمَنْبَرِ سَمِعْتُ النَّبِيَّ (ﷺ) يَقُوْلُ لَاتَطْرُوْنِيْ كَمَا اَطْرَتِ النَّصَارٰى اِبْنَ مَرْيَمَ فَاِنَّمَا اَنَا عَبْدُهُ فَقُوْلُوْا عَبْدَ اللّٰهِ وَ رَسُوْلَهُ** .
**(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،اَحَادِيْثُ الْاَنْبِيَاءِ،بَابُ قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى [وَاذْكُرْ فِى الْكِتٰبِ مَرْيَمَ اِذِ انْتَبَذَتْ مِنْ اَهْلِهَا، سُوْرَةُ مَرْيَمْ: آيَتْ ۱۶] ص: ۵۸۰، نَمْبَرْ ۳۴۴۵)**
**تَرْجَمَهْ**:- حُضُور فرمائي لکه څنګه چي **نَصَارٰي** حضرت **عِيْسٰي عَلَيْهِ السَّلَامْ** تـر خپلـه **مَرْتَبَهْ زِيَاتْ بَيَانْ** کئ، تاسو هم **مَا** تر خپله **مَرْتَبَهْ زِيَاتْ** مَه بَيَانَوئ، **زَهْ** خو صِـرف د **اَللّٰهْ بَنْدَهْ** يم، **لِهٰذَا مَا** ته د **اَللّٰهْ بَنْدَهْ** او **رَسُوْلْ** وَايَاست .
په دغه **حَدِيْثْ** کي دئ لکه څنګه چي **نَصَارٰي** حضرت **عِيْسٰي عَلَيْهِ السَّلَامْ** تر خپله **مَرْتَبَهْ** ډېر لُوړ کړئ وُو، تاسو هم **مَا** دُومرَه مَه لُوړوئ .

**۲۸: لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ وَ لَا تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ**ط . **(آيَتْ ۱۷۱،سُوْرَةُ النِّسَآءْ ۴)** .
**تَرْجَمَهْ**:- ائ **اَهْلِ كِتَابُوْ!** په خپل **دِيْنْ** کي تر **حَدْ** مَه تېرېږئ، او د **اَللّٰهْ** په اړه د **حَقْ** بغيره بله **خَبَرَهْ** مَه کوئ .

**۲۹: قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لَاتَغْلُوْا فِىْ دِيْنِكُمْ غَيْرَ الْحَقِّ** . (آيَتْ ۷۷،سُوْرَةُ الْمَآئِدَةْ ۵) .
**تَرْجَمَهْ**:- ائ **اَهْلِ كِتَابُوْ!** په خپل **دِيْنْ** کي **نَاحَقَّهْ غُلُوَ (زِيَاتُوْبْ)** مَه کوئ .

ددغه عَقِيدي په اړه **۲۹ آيَتُوْنَهْ** او **۸ حَدِيْثُوْنَهْ** دي تاسو د هر يوه **تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ** کړئ .

## ۷: حُضُور (ﷺ) په قَبْرْ کي ژُوَندَئ دئ
## او دغه ژُوَنْدْ د دُنْيَا د ژُوَنْدْ څخه هم اَعْلٰي دئ
## د حُضُور بَدَنْ مُبَارَکْ په قَبْرْ کي بِالْکُلْ مَحْفُوْظْ دئ

ددغه عَقِيدي په اړه **۱۱ آيَتُوْنَهْ** او **۲۰ حَدِيْثُوْنَهْ** دي تاسو د هر يوه **تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ** کړئ .

حُضُور (ﷺ) په **قَبْرْ** کي ژُوَندَئ دئ، **دَلِيْلْ** يې دغه **حَدِيْثُوْنَهْ** دي

**۱: عَنْ اَبِىْ دَرْدَاءَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اَكْثِرُوْا الصَّلَاةَ عَلَىَّ يَوْمَ الْجُمْعَةِ فَاِنَّهُ مَشْهُوْدٌ تُشْهِدُهُ الْمَلَائِكَةُ وَ اِنَّ اَحَدًا لَّنْ يُّصَلِّى عَلَىَّ اِلَّا عُرِضَتْ عَلَىَّ صَلَاتُهُ حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْهَا قَالَ قُلْتُ بَعْدَ الْمَوْتِ؟ قَالَ وَبَعْدَ الْمَوْتِ، اِنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلَى الْاَرْضِ اَنْ تَأْكُلَ اَجْسَادَ الْاَنْبِيَآءِ. فَنَبِىُّ اللهِ حَىٌّ يُرْزَقُ** .
(**اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ،بَابُ ذِكْرِ وَفَاتِهِ وَدَفْنِهِ** (ﷺ)،**ص**: **۲۳۴**، **نَمْبَرْ ۱۶۳۷**)

**تَرْجَمَهْ**:- **حُضُوْر پَاکْ** (ﷺ) وفرمائل د **جُمْعي** په **وُرَځْ** پر **مَا** باندي ډېر **دُرُوْدْ** وَايَاست، ځکه چي د **جُمْعي وُرَځْ** د حَاضِرېدُو **وُرَځْ** ده، په دغه **وُرَځْ** فَرِشتې حَاضرېږي، چي هر څوک **دُرُوْدْ** وَائي هغه پر **مَا** باندي په دغه **وُرَځْ** ضرور وُړَاندې کيږي، تر څو چي هغه د **دُرُوْدْ شَرِيْفْ** څخه **فَارِغْ** سوئ نَه وي، **مَا** ورته وويل چي ستا د مرګ وروسته هم پر **تَا** باندي **دُرُوْدْ شَرِيْفْ** وُړَاندي کيږي؟ حُضُور وفرمائل چي **هُوْ!** د مرګ وروسته هم **دُرُوْدْ** وُړَاندي کيږي، **اَللهْ تَعَالٰي** پر مځکه باندي دا **حَرَامْ** کړئ دئ چي مځکه د **نَبِيَانُوْ بَدَنُوْنَهْ** وَخُوري، د **اَللهْ نَبِيَانْ** ژُوَندِي وي، او هغوي ته **رُوْزِيْ (رِزْقْ)** ورکول کيږي .

په دغه حَدِيْثْ کي درې خَبَرِيْ دي، اَوَّلَـهْ خَبَرَهْ خو دا چي خَاوْرِيْ د نَبِيَانُوْ بَدَنُوْنَهْ نَه خُورِي، دُوَهَمَّهْ خَبَرَهْ دا چي نَبِيْ عَلَيْهِ السَّلَامْ په قَبْرْ کي ژُوندئ دئ، او هغه ته رِزْقْ وَرکوَل کيږي، او دَرِيَمَهْ خَبَرَهْ دا چي پر حُضُور صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ باندي سَلَامْ وُړانِدي کيږي .

۲: عَنْ اَوْسِ بنِ اَوْسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) ..... فَاِنَّ صَلَاتَکُمْ مَعْرُوْضَةٌ عَلَيَّ، قَالَ فَقَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! وَکَيْفَ تُعْرَضُ صَلَاتُنَا عَلَيْكَ وَقَدْ اَرَمْتَّ؟ قَالَ يَقُوْلُوْنَ بَلَيْتَ. قَالَ اِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ عَلَی الْاَرْضِ اَجْسَادَ الْاَنْبِيَاءِ (ﷺ) .
(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ،بَابٌ فِی الْاِسْتِغْفَارْ،ص: ۲۲۶، نَمْبَرْ ۱۵۳۱ / اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ،بَابٌ فِی فَضْلِ الْجُمْعَةِ،ص: ۱۵۲، نَمْبَرْ ۱۰۸۵)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرِ پَاکْ (ﷺ) وفرمائل ستاسو دُرُوْدْ پر مَا باندي وُړانِدي کيږي، خلگو پُوْښْتَنَهْ وکړه چي زُمونږ دُرُوْدْ پر تَا باندي څنګه وُړانِدي کيږي؟ تَهْ خو به زُوْړْ (بُوْسِيْدَهْ) سوئ يې! شَايَدْ رَاوِيْ د ,, اَرَمْتَّ ,, پر ځائ د ,, بَلَيْتَ ,, لَفْظْ اِسْتِعْمَالْ کړئ دئ، حُضُور وفرمائل چي اَللّٰهْ پر مځکه باندي د نَبِيَانُوْ بَدَنُوْنَهْ حَرَامْ کړي دي چي هغه دي وَخُورِي.
په دغه حَدِيْثْ کي دُوې خَبَرِيْ بَيَانْ سوي دي، اَوَّلَـهْ خَبَرَهْ دا چي پر اَنْبِيَاءُ باندي د اُمَّتِيَانُوْ دُرُوْدْ وُړانِدي کيږي، دُوَهَمَّهْ خَبَرَهْ داده چي مځکه د اَنْبِيَاءُ بَدَنُوْنَهْ نَه خُورِي، پر مځکه يې دهغه خُوَرَکْ حَرَامْ کړئ دئ .

۳: عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ (ﷺ) قَالَ مَنْ صَلّٰی عَلَيَّ عِنْدَ قَبْرِیْ سَمِعْتُهُ وَمَنْ صَلّٰی عَلَيَّ نَائِيًا اُبْلِغْتُهُ .
(بَيْهَقِیْ فِیْ شُعَبِ الْاِيْمَانِ،بَابٌ فِی تَعْظِيْمِ النَّبِيِّ (ﷺ) وَ اِجْلَالِهِ وَتَوْقِيْرِهِ، ج:۲، ص: ۲۱۸، نَمْبَرْ ۵۱۸۳)
تَرْجَمَهْ:- د حُضُوْرِ پَاکْ (ﷺ) څخه رِوَايَتْ دئ چي څوک زَمَا د قَبْرْ سره دُرُوْدْ شَرِيْفْ ووائي نو زَهْ هغه اَورَم، او چي څوک د لِيرِي څخه دُرُوْدْ رَا اَستَوِي، مَا ته هغه دُرُوْدْ رَارَسَوَل کيږي .
په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي که يَو څوک زَمَا و قَبْرْ ته نِژدې دُرُوْدْ رَاوَاستَوِي نو زَهْ هغه اَورَم، او که د لِيرِي څخه دُرُوْدْ رَاوَاستَوِي نو مَا ته رَارَسَوَل کيږي .

۴: قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) حَيَاتِیْ خَيْرٌ لَّکُمْ تُحَدِّثُوْنَ وَنُحَدِّثُ لَکُمْ، وَوَفَاتِیْ خَيْرٌ لَّکُمْ تُعْرَضُ عَلَيَّ اَعْمَالُکُمْ فَمَا رَأَيْتُ خَيْرًا حَمِدْتُّ اللّٰهَ وَمَا رَأَيْتُ مِنْ شَرٍّ اِسْتَغْفَرْتُ اللّٰهَ لَکُمْ . (مُسْنَدُ الْبَزَّارْ،بَابُ زَاذَانِ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ، ج:۵، ص: ۳۰۸)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرِ پَاکْ (ﷺ) وفرمائل چي زَمَا ژُوَنْدُوْنْ ستاسو لپاره بِهْتَرْ دئ، چي تاسو خَبَرِيْ کوئ او زَهْ ستاسو سره خَبَرِيْ کوم، او زَمَا وَفَاتْ (مرگ) ستاسو لپاره بِهْتَرْ دئ، چي ستاسو اَعْمَالْ پر مَا باندي وُړاندِي کيږي، چي کله زَهْ په هغه کي کُومه ښَهْ خَبَرَهْ وَوِينَم نو د اَللّٰهْ شُکْرْ اداء کوم، او چي کله بَدَّهْ خَبَرَهْ وَوِينَم نو زَهْ ستاسو لپاره اِسْتِغْفَارْ کوم .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي چي حُضُور (ﷺ) په قَبْرْ کي ژُوَندَئ دئ او دده په مَخکي د اُمَّتْ اَعْمَالْ وُړاندِي کيږي. او دا هم ځِينِي مَعْلُوْمْ سو چي حُضُور (ﷺ) حَاضِرْ نَاظِرْ نَه دئ که نَه نو د اَعْمَالُوْ د وُړاندِي کولو څَه ضرورت دئ ؟

په دغه حَدِيْثْ کي دا هم دئ چي مَا ته د خلکو سَلَامْ رَارَسَوَل کيږي .

**۵: عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) اِنَّ لِلّٰهِ مَلَائِکَةً سَيَّاحِيْنَ فِی الْاَرْضِ يُبَلِّغُوْنِیْ مِنْ اُمَّتِیْ السَّلَامَ .**

(نَسَائِیْ شَرِيْفْ،کِتَابُ السَّهْوَ،بَابُ التَّسْلِيْمِ عَلَی النَّبِیِّ (ﷺ)، ص:۱۷۹، نَمْبَرْ: ۱۲۸۳)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرِ پَاکْ (ﷺ) وفرمائل چي په مځکه کي سَيَاحَتْ کونکي (گرزېدونکي) فَرِشْتِي سته چي زَمَا د اُمَّتْ سَلَامْ مَا ته رَارَسَوِي .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي د سَلَامْ د جَوَابْ ورکولو لپاره يې ژُوَندِي کوي

**۶: عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ (ﷺ) قَالَ مَا مِنْ اَحَدٍ يُسَلِّمُ عَلَیَّ اِلَّا رَدَّ اللّٰهُ عَلَیَّ رُوْحِیْ حَتّٰی اَرُدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ .** (اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ،بَابُ زِيَارَةِ الْقُبُوْرْ، ص:۲۹۵، نَمْبَرْ: ۲۰۴۱)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرِ پَاکْ (ﷺ) وفرمائل چي کله يَو څوک مَا ته سَلَامْ کوي نو اَللّٰهْ پر مَا باندي زَمَا رُوْحْ رَاوَاپَس کوي چي زَهْ دهغه د سَلَامْ جَوَابْ ورکم .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي مَا ژُوَندَئ کوي .

**۷: عَنْ اَنَسِ بن مَالِكٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ (ﷺ) قَالَ اَتَيْتُ وَفِیْ رِوَايَةِ هَدَابٍ. مَرَرْتُ. عَلٰی مُوْسٰی لَيْلَةَ اُسْرِیَ بِیْ عِنْدَ الْکَثِيْبِ الْاَحْمَرِ. وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّیْ فِی الْقَبْرِ .**

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،بَابُ مِنْ فَضْلِ مُوْسٰی عَلَيْهِ السَّلَامُ، ص:۱۰۴۴، نَمْبَرْ: ۲۳۷۵ / ۶۱۵۷)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرِ پَاکْ (ﷺ) وفرمائل چي زَهْ راغلم، او د حضرت هَدَابْ په رِوَايَتْ کي دئ چي، د مِعْرَاجْ په شپه زَهْ کَثِيْبِ اَحْمَرْ ته نِژدې د حضرت مُوْسٰی عَلَيْهِ السَّلَامْ د قَبْرْ سره رَاتېر سوم، نو چي وَمِي کتل ده په خپل قَبْرْ کي په وَلَاړِي لُمُوْنْځ کاوئ .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي حضرت مُوْسٰي عَلَيْهِ السَّلَامْ په خپل قَبْرْ کي لُمُوْنَځْ اَدَاءْ کوئ .

## شَهِيْدَانْ ژُوَندِي دي نو د نَبِيْ مَرْتَبَهْ تر هغوي لُوَړه ده لِهٰذَا هغه هم ژُوَندِي دي

١: وَلَاتَقُوْلُوْا لِمَنْ يُّقْتَلُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ اَمْوَاتٌ. بَلْ اَحْيَآءٌ وَّلٰكِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ . (آيَتْ ١٥٤،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ٢) .

تَرْجَمَهْ:- کُوم چي د اَللهْ په لَارَهْ کي قَتْلْ سوي وي هغوي ته مَړي مَه وَايَاسدت، بلکه هغه ژُوَندِي دي، لېکن تاسو ته د هغوي د ژُوَنْدْ اِحْسَاسْ نَه کېږي .

په دغه آيَتْ کي دا هم دئ چي شَهِيْدَانْ ژُوَندِي خو دي، لېکن دا چي د دُوي ځنګه ژُوَنْدُوْنْ دئ؟ ددغه تاسو شُعُوْرْ نَه سئ کولائي، ددې ځخه مَعْلُوْمْ سو چي دا حَيَاتِ بَرْزَخِيْ ده .

د قَبْرْ د ژُوَنْدُوْنْ خو مُوږ شُعُوْرْ نَه لرو لِهٰذَا دهغه په اړه ډېر تَحْقِيْقْ او پَلْتَنَهْ کول په کار نَه ده .

٢: وَلَاتَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ اَمْوَاتًا ط بَلْ اَحْيَآءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ لا فَرِحِيْنَ بِمَآ اٰتٰهُمُ اللهُ مِنْ فَضْلِه لا وَيَسْتَبْشِرُوْنَ بِالَّذِيْنَ لَمْ يَلْحَقُوْا بِهِمْ مِّنْ خَلْفِهِمْ لا اَ لَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَاهُمْ يَحْزَنُوْنَ م يَسْتَبْشِرُوْنَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللهِ وَفَضْلٍ لا وَّ اَنَّ اللهَ لَايُضِيْعُ اَجْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ ع (آيَتْ ١٦٩،سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانَ ٣) .

تَرْجَمَهْ:- او (ائ پيغَمْبَرَهْ!) کُوم خلک چي د اَللهْ په لَارَهْ کي وَژَلْ سوي دي، هغه هيڅ کله مَړَهْ مَه ګڼه، بلکه هغه ژُوَنْدِيْ دي، هغوي ته د خپل رَبْ لطرف ځخه رِزْقْ ملاوېږي اَللهْ چي په خپل فَضْلْ سره دُوي ته ځَه ورکړي دي، دُوي په هغه کي بُخْتْ (خُوشْحَالْ) دي، او د دُوي وروسته چي کُوم خلک تر اُوْسَهْ پوري د دُوي سره (په شَهَادَتْ کي) نَه دي شَامِلْ سوي، دهغوي په اړه پر دې خَبَرَهْ هم خُوشْحَالِيْ جوړوي چي (کله هغه د دُوي سره راسي ملاؤ سي نو) نَه به پر دُوي ځَه بېره وي، او نَه به دُوي غَمْګِيْنْ وي دُوي د اَللهْ پر نِعْمَتْ او فَضْلْ هم خُوشْحَالِيْ جوړوي او پر دې خَبَرَهْ هم چي اَللهْ د مُؤْمِنَانُوْ اَجْرْ نَه ضَائِعْ کوي

په دغه آيَتْ کي دئ چي شَهِيْدَانْ ژُوَندِي دي او رِزْقْ وَرکوَل کېږي، نو نَبِيَانْ خو به په طَرِيْقَهْ اَوْلٰي سره په قَبْرُوْ کي ژُوَندِي وي، او رِزْقْ به وَرکوَل کېږي .

**۸: عَنْ مَسْرُوْقٍ قَالَ سَاَ لْنَا عَبْدَاللهِ هُوَ اِبْنُ مَسْعُوْدٍ عَنْ هٰذِهِ الْاٰيَةِ [وَلَاتَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ اَمْوَاتًا ط بَلْ اَحْيَآءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ] (اَيَتْ ۱۶۹،سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانَ ۳) قَالَ اَمَّا اَنَا قَدْ سَاَ لْنَا عَنْ ذٰلِكَ فَقَالَ اَرْوَاحُهُمْ فِيْ جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ لَهَا قَنَادِيْلُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ تُسْرِحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شَاءَتْ ثُمَّ تَاْوِيْ اِلٰى تِلْكَ الْقَنَادِيْلِ .**

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْاَمَارَةِ،بَابُ بَيَانِ اَنَّ اَرْوَاحَ الشُّهَدَاءِ فِى الْجَنَّةِ وَ اَنَّهُمْ اَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ، ص:۸۴۵، نَمْبَرْ: ۱۸۸۷ / ۴۸۸۵)

**تَرْجَمَهْ:-** حَضْرَتْ مَسْرُوْقْ فرمائي چي مَا د حضرت عَبْدُ اللّٰهْ بِنْ مَسْعُوْدْ څخه ددغه آيَتْ په اړه پُوْښْتَنَهْ وکړه (چي کُوم خلک د اَللّٰهْ په لَارَهْ کي قَتْلْ سي هغه مړي مه ګڼئ، بلکه هغه ژُوندِي دي دخپل رَبْ لَطَرَفْ څخه رُوْزِيْ وَرکول کيږي)، حضرت عَبْدُ اللّٰهْ بِنْ مَسْعُوْدْ وفرمائل چي مَا ددغه آيَتْ په اړه د حُضُور څخه پُوْښْتَنَهْ کړې وه، نو حُضُور فرمائلي وُو چي د شَهِيْدَانُوْ اَرْوَحَانْ د زَرْغُوْنْ رَنګه مَرْغَانُوْ په نَسُوْ (يا جُوْجُوْرُوْ) کي وي، تر عَرْشْ کښتّه دهغوي قَنْدِيْلَانْ ځړيږي، هغه په جَنَّتْ کي چي چيري وَغُوَاړي هلته ځِي رَاځِي، بيا هغه قَنْدِيْلَانُوْ ته بېرته رَاسِي .

## د ځلورو شِيَانُوْ په اِعْتِبَارْ سره حُضُور (ﷺ) په دُنْيَا کي هم ژُوَندَئ دئ

پر رَسُوْلُ اللّٰهْ (ﷺ) باندي ظَاهِرِيْ مرګ وَاقِعْ سوئ دئ، اَلْبَتَّهْ په بَرْزَخْ کي دئ ژُوَندَئ دئ، چي په هغه کي و نَبِيْ ته رُوْزِيْ ورکول کيږي، لېکن په ځُرُو شِيَانُوْ کي نَبِيْ په دُنْيَا کي هم ژُوَندَئ ګڼل کيږي

(۱) دده د بِيْ بِيْ نِکَاحْ نَه سي کېدلائي، ځکه چي نَبِيْ اُوس هم ژُوَندَئ دئ .

(۲) دده مَالْ مِيْرَاثْ به نَه تَقْسِيْمْ کيږي .

(۳) خَاوْرِي دده بَدَنْ نَه خُوري .

(۴) او بَل دا هم چي د حُضُور(ﷺ) ژُوَنْدْ دُومره قَوِيْ دئ چي دده بَعْدْ هم اُوس بَل نَبِي نَه سي رَاتلائي، دئ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنْ دئ .

## عَامْ اِنْسَانَانْ هم په قَبْرُوْ کي رَاژُوَنْدِيْ کوي

عَامْ اِنْسَانَانْ هم په قَبْرُوْ کي ژُوَنْدِيْ دي، او دغه د بَرْزَخْ ژُوَنْدْ دئ، په هغه کي دُوي ته عَذَابْ يا ثَوَابْ هم رسيږي، اَلْبَتَّهْ په عَامَّهْ خلکو کي او په نَبِيَانُوْ

او شَهِيْدَانُوْ كي دا فَرْقْ دئ چي د عَامَّهْ خلكو بَدَنُوْنَهْ خاوړي كيږي، او شړيږي خَرَابيږي، او د نبيانُوْ او شَهِيْدَانُوْ بَدَنُوْنَهْ په مځكه كي هغه رنګه پاته وي، لكه څنګه چي د دَفَنْ (ښخولو) پر وَخْتْ وُو، هغوي ته خُوَرَاكْ او چِيْښَاكْ وَركول كيږي، او د دُوي ژُوَنْدْ د دُنْيَا تر ژُوَنْدْ ډېر اَعْلٰى دئ .
لېكن خو په آيَتْ كي دئ چي وَلٰكِنْ لَاتَشْعُرُوْنَ . (آيَتْ ۱۵۴، سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲) چي تاسو ته د هغه شُعُوْرْ نَستَه، نو ځكه په دغه اړه ډېر بَحْثْ او پَلْټَنَهْ كول په كار نَه ده، بَس په آيَتْ او حَدِيْثْ كي چي څومره راغلي دي پر هغه باندي اِكْتِفَاءْ كول په كار ده .
عَامَّهْ خلګ هم په قَبْرُوْ كي ژُوَندِي كيږي دهغه لپاره دَلِيْلْ دا حَدِيْثُوْنَهْ دي

۹: عَنْ اَبِىْ اَيُّوْبَ قَالَ خَرَجَ النَّبِىُّ (ﷺ) وَقَدْ وَجَبَتِ الشَّمْسُ،فَسَمِعَ صَوْتًا فَقَالَ يَهُوْدُ يُعَذَّبُ فِىْ قُبُوْرِهَا .
(بُخَارِىْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْجَنَائِزْ،بَابُ التَّعَوُّذْ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرْ، ص:۲۲۰، نَمْبَرْ: ۱۳۷۵)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْر پَاكْ (ﷺ) د لُمَرْ د پرېوتو پر وَخْتْ رَاووَاتئ چي يو اَوَازْ يې وَاورېدئ، نو حُضُور وفرمائل چي و يَهُوْدُوْ ته په قَبْرْ كي عَذَابْ وَركول كيږي .
په دغه حَدِيْثْ كي دئ چي و يَهُوْدُوْ ته په قَبْرْ كي عَذَابْ وَركول كيږي، ددې څخه مَعْلُوْمْ سو چي دغه د بَرْزَخْ ژُوَنْدْ دئ .

۱۰: حَدَّثَتْنِىْ اِبْنَةُ خَالِدِ بن سَعِيْدِ اِبْنِ الْعَاصِ اَنَّهَا سَمِعَتْ النَّبِىَّ (ﷺ) وَهُوَ يَتَعَوَّذُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ .
(بُخَارِىْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْجَنَائِزْ،بَابُ التَّعَوُّذْ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرْ، ص:۲۲۱، نَمْبَرْ: ۱۳۷۶)
تَرْجَمَهْ:- خَالِدْ بن سَعِيْدْ فرمائي چي مَا د حُضُوْر پَاكْ (ﷺ) دغه وَيْنَا اَورېدلې ده، چي ده د قَبْرْ د عَذَابْ څخه پَنَاهْ غُوَښتَه .
په دغه حَدِيْثْ كي دئ چي حُضُور د قَبْرْ د عَذَابْ څخه پَنَاهْ غُوَښتَه، ددې څخه مَعْلُوْمْ سو چي دغه د بَرْزَخْ ژُوَنْدْ دئ .

## په قَبْرْ كي و رُوْحْ او بَدَنْ دواړو ته عَذَابْ يا ثَوَابْ وي

ددې لپاره حَدِيْثُوْنَهْ دادي

۱۱: عَنِ الْبَرَاءَ بن عَاذِبِ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِىِّ (ﷺ) فِىْ جِنَازَةٍ ..... قَالَ فَتُعَادُ رُوْحُهُ فِىْ جَسَدِهِ، فَيَاْتِيْهِ مَلَكَانِ فَيُجْلِسَانِهِ فَيَقُوْلَانِ لَهُ مَنْ رَّبُّكَ؟ فَيَقُوْلُ رَبِّىَ اللهُ ..... تُعَادُ رُوْحُهُ وَيَاْتِيْهِ مَلَكَانِ فَيُجْلِسَانِهِ فَيَقُوْلَانِ مَنْ رَّبُّكَ؟ فَيَقُوْلُ هَا هَا لَا اَدْرِىْ . (مُسْنَدِ اَحْمَدْ، حَدِيْثُ الْبَرَاءِ بن عَاذِبِ، ج:۵، ، ص:۳۶۴،

نَمْبَرْ: ۱۸۰۶۳ / اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ،بَابُ الْمَسْئَلَةِ فِي الْقَبْرِ وَعَذَابُ الْقَبْرِ، ص:۶۷۲، نَمْبَرْ: ۴۷۵۳)

تَرْجَمَهْ:- حَضْرَتْ بَرَاءْ بن عَاذِبْ فرمائي چي مُوږ د حُضُوْر پَاكْ (ﷺ) سره په يَوه جَنَازَهْ كي رَاوَوَتلُو ..... حُضُور وَفرمَائِل چي د مړي و بَدَنْ ته رُوْحْ رَاوَاپِس كيږي، بيا هغه ته دُوه فَرِشْتِي رَاځِي، هغه دُوارِه فَرِشْتِي مړئ رَاكښېنوِي، او پُوښْتَنَهْ ځِيني كوي چي ستا رَبْ څوک دئ؟ هغه وائي چي زَمَا رَبْ اَللّٰهْ دئ ..... د مړي رُوْحْ رَاوَاپَس كيږي، هغه ته دُوه فَرِشْتِي رَاځِي، او هغه رَاكښېنوِي، بيا پُوښْتَنَهْ ځِيني كوي چي ستا رَبْ څوک دئ؟ مړئ وائي هَائِ هَائِ مَا ته هيڅ شَئ نه دئ مَعْلُوْمْ .

په دغه حَدِيْثْ كي دئ چي په قَبْرْ كي د هر اِنْسَانْ رُوْحْ دهغه وَ بَدَنْ ته رَاوَاپَس كيږي، او فَرِشْتِي دهغه څخه سُوَالْ كوي، ددغه حَدِيْثْ څخه دا هم مَعْلُوْمْ سو چي و بَدَنْ او رُوْحْ دواړو ته عَذَابْ يا ثَوَبْ مِلاوئيږي، تَنْهَا و رُوْحْ ته يا تَنْهَا و بَدَنْ ته نه .

**۱۲: عَنْ عَبْدِ اللهِ بن عُمَرَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) قَالَ اِنَّ اَحَدَكُمْ اِذَا مَاتَ عُرِضَ عَلَيْهِ مَقْعَدُهُ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ اِنْ كَانَ مِنْ اَهْلِ الْجَنَّةِ فَمِنْ اَهْلِ الْجَنَّةِ وَاِنْ كَانَ مِنْ اَهْلِ النَّارِ فَمِنْ اَهْلِ النَّارِ فَيُقَالُ هٰذَا مَقْعَدُكَ حَتّٰى يَبْعَثَكَ اللهُ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ** . (بُخَارِيْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ الْمَيِّتِ يُعْرَضُ عَلَيْهِ مَقْعَدُهُ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ، ص:۲۲۱، نَمْبَرْ: ۱۳۷۹)

تَرْجَمَهْ:- حَضُوْرْ (ﷺ) وَ فرمائل چي په تاسو كي كله يَو څوک مړ سي نو سَهَارْ او مَابِښَامْ په جَنَّتْ كي دده د وَسېدلُو ځائ ده ته وُرَاندي كيږي، كه چيري دئ په جَنَّتِيَانُوْ كي وي نو د جَنَّتْ ځائ، او كه چيري دئ په دُوْزَخِيَانُوْ كي وي نو د دُوْزَخْ ځائ ورته وُرَاندي كيږي، او ورته ويل كيږي چي د قِيَامَتْ په وُرَځْ تر رَاپُورتَه كيدو پُوري ستا دغه ځائ دئ .

ددغه حَدِيْثْ څخه هم ثَابِتيږي چي دئ په قَبْرْ كي ژُوندَئ دئ .

**۱۳: اَنَّهُ سَمِعَ اَبَا سَعِيْدَ الْخُدْرِيِّ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اِذَا وُضِعَتِ الْجَنَازَةُ فَاحْتَمَلَهَا الرِّجَالُ عَلٰى اَعْنَاقِهِمْ فَاِنْ كَانَتْ صَالِحَةً قَالَتْ قَدِّمُوْنِيْ قَدِّمُوْنِيْ وَاِنْ كَانَتْ غَيْرُ صَالِحَةٍ قَالَتْ يَا وَيْلَهَا اَيْنَ يَذْهَبُوْنَ بِهَا؟ يَسْمَعُ صَوْتَهَا كُلُّ شَيْءٍ اِلَّا الْاِنْسَانُ وَلَوْ سَمِعَهَا الْاِنْسَانُ لَصَعِقَ** .

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ كَلَامُ الْمَيِّتِ عَلَى الْجَنَازَةِ، ص:۲۲۱، نَمْبَرْ: ۱۳۷۹)

تَرْجَمَهْ:- حَضُوْرْ (ﷺ) وَ فرمائل چي كله جَنَازَهْ اِيښوُول كيږي، او خلګ يې پر وَږُوْ باندي اَخلِي، نو كه چيري هغه بِنَهْ (مُرْدَهْ) وي نو وائي چي مَا ژَرْ يُوسئ، او كه چيري هغه گُنَاهْكَارَهْ وي نو وائي چي هَائِ اَفْسُوْسْ تاسو مَا چيري بِيَايَاسْتْ؟ دده اَوَازْ د اِنْسَانْ څخه عَلَاوَهْ ټولَ اَورِي، او كه اِنْسَانَانْ وَاوْري نو ټولَ به بېهُوښَ سي .

ددغه حَدِيْثْ څخه هم مَعلُومېږي چي عَامَّهْ اِنْسَانَانْ هم په قَبْرُوْ کي ژُوندِي کوي، او دغه د بَرْزَخْ ژُوَنْدْ دئ، د دُنْيَا ژُوَنْدْ نَه دئ .

**۱۴: سُمِعَ اَنَسُ بن مَالِكٍ يَقُوْلُ قَالَ النَّبِيُّ (ﷺ) اِنَّ اَعْمَالَكُمْ تُعْرَضُ عَلٰى اَقَارِبِكُمْ وَعَشَائِرِكُمْ مِّنَ الْاَمْوَاتِ فَاِنْ كَانَ خَيْرًا اِسْتَبْشَرُوْا بِهٖ وَاِنْ كَانَ غَيْرَ ذٰلِكَ قَالُوْا اَللّٰهُمَّ لَاتُمِتْهُمْ حَتّٰى تَهْدِيَهُمْ كَمَا هَدَيْتَنَا .**

(مُسْنَدِ اَحْمَدْ، كِتَابُ مُسْنَدُ اَنَسِ بن مَالِكٍ، ج:۳، ص:۶۴۳،نَمْبَرْ: ۱۲۲۷۲)

تَرْجَمَهْ:- حَضُوْرْ (ﷺ) وَ فرمائل چي ستاسو اَعْمَالْ ستاسو پر مړو رِشْتَهْ دَارَانُوْ باندي وړاندِي کېږي، که چيري عَمَلْ ښَهْ وي نو په هغه سره ډُوي خُوْشْحَالْ کېږي، او که چيري اَعْمَالْ ښَهْ نَه وي، نو وائي چي ایٔ اَللّٰهْ لکه څنګه چي دي مَا ته هِدَايَتْ رَاکړیٔ دئ ده ته هم د هِدَايَتْ وَرکوُلُو څخه مَخکي مَرګ مه وَرکوې .

ددغه ۱۴ حَدِيثُوْ او ۲ آيَتُوْ څخه ثَابَتْ سو چي حُضُوْرْ (ﷺ) په قَبْرْ کي ژُوَنْدَیٔ دئ. او داهم مَعْلُوْمْ سو چي دده بَدَنْ مُبَارَکْ هم مَحْفُوْظْ دئ، خَاوْرُو هغه نَه دئ خُوړَلیٔ .

## دغه د بَرْزَخْ ژُوَند دئ لېکن تر دُنْيَا ډېر اَعْلٰى دئ

دغه ته حَيَاتِ بَرْزَخِيْ يَعنِي د بَرْزَخْ ژُوَنْدْ وائي. دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي

**۳: حَتّٰى اِذَا جَآءَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُوْنِ ۝ لَعَلِّيْٓ اَعْمَلُ صَالِحًا فِيْمَا تَرَكْتُ كَلَّا ط اِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَآئِلُهَا ط وَمِنْ وَّرَآئِهِمْ بَرْزَخٌ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ۝ .**

(آيَتْ ۹۹ / ۱۰۰، سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْنْ ۲۳) .

تَرْجَمَهْ:- تر دې چي کله د ډُوي څخه يَوَه ته مرګ رَاوَرسېږي نو هغه به ووائي چي:,, زَمَا پَرْوَرْدِګَارَهْ! مَا بېرته وَاپس وَاستوَه۝ ددې لپاره چي کُومَه دُنْيَا مَا پرېښي ده، هغې ته وُلَاړْ سَم ښَهْ عَمَلْ وکړم,,. هيڅ کله نَه! دا خو بَس خَالِصْ يَوَه خَبَرَهْ ده چي دئ يې په ژَبَهْ سره کوي، او ددُوي (مُرْدَهْ ګَانُوْ) وَ مختـه د عَالَمِ بَرْزَخْ حَائِلْ (حِجَابْ) دئ، چي تر هغه وَخته به قَائِمْ وي تر څو چي ډُوي دُوَهَمْ وَارْ ژُوَندِي رَاپُورتَه کېږي .

په دغه آيَتْ کي دئ چي مَړي په بَرْزَخْ کي وي، او بَدْعَمَلْ خلک به بېرته دُنْيَا ته د رَاتلُو ګُزَارِشْ کوي لېکن ډُوي به رَاتلُو ته نَه پرېښوَل سي .

**۴: وَحَاقَ بِاٰلِ فِرْعَوْنَ سُوْٓءُ الْعَذَابِ ۝ ج اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا ج وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ قف اَدْخِلُوْٓا اٰلَ فِرْعَوْنَ اَشَدَّ الْعَذَابِ ۝ .**

(آيَتْ ۴۵ / ۴۶، سُوْرَةُ الْمُؤْمِنْ ۴۰) .

تَرْجَمَهْ:- او د فِرْعَوْنْ خلک بَدْتَرِيْنَ عَذَابْ رَاګير کړل. اُوْرْ دئ چي دهغه په مخکي به دُوي سَهَارْ او مَابَنَامْ پيشيږي، او په کُومه وُرَځْ چي قِيَامَتْ رَاسي،(هغه وُرَځْ به حُکُمْ وسي چي:) ,, د فِرْعَوْنْ خلک بَدْتَرِيْنَهْ عَذَابْ ته دَاخِلْ کئ.,,

په دغه آيَتْ کي دئ چي د عَذَابْ مَعَامَلَهْ به په عَالَمِ بَرْزَخْ کي وي، نو ځکه دغه حَيَاتِ بَرْزَخِيْ ده .

**۵: وَلَوْ تَرٰى اِذِالظّٰلِمُوْنَ فِىْ غَمَرٰتِ الْمَوْتِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَاسِطُوْٓا اَيْدِيْهِمْ ج اَخْرِجُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ط اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ بِمَا كُنْتُمْ تَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ غَيْرَ الْحَقِّ .**

(آيَتْ ۹۳، سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ۶) .

تَرْجَمَهْ:- او که چيري تاسو هغه وَخت وَوينئ (نو ډير بيرېدُونکئ مَنْظَرْ به ښکاره سي) چي ظَالِمَانْ اِنْسَانَانْ به د مَرګ په سَختَيُو کي ګرِفْتَارْ وي، او فَرِشْتُوْ خپل لَاسُوْنَهْ ځغَوَلِي، (دا وائي چي) ,, خپل اَرْوَحَانْ رَاوَبَاسَئ، نَنْ به تاسو ته د ذِلَّتْ عَذَابْ درکول کيږي،ځکه چي تاسو د دُرُوَاغْ خَبَرِيْ د اَللّٰهْ پر ذِمَّهْ اَچَوَلې .

**۶: وَمِنْ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ قف مَرَدُوْا عَلَى النِّفَاقِ قف لَا تَعْلَمُهُمْ ط نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ط سَنُعَذِّبُهُمْ مَّرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّوْنَ اِلٰى عَذَابٍ عَظِيْمٍ ج** . (آيَتْ ۱۰۱، سُوْرَةُ التَّوْبَةْ ۹) .

تَرْجَمَهْ:- او ستاسو شَاوخُوا چي کُوم اَعْرَابْ (صَحْرَايَانْ) دي، په هغوي کي هم مُنَافِقْ خلک موجود دي، او د مَدِيْنَهْ په وسېدونکو کي هم مُنَافِقِيْنْ سته، دغه خلک په مُنَافِقَتْ کي (دُومره) مَاهِرْ سوي دي (چي) تاسو ته دُوي نَه دي مَعْلُوْمْ، دُوي مُوږ ته مَعْلُوْمْ دي، دُوي ته به مُوږ دُوَه واره (په واري وَاري/ يا په قَبْرْ او آخِرَتْ کي/ يا په دُنْيَا او قَبْرْ کي) سَزَاءْ ورکړو، بيا به دُوي يو زَبَرْدَسْتْ عَذَابْ ته راؤلو .

**۷: يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِى الْاٰخِرَةِ ج وَيُضِلُّ اللّٰهُ الظّٰلِمِيْنَ قف لا وَيَفْعَلُ اللّٰهُ مَايَشَآءُ** . (آيَتْ ۲۷، سُوْرَةُ اِبْرَاهِيْمْ ۱۴) .

تَرْجَمَهْ:- کُومُو خلکو چي اِيْمَانْ رَاوړئ دئ، اَللّٰهْ هغوي ته پر دغه مَضْبُوْطَهْ خَبَرَهْ باندي په دُنْيَاوِيْ ژُوَنْدْ کي هم ټينګښت ورکوي، او په آخِرَتْ کي هم، او ظَالِمَانْ خلک اَللّٰهْ ګُمْرَاهْ کوي، او اَللّٰهْ (دخپل حِکْمَتْ مُطَابِقْ) چي څه غُوَارِي هغه کوي

**۸: اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِىْ نَعِيْمٍ ج وَّ اِنَّ الْفُجَّارَ لَفِىْ جَحِيْمٍ ج صلى** (آيَتْ ۱۳، سُوْرَةُ الْاِنْفِطَارْ ۸۲)

تَرْجَمَهْ:- يَقِيْنْ وکئ چي نيکان خلک به په غَتُّوْ نِعْمَتُوْ کي وي، او بَدْکَارَهْ خلک به ضرور په دُوْزَخْ کي وي.

ددغه ۶ آيَتُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي اِنْسَانْ په قَبْرْ کي ژُوَندئ کوي، بيا نو ده ته سَزَاءْ ورکول کيږي يا نِعْمَتْ ورکول کيږي. او د مَخکنِي ۱۴ حَدِيْثُوْ څخه يې هم دغه ثَابِتْ کړل .

## د دُنْيَا په اِعْتِبَارْ سره حُضُور (ﷺ) اِنْتِقَالْ سوئ دئ

ليکن حُضُور (ﷺ) په قَبْرْ کي د پَاکْ بَدَنْ مُبَارَکْ سره ژُوَندَئ دئ، چي د دُنْيَاوِيْ ژُوَنْدْ څخه هم اَعْلٰی دئ .

دُنْيَوِيْ اِنْتِقَالْ خو د حُضُور (ﷺ) دا سوئ دئ، دَلِيْلْ يې دادئ

۱۵: اَنَّ عَائِشَةَ اَخْبَرَتْهُ قَالَتْ اَقْبَلَ اَبُوْبَكْرٍ ..... فَقَالَ اَمَّا بَعْدُ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ يَعْبُدُ مُحَمَّدًا (ﷺ) فَاِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ مَاتَ،وَمَنْ كَانَ يَعْبُدُ اللهَ فَاِنَّ اللهَ حَيٌّ لَّايَمُوْتُ، قَالَ اللهُ تَعَالٰي (وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ ج قَدْخَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرَّسُلُ ط اَفَائِنْ مَّاتَ اَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلٰی اَعْقَابِكُمْ ط وَمَنْ يَّنْقَلِبْ عَلٰی عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَّضُرَّ اللهَ شَيْئًا ط وَسَيَجْزِی اللهُ الشّٰكِرِيْنَ ) . (آيَتْ ۱۴۴، سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳) (بُخَارِيْ شَرِيْفْ،بَابُ الدُّخُوْلِ عَلَی الْمَيِّتِ بَعْدَ الْمَوْتِ اِذَا اُدْرِجَ فِيْ اَكْفَانِهٖ، ص: ۱۹۹ ، نَمْبَرْ ۱۲۴۱ / اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ،بَابُ ذِكْرِ وَفَاتِهٖ وَ دَفْنِهٖ (ﷺ)، ص: ۲۳۲ ، نَمْبَرْ ۱۶۲۷) .

تَرْجَمَهْ:- حَضْرَتْ عَائِشَهْ فرمائي، چي حضرت اَبُوْبَكْرْ د دَباندِي څخه تَشْرِيفْ راوړئ ..... بيايي وفرمائل چي اَمَّا بَعْدُ! په تاسو کي چي څوک د مُحَمَّدْ عِبَادَتْ کوي، نو مُحَمَّدْ خو اِنْتِقَالْ سو، او څوک چي د اَللهْ عِبَادَتْ کوي، نو اَللهْ ژُوَندَئ دئ، هغه ته هيڅ کله مرګْ نَه سي رَاتلائي، بيايي آيَتْ ووايَه (او مُحَمَّدْ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ خو يَو رَسُوْلْ دئ، دده څخه مخکي ډېر رَسُوْلَانْ تېر سوي دي، که چيري دئ مَړْ سي يا وَوَژَلْ سي نو آيَا تاسو به بېرته (د اِسْلَامْ څخه) وَاپَسْ ګرزئ؟ او چي څوک بېرته وَاپَسْ وُلَاړْ سي نو هغه اَللهْ ته په هيڅ وخت هيڅ نُقْصَانْ نَه سي رسولائي، او چي کُوم شُکر ګزار بَنْدَهْ ګانْ دي اَللهْ به هغوي ته ثَوَابْ ورکړي) .

په دغه آيَتْ او حَدِيْثْ کي دئ چي حُضُوْرْ (ﷺ) وَفَاتْ (اِنْتِقَالْ) سوئ دئ. حضرت اَبُوْبَکْرْ هم په دغه اَنْدَازْ سره خلګو ته خِطَابْ وکئ .

۹: اِنَّكَ مَيِّتٌ وَّ اِنَّهُمْ مَيِّتُوْنَ (آيَتْ ۳۰،سُوْرَةُ الزُّمَرْ ۳۹) .

تَرْجَمَهْ:- اِئ پيغَمْبَرَهْ! مَرګ تَا ته هم رَاتْلُونکئ دئ، او مَرګ دُوي ته هم رَاتْلُونکئ دئ .

په دغه آيَتْ کي اَللهْ تَعَالٰي و حُضُوْرْ (ﷺ) ته فرمائي چي تَه به هم اِنْتِقَالْ سې، او هغه کافِرَانْ هم مړه کيږي .

۱۰: ثُمَّ اِنَّكُمْ بَعْدَ ذٰلِكَ لَمَيِّتُوْنَ (آيَتْ ۱۵،سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْنْ ۲۳) .

تَرْجَمَهْ:- بیا ددغه هر څَه څخه وروسته تاسو ته يَقِيْنًا مَرګ رَاتُلُونکئ دئ .

**۱۶ : عَنْ جَابرَ بن عَبْدِ اللهِ قَالَ لَمَّا مَاتَ النَّبِيُّ (ﷺ) جَآءَ اَبَابَكْرٍ مَالٌ مِنْ قِبَلِ الْعَلَاءِ الْحَضْرَمِيِّ .** (بُخَارِئ شَرِيْفْ،كِتَابُ الشَّهَادَاتْ،بَابُ ،ص: ۴۳۷، نَمبَرْ ۲۶۸۳)

تَرْجَمَهْ:- حضرت جَابِرْ بِنِ عَبْدِ اللّٰهْ فرمائي چي حُضُوْرْ وَفَاتْ سو نو د عَلَا حَضْرَمِیْ لَخُوَا څخه حضرت اَبُوْبَکْرْ ته مَالْ راغلئ .

**۱۷ : عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَاتَ النَّبِيُّ (ﷺ) اِنَّهُ لَبَيْنَ حَاقِنَتِيْ وَ ذَاقِنَتِيْ .**

(بُخَارِئ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْمَغَازِئ،بَابُ مَرَضِ النَّبِيِّ وَوَفَاتِهِ،ص: ۷۵۵، نَمْبَرْ ۴۴۴۶)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَائِشي و فرمائل چي کله حُضُوْرْ وَفَاتْ سو نو دئ (دده سَرْ مُبَارَکْ) زَمَا د زَنِيْ او د غَاړِي د هَډُوْکِيْ په مَابَيْنْ کي وُو .

په دغه دواړو حَدِيْثُوْ کي دئ چي، مَاتَ النَّبِيُّ (ﷺ) یعني حُضُوْرْ وَفَاتْ سوئ دئ .

ددغه دُوو آيَتُوْ او دُرُوْ حَدِيْثُوْ څخه ثَابِتْ سو چي په دُنْيَوِیْ اِعْتِبَارْ سره حُضُوْرْ (ﷺ) وَفَاتْ سوئ دئ ........... هسي خو هم په ظَاهِرِیْ تُوګه د حُضُوْرْ اِنْتِقَالْ سوئ دئ، په دغه وَجْهَ خو يي دئ دَفَنْ (په قَبْرْ کي يَتْ) کئ، که چيري دئ په دُنْيَا کي وائ نو دئ به يې نه وائ دَفَنْ کړئ .

## بعضو حَضَرَاتُوْ دا نَظْرِيَّهْ وړَانْدِي کړې ده چي د مُؤْمِنْ رُوْحْ په دُنْيَا کي ګرزي

د دُوي اِسْتِدْلَالْ د صَحَابِیْ ددغه قَوْلْ څخه دئ

**۱۸ : عَنْ عَبْدِ اللهِ بن عَمْرِو (اِبْنِ الْعَاصِ) قَالَ اَلدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَجَنَّةُ الْكَافِرِ، فَاِذَا مَاتَ الْمُؤْمِنُ يُخَلَّى بِه يَسْرحُ حَيْثُ شَاءَ .**

(مُصَنَّفِ اِبْنِ اَبِیْ شَيْبَةَ،بَابُ كَلَامِ عَبْدِ اللهِ بن عَمْرِو، ج: ۷، ص: ۵۷، نَمْبَرْ ۲۶۷۵)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَمْرِو بِنِ الْعَاصْ و فرمائل چي دُنْيَا د مُؤْمِنْ قَيْدْ خَانَهْ ده، او د کَافِرْ جَنَّتْ ده، چي کله مُؤْمِنْ مَړْ سي نو دئ اَزَادْ سي، او چي وَغُوَاړِي هلته ګرزي رَاګرزي .

په دغه قَوْلِ صَحَابِیْ کي دئ چي يَسْرِحُ حَيْثُ شَاءَ، چي چيري وَغُوَاړي هلته ځي رَاځِي، بَس ددغه څخه دُوي اِسْتِدْلَالْ کړئ دئ چي هغه په دُنْيَا کي هم يَوه خُوَا بَلَه خُوَا ته ځِي رَاځِي .

لېکن په دي کي درې کمزُورَئ دي .

[۱] دا د صَحَابِیْ قَوْلْ دئ، حَدِيْثْ نَه دئ، نو ځکه ددې څخه اِعْتِقَادِیْ مَسْئَلَهْ نَه سي ثَابِتېدَلائي .

[۲] په دي کي دا جُمْلَهْ راغلي ده چي اَلدُّنْيَا سِجْنُ الْمُوْمِن نو چي کله دئ آخِرَتْ ته وُلَاړْ سي نو بيا دغه قَيْدْ خَانَهْ (يعني دُنْيَا) تـه ځـوک رَاځِـي؟ لِهٰذَا د حَيْثُ شَاءَ دا مَطْلَبْ نَه دئ چي دئ په دُنْيَا کي ګرزي رَاګرزي، بلکه مَطْلَبْ يې دادئ چي دئ په جَنَّتْ کي چيري وَغُوَاړي هلته ګرزي رَاګرزي، ځکه چي په دغه قَوْلِ صَحَابِیْ کي د دُنْيَا صَرَاحَتْ نَه دئ سوئ .

[۳] په يَو بَل حَدِيْثْ کي د حضرت جَعْفَرْ شَهِيْدْ په اړه دا صَرَاحَتْ سوئ دئ چي دئ په جَنَّتْ کي چيري وَغُوَاړي وَالْوْزِیْ. په اَلْوَتَلُوْ سره ځِي. لِهٰذَ ددغه صَحَابِیْ د قَوْلْ څخه د رُوْحْ په دُنْيَا کي ګرزېدَل رَاګرزېدَل نَه سي ثَابِتېدَلائي .

چي په جَنَّتْ کي چيري وَغُوَاړي ګرزي رَاګرزي دهغه لپاره دا حَدِيْثْ دئ

۱۹: عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) رَأَيْتُ جَعْفَرًا يَطِيْرُ فِی الْجَنَّةِ مَعَ الْمَلآئِكَةِ .

(تِرْمِذِیْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْمَنَاقِبْ،بَابُ مَنَاقِب جَعْفَرَ بن اَبِیْ طَالِبِ، ص: ۸۵۵، نَمْبَرْ ۲۷۶۳)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ ﷺ وفرمائل چي مَا جَعْفَرْ وَلِيدَئ چي د فَرِشْتُوْ سره په جَنَّتْ کي اَلْوزِي .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي حضرت جَعْفَرْ په جَنَّتْ کـي چيـري وَغُوَاړي هلتـه ځِي رَاځِي، نو ځکه د حضرت عَبْدُ اللّٰهْ بِنْ عَمْرْو بِنْ الْعَاصْ د قَوْلْ مَطْلَبْ بـه هم دغه وي چي مُوْمِنْ د مرګ وروسته په جَنَّتْ کي ګرزي رَاګرزي، په دُنْيَا کي ګرزېدَل ددې څخه نَه ثَابِتېږي .

۲۰: عَنْ مَسْرُوْقٍ قَالَ سَاَ لْنَا عَبْدَ اللهِ هُوَ اِبْنُ مَسْعُوْدٍ عَنْ هٰذِهِ الْاٰيَةِ [وَلَاتَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِیْ سَبِيْلِ اللهِ اَمْوَاتًا ط بَلْ اَحْيَآءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ لا (آيَتْ ۱۶۹،سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانَ ۳) .] قَالَ اَمَّا اَنَا قَدْ سَاَ لْنَا عَنْ ذٰلِكَ

فَقَالَ اَرْوَاحُهُمْ فِيْ جَوْفِ طَيْرٍ خَضِرٍ لَهَا قَنَادِيْلُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ تُسْرِحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شَاءَتْ ثُمَّ تَاْوِيْ اِلٰى تِلْكَ الْقَنَادِيْلِ .

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْاَمَارَةْ،بَابُ بَيَانِ اَنَّ اَرْوَاحَ الشُّهَدَاءِ فِي الْجَنَّةِ وَ اَنَّهُمْ اَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ، ص: ۸۴۵، نَمْبَرْ ۱۸۸۷ / ۴۸۸۵)

تَرْجَمَهْ:- د حَضَرَتْ عَبْدُ اللهْ بنِ مَسْعُوْدْ څخه مَا ددغه آيَتْ په اړه پُوْښْتَنَهْ وکړه چي ( کُوم خلګ د اَللهْ په لَارَهْ کي وَژَلْ سوي دي، هغه هيڅ کله مَړَهْ مه ګڼه، بلکه هغه ژُوَنْدِيْ دي، هغوي ته د خپل رَبْ لطرف څخه رِزْقْ ملاوېږي). حضرت عَبْدُ اللهْ بنِ مَسْعُوْدْ وفرمائل چي مَا ددغه آيَتْ په اړه د حُضُوْرْ څخه پُوْښْتَنَهْ کړې وه، نو حُضُوْرْ فرمائلي وُو چي د شَهِيْدَانُوْ اَرْوَحَانْ د زَرْغُوْنُوْ (شِنُوْ) مَرْغَانُوْ په نَسُوْ (جُوْجُوْرُوْ) کي وي، تر عَرْشْ کښتَّه دهغه قَنْدِيْلَانْ رَاځړېږي، هغه چي په جَنَّتْ کي چيري وَغُوَاړي هلته ځِي رَاځِي، بيا هغه قَنْدِيْلَانُوْ ته بېرته وَاپَس رَاځِي .

په دغه حَدِيْثْ کي هم دئ چي په جَنَّتْ کي چيري وَغُوَاړي هلته ځِي رَاځِي، په دُنْيَا کي يَوَه خُوَا بَلَه خُوَا ته د تَلَلُو ثُبُوْتْ نَه سي کېدلائي .

## دُوْږَخِيَانْ به هم دُنْيَا ته د رَاتُلُو ګُزَارَش وکي لېکن دُوي به دَلتَه رَاتُلُو ته نَه پرېښُوَل سي

په دغه آيَتْ کي دئ چي دُوْږَخِيَانْ خلګ به دُنْيَا ته د بېرته رَاتُلُو غُوَښْتَنَهْ وکي، لېکن خو بيا هم دُوي به دُنْيَا ته نَه رَاپرېښُوَل کېږي، نو بيا دغه اَرْوَحَانْ په دُنْيَا کي څنګه پَرلَګرزي؟

آيَتْ دادئ

۱۱: حَتّٰۤى اِذَا جَآءَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُوْنِ ۙ لَعَلِّيْۤ اَعْمَلُ صَالِحًا فِيْمَا تَرَكْتُ كَلَّا ؕ اِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَآئِلُهَا ؕ وَمِنْ وَّرَآئِهِمْ بَرْزَخٌ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ .

(آيَتْ ۹۹ / ۱۰۰، سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْنْ ۲۳) .

تَرْجَمَهْ:- تر دې چي کله د دُوي څخه يَوَه ته مرګ رَاوَرسېږي نو هغه به ووائي چي:,, زَمَا پَرْوَرْدِګَارَهْ! مَا بېرته وَاپَس وَاستوَه ددې لپاره چي کُومَه دُنْيَا مَا پرېښې ده، هغې ته وُلَاړْ سَم بِنَهْ عَمَلْ وکړم,,. هيڅ کله نَه! دا خو بَس خَالِصْ يَوَه خَبَرَهْ ده چي دئ يې په ژَبَهْ سره کوي، او ددُوي (مُرْدَهْ ګانُوْ) وَ مختـه د عَالَمِ بَرْزَخْ حَائِلْ (حِجَابْ) دئ، چي تر هغه وَخته به قَائِمْ وي تر څو چي دُوي دُوَهَمْ وَارْ ژُوَندِي رَاپُورتَه کېږي .

په دغه آيَتْ کي دئ چي دُوْرِخَيَانْ به دُنْيَا ته د رَاتْلُو دَرْخُوَاسْتْ هم وکي، لېکن ډُوي ته به د رَاتْلُو اِجَازَتْ نَه وي، نو بيا ددغه مړو (مُرْدَهْ ګانُوْ) اَرْوَحَانْ څنګه په دُنْيَا کي ګرزي؟ او خَيْرَاتْ غُوَاړي؟ .

ددغه ډُوو آيَتُوْ او يوَه حَدِيْثْ څخه مَعلُومېږي چي اَرْوَحَانْ په جَنَّتْ کي يَوَه ځُوَا بَلَه ځُوَا ته ګرزي رَاګرزي، په دُنْيَا کي نَه .

ددغه عَقِيدې په اړه ۱۱ آيَتُوْنَهْ او ۲۰ حَدِيْثُوْنَهْ دي تاسو د هر يوه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کئ .

## د هِنْدُوَانُوْ دا عَقِيْدَهْ ده چي زُمُوږ دِيْوِيْ دِيْوْتَا (مَعْبُوْدَانْ) چي په دُنْيَا کي چيري وَغُوَاړي هلته ګرزي رَاګرزي

د هِنْدُوَانُوْ دا عَقِيْدَهْ ده چي زُمُوږ د مَعْبُوْدَانُ اَرْوَحَانْ په دُنْيَا کي ګرزي رَاګرزي، هغه په مُوْرْتِيْ (بُتَانُوْ) کي دَنَنَهْ نَنَوَزِي، او چي څوک د ډُوي څخه خپل حَاجَتُوْنَهْ غُواړي نو هغه پُورَه کوي،

د ډُوي مُخْتَلِفْ بُتَانْ دي چي په مُخْتَلِفُوْ مَنْدَرَانُوْ کي او پر مُخْتَلِفُوْ غُرُوْ باندي سَيْلُوْنَهْ کوي، او چي ډُوي مَنِي هغوي ته تَرْغِيْبْ ورکول کېږي چي ددغه غُرُوْ يَاتْرَا(زِيَارَتْ) وکي، او دهغه دَرْشَنْ (دِيْدَارْ) وکي، خلک د دغه بُتَانُوْ په مُحَبَّتْ کي د ډُوي د زِيَارَتْ لپاره په قَطَارْ قَطَارْ رَوَانْ وي، او هلته سَجْدَهْ ورته کوي، عِبَادَتْ يې کوي، او دهغوي څخه خپل حَاجَتُوْنَهْ غُواړي .

پر دغه نُکْتَهْ تاسو غَوَرْ وکئ .

## ۸: حَاضِرْ نَاظِرْ

حُضُوْرْ (ﷺ) هر ځائ حَاضِرْ نَاظِرْ نَه دئ

ددغه عَقِيدِي په اړه ۳۴ آيَتُوْنَهْ او ۱۳ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يوه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کئ

## د حَاظِرْ درې قِسْمُوْنَهْ دي

[۱] په ژُوَنْدْ کي حُضُوْرْ (ﷺ) په ډېرو ځايُو کي حَاضِرْ وُو .

[۲] په آخِرَتْ کي به پر ډېرو ځايُو حَاضِرْ سي .

[۳] لېکن دا چي حُضُوْرْ (ﷺ) هر ځائ حَاضِرْ وي، او هر شَئ وِينِي، مَثَلًا نَنْ زَيْدْ مَوْجُوْدْ دئ، دده ټولَه حَالَتُوْنَهْ حُضُوْرْ وِينِي، او د زَيْدْ سره مَوْجُوْدْ هم وي، دغه صِفَتْ صِرف د اَللّٰهْ تَعَالٰی دئ، په رَسُوْلْ کي دغه صِفَتْ نَستَه .

## هر ځائ حَاظِرِبْدَلْ، او هر شَئ هر وَخْتْ لِيدَلْ صِرف د اَللّٰهْ تَعَالٰی صِفَتْ دئ

اَللّٰهْ تَعَالٰی د عِلْمْ په لِحَاظْ سره هر ځائ حَاضِرْ دئ

ددې لپاره آيَتُوْنَهْ دادي

۱: هُوَ مَعَكُمْ اَيْنَ مَا كُنْتُمْ ط وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ . (آيَتْ ۴،سُوْرَةُ الْحَدِيْدْ ۵۷) .

تَرْجَمَهْ:- او تاسو چي هر چيري ياست، هغه ستاسو سره مَوْجُوْدْ دئ. او ګوم کار چي تاسو کوئ، اَللّٰهْ هغه وِينِي .

۲: وَ لَآ اَدْنٰـى مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَ كْثَرَ اِلَّا هُوَ مَعَهُمْ اَيْنَ مَا كَانُوْا ج (آيَتْ ۷،سُوْرَةُ الْمُجَادَلَةْ ۵۸)

تَرْجَمَهْ:- او که سَرْګُوْښِيْ کونکي تر دې لَږْ وي يا زِيَاتْ وي، هغه چي چيري هم وي، اَللّٰهْ د دُوي سره وي .

۳: اِذْ يَقُوْلُ لِصَاحِبِه لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا ج (آيَتْ ۴۰،سُوْرَةُ التَّوْبَةْ ۹)

تَرْجَمَهْ:- چي کله حُضُوْرْ و خپل مَلګري حضرت اَبُوْبَکْرْ ته ويل چي:,, غَمْ مَه کوه، يَقِيْنًا اَللّٰهْ زمُوږ سره دئ .

۴: فَلَا تَهِنُوْا وَتَدْعُوْٓا اِلَى السَّلْمِ ق صلى وَ اَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ ق صلى وَاللّٰهُ مَعَكُمْ . (آيَتْ ۳۵،سُوْرَةُ مُحَمَّدْ ۴۷)

تَرْجَمَهْ:- لِهٰذَا (ائ مُسْلْمَانَانُوْ!) تاسو مَه کمزُوري کېږئ چي د صُلْحِ دَعْوَتْ وَرکئ، تاسو به سَرْبَلَنْدَ ياست، اَللّٰهْ ستاسو سره دئ .

۵: وَ اِذَا سَاَ لَكَ عِبَادِىْ عَنِّىْ فَاِنِّىْ قَرِيْبٌ . (آيَتْ ۱۸۶،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲)

تَرْجَمَهْ:- اې حُضُوْرْ (ﷺ) چي کله ستا ښخه زَمَا بَنْدَهْ ګانْ پُوښْتَنَهْ کوي، نو ورته وَوَايَهْ چي زَهْ ډېر نژدې يَم .

۶: وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهٖ نَفْسُهٗ ج صلی وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ .

(آيَتْ ۱۶،سُوْرَةُ قٓ ۵۰)

تَرْجَمَهْ:- او د اِنْسَانْ په زَړَهْ کي چي کُوم خِيَالَاتْ رَاځِي، په هغه (لَا) مُوږ ښَهْ خَبَرْ يُو، او مُوږ دده تر شَهْ رَګْ هم زِيَاتْ ده ته نژدې يُو .

په دغه ۶ آيَتُوْ کي دئ چي اَللّٰهْ تَعَالٰی په هر ځائ کي ستاسو سره مَوْجُوْدْ دئ، نو ځکه د حَاضِرْ او نَاظِرْ صِفَتْ صِرف د اَللّٰهْ تَعَالٰی دئ .

## اَللّٰهْ تَعَالٰی هر شَئ او د هر بَنْدَهْ حَالَتْ وِينِي يعني اَللّٰهْ تَعَالٰی نَاظِرْ دئ

دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي

۷: وَاللّٰهُ بَصِيْرٌ بِالْعِبَادِ . (آيَتْ ۱۵،سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳) .

۸: وَاللّٰهُ بَصِيْرٌ بِالْعِبَادِ . (آيَتْ ۲۰،سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳) .

تَرْجَمَهْ:- او ټولَه بَنْدَهْ ګانْ اَللّٰهْ تَعَالٰی په ښَهْ تُوګه سره وِينِي .

۹: اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ . (آيَتْ ۲۳۳،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲) .

۱۰: اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ . (آيَتْ ۲۳۷،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲) .

۱۱: اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ . (آيَتْ ۲۶۵،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲) .

تَرْجَمَهْ:- او يَقِيْنْ وکئ چي اَللّٰهْ تَعَالٰی ستاسو ټوله کارونه په ښَهْ تُوګه سره وِينِي .

۱۲: وَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ . (آيَتْ ۱۵۶،سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳) .

۱۳: وَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ . (آيَتْ ۱۶۳،سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳) .

۱۴: وَ اللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ . (آيَتْ ۳۹،سُوْرَةُ الْاَنْفَالْ ۸) .

تَرْجَمَهْ:- او تاسو چي کُوم عَمَلْ کوئ اَللّٰهْ تَعَالٰی هغه ډېر ښَهْ وِينِي .

په دغه ۸ آيَتُوْ کي دئ چي اَللّٰهْ تَعَالٰی هر شَئ وِينِي يعني هغه نَاظِرْ دئ .

لِهٰذَا حَاضِرْ او نَاظِرْ صِرف د اَللّٰهْ صِفَتُوْنَهْ دي .

يَامْ لَرَنَهْ : د لِيْدَلُوْ کَيْفِيَّتْ او د حَاضِرِبدَلُوْ کَيْفِيَّتْ ښنګه دئ؟ دا اَللّٰهْ تَعَالٰی ته مَعْلُوْمْ دئ، چي دده د شَانَ سره ښنګه مُنَاسِبْ وي .

# په دغه آيَتُوْ کي دئ چي حُضُوْرْ (ﷺ) په دغه ځايُو کي حَاضِرْ نَه وُو

په دغه آيَتُوْ کي دئ چي په دُنْيَا کي په فُلَانْ فُلَانْ ځائ کي نَه وُو حَاضِرْ، په دغه آيَتْ کي د ,, شَاهِدُ ,, لَفْظْ اِسْتِعْمَالْ سوئ دئ، او په آخِرَتْ کي به هم حُضُوْرْ (ﷺ) ووائي چي زَهْ په فُلَانْ ځائ کي حَاضِرْ نَه وم، نو ددغه ۵ آيَتُوْ په مَوْجُوْدَګِيْ کي، او د ۶ حَدِيْثُوْ په مَوْجُوْدَګِيْ کي ځوک دا څنګه وَيلائي سي چي حُضُوْرْ (ﷺ) حَاضِرْ نَاظِرْ دئ؟
تاسو پر دغه آيَتُوْ باندي غَوَرْ وکئ

آيَتُوْنَهْ دادي

**۱۵:** **وَمَا كُنْتَ بجَانِبِ الْغَرْبِيِّ اِذْ قَضَيْنَآ اِلٰى مُوْسَى الْاَمْرَ وَمَا كُنْتَ مِنَ الشّٰهِدِيْنَ** ﴿﴾ لا

(آيَتْ ۴۴،سُوْرَةُ الْقَصَصْ ۲۸) .

تَرْجَمَهْ:- او (ائ پيغَمْبَرَهْ!) تَه هغه وَخت (د كُوْهِ طُوْرْ) په غَرْبِيْ جَانِبْ کي مَوْجُوْدَ نَه وې چي کله مُوږ و مُوْسٰي ته اَحْکامَاتْ سُپَرْدْ کړي وُو. او نَه تَه دهغه خلګو څخه وې چي دغه يې لِيْدَلَهْ . ﴿﴾

**۱۶:** **وَمَا كُنْتَ بجَانِبِ الطُّوْرِ اِذْ نَادَيْنَا** . (آيَتْ ۴۶،سُوْرَةُ الْقَصَصْ ۲۸) .

تَرْجَمَهْ:- او (ائ پيغَمْبَرَهْ!) تَه هغه وَخت (د كُوْهِ طُوْرْ) پر كِنَارَهْ مَوْجُوْدَ نَه وې چي کله مُوږ و مُوْسٰي ته ږَغ ورکړئ وُو .

**۱۷:** **وَمَاكُنْتَ لَدَيْهِمْ اِذْيُلْقُوْنَ اَقْلَامَهُمْ اَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ** ص **وَمَاكُنْتَ لَدَيْهِمْ اِذْ يَخْتَصِمُوْنَ** ﴿﴾ (آيَتْ ۴۴،سُوْرَةُ آل عِمْرَانْ ۳) .

تَرْجَمَهْ:- او (ائ پيغَمْبَرَهْ!) تَه په هغه وخت د دُوئ سره مَوْجُوْدَ نَه وې، چي دُوي ددې خَبَرِيْ د معلومولو لپاره خپل قَلَمُوْنَهْ (په دَرْيَابْ کي) تَسوَلْ، چي د دُوي څخه به څوک د مَرْيَمْ كَفَالَتْ (رُوْزَنَهْ) کوي؟ او نَه هغه وخت تَه هلته مَوْجُوْدَ وې چي ګُوم وخت دُوي (په دغه مَسْئَلَهْ کي) يَوْ د بَلْ سره اِخْتِلَافْ کاوئ ﴿﴾

**۱۸:** **وَمَاكُنْتَ لَدَيْهِمْ اِذْ اَجْمَعُوْٓا اَمْرَهُمْ وَ هُمْ يَمْكُرُوْنَ** ﴿﴾ (آيَتْ ۱۰۲،سُوْرَةُ يُوْسُفْ ۱۲) .

تَرْجَمَهْ:- او (ائ پيغَمْبَرَهْ!) تَه په هغه وخت د يُوْسُفْ د وُرُوْنُوْ سره مَوْجُوْدَ نَه وې چي کله دُوي پِلَانُوْنَهْ (چِمُوْنَهْ/مَكْرُوْنَهْ) وکړل خپله فَيْصَلَهْ يې يَخَهْ کړې وه .

**۱۹ : وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا مَّادُمْتُ فِيْهِمْ ج فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِيْ كُنْتَ اَنْتَ الرَّقِيْبَ عَلَيْهِمْ ط وَاَنْتَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ** (آيَتْ ۱۱۷،سُوْرَةُ الْمَآئِدَةْ ۵) .

**تَرْجَمَهْ**:- او تر څو چي **زَهْ** په دُوي کي **مَوْجُوْدَ** وَم، **زَهْ** د دُوي په **حَالَاتُوْ خَبَرْ** وَم، بيا چي کله تَا **مَا** ته **وَفَاتْ** راکړئ نوتَه په خپله د دُوي **نِگْرَانْ** وې، او تَه د هر شِي **گُوَاهْ** يې

**يَامْ لَرَنَهْ** : دغه **آيَتْ** که څَه هم د حضرت **عِيْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامْ** په اړه دئ، لېکن په يَوَه **حَدِيْثْ** کي **حُضُوْرْ** (ﷺ) هم خپله **لَاعِلْمِيْ سَرْگَنْدْ** (ښکاره) کړې ده، او دغه **آيَتْ** يې **تِلَاوَتْ** کړئ دئ، نو ځکه دغه **آيَتْ** د **حُضُوْرْ** (ﷺ) په اړه هم **ثَابتْ** سو، هغه **حَدِيْثْ** به د **عِلْمِ غَيْبْ** په **بَحْثْ** کي ستاسو مَختَه رَاسِي .

ددغه **۵ آيَتُوْ** څخه **مَعْلُوْمْ** سو چي **حُضُوْرْ** (ﷺ) په دغه **مَقَامَاتُوْ** کي **حَاضِرْ** نَه وُو، بلکه **حُضُوْرْ** (ﷺ) به په **آخِرَتْ** کي هم دا **اِقْرَارْ** وکي چي **زَهْ** خو تر مرګ وروسته ددغه **اُمَّتُوْ** سره **مَوْجُوْدَ** او **حَاضِرْ** نَه وم، نو بيا **حُضُوْرْ** (ﷺ) هر ځائ **حَاضِرْ** او **نَاظِرْ** څنګه سو؟

**يَامْ لَرَنَهْ**: دغه د عَقِيدې **مَسْئَلَهْ** ده، نو ځکه د **حُضُوْرْ** (ﷺ) په هر ځائ **حَاضِرْ نَاظِرْ** ثَابِتَوُلو لپاره کُوم **صَرِيْحْ آيَتْ**، يا يَو **مَضْبُوْطْ حَدِيْثْ** بايد وي، چي دهغه څخه په **صَرَاحَتْ** سره دا ثَابتېږي چي **حُضُوْرْ** (ﷺ) هر ځائ **حَاضِرْ نَاظِرْ** دئ، يا دا چي **حُضُوْرْ** (ﷺ) په **قَبْرْ** کي دئ خو ددې سره سره **حَاضِرْ نَاظِرْ** دئ، صِرف د **خُوَابْ** په **خَبَرُوْ**، يا په **لَفْظِيْ بَحْثُوْنُوْ**، يا د **بُزُرْگَانُوْ** په **خَبَرُوْ** سره **عَقِيْدَهْ** نَه ثَابتېږي، دا **مُسَلَّمَهْ قَاعِدَهْ** ده .

## په اَحَادِيْثُوْ کي دئ چي حُضُوْرْ (ﷺ) هلته حَاضِرْ نَه وُو

ددغه **اَحَادِيْثُوْ** څخه مَعلُومېږي چي **حُضُوْرْ** (ﷺ) په خپل **ژُوَنْدْ** کي هم پر ډېرو ځايُو **حَاضِرْ** نَه وُو، او په **قِيَامَتْ** به هم ددغه **اِظْهَارْ** يا **سَرْگَنْدَوَنَهْ** وکي، چي **زَهْ** خو تر مرګ وروسته په خپل **قَوْمْ** کي **مَوْجُوْدَ** نَه وم، او د دُوي **اَحْوَالْ** هم **مَا** ته نَه دي **مَعْلُوْمْ**، ددې څخه **مَعْلُوْمْ** سو چي **حُضُوْرْ** (ﷺ) **حَاضِرْ نَاظِرْ** نَه دئ، **اَلْبَتَّهْ** کُومي **خَبَرِيْ** چي ده ته وَرښُوَل سوي دي هغه و ده ته **مَعْلُوْمِي** دي، او کُومي **خَبَرِيْ** چي و **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته وَرښُوَلِي دي هغه تر **اَوَّلِيْنُ** او **آخِرِيْنُ** هم **زِيَاتِيْ** دي .

د مِعْرَاجْ په حَدِیْثْ کي دا هم دئ چي اَللّٰهْ تَعَالٰی بَیْتُ الْمُقَدَّسْ د حُضُوْرْ (ﷺ) مَختَه رَاوَستَئ چي دهغه لکبله ده هغه لِیدَئ او د قُرَیْشُوْ د سُوَالُوْ جَوَابُوْنَه یې ورکول، ددې څخه مَعْلُوْمْ سو چي حُضُوْرْ (ﷺ) حَاضِرْ نَاظِرْ نَه دئ، که چیري دئ حَاضِرْ او نَاظِرْ وائ نو د بَیْتُ الْمُقَدَّسْ دده و مَختَه د حَاضِرَوُلُوْ څه ضرورت دئ؟ ځکه چي بیا خو نو دئ د بَیْتُ الْمُقَدَّسْ سره مَوْجُوْدْ دئ، او دئ هغه وِینِي هم .

حَدِیْثُوْنَه دادي

۱: سَمِعْتُ جَابِرَ بِنِ عَبْدِ اللهِ اَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) یَقُوْلُ لَمَّا کَذَّبَنِیْ قُرَیْشُ قُمْتُ فِی الْحِجْرِ فَجَلَّی اللهُ لِیْ بَیْتَ الْمُقَدَّسِ فَطَفِقْتُ اُخْبِرُهُمْ عَنْ اٰیَاتِهٖ وَ اَنَا اَنْظُرُ اِلَیْهِ . (بُخَارِیْ شَرِیْف،کِتَابُ مَنَاقِبِ الْاَنْصَارْ، بَابُ حَدِیْثِ الْاَسْرَاءِ،ص: ۶۵۲، نَمبَرْ ۳۸۸۶)

تَرْجَمَه:- حضرَت جَابِرْ بِنْ عَبْدِ اللّٰهْ د حُضُوْرْ څخه وَاوریدَل، هغه فرمائل چي کله قُرَیْشُوْ د مِعْرَاجْ پر مُوْقِعْ زَمَا تَکْذِیْبْ وکئ، نو زَهْ په حَطِیْمْ کي وَدَریدَم، اَللّٰهْ زَمَا لپاره بَیْتُ الْمُقَدَّسْ وَاضِحْ کئ، مَا هغه ته کتَل، او دهغه د نِښَانَیُوْ په اړه مُو و قُرَیْشُوْ ته جَوَابُوْنَه وَرکوَل .

د حُضُوْرْ (ﷺ) پر بِیْ بِیْ حضرت عَائِشَهْ باندي مُنَافِقِیْنُ تُهمَتْ وَلګاوئ، چي دهغه لکبله تَقْرِیْبًا یَوَه مِیَاشتَه حُضُوْرْ (ﷺ) پریشَان وو، بیا د حضرت عَائِشي په بَرَاءَتْ کي د سُوْرَةِ نُوْرْ آیَتُوْنَه نَازِلْ سول نو بیا حُضُوْرْ (ﷺ) ته اِطْمِیْنَانْ حَاصِلْ سو، که چیري حُضُوْرْ (ﷺ) حَاضِرْ نَاظِرْ وائ نو تر یوې مِیَاشتِي پُورِي د پریشَانَ کیدو څه ضرورت وُو؟ حُضُوْرْ (ﷺ) ته بَایَدْ مَعْلُوْمْ وائ چي حضرت عَائِشَهْ خو بَرِیْ ده، ددې لپاره حَدِیْثْ دادئ

۲: عُتْبَةُ بن مَسْعُوْدٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِیِّ (ﷺ) حِیْنَ قَالَ لَهَا اَهْلُ الْاِفْكِ مَاقَالُوْا ..... وَقَدْ لَبِثَ شَهْرًا لَایُوْحٰی اِلَیْهِ فِیْ شَاْنِیْ بِشَیْءٍ قَالَتْ فَتَشَهَّدَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) حِیْنَ جَلَسَ ثُمَّ قَالَ اَمَّا بَعْدُ یَا عَائِشَةُ اِنَّهُ بَلَغَنِیْ عَنْكِ کَذَا کَذَا، فَاِنْ کُنْتِ بَرِیْئَةً فَیُبْرِئُكِ اللهُ وَ اِنْ کُنْتِ اَلْمَمْتِ بِذَنْبٍ فَاسْتَغْفِرِی اللهَ وَتُوْبِیْ اِلَیْهِ ..... وَ اَنْزَلَ اللهُ تَعَالٰی اِنَّ الَّذِیْنَ جَآءُوْ بِالْاِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنْکُمْ [آیَتْ ۱۱،سُوْرَةُ النُّوْرْ ۱۸]

(بُخَارِیْ شَرِیْف،کِتَابُ الْمَغَازِیْ ، بَابُ حَدِیْثِ الْاِفْكِ،ص: ۷۰۱، نَمبَرْ ۴۱۴۱ / مُسْلِمْ شَرِیْف،کِتَابُ التَّوْبَةِ،ص: ۲۰۵، نَمْبَرْ ۲۷۷۰ / ۷۰۲۰)

تَرْجَمَه:- د حضرَت عَائِشَهْ څخه رِوَایَتْ دئ چي تُهمَتْ لګونکو چي څه دې ته وویل ..... حُضُوْرْ (ﷺ) تر یوې مِیاشتِي پُوري وَدَریدئ زَمَا په اړه هیڅ وَحِیْ نَه راغلي، بیا فرمائي چي حُضُوْرْ (ﷺ) کښینَستَئ نو ده تَشَهُّدْ وَوَیَل، بیایې وویل اَمَّا بَعْدُ! ائ عَائِشَه

ستا په اړه مَا ته دغه دغه خَبَرِیْ رَارَسېدَلِي دي، که چيري تَه بَرِیْ يې نو اَللّٰهْ به تَا بَرِیْ کي، او که چيري تَا گُنَاهْ کړې ده نو د اَللّٰهْ څخه اِسْتِغْفَارْ وَغُوَاړَه او تَوْبَهْ وکه ..... بيا اَللّٰهْ تَعَالٰی زَمَا په اړه دغه آيَتْ نَازِلْ کئ [ کُومُو خلګو چي تُهْمَتْ وَلګاوئ هغه کِښنَئ جَمَاعَتْ دئ اَلَخْ

که چيري حُضُوْرْ (ﷺ) حَاضِرْ نَاظِرْ واې نو بيا ده ته د خپلي ګرانِي بِیْ بِیْ حضرت عَائِشَهْ د بَرَاءَتْ په اړه هيڅ ډَول عِلْمْ څنګه نَه وُو .

په دغه حَدِيْثُوْکي هم دئ چي مَا ته د خلګو سَلَامْ رَارَسَول کيږي، که چيري ټولَ کائِنَاتْ د حُضُوْرْ (ﷺ) په مَخکِي وي او حُضُوْرْ (ﷺ) حَاضِرْ نَاظِرْ وي نو د سَلَامْ د رَسُوْلُو څَه ضرورت دئ؟ بيا خو هغه د حُضُوْرْ په مَخکِي سَلَامْ کيږي .

**۳: عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) اِنَّ لِلّٰهِ مَلَائِكَةً سَيَّاحِيْنَ فِی الْاَرْضِ يُبَلِّغُوْنِیْ مِنْ اُمَّتِیْ السَّلَامُ .**

(نَسَائي شَرِيْفْ،کِتَابُ السَّهْوِ، بَابُ التَّسْلِيْمِ عَلَی النَّبِیِّ (ﷺ) ،ص: ۱۷۹، نَمْبَرْ ۱۲۸۳)

تَرْجَمَهْ:- د اَللّٰهْ په مځکه کي ګرزېدُونکِي فَرِشْتي سته چي زَمَا د اُمَّتْ سَلَامْ مَا ته رَارَسَوِي .

**۴: قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) حَيَاتِیْ خَيْرٌ لَّكُمْ تُحَدِّثُوْنَ وَنُحَدِّثُ لَكُمْ، وَ وَفَاتِیْ خَيْرٌ لَّكُمْ تُعْرَضُ عَلَیَّ اَعْمَالُكُمْ فَمَا رَأَيْتُ خَيْرًا حَمِدْتُّ اللّٰهَ وَمَا رَأَيْتُ شَرًّا اَسْتَغْفَرْتُ اللّٰهَ لَكُمْ .** (مُسْنَدُ الْبَزَّارْ، بَابُ زَاذَان عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ،ج: ۵، ص: ۳۰۸)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ وفرمائل زَمَا ژُوَنْدْ ستاسو لپاره بِهْتَرْ دئ، تاسو زَمَا سره خَبَرِیْ کوئ، زَهْ ستاسو سره خَبَرِیْ کوم (او هغه حَدِيْثْ سي) او زَمَا وَفَاتْ هم ستاسو لپاره بِهْتَرْ دئ، ستاسو اَعْمَالْ به پر مَا باندي وُړَاندِي کيږي، که چيري په هغه کي بِنَهْ خَبَرَهْ وَوِينَم نو د اَللّٰهْ حَمْدْ به کوم، او که يَوَه بَدَهْ خَبَرَهْ وَوِينَم، نو زَهْ به ستاسو لپاره اِسْتِغْفَارْ کوم .

ددغه حَدِيْثُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي

[۱] چي حُضُوْرْ (ﷺ) په قَبْرْ کي ژُوَندَئ دئ.

[۲] او پر ده باندي د اُمَّتْ اَعْمَالْ وُړَاندِي کيږي.

[۳] او دا هم مَعْلُوْمْ سو چي حُضُوْرْ (ﷺ) حَاضِرْ نَاظِرْ نَه دئ، او نَه ټولَ کائِنَاتْ دده په مَخکِي دئ که نَه نو د اَعْمَالُوْ د وُړَاندِي کولو څَه ضرورت دئ .

حُضُوْرْ (ﷺ) حَاضِرْ نَاظِرْ نَه دئ دَلِيْلْ يې دا حَدِيْثْ دئ

**۵: عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) لَاتَجْعَلُوْا بُيُوْتَكُمْ قُبُوْرًا، وَلَاتَجْعَلُوْا قَبْرِیْ عِيْدًا، وَصَلُّوْا عَلَیَّ فَاِنَّ صَلَاتَكُمْ تُبَلِّغُنِیْ حَيْثُ كُنْتُمْ . (اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْمَنَاسِكِ، بَابُ زِيَارَةِ الْقُبُوْرْ،ص: ۲۹۶، نَمْبَرْ: ۲۰۴۲)**

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ وفرمائل خپل كُوْرُوْنَهْ د قَبْرُوْ په شَانْ مَه گرزوئ [چې په هغه كې گر سره عِبَادَتْ نَه كوئ] او زَمَا قَبْرْ د اَخْتَرْ جوړولو په شَانْ مَه جوړوئ، او پر مَا باندې دُرُوْدْ اَستَوَئ، تاسو چې هر چيرې ياست مَا ته ستاسو دُرُوْدْ رَارَسَول كيږي .

په دغه حَدِيْثُوْ كې دئ چې تاسو هر چيرې ياست مَا ته ستاسو سَلَامْ رَارَسَول كيږي. كه چيرې حُضُوْرْ (ﷺ) حَاضِرْ نَاظِرْ دئ نو فَرِشْتُوْ ته څه ضرورت دئ چې سَلَامْ رَارَسَوِي؟

په دغه حَدِيْثْ كې دئ چې په قِيَامَتْ به هم حُضُوْرْ (ﷺ) حَاضِرْ نَاظِرْ نَه وي كه نَه نو غَيْرِ صَحَابِیْ به هم څنگه صَحَابِیْ گڼي؟

**۶: عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ ..... اَ لَا وَ اِنَّهُ يُجَآءُبِرِجَالٍ مِّنْ اُمَّتِیْ فَيُؤْخَذُ بِهِمْ ذَاتَ الشِّمَالِ فَاَقُوْلُ يَارَبِّ اَصْحَابِیْ فَيُقَالُ اِنَّكَ لَاتَدْرِیْ مَا اَحْدَثُوْا بَعْدَكَ فَاَقُوْلُ كَمَا قَالَ الْعَبْدُ الصَّالِحُ [وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا مَّا دُمْتُ فِيْهِمْ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِیْ كُنْتَ اَنْتَ الرَّقِيْبَ عَلَيْهِمْ] فَيُقَالُ اِنَّ هٰؤُلَاءِ لَمْ يَزَالُوْا مُرْتَدِّيْنَ عَلٰى اَعْقَابِهِمْ مُنْذُ فَارَقْتَهُمْ. (بُخَارِیْ شَرِيْفْ، كِتَابُ التَّفْسِيْرْ، بَابُ وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا مَّا دُمْتُ فِيْهِمْ،ص: ۷۹۱، نَمْبَرْ: ۴۶۲۵ / مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْفَضَائِلْ، بَابُ اِثْبَاتِ حَوْضِ نَبِيِّنَا (ﷺ) وَصِفَاتِهِ،ص: ۱۰۱۸، نَمْبَرْ: ۲۳۰۴ / ۵۹۹۶)**

تَرْجَمَهْ:- د حضرت اِبْنِ عَبَّاسْ څخه رِوَايَتْ دئ ..... د قِيَامَتْ په وُرَځْ به د حُضُوْرْ (ﷺ) د اُمَّتْ څه خلک رَاوَستَل سي چې دهغوی بَدْ عَمَلَيُوْ به دُوی رَاگير كړي وي، حُضُوْرْ (ﷺ) به ووائي زَمَا رَبَّ دا زَمَا اَصْحَابَانْ (مَلگرِ يعني اُمَّتِيَانْ) دي، نو حُضُوْرْ (ﷺ) ته به وويل سي، تَا ته نَه دي مَعْلُوْمْ ستا د وَفَاتْ وروسته دُوی كُوم كُوم كارونه كړي دي؟ [يعني دُوی مُرْتَدْ سوي وُو] نو حُضُوْرْ (ﷺ) فرمائي چې زَهْ به هغه خَبَرَهْ وكم كُوم چې يَوَه نيک اِنْسَانْ [حضرت عِيسٰى عَلَيْهِ السَّلَامْ] كړې وه، چې تر څو چې زَهْ د دُوی په مِينځ كې مَوْجُوْدْ وَم نو زَهْ د دُوی گَوَاهْ وَم، او چې كله تَا مَا ته وَفَاتْ (مرگ) راكړئ نو تَه د دُوی نِگرَانْ يې ..... فَرِشْتې به حُضُوْرْ (ﷺ) ته اِطِّلَاعْ وركې چې كله تَه د دُوی څخه جَلَا سوئ وې نو دُوی مُرْتَدْ سوي وُو .

كه چيرې حُضُوْرْ (ﷺ) حَاضِرْ نَاظِرْ وائ نو حُضُوْرْ (ﷺ) ته وَلې نَه وُو مَعْلُوْمْ چې دغه كس خو زَمَا صَحَابِیْ نَه وُو .

ددغه ۶ حَدِيْثُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چې حُضُوْرْ (ﷺ) حَاضِرْ نَاظِرْ نَه دئ، او نَه يې ټوله كَائِنَاتْ دده په مَخكې حَاضِرْ كړئ دئ چې دئ دې ټوله شِيَانْ

وَوِينِي، اَلْبَتَّهْ دئ په قَبْرْ کي د خپل بَدَنْ مُبَارَکْ سره ژُوَنْدَئْ دئ، او کُوم خلک چي پر ده باندي دُرُوْدْ و سَلَامْ کوي، فَرِشْتي ده ته هغه دُرُوْدْ و سَلَامْ رَسَوِي، د حَدِيْثْ څخه دغه ثَابتْ دئ .
او تر څو چي په آيَتْ يا مَضْبُوْطْ حَدِيْثْ سره حَاضِرْ و نَاظِرْ نَه سي ثَابتْ، دا د عَقِيدي مَسْئَلَهْ ده نو ځکه د خُوَابْ په خَبَرُوْ يا د خلکو په اَقوَالُوْ سره دُومره غَتَّهْ مَعَامَلَهْ نَه سي ثَابتېدَلائي .

# په قِيَامَتْ کي د ګوَاهَئِ لپاره د اُمَّتْ يا د نَبِيْ حَاضِرْ نَاظِرْ کېدل ضروري نَه دئ

مَختَه دري آيَتُوْنَهْ وُړَاندي کېږی، او د حضرت عَبْدُ اللهْ بِنِ عبَّاسْ د تَفْسِيْرْ مُطَابقْ په دُرُو سره آيَتُوْ کي د ,, شَاهِدًا ,, تَرْجَمَهْ داده چي حُضُوْرْ (ﷺ) به د قِيَامَتْ په وُرَځْ دا ګوَاهِئْ ورکوي، چي مَا و خپل اُمَّتْ ته رِسَالَتْ رَسَوَلَئ دئ، او پر نورو اُمَّتُوْ به هم دغه ګوَاهِئْ ورکوي چي دهغوي نَبِيَانُوْ و خپلو خپلو اُمَّتُوْ ته رِسَالَتْ رَسَوَلَئ دئ، نو ځکه د ,, شَاهِدًا ,, تَرْجَمَهْ ده ګوَاهِئْ وَرکول، د حَاضِرْ نَاظِرْ تَرْجَمَهْ يې نَه ده .
دا اِعْتِرَاضْ چي د ګوَاهَئِ وَرکوُلُو لپاره د اُمَّتْ د حَالَاتُوْ لِيْدَنَهْ ضروري ده، چي حَالَاتْ وَوِينِي نو بيا ګوَاهِئْ ورکېدلائي سي، لِهٰذَا حُضُوْرْ (ﷺ) په ټولو حَالَاتُوْ خَبَرْ دئ، دا اِعْتِرَاضْ صَحِيْحْ نَه دئ، بلکه قُرْآنْ دا بَيَانْ کړئ دئ چي ټولو نَبِيَانُوْ و خپل خپل اُمَّتْ ته رِسَالَتْ رَسَوَلَئ دئ، د اَللّٰهْ تَعَالَي پر دغه خَبَرْ به اِعْتِمَادْ وکړي حُضُوْرْ (ﷺ) به هم ګوَاهِئْ ورکي، او حُضُوْرْ (ﷺ) خپل اُمَّتْ ته وَيَلِي دي چي ټولو نَبِيَانُوْ و خپلو خپلو اُمَّتُوْ ته رِسَالَتْ رَسَوَلَئ دئ نو ځکه پر دغه به اِعْتِمَادْ وکي اُمَّتِ مُحَمَّدِيَّهْ به دغه ګوَاهِئْ ورکي چي ټولو رَسُوْلَانُوْ و خپل خپل اُمَّتْ ته رِسَالَتْ رَسَوَلَئ دئ، په دي کي نَه د حُضُوْرْ (ﷺ) حَاضِرْ کېدَل ضروري دئ او نَه د اُمَّتْ حَاضِرْ کېدَل ضروري دئ .

ددې لپاره دا حَدِيْثْ دئ

٧: عَنْ اَبيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) يَجِيْءُ النَّبِيُّ وَمَعَهُ الرَّجُلَانِ وَيَجِيْءُ النَّبِيُّ وَمَعَهُ الثَّلَاثَةُ وَ اَكْثَرُ مِنْ ذٰلِكَ وَ اَقَلُّ،فَيُقَالُ لَهُ هَلْ بَلَّغْتَ قَوْمَكَ؟ فَيَقُوْلُ نَعَمْ فَيُدْعٰى قَوْمُهُ فَيُقَالُ هَلْ بَلَّغَكُمْ؟ فَيَقُوْلُوْنَ لَا، فَيُقَالُ مَنْ شَهِدَ لَكَ؟

فَيَقُوْلُ مُحَمَّدٌ وَ اُمَّتُه، فَيُدْعٰى اُمَّةُ مُحَمَّدٍ فَيُقَالُ هَلْ بَلَّغَ هٰذَا؟ فَيَقُوْلُوْنَ نَعَمْ فَيَقُوْلُ وَمَا عِلْمُكُمْ بِذٰلِكَ؟ فَيَقُوْلُوْنَ اَخْبَرَنَا نَبِيُّنَا بِذٰلِكَ اَنَّ الرُّسُلَ قَدْ بَلَّغُوْا فَصَدَّقْنَاهُ، قَالَ فَذٰلِكُمْ قَوْلُه تَعَالٰى [وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّ سَطًا لِّتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ عَلَيْكُمْ شَهِيْدًا] . (آيَتْ ۱۴۳،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲،/ اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الزُّهْدْ،بَابُ صِفَةِ اُمَّةِ مُحَمَّدٍ (ﷺ) ،ص: ۶۲۴، نَمْبَرْ ۴۲۸۴)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل چي بعض نَبِيَانْ به د قِيَامَتْ په وُرَځ راسي او د دُوي سره به دُوَهْ كسَان وي، او بعض نَبِيَانْ به راسي، او د دُوي سره به دري يا زِيَاتْ كسَان وي، د دُوي څخه به پُوْښْتَنَهْ وسي، اَيَا تَا و خپل قَوْمْ ته پُوْرَهْ پيْغَامْ رَسَوَلَئ وُو؟ هغه به وروائي هُوْ! اُوس به د دُوي قَوْمْ رَاوبَلَل سي، او د هغوي څخه به پُوْښْتَنَهْ وسي، اَيَا تاسو ته نَبِيْ پيْغَامْ رَسَوَلَئ وُو؟ هغه به ووائي چي نَه، نو د نَبِيَانُوْ څخه به پُوْښْتَنَهْ وسي چي د پيْغَامْ پر رَسَوُلُو باندي ستاسو گوَاهْ څوک دئ؟ نَبِيَانْ به وفرمائي چي مُحَمَّدْ او دهغه اُمَّتْ، اُوس به د مُحَمَّدْ اُمَّتْ رَاوبَلَل سي، او پُوْښْتَنَهْ به ځيني وسي، اَيَا دغه نَبِيَانُوْ پيْغَامْ رَسَوَلَئ دئ؟ اُمَّتِ مُحَمَّدِيَّهْ به ووائي چي هُو، نو اَللّٰهْ تَعَالٰى به وفرمائي چي تاسو په دي (رَسَوُلُو) څَه خَبَرْ ياست؟ اُمَّتِ مُحَمَّدِيَّهْ به ووائي چي مُوږ ته زُمُوږ نَبِيْ دغه اِطِّلَاعْ راكړي وه چي ټولو نَبِيَانُوْ پيْغَامْ رَسَوَلَئ دئ، او مُوږ دهغه تَصْدِيْقْ كړئ دئ، [په دغه وَجْهْ مُوږ دهغه گوَاهِيْ وركړه] حُضُوْرْ (ﷺ) ددې په تَائِيْدْ كي دغه آيَتْ تِلَاوَتْ كړئ، [وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّ سَطًا اِلَخْ] دغه رنگه مُوږ تاسو دَرْمِيَانَهْ (مُعْتَدِلْ) اُمَّتْ گرزولي ياست، چي تاسو پر خلكو گوَاهْ سئ، او رَسُوْلْ پر تاسو باندي گوَاهْ سي .

په دغه حَدِيْثْ كي دئ چي حُضُوْرْ (ﷺ) چي و اُمَّتْ ته د پيْغَامْ رَسَوُلُو كُوم خَبَرْ وَركړئ وُو، دهغه پر بُنْيَادْ به دغه اُمَّتْ دا گوَاهِيْ وركوي، ددې لپاره دا ضروري نَه دئ چي نَبِيْ يا دغه اُمَّتْ دي حَاضِرْ نَاظِرْ وي. تاسو په ښَهْ غَوْرْ سره دغه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ كړئ .

## په دغه حَدِيْثْ كي هم د گوَاهَئ وركولو پُوْرَهْ تَفْصِيْلْ دئ

۸: عَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) يَجِيْءُ نُوْحٌ وَ اُمَّتُه فَيَقُوْلُ اللّٰهُ تَعَالٰى هَلْ بَلَّغْتَ فَيَقُوْلُ نَعَمْ اَيْ رَبِّ، فَيَقُوْلُ لِاُمَّتِه هَلْ بَلَّغَكُمْ؟ فَيَقُوْلُوْنَ لَا مَاجَآءَنَا مِنْ نَّبِيٍّ فَيَقُوْلُ لِنُوْحٍ مَنْ يَّشْهَدُ لَكَ؟ فَيَقُوْلُ مُحَمَّدٌ (ﷺ) وَ اُمَّتُه فَتَشْهَدُ اَنَّه قَدْ بَلَّغَ، وَهُوَ قَوْلُه جَلَّ ذِكْرُه [وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّ سَطًا لِّتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ عَلَيْكُمْ شَهِيْدًا] . (آيَتْ ۱۴۳،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲،/ بُخَارِيْ شَرِيْفْ،بَابُ قَوْلِ اللّٰهِ عَزَّ وَ جَلَّ، وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِه، آيَتْ ۲۵ ،سُوْرَةُ هُوْدْ ۱۱، ص: ۵۵۵، نَمْبَرْ ۳۳۳۹)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل چي د قِيَامَتْ په وُرَځ به نُوْحْ او دده اُمَّتْ رَاوَستَل سي، اَللّٰهْ به پُوْښْتَنَهْ وكي اَيَا تَا و خپل اُمَّتْ ته د اَللّٰهْ پيْغَامْ رَسَوَلَئ وُو؟ حضرت نُوْحْ به وفرمائي، هُوْ! اَللّٰهْ به د اُمَّتْ څخه پُوْښْتَنَهْ وكي، اَيَا تاسو ته رِسَالَتْ رَسَوَلَئ دئ؟ هغه به

ووائي چي مُوږ ته خو يَو نَبِيْ هم نَه دئ راغلئ، نو اَللّٰهْ به نُوْحْ ته وفرمائي چي ستا ګوَاهْ څوک دئ؟ نو نُوْحْ به ووائي چي مُحَمَّدْ او دده اُمَّتْ، نو مُحَمَّدْ به ګوَاهِيْ ورکي چي هُو حضرت نُوْحْ پيْغَامْ رَسَوْلَئ وُو، د اَللّٰهْ په دې قَوْلْ کي ددغه وَاقِعي ذِکْرْ راغلئ دئ [دغه رنګه تاسو مُو دَرْمِيَانَهْ اُمَّتْ ګرزولي ياست، چي تاسو پر خلکو ګوَاهْ سئ، او رَسُوْلْ يعني مُحَمَّدْ به پر تاسو ګوَاهْ سي .

که د ,, شَهِيْدْ ,, د لَفْظْ څخه حَاضِرْ نَاظِرْ مَنَل کيږي نو بيا به دغه اُمَّتْ هم حَاضِرْ نَاظِرْ مَني، ځکه چي ددې اُمَّتْ په اړه هم په آيَتْ کي د ,, شَهِيْدْ ,, لَفْظْ راغلئ دئ [لِتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ] چي تاسو به پر خلکو باندي شَهِيْدْ ياست، او نور اُمَّتُوْنَهْ به هم حَاضِرْ نَاظِرْ مَني، ځکه چي دهغوي په اړه هم راغلي دي [وَجِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ بِشَهِيْدٍ] چي د هر اُمَّتْ څخه به هم يَوْ يَوْ شَهِيْدْ رَاوَلَم .

اَصلْ خَبَرَهْ مَخکِي تيره سوې ده چي اَللّٰهْ تَعَالٰي په قُرْآنْ کي دا فرمائلي دي چي ټول سوو نَبِيَانُوْ و خپلو خپلو اُمَّتُوْ ته د اَللّٰهْ پيْغَامْ رَسَوَلَئ دئ، د قُرْآن کريْمْ پر دغه خَبَرَهْ به يَقِيْنْ وکي اُمَّتِ مُحَمَّدِيَّهْ به هم دغه ګوَاهِيْ ورکي چي ټولو نَبِيَانُوْ خپل خپل پيْغَامْ رَسَوَلَئ دئ، او په خپله به هم ګوَاهِيْ ورکي چي ټولو نَبِيَانُوْ د اَللّٰهْ پيْغَامْ رَسَوَلَئ دئ .

په دغه آيَتُوْ کي دئ چي رَسُوْلَانُوْ پيْغَامْ رَسَوَلَئ وُو

۲۰ : وَمَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ (آيَتْ ۵۴،سُوْرَةُ النُّوْرْ ۲۴) .

تَرْجَمَهْ:- او د رَسُوْلَانُوْ فَرْضْ (ذِمَّهْ دَارِيْ) خو تر دې زِيَاتَهْ نَه ده چي دئ صَفَا صَفَا خَبَرَهْ وَرَسَوِي .

۲۱ : وَمَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ (آيَتْ ۱۸،سُوْرَةُ الْعَنْكَبُوْتْ ۲۹) .

تَرْجَمَهْ:- او د رَسُوْلَانُوْ فَرْضْ (ذِمَّهْ دَارِيْ) خو تر دې زِيَاتَهْ نَه ده چي دئ صَفَا صَفَا خَبَرَهْ وَرَسَوِي .

۲۲ : قُلْ اَيُّ شَيْءٍ اَكْبَرُ شَهَادَةً ط قُلِ اللّٰهُ قف لا شَهِيْدٌ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ قف . (آيَتْ ۱۹،سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ۶) .

تَرْجَمَهْ:- تر اَللّٰهْ تَعَالٰي به بَل غَټْ د ګوَاهَئ کُوم شَئ وي؟ تَه ورته وَوَايَهْ چي اَللّٰهْ زَما او ستاسو په مَابَيْنْ کي ګوَاهْ دئ .

پر دغه خَبَرْ به اِعْتِمَادْ وکي حُضُوْرْ او دده اُمَّتْ به د قِيَامَتْ په وُرَځْ ګوَاهِيْ ورکي چي ټولو نَبِيَانُوْ خپل خپل پيْغَامْ رَسَوَلَئ دئ، نو ځکه اُمَّتْ او حُضُوْرْ (ﷺ) حَاضِرْ نَاظِرْ نَه وُو .

## بعضو حَضَرَاتُوْ ددغه آيَتُوْ څخه

# حَاضِرْ نَاظِرْ ثَابِتْ کړئ دئ

بعضو **حَضَرَاتُوْ** ددغه **۳** **آیَتُوْ** څخه **حَاضِرْ نَاظِرْ ثَابِتْ** کړئ دئ، او **دَلِیْلْ** یې دا ورکړئ دئ چي **حَالَاتْ** وَوِینِي بیا **ګوَاهِي** وَرکوَل کیږي، او **حُضُوْرْ** (ﷺ) د تیرو سوو **نَبِیَانُوْ** لپاره **ګوَاهِيْ** ورکوي نو ځکه **حُضُوْرْ** (ﷺ) **حَاضِرْ نَاظِرْ** سو، بعضو **حَضَرَاتُو** د ,, **شَاهِدًا** ,, **تَرْجَمَهْ** په **حَاضِرْ نَاظِرْ** سره کړې ده **آیَتْ** دادئ

**۲۳: اِنَّآ اَرْسَلْنَآ اِلَیْکُمْ رَسُوْلًا ۙ شَاهِدًا عَلَیْکُمْ کَمَآ اَرْسَلْنَآ اِلٰی فِرْعَوْنَ رَسُوْلًا** ؕ

**(آیَتْ ۱۵،سُوْرَۃُ الْمُزَّمِّلْ ۷۳)** .

**تَرْجَمَهْ**:- (**تَکْذِیْبْ** کونکو!) **یَقِیْنْ** وکئ مُوږ تاسو ته پر تاسو باندي **ګوَاهْ** جوړېدونکۍ یو **رَسُوْلْ** دغه رنګه اَستوَلَئ دئ، لکه څنګه چي مُوږ **فِرْعَوْنْ** ته یو **رَسُوْلْ** اَستوَلَئ وُو.

دلته د ,, **شَاهِدًا** ,, **تَرْجَمَهْ** د **رِسَالَتْ** د رَسوُلُو **ګوَاهِيْ** ورکول ده، په **تَفْسِیْرِ اِبْنِ عَبَّاسْ** کي دا **عِبَارَتْ** دئ **شَاهِدًا عَلَیْکُمْ** [**بِالْبَلَاغْ**] د **بِالْبَلَاغْ** د **تَفْسِیْرْ** څخه **مَعْلُوْمْ** سو چي د ,, **شَاهِدًا** ,, **تَرْجَمَهْ** د **رِسَالَتْ** د رَسوُلُو **ګوَاهِيْ** وَرکوَل ده. ځکه چي و **فِرْعَوْنْ** ته حضرت **مُوْسٰی عَلَیْهِ السَّلَامْ** اَستوَلَئ دئ هغه هم د **رِسَالَتْ** د رَسوُلُو لپاره اَستوَلَئ دئ .

**۲۴: یٰٓاَ یُّهَا النَّبِیُّ اِنَّآ اَرْسَلْنٰکَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِیْرًا ۙ وَّ دَاعِیًا اِلَی اللّٰهِ بِاِذْنِهٖ وَسِرَاجًا مُّنِیْرًا** **(آیَتْ ۴۵،سُوْرَۃُ الْاَحْزَابْ ۳۳)** .

**تَرْجَمَهْ**:- اێ **نَبِيْ! بِیشَکَّهْ** مُوږ تَه دارنګه جُوړ کړئ اَستوَلَئ یې چي تَه **ګوَاهِيْ** ورکونکۍ، زیرئ ورکونکۍ او **خَبَرْدَارَهْ** کونکۍ یي، . او د **اَللّٰهْ** په **حُکْمْ** سره خلک د **اَللّٰهْ** و **طَرَفْ** ته رَابَلُونکۍ، او **رَڼَا** خُورَوُنکۍ **څَرَاغْ** یې.

دَلتَه هم د ,, **شَاهِدًا** ,, **تَرْجَمَهْ** د **رِسَالَتْ** د رَسوُلُو د **ګوَاهِيْ** وَرکولو په **مَعْنٰی اِسْتِعْمَالْ** سوئ دئ. په **تَفْسِیْرِ اِبْنِ عَبَّاسْ** کې ددې **تَفْسِیْرْ** په **بِالْبَلَاغْ** سره کړئ دئ، (**شَاهِدًا**) [**عَلٰی اُمَّتِکَ بِالْبَلَاغْ**] . (**آیَتْ ۴۵،سُوْرَۃُ الْاَحْزَابْ ۳۳**). د **عَلٰی اُمَّتِکَ بِالْبَلَاغْ** څخه **مَعْلُوْمْ** سو چي د ,, **شَاهِدًا** ,, **مَعْنٰي** د **رِسَالَتْ** د رَسوُلُو **ګوَاهِي** وَرکوَل ده، مَختَه په **آیَتْ** (**وَّ دَاعِیًا اِلَی اللّٰهِ بِاِذْنِهٖ**) کي دئ، د **اَللّٰهْ** وَ **طَرَفْ** تـه رَابَلُونکۍ دئ، دې څخه د **رِسَالَتْ مَعْنٰي** ثَابِتیږي، د **حَاضِرْ نَاظِرْ** په **مَعْنٰي** نَه ثَابتیږي .

**۲۵ : إِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا** [redacted] لا **(آيَتْ ۸،سُوْرَةُ الْفَتْحْ ۴۸)** .

**تَرْجَمَهْ:-** اىٔ **نَبِيْ! بيشَکَّهْ** مُوږ تـه **گـوَاهِيْ** ورکـونکئ، زيـرئ ورکـونکئ او **خَبـرْدَارَهْ** کونکئ جُوړ کړئ اَستوَلَئ يي [redacted] .

دَلتَه هم په **تَفْسِيْرِ اِبْنِ عَبَّاسْ** کې د ,, **شَاهِدًا** ,, **تَفْسِيْرْ** په **[بِالْبَلَاغْ]** سره کړئ دئ، **(شَـاهِدًا) [عَلٰى اُمَّتِكَ بِـالْبَلَاغِ]** . **(آيَتْ ۸،سُوْرَةُ الْفَتْحْ ۴۸)**. د **عَلٰى اُمَّـتِكَ بِـالْبَلَاغْ** د **تَفْسِـيْرْ** څخـه **مَعْلُـوْمْ** سـو چـي د ,, **شَـاهِدًا** ,, **مَعْنَـي** د **اَللّٰهْ** د **پيْغَـامْ** رَسُوْلُو **گَوَاهِيْ** ورکول ده، د **حَاضِرْ نَاظِرْ** په **مَعْنَي** يې نَه ده .

## د هر **اُمَّتْ** څخه به **گوَاهْ** رَاوَستَل سي نو بيا خو به دغه ټولَ **اُمَّتْ حَاضِرْ نَاظِرْ تَسْلِيْمَوی**

کـه چيري د ,, **شَـهِدَ** ,, د **لَفْظْ** څخـه **حُضُوْرْ** (ﷺ) **حَاضِرْ نَـاظِرْ** ثَـابِتَوِي نـو **اُمَّتِيَانْ** به هم د **قِيَامَتْ** په **وُرَځْ** پر نورو **قَوْمُوْ** باندي **گوَاهِيْ** ورکوي، نو ددغه **اُمَّتْ** هر هر **فَرْدْ** (وَکړئ) به **حَاضِرْ نَاظِرْ تَسْلِيْمَوِي**، ځکه چي په **آيَتْ** کي دئ چي دغه **اُمَّتْ** به هم پر نورو **قَوْمُوْ** باندي **گوَاهْ** وي، **لِهٰذَا** د ,, **شَهِدَ** ,, د **لَفْظْ** څخه **حُضُوْرْ** (ﷺ) **حَاضِرْ نَاظِرْ** ثَابِتَوَل **صَحِيْحْ** نَه دئ، تاسو هم **غَوَرْ** وکئ . **آيَتُوْنَهْ** دادي

**۲۶ : وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّـةً وَّ سَطًا لِّتَكُوْنُـوْا شُـهَدَآءَ عَلَـى النَّـاسِ وَيَكُـوْنَ الرَّسُوْلُ عَلَيْكُمْ شَهِيْدًا (آيَتْ ۱۴۳،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲)** .

**تَرْجَمَهْ:-** دغه رنګه تاسو مُو **دَرْمِيَانَهْ اُمَّتْ** گرزولي ياست، چي تاسـو پـر خلګـو **گـوَاهْ** سئ، او **رَسُوْلْ** يعني **مُحَمَّدْ** به پر تاسو **گوَاهْ** سي .

**۲۷ : وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيْدًا عَلَيْهِمْ مِّنْ اَنْفُسِـهِمْ وَجِئْنَـا بِكَ شَـهِيْدًا عَلٰى هٰٓـؤُلَآءِ**

**(آيَتْ ۸۹،سُوْرَةُ النَّحْلْ ۱۶)** .

**تَرْجَمَهْ:-** اوهغه **وُرَځْ** هم په **يَادْ** لرئ چي د هر **اُمَّتْ** څخـه يَـو **گـوَاهْ** دهغوي څخـه مُـوږ وَدَرْوُو، او اىٔ **پيْغَمْبَرَهْ!** مُوږ به تاسو ددغه خلګو په **خِلَافْ** د ګوَاهَئ وَرکوُلُو لپـاره رَاوَلُـو .

**۲۸ : فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ بِشَهِيْدٍ وَّ جِئْنَا بِكَ عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ شَهِيْدًا** .

**(آيَتْ ۴۱،سُوْرَةُ النِّسَآءْ ۴)** .

تَرْجَمَهْ:- څَه حَالْ به وي چي مُوږ د هر اُمَّتْ څخه يَو ګوَاهْ رَاوَلُو، او ای پیْغَمْبَرَهْ! مُوږ به تَا ددغه خلګو په خِلَافْ د ګوَهْ په تُوګه رَاوَلُو .

۲۹: لِيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ شَهِيْدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ . (آيَتْ ۷۸،سُوْرَةُ الْحَجّ ۲۲) .

تَرْجَمَهْ:- چي دغه رَسُوْلْ ستاسو لپاره ګوَاهْ سي او تاسو (دغه اُمَّتْ) د نورو خلګو لپاره ګوَاهْ جوړ سَئ .

۳۰: يَوْمَ نَبْعَثُ مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيْدًا . (آيَتْ ۸۴،سُوْرَةُ النَّحْلْ ۱۶) .

تَرْجَمَهْ:- هغه وُرَځْ يَادْ ولرئ چي کله مُوږ د هر اُمَّتْ څخه يَو ګوَاهْ وَدَرَوُو .

۳۱: وَنَزَعْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيْدًا فَقُلْنَا هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ . (آيَتْ ۷۵،سُوْرَةُ الْقَصَصْ ۲۸) .

تَرْجَمَهْ:- او مُوږ به دهر اُمَّتْ څخه يَو ګَوَاهِيْ ورکونکئ رَاوَبَاسُو رَابه وَلُو، بيا به ووايُو چي:,, رَاوړئ خپل يَو دَلِيْلْ!

په دغه ۶ آيَتُوْ کي دئ چي د هر اُمَّتْ څخه به ګوَاهَانْ رَاوَستَل کيږي نو بيا خو به هغه ټول اُمَّتِيَانْ هم حَاضِرْ نَاظِرْ وګرزي، نَه يَوَاځِي دا چي رَسُوْلَانْ به حَاضِرْ نَاظِرْ وي ..... پر دغه آيَتُوْ باندي تاسو غَوَرْ وکئ .

## د ,, شَهِدَ ,, لَفْظْ په درو مَعَانِيُوْ دئ

د ,, شَهِدَ ,, لَفْظْ پـه درې مَعْنٰـي اِسْتِعْمَالْ سوئ دئ، لِهٰذَا سِيَاقْ او سَبَاقْ (يعني مَختَه او شَا) ته به ګورې بيا بـه مَعْنٰـي کوې، چـي د نـورو آيَتُوْ سره ددي د مَعْنٰى تِکَرّْ پَيدَا نَه سي

[۱] ګوَاهِيْ ورکول .

[۲] مَوْجُوْدَ کيدل او لِيدَلْ .

[۳] د ګوَاهَانُوْ تَزْکِيَّه کول، او دا وَيَل چي ګوَاهَانُوْ رِشْتِيَا وَيِلي دي .

[۱] د ,, شَهِدَ ,, مَعْنٰى ګوَاهِيْ ورکول په دي آيَتْ کي ده

۳۲: وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ اَهْلِهَا . (آيَتْ ۲۶،سُوْرَةُ يُوْسُفْ ۱۲) .

تَرْجَمَهْ:- د حضرت زُلَيْخَا د اَهْلْ څخه يَوه کِشنِي (بَچِيْ) ګوَاهِيْ ورکړه .

په دغه آيَتْ كي د ,, شَهِدْ ,, مَعْنٰي صِرف ګوَاهِيْ وركول ده، ځكه چي هغه كِشنِي بَچِي حضرت يُوْسُفْ د زُلَيْخَا په كُوْټِه (خُوْنَه) كي نَه وُو لِيدَلَئ، نو ځكه په دي آيَتْ كي د ,, شَهِدَ ,, مَعْنٰي ده ګوَاهِيْ وركول .

[۲] د ,, شَهِدَ ,, مَعْنٰي مَوْجُوْدْ كېدَل، په دغه آيَتْ كي ده

۳۳: وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ اِذْ قَضَيْنَآ اِلٰی مُوْسَی الْاَمْرَ وَمَا كُنْتَ مِنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿٤٤﴾ لا

(آيَتْ ۴۴،سُوْرَةُ الْقَصَصْ ۲۸) .

تَرْجَمَهْ:- او (اې پيغَمْبَرَهْ!) تَه هغه وَخت (د كُوْهِ طُوْرْ) په غَرْبِيْ جَانِبْ كي مَوْجُوْدَ نَه وې چي كله مُوږ و مُوْسٰي ته اَحْكَامَاتْ سُپَرْدْ كړي وُو. او نَه تَه دهغه خلګو څخه وې چي ددغه مُشَاهَدَهْ يې كوله.﴿﴾

په دغه آيَتْ كي د ,, شَهِدَ ,, مَعْنٰي داده چي تَه هلته حَاضِرْ نَه وې .

[۳] د ,, شَهِدَ ,, مَعْنٰي د ګوَاهَانُوْ تَزْكِيَّهْ كول په دغه آيَتْ كي ده

د تَزْكِيَّهْ مَطْلَبْ دادئ چي دا تَصْدِيْقْ وكي چي ګوَاهَانُوْ كُومَه ګوَاهِيْ وركړې ده هغه رِشْتِيَا او صَحِيْحْ ده

۳۴: فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ بِشَهِيْدٍ وَّ جِئْنَا بِكَ عَلٰی هٰٓؤُلَآءِ شَهِيْدًا .

(آيَتْ ۴۱،سُوْرَةُ النِّسَآءْ ۴) .

تَرْجَمَهْ:- څَه حَالْ به وي چي مُوږ د هر اُمَّتْ څخه يو ګوَاهْ رَاوَلُو، او اې پيغَمْبَرَهْ! مُوږ به تَا ددغه خلګو په خِلَافْ د ګوَهْ په تُوګه رَاوَلُو .

په تَفْسِيْرِ اِبْنِ عَبَّاسْ كي په دغه آيَتْ كي د ,, شَهِيْدًا ,, مَعْنٰي په تَزْكِيَّهْ سره كړې ده [وَّ جِئْنَا بِكَ عَلٰی هٰٓؤُلَآءِ شَهِيْدًا] (وَيُقَالُ لِاُمَّتِكَ شَهِيْدًا مُزَكِّيًا مُعْدِلًا، مُصَدِّقًا لَّهُمْ) يعني اُمَّتْ چي كُومَه ګوَاهِيْ وركړې ده حُضُوْرْ (ﷺ) به دهغه تَزْكِيَّهْ كوي، چي زَمَا اُمَّتْ چي كُومَه ګوَاهِيْ وركړې ده، هغه صَحِيْحْ ده، رِشْتِيَا ده .

چي د ,, شَهِدَ ,, لَفْظْ په درې مَعْنٰي اِسْتِعْمَالْ سوئ دئ، نو و سِيَاقْ او سَبَاقْ (يعني مَختَه او شَا) ته به ګورې بيا به مَعْنٰي كوې، چي د نورو آيَتُوْ سره ددې د مَعْنٰي تَكَرّ پَيدَا نَه سي .

## ددغه حَدِيْثُوْ څخه د حَاضِرْ نَاظِرْ شُبْهَهْ پَيدَا كيږي

**٩: عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اِنَّ اللهَ زَوّٰى لِيَ الْاَرْضَ فَرَأَيْتُ مَشَارِقَهَا وَمَغَارِبَهَا وَ اِنَّ اُمَّتِيْ سَيَبْلُغُ مِلْكَهَا مَا زُوِّيَ لِيْ مِنْهَا . (مُسْلِمْ شَرِيْف، كِتَابُ الْفِتَنْ، بَابُ هَلَاكِ هٰذِهِ الْاُمَّةِ بَعْضُهُمْ بِبَعْضٍ ،ص: ١٢٥٠، نَمْبَرْ: ٢٨٨٩ / ٧٢٧٨)**

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل چي اَللّٰهْ تَعَالٰی زَمَا لپاره مځکه سره ننَیسته چي دهغه لکبله مَا د مځکي شَرْقْ او غَرْبْ وَلِيدَل، او تر کُومه ځايَهْ پُوري چي مځکه سره نَنَوَتله تر هغه ځايَهْ به زَمَا اُمَّتْ رسيږي .

دا د يوې مُعْجزِې بَيَانْ دئ چي د مَشْرِقْ او مَغْرِبْ مځکه د حُضُوْرْ (ﷺ) مَختَه حَاضِرَ کړه، او حُضُوْرْ (ﷺ) هغه وَلِيدَلَه، په دي کي زَوِّي د مَاضِيْ صِيْغَهْ ده، ددې مَطْلَبْ دادئ چي صِرف يَوْ وَارْ دغه رنګه وسو، که چيري حُضُوْرْ (ﷺ) همېشه په هر ځائ کي حَاضِرْ نَاظِرْ دئ نو بيا د حُضُوْرْ (ﷺ) مَختَه مځکه رَاوَستَل څه مَطْلَبْ لري؟ بيا خو هسي هم هر وَخْتْ مځکه دده په مَخکِي ده، نو ځکه ددغه حَدِيْثْ څخه حَاضِرْ نَاظِرْ نَه سي ثَابتېدَلائي، دا خو د حُضُوْرْ (ﷺ) په ژُوَنْدْ کي يَوَهْ مُعْجزَهْ وه چي په دغه حَدِيْثْ کې بَيَانْ راغلئ دئ .

دُوَيَمَّهْ خَبَرَهْ داده چي په دې حَدِيْثْ کې صِرف مځکه د حُضُوْرْ (ﷺ) و مَختَه وُرَاندِي کړې ده، ټولَ کائِنَاتْ يې نَه دئ وُړَاندِي کړئ .

ددغه حَدِيْثْ څخه هم د حُضُوْرْ (ﷺ) د حَاضِرْ نَاظِرْ شُبْهَهْ پَيدَا کيږي

**١٠: عَنْ عَبْدِ اللهِ بِنْ عَمْرٍو [بِنْ الْعَاصِ] قَالَ اَلدُّنْيَا سِجْنُ الْمُوْمِنِ وَجَنَّةُ الْكَافِرِ، فَاِذَا مَاتَ الْمُؤْمِنُ يُخَلِّيْ بِهِ يُسْرِحُ حَيْثُ شَاءَ، وَاللهُ اَعْلَمُ . (مُصَنَّفِ اِبْنِ اَبِيْ شَيْبَةَ، بَابُ كَلَامِ عَبْدِ اللهِ بِنْ عُمَرْ، ج: ٧،ص: ٥٧، نَمْبَرْ: ٣٤٧٢٢)**

تَرْجَمَهْ:- عَبْدُ اللهْ بِن عَمْرِو بِن الْعَاصْ وفرمائل چي دُنْيَا د مُؤْمِنْ لپاره قَيْدْخَانَهْ ده او د كافِرْ لپاره جَنَّتْ دئ، نو چي کله مُؤْمِنْ مړ سي نو دئ د دُنْيَا څخه ځَانْ خَلَاسْ کي، او چي چيري وَغْوَاړي ځي رَاځي .

ددغه صَحَابِيْ په قَوْلْ ,, يُسْرِحُ حَيْثُ شَاءَ ,, چي چيري وَغُوَاړي هلته ځي رَاځي، ددغه څخه بعضو حَضَرَاتُوْ دا اِسْتِدْلَالْ کړئ دئ چي د مُؤْمِنَانُوْ اَرْوَحَانْ په دُنْيَا کي چي چيري وَغُوَاړي ګرزي رَاګرزي، او پر دغه يې قِيَاسْ کړئ دئ چي حُضُوْرْ (ﷺ) هم هر ځائ حَاضِرْ نَاظِرْ دئ .

لېکن په دي کي درې خَامِيَانْ دي

[١] اَوّلَهْ خَبَرَهْ دا چي دا حَدِيْثْ نَه دئ بلکه د صَحَابِيْ خپل قَوْلْ دئ، چي دهغه څخه عَقِيْدَهْ نَه سي ثَابتېدلائي .

[۲] دُوَیِمَّهْ خَبَرَهْ داده چي دُنْیَا قَیْدْخَانَهْ سوه او د مَرګ د لَارِ څخه رُوْحْ دهغه قَیْدْخَانِي څخه رَاوَوَاتئ نو دُوَیَمْ وَارْ بیا د مُؤْمِنْ رُوْحْ هغه قَیْدْخَانِي ته چیري ځي؟

[۳] دَرَیِمَّهْ خَبَرَهْ داده چي په دُنْیَا کي نَه بلکه په آخِرَتْ کي چي وَغُوَاړِي هلته به ګرزِي رَاګرزِي، ځکه چي په بَل حَدِیْثْ کي د شَهِیْدَانُوْ په اړه رَاغلي دي چي دذُوي اَرْوَحَانْ په جَنَّتْ کي چي وَغُوَاړِي هلته ځِي رَاځِي، په دُنْیَا کي نَه .

حَدِیْثْ دادئ

۱۱: عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) رَأَیْتُ جَعْفَرًا یَطِیْرُ فِی الْجَنَّةِ مَعَ الْمَلَائِکَةِ .

(تِرْمِذِیْ شَرِیْفْ،کِتَابُ الْمَنَاقِبْ،بَابُ مَنَاقِبِ جَعْفَرَ بن اَبِیْ طَالِبِ،ص: ۸۵۵، نَمْبَرْ ۲۷۶۳)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل چي مَا حضرت جَعْفَرْ وَلِیدَئ چي دئ په جَنَّتْ کي د فرِشْتُوْ سره اَلْوْزِیْ .

په دغه حَدِیْثْ کي دئ چي حضرت جَعْفَرْ په جَنَّتْ کي چیري وَغُوَاړِي هلته ګرزِي رَاګرزِي. نو ځکه د عَبْدُاللهْ بِنْ عَمْرْو د قَوْلْ مَطْلَبْ هم دغه دئ چي مُؤْمِنْ به تر مرګ وروسته په جَنَّتْ کي ګرزِي رَاګرزِي، ددغه څخه په دُنْیَا کي ګرزیدَل نَه ثَابِتیږي .

په دغه حَدِیْثْ کي هم دا صَرَاحَتْ سوئ دئ چي د شَهِیْدَانُوْ اَرْوَحَانْ په جَنَّتْ کي چیري وَغُوَاړِي هلته ګرزِي رَاګرزِي، په دُنْیَا کي نَه

۱۲: عَنْ مَسْرُوْقٍ قَالَ سَاَ لْنَا عَبْدَاللهِ هُوَ اِبْنُ مَسْعُوْدٍ عَنْ هٰذِهِ الْاٰیَةَ [وَلَاتَحْسَبَنَّ الَّذِیْنَ قُتِلُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللهِ اَمْوَاتًا ط بَلْ اَحْیَآءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ یُرْزَقُوْنَ] (آیَتْ ۱۶۹ ،سُوْرَةُ آل عِمْرَانَ ۳) قَالَ اَمَّا اَنَا قَدْ سَاَ لْنَا عَنْ ذٰلِكَ فَقَالَ اَرْوَاحُهُمْ فِیْ جَوْفِ طَیْرٍ خَضِرٍ لَهَا قَنَادِیْلٌ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ تُسْرِحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَیْثُ شَاءَتْ ثُمَّ تَاْوِیْ اِلٰی تِلْكَ الْقَنَادِیْلِ . (مُسْلِمْ شَرِیْفْ،کِتَابُ الْاَمَارَةِ،بَابُ بَیَانِ اَنَّ اَرْوَاحَ الشُّهَدَاءِ فِی الْجَنَّةِ وَ اَنَّهُمْ اَحْیَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ یُرْزَقُوْنَ، ص:۸۴۵، نَمْبَرْ: ۱۸۸۷ / ۴۸۸۵)

تَرْجَمَهْ:- حَضْرَتْ مَسْرُوْقْ فرمائي چي مَا د حضرت عَبْدُ اللهْ بِنْ مَسْعُوْدْ څخه ددغه آیَتْ [وَلَاتَحْسَبَنَّ الَّذِیْنَ قُتِلُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللهِ اَمْوَاتًا ط بَلْ اَحْیَآءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ یُرْزَقُوْنَ] په اړه پُوْښْتَنَهْ وکړه، حضرت عَبْدُ اللهْ بِنْ مَسْعُوْدْ وفرمائل چي مَا ددغه آیَتْ په اړه د حُضُور څخه پُوْښْتَنَهْ کړې وه، نو حُضُور فرمائلي وُو چي د شَهِیْدَانُوْ اَرْوَحَانْ د زَرْغُوْنْ رَنګه مَرْغَانُوْ په نَسُوْ (یا جُوْجُوْرُوْ) کي وي، تر عَرْشْ کښتّه دهغوي قَنْدِیْلَانْ ځړیږي، هغه په جَنَّتْ کي چي چیري وَغُوَاړِي هلته ځِي رَاځِي، بیا هغه قَنْدِیْلَانُوْ ته بېرته رَاسِي .

په دغه **حَدِيْثْ** كي هم دئ چي په **جَنَّتْ** كي چيري وَغُوَاړي هلته ځي رَاځي، ددې ځخه په **دُنْيَا** كي ګرزېدَل رَاګرزېدَل نَه ثَابتيږي .

په دغه **حَدِيْثْ** كي دئ چي د **مُؤْمِنْ رُوْحْ** هم په **جَنَّتْ** كي وي

**۱۳: عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنَ بن كَعْبِ الْاَنْصَارِيّ اَنَّهُ اَخْبَرَهُ اَنَّ اَبَاهُ كَانَ يُحَدِّثُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ (ﷺ) قَالَ اِنَّمَا نَسْمَةُ الْمُؤْمِنِ طَائِرٌ يُّعَلَّقُ فِيْ شَجَرَةِ الْجَنَّةِ حَتّٰى يَرْجِعَ اِلٰى جَسَدِه يَوْمَ يُبْعَثُ .**

**(اِبْنِ مَاجَهْ شَرَيْفْ،كِتَابُ الزُّهْدْ،بَابُ ذِكْرِ الْقَبْرِ وَالْبِلٰى،ص: ۶۲۲، نَمْبَرْ ۴۲۷۱ / مُسْنَدِ اَحْمَدْ بَقِيَّةُ حَدِيْثِ كَعْبِ بنِ مَالِكِ الْاَنْصَارِيّ، ج: ۲۵، ص: ۵۷، نَمْبَرْ ۱۵۷۷۷)**

**تَرْجَمَهْ:-** **حُضُوْرْ** (ﷺ) وفرمائل چي د **مُؤْمِنْ رُوْحْ** د يَو **مَرْغَهْ** په **شَانْ** وي چي د **جَنَّتْ** په **دَرَخْتُوْ** پوري مُبَنَتّئ وي (ځړېږي)، بيا د **قِيَامَتْ** په **وُرَځْ** د **رَاپُوْرتَه** كېدو پر **وَخْتْ** و **بَدَنْ** ته رَاوَاپَس كيږي .

د دغه **حَدِيْثْ** ځخه هم مَعلُوميږي چي د **مُؤْمِنْ رُوْحْ** په **جَنَّتْ** كي وي، په **دُنْيَا** كي يَو ځائ بَل ځائ نَه پَرلګرزِي .

دغه خو د **هِنْدُوَانُوْ عَقِيْدَهْ** ده چي تر مرګ ورسته د **مړُوْ اَرْوَحَانْ** په **دُنْيَا** كي ګرزِي رَاګرزي .

ددغه عَقِيدې په اړه **۳۴ آيَتُوْنَهْ** او **۱۳ حَدِيْثُوْنَهْ** دي تاسو د هر يوه **تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ** كئ. په دغه **آيَتُوْ** او **حَدِيْثُوْ** كي **غَوَرْ** وكئ .

## د **هِنْدُوَانُوْ** دا **عَقِيْدَهْ** ده چي **دِيْوِيْ دِيْوْتَا** (**مَصْنُوْعِيْ خُدَايَانْ**) هر ځائ **حَاضِرْ** دي او هر شَئ وِينِي

د **هِنْدُوَانُوْ** دا **عَقِيْدَهْ** ده چي زُمُوږ **رَشِيْ مَنِيْ**، يعني **زَاړَهْ بُزَرْګَانْ**، او **دِيْوِيْ دِيْوْتَا** هر ځائ **حَاضِرْ نَاظِرْ** دي، آن تر دې چي دُوي په **بُتَانُوْ** كي **دَنَنَهْ** هم **حَاضِرْ** دي، او ځوك چي د دُوي **عِبَادَتْ** كوي دُوي دهغه هره **خَبَرَهْ** اَورِي،

او دُوي وِينِي هم، او د دُوي مَرَستَه هم كوي، په دغه **وَجْهَ** خو يې دُوي دهغو **بُتَانْ** جوړ كړي دي دهغوي **عِبَادَتْ** كوي، او دهغوي څخه **مَرَسْتَهْ** غُوَاړي، كه نَه هسي خو دُوي تـه دا هم **مَعْلُوْمْ** دئ چي دا خو د **خَاوُرُوْ** څخه جوړ سوئ **بُتْ** دئ، په دي كي هيڅ **ژُوَنْدْ (رُوْحْ) نَسْتَهْ** لېكن د دُوي دا **عَقِيْدَهْ** ده چي د دُوي **رَشِيْ مَنِيْ** په دي كي **حاضِرْ** او **نَاظِرْ** دي، نو ځكه دُوي د **بُتَانُوْ** په مَخكِي **سَجْدَهْ** كوي، دهغوي **عِبَادَتْ** كوي، او د دُوي څخه خپل **حَاجَتُوْنَـه** غُوَاړي .

نو ځكه **اَللّٰهْ** په پنځو **آيَتُوْ** كي دا **خَبَرَهْ وَاضِحْ** كړې ده چي تَه پر **فُلَانِيْ فُلَانِيْ مَقَامْ** باندي **مَوْجُوْدَ** نَه وې، دا ځكه چي **خُدَائْ** مَه كه داسي نَه چي خلك **حُضُوْرْ** (ﷺ) **حَاضِرْ نَاظِرْ** وَنَه ګڼي او دده څخه خپل **حَاجَتُوْنَهْ** نه وَغُوَاړي، او د ده په مَخكي خپل **مُرَادُوْنَهْ** نَه وَغُوَاړي .

تاسو دغه **نُكْتَهْ** ته **غَوَرْ** وكئ .

## ۹: مُخْتَار كُلْ صِرف اَللّٰهْ دئ

**اَلْبَتَّهْ حُضُوْرْ** (ﷺ) ته په **دُنْيَا** كي ډېر **اِخْتِيَارَاتْ** وَركوَل سوي وُو، او په **آخِرَتْ** كي به هم ډېر **اِخْتِيَارَاتْ** وَركوَل سي، چي په **اَوَّلِيْنُ** او **آخِرِيْنُ** په ټولو كي بـه دده **اِخْتِيَارَاتْ زِيَاتْ** وي .

لېكن هغه ټولَ **جُزْوِيْ اِخْتِيَارَاتْ** دي **كُلِّيْ اِخْتِيَارَتْ** نَه دي

**ع بَعْد اَزْ خُدَا بُزَرْگ تُوْئى قِصَّهْ مُخْتَصَرْ**

ددغه عَقِيدې په اړه **۳۶ آيَتُوْنَهْ** او **۱۰ حَدِيْثُوْنَهْ** دي تاسو د هر يوه **تَفْصِيْلْ مُلَاحظَهْ** كئ .

## د اِخْتِيَارَاتُوْ ۴ قِسمُوْنَهْ دي

[۱] د **اَزَلْ** څخه تر **اَبَدْ** پُوري د هر هر شِي كولو **اِخْتِيَارْ**، دغه **اِخْتِيَارْ** صِرف و **اَللّٰهْ تَعَالٰي** ته **حَاصِلْ** دئ .

[۲] **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته په **ژُوَنْدْ** كي ډېر **اِخْتِيَارَاتْ** وَركوَل سوي وُو .

[۳] حُضُوْرْ (ﷺ) ته به د قِيَامَتْ په وُرَځْ خُلُوْرْ اِخْتِيَارَاتْ ورکول سي .

[۴] اَيَا و حُضُوْرْ (ﷺ) ته دا اِخْتِيَارْ حَاصِلْ دئ چي و زَيْدْ تـه شِفَاءْ ورکـي، رُوْزِيْ ورکي، يا هغه ته نَفْعَ او نُقْصَانْ وَرَسَوِي ؟

## [۱] ... د اَزَلْ څخه تر اَبَدْ پُوري د هر هر شِي کولو اِخْتِيَارْ، دغه اِخْتِيَارْ صِرف و اَللّٰهْ تَعَالٰي ته حَاصِلْ دئ

دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي

۱: اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَیْءٍ وَّهُوَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ وَّكِيْلٌ (آيَتْ ۶۲، سُوْرَةُ الزُّمَرْ ۳۹)

تَرْجَمَهْ:- اَللّٰهْ د هر شِي پَيدَا کونکئ دئ، او هغه د هر شِي سَاتُونکئ دئ .

۲: ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَیْءٍ ۘ لَآ اِلٰـهَ اِلَّا هُوَ ز ج (آيَتْ ۶۲ ،سُوْرَةُ الْمُؤْمِنْ ۴۰)

تَرْجَمَهْ:- دغه اَللّٰهْ دئ چي ستاسو پَرْوَرْدِګَارْ دئ، هر شَيْ پَيدَا کـونکئ، دهغـه بِغَيْرَهْ بَلْ مَعْبُوْدْ نَستَه .

۳: اِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ . (آيَتْ ۱۰۷ ،سُوْرَةُ هُوْدْ ۱۱)

تَرْجَمَهْ:- يَقِيْنًا ستا رَبْ چي څَه وَغُوَاړِي هغه کوي .

۴: ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيْدُ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ . (آيَتْ ۱۵ / ۱۶ ،سُوْرَةُ الْبُرُوْجْ ۸۵)

تَرْجَمَهْ:- د عَرْشْ مَالِكْ دئ، د بُزُرْګِئْ والا، چي څَه اِرَادَهْ وکي هغه کوي .

۵: قُلِ اللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَیْءٍ وَّ هُوَ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ . (آيَتْ ۱۶ ،سُوْرَةُ الرَّعْدْ ۱۳)

تَرْجَمَهْ:- تَهْ ورته وَوَايَهْ چي اَللّٰهْ د هر شِي پَيدَا کونکئ دئ، او هغه يَوَاځِيْ غَالِبْ دئ .

په دغه پِنځو آيَتُوْ کي دئ چي د اَزَلْ څخه تر اَبَدْ پُورِي پُوْرَهْ پُوْرَهْ اِخْتِيَارْ صِرف اَللّٰهْ تَعَالٰي ته حَاصِلْ دئ، بَل چَا ته نَه .

## [۲] حُضُوْرْ (ﷺ) ته په ژُوَنْدْ کي ډېر اِخْتِيَارَاتْ وَرکوَل سوي وُو

د خُوَړَلُوْ،څِيْښَلُو، د بيدېدُوْ،بِيْدَارْ کېدو، د اَمْرْ،نَهِيْ، د اَحْکَامَاتُوْ د خُوَرَوُلُو اِخْتِيَارَاتْ وَرکوَل سوي وُو .

خُصُوْصًا ددغه څلورو اِخْتِيَارَاتُوْ لپاره حُضُوْرْ (ﷺ) مَبْعُوْثْ کړئ وُو

دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي

**٦**: **هُوَ الَّذِىْ بَعَثَ فِى الْاُمِّيّنَ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِه وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ ق وَ اِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِىْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ** لا . (**اٰيَتْ ٢** ،**سُوْرَةُ الْجُمُعَةْ ٦٢**)

**تَرْجَمَهْ**:- هغه دئ چې په **اُمِّيَانُوْ** خلګو کې دهغوي څخه يو **رَسُوْلْ** رَاوَاستَاوَئ چې د دُوي په مَخکي دده **آيَتُوْنَه** **تِلَاوَتْ** کي، او دُوي **پَاکْ** وګرزوي، او دُوي ته د **کِتَابْ** او **حِکْمَتْ** **تَعْلِيْمْ** وَرکي، سره ددې چې دُوي تر دغه مَخکِي په ښکاره **ګُمْرَاهِيْ** کي پراته وُو،

**٧**: **رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيْهِمْ** ط . (**اٰيَتْ ١٢٩** ،**سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ٢**)

**تَرْجَمَهْ**:- او اې زموږ **پَرْوَرْدګَارَهْ!** په دُوي کي يو دارنګه **رَسُوْلْ** هم رَاوَاستَوَه چې د دُوي څخه وي، چې د دُوي په مخکي ستا **آيَتُوْنَه** **تِلَاوَتْ** کړي، دُوي ته د **کِتَابْ** او **حِکْمَتْ** **تَعْلِيْمْ** ورکړي، او دُوي **پَاکْ** کړي .

په دغه **آيَتْ** کي دئ چې **حُضُوْرْ** (ﷺ) يې د **٤** کارو لپاره **مَبْعُوْثْ** کړئ دئ، [**١**] د **قُرْآنْ** د **تِلَاوَتْ** لپاره [**٢**] چې نورو ته **قُرْآنْ** وَر **اِزْدَهْ** کي [**٣**] چې نورو ته **حِکْمَتْ** وَر **اِزْدَهْ** کي [**٤**] چې د خلګو **تَزْکِيَّهْ** وکي، نو ځکه په **ژُوَنْدْ** کي خو و **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته دغه **اِخْتِيَارَاتْ** **حَاصِلْ** دي .

**٨**: **وَ دَاعِيًا اِلَى اللهِ بِاِذْنِه وَسِرَاجًا مُّنِيْرًا** . (**اٰيَتْ ٤٦** ،**سُوْرَةُ الْاَحْزَابْ ٣٣**)

**تَرْجَمَهْ**:- د **اَللهْ** په **حُکْمْ** سره خلګو ته **بِلَنَه** وَرکوُنکئ او **رُنَا** څورَوُنکئ **څَرَاغْ** يې .

**٩**: **يٰاَيُّهَا الرَّسُوْلُ بَلِّغْ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ** . (**اٰيَتْ ٦٧** ،**سُوْرَةُ الْمَآئِدَةْ ٥**)

**تَرْجَمَهْ**:- اې **رَسُوْلَ** چې څه ستا د **رَبْ** لَخوَا څخه پر **تَا** باندي **نَازِلْ** کړئ دئ دهغه **تَبْلِيْغْ** کوه .

**١٠**: **وَلِاُ بَيِّنَ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِىْ تَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ** ج **فَاتَّقُوا اللهَ وَ اَطِيْعُوْنِ** .

(**اٰيَتْ ٦٣** ،**سُوْرَةُ الزُّخْرُفْ ٤٣**)

**تَرْجَمَهْ**:- او ددې لپاره مُو (دغه د **دَانَايِيْ خَبَرِيْ**) رَاوړي دي چې ستاسو په مخکي بعض هغه **شِيَانْ وَاضِحْ** کم کُوم چې تاسو **اِخْتِلَافْ** پکښي کوئ. **لِهٰذَا** تاسو د **اَللهْ** څخه وَبېرېږئ، او **زمَا خَبَرَهْ** وَمَنئ.

په دغه **٥** **آيَتُوْ** کي دئ چې **تَا** ته مُو په **ژُوَنْدْ** کي د **دِيْنْ** د **اَحْکَامَاتُوْ** د **څُورَوُلُوْ**، او د **اَمْرْ** و **نَهِي** د **نَافِذَوُلُوْ** **اِخْتِيَارَاتْ** دَرکړي وُو، ددې څخه **عَلَاوَهْ** هم په **ژُوَنْدْ** کې ډېر **اِخْتِيَارَاتْ** وَرکړي وُو .

## [**٣**] **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته به په **قِيَامَتْ** څلور **اِخْتِيَارَاتْ**

## وَرکوَل سي

د قِیَامَتْ په وُرَځْ به د اَللّٰهْ تَعَالٰی په حُکْمْ سره نور اِخْتِیَارَاتْ هم مِلاؤ سي، لېکن دغه څلور اِخْتِیَارَاتْ ډېر مُهِمْ دي

[۱] د شَفَاعَتِ کُبْرٰی اِخْتِیَارْ

[۲] د شَفَاعَتِ صُغْرٰی اِخْتِیَارْ

[۳] د اَللّٰهْ د حَمْدْ کولو اِخْتِیَارْ

[۴] پر حَوْضِ کَوْثَرْ باندي په نورو د اُوْبُوْ د چِیْښَلُوْ اِخْتِیَارْ

## [۱] د شَفَاعَتِ کُبْرٰی اِخْتِیَارْ

د قِیَامَتْ په وُرَځْ د حِسَابْ د شروع کولو لپاره چي کُوم سَفَارَشْ کېږي، هغه ته شَفَاعَتِ کُبْرٰی (غَټْ شَفَاعَتْ) وَیَل کېږي، ځکه چي دغه شَفَاعَتْ به ډېر مُشْکِلْ وي، او ددغه سَفَارَشْ کولو حَقْ به صِرف حُضُوْرْ (ﷺ) ته وَر کوَل کېږي، بَل چا ته نَه،

ددې لپاره حَدِیْثْ دادئ

۱: عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ (ﷺ) یَجْمَعُ اللّٰهُ النَّاسَ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ فَیَقُوْلُوْنَ لَوْ اِسْتَشْفَعْنَا عَلٰی رَبِّنَا حَتّٰی یُرِیْحَنَا مِنْ مَّکَانِنَا ..... ثُمَّ یُقَالُ لِیْ: اِرْفَعْ رَأْسَكَ وَسَلْ تُعْطَهُ، وَقُلْ یُسْمَعْ، وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ فَارْفَعُ رَأْسِیْ فَاَحْمَدُ رَبِّیْ بِتَحْمِیْدٍ یُّعَلِّمُنِیْ، ثُمَّ اَشْفَعُ فَیُحَدُّ لِیْ حَدًّا ثُمَّ اُخْرِجُهُمْ مِّنَ النَّارِ وَ اُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ، ثُمَّ اَعُوْدُ فَاَقَعُ سَاجِدًا مِّثْلَهُ فِی الثَّالِثَةِ اَوِ الرَّابِعَةِ حَتّٰی مَایَبْقٰی فِی النَّارِ اِلَّا مَنْ حَبَسَهُ الْقُرْاٰنُ.

(بُخَارِیْ شَرِیْفْ،کِتَابُ الرِّقَاقْ،بَابُ صِفَةُ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ،ص: ۱۱۳۶، نَمْبَرْ ۶۵۶۵)

تَرْجَمَهْ:- حُضُورِ پَاکْ (ﷺ) وفرمائل چي اَللّٰهْ به د قِیَامَتْ په وُرَځْ خلگ سره جَمَعْ کي، خلگ به ووائي، زُمُوږ د رَبْ په مَخکي که یَو چَا سَفَارَشْ کړئ وائ نو ددغه ځایَه څخه به مُوږ ته عَافِیَّتْ مِلاؤ سوئ وائ ..... بیا به مَا ته وویل سي، سَرْ پُورتَه که او وَغُوَاړَه (هغه څَه به) دَرکوَل کېږي، وَوَایَهْ خَبَرَهْ به دي اَوربدَل کېږي، سَفَارَشْ وکه سَفَارَشْ به دي قَبلېږي، نو زَهْ به سَرْ پُورتَه کم، او دارنګه حَمْدْ به وکم چي اَللّٰهْ به په هغه وَخْتْ مَا ته رَاوبنَایِيْ، بیا به زَهْ سَفَارَشْ وکم نو یَو حَدْ (مَقَامْ) به مُتَعَیَّنْ کړي، بیا به زَهْ هغه خلگ د دُوْږَخْ څخه رَاوبَاسَمْ او په جَنَّتْ کي به دَاخِلْ کم، بیا به د اَوَّلْ وَارْ په شَانْ دُوهَمْ وَارْ سَجدې ته ځَم، دا به دَرِیَمْ وَارْ وي یا څَلُورَمْ وَارْ وي، آنْ تر دې چي په دُوْږَخْ کي به هغه پاته سي کُوم چي قُرْآنْ مَنْعَ کړي دي (یعني صِرف کافِرَانْ به په دُوْږَخْ کي پاته سي).

دغه حَدِیْثْ درې شِیَانْ ثَابتْ کړي دي

[۱] يَوْ يې شَفَاعَتِ كُبْرٰى ثَابِتْ كړې دئ .
[۲] دُوَهَمْ يې په هغه وَخْتْ د اَللّٰهْ حَمْدْ كول ثَابِتْ كړې دئ .
[۳] دَرَيَمْ يې شَفَاعَتِ صُغْرٰى ثَابِتْ كړې دئ .

## [۲] د شَفَاعَتِ صُغْرٰى اِخْتِيَارْ

۲: حَدَّثَنَا اَنَسُ بن مَالِكٍ اَنَّ النَّبِيَّ (ﷺ) قَالَ لِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ دَعَاهَا لِاُمَّتِه و اِنِّيْ اِخْتَبَأْتُ دَعْوَتِيْ شَفَاعَةً لِاُمَّتِيْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ .
(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْاِيْمَانْ،بَابُ اِخْتِبَاءُ النَّبِيِّ دَعْوَةَ الشَّفَاعَةِ لِاُمَّتِه،ص: ۱۰۶، نَمْبَرْ ۲۰۰/ ۴۹۴)
تَرْجَمَهْ:- حُضُور پَاكْ (ﷺ) وفرمائل چي د هر نَبِيْ لپاره يَوه مَقْبُوْلَ دُعَاءْ وي چي د اُمَّتْ لپاره يې دُوي كوی، او مَا د خپل اُمَّتْ لپاره يَوه دُعَاءْ پَټه ساتلې ده، او هغه دا چي د قِيَامَتْ په وُرَځْ به د خپل اُمَّتْ لپاره شَفَاعَتْ (سِفَارِشْ) كوم .
په دغه حَدِيْثْ كي د شَفَاعَتِ صُغْرٰى بَيَانْ دئ، چي و حُضُوْرْ (ﷺ) ته به وَركوَل كيږي .
لېكن دغه شَفَاعَتْ به د اَللّٰهْ د حُكْمْ بَغَيْرَهْ نَه وي
دلِيْلْ يې دا آيَتْ دئ
۱۱: مَنْ ذَا الَّذِيْ يَشْفَعُ عِنْدَهٗ اِلَّا بِاِذْنِه . (آيَتْ ۲۵۵،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲) .
تَرْجَمَهْ:- څوک دئ چي دده په حُضُوْرْ (مَخ) كي دده د اِجَازَتْ بَغَيْرَهْ سفَارِشْ وكي .
۱۲: مَا مِنْ شَفِيْعٍ اِلَّا مِنْ بَعْدِ اِذْنِه . (آيَتْ ۳،سُوْرَةُ يُوْنُسْ ۱۰) .
تَرْجَمَهْ:- هيڅ څوک دده د اِجَازَتْ بَغَيْرَهْ دده په مَخكي د هيڅ چَا سَفَارِشْ نَه سي كولائي .

## [۳] د اَللّٰهْ د حَمْدْ د بَيَانولو اِخْتِيَارْ

حُضُوْرْ (ﷺ) ته به په قِيَامَتْ د اَللّٰهْ د دارنګه تَعْرِيْفْ كولو اِخْتِيَارْ وَركوَل سي چي بَل چَا ته به هغه رنګه اِخْتِيَارْ نَه وي، دَلِيْلْ يې دا حَدِيْثْ دئ
۳: عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ (ﷺ) يَجْمَعُ اللّٰهُ النَّاسَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَيَقُوْلُوْنَ لَوْ اِسْتَشْفَعْنَا عَلٰى رَبِّنَا حَتّٰى يُرِيْحَنَا مِنْ مَّكَانِنَا ...... ثُمَّ يُقَالَ لِيْ : اِرْفَعْ رَأْسَكَ وَسَلْ تُعْطَهُ، وَقُلْ يُسْمَعُ، وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ فَارْفَعُ رَأْسِيْ فَاَحْمِدُ رَبِّيْ بِتَحْمِيْدٍ يُعَلِّمُنِيْ .
(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الرِّقَاقْ،بَابُ صِفَةُ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ،ص: ۱۱۳۶، نَمْبَرْ ۶۵۶۵)

تَرْجَمَهْ:- حُضُورِ پَاکْ (ﷺ) وفرمائل چي اَللّٰهْ به د قِيَامَتْ په وُرَځْ خلک سره جَمعْ کي، خلک به ووائي، زُمُوږ د رَبْ په مَخکي که يَو چَا سَفَارِشْ کړئ وائ نو ددغه ځايَه څخه به مُوږ ته عَافِيَّتْ مِلاوْ سوئ وائ ..... حُضُوْرْ (ﷺ) فرمائي چي بيا به مَا ته وويل سي، سَرْ پُورتَه که او وَغُواړَه (هغه څَه به) دَرکوَل کيږي، وَوَايَهْ خَبَرَهْ به دي اَورېدَل کيږي، سَفَارِشْ وکه سَفَارِشْ به دي قَبلېږي، نو زَهْ به سَرْ پُورتَه کم، او د اَللّٰهْ به دارنګه تَعْرِيفْ وکم چي اَللّٰهْ به په هغه وَخْتْ مَا ته رَاوَښَايِيْ .

## [۴] پر حَوْضِ کَوْثَرْ باندي په نورو د اُوْبُوْ د چِيښَلُوْ اِخْتِيَارْ

۴: عَنْ عَبْدِ اللهِ بنِ عَمرِو قَالَ النَّبِيُّ (ﷺ) حَوْضِيْ مَسِيْرَةُ شَهْرٍ مَـآؤُهُ اَبْيَضُ مِنَ اللَّبَنِ وَرِيْحُهُ اَطْيَبُ مِنَ الْمِسْكِ وَكِيْزَانُهُ كَنُجُوْمِ السَّمَآءِ، مَنْ شَرِبَ مِنْهَا فَلَا يَظْمَأُ اَبَدًا . (بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الرَّقَاقْ،بَابٌ فِي الْحَوْضِ،ص: ۱۱۳۸، نَمْبَرْ ۶۵۷۹)

تَرْجَمَهْ:- حُضُورﷺ وفرمائل چي زَمَا حَوْضْ د يوې مِيَاشْتِيْ د تَګ (سَفَرْ) په اَنْدَازَهْ وُرِيْدْ دئ، دهغه خُوْشْبُوْ تر مُشْکْ هم زِيَاتَهْ ده، او پر هغه چي کُومي پِيَالِي مَوْجُوْدْ دي هغه د آسْمَانْ د سْتُوْرُوْ په اَنْدَازَهْ دي، څوک چي يَوْ وَارْ دهغه اُوْبَهْ وَچِيښِي هغه به په هيڅ وَخْتْ تَږَئ نَه سي .

ددغه ۴ حَدِيْثُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي و حُضُوْرْ (ﷺ) ته به د قِيَامَتْ په وُرَځْ څُلور غَټْ غَټْ اِخْتِيَارَاتْ وَرکوَل سي .

## [۴] د اِخْتِيَارْ څَلُوْرَمْ قِسْمْ

## د نَفْعِ او نُقْصَانْ رَسوُلُو اِخْتِيَارْ د اَللّٰهْ بَغَيْرَهْ بَل چَا ته نَستَه

د اِخْتِيَارْ څلورم قِسْمْ د نَفْعَ او نُقْصَانْ رَسوُلُو اِخْتِيَارْ دئ، يَو چَا ته اَوْلَادْ وَرکوَل، چَا ته شِفَا ورکول، چَا ته رُوْزِيْ ورکول، چَا ته مَرګْ ورکول، چَا ته ژُوَنْدْ ورکول، بَارَانْ وُرَوَل، قَحْطْ (کَاخْتِيْ) رَاوَستَل، دغه اِخْتِيَارَاتْ و حُضُوْرْ (ﷺ) ته هم حَاصِلْ نَه وُو، او نَه وَ کُوم بَل چَا ته حَاصِلْ دي، دغه اِخْتِيَارَاتْ صِرف و اَللّٰهْ تَعَالٰي ته حَاصِلْ دي

دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي

۱۳: قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ وَمَآ اَدْرِيْ مَا يُفْعَلُ بِيْ وَلَا بِكُمْ ط اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰى اِلَيَّ . (آيَتْ ۹،سُوْرَةُ الْاَحْقَافْ ۴۶) .

تَرْجَمَهْ:- وَوَايَهْ چي:،، زَهْ په پېغَمْبَرَانْ کي څَه نَاوَلَدًّ (عَجَبَّهْ او اَنْتِکْ) پېغَمْبَرْ نَه يم. مَا ته نَه دئ مَعْلُوْمْ چي زَمَا سره به څَه کيږي، او نَه دا مَعْلُوْمْ دئ چي ستاسو سره به څَه کيږي؟. زَهْ د بَلْ شِي نَه، صِرف دهغه وَحْيِ پَيْرَوِيْ کوَم چي مَا ته اَستوَل کيږي .

په دغه آيَتْ کي دئ چي ... مَا ته نه دئ مَعْلُوْمْ چي زَمَا سره به څَه مَعَامَلَهْ کيږي؟ ... نو بيا و حُضُوْرْ (ﷺ) ته د څِشئ اِخْتِيَارْ سته ؟

۱۴: قُلْ اِ نِّيْ لَآ اَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّ لَا رَشَدًا ﴿﴾ قُلْ اِ نِّيْ لَنْ يُّجِيْرَنِيْ مِنَ اللهِ اَحَدٌ ۙ وَّ لَنْ اَجِدَ مِنْ دُوْنِه□ مُلْتَحَدًا ﴿﴾ۙ . (آيَتْ ۲۱،۲۲/، سُوْرَةُ الْجِنْ ۷۲) .

تَرْجَمَهْ:- وَوَايَهْ چي:,, نَه ستاسو کُوم نُقْصَانْ زَمَا په اِخْتِيَارْ کي دئ، او نَه کُوم خَيْرْ.,, ﴿﴾ وَوَايَهْ چي:,, نَه څوک مَا د اَللهْ څخه خَلَاسَوَلَائي سي، او نَه زَهْ چي دئ پرېږدَم بَل د پَنَاهْ ځائ پَيدَا کولائي سَم.﴿﴾

نو ځکه دغه څلورم قِسْمْ اِخْتِيَارْ هم و حُضُوْرْ (ﷺ) ته حَاصِلْ نَه دئ، تاسو په خپله هم پر دغه آيَتُوْ باندي غَوْرْ وکئ .

## په حُضُوْرْ (ﷺ) يې دا اِعْلَانْ وکئ چي مَا ته د نَفْعِ او نُقْصَانْ رَسوُلُو اِخْتِيَارْ نستَه

ددې لپاره آيَتُوْنَهْ دادي

۱۵: قُلْ لَّآ اَمْلِكُ لِنَفْسِيْ نَفْعًا وَّ لَا ضَرًّا اِلَّا مَاشَآءَ اللهُ . (آيَتْ ۱۸۸، سُوْرَةُ الْاَعْرَافْ ۷) .

تَرْجَمَهْ:- تَه وَوَايَهْ چي زَهْ و خپل ځان ته هم د فَائِدي او نُقْصَانْ رَسوُلُو مَالِكْ نَه يَم، لېکن چي اَللهْ څومره وَغُواړي هغونه به وي .

۱۶: قُلْ لَّآ اَمْلِكُ لِنَفْسِيْ ضَرًّا وَّ لَا نَفْعًا اِلَّا مَاشَآءَ اللهُ . (آيَتْ ۴۹، سُوْرَةُ يُوْنُسْ ۱۰) .

تَرْجَمَهْ:- تَه وَوَايَهْ چي زَهْ و خپل ځان ته هم د نُقْصَانْ او فَائِدي رَسوُلُو مَالِكْ نَه يَم، لېکن چي اَللهْ څومره وَغُواړي هغونه به وي .

۱۷: قُلْ اِنِّيْ لَآ اَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّ لَا رَشَدًا . (آيَتْ ۲۰، سُوْرَةُ الْجِنْ ۷۲) .

تَرْجَمَهْ:- تَه وَوَايَهْ چي زَهْ نَه ستاسو د نُقْصَانْ مَالِكْ يَم او نَه ستاسو د فَائِدي مَالِكْ يَم .

۱۸: قُلْ اِ نِّيْ لَنْ يُّجِيْرَنِيْ مِنَ اللهِ اَحَدٌ ۙ وَّ لَنْ اَجِدَ مِنْ دُوْنِه□ مُلْتَحَدًا ﴿﴾ۙ . (آيَتْ ۲۱، سُوْرَةُ الْجِنْ ۷۲) .

تَرْجَمَهْ:- وَوَايَهْ چي:,, نَه څوک مَا د اَللهْ څخه خَلَاسَوَلَائي سي، او نَه زَهْ چي دئ پرېږدَم بَل د پَنَاهْ ځائ پَيدَا کولائي سَم.﴿﴾

۱۹: قُلْ مَايَكُوْنُ لِيْٓ اَنْ اُبَدِّلَه□ مِنْ تِلْقَآءِ نَفْسِيْ . (آيَتْ ۱۵، سُوْرَةُ يُوْنُسْ ۱۰) .

تَرْجَمَهْ:- تَه وَوَايَهْ چي مَا ته دا حَقْ نستَه چي د خپل طَرَفْ څخه کُوم بَدْلُوْنْ پکښي وکم.

**٢٠: قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ وَمَآ اَدْرِيْ مَا يُفْعَلُ بِيْ وَلَا بِكُمْ ط اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰى اِلَيَّ . (آيَتْ ٩،سُوْرَةُ الْاَحْقَافْ ٤٦) .**

تَرْجَمَهْ:- وَوَايَهْ چي:،، زَهْ په پيْغَمْبَرَانُ کي څَه نَاوَلَدَّ (عَجَبَّهْ او اَنْتِکْ) پيْغَمْبَرْ نَه يَم. مَا ته نَه دئ مَعْلُوْمْ چي زَمَا سره به څَه کيږي، او نَه دا مَعْلُوْمْ دئ چي ستاسو سره به څَه کيږي؟. زَهْ د بَلْ شِي نَه، صِرف دهغه وَحْي پيْرَوِيْ کوَم چي مَا ته اَستَوَل کيږي .

په دغه ٦ آيَتُوْ کي د حُضُوْرْ (ﷺ) په ذَرِيْعَهْ يي دغه اِعْلَانْ کړئ دئ چي مَا ته اِخْتِيَارْ نستَه، نو بيا حُضُوْرْ (ﷺ) ته څنګه مُخْتَارِ کُلْ وَيَل کيدلائي سي؟ .

## په دغه آيَتُوْ کي دئ چي و حُضُوْرْ (ﷺ) ته ډير اِخْتِيَارَاتْ حَاصِلْ نَه دي

**٢١: لَيْسَ عَلَيْكَ هُدٰىهُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ط . (آيَتْ ٢٧٢،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ٢) .**

تَرْجَمَهْ:- (اِئ پيْغَمْبَرَهْ!) دغه (کُفَّارْ) سيده لَارَهْ ته رَاوَسْتَلْ ستا ذِمَّهْ دَارِيْ نَه ده، لېکن اَللّٰهْ چي وغواړي هغه سيدې لَارِيْ ته رَاوَلي .

**٢٢: اِنَّكَ لَا تَهْدِيْ مَنْ اَحْبَبْتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ج وَهُوَ اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ۝ (آيَتْ ٥٦،سُوْرَةُ الْقَصَصْ ٢٨) .**

تَرْجَمَهْ:- (اِئ پيْغَمْبَرَهْ!) حَقِيْقَتْ دادئ چي څوک چي ته يي په خپله وَغُوَاړي، هِدَايَتْ ته يي نَه سې رَسَوَلائي، بلکه چي اَللّٰهْ څوک وَغُوَاړي، هِدَايَتْ تـه يې رَسَوِي، او چي هِدَايَتْ قَبْلَوِيْ هغه خو دئ ډير ښَه پيژَني.۝

په دغه آيَتْ کي دئ چي حُضُوْرْ (ﷺ) و کُوم چا تـه هِدَايَتْ ورکول وَغُوَاړي نو نَه سي وَرکولائي، اَلْبَتَّهْ چي اَللّٰهْ کُوم چَا ته هِدَايَتْ ورکول وَغُوَاړي هغه ته هِدَايَتْ ورکولائي سي، نو بيا حُضُوْرْ (ﷺ) څنګه مُخْتَارِ کُلْ سو؟

**٢٣: وَلَا تَقُوْلَنَّ لِشَايْءٍ اِنِّيْ فَاعِلٌ ذٰلِكَ غَدًا۝ لا اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ز (آيَتْ ٢٤،سُوْرَةُ الْكَهْفْ ١٨) .**

تَرْجَمَهْ:- او (اِئ پيْغَمْبَرَهْ!) دهيڅ يَو کار په اړه هم په هيڅ وَخت دا مـه وَايَـهْ چي زَهْ دغه کار سَبَا کوم۝ اَلْبَتَّهْ (دا وَايَه چي) که د اَللّٰهْ خُوښَه سي نو (به وکړم) .

**٢٤: لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ اَوْيَتُوْبَ عَلَيْهِمْ اَوْيُعَذِّبَهُمْ فَاِنَّهُمْ ظٰلِمُوْنَ۝ (آيَتْ ١٢٨،سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ٣) .**

**تَرْجَمَهْ**:- (ائ **پيغَمْبَرَهْ**!) **تَا** تَه ددې **فَيْصَلي** هيڅ **اِخْتِيَارْ** نسته چي **اَللّٰهْ** د ډُوي **تَوْبَهْ** **قَبُوْل** کړي يا ډُوي ته **عَذَابْ** ورکړي، ځکه چي دغه **ظَالِمَانْ** خلک دي

**۲۵**: **يَوْمَ لَاتَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَيْئًا ط وَالْاَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ**

**(آيَتْ ۱۹،سُوْرَةُ الْاِنْفِطَارْ ۸۲)** .

**تَرْجَمَهْ**:- دا به هغه **وُرَځْ** وي چي په هغه کي به د بَل ځَا لپاره يَو څَه کول د هيڅ ځَا په **وَسْ** کي نَه وي، او هر څَه **حُکْمْ** به په هغه **وُرَځْ** **تَنْهَا** د **اَللّٰهْ** چليږي.

**۲۶**: **مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِيْنَ وَلَوْ كَانُوْٓا اُولِيْ قُرْبٰى مِنْ م بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ** **(آيَتْ ۱۱۳،سُوْرَةُ التَّوْبَةْ ۹)** .

**تَرْجَمَهْ**:- دغه **خَبَرَهْ** خو نَه د **نَبِيْ** سره ښَايِي او نَه د نُورو **مُؤْمِنَانُوْ** سره چي ډُوي د **مُشْرِکانُوْ** لپاره **دُعَاءْ** وکړي، که څـه هم هغـه د ډُوئ **رِشْتَهْ** **دَارَانْ** وي، سره ددې چي ډُوي ته دا **خَبَرَهْ** سَرګنده (ښکاره) سوې ده چي دغه خلک **دُوْزَخِيَانْ** دي

**۲۷**: **مَا كَانَ لِرَسُوْلٍ اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ج** **(آيَتْ ۷۸،سُوْرَةُ الْمُؤْمِنْ ۹)** .

**تَرْجَمَهْ**:- يَو **پيغَمْبَرْ** دا **اِخْتِيَارْ** نَه لري چي دئ د **اَللّٰهْ** د **اِجَازَتْ** **بَغَيْرَهْ** **مُعْجِزَهْ** رَاوړي .
دغه **۷** **آيَتُوْنَهْ** **ښَهْ** په **غَوَرْ** سره **مُلَاحَظَهْ** کـئ چـي و **حُضُـوْرْ** (ﷺ) تـه د ډيـرو **شِيَانُوْ** **اِخْتِيَارْ** نَه دئ وَرکـوَل سوئ، نو بيـا **حُضُـوْرْ** (ﷺ) تـه **مُخْتَـارِ** **کُلْ** ځنګـه وَيَل کيدلائي سي ؟

## د **اَللّٰهْ** د مَرضَئ **بَغَيْرَهْ** **حُضُوْرْ** (ﷺ) د **مَسْئلي** د بَيَانَوُلُو **حَقْ** هم نَه لري

پـه دغـه **آيَتُـوْ** کـي خـو دا **بَيَـانْ** **لا** هـم راغلـئ دئ چـي **حُضُـوْرْ** (ﷺ) د **اَللّٰهْ** د مَرضَئ **بَغَيْرَهْ** د **مَسْئلي** د بَيَانَوُلُو **حَقْ** هم نَه لري

**۲۸**: **يٰاَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ ج تَبْتَغِيْ مَرْضَاتَ اَزْوَاجِكَ ط**

**(آيَتْ ۱،سُوْرَةُ التَّحْرِيْمْ ۶۸)** .

**تَرْجَمَهْ**:- ائ **نَبِيْ**! کُوم شَئ چي **اَللّٰهْ** ستا لپاره **حَلَالْ** کړئ دئ، تَه د خپلو **بِيْ بِيْ** **ګـانُوْ** د **خُوْشْحالَئ** د **حَاصِلَوُلُو** په **خَاطَرْ** هغه وَلي **حَرَامْ** ګرزوې؟

**۲۹**: **مَا كَانَ لِنَبِيٍّ اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗ اَسْرٰى حَتّٰى يُثْخِنَ فِى الْاَرْضِ ط**

**(آيَتْ ۶۷،سُوْرَةُ الْاَنْفَالْ ۸)** .

تَرْجَمَهْ:- دا خَبَرَهْ د نَبِيْ د شَانْ سره وَړ نَه ده چي دده سره قَيْدِيَانْ (بَنْدِيَانْ) پاتـه سـي، تر څو چي ده په مځکه کي (د دُښْمَنَانُوْ) وِيْنَهْ په ښه تُوګه نَـه وي بَيَوَلِي (چـي پـه هغـه سره د دُوي رُعْبْ مُکَمَّلْ ختم سي) .

حُضُوْرْ (ﷺ) د جَنْګِ بَدْرْ د بَنْدِيَانُوْ څخه د فِدْيَهْ اَخستلو حُکْمْ کړئ وُو، چـي هغه د اَللّٰهْ مَرْضِيْ نَه وه، نو فَوْرًا يې حُضُوْرْ (ﷺ) پـه هغـه سـره آګـاهْ (خَبَـرْ) کئ .

دغه ۲ آيَتُوْ ته وَګُورَئ چـي د اَللّٰهْ د حُکْمْ بغَيْرَهْ حُضُوْرْ (ﷺ) تـه مَسئلي د بيَانْ حَقْ هم نَستَه نو بيا دئ مُخْتَارِ کُلْ څنګه سو؟

## حُضُوْرْ (ﷺ) چي څَه کړي دي هغه يې د اَللّٰهْ په اِجَازَتْ سره کړي دي

ددې لپاره دا آيَتُوْنَهْ دي

۳۰: وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا لِيُطَاعَ بِاِذْنِ اللّٰهِ . (آيَتْ ۶۴،سُوْرَةُ النِّسَآءْ ۴) .

تَرْجَمَهْ:- مُوږ هسي يَو رَسُوْلْ ددغه لپاره اَستوَلَئ دئ چي د اَللّٰهْ پـه حُکْمْ سـره دهغـه اِطَاعَتْ وسي .

۳۱: وَمَاكَانَ لِرَسُوْلٍ اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ط لِكُلِّ اَجَلٍ كِتَابٌ . (آيَتْ ۳۸،سُوْرَةُ الرَّعْدْ ۱۳) .

تَرْجَمَهْ:- اويَوه رَسُوْلْ ته دا اِخْتِيَارْ نَه وُو چي دئ هسي يَو آيت هم د اَللّٰهْ د حُکْمْ بغيره رَاوْړي، د هري زَمَاني لپاره مُوبېل بېل کِتَابْ ورکړئ دئ .

۳۲: وَمَاكَانَ لِرَسُوْلٍ اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ج . (آيَتْ ۷۸،سُوْرَةُ الْمُؤْمِنْ ۴۰) .

تَرْجَمَهْ:- اويَوه رَسُوْلْ ته دا اِخْتِيَارْ نَه وُو چي دئ هسي يَو آيت هم د اَللّٰهْ د حُکْمْ بغيره رَاوْړي .

۳۳: كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ لا (آيَتْ ۱،سُوْرَةُ اِبْرَاهِيْمْ ۱۴)

تَرْجَمَهْ:- دا يَو كِتَابْ دئ چي مُوږ پر تَا نَازِلْ کړئ دئ، ددې لپاره چي تَـه خلـګ ددُوي د پَرْوَرْدِګَارْ په حُکْمْ سره دتَارِيْکَيُوْ څخه رَاوَباسې رَڼَا ته يې رَاولې .

**۳۴**: **وَ دَاعِيًا اِلَى اللهِ بِاِذْنِهٖ وَسِرَاجًا مُّنِيْرًا** . (**آيَتْ ۱**،**سُوْرَةُ الْاَحْزَابْ ۳۳**)
**تَرْجَمَهْ**:- د **اَللّٰهْ** په **حُكْمْ** سره خلكو ته **دَعْوَتْ** وَركوُنكئ او **رَنَا** خُوَرَوُنكئ **څَرَاغْ** يې .
په دغه **۵ آيَتُوْ** كي دئ چي **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته ډېر **اِخْتِيَارَاتْ** وَركوَل سوي وُو، لېكن هغه ټول د **اَللّٰهْ** په **حُكْمْ** سره وُو .

## د **اَللّٰهْ اِخْتِيَارَاتْ لَامَحْدُوْدَ** دي هغه **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته څنګه **حَاصِلْ** كېدلائي سي؟

**اَللّٰهْ تَعَالٰى** خو **وَاجِبُ الْوُجُوْدْ** دئ، دده **اِخْتِيَارَاتْ لَامَحْدُوْدَ** دي او د **حُضُوْرْ** (ﷺ) **ذَاتْ مَحْدُوْدَ** دئ نو هغه ټول **اِخْتِيَارَاتْ** ده ته څنګه **حَاصِلْ** كېدلائي سي؟ دا هيڅ **اِمْكَانْ** نَه لري، نو ځكه **حُضُوْرْ** (ﷺ) **مُخْتَارِ كُلْ** نَه دئ، **اَلْبَتَّهْ** په **دُنْيَا** او **آخِرَتْ** كي بعض **اِخْتِيَارَاتْ** وَركوَل سوي دي،چي **تَفْصِيْلْ** يې مَختَه تېر سوو .
په دغه **آيَتْ** كي دئ چي **اَللّٰهْ** څَه وَغوَاړي هغه كوي

**۳۵**: **اِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ** . (**آيَتْ ۱۰۷**،**سُوْرَةُ هُوْدْ ۱۱**) .
**تَرْجَمَهْ**:- **يَقِيْنًا** ستا **رَبْ** چي څَه وَغوَاړي هغه كوي .

**۳۶**: **ذُوالْعَرْشِ الْمَجِيْدُ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ** . (**آيَتْ ۱۶**،**سُوْرَةُ الْبُرُوْجْ ۸۵**) .
**تَرْجَمَهْ**:- د **عَرْشْ مَالِكْ** دئ، د **بُزَرْګئ** والا دئ، چي څَه **اِرَادَهْ** وكي هغه څَه كوي .
**حُضُوْرْ** (ﷺ) ته دارنګه **اِخْتِيَارَاتْ حَاصِلْ** نَه دي چي څَه وَغوَاړي هغه څَه كوي، دغه **اِخْتِيَارْ** خو صِرف **اَللّٰهْ تَعَالٰى** ته **حَاصِلْ** دي .

ددغه **۳۶ آيَتُوْ** څخه **ثَابِتْ** سو چي **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته په **ژُوَنْدْ** كي ډېر **اِخْتِيَارَاتْ** وَركوَل سوي وُو، او په **قِيَامَتْ** به هم ډېر **اِخْتِيَارَاتْ** وَركوَل سى .
دغه **اِخْتِيَارَاتْ** تر ټولو **اَوَّلِيْنُ** او **آخِرِيْنْ زِيَاتْ** دي .
خو ددغه ټولو **بَاوُجُوْدَ حُضُوْرْ** (ﷺ) **مُخْتَارِ كُلْ** نَه دئ، او نَه **حُضُوْرْ** (ﷺ) د كُوم **نَفْعِ** او **نُقْصَانْ مَالِكْ** دئ .

## **حُضُوْرْ** (ﷺ) **كُلِّيْ اِخْتِيَارْ** نَه لري په **حَدِيْثْ** سره **ثَابِتْ** دئ

په دغه اَحَادِيْثُوْ کي دئ چي مَا ته اِخْتِيَارْ نَستَه

**٥: عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ اَنَّ النَّبِیَّ (ﷺ) قَالَ ..... يَا اُمَّ الزَّبَيْرِ بن الْعَوامِ عَمَّةُ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) يَا فَاطِمَةُ بِنْتِ مُحمَّدٍ اِشْتَرِيَا اَنْفُسَكُمَا مِنَ اللهِ، لَا اَمْلِكُ لَكُمَا مِنَ اللهِ شَيْئًا، سَلَانِیْ مِنْ مَّالِیْ مَا شِئْتُمَا .**

(بُخَارِیْ شَرِيْفْ، بَابُ مَنْ اِنْتَسَبَ اِلٰی اَبَاهُ فِی الْاِسْلَامِ وَالْجَاهِلِيَّةِ،ص: ۵۹۴، نَمْبَرْ ۳۵۲۷) .

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل ..... ائ د رَسُوْلُ اللّٰهْ تُرُوْرِیْ (عَمّي) چي د زُبَيْرْ بِنْ عَوَامْ مُوْرْ يې، ائ فَاطِمَهْ بِنْتِ مُحَمَّدْ د اَللّٰهْ څخه د خپل ځان لپاره څه خَرِيْدَارِیْ وکئ، زَهْ تاسو ته د فَائِدَهْ رَسوُلُو اِخْتِيَارْ نَه لرم، زَمَا د مَالْ څخه چي څه ستاسو د زَړَهْ آرْزُوْ وي، هغه وَغُوَاړئ .

**٦: اَنَّ اَبَا هُرَیْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) حِيْنَ اَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَ جَلَّ[وَ اَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ] اَيَتْ ٢١۴،سُوْرَةُ الشُّعَرَاءِ ٢۶) ..... يَا صَفِيَّةُ عَمَّةِ رَسُوْلِ اللهِ، لَا اُغْنِیْ عَنْكِ مِنَ اللهِ شَيْئًا، وَ يَا فَاطِمَةُ بِنْتِ مُحَمَّدٍ (ﷺ) سَلِيْنِیْ مَاشِئْتِ مِنْ مَّالِیْ، لَا اُغْنِیْ مِنَ اللهِ شَيْئًا .**

(بُخَارِیْ شَرِيْفْ، بَابُ هَلْ يَدْخُلُ النِّسَاءُ وَالْوَلَدُ فِی الْاَقَارِبِ،ص: ۴۵۵، نَمْبَرْ ٢٧۵٣) .

تَرْجَمَهْ:- چي کُوم وَخْتْ دغه آيَتْ نَازِلْ سو نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَلاړْ سو او وفرمائل چي ..... ائ د رَسُوْلُ اللّٰهْ تُرُوْرِیْ (عَمّي) صَفِيَّه، زَهْ د اَللّٰهْ لَجَانِب څخه ستا په کار نَه سَم راتلائي، او ائ فَاطِمَهْ زَمَا د مَالْ څخه وَغُوَاړَه، زَهْ د اَللّٰهْ لَجَانِب څخه په هيڅ کار نَه سم رَاتلَلائي .

په دغه دواړو حَدِيْثُوْ کي دئ چي په قِيَامَتْ زَهْ ستاسو په کار نَه سَم رَاتلائي، اَلْبَتَّهْ که اِيْمَانْ وي او اَللّٰهْ د سَفَارِشْ کولو اِجَازَتْ رَاکِي نو زَهْ به سَفَارِشْ کوم .

**٧: عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) يَجْمَعُ اللهُ النَّاسَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَيَقُوْلُوْنَ لَوْ اِسْتَشْفَعْنَا عَلٰی رَبِّنَا حَتّٰی يُرِيْحُنَا مِنْ مَكَانِنَا ..... ثُمَّ يُقَالُ لِیْ : اِرْفَعْ رَأْسَكَ وَسَلْ تُعْطَهُ،وَقُلْ يُسْمَعْ،وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ فَاَرْفَعُ رَأْسِیْ فَاَحْمَدُ رَبِّیْ بِتَحْمِيْدٍ يُّعَلِّمُنِیْ،ثُمَّ اَشْفَعُ فَيُحَدُّ لِیْ حَدًّا ثُمَّ اُخْرِجُهُمْ مِّنَ النَّارِ وَ اُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ ثُمَّ اَعُوْدُ فَاَقَعُ سَاجِدًا مِّثْلَهُ فِی الثَّالِثَةِ اَوِ الرَّابِعَةِ حَتّٰی مَا يَبْقٰی فِی النَّارِ اِلَّا مَنْ حَبَسَهُ الْقُرْاٰنُ .**

(بُخَارِیْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الرِّقَاقِ، بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ، ص: ١١٣۶، نَمْبَرْ ۶۵۶۵) .

**تَرْجَمَهْ**:- حُضُورِ **پَاکْ** (ﷺ) وفرمائل چي **اَللّٰهْ** به د **قِيَامَتْ** په **وُرَځْ** خلګ سره **جَمَعْ** کـي، خلګ به ووائي، زُمُوږ د **رَبْ** په مَخکي که يَو ځا **سَفَارَشْ** کړئ وائ نو ددغه ځاي‌ه څخه به مُوږ ته **عَافِيَّتْ** مِلاوُ سوئ وائ ..... بيا به **مَا** ته وويل سي، **سَرْ** پُورتَه که او وَغُوَاړه (هغه څه به) دَرکوَل کيږي، **وَوَايَهْ** **خَبرَهْ** به دي اَوريدَل کيږي، **سَفَارَشْ** وکه **سَفَارَشْ** به دي قَبليږي، نو **زَهْ** به **سَرْ** پُورتَه کم، او دارنګه **حَمْدْ** به وکم چي **اَللّٰهْ** به په هغه **وَخْتْ** **مَا** ته **رَاوبَايِيْ**، بيا به **زَهْ** **سَفَارَشْ** وکم نو يَو **حَدْ** (**مَقَامْ**) بـه **مُتَعَيَّنْ** کـړي، بيـا بـه **زَهْ** هغـه خلګ د **دُوْزَخْ** څخه **رَاوبَاسَمْ** او په **جَنَّتْ** کي به **دَاخِلْ** کم، بيا به د **اَوَّلْ** **وَارْ** په **شَانْ** **دُوَيـمْ** **وَارْ** سَجدې ته ځَم، دا به **دَرِيَمْ** **وَارْ** وي يا **څَلُوْرَمْ** **وَارْ** وي، **آنْ** تر دې چي پـه **دُوْزَخْ** کـي به هغه پاته سي کُوم چي **قُرْآنْ** **مَنَعْ** کړي دي (يعني صِرف **کافِرَانْ** به په **دُوْزَخْ** کي پاته سي) .

په دغه **حَدِيْثْ** کي دئ چي په **قِيَامَتْ** به **حُضُوْرْ** (ﷺ) د **اَللّٰهْ** څخه وَغُوَاړي، او **اَللّٰهْ** به وَرکي، بيا دا **خَبرَهْ** هم ده چـي د ټولـو **سَفَارَشْ** بـه پـه **يَوَهْ** **وَخْتْ** نـه کوي، بلکه **يَوْ** **وَارْ** به **يَوْ** **حَدْ** **مُتَعَيَّنْ** کـړي، بيـا بـه **دُوَهَمْ** **وَارْ** بـه **دُوهَمْ** **حَدْ** **مُتَعَيَّنْ** کي، او **دَرِيَمْ** **وَارْ** به **دَرِيَمْ** **حَدْ** **مُتَعَيَّنْ** کي، بيا به **څَلُوْرَمْ** **وَارْ** د **سَفَارَشْ** يَو بَل **حَدْ** **مُتَعَيَّنْ** کي، په دغه رنګه په **څَلُوْرْ** **وَارَهْ** به د **حُضُوْرْ** (ﷺ) **سَفَارَشْ** **پُوْرَهْ** سي، نو ځکه **حُضُوْرْ** (ﷺ) بـه د **قِيَامَتْ** پـه **وُرَځْ** هم **مُخْتَار** **کُلْ** نـه وي ..... تاسو هم پر دغه **حَدِيْثُوْ** باندي **غَوْرْ** وکئ .

په دغه **حَدِيْثْ** کي ددې څخه هم **مَنَعْ** کړې ده چي: دا هم مـه **وَايَاسْتْ** چي **اَللّٰهْ** او **مُحَمَّدْ** وَغُوَښتَل، بلکه دارنګه **وَايَاسْتْ** چي **اَللّٰهْ** وَغُوَښتَل، بيا **مُحَمَّدْ** وَغُوَښتَل، ......... **حَدِيْثْ** دادئ

**٨: عَنْ حُذَيْفَةَ بِن الْيَمَانِ ..... تَقُوْلُوْنَ مَاشَآءَ اللّٰهُ وَشَآءَ مُحَمَّدٌ، وَذُكِرَ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ (ﷺ) فَقَالَ اَمَّا وَاللّٰهِ اِنْ كُنْتُ لَاَعْرِفُهَا لَكُمْ، قُوْلُوْا مَاشَآءَ اللّٰهُ ثُمَّ شَآءَ مُحَمَّدٌ .**

(**اِبْن مَاجَهْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْكَفَّارَاتْ،بَابُ النَّهْيِ اَنْ يُّقَالَ مَاشَآءَ اللّٰهُ وَشِئْتُ،ص: ٣٠٤، نَمْبَرْ ٢١١٨/ مُسْنَدِ اَحْمَدْ،حَدِيْثُ حُذَيْفَةَ بِن يَمَانِ، ج: ٣٨، ص: ٣٦٤، نَمْبَرْ ٢٣٣٣٩**) .

**تَرْجَمَهْ**:- د **حُذَيْفَهْ بِن الْيَمَانْ** څخه **رِوَايَتْ** دئ چي ..... تاسو **وَايَاسْتْ** کُوم چي **اَللّٰهْ** يې وَغُوَاړي، او **مُحَمَّدْ** (ﷺ) يې وَغُوَاړي (نو هغه کار کيږي)، ددغه **خَبرِيْ** **تَذْکِرَهْ** (**بَيَانْ**) د **حُضُوْرْ** (ﷺ) په مَخکي راغله، نو **حُضُوْرْ** (ﷺ) وفرمائل **قَسَمْ** پـه خُدَائ ستاسو پـه دغـه **خَبرَهْ** **خَبرْ** وَم، دارنګه **وَايَاسْتْ**، څـه چي **اَللّٰهْ** يـې وَغُوَاړي، بيـا يـې **مُحَمَّدْ** وَغُوَاړي [يعني د **اَللّٰهْ** د غُوَښتَلُو وروسته **مُحَمَّدْ** وَغُوَښتَل، چي په غُوَښتَلُو کي **شَرَاکَتْ** پَيدَا نَه سي]

او په **طَبْرَانِيْ** **کَبِيْرْ** کي خو راغلي دي چي صِرف دا **وَايَاسْتْ** چي **اَللّٰهْ** وَغُوَښتَل، په **مَابَيْنْ** کي د **مُحَمَّدْ** دغُوَښتَلُو **نُوْمْ** هم مَه اَخلَئ، **حَدِيْثْ** دادئ

**۹: عَنْ رِبْعِيْ بن خَرَّاشٍ عَنْ اَخٍ لِّعَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ (ﷺ) ..... اِنَّمَا كَانَ يَمْنَعُنِيْ اَنْ اَنْهَاكُمْ مِنْ ذٰلِكَ الْحَيَاءُ، فَاِذَا قُلْتُمْ فَقُوْلُوْا، مَاشَآءَ اللهُ وَحْدَهُ .**
(طَبْرَانِيْ كَبِيْرْ ،طُفَيْلْ بن سَخِيْرْ اَلدُّوْسِيْ اَخُوْ عَائِشَةَ، ج: ۸، ص: ۳۲۵، نَمْبَرْ ۸۲۱۵) .

تَرْجَمَهْ:- د حضرت عَائِشَهْ وُرُوْرْ رَبِيْعْ بن خَرَّاشْ څخه رِوَايَتْ دئ ..... د شَرْمْ په وَجْهَ مَا دا خَبَرَهْ نَه کوله، چي کله تاسو وَاِيَاسْتْ نو دارنګه وَاِيَاسْتْ چي: صِرف اَللهْ چي څَه وَغُوَاړي هغه کيږي .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي صِرف دا وَاِيَاسْتْ چي اَللهْ څَه وَغُوَاړي هغه کيږي.

نو ددغه ۵ حَدِيْثُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي: حُضُوْرْ (ﷺ) مُخْتَارِ كُلْ نَه دئ .

او چي حُضُوْرْ (ﷺ) مُخْتَارِ كُلْ نَه دئ نو هسي يَو نَبِيْ، يا صَحَابِيْ، يا وَلِيْ هم مُخْتَارِ كُلْ نَه دئ .

## د هِنْدُوَانُوْ دا عَقِيْدَهْ ده چي زُمُوږ دِيْوِيْ دِيْوْتَا (مَصْنُوْعِيْ خُدَايَانُوْ) ته ټولَ اِخْتِيَارَاتْ حَاصِلْ دي

د هِنْدُوَانُوْ دا عَقِيْدَهْ چي زُمُوږ و دِيْوِيْ دِيْوْتَا (مَصْنُوْعِيْ خُدَايَانُوْ) آنْ تر دې چي دهغه و بُتَانُوْ ته هم د نَفْعِ او نُقْصَانْ رَسَوُلُو اِخْتِيَارَاتْ حَاصِلْ دي، نو د دُوي په مَذْهَبْ کي بعض دِيْوِيْ د نَفْعِ لپاره مُخْتَصْ دي، بعض د نُقصَانْ رَسَوُلُو لپاره مُخْتَصْ دي، د بعضو پر ذِمَّهْ د بَارَانْ د وُرَوُلُوْ کار دئ، په دغه وَجْهَ خو دُوي د دِيْوِيْ دِيْوْتَا بَنْدَګِيْ کوي، او دهغوي څخه خپل ضرورتونه غُوَاړي، او دهغوي بُتَانْ يې جوړ کړي دي دهغه په مَخکي خپل تَنْدَئ پر مځکه اِږدي .

او دغه خو شِرْکْ وُو نو ځکه اَللهْ تَعَالٰی په قُرْآنِ حَكِيْمْ کي پر دغه باندي ډېر زُوْرْ او تَاكِيْدْ کړئ دئ، او په حُضُوْرْ (ﷺ) يې دا اِعْلَانْ وکئ چي زَما په لَاسْ کي د نَفْعِ او نُقْصَانْ رَسَوُلُو اِخْتِيَارْ نستَه .

تاسو پر دغه نُكْتَهْ باندي غَوْرْ وکئ .

## ۱۰: عِلْمِ غَيْبْ صِرف اَللهْ ته حَاصِلْ دئ

ددغه عَقِيدې په اړه ۵۴ آيَتُوْنَهْ او ۱۷ حَدِيْثُوْنَهْ دي تاسو د هر يوه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کئ .

عِلْمِ غَيْبْ صِرف اَللّٰهْ تَعَالٰي ته حَاصِلْ دئ، اَلْبَتَّـهْ حُضُوْرْ (ﷺ) تـه يـې د غَيْبُ ډيري خَبَرِيْ د وَحِيْ په ذَرِيْعَهْ، يا چي کله مِعْرَاجْ ته بُوتلئ هلته، يا چـي جَنَّتْ او دُوْزَخْ يې دده وَ مَختَه حَاضِرْ کړل هغه وَخت يې وَرښوُلِي دي، او دغـه پـه کائِنَاتُوْ کي تر ټولو زِيَاتْ عِلْمْ دئ، لِهٰذَا صَحِيْحْ وَيْنَا دغه ده چـي عَالِمُ الْغَيْبْ صِرف اَللّٰهْ دئ، او حُضُوْرْ (ﷺ) ته پـه ۷ طَرِيْقُوْ سره د غَيْبُ ډيري خَبَرِيْ وَرښوُلِي دي چي په اَوَّلِيْنُ او آخِرِيْنْ کي په ټولو کي زِيَاتِ دي .
اَلْبَتَّهْ دغه عِلْمْ جُزْءْ دئ، کُلْ عِلْمْ نَه دئ

ع بَعْد اَزْ خُدَا بُزَرْگِ تُوْئی قِصَّهْ مُخْتَصَرْ

و ټولو نَبِيَانُوْ ته د وَحِيْ په ذَرِيْعَهْ سره ډيري خَبَرِيْ وَرښـوَل سـوي دي، پـه دغه وَجْهَ هغه ته نَبِيْ وَيَل کيږي، يعني د غَيْبُ خَبَرِيْ وَرښوُنکئ .
لېکن دا چي د غَيْبُ خَبَرِيْ وَروَښايي په دغه وَجْهَ هغه عَالِمُ الْغَيْبْ نَه ګرزي، که چيري د غَيْبُ د خَبَرُوْ ښخه دئ عَالِمُ الْغَيْبْ سي نو بيا خو بـه حَتْمًا ټـول نَبِيَانْ عَالِمُ الْغَيْبْ مَني، په دغه صُوْرَتْ کي خو تَنْهَا حُضُوْرْ (ﷺ) عَالِمُ الْغَيْبْ نَه سو پاته، پر دغه نُکْتَهْ تاسو غَوْرْ وکئ .

## د عِلْمِ غَيْبْ درې صُوْرَتُوْنَهْ دي

[۱] ... هغه عِلْمِ غَيْبْ چي ذَاتِـيْ دئ، او و هر هر شِـي تـه شَـامِلْ دئ، او د همېشَه لپاره شَامِلْ دئ، دغه د همېشَـه ښخـه دئ او تـر همېشَـه بـه وي، دغـه عِلْمْ لَامُتَنَاهِيْ دئ، دغه هيڅ حَدْ نَه لري، دغه عِلْمِ غَيْبْ صِرف اَللّٰهْ ته حَاصِـلْ دئ، بَل چَا ته نَه دئ حَاصِلْ، په دې کي د هيڅ چَا اِخْتِلَافْ نَستَه .
عِلْمِ غَيْبْ د اَللّٰهْ عِلْمْ دئ چي هيڅ اِنْتِهَاءْ نَه لري، او حُضُوْرْ (ﷺ) خـو اِنْتِهَـاءْ لري، نو دغه بې اِنْتِهَاءْ عِلْمْ و حُضُوْرْ (ﷺ) ته څنګه حَاصِلْ کېدلائي سي؟
[۲] ... د عِلْمِ غَيْبْ دُوَهَمْ صُوْرَتْ دادئ چي: د غَيْبُ خَبَرِيْ دي، د غَيْبُ شِيَانْ دي، لېکن اَللّٰهْ تَعَالٰي وخپل رَسُوْلْ تـه وَرښـوُلِي دي، و حُضُـوْرْ (ﷺ) تـه چي اَللّٰهْ تَعَالٰي څومره خَبَرِيْ وَرښوُلِي دي، هغه خو د رَسُوْلْ لپاره ثَابِتْ دي

دغه عِلْمْ يَو خو اَللهْ تَعَالٰي وَرسُوَلَئ دئ .
دُوَهَمْ دا چي دغه عِلْمْ بَعْضْ دئ د اَللهْ تَعَالٰي كُلْ عِلْمْ نَه دئ
په دغه آيَتْ كي دئ چي د غَيْبُ بعض خَبْرُوْنَهْ د وَحِيْ په ذَرِيْعَهْ سره مُوږ. تَـا ته دركوو
ذٰلِكَ مِنْ اَنْبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ اِلَيْكَ . (آيَتْ ۴۴،سُوْرَةُ آل عِمْرَانْ ۳) .
تَرْجَمَهْ:- دغه د غَيْبُ بعض خَبْرُوْنَهْ دي چي مُوږ يې د وَحِيْ په ذَرِيْعَهْ سره تَـا ته دركوو .

[۳] ... او دَرِيَـمْ صُوْرَتْ دادئ چي: د زَيْـدْ د خُوَرلُـوْ، چِيښَـلُوْ، نَـارُوْغَـيْ، شِفَاءْ، اَوْلَادْ، مَرْګْ، ژُوَنْدْ، نَفْعَ او نُقْصَانْ عِلْمْ و حُضُوْرْ (ﷺ) ته حَاصِلْ دئ؟
نو مَخْتَه ۴۰ آيَتُوْنَـهْ او ۵ حَدِيْثُوْنَـهْ رَارَوَانْ دي چي دغه عِلْمْ هم د اَللهْ څخه عَلَاوَهْ بَل چَا ته نَستَه .

## [۱] ... هغه عِلْمِ غَيْبْ چي ذَاتِيْ دئ، او هر هر شِي ته شَامِلْ دئ، دغه عِلْمِ غَيْبْ صِرف و اَللهْ تَعَالٰي ته حَاصِلْ دئ

[۱] ... د اَللهْ ذَاتِـيْ عِلْمِ غَيْبْ چـي د هميشَـه څخـه دئ، او صِـرف اَللهْ تـه حَاصِلْ دئ .
دهغه لپاره آيَتُوْنَهْ دادي

په دغه آيَتُوْ كـې پـه حَصْرْ او تَاكِيْدْ سـره دا بَيَانْ كـړئ دئ چـي عِلْمِ غَيْبْ صِرف د اَللهْ سره ستَه

۱: قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللهُ ط وَمَا يَشْعُرُوْنَ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ . (آيَتْ ۶۵،سُوْرَةُ النَّمْلْ ۲۷) .
تَرْجَمَهْ:- تَه اِعْلَانْ وكه چي :,, د اَللهْ بَغَيْرَهْ په آسْمَانُوْ او مځكَهْ كي هيڅ څوک هم د غَيْبُ عِلْمْ نَه لري، اوخلګ په دې هم نَه دي خَبَرْ چي دُوي به كله بيا دُوَهَمْ وَارْ ژُونـدِي كوي.''

۲: وَعِنْدَه مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَايَعْلَمُهَآ اِلَّا هُوَ ط . (آيَتْ ۵۹،سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ۶) .
تَرْجَمَهْ:- او د هغه سره د غَيْبُ چَابيَانْ (خَزَانې) دي چي دده بغيره بَلْ هيڅ چَاتـه هغـه نَه دي مَعْلُوْم .

۳: وَ لِلّٰهِ غَيْـبُ السَّـمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَ اِلَيْـهِ يُرْجَـعُ الْاَمْـرُ كُلُّـه . (آيَـتْ ۱۲۳،سُوْرَةُ هُوْدْ ۱۱) .

**تَرْجَمَهْ:-** په آسمانو او مځکو کي چي څومره پَټ پَټ **رَازُوْنَهْ** دي، هغه ټول د **اَللهْ** په **عِلْمْ** کي دي، او وهغه ته به ټولي مَعَامَلې وَاپِس رَاځِي .

**۴: تَعْلَمُ مَا فِیْ نَفْسِیْ وَلَآ اَعْلَمُ مَا فِیْ نَفْسِكَ ط اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُیُوْبِ .**

**(آیَتْ ۱۱۶،سُوْرَۃُ الْمَآئِدَۃْ ۵) .**

**تَرْجَمَهْ:-** ته په (هغه) **خَبَرُوْ خَبَرْدَارَهْ** یې ګُوم چي **زَمَا** په **زَرَهْ** کي پَټِي دي، او **زَهْ** ستاپه **پَټُوخَبَرُوْ** نَه یَم **خَبَرْ**، **یَقِیْنَا** تَه په ټولو پَټُو **خَبَرُوْ پُوْرَهْ پُوْرَهْ خَبَرْ** یې

**یَامْ لَرِنَهْ:** دَلتَه د ,, **اِنَّكَ** ,, او ,, **اَنْتَ** ,, په **لَفْظْ** سره **حَصْرْ** کړئ دئ چي **تَنْهَا** ته **خَبَرْ** یې، بیا **عَلَّامُ** د **مُبَالَغِي صِیْغَهْ** ده، چي **اَللهْ تَعَالٰي** ډېر **خَبَرْدَارَهْ** دئ، بیا **غُیُوْبْ** هم د **مُبَالَغِي صِیْغَهْ** ده چي د **غَیْبُ** په هر هر شِي **خَبَرْ** دئ، نو څکه بَل څوک ددغه **صِفَتْ مَالِكْ** نَه سي کېدلائي .

**۵: لَه غَیْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ . (آیَتْ ۲۶،سُوْرَۃُ الْکَهْفْ ۱۸) .**

**تَرْجَمَهْ:-** د **آسْمَانُوْ** او **مځکي** د **غَیْبُ** ټولِ **خَبَرِیْ تَنْهَا** د **اَللهْ** په **عِلْمْ** کي دي .

**۶: قُلْ اِنَّمَا الْعِلْمُ عِنْدَ اللهِ ص وَ اِنَّمَآ اَنَا نَذِیْرٌ مُّبِیْنٌ . (آیَتْ ۲۶،سُوْرَۃُ الْمُلْكْ ۶۷) .**

**تَرْجَمَهْ:-** د **آسْمَانُوْ** او **مځکي** د **غَیْبُ** ټولِ **خَبَرِیْ تَنْهَا** د **اَللهْ** په **عِلْمْ** کي دي، او **زَهْ** خو صِرف په **صَفَا صَفَا طَرِیْقَهْ** سره **خَبَرْدَارَهْ** کونکئ یَم .

**۷: قَالُوْا لَاعِلْمَ لَنَا ط اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُیُوْبِ . (آیَتْ ۱۰۹،سُوْرَۃُ الْمَآئِدَۃْ ۵) .**

**تَرْجَمَهْ:-** **رَسُوْلَانْ** ووائي چي ,, مُوږ په هیڅ **خَبَرْ** نَه یُو، د پَټُو **خَبَرُوْ** ټول **عِلْمْ** خو ستاسره دئ ,, .

**۸: اِنَّ اللهَ یَعْلَمُ غَیبَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط وَاللهُ بَصِیْرٌ م بِمَا تَعْمَلُوْنَ .**

**(آیَتْ ۱۸،سُوْرَۃُ الْحُجُرَاتْ ۴۹) .**

**تَرْجَمَهْ:-** **حَقِیْقَتْ** خو دادئ چي **اَللهْ** د **آسْمَانُوْ** او **مځکي** په هر **پَټْ** شِي **بِنَهْ خَبَرْدَارَهْ** دئ، او چي څه تاسو کوئ، **اَللهْ** هغه **بِنَهْ** وِینِي.

**۹: اِنَّ اللهَ عٰلِمُ غَیْبِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط اِنَّه عَلِیْمٌ م بِذَاتِ الصُّدُوْرِ .**

**(آیَتْ ۳۸،سُوْرَۃُ فَاطِرْ ۳۵) .**

**تَرْجَمَهْ:-** **بِیشَکَّهْ اَللهْ تَعَالٰي** د **آسْمَانُوْ** او **مځکي** د **پَټُوْ شِیَانُوْ عِلْمْ** لري. هغه په **سِینُوْ** کي **پَټُوْ خَبَرُوْ بِنَهْ خَبَرْ** دئ.

**۱۰: اَلَمْ یَعْلَمُوْآ اَنَّ اللهَ یَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوٰیهُمْ وَاَنَّ اللهَ عَلَّامُ الْغُیُوْبِ ج .**

**(آیَتْ ۷۸،سُوْرَۃُ التَّوْبَۃْ ۹) .**

**تَرْجَمَهْ:-** اَیَا دغه **مُنَافِقِیْنُ** ته دا **مَعْلُوْمْ** نَه وُو چي **اَللهْ** په هغه ټولو پَټُوپَټُو **خَبَرُوْ** او **یُسْ یُسِي** باندي **خَبَرْ** دئ، او دا چي **اَللهْ** د **غَیْبْ** په ټولو **خَبَرُوْ** باندي پُورَه پُورَه **عِلْمْ** لري؟

۱۱: عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ج هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ .(آيَتْ ۲۲،سُوْرَۃُ الْحَشْرْ ۵۹) .

تَرْجَمَهْ:- اَللّٰهْ په پټ او ښکاره هر شِي خَبَرْدَارَهْ دئ. هغه دئ چې پر ټولو مِهْرَبَانْ دئ، ډېر زِيَاتْ مِهْرَبَانْ دئ.

۱۲: عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ .(آيَتْ ۱۸،سُوْرَۃُ التَّغَابُنْ ۶۴) .

تَرْجَمَهْ:- اَللّٰهْ په هر پَټْ رَازْ او پـه هـر ښـکَارَهْ شِـي خَبَرْ دئ، د غَټْ اِقْتِدَارْ، د غَټْ حِکْمَتْ مَالِکْ دئ!

۱۳: عٰلِمُ الْغَيْبِ وَ الشَّهَادَةِ ط وَ هُوَ ا لْحَکِيْمُ ا لْخَبِيْرُ .(آيَتْ ۷۳،سُوْرَۃُ الْاَنْعَامْ ۶) .

تَرْجَمَهْ:- اَللّٰهْ په هر پَټْ او ښکاره شِي عِلْمْ لـري، او هغـه د غَټْ حِکْمَتْ والا، پُوْرَهْ خَبَرْدَارَهْ دئ

۱۴: عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ .(آيَتْ ۹۲،سُوْرَۃُ الْمُؤْمِنُوْنْ ۲۳) .

تَرْجَمَهْ:- هغه اَللّٰهْ چې هغه ته د ټولو پټُو او ښکاره خَبَرُوْ مُکَمَّلْ عِلْمْ حَاصِلْ دئ، لِهٰذَا هغه د دُوي د شِرْکْ څخه ډېر بَلَنْدْ او بَالَا دئ

۱۵: عٰلِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ .(آيَتْ ۴۶،سُوْرَۃُ الزُّمَرْ ۳۹) .

تَرْجَمَهْ:- اَللّٰهْ په غَائِبْ او حَاضِرْ هر شِي خَبَرْدَارَهْ دئ .

۱۶: ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُکُمْ بِمَا کُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ . (آيَتْ ۸،سُوْرَۃُ الْجُمْعَةْ ۶۲) .

تَرْجَمَهْ:- بيا به تاسو دهغه (اَللّٰهْ) وَ طَرَفْ ته وَاپَس بېـوَل کېـږئ چې پـه ټولـو پُټُوْ او ښکاره خَبَرُوْ خَبَرْدَارَهْ دئ، بيا به هغه تاسو ته ووائي چې تاسو څَه څَه کول

۱۷: عٰلِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلٰى غَيْبِه اَحَدًا لا . (آيَتْ ۲۶،سُوْرَۃُ الْجِنْ ۷۲) .

تَرْجَمَهْ:- هغه اَللّٰهْ په ټولو پَټُوْ پَټُوْ رَازُوْ خَبَرْ دئ، نو هغه په خپل رَازْ هيڅ څوک نَـه خَبَرَوِيْ،

۱۸: وَ لِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لا . (آيَتْ ۷۷،سُوْرَۃُ النَّحْلْ ۱۶) .

تَرْجَمَهْ:- په آسْمَانُوْ او مځکو کې د پټُو خَبَرُوْ عِلْمْ صِرف و اَللّٰهْ ته حَاصِلْ دئ .

۱۹: تِلْكَ مِنْ اَنْـبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهَآ اِلَيْكَ ج مَا کُنْتَ تَعْلَمُهَآ اَنْتَ وَلَا قَوْمُكَ مِنْ قَبْلِ هٰذَا ط . (آيَتْ ۴۹،سُوْرَۃُ هُوْدْ ۱۱) .

تَرْجَمَهْ:- (اِئ پيغَمْبَرَهْ!) دا د غَيْبُ څه خَبَرِيْ دي چې مُوږ يې تَا ته د وَحْي پـه ذَرِيْعَـهْ بيانوو، دغه خَبَرِيْ نَه تَا ته تر دې د مخکِي مَعْلُوْم وې، نَه ستا و قَوْمْ ته .

يَامْ لَرَنَهْ : په دغه آيَتْ كي اَللهْ تَعَالٰي په خپله فرمائي چي اىٔ نَبِيْ نَه خو تَا تـه هيڅ مَعْلُوْمَاتْ وُو او نَه ستا و قَوْمْ ته څـه مَعْلُوْمَـاتْ وُو، كـه حُضُـوْرْ (ﷺ) پـه عِلْمِ غَيْـبْ سره خَبَرْ واىٔ نـو پـه دروِيْشْتْ كـالَ كـي د قُرْآنْ د نَازلېـدو څـه ضرورت وُ؟ دغه قُرْآنْ خو بَايَدْ د مَخكِـي څخـه لا و حُضُـوْرْ (ﷺ) تـه مَعْلُـوْمْ واىٔ، ددې دَلِيْلْ دا آيَتْ دئ

۲۰: اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ تَنْزِيْلًا ج . (آيَتْ ۲۳،سُوْرَةُ اِنْسَانْ/ الدَّهْرْ ۷۶) .

تَرْجَمَهْ:- (اىٔ پيغَمْبَرَهْ!) بَس مُوْږْ پر تَا باندي دغه قُرْآنْ په لَږْ لَږْ نَازِلْ كړئ دئ .

۲۱: وَ قُرْاٰنًا فَرَقْنٰهُ لِتَقْرَاَ هٗ عَلَى النَّاسِ عَلٰى مُكْثٍ وَّ نَزَّلْنٰهُ تَنْزِيْلًا . (آيَتْ ۱۰۶،سُوْرَةُ بَنِىْٓ اِسْرَآئِيْلْ ۱۷) .

تَرْجَمَهْ:- او مُوږ د قُرْآنْ جَلَا جَلَا حِصّي جوړي كړي دي، چي تَه دئ په درنګ درنګ (آرَامْ آرَامْ) سره د خلكو په مخكي تِلَاوَتْ كې، او مُوږ دا په لَږْ لَږْ نَازِلْ كړئ دئ

په دغه آيَتُوْ كي دئ چي په آهِسْتَهْ آهِسْتَهْ پر حُضُوْرْ (ﷺ) بانـدي قُرْآنْ نَـازِلْ سو .

په دغه ۲۱ آيَتُوْ كي دئ چي عِلْمِ غَيْبْ صِرف و اَللهْ تَعَالٰي ته سته، بَل چَا تـه نَستَه، او هغه ته هر شَئ مَعْلُـوْمْ دئ، چي په دغـه آيَتُـوْ كـي د بَـل چـا لپاره د غَيْبُ صَرَاحَةً اِنْكارْ مَوْجُوْدْ دئ نو بيا د حُضُوْرْ (ﷺ) لپاره عِلْمِ غَيْـبْ ثَـابِتَوَل صَحِيْحْ نَه دئ .

## په حُضُوْرْ (ﷺ) يې دا اِعْلَانْ وكئ چي زَمَا سره عِلْمِ غَيْبْ نَستَه

د دې لپاره ۸ آيَتُوْنَهْ دي

۲۲: قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللهُ ط وَمَـا يَشْـعُرُوْنَ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ . (آيَتْ ۶۵،سُوْرَةُ النَّمْلْ ۲۷) .

تَرْجَمَهْ:- تَه اِعْلَانْ وكه چي :,, د اَللهْ بَغَيْرَهْ په آسْمَانُوْ او مځكَهْ كي هيڅ څـوک هـم د غَيْبُ عِلْمْ نَه لري، اوخلک په دې هم نَه دي خَبَرْ چي دُوي به كله بيا دُوهَمْ وَارْ ژُوَنـدِي كوي.''

۲۳: قُلْ لَّآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِىْ خَزَآئِنُ اللهِ وَ لَآ اَعْلَمُ الْغَيْبَ (آيَتْ ۵۰،سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ۶) .

تَرْجَمَهْ:- تَهْ اىٔ (پيْغَمْبَرَهْ!) ذُوي ته وَوَايَهْ چي زَهْ تاسو ته دا نَه وَايَم چي زَمَا سره د اَللّٰهْ خَزَانِيْ دي، او نَه زَهْ د غَيْبْ پُوْرَهْ عِلْمْ لرم .

**۲۴: قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ وَمَآ اَدْرِىْ مَا يُفْعَلُ بِىْ وَلَا بِكُمْ ط اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰۤى اِلَىَّ . (آيَتْ ۹،سُوْرَةُ الْاَحْقَافْ ۴۶) .**

تَرْجَمَهْ:- وَوَايَهْ چي:،، زَهْ په پيْغَمْبَرَانْ کي څه نَاوَلَدَّ (عَجَبَّهْ او اَنْتِکْ) پيْغَمْبَرْ نَه يَم. مَا ته نَه دئ مَعْلُوْمْ چي زَمَا سره به څه کيږي، او نَه دا مَعْلُوْمْ دئ چي ستاسو سره به څه کيږي؟. زَهْ د بَلْ شِي نَه، صِرف دهغه وَحْي پيْرَوِيْ کوم چي مَا ته اَستوَل کيږي .

**۲۵: وَ لَآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِىْ خَزَآئِنُ اللّٰهِ وَ لَآ اَعْلَمُ الْغَيْبَ . (آيَتْ ۳۱،سُوْرَةُ هُوْدْ ۱۱) .**

تَرْجَمَهْ:- او زَهْ تاسو ته دا نَه وَايَم چي زَمَا سره د اَللّٰهْ خَزَانِيْ دي، او نَه زَهْ د غَيْبُ په تولو خَبَرُوْ خَبَرْ يَم .

**۲۶: فَقُلْ اِنَّمَا الْغَيْبُ لِلّٰهِ فَانْتَظِرُوْا ج اِنِّىْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ . (آيَتْ ۲۰،سُوْرَةُ يُوْنُسْ ۱۰) .**

تَرْجَمَهْ:- نو (اىٔ پيْغَمْبَرَهْ! تَه په جَوَابْ کي) وَوَايَهْ چي:،، د غَيْبُ خَبَرِيْ خو صِرف د اَللّٰهْ په اِخْتِيَارْ کي دي، لِهٰذَا تَاسو اِنْتِظَارْ وکړئ، زَهْ هم ستاسو سره اِنْتِظَارْ کوم ،،

**۲۷: يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ اَيَّانَ مُرْسٰهَا ط قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّىْ ج لَا يُجَلِّيْهَا لِوَقْتِهَآ اِلَّا هُوَ ط . (آيَتْ ۱۸۷،سُوْرَةُ الْاَعْرَافْ ۷) .**

تَرْجَمَهْ:- (اىٔ رَسُوْلَا!) خلک ستا څخه د قِيَامَتْ په اړه پُوښتَنَه کوي چي هغه به کله بَرپَا (لکه کښتئ لنګر) کيږي؟ وَوَايَهْ چي:،، دهغه عِلْمْ خو صِرف زَمَا د رَبْ سره دئ، هغه به دا پر خپل وخت باندي په وَضَاحَتْ سره ښکاره کړي .

**۲۸: يَسْئَلُكَ النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ ط قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ ط . (آيَتْ ۶۳،سُوْرَةُ الْاَحْزَابْ ۳۳) .**

تَرْجَمَهْ:- (اىٔ رَسُوْلَا!) خلک ستاڅخه د قِيَامَتْ په اړه پُوښتَنَه کوي، وَوَايَهْ چي د هغه عِلْمْ خو د اَللّٰهْ سره دئ .

**۲۹: وَلَوْ كُنْتُ اَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ ط صلى وَمَا مَسَّنِىَ السُّوْٓءُ ج . (آيَتْ ۱۸۸،سُوْرَةُ الْاَعْرَافْ ۷) .**

تَرْجَمَهْ:- او که چيري مَا د غَيْبْ عِلْمْ درلوداىٔ نو مَا به ښَهْ ښَهْ شِيَان ښَه ډېر جَمَعْ کړي واىٔ، او مَا تَه به په هيڅ وَخت يو تَکْلِيْفْ نَه واىٔ رسېدلائي .

په دغه ۸ آيَتُوْ کې په حُضُوْرْ (ﷺ) دا اِعْلَانْ وکـړ چي: مَا تـه عِلْمِ غَيْبْ حَاصِلْ نَه دئ، صِرف د اَللّٰهْ سره عِلْمِ غَيْبْ سته، نو بيا دا څنګه وَيَل کيدلائي سي چي و حُضُوْرْ (ﷺ) ته عِلْمِ غَيْبْ حَاصِلْ دئ؟

# په حُضُوْرْ (ﷺ) يې دا اِعْلَانْ وکئ چې زَمَا سره كُوم عِلْمْ دئ هغه د وَحِيْ په ذَرِيْعَهْ سره دئ زَهْ د هغه اِتِّبَاعْ كوم

په دغه ۶ آيَتُوْ كي په حَصْرْ او تَاكِيْدْ سره راغلي دي چې زَمَا سره كُوم عِلْمْ دئ هغه د وَحِيْ په ذُرِيْعَهْ سره دئ

**۳۰: قُلْ اِنَّمَآ اَتَّبِعُ مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ مِنْ رَّبِّيْ ج . (آيَتْ ۲۰۳،سُوْرَةُ الْاَعْرَافْ ۷) .**

تَرْجَمَهْ:- تَه ورته وَوَايَهْ چې زَهْ خو دهغې خبري اِتِّبَاعْ كوم كُوم چې زَمَا د رَبْ لطرف څخه د وَحْيِ په ذريعه سره مَا ته را رَسَول كيږي .

**۳۱: اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ ط . (آيَتْ ۵۰،سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ۶) .**

تَرْجَمَهْ:- زَهْ خو صِرف د هغه وَحِيْ اِتِّبَاعْ كوم كُوم چې پر مَا باندي نَازليږي .

**۳۲: اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ ج . (آيَتْ ۱۵،سُوْرَةُ يُوْنُسْ ۱۰) .**

**۳۳: اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ وَمَآ اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ (آيَتْ ۹،سُوْرَةُ الْاَحْقَافْ ۴۶) .**

**۳۴: وَ اتَّبِعْ مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ . (آيَتْ ۱۰۹،سُوْرَةُ يُوْنُسْ ۱۰) .**

**۳۵: اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْىٌ يُّوْحٰى لا . (آيَتْ ۴،سُوْرَةُ النَّجْمْ ۵۳) .**

په دغه ۶ آيَتُوْ كي په حَصْرْ سره حُضُوْرْ (ﷺ) دا فرمائلي دي چې زَمَا سره چې څَه هم دي هغه د وَحِيْ په ذَرِيْعَهْ سره راغلي دي، زَهْ دهغه اِتِّبَاعْ كوم، نو ځكه د عِلْمْ غَيْبْ د ثَابتَوُلُو لپاره به ډير سوچ او فِكْرْ كوي .
كه چيري ددې بَاوُجُوْدَ عِلْمِ غَيْبْ مَنې نو دهغه لپاره بـه يَو آيَتْ وي چې په هغه كي صَرَاحَةً دا اِعْلَانْ سوئ وي چې مَا و حُضُوْرْ (ﷺ) ته ټولَ عِلْمِ غَيْبْ وَركړئ دئ .

## ددغه پِنځو خَبَرُوْ عِلْمْ و هيڅ چَا ته نَستَه

په دغه آيَتْ كي دئ چې ددغه پِنځُو خَبَرُوْ عِلْمْ خو دَاللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ د بَل هيڅ چَا سره نَستَه .

۳۶: اِنَّ اللهَ عِنْدَه عِلْمُ السَّاعَةِ ج وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ ج وَيَعْلَمُ مَا فِى الْاَرْحَامِ ط وَمَا تَدْرِىْ نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا ط وَمَا تَدْرِىْ نَفْسٌ بِاَىِّ اَرْضٍ تَمُوْتُ ط اِنَّ اللهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ .
(آيَتْ ۳۴،سُوْرَةُ لُقْمَانْ ۳۱) .

تَرْجَمَهْ:- يَقِيْنًا (د قِيَامَتْ) د ګړي عِلْمْ تَنْهَا د اَللهْ سره دئ، هغه بَارَانْ وَرَوِي، او هغه ته مَعْلُوْمْ دئ چي د مَنْدُوْ په نَسُوْ کي چشئ دئ، او يَوَه مُتَنَفِّسْ (ذِيْ رُوْحْ/ژُوَنْدِيْ) ته دانَه دئ مَعْلُوْمْ چي دئ به سَبَا څَه ګټِي، او نَه يَوَه مُتَنَفِّسْ ته دا مَعْلُوْمْ دئ چي پر کُومَه مځکه به ده ته مَرګ رَاځِي، بِبِشَکَّهْ اَللهْ تـه د هر څَه عِلْمْ سته، په هره خَبَرَهْ پُورَه خَبْرْدَارَهْ دئ.

په دغه آيَتْ کي دئ چي ددغه پِنځو شِيَانُوْ عِلْمْ صِرف د اَللهْ سره دئ، بَل چَا ته ددې عِلْمْ نَستَه .

## په حُضُوْرْ (ﷺ) يې دا اِعْلَانْ وکئ چي که عِلْمِ غَيْبْ وائ نو مَا ته به هيڅ نُقْصَانْ نَه رَسېدلائي

۳۷: وَلَوْ كُنْتُ اَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ ط صلى وَمَا مَسَّنِىَ السُّوْٓءُ ج
(آيَتْ ۱۸۸،سُوْرَةُ الْاَعْرَافْ ۷) .

تَرْجَمَهْ:- او که چيري مَا د غَيْبْ عِلْمْ درلوداى نو مَا به ښَـهْ ښَـهْ شِيَان ښـه ډېر جَمَـعْ کړي وائ، او مَا تَه به په هيڅ وَخت يو تَکْلِيْفْ نَه وائ رسېدلائي .

په دغه آيَتْ کې په حُضُوْرْ دا وَيَلِي دي چي که چيري مَا ته عِلْمِ غَيْبْ وائ نـو د خَيْرْ ډېر شِيَانْ بـه مُـو جَمَـعْ کـړي وائ، او مَـا تـه بـه هيڅ نُقْصَانْ هـم نـه رسېدلائي .

## په حُضُوْرْ (ﷺ) يې دا اِعْلَانْ وکئ چي تَنْهَا د اَللهْ سره د غَيْبُ چَابِيْ سته او صِرف هغه په غَيْبُ خَبَرْ دئ

آيَتْ دادئ

۳۸: وَعِنْدَه مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَايَعْلَمُهَآ اِلَّا هُوَ ط (آيَتْ ۵۹،سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ۶) .

تَرْجَمَهْ:- او دهغه سره د غَيْبُ چَابِيَانْ (خَزَانې) دي چي دده بغيره بَلْ هيڅ چَاته هغه نَه دي مَعْلُوْم .

په دغه ۳۷ يا ۳۸ آيَتُوْ کي حُضُوْرْ (ﷺ) دا اِنْکَارْ کـوي چـي مَـا تـه عِلْـمِ غَيْبْ سته، نو بيا به عِلْمِ غَيْبْ څنګه ثَابِتَوي؟

او که چيري په عَطَايِيْ تُوګه عِلْمِ غَيْبْ وي نو په دغه آيَتُوْ کې بَايَدْ ددې څخه اِنْکارْ نَه واىٔ کړئ .
يا خو بَايَدْ په يَوْ نَه يَوْ آيَتْ کي په صَرَاحَتْ سره ددې ذِکْرْ راغلـئ واىٔ چـي اَللّٰهْ تَعَالِٰي په عَطَايِيْ تُوګه و آنحضرَت صَلَّي اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ ته تول عِلْمِ غَيْبْ وَرکړئ دئ، چي د هر څه طَلَبْ او پلټنې وروسته هم مَا ته دغه نـه دئ مِلاؤ سوئ .
او په کُومُو دُوُو آيَتُوْ سره چي عِلْمِ غَيْبْ ثَابِتَوِي هلته د وَحِيْ ذِکْرْ راغلئ دئ، دهغه څخه دا مَعلُومېږي چي د وَحِيْ په ذَرِيْعَهْ سره و حُضُوْرْ (ﷺ) تـه ډيـري خَبَرِيْ وَرښُوَلِي دي .

# حُضُوْرْ (ﷺ) ته عِلْمِ غَيْبْ حَاصِلْ نَه وُو په اَحَادِيْثُوْ کي ددې ثُبُوْتْ

**۵ حَدِيْثُوْنَهْ** دادي
د حُضُوْرْ (ﷺ) پـر بِـيْ بِـيْ اُمُّ الْمُوْمِنِيْنْ سَيِّدَهْ عَائِشَـهْ صِدِّيْقَهْ (رضي الله عنها) بانـدي مُنَافِقِيْنُ تُهْمَتْ وَلګـاوئ، چـي دهغـه لکبلـه تَقْرِيْبًا يَـوَه مِيَاشْتَهْ حُضُوْرْ (ﷺ) پرېشَانَ وُو، بيا د حضرت عَائِشَهْ په بَرَأَتْ کي د سُوْرَةُ النُّوْرْ آيَتُوْنَهْ نَازِلْ سو نو بيا حُضُوْرْ (ﷺ) مُطْمَئِنْ سو، که چيري حُضُوْرْ (ﷺ) عَالِمُ الْغَيْبْ وُو نـو تـر يوې مِيَاشْتِيْ پُوري د پرېشَانَ کېدو څه ضرورت وُو؟ بَايَدْ چي و حُضُوْرْ تـه مَعْلُوْمْ واىٔ چي حضرت عَائِشَهْ خو بَرِيْ ده، ددې لپاره حَدِيْثْ دادئ

**۱: عُتْبَةَ بن مَسْعُوْدٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ (ﷺ) حِيْنَ قَـالَ لَهَا اَهْلُ الْاِفْكِ مَاقَالُوْا ..... وَقَدْ لَبِثَ شَهْرًا لَايُوْحٰى اِلَيْهِ فِيْ شَأْنِيْ بِشَـيْءٍ قَالَتْ فَتَشَهَّدَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) حِيْنَ جَلَسَ ثُمَّ قَالَ اَمَّا بَعْدُ يَا عَائِشَةُ اِنَّهُ بَلَغَنِيْ عَنْكِ كَذَا كَذَا، فَاِنْ كُنْتِ بَرِيْئَةً فَيُبَرِّئُكِ اللّٰهُ وَ اِنْ كُنْتِ اَلْمَمْتِ بِذَنْبٍ فَاسْتَغْفِرِى اللّٰهَ وَتُـوْبِيْ اِلَيْـهِ ..... وَ اَنْـزَلَ اللّٰهُ تَعَـالٰى اِنَّ الَّـذِيْنَ جَـآءُوْ بِالْاِفْـكِ عُصْـبَةٌ مِّـنْكُمْ [آيَـتْ ۱۱،سُوْرَةُ النُّوْرْ ۱۸]**

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْمَغَازِيْ ، بَابُ حَدِيْثِ الْاِفْكِ،ص: ۷۰۱، نَمْبَرْ ۴۱۴۱ / مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ التَّوْبَةْ،ص: ۲۰۵، نَمْبَرْ ۲۷۷۰ / ۷۰۲۰)

پر حضرت عَائِشَهْ باندي د تُهْمَتْ په اړه دغه ډېر وُږد حَدِيْثْ دئ، دا دهغه مُخْتَصَرْ دئ .

تَرْجَمَهْ:- د حضرت عَائِشَهْ څخه رِوَايَتْ دئ چي تُهْمَتْ لګونکو چي څه دي ته وويل ..... حُضُوْرْ (ﷺ) تر يوې مِياشتِي پُوري وَدَرېدئ زَمَا په اړه هيڅ وَحِيْ نه راغلي، بيا فرمائي چي حُضُوْرْ (ﷺ) کښېنَستَئ نو حَمْدْ و ثَنَاءْ يي وَوَيَل، بيايي وويل اَمَّا بَعْدُ! اې عَائِشَهْ ستا په اړه مَا ته دغه دغه خَبَرِيْ رَارَسېدَلِي دي، که چيري تَه بَرِيْ يي نو اَللّٰهْ به تَا بَرِيْ کي، او که چيري تَا کُنَاهْ کړې ده نو د اَللّٰهْ څخه اِسْتِغْفَارْ وَغُوَاړَه او تَوْبَهْ وکه ..... بيا اَللّٰهْ تَعَالٰي زَمَا په اړه دغه آيَتْ نَازِلْ کئ ] کُومُو خلکو چي تُهْمَتْ وَلګاوئ هغه کِشنَئ جَمَاعَتْ دئ اِلَخْ

په دغه حَدِيْثْ کي وَګُورَئ حُضُوْرْ (ﷺ) ته د خپلي ګرَانِي بِيْ بِيْ په اړه هم هيڅ مَعْلُوْمَاتْ نَه وسو چي دا بَرِيْ ده که نَه ده؟ او تر يوې مِيَاشْتِيْ پُوري پرېشَانَ وُو، که چيري ده ته عِلْمِ غَيْبْ واې نو دغه پرېشَانِيْ به وَلِي رَاتلائي؟

د لُمُوْنَځْ په شَانْ په مُهِمْ عِبَادَتْ کي هم د حُضُوْرْ (ﷺ) هېر (پِېر) سو، او بيايي وفرمائل چي زَمَا شَئ هېرېږي، او دا يې هم وفرمائل چي مَا ته رَاپه يَادَوَئ، که چيري حُضُوْرْ (ﷺ) عَالِمُ الْغَيْبْ دئ نو بيا د هېرېدو څه مَطْلَبْ؟ او بيايي دا وَلِي وفرمائل چي مَا ته رَاپه يَادَوَئ؟ ددې څخه مَعْلُوْمْ سو چي حُضُوْرْ (ﷺ) ته عِلْمِ غَيْبْ حَاصِلْ نه وُو، دَلِيْلْ يې دا حَدِيْثْ دئ

۲: قَالَ عَبْدُ اللهِ صَلَّى النَّبِيُّ (ﷺ) ..... قَالَ اِنَّهُ لَوْ حَدَثَ فِى الصَّلٰوةِ شَىْءٌ لَنَبَّأْتُكُمْ بِه وَلٰكِنْ اِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ اَنْسٰى كَمَا تَنْسَوْنَ فَاِذَا نَسِيْتُ فَذَكِّرُوْنِىْ.

(بُخَارِىْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الصَّلٰوةْ، بَابُ التَّوَجُّهْ نَحْوَ الْقِبْلَةِ حَيْثُ كانَ،ص: ۷۰، نَمْبَرْ ۴۰۱ / مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْمَسَاجِدْ،بَابُ السَّهْوِ فِى الصَّلٰوةْ وَالسُّجُوْدُ لَهُ،ص: ۲۳۲،نَمْبَرْ ۵۷۲ / ۱۲۸۵)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَبْدُ اللهْ وفرمائل چي حُضُوْرْ (ﷺ) لُمُوْنَځْ راکئ ..... وفرمائل که چيري په لُمُوْنَځْ کي کُوم بَدْلُوْنْ رَاغلئ واې نو مَا به تاسو ته ضرور وَيَلِي واې، لېکن زَهْ ستاسو په شَانْ اِنْسَانْ يَم، لکه څنګه چي ستاسو هېرېږي زَمَا هم هېرېږي، نو چي کله يو وَخْتْ زَمَا هېر سي نو مَا ته يې رَا په يَادَوَئ.

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي زَمَا هېرېږي نو عِلْمِ غَيْبْ څنګه وَرتَه حَاصِلْ دئ؟

د فَيْصَلِي په شَانْ پر مُهِمَّهْ مُوْقَعْ باندي چي يَو غَيْرِ صَادِقْ اِنْسَانْ صَادِقْ وګڼي او دهغه په حَقْ کي فَيْصَلَهْ هم وکي، دا هغه وَخْتْ کېدلائي سي چي کله

دئ (حُضُوْرْ ﷺ) په غَيْبُ نَه وي خَبَرْ، که نَه نو هسي حُضُوْرْ (ﷺ) يَو غَيْر صَادِقْ خو صَادِقْ نَه سي کېدلائي. حَدِيْثْ دادئ

**۳: اَنَّ اُمَّهَا اُمَّ سَلَمَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ (ﷺ) ..... فَخَرَجَ اِلَيْهِمْ فَقَالَ: اِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ وَّ اِنَّهُ يَأْتِيْنِيْ الْخَصمُ فَلَعَلَّ بعْضَكُمْ اَنْ يَّكُوْنَ اَبْلَغُ مِنْ بَعْضٍ فَاَحْسِبُ اَنَّهُ صَدَقَ فَاَقْضِيْ لَهُ بذٰلِكَ .**

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،کِتَابُ الْمَظَالِمْ، بَابُ اِثْمُ مَنْ خَاصَمَ فِيْ بَاطِلٍ وَهُوَ يَعْلَمُهُ،ص: ۳۹۶، نَمْبَرْ ۲۴۵۸)

تَرْجَمَهْ:- د حضرت اُمِّ سَلَمَةْ څخه رِوَايَتْ دئ ..... حُضُوْرْ (ﷺ) خلګو ته راغلئ او و فَرْمَائِلْ زَهْ يَو اِنْسَانْ يَم، مَا ته (خلک) جګړې (اِخْتِلَافَاتْ) رَاوړي، ددې خَبَرِيْ ډېر اِمْکَانْ سته چي بعض خلک دي په دَلِيْلْ وړاندي کولو کي ډېر مَاهِرْ وي چي دهغه څخه زَمَا دا ګُمَانْ سي چي دئ صَادِقْ (رِشْتُوْنَئ) دئ، او دهغه لپاره دهغه فَيْصَلَهْ وکم .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي کله زَهْ يَو څوک دهغه د خَبَرُوْ په وَجَهَ رِشْتُوْنَئ وګڼم، نو بيا و حُضُوْرْ (ﷺ) ته عِلْمِ غَيْبْ څنګه حَاصِلْ سو؟

په قِيَامَتْ به هم و حُضُوْرْ (ﷺ) ته عِلْمِ غَيْبْ حَاصِلْ نَه وي چي دهغه په وَجْهَ به حُضُوْرْ (ﷺ) دارنګه اِنْسَانْ مُؤْمِنْ او خپل مَلګرئ وګڼي چي هغه وروسته مُؤْمِنْ نَه وُ پاته سوئ، حَدِيْثْ دادئ

**۴: عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ ..... اَ لَا وَ اِنَّهُ يُجَآءُبرِجَالٍ مِّنْ اُمَّتِيْ فَيُؤْخَذُ بِهِمْ ذَاتَ الشِّمَالِ فَاَقُوْلُ يَارَبِّ اَصْحَابِيْ فَيُقَالُ اِنَّكَ لَاتَدْرِيْ مَا اَحْدَثُوْا بَعْدَكَ فَاَقُوْلُ كَمَا قَالَ الْعَبْدُ الصَّالِحُ [وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا مَّا دُمْتُ فِيْهِمْ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِيْ كُنْتَ اَنْتَ الرَّقِيْبَ عَلَيْهِمْ] فَيُقَالُ اِنَّ هٰؤُلَآءِ لَمْ يَزَالُوْا مُرْتَدِّيْنَ عَلٰى اَعْقَابِهِمْ مُنْذُ فَارَقْتَهُمْ.**

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ، كِتَابُ التَّفْسِيْرْ، بَابُ وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا مَّا دُمْتُ فِيْهِمْ،ص: ۷۹۱، نَمْبَرْ: ۴۶۲۵ / مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْفَضَائِلْ، بَابُ اِثْبَاتِ حَوْضِ نَبِيِّنَا (ﷺ) وَصِفَاتِهِ،ص: ۱۰۱۸، نَمْبَرْ: ۲۳۰۴ / ۵۹۹۶)

تَرْجَمَهْ:- د حضرت اِبْنِ عَبَّاسْ څخه رِوَايَتْ دئ ..... د قِيَامَتْ په وُرَځْ به د حُضُوْرْ (ﷺ) د اُمَّتْ څه خلک رَاوستَل سي چي دهغوي بَدْ عَمَلَيُوْ به ذُوي رَاګير کړي وي، حُضُوْرْ (ﷺ) به ووائي زَمَا رَبَّ دا زَمَا اَصْحَابَانْ (مَلګرِ يعني اُمَّتِيَانْ) دي، نو حُضُوْرْ (ﷺ) ته به وويل سي، تَا ته نَه دي مَعْلُوْمْ ستا د وَفَاتْ وروسته ذُوي ګوم ګوم کارونه کړي دي؟ [يعني ذُوي مُرْتَدْ سوي وُو] نو حُضُوْرْ (ﷺ) فرمائي چي زَهْ به هغه خَبَرَهْ وکم ګوم چي يَوَه نيک اِنْسَانْ [حضرت عِيْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامْ] کړې وه، چي تر څو چي زَهْ د ذُوي په مِينځ کي مَوْجُوْدْ وَم نو زَهْ د ذُوي ګوَاهْ وَم، او چي کله تَا مَا ته وَفَاتْ (مرګ) راکړئ نو تَه د ذُوي نِګرَانْ يې ..... فَرِشْتي به حُضُوْرْ (ﷺ) ته اِطِّلَاعْ ورکي چي کله تَه

د ذُوي ښځه جِلَا سوئ وي نو ذُوي پر خپلو يُنْدُوْ بېرته رَاګرزېدَلِي (يعني مُرْتَدْ سوي) وُو .

## د شَفَاعَتِ کُبْرٰی پر وَخْتْ به هم حُضُوْرْ (ﷺ) ته حَمْدْ په يَادْ نَه وي، هغه وَخْتْ به اَللّٰهْ ده ته د حَمْدْ اِلْهَامْ وکي

دَلِيْلْ يې دا حَدِيْثْ دئ

**۵: عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) يَجْمَعُ اللّٰهُ النَّاسَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ..... فَاَرْفَعُ رَأْسِیْ فَاَحْمَدُ رَبِّیْ بِتَحْمِيْدٍ يُّعَلِّمُنِيْهِ رَبِّیْ .**

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،کِتَابُ الْاِيْمَانْ، بَابُ اَدْنٰی اَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً فِيْهَا، ص: ۱۰۱، نَمْبَرْ ۱۹۳/۴۷۵/ بُخَارِیْ شَرِيْفْ،کِتَابُ التَّوْحِيْدْ، بَابُ قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰی لَمَا خَلَقْتُ بِيَدَیَّ، ص: ۱۲۷۵، نَمْبَرْ ۷۴۱۰) .

تَرْجَمَهْ:- حُضُورِ پَاکْ (ﷺ) وفرمائل چي اَللّٰهْ به د قِيَامَتْ په وُرَځْ خلک سره جَمَعْ کي ..... نو زَهْ به سَرْ رَاپُورتَه کم، او دارنګه حَمْدْ به وکم چي اَللّٰهْ به په هغه وَخْتْ مَا ته رَاوَښَايِيْ .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي زَهْ به د سَجدې ښځه سَرْ رَاپُورتَه کم نو اَللّٰهْ به مَا ته د حَمْدْ اِلْهَامْ وکي چي دهغه په وَجْه به زَهْ عَجِيْبْ حَمْدْ وکم، ددې ښځه مَعْلُوْمْ سو چي حُضُوْرْ (ﷺ) په عِلْمِ غَيْبْ نَه وُ و خَبَرْ .

ددغه ۵ حَدِيْثُوْ ښځه مَعْلُوْمْ سو چي د حُضُوْرْ (ﷺ) سره عِلْمِ غَيْبْ نَه وُو، اَلْبَتَّهْ د غَيْبُ د بعضو خَبَرُوْ په اړه اَللّٰهْ تَعَالٰی ده ته خَبَرْ وَرکړئ وُو، چي د اَوَّلِيْنُ او آخِرِيْنُ د عِلْمْ زِيَاتْ وُو، دغه صَحِيْحْ عَقِيْدَهْ ده ،

## چي د اَللّٰهْ ښځه عَلَاوَهْ د بَل لپاره عِلْمِ غَيْبْ مَنِي هغه کافِرْ دئ د اِمَامْ اَبُوْحَنِيْفَهْ رَأْيَهْ

د اِمَامْ اَبُوْحَنِيْفَهْ مَشْهُوْرَهْ کِتَابْ ,, اَلْفِقْهُ الْاَکْبَرْ ,, دئ،حضرت مُلَّا عَلِیْ قَارِیْ ؒ دهغه شَرْحْ لِيکلي ده، دهغه نُوْمْ ,, شَرْحْ فِقْهِ اَکْبَرْ ,, دئ، په هغه کي دئ، چي کُوم څوک د اَللّٰهْ ښځه عَلَاوَهْ بَل څوک عَالِمُ الْغَيْبْ مَنِي هغه کافِرْ دئ .

د ,, شَرْحِ فِقْهِ اَکْبَرْ ,, عِبَارَتْ دادئ

ثُمَّ اِعلَمْ اَنَّ الْاَنْبِيَآءَ لَمْ يَعْلَمُوا الْمَغِيْبَاتَ مِنَ الْاَشْيَآءِ اِلَّا مَا عَلَّمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى اَحْيَانًا.

وَذَكَرَ بَعْضُ الْحَنَفِيَّةِ تَصْرِيْحًا بِالتَّكْفِيْرِ بِاِعْتِقَادِ اَنَّ النَّبِيَّ (ﷺ) يَعْلَمُ الْغَيْبَ لِمُعَارَضَةِ قَوْلِه تَعَالٰى [قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ ط]

.

(آيَتْ ۶۵،سُوْرَةُ النَّمْلْ ۲۷) . [كَذَا فِى الْمَسَامَرَةْ] (شَرْحْ فِقْهِ اَكْبَرْ، مَسْئَلَةُ فِىْ اَنَّ تَصْدِيْقَ الْكَاهِنِ بِمَا يُخْبِرُ بِه مِنَ الْغَيْبِ كُفْرٌ، ص: ۲۵۳) .

تَرْجَمَهْ:- بيا نو پُوْهْ سه چي اَنْبِيَآءِ كِرَامْ عَلَيْهِمُ السَّلَامْ د غَيْبُ په خَبَرُوْ نَه وُو خَبَرْ، اَلْبَتَّهْ كله نَا كله چي څومره وَرتَه وَيَل كېدلې په هغونَه خَبَرْ وُو .

اَحْنَافُوْ په صَرَاحَتْ سره دا خَبَرَهْ لِيكلې ده چي: څوک دا عَقِيْدَهْ ولري چي حُضُوْرْ (ﷺ) په غَيْبُ خَبَرْ وُو، هغه كَافِرْ دئ، ځكه چي ددې په خِلَافْ كي د اَللّٰهْ تَعَالٰى قَوْلْ مَوْجُوْدْ دئ، [ تَه وَرتَه وَوَايَهْ چي په آسْمَانُوْ او مځكه كي د اَللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ هيڅ چَا تـه د غَيْبُ عِلْمْ نَسته ] .

د ,, شَرْحِ فِقْهِ اَكْبَرْ ,, په دغه عِبَارَتْ كي دئ چي څوک دا عَقِيْدَهْ وَسَاتِي چي و حُضُوْرْ (ﷺ) ته عِلْمِ غَيْبْ حَاصِلْ وُو، هغه كَافِرْ دئ .

## و حُضُوْرْ (ﷺ) ته د غَيْبُ ډېري خَبَرِيْ وَرښُوَلِي دي
## چي د اَوَّلِيْنُ او آخِرِيْنُ څخه زِيَاتِ دي
## لېكن دغه جُزْءِ عِلْمْ دئ كُلْ عِلْمْ نَه دئ

[۲] د عِلْمِ غَيْبْ دُوَهَمْ صُوْرَتْ دادئ چي، د غَيْبْ خَبَرِيْ د غَيْبْ شِيَانْ دي، لېكن اَللّٰهْ تَعَالٰى و خپل رَسُوْلْ ته كړي دي. حُضُوْرْ (ﷺ) ته چي اَللّٰهْ تَعَالٰى څومره خَبَرِيْ وَرښُوَلِي دي هغه خو د رَسُوْلُ اللّٰهْ (ﷺ) لپاره ثَابِتْ دي، دغه عِلْمْ يَو خو دا چي اَللّٰهْ تَعَالٰى وَرښُوَلَئ دئ، دُوَهَمَهْ خَبَرَهْ دا چي دغه عِلْمْ بَعْضْ دئ، د اَللّٰهْ كُلْ عِلْمْ نَه دئ .

لېكن دغه بعض عِلْمْ ډېر كِشنَئ (لَږْ) نَه دئ، دغه عِلْمْ هم دُومره عَظِيْمْ دئ چي اَوَّلِيْنُ او آخِرِيْنُ ته څومره عِلْمْ وَركوَل سوئ دئ تر هغه زِيَاتْ دئ .

## حُضُوْرْ (ﷺ) ته د غَيْبْ چي كُومِي خَبَرِيْ كړي دي
## دهغه ۷ صُوْرَتُوْنَهْ دي

[۱] د وَحِيْ په ذَرِيْعَهْ سره يې و حُضُوْرْ (ﷺ) ته د غَيْبُ خَبَرِيْ وَربښوَلي .

[۲] اَنْبَآءُ الْغَيْبْ، يعني د غَيْبُ خَبَرْ يې ورکړئ، دهغه په ذَرِيْعَهْ سره د غَيْبُ خَبَرِيْ وَربښُوَلي .

[۳] د غَيْبُ خَبَرَهْ ده، پر حُضُوْرْ (ﷺ) يې ښکاره کړې ده، په تَفْسِيْر اِبْن عَبَّاسْ کي دئ چي دغه بعض عِلْم غَيْبْ دئ، ټولَ نه دئ .

[۴] د غَيْبُ خَبَرَهْ ده، حُضُوْرْ (ﷺ) يې پر هغه باندي مُطَّلِعْ کړئ دئ، دغه يې هم و حُضُوْرْ (ﷺ) ته وَرکړئ دئ، په تَفْسِيْر اِبْن عَبَّاسْ کي دئ چي دغه بعض عِلْم غَيْبْ دئ، ټولَ نه دئ .

[۵] د غَيْبُ ډېري خَبَرِيْ دي، چي د حُضُوْرْ (ﷺ) په مَخکې ښکاره کړي دي. لکه مِعْرَاجْ ته چې بُوتلَئ حُضُوْرْ (ﷺ) ته ډېر څَه شِيَانْ وَربښکاره کړل .

[۶] يايې په لُمَانْځَهْ کي د جَنَّتْ او دُوْزَخْ شِيَانْ وَربښکاره کړل .

[۷] يايې مځکه د حُضُوْرْ (ﷺ) په مَخکِي حَاضِرَهْ کړه، او د شَرْقْ څخه تر غَرْبْ پُوري حُضُوْرْ (ﷺ) وَلِيدَل .

دغه ټولَ هم بَعْضْ غَيْبْ دي، هغه ټول غَيْبْ نَه دئ کُوم چي د اَللّٰهْ تَعَالٰي سره خَاصْ دئ .

[۱] ..... هغه عِلْم غَيْبْ چي د وَحِيْ په ذَرِيْعَهْ سره ورکړئ دئ .

دهغه لپاره دا آيتُوْنَهْ دي

**۳۹: قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ وَمَآ اَدْرِىْ مَا يُفْعَلُ بِىْ وَلَا بِكُمْ ط اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰى اِلَيَّ وَمَآ اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ . (آيَتْ ۹،سُوْرَةُ الْاَحْقَافْ ۴۶) .**

تَرْجَمَهْ:- وَوَايَهْ چي:,, زَهْ په پيْغَمْبَرَانْ کي څَه نَاوَلَدّ (عَجَبَّهْ او اَنْتِکْ) پيْغَمْبَرْ نه يَم. مَا ته نَه دئ مَعْلُوْمْ چي زَمَا سره به څَه کيږي، او نَه دا مَعْلُوْمْ دئ چي ستاسو سره به څه کيږي؟. زَهْ د بَلْ شِي نَه، صِرف دهغه وَحْيِ پيْرَوِيْ کوَم چي مَا ته اَستَوَل کيږي، او زَهْ خو صِرف عَلَى الْاِعْلَانْ آگاهْ کونکئ يَم .

**۴۰: وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى ط اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى لا .**

**(آيَتْ ۳،۴/، سُوْرَةُ النَّجْمْ ۵۳) .**

تَرْجَمَهْ:- او دئ په خپل خُوَاهِشْ يَوه خَبَرَهْ نه کوي، دا خو خَالِصْ وَحِيْ دي چي ده ته اَستَوَل کيږي،

[۲] ..... هغه عِلْم غَيْبْ چي د وَحِيْ په ذَرِيْعَهْ سره ورکړئ دئ، په اِصْطِلَاحْ کي هغه ته اَنْبَآءُ الْغَيْبْ وَيَل کيږي .

په دغه **۳** **آيَتُوْ** کي دا **وَضَاحَتْ** سوئ دئ چي د **غَيْبْ** د بعضو **خَبْرُوْ** وَ ده ته **وَحِيْ** سوي دي، د ټولو **خَبْرُوْ** نَه، **آيَتُوْنَهْ** دادي

**۴۱: ذٰلِكَ مِنْ اَنْبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ اِلَيْكَ** . (**آيَتْ ۴۴**،**سُوْرَةُ آل عِمْرَانْ ۳**) .

**تَرْجَمَهْ**:- دغه د **غَيْبُ** بعض **خَبَرُوْنَهْ** دي چي مُوږ يې د **وَحِيْ** په **ذَرِيْعَهْ** سره **تَا** ته درکوو .

**۴۲: ذٰلِكَ مِنْ اَنْبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ اِلَيْكَ ج وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ**. (**آيَتْ ۱۰۲**،**سُوْرَةُ يُوْسُفْ ۱۲**)

**تَرْجَمَهْ**:- دغه د **غَيْبُ** بعض **خَبَرُوْنَهْ** دي چي مُوږ يې د **وَحِيْ** په **ذَرِيْعَهْ** سره **تَا** ته درکوو، او تَه د دُوي سره نَه وې .

**۴۳: تِلْكَ مِنْ اَنْبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهَآ اِلَيْكَ** ج . (**آيَتْ ۴۹**،**سُوْرَةُ هُوْدْ ۱۱**) .

**تَرْجَمَهْ**:- دغه د **غَيْبُ** بعض **خَبَرُوْنَهْ** دي چي مُوږ يې د **وَحِيْ** په **ذَرِيْعَهْ** سره **تَا** ته درکوو .

په دغه **آيَتُوْ** کي دئ چي د **غَيْبُ** بَعض **خَبَرِيْ** دي د **وَحِيْ** په **ذَرِيْعَهْ** سره **مَا** ته کيږي، دغه ته ,, **اَنْبَآءُ الْغَيْبْ** ,, وَيَلِي دي .

**[۳]** ..... **دَرَيَمْ صُوْرَتْ** دادئ چي، ده خو د **غَيْبْ خَبَرَهْ**، لېکن پر **حُضُوْرْ** باندې ښکاره کړې ده .

**دَلِيْلْ** يې دغه **آيَتْ** دئ

**۴۴: عٰلِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلٰى غَيْبِهٖٓ اَحَدًا** لا **اِلَّا مَنِ ارْتَضٰى مِنْ رَّسُوْلٍ فَاِنَّهٗ يَسْلُكُ مِنْ** م **بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ رَصَدًا** لا **لِّيَعْلَمَ اَنْ قَدْ اَبْلَغُوْا رِسٰلٰتِ رَبِّهِمْ وَ اَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ وَ اَحْصٰى كُلَّ شَيْءٍ عَدَدًا** . (**آيَتْ ۲۶**/، **۲۷**/،**۲۸**، **سُوْرَةُ الْجِنْ ۷۲**) .

**تَرْجَمَهْ**:- هغه په ټولو **پټُوْ پټُوْ** **رَازُوْ** **خَبَرْ** دئ، نو هغه په خپل **رَازْ** هيڅ څوک نَه **خَبَرَوِيْ**، **مَاسِوَا** د يَو **پيْغَمْبَرْ** څخه چي هغه ده (ددغه کار لپاره) **خُوښْ** کړئ وي، په دغه رنګه **صُوْرَتْ** کي دئ دهغه **پيْغَمْبَرْ** **مَخْ** ته او **شَا** ته څه **مُحَافِظِيْنْ** وَلګوي، چي **اَللهْ مَعْلُوْمْ** کي چي دُوي د خپل **پَرْوَرْدِګَارْ** **پيْغَامُوْنَهْ** رَسَوَلِي دي، او ده د دُوي د ټولو **حَالَاتُوْ اِحَاطَهْ** کړې ده، او ده د هر هر شِي **پُوْرَهْ پُوْرَهْ حِسَابْ** کړئ دئ.

په دغه **آيَتْ** کي دئ چي ... پر **حُضُوْرْ** (ﷺ) باندې د **غَيْبُ خَبَرِيْ** ښکاره کړي دي .

[۴] ..... د غَیْبْ خَبَرِیْ دي، حُضُوْرْ (ﷺ) یې پر هغه باندي مُطَّلِعْ کړئ دئ، دغه یې هم و حُضُوْرْ (ﷺ) ته ورکړي دي
په تَفْسِیْرِ اِبْنِ عَبَّاسْ کي دئ چي دغه بَعض عِلْمِ غَیْبْ دئ، کُلْ نَه دئ .
دَلِیْلْ یې دغه آیَتْ دئ

۴۵: وَمَاکَانَ اللّٰهُ لِیُطْلِعَکُمْ عَلَی الْغَیْبِ وَلٰکِنَّ اللّٰهَ یَجْتَبِیْ مِنْ رُّسُلِهٖ مَنْ یَّشَآءُ ص

(آیَتْ ۱۷۹، سُوْرَۃُ آلِ عِمْرَانْ ۳) .

تَرْجَمَهْ:- او (بَلْ طرف ته) هغه دَادَوَل هم نَه سي کولائي چي تاسو ته (بَرَاهِ رَاستْ) د غَیْبُ خَبَرِیْ وَښَایِي، اَلْبَتَّهْ! هغه (چي څومره خبري بیانول مُنَاسِبْ وګڼي دهغه لپاره) د خپلو پیغَمْبَرَانُوْ څخه چي کُوم یَو وغواړي هغه رَاچِنِیْ (غُوْرَهْ کوي) .
په دغه حَدِیْثْ کي دئ چي ..... اَللّٰهْ تَعَالٰی د غَیْبُ پر بعضو خَبَرُوْ باندي حُضُوْرْ (ﷺ) مُطَّلَعْ کړئ دئ .

[۵] ..... پِنځَم صُوْرَتْ دادئ چي، د غَیْبْ خَبَرِیْ دي، لیکن د حُضُوْرْ (ﷺ) مَختَه حَاضِرِیْ کړي. ددې ثُبُوْتْ په دغه آیَتْ کي دئ

۴۶: سُبْحٰنَ الَّذِیْٓ اَسْرٰی بِعَبْدِهٖ لَیْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اِلَی الْمَسْجِدِ الْاَقْصَا الَّذِیْ بٰرَکْنَا حَوْلَهٗ لِنُرِیَهٗ مِنْ اٰیٰتِنَا ط (آیَتْ ۱، سُوْرَۃُ بَنِیْ اِسْرَآئِیْلْ ۱۷) .

تَرْجَمَهْ:- پَاکْ دئ هغه ذَاتْ چي خپل بَنْدَهْ یې په شپَهْ شپَهْ کي د مَسْجِدِ حَرَامْ څخه تر مَسْجِدِ اَقْصٰی پُوري یُوړئ چي دهغه پر مَاحَوْلْ باندي مُوږ بَرَکتُوْنَهْ نَازِلْ کړي دي، چي مُوږ ده ته خپلي بعضي نِښَانئ وَرښکاره کړو .
په دغه آیَتْ کي ..... ددې بَیَانْ سوئ دئ چي وَ حُضُوْرْ (ﷺ) ته د کَائِنَاتُ ډېر شِیَانْ وَرښکاره کړي دي .

[۶] ..... شپَږَمْ صُوْرَتْ دادئ چي، د حُضُوْرْ (ﷺ) مَختَه جَنَّتْ او دُوْزَخْ حَاضِرْ کړل. چي په نَتِیْجَهْ کي حُضُوْرْ (ﷺ) د جَنَّتْ او جَهَنَّمْ ډېر شِیَانْ وَلِیدَل

۶: عَنْ اَنَسٍ قَالَ سَاَلُوْا النَّبِیَّ (ﷺ) حِیْنَ اَحْفَوْهُ بِالْمَسْئَلَةِ فَصَعِدَ النَّبِیُّ (ﷺ) ذَاتَ یَوْمٍ اَلْمَنْبَرَ فَقَالَ لَاتَسْئَلُوْنِیْ عَنْ شَیْءٍ اِلَّا بَیَّنْتُ لَکُمْ .... فَقَالَ النَّبِیُّ (ﷺ) مَا رَأَیْتُّ فِی الْخَیْرِ وَالشَّرِّ کَالْیَوْمِ قَطُّ، اِنَّهٗ صُوِّرَتْ لِیَ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ حَتّٰی رَاَتُهُمَا دُوْنَ الْحَائِطِ .

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْفِتَنِ،بَابُ التَّعَوُّذْ مِنَ الْفِتَنِ،ص: ۱۲۲۲، نَمْبَرْ ۷۰۸۹)

تَرْجَمَهْ:- حضرت اَنَسْ فرمائي چي خلګو د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه پُوْښْتَنَهْ شروع کړه نو حُضُوْرْ (ﷺ) يَوه وُرَځْ پر مَنْبَرْ وَخَاتَئ، او وفرمائل چي څَه تاسو پُوْښْتَنَهْ کوئ، زَهْ دهغه په اړه تاسو ته جَوَابْ درکوم ..... حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل چي، د نَنْ په شَانْ خَيْرْ او شَرْ مَا په هيڅ وَخْتْ نَه دئ لِيدَلَئ، جَنَّتْ او جَهَنَّمْ يې زَمَا مَخته کړل، آنْ تر دې چي مَا هغه دواړه د دېْوَالْ و شَا ته وَلِيدَل .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ ..... چي جَنَّتْ او دُوْزَخْ يې د حُضُوْرْ (ﷺ) و مَختَه کړل او حُضُوْرْ (ﷺ) د نِژدې څخه هغه وَلِيدَل .

[۷] ..... يا د دُنْيَا او آخِرَتْ څَه شِيَانْ يې د حُضُوْرْ (ﷺ) مَختَه کړل، حُضُوْرْ هغه وَلِيدَل .

۷: عَنْ اَبِيْ بَكْرِ الصِّدِّيْقِ قَالَ اَصْبَحَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) ذَاتَ يَوْمٍ ..... فَقَالَ نَعَمْ عُرِضَ عَلَيَّ مَا هُوَ كَائِنٌ مِّنْ اَمْرِ الدُّنْيَا وَ اَمْرِ الْاٰخِرَةِ .

(مُسْنَدِ اَحْمَدْ، مُسْنَدِ اَبِيْ بَكْرٍ، ج: ۱ ، ص: ۱۰، نَمْبَرْ ۱۶)

تَرْجَمَهْ:- يَوَهْ وُرَځْ سَهَارْ سو ..... حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل په دُنْيَا او آخِرَتْ کي چي کُومي (غَتِيْ غَتِيْ مَعَامَلَاتِ) کېدونکي دي هغه يې پر مَا باندي عَرْضْ کړې .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي ..... د دُنْيَا او آخِرَتْ چي کُومي غَتِّيْ غَتِّيْ مَعَامِلَاتِ وَاقِعْ کېدونکي دي هغه يې زَمَا مَختَه کړلې، نو دغه صُوْرَتْ هم دئ چي د حُضُوْرْ (ﷺ) په مَخکې د غَيْبُ بعض شِيَانْ ښکاره کړل، او حُضُوْرْ (ﷺ) هغه وَلِيدَل، دغه د غَيْبْ د خَبَرُوْ د بَيَانَوُلُوْ اُوَمْ صُوْرَتْ دئ .

لېکن مَختَه به بَيَانْ راسي چي دغه د غَيْبُ بَعض خَبَرِيْ دي، کُلْ نَه دي، او هغه خو کېدلائي هم نَه سي، ځکه چي د اَللّٰهْ تَعَالٰی عِلْمْ لَامُتَنَاهِيْ دئ، نو هغه و حُضُوْرْ (ﷺ) ته څنګه وَرکېدلائي سي، چي مُتَنَاهِيْ دئ .

## هغه آيَتُوْنَهْ چي دهغه څخه د کُلِّيْ عِلْمِ غَيْبْ شُبْهَهْ پَيدَا کيږي

بعضو حَضَرَاتُو ددغه آيَتُوْ څخه عِلْمِ غَيْبْ عَطَائِيْ ثَابِتَوِي

بعضو حَضَرَاتُوْ د آيَتْ ,, تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ ,, څخه اِسْتِدْلَالْ کړئ دئ چي په دغه کِتَابْ کي هر شَئ سته، ددې مَطْلَبْ دا سو چي و حُضُوْرْ (ﷺ) ته ټول عُلُوْمِ غَيْبْ ورکول سوي دي، آيَتْ دادئ

**۴۷: وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَّ هُدًى وَّ رَحْمَةً وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ**

(آيَتْ ۸۹،سُوْرَةُ النَّحْلْ ۱۶) .

تَرْجَمَهْ:- او مُوږ پر تَا باندي دا کِتَابْ نَازِلْ کړئ دئ چي هغه هره خَبَرَهْ وَاضِحْ وَاضِحْ بيان کړي،اود مُسْلْمَانَانُوْ لپاره هِدَايَتْ،رَحْمَتْ اود خُوْشْخَبْرِيْ ذَرِيْعَهْ سي.

په تَفْسِيْرِ اِبْنِ عَبَّاسْ کې د ,, تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ ,, تَفْسِيْرْ دا کړئ دئ چي مِنَ الْحَلَالِ، وَالْحَرَامِ، وَالْاَمْرِ، وَالنَّهْيِ، چي په دغه کِتَابْ يعني قُرْآنْ کې د حَلَالْ،حَرَامْ، اَمْرْ او نَهِيْ، تَفْصِيْلْ کړئ دئ، ټولَ عِلْمِ غَيْبْ نه دئ .

د تَفْسِيْرْ عِبَارَتْ دادئ [تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ] مِنَ الْحَلَالِ وَالْحَرَامِ وَالْاَمْرِ وَالنَّهْيِ، نو ځکه ددغه آيَتْ څخه کُلِّيْ عِلْمِ غَيْبْ ثَابِتَوَل مُشْکِلْ دئ .

**۴۸: مَا كَانَ حَدِيْثًا يُّفْتَرٰى وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ الَّذِىْ بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيْلَ كُلِّ شَيْءٍ وَّهُدًى وَّ رَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ** (آيَتْ ۱۱۱،سُوْرَةُ يُوْسُفْ ۱۲) .

تَرْجَمَهْ:- او دا يَوه دارنګه خَبَرَهْ نَه ده چي دَرْوَاغْ مَرْوَاغْ يې سره جُوړ کړي وي، بلکه ددې څخه مخکي چي کُوم کِتَابُوْنَهْ راغلي دي، دهغه تَصْدِيْقْ دئ، او د هري خَبَرِيْ تَفْصِيْلْ دئ، او چي کُوم خلک اِيْمَانْ رَاوړي دهغوئي لپاره د هِدَايَتْ او د رَحْمَتْ سَامَانْ!

بعضو حَضَرَاتُوْ اِسْتِدْلَالْ کړئ دئ چي په دغه آيَتْ کي دئ چي پر حُضُوْرْ (ﷺ) باندي قُرْآنْ نَازِلْ سو، او په دغه آيَتْ کي دئ چي د ټولو شِيَانُوْ تَفْصِيْلْ دئ نو بَس و حُضُوْرْ (ﷺ) ته د ټولو شِيَانُوْ عِلْمِ غَيْبْ حَاصِلْ سو .

ليکن په تَفْسِيْرِ اِبْنِ عَبَّاسْ کي دئ چي دَلتَه د ټولَ تَفْصِيْلْ څخه مُرَاد د حَلَالْ او حَرَامُ تَفْصِيْلْ دئ، ټولَ عُلُوْمِ غَيْبْ نه دي، ځکه چي هغه خو په دغه کِتَابْ کي هم نَستَه، او د اَللّٰهْ تَعَالٰى لَامَحْدُوْدَ عِلْمْ په دغه کِتَابْ کي څنګه راتلائي سي؟ د تَفْسِيْرِ اِبْنِ عَبَّاسْ عِبَارَتْ دادئ

[وَتَفْصِيْلَ كُلَّ شَيْءٍ] تِبْيَانُ كُلِّ شَيْءٍ مِّنَ الْحَلَالِ وَالْحَرَامِ .

(تَفْسِيْرْ اِبْنِ عَبَّاسْ، آيَتْ ۱۱۱، سُوْرَةُ يُوْسُفْ ۱۲ )

**۴۹: عٰلِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلٰى غَيْبِهٖٓ اَحَدًا لا اِلَّا مَنِ ارْتَضٰى مِنْ رَّسُوْلٍ فَاِنَّهٗ يَسْلُكُ مِنْ م بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ رَصَدًا لا لِّيَعْلَمَ اَنْ قَدْ اَبْلَغُوْا رِسٰلٰتِ رَبِّهِمْ وَ اَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ وَ اَحْصٰى كُلَّ شَیْءٍ عَدَدًا .** (آيَتْ ۲۶،/ ۲۷،/۲۸، سُوْرَةُ الْجِنْ ۷۲) .

**تَرْجَمَهْ:-** هغه په ټولو پَټُوْ پَټُوْ رَازُوْ خَبَرْ دئ، نو هغه په خپل رَازْ هيڅ څوک نه خَبَرَوِئ، مَاسِوَا د يو پيْغَمْبَرْ څخه چي هغه ده (ددغه کار لپاره) خُوښْ کړئ وي، په دغه رنګه صُوْرَتْ کي دئ دهغه پيْغَمْبَرْ مَخْ ته او شَا ته څَه مُحَافِظِيْنْ وَلګوي، چي اَللّٰهْ مَعْلُوْمْ کي چي ذُوي د خپل پَرْوَرْدِګَارْ پيْغَامُوْنَهْ رَسَوَلِي دي، او ده د ذُوي د ټولو حَالَاتُوْ اِحَاطَهْ کړې ده، او ده د هر هر شِي پُوْرَهْ پُوْرَهْ حِسَابْ کړئ دئ.

ددغه آيَتْ ..... څخه بعضو حَضَرَاتُو اِسْتِدْلَالْ کړئ دئ چي، اَللّٰهْ د ګُوم رَسُوْلْ څخه رَاضِيْ سي پر هغه باندي غَيْبْ ظَاهِرَوِي، لِهٰذَا پر حُضُوْرْ يې غَيْبْ ظَاهِرْ کړئ دئ نو ځکه دئ په عِلْمِ غَيْبْ خَبَرْدَارَهْ سو .

لېکن ددغه آيَتْ څخه اِسْتِدْلَالْ کول صَحِيْحْ نَه دئ ځکه چي په دغه آيَتْ کي دئ ,, قَدْ اَبْلَغُوْا رِسٰلٰتِ رَبِّهِمْ ,, چي هغه عُلُوْمْ پر ظَاهِرَوِي ګُوم چي د رِسَالَتْ د قَبِيْلَ څخه وي، ټولَ عِلْمِ غَيْبْ نَه، تاسو په خپله هم پر آيَتْ باندي غَوْرْ وکئ .

په تَفْسِيْرْ اِبْنِ عَبَّاسْ کي دئ چي دلته هم د غَيْبْ څخه مُرَاد بعض غَيْبْ دئ، دهغه عِبَارَتْ دادئ

**[فَلَا يُظْهِرُ] فَلَا يَطَّلِعُ [عَلٰى غَيْبِهٖٓ اَحَدًا لا اِلَّا مَنِ ارْتَضٰى مِنْ رَّسُوْلٍ] اِلَّا مَنِ اخْتَارَ مِنَ الرُّسُلِ فَاِنَّهٗ يُطْلِعُهٗ عَلٰى بَعْضِ الْغَيْبِ .**

(تَفْسِيْرِ اِبْنِ عَبَّاسْ،صِ: ۶۲۰، آيَتْ نَمْبَرْ ۲۶/۲۵ سُوْرَةُ الْجِنْ ۷۲)

په دغه تَفْسِيْرْ کي صَفَا لِيکلِي دي چي اَللّٰهْ تَعَالٰی يې پر بعض غَيْبْ باندي مُطَّلِعْ کوي، پُوْرَهْ عِلْمِ غَيْبْ يې نَه دئ وَرکړئ .

**۵۰: وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَجْتَبِیْ مِنْ رُّسُلِهٖ مَنْ يَّشَآءُ** ص

(آيَتْ ۱۷۹، سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳) .

**تَرْجَمَهْ:-** او (بَلْ طرف ته) هغه دَادَوَل هم نَه سي کولائي چي تاسو ته (بَرَاهِ رَاسْتْ) د غَيْبْ خَبَرِئ وَښَايي، اَلْبَتَّهْ! هغه (چي څومره خَبَرِئ بيانول مُنَاسِبْ وګڼي دهغه لپاره) د خپلو پيْغَمْبَرَانُوْ څخه چي ګُوم يو وغواړي هغه رَاچِنِئ (غُوْرَهْ کوي يې) .

په دغه آيَتْ کي دئ ..... چي اې د مَکّي خلګو اَللّٰهْ تَعَالٰی تاسو پر غَيْبُ باندي نَه مُطّلِعْ کوي، اَلْبَتَّهْ په خپلو رَسُوْلَانُوْ کي چي دده خُوښه سي هغه ته د غَيْبُ د بعضو خَبَرُوْ اِطّلَاعْ ورکوي

په تَفْسِيْر اِبْنِ عَبَّاسْ کي دَلتَه هم مَوْجُوْدْ دئ چي دغه بَعْضْ غَيْبْ دي چي و حُضُوْرْ ته يې د وَحِيْ په ذَرِيْعَهْ سره وَرښوُولِي دي، دهغه عِبَارَتْ دادئ

[وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُطْلِعَكُمْ] يَا اَهْلَ مَكَّةَ [عَلَى الْغَيْبِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَجْتَبِىْ مِنْ رُّسُلِه مَنْ يَّشَآءُ ص] يَعْنِىْ مُحَمَّدًا فَيُطْلِعَهُ عَلٰى بَعْضِ ذٰلِكَ بِالْوَحْىِ .

(تَفْسِيْرْ اِبْنِ عَبَّاسْ، ص ۸۰، آيَتْ ۱۷۹، سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳ )

په دغه تَفْسِيْرْ کي تاسو وَګورئ د عَلٰى بَعْضِ ذٰلِكَ بِالْوَحْىِ . عِبَارَتْ دئ، چي د وَحِيْ په ذَرِيْعَهْ سره و حُضُوْرْ (ﷺ) ته د غَيْبُ د بعضو خَبَرُوْ اِطّلَاعْ وَرکوِي، نو ځکه دغه کُلْ عِلْمِ غَيْبْ نَه دئ .

**۵۱: وَلَارَطْبٍ وَّلَايَابِسٍ اِلَّا فِىْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ** (آيَتْ ۵۹، سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ۶) .

تَرْجَمَهْ:- يا يو وَچْ يا لُنْدْ شئ داسي نَستَه چي په يَوه وَاضِحْ كِتَابْ کي ليکلي (دَ رَ ج سوي) نَه وي .

بعضوحَضَرَاتُو ددغه ,, كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ,, څخه اِسْتِدْلَالْ کړئ دئ چي د كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ څخه قُرْآنِ مَجِيْدْ مُرَاد دئ، او دغه يې و حُضُوْرْ (ﷺ) ته وَرکړئ دئ، نو ځکه و حُضُوْرْ (ﷺ) ته ټولَ عِلْمِ غَيْبْ حَاصِلْ سو .

لېکن دغه اِسْتِدْلَالْ په دې وَجْهَ نَه دئ صَحِيْحْ، ځکه چي دَلتَه د كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ څخه لَوْحِ مَحْفُوْظْ مُرَاد دئ، چي و حُضُوْرْ (ﷺ) ته يې نَه دئ وَرکړئ، دا صِرف د اَللّٰهْ سره دئ، او په هغه کي ټولَ شِيَانْ لِيکلِي دي .

په تَفْسِيْر اِبْنِ عَبَّاسْ کي دَلتَه لَوْحِ مَحْفُوْظْ لِيکلئ دئ، دهغه عِبَارَتْ دادئ

[فِىْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ] ( كُلُّ ذٰلِكَ فِى اللَّوْحِ الْمَحْفُوْظِ، مُبِيْنٍ مِقْدَارُهَا وَ وَقْتُهَا) .

او لَوْحِ مَحْفُوْظْ و حُضُوْرْ (ﷺ) ته نَه دئ وَرکوَل سوئ .

## هغه حَدِيْثُوْنَهْ چي دهغه څخه پر عِلْمِ غَيْبْ باندي اِسْتِدْلَالْ کيږي

دلته څلور حَدِيْثُوْنَهْ دي چي په هغه کي د ,, مَاكَانَ وَ مَا يَكُوْنُ ,, لَفْظُوْنَهْ راغلي دي، يعني چي څه سوي دي او تر قِيَامَتّهْ پُوري چي څه کيږي حُضُوْرْ (ﷺ) هغه ټولَ شِيَانْ د اَصْحَابَانُوْ په مَخکي بَيَانْ کړل، ددې مَطْلَبْ

دادئ چي و **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته د **مَخْلُوْقَاتُوْ** د پَيدَا کېدو څخه وَنِيسي بيا و **جَنَّتْ** او **جَهَنَّمْ** ته تر دَاخِلېدُو پُوري د **غَيْبْ** تولي **خَبَرِيْ** مَعلُوم دي، او ددغه **حَدِيْثُوْ** څخه ثَابِتېږي چي د ,, **مَاكَانَ وَ مَايَكُوْنُ عِلْمْ** ,, و **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته **حَاصِلْ** دئ .

بعضو حَضرَاتُو ددغه **حَدِيْثُوْ** څخه د **حُضُوْرْ** (ﷺ) لپاره د **عِلْمِ غَيْبْ** د ثَابِتَوُلُو کُوښښ کړئ دئ لېکن که **غَوْرْ** وکي نو دا به **مَعْلُوْمْ** سي چي په دغه **حَدِيْثُوْ** کي دا **بَيَانْ** دئ چي و **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته يې د **غَټُوْ غَټُوْ فِتْنُوْ اِطِّلَاعْ** ورکړې ده، يايې د **غَټُوْ غَټُوْ وَاقِعَاتُوْ اِطِّلَاعْ** ورکړې ده چي د هغه **بَيَانْ** او **تَذْكِرَهْ حُضُوْرْ** (ﷺ) د **اَصْحَابَانُوْ** په مَخکِي وکړه، ځکه چي **عِلْمِ غَيْبْ** خو **بِې اِنْتِهَا** دئ هغه تولَ يې په **يَوَهْ وُرَځْ** څنګه **بَيَانْ** کئ؟ او په بعضو **اَحَادِيْثُوْ** کي ددې **وَضَاحَتْ** راغلئ دئ چي **حُضُوْرْ** (ﷺ) د حضرت **حُذَيْفَهْ** په مَخکِي تر **قِيَامَتْهْ** پُوري راتلونکو **فِتْنُوْ بَيَانْ** وکئ .

او که چيري ددغه **اَحَادِيْثُوْ** څخه **عِلْمِ غَيْبْ** وَاخلې نو دغه **اَحَادِيْثْ** به د تېرو سوو **۳۸ آيَتُوْ** څخه **خِلَافْ** سي، چي په هغه کي دا **بَيَانْ** دئ چي و **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته **عِلْمِ غَيْبْ حَاصِلْ** نَه دئ .

**حَدِيْثُوْنَهْ** دادي

**۸: عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَامَ فِيْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) مَقَامًا مَاتَرَكَ شَيْئًا يَّكُوْنُ فِيْ مَقَامِه ذٰلِكَ اِلٰى قِيَامِ السَّاعَةِ اِلَّا حَدَّثَ بِه، حَفِظَهُ مَنْ حَفِظَهُ وَنَسِيَهُ مَنْ نَّسِيَهُ قَدْ عَلَّمَهُ اَصْحَابِىْ هٰؤُلَآءِ .**

**(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْفِتَنْ،بَابُ اِخْبَارُ النَّبِيِّ (ﷺ) فِيْمَايَكُوْنُ اِلٰى قِيَامِ السَّاعَةِ،ص: ۱۲۵۱، نَمْبَرْ ۲۸۹۱/ ۷۲۶۳)**

**تَرْجَمَهْ**:- حضرت **حُذَيْفَهْ** وفرمائل **حُضُوْرْ** (ﷺ) زُمُوږ په مَخکِي **وَلَاړْ** سو، تر **قِيَامَتْهْ** پُورِي چي څومره **خَبَرِيْ** په هغه ځائ کي کېدونکي دي هغه يې **بَيَانْ** کې، چَا چَا خو هغه په **يَادْ** کې، او چَا چَا هغه **هېرِيْ** کې، **زَمَا** دغه مَلګري په هغه **خَبَرْ** دي .

په دغه **حَدِيْثْ** کي هم دئ چي تر **قِيَامَتْهْ** پُورِي چي څومره **خَبَرِيْ وَاقِعْ** کېدونکي دي هغه **حُضُوْرْ** (ﷺ) **بَيَانْ** کې .

بعض حَضرَات وائي چي، په دغه **حَدِيْثْ** کي د **غَټُوْ غَټُوْ فِتْنُوْ بَيَانْ** دئ، تولَ **عِلْمِ غَيْبْ** نَه دئ، ځکه چي دغه **حَدِيْثْ** يې په بَل **سَنَدْ** سره **بَيَانْ** کړئ دئ چي په هغه کي د **غَټُوْ غَټُوْ فِتْنُوْ ذِكْرْ (لَفْظْ)** راغلئ دئ .

هغه **حَدِيْثُوْنَهْ** دادي

**۹: قَالَ حُذَيْفَةُ بْنُ الْيَمَانِ وَاللهِ اِنِّیْ لَاَعْلَمُ النَّاسِ بِكُلِّ فِتْنَةٍ هِیَ كَائِنَةٌ، فِیْمَا بَیْنِیْ وَبَیْنَ السَّاعَةِ .**

**(مُسْلِمْ شَرِیْفْ،كِتَابُ الْفِتَنْ،بَابُ اِخْبَارُ النَّبِیِّ (ﷺ) فِیْمَایَكُوْنُ اِلٰی قِیَامِ السَّاعَةِ،ص: ۱۲۵۱، نَمْبَرْ ۲۸۹۱/ ۷۲۶۲)**

**تَرْجَمَهْ**:- حضرت **حُذَیْفَهْ** وفرمائل چي **زَمَا** په **مَابَیْنْ** کي او د **قِیَامَتْ** په **مَابَیْنْ** کي چي څومره **فِتْنې وَاقِعْ** کېدونکي دي، **قَسَمْ** په **اَللهْ** چي **زَهْ** تر خلګو، **زِیَاتْ** په هغه **خَبَرْ** یم .
نو څکه دغه پُورَه **عِلْمِ غَیْبْ** نَه دئ، بلکه په دغه **حَدِیْثُوْ** کي تر **قِیَامَتَّهْ** پُوري رَاتلُونکو **غَتُّوْ غَتُّوْ فِتْنُوْ** ذِکر سوئ دئ .

**۱۰: عَنْ حُذَیْفَةَ اَنَّهُ قَالَ اَخْبَرَنِیْ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) بِمَا هُوَ كَائِنٌ اِلٰی اَنْ تَقُوْمَ السَّاعَةُ فَمَا مِنْهُ شَیْءٌ اِلَّا قَدْ سَاَلْتُهُ .**

**(مُسْلِمْ شَرِیْفْ،كِتَابُ الْفِتَنْ،بَابُ اِخْبَارُ النَّبِیِّ (ﷺ) فِیْمَایَكُوْنُ اِلٰی قِیَامِ السَّاعَةِ،ص: ۱۲۵۱، نَمْبَرْ ۲۸۹۱/ ۷۲۶۵)**

**تَرْجَمَهْ**:- حضرت **حُذَیْفَهْ** فرمائي چي تر **قِیَامَتَّهْ** پُورِي چي څَه (**فِتْنې**) **وَاقِعْ** کېدونکي دي **حُضُوْرْ** (ﷺ) **مَا** ته دهغه **خَبَرْ** رَاکړئ دئ، او دهغه څخه د هري یوې په اړه **مَا** **پُوښْتَنَهْ** هم کړې ده .

**۱۱: حَدَّثَنِیْ اَبُوْ زَیْدٍ [یَعْنِیْ عَمْرُ بِنِ اَخْطَبِ] قَالَ صَلّٰی بِنَا رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) الْفَجْرَ وَصَعِدَ الْمِنْبَرَ فَخَطَبْنَا حَتّٰی حَضَرَتِ الظُّهْرُ فَنَزَلَ فَصَلّٰی ثُمَّ صَعِدَ الْمِنْبَرَ فَخَطَبْنَا حَتّٰی حَضَرَتِ الْعَصْرُ ثُمَّ نَزَلَ فَصَلّٰی ثُمَّ صَعِدَ الْمِنْبَرَ فَخَطَبْنَا حَتّٰی غَرَبَتِ الشَّمْسُ فَاَخْبَرَنَا بِمَا كَانَ وَبِمَا هُوَ كَائِنٌ فَاَعْلَمُنَا وَ اَحْفَظُنَا .**

**(مُسْلِمْ شَرِیْفْ،كِتَابُ الْفِتَنْ،بَابُ اِخْبَارُ النَّبِیِّ (ﷺ) فِیْمَایَكُوْنُ اِلٰی قِیَامِ السَّاعَةِ،ص: ۱۲۵۱، نَمْبَرْ ۲۸۹۲/ ۷۲۶۷)**

**تَرْجَمَهْ**:- **حُضُوْرْ** (ﷺ) خلګو ته د **سَهَارْ لُمُوْنْځ** ورکئ او **مَنْبَرْ** ته تَشرِیف یُوړِئ، او تر **مَاپُیشِیْنْ** پُورِي زُمُور په مخکي **بَیَانْ** کاوئ، بیا رَاشَوَه سو او **لُمُوْنْځْ** یي راکئ، بیایي **مَنْبَرْ** ته تَشرِیف یُوړِئ، او تر **مَاځِیګَرَهْ** پوري یي زُمُور په مَخکِي **بَیَانْ** کاوئ، بیا د **مَنْبَرْ** څخه رَاشَوَه سو او **لُمُوْنْځْ** یي راکئ، بیایي **مَنْبَرْ** ته تَشرِیف یُوړِئ او د **لُمَرْ** تر پرېوَتُو پوري یي زُمُور په مَخکِي **بَیَانْ** کاوئ، په دغه کي چي څَه سوي دي، او چي څَه کېدونکي دي مُور ته یي تُولَ رَاوَښوَل، او مُور په هغه **پُوْهْ** سو او هغه مو **یَادْ** هم کړل .
په دغه **حَدِیْثْ** کي دئ چي څَه سوي دي او چي څَه کېدونکي دي تُولَ یي رَاوَښوَل، اُوس **ظَاهِرَهْ خَبَرَهْ** ده چي په **یُوْهْ وُرَځْ** خو د **عِلْمِ غَیْبْ** تُولِي **خَبَرِیْ** نَه سي وَرښوَلائي، بلکه **غَتِّیْ غَتِّیْ** فِتنې او **غَتِّیْ غَتِّیْ وَاقِعَاتْ** بیَانَوَلائي سي،

په دغه وَجْهَ خو اِمَامْ مُسْلِمْ دغه حَدِيْثْ په كِتَابُ الْفِتَنْ كي ذِكر كړئ دئ، او په دغه بَابْ كي د حضرت حُذَيْفَهْ حَدِيْثْ مَختَه تېر سوئ دئ، په هغه كي دئ چي په دي كي د غَتُّوْ غَتُّوْ فِتْنُوْ ذِكر سوئ دئ، كُوم چي تر قِيَامَتَّهْ پُوري وَاقِعْ كېدونكي دي، حُضُوْرْ (ﷺ) دهغه تَذْكِرَهْ كړې ده، په دغه كي ټولَ عِلْمِ غَيْبْ نَستَه .

**۱۲: سَمِعْتُ عَنْ عُمَرَ يَقُوْلُ قَامَ فِيْنَا النَّبِيُّ (ﷺ) مَقَامًا فَاَخْبَرَنَا عَنْ بَدْءِ الْخَلْقِ حَتّٰى دَخَلَ اَهْلُ الْجَنَّةِ مَنَازِلَهُمْ وَاَهْلُ النَّارِ مَنَازِلَهُمْ حَفِظَ ذٰلِكَ مَنْ حَفِظَهُ وَنَسِيَهُ ذٰلِكَ مَنْ نَسِيَهُ .**

**(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ بَدْءِ الْخَلْقِ،بَابُ مَاجَاءَ فِيْ قَوْلِ اللهِ تَعَالٰى [وَهُوَ الَّذِيْ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُه وَهُوَ اَهْوَنُ عَلَيْهِ ط آيَتْ ۲۷ ،سُوْرَةُ الرُّوْمْ] ،ص: ۵۳۲، نَمْبَرْ ۳۱۹۲)**

تَرْجَمَهْ:- حضرت عُمَرْ فرمائي چي زمُوږ په مخكي حُضُوْرْ (ﷺ) وَلاَړْ سو، او چي د كُوم وَخْتْ څخه مَخْلُوْقَاتْ پيدَا سوي دي، دهغه ځايَه وَنِيسي چي جَنّتِيَانْ جَنَّتْ ته دَاخِلْ سي، او دُوْزَخِيَانْ دُوْزَخْ ته دَاخِلْ سي تر هغه ځايَه پوري خَبَرْ يې مُوږ ته راكړئ، كُوم چَا چي دغه خَبَرِيْ په يَادْ ساتلائي سوې هغوي په يَادْ كړې، او چي كُوم هېرېدونكي وُو هغوي هېري كړې .

په دغه حَدِيْثْ كي هم غَتْ غَتْ خَبَرُوْنَهْ، غَتِّيْ غَتِّيْ فِتني، يا غَتِّيْ غَتِّيْ وَاقِعَاتِ حُضُوْرْ (ﷺ) بَيَانْ كړې، په دغه كي ټولَ عِلْمِ غَيْبْ نَستَه، ځكه چي په يَوَهْ وُرَځْ كي ټولَ عِلْمِ غَيْبْ وَربَښُول اِمْكَانْ نَه لري .

**۱۳: عَنْ اَنَسٍ قَالَ سَأَلُوْا النَّبِيَّ (ﷺ) حِيْنَ اَحْفَوْهُ بِالْمَسْئَلَةِ فَصَعِدَ النَّبِيُّ (ﷺ) ذَاتَ يَوْمِ الْمِنْبَرَ فَقَالَ لَاتَسْئَلُوْنِيْ عَنْ شَيْءٍ اِلَّا بَيَّنْتُ لَكُمْ ..... فَقَالَ النَّبِيُّ (ﷺ) مَا رَأَيْتُ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ كَالْيَوْمِ قَطُّ، اِنَّهُ صُوِّرَتْ لِيَ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ حَتّٰى رَأَيْتُهُمَا دُوْنَ الْحَائِطِ .قَالَ قَتَادَةُ يُذْكَرُ هٰذِهِ الْحَدِيْثُ عِنْدَ هٰذِهِ الْاٰيَةِ [ يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَاتَسْئَلُوْا عَنْ اَشْيَاءَ اِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ ج وَ اِنْ تَسْئَلُوْا عَنْهَا حِيْنَ يُنَزَّلُ الْقُرْاٰنُ تُبْدَلَكُمْ ط عَفَا اللهُ عَنْهَا ط وَاللهُ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ آيَتْ ۱۰۱ ،سُوْرَةُ الْمَائِدَةْ ۵] .**

**(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْفِتَنِ،بَابُ التَّعَوُّذُ مِنَ الْفِتَنِ،ص: ۱۲۲۲، نَمْبَرْ ۷۰۸۹)**

تَرْجَمَهْ:- حضرت اَنَسْ فرمائي چي خلګو د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه پُوْښْتَنَهْ شروع كړه نو حُضُوْرْ (ﷺ) يوه وُرَځْ پر مَنْبَرْ وَخَاتئ، او وفرمائل چي څه تاسو پُوْښْتَنَهْ كوئ، زَهْ دهغه په اړه تاسو ته جَوَابْ دركوم ..... حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل چي، د نَنْ په شَانْ خَيْرْ او شَرْ

مَا په هيڅ وَخْتْ نَه دئ لِيدَلَئ، جَنَّتْ او جَهَنَّمْ يې زَمَا مَختَه كړل، آنْ تر دې چي مَا هغه دواړه د دیْوَالْ و شَا ته وَلِيدَل .

بعضو حَضَراتُو ددغه څخه اِسْتِدْلَالْ کړئ دئ چي، و حُضُوْرْ (ﷺ) تـه عِلْـمِ غَيْبْ حَاصِلْ وُو، په دغه وَجْهَ خو ده وويل چي څَه يُوْښْتَنَهْ کوئ دهغه جَوَابْ درکوم .

بعض نور حَضَرَات ددې جَوَابْ ورکوي چي په خپله پـه دغـه حَدِيْثْ کـي دئ چي اَللّٰهْ جَنَّتْ او جَهَنَّمْ زَمَا مَختَه حَاضِرْ کړل چـي دهغـه پـه وَجْـهَ مَـا بَيَـانَوَل شروع کړه، نو ځکه دغه عِلْمِ غَيْبْ نَه دئ، بلکه دا وَحِيْ دي چي پر حُضُـوْرْ (ﷺ) باندې بَارْ بَارْ نَازِلېدَلې، يا دغه اِطِّلَاعْ عَلَى الْغَيْبْ ده، لکه څنګه چي پـه دغه حَدِيْثْ کي دا آيَتْ دئ چي [ د قُرْآنْ د نَازِلېدُو پر وَخْتْ سَوَالْ وکـئ نـو ټولَـه خَبَرَهْ به وَاضِحْ کړل سي ] ددې څخه مَعْلُوْمْ سو چي و حُضُوْرْ (ﷺ) تـه د وَحِـيْ په ذَرِيْعَهْ سره خَبَرَهْ وَرښوَل کيږي .

۱۴ : عَنْ اَبِىْ بَكْرِ الصِّدِّيْقِ قَالَ اَصْبَحَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) ذَاتَ يَـوْمٍ ..... فَقَـالَ نَعَمْ عُرِضَ عَلَيَّ مَا هُوَ كَـائِنٌ مِّنْ اَمْرِ الـدُّنْيَا وَ اَمْـرِ الْاٰخِـرَةِ، فَجُمِـعَ الْاَوَّلُـوْنَ وَالْاٰخِرُوْنَ فِـىْ صَعِيْدٍ وَّاحِـدٍ فَقُظِـعَ النَّـاسُ بِـذٰلِكَ حَتّٰـى انْطَلَقُوْا اِلٰـى اٰدَمَ عَلَيْـهِ السَّلَامُ ..... وَيَقُوْلُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ اِرْفَعْ رَأْسَكَ يَامُحَمَّدُ وَقُلْ يُسْمَعْ وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ .

(مُسْنَدِ اَحْمَدْ، مُسْنَدِ اَبِىْ بَكْرٍ، ج: ۱ ، ص: ۱۰، نَمْبَرْ ۱۶)

تَرْجَمَهْ:- يَوَهْ وُرَځْ سَهَارْ سو ..... حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل په دُنْيَا او آخِرَتْ کي چي کُومې (غَټې غَټې مَعَامَلَاتْ) کېدونکي دي هغه يې پر مَا باندې عَرْضْ کړې، نو په يَوَهْ مَيْدَانْ کې اَوَّلْ او آخِرْ ټولَ خلګ سره جَمْعَ کړل، نو خلګ به ګبْرَاوْ سي حضرَت آدَمْ عَلَيْهِ السَّلَامْ ته به وُلَاړْ سي ..... اَللّٰهْ تَعَالٰي به وفرمائي اِئ مُحَمَّدْ خپل سَرْ پُورتَه که، او تَه وَوَايَهْ خَبَرَهْ به دي وَاوْرېدَل سي، او سِفَارِشْ وکه نو سِفَارِشْ به دي قَبُوْلْ سي .

ددغه حَدِيْثْ څخه هم بعضو حضراتو اِسْتِدْلَالْ کړئ دئ چي حُضُـوْرْ (ﷺ) تـه عِلْمِ غَيْبْ حَاصِلْ وُو، ځکه چي په دې کي راغلي دي چـي پـه دُنْيَـا او آخِـرَتْ کي چي څَـه کېدونکي دي، هغـه يـې زَمَـا پـه مَخکِـي وُړَانـدِي کـړل، لِهٰذَا و حُضُوْرْ (ﷺ) ته د هر شِي عِلْمِ غَيْبْ حَاصِلْ سو .

نورو حَضَرَاتُو جَوَابْ ورکړئ دئ چي، دغه پُوْرَهْ حَدِيْثْ چـي وَګُورې نـو دا مَعلُومېږي چي په دغه حَدِيْثْ کـې غَـټْ غَـټْ شِيَانْ وَاضِـحْ کـړي دي، او پـه خُصُوْصِيْ تُوګه د قِيَامَتْ په وُرَځْ به حضرت آدَمْ او نورو اَنْبِيَآءْ عَلَيْهِمُ السَّلَامْ

ته خلک ځنګه وَرځي؟ او حُضُوْرْ (ﷺ) به ځنګه شَفَاعَتِ کُبْرٰي کوي؟ ددغه بَيَانْ دئ، د غَيْبُ ټول شِيَانْ نَه دي بَيَانْ سوي .

**۱۵: عَنْ اَبْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) اَتَانِيْ اللَّيْلَةَ رَبِّيْ تَبَارَكَ وَتَعَالٰي فِيْ اَحْسَنِ صُوْرَةٍ. قَالَ اَحْسِبُهُ قَالَ فِي الْمَنَامِ. فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ هَلْ تَدْرِيْ فِيْمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْاَعْلٰي؟ قَالَ قُلْتُ لَا، قَالَ فَوَضَعَ يَدَهُ بَيْنَ كَتِفَيْ حَتّٰي وَجَدْتُّ بَرْدَهَا بَيْنَ ثَدْيَيْ، اَوْ قَالَ فِيْ نَحْرِيْ، فَعَلِمْتُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ قَالَ يَا مُحَمَّدُ هَلْ تَدْرِيْ فِيْمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْاَعْلٰي؟ قُلْتُ نَعَمْ فِي الْكَفَّارَاتِ، وَالْمَكْثِ فِي الْمَسْجِدِ بَعْدَ الصَّلٰوةِ .**

(تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ، كِتَابُ تَفْسِيْرِ الْقُرْاٰنِ، بَابُ وَمِنْ سُوْرَةِ صٓ، ص: ۷۳۴ ، نَمْبَرْ: ۳۲۳۳، نَمْبَرْ: ۳۲۳۴، نَمْبَرْ: ۳۲۳۵،)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرِ پَاكْ (ﷺ) وفرمائل نَنْ شپه اَللّٰهْ تَعَالٰي په ښَه صُوْرَتْ كي مَا ته راغلئ ..... رَاوِيْ وائي چي شَايَدْ دا د خُوْبْ خَبَرَهْ وه ..... بيا اَللّٰهْ تَعَالٰي وفرمائل اې مُحَمَّدْ تَا ته مَعْلُوْمْ دئ چي د مَلَأْ اَعْلٰي خلكو د كُوم شي په اړه اِخْتِلَافْ سره كاوئ، مَا ورته وويل چي نَه، نو اَللّٰهْ تَعَالٰي خپل لَاسْ زَمَا د وَږو په مَابَيْنْ كي كښېښُوَئ، اَنْ تر دي چي په سِيْنَهْ كي مي دهغه يَخْنِيْ مَحْسُوْسَ سوه، ده د ثَدْيَيْ لَفْظْ ووايه كه د نَحْرِيْ لَفْظْ وَوايه، نو چي څه په آسمَان كي وُو او چي څه په مځكه كي وُو هغه رَاتَه مَعْلُوْمْ سو، اَللّٰهْ تَعَالٰي پُوْښْتَنَهْ وكړه چي اې مُحَمَّدْ تَا ته مَعْلُوْمْ دئ چي د مَلَأُ الْاَعْلٰي والا په كُوم شي كي سَبَقَتْ سره كوي؟ مَا ورته وويل چي په كَفَّارَاتُوْ كي او د لَمُوْنْځْ وروسته په مَسْجِدْ كي د درېدو چي كُوم ثَوَابْ دئ په هغه كي سَبَقَتْ سره كوي .

دَلته درې حَدِيْثُوْنَهْ دي په

حَدِيْثْ نَمْبَرْ ۳۲۳۳ كي دئ، **فَعَلِمْتُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ .**

حَدِيْثْ نَمْبَرْ ۳۲۳۴ كي دئ، **فَعَلِمْتُ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ .**

حَدِيْثْ نَمْبَرْ ۳۲۳۵ كئ دئ، **فَتَجَلّٰي لِيْ كُلُّ شَيْءٍ وَّ عَرَفْتُ .**

بعضو حَضَرَاتُوْ په دغه دُرُو حَدِيْثُوْ كي چي كُوم اَلْفَاظْ راغلي دي ددې څخه د حُضُوْرْ (ﷺ) لپاره د ټولو شِيَانْ عِلْمِ غَيْبْ ثَابِت كړئ دئ .

بعض نور حضرات بيا ددغه حَدِيْثْ په اړه ځلور خَبَرِيْ كوي .

۱: دغه حَدِيْثْ د مَختَه تېر سوو ۳۷ آيَتُوْ څخه خِلَافْ دئ، چي په هغه كي دئ چي مَا ته عِلْمِ غَيْبْ نَه دئ حَاصِلْ .

**۲**: **دُوَهَمَّهْ** **خَبَرَهْ** داده چي په دغه **حَدِيْثْ** كي د ,, **لَا اَدْرِئْ** ,, **لَفْظْ** راغلئ دئ، چي **مَا** ته نَه دئ **مَعْلُوْمْ**، نو بيا وَ **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته **عِلْم** **غَيْبْ** ځنګه **حَاصِلْ** دئ؟

**۳**: **دَرِيَمَّهْ** **خَبَرَهْ** داده چي و **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته ټولَ **عِلْم** **غَيْبْ** نَه وُو وَركړئ، بلكه **خَاصْ** د **مَلأُ الْاَعْلٰى** په اړه بعض **رَازُوْنَه** وَرتَه ښكاره كړي وُو، چي د **مَلأُ الْاَعْلٰى** خلک په كُومُو **خَبَرُوْ** كي **سَبَقَتْ** سره كوي؟ ددې لپاره چي **حُضُوْرْ** (ﷺ) هم و خپل **اُمَّتْ** ته هغه **نيکْ** **اَعْمَالْ** وَروښايي .

**۴**: او **ځْلُوْرَمَهْ** **خَبَرَهْ** داده چي دغه **حَدِيْثْ** د **خُوْبْ** **حَالَتْ** دئ .

نو ځكه ددغه **حَدِيْثْ** څخه د ټولو **شِيَانُوْ** **عِلْم** **غَيْبْ** **ثَابتَوَلْ** **مُشْكِلْ** دئ .

**۱۶**: **عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اِنَّ اللهَ زَوّٰى لِيَ الْاَرْضَ فَرَأَيْتُ مَشَارِقَهَا وَمَغَارِبَهَا وَ اِنَّ اُمَّتِئْ سَيَبْلُغُ مِلْكَهَا مَا زُوّىَ لِئْ مِنْهَا .**

(**مُسْلِمْ شَرِيْفْ**، **كِتَابُ الْفِتَنْ**، **بَابُ هَلَاكِ هٰذِهِ الْاُمَّـةِ بَعْضُـهُمْ بِبَعْضٍ** ،**ص**: **۱۲۵۰**، **نَمْبَرْ**: **۲۸۸۹ / ۷۲۷۸**)

**تَرْجَمَهْ**:- **حُضُوْرْ** (ﷺ) وفرمائل چي **اَللهْ** **تَعَالٰى** **زَمَا** لپاره مځكه سره ننَيستَل چي دهغه لكبله **مَا** د مځكي **شَرْقْ** او **غَرْبْ** وَليدَل، او تر كُومَه **ځايَهْ** پُوري چي مځكه سره نَنَوتَله تر هغه **ځَايَهْ** به **زَمَا** **اُمَّتْ** رسيږي .

ددغه **حَدِيْثْ** څخه هم د **عِلْم** **غَيْبْ** د ثَابِتَوُلُو كُوښښ كيږي .

دا د يوې **مُعْجزى** **بَيَانْ** دئ چي **اَللهْ** **تَعَالٰى** د **مَشْرِقْ** او **مَغْرِبْ** مځكه د **حُضُوْرْ** (ﷺ) مَختَه **حَاضِرْ** كړه، او **حُضُوْرْ** (ﷺ) هغه وَليدَلَه، ليكن په دغه **حَدِيْثْ** كي دا **وَضَاحَتْ** دئ چي د **مَشْرِقْ** او **مَغْرِبْ** **شِيَانْ** يې وَلِيدَلَه، صِرف د **مَشْرِقْ** او **مَغْرِبْ** **شِيَانْ** لِيدَل ټولَ **عِلْم** **غَيْبْ** نَه دئ، بلكه دا **جُزْءْ** دئ چي و **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته يې وَربښُوَلِي دي .

بَلَه **خَبَرَهْ** داده چي، په دي كي د ,, **زَوّٰى** ,, **لَفْظْ** راغلئ دئ چي د **مَاضِئْ** **صِيْغَهْ** ده، ددې **مَطْلَبْ** دادئ چي **يَوْ** **وَارْ** دغه رنګه وسو، كه چيري و **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته همېشَه **عِلْم** **غَيْبْ** **حَاصِلْ** دئ نو مځكه دده و مَختَه د رَاوَستَلُو څه **مَطْلَبْ** دئ؟ هغه خو هسي هم دده په مَخكِي ده، نو ځكه ددغه **حَدِيْثْ** څخه **عِلْم** **غَيْبْ** نَه ثَابِتيږي، بلكه د **غَيْبْ** بعض **خَبَرِئْ** يې و **حُضُوْرْ صَلّٰى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ** ته وَربښُوَلِي دي ..... تاسو په خپله هم **غَوْرْ** و **فِكْرْ** وكړئ .

**۱۷: عَنْ اَبِیْ ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اِنِّیْ اَرٰی مَا لَاتَـرَوْنَ وَ اَسْمَعُ مَـا لَاتَسْمَعُوْنَ . (تِرْمِذِیْ شَرِیْفْ، کِتَابُ الزُّهْدْ، بَابُ مَا جَآءَ فِیْ قَوْلِ النَّبِیِّ (ﷺ) لَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا اَعْلَمُ لَضَحِکْتُمْ قَلِیْلًا، ص: ۵۳۰، نَمْبَرْ: ۲۳۱۲)**

**تَرْجَمَهْ:-** **حُضُوْرْ** (ﷺ) وفرمائل چي **زَهْ** کُوم شَئ وِينَم تاسو ته هغه نَه دئ **مَعْلُوْمْ**، او چي څه **زَهْ** اَورَم تاسو يې نَه سئ اَورېدلائي .

ددغه **حَدِيْثْ** څخه بعضو حضـرَاتُو پـر **عِلْمْ غَيْبْ** بانـدي **اِسْتِدْلَالْ** کـړئ دئ، لېکن ددې څخه هم پُورَه **عِلْمِ غَيْبْ** نَه ثَـابتېږي، بلکـه د **اَللهْ** بعض **عِلْمِ غَيْبْ** دئ، چي و **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته يې وَرښُولَئ دئ .

ددغه **۱۰ آيَتُوْ** او **حَدِيْثُوْ** څخه مَعلومېږي چي و **حُضُوْرْ** (ﷺ) تـه **عِلْمِ غَيْبْ حَاصِلْ** وُو، لـېکن پـه څـو څـو وَارَه دا **عَرْضْ** سـوئ دئ چـي دغـه **آيَتْ** او **حَدِيْثُوْنَهْ** د **۳۸ آيَتُوْ** او **۸ حَدِيْثُوْ** په **خِلَافْ** دي .

## اَيَا د **اَللهْ** څخه **عَلَاوَهْ** بَل څوک د **زَيْدْ** په هر **حَالَتْ خَبَرْ** دئ؟

**[۳]** او د **غَيْبْ دَرَيَمْ صُوْرَتْ** دادئ چـي **نَـنْ** د **زَيْدْ** تـول **حَالَتُوْنَـهْ**، د **مَرْګْ** او **ژُوَنْدْ حَالَتْ**، د **رُوْزَیْ حَالَتْ**، د **شِفَا حَالَتْ**، د **نَفْعْ** او **نُقْصَانْ حَالَتْ مَعْلُوْمْ** دئ؟ نو په دې اړه **آيَتْ بِالْکُلْ صَفَا وَضَاحَتْ** کړئ دئ چي و **حُضُوْرْ** (ﷺ) تـه خپـل **حَالَتْ** نَه دئ **مَعْلُوْمْ**، نو د نورو **حَالَتْ** به څنګه وَر **مَعْلُوْمْ** وي؟

ددې لپاره **آيَتُوْنَهْ** دغه دي

**۵۲: قُلْ مَا کُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ وَمَآ اَدْرِیْ مَا يُفْعَلُ بِیْ وَلَا بِکُمْ ط اِنْ اَتَّبِـعُ اِلَّا مَا يُوْحٰی اِلَیَّ وَمَآ اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ . (آيَتْ ۹،سُوْرَةُ الْاَحْقَافْ ۴۶) .**

**تَرْجَمَهْ:-** **وَوَايَهْ** چي:،، **زَهْ** په **پيْغَمْبَرَانُ** کي څه **نَاوَلَّدْ** (**عَجَبَّهْ** او **اَنْتِکْ**) **پيْغَمْبَرْ** نَه يَم. **مَا** ته نَه دئ **مَعْلُوْمْ** چي **زَمَا** سره به څه کيږي، او نَه دا **مَعْلُوْمْ** دئ چي ستاسو سره به څـه کيږي؟. **زَهْ** د **بَلْ** شيِ نَه، صِرف دهغه **وَحْيِ پيْرَوِیْ** کوم چي **مَا** تـه اَستَول کيږي، او **زَهْ** خو صِرف **عَلَی الْاِعْلَانْ آګاهْ** کونکئ يَم .

په دغه **آيَتْ** کي **حُضُوْرْ** (ﷺ) دا **اِعْلَانْ** کـوي چـي پـه خپلـه **زَمَـا حَالْ** نَـه دئ **مَعْلُوْمْ** چي **زَمَا** سره به څه کيږي، او نَه دا **حَالْ مَعْلُوْمْ** دئ چي ستاسو سره به څه کيږي، نو **نَنْ وُرَځْ** د **زَيْدْ** په اړه کُوم **مَعْلُوْمَاتْ** به و **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته څنګه وي؟

**٥٣: تِلْكَ مِنْ اَنْـبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهَآ اِلَيْكَ ج مَا كُنْتَ تَعْلَمُهَآ اَنْتَ وَلَا قَوْمُكَ مِنْ قَبْلِ هٰذَا** ط. (آيَتْ ٤٩،سُوْرَةُ هُوْدْ ١١) .
تَرْجَمَهْ:- (اىٔ پيغَمْبَرَهْ!) دا د غَيْبُ څه خَبَرِئْ دي چي مُوږ يي تَا ته د وَحْـيِ پـه ذَرِيْعَـهْ بيانوو، دغه خَبَرِئْ نَه تَا ته تردي د مَخَكِي مَعْلُوْم وې، نَه ستا و قَوْمْ ته .
يَامْ لَرَنَهْ : په دغه آيَتْ كي اَللّٰهْ تَعَالٰي په خپله فرمائي چي اىٔ نَبِيْ نَه خو تَا تـه هيڅ مَعْلُوْمَاتْ وُو او نَه ستا و قَوْمْ ته څه مَعْلُوْمَاتْ وُو، نو د زَيْدْ د هر حَالَتْ عِلْمْ وَ حُضُوْرْ (ﷺ) ته څنګه كيدلائي سي؟

ددغه عَقِيدې په اړه ٥٣ آيَتُوْنَهْ او ١٧ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ وَګورَئ .

## د هِنْدُوَانُوْ دا عَقِيْدَهْ ده چي زُمُوږ و دِيْوِئْ دِيْوْتَا ته عِلْمِ غَيْبْ حَاصِلْ دئ

زُمُوږ په هِنْدُوْسْتَانْ كي د هِنْدُوَانُوْ دا خَاصْ عَقِيْدَهْ ده چي زُمُوږ رَشِـئْ مَنِـئْ، [يعني زَاړَهْ بُزَرګَانْ، کُوم چي مړه سوي دي] هغـه پـه غَيْـبُ هم خَبَـرْ دي، او زُمُوږ حَاجَتُوْنَهْ اَوري زُمُوږ مَرَستَه هم كـوي، پـه دغـه وَجْـهَ خـو هِنْـدْوَانْ د هغـوي بُتَـانْ جـوړوي او د هغـوي عِبَـادَتْ كـوي، او دهغـوي څخـه خپـل ضرورتونه هم غُوَاړي .
اَصْلْ خَبَرَهْ داده چي د مُسَلْمَانَانُوْ څخه عَلَاوَهْ د ډېرو قَوْمُوْ دا عَقِيْدَهْ ده چي د دُوي وَلِيْ يا رِهْنَمَايَانْ په عِلْمِ غَيْبْ باندي خَبَرْ دي، او هغه زُمُوږ مَرَستَه هم كولائي سي، په دغه وَجْهَ خو دُوي د اَللّٰهْ سره سـره د بُتَـانُوْ، دِيْـوِئْ، دِيْوْتَـاوُ، او د خپلو جَـلَا جَـلَا مَعْبُوْدَانُـوْ بَنْـدَګِئْ هم كـوي، او دهغـوي څخـه مَـدَدْ هـم غُوَاړي، په دغه وَجْهَ اَللّٰهْ تَعَالٰي په قُرْآنْ كي صَفَا صَفَا فرمائلي دي چي د اَللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ هيڅ څوک په عِلْمِ غَيْبْ نَه دئ خَبَرْ، چي نَه څـوک دهغـه عِبَـادَتْ وكي، او نَه دهغه څخه خپل ضَرُوْرَتْ وَغُوَاړي .
پر دغه نُكْتَهْ تاسو غَوْرْ وكئ .

# ۱۱: بَسِ صِرف د اَللّٰهْ څخه مَدَدْ غُوَښتَلائي سي

ددغه عَقِيدې په اړه ۳۸ آيَتُوْنَهْ او ۴ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ وَګُورَئ .

## د مَدَدْ غُوَښتَلُو دُوَهْ صُوْرَتُوْنَهْ دي

[۱] چي يَو څوک مَخَامَخ مَوْجُوْدْ وي نو دهغه څخه مَدَدْ غُوَښتَل کېدلائي سي، په دي کي هيڅ قَبَاحَتْ نَستَه، دا جَائِزْ دئ، لکه څنګه چي د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه د دُعَا لپاره دَرْخُوَاسْتْ وکړئ، يا اَصْحَابَانُوْ د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه ډېر شِيَانْ غُوَښتِي دي، يا لکه څنګه چي په قِيَامَتْ به حُضُوْرْ (ﷺ) د اِنْسَانَانُوْ په مَخکِي وي نو د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه به د شَفَاعَتْ دَرْخُوَاسْتْ وکي، يا لکه دا چي و ډاکْټَرْ ته وَوَائِي چي تَه زَمَا عِلَاجْ وکه، يا مُوْرْ ته وَوَائِي چي مَا ته ډُوډَئ راکه .

هغه دُعَا يا هغه مَدَدْ چي د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه دده په ژُوَنْدْ کي غُوَښتَئ وي، او په قُرْآنْ و حَدِيْثْ کي دهغه بَيَانْ راغلئ دئ، دهغه عِبَارَاتُوْ څخه بعضو حَضَرَاتُو دا اِسْتِدْلَالْ کړئ دئ چي تر مرګ وروسته هم دده څخه مَدَدْ غُوَښتَل جَائِزْ دئ، حَالَانْکِهْ د مرګ وروسته مَعَامَلَهْ بِالْکُلْ جَلَا مَعَامَلَهْ ده، تر مرګ وروسته د مَدَدْ غُوَښتَلُو لپاره بَاقَاعِدَهْ آيَتْ يا حَدِيْثْ ضروري دئ .

[۲] دُوَيَمْ صُوْرَتْ دادئ چي يَو سړئ مَړ دئ، او هغه مَخَامَخ مَوْجُوْدَ نه دئ،اُوس دهغه په اړه دا يَقِيْنْ کول چي هغه زَمَا خَبَرِيْ اَورِي، او چي څَه زَهْ وَغُوَاړَم هغه رَاکوي دا صُوْرَتْ جَوَازْ نه لري، ځکه چي دغه رنګه مَدَدْ صِرف اَللّٰهْ تَعَالٰي کولائي سي .

## که د يَو مَيِّتْ څخه څَه غُوَاړِې نو اَوَّلْ ۴ سُوَالُوْنَهْ حَلْ که

[۱] اَوَّلْ سُوَالْ دادئ چي مُوږ د کُوم مَيِّتْ (مَړي) څخه څَه غُوَاړو هغه زُمُوږ خَبَرَهْ اَورِي که نَه ؟

د سِمَاعِ مَوْتٰي په بَحْثْ کي رَارَوَانْ دئ چي مُرْدَهْ ګانْ زُمُوږ خَبَرِيْ اَورِي هم که نه اَورِي. په دې بَابْ کي زَبَرْدَسْتَهْ اِخْتِلَافْ دئ، د يَوَهْ جَمَاعَتْ دا رَأْيَهْ ده چي مَړِي نَه اَورِي، ځکه چي قُرْآنْ په اِعْلَانْ سره وَيلِي دي

**وَمَا يَسْتَوِى الْاَحْيَآءُ وَلَا الْاَمْوَاتُ ط اِنَّ اللّٰهَ يُسْمِعُ مَنْ يَّشَآءُ ج وَمَآ اَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَّنْ فِى الْقُبُوْرِ (اَيتْ ۲۲،سُوْرَةُ فَاطِرْ ۳۵)**

**تَرْجَمَهْ:-** او ژَوَنْدِيْ خلک او مړهْ نَه سي سره بَرَابَرْ کېدلائي، اَللّٰهْ چي وَغُوَاړي، په هغه باندي خَبَرَهْ اَوري، او تَه په هغوي خَبَرَهْ نَه سې اَورَولائي کُوم چي په قَبْرُوْ کي پراته دي.

او د دُوَيَمْ جَمَاعَتْ رَأْيَهْ داده چي مُوږ خو يې نَه سو په اَورَولائي، اَلْبَتَّهْ چي اَللّٰهْ وَغُوَاړي نو يَو خَبَرَهْ په مَړي اَورَولائي سي، او دهغه دَلِيْلْ دادئ چي حُضُوْرْ (ﷺ) اَبُوْجَهْلْ او اَبُوْلَهَبْ مُخَاطَبْ کړل ورته وويل چي تاسو ته هغه شَئ وَرَسېدَئ کُوم چي ستاسو سره يې وَعْدَهْ کېدله

حَدِيْثْ دادئ

**اَنَّ اِبْنَ عُمَرَ اَخْبَرَهُ قَالَ اِطَّلَعَ النَّبِىُّ (ﷺ) عَلٰى اَهْلِ الْقَلِيْبِ فَقَالَ: وَجَدْتُّمْ مَّا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا؟ فَقِيْلَ لَهُ اَتَدْعُوْنَ اَمْوَاتًا؟ فَقَالَ مَا اَنْتُمْ بِاَسْمَعَ مِنْهُمْ وَلٰكِنْ لَّا يُجِيْبُوْنَ . (بُخَارِىْ شَرِيْفْ، بَابُ مَاجَآءَ فِىْ عَذَابِ الْقَبْرِ،ص: ۲۲۰، نَمْبَرْ ۱۳۷۰)**

**تَرْجَمَهْ:-** حُضُوْرْ (ﷺ) د بَدْرْ د څَاهْ د مُرْدَهْ ګانُوْ سره نژدې وَدَرېدَئ، او وويل: اَللّٰهْ چي ستاسو سره کُومَه وَعْدَهْ کړې وه، تاسو هغه رِشْتِيَا (په سترګو) وَلِيْدَلَهْ؟ خلکو و حُضُوْرْ (ﷺ) ته وويل چي تَه و مُرْدَهْ ګانُوْ ته نَعرې وَهې؟ نو حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل چي، تاسو هم دُومرَه نَه سئ اَورېدَلائي څومره چي يې دُوئي اَورِي، لېکن (صِرف) دُوي جَوَابْ نَه سي وَرکوَلائي .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي مُرْدَهْ ګانْ اَورِي .

اُوس خو د مُرْدَهْ ګانُوْ په اَورېدَلُو کي اِخْتِلَافْ دئ نو ځکه مُوږ د مُرْدَهْ ګانُوْ څخه څنګه سُوَالْ وکوو؟

**[۲] دُوَيَمْ سُوَالْ** دادئ چي مُوږ سُوَالْ وکوو، نو اَيَا مُرْدَهْ ګانْ زمُوږ مَدَدْ کولائي سي؟ سره ددې چي په حَدِيْثْ کي دئ

**اِذَا مَاتَ الْاِنْسَانُ اِنْقَطَعَ عَمَلُهُ . (تِرْمِذِىْ شَرِيْفْ، نَمْبَرْ ۱۳۷۶)**

**تَرْجَمَهْ:-** چي اِنْسَانْ مَړ سي نو دده عَمَلْ مُنْقَطِعْ سي .

اُوس دئ د دُنْيَا يَو کار هم نَه سي کولائي، ددې څخه دا اَنْدَازَهْ کېږي چي دئ زمُوږ د مَدَدْ کولو اِخْتِيَارْ نَه لري .

**[۳] دَرَيَمْ سُوَالْ** دادئ چي اَيَا اَللّٰهْ تَعَالٰى يا حُضُوْرْ (ﷺ) مُوږ ته حُکْمْ کړئ دئ چي مُوږ د مُرْدَهْ ګانُوْ څخه څَه شَئ وَغُوَاړُو؟ يايې ددغه رنګه سُوَالْ کولو څخه مَنْعَ کړي يُو؟

ددغه دَرَیَمْ سُوَالْ په اړه ۳۰ آیَتُوْنَه او ۳ حَدِیْثُوْنَهْ رَاروَانْ دي چي د اَللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ د بَل هیڅ چَا څخه مَه غُوَاړئ .
تاسو په خپله پر دغه آیَتُوْ باندي غَوَرْ وکئ .

[۴] څَلُوْرَمْ سُوَالْ دادئ چي هِنْدُوَانْ هم یَو خُدَا مَنِي هغه ته دُوي کرْشَنْ بهګوَانْ وائي لېکن د نورو دِیْوِیْ دِیْوْتَا څخه هم خپل مَدَدْ غُوَاړِي .
نو تاسو هم چي د خُدَا څخه عَلَاوَهْ د نَبِیَانُوْ څخه، وَلِیَانُوْ څخه او د نورو خلګو څخه مَدَدْ غُوَاړئ، نو د هِنْدُوَانُوْ او ستاسو په عَقِیْدَهْ کي څَه فَرْقْ پاته سو؟

## دُعَا صِرف د اَللّٰهْ څخه غُوَښتَل په کار ده

که د غَائِبْ څخه مَدَدْ غُوَاړِ نو صِرف د اَللّٰهْ څخه غُوَاړه .
ددې لپاره آیَتُوْنَهْ دغه دي

۱: اِیَّاكَ نَعْبُدُ وَ اِیَّاكَ نَسْتَعِیْنُ . (آیَتْ ۴،سُوْرَةُ الْفَاتِحَةْ ۱) .
تَرْجَمَهْ:- (ائ اَللّٰهْ!) مُوږ خَالِصْ ستا عِبَادَتْ کوو، او ستا څخه مَرَسْتَهْ غواړو
په دغه آیَتْ کې په حَصْرْ سره دا فرمائلي دي چي مُوږ بَس صِرف د اَللّٰهْ عِبَادَتْ کوو او بَس صِرف د اَللّٰهْ څخه مَدَدْ غُوَاړو .
په شیَهْ او وُرَځْ کي فَرْضْ لُمُوْنځ ۱۷ رَکْعَتُوْنَه دي، او لَږْ تر لَږْ ۱۷ وَارَهْ په مُؤمِنْ باندي دا اِقْرَارْ کوي چي مُوږ خو صِرف د اَللّٰهْ عِبَادَتْ کوو او صِرف د اَللّٰهْ څخه مَدَدْ غُوَاړُو، نو ځکه د بَل چَا عِبَادَتْ هم جَوَازْ نَه لري او د بَل چَا څخه مَدَدْ غُوَښتَل هم جَوَازْ نَه لري .

۲: اَغَیْرَ اللّٰهِ تَدْعُوْنَ ج اِنْ کُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ بَلْ اِیَّاهُ تَدْعُوْنَ .
(آیَتْ ۴۰/ ۴۱ ، سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ۶) .
تَرْجَمَهْ:- نو آیَا د اَللّٰهْ بغیره بَلْ ته به بَلَنَهْ ورکوئ که چیري تاسو رِشْتُوْنِيْ یاست؟ بلکه هغه ته به بَلَنَهْ ورکوئ .

۳: وَّ اَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ اَحَدًا لا (آیَتْ ۱۸، سُوْرَةُ الْجِنْ ۷۲) .
تَرْجَمَهْ:- سَجْدَهْ خو بَس د اَللّٰهْ لپاره ده، نو ځکه د اَللّٰهْ سره د بَل چَا عِبَادَتْ مَه کوئ

په دغه آيَتْ کي دئ چي د اَللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ بَل څوک مَه رَابولَئ، او دده سره بَل څوک مَه شَرِيْکْ کوئ .

**۴: اِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللهِ عِبَادٌ اَمْثَالُکُمْ (آيَتْ ۱۹۴، سُوْرَةُ الْاَعْرَافْ ۷) .**

تَرْجَمَهْ:- يَقِيْنْ وکئ د اَللّٰهْ بغيره چي تاسو ګُوم ګُوم چاته بَلَنه ورکوئ، هغه ټول ستاسو په شَان (د اَللّٰهْ) بَنْدَهْ ګانْ دي .

**۵: وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِه مَا يَمْلِکُوْنَ مِنْ قِطْمِيْرٍ ط (آيَتْ ۱۳، سُوْرَةُ فَاطِرْ ۳۵) .**

تَرْجَمَهْ:- او دهغه په ببله چي ګُومُو (مَصْنُوْعِيْ خُدَايَانُوْ) ته تاسو بَلَنَهْ وَرکَوَئ، هغه د خُوْرمَا د تَاکِيْ د پُوْسْتُوْکِيْ په اَنْدَازَهْ هيڅ اِخْتِيَارْ هم نَه لري (نو ستاسو به څَه مَدَدْ وکي؟).

**۶: قُلْ اِنَّمَآ اَدْعُوْا رَبِّىْ وَلَآ اُشْرِكُ بِه اَحَدًا (آيَتْ ۲۰، سُوْرَةُ الْجِنْ ۷۲) .**

تَرْجَمَهْ:- وَوَايَهْ چي:،، زَهْ خو صِرف د خپل پَرْوَرْدِګَارْ عِبَادَتْ کوم، او دهغه سره هيڅ يَو شَرِيْکْ نَه مَنَم.

**۷: وَ اِنْ يَّمْسَسْكَ اللهُ بِضُرٍّ فَلَاكَاشِفَ لَهٗ اِلَّا هُوَ ط (آيَتْ ۱۷، سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ۶) .**

تَرْجَمَهْ:- او که چيري اَللّٰهْ تَا ته يَو تَکْلِيْفْ ورسوي نو په خپله دهغه بغيره ددغه (تَکْلِيْفْ) د ليري کولو والا بَلْ څوک نَستَه .

**۸: وَ اِنْ يَّمْسَسْكَ اللهُ بِضُرٍّ فَلَاكَاشِفَ لَهٗ اِلَّا هُوَ ج (آيَتْ ۱۰۷، سُوْرَةُ يُوْنُسْ ۱۰) .**

تَرْجَمَهْ:- او که چيري اَللّٰهْ تَا ته يَو تَکْلِيْفْ ورسوي نو په خپله دهغه بغيره ددغه (تَکْلِيْفْ) د ليري کولو والا بَلْ څوک نَستَه .

په دغه ۸ آيَتُوْ کې په حَصْرْ او تَاکِيْدْ سره دا فرمائلي دي چي صِرف اَللّٰهْ ته بَلَنَهْ وَرکوئ، او دهغه څخه مَدَدْ غُوَارِئ، نو د اَللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ د بَل چَا څخه مَدَدْ غُوَښتَل نَاجَائِزْ سو .

تاسو په خپله هم پر دغه آيَتُوْ باندي غَوَرْ وکئ .

**په دغه آيَتُوْ کي په تَاکِيْدْ او حَصْرْ سره وَيَلي دي چي**
**صِرف د اَللّٰهْ څخه مَدَدْ کېدلائي سي**

٩: وَمَا النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِاللهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ۙ (آيَتْ ١٢٦، سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ٣) .
تَرْجَمَهْ:- مَدَدْ خو د بَل چا لطرف څخه نَه دئ، صِرف د اَللهْ لطرف څخه رازي چي د مُكمَّلْ اِقْتِدَارْ مَالِكْ هم دئ، او د ټول حُكُوْمَتْ مَالِكْ هم دئ۔

١٠: وَمَا النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِاللهِ ؕ اِنَّ اللهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ (آيَتْ ١٠، سُوْرَةُ الْاَنْفَالْ ٨) .
تَرْجَمَهْ:- مَدَدْ خو د بَل چا لطرف څخه نَه دئ، صِرف د اَللهْ لطرف څخه رازي، يَقِيْنًا اَللهْ د مُكمَّلْ اِقْتِدَارْ مَالِكْ هم دئ، او د ټول حُكُوْمَتْ مَالِكْ هم دئ۔

١١: وَمَالَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّ لَانَصِيْرٍ (آيَتْ ١٠٧، سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ٢) .
تَرْجَمَهْ:- او د اَللهْ بغيره نَه ستاسو دُوسْتْ سته او نَه مَرسْتِيَالْ۔

١٢: وَمَالَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّ لَانَصِيْرٍ (آيَتْ ٢٢، سُوْرَةُ الْعَنْكَبُوْتْ ٢٩) .
تَرْجَمَهْ:- او د اَللهْ بغيره نَه ستاسو دُوسْتْ سته او نَه مَرسْتِيَالْ۔

١٣: وَمَالَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّ لَانَصِيْرٍ (آيَتْ ٣١، سُوْرَةُ الشُّوْرٰى ٤٢) .
تَرْجَمَهْ:- او د اَللهْ بغيره نَه ستاسو دُوسْتْ سته او نَه مَرسْتِيَالْ۔

پـه دغـه ٥ آيَـتُوْ كـې د حَصْرْ سـره دا بَيَـانْ كـړئ دئ چـي د اَللهْ بَغَيْـرَهْ بَـل مَدَدْگارَهْ نَستَه، او نَه بَل سَاتَندُويَه سته، لِهٰذَا د اَللهْ څخه عَلَاوَهْ د بَـل چَـا څخـه مَدَدْ غُوښتَل په كار نَه دئ .
تاسو په خپله هم دغه آيَتُوْنَهْ په غُوَرْ سره وَوَايَاست .

په دغه آيَتُوْ كې فرمائلي دي چي د اَللهْ بَغَيْرَهْ تاسو
چَا ته بَلَنَهْ وركوئ هغه د خپل ځان مَدَدْ نَه سي
كولائي نو ستاسو به څَه مَدَدْ وكي؟

آيَتُوْنَهْ دغه دي

١٤: وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَكُمْ وَلَآ اَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُوْنَ
(آيَتْ ١٩٧، سُوْرَةُ الْاَعْرَافْ ٧) .

تَرْجَمَهْ:- او د اَللهْ بغيره چي کُوم کُوم چاته تاسو بَلَنَه ورکوئ، هغه نَـه ستاسـو مرسـته کولائي سي، نَه خپله مرسته کوي

۱۵: لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ لَهُمْ نَصْرًا وَّ لَآ اَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُوْنَ

(آيَتْ ۱۹۲، سُوْرَةُ الْاَعْرَافْ ۷) .

تَرْجَمَهْ:- هغه چي نَه د دُوي هيڅ ډول مَرَسْتَهْ کـولائي سـي او نَـه پـه خپلـه خپلـه مَرَسْتَهْ کولائي سي

۱۶: وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَايَسْتَجِيْبُوْنَ لَهُمْ بِشَيْءٍ

(آيَتْ ۱۴، سُوْرَةُ الرَّعْدْ ۱۳) .

تَرْجَمَهْ:- او د هغه (اَللهْ) بغيره دغه خلک چي کُومُو (بُتَانُوْ) تـه بَلَنَـه ورکـوي، هغـه د دُوي د دُعَا کَانُوْ هيڅ جَوَابْ نَه ورکوي .

۱۷: وَ اَنَّ مَا يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ هُوَ الْبَاطِلُ وَ اَنَّ اللهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ

(آيَتْ ۶۲، سُوْرَةُ الْحَجْ ۲۲) .

تَرْجَمَهْ:- او دغه خلک دده په بېله چي د کومو شِيَانُوْ عِبَادَتْ کـوي، هغـه ټـول بَاطِلْ دي، او تَنْهَا اَللهْ هغه ذَاتْ دئ چي شَانْ يې هم لُوړ دئ، رُتْبَهْ يې هم غَتَّهْ ده

۱۸: قُلْ فَمَنْ يَّمْلِكُ لَكُمْ مِّنَ اللهِ شَيْئًا اِنْ اَرَادَ بِكُمْ ضَرًّا اَوْ اَرَادَ بِكُمْ نَفْعًا ط بَلْ كَانَ اللهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا

(آيَتْ ۱۱، سُوْرَةُ الْفَتْحْ ۴۸) .

تَرْجَمَهْ:- وَوَايَهْ چي:,, بِنَهْ نو که چيري اَللهْ تَعَالٰي تاسو ته يو نُقْصَانْ رَسَوَل وَغُوَاړِي يا فَائِدَهْ رَسَوَل وَغُوَاړِي نو څوک دئ چي د اَللهْ په حُضُور کي ستاسو په مَعَامَلَـهْ کـي د هيڅ څه کولو طَاقَتْ وَلـرِي؟ بلکـه چـي څـه تاسـو کـوئ، اَللهْ پـه هغـه مُكَمَّلْ خَبَرْدَارَهْ دئ.

۱۹: قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ فَلَايَمْلِكُوْنَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنْكُمْ وَلَاتَحْوِيْلًا

(آيَتْ ۵۶، سُوْرَةُ الْاَسْرَآءْ ۱۷) .

تَرْجَمَهْ:- وَوَايَهْ چي: کُوم څوک چي تاسو د اَللهْ بغيره مَعْبُوْدَانْ ګڼلي دي، هغوي تـه بَلَنَهْ ورکړئ وَګُورَئْ، دا به وسي چي نَه به هغه ستاسو څخه يَو تَكْلِيْفْ ليري کـولائي سي، او نَه به هغه تَبْدِيلْ کولائي سي

۲۰: وَ مَا بِكُمْ مِّنْ نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللهِ ثُمَّ اِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فَاِلَيْهِ تَجْـَٔرُوْنَ ج

(آيَتْ ۵۳، سُوْرَةُ النَّحْلْ ۱۶) .

تَرْجَمَهْ:- او تاسو ته چي کُوم نِعْمَتْ مِلاوېږي، هغـه د اَللهْ لَطَرَفْ څخـه وي، بيـا چـي تاسو ته يو تَكْلِيْفْ رسيږي نو دهغه څخه فَرْيَادْ کوئ

**۲۱: وَ اِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ الضُّرُّ دَعَانَا لِجَنْبِهٖٓ اَوْ قَاعِدًا اَوْ قَآئِمًا ج فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ ضُرَّهٗ مَرَّ كَاَنْ لَّمْ يَدْعُنَآ اِلٰى ضُرٍّ مَّسَّهٗ ط (آيَتْ ۱۲، سُوْرَةُ يُوْنُسْ ۱۰) .**

**تَرْجَمَهْ:-** او چي كله **اِنْسَانْ** ته يَو **تَكْلِيْفْ** ورسيږي نو دئ په **پُرُوْتِي** په **نَاسْتِي** او په **وَلَاړِيْ** (يعني په هر **حَالَتْ** كي) مُوږ تـه **بَلْنَـهْ** رَاكوِي، بيا چي مُوږ دده **تَكْلِيْفْ** ليري كړو، نو دارنګه وُلاړ سي لكه په هيڅ وَخت چي خپل ځان تـه پـه رسېدلي **تَكْلِيْفْ** كي مُوږ ته هيڅ **بَلْنَهْ** هم نه وي راكړې .

**۲۲: وَ اِذَا سَاَ لَكَ عِبَادِيْ عَنِّيْ فَاِنِّيْ قَرِيْبٌ ط اُجِيْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِ لا (آيَتْ ۱۸۶، سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲) .**

**تَرْجَمَهْ:-** او (اىٔ **پيغَمْبَرَهْ!**) چي **زَمَا بَنْدَهْ ګانْ** ستا څخه **زَمَا** پـه اړه پوښتَنَه وكړي نـو (تَه دُوي ته **وَوَايَهْ** چي **اَللّٰهْ** وائي) **زَهْ** دُومره نِژدې يم چي څوک **مَا** رَابولِي نو **زَهْ** د بَلُونكِي (**دُعَاءْ** كونكي) **اَوَازْ** اَورَم (**دُعَاءْ** قبلومه) .

**۲۳: وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهٖ نَفْسُهٗ ج صلى وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ (آيَتْ ۱۶، سُوْرَةُ قٓ ۵۰) .**

**تَرْجَمَهْ:-** او **حَقِيْقَتْ** دادئ چي مُوږ **اِنْسَانْ** پَيدَا كړئ دئ، او دده پـه **زړَهْ** كـي چي كُوم **خِيَالَاتْ** رَاځِي، په هغه (**لَا**) مُوږ **بِنَهْ خَبَرْ** يُو، او مُوږ دده تـر **شَهْ رَګْ** هم **زِيَاتْ** ده تـه نِژدې يُو،

**۲۴: وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ ط اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِيْ سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دٰخِرِيْنَ (آيَتْ ۶۰، سُوْرَةُ الْمُؤْمِنْ ۴۰) .**

**تَرْجَمَهْ:-** او ستا **پَرْوَرْدِګَارْ** ويلي دي چي:،، **مَا رَابُوْلَئ، زَهْ** ستاسو **دُعَاءګَانْ قَبْلَوَمْ، بيْشَكَّهْ** كُوم خلګ چي د **تَكَبُّرْ** په **وَجَهْ زَمَا** د **عِبَادَتْ** څخه **مَخَانْ** اړوِي، هغه به پـه **ذِلّتْ** سره **دُوْزخْ** ته **دَاخِلْ** سي.،،

**۲۵: هُوَ الْحَيُّ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ط (آيَتْ ۶۵، سُوْرَةُ الْمُؤْمِنْ ۴۰) .**

**تَرْجَمَهْ:-** هغه همېشه **ژُوْنْدَئ** دئ، دهغه **بِغَيْرَهْ بَلْ مَعْبُوْدْ** نَستَه، نـو ځكـه هغـه دارنګه رَابُولَئ چي ستاسو **تَابِعْدَارِيْ خَالِصْ** دهغه لپاره وي .

**۲۶: اِنْ يَّنْصُرْكُمُ اللّٰهُ فَلَاغَالِبَ لَكُمْ ج وَاِنْ يَّخْذُلْكُمْ فَمَنْ ذَا الَّذِيْ يَنْصُرُكُمْ مِّنْۢ بَعْدِهٖ ط (آيَتْ ۱۶۰، سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳) .**

**تَرْجَمَهْ:-** كه **اَللّٰهْ** ستاسو **مَرَسْتَهْ** وكړي (لكه په **بَدَرْ** كي) نو هيڅ څوک پر تاسو **غَالِبْ** كېدونكئ نسته، او كه هغه تاسو **تَنْهَا** پرېږدي (لكه په **اُحَدْ** كي) نـو څوک دئ چي ددې وروسته ستاسو **مَرَسْتَهْ** وكړي؟

**۲۷: بَلِ اللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ ج وَهُوَ خَيْرُ النّٰصِرِيْنَ** (آيَتْ ۱۵۰، سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳) .
**تَرْجَمَهْ:-** (دغه خلک ستاسو خَيْرْ خُوَاهْ نَه دي) بلکه اَللّٰهْ ستاسو حَامِيْ او نَاصِرْ دئ، او هغه تر ټولو ښه مَدَدْګَارْ دئ.
په دغه ۲۷ آيَتُوْ کې تَاکِيْدْ کړئ دئ چي صِرف د اَللّٰهْ څخه غُوَاړئ، لِهٰذَا د نورو (يعني بَل هر چَا) څخه غُوښتَل جَوَازْ نَه لري .
تاسو په خپله هم پر دغه آيَتُوْ باندي غَوَرْ وکئ .

## په حَدِيْثْ کې تَرْغِيْبْ ورکړئ دئ چي صِرف د اَللّٰهْ څخه مَدَدْ غُوَاړئ

حَدِيْثُوْنَهْ دغه دي

**۱: عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) لِيَسْأَلَ اَحَدُكُمْ رَبَّهُ حَاجَتَهُ كُلَّهَا حَتّٰى يَسْأَلَ شَسْعَ نَعْلِه اِذَا انْقَطَعَ .**
(تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الدَّعْوَاتْ،بَابُ لِيَسْأَلَ رَبَّهُ حَاجَتَهُ كُلَّهَا،ص: ۸۲۲، نَمْبَرْ ۳۶۰۴)
**تَرْجَمَهْ:-** حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل چي په تاسو کي هر يَو د خپل رَبْ څخه ټولَ ضَرُوْرَتُوْنَهْ غُواړئ، آنْ تر دې که د چَوتِيْ تَنَيْ وَشليږي نو هغه هم صِرف د اَللّٰهْ څخه غُواړئ .
په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي ټولَ ضَرُوْرَتُوْنَهْ د اَللّٰهْ څخه غُوښتَل په کار دي .

**۲: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ اِذَا اشْتَكٰى مِنْ اِنْسَانٍ مَسَحَهُ بِيَمِيْنِه ثُمَّ قَالَ اِذْهَبِ الْبَأسَ رَبَّ النَّاسِ وَاشْفِ اَنْتَ الشَّافِيْ لَاشِفَاءَ اِلَّا شِفَاءُكَ شِفَاءً لَايُغَادِرُ سَقْمًا .**
(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ السَّلَامْ،بَابُ اِسْتِحْبَابُ رُقْيَةِ الْمَرِيْضِ،ص: ۹۷۲، نَمْبَرْ ۲۱۹۱ / ۵۷۰۷)
**تَرْجَمَهْ:-** د حُضُوْرْ (ﷺ) دا عَادَتْ وُو چي يَو اِنْسَانْ به نَاجُوْړَهْ سو نو په ښِيْ لَاسْ به هغه مَسَحْ کاوئ (وَمُبنئ يَعني ښِيْ لَاسْ به پر تېراوئ)، بيا به دغه دُعَاءْ وَيَله، د اِنْسَانَانُوْ رَبَّ دغه تَکْلِيْفْ ليري کړې، تَه شِفَا وَرکوُنکئ يې بَس تَه شِفَا ورکې، صِرف ستا شِفَا ده، دارنګه شِفَا چي نَاجُوْړِي نَه پريږدي .
په دغه حَدِيْثْ کې صِرف د اَللّٰهْ څخه شِفَا غُوښتې ده .

# په قِيَامَتْ به هم حُضُوْرْ (ﷺ) د اَللّٰهْ څخه غُوَاړِي او اَللّٰهْ به وَرکوِي

دَلِيْلْ يې دا حَدِيْثْ دئ

**۳: عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) يَجْمَعُ اللهُ النَّاسَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَيَقُوْلُوْنَ لَوْ اِسْتَشْفَعْنَا عَلٰى رَبِّنَا حَتّٰى يُرِيْحُنَا مِنْ مَكَانِنَا ..... ثُمَّ يُقَالُ لِيْ : اِرْفَعْ رَأْسَكَ وَسَلْ تُعْطَهُ،وَقُلْ يُسْمَعْ،وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ فَاَرْفَعُ رَأْسِيْ فَاَحْمَدُ رَبِّيْ بِتَحْمِيْدٍ يُعَلِّمُنِيْ،ثُمَّ اَشْفَعُ فَيُحَدُّ لِيْ حَدًّا ثُمَّ اُخْرِجُهُمْ مِّنَ النَّارِ وَ اُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ ثُمَّ اَعُوْدُ فَاَقَعُ سَاجِدًا مِّثْلَهُ فِي الثَّالِثَةِ اَوِ الرَّابِعَةِ حَتّٰى مَا يَبْقٰى فِي النَّارِ اِلَّا مَنْ حَبَسَهُ الْقُرْاٰنُ .**

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الرَّقَاقْ، بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ، ص: ۱۱۳۶، نَمْبَرْ ۶۵۶۵) .

تَرْجَمَهْ:- حُضُورِ پَاکْ (ﷺ) وفرمائل چي اَللّٰهْ به د قِيَامَتْ په وُرَځْ خلګ سره جَمَعْ کي، خلګ به ووائي، زُمُوږ د رَبْ په مَخکي که يَو ځَا سفَارَشْ کړئ وائ نو ددغه ځايَه څخه به مُوږ ته عَافِيَّتْ مِلاوْ سوئ وائ ..... بيا به مَا ته وويل سي، سَرْ پُورتَه که او وَغُوَاړَه (هغه څه به) دَرکوَل کيږي، وَوَايَه خَبَرَهْ به دي اَوريدَل کيږي، سفَارَشْ وکه سفَارَشْ به دي قَبليږي، نو زَهْ به سَرْ پُورتَه کم، او دارنګه حَمْدْ به وکم چي اَللّٰهْ به په هغه وَخْتْ مَا ته رَاوبنَايِيْ، بيا به زَهْ سفَارَشْ وکم نو يَو حَدْ (مَقَامْ) به مُتَعَيَّنْ کړي، بيا به زَهْ هغه خلګ د دُوْزَخْ څخه رَاوبَاسَمْ او په جَنَّتْ کي به دَاخِلْ کم، بيا به د اَوَّلْ وَارْ په شَانْ دُوهَمْ وَارْ سَجدې ته ځَم، دا به دَرِيَمْ وَارْ وي يا څَلُوْرَمْ وَارْ وي، آنْ تر دې چي په دُوْزَخْ کي به هغه پاته سي کُوم چي قُرْآنْ مَنَعْ کړي دي (يعني صِرف کافِرَانْ به په دُوْزَخْ کي پاته سي) .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي د قِيَامَتْ په وُرَځْ به اَللّٰهْ ووائي چي تَه يې غُوَاړَه، او زَهْ يې دَرکوَمَه، ددې مَطْلَبْ دا سو چي په قِيَامَتْ به هم و حُضُوْرْ (ﷺ) تَه اِخْتِيَارْ نَه وي، بلکه حُضُوْرْ (ﷺ) به په خُولَه وَغُوَاړِي او اَللّٰهْ به وَرکړي، حُضُوْرْ (ﷺ) به شَفَاعَتْ وَغُوَاړِي او اَللّٰهْ به وَرکړي .

## صِرف د اَللّٰهْ څخه مَدَدْ غُوَښتَل په کار دئ

### د اِمَام غَزَالِيْ رَأْيَهْ

د اِمَام غَزَالِيْ د کِتَابْ ,, قَوَاعِدُ الْعَقَائِدْ ,, عِبَارَتْ دغه دئ

**فَاللهُ وَحْدَهُ هُوَ الَّذِيْ يَتَقَرَّبُ اِلَيْهِ الْمُسْلِمُ بِعِبَادَتِهٖ وَبِخُضُوْعِهٖ .**

وَمِنَ اللهِ وَحْدَهُ يَسْتَمِدُّ الْمُسْلِمُ الْعَوْنَ وَيَطْلُبُ الْهِدَايَةَ .
هٰذَا هُوَا الْمَعْنَى الَّذِىْ يُعِيْنَهُ. اَوِ الَّذِىْ يَجِبُ اَنْ يُّعِيْنَهُ الْمُسْلِمُ كُلَّمَا قَرَأَ قَوْلَ اللهِ تَعَالٰى [ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَ اِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ، آيَتْ ۴،سُوْرَةُ الْفَاتِحَةْ ۱ ]
(قَوَاعِدُ الْعَقَائِدْ لِلْاِمَامِ الْغَزَالِىْ، بَابُ تَقْدِيْمْ، ص: ۹)
تَرْجَمَهْ:- صرف د اَللّٰهْ دارنګه ذَاتْ دئ چي دهغه عِبَادَتْ وکي او دهغه په حُضُوْرْ کي تَابعْدَارَهْ سي نو مُسلْمَانْ دهغه قُرْبَتْ حَاصِلَوَلائي سي .
مُسلْمَانْ چي هر وَخْتْ [ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَ اِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ] ووائي نو دغه مَطْلَبْ ځينِي اَخلِي، يا پر مُسلْمَانْ باندي وَاجِبْ دئ چي دغه مَطْلَبْ ځِنِي وَاخلي، چي صِرف د اَللّٰهْ عِبَادَتْ کوم او دهغه څخه مَدَدْ غُوَام .
په دغه عِبَارَتْ او آيَتْ کي دئ چي صِرف د اَللّٰهْ عِبَادَتْ کول په کار دئ، او صِرف د اَللّٰهْ څخه مَدَدْ غُوَښتَل په کار دئ، دغه تَوْحِيْدْ دئ .

## ددغه آيَتُوْ او حَدِيْثُوْ څخه شُبْهَهْ پَيدَا کيږي چي د وَفَاتْ وروسته هم د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه د څَه غُوَښتَلُو اِجَازَتْ سته

اَوَّلَهْ خَبَرَهْ خو داده چي په ۲۷ آيَتُوْ کي په تَاكِيْدْ او حَصْرْ سره تيرِ سوي دي چي صِرف د اَللّٰهْ څخه غُوَاړئ، لِهٰذَا هغه صَحِيْحْ خَبَرَهْ ده، او په کښِنَتَّهْ رَارَوَانُوْ آيَتُوْ کي چي کُوم د مَدَدْ ذِکر راغلئ دئ هغه د حُضُوْرْ (ﷺ) په ژُوَنْدْ کي دئ، او چي کُوم وَخْتْ حُضُوْرْ (ﷺ) ژُوَندَئ وُو، او مَخَامَخ وُو، نو هغه وَخْتْ د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه د غُوَښتَلُو تَرْغِيْبْ وُو، يا په قِيَامَتْ کي چي کُوم وَخْتْ اُمَّتِيَانْ د حُضُوْرْ (ﷺ) په مَخکِي مَوْجُوْدَ وي نو هغه اُمَّتِيَانْ به هم و حُضُوْرْ (ﷺ) ته د سَفَارَشْ کولو لپاره ووائي، يا چي د حَوْضِ کَوْثَرْ اُوْبَهْ وَغُوَاړِي، او دغه خو د ټولو په نيز جَائِزْ دئ .
سُوَالْ هغه وَخْتْ دئ چي اَيَا د حُضُوْرْ (ﷺ) د وَفَاتْ وروسته مُوږ ته دا اِجَازَتْ سته چي د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه څَه وَغُوَاړُو؟ يا دا اِجَازَتْ سته چي د کُوم وَلِىْ يا صَحَابِىْ څخه وَغُوَاړُو؟ نو په دي اړه مَا کُوم آيَتْ او حَدِيْثْ نه دئ پَيدَا کړئ، چي کُوم آيَتْ يا حَدِيْثْ مَوْجُوْدْ دئ هغه خو د حُضُوْرْ (ﷺ) د حَيَاتْ (ژُوَنْدْ) په وَخْتْ کي د غُوَښتَلُو دئ، يا چي په قِيَامَتْ کي اُمَّتِيَانْ د حُضُوْرْ (ﷺ) په مَخکِي مَوْجُوْدَ وي، په غِيَابْ کي د څَه غُوَښتَلُو حَدِيْثْ مَا نَه دئ لِيدَلئ .
د شُبْهَهْ د پَيدَا کيدو آيَتُوْنَهْ دغه دي

**١: وَلَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ جَآءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ لَوَجَدُوا اللهَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا﴿ ﴾ . (آيَتْ ۶۴،سُوْرَةُ النِّسَآءْ ۴) .**

**تَرْجَمَهْ**:- او چي دې خلګو (**مُنَافِقِيْنُ**) پر خپلو ځانو باندې **ظُلْمْ** کړئ وُو، کـه ذُوي پـه هغه وخت **تَا** ته راغلي وائ د **اَللّٰهْ** څخـه **مَغْفِرَتْ** (بَخښ) غُوښتئ وائ او **رَسُوْلْ** هم د ذُوي لپاره د **مَغْفِرَتْ دُعَاءْ** کړې وائ نو ذُوي بـه **اَللّٰهْ** ډېر بَـخښ کـونکئ، **غَتْ مِهْرَبَـانْ** موندلئ وائ﴿ ﴾

**يَامْ لَرَنَهْ** :- پـه دغـه **آيَـتْ** کـې **تَرْغِيْـبْ** ورکـړئ دئ چـي **حُضُـوْرْ** (ﷺ) تـه بـه راغلي وائ او دده څخه به د **اِسْتِغْفَارْ** کولو **دَرْخُوَاسْتْ** کـړئ وائ، ددې څخـه **مَعْلُوْمْ** سو چي د **حُضُوْرْ** (ﷺ) څخه غُوَښتَلائي سي، لېکن دغه غُوَښتَل دده پـه **ژُوَنْدْ** کي دئ، چي د تېولو په نيز **جَائِزْ** دئ .

**٢: اِنَّمَـا وَلِـيُّكُمُ اللهُ وَ رَسُـوْلُه وَ الَّـذِيْنَ اٰمَنُـوا الَّـذِيْنَ يُقِيْمُـوْنَ الصَّـلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ رٰكِعُوْنَ﴿ ﴾ . (آيَتْ ۵۵،سُوْرَةُ الْمَآئِدَةْ ۵) .**

**تَرْجَمَهْ**:- (**مُسْلْمَانَانُوْ!**) ستاسو **يَارْ** او **مَدَدْګَارْ** خو **اَللّٰهْ**، د هغه **رَسُوْلْ** او هغه **مُؤْمِنَانْ** دي چي دارنګه لمونځ **قَائِمْ** کونکي او **زَكٰوةْ** اداء کونکي وي چـي ذُوي (پـه **زَرَهْ** سـره) د **اَللّٰهْ** په حُضُور کي **تِيْتْ** (**تَابِعْ**) وي﴿ ﴾

ددغه **آيَتْ** څخه بعضو حَضَرَاتُو دغه **اِسْتِدْلَالْ** کړئ دئ چـي پـه دې **آيَـتْ** کـې وَيَلي دي چي **رَسُوْلْ مَدَدْ ګَارَهْ** دئ، او **لُمُوْنْځْ** کونکي هم **مَـدَدْ ګَـارَهْ** دي، نـو ځکه مُوږ دده څخه **مَدَدْ** غُواړو .

لېکن په **تَفْسِيْرْ** کي دا **وَضَاحَتْ** سوئ دئ چي **عَبْدُ اللّٰهْ بِنْ سَلَامْ** او دده مَلګري **يَهُوْدِيَانْ** وُو، چي کلـه هغـه **مُسَلْمَانَانْ** سـول نـو د ذُوي **رِشْتَـهْ دَارَانُـوْ** د ذُوي څخه **مَخَانْ** وَاړَوَل، نو بيا **اَللّٰهْ تَعَالٰي** ذُوي ته **تَسَلِّيْ** وَرکړه چي، د **ګبْرَاوبِـدُوْ** ضرورت نَستَه ستاسو **مَدَدْ ګَارَهْ** خو **اَللّٰهْ**، **رَسُوْلْ** او **مُسَلْمَانَانْ** دي، او دغـه د **حُضُوْرْ** (ﷺ) په **ژُوَنْدْ** کي وُو، او پاته سوه دا **خَبَرَهْ** چـي دده د **وَفَـاتْ** وروسـته دده څخه **دُعَاءْ** وَغُواړي هغه ددې **آيَتْ** څخه نَه ثَابتيږي .

**٣: وَالْمُؤْمِنُـوْنَ وَالْمُؤْمِنٰـتُ بَعْضُـهُمْ اَوْلِيَـآءُ بَعْضٍ يَـاْمُرُوْنَ بِـالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ . (آيَتْ ٧١،سُوْرَةُ التَّوْبَةْ ٩) .**

**تَرْجَمَهْ**:- او **مُؤْمِنْ نَرَانْ** او **مُؤْمِنَاتِ ښِځي** په خپل مينځ کي **يَوْ** د **بَلْ مَدَدْګَارَ** دي، او د نېکئ **تَلْقِيْنْ** کوي، او د **بَدُوْ** څخه **مَنْعَ** کوي .

**يَامْ لَرَنَهْ** :- ددغه **آيَـتْ** څخـه هم بعضـو **حَضَـرَاتُوْ** دا **اِسْتِدْلَالْ** کـړئ دئ چـي **مُؤْمِنْ نَرَانْ** او **مُؤْمِنَاتِ ښِځي يَوْ** د **بَلْ مَدَدْ ګَارَانْ** دي، نو ځکـه د ذُوي څخـه تر مرګ وروسته هم **مَدَدْ** غُوَښتَل کېدلائي سي، او ددغه څخه **ثَابِتْ** سو چي د **وَلِيْ** څخه هم غُوَښتَلائي سو .

لېکن دغه آیَتْ هم تر مرګ وروسته د غُوَښتَلُو په سَلْسَلَهْ کي نه دئ بلکه چي ژُوَنْدَيْ وي نو يَوْ د بَلْ څخه غُوَښتَلائي سي، په دغه وَجْهَ خو په دغه آیَتْ کي وَضَاحَتْ سوئ دئ چي د ,, نېکئ تَلْقِيْنْ کول او د بَدُوْ څخه مَنْعَ کول ،، دغه غُوَاړي، لِهٰذَا تر مرګ وروسته د اَوْلِيَاءُ اللّٰهْ څخه څَه غُوَښتَل ددې څخه ثَابِتْ نَه سو، او دا نو څنګه کېدلائي سره ددې چي دغه آیَتْ د ۲۷ آیَتُوْ څخه خِلَافْ هم دئ .

**۴: سَمِعْتُ مُعَاوِيَةَ خَطِيْبًا يَقُوْلُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ (ﷺ) يَقُوْلُ مَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْرًا يُّفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ وَ اِنَّمَا اَنَا قَاسِمٌ وَ اللّٰهُ يُعْطِيْ . (بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْعِلْمْ،بَابُ مَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْرًا يُّفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ،ص: ۱۷، نَمْبَرْ ۷۱)**

تَرْجَمَهْ:- د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه دغه وَيْنَا اَوربدَلي ده دا يي فرمائل چي: اَللّٰهْ د کُوم چَا سره د خَيْرْ اِرَادَهْ کوي هغه ته د دِيْنْ پُوْهَنَهْ ورکوي، او زَهْ خو صِرف (رِسَالَتْ) تَقْسِيْمْ کونکئ يَم، د هر شِي وَرکوُنکئ ذَاتْ د اَللّٰهْ دئ .

بعضو حَضرَاتُو ددغه حَدِيْثْ څخه ثَابِتْ کړئ دئ چي حُضُوْرْ (ﷺ) قَاسِمْ دئ، لِهٰذَا دده څخه غُوَښتَلائي سو، لېکن چي مُکَمَّلْ حَدِيْثْ ووايي نو دا مَعلُومېږي چي ددې مَطْلَبْ دادئ چي پُوْهَنَهْ وَرکوَل د اَللّٰهْ کار دئ، نو ځکه دهغه څخه پُوْهَنَهْ غُوَاړئ، اَلْبَتَّهْ حَدِيْثْ و قُرْآنْ او د دِيْنْ عِلْمْ کُوم چي اَللّٰهْ مَا ته راکړئ دئ، يا چي د غَنِيْمَتْ مَالْ يې کُوم مَا ته راکړئ دئ زَهْ هغه بَيَانَوم او هغه تَقْسِيْمْ کوم، په دغه وَجْهَ خو اِمَامِ بُخَارِيْ پر دغه حَدِيْثْ باندي بَابْ قَائِمْ کړئ دئ، چي ,, مَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْرًا يُّفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ ,, اَللّٰهْ چي کُوم چَا ته وَغُوَاړي هغه ته د فِقْهِ پُوْهَنَهْ وَرکوي، دُوَهَمَهْ خَبَرَهْ دا چي دغه تَقْسِيْمْ د حُضُوْرْ (ﷺ) په ژُوَنْدْ کي وُو، د حُضُوْرْ د وَفَاتْ وروسته هم حُضُوْرْ پر دُنْيَا وَالُو باندي تَقْسِيْمْ کوي که نه؟ په دغه حَدِيْثْ کي ددې وَضَاحَتْ نستَه .

## د هِنْدُوَانُوْ دا عَقِيْدَهْ ده چي دِيْوِيْ دِيْوْتَا زُمُوږ مَدَدْ کوي

د هِنْدُوَانُوْ دا عَقِيْدَهْ ده چي زُمُوږ رَشِيْ مَنِيْ (بُزَرْګْ) وَفَاتْ سو نو دده و رُوْحْ ته اَللّٰهْ تَعَالٰى دُومرَه طَاقَتْ وَرکئ چي چيري وَغُوَاړي هلته تللائي سِي، او چي وَغُوَاړي دهغه مَدَدْ کولائي سي، مَدَدْ کول ددغه رَشِيْ مَنِيْ په کَنْتْرُوْلْ کي دئ، په دغه وَجْهَ دُوي يو بَهګْوَانْ مَنِي، لېکن د مَدَدْ غُوَښتَلُو لپاره ډېر

دِيْوِيْ دِيْوْتَا مَنِي دهغه بُتَانْ جوړوي، او دهغه عِبَادَتْ کوي، او دهغه څخه مَدَدْ غُوَاړي .

اَللّٰهُ تَعَالٰی په ۲۷ آيَتُوْ کي فرمائلي دي چي د مَدَدْ کولو مَنْصَبْ مَا بَل چَا ته نَه دیٔ وَرکړیٔ، بلکه مَدَدْ بَرَاهِ رَاسْتْ زَهْ په خپله کوم، نو ځکه د رُوْزَيْ لپاره، د شِفَا لپاره، د اَوْلَادْ لپاره، د وَادَهْ لپاره، د تِجَارَتْ د تَرَقِّيْ لپاره او د آخِرَتْ لپاره صِرف زَمَا څخه مَدَدْ وَغُوَاړیٔ، د بَل چَا څخه مَدَدْ غُوَښتَل شِرْکْ دیٔ، او حُضُوْرْ (ﷺ) ددغه شِرْکْ د خَتْمَوُلُوْ لپاره مَبْعُوْثْ سوئ وُو، ددغه لپاره تاسو دغه آيَتُوْنَهْ په غَوْرْ سره وَوَايَاست،
د طَوَالَتْ په خَاطِرْ ډېر آيَتُوْنَهْ مَا پرېښِني دي، د نور زِيَاتْ تَفْصِيْلْ لپاره تاسو ,, مَکْتَبَهْ شَامِلَهْ ,, کتلائي سئ .

که د يَو نَبِيْ يا وَلِيْ څخه څَه غُوَښتَل جَائِزْ وي نو ددې لپاره بَايَدْ کُوم آيَتْ يا مَضْبُوْطَ حَدِيْثْ وي چي په عَطَايِيْ تُوګه مَا دا شَئ وَرکړیٔ دیٔ چي د فُلَانِيْ څخه دده تر مرګ وروسته هم تاسو مَدَدْ وَغُوَاړیٔ، دغه مَدَدْ غُوَښتَل زَمَا څخه مَدَدْ غُوَښتَل دیٔ، چي مَا په ,, مَکْتَبَهْ شَامَلَهْ ,, کي د طَلَبْ او يَلْتِنِي وروسته هم نَه دیٔ پَيدَا کړیٔ .
ددغه عَقِيدې په اړه ۲۷ آيَتُوْنَهْ او ۴ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ وَګورَیٔ .

# ۱۲: وَسِيْلَهْ

وَسِيْلَهْ يَو ډېر اِخْتِلَافِيْ مَضْمُوْنْ يا عُنْوَانْ دیٔ، په دي کي څو فَرِيْقَ دي، او هر فَرِيْقْ د خپلي رَأيِي دَلِيْلْ وَرکوِي، تاسو ددې تَفْصِيْلْ وَاوُرئ
ددغه عَقِيدې په اَړه ۴ آيَتُوْنَهْ او ۱۰ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کئ

## د وَسِيْلِي ۵ صُوْرَتُوْنَهْ دي

[۱] ..... **اَوَّلْ صُوْرَتْ** :- **دُعَاءْ** به د **اَللّٰهْ** څخه غواړي، لېکن دا ډول **وَوَايَهْ** چي **يَا اَللّٰهْ** دغه **دُعَا** د **حُضُوْرْ** په **وَاسْطَهْ** سره **قَبُوْلَ** کې، نو د دارنګه **دُعَا** کولو **جَوَازْ** سته، لېکن همېشه دي ددې **عَادَتْ** نه جوړوي، ځکه چي په لړ څه **حَدِيْثُوْ** کي ددې **بَيَانْ** راغلئ دئ، په نور **قُرْآنْ** و **حَدِيْثْ** کي چي څومره **دُعَاګَانْ** راغلي دي په هغه کي د **تَوَسُّطْ ذِکْرْ** نسته، بلکه **بَرَاهِ رَاسْتْ** د **اَللّٰهْ** څخه د غوښتلو **ذِکْرْ** سوئ دئ .

[۲] ..... **دُوَهَمْ صُوْرَتْ** :- دادئ چي يو **ښَهْ کَارْ** وکي هغه د خپلو **دَرَجَاتُ** د **بُلَنْدَيُوْ** لپاره **وَسِيْلَهْ** وګرزوي، دا ډېره **بِهْتَرَهْ** او **ښَهْ طَرِيْقَهْ** ده، په **آيَتْ** کې ددې **تَرْغِيْبْ** ورکړئ دئ .

[۳] ..... **دَرَيَمْ صُوْرَتْ** :- دادئ چي د يو **ژُوَنْدِيْ اِنْسَانْ** څخه **دَرْخُوَاسْتْ** وکي چي ته **زَمَا** لپاره دُعَا کوه چي **زَمَا** فُلَانئ کار وسي، يا **مَا** ته فُلَانئ نيکي مِلاؤ سي، دغه **صَحِيْحْ** دئ، په ډېرو **حَدِيْثُوْ** کي دئ چي **اَصْحَابَانُوْ** د **حُضُوْرْ** (ﷺ) څخه د **دُعَا دَرْخُوَاسْتْ** کړئ دئ .

[۴] ..... **څَلُوْرَمْ صُوْرَتْ** :- دادئ چي و کُوم **نَبِيْ** يا **وَلِيْ** ته ووائي چي ته **دُعَا** وکه چي **اَللّٰهْ تَعَالٰي** دغه کار وکي، دغه که چيري و کُوم **ژُوَنْدِيْ وَلِيْ** يا **نَبِيْ** ته ووائي خو **بِالْکُلْ صَحِيْحْ** دئ، لېکن کُوم **نَبِيَانْ** يا **وَلِيَّانْ** چي **وَفَاتْ** سوي دي چي هغه ته دا ووائي چي ته **زَمَا** لپاره **دُعَا** وکه نو په دې اړه کُوم **آيَتْ** يا **حَدِيْثْ مَا** ته نه دئ مِلاؤ سوئ، بلکه دا مِلاؤېږي چي تر مرګ وروسته د **اِنْسَانْ عَمَلْ مُنْقَطَعْ** سي، او **دُعَا** کول هم يو **عَمَلْ** دئ، نو ځکه هغه **مُرْدَهْ** بيا **دُعَا** هم نه سي کولائي .

**دُوَهَمَهْ خَبَرَهْ** داده چي مړي اَورِي که نه اَوري؟ په دغه کي خو **اِخْتِلَافْ** دئ، نو بيا و مړي ته به څنګه وَيَل کيږي چي ته **زَمَا** لپاره **دُعَا** وکه، **لِهٰذَا** دغه **صُوْرَتْ** هم **جَوَازْ** نه لري .

[۵] ..... **پِنْځَمْ صُوْرَتْ** :- دادئ چي د **اَللّٰهْ** څخه **عَلَاوَهْ** د بَل چا څخه **مَدَدْ** وَغُواړي، او دارنګه ووائي چي ائ **وَلِيْ**، يا ائ **نَبِيْ** ته **دُعَا قَبُوْلَ** کې، دغه **صُوْرَتْ نَاجَائِزْ** دئ، ځکه چي د **اَللّٰهْ** څخه **عَلَاوَهْ مَدَدْ** غوښتل سوچي **نَاجَائِزْ** دئ .

د **پِنْځُوْ** سره **دَلَائِلْ** مَخته **رَارَوَانْ** دي .

# [۱] ..... دُعَاءْ د اَللّٰهْ څخه وَغُوَاړي
# لېکن د يَو ځَا وَاسْطَهْ ورکي

دُعَاءْ د اَللّٰهْ څخه وَغُوَاړي لېکن د يَو ځَا وَاسْطَهْ ورکي نو دا جَائِزْ دئ، لېکن په لَږْ څه حَدِيْثُوْ کي د وَسِيلې سره د دُعَا ذِکر راغلئ دئ، پاته سو نور په سَلْ هَاوُوْ حَدِيْثُوْ کي بَغَيْرْ د وَسِيلې بَرَاهِ رَاسْتْ د اَللّٰهْ تَعَالٰي څخه دُعَا غُوښتَل سوې ده نو لِهٰذَا چي د قُرْآنْ و حَدِيْثْ دُعَاګَانْ وَغُوَاړي نو هغه به وَ قَبُوْلِيَّتْ ته ډېري نِژدې وي .

[۱] ..... د وَسِيلې اَوَّلْ صُوْرَتْ دادئ چي د اَللّٰهْ څخه دُعَا وَغُوَاړي، لېکن دا ډَوَل وَوَايِي چي يَا اَللّٰهْ د فُلَانْ په وَاسْطَهْ سره دغه دُعَا قَبُوْلَ کې، يا دغه کار وکې، نو دغه رنګه دُعَا کول جَائِزْ ده، لېکن همېشَه دي ددې عَادَتْ نَه جُوړَوي
ددې ثُبُوْتْ دغه حَدِيْثُوْنَهْ دي

۱: عَنْ عُثْمَانَ بن حَنِيْفٍ اَنَّ رَجُلًا ضَرِيْرَ الْبَصَرِ اَتَى النَّبِيَّ (ﷺ) ..... قَالَ فَاَمَرَهُ اَنْ يَّتَوَضَّأَ فَيُحْسِنَ وُضُوْئَهُ وَيَدْعُوْا بِهٰذِهِ الدُّعَاءِ:- اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ وَاَتَوَجَّهُ اِلَيْكَ بِنَبِيِّكَ مُحَمَّدٍ نَّبِيِّ الرَّحْمَةِ اِنِّيْ اَتَوَجَّهُ بِكَ اِلٰى رَبِّيْ فِيْ حَاجَتِيْ هٰذِهِ لِتُقْضٰى لِيْ اَللّٰهُمَّ فَشَفِّعْهُ فِيَّ .

(تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ،کِتَابُ الدَّعْوَاتْ،بَابُ ،ص: ۸۱۶، نَمْبَرْ ۳۵۷۸/ اِبْن مَاجَهْ شَرِيْفْ، بَابُ مَاجَاءَ فِيْ صَلٰوةِ الْحَاجَةِ،ص: ۱۹۷، نَمْبَرْ ۱۳۸۵)

تَرْجَمَهْ:- يَو په سترګو (نَظَرْ) کمزورئ سړئ حُضُوْرْ (ﷺ) ته راغلئ ..... حُضُوْرْ (ﷺ) حُکْمْ ورکئ چي په ښَهْ طَرِيْقَهْ سره اَوْدَسْ وکه او دغه دُعَا وَوَايَهْ. ائ اَللّٰهْ ستا نَبِيْ مُحَمَّدْ چي د رَحْمَتْ نَبِيْ هم دئ، دهغه په تَوَسُّطْ سره سُوَالْ کوم او ستا وَ طَرَفْ ته مُتَوَجِّهْ کېږم، او ددغه ضرورت په اړه د خپل رَبْ وَ خُوَا ته ستا په تَوَسُّطْ سره مُتَوَجِّهْ کېږم، چي ائ اَللّٰهْ تَه زَمَا ضرورت پُورَه کې، او حُضُوْرْ (ﷺ) زَمَا لپاره سَفَارِشْ کونکئ جوړ کې .

په دغه حَدِيْثْ کي دُوې خَبَرِيْ دي. يَوَهْ خَبَرَهْ خو دا چي صِرف د اَللّٰهْ څخه وَغُوَښتَل، دُوَهَمَّهْ دا چي اَلْبَتَّهْ د حُضُوْرْ (ﷺ) په تَوَسُّطْ سره يې وَغُوَښتَل، دُومره خو جَائِزْ دئ .

**۲:** **عَنْ عُمَرَ بن الْخَطَّاب قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) لَمَّا اقْتَرَفَ اٰدَمُ الْخَطِيَّةَ ..... قَالَ يَارَبِّ اَسْئَلُكَ بِحَقِّ مُحَمَّدٍ لِمَا غُفِرْتَ لِیْ، فَقَالَ اللهُ يَا اٰدَمُ وَكَيْفَ عَرَفْتَ مُحَمَّدًا وَلَمْ اَخْلُقْهُ؟ قَالَ يَارَبِّ لِاَ نَّكَ لَمَّا خَلَقْتَنِیْ بِيَدِكَ وَنَفَخْتَ فِیَّ رُوْحَكَ رَفَعْتُ رَأسِیْ فَرَأَيْتُ عَلٰى قَوَائِمِ الْعَرْشِ مَكْتُوْبًا لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ فَعَلِمْتُ اَنَّكَ لَمْ تَضِفْ اِلٰى اِسْمِكَ اِلَّا اَحَبَّ الْخَلْقِ اِلَيْكَ فَقَالَ اللهُ: صَدَقْتَ يَا اٰدَمُ اِنَّهٗ لَاَحَبُّ الْخَلْقِ اِلَیَّ اُدْعُنِیْ بِحَقِّهٖ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكَ وَلَوْلَا مُحَمَّدٌ مَاخَلَقْتُكَ .**

**(مُسْتَدْرَکْ لِلْحَاکِمْ، کِتَابُ تَوَارِخِ الْمُتَقَدِّمِيْنَ مِنَ الْاَنْبِيَآءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ، بَابُ وَمِنْ كِتَاب اٰيَاتِ رَسُوْلِ اللهِ اَلَّتِیْ هِیَ دَلَائِلُ النُّبُوَّةِ، ج: ۲ ، ص: ۶۷۲، نَمْبَرْ ۴۲۲۸)**

**تَرْجَمَهْ:-** حُضُور وفرمائل، چي كله **آدَمِ** (**عَلَيْهِ السَّلَامْ**) **سَهْوَ** وكړه نو يې وويل. اې **اَللّٰهْ!** **زَهْ** د **مُحَمَّدْ** په **حَقْ** سره ستا څخه **سُوَالْ** كوم چي ته **زَمَا غَلَطِیْ** (**سَهْوَ**) **مَعَافْ** كې. **اَللّٰهْ يَاکْ يُوْښْتَنَهْ** څيني وكړه اې **آدَمْ مُحُمَّدْ** خو **مَا** تر اُوسَ پَيدَا كړئ هم نـه دئ **تَا** هغه څنګه وَپيژَندئ؟ حضرت **آدَمْ** وَفرمائل چي اې **اَللّٰهْ** چي **تَا** كُوم وَخت **زَهْ** په خپل **لَاسْ** پَيدَا كړم، او په **مَا** كي دي **رُوْحْ** وَاچَاوَئ، نو **مَا** خپل **سَرْ** رَاپُورتَه كئ، نو پر **عَرْشْ** باندي مِي **لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ** لِيكل سوې وَلِيدَلَـه، نـو **زَهْ** پُوه سوم چي **اَللّٰهْ تَعَالٰی** د خپل نُوم سره صِرف دهغه نُوم اِرَدي كُوم چي په خپل **مَخْلُوْقْ** كي ده ته تـر ټولو **زِيَاتْ مَحْبُوْبْ** وي، نو **اَللّٰهْ** وفرمائل، **آدَمْ! تَا رِشْتِيَا** وويل، حضرت **مُحَمَّدْ مَا** تـه پـه **مَخْلُوْقَاتُوْ** كي تر ټولو **زِيَاتْ مَحْبُوْبْ** دئ، **تَا** دده په **وَسِيْلَهْ** سره **دُعَاءْ** وكړه نو **مَا** ته **مَعَافْ** كړې، كه چيري **مُحَمَّدْ** نَه واې نو **مَا** به ته پَيدَا كړې هم نَه واې .

**۳:** **عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ كَانَتْ يَهُوْدُ خَيْبَرَ تُقَاتِلُ غِطْفَانَ فَكُلَّمَا الْتَقَوْا هَزِمَتْ يَهُوْدُ خَيْبَرَ فَعَاذَتِ الْيَهُوْدُ بِهٰذَا الدُّعَاءِ:- اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْئَلُكَ بِحَقِّ مُحَمَّدٍ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الَّذِیْ وَعَدْتَّنَا اَنْ تُخْرِجَهٗ لَنَا فِیْ اٰخِرِ الزَّمَانِ .**

**(مُسْتَدْرَکْ لِلْحَاکِمْ،بَابُ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، مِنْ سُوْرَةِ ، ج: ۲ ، ص: ۲۸۹، نَمْبَرْ ۳۰۴۲)**

**تَرْجَمَهْ:-** حَضرَت **اِبْنِ عَبَّاسْ** فرمائي چي د **خَيْبَرْ يَهُوْدِيَانُوْ** به د **بَنُوْغِطْفَانْ قَبِيْلِي** سره **جَنْګْ** كاوئ، او دارنګه به وُو چي كله به **مُقَابَلَهْ** كېدله نو د **خَيْبَرْ يَهُوْدِيَانُوْ** بـه **شِکَسْتْ** (مَاتې) خُوړَل، نو **يَهُوْدِيَانُوْ** ددغه **دُعَا** په وَيلُو سره **دُعَا** غُوښتَل شروع كړل، [اې **اَللّٰهْ!** د **اُمِّیْ نَبِیْ مُحَمَّدْ** په **وَسِيْلَهْ** سره مُوږ ستا څخه **سُوَالْ** كوو كُوم چي **تَا** زُموږ سره **وَعْدَهْ** كړې ده چي هغه به په **آخِرِیْ زَمَانَهْ** كي **مَبْعُوْثْ** كوم .

په دغه **حَدِيْثْ** كي دئ چي د **حُضُوْرْ** په **تَوَسُّطْ** (**وَسِيْلَهْ**) سره **دُعَا** كړې ده .

## د **صَحَابِیْ** په **وَسِيْلَهْ** سره **دُعَا** وكړه

ددې لپاره **دَلِيْلْ** د **صَحَابِیْ عَمَلْ** دغه دئ

**۴: عَنْ اَنَسِ بنِ مَالِكٍ اَنَّ عُمَرَ بنِ الْخَطَّابِ كَانَ اِذَا قَحَطُوْا اِسْتَسْقٰى بِالْعَبَّاسِ بنِ عَبْدَ الْمُطَّلِبِ فَقَالَ: - اَللّٰهُمَّ اِنَّا كُنَّا نَتَوَسَّلُ اِلَيْكَ بِنَبِيِّنَا فَتَسْقِيْنَا، وَ اِنَّا نَتَوَسَّلُ اِلَيْكَ بِعَمِّ نَبِيِّنَا فَاسْقِنَا، قَالَ فَسقَوْنَ .**

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،بَابُ سَوَالِ النَّاسِ الْاِمَامَ الْاِسْتِسْقَاءَ اِذَا قَحَطُوْا ، ص: ۱۶۲، نَمْبَرْ ۱۰۱۰)

**تَرْجَمَهْ:-** حضرت **اَنَسْ بِنِ مَالِكْ** فرمائي چي هر **وَخْتْ** به **قَحْطْ** سو نو حضرت **عُمَرْ** به د **عَبَّاسْ بِنِ عَبْدُ الْمُطَّلِبْ** په **تَوَسُّطْ** سره د **بَارَانْ** لپاره **دُعَا** كوله، او دارنګه **دُعَا** به كوله، چي اې **اَللّٰهْ!** مُوږ د خپل **نَبِيْ** په **وَسِيْلَهْ** سره ستا څخه **دُعَا** غُوښتلَه نو **تَا** به **بَارَانْ** وُرَاوَۀ، اُوس مُوږ د خپل **نَبِيْ** د **اَكَا** په **وَسِيْلَهْ** سره **دُعَا** غُواړو، **رَاوِيْ** وائي چي په دغه سره به **بَارَانْ** كېدۀ.

په دغه **قَوْلِ صَحَابِيْ** كي دۀ چي مُوږ د **حُضُوْرْ** (ﷺ) په **وَسِيْلَهْ** سره **دُعَا** غُوښتلَه، او اُوس دده د **اَكَا** حضرت **عَبَّاسْ** په **ذَرِيْعَهْ** سره **دُعَا** غُواړو .

دَلتَه هم دا د **غَوْرْ** كولو **خَبَرَهْ** ده چي **اَصْحَابَانُوْ** د حضرت **عَبَّاسْ** په **وَسِيْلَهْ** سره **دُعَا** وكړه چي ژُوندۍ وُو، او كُوم چي **وَفَاتْ** سوي دي دهغه په **وَسِيْلَهْ** سره **دُعَا** نَه ده كړې .

**۵: اَوْسْ بنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَحَطَ اَهْلَ الْمَدِيْنَةِ قَحْطًا شَدِيْدًا فَشَكَوْا اِلٰى عَائِشَةَ فَقَالَتْ اُنْظُرُوْا قَبْرَ النَّبِيِّ (ﷺ) فَاجْعَلُوْا مِنْهُ كَوًّى اِلَى السَّمَآءِ حَتّٰى لَايَكُوْنَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ السَّمَآءِ سَقْفٌ. قَالَ، فَفَعَلُوْا فَمُطِرْنَا مَطَرًا حَتّٰى نَبَتِ الْعَشَبُ .**

(سُنَنِ دَارِمِيْ،بَابُ مَا اَكْرَمَ اللهُ نَبِيَّهُ بَعْدَ مَوْتِهِ ، ص: ۲۲۷، نَمْبَرْ ۹۳)

**تَرْجَمَهْ:-** حضرت **اَوْسْ بِنِ عَبْدُ اللهْ** وائي چي په **مَدِيْنَهْ** كي **قَحْطْ** راغلۍ نو خلكو حضرت **عَائِشَهْ** ته **شِكَايَتْ** وكړ، حضرت **عَائِشي** وفرمائل چي د **حُضُوْرْ** (ﷺ) د **قَبْرْ** او **آسْمَانْ** په **مَابَيْنْ** كي **كړكۍ خَلَاسَ** كړۍ، چي د **قَبْرْ** او **آسْمَانْ** په **مَابَيْنْ** كي **چَتْ** نَه سي پاته، خلكو دغه رنګه وكړل، نو ډُومره **بَارَانْ** وُورېدۀ چي **وَابِنَهْ رَاشِنَهْ** سول .

د دغه **صَحَابِيْ** په **عَمَلْ** كې دۀ چي د **حُضُوْرْ** (ﷺ) د **قَبْرْ** سره د **آسْمَانْ** وَ **طَرَفْ** ته كړكۍ **خَلَاسَ** كړه نو **بَارَانْ** شروع سو، ددې څخه هم **وَسِيْلَهْ** او دهغې **جَوَازْ** ثَابتيږي .

**۶: عَنْ مَالِكِ بنِ الدَّارِ قَالَ وَكَانَ خَازِنُ عُمَرَ عَلَى الطَّعَامِ، قَالَ اَصَابَ النَّاسَ قَحْطٌ فِيْ زَمَنِ عُمَرَ فَجَاءَ رَجُلٌ اِلٰى قَبْرِ النَّبِيِّ (ﷺ) فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ اِسْتَسْقِ لِاُمَّتِكَ فَاِنَّهُمْ قَدْ هَلَكُوْا، فَاَتَى الرَّجُلَ فِى الْمَنَامِ فَقِيْلَ لَهُ اِئْتِ عُمَرَ فَاَقْرَأْهُ السَّلَامَ وَاَخْبَرْهُ اَنَّكُمْ مُسِيْقُوْنَ .**

(مُصَنَّفِ اِبْنِ اَبِیْ شَیْبَةَ،بَابُ مَا ذُکِرَ فِیْ فَضْلِ عُمَرَ بنِ الْخَطَّاب، ج: ۶، ص: ۳۵۹، نَمْبَرْ ۳۲۰۰۲ / ۳۱۹۹۳)

تَرْجَمَهْ:- حَضرَت مَالِکْ اِبْنِ دَارْ فرمائي چي د حضرت عُمَرْ يَو خَزَانْچِيْ پر ډُودَئ مُقَرَّرْ وُو، د حضرت عُمَرْ په زَمَانَهْ کي قَحْطْ (کاختِي) راغلئ، يَو سړئ د حضرت عُمَرْ په زَمَانَهْ کي د حُضُوْرْ (ﷺ) قَبْرِ مُبَارَکْ ته راغلئ، او وويل، يَارَسُوْلَ اللّٰهْ! تَه د خپل اُمَّتْ لپاره د اَللّٰهْ څخه بَارَانْ وَغُوَاړَه، هغه خو هَلَاکَتْ ته رسېدلَئ دي، دغه سړي ته په خُوْبْ کي راغلئ او ده ته يې دا وويل چي:- عُمَرْ ته وَرسَه، او هغه ته سَلَامْ وَوَايَهْ، او ده ته دا وَوَايَهْ چي بَارَانْ به وَسِي .

ددغه صَحَابِيْ په عَمَلْ کي دئ چي صَحَابِيْ د حُضُوْرْ (ﷺ) د قَبْرْ سره، دده څخه دا دَرْخُوَاسْتْ وکئ چي تَه د اَللّٰهْ څخه د اُمَّتْ لپاره بَارَانْ وَغُوَاړَه .

ددغه ۲ حَدِيْثُوْ او ۴ آثَارُوْ (يعني د اَصْحَابَانُوْ د عَمَلْ) څخه مَعْلُوْمْ سو چي څَه غُوَاړي نو تَنْهَا د اَللّٰهْ څخه دي وَغُوَاړي لېکن دارنګه دي وَوَائِي چي د فُلَانِيْ په تَوَسُّطْ (ذَرِيْعَهْ/سَبَبْ/وَسِيْلَهْ) سره دغه دُعَا قَبُوْلَ کې نو دا جَائِزْ دئ، څکه چي په حَدِيْثْ کي ددې ذِکْرْ راغلئ دئ .

لېکن د قُرْآنْ و حَدِيْثْ او په ټولو دُعَاګانُوْ کي د وَسِيلې ذِکْرْ نَه دئ راغلئ، بلکه بَرَاهِ رَاسْتْ د اَللّٰهْ څخه د غُوَښتَلُو ذِکْرْ راغلئ دئ، نو څکه بَرَاهِ رَاسْتْ د اَللّٰهْ څخه غُوَښتَل بِهْتَرْ دئ، اَلْبَتَّهْ چي کله نَا کله د وَسِيلې ذِکْرْ وکي نو دا جَائِزْ دئ، څکه چي په لُوړ حَدِيْثْ کې هم کله نَا کله په وَسِيْلَهْ سره دُعَا غُوښتې ده .

تاسو په خپله هم غَوَرْ وکئ .

## بښَهْ عَمَلْ کول او د هغه وَسِيْلَهْ ګرزول

دغه تر ټولو ښَهْ طَرِيْقَهْ ده

[۲] ..... د وَسِيلې دُوهَمْ صُوْرَتْ دادئ چي يَو ښَهْ کارْ وکي او هغه د خپلو دَرَجَاتْ د بُلَنْدَيْ لپاره وَسِيْلَهْ وګرزوي، دغه ډېره بِهْتَرِيْنْ طَرِيْقَهْ ده، په دغه آيَتْ کې ددې تَرْغِيْبْ ورکړئ دئ

۱: يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَابْتَغُوْٓا اِلَيْهِ الْوَسِيْلَةَ . (آيَتْ ۳۵،سُوْرَةُ الْمَآئِدَةْ ۵) .

تَرْجَمَهْ:- ایٔ مُؤْمِنَانُوْ! د اَللّٰهْ څخه وېرېږئ، او تر ده پُورِي د رَسِېدُلُو وَسِيْلَهْ تَلَاشْ کړئ.

د **وَسِيْلَہْ** څخه دَلتَه هر هغه **بِنَہْ عَمَلْ** مُرَاد دئ چي د **اَللّٰهْ** د **رَضَامَنْدَئ ذَرِيْعَہْ** وګرزي .
ددي **آيَتْ مَطْلَبْ** دادئ چي د **اَللّٰهْ تَعَالٰى** د نِژدېکت د حَاصِلَوُلُو لپاره **بِنَہْ عَمَلُوْنَہْ** وکئ، او دده نِژدېکت **وَسِيْلَہْ** وګرزوئ، ددې **آيَتْ** هر ګِز ګِز دا **مَطْلَبْ** نَه دئ چي د بِنُو خلګو په **وَسِيْلَہْ** سره **دُعَا** وَغُوَاړئ .
**اَلْبَتَّہْ** مَختَه څَه **حَدِيْثُوْنَہْ** تېر سوي دي دهغه څخه دا **ثَابِتْ** ده چي په **وَسِيْلَہْ** سره **دُعَا** کول **جَائِزْ** ده .
بعضو حَضرَاتُو دَلتَه ددغه **مَطْلَبْ** اَخستَلُو کُوښَښ کړئ دئ، چي د بِنُوخلګو په **وَسِيْلَہْ** سره **دُعَا** غُوَاړَئ، او تر دي يې بَل **غَتْ زِيَاتُوْبْ** دا هم وکئ چي په خپله بَس د **بُزَرْګَانُوْ** څخه دُعَاوِي غُوَښتَل شروع کړې .
په **تَفْسِيْر اِبْنِ عَبَّاسْ** کې ددې آيَت په **تَفْسِيْرْ** کي دارنګه لِيکلي دي
**[وَابْتَغُوْٓا اِلَيْهِ الْوَسِيْلَةَ] اَلدَّرَجَةَ الرَّفِيْعَةَ وَيُقَالُ اُطْلُبُوْا اِلَيْهِ الْقُرْبَ فِى الدَّرَجَاتِ بِالْاَعْمَالِ الصَّالِحَةِ** . يعنې د **اَعْمَالِ صَالِحَہْ** په کولو سره د **اَللّٰهْ قُرْبَتْ** حَاصِلَوَئ. په نورو **تَفْسِيْرُوْ** کي هم دغه رنګه **لَفْظُوْنَہْ** راغلي دي، نو ځکه ددغه **آيَتْ** څخه د **بُزَرْګَانُوْ** څخه د **مَدَدْ** غُوَښتَلُو **جَوَازْ** نَه ثَابتېږي، **اَلْبَتَّہْ** مَختَه دُوَه **حَدِيْثُوْنَہْ** تېر سوي دي دهغوي څخه دا **ګُنْجَائِشْ** ښکاره کېږي چي کله نَا کله دي په خپلو **دُعَاګَانُوْ** کي دارنګه وائي چي **يَا اَللّٰهْ** د **فُلَانِيْ** په **تَوَسُّطْ** سره **زِمَا دُعَا قَبُوْلَ** کې، نو ددغه **وَيْنَا** ګُنجَائِش ستَه. په دي کي هم دا **خَبَرَہْ** ده چي د **اَللّٰهْ** څخه دي غُوَاړې، **اَلْبَتَّہْ** دارنګه دي ووائي چي ائ **اَللّٰهْ** ددغه **بُزَرْګْ لَاجْ (خِيَالْ/ مَرَاعَتْ)** وَسَاتې او **زِمَا دُعَا قَبُوْلَ** کې .
يا ددغه بُزَرګ په **طُفَيْلْ (تَوَسُّطْ/ذَرِيْعَہْ/وَسَاطَتْ/سَبَبْ) يَا اَللّٰهْ زِمَا دُعَا قَبُوْلَ** کې، نو دا هم **جَائِزْ** دئ .
**دُوَهَمْ آيَتْ** دغه دئ

**٢**: **اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ يَبْتَغُوْنَ اِلٰى رَبِّهِمُ الْوَسِيْلَةَ اَيُّهُمْ اَقْرَبُ** .
**(آيَتْ ٥٧،سُوْرَةُ الْاَسْرَاءْ ١٧)** .

**تَرْجَمَہْ**:- کُوم چي دغه خلک **بَلَنَہْ** ورکوي، هغه خو په خپله خپل **پَرْوَرْدِګَارْ** ته د رسېدلو لپاره د **وَسِيْلِي** په **تَلَاشْ** کي دي چي په دُوي کي څوک **اَللّٰهْ** ته ډېر **زِيَاتْ** نِژدې سي .
په دغه **آيَتْ** کي **اَللّٰهْ تَعَالٰى** و **کُفَّارِ مَکَّہْ** ته **تَنْبِيْہْ** کړې ده چي کُوم خلک د **فِرِشْتُوْ** او **پِيرَانُوْ عِبَادَتْ** کوي، او دا يې **خِيَالْ** دئ چي هغه به مُوږ ته **خَلَاسُوْنْ** راکي، يا به زُمُوږ **مَرسْتَہْ** وکي، نو دغه **خِيَالْ غَلَطْ** دئ، ځکه چي ددغه **فِرِشْتُوْ** او **جِنَّاتُوْ** خو دا **حَالَتْ** دئ چي دُوي په خپله د **اَللّٰهْ مُحْتَاجَ** دي،

او **بَنَهْ كارُوْنَهْ** وكي د هغه په **تَوَسُّطْ** سره د **اَللّٰهْ** د **قُرْبَتْ** (نژدېکت) **حَاصِلَوُلُو** کُوښښ کوي، **لِهٰذَا** چي دُوي په خپله **مُحْتَاجَ** دي نو چي کُوم خلک د دُوي **عِبَادَتْ** کوي دُوي به د هغوي څَه مَرَستَه وكي؟ نو ځکه دغه **كُفَّارِ مَكَّهْ** ته په کار دئ چي **بَرَاهِ رَاسْتْ** يې د **اَللّٰهْ** څخه وَغُوَاړِي .

په **تَفْسِيْرِ اِبْنِ عَبَّاسْ** کي ددغه **آيَتْ تَفْسِيْرْ** دارنګه دئ [ **اُولٰئِكَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ يَبْتَغُوْنَ اِلٰى رَبِّهِمُ الْوَسِيْلَةَ** ] **يَطْلُبُوْنَ بِذٰلِكَ اِلٰى رَبِّهِمُ الْقُرْبَةَ وَالْفَضِيْلَةَ** .

دغه **كُفَّارِ مَكَّهْ** چي د کُومُو **فَرِشْتُوْ** او **پيرَانَانُوْ عِبَادَتْ** کوي هغه په خپله د خپل **رَبْ** د **قُرْبَتْ** او **فَضِيْلَتْ** په **تَلَاشْ** کي دي نو دُوي به و دغه **عِبَادَتْ** کونکو ته څَه شَئ وَرکِي؟

**لِهٰذَا** ددغه **آيَتْ** څخه هم د **بُزَرْګانُوْ** څخه د **مَدَدْ** غُوَښتَلُو **مَفْهُوْمْ** نَه ښکاره کېږي، لېکن که چيري يَو څوک په **زُوْرْ زَبَرْدَسْتِيْ** سره، د لِيرِي لِيرِي **تَأوِيْلُوْنَهْ** وکي، او د **بُزَرْګانُوْ تَفْسِيْرْ نَظَرْ اَنْدازَ** کي او د **بُزَرْګانُوْ** څخه **مَدَدْ** وَغُوَاړِي نو دا بيا دهغه خپله **مَرْضِيْ** ده .

## **ژُوَنْدِيْ اِنْسَانْ** ته د **دُعَا** لپاره وَيَل **جَائِزْ** دئ

**[۳]** ..... د وَسِيلِي **دَرَيَمْ صُوْرَتْ** دادئ چي وَ **ژُوَنْدِيْ اِنْسَانْ** ته د **دُعَا** لپاره ووائي، يا دهغه څخه **مَدَدْ** وَغُوَاړِي، يا دهغه په **وَسِيْلَهْ** سره د **اَللّٰهْ تَعَالٰي** څخه **دُعَا** وَغُوَاړِي نو دغه **صُوْرَتُوْنَهْ** ټولَ **جَائِزْ** دي

**دَلِيْلْ** يې دغه **آيَتْ** دئ

**۳**: **وَلَوْ اَنَّهُمْ اِذْظَّلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ جَآءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ لَوَجَدُوا اللّٰهَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا** .

(**آيَتْ ۶۴**، **سُوْرَةُ النِّسَآءْ ۴**) .

**تَرْجَمَهْ**:- او چي دې خلګو پر خپلو ځانو باندي **ظُلْمْ** کړئ وُو، که دُوي په هغه وخت **تَا** ته راغلي وائ د **اَللّٰهْ** څخه **مَغْفِرَتْ** (بخښ) غُوښتئ وائ او **رَسُوْلْ** هم د دُوي لپاره د **مَغْفِرَتْ دُعَاءْ** کړې وائ نو دُوي به **اَللّٰهْ** ډېر بَخښ کونکئ، **غَتْ مِهْرَبَانْ** موندلئ وائ

ددغه **آيَتْ** څخه **مَعْلُوْمْ** سو چي **ژُوَنْدِيْ اِنْسَانْ** ته د **دُعَا** لپاره وَيَل **جَائِزْ** دئ .

**۴**: **وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَ اَنْتَ فِيْهِمْ** .

(**آيَتْ ۳۳**، **سُوْرَةُ الْاَنْفَالْ ۸**) .

**تَرْجَمَهْ**:- اې **پيْغَمْبَرَهْ! اَللّٰهْ** دارنګه نَه دئ چي دُوي ته په دغه رنګه **حَالَتْ** کي **عَذَابْ** ورکي چي کله تَه په دُوي کي **مَوْجُوْدَ** يې .

ددغه آيَتْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي بَنَهْ او نيکانْ خلک ژُوَنْدِيْ وي نو دهغه څخه فَائِدَهْ رسيږي .

## د ژُوَنْدِيْ اِنْسَانْ څخه د دُعَا دَرْخُوَاسْتْ جَائِزْ دئ

۷: عَنْ عَبْدِ اللهِ بن عَمْرِو بن الْعَاصِ اَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ (ﷺ) يَقُوْلُ ثُمَّ سَلُوْا لِيَ الْوَسِيْلَةَ فَاِنَّهَا مَنْزِلَةٌ فِي الْجَنَّةِ لَاتَنْبَغِيْ اِلَّا عَبْدٌ مِّنْ عِبَادِ اللهِ وَ اَرْجُوْا اَنْ اَكُوْنَ اَنَا هُوَ .

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الصَّلٰوةْ،بَابُ اِسْتِحْبَاب الْقَوْلِ مِثْلَ مَايَقُوْلُ الْمُوَذِّنُ، ثُمَّ يُصَلِّيْ عَلَى النَّبِيِّ (ﷺ) ثُمَّ يَسْئَلُ اللهَ لَهُ الْوَسِيْلَةَ،ص: ۱۶۳، نَمْبَرْ ۳۸۴/ ۸۴۹)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَبْدُ اللهْ بِن عَمْرِو بِن الْعَاصْ د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه دا اَوريدلِي دي ..... بيا زَمَا لپاره وَسِيْلَهْ وَغُوَاړئ، ځکه چي دا په جَنَّتْ کي يَو مَقَامْ دئ چي د اَللهْ د بَنْدَهْ ګانُوْ څخه د يَوه لپاره به وي، او زَهْ اُمِيْدْ لرم چي هغه اِنْسَانْ به زَهْ يَم (چي دغه ځائ به ورته مِلاوئيږي) .

۸: عَنْ عُمَرَ اَنَّهُ اِسْتَأْذَنَ النَّبِيَّ (ﷺ) فِي الْعُمْرَةِ فَقَالَ اَئ اَخِيْ اَشْرِكْنَا فِيْ دُعَائِكَ وَلَاتَنْسَانَا . (تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الدَّعْوَاتْ،بَابُ ،ص: ۸۱۲، نَمْبَرْ ۳۵۶۲)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عُمَرْ د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه د عُمْرهْ کولو اِجَازَتْ وَغُوښتَئ، نو حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل زَمَا وُرُوْرَهْ! په خپله دُعَا کي مَا شَرِيْکْ که، او مَا مَه هيروه .

په دغه دُوَاړُو حَدِيْثُوْ کي حُضُوْرْ (ﷺ) د خپل اُمَّتِيْ څخه د دُعَا دَرْخُوَاسْتْ کړئ دئ، چي هغه هم ژُوَنْدِيْ وُو، يا تر څو چي هغه ژُوَنْدِيْ پاته وي، نو ځکه دا جَائِزْ دئ .

۹: سُمِعَ اَنَسُ بِن مَالِكٍ يَذْكُرُ اَنَّ رَجُلًا دَخَلَ يَوْمَ الْجُمْعَةِ مِنْ بَابٍ كَانَ وِجَاهُ الْمِنْبَرَ وَ رَسُوْلُ اللهِ قَائِمٌ يَخْطُبُ فَاسْتَقْبَلَ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) قَائِمًا فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ هَلَكَتِ الْاَمْوَالُ وَانْقَطَعَتِ السُّبُلُ فَادْعُ اللهَ يَغِيْثُنَا، قَالَ فَرَفَعَ رَسُوْلُ اللهِ يَدَيْهِ .

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْاِسْتِسْقَاءِ،بَابُ الْاِسْتِسْقَاءِ فِي الْمَسْجِدِ الْجَامِعِ،ص: ۱۶۲، نَمْبَرْ ۱۰۱۳)

تَرْجَمَهْ:- حضرت اَنَسْ بِن مَالِکْ فرمائي چي يَو سړئ د جُمْعِي په وُرَځْ د دَرْوَازي څخه دَاخِلْ سو چي وَ مِمْبَرْ ته مَخَامَخ وه، او حُضُوْرْ (ﷺ) په وَلَاړئ خُطْبَهْ وَيلَه، هغه د حُضُوْرْ په مَخکِي وَدَريدئ او وويل، يَا رَسُوْلَ اللهْ مَالُوْنَهْ تَبَاهْ سول، پر لَارَهْ تَلَل

مُشْكِلْ سو، د اَللهْ څخه د بَارَانْ دُعَا وکه، رَاوِيْ فرمائي چي حُضُوْرْ (ﷺ) دُوَاړه لَاسُوْنَهْ د دُعَا لپاره پُورتَه کړل .
په دغه حَدِيْثْ کې د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه چي ژُوَنْدَيْ وُو د دُعَا دَرْخُوَاسْتْ کړئ دئ .

## په ژُوَنْدِيْ سړي سره وَسِيْلَهْ نِيوَل، د صَحَابِيْ عَمَلْ

**۴: عَنْ اَنَسِ بن مَالِكٍ اَنَّ عُمَرَ بن الْخَطَّابِ كَانَ اِذَا قَحَطُوْا اِسْتَسْقٰى بِالْعَبَّاسِ بن عَبْدَ الْمُطَّلِبِ فَقَالَ: - اَللّٰهُمَّ اِنَّا كُنَّا نَتَوَسَّلُ اِلَيْكَ بِنَبِيِّنَا فَتَسْقِيْنَا، وَ اِنَّا نَتَوَسَّلُ اِلَيْكَ بِعَمِّ نَبِيِّنَا فَاسْقِنَا، قَالَ فَسَقَوْنَ .**
(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،بَابُ سَوَالِ النَّاسِ الْاِمَامَ الْاِسْتِسْقَاءَ اِذَا قَحَطُوْا ، ص: ۱۶۲، نَمْبَرْ ۱۰۱۰)

تَرْجَمَهْ:- حَضرَت اَنَسْ بن مَالِكْ فرمائي چي هر وَخْتْ به قَحْطْ سو نو حَضرَت عُمَرْ به د عَبَّاسْ بن عَبْدُ الْمُطَّلِبْ په تَوَسُّطْ سره د بَارَانْ لپاره دُعَا کوله، او دارنګه دُعَا به کوله، چي ائ اَللهْ! مُوږ د خپل نَبِيْ په وَسِيْلَهْ سره ستا څخه دُعَا غُوښتَلَه نو تَا به بَارَانْ وُرَاوَئ، اُوس مُوږ د خپل نَبِيْ د اَکا (اَقَا/ تَرَهْ) په وَسِيْلَهْ سره دُعَا غُواړو، رَاوِيْ وائي چي په دغه سره به بَارَانْ کېدئ .
په دغه قَوْلِ صَحَابِيْ کي دئ چي مُوږ د حُضُوْرْ (ﷺ) په وَسِيْلَهْ سره دُعَا غُوَښتَلَه، او اُوس دده د اَکا حضرت عَبَّاسْ په ذَرِيْعَهْ سره دُعَا غُواړو .
ددغه صَحَابِيْ په عَمَلْ کي دئ چي د ژُوَنْدِيْ اِنْسَانْ څخه يې وَسِيْلَهْ طَلَبْ کړې ده، او دهغه په تَوَسُّطْ سره يې دُعَا غُوښتلې ده .
په دغه ټولو حَدِيْثُوْ او د اَصْحَابَانُوْ په عَمَلْ کي ددغه خَبَرِيْ وَضَاحَتْ سته چي په دي کي د اَللهْ څخه مَدَدْ غُوَښتَل سوئ دئ، د کُوم اِنْسَانْ څخه د ضرورت د پُورَه کېدو وَيْنَا نَستَه، اَلْبَتَّهْ د ژُوَنْدِيْ اِنْسَانْ وَسِيْلَهْ يې اَخَستې ده .
لِهٰذَا و يو مَړي ته دا وَيَل چي تَهْ دغه کار وکه، يا تَهْ شِفَا رَاکه، يا تَهْ اَوْلَادْ راکه، يا بَارَانْ وَرُوَه دا په هيڅ وَخْتْ جَوَازْ نَه لري .

## د مَلَنګانُو زِيَاتُوْبْ

ددغه حَدِيْثُوْ څخه صِرف دُومره خَبَرَهْ ثَابَتَّهْ سوه چي کله نَا کله د يَو ځَا په تَوَسُّطْ يعني وَسِيْلَهْ سره دُعَا وَغُواړي نو ددې ګُنْجَائِشْ سته، لېکن زُمُوږ مَلَنګانْ او د قَبْرُوْ مُجَاوِرِيْنْ حضرات خو د ټولَ کال خَرْچَهْ پُورَه کوي، خپله مِيْنَهْ او بَچَانْ خو هم پَالِي، خپل رُعْبْ خو به ښکاره کوي، خپله رُتْبَهْ خو به

غَنَوِي، او خپل **شُهْرَتْ** خو به حَاصِلَوِي، نو ځکه دُوي ددغه لَړ ځـه **گُنْجَائِشْ** څخه **فَائِدَهْ** اَخلِي او د **صَاحِبْ قَبْرْ** په **حَقْ** كي ډېري غَتِّي غَتِّـي **خَبَرِيْ** كـوي، دهغوي **كرَامَاتْ** بَيَانَوِي، او د **فَيْضْ حَاصِلَوُلُو** په نُوم، د **حَاجَتُوْ** د پُوره كولـو په نُوم **بِنَهْ** پَيسې وُصُولَوِي، او خپل **جيبُوْنَهْ** بنه ډَكوِي .
بيا نو دارنګه **فضَائِلْ** بَيَانَوِي چي دغـه خلـګ بِيَـا بِيَـا راسـي او بِيَـا بِيَـا د دُوي څخه **وُصُوْلِي** وسي، بلكه كله نَـا كلـه خـو يـې پـه ډېـرو **خُرَافَاتْ** كـي **مُبْتَلاَءْ** كوي، او **اِنْسَانْ** پَسَاؤ سي، پـه دغـه **سَلْسَلَهْ** كـي بنـځي ډېـري پَسَـاوېږي، نـو ځكه د ډېر **اِحْتِيَاطْ** كولو ضـرورت دئ، ددغـه عَقِيـدې پـه اړه پـه تېـرو سـوو **آيَتُوْ** او **حَدِيْثُوْ** كي تاسو د هر يَوَه **تَفْصِيْلْ** وَكُورَئ .

# **۱۳**: دغه **۵ عَقِيدِي** دُومره **مُهِمِّي** دي

چي **اَللهْ تَعَالٰى** د ,, **قُلْ** ,, په **ذَرِيْعَهْ** سره په **حُضُوْرْ** باندي دا **اِعْلَانْ** وكړ چي تَه **اِعْلَانْ** وكه چي **زَمَا** سره دغه **شِيَانْ** نَستَه .
ددغه عَقِيدي په اړه د **۲۵ آيَتُوْ تَفْصِيْلْ** تاسو **مُلَاحَظَهْ** كړئ
هغه **۵** عَقِيدې دغه دي
[**۱**] **حُضُوْرْ** (ﷺ) **اِنْسَانْ** دئ .
[**۲**] **حُضُوْرْ** (ﷺ) د **نَفْع** او **نُقْصَانْ اِخْتِيَارْ** نَه لري .
[**۳**] **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته **عِلْم غَيْبْ** نَه دئ **حَاصِلْ** .
[**۴**] د **اَللهْ** سره **شَرِيْكْ** جوړول په كار نَه دئ .
[**۵**] د **نِجَاتْ** لپاره به صِرف د **حُضُوْرْ** (ﷺ) **اِطَاعَتْ** كوي .
**يَامْ لَرَنَهْ**:- بعضو حضراتو د بعضو **تَفْسِيْرُوْ** د څو جُملو پر **بُنْيَادْ** باندي د **عَقَائِدُوْ** په اړه **غَتْ غَتْ بَحْثُوْنَهْ** شروع كړي دي .
نو ځكه **مُحَقِّقِيْنْ** فرمائي چي **عُلَمَاءْ بَايَدْ** دغه **رَارَوَانْ مَذْكُوْرْ** سوي **آيَتُوْنَهْ** مَختَه كښېږدي بيا دي **عَقَائِدْ بَيَانْ** كي .
په دغه پنځو كي د دُرو يعني
[**۱**] **حُضُوْرْ** (ﷺ) **اِنْسَانْ** دئ .
[**۲**] **حُضُوْرْ** (ﷺ) د **نَفْع** او **نُقْصَانْ اِخْتِيَارْ** نَه لري .
[**۳**] **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته **عِلْم غَيْبْ** نَه دئ **حَاصِلْ** .

په اړه تاسو مَختَه **تَفْصِيْلْ** کتلائي سئ، او د پاته دُو يعني

**[۴]** د **اَللّٰهْ** سره **شَرِيْکْ** جوړول په کار نَه دئ .

**[۵]** د **نِجَاتْ** لپاره به صِرف د **حُضُوْرْ** (ﷺ) **اِطَاعَتْ** کوي .

په اړه **تَفْصِيْلْ** او **دَلَائِلْ** دغه دي

## [۴] د اَللّٰهْ سره شَرِيْکْ جوړول په کار نَه دئ .

ددې لپاره **آيَتُوْنَهْ** دغه دي

**۱**: **قُلْ اِنَّمَآ اَدْعُوْا رَبِّیْ وَلَآ اُشْرِكُ بِهٖٓ اَحَدًا** (**آيَتْ ۲۰**، **سُوْرَةُ الْجِنْ ۷۲**) .

**تَرْجَمَهْ**:- **وَوَايَهْ** چي:,, **زَهْ** خو صِرف د خپل **پَرْوَرْدِګارْ** **عِبَادَتْ** کوم، او دهغه سره هيڅ يو **شَرِيْکْ** نَه مَنَم.

**۲**: **قُلْ اِنَّمَآ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ وَلَآ اُشْرِكَ بِهٖ** ط (**آيَتْ ۳۶**، **سُوْرَةُ الرَّعْدْ ۱۳**) .

**تَرْجَمَهْ**:- تَه **اِعْلَانْ** وکه چي **مَا** ته خو صِرف دغه **حُکْمْ** سوئ دئ چي **زَهْ** د **اَللّٰهْ** **عِبَادَتْ** وکم او دهغه سره **شَرِيْکْ** نَه وَګرزَوَم .

په دغه **۲** **آيَتُوْ** کې په **حُضُوْرْ** (ﷺ) دا **اِعْلَانْ** کړئ دئ چي د **اَللّٰهْ** سره په هيڅ **وَخْتْ** هيڅ څوک مَه **شَرِيْکْ** کوئ .

## ۵: په حُضُوْرْ (ﷺ) يې اِعْلَانْ وکئ چي د نِجَاتْ لپاره د حُضُوْرْ (ﷺ) اِطَاعَتْ وکئ

**دَلِيْلْ** يې دغه **آيَتُوْنَهْ** دي

**۱**: **قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ** ج **فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّ اللّٰهَ لَايُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ** . (**آيَتْ ۳۲**،**سُوْرَةُ آل عِمْرَانْ ۳**) .

**تَرْجَمَهْ**:- **وَوَايَهْ** چي د **اَللّٰهْ** او د **رَسُوْلْ** **اِطَاعَتْ** وکړئ، که بيا هم تاسو (د **قُرْآنْ** او **سُنَّتْ** څخه) مَخَان وګرزوئ نو **اَللّٰهْ** خو **کَافِرَانْ** نَه خُوښَوي

**۲**: **قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَ اَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ** ج **فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُمْ مَّا حُمِّلْتُمْ** ط **وَ اِنْ تُطِيْعُوْهُ تَهْتَدُوْا** ط . (**آيَتْ ۵۴**،**سُوْرَةُ النُّوْرْ ۲۴**) .

**تَرْجَمَهْ**:- (ذُوي ته) **وَوَايَهْ** چي:،، د **اَللّٰهْ** **حُکْمْ** **تَسْلِيْمْ** کړئ، او د **رَسُوْلْ** **فَرْمَانْبَرْدَارَهْ** سئ، که بيا هم تاسو **مَخَانْ** وَاړَوَل نو پر **رَسُوْلْ** خو **دَغُوْنَهْ** **بُوْجْ** دئ کُوم چي **ذِمَّهْ** **دَارِيْ** يې پر ده باندي اَچَوَل سوي ده، او کُوم **بُوْجْ** چي پر تاسو اَچَوَل سوئ دئ، دهغه **ذِمَّهْ** **دَارَهْ** تاسو په خپله ياست، که چيري تاسو دده **فَرْمَانْبَرْدَارِيْ** وکړئ نو **هِدَايَتْ** به درته مِلاؤ سي .

**۳: قُلْ اِنْ کُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْکُمُ اللّٰهُ وَيَغْفِرْلَکُمْ ذُنُوْبَکُمْ** ط **وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ** . (**آيَتْ ۳۱**،**سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳**) .

**تَرْجَمَهْ**:- (اې **پيغَمْبَرَهْ!** خلګو ته) **وَوَايَهْ** چي که تاسو د **اَللّٰهْ** سره **مُحَبَّتْ** لرئ نو **زَمَا اِتِّبَاعْ** وکئ، **اَللّٰهْ** به ستاسو سره **مُحَبَّتْ** وکړي او ستاسو لپاره به ستاسو ګناهونه **مَعَافْ** کړي، او **اَللّٰهْ** ډېر **مَعَافْ** کونکئ، **غَټْ** **مِهْرَبَانْ** دئ .

په دغه **۳** **آيَتُوْ** کي دئ چي ته **اِعْلَانْ** وکه چي: که **نِجَاتْ** (**خَلَاسُوْنْ**) غُوَاړئ نو صِرف د **حُضُوْرْ** (ﷺ) **اِطَاعَتْ** کوئ .

# **۱۴**: د **شَفَاعَتْ** **بَيَانْ**

ددغه عَقِيدې په اړه **۴** **آيَتُوْنَهْ** او **۸** **حَدِيْثُوْنَهْ** دي، تاسو د هر يَوه **تَفْصِيْلْ** وَګُورَئ .

په **قِيَامَتْ** به دُوَه **قِسْمَ** **سَفَارَشْ** کيږي

[**۱**] **شَفَاعَتِ** **کُبْرٰى**، دا به صِرف و **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته وَرکوَل کيږي .

[**۲**] **شَفَاعَتِ** **صُغْرٰى**، دا به و نورو **اَنْبِيَآءْ** او **صُلَحَاءُ** ته هم وَرکوَل کيږي .

دغه **سَفَارَشْ** به ټول د **اَللّٰهْ** **تَعَالٰى** په **اِجَازَتْ** سره کوي، د **اَللّٰهْ** د **اِجَازَتْ** **بَغَيْرَهْ** به هيڅ نَه کيږي .

**دَلِيْلْ** يې دغه **آيَتُوْنَهْ** دي

**۱: مَنْ ذَا الَّذِيْ يَشْفَعُ عِنْدَهٗ اِلَّا بِاِذْنِهٖ** ط . (**آيَتْ ۲۵۵**،**سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲**) .

**تَرْجَمَهْ**:- څوک دئ چي دده په مخکي (**دَرْبَارْ**) کي دده د اِجَازَت بغيره هسي د يَو چَا **سَفَارَشْ** وکړي؟

**۲:** **مَا مِنْ شَفِيْعٍ اِلَّا مِنْ بَعْدِ اِذْنِه ط ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ط** . (آيَتْ ۳،سُوْرَةُ يُوْنُسْ ۱۰) .

**تَرْجَمَهْ:-** هيڅ څوک دده د اِجَازَتْ بغيره (دده په مخکي) د هيڅ چَا سَفَارَشْ کونکئ نَستَه، هغه اَللّٰهْ دئ ستاسو پَرْوَرْدِګَارْ! لِهٰذَا دهغه عِبَادَتْ کوئ .

**۳:** **وَلَا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ عِنْدَه اِلَّا لِمَنْ اَذِنَ لَه ط** . (آيَتْ ۲۳،سُوْرَةُ السَّبَاءْ ۳۴) .

**تَرْجَمَهْ:-** او د اَللّٰهْ په مخکي يَو سَفَارَشْ کار نَه کوي، مَاسِوَا دهغه کَسْ چي دهغه لپاره په خپله ده (يعني اَللّٰهْ د سَفَارَشْ کولو) اِجَازَتْ ورکړئ وي .

**۴:** **قُلْ لِّلّٰهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيْعًا ط** . (آيَتْ ۴۴،سُوْرَةُ الزُّمَرْ ۳۹) .

**تَرْجَمَهْ:-** وَوَايَهْ چي:،، سَفَارَشْ خو ټولَ د اَللّٰهْ په اِخْتِيَارْ کي دئ .

## په قِيَامَتْ کي د سَفَارَشْ کولو آتَه صُوْرَتُوْنَهْ دي

[۱] **شَفَاعَتِ کُبْرٰی**، دا به صِرف و حُضُوْرْ (ﷺ) ته وَرکوَل کيږي .

[۲] **مُؤْمِنْ** خو دئ، ليکن د ګُنَاهْ په وَجْهَ د دُوْزَخْ د تُلُو فَيْصَلَهْ سوې ده اُوس به دده سَفَارَشْ وکي جَنَّتْ ته به دَاخِلْ کي، دغه سَفَارَشْ به حُضُوْرْ (ﷺ) ته هم حَاصِلْ وي، او اَنْبِيَآءْ او صَالِحِيْنُ ته هم حَاصِلْ وي .

[۳] د **حُضُوْرْ** (ﷺ) په سَفَارَشْ به بعض مُؤْمِنَانْ بغَيْرْ د حِسَابْ او کِتَابَ جَنَّتْ ته دَاخِلْ کي .

[۴] د **حُضُوْرْ** (ﷺ) په سَفَارَشْ به د جَهَنَّمِيْ په عَذَابْ کي کمْبُوْتْ کيږي، لکه څنګه چي د حُضُوْرْ (ﷺ) په سَفَارَشْ سره به د اَبُوْطَالِبْ په عَذَابْ کي کمْبُوْتْ کيږي .

[۵] د **حُضُوْرْ** (ﷺ) په سَفَارَشْ به ټولَ مُؤْمِنَانْ جَنَّتْ ته دَاخِلْ کي .

[۶] بعض **غَټْ ګُنَاهْ ګَارَانْ** چي دُوْزَخْ ته دَاخِلْ سوي وي، په سَفَارَشْ به هغه په جَنَّتْ کي دَاخِلْ کي .

[۷] **مُؤْمِنْ** خو دئ، ليکن دده ګُنَاهُوْنَهْ او نيْکِيَانْ سره بَرَابَرِيْ دي، اُوس به دده سَفَارَشْ وکي او جَنَّتْ ته به دَاخِلْ کي، دغه سَفَارَشْ به وَ حُضُوْرْ (ﷺ) ته هم حَاصِلْ وي، او اَنْبِيَآءْ او صُلَحَاءُ ته هم حَاصِلْ وي .

[۸] د جَنَّتِيْ اِنْسَانْ د مَرْتَبې او مَقَامْ د لوړولو لپاره به سفَارَشْ کيږي، دغه سفَارَشْ به وَ حُضُوْرْ (ﷺ) ته هم حَاصِلْ وي، او اَنْبِيَآءْ او صُلَحَاءُ ته هم حَاصِلْ وي .

دغه ۸ قِسْمَ سفَارَشْ به کيږي .

## شَفَاعَتِ کُبْرٰی

په دغه حَدِیْثْ کي راغلي دي چي د قِیَامَتْ په وُرَځْ به اُمَّتْ ټولو نَبِیَانُوْ ته وَرسِي چي تاسو کَمْ اَزْ کَمْ دا سفَارَشْ وکئ چي اَللّٰهْ تَعَالٰی حِسَابْ و کِتَابْ خو شروع کي، لېکن ټولَ اَنْبِیَآءِ کِرَامْ به اِنْکارْ ورته وکي، او صِرف حُضُوْرْ (ﷺ) به دغه سفَارَشْ کوي، دا چي صِرف حُضُوْرْ (ﷺ) به دغه سفَارَشْ کوي نو په دغه وَجْهَ وَ دې ته شَفَاعَتِ کُبْرٰی وَیَل کیږي .

حُضُوْرْ (ﷺ) ته به شَفَاعَتِ کُبْرٰی وَرکوَل کیږي

دَلِیْلْ یې دغه حَدِیْثْ دئ

١: عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) یَجْمَعُ اللهُ النَّاسَ یَوْمَ الْقِیٰمَـةِ فَیَقُوْلُـوْنَ لَوْ اِسْتَشْفَعْنَا عَلٰی رَبِّنَا حَتّٰی یُرِیْحُنَا مِنْ مَکَانِنَا فَیَاْتُوْنَ اٰدَمَ فَیَقُوْلُوْنَ اَنْتَ الَّـذِیْ خَلَقَكَ اللهُ بِیَدِهٖ وَنَفَخَ فِیْكَ مِنْ رُّوْحِهٖ وَاَمَرَ الْمَلٰئِکَةَ فَسَجَدُوْا لَكَ فَاشْفَعْ لَنَـا عِنْدَ رَبِّنَا فَیَقُوْلُ لَسْتُ هُنَـاکُمْ وَیَـذْکُرُ خَطِیْئَتَـهُ وَیَقُـوْلُ اِیْتُـوْا نُوْحًـا ..... فَـاْتُوْنِیْ فَاسْتَاْذِنُ رَبِّیْ ..... ثُمَّ یُقَالُ لِیْ : اِرْفَعْ رَأْسَكَ وَسَـلْ تُعْطَـهُ،وَقُـلْ یُسْـمَعْ،وَاشْـفَعْ تُشَفَّعْ فَاَرْفَعُ رَاْسِیْ .

(بُخَارِیْ شَرِیْفْ،کِتَابُ الرَّقَاقِ، بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ، ص: ۱۱۳۶، نَمْبَرْ ۶۵۶۵) .

تَرْجَمَهْ:- حُضُورِ پَاکْ (ﷺ) وفرمائل چي اَللّٰهْ به د قِیَامَتْ په وُرَځْ خلک سره جَمَعْ کـي، نو خلک به ووائي، زُمُوږ د رَبْ په مَخکي که یَو ځَا سفَارَشْ کړئ وایٔ نـو ددغـه ځایَـه څخه به مُوږ ته خَلَاسُوْنْ مِلاو سوئ وائ، خلک به حضرت آدَمْ عَلَیْهِ السَّلَامْ ته راسي، او هغه ته به ووائي چي اَللّٰهْ تَه په خپل لَاسْ پیدَا کړئ یې، او خپل رُوْحْ یـې پـه تَـا کـي اَچَولَئ دئ، او فَرِشْتُوْ ته یې حُکْمْ وکئ چي هغه تَا ته سَجْدَهْ وکي، نو ځکه تَه خپـل رَبْ ته زُمُوږ سفَارَشْ وکه، حضـرت آدَمْ بـه وفرمـائي چـي زَهْ ددغـه (کـار) جُرأَتْ نَـه سَـم کولائي، بیا به دئ خپله غَلَطِيْ په یَادْ کي، بیا به ووائي چي تاسـو حضـرت نُوْحْ عَلَیْـهِ السَّلَامْ ته وَرسَئ ..... هغه خلک به مَا ته راسي، زَهْ به د خپل رَبْ څخه د سفَارَشْ کولو اِجَازَتْ وَغُوَاړم ..... بیا به مَا ته وویل سي، سَرْ پُورتَـه کـه او وَغُـوَاړَه (هغـه څَـه بـه)

دَركوَل كيږي، وَوَايَهْ خَبَرَهْ به دي اَورېدَل كيږي، سَفَارَشْ وكه سَفَارَشْ به دي قَبلېږي، نو بيا به زَهْ خپل سَرْ رَا پُورتَه كم .اِلَخْ

## نور شَفَارَشُوْنَهْ [يَعْنِیْ شَفَاعَتُوْنَهْ]

### [٢] دُوَيَمْ سَفَارَشْ

مُؤْمِنْ خو دئ، لېكِن د گُنَاهْ په وَجْهَ د دُوْزَخْ د تُلُو فَيْصَلَهْ سوي ده اُوس به دده سَفَارَشْ وكي جَنَّتْ ته به دَاخِلْ كي .

دغه سَفَارَشْ به حُضُوْرْ (ﷺ) ته هم حَاصِلْ وي، او اَنْبِيَآءْ او صَالِحِيْنُ ته هم حَاصِلْ وي .

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

**٢: عَنْ عَلِیّ بن اَبِیْ طَالِبِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) مَنْ قَرَأَ الْقُرْاٰنَ وَاسْتَظْهَرَهُ فَاَحَلَّ حَلاَلَهُ وَحَرَّمَ حَرامَهُ اَدْخَلَهُ اللهُ بِهِ الْجَنَّةَ وَشَفَّعَهُ فِیْ عَشْرَةِ مِّنْ اَهْلِ بَيْتِه كُلُّهُمْ وَجَبَتْ لَهُ النَّارُ .**

(تِرْمِذِیْ شَرِيْفْ،كِتَابُ فَضَائِلِ الْقُرْآنْ،بَابُ مَاجَاءَ فِیْ فَضْلِ الْقَارِی الْقُرْآنْ،صِ: ٦٥٣، نَمْبَرْ ٢٩٠٥)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل كُوم چا چي قُرْآنْ وَوَايَهْ، او هغه يې زَبَانِیْ په يَادْ كئ دهغه حَلَالْ يې حَلَالْ وَكڼَل، او حَرَامْ يې حَرَامْ وَكڼَل نو اَللّهْ به هغه ځوک په جَنَّتْ كي دَاخِلْ كي، او دده د كُوْرْ د اِنْسَانَانُوْ څخه به لَسْ دارنګه اِنْسَانَانُوْ لپاره سَفَارَشْ قَبُوْلْ كي چي د هغوي لپاره جَهَنَّمْ وَاجِبْ سوئ وُو .

په دغه حَدِيْثْ كي دئ چي د جَهَنَّمِيَانُوْ لپاره به هم سَفَارَشْ كيږي، او عَامَّهْ خلک به هم دهغوي سَفَارَشْ كوي .

### [٣] دَرِيَمْ سَفَارَشْ

د حُضُوْرْ (ﷺ) په سَفَارَشْ به بعض مُؤْمِنَانْ بغَيْرْ د حِسَابْ او كِتَابَ جَنَّتْ ته دَاخِلْ كي .

ددې دَلِيْلْ دغه حَدِيْثْ دئ

**٣: عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ اَنَّ النَّبِیَّ (ﷺ) قَالَ يَدْخُلُ مِنْ اُمَّتِیْ الْجَنَّةَ سَبْعُوْنَ اَلْفًا بغَيْرِ حِسَابٍ، فَقَالَ رَجُلٌ يَارَسُوْلَ اللهِ! اُدْعُ اللهَ اَنْ يَّجْعَلَنِیْ مِنْهُمْ قَالَ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ مِنْهُمْ .** (مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْاِيْمَانْ،بَابُ اَلدَّلِيْلْ عَلٰی دُخُوْل طَوَائِفِ الْمُسْلِمِيْنَ الْجَنَّةَ بغَيْرِ حِسَابِ، ص: ١١١، نَمْبَرْ ٢١٦ / ٥٢٠) .

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل زَمَا د اُمَّتْ څخه به اَوْيَا زَرَهْ كسَان بَغَيْرْ د حِسَابْ و كِتَابْ جَنَّتْ ته دَاخِلْ كړي، يَوَه سړي وويل يَارَسُوْلَ اللّٰهْ! زَمَا لپاره دُعَا وكه چي مَا هم په دغه كي دَاخِلْ كي، نو حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل چي ائ اَللّٰهْ! دغه سړئ هم په دغه كي دَاخِلْ كې .

## [۴] څلُوْرَمْ سفَارَشْ

ددغه سفَارَشْ په وَجْهَ به د جَهَنَّمِيْ په عَذَابْ كي كمْبُوْتْ كيږي .
ددې دَلِيْلْ دغه حَدِيْثْ دئ

**۴: عَنْ اَبِیْ سَعِيْدِ الْخُدْرِیّ، اَنَّهُ سَمِعَ النَّبِیَّ (ﷺ) ذُ كِرَ عِنْدَهُ عَمُّهُ فَقَالَ لَعَلَّهُ تَنْفَعُهُ شفَاعَتِیْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَيُجعَلُ فِیْ ضَحْضَاحٍ مِّنَ النَّارِ يَبْلُغُ كَعْبَيْهِ يَغْلِی مِنْهُ دِمَاغُهُ .**

(بُخَارِیْ شَرِيْفْ،كِتَابُ مَنَاقِبِ الْاَنْصَارْ،بَابُ قِصَّةِ اَبِیْ طَالِبِ،ص: ۶۵۲، نَمْبَرْ ۳۸۸۵) .

تَرْجَمَهْ:- د حُضُوْرْ (ﷺ) په مَوْجُوْدگِيْ كي دده د اَكا (اَقَا) اَبُوْطَالِبْ تَذْكِرَهْ راغله نو حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل، د قِيَامَتْ په وُرَځْ به زَمَا په سفَارَشْ سره د اُوْرْ (وُوْرْ) په هغه كښَتَّهْ كنْدَهْ كي اِيښوَل كيږي، دغه اُوْرْ به دده و بجَلگُوْ ته رَارَسيږي، چي دهغه څخه به دده دِمَاغْ اِيشِيږي .

په دغه حَدِيْثْ كي دئ چي د حُضُوْرْ (ﷺ) په سفَارَشْ سره به د جَنَّمِيْ عَذَابْ كم كيږي .

## [۵] پِنْځَمْ سفَارَشْ

د حُضُوْرْ (ﷺ) په سفَارَشْ به ټولَ مُؤْمِنَانْ جَنَّتْ ته دَاخِلْ كي .
ددې دَلِيْلْ دغه حَدِيْثْ دئ

**۵: عَنْ اَنَسِ بنِ مَالِكٍ قَالَ:- قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) اَنَا اَوَّلُ النَّاسِ يَشْفَعُ فِی الْجَنَّةِ وَ اَنَا اَكْثَرُ الْاَنْبِيَآءِ تَبْعًا .**

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْاِيْمَانْ،بَابُ فِیْ قَولِ النَّبِیِّ (ﷺ) اَنَا اَ وَّلُ النَّاسِ يَشْفَعُ فِی الْجَنَّةِ ،ص: ۱۰۵، نَمْبَرْ ۱۹۶ / ۴۸۳) .

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل چي زَهْ به اَوَّلْ اِنسَانْ يم چي د جَنَّتْ لپاره به سفَارَشْ كوي، او چي څومره نَبيَانْ دي په هغوي كي تر ټولو زِيَاتْ به زَمَا مُتَّبِعِيْنْ خلگ وي .

**۶: حَدَّثَنَا اَنسُ بنِ مَالِكٍ اَنَّ النَّبِیَّ (ﷺ) قَالَ لِكُلِّ نَبِیٍّ دَعْوَةٌ دَعَاهَا لِاُمَّتِهٖ وَ اِنِّیْ اِخْتَبَأْتُ دَعْوَتِیْ شَفَاعَةً لِّاُمَّتِیْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ .**

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْاِيْمَانْ،بَابُ اِخْتِبَاءُ النَّبِیِّ دَعْوَةَ الشَّفَاعَةِ لِاُمَّتِهٖ،ص: ۱۰۶، نَمْبَرْ ۲۰۰/ ۴۹۴)

تَرْجَمَهْ:- حُضُور پَاکْ (ﷺ) وفرمائل چي د هر نَبِيْ لپاره يَوَه مَقْبُوْلَ دُعَاءْ وي چي د اُمَّتْ لپاره يې ذُوي كوی، او مَا د خپل اُمَّتْ لپاره يَوَه دُعَاءْ پَټّه سَاتلې ده، او هغه دا چي د قِيَامَتْ په وُرَځْ به د خپل اُمَّتْ لپاره شَفَاعَتْ (سَفَارَشْ) كوم .
ددغه دواړو حَدِيْثُوْ د اِشَارُوْ څخه مَعلُومېږي چي د حُضُوْرْ (ﷺ) په دُعَا سره به د حُضُوْرْ (ﷺ) اُمَّتْ جَنّتْ ته دَاخِلْ سي .

## [۶] شيږَمْ سَفَارَشْ

چي كُوم په جَهَنَّمْ كي دَاخِلْ سوي دي دهغوي د رَايَستَلُو لپاره به سَفَارَشْ كيږي .
ددې دَلِيْلْ دغه حَدِيْثْ دئ

۷: عَنْ عِمْرَانَ بِن الْحُسَيْن عَنِ النَّبِيِّ (ﷺ) قَالَ يَخْرُجُ قَوْمٌ مِّنَ النَّارِ بِشَفَاعَةِ مُحَمَّدٍ (ﷺ) فَيَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ يُسَمُّوْنَ الْجَهَنَّمِيُّوْنَ .
(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الرِّقَاقْ،بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ،ص: ۱۱۳۶، نَمْبَرْ ۶۵۶۶) .
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل چي د مُحَمَّدْ په سَفَارَشْ سره به څَه قَوْمْ د جَهَنَّمْ څخه رَاووزي او هغه به جَنَّتْ ته دَاخِلْ سي، دهغوي نُوْمْ به جَهَنَّمِيَانْ وي .

۸: عَنْ اَنَسِ بن مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ (ﷺ) قَالَ شَفَاعَتِىْ لِاَهْلِ الْكَبَائِرِ مِنْ اُمَّتِىْ .
(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ،كِتَابُ السُّنَّةِ،بَابٌ فِى الشَّفَاعَةِ،ص: ۶۷۰، نَمْبَرْ ۴۷۳۹) .
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل چي زَمَا د اُمَّتْ كبِيْرَهْ گُنَاهْ گُونكو خلكو لپاره به زَمَا سَفَارَشْ وي .
په دغه حَدِيْثُوْ كي دئ چي په جَهَنَّمْ كي كُوم دَاخِلْ سوي دي هغه خلک به د حُضُوْرْ (ﷺ) په سَفَارَشْ سره جَنَّتْ ته دَاخِلْ سي .

## [۷] اُوَمْ سَفَارَشْ

مُؤْمِنْ خو دئ، لېكن دده گُنَاهْ او نيْكِيْ سره بَرَابَرِيْ دي، اُوس به دده سَفَارَشْ وكي او جَنَّتْ ته به دَاخِلْ كي، دغه سَفَارَشْ به وَ حُضُوْرْ (ﷺ) ته هم حَاصِلْ وي، او اَنْبِيَآءْ او صُلَحَاءُ ته هم حَاصِلْ وي .

## [۸] اَتَمْ سَفَارَشْ

د جَنَّتِيْ اِنسَانْ د مَرْتَبي او مَقَامْ د لُوړولو لپاره به سَفَارَشْ كيږي، دغه سَفَارَشْ به وَ حُضُوْرْ (ﷺ) ته هم حَاصِلْ وي، او اَنْبِيَآءْ او صُلَحَاءُ ته هم حَاصِلْ وي .

# ۱۵: پر ټولو نَبيَانُوْ باندي اِيْمَانْ رَاوړل ضروري دئ

ددغه عَقِيدې په اړه ۱۷ آيَتُوْنَهْ او ۲ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کئ

د اِنْسَانَانُوْ د هِدَايَتْ لپاره اَللّٰهْ تَعَالٰی ډېر اَنْبِيَآءْ رَا اَستوَلِي دي، وَيَل کيږي چي يَوْ لَکْ څلېرويْشْتْ زَرَهْ (124000) (زِيَاتْ و کَمْ) اَنْبِيَآءْ رَا اَستوَل سوي دي د بعضو ذِکْرْ په قُرْآنْ کي راغلئ دئ، او د بعضو دا نَه دئ راغلئ
لېکن پر يَوَه مُسلْمَانْ باندي لَازِمْ دئ چي پر ټولو اَنْبِيَآءُ باندي اِيْمَانْ وَساتِي چي هغه په خپل خپل وَخْتْ کي بَرْحَقْ وُو، او دهغوي شَرِيْعَتْ حَقْ وُو، اَلْبَتَّهْ چي کله حُضُوْرْ (ﷺ) تَشرِيف رَاوړئ نو بيا د هغوي شَرِيْعَتُوْنَهْ مَنْسُوْخْ سول، اُوس د حُضُوْرْ (ﷺ) پر شَرِيْعَتْ باندي اِيْمَانْ رَاوړل، او پر هغه باندي عَمَلْ کول ضروري دئ، نو بيا نِجَاتْ مُونِدَلائي سي .
دهغوي حَضَرَاتُوْ په شَرِيْعَتُوْ کي هم پر دغه شَيَرْ شِيَانُوْ باندي اِيْمَانْ رَاوړل ضروري وُو، پر کُومُو شُيَرُو شِيَانُوْ باندي چي د حُضُوْرْ (ﷺ) په شَرِيْعَتْ کي اِيْمَانْ رَاوړل ضروري دئ، يعني [۱] پر اَللّٰهْ باندي اِيْمَانْ [۲] پر رَسُوْلْ باندي اِيْمَانْ [۳] پر کِتَابْ يعني قُرْآنِ مَجِيْدْ باندي اِيْمَانْ [۴] پر فَرِشْتُوْ باندي اِيْمَانْ [۵] د آخِرَتْ پر وُرَځْ باندي اِيْمَانْ [۶] پر تَقْدِيْرْ باندي اِيْمَانْ، اَلْبَتَّهْ چي کُومِي جُزْئِيْ مَسْئَلِي وې دهغو خلګو لپاره جَلَا جَلَا وې .
نو لِهٰذَا پر هغه نَبِيَانُوْ باندي دا اِيْمَانْ رَاوړل چي هغه هم په خپل وَخْتْ کي بَرْحَقْ نَبِيَانْ وُو، او د هغوي شَرِيْعَتْ بَرْحَقْ وُو، د يَو مُسْلْمَانْ لپاره پر دغه خَبَرَهْ باندي اِيْمَانْ رَاوړل هم ضروري دئ، که نَه نو اِيْمَانْ يې مُکَمَّلْ نَه دئ .

## ټولَ نَبِيَانْ مَنَل ضروري دئ که نَه نو اِيْمَانْ يې کَامِلْ نَه دئ

د اِسْلَامْ يَو عَجِيْبَ کمَالْ دادئ چي پر ټولو اَنْبِيَآءُ باندي اِيْمَانْ رَاوړل ضروري ګڼي، او دهغوي مُکَمَّلْ اِحْتِرَامْ کوي

د ټولو اَنْبِيَآءُ د مَنَلُو مَطْلَبْ دادئ چي مُوږ دا تَسْلِيْمْ کو چي ټوله اَنْبِيَآءْ بَرْحَقْ دي، او دهغوي شَرِيْعَتْ د دُوي د زَمَانې لپاره بِالْکُلْ صَحِيْحْ وُو، اَلْبَتَّهْ اُوس هغه شَرِيْعَتُوْنَهْ مَنْسُوْخَ سوي دي، او پر هغوي چي کُوم کِتَابُوْنَهْ نَازِلْ سوي دي هغه هم د اَللّٰهْ تَعَالٰي کِتَابُوْنَهْ دي، او د خپل وَخْتْ لپاره بِالْکُلْ صَحِيْحْ وُو، او پر هغه باندي اِيْمَانْ رَاوړل هم ضروري دئ، اَلْبَتَّهْ د قُرْآنْ د نَازِلېدُو وروسته اُوس مَحَال هغه کِتَابُوْنَهْ قَابِلِ عَمَلْ نَه دي پاته سوي، اُوس به صِرف پر قُرْآنْ باندي عَمَلْ کېږي .

ددې لپاره آيَتُوْنَهْ دغه دي

۱: قُلْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَمَآ اُنْزِلَ عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَ اِسْمٰعِيْلَ وَ اِسْحٰقَ وَ يَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ وَمَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى وَعِيْسٰى وَالنَّبِيُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ ص لَانُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ ز وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ . (آيَتْ ۸۴،سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳) .

تَرْجَمَهْ:- وَوَايَهْ چي ,, موږ اِيْمَانْ راوړئ دئ پر اَللّٰهْ او کُوم (کِتَابْ) چي پر موږ نَازِلْ سوئ دئ پر هغه باندي، او پر هغه (هِدَايَتْ) باندي چي پر اِبْرَاهِيْمْ،اِسْمٰعِيْلْ،اِسْحٰقْ، يَعْقُوْبْ او (دده) پر اَوْلَادْ باندي د دُوي د پَرْوَرْدِګارْ لطرف څخه نَازِلْ سوئ دئ، او پر هغه خَبَرُوْ باندي چي مُوْسٰي عِيْسٰي او نُورو پيغَمْبَرَانُوْ ته ورکړل سوي دي، موږ ددغه (پيغَمْبَرَانُوْ) تر مينځ هيڅ فَرْقْ نَه کوو، او موږ دهغه (يوه اَللّٰهْ) په مخکي سَرْ ټِيْټْ کړئ دئ ,,

په دغه آيَتْ کي هم وَيَل سوي دي چي پر ټولو اَنْبِيَآءُ باندي اِيْمَانْ رَاوړئ او دا هم وَيَل سوي دي چي، په هغوي کي هيڅ فَرْقْ مَه کوئ .

۲: اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِن رَّبِّهٖ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ط كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَ رُسُلِهٖ قف لَانُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ قف . (آيَتْ ۲۸۵،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲) .

تَرْجَمَهْ:- دغه رَسُوْلْ (حضرت مُحَمَّدْ صَلَّي اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ) پر هغه شِي اِيْمَانْ راوړئ دئ چي دده وطَرَفْ ته دده د رَبْ لجانِب څخه نَازِلْ سوئ دئ، او (دده سره) ټولو مُسْلْمَانَانُوْ هم، دُوي ټولو پر اَللّٰهْ باندي، دهغه پر فَرِشْتُوْ باندي، دهغه پر کِتَابُوْ باندي، او دهغه پر رَسُوْلَانُوْ باندي اِيْمَانْ راوړئ دئ، (دُوي وائي چي) موږ دهغه د رَسُوْلَانُوْ تر مينځ هيڅ فَرْقْ (په نَفْسِ رِسَالَتْ کي/ يا دځان څخه هسي فَرْقْ/ يا چي دهغه بَل نَبِي تَوْهِيْن په رَاځِي/ يا چي پر بعضورَسُوْلَانُوْ باندي اِيْمَانْ راوړو او پر بعضو يې نه راوړو، داډول فَرْقْ) نَه کوو .

۳: قُوْلُوْٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَمَآ اُنْزِلَ اِلٰٓى اِبْرٰهٖمَ وَ اِسْمٰعِيْلَ وَ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ وَمَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى وَعِيْسٰى وَمَآ اُوْتِيَ النَّبِيُّوْنَ مِنْ

رَّبِّهِمْ ج لَانُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ ز وَنَحْنُ لَه مُسْلِمُوْنَ . (آيَتْ ۱۳۶،سُوْرَةُ الْبَقَرَهْ ۲) .

تَرْجَمَهْ:- (مُسَلْمَانَانُوْ) ووایاست چي:،، موږ پر اَللّٰهْ باندي اِيْمَانْ راوړئ دئ، او پر هغه كَلَامْ هم كُوم چي پر موږ نَازِلْ سوئ دئ او پر هغه هم چي پر اِبْرَاهِيْمْ،اِسْمٰعِيْلْ، اِسْحَاقْ،يَعْقُوْبْ او د ذُوي پر اَولَادُو نَازِلْ سوئ دئ، او پر هغه هم چي و مُوْسٰي او عِيْسٰي ته ورکړل سوئ دئ، او پر هغه هم چي و نورو پيغَمْبَرَانُوْ ته د ذُوي د پَرْوَرْدِګَارْ لطرف ورکړل سوئ دئ، موږ دهغه پيغَمْبَرَانُوْ تر مينځ (په نَفْسِ نَبُوَّتْ کي) هيڅ فَرْقْ نَه کوو، او موږ دهغه (يَو خُدَائ) د فَرْمَانْ تَابِعْ يو،،

په دغه آيَتُوْ کي دئ چي پر ټولو اَنْبِيَآءْ باندي اِيْمَانْ سَاتَل ضروري دئ، كه نَه نو اِيْمَانْ نَه سي كَامِلْ كېدلائي .

## په قُرْآنْ کي د بعضو اَنْبِيَآءُ بَيَانْ سته د بعضو دا نَستَه

اَلْبَتَّهْ په يَوه حَدِيْثْ کي دئ چي اَللّٰهْ تَعَالٰي يَوْ لَکْ څلېروېښْتْ زَرَهْ (124000) (زِيَاتْ و كمْ) اَنْبِيَاءْ رَا اَستَوَل سوي دي، په هغه کي درې سوه پِنځَلَس (315) رَسُوْلَانْ دي .

د بعضو ذِكْرْ په قُرْآنْ کي راغلئ دئ، او د بعضو دا نَه دئ راغلئ، دَلِيْلْ يې دغه آيَتْ دئ

۴: وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ مِنْهُمْ مَّنْ قَصَصْنَا عَلَيْكَ وَمِنْهُمْ مَّنْ لَّمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ ط . (آيَتْ ۷۸،سُوْرَةُ الْمُؤْمِنْ ۲۳) .

تَرْجَمَهْ:- او حَقِيْقَتْ دادئ چي مُوږ ستا څخه مخکي هم ډېر پيْغَمْبَرَانْ اَستَوَلِي دي. دهغوي څخه بعض هغه دي چي وَاقِعَاتْ يې مُوږ تَا ته بَيَانْ کړي دي، او بعض هغه دي چي وَاقِعَاتْ يې مُوږ تَا ته نَه دي بَيَانْ کړي .

دا چي يَوْ لَکْ څلېروېښْتْ زَرَهْ (124000) (زِيَاتْ و كمْ) اَنْبِيَآءْ دُنْيَا ته راغلي دي، دهغه دَلِيْلْ دغه حَدِيْثْ دئ

عَنْ اَبِیْ اُمَامَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) فِی الْمَسْجِدِ جَالِسًا ..... قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ كَمْ وَفِی عِدَّةُ الْاَنْبِيَآءِ؟ قَالَ:- مِائَةُ اَلْفٍ وَ اَرْبَعَةٌ وَّ عِشْرُوْنَ اَلْفًا، اَلرُّسُلُ مِنْ ذٰلِكَ ثَلَاثُ مِائَةٍ وَّ خَمْسَ عَشَرَ جَمًّا غَفِيْرًا .

(مُسْنَدِ اَحْمَدْ،كِحَدِيْثُ اَبِیْ اُمَامَةَ الْبَاهِلِیُّ الصَّدِی، ج: ۷، ص: ۳۵۶، نَمْبَرْ ۲۱۷۸۵/۲۲۲۸۸/طَبْرَانِیْ كَبِيْرْ، مُسْنَدُ مَعَانْ بن رِفَاعَةَ السَّلَامِیِّ،عَنْ عَلِیٍّ ، ج: ۸، ص: ۲۱۷، نَمْبَرْ ۷۸۷۱) .

**تَرْجَمَهْ**:- حضرت **اَبُوْ اُمَامَهْ اَلْبَاهِلِيْ** فرمائي چي **حُضُوْرْ** (ﷺ) په **مَسْجِدْ** كي **نَاسَتْ** وُو ..... **مَا يُوْبِنْتَنَهْ** ځيني وكړه **يَارَسُوْلَ اللّٰهْ** د **نَبِيَانُوْ تَعْدَادْ** څومره دئ؟ نو **حُضُوْرْ** (ﷺ) وفرمائل **يَوْ لَکْ څَلبرْوِشْتْ زَرَهْ**، په دي كي **رَسُوْلَانْ** دري سوه پِنځَلَس دي، چي يَو **غَټْ جَمَاعَتْ** دئ .

په دغه **حَدِيْثْ** كي دئ چي **اَللّٰهْ يَوْ لَکْ څَلبرْوِشْتْ زَرَهْ نَبِيَانْ** رَااَستَوَلِي دي، او په هغه كي دري سوه پِنځَلَس **رَسُوْلَانْ** دي .

## په دي كي څَلُور **غَټْ رَسُوْلَانْ** دي

په **اِسْلَامْ** كي دغه څَلُور **غَټْ رَسُوْلَانْ** ګڼل كيږي، او كُوم **كِتَابُوْنَهْ** چي پر دُوي **نَازِلْ** سوي دي هغه هم **غَټْ كِتَابُوْنَهْ** ګڼل كيږي

[١] حضرَت **مُوْسٰي عَلَيْهِ السَّلَامْ** .

[٢] حضرَت **عِيْسٰي عَلَيْهِ السَّلَامْ** .

[٣] حضرَت **دَاوُدْ عَلَيْهِ السَّلَامْ** .

[٤] حضرَت **مُحَمَّدْ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ** .

## د ټولو **نَبِيَانُوْ** په **دِيْنْ** كي دا وُو چي **اَللّٰهْ** يَو دئ

د ټولو **نَبِيَانُوْ** په **دِيْنْ** كي وُو چي **اَللّٰهْ** يَو دئ، او كُومي شپږ **خَبَرِيْ** چي په **اِيْمَانْ** كي ضروري دي [**اَللّٰهْ** يَو دئ، پر **فَرِشْتُوْ** باندي **اِيْمَانْ**، د **اَللّٰهْ** پر **كِتَابُوْ** باندي **اِيْمَانْ**، د **اَللّٰهْ** پر **رَسُوْلَانُوْ** باندي **اِيْمَانْ**، پر **آخِرَتْ** باندي **اِيْمَانْ**، تر مرګ وروسته پر رَاپُورتَه كېدو باندي **اِيْمَانْ**، او پر **تَقْدِيْرْ** باندي **اِيْمَانْ** رَاوړل] دغه دهغه حَضرَاتُو په **شَرِيْعَتْ** كي هم ضروري وُو، **اَلْبَتَّهْ** د دُوي د **شَرِيْعَتْ** په **اَحْكامَاتُوْ** كي **لَږْ لَږْ فَرْقْ** وُو، **مَثَلًا** د **لُمُوْنْځْ طَرِيْقَهْ جَلَا** وه، د **رُوْژُوْ تَعْدَادْ زِيَاتْ** و **كَمْ** وُو .

**دَلِيْلْ** يې دغه **آيَتُوْنَهْ** دي

**٥: لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَّمِنْهَاجًا** ط . (**آيَتْ ٤٨،سُوْرَةُ الْمَآئِدَةْ ٥**) .

**تَرْجَمَهْ**:- د تاسو څخه د هَر يَوه (**اُمَّتْ**) لپاره موږ يَو (**جَلَا**) **شَرِيْعَتْ** او **طَرِيْقَهْ مُقَرَّرَهْ** كړې ده .

**اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِن رَّبِّه وَالْمُؤْمِنُوْنَ ط كُلٌّ اٰمَنَ بِاللهِ وَمَلٰئِكَتِه وَكُتُبِه وَ رُسُلِه قف لَانُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِه قف . (آيَتْ ۲۸۵،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲) .**

**تَرْجَمَهْ:-** دغه رَسُوْلْ (یعني حضرت مُحَمَّدْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ) پر هغه شي اِيْمَانْ راوړیٔ دیٔ چي دده وطَرَفْ ته دده د رَبْ لجانِب څخه نَازِلْ سوئ دیٔ، او (دده سره) ټولو مُسْلْمَانَانُوْ هم، دُوي ټولو پر اَللهْ باندي، دهغه پر فَرِشْتُوْ باندي، دهغه پر كِتَابُوْ باندي، او دهغه پر رَسُوْلَانُوْ باندي اِيْمَانْ راوړیٔ دیٔ، (دُوي وائي چي) موږ دهغه د رَسُوْلَانُوْ تر مینځ هیڅ فَرقْ (په نَفْسِ رِسَالَتْ کي/ يا دځان څخه هسي فَرْقْ/ يا چي دهغه بَل نَبِي تَوْهِيْن په رَاځِي/ يا چي پر بعضورَسُوْلَانُوْ باندي اِيْمَانْ راوړو او پر بعضو يې نه راوړو، داډول فَرْقْ) نه کوو .

په دغه آيَتْ کي دیٔ چي د تېرو سوو ټولو اَنْبِيَآءُ په شَرِيْعَتْ کي هم د اَللهْ پر ټولو رَسُوْلَانُوْ، فَرِشْتُوْ، او پر ټولو كِتَابُوْ باندي اِيْمَانْ رَاوړل ضروري وُو .

**۱: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اَنَا اَوْلٰى النَّاسِ بِعِيْسٰى بِن مَرْيَمَ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ، وَالْاَنْبِيَآءُ اِخْوَةٌ لِعَلَّاتٍ، اُمَّهَاتُهُمْ شَتّٰى، وَ دِيْنُهُمْ وَاحِدٌ .**

**(بُخَارِىْ شَرِيْفْ،كِتَابُ اَحَادِيْثُ الْاَنْبِيَآءْ،بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالٰى[ اِذْ قَالَتِ الْمَلٰئِكَةُ يٰمَرْيَمُ اِنَّ اللهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ اسْمُهُ الْمَسِيْحُ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ] ... (آيَتْ ۴۵،سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳)... ،ص: ۵۸۰ ، نَمْبَرْ ۳۴۴۵)**

**تَرْجَمَهْ:-** حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل زَهْ په دُنْيَا او آخِرَتْ کي و عِيْسٰى اِبْن مَرْيَمْ ته ډېر نژدې یَم، ټولَ نَبِيَانْ په پَلَارْ سره وُرُوْنَهْ دي، د دُوي مُوْرْ جَلَا جَلَا ده او دِيْنْ يې يَو دیٔ .

په دغه آيَتْ او حَدِيْثْ کي دیٔ چي د ټولو نَبِيَانُوْ دِيْنْ يَو دیٔ، اَلْبَتَّهْ جُزْئِيْ اَحْكَامَاتْ يې سره جَلَا جَلَا دي .

## اُوس پر حُضُوْرْ (ﷺ) باندي اِيْمَانْ رَاوړل ضروري دیٔ

اَلْبَتَّهْ د حُضُوْرْ د تَشرِيف رَاوړلو وروسته پر حُضُوْرْ (ﷺ) باندي اِيْمَانْ رَاوړل ضروري دیٔ، او نِجَاتْ صِرف په دي کي دیٔ چي پر حُضُوْرْ (ﷺ) باندي اِيْمَانْ رَاوړل سي،

دَلَائِلْ يې دغه آيَتُوْنَه دي

**۶: اِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللهِ الْاِسْلَامُ قف . (آيَتْ ۱۹،سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳) .**

**تَرْجَمَهْ:-** ببشَكَّهْ (مُعْتَبَر/ مَقْبُوْلْ/ خُوښْ) دِيْن خو د اَللهْ په نېز (خَالِصْ) اِسْلَامْ دیٔ .

**۷: وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ ج . (آيَتْ ۸۵،سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳) .**

تَرْجَمَهْ:- څوک چي د اِسْلَامْ بغيره بَل دِيْن اِخْتِيَارَوِئْ، نو دهغه څخه به هغه دِيْنْ نـه قبلېږي .

۸: وَ رَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا ط . (آيَتْ ۳،سُوْرَةُ الْمَآئِدَةْ ۵) .

تَرْجَمَهْ:- او ستاسو لپاره مِي اِسْلَامْ د دِيْنْ په حَيْثْ (دهمېشه لپاره) خُوَښْ كړئ دئ .

۹: ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِه۪ وَلَتَنْصُرُنَّه۪ ط .

(آيَتْ ۸۱،سُوْرَةُ آل عِمْرَانْ ۳) .

تَرْجَمَهْ:- بيا به تاسو ته يَو رَسُوْلْ راسي، چي ددې (كِتَابْ) تَصْدِيْقْ كونكئ وي كُوم چي ستاسو سره موجود دئ، نو تاسو به پر هغه باندي ضرور اِيْمَانْ راوړئ، او ضرور به دهغه مَرسته كوئ .

په دغه آيَتْ كي دئ چي پر حُضُوْرْ (ﷺ) باندي اِيْمَانْ رَاوړل ضروري دئ، او چي اِسْلَامْ رَاوړي نو نِجَاتْ مُوندَلائي سي .

۱: عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ (ﷺ) اَنَّهُ قَالَ وَالَّذِىْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِه۪! لَايَسْمَعُ بِىْ اَحَدٌ مِّنْ هٰذِهِ الْاُمَّةِ يَهُوْدِىٌّ وَلَانَصْرَانِىٌّ، ثُمَّ يَمُوْتُ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِالَّذِىْ اُرْسِلْتُ بِه۪ اِلَّا كَانَ مِنْ اَصْحٰبِ النَّارِ .

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْاِيْمَانْ، بَابُ وُجُوْبُ الْاِيْمَان بِرِسَالَةِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ اِلٰى جَمِيْعِ النَّاسِ وَنَسْخُ الْمِلَلِ بِمِلَّتِه۪، ص: ۷۶ ، نَمْبَرْ ۱۵۳ / نَمْبَرْ ۳۸۶)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل، د كُوم ذَا په قَبْضَهْ كي چي د مُحَمَّدْ جَانْ (ژُوَنْدْ) دئ ددغه اُمَّتْ څخه چي هسي څوک يَهُوْدِئْ وي يَا نَصْرَانِئْ زَمَا په اړه وَاوري، او كُوم رِسَالَتْ چي مَا رَاوړئ دئ پر هغه اِيْمَانْ نَه رَاوړي، او هغه مَر سي نو هغه به دُوْزَخْ ته ځِي .

## يَوَه نَبِيْ ته پر بَل نَبِيْ باندي ډېر فَضِيْلَتْ وَركوَل صَحِيْحْ نَه دئ

يَو نَبِيْ د بَل نَبِيْ په مُقَابِلْ كي دُومرَه لُوَړَوَل جَوَازْ نَه لري چي دهغه څخه د بَل نَبِيْ په مَقَامْ او مَرْتَبَهْ كي تَوْهِيْنْ رَاسِي

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دي

**۲**: سَمِعَ عُمَرُ يَقُوْلُ عَلَى الْمَنْبَرِ سَمِعْتُ النَّبِيَّ (ﷺ) يَقُوْلُ لَاتَطْرُوْنِيْ كَمَا اَطْرَتِ النَّصَارٰى اِبْنَ مَرْيَمَ فَاِنَّمَا اَنَا عَبْدُهُ فَقُوْلُوْا عَبْدَاللهِ وَ رَسُوْلَهُ .
(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،اَحَادِيْثُ الْاَنْبِيَآءْ،بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالٰى[ وَ اذْ كُرْ فِي الْكِتٰبِ مَرْيَمَ اِذِ انْتَبَذَتْ مِنْ اَهْلِهَا] ... (آيَتْ ۱۶،سُوْرَةُ مَرْيَمْ ۱۹)... ، ص: ۵۸۰ ، نَمْبَرْ ۳۴۴۵)
تَرْجَمَهْ:- حضْرَتْ عُمَرْ وفرمائل چي پر مَنْبَرْ وَلاړْ د حُضُوْرْ څخه مَا دا اَورِېدَلِي دي، چي مَا په تَعْرِيْفْ کي تر حَدْ مه زِيَاتَوَئ لکه څنګه چي حضرت عِيْسٰي بِن مَرْيَمْ زِيَاتْ کړئ وُو، زَهْ د اَللهْ بَنْدَهْ يم، نو څکه د اَللهْ بَنْدَهْ او د اَللهْ رَسُوْلْ (رَاتَه) وَايَاست .
په دغه حَدِيْثْ کي دئ لکه څنګه چي نَصَارٰي حضرت عِيسٰي عَلَيْهِ السَّلَامْ ډېر زِيَاتْ لوړ کړئ وُو، تاسو هم مَا ډُومره زِيَاتْ مه لوړوَئ .

## د ځلورو غَتُّوْ كِتَابُوْ ذِكْرْ په قُرْآنْ کي سوئ دئ

هسي خو اَللهْ تَعَالٰي پر رَسُوْلَانُوْ باندي ډېر كِتَابُوْنَهْ نَازِلْ کړي دي، لېکن ځلور غَتْ كِتَابُوْنَهْ دي چي پر ځلورو غَتُّوْ رَسُوْلَانُوْ باندي نَازِلْ سوي دي قُرْآنِ مَجِيْدْ پر حضرت مُحَمَّدْ (ﷺ) باندي، تَوْرٰةْ پر حضرت مُوْسٰي عَلَيْهِ السَّلَامْ باندي، زَبُوْرْ پر حضرت دَاوُدْ عَلَيْهِ السَّلَامْ باندي، اِنْجِيْلْ پر حضرت عِيْسٰي عَلَيْهِ السَّلَامْ باندي، او څه صَحِيفي پر حضرت اِبْرَاهِيْمْ عَلَيْهِ السَّلَامْ باندي .

## قُرْآنْ پر حُضُوْرْ (ﷺ) باندي نَازِلْ سوئ دئ

دهغه ذِكْرْ په دغه آيَتْ کي دئ
**۱۰**: مَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لِتَشْقٰٓى ۙ . (آيَتْ ۲،سُوْرَةُ طٰهٰ ۲۰) .
تَرْجَمَهْ:- مُوږ پر تَا باندي ددې لپاره قُرْآن نه دئ نَازِلْ کړئ چي ته تَكْلِيْفْ بَرْدَاشْتْ کړې .
په دغه آيَتْ کي د قُرْآنْ د نَازِلېدُو بَيَانْ سوئ دئ .

## تَوْرٰةْ پر حضرت مُوْسٰي عَلَيْهِ السَّلَامْ باندي نَازِلْ سوئ دئ

دهغه ذِكْرْ په دغه آيَتْ کي دئ
**۱۱**: اِنَّآ اَنْزَلْنَا التَّوْرٰىةَ فِيْهَا هُدًى وَّنُوْرٌ ۚ . (آيَتْ ۴۴،سُوْرَةُ الْمَآئِدَةْ ۵) .
تَرْجَمَهْ:- بېشَکَّهْ مُوږ تَوْرَاةْ نَازِلْ کړئ وُو چي په هغه کي هِدَايَتْ وُو او نُوْرْ وُو .
په دغه آيَتْ کي د تَوْرَاةْ ذِكر سوئ دئ .

## اِنْجِيْلْ پر حضرت عِيسٰى عَلَيْهِ السَّلَامْ باندي نَازِلْ سوئ دئ

دهغه ذِكْرْ په دغه آيَتْ كي دئ

١٢: وَ اٰتَيْنٰهُ الْاِنْجِيْلَ فِيْهِ هُدًى وَّنُوْرٌ ۙ وَّمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ .

(آيَتْ ٤٦،سُوْرَةُ الْمَآئِدَةْ ٥) .

تَرْجَمَهْ:- او موږ ده ته اِنْجِيْلْ وركړئ چي په هغه كي هِدَايَتْ ؤو او نُوْرْ ؤو، او ګوم چي دخپل ځخه مَخكنِي كِتَابْ يعني تَوْرَاةْ تَصْدِيْقْ كونكئ ؤو .

په دغه آيَتْ كي د اِنْجِيْلْ ذِكر سوئ دئ .

## زَبُوْرْ پر حضرت دَاوُدْ عَلَيْهِ السَّلَامْ باندي نَازِلْ سوئ دئ

دهغه ذِكْرْ په دغه آيَتْ كي دئ

١٣: وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ النَّبِيّنَ عَلٰى بَعْضٍ وَّ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا .

(آيَتْ ٥٥،سُوْرَةُ بَنِیْ اِسْرَآئِيْلْ ١٧) .

تَرْجَمَهْ:- او مُوږ بَعضو نَبِيَانُوْ ته پر بعضو نَبِيَانُوْ باندي فَضِيْلَتْ وركړئ دئ، او مُوږ دَاوُدْ ته زَبُوْرْ وركړئ ؤو .

١٤: اِنَّآ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ كَمَآ اَوْحَيْنَآ اِلٰى نُوْحٍ وَّالنَّبِيّنَ مِنْۢ بَعْدِهٖ ۚ اَوْحَيْنَآ اِلٰى اِبْرٰهِيْمَ وَ اِسْمٰعِيْلَ وَ اِسْحٰقَ وَ يَعْقُوْبَ وَ الْاَسْبَاطِ وَ عِيْسٰى وَ اَيُّوْبَ وَ يُوْنُسَ وَ هٰرُوْنَ وَ سُلَيْمٰنَ ۚ وَ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا ۚ (آيَتْ ١٦٣،سُوْرَةُ النِّسَآءْ ٤) .

تَرْجَمَهْ:- (اِئ پيغَمْبَرَهْ!) مُوږ تَا ته دغه رنګه وَحِیْ كړي دي لكه ځنكه چي نُوْحْ او دهغه وروسته نُورُو نَبِيَانُوْ ته مو كړي وې، او مُوږ اِبْرَاهِيْمْ،اِسْمَاعِيْلْ،اِسْحَاقْ،يَعْقُوْبْ او دهغه و اَوْلَادْ ته، او عِيْسٰی،اَيُّوْبْ،يُوْنُسْ،هَارُوْنْ او سُلَيْمَانْ ته هم وَحِیْ كړي وې، او موږ وَ دَاوُدْ ته زَبُوْرْ وركړئ ؤو .

په دغه دُو آيَتُوْ كي د زَبُوْرْ ذِكر سوئ دئ .

## نور هم ډېر كِتَابُوْنَهْ نَازِلْ سوي دي

په دغه آيَتُوْ كي د نورو ډېرو كِتَابُوْ د نَازِلېدُو بَيَانْ سوئ دئ

١٥: قُلْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَمَآ اُنْزِلَ عَلٰى اِبْرٰهِيْمَ وَ اِسْمٰعِيْلَ وَ اِسْحٰقَ وَ يَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ وَمَآ اُوْتِیَ مُوْسٰى وَعِيْسٰى وَالنَّبِيُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ ۖ لَانُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ ۫ وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ . (آيَتْ ٨٤،سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ٣) .

**تَرْجَمَهْ**:- **وَوَایَهْ** چي ,, مُوږ **اِیْمَانْ** راوړئ دئ پر **اَللّٰهْ** او کُوم (**کِتَابْ**) چي پر مُوږ **نَازِلْ** سوئ دئ پر هغه باندي، او پر هغه (**هِدَایَتْ**) باندي چي پر **اِبْرَاهِیْمْ،اِسْمٰعِیْلْ،اِسْحٰقْ، یَعْقُوْبْ** او (دده) پر **اَوْلَادْ** باندي د دُوي د **پَرْوَرْدِگَارْ** لطرف څخه **نَازِلْ** سوئ دئ، او پر هغه **خَبَرُوْ** باندي چي **مُوْسٰي عِیْسٰي** او نُورو **پیغَمْبَرَانُوْ** ته ورکړلي سوي دي، موږ ددغه (**پیغَمْبَرَانُوْ**) تر مینځ هیڅ **فَرْقْ** نَه کوو، او موږ دهغه (یوه **اَللّٰهْ**) په مخکي **سَرْ تِیْتْ** کړئ دئ ,,

**۱۶**: **وَ اَنْزَلْنَآ اِلَیْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَیْنَ یَدَیْهِ مِنَ الْكِتٰبِ وَمُهَیْمِنًا عَلَیْهِ** .

(**آیَتْ ۴۸**،**سُوْرَةُ الْمَآئِدَةْ ۵**) .

**تَرْجَمَهْ**:- او (ائ **رَسُوْلِ مُحَمَّدْ! صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمْ**) مُوږ پر **تَا** باندي هم د **حَقْ** څخه ډَک **کِتَابْ نَازِلْ** کړئ دئ چي تر خپل مَخکنِي **کِتَابُوْ تَصْدِیْقْ** کوي او دهغه **نِگَهبَانْ** دئ .

**۱۷**: **اِنَّ هٰذَا لَفِی الصُّحُفِ الْاُوْلٰی ۙ صُحُفِ اِبْرٰهِیْمَ وَمُوْسٰی** .

(**آیَتْ ۱۸/ ۱۹**، **سُوْرَةُ الْاَعْلٰی ۸۷**) .

**تَرْجَمَهْ**:- دغه **خَبَرَهْ یَقِیْنًا** په تېرو (**آسْمَانِيْ**) **صَحِیْفُوْ** کي هم لِیکلې ده، د **اِبْرَاهِیْمْ** او د **مُوْسٰي** په **صَحِیْفُوْ** کي هم لِیکلې ده.

په دغه **آیَتُوْ** کي د نورو **کِتَابُوْ** د نَازِلېدُو ذِکر سوئ دئ .

## **۱۶**: د **رَسُوْلُ اللّٰهْ** (ﷺ) بې **اِحْتِرَامِيْ**

ددغه عَقِیدې په اړه **۳ آیَتُوْنَهْ** او **۲ حَدِیْثُوْنَهْ** دي، تاسو د هر یوه **تَفْصِیْلْ مُلَاحَظَهْ** کئ

د **رَسُوْلْ** د **گُسْتَاخِيْ** (بې اَدَبئ) درې **صُوْرَتُوْنَهْ** دي

[**۱**] چي **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته په ډَاګه **بِنکنْځَا** کوي، او چي **یُوْهْ** یې کې هم نَه **مَنْعَ** کېږي .

[**۲**] په ډَاګه خو **بِنکنْځَا** نَه ورته کوي، لېکن دارنګه **جُمْلَهْ اِسْتِعْمَالَوِيْ** چي په هغه سره د **حُضُوْرْ** (ﷺ) **تَوْهِیْنْ** کېږي .

[**۳**] سړئ خو **مُسَلْمَانْ** دئ، ده یَوَه **مُبْهَمَّهْ جُمْلَهْ اِسْتِعْمَالْ** کړې ده، اُوس د **بَلْ مَسْلَکْ** خلګو، یا د بَل **مَذْهَبْ** خلګو هغه **جُمْلَهْ** نِیمَئ او **نَاقِصَّهْ** کړه، **مَخْتَهْ** او **شَاتَه** کړه دارنګه **مَطْلَبْ** یې خِینِي رَاوَیَاستَئ چي ګواکه ده د **حُضُوْرْ** (ﷺ) په **شَانْ** کي **گُسْتَاخِيْ** او **تَوْهِیْنْ** کړئ دئ .

[۴] په يَو كُفْرِيْ مُلک کي وسيږي هلته يَو غَيْر مُسْلِمْ وګړي دارنګه حَرَكَتْ وکئ چي په هغه سره د حُضُوْرْ (ﷺ) تَوْهِيْنْ کيږي، نو اُوس به څَه کوي؟ تاسو مَختَه د هر يَوَه تَفْصِيْلْ ته نَظَرْ (مُتَوَجَّهْ) سئ .

## د رَسُوْلُ اللهْ (ﷺ) بې اِحْتِرَامِيْ ډېر غَتْ وَبَالْ لري

حُضُوْرْ (ﷺ) ته ښکنځَا کول ډېر وَبَالْ او ګُنَاهْ لري، بلکه هسي يَو نَبِيْ ته ښکنځَا کول غَتَّهْ ګُنَاهْ ده، ددې څخه اِيْمَانْ سَلَبْ کيږي .

په قُرْآنْ کي د نَبِيَانُوْ د عِزَّتْ کولو او د دُوي د اِطَاعَتْ کولو ډېر تَاكِيْدْ راغلئ دئ .

ددې لپاره دَلِيْلْ دغه آيَتُوْنَهْ دي

۱: اِنَّ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ اللهَ وَ رَسُوْلَه لَعَنَهُمُ اللهُ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَ اَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُّهِيْنًا . (آيَتْ ۵۷ ،سُوْرَةُ الْاَحْزَابْ ۳۳) .

تَرْجَمَهْ:- کُوم خلک چي اَللهْ او دهغه و رَسُوْلْ ته تَكْلِيْفْ رَسَوِي، اَللهْ په دُنْيَا او آخِرَتْ کي پر هغوي لَعْنَتْ کړئ دئ، او د دُوي لپاره دارنګه عَذَابْ تَيَّارْ کړئ دئ چي ذَلِيْلْ کړي به پرېږدي

۲: يٰٓاَ يُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْٓا اَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوْا لَه بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُكُمْ وَ اَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ . (آيَتْ ۲ ،سُوْرَةُ الْحُجُرَاتْ ۴۹) .

تَرْجَمَهْ:- ائ مُؤْمِنَانُوْ ! خپل آوَازُوْنَهْ د نَبِيْ تر آوَازْ مَه لُوړَوَئ، او مَه د ده سره د خَبَرُوْ کولو په دَوْرَانْ کي دارنګه په زُورَه ګاييږئ لکه څنګه چي تاسو يَوْ د بَلْ سره په زُوْرَهْ ګاييږئ، دا سي نَه چي ستاسو اَعْمَالْ بَرْبَادْ سي، او تاسو خَبَرْ هم نَه ياست.

۳: لِّتُؤْمِنُوْا بِاللهِ وَ رَسُوْلِه وَتُعَزِّرُوْهُ وَتُوَقِّرُوْهُ ط وَتُسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّ اَصِيْلًا . (آيَتْ ۹ ،سُوْرَةُ الْفَتْحْ ۴۸) .

تَرْجَمَهْ:- چي (ائ خلکو!) تاسو پر اَللهْ او دهغه پر رَسُوْلْ باندي اِيْمَانْ راوړئ، او دهغه مَدَدْ وکئ، او دهغه تَعْظِيْمْ وکئ، او سَهَارْ و مَابِنَامْ د اَللهْ تَسْبِيْحْ کوئ.

په دغه آيَتُوْ کي تَاكِيْدْ کړئ دئ چي د حُضُوْرْ اَدْنٰي (لَږْ څَه) ګُسْتَاخِيْ هم مَه کوئ، بلکه هر وَخْتْ دده لپاره بَايَدْ د تَعْظِيْمْ جُمْلَهْ اِسْتِعْمَالْ سي، د نَبِيْ او رَسُوْلْ ګُسْتَاخِيْ خو ليري خَبَرَهْ ده، د صَحَابِيْ ګُسْتَاخِيْ هم جَوَازْ نَه لري، هغه هم ډېره غَتَّهْ ګُنَاهْ ده .

[۱] چي **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته په ډَاګه (**وَاضِحْ لَفْظْ**) **ښکنْځَا** کوي، او چي **پُوْهْ** يې کې هم نَه **مَنْعْ** کيږي .

**اَوَّلْ صُوْرَتْ** :- **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته په ,, **ډَاګهْ ښکنْځَا** ,, کوي او چي **پُوْهْ** يې کې هم ددغه **عَمَلْ** څخه نَه **مَنْعَ** کيږي، نو اُوس دغه کس **کافِرْ** او **مُرْتَدْ** سو، ځکه چي د **اِيْمَانْ** د شيې **اَجْزَاءُ** څخه يَو پر **رَسُوْلْ** باندي **اِيْمَانْ** رَاوړل هم دئ، او چي ده و **رَسُوْلْ** ته **ښکنْځَا** وکړه نو اُوس پر **رَسُوْلْ** باندي دده **اِيْمَانْ** نَه سو پاته، نو ځکه دئ **مُرْتَدْ** سو اُوس به دئ **وَژَلْ** کيږي .

**مَا** ,, په **ډَاګهْ ښکنْځَا** ,, يعني په **وَاضِحُوْ ټکُوْ لَفْظْ** په کُومَه **وَجْهَ اِسْتِعْمَالْ** کئ؟ دا مِي دې **وَجْهَ اِسْتِعْمَالْ** کئ چي **زمَا** په مَخکِي بعض **کِتَابُوْنَهْ** راغلي دي، په هغه کي مُو لِيدَلِي دي چي د **يَوْ مَسْلَکْ** خلګو د **بَلْ مَسْلَکْ** د خلګو د **کِتَابْ** څخه **عِبَارَتْ** اَخستئ دئ، بيايې په هغه کي **مَخْ شَا** ته تېرئ کړئ او دا **مَطْلَبْ** يې ځِينِي اَخستئ دئ چي دُوي خو د **حُضُوْرْ** (ﷺ) په **شَانْ** کي **ګُسْتَاخِيْ** کړې ده، او دغه شِي ته يې دُومرَه **زيَاتْ تَشْهِيْرْ** ورکئ چي خلګو ته دهغه **يَقِيْنْ** راغلئ چي ددغه **مَسْلَکْ** خلګ خو **ګُسْتَاخْ رَسُوْلْ** دي، او دا خو **کافِرَانْ** دي، او د دُوي په اړه تر دې **حَدَّهْ** پُورِي **ګډِّي وَډِّي خَبَرِيْ** وَلِيکلې چي څوک د دُوي په **کُفْرْ** کي **شَکْ** وکي هغه هم **کافِرْ** دئ

[**وَمَنْ شَكَّ فِيْ كُفْرِه وَعَذَابِه كَفَرَ**]

(**دُرِّ مُخْتَارْ**، **کِتَابُ الْجِهَادْ**، **بَابُ الْمُرْتَدِّ**، **مَطْلَبٌ مُهِمٌّ**: **فِيْ حُكْمِ سَابِّ الْاَنْبِيَآءِ**، **ج**: **۶**، **ص**: **۳۵۷**)

**تَرْجَمَهْ**:- چي څوک ددغه **ښکنْځَا** کونکو په **کُفْرْ** کي او دهغه په **عَذَابْ** کي **شَکْ** کوي، هغه هم **کافِرْ** دئ .

**مَا** دهغه **مَسْلَکْ** د خلګو څخه **پُوښْتَنَهْ** وکړه، او دهغوي **کِتَابُوْنَهْ** مِي وَکتَل نو **مَعْلُوْمْ** سو چي دهغه **مَسْلَکْ** خلګ **قَطْعًا** د **حُضُوْرْ** (ﷺ) **ګُسْتَاخِيْ** او **بې اَدَبِيْ** نَه کوي، او نَه هغه **مُصَنِّفْ** کُومَه **ګُسْتَاخِيْ** کړې ده، **اَلْبَتَّهْ** بعض هغه **خَبَرِيْ** چي په **آيَتْ** او **حَدِيْثْ** کي نَستَه، او دهغه بَل **مَسْلَکْ** خلګ غُوَاړي چي په دُوي دغه **خَبَرِيْ** وَمَنِي، لېکن هغه خو په **حَدِيْثْ** کي نَستَه، نو ځکه **مُصَنِّفْ صَاحِبْ** هغه **خَبَرِيْ** نَه مَنِي، بَس په دغه **وَجْهَ** د هغه بَل **مَسْلَکْ** خلګو

**يُرُوْيَاګَنْډَهْ** خُوَرَه کړې ده، او هغه ته يې **ګُسْتَاخِ رَسُوْلْ** وَيَلِي او **کَافِرَانْ** کړي يې دي، **حَتّٰى** چي په خپلو **کِتَابُوْ** کي يې په هغوي پَسِي وَلِيکل

,, چي څوک د دُوي په **کُفْرْ** کي **شَکْ** وکي هغه هم **کَافِرْ** دئ ,, .

اُوس تاسو په خپله **اِنْصَافْ** وکئ چيري و **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته **بِنکنْځَا** کول؟ او چيري دا چي يَوَه **خَبَرَهْ** د **قُرْآنْ** و **حَدِيْثْ** څخه **خِلَافْ** ده د بَل **مَسْلَکْ** د خلګو هغه **خِلَافِ قُرْآنْ** و **حَدِيْثْ خَبَرَهْ** نه مَنَل؟ په دغه دُوُو **خَبَرُوْ** کي څومره **غَټْ فَرْقْ** دئ؟ ددغه **فَتْوٰي** لکبله د **مُسْلَمَانَانُوْ** يو **غَټْ جَمَاعَتْ** دُوې ټوټې سو .

په دغه **وَجْهَ زَهْ** په خپل **عُنْوَانْ** کي دا **قَيْدْ** لګومه چي و **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته په **وَاضِحُوْ اَلْفَاظُوْ** سره **بِنکنْځَا** کوي او چي **يُوْهْ** يې کې نو هم يې نَه مَنِي نو بيا هغه کس **مُرْتَدْ** ګرزي، دا چي د يوې **سَرْ** د بَلِي **يُبْنِي** وي يعني **عِبَارَتْ نَامُکَمَّلْ** راوَاخلِي او مَختَه شَا ته نَه ګُوري هسي يَو څوک په دغه **طَرِيْقَهْ** سره **ګُسْتَاخِ رَسُوْلْ** ګرزول او بيا د **کُفْرْ ټَاپَهْ** پر وَهَل، په دې سره څوک نَه **کَافِرْ** کيږي .

**دُوَيَمْ مِثَالْ** دادئ چي:-

په **اَخْبَارُوْ** او **ټيْلِيوِيژَنْ** کي راغلو چي يَو **ځُوَانْ** په **کَالَجْ** کي **سَبَقْ** وَايَه، دهغه د خُولې څخه يَوَه **خَبَرَهْ** وَوَتلَه، دده دا **مَقْصَدْ** نَه وُو چي و **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته **بِنکنْځَا** کوي، او نَه يې دهغه **ګُسْتَاخِيْ** کول **مَقْصَدْ** وُو، لېکن دده مَلګرو دده د **خَبَرُوْ** څخه دا **مَطْلَبْ** رَاوَيَاستَئ چي ده خو د **حُضُوْرْ** (ﷺ) **ګُسْتَاخِيْ** وکړه، اُوس دغه **طَالِبِ عِلْمْ** (د **کَالَجْ** لُوَستُونکئ) **بَارْ بَارْ** دا **اِنْکَارْ** کوي چي **زَمَا** هيڅ کله دا **مَقْصَدْ** نَه وُو چي **زَهْ** د **حُضُوْرْ** (ﷺ) **ګُسْتَاخِيْ** وکم، لېکن مَلګرُو يې يَوَه هم نَه وَاوُرېدَله، او دئ يې وَاهَئ وَاهَئ **حَتّٰى** چي دئ يې وَوَاژَئ، **مِيْډِيَا** دغه وَاقِعې ته ډېر **زِيَاتْ تَشْهِيْرْ** ورکئ، او نورو **قَوْمُوْ** ته يې دا **تَأَثُّرْ** ورکئ چي **مُسْلَمَانَانْ** خو ډېر **سَخْتْ** وي، او پر **مَعْمُوْلِيْ مَعْمُوْلِيْ خَبَرَهْ** باندي **مُسْلَمَانَانْ** هم **قَتْلْ** کوي، ددغه **مَذْهَبْ** خلګ دُومرَه **خَرَابْ** دي، او دغه **خَبَرَهْ** په **يُوْرَپِيْ مَلْکُوْ** کي څو څو **مِيَاشْتِيْ** ګزېدَه .

نو ځکه **زَمَا** دا ګُزَارَش دئ چي تر څو **صَافْ صَافْ** دا **مَعْلُوْمْ** سوي نَه وي چي **وَاقِعَهْ** ده په **قَصْدًا** و **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته **بِنکنْځَا** کړې ده **يَا** يې د **حُضُوْرْ** (ﷺ) **ګُسْتَاخِيْ** کړې ده، تر هغه **وَخْتَهْ** پر دغه کس **بَايَدْ** د **کُفْرْ فَتْوٰي** وَنَه لګيږي، ددې څخه ډېر **اِنْتِشَارْ** او **ګډْ وَډَئ** رَامِينځ ته کيږي، او په خپله **مُسْلَمَانَانْ** په دُو ډلُو کي **تَقْسِيْمْ** کيږي، بيا **يَوْ** په **بَلْ** پَسِي **لُمُوْنْځْ** هم نَه کوي .

**دَرَيَمْ مِثَالْ** دادئ چي:-

د يَوه مَسْلَکْ خلک د اَهْلِ بَيْتْ ډېر اِحْتِرَامْ کوي، دهغوي مُحَبَّتْ د خپل اِيْمَانْ جُزْءْ ګڼي، هغه پر خپل سَرْ کښېنوِي، دهغوي په اړه د اَدْنٰي تَوْهِيْنْ هم نَه دي قَائِلْ .

لېکن د بَل مَسْلَکْ د خلکو دا ګُمَانْ دئ چي لکه څنګه اِحْتِرَامْ چي مُوږ کوو دغه رنګه اِحْتِرَامْ دُوي نَه کوي، يا اَهْلِ بَيْتْ دغه رنګه نَه مَنِي لکه څنګه چي يې مُوږ مَنُو، اُوس په دغه وَجْهَ دُوي کَافِرَانْ ګڼي، د اَهْلِ بَيْتْ ګُسْتَاخَانْ يې ګڼي، او په دُوي پسي لَمُوْنْځْ هم نَه کوي .

نو ددغه رنګه اِلْزَامَاتْ لکبله هغه مُرْتَدْ نَه ګرزي، او هغه وَاجِبُ الْقَتْلْ نَه ګرزي، بلکه دا تَحْقِيْقْ ګول ضروري دئ چي دُوي وَاقِعَةً حُضُوْرْ ته ښکنځَا کوي، يا د هغه ګُسْتَاخِيْ کوي، او په پُوهېږي هم په قَصْدًا دغه رنګه کوي، نو بيا خو مُرْتَدْ ګرزي، نو ځکه مَا په عُنْوَانْ کی دا وَلِيکل چي: دئ و حُضُوْرْ ته په وَاضِحُوْ اَلْفَاظُوْ سره ښکنْځَا کوي او چي پُوْهْ يې کې هم نَه مَنْعَ کيږي، ځکه چي نَنْ سَبَا دغه رِوَاجْ شروع سوئ دئ چي که تَه زَمَا خَبَرَهْ نَه منې نو تَه ګُسْتَاخِ رَسُوْلْ يې، يا د اَهْلِ بَيْتْ ګُسْتَاخْ يې .

او ,, چي پُوْهْ يې کې هم نَه مَنْعَ کيږي ,, دغه قَيْدْ مِي په دې وَجْهَ وَلګاوَئ چي کله نَا کله يَو اِنْسَانْ جَاهِلْ وي ده ته مَعْلُوْمْ هم نَه وي چي په کُومَه جُمْلَهْ سره د حُضُوْرْ (ﷺ) په شَانْ کي ګُسْتَاخِيْ کيږي؟ نو ځکه دئ بَايَدْ اَوَّلْ پُوْهْ کي چي په دغه جُمْلَهْ سره ګُسْتَاخِيْ رَاځِي، او تَا دغه جُمْلَهْ وَيلې ده په دې سره د حُضُوْرْ (ﷺ) ګُسْتَاخِيْ سوې ده، اُوس د پُوْهْ کولو وروسته هم ګُسْتَاخِيْ کوي نو بيا دئ کَافِرْ شُمارَل کيږي .

## وَاضِحْ ښکنْځَا کونکئ به قَتْلْ کيږي

ددې دَلِيْلْ دغه حَدِيْثُوْنَهْ دي

١: حَدَّثَنَا اِبْنُ عَبَّاسٍ اَنَّ اَعْمٰی تَشْتِمُ النَّبِيَّ (ﷺ) وَتَقَعُ فِيْهِ فَيَنْهَا هَا فَلَاتَنْتَهِيْ وَيَزْجُرُهَا فَلَا تَنْزَجِرُ، فَلَمَّا كَانَتْ ذَاتَ لَيْلَةٍ جَعَلَتْ تَقَعُ فِي النَّبِيِّ (ﷺ) وَتَشْتِمُهُ فَاَخَذَ الْمِغْوَلَ فَوَضَعَهُ فِيْ بَطْنِهَا فَقَالَ النَّبِيُّ (ﷺ) اَ لَا اِشْهَدُوْا اَنَّ دَمَهَا هَدَرٌ .

(اَبُوْدَوُدْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْحُدُوْدْ،بَابُ الْحُكْمِ فِيْ مَنْ سَبَّ النَّبِيَّ (ﷺ) ،ص: ٦١٣، نَمبَرْ ٤٣٦١)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَبْدُ اللهْ اِبْنِ عَبَّاسْ فرمائي يَو په سترګو ړُوْنْدْ سړئ وُو چي وَ حُضُوْرْ (ﷺ) ته ښکنْځَاوِيْ کولې، او دده ته رَدْ و بَدْ وَيلَه، هغه يې مَنْعَ کئ، لېکن هغه مَنْعَ نَه سو، هغه يې وَتَرَتِيْ (خُشْکَهْ يې ورته وکړه) لېکن هغه هيڅ خَبَرَهْ وَنَه مَنَل، يَوه شپَهْ دارنګه وُو چي ده د حُضُوْرْ (ﷺ) بې اَدَبِيْ کوله، او حُضُوْرْ (ﷺ) ته يې ښکنْځَاوِيْ

کولي، نو يَوَه چَاړَهْ يې وَاخستَله او دده پـه نَسْ يـې وَرننَيَستَله ..... نـو حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل چي خلګو ګوَاهْ وُسَئ، دده وِيْنَهْ مَعَافْ ده [يعني دغه چي دئ يې وَژَلـئ دئ پـر هغه باندي قِصَاصْ نَستَه] .

په دغه حَدِيْثْ کي ,, فَيَنْهَا هَا فَلَاتَنْتَهِيْ وَيَزْجُرُهَا فَلَا تَنْزَجِرُ ,,

تَرْجَمَهْ:- ,,هغه يې مَنْعَ کئ، لېکن هغه مَنْعَ نَه سو، هغه يې وَتَرَتَئ (خُشْکهْ يې ورته وکړه) لېکن هغه هيڅ خَبَرَهْ وَنَه مَنَل،، څخه دا هم مَعْلُوْمْ سو چي ښکنْځَا کونکئ مَنْعَ کې بيا هم مَنْعَ نَه سي نو بيا هغه کافِرْ، او مُرْتَدْ ګرزي، په کُوم مُبْهَمْ لَفْظْ يا جُمْلي څخه نَه مُرْتَدْ کيږي .

۲: عَنْ عَلِيّ اَنَّ الْيَهُوْدِيَّةَ كَانَتْ تَشْتِمُ النَّبِيَّ (ﷺ) وَتَقَعُ فِيْهِ فَخَنَقَهَا رَجُلٌ حَتَّى مَاتَتْ فَاَبْطَلَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) دَمَهَا .

(اَبُوْدَوُدْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْحُدُوْدْ،بَابُ الْحُكْمِ فِيْ مَنْ سَبَّ النَّبِيَّ (ﷺ) ،ص: ۶۱۳، نَمْبَرْ ۴۳۶۲)

تَرْجَمَهْ:- د حضرت عَلِيْ څخه رِوَايَتْ دئ چي يَوې يَهُوْدَئ ښځي و حُضُوْرْ (ﷺ) ته ښکنْځَا کړې وه او د حُضُوْرْ په شَانْ کي چَيْ و رَيْ ګايَدلې وه نو ځکه يَو سړي دې ته د غَارِيْ خَيَکْ وَرکړئ وُو چي دهغه څخه دغه يَهُوْدَئ ښځه مړه سوه نو حُضُوْرْ (ﷺ) د دې وِيْنَهْ (يعني قِصَاصْ او بَدْلَهْ) مَعَافْ کړه .

په دغه دواړو حَدِيْثْو کي چي کُوم چَا و حُضُوْرْ (ﷺ) ته په وَاضِحُوْ اَلْفَاظُوْ سره ښکنْځَا کړې وه دهغه قِصَاصْ يې مَعَافْ کړئ دئ .

## چي و حُضُوْرْ (ﷺ) ته په وَاضِحْ تُوګه ښکنْځَا وکي نو کافِرْ کيږي

چي و حُضُوْرْ (ﷺ) ته ښکنْځَا وکي نو بيا دئ کافِرْ دئ، لېکن دده تُوْبَهْ قَبليږي که نَه؟ په دې اړه دُوې رَأيِيْ دي

[۱] يَوَهْ رَأْيَهْ داده چي که دئ تُوْبَهْ وکاږي نو دده تُوْبَهْ نَه قَبليږي، اُوس به دئ حَتْمًا وَژِنِيْ، د اَکْثَرُوْ حضَرَاتُوْ دغه نَظَرْ دئ .

[۲] دُوَهَمَّهْ رَأْيَهْ داده چي که دئ تُوْبَهْ وکاږي نو دده تُوْبَهْ قَبُوْلَ ده، او د تُوْبَهْ کولو لپاره به ده ته درې وُرَځِيْ مُهْلَتْ وَرکوَل کيږي، که چيري دئ په دغه درې وُرَځِيْ کي تُوْبَهْ وکي نو دئ به نَه قَتْلَوِيْ، يعني دده حُکْمْ د مُرْتَدْ په شَانْ دئ، ده ته به هم د تُوْبَهْ کولو لپاره درې وُرَځِيْ مُهْلَتْ وَرکوَل کيږي .

[۱] کُوم حَضَرَات چي وائي چي تُوْبَهْ نَه قَبلیږي، دهغوي دَلِيْلْ د دُرِّ مُخْتَارْ دغه عِبَارَتْ دئ

**وَكُلُّ مُسْلِمِ اِرْتَدَّ فَتَوْبَتُهُ مَقْبُوْلَةٌ، اِلَّا الْكَافِرُ بِسَبِّ نَبِيِّ مِّنَ الْاَنْبِيَآءِ فَاِنَّهُ يُقْتَلُ حَدًّا وَلَاتُقْبَلُ تَوْبَتُهُ مُطْلَقًا ..... وَمَنْ شَكَّ فِيْ كُفْرِه وَعَذَابِه كَفَرَ .**

(دُرِّ مُخْتَارْ، كِتَابُ الْجِهَادْ، بَابُ الْمُرْتَدِّ، مَطْلَبُ مُهِمٌّ: فِيْ حُكْمِ سَابِّ الْاَنْبِيَآءِ، ج: ۶، ص: ۳۵۶)

تَرْجَمَهْ:- هر مُسْلَمَانْ چي مُرْتَدْ سي دهغه تُوْبَهْ قَبُوْلَ ده، لیکن کُوم چي و حُضُوْرْ یا یَو بَل نَبِيْ ته د بِښکَنْځَا کولو په وَجْهْ کافِرْ سوئ دئ، دهغه تُوْبَهْ قَبُوْلَ نَه ده، هغه به د حَدْ په تُوګه وَژَلْ کیږي، او هیڅ کله بَایَدْ دهغه تُوْبَهْ قَبُوْلَ نَه سي ..... (مَختَه دا عِبَارَتْ هم دئ) چي څوک ددغه بِښکَنْځَا کونکي په کُفْرْ کي او دهغه په عَذَابْ کي شَکْ کوي، هغه هم کافِرْ دئ .

یَامْ لَرَنَهْ :- مَختَه رَارَوَانْ دئ چي د حَدْ د جَارِيْ کولو لپاره دا ضروري دئ چي اِسلَامِيْ حُکُوْمَتْ به وي، او چي قَاضِيْ فَیْصَلَهْ وکي نو بیا به حَدْ جَارِيْ کیږي، که چیري عَوَامْ په خپله حُدُوْدْ جَارِيْ کول شروع کي نو اِنْتِشَارْ او فَسَادْ به خُوْرْ سي، او پر مِیْډْیَا به هغه یَسْخَنْدُوْنَهْ او تَمَاشَا جوړه سي چي د ضَغَمْ (بَرْدَاشْتْ) قَابِلْ به نَه وي .

[۲] دُوَهَمَّهْ رَأْیَهْ داده، چي حُضُوْرْ ته بِښکَنْځَا کونکئ کافِرْ خو دئ لیکن که چیري هغه تُوْبَهْ وکي نو دده تُوْبَهْ قَبُوْلَ ده، او که ده تُوْبَهْ وکړه نو اُوس به حَدْ نَه پر جَارِيْ کیږي، اَلْبَتَّهْ ده ته به تَنْبِیْهْ ورکول کیږي چي په آیِندَه کي دارنګه وَنَه کي، او لَږْ څَه سَزَا به هم وَرکوَل کیږي .

ددې دَلِيْلْ د دُرِّ مُخْتَارْ دغه بَل عِبَارَتْ دئ

**مَنْ سَبَّ الرَّسُوْلَ (ﷺ) فَاِنَّهُ مُرْتَدٌّ وَحُكْمُهُ حُكْمُ الْمُرْتَدِّ وَيُفْعَلُ بِه مَافُعِلَ بِالْمُرْتَدِّ، وَهُوَ ظَاهِرٌ فِيْ قَبُوْلِ تَوْبَتِه كَمَا مَرَّ عَنِ الشِّفَاءِ .**

(دُرِّ مُخْتَارْ، كِتَابُ الْجِهَادْ، بَابُ الْمُرْتَدِّ، مَطْلَبُ مُهِمٌّ: فِيْ حُكْمِ سَابِّ الْاَنْبِيَآءِ، ج: ۶، ص: ۳۶۰)

تَرْجَمَهْ:- که یَو چَا رَسُوْلْ ته بِښکَنْځَا وکړه [نو هغه به کافِرْ سي] او د هغه حُکْمْ د مُرْتَدْ حُکْمْ دئ، ددغه عِبَارَتْ څخه ښکاره کیږي چي دده تُوْبَهْ قَابِلِ قَبُوْلَ ده، لکه څنګه چي د شِفَاءْ کِتَابْ څخه دغه خَبَرَهْ اُوس تیره سوه .

د دُرِّ مُخْتَارْ دَرَیَمْ عِبَارَتْ دادئ

وَلٰكِنْ صَرَّحَ فِيْ اٰخِرِ الشِّفَاءِ بِاَنَّ حُكْمَهُ كَالْمُرْتَدِّ، وَمَفَادُهُ قَبُوْلُ التَّوْبَةِ كَمَا لَايَخْفٰى .
(دُرِّ مُخْتَارْ،كِتَابُ الْجِهَادْ،بَابُ الْمُرْتَدِّ،مَطْلَبٌ مُهِمٌّ:فِيْ حُكْمِ سَابِّ الْاَنْبِيَآءِ،ج:۶،ص:۳۵۷ / ۳۵۹)
تَرْجَمَهْ:- په اَلشِّفَاءْ كِتَابْ كي ددې خَبَرِيْ وَضَاحَتْ سوئ دئ چې، د ښكنځَا كونكي حُكْمْ د مُرْتَدْ په شَانْ دئ، ددې فَائِدَهْ به دا وي چې دده تُوْبَهْ به قَبُوْلَ وي، لكه څنګه چې وَاضِحْ او سَرْګنْدَ ده .
د دُرِّ مُخْتَارْ څَلُوْرَمْ عِبَارَتْ دادئ
قَالُوْا وَيُسْتَتَابُ مِنْهَا فَاِنْ تَابَ نَكَلَ، وَ اِنْ اَبٰى قُتِلَ، فَحَكَمُوْا لَهُ بِحُكْمِ الْمُرْتَدِّ مُطْلَقًا، وَالْوَجْهُ الْاَوَّلُ اَشْهَرُ وَ اَظْهَرُهُ .
(دُرِّ مُخْتَارْ،كِتَابُ الْجِهَادْ،بَابُ الْمُرْتَدِّ،مَطْلَبٌ مُهِمٌّ:فِيْ حُكْمِ سَابِّ الْاَنْبِيَآءِ،ج:۶،ص:۳۵۸)
تَرْجَمَهْ:- عُلَمَاءُ فرمائلي دي چې: ښكنځَا كونكي ته به وَيَل كيږي چې تَه تُوْبَه وكه، كه چيري ده تُوْبَهْ وكړه [نو اُوس به حَدْ نَه پر جَارِيْ كيږي] لېكن عِبْرَتْنَاكَ سَزَا به وَركوَل كيږي، او كه چيري د تُوْبَهْ كولو څخه اِنْكارْ وكئ نو بيا به قَتْلْ كيږي، عُلَمَاءُ دا فَيْصِلَهْ كړې ده چې ددغه ښكنځَا كونكي حُكْمْ بَس مُطْلَقًا د مُرْتَدْ د حُكْمْ په شَانْ دئ، لېكن اَوَّلَهْ رَأْيَهْ ډېره مَشْهُوْرَهْ هم ده او ډېره وَاضِحْ هم ده .
په دغه درو سره عِبَارَتُوْ كي دئ چې و حُضُوْرْ ته ښكنځَا كونكئ كه تَوْبَهْ وكي نو دده تُوْبَهْ به قَبُوْلَ وي .
يَو بُزَرْګْ مَا وَلِيدَئ چې د بَل مَسْلَكْ د خلكو يَو مُبْهَمْ عِبَارَتْ يې رَاوَاخستَئ او هغه يې مَختَه شَا ته نِيمَئ نِيمَئ كئ دا مَطْلَبْ يې رَاوَايَاستَئ چې دا خو ګُسْتَاخِ رَسُوْلْ دئ، او دا فَتْوٰى يې هم پر وَلګوَل چې دده تُوْبَهْ نَه قَبليږي، بلكه چې دده په كُفْرْ كي څوک شَكْ وكي هغه هم كافِرْ دئ .
ددغه فَتْوٰى لكبله د مُسْلْمَانَانُوْ يَو ډېر غَټْ جَمَاعَتْ په دُوو حِصُّوْ كي تَقْسِيْمْ سو، او د كافِرْ او مُسْلِمَانْ جګړه (اِخْتِلَافَاتْ) رَامِينځ ته سوه، او نَه خَتْمْ كيدُونكئ اِنْتِشَارْ او اِفْتِرَاقْ خُور سو، پر دغه باندي نو د اَفْسُوْسْ بِغَيْرَهْ نور څَه كولائي سو !

## ګُوم حَضرَات چې د ګُسْتَاخِ رَسُوْلْ تُوْبَهْ قَبُوْلَ كَڼي هغه وائي چې درې وُرَځِي به مُهْلَتْ وَركوَل كيږي

د کُومُو حَضَرَاتُوْ په نېز چي د بَښکنْځَا کونکي تُوْبَهْ قَبُوْلَ ده، نو هغه ته به د تُوْبَهْ کولو لپاره درې وُرځې مُهْلَتْ وَرکوَل کيږي، ځکه چي دئ خو د مُرْتَدْ په شَانْ دئ .

حضرت عُمَرْ به د درو وُرَځُوْ پر مُهْلَتْ وَرکوُلُو باندي سَخْتِيْ کوله

**١: لَمَّا قَدِمَ عَلٰى عُمَرَ فَتْحُ تَسْتَرَ، وَتَسْتَرَ مِنْ اَرْضِ الْبَصْرَةِ، سَاَ لَهُمْ هَلْ مِنْ مَّغْرِبِيَّةٍ؟ قَالُوْا رَجُلٌ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ لَحِقَ بِالْمُشْرِكِيْنَ فَاَخَذْنَاهُ، قَالَ مَاصَنَعْتُمْ بِه؟ قَالُوْا قَتَلْنَاهُ، قَالَ:- اَفَلَا اَدْخَلْتُمُوْهُ بَيْتًا وَاَغْلَقْتُمْ عَلَيْهِ بَابًا وَاَطْعَمْتُمُوْهُ كُلَّ يَوْمٍ رَغِيْفًا ثُمَّ اِسْتَتَبْتُمُوْهُ ثَلَاثًا، فَاِنْ تَابَ وَ اِلَّا قَتَلْتُمُوْهُ ثُمَّ قَالَ اَللّٰهُمَّ لَمْ اَشْهَدْ وَلَمْ اٰمُرْ وَلَمْ اَرْضَ اِذَا بَلَغَنِيْ .**

(مُصَنَّفِ اِبْنِ اَبِيْ شَيْبَةَ، ٣٠ ،مَا قَالُوْا فِي الْمُرْتَدْ كَمْ يُسْتَتَابُ، ج:٦،ص:٤٤٤ ،نَمْبَرْ:٣٢٧٤٤/ سُنَنْ لِلْبَيْهَقِيْ ، بَابُ مَنْ قَالَ يُحْبَسُ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ، ج:٨،ص:٣٥٩ ،نَمْبَرْ:١٦٨٨٧)

تَرْجَمَهْ:- چي کُوم وَخْتْ حضرت عُمَرْ ته د تَسْتَرْ د فَتْحِ خَبَرْ راغلئ، تَسْتَرْ د بَصْرَهْ عَلَاقَهْ ده، حضرت عُمَرْ يُوْښْتَنَهْ وکړه چي د مغْرِبْ يو سړئ سته؟ خلګو ورته وويل چي د مُسْلْمَانَانُوْ يَو سړئ مُشْرِکْ سوئ وُو، نو مُوږ هغه وَنيوَئ، حضرت عُمَرْ يُوْښْتَنَهْ وکړه چي په هغه مُو څه وکړل؟ خلګو ورته وويل چي هغه خو مُوږ قَتْلْ کئ، نو حضرت عُمَرْ وفرمائل چي وَلي مُو په کُوْرْ کي نَه بَنْدِيْ کاوئ؟ او هره وُرَځْ مُو يَوَه ډُوْډَيْ وَرکولائي، بيا مُو تر دُرُو وُرَځُوْ پُوري دده څخه د تُوْبَهْ کولو مُطَالَبَهْ کولائي، که تُوْبَهْ کړې وائ نو پرېښئ به مُو وائ، که نَه نو قَتْلْ کړئ به مُو وائ، بيا حضرت عُمَرْ وفرمائل ائ اَللّٰهْ ته ګواه وُسَه، نَه خو مَا دغه خلګو ته د قَتْلْ کولو حُکْمْ وَرکړئ وُو، او چي کُوم وَخْتْ دده د قَتْلْ خَبَرْ راغلئ نَه زَهْ په هغه رَاضِيْ سوئ يَم .

**٢: عَنْ عَلِيٍّ قَالَ يُسْتَتَابُ الْمُرْتَدُّ ثَلَاثًا .**

(مُصَنَّفِ اِبْنِ اَبِيْ شَيْبَةَ، ٣٠ ،مَا قَالُوْا فِي الْمُرْتَدْ كَمْ يُسْتَتَابُ، ج:٦،ص:٤٤٤ ،نَمْبَرْ:٣٢٧٤٧/ سُنَنْ لِلْبَيْهَقِيْ ، بَابُ مَنْ قَالَ يُحْبَسُ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ، ج:٨،ص:٣٥٩ ،نَمْبَرْ:١٦٨٨٧)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَلِيْ به درې وُرَځِيْ د مُرْتَدْ څخه د تُوْبَهْ کولو مُطَالَبَهْ کوله .

په دغه اَثَرْ (يعني قَوْلِ صَحَابِيْ) کي دئ چي تر درې وُرَځِيْ مَخکي د قَتْلْ کولو په صُوْرَتْ کي حضرت عُمَرْ وفرمائل چي ائ اَللّٰهْ نَه زَهْ په دغه وَخْتْ کي مَوْجُوْدْ وَم او نَه زَهْ په دې رَاضِيْ يَم، ددې څخه مَعْلُوْمْ سو چي درې وُرَځِيْ مُهْلَتْ وَرکوَل ضروري دئ، که تر درې وُرَځِيْ وروسته هم پر خپله خَبَرَهْ باندي وَلَاړْ وي نو بيا به قَتْلْ کوي .

## [۲] که دارنګه **جُمْلَهْ اِسْتِعْمَالَوِئ** چي دهغه څخه د **حُضُوْرْ** (ﷺ) د **تَوْهِيْنْ شُبَهْ** پَيدَا کيږي

**دُوَيَمْ صُوْرَتْ** :- دادئ چي و **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته په ,, **ډَاګه ښکنْځَا** ,, يعني په **وَاضِحُوْ اَلْفَاظُوْ** خو يې **ښکنْځَا** نَه ده کړي، لېکن دارنګه **جُمْلَهْ** يې **اِسْتِعْمَالْ** کړې ده چي دهغه څخه دا **شُبْهَهْ** (**شَکْ**) پَيدَا کيږي چي په دغه **لَفْظْ** سره دي د **حُضُوْرْ** (ﷺ) **تَوْهِيْنْ** سوئ وي، نو دا خو يَوه **مُبْهَمَّهْ جُمْلَهْ** او **مُبْهَمْ لَفْظْ** دئ، دا **اِمْکَانْ** هم سته چي دئ دي د **حُضُوْرْ** (ﷺ) **تَوْهِيْنْ** کوي او دا **اِمْکَانْ** هم سته چي دئ دي د **حُضُوْرْ** (ﷺ) **تَوْهِيْنْ** نَه کوي، بلکه په **نَادَانِيْ** او **نَاپُوْهِيْ** کي دي دغه **جُمْلَهْ** تر خُولَه وَتَلي وي، دئ **خَبَرْ** هم نَه دئ چي **مَا تَوْهِيْنْ** کړئ دئ که مُو نَه دئ کړئ، نو ځکه دده څخه به **پُوْښْتَنَهْ** کيږي چي ددي څخه ستا څَه مُرَاد دئ؟ که ده وويل چي **زَمَا** ددې څخه **تَوْهِيْنْ** کول **مَقْصَدْ** دئ نو دئ **کَافِرْ** دئ، ځکه چي د **رَسُوْلُ اللّٰهْ** (ﷺ) **تَوْهِيْنْ** يې کړئ دئ، او که چيري ده وويل چي ددغه جُملې څخه **زَمَا مَقْصَدْ تَوْهِيْنْ** کول نَه دئ، بلکه **مَا** ته خو **مَعْلُوْمْ** هم نَه دئ چي دغه **جُمْلَهْ** د **حُضُوْرْ** (ﷺ) د **تَوْهِيْنْ** شَئ ده که نَه؟ نو دغه کس **مَعَافْ** دئ، لېکن ده ته به **تَنْبِيْهْ** کيږي چي په **آيِنْدَهْ** کي دغه رنګه **جُمْلَهْ اِسْتِعْمَالْ** نَه کي، ځکه چي دغه **جُمْلَهْ** هم د **خَطْرِيْ** څخه **خَالِيْ** نَه ده .

**مَا** دغه **تَفْصِيْلْ** په دې **وَجْهَ** وَلِيکئ چي ډېر **وَخْتْ** دارنګه سوي دي چي يَوَه سړي پر بَل سړي باندي د **شُبْهِي** په **وَجْهَ اِلْزَامْ** وَلګاوئ، هغه سړئ **بَارْ بَارْ اِنْکَارْ** کوي چي **مَا تَوْهِيْنْ** نَه دئ کړئ، او نَه مِي د **تَوْهِيْنْ** کولو **اِرَادَهْ** ده، **مَا** ته خو دا **مَعْلُوْمْ** هم نَه دئ، لېکن خلګ په هغه پسې سوي وُو، او **آخِرْ** يې هغه سړئ **قَتْلْ** کئ، يايې دُومرَه وَوَاهَئ چي دده **حَالَتْ** ډېر **خَرَابْ** سو، او دغه ټولَ **وِيْډِيُوْ** يې پر **يُوْټُيُوْبْ** باندي ورکړه، او **دُنْيَا** پر دغه **حَرَکَتْ** باندي **اَفْسُوْسْ** کاوئ .

**اَفْسُوْسْ** خو دادئ چي بعض خلګ په **اِلْزَامْ** لګولو کي **بُخْتْ** دي، هره **جُمْلَهْ** ته **تَوْهِيْنْ رِسَالَتْ** وائي او د **کُفْرْ فَتْوٰی** پر لګوي، او پر دې باندي پُورَه پُورَه **هَنْګَامَهْ** جوړوي .

[۳] دَرَیَمْ صُوْرَتْ :- دادئ چي ..... سړئ مُسَلْمَانْ دئ، خو يَوَه مُبْهَمَـهْ جُمْلَهْ يې اِسْتِعْمَالْ کړې ده، اُوس د بَلْ مَسْلَکْ خلکو يا د بَلِ مَذْهَبْ خلکو په دغه جُمْلَهْ کي قَطْعَ و بُرِيْدْ (يعني عِبَارَتْ او اَلْفَاظْ يې نِيْمَئ نِيْمَئ) کړل او دا مَطْلَبْ يې ځِينِي وَاخستَئ چي ده د حُضُوْرْ (ﷺ) تَوْهِيْنْ کړئ دئ .

دا سړئ خو مُسَلْمَانْ دئ، نو ځکه غَالِبْ ګُمَانْ خو دادئ چي ده به د حُضُوْرْ (ﷺ) تَوْهِيْنْ نَه وي کړئ، يا يې د يَو نَبِئ يا وَلِئ تَوْهِيْنْ نَه وي کړئ، ځکه چي د اِسْلَامْ تَعْلِيْمْ دغه دئ چي دئ به نَه د حُضُوْرْ (ﷺ) تَوْهِيْنْ کوي، نَه به د بَل نَبِئ تَوْهِيْنْ کوي، نَه به د اَهْلِ بَيْتْ تَوْهِيْنْ کوي، نَه به د يَو وَلِئ تَوْهِيْنْ کوي، نو ځکه ده خو به يا په نَادَانِئ کي دا خَبَرَهْ کړې وي، دئ خَبَرْ هم نَه دئ چي مَا د نَبِئ، يا د وَلِئ تَوْهِيْنْ کړئ دئ، يا په دغه جُمْلَهْ سره ګُسْتَاخِئ کيږي، يا خو يَو بَل ځَا ددغه جُمْلي څخه غَلَطْ مَطْلَبْ وَاخستَئ او د هغه د بَدْنَامْ کولو کُوښښ يې کړئ دئ، نو ځکه د دغه وَيْنَا کونکي څخه بَايَدْ پُوْښْتَنَهْ وسي چي ددغه جُمْلي څخه ستا څَه مَطْلَبْ دئ؟ که هغه ووائي چي ددي څخه د تَوْهِيْنْ کولو مَقْصَدْ نَه دئ، نو دئ دي پريږدي، ځکه چي ده خو په قَصْدًا تَوْهِيْنْ کړئ هم نَه دئ، اَلْبَتَّهْ ده ته به تَنْبِيْهْ کيږي چي په آيَنْدَهْ کي دارنګه جُمْلَهْ اِسْتِعْمَالْ نَه کي .
چي دغه رنګه طَرْزِ عَمَلْ او چَلَنْ خپل سي نو ډيري هَنګامي به خَتْمْ سي، او دغه هره وُرَځْ چي د مَسْلَکُوْ په مَابَيْنْ کي ګُوم اِخْتِلَافْ رامينځ ته کيږي دا به ډير کَم سي .

## [۴] په غَيْرِ مُسْلِمْ مُلْکْ کي د رَسُوْلْ ګُسْتَاخِئ

څلُوْرَمْ صُوْرَتْ :- دادئ چي ..... په کُفْرِئ مُلْکْ کي وَسيږي هلته يَوَه غَيْرِ مُسْلِمْ دارنګه حَرَکَتْ وکئ چي په هغه سره د حُضُوْرْ (ﷺ) تَوْهِيْنْ کيږي، نو اُوس به څَه کوي؟
مَختَه د مُرْتَدْ په سَزَا کي تَفْصِيْلْ رَارَوَانْ دئ چي: د حَدْ لَګُوْلُو لپاره دري شَرْطُوْنَهْ ضروري دي
[۱] چي اِسْلَامِئ حُکُوْمَتْ وي نو بيا حَدْ جَارِئ کيدلائي سي، که چيري اِسْلَامِئ حُکُوْمَتْ نَه وي نو حَدْ به نَه جَارِئ کوي .
[۲] چي شَرْعِئ قَاضِئ فَيْصَلَهْ وکي نو بيا به حَدْ جَارِئ کوي .

[۳] د شَرْعِيْ قَاضِيْ په نِگْرَانِيْ کي به حَدْ جَارِيْ کوي .
د حَدْ د جَارِيْ کولو لپاره به مُجْرِمْ و عَوَامُ النَّاسْ ته نَه حَوَالَهْ کوي، ځکه چي ددې څخه اِنْتِشَارْ رَامِينځ ته کيږي، هسي هم نَنْ سَبَا په ټول دُنْيَا کي د بَشَرِيْ حُقُوْقْ خَبَرِيْ شروع دي، نو مِيْډِيَا ددغه رنگه خَبَرُوْ ډېر زِيَاتْ تَشْهِيْرْ کوي .
لِهٰذَا چيري چي اِسْلَامِيْ حُکُوْمَتْ نَه وي هلته به حَدْ نَه جَارِيْ کوي، که هلته يَو څوک بِنکنځَا وکي يا د حُضُوْرْ (ﷺ) تَوْهِيْنْ وکي، نو په مُنَاسِبْ طَرِيْقَهْ سره دي د حُکُوْمَتْ څخه د تَعْزِيْرْ مُطَالَبَهْ وکي .

که په يَو غَيْرِ مُسْلِمْ مُلْکْ کي يَو غَيْرِ مُسْلِمْ د حُضُوْرْ (ﷺ) تَوْهِيْنْ وکي نو دا خو هم تَوْهِيْنْ دئ او بِنَهْ خَبَرَهْ نَه ده، لېکن ددې لپاره د اِحْتِجَاجْ طَرِيْقَهْ داده چي مُسَلْمَانَانْ په گډه (اِتِّفَاقْ سره) دهغه مُلْکْ د قَانُوْنْ د مَرَاعَتْ کولو سره سره اِحْتِجَاجْ وکي، او د حُکُوْمَتْ څخه مُطَالَبَهْ وکي چي دغه کس ته مُنَاسِبْ سَزَا ورکي، او تَعْزِيْرْ دي وَرکي چي په آيِنْدَهْ کي بَل څوک دغه رنگه گُسْتَاخِيْ وَنَه کي .
دا صُوْرَتْ دي په هيڅ وَخْتْ نَه کوي چي دغه کس مُوږ ته رَا حَوَالَهْ کئ چي مُوږ ده ته سَزَا ورکو، ځکه چي په دغه صُوْرَتْ کي به د مُجْرِمْ خَانْدَانْ او دده د نَظَرْ خلک جَنْگْ جَگْرَهْ شروع کي، او اِنْتِشَارْ به رَامِينځ ته سي، او خُدَائ مَه که چي دغه اِخْتِلَافْ ډُومره زِيَاتْ نَه سي چي تَه دهغه مُلْکْ څخه رَاوَوزې او بيا به تَه د پَنَاهْ اَخستلُو يَو ځائ هم پَيدَا نه کې .
يا د ډېري هَنگامي،شُوْرْ او غَوْغَا لکبله دهغه ځائ مِيْډِيَا تَا ته د يَو تَشَدُّدْ کونکئ قَوْمْ په سترگه وَنَه گوري او ستا تَصْوِيْرْ (هغه مُوندَلَئ لُوَړ مَقَامْ) خَرَابْ نَه سي، لِهٰذَا دغه رنگه مَه کوئ، بلکه دهغه مُلْکْ د قَانُوْنْ په دَائِرَهْ کي دَنَنَهْ دَنَنَهْ اِحْتِجَاجْ وکئ، او د تَعْزِيْرْ مُطَالَبَهْ وکئ،چي يَو جَائِزْ صُوْرَتْ دئ .

## په مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ کي گُسْتَاخِ رَسُوْلْ يَوَه غَټَّهْ مَسْئَلَهْ ده

گُسْتَاخِ رَسُوْلْ په نَنْ وَخْتْ کي يَوَه غَټّهْ مَسْئَلَهْ ده، ددې څخه هم په دُنْيَا کي غَټْ اِنْتِشَارْ شروع دئ .

د ډېرو **كِتَابُوْ** د **مُطَالعي** پر **وَخْتْ** دا شَئ مَخْتَه راغلئ دئ چي د يَو **مَسْلَكْ** خلګ **حُضُوْرْ** (ﷺ) خو **رَسُوْلْ** مَنِي، دهغه **پُوْرَهْ عِزَّتْ** كوي لېكن **مَثْلًا** ددغه آيَت ,, **لَآ اَعْلَمُ الْغَيْبَ** ,, په **وَجْهَ** دُومره خو مَنِي چي و **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته بعض **عِلْمِ غَيْبْ** وركړئ وُو، لېكن د يوې يوې ذَرّې **عِلْمْ** يې وركړئ وُو چي صِرف د **اَللّٰهْ تَعَالٰى صِفَتْ** دئ هغه نَه مَنِي،يا ددغه **آيَتْ** ,, **لَآ اَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّ لَا نَفْعًا** ,, په **وَجْهَ حُضُوْرْ** (ﷺ) **مخْتَارِ كُلْ** نَه مَنِي، نو دَلتَه د **آيَتْ** په **وَجْهَ** د **حُضُوْرْ** (ﷺ) يَو **صِفَتْ** نَه مَنِي، ځکه چي په خپله **اَللّٰهْ تَعَالٰى** ددغه **صِفَاتُوْ نَفِيْ** كړې ده، اُوس د بَل **مَسْلَكْ** خلګ دا **تِينګَارْ** كوي چي ده د **رَسُوْلْ ګُسْتَاخِيْ** كړې ده، او ګوَاکِه دا **مُرْتَدْ** سوئ دئ، او چي دغه **عَقِيْدَهْ** مَنِي هغه ټول **مُرْتَدْ** سوي دي، او ټولو ته د **مُرْتَدْ سزَا بَايَدْ** وَركوَل سي، او پر دغه باندې دُومرَه **اِصْرَارْ** (**تِينګار**) وكئ چي **قَوْمْ** په دُوو **حِصُّوْ** كي **تَقْسِيْمْ** سو .......... دا ډېره **لُوْيَهْ بِې اِنصَافِي** ده، چي د **آيَتْ** څخه **صَحِيْحْ اِسْتِدْلَالْ** كونكي **ګُسْتَاخْ** او **مُرْتَدِّيْنْ** وګڼي .

دا خو ډېره **بَدَّهْ خَبَرَهْ** ده چي يوه **دِلَّهْ مُسلْمَانَانْ** دي، لېكن د خپل **فِكْرْ** پر **بُنْيَادْ** باندې هغه **مُرْتَدْ** كړي دي، او دايې **لَا** هم پَسِي وَلِيكل چي څوک د دُوي په **كُفْرْ** كي شَک كوي هغه **كافِرْ** دئ، او دغه **حَوَالَهْ** يې **نَقْلْ** كړه چي

**[وَمَنْ شَكَّ فِيْ عَذَابه وَكُفْره كَفَرَ]**

(**دُرِّ مُخْتَارْ، كِتَابُ الْجِهَادْ، بَابُ الْمُرْتَدِّ، مَطْلَبُ مُهِمٌّ: فِيْ حُكْمِ سَابِّ الْاَنْبِيَآءِ، ج: ۶، ص: ۳۵۶**)

**تَرْجَمَهْ**:- چي څوک د دُوي په **كُفْرْ** كي او د دُوي په **عَذَابْ** كي **شَكْ** كوي، هغه هم **كافِرْ** دئ .

**لِهٰذَا** چي د **ګُسْتَاخِ رَسُوْلْ** يا د **مُرْتَدْ فَتْوٰي** وَركوِي نو دا ضروري دئ چي **وَاقِعَةً** هغه و **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته بَنكنځَا كړې وي، او تر دُرو **وُرځُوْ** پُوري د **يُوْهْ** كولو **بَاوُجُوْدَ تُوْبَهْ** نَه كوي، نو بيا به هغه **مُرْتَدْ** ګڼل كيږي، صِرف د يَو **مَسْلَكْ** د **شَكْ** پر **بُنْيَادْ** يا د خپل سوچ او **فِكْرْ** پر **بُنْيَادْ مُرْتَدْ** او **ګُسْتَاخِ رَسُوْلْ** ګڼل **جَوَازْ** نَه لري، ددې ډېر **خِيَالْ** ساتئ .

بعضو خلګو ددې **خِيَالْ** نَه وَساتئ او د **مُسَلْمَانَانُوْ** په مينځ كي د **نَفْرَتْ اُوْرْ** (**وُوْرْ**) بَل كړئ، چي دهغه لكبله د **اِسْلَامْ** د يَوَه كار لپاره دُوي په خپل مِينځ كي نَه سو سره يَو ځائ، او په **جَنْګُوْنُوْ جَګړُوْ** او **اِخْتِلَافَاتُوْ** يې خپل ځانونه سره **تَبَاهْ** كړل، په **مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ** كي په **شَامْ**، **عِرَاقْ**، **مِصْرْ**، **لِيْبْيَا**، **يَمَنْ** او **اَفْغَانِسْتَانْ** كي د **مُسَلْمَانَانُوْ** په خپل مينځي **جَګړُوْ** كي پُورَه پُورَه **مُلْكُوْنَه تَبَاهْ** سول .

نو ځکه د يَو **مُسلْمَانْ** لپاره د **ګُستَاخَيْ** د **فَتْوٰي** وَركوُلـو ځخـه مَخکِـي د ډېـر سوچ او **فِكْرْ** كولو ضرورت دئ .

ددغه عَقِيدي په اړَه **٣ آيَتُوْنَهْ** او **٢ حَدِيْثُوْنَهْ** دي، تاسو د هر يَوَه **تَفْصِيْلْ مُلاَحَظَهْ** كئ

## ١٧: د ټولو **اَصْحَابَانُوْ اِحْتِرَامْ** ډېر ضروري دئ

كُوم ځَا چي د **اِيْمَانْ** په **حَالَتْ** كي **حُضُوْرْ** (ﷺ) وَلِيدَئ او بيا پر **اِيْمَانْ** باندي ده ته مَرګ راغلئ هغه **صَحَابِيْ** دئ، ځكه چي ده په سترګو **حُضُوْرْ** (ﷺ) لِيدَلَئ دئ، او د **حُضُوْرْ** (ﷺ) سره وَسپدَلَئ دئ، او دده سره يې ډېـره **مَرَسْتَهْ** كـړې ده چي و وروسته خلګو ته دغه شَئ نَه دئ **نَصِيْبْ** سوئ، دهغوي پـه **قُرْبَـانَيْ** سره خو مُوږ ته **دِيْنْ** رَارَسېدلَئ دئ، نو ځكه د ټولـو **اَصْحَابَانُوْ اِحْتِـرَامْ** كـول ډېر ضروري دئ، هغه كه هر **صَحَابِيْ** وي .

## د هر **صَحَابِيْ عِزَّتْ** كول او د **زِړَهْ** لَګُومِي دهغه سره **مُحَبَّتْ** كول ضروري دئ

د ټولـو **اَصْحَابَانُوْ** سـره **مُحَبَّتْ** كـول ضـروري دئ، ځكـه چـي دا د **حُضُوْرْ** مَلګري دي چي په هر **حَالَتْ** كې د **حُضُوْرْ مَلګرْتِيَا** كړې ده، د دُوي ځخـه يَـو هم په **بَدُّوْ اَلْفَاظُوْ** سره يَادَول په كار نَه دئ، او د **اَصْحَابَانُوْ** په خپل مينځ كـي چي كُوم **اِخْتِلاَفَاتْ** راغلي دي، هغه **بَايَدْ** پـر **اِجْتِهَـادِيْ غَلَطِـيْ** باندي **مَحْمُـوْلْ** سي، د دُوي **غَلَطَيْ** نِيوَل او **بَارْ بَارْ** پر هغـوي بانـدي **نِيوَكَّـهْ** كـول **مُنَاسِـبْ** نَـه دئ .

په دُوي كي ډېر هغه **اَصْحَابَانْ** هم سته چي د **حُضُوْرْ** (ﷺ) **خُسَرَانْ** وُو، لكـه حضرت **اَبُوْبَكْرْ**، حضرت **عُمَرْ**، او حضـرت **عُثْمَـانْ** بيـا د **حُضُوْرْ** (ﷺ) **زُوْمْ** دئ، لكه څنګه چي حضرت **عَلِيْ** د **حُضُوْرْ** (ﷺ) **زُوْمْ** دئ، نو لكه څنګه چـي حضرت **عَلِيْ** ته **چَيْ** و **رَيْ** وَيَل **جَوَازْ** نَه لري دغه رنګه وَ حضـرت **عُثْمَـانْ** ته **چَيْ** و **رَيْ** وَيَل **جَوَازْ** نَه لري، ځكه چي هغه هم د **حُضُوْرْ** (ﷺ) **زُوْمْ** دئ .

د حضرت عُمَرْ په اړه خو يَو بَل فَضِيْلَتْ دا هم دئ چي هغه د حَضرَت عَلِيْ او حَضرَت فَاطِمَهْ (﷞) زُوْمْ دئ، د حضرت فَاطِمَهْ لُوْرْ حضرت اُمِّ كُلْثُوْمْ وَادَهْ د حضرت عُمَرْ سره سوي ده، نو د حضرت عُمَرْ په شَانْ كي خو لَا هم چَيْ و رَيْ وَيَل په كار نَه دي، ځكه چي دئ د حضرت فَاطِمَهْ (﷞) زُوْمْ دئ .

حضرت عَائِشَهْ او حضرت سَوْدَهْ (﷞) د حُضُوْرْ (ﷺ) بِيْ بِيْ ګَانْ دي او د اُمَّتْ مَنْدِيْ (مِيْنْدِيْ) دي، حضرت عَائِشَهْ ډُومره ګرَانْ بِيْ بِيْ ده چي ددې په غيږ كي حُضُوْرْ (ﷺ) وَفَاتْ سوئ دئ، نو لكه څنګه چي حضرت خَدِيْجَهْ د حُضُوْرْ (ﷺ) بِيْ بِيْ ده او د اُمَّتْ مُوْرْ ده، او دې ته چَيْ و رَيْ وَيَل جَوَازْ نَه لري دغه رنګه و حضرت عَائِشَهْ او حضرت سَوْدَهْ (﷞) ته هم چَيْ و رَيْ وَيَل جَوَازْ نَه لري، ځكه چي ډُوي هم د حُضُوْرْ (ﷺ) بِيْ بِيْ ګَانْ دي، كه يَو څوک ستا و بِيْ بِيْ (مِيْنَهْ) ته چَيْ و رَيْ ووائي نو تَا ته څومره بَدْ ښكاره كيږي، دغه رنګه چي د حُضُوْرْ (ﷺ) وَ بِيْ بِيْ ته چَيْ و رَيْ ووائي نو څومره بَدْ ښكاره كيږي؟ لِهٰذَا د حُضُوْرْ (ﷺ) و هسي يَوَه بِيْ بِيْ ته چَيْ و رَيْ وَيَل جَوَازْ نَه لري، ګُوم خلګ چي دغه رنګه كوي هغه ډيره غَتَّهْ غَلَطِيْ كوي .

## د صَحَابَهْ كِرَامُوْ سره زِيَاتْ مُحَبَّتْ كوئ، د اِمَامِ طَحَاوِيْ حُكْمْ

**وَنُحِبُّ اَصْحَابَ رَسُوْلِ اللهِ (ﷺ) وَلَانُفَرِّطُ فِيْ حُبِّ اَحَدٍ مِّنْهُمْ، وَلَانَتَبَرَّأُ مِنْ اَحَدٍ مِّنْهُمْ، وَنُبْغِضُ مَنْ يُّبْغِضُهُمْ وَبِغَيْرِ الْخَيْرِ يَذْكُرُهُمْ، وَلَانَذْكُرُهُمْ اِلَّا بِخَيْرٍ، وَحُبُّهُمْ دِيْنٌ وَ اِيْمَانٌ وَ اِحْسَانٌ، وَبُغْضُهُمْ كُفْرٌ وَ نِفَاقٌ وَ طُغْيَانٌ .**

**(عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةْ ،عَقِيْدَةْ نَمْبَرْ ۹۳ ،ص: ۲۰)**

تَرْجَمَهْ:- مُوږ د حُضُوْرْ (ﷺ) د اَصْحَابَانُوْ سره مُحَبَّتْ كوو، او د ډُوي څخه د يَوَه په مُحَبَّتْ كي هم غُلُوَ (زِيَاتُوْبْ) نَه كوو، او په ډُوي كي د يَوَه څخه هم بَرَاءَتْ (بيزَارِيْ) نَه سَرګندُوُو، او چي ګُوم څوک ددغه اَصْحَابَانُوْ سره بُغْضْ كوي يا ډُوي د خَيْرْ بَغَيْرَهْ يَادَوِي دهغوي سره به مُوږ بُغْضْ كوو، او مُوږ به ډُوي بَس په خَيْرْ سره يَادَوُو، ددغه حَضَرَاتُوْ سره مُحَبَّتْ كول دِيْنْ دئ، اِيْمَانْ دئ، او اِحْسَانْ دئ، او ددغه حَضَرَاتُوْ سره بُغْضْ سَاتَل كُفْرْ دئ، نِفَاقْ دئ، او سَرْكِښِيْ ده .

**وَمَنْ اَحْسَنَ الْقَوْلَ فِيْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ (ﷺ) وَ اَزْوَاجِهِ الطَّاهِرَاتِ مِنْ كُلِّ دَنَسٍ وَ ذُرِّيَّاتِهِ الْمُقَدَّسِيْنَ مِنْ كُلِّ رِجْسٍ فَقَدْ بَرِئَ مِنَ النِّفَاقِ .**

(عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةْ ،عَقِيْدَةْ نَمبَرْ ۹۶ ،ص: ۲۱)

تَرْجَمَهْ:- د حُضُوْرْ (ﷺ) د اَصْحَابَانُوْ ،او دده د پَاکُ بِیْ بِیْ گَانُوْ د بَدِیُوْ په اړه چي ګُوم ڇَا بِنَهْ خَبَرَهْ وکړه، او دده د مُقَدَّسُ اَوْلَادُوْ بِنَهْ وَالَئ يې بَيَانْ کئ نو هغه کس د نِفَاقْ څخه بَرِئ سو .

په دغه عَقِيْدَهْ کي دئ چي د حُضُوْرْ (ﷺ) ټول اَصْحَابَانْ او دده بِیْ بِیْ گَانْ بَايَدْ په بِنَهْ خُولَهْ سره يَادْ سي، او دهغوي ټولو سره مُحَبَّتْ کول په کار دئ .

## د اَصْحَابَانُوْ په فَضِيْلَتْ کي ۸ آيَتُوْنَهْ راغلي دي

۱: وَالسّٰبِقُوْنَ الْاَ وَّلُوْنَ مِنَ الْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَ نْصَارِ وَالَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ ۙ رَّ ضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ۝ . (آيَتْ ۱۰۰ ،سُوْرَةُ التَّوْبَةْ ۹) .

تَرْجَمَهْ:- او د مُهَاجِرِيْنْ او اَنْصَارُ څخه چي ګُومُو خلکو مخکي اِيْمَانْ راوړی دئ، او چاچي په نېکي سره د هغوي پَيْرَوِئْ وکړه، اَللّٰهْ د هغه ټولو څخه رَاضِئ سوئ دئ، او ډُوي دهغه څخه رَاضِئْ دي، او اَللّٰهْ د ډُوي لپاره دا رنګه بَاغَاتْ تَيَّارْ کړي دي چي تر هغه لاندي وَلي (وِيَالې) بَيېږي، چي په هغه کي به ډُوي همېشه همېشه وسېږي، دغه ډېره زَبَرْدَسْتَهْ کاميَابِي ده۝

۲: لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ فَاَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ عَلَيْهِمْ وَ اَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيْبًا۝ ۙ . (آيَتْ ۱۸ ،سُوْرَةُ الْفَتْحْ ۴۸) .

تَرْجَمَهْ:- يَقِيْنًا اَللّٰهْ دهغه مُؤْمِنَانُوْ څخه ډېر خُوْشْحَالَ سو چي کله ډُوي تر دَرَخْتَهْ لَانْدِئْ ستا سره بَيْعَتْ کاوئ، او د ډُوي په زُرُوْ کي چي څَه وُ هغه هم اَللّٰهْ ته مَعْلُوْمْ وُو، نو ځکه ده پر هغوي باندي سَکِيْنَتْ نَازِلْ کئ، او ډُوي ته په اِنْعَامْ کي يَوَه نِژدې فَتْحْ ورکړه۝

۳: اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۙ اُولٰٓئِكَ يَرْجُوْنَ رَحْمَتَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ۝ . (آيَتْ ۱۲۸ ،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲) .

تَرْجَمَهْ:- کومو خلکو چي اِيْمَانْ راوړدئ او چاچي هِجْرَتْ کړئ دئ او د اَللّٰهْ په لَارَهْ کې جِهَادْ کړئ دئ، نو هغه بېشکه د اَللّٰهْ د رَحْمَتْ اُميدوَارَه دي، او اَللّٰهْ ډېر بَخښونکئ، غټ مِهْرَبَانْ دئ۝

۴: لٰكِنَّ اللّٰهَ حَبَّبَ اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ وَ زَيَّنَه فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَكَرَّهَ اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوْقَ وَالْعِصْيَانَ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الرّٰشِدُوْنَ۝ ۙ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَنِعْمَةً ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ۝ .

(آيَتْ ۸،سُوْرَةُ الْحُجُرَاتْ ۴۹) .

تَرْجَمَهْ:- لېکن اَللهْ ستاسو په زُرُوْ کي د اِيْمَانْ مُحَبَّتْ اَچَوَلَئ دئ،او هغه يې ستاسو په زُرُوْ کي پُرْکشَشْ (زَرَهْ کښَّ) ګرزَوَلَئ دئ، او په تاسو کې د کُفْرْ او ګُنَاهُوْنُوْ او د نَافَرْمَانَئْ څخه نَفْرَتْ اِيښئ دي، دغه رنګه خلک دي چي صَحِيْحْ صَحِيْحْ لَارَهْ ته راغلي دي، چي د اَللهْ لَخْوَا د فَضْلْ او نِعْمَتْ نَتِيْجَهْ ده، او اَللهْ د عِلْمْ هم مَالِکْ دئ، د حِکْمَتْ هم مَالِکْ دئ.

په دغه آيَتْ کي د اَصْحَابَانُوْ په شَانْ کي فرمائلي دي چي د ذُوي په زُرُوْ کي د اِيْمَانْ مُحَبَّتْ مَوْجُوْدْ دئ، نو ځکه د ذُوي څخه و يَوَه ته کافِرْ وَيَل، يا ګُنَاهګارَهْ وَيَل ډېر بَدْ کارْ دئ .

**۵: اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَلَّوْا مِنْکُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ ۙ اِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطٰنُ بِبَعْضِ مَاکَسَبُوْا ۚ وَلَقَدْ عَفَا اللهُ عَنْهُمْ ۗ اِنَّ اللهَ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ (آيَتْ ۱۵۵،سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳) .**

تَرْجَمَهْ:- ستاسو څخه چي کومو خلکو په هغه وُرَځْ شَا وګرزوله چي کُوم وخت دواړه لښْکرُوْنَهْ يَو د بل سره وَنښْتَلْ (مَخَامَخْ سول)، حَقِيْقَتْ دادئ چي د ذُوي د بعضو اَعْمَالُ لَکبلَه شَيْطَانْ ذُوي وَښکوَلْ، او يَقِيْنْ وکئ چي اَللهْ ذُوي مَعَافْ کړي دي، يَقِيْنًا اَللهْ ډېر مَعَافْ کونکئ، غَټْ بُرْدُبَارْ دئ .

په دغه آيَتْ کي دئ چي د جَنْګْ پر وَخْتْ د اَصْحَابَانُوْ څخه چي کُومه غَلَطِيْ سوې وه اَللهْ تَعَالٰي هغه مَعَافْ کړه، نو ځکه اُوس هغه غَلَطِيْ نِيوَل او ذُوي ته چَيْ و رَيْ وَيَل بِالْکُلْ نَاجَائِزْ کار دئ .

**۶: مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ ۗ وَالَّذِيْنَ مَعَه اَشِدَّآءُ عَلَى الْکُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ تَرٰىهُمْ رُکَّعًا سُجَّدًا يَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللهِ وَ رِضْوَانًا ۫ سِيْمَاهُمْ فِيْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ ۗ**

(آيَتْ ۲۹،سُوْرَةُ الْفَتْحْ ۴۸) .

تَرْجَمَهْ:- مُحَمَّدْ (صَلَّي اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ) د اَللهْ رَسُوْلْ دئ، او کُوم خلک چي دده سره مَلګري دي، هغه د کافِرَانُوْ په مُقَابَلَهْ کي سَخْتْ دي، (او) په خپل مينځ کي يَوْ د بَلْ لپاره رَحْمْ دِلْ دي. تَه به ذُوي وَوينې چي کله خو په رُکُوْعْ کي دي، کله په سَجْدَهْ کي، (غَرَضْ) د اَللهْ د فَضْلْ او رَضَامَنْدَئْ په تَلَاشْ کي مَصْرُوْفْ دي. د ذُوي عَلَامَتُوْنَهْ د سَجْدُو د اَثَرْ څخه د ذُوي پر مَخَانُ ښکاره دي .

په دغه آيَتْ کي د ټولو اَصْحَابَانُوْ تَعْرِيْفْ او ستَايَنَهْ کړې ده، نو ځکه يَوَه ته هم چَيْ و رَيْ وَيَل صَحِيْحْ کار نَه دئ .

**۷: لَقَدْ تَّابَ اللهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ فِيْ سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْ ۢ بَعْدِ مَا کَادَ يَزِيْغُ قُلُوْبُ فَرِيْقٍ مِّنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ ۗ اِنَّه بِهِمْ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ**

(آيَتْ ١١٧،سُوْرَةُ التَّوْبَةْ ٩) .
تَرْجَمَهْ:- حَقِيْقَتْ دادئ چي اَللّٰهْ په رَحْمَتْ سره نَظَرْ كړئ دئ پر نَبِيْ باندي او پر هغه مُهَاجِرِيْنُ او اَنْصَارُ باندي چي په دارنګه مُشْكِلْ وَخت كې د نَبِيْ مَلګرِي وكړه، سره ددې چي نِژدې ودې ته وُو چي په هغه كي د يوې ډَلِي زُړُوْنَهْ دخپل ځايَه څخه وَښُورېږي، بيا اَللّٰهْ ددُوي پر حَالَتْ تَوَجُّهْ وكړه،يَقِيْنًا هغه د دُوي لپاره ډېر شَفَقَتْ كونكئ ، غَټ مِهْرَبَانْ دئ۝

٨: لَايَسْتَوِىْ مِنْكُمْ مَّنْ اَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَقٰتَلَ ط اُولٰٓئِكَ اَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِيْنَ اَنْفَقُوْا مِنْۢ بَعْدُ وَقٰتَلُوْا ط وَكُلًّا وَّ عَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ط وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ۝

(آيَتْ ١٠،سُوْرَةُ الْحَدِيْدْ ٥٧) .
تَرْجَمَهْ:- د تاسو څخه ګُوم چَا چي (د مَكّي د) فَتْحِ څخه مَخكِي مَصْرَفْ وكړئ، او جَنْګْ يې وكړئ، هغه (د وروستَنَيُو خلكو) سره نَه دي بَرَابَرْ. هغه په دَرَجَهْ كي تر هغه خلكو زِيَاتْ دئ ګُوم چَا چي (د فَتْحِ مَكَّهْ) وروسته مَصْرَفْ وكړئ، او جَنْګْ يې وكړئ. هسي خو دغه رنګه اَللّٰهْ د ټولو سره د خَيْرْ (جَنَّتْ) وَعْدَهْ كړې ده، او تاسو چي څه كوئ، اَللّٰهْ په هغه پُوره خَبَرْدَارَهْ دئ۝

په دغه آيَتْ كي دئ چي د فَتْحِ مَكَّهْ څخه مَخكِي ګُوم چَا د اَللّٰهْ په لَارَهْ كي خپل مَالْ مَصْرَفْ كړئ دهغوي دَرَجَهْ ډېره غَټَّهْ ده، او حضرت اَبُوْبَكْرْ، حضرت عُمَرْ او حضرت عُثْمَانْ هغه اِنْسَانَانْ دي چي د فَتْحِ مَكَّهْ څخه مَخكِي خپل مَالُوْنَهْ مَصْرَفْ كړي دي، نو ځكه د دُوي مَرْتَبَهْ او مَقَامْ ډېر غَټْ دئ، لِهٰذَا و دغه حَضَرَاتُوْ ته په هيڅ وَخْتْ هم چَيْ و رَيْ وَيِنَا كول جَوَازْ نَه لري .

په دغه ٨ آيَتُوْ كي د اَصْحَابَانُوْ ډېر غَټْ فَضِيْلَتُوْنَهْ راغلي دي، او په دغه آيَتُوْ كي ټولَ اَصْحَابَانْ شَرِيكَانْ دي، لِهٰذَا و هسي يَوَه صَحَابِيْ يا صَحَابِيَاتُ ته هيڅ كله هيڅ كله چَيْ و رَيْ وَيَل جَوَازْ نَه لري، ددې څخه د اِنْسَانْ اِيْمَانْ ضَائِعْ كيږي .

ددې يَو غَټْ نُقْصَانْ داهم دئ چي د اِنْسَانْ د زړَهْ څخه د صَحَابِيْ عَظْمَتْ وُزِي، او ددغه حَضَرَاتُو په تَوَسُّطْ سره چي ګُو دِيْنْ راغلئ دئ، پر هغه باندي په عَمَلْ كولو كي، يا دهغه په تَسْلِيْمَوُلُوْ كي سُسْتِيْ او كَاهِلِيْ پَيدَا كيږي، نو ځكه د ټولو اَصْحَابَانُوْ عَظْمَتْ په زړَهْ كي كښېنَوَل ډېر ضروري دئ .

# په دغه حَدِيْثُوْ کي و اَصْحَابَانُوْ ته د بښکنځَا کولو مَنْعَ راغلي

حُضُوْرْ (ﷺ) و اَصْحَابَانُوْ ته د بښکنځَا کولو څخه په سَخْتِيْ سره مَنْعَ کړې ده نو ځکه و اَدْنٰي صَحَابِيْ ته هم په هيڅ وَخْتْ بښکنځَا کول په کار نَه ده، او نَه د دُوي په شَاْنْ کي چَيْ و رَيْ وَيْنَا کول په کار ده .
ددې لپاره حَدِيْثُوْنه دغه دي

**۱: عَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ (ﷺ) لَاتَسُبُّوْا اَصْحَابِيْ فَلَوْ اَنَّ اَحَدَكُمْ اَنْفَقَ مِثْلَ اُحُدٍ ذَهَبًا مَابَلَغَ مُدَّ اَحَدِهِمْ وَلَانَصِيْفَهُمْ .**

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ فَضَائِلِ النَّبِيِّ (ﷺ) ،بَابُ ، ص: ۶۱۷، نَمْبَرْ ۳۶۷۳ / مُسْلِمْ شَرِيْفْ، بَابُ تَحْرِيْمِ سَبِّ الصَّحَابَةِ ،ص: ۱۱۱۳، نَمْبَرْ ۲۵۴۰/ ۶۴۸۷)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل چي زَمَا و اَصْحَابَانُوْ تـه بښکنځَا مَه کوئ، ځکه که چيري په تاسو کي يَو څوک د اُحُدْ (غَرَهْ) سره بَرَابَرْ سَرَهْ زَرْ (د اَللّٰهْ په لَارَهْ کي) مَصْرَفْ کي، نو د صَحَابِيْ د يَوَهْ مُدْ او د نِيْمَيْ مُدْ د مَصْرَفْ کولو بَرَابَرْ ثَوَابْ ته هم نَه سي رَسېدَلائي [ځکه چي هغوي د حُضُوْرْ (ﷺ) د مَدَدْ کولو لپاره مَصْرَفْ کړئ وُو] .

**۲: عَنْ عَطَاءَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) مَنْ سَبَّ اَصْحَابِيْ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ .**

(مُصَنَّفِ اِبْنِ اَبِيْ شَيْبَةَ،بَابُ ذِكْرِ الْكَفِّ عَنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ (ﷺ) ، ج: ۶ ، ص: ۴۰۵، نَمْبَرْ ۳۲۴۱۹)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل کُوم چَا چي زَمَا و اَصْحَابَانُوْ ته بښکنځَا وکړه پر هغه دي د اَللّٰهْ لَعْنَتْ وي .

**۳: عَنْ عَبْدِ اللهِ بنِ مُغَفَّلِ الْمُزَنِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اَللّٰهَ اَللّٰهَ فِيْ اَصْحَابِيْ، اَللّٰهَ اَللّٰهَ فِيْ اَصْحَابِيْ لَاتَتَّخِذُهُمْ غَرَضًا بَعْدِيْ، فَمَنْ اَحَبَّهُمْ فَبِحُبِّيْ اَحَبَّهُمْ، وَمَنْ اَبْغَضَهُمْ فَبِبُغْضِيْ اَبْغَضَهُمْ، وَمَنْ اٰذَاهُمْ فَقَدْ اٰذَانِيْ، وَمَنْ اٰذَانِيْ فَقَدْ اٰذَا اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالٰي، وَمَنْ اٰذَا اللهَ فَيُوْشِكُ اَنْ يَّأْخُذَهُ .**

(مُسْنَدِ اِمَامِ اَحْمَدْ ،بَابُ حَدِيْثِ عَبْدِ اللهِ بنِ مُغَفَّلِ الْمُزَنِيِّ، ج: ۶، ص: ۴۲، نَمْبَرْ ۲۰۰۲۶)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل چي: زَمَا د اَصْحَابَانُوْ په اړه د اَللّٰهْ څخه وَبېرېږئ، زَمَا د اَصْحَابَانُوْ په اړه د اَللّٰهْ څخه وَبېرېږئ، زَمَا وروسته دُوي د طَعْنْ و مَلَامَتْيَا نِښَانَهْ مَه کرزوئ، څوک چي د دُوي سره مُحَبَّتْ کوي هغه به زَمَا په وَجْهَ د دُوي سره مُحَبَّتْ

کوي، او څوک چي د دُوي سره بُغْضْ (نَفْرَتْ) کوي هغه به زَمَا په وجْهَ د دُوي سره بُغْضْ کوي، کُوم چَا چي دُوي ته تَکْلِیْفْ وَرسَاوَئ هغه ګُوَاکِهْ مَا ته تَکْلِیْفْ وَرسَاوَئ، او کُوم چَا چي مَا ته تَکْلِیْفْ وَرسَاوَئ نو هغه ګُوَاکِهْ وَ اَللّٰهْ ته تَکْلِیْفْ ورکئ، او کُوم چَا چي و اَللّٰهْ ته تَکْلِیْفْ وَرسَاوَئ نو کېدلائي سي چي اَللّٰهْ دي هغه په خپل ګرفْتْ (عَذَابْ) کي رَاتِینګ کي .

حُضُوْرْ (ﷺ) په دَرِدْ (دَرْدْ) سره د خپلو اَصْحَابَانُوْ په اړه وَ فرمائل چي دُوي د طَعْنْ او مَلَامَتْیَا نِشَانْ مه جُوړوَئ .

**۴: عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بن عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) لَیَأْتِیَنَّ عَلٰی اُمَّتِیْ مَا اَتٰی عَلٰی بَنِیْ اِسْرَآئِیْلَ حَزْوَ النَّعْلِ بِالنَّعْلِ ..... وَ اَنَّ بَنِیْ اِسْرَآئِیْلَ تَفَرَّقَتْ عَلٰی ثِنْتَیْنِ وَسَبْعِیْنَ مِلَّةً، وَتَفْتَرِقُ اُمَّتِیْ ثَلَاثَ وَسَبْعِیْنَ مِلَّةً، کُلُّهُمْ فِی النَّارِ اِلَّا مِلَّةً وَّاحِدَةً، قَالَ وَمَنْ هِیَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ؟ قَالَ مَا اَنَا وَ اَصْحَابِیْ .**

**(تِرْمِذِیْ شَرِیْفْ،کِتَابُ الْاِیْمَانْ، بَابُ مَاجَآءَ فِیْ اِفْتِرَاقِ هٰذِهِ الْاُمَّةِ ، ص: ۶۰۰، نَمْبَرْ ۲۶۴۱ / اَبُوْدَاؤُدْ شَرِیْفْ، کِتَابُ السُّنَّةِ، بَابُ شَرْحِ السُّنَّةِ ،ص: ۶۵۰، نَمْبَرْ ۴۵۹۷)**

تَرْجَمَه:- حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل چي زَمَا پر اُمَّتْ به د بَنِیْ اِسْرَائِیْلُوْ په شَانْ وَخْتْ رَاسِي، بِالْکُلْ سره بَرَابَرْ بَرَابَرْ ..... بَنِیْ اِسْرَائِیْلْ په دُوَهْ اَوْیَا ډَلُوْ کي تَقْسِیْمْ سوي وُو، او تاسو به په دری اَوْیَا ډَلُوْ کي تَقْسِیْمْ کېږئ، ټولي به دُوْزَخْ ته ځِي، مَا سِوَا د یَوې ډَلِي، خلکو پُوښْتَنَهْ وکړه یَارَسُوْلَ اللّٰهْ هغه به کُومه ډَلَّهْ وي؟ حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل، پر کُومه (طَرِیْقَهْ) چي زَهْ یم او زَمَا اَصْحَابَانْ دي .

په دغه حَدِیْثْ کي راغلي دي چي زَمَا اُمَّتْ به په دری اَوْیَا [۷۳] ډَلُو کي وَېشَل سي، او ټُولِي ډَلِي به دُوْزَخْ ته ځِي، لېکن کُومه فِرْقَهْ او ډَلّهْ چي زَمَا د اَصْحَابَانُوْ پر طَرِیْقَهْ رَوَانْ وي صِرف هغه نِجَاتْ مُوندَلائي سي .

**۵: سَمِعْتُ عِمْرَانَ بن حُصَیْنٍ یَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) خَیْرُ اُمَّتِیْ قَرْنِیْ ثُمَّ الَّذِیْنَ یَلُوْنَهُمْ، ثُمَّ الَّذِیْنَ یَلُوْنَهُمْ .**

**(بُخَارِیْ شَرِیْفْ، بَابُ فَضَائِلِ اَصْحَابِ النَّبِیِّ وَمَنْ صَحِبَ النَّبِیَّ اَوْ رَاٰهُ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ فَهُوَ مِنْ اَصْحَابِه، ص: ۶۱۲، نَمْبَرْ ۳۶۵۰)**

تَرْجَمَه:- حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل زَمَا د اُمَّتْ بِهْتَرِیْنَ خلک هغه دي کُوم چي زَمَا په زَمَانَهْ کي دي، بیا هغه خلک چي تر دې وروسته رَاځِي، بیا هغه خلک چي تر هغو ورسته رَاځِي .

ددې حَدِیْثْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي د حُضُوْرْ (ﷺ) په زَمَانَهْ کي چي کُوم اَصْحَابَانْ وُو هغه ددې اُمَّتْ بِهْتَرِیْنَ خلک وُو، نو په دغه وَجْهَ هم دُوي ته چَیْ و رَیْ وَیَل په کار نه دئ .

۶: سَمِعْتُ جَابِرَ بن عَبْدِ اللهِ يَقُوْلُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ (ﷺ) يَقُوْلُ لَاتَمُسُّ النَّارُ مُسْلِمًا رَآنِيْ اَوْ رَاٰی مَنْ رَآنِيْ .
(تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ، بَابُ مَاجَاءَ فِيْ فَضْلِ مَنْ رَاٰی النَّبِيَّ (ﷺ) وَصَحْبَهُ، ص: ۸۷۲، نَمْبَرْ ۳۸۵۸)
تَرْجَمَهْ:- مَا د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه اَورېدَلِي دي دايې فرمائل چي: کُوم چَا چي د اِسْلَامْ په حَالَتْ کي زَهْ لِيدَلَئ يَم، يا کُوم چَا چي زَهْ لِيدَلَئ يَم [يعني زَمَا صَحَابِيْ] هغه يې لِيدَلَئ وي، نو هغه به د دُوْزَخْ اُوْرْ (وُوْرْ) مَسْ نَه کي .

## په صَحَابَهْ ؤُ کي كه اِخْتِلَافَاتْ وي هم نو دهغه بَايَدْ دارنګه تَاْوِيْلْ وکي چي د اِتِّفَاقْ يَو صُوْرَتْ رامينځ ته سي

د قُرْآنِ کرِيْمْ دا تَعْلِيْمْ دئ چي د اَصْحَابَانُوْ په مينځ کي که چيري اِخْتِلَافَاتْ وي هم نو هغه اِخْتِلَافْ ته دي نور زِيَاتْ يُکْ نَه ورکوي، او تَشْهِيْرْ دي نَه ورکوي، بلکه دارنګه تَاْوِيْلْ دې وکي چي دهغه څخه د اِخْتِلَافْ صُوْرَتْ کَمْ سي، او د اِتِّفَاقْ کُوم زِيَاتْ صُوْرَتْ رامينځ ته سي .

په دغه دواړو آيَتُوْ کي ددغه تَعْلِيْمْ وَرکوَل سوئ دئ
۹: وَ اِنْ طَآئِفَتٰنِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا ج . (آيَتْ ۹،سُوْرَةُ الْحُجُرَاتْ ۴۹)
تَرْجَمَهْ:- او که چيري د مُسْلْمَانَانُوْ دُوې ډَلِيْ په خپل مَابَيْنْ کي سره وَجَنګېږي نو د دُوي په مَابَيْنْ کي صُلْحْ وکړئ .
۱۰: اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَ اَخَوَيْکُمْ وَاتَّقُوا اللهَ لَعَلَّکُمْ تُرْحَمُوْنَ
(آيَتْ ۱۰،سُوْرَةُ الْحُجُرَاتْ ۴۹)
تَرْجَمَهْ:- حَقِيْقَتْ خو دادئ چي ټُولَ مُسْلْمَانَانْ سره وُرُوْنَهْ دي، نو ځکه د خپلو دُوو وُرُوْنُوْ په مَابَيْنْ کي ښَهْ تَعَلُّقَاتْ جوړ کئ، او د اَللهْ څخه بيرېږئ چي ستاسو سره د رَحْمَتْ مَعَامَلَهْ وکړل سي.
په دغه دواړو آيَتُوْ کي دئ که چيري جَنْګْ رَامِينځ ته هم سي نو صُلْحْ (رُوْغَ) يې وَر وَکئ، نو ځکه د اَصْحَابَانُوْ د مَابَيْنْ اِخْتِلَافَاتْ بَايَدْ پر اِجْتِهَادِيْ غَلَطِيْ حَمَلْ سي، او تر ډېر لَا هم ډېر د اِتِّفَاقْ د پَيدَا کولو کُوښښ کول په کار دئ، د دُوي و اِخْتِلَافَاتُوْ ته لَا نور يُکْ وَرکوَل په کار نَه دئ .

# چي د اَصْحَابَانُوْ اِخْتِلَافَاتْ وَوِينِي نو حُضُوْرْ (ﷺ) مُوږ ته دغه دُوَه نَصِيْحَتُوْنَه کړي دي

حُضُوْرْ (ﷺ) ته د وَحِيْ په ذَرِيْعَهْ سره دغه اِطِّلَاعْ وَرکوَل سوې وه چي ستا څخه وروسته به د اَصْحَابَانُوْ په مِينځ کي اِخْتِلَافَاتْ راسي، او حضرت حُذَيْفَهْ ته د ډېرو خَبَرُوْ اِطِّلَاعَ وړکړې وه، حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل چي زَمَا څخه وروسته د اَصْحَابَانُوْ اِخْتِلَافَاتْ وَوِينَئ نو دُوَه کارُونَه ضرور وکئ

[١] يو خو دا چي څومره خُلَفَاءِ رَاشِدِيْنْ دي دهغوي اِتِّبَاعْ کوئ .

[٢] او دُوَهَمْ دا چي د اَصْحَابَانُوْ په اړه پَټّه خُولَه (خَامُوشْ) سئ، د يَوَه په حِمَايَتْ کي دهغه بَل په خِلَافْ تُرَهْ مَه رَا اَخلَئ .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي د څلورو سره خُلَفَاءُ سُنَّتُوْنَهْ (طَوْرْ و طَرِيْقَهْ) پر خپلو ځانو باندي لَازِمْ کئ

**عَنِ الْعِرْبَاضِ بنِ سَارِيَةَ، قَالَ وَعَظَنَا رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) يَوْمًا بَعْدَ صَلَاةِ الْغَدَاةِ مَوْعِظَةً بَلِيْغَةً ذَرَفَتْ مِنْهَا الْعُيُوْنُ وَوَجِلَتْ مِنْهَا الْقُلُوْبُ فَقَالَ رَجُلٌ اِنَّ هٰذِهِ مَوْعِظَةُ مُوْدِعٍ فَبِمَا ذَا تَعَهَّدُ اِلَيْنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ ..... فَاِنَّهُ مَنْ يَّعِيْشُ مِنْكُمْ يَرٰى اِخْتِلَافًا كَثِيْرًا وَاِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتُ الْاُمُوْرِ، فَاِنَّهَا ضَلَالَةٌ، فَمَنْ اَدْرَكَ ذٰالِكَ مِنْكُمْ فَعَلَيْكُمْ بسُنَّتِيْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ الْمَهْدِيِّيْنَ عَضُّوْا عَلَيْهَا بالنَّوَاجِذِ .**

**(تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْعِلْمِ،بَابُ مَا جَاءَ فِى الْاَخْذِ بالسُّنَّةِ وَ اِجْتِنَابِ الْبِدْعَةِ،ص: ٦٠٧، نَمْبَرْ ٢٦٧٦ / اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْمُقَدِّمَةْ،بَابُ اِتِّبَاعِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ الْمَهْدِيِّيْنَ،ص: ٦، نَمْبَرْ ٤٢)**

تَرْجَمَهْ:- حضرت عِرْبَاضْ بن سَارِيَهْ فرمائي چي: يَوَه وُرَځْ د سَهَارْ د لُمُوْنځْ وروسته حُضُوْرْ (ﷺ) مُوږ ته نَصِيْحَتْ وکئ، دارنګه نَصِيْحَتْ يې وکئ چي سترګو وَښْکِيْ وَبَيَولي، زْرُوْنَهْ د خپلو ځايُو څخه رَاوَغُورزېدَل، يَوَه سړي وويل دارنګه ښکاره کېږي لکه دغه چي اَلْوِدَاعِيْ (د حُضُوْرْ (ﷺ) آخَرِيْ) نَصِيْحَتْ دئ، نو ځکه ائ د اَللّٰهْ رَسُوْلَ زُمُوږ څخه کُوم عَهْدْ (پِيْمَانْ) اَخستَل غُوَاړي؟ ..... حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل څوک چي ژَوَندَئ پاته سي هغه به ډېر اِخْتِلَافَاتْ وَوِينِي، ګُورَئ (په دِيْنْ کي د ځانَ څخه) کُومه نَوې خَبَرَهْ مَه پَيدَا کوئ، ځکه چي هغه ګُمْرَهِيْ ده، چي کُوم څوک د اِخْتِلَافْ زَمَانَهْ وَوِينِي نو پر هغه باندي زَمَا سُنَّتْ او هِدَايَتْ يَافتَهْ خُلَفَاءِ رَاشِدِيْنْ (مَضْبُوْطَ نِيوَل) لَازِمْ دي، هغه (د زَامِيْ) په غَاښُوْ سره ټينګ کئ .

په دغه حَدِيْثْ کي درې خَبَرِيْ دي

[۱] حُضُوْرْ (ﷺ) په ډېر دَرْدْ (دَرْدْ) سره دغه آخِرِيْ نَصِيْحَتْ کړی دئ،نو چي کُوم عَهْدْ حُضُوْرْ (ﷺ) د اَصْحَابَانُوْ څخه اَخستئ دئ هغه ډېر مُهِمْ دئ .

[۲] دُوَهَمَّهْ خَبَرَهْ يي دا کړې ده چي زَمَا څخه وروسته به ډېر اِخْتِلَافَاتْ وي، نو ځکه هغه وَخْتْ د خُلَفَاءِ رَاشِدِيْنُ سُنَّتْ لَازِمْ وَنيسئ .

[۳] دَرِيَمَّهْ خَبَرَهْ يي دا کړې ده چي څلور سره خُلَفَاءِ رَاشِدِيْنْ [رَضِيَ اللهُ تَعَالٰي عَنْهُمْ وَمَنْ تبعهُمْ اَجْمَعِيْنْ] پر هِدَايَتْ دي، ..... نو اُوس چي کُوم خلک حضرت عَلِيْ (ؓ) تَسْلِيْمَوِي او هغه نور درې حَضَرَات پرېږدي، دغه خلک څومره غَتَّهْ غَلَطِيْ کوي؟ بيا دا چي څلور سره خُلَفَاءْ پر هِدَايَتْ دي نو کُوم خلک چي درې خُلَفَاءْ پر غَلَطِيْ او خَطَاءْ باندي ګڼي نو دغه خلک څومره غَتَّهْ غَلَطِيْ کوي؟ لِهٰذَا ډېر د فِکْرْ او سوچ خَبَرَهْ ده .

په دغه رَاروَانْ حَدِيْثْ کي بيا راغلي دي چي د اَصْحَابَانُوْ د اِخْتِلَافْ په سَلْسَلَهْ کي پَتَّهْ خُولَهْ او چُپْ پاتَه سئ

قَالَ لِيْ اَهْبَانُ بن صَيْفِيْ: قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ: يَا اَهْبَانُ! اَمَّا اِنَّكَ اِنْ بَقَيْتَ بَعْدِيْ فَستَرٰى فِيْ اَصْحَابِيْ اِخْتِلَافًا، فَاِنْ بَقَيْتَ اِلٰى ذَالِكَ الْيَوْمِ فَاجْعَلْ سَيْفَكَ مِنْ عَرَاجِيْنِ، قَالَ فَجَعَلْتُ سَيْفِيْ مِنْ عَرَاجِيْنْ .

(طَبْرَانِيْ كَبِيْرْ، مُسْنَدُ اَهْبَانْ بن صَيْفِي الْغِفَارِيْ، ج: ۱، ص: ۲۹۵، نَمْبَرْ ۸۶۸)

تَرْجَمَهْ:- حضرت اَهْبَانْ وفرمائل چي مَا ته حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل، ائ اَهْبَانَ که چيري زمَا وروسته تَه ژُوندئ پاته سوې نو زمَا په اَصْحَابَانُوْ کي به اِخْتِلَافَاتْ وَوينې، که چيري تَه تر هغه وَختَه پُوري ژُوندئ پاته وې، نو خپله تُرَهْ د خُوْرْمَا د بِنَاخْ څخه جوړه که، [يعني د وَسْپِيْنِيْ په تُرَهْ سره د کُوم صَحَابِيْ په خِلَافْ مَه جنګيږه]، حضرت اَهْبَانْ فرمائي چي: مَا د خُوْرْمَا د بِنَاخْ څخه تُرَهْ جوړه کړې ده .

## د اَصْحَابَانُوْ په مينځ کي چي کُوم اِخْتِلَافْ راغلئ دئ مُوږ بَايَدْ د هغه څخه خپل ځانونه وَساتُو

د حضرت اِمَامِ شَافِعِيْ (ؒ) قَوْلْ

. تِلْكَ دِمَاءٌ طَهَرَ اللهُ اَيْدِيَنَا مِنْهَا فَلَا نُلَوِّثُ اَلْسِنَتَنَا بِهَا .

(شَرْحُ فِقْهِ الْاَ كْبَرْ،بَحْثٌ فِيْ اَنَّ الْمَعَاصِيْ تَضُرُّ مُرْتَكِبُهَا خِلَافًا لِبَعْضِ الطَّوَائِفِ،ص: ۱۱۷)

تَرْجَمَهْ:- د اَصْحَابَانُوْ په مينځ کي چي کُومِي وِيْنِيْ تُوي سوي دي، اَللّٰهْ زُمُوږ لَاسُوْنَهْ دهغه څخه پَاکْ ساتلي دي، نو اُوس مُوږ خپلي ژَبِيْ په هغه نَه ککړوُو (لړُو) .

د حضرت اِمَامِ اَحْمَدْ () قَوْلْ

. وَسُئِلَ اَحْمَدُ عَنْ اَمْرِ عَلِيِّ وَعَائِشَةَ فَقَالَ تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَاكَسَبَتْ وَلَكُمْ مَاكَسَبْتُمْ وَلَاتُسْئَلُوْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ .

(شَرْحُ فِقْهِ الْاَ كْبَرْ،بَحْثٌ فِيْ اَنَّ الْمَعَاصِيْ تَضُرُّ مُرْتَكِبُهَا خِلَافًا لِبَعْضِ الطَّوَائِفِ،ص: ۱۱۷)

تَرْجَمَهْ:- د حضرت عَلِيْ او حضرت عَائِشَهْ په مَابَيْنْ کي چي کُوم اِخْتِلَافْ راغلئ وُو، دهغه په اړه د حضرت اِمَامِ اَحْمَدْ څخه يُوْښْتَنَهْ وکړه، نو ده وفرمائل، هغه خلګ وُو چي تېر سو، چي څه ئُوي کړي وُو، دهغه نُقْصَانْ يا فَائِدَهْ به هغوي ته رسيږي، او چي څه تاسو کوئ دهغه نُقْصَانْ يا فَائِدَهْ به تاسو ته رسيږي، هغو خلګو چي هر څه کړي دي دهغه په اړه ستاسو څخه هيڅ يُوْښْتَنَهْ ګرْوِيږنَهْ نه کيږي .

دغه دواړو حضراتو فرمائلي دي چي د اَصْحَابَانُوْ په مينځ کي چي کُوم اِخْتِلَافَاتْ وُو هغه د ئُوي اِجْتِهَادِيْ غَلَطِيْ وه، نو ځکه مُوږ ته په کار دئ چي په هغه کي خپل ځانونه مُلَوّثْ نه کوو، دغه دواړو حضراتو د لُوړ تېر سوو حَدِيْثُوْ څخه اِسْتِدْلَالْ کړئ دئ، او پر هغه يې عَمَلْ کړئ دئ، مُوږ هم بَايَدْ پر دغه باندي عَمَلْ وکو .

## دغه لَس اَصْحَابَانْ دي چي په دُنْيَا کې د جَنَّتْ زيرئ ورکړئ دئ

وَ دغه لَسُو اَصْحَابَانُوْ ته په دُنْيَا کي د جَنَّتْ بَشَارَتْ (زيرئ) وَرکوَل سوئ دئ، او عَجَبَّهْ خَبَرَهْ خو داده چي ددې بَاوُجُوْدَ وَ حضرت اَبُوْبَكْرْ، حضرت عُمَرْ، حضرت عُثْمَانْ او دغه رنګه نورو ته خلګ چَيْ و رَيْ وَيْنَاوِيْ کوي، حَدِيْثْ دغه دئ

۷: عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنَ بن عَوْف قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اَبُوْبَكْرٌ فِى الْجَنَّةِ، وَعُمَرُ فِى الْجَنَّةِ، وَعُثْمَانُ فِى الْجَنَّةِ، وَعَلِىٌّ فِى الْجَنَّةِ، وَطَلْحَةَ فِى الْجَنَّةِ، وَالزُّبَيْرُ فِى الْجَنَّةِ، وَعَبْدُالرَّحْمٰن بن عَوْف فِى الْجَنَّةِ، وَسَعْدُ بن وَقَّاصِ فِى الْجَنَّةِ، وَسَعِيْدُ بن زَيْدِ فِى الْجَنَّةِ، وَ اَبُوْ عُبَيْدَةَ بن الْجَرَّاحِ فِى الْجَنَّةِ .

(تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ، بَابُ مَنَاقِبِ عَبْدِ الرَّحْمٰنْ بن عَوْفِ، ص: ۸۵۱، نَمْبَرْ ۳۷۴۷)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَفرمَائِل اَبُوْبَكْرْ په جَنَّتْ کي دئ، عُمَرْ په جَنَّتْ کي دئ، عُثْمَانْ په جَنَّتْ کي دئ، عَلِيْ په جَنَّتْ کي دئ، طَلْحَهْ په جَنَّتْ کي دئ، زُبَيْرْ په جَنَّتْ کي دئ، عَبْدُ الرَّحْمٰن اِبْنْ عَوْفْ په جَنَّتْ کي دئ، سَعْدْ اِبْنِ اَبِيْ وَقَّاصْ په جَنَّتْ کي دئ، سَعِيْدْ اِبْنْ زَيْدْ په جَنَّتْ کي دئ، او عُبَيْدَهْ اِبْنِ الْجَرَّاحْ په جَنَّتْ کي دئ .

دا هغه حضرات دي چي په دُنْيَا کي لَا د جَنَّتْ زېرئ وَرکوَل سوئ دئ .
خُدَائ دي وَکِي چي مُوږ ته هم د دُوي مَلګرِي نَصِيْبْ سي .

ددغه عَقِيدې په اړه ۱۰ آيَتُوْنَهْ او ۷ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کئ .

## ۱۸: د اَهْلِ بَيْتْ سره مُحَبَّتْ کول د اِيْمَانْ جُزْءْ دئ

د حُضُوْرْ (ﷺ) ټولِي بِيْ بِيْ ګانِ، او حضرت فَاطِمَهْ، حضرت عَلِيْ، حضرت حَسَنْ او حضرت حُسَيْنْ دغه ټولَ په اَهْلِ بَيْتْ کي دَاخِلْ دي، او همېشه به په اَهْلِ بَيْتْ کي شَامِلْ پاته وي .
دا خَبَرَهْ هم ضروري ده چي د اَهْلِ بَيْتْ په مُحَبَّتْ کي و بَل صَحَابِيْ ته بَدْ و رَدْ وَيَل جَوَازْ نَه لري .
په خُصُوْصِيْ تُوګه بيا و حَضرَت عَائِشَهْ، او حضرت اَبُوْبَکْرْ، حضرت عُمَرْ او حضرت عُثْمَانْ ته چَيْ و رَيْ وَيَل بِالْکُلْ نَاجَائِزْ عَمَلْ دئ .
او په دُوي کي چي کُوم اِخْتِلَافْ راغلئ دئ هغه اِجْتِهَادِيْ غَلَطِيْ ده، اَللّٰهْ دي دهغه عَفْوَ ورته وکي .
حضرت عَلِيْ او حضرت حُسَيْنْ د هر څومره فَضَائِلُوْ بَاوُجُوْدَ نَه مُشْکِلْ کُشَا دي، او نَه کَارْسَازَ دي، نو ځکه د دُوي څخه مَدَدْ غُوښْتَلْ جَوَازْ نَه لري، حُضُوْرْ (ﷺ) ددغه خَبَرِيْ د تَعْلِيْمْ وَرکوُلُو لپاره تَشرِيف رَاوړئ وُو .

د حُضُوْرْ (ﷺ) دا تَمَنَّا (خُوَاهِشْ) وُو چي زَهْ د دُنْيَا څخه وُلَاړْ سَم او په خپله خَلِيْفَهْ نَه وَټاکم او نَه يې مَعْلُوْمْ کم، بلکه جَمْهُوْرِيَّتْ بَرْقَرَارَهْ پاته سي، او اُمَّتْ په خپله د خپل خَلِيْفَهْ اِنْتِخَابْ وکړي، اَلْبَتَّهْ د حُضُوْرْ (ﷺ) دا تَمَنَّا وه چي اَبُوْبَکْرْ اَوَّلْ (لُومړئ) خَلِيْفَهْ وي .
ددغه ټوله تَفْصِيْلْ مَخْتَه رَارَوَانْ دئ .

# په اَهْلِ بَيْتْ كي څوک څوک دَاخِلْ دي؟

د حُضُوْرْ (ﷺ) ټولي بي بي گانِ په اَهْلِ بَيْتْ كي دَاخِلْ دي، ځكه چي و بي بي ته خو د كُوْرْ وَالاَ وَيَل كيږي، په ډُوي كي تر ټولو زِيَاتَهْ حَقْدَارَهْ حضرت خَدِيْجَهْ ده چي د حضرت فَاطِمَهْ مُوْرْ ده، ددې سره حضرت عَائِشَهْ، حضرت حَفْصَهْ او ټولي بي بي گانِ په اَهْلِ بَيْتْ كي دَاخِلْ دي، او د آيَتْ مِصْدَاقْ خو ډُوي ټولي دي نو ځكه ټولو ته د پَاكئ دغه فَضِيْلَتْ حَاصِلْ دئ .

وروسته حُضُوْرْ (ﷺ) بيا حضرت فَاطِمَهْ، حضرت عَلِيْ، حضرت حَسَنْ او حضرت حُسَيْنْ په اَهْلِ بَيْتْ كي دَاخِلْ كړل، نو ځكه وروسته به و ډُوي ته هم د آيَتْ ,, وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيْرًا ,, فَضِيْلَتْ حَاصِلْ وي .

بعضو خلكو څه زِيَاتُوْبْ كړئ دئ چي اَزْوَاجِ مُطَهَّرَاتْ، خُصُوْصًا حضرت عَائِشَهْ او حضرت حَفْصَهْ يې د اَهْلِ بَيْتْ څخه اِيستَلِي دي، او نور ظُلْمْ يې دا هم كړئ دئ چي و ډُوي ته چَپْ و رَپْ وَيْنَاوئ كوي، او حضرت عَلِيْ په اَهْلِ بَيْتْ كي دَاخِلَوِيْ، او دغه حَضَرَات ډُومرَه تر خپلي مَرتَبې لُوړَوِي چي تر نَبِيَانُوْ هم د ډُوي دَرَجَهْ و مَرْتَبَهْ لُوړَوِي، دغه صَحِيْحْ عَمَلْ نَه دئ .

بلكه صَحِيْحْ خَبَرَهْ داده چي ټُولِي اَزْوَاجِ مُطَهَّرَاتِ او حضرت فَاطِمَهْ، حضرت عَلِيْ، حضرت حَسَنْ، او حضرت حُسَيْنْ په اَهْلِ بَيْتْ كي دَاخِلْ دي، او د اَهْلِ بَيْتْ په اِعْتِبَارْ سره ډُوي ټولَ سره بَرَابَرْ دي .

په اَهْلِ بَيْتْ كي بي بي گانِ دَاخِلْ دي، دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَه دي

۱: يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَاَحَدٍ مِّنَ النِّسَآءِ اِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِيْ فِيْ قَلْبِهٖ مَرَضٌ وَّ قُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ۝ج وَقَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّ جَ الْجَاهِلِيَّةِ الْاُوْلٰى وَ اَقِمْنَ الصَّلٰوةَ وَ اٰتِيْنَ الزَّكٰوةَ وَ اَطِعْنَ اللهَ وَ رَسُوْلَهٗ ط اِنَّمَا يُرِيْدُ اللهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ اَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيْرًا ۝ وَ اذْ كُرْنَ مَا يُتْلٰى فِيْ بُيُوْتِكُنَّ مِنْ اٰيٰتِ اللهِ وَالْحِكْمَةِ ط اِنَّ اللهَ كَانَ لَطِيْفًا خَبِيْرًا ط ۝ ع .

(آيَتْ ۳۱، تا ۳۴، سُوْرَةُ الْاَحْزَابْ ۳۳) .

تَرْجَمَهْ:- اى دنَبِيْ بي بي گانُوْ! كه چيري تاسو تَقْوٰى اِخْتِيَارْ كئ نوتاسوخودعَامَهْ ښځو په شَانْ نَه ياست، لِهٰذَا تاسو په نَازَكْ مِزَاجِيْ (نَزَاكَتْ) سره خَبَرِيْ مَه كوئ،كله به دارنگه څوک بې حَايَهْ لَالَچْ وكي چي په زړَهْ كې مَرَضْ وي، او خَبَرَهْ هغه كوئ چي د خَيْرْ وي. ۝ او په خپلو كُوْرُوْ كي په قَرَارْ وسيږئ، او (نَامَحْرَمْ خلكو ته) د زِيْبْ و زِيْنَتْ سره مَه گرزئ رَاگرزئ، لكه څنگه چي په پَخْوَانِيْ جَاهِلِيَّتْ كي ښكاره كېدل ه، او لَمُوْنَځْ قَائِمَوِئْ، او زَكٰوةْ اداء كوئ، او د اَللهْ او دهغه د رَسُوْلْ فَرْمَانْبَرْدَارِيْ كوئ، اى د

نَبِيْ اَهْلِ بَيْتَ! (كُوْرَنِيَانُوْ!)، اَللهْ خو دا غُوَاړِي چي ستاسو څخه گَنْدَگِيْ ليري کړي، او تاسو ته دارنگه پَاکِيْزَگِيْ درکړي چي په هر ډَوَل مُکَمَّلَهْ وي. او ستاسو په کُوْرُوْ کي چي د اَللهْ کُوم آيَتُوْنَهْ او د حِکْمَتْ کُومِي خَبَرِيْ اَوروَل کيږي، هغه په يَادْ لرئ، يَقِيْنْ وکئ اَللهْ ډېر بَارِيْکْ بِيْنَ او په هره خَبَرَهْ خَبَرْدَارَهْ دئ.

په دغه آيَتْ کي د حُضُوْرْ (ﷺ) وَ ټولو بِيْ بِيْ گَانُوْ ته په يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَاَحَدٍ مِّنَ النِّسَآءِ سره خِطَابْ کړئ دئ، بيايي د ,, كُنَّ ,, په جَمْعِ مُؤَنَّثْ حَاضِرْ صِيغَه سره خِطَابْ کړئ دئ، او دايې هم فرمائلي دي چي اې اَهْلِ بَيْتْ اَللهْ تَعَالٰي خو غُوَاړِي چي تاسو پَاکِ کړي، نو ځکه بِيْ بِيْ گَانِ خو اَللهْ تَعَالٰي په اَهْلِ بَيْتْ کي دَاخِلِ کړي دي .

دغه مُکَمَّلْ آيَت تاسو مُلَاحَظَهْ کئ چي د ,, اِنَّمَا يُرِيْدُ اللهُ ,, څخه مَخکي هم د ,, كُنَّ ,, يعني د جَمْعِ مُؤَنَّثْ حَاضِرْ په صِيْغَهْ سره يې د حُضُوْرْ (ﷺ) بِيْ بِيْ گَانِ مُخَاطَبْ کړي دي، او په ,, وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيْرًا ,, وروسته هم د ,, كُنَّ ,, يعني د جَمْعِ مُؤَنَّثْ حَاضِرْ په صِيْغَهْ سره يې د حُضُوْرْ (ﷺ) بِيْ بِيْ گَانِ مُخَاطَبْ کړي دي، نو ځکه په مَابَيْنْ کي د ,, اِنَّمَا يُرِيْدُ اللهُ اِلَخْ ,, څخه هم د حُضُوْرْ (ﷺ) بِيْ بِيْ گَانِ مُرَاد دي، او هغه په اَهْلِ بَيْتْ کي دَاخِلِ دي، او وروسته حضرت فَاطِمَهْ او حضرت عَلِيْ بيا حُضُوْرْ (ﷺ) په اَهْلِ بَيْتْ کي دَاخِلْ کړي دي، نو ځکه په اَهْلِ بَيْتْ کي حضرت خَدِيْجَهْ، حضرت عَائِشَهْ، حضرت حَفْصَهْ او دغه رنگه نوري ټولِ بِيْ بِيْ گَانِ دَاخِلِ دي .

نُکْتَهْ :- د آيَتْ په مَابَيْنْ کې، لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ اَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيْرًا کي ,, عَنْكُمْ ,, او ,, يُطَهِّرَكُمْ ,, کې د جَمْعِ مُذَكَّرْ حَاضِرْ صِيْغَهْ رَاوړې ده، ددې وَجْهَ داده چي په اَهْلِ بَيْتْ کي حُضُوْرْ (ﷺ) هم دَاخِلْ دئ، نو دده د عَظْمَتْ لپاره يې د ,, كُمْ ,, يعني جَمْعْ مُذَكَّرْ حَاضِرْ صِيْغَهْ رَاوړې ده، او په هغه کي ټولِي بِيْ بِيْ گَانِ دَاخِلِ دي .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي د حُضُوْرْ (ﷺ) بِيْ بِيْ گَانِ د اَوَّلْ څخه لَا په اَهْلِ بَيْتْ کي دَاخِلِ دي

١ : عَنْ اُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ اُنْزِلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ (اِنَّمَا يُرِيْدُ اللهُ اِلَخْ) [آيَتْ ٣٣،سُوْرَةُ الْاَحْزَابْ ٣٣] ..... قُلْتُ وَاَنَا مَعَكُمْ يَارَسُوْلَ اللهِ؟ قَالَ وَاَنْتَ مَعَنَا .

(طَبْرَانِيْ كبيرْ،مُسْنَدُ اُمِّ حَبِيْبَةَ بِنْتِ كَيْسَانَ عَنْ اُمِّ سَلَمَةَ،ج: ٢٣، ص: ٣٥٧، نَمْبَرْ ٨٣٩)

تَرْجَمَهْ:- حضرت اُمِّ سَلَمَهْ وَفَرمَائِل چي کله دغه آيَتْ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللهُ اِلَخْ نَازِلْ سو ..... نو مَا پُوښتَنَه وکړه چي مُوږ بِيْ بِيْ گانْ هم په اَهْلِ بَيْتْ کي دَاخِلِ يُو؟ نو حُضُوْرْ (ﷺ) جَوَابْ راکئ چي تاسو هم زُمُوږ سره په اَهْلِ بَيْتْ کي دَاخِلِ ياست .

په دغه حَدِيْثْ کي په صَرَاحَتْ سره راغلي دي چي حضرت اُمِّ سَلَمَهْ د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه پُوښتَنَه وکړه چي مُوږ (يعني بِيْ بِيْ گانْ) هم په اَهْلِ بَيْتْ کي او د تَطْهِيْرْ په آيَتْ کي دَاخِلِ يُو، نو حُضُوْرْ (ﷺ) جَوَابْ ورکئ چي هُو! تاسو هم په اَهْلِ بَيْتْ کي دَاخِلِ ياست .

**۲: عَنْ اَنَسٍ قَالَ بُنِيَ عَلَى النَّبِيِّ (ﷺ) بِزَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ بِخُبْزٍ وَلَحْمٍ ..... فَخَرَجَ النَّبِيُّ (ﷺ) فَانْطَلَقَ اِلٰى حُجْرَةِ عَائِشَةَ فَقَالَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ اَهْلَ الْبَيْتِ وَرَحْمَةُ اللهِ، فَقَالَتْ وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَ رَحْمَةُ اللهِ، وَكَيْفَ وَجَدْتَّ اَهْلَكَ؟ بَارَكَ اللهُ لَكَ فَتَقَرّٰى حُجَرَ نِسَائِهٖ كُلِّهِنَّ، يَقُوْلُ لَهُنَّ كَمَا يَقُوْلُ لِعَائِشَةَ وَيَقُلْنَ لَهٗ كَمَا قَالَتْ عَائِشَةُ .**

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ التَّفْسِيْرْ،بَابٌ لَاتَدْخُلُوْا بُيُوْتَ النَّبِيِّ اِلَّآ اَنْ يُّؤْذَنَ لَكُمْ اِلٰى طَعَامٍ[آيَتْ: ۵۳، سُوْرَةُ صٓ ] ص: ۸۴۳، نَمْبَرْ ۴۷۹۳)

تَرْجَمَهْ:- د حضرت اَنَسْ څخه رِوَايَتْ دئ چي کله حُضُوْرْ د دُوْدَئ او غُوښي څخه د زَيْنَبْ بِنْتِ جَحْشْ وَلِيْمَهْ (د وَادَهْ دُوْدَئ) وکړه ..... حُضُوْرْ د حضرت عَائِشَهْ د کمْرِي (خُوْنِيْ/ كُوْټِي) وَ طَرَفْ ته تَشرِيف يُوړئ او وَفرمَائِل، اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ اَهْلَ الْبَيْتِ وَرَحْمَةُ اللهِ، نو حضرت عَائِشَهْ وفرمائل، وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ، بيا دې پُوښتَنَه وکړه چي: تَا خپل اَهْلْ يعني خپله نوې بِيْ بِيْ زَيْنَبْ څنګه وَمُوندَلَه؟ اَللهْ دي تَا ته بَرَکَتْ درکړي، حُضُوْرْ د ټولو بِيْ بِيْ كَانُوْ كُوْټُوْ (كمرُوْ) ته تَشرِيف يُوړئ، او هره بِيْ بِيْ ته يي دغه رنګه وَيَل لکه څنګه چي و حضرت عَائِشَهْ ته وَيَلِي وُو، او ټولو بِيْ بِيْ كَانُوْ دغه رنګه ورته وَيَل لکه څنګه چي حضرت عَائِشي وَرتَه وَيَلِي وُو .

په دغه حَدِيْثْ کې و ټولو بِيْ بِيْ كَانُوْ ته اَهْلِ بَيْتْ وَيَلِي دي، ددې څخه مَعْلُوْمْ سو چي بِيْ بِيْ (مَيْنَهْ) په اَهْلِ بَيْتْ کي وي، او حضرت عَائِشَهْ او حضرت حَفْصَهْ د حُضُوْرْ (ﷺ) په اَهْلِ بَيْتْ کي دَاخِلِ دي .

**۳: اِنْطَلَقْتُ اَنَا وَحُصَيْنُ اِلٰى زَيْدِ بنِ اَرْقَمَ ..... قَامَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) يَوْمًا فِيْنَا خَطِيْبًا بِمَاءٍ يُدْعٰى خُمًّا بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِيْنَةَ ..... ثُمَّ قَالَ وَاَهْلُ بَيْتِيْ، اُذَ كِّرُكُمُ اللهَ فِيْ اَهْلِ بَيْتِيْ، اُذَ كِّرُكُمُ اللهَ فِيْ اَهْلِ بَيْتِيْ، اُذَ كِّرُكُمُ اللهَ فِيْ اَهْلِ بَيْتِيْ، فَقَالَ لَهٗ حُصَيْنُ وَمَنْ اَهْلُ بَيْتِهٖ؟ يَا زَيْدُ اَلَيْسَ نِسَائُهٗ مِنْ اَهْلِ بَيْتِهٖ؟ قَالَ نِسَائُهٗ مِنْ اَهْلِ بَيْتِهٖ وَلٰكِنْ اَهْلُ بَيْتِهٖ مَنْ حُرِمَ الصَّدَقَةَ بَعْدَهٗ .**

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،بَابٌ مِنْ فَضَائِلِ عَلِيِّ بنِ طَالِبٍ، ص: ۱۰۶۱، نَمْبَرْ ۲۴۰۸ / ۶۲۲۵)

تَرْجَمَهْ:- زَهْ او حُصَيْنْ زَيْدْ بِن اَرْقَمْ ته وَرَغلُو ..... د مَكَّهْ او مَدِيْنَهْ په مَابَيْنْ كي د اُوْبُوْ يَو ځائ دئ چي نُوم يې خُمْ دئ، هلته يَوه وُرَځْ حُضُوْرْ (ﷺ) زمُوږ په مَخكِي د خُطبَهْ وَيلُو لپاره وَلاَړْ سو، بيا حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل، زَمَا كُوْرَنَيْ، زَهْ د خپلي كُوْرَنَيْ په اړه تاسو ته اَللهْ دَر په يَادَوَمْ، د حضرت زَيْدْ څخه حُصَيْنْ پُوْښْتَنَهْ وكړه، د حُضُوْرْ (ﷺ) اَهْلِ بَيْتْ څوک دي؟ حضرت زَيْدَا! دده بِيْ بِيْ ګان اَهْلِ بَيْتْ نَه دي؟ نو حضرت زَيْدْ وَفرمائل، د حُضُوْرْ (ﷺ) بِيْ بِيْ ګان په اَهْلِ بَيْتْ كي دي، ليكن كُومُو خلكو ته چي زَكوٰةْ اَخستَل حَرَامْ دئ د بِيْ بِيْ ګانُوْ څخه عَلاوَهْ هغه هم ، په اَهْلِ بَيْتْ كي دَاخِلْ دي .

په دغه حَدِيْثُوْ كې د حُضُوْرْ (ﷺ) و ټولو بِيْ بِيْ ګانُوْ ته اَهْلِ بَيْتْ وَيلي دي، نو په دغه وَجْهَ د حُضُوْرْ (ﷺ) ټولي بِيْ بِيْ ګانِ په اَهْلِ بَيْتْ كي دَاخِلِ دي او دُوي ته هم د تَطْهِيْرْ فَضِيْلَتْ حَاصِلْ دئ .

په دغه آيَتْ كي د اَهْلْ څخه د حضرت مُوْسٰى عَلَيْهِ السَّلاَمْ بِيْ بِيْ مُرَاد ده .

۲: اِذْ رَ اٰ نَارًا فَقَالَ لِاَهْلِهِ امْكُثُوْٓ ا اِ نِّيْٓ اٰنَسْتُ نَارًا . (آيَتْ ۱۰،سُوْرَةُ طٰهٰ ۲۰) .

تَرْجَمَهْ:- دا دهغه وَخت خَبَرَهْ ده چي كله ده (مُوْسٰى) يَو اُوْرْ (وُوْرْ) وَلِيدَئ نو ده خپلي كُورنَئ ته وويل:,, تاسو دَلې قِيَامْ وكئ، مَا يَو اُوْرْ لِيدَلَئ دئ .

په دغه آيَتْ كي د اَهْلْ څخه د حضرت مُوْسٰى عَلَيْهِ السَّلاَمْ بِيْ بِيْ صَفُوْرَهْ مُرَاد ده، نو ځكه په اَهْلِ بَيْتْ كي ټولي بِيْ بِيْ ګانِ دَاخِلِ دي .

## وروسته حُضُوْرْ (ﷺ) حضرت عَلِيْ، فَاطِمَهْ، حَسَنْ، او حُسَيْنْ په اَهْلِ بَيْتْ كي دَاخِلْ كړل

د آيَتْ د اَنْدَازْ څخه مَعلُوميږي چي اَزْوَاجِ مُطَهَّرَاتْ مَخكِي لَا په اَهْلِ بَيْتْ كي دَاخِلِ وې، وروسته حُضُوْرْ (ﷺ) حضرت عَلِيْ، فَاطِمَهْ، حَسَنْ، او حُسَيْنْ په اَهْلِ بَيْتْ كي دَاخِلْ كړي دي،اُوس د همېشه لپاره دُوي په اَهْلِ بَيْتْ كي دَاخِلْ سوي دي .

ددې دَلِيْلْ دغه حَدِيْثْ دئ

۴: قَالَتْ عَائِشَةُ خَرَجَ النَّبِيُّ (ﷺ) غَدَاةً وَعَلَيْهِ مِرْطٌ مَرَحَّلٌ مِّنْ شَعْرِ اَسْوَدَ فَجَاءَ الْحَسَنُ بن عَلِيِّ فَاَدْخَلَهُ ثُمَّ جَاءَ الْحُسَيْنُ فَدَخَلَ مَعَهُ، ثُمَّ جَاءَتْ فَاطِمَةَ فَاَدْخَلَهَا ثُمَّ جَاءَ عَلِيٌّ فَاَدْخَلَهُ ثُمَّ قَالَ:- اِنَّمَا يُرِيْدُ اللهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ اَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيْرًا .

[آيَتْ ۳۳،سُوْرَةُ الْاَحْزَابْ ۳۳] (مُسْلِمْ شَرِيْفْ،بَابُ فَضَائِلِ اَهْلِ بَيْتِ النَّبِيِّ (ﷺ)، ص: ۱۰۶۷ ، نَمْبَرْ ۲۴۲۴ / ۶۲۶۱ / تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْمَنَاقِبْ، بَابُ مَنَاقِبِ اَهْلِ الْبَيْتِ، ص: ۸۵۹ ، نَمْبَرْ ۳۷۸۷) .

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) يو سَهَارْ رَاوَوَاتَئ، دده پر بَدَنْ مُبَارَكْ باندي يو نَقْشَهْ دَارَهْ يَتُوْ وُو، حضرت حَسَنْ بِنِ عَلِيْ راغلئ حُضُوْرْ (ﷺ) هغه په يَتُوْ كي دَاخِلْ كئ، بيا حضرت حُسَيْنْ راغلئ، هغه يې هم د حضرت حَسَنْ سره دَاخِلْ كئ، بيا حضرت فَاطِمَهْ راغله، حُضُوْرْ هغه هم دَاخِلَ كړه، بيا حضرت عَلِيْ راغلئ، حُضُوْرْ هغه هم په يَتُوْ كي دَاخِلْ كئ، بيايې دغه آيَتْ تِلَاوَتْ كئ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ اِلَخْ اې د نَبِيْ كُوْرَنَيْ اَهْلِ بَيْتُ! اَللّٰهْ خو دغه غُوَاړي چي ستاسو څخه ګَنْدَګِيْ ليري وَسَاتِي، او تاسو ته دارنګه پَاكِيْزَګِيْ درکړي چي په هر ډول مُكَمَّلَ وي .

په عُمُوْمِيْ تُوګه د كُوْرَنِيَانُوْ څخه په كُوْرْ كي وَسيدُونكِي بِيْ بِيْ ګَانِ د خلګو ذِهْنْ ته رَاځِي، د اِنْسَانْ كُومِي لُوْبِيْ چي وَادَهْ سوي وي هغه، زُوْمْ، او لُمَسِيَانْ په كُوْرَنِيَانُوْ كي خلګ نَه شُمېرِي، او كه چيري دغه حَضَرَات په جَلَا بَل كُوْرْ كي وَسيږي، بيا خو لَا كُوْرَنِيَانْ نَه ګڼل كيږي، په دغه وَجْهَ خو حُضُوْرْ (ﷺ) ډُوي په يَتُوْ كي دَاخِلْ كړل، او د بِيْ بِيْ ګانُوْ سره يې حضرت عَلِيْ، فَاطِمَهْ، حَسَنْ، او حُسَيْنْ هم په اَهْلِ بَيْتْ كي دَاخِلْ او شَامِلْ كړل، او ډُوي د همېش لپاره په اَهْلِ بَيْتْ كي دَاخِلْ دي، او لكه څنګه چي د اَزْوَاجِ مُطَهَّرَاتُ لپاره آيَتْ تَطْهِيْرْ دئ دغه رنګه ددغه حَضَرَاتُوْ لپاره هم په هغونه اَنْدَازَهْ تَطْهِيْرْ دئ، تر دغه كمَول هم بِنَهْ كَارْ نَه دئ او زِيَاتَوَل هم بِنَهْ كَارْ نَه دئ

ددې يَو مِثَالْ دادئ

مَدِيْنَهْ طَيِّبَهْ حَرَمْ نَه وُو لېكن حُضُوْرْ (ﷺ) د اَللّٰهْ په حُكْمْ سره هغه حَرَمْ وَګرزَاوَئ، دغه رنګه حضرت فَاطِمَهْ،عَلِيْ،حَسَنْ، او حُسَيْنْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ په اَهْلِ بَيْتْ كي دَاخِلْ نَه وُو، لېكن حُضُوْرْ (ﷺ) د اَللّٰهْ په حُكْمْ سره ډُوي په اَهْلِ بَيْتْ كي دَاخِلْ كړل، او په آيَتِ تَطْهِيْرْ كې دَاخِلْ كړل .

مَدِيْنَهْ طَيِّبَهْ حُضُوْرْ (ﷺ) حَرَمْ وَګرزَوَل دهغه لپاره دغه حَدِيْثْ دئ

عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ النَّبِيَّ (ﷺ) قَالَ حَرَمٌ مَا بَيْنَ لَابَتَيِ الْمَدِيْنَةِ عَلٰى لِسَانِيْ .

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ فَضَائِلِ الْمَدِيْنَةِ،بَابُ حَرَمُ الْمَدِيْنَةِ،ص: ۳۰۱، نَمْبَرْ ۱۸۶۹ / اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْمَنَاسِكْ،بَابٌ فِيْ تَحْرِيْمِ الْمَدِيْنَةِ،ص: ۲۹۵، نَمْبَرْ ۲۰۳۷)

تَرْجَمَهْ:- حَضرَت اَبُوْهُرَيْرَهْ فرمائي چي حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل د مَدِيْنِي دواړه اَطْرَافْ زَمَا په ژَبَهْ سره حَرَمْ ګرزَوَل سوي دي .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي حُضُوْرْ (ﷺ) مَدِيْنَهْ حَرَمْ گرزولي ده، دغه رنگه حُضُوْرْ (ﷺ) حضرت فَاطِمَهْ، عَلِيْ، حَسَنْ، او حُسَيْنْ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په اَهْلِ بَيْتْ کي دَاخِلْ کړي دي .
اَوَّلْ دغه حَضَرَات په اَهْلِ بَيْتْ کي دَاخِلْ نَه وُو، او دا هم يَقِيْنِيْ ده چي حُضُوْرْ (ﷺ) دغه ټولَ د اَللّٰهْ په حُکْمْ سره کړي دي .

## د اَهْلِ بَيْتْ سره مُحَبَّتْ د اِيْمَانْ جُزْءْ دئ

د اَهْلِ بَيْتْ مَقَامْ څومره اَهْمِيَّتْ لري چي په وُرَځْ کي لَږْ تر لَږْ پنځَه وَارَه لُمُوْنَځْ کيږي، او پنځَه وَارَه پر حُضُوْرْ (ﷺ) باندي دُرُوْدْ وَيَل کيږي، او پر حُضُوْرْ باندي د دُرُوْدْ وَيلُو سره دا هم لاَزِمْ دئ چي د حُضُوْرْ (ﷺ) پر آلْ باندي دُرُوْدْ وَايَاست، ددې څخه مَعْلُوْمْ سو چي د حُضُوْرْ (ﷺ) اَهْلِ بَيْتْ او دده آلْ ډېر لُوړ مَقَامْ لري، او دا د اِيْمَانْ جُزْءْ دئ، او ددې څخه عَلاَوَهْ چي هر کله دُرُوْدْ شَرِيْفْ وَيَل کيږي نو د حُضُوْرْ (ﷺ) د اَوْلاَدْ او دده د کُوْرَنَيْ لپاره دُعَاءْ کيږي، او تر قِيَامَتَّهْ پُوري به کيږي .
دُرُوْدِ اِبْرَاهِيْمِيْ دغه دئ

اَللّٰهُمَّ صَلّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى آل مُحَمَّدٍ اِلَخْ

ائ اَللّٰهْ پر مُحَمَّدْ باندي رَحْمَتْ نَازِلْ کې او د مُحَمَّدْ پر آلِ باندي .

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى آل مُحَمَّدٍ اِلَخْ

ائ اَللّٰهْ پر مُحَمَّدْ باندي بَرَکَتْ نَازِلْ کې او د مُحَمَّدْ پر آلِ باندي .

د غَدِيْرْ خُمْ پر مُوْقَعْ درې وَارَه حُضُوْرْ (ﷺ) خلکو ته وَفرمَائِل چي زَمَا د کُوْرَنَيْ په اړه (د چَپْ و رَيْ وَيْنَا کولو څخه) ځَانونَه گُورَئ او د ټولو اَهْلِ بَيْتْ اِحْتِرَامْ کوئ .
لېکن مُشْکِلْ دا دئ چي خَوَارِجُ د اَهْلِ بَيْتْ څخه و حضرت عَلِيْ ته بَدْ و رَدْ وَيْنَاوِيْ وکړې، او شَامِيَانُوْ (د شَامْ خلکو) د اَهْلِ بَيْتْ څخه حضرت حُسَيْنْ په شَهَادَتْ وَرَسَاوَئ، او بعضو د اَهْلِ بَيْتْ څخه و حضرت عَائِشَهْ او حضرت حَفْصَهْ ته چَپْ و رَيْ خَبَرِيْ وکړې، و حُضُوْرْ (ﷺ) ته خو د درو سره زِيَاتُوْبُوْ او ظُلْمْ په اړه اِطِّلاَعْ وَرکوَل سوې وه نو ځکه حُضُوْرْ (ﷺ) درې وَارَهْ د اَهْلِ بَيْتْ په اړه د اِحْتِرَامْ تَرْغِيْبْ وَرکړئ .
حَدِيْثْ دغه دئ

۵: اِنْطَلَقْتُ اَنَا وَحُصَيْنُ بن سَبُرَةَ اِلٰى زَيْدِ بن اَرْقَمَ ..... قَامَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) يَوْمًا فِيْنَا خَطِيْبًا بِمَاءٍ يُدْعٰى خُمًّا بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِيْنَةَ فَحَمِدَ اللهَ وَاَثْنٰى عَلَيْهِ وَوَعَظَ وَذَكَّرَ ثُمَّ قَالَ اَمَّا بَعْدُ! اَ لَا اَيُّهَا النَّاسُ فَاِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ يُوْشِكُ اَنْ يَّاْتِيَ رَسُوْلُ رَبِّيْ فَاُجِيْبَ، وَ اَنَا تَارِكٌ فِيْكُمْ ثَقَلَيْنِ، اَوَّلُهُمَا كِتَابُ اللهِ فِيْهِ الْهُدٰى وَالنُّوْرُ فَخُذُوْا بِكِتَابِ اللهِ وَاسْتَمْسَكُوْا بِهٖ فَحَثَّ عَلٰى كِتَابِ اللهِ وَ رَغِبَ فِيْهِ ثُمَّ قَالَ وَاَهْلُ بَيْتِيْ، اُذَكِّرُكُمُ اللهَ فِيْ اَهْلِ بَيْتِيْ، اُذَكِّرُكُمُ اللهَ فِيْ اَهْلِ بَيْتِيْ، اُذَكِّرُكُمُ اللهَ فِيْ اَهْلِ بَيْتِيْ، فَقَالَ لَهُ حُصَيْنٌ وَمَنْ اَهْلُ بَيْتِهٖ؟ يَا زَيْدُ اَلَيْسَ نِسَائُهُ مِنْ اَهْلِ بَيْتِهٖ؟ قَالَ نِسَائُهُ مِنْ اَهْلِ بَيْتِهٖ .

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ فَضَائِلُ الصَّحَابَةِ،بَابٌ مِنْ فَضَائِلِ عَلِيِّ بن طَالِبٍ، ص: ۱۰۶۱، نَمْبَرْ ۲۴۰۸/ ۶۲۲۵)

تَرْجَمَهْ:- زَهْ او حُصَيْنْ زَيْدْ بن اَرْقَمْ ته وَرغَلُو ..... د مَكَّهْ او مَدِيْنَهْ په مَابَيْنْ كي د اُوْبُوْ يَو ځائ دئ چي نُوم يي خُمْ دئ، هلته يَوه وُرَځْ حُضُوْرْ (ﷺ) زمُوږ په مَخكِي د خُطْبَهْ وَيلُو لپاره وَلَاړْ سو، حُضُوْرْ (ﷺ) د اَللّٰهْ حَمْدْ و ثَنَاءْ وَويَل، او نَصِيْحَتْ يي وكئ، او خلكو ته يَادوَنَهْ وكړه، بيايي وويل اَمَّا بَعْدُ، خلكو وَاوَرئ! زَهْ اِنْسَانْ يَم، كېدلائي سي چي زَمَا د رَبْ قَاصِدْ (اَستَازَئ) رَاسي، او زَهْ دهغه خَبَرَهْ تَسْلِيْمْ كم د دُنْيَا څخه رُخْصَتْ سَم، زَهْ دُوَه مُهِمْ شِيَانْ ستاسو په مينځ كي پرېږدَم، اَوَّلْ شئ كِتَابُ اللهْ دئ، چي په هغه كي هِدَايَتْ او نُوْرْ دئ، دغه په مَضْبُوْطِيْ سره تينګ وَنِيسَئ، د قُرآنْ د تينګولو لپاره يي ډېر تَرْغِيْبْ وركړئ، بيا حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل، زَمَا كُوْرَنَيْ، زَهْ د خپلي كُوْرَنَيْ په اړه تاسو ته د اَللّٰهْ عَهْدْ و پَيْمَانْ دَر په يَادوَمْ، زَهْ د خپلي كُوْرَنَيْ په اړه تاسو ته د اَللّٰهْ عَهْدْ و پَيْمَانْ دَر په يَادوَمْ، زَهْ د خپلي كُوْرَنَيْ په اړه تاسو ته د اَللّٰهْ عَهْدْ و پَيْمَانْ دَر په يَادوَمْ، د حضرت زَيْدْ څخه حُصَيْنْ پُوْښْتَنَهْ وكړه، د حُضُوْرْ (ﷺ) اَهْلِ بَيْتْ څوک دي حضرت زَيْدَ؟ دده بِيْ بِيْ ګَانْ په اَهْلِ بَيْتْ كي نَه دي؟ نو حضرت زَيْدْ وَفرمائل، د حُضُوْرْ (ﷺ) بِيْ بِيْ ګَانْ په اَهْلِ بَيْتْ كي دي .

په دغه حَدِيْثْ كي دري وَاره په ډېر دَرْدْنَاكَ اَنْدَازْ سره حُضُوْرْ (ﷺ) خلكو ته فرمائلي دي چي زَمَا د كُوْرَنَيْ سره د اِحْتِرَامْ او مُحَبَّتْ مَعَامَلَهْ كوئ .

۶: عَنْ جَابِرَ بن عَبْدِ اللهِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) فِيْ حَجَّتِهٖ يَوْمَ عَرَفَةَ وَهُوَ عَلٰى نَاقَتِه الْقُصْوَاءَ يَخْطُبُ فَسَمِعْتُهُ يَقُوْلُ:- يَا اَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ قَدْ تَرَكْتُ فِيْكُمْ مَا اِنْ اَخَذْتُمْ بِهٖ لَنْ تَضِلُّوْا، كِتَابُ اللهِ، وَعِتْرَتِيْ اَهْلُ بَيْتِيْ .

(تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْمَنَاقِبْ،بَابُ مَنَاقِب اَهْلِ الْبَيْتِ،ص: ۸۵۹، نَمْبَرْ ۳۷۸۶ / مُسْنَدِ اَحْمَدْ،حَدِيْثُ زَيْدُ بن ثَابِتٍ، ج:۶، ص: ۲۳۲، نَمْبَرْ ۲۱۰۶۸)

تَرْجَمَهْ:- جَابِرْ بِنِ عَبْدُ اللّٰهْ وائي چي مَا په حَجَّةِ الْوِدَاعْ كي د عَرَفَهْ په وُرَځْ وَليدَل، چي حُضُوْرْ (ﷺ) پر قَصْوٰيِ وُښَهْ سِپُور وُو، او خُطْبَهْ يي وَيَل، مَا د حُضُوْرْ (ﷺ) دغه وَيْنَا

وَاوُرېدَل چي فرمائل يې، ائ خلګو ستاسو په مېنځ کي دُوه شِيَانْ پرېږدَم او زَهْ ځَم، که چيري تاسو دغه ټينګ کړي وي نو په هيڅ وَخْتْ به ګُمْرَاهْ نَه سَئ، يَو د اَللّٰهْ كِتَابْ قُرْآنْ، او دُوَهَمْ زَمَا خَانْدَانْ، زَمَا كُوْرَنَئ .
يعني چي قُرْآنْ او اَهْلِ بَيْتْ ټينګ کړئ نو بيا نَه ګُمْرَاهَانْ کيږئ .

**۷: عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) اَحِبُّوْا اللهَ لِمَا يَغْذُوْكُمْ مِنْ نِّعِمِه□، وَاَحِبُّوْنِىْ بِحُبِّ اللهِ، وَ اَحِبُّوْا اَهْلَ بَيْتِىْ بِحُبِّىْ .**
**(تِرْمِذِىْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْمَنَاقِبْ،بَابُ مَنَاقِبِ اَهْلِ الْبَيْتِ،ص: ۸۵۹، نَمْبَرْ ۳۷۸۹)**
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَفرمَائِل چي د اَللّٰهْ سره مُحَبَّتْ کوئ، ځکه چي هغه په خپل نِعْمَتْ سره تاسو ته غِذَاءْ درکوي، او د اَللّٰهْ د مُحَبَّتْ په وَجْهَ زَمَا سره هم مُحَبَّتْ کوئ، او زَمَا د مُحَبَّتْ په وَجْهَ زَمَا د كُوْرَنَئ سره هم مُحَبَّتْ کوئ .
په دغه ټولو حَدِيْثُوْ کي د تَمَامْ اَهْلِ بَيْتَ سره د مُحَبَّتْ کولو تَاكِيْدْ سوئ دئ .

## د سَيِّدَهْ حضرت فَاطِمَهْ (رضي الله عنها) فَضِيْلَتْ

حضرت فَاطِمَهْ د حُضُوْرْ (ﷺ) ګرَانَ لُوْرْ ده، او د زړَهْ ټوټَه يې ده، د جَنَّتْ سَرْدَارَهْ ده، اَهْلِ سُنَّتْ وَالْجَمَاعَتْ د زړَهْ لَګُومِي ددې سره مُحَبَّتْ کوي، دا زُمُوږ د سَرُوْنُوْ تَاجْ ده، او د دې اِحْتِرَامْ کول مُوږ د اِيْمَانْ جُزْءْ ګڼو، دا جَلَا خَبَرَهْ ده چي تر حَدْ زِيَاتْ مَختَه نَه تېرېږو، د دُوي ټولو مُخْتَصَرْ فَضِيْلَتْ تاسو ته بَيَانَوُو .
ددې لپاره حَدِيْثُوْنَهْ دغه دي

**۸: عَنْ مِسْوَرْ بن مَخْرِمَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) قَالَ فَاطِمَةُ بُضْعَةٌ مِّنِّىْ فَمَنْ اَغْضَبَهَا اَغْضَبَنِىْ . (بُخَارِىْ شَرِيْفْ،بَابُ مَنْقَبَةُ فَاطِمَةُ عَلَيْهَا السَّلَامُ،ص: ۶۲۶، نَمبَرْ ۳۷۱۴)**
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَفَرْمَائِلْ چي فَاطِمَهْ زَمَا د زړَهْ ټُوْټَهْ ده، ګُوم چَا چي دا وَخَبنَوَلَه، هغه (په حَقِيْقَتْ کي) زَهْ وَخَبنَمَوَلم .

**۹: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنَّا اَزْوَاجُ النَّبِىِّ (ﷺ) عِنْدَهُ لَمْ يُغَادِرُ مِنْهُنَّ وَاحِدَةً ..... فَقَالَ يَا فَاطِمَةُ اَمَا تَرْضِىْ اَنْ تَكُوْنِىْ سَيِّدَةُ نِسَاءِ الْمُؤْمِنِيْنَ اَوْ سَيِّدَةُ نِسَاءِ هٰذِهِ الْاُمَّةِ؟ قَالَتْ فَضَحِكْتُ ضِحْكِىَ الَّذِىْ رَأَيْتِ .**
**(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،بَابُ فَضَائِلِ فَاطِمَةَ،ص: ۱۰۷۸، نَمبَرْ ۲۴۵۰ / ۶۳۱۳)**

**تَرْجَمَہْ**:- مُوږ د **حُضُوْرْ** (ﷺ) **بِیْ بِیٔ گانْ** د **حُضُوْرْ** (ﷺ) سره **مَوْجُوْدْ** وُو، زمُوږ څخه یوې هم **حُضُوْرْ** (ﷺ) نَه وُو پرېښَیٔ ..... **حُضُوْرْ** (ﷺ) **وَفرْمَائِلْ** ای **فَاطِمَہْ** ته په دغه **خَبَرَہْ** نَه یې **رَاضِيْ** چې:- تَه د **مُؤْمِنَاتُوْ** د ښځو **سَرْدَارَہْ** سې؟ یایې دغه رنګه **وَفرْمَائِلْ** چې:- تَه ددغه **اُمَّتْ** د ښځو **سَرْدَارَہْ** سې؟ حضرت **فَاطِمَہْ** **وَفرْمَائِلْ** چې تاسو **زَہْ** په **خَنْدَا خَنْدَا** وَلیدَم نو هغه **مَا** په دغه **وَجْہْ** خَندَل .

په دغه **حَدِیْثُوْ** کې دیٔ چې حضرت **فَاطِمَہْ** د **مُؤْمِنْ** ښځو **سَرْدَارَہْ** ده، او د **حُضُوْرْ** (ﷺ) د **زَړَہْ** **ټُوْټَہْ** ده .

## و **سَیِّدَہْ** حضرت **فَاطِمَہْ** ([redacted]) ته یې **مِیْرَاثْ** وَلې وَر نَه کړ

حضرت **اَبُوْبَکْرْ** و حضرت **فَاطِمَہْ** ته **وِرَاثَتْ** وَر نَه کړ، ددې **وَجْہَ** دا وه چې د **نَبِیْ** **مِیْرَاثْ** نَه تَقسیمېږي، په خپله حضرت **عَلِیْ** ددغه **خَبَرِیْ** **تَصْدِیْقْ** کړیٔ دیٔ چې **هُوْ** د **نَبِیْ** **وِرَاثَتْ** نَه تَقسیمېږي، که نَه نو حضرت **عَائِشَہْ** او حضرت **حَفْصَہْ** ته به هم د **مِیْنِي** (**بِیْ بِیٔ** والِي) په **حَیْثْ** سره **اَتَمَّہْ** **حِصَّہْ** مِلاؤ سوې وای، نو ځکه اُوس هیڅ چا ته پر حضرت **اَبُوْبَکْرْ** باندي د **اِلْزَامْ** لګولو ګُنجَائِش نَستَه .

**حَدِیْثُوْنَہْ** دغه دي

**۱۰** **عَنْ عَائِشَۃَ اَنَّ فَاطِمَۃَ عَلَیْهَا السَّلَامُ اَرْسَلَتْ اِلٰی اَبِیْ بَکْرٍ تَسْاَلُہٗ مِیْرَاثَهَا مِنَ النَّبِیِّ** (ﷺ) **مِمَّا اَفَاءَ اللّٰہُ عَلٰی رَسُوْلِہٖ** (ﷺ) **تَطْلُبُ صَدَقَۃَ النَّبِیِّ** (ﷺ) **اَلَّتِیْ بِالْمَدِیْنَۃِ وَفَدَكٍ وَمَابَقِیَ مِنْ خُمُسِ خَیْبَرَ، فَقَالَ اَبُوْبَکْرٍ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰہِ** (ﷺ) **قَالَ لَانُوْرِثُ مَاتَرَکْنَا فَهُوَ صَدَقَۃٌ، اِنَّمَا یَاْکُلُ اٰلُ مُحَمَّدٍ مِّنْ هٰذَا الْمَالِ یَعْنِیْ مَالُ اللّٰہِ لَیْسَ لَهُمْ اَنْ یَّزِیْدُوْا عَلَی الْمَاْکَلِ وَ اِنِّیْ وَاللّٰہِ لَا اُغَیِّرُ شَیْئًا مِنْ صَدَقَاتِ رَسُوْلِ اللّٰہِ** (ﷺ) **اَلَّتِیْ کَانَتْ عَلَیْهَا فِیْ عَهْدِ النَّبِیِّ** (ﷺ) **وَلَاَ عْمَلَنَّ فِیْهَا بِمَا عَمِلَ فِیْهَا رَسُوْلُ اللّٰہِ** (ﷺ) **فَتَشَهَّدَ عَلِیٌّ، ثُمَّ قَالَ اِنَّا قَدْ عَرَفْنَا یَا اَبَابَکْرٍ فَضِیْلَتُكَ، وَ ذَکَرَ قَرَابَتَهُمْ مِنْ رَّسُوْلِ اللّٰہِ وَحَقَّهُمْ، فَتَکَلَّمَ اَبُوْبَکْرُ فَقَالَ وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِہٖ لَقَرَابَۃُ رَسُوْلِ اللّٰہِ اَحَبُّ اِلَیَّ اَنْ اَصِلَ مِنْ قَرَابَتِیْ .**

**(بُخَارِیْ شَرِیْف،بَابُ مَنَاقِبِ قَرَابَۃِ رَسُوْلِ اللّٰہِ (ﷺ) وَمَنْقَبَۃُ فَاطِمَۃُ عَلَیْهَا السَّلَامُ،ص: ۶۲۶، نَمْبَرْ ۳۷۱۱)**

**تَرْجَمَہْ**:- حضرت **فَاطِمَہْ عَلَیْهَا السَّلَامْ** و حضرت **اَبُوْبَکْرْ** ته **حَالْ** وَروَاستَاوَیٔ چې **اَللّٰہْ** څه **مَالِ غَنِیْمَتْ** درکړیٔ دیٔ، په هغه کې **مِیْرَاثْ** راکه، **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته په **مَدِیْنَہْ** کې چې کُوم مِلاؤ سویٔ وُو، په **فَدَکْ** کې چې کُوم مِلاؤ سویٔ وو، او د **خَیْبَرْ** چې کُوم **خُمُسْ** مِلاؤ سویٔ وُو په دغه ټولو کې **مِیْرَاثْ** راکه، نو حضرت **اَبُوْبَکْرْ** وفرمائل چې:- **حُضُوْرْ**

(ﷺ) فرمائلي وُو د نَبِیْ مِیْرَاثْ نَه تَقْسِیْمْ کیږي، مُوږ چي څه پرېږدو هغه پر اُمَّتْ باندي صَدَقَهْ وي، اَلْبَتَّهْ ددغه مَالْ څخه به د مُحَمَّدْ اَهْلْ و عِیَالْ هم خُوْرَکْ کوي، تر خُوْرَکْ زِیَاتْ ذُوي ته نَه رَسیږي، د حُضُوْرْ (ﷺ) په زَمَانَهْ کي چي ځنګه وُو زَهْ په هغه صَدَقَاتْ کي هیڅ رنګه بَدْلُوْنْ نَه سَم کولائي، او چي ځنګه حُضُوْرْ (ﷺ) عَمَلْ کړئ وُو زَهْ هغه رنګه عَمَلْ کوم، پر دغه وَخْتْ نو حضرت عَلِیْ ګوَاهِیْ ورکړه [چي هُوْ دغه خَبَرَهْ دغه رنګه ده لکه ځنګه چي تَهْ وَایې] بیا حضرت عَلِیْ دا هم وَفَرْمَائِلْ چي:- ای اَبُوْبَکْرَ! زَهْ ستا په فَضِیْلَتْ خَبَرْ یَم، بیا چي د حُضُوْرْ (ﷺ) کُومه رِشْتَهْ دَارِیْ ده او دده کُوم حَقْ دئ هغه یې بَیَانْ کئ، بیا اَبُوْبَکْرْ خَبَرَهْ وکړه او وویل چي د کُوم خُدَائ په قَبْضَهْ کي چي زَمَا رُوْحْ دئ په هغه سره قَسَمْ اَخلَم دا وَایَم چي:- د رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) قَرَابَتْ مَا ته ډېر مَحْبُوْبْ دئ تر دې خَبَرَهْ چي زَهْ د خپلو رِشْتَهْ دَارَانُوْ سره صِلَهْ رَحْمِیْ وکم .

په دغه حَدِیْثْ کي دئ چي د حُضُوْرْ (ﷺ) په مَالْ کي وِرَاثَتْ نَه چلېږي، او حضرت عَلِیْ ددغه خَبَرِیْ تَصْدِیْقْ وکئ، بیا تاسو دې ته هم وَګورَئ چي د مِیْرَاثْ په اَخستَلُو کي صِرف تَنْهَا حضرت فَاطِمَهْ نَه ده، بلکه د بِیْ بِیْ ګانُوْ په حَیْثْ سره حضرت عَائِشَهْ او حَضرَت حَفْصَهْ او نورو ته هم اَتَمَهْ حِصَّهْ مِلاوېږي، لېکن حضرت اَبُوْبَکْرْ خپله لُوْرْ هم د حُضُوْرْ (ﷺ) د مِیْرَاثْ و تَقْسِیْمْ ته پرې نَه بِنُوَلَه .

عَجَبَّهْ ده خلګ د حضرت فَاطِمَهْ د مِیْرَاثْ خَبَرِیْ کوي، د حَضرَت عَائِشَهْ او حضرت حَفْصَهْ د مِیْرَاثْ خَبَرِیْ نَه کوي .

۱۱: عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) قَالَ لَا تَقْتَسِمْ وَرَثَتِیْ دِیْنَارًا وَّ لَا دِرْهَمًا، مَا تَرَکْتُ بَعْدَ نَفَقَةِ نِسَائِیْ وَ مُؤْنَةِ عَامِلِیْ فَهُوَ صَدَقَةٌ .

(بُخَارِیْ شَرِیْفْ،کِتَابُ الْوَصَایَا، بَابُ نَفَقَةِ الْقَیِّمِ لِلْوَقْفِ،ص: ۴۵۹، نَمْبَرْ ۲۷۷۶ / مُسْلِمْ شَرِیْفْ،کِتَابُ الْوَصِیَّةِ، بَابُ تَرْکِ الْوَصِیَّةِ لِمَنْ لَّیْسَ لَهُ شَیْءٌ یُّوْصٰی فِیْهِ، ص: ۷۱۷، نَمْبَرْ ۱۶۳۴ / ۴۲۲۷)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَفَرْمَائِلْ چي زَمَا وَارِثْ به دِیْنَارْ او دِرْهَمْ نَه تَقْسِیْمَوِیْ، زَمَا د بِیْ بِیْ ګانُوْ د نَفَقِي وروسته، او د کار کونکو د مَزْدُوْرِیْ وروسته چي څه زَهْ پرېږدَم هغه پر اُمَّتْ باندي صَدَقَهْ ده .

په دغه حَدِیْثْ کي دئ چي حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل چي زَمَا مِیْرَاثْ به نَه تَقْسِیْمْ کیږي، چي هر څه زَهْ پرېږدم هغه پر اُمَّتْ باندي صَدَقَهْ ده، لِهٰذَا دغه مَعَامَلَهْ ډېره خَلَه کشَوَل او دا وَیَل چي پر حضرت فَاطِمَهْ ډېر ظُلْمْ سوئ دئ دا ډېره غَتَّهْ غَلَطِیْ ده .

۱۲: عَنْ قَیْسِ بن کَثِیْرِ ..... اِنَّ الْاَنْبِیَآءَ لَمْ یُوَرِّثُوْا دِیْنَارًا وَّ لَا دِرْهَمًا اِنَّمَا وَرَّثُوْا الْعِلْمَ .

(تِرْمِذِیْ شَرِیْفْ،کِتَابُ الْعِلْمِ، بَابُ مَاجَاءَ فِیْ فَضْلِ النَّفَقَةِ عَلَی الْعِبَادَةْ ،ص: ۶۰۹، نَمْبَرْ ۲۶۸۲ / اِبْنِ مَاجَهْ شَرِیْفْ،مُقَدَّمَةٌ، بَابُ فَضْلِ الْعُلَمَاءِ وَالْحَثِّ عَلٰی طَلَبِ الْعِلْمِ، ص: ۳۴، نَمْبَرْ ۲۲۳)

تَرْجَمَهْ:- اَنْبِیَاءْ عَلَیْهِمُ السَّلَامْ ځوک د دِیْنَارْ او دِرْهَمْ وَارِثَانْ نَه جوړوِي، هغه خو يې صِرف د عِلْمْ وَارِثَانْ جوړوي .

په دغه حَدِیْثْ کې دیٔ چې د اَنْبِیَاءُ وِرَاثَتْ نَه وي، په دغه وَجْهَ حضرت اَبُوْبَکْرْ و حضرت فَاطِمَهْ ته وِرَاثَتْ وَر نَه کئ، نو ددغه خَبَرِیْ د ډېر کشَوُلُوْ او یَلَتَوُلُوْ ضرورت نَستَه .

## حضرت اَبُوْبَکْرْ عَهْدْ وکئ چې زَهْ به و اَهْلِ بَیْتْ ته هر څَه ورکوم

حضرت اَبُوْبَکْرْ وَعْدَهْ وکړه چې زَهْ وِرَاثَتْ خو نَه سَم وَرکولائي، ځکه چې هغه خو جَوَازْ نَه لري، لېکن د حُضُوْرْ (ﷺ) و اَهْلْ و عَیَالْ ته به تر خپل اَهْلْ و عَیَالْ زِیَاتْ مَالْ وَرکوَم، او د دُوي په حَالَتْ به مُکَمَّلْ ځان خَبْرَوَمْ .

ددي لپاره د حضرت اَبُوْبَکْرْ قَوْلْ دغه دئ

۱۳: عَنْ اَبِیْ بَکْرٍ قَالَ اَرْقِبُوْا مُحَمَّدًا (ﷺ) فِیْ اَهْلِ بَیْتِهٖ .

(بُخَارِیْ شَرِیْفْ،بَابُ مَنَاقِبِ قَرَابَةِ رَسُوْلِ اللهِ (ﷺ) وَمَنْقَبَةُ فَاطِمَةُ عَلَیْهَا السَّلَامُ،ص: ۶۲۶، نَمْبَرْ ۳۷۱۳)

تَرْجَمَهْ:- د حضرت اَبُوْبَکْرْ څخه دا رِوَایَتْ دئ چې د حُضُوْرْ (ﷺ) د اَهْلِ بَیْتْ پُوْرَهْ پُوْرَهْ خِیَالْ ساتَئ .

## حضرت عَلِیْ د حضرت اَبُوْبَکْرْ سره غَارَهْ په غَارَهْ سو

د حضرت عَلِیْ او حضرت اَبُوْبَکْرْ اِخْتِلَافَاتْ خلک ډېر په غَټْ اَنْدَازْ سره بَیَانَوِي، او اُوس مَحَالْ هم په مُسَلْمَانَانُوْ کې د دُښْمَنَیْ د پَیدَا کولو کُوښَښ کوي، حَالَانْکِهْ حَقِیْقَتْ دادئ چې حضرت عَلِیْ د حضرت اَبُوْبَکْرْ پر لَاسْ بَیْعَتْ هم وکئ او غَارَهْ په غَارَهْ هم سول، چې پر هغه باندي ټول مُسَلْمَانَانْ خُوْشْحَالْ سول .

حَدِیْثْ دغه دئ

۱۴: عَنْ عَائِشَةَ ..... اِسْتَنْكَرَ عَلِيٌّ وُجُوْهَ النَّاسِ فَالْتَمَسَ مُصَالَحَةَ اَبِیْ بَكْرٍ وَ مُبَايَعَتَهُ وَلَمْ يَكُنْ يُبَايِعُ تِلْكَ الْاَشْهُرِ ..... فَقَالَ عَلِيٌّ لِاَبِیْ بَكْرٍ مَوْعِدُكَ الْعَشِيَّةَ لِلْبَيْعَةِ فَلَمَّا صَلّٰى اَبُوْبَكْرُ الظُّهْرَ رَقِیَ الْمِنْبَرَ فَتَشَهَّدَ وَ ذَ كَرَ شَانَ عَلِيِّ وَتَخَلُّفَهُ عَنِ الْبَيْعَةِ وَعُذْرَهُ بِالَّذِیْ اِعْتَذَرَ اِلَيْهِ ثُمَّ اِسْتَغْفَرَ، وَتَشَهَّدَ عَلِيٌّ فَعَظَّمَ حَقَّ اَبِیْ بَكْرٍ وَحَدَّثَ اَنَّهُ لَمْ يَحْمِلْهُ عَلَى الَّذِیْ صَنَعَ نَفَاسَةً عَلٰى اَبِیْ بَكْرٍ وَ لَا اِنْكَارًا لِلَّذِیْ فَضَّلَهُ اللّٰهُ بِهٖ وَلٰـكِنَّا نَرٰى فِیْ هٰذَا الْاَمْرِ نَصِيْبًا فَاسْتَبَدَّ عَلَيْنَا فَوَجَدْنَا فِیْ اَنْفُسِنَا فَسَرَّ بِذٰلِكَ الْمُسْلِمُوْنَ وَقَالُوْا اَصَبْتَ، وَكَانَ الْمُسْلِمُوْنَ اِلٰی عَلِيٍّ قَرِيْبًا حِيْنَ رَاجَعَ الْاَمْرَ الْمَعْرُوْفَ .

(بُخَارِیْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْمَغَازِیْ،بَابُ غَزْوَةُ خَيْبَرَ،ص: ۷۱۹، نَمْبَرْ ۴۲۴۰)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَلِیْ ته دارنګه مَحْسُوْسَهْ سوه چي خلک مَا ته لِرْ تَوَجُّهْ کوي، نو يې د حضرت اَبُوْبَکْرْ سره صُلْحَ وکړه، او دده سره يې د بَيْعَتْ کولو دَرْخُوَاسْتْ وکړې، ده په هغه شپږ مِيَاشْتُوْ کي بَيْعَتْ نَه وُو کړئ ..... حضرت عَلِیْ وَفَرْمَائِلْ د بَيْعَتْ لپاره د مَابِنَامْ وَخْتْ مُنَاسِبْ دئ، چي کله حضرت اَبُوْبَکْرْ د مَابِيْنِيْنْ لَمُوْنْځ وکئ نو پر مَنْبَرْ کښېناستئ، او کَلِمَهْ شَهَادَتْ يې وَوَيَل، او د حضرت عَلِیْ شَانْ (مَرْتَبَهْ او مَقَامْ) يې بَيَانْ کئ، او دا چي تر اُوسَ د بَيْعَتْ ځخه شَا تـه پاتـه وُو ددې وَجْـهْ بَيَانْ کړه، او حضرت عَلِیْ چي کُوم عُذْرْ وُړاندي کئ هغه يې هم ذِکْرْ کئ، بيايې اِسْتِغْفَارْ وکئ،او حضرت عَلِیْ کَلِمَهْ شَهَادَتْ وَوَيَل، او د حضرت اَبُوْبَکْرْ د حَقْ عَظْمَتْ يې بَيَانْ کئ، او دا يې هم وويل چي مَا ځَه وکړل هغه مُو پر حضرت اَبُوْبَکْرْ باندي د فَوْقِيَّتْ په وَجْـهَ نَه دي کړي، او اَللّٰهْ وَ حضرت اَبُوْبَکْرْ ته کُوم فَضِيْلَتْ وَرکړئ دئ زَهْ دهغه ځخه اِنْکَارْ هم نَه کوم، لېکن زَمَا دا خِيَالْ وُو چي په دغه مَعَامَلَهْ [وِرَاثَتْ، يا خِلَافَتْ] کي زَمَا هم ځَه حِصَّهْ سته، لېکن مَا ته هغه نَه ده رَسېدَلې چي دهغه په وَجْهَ زَمَا زړَهْ رَاتَنګ سو [او اُوس زَهْ په خُوْشْحَالِیْ سره د بَيْعَتْ لپاره راغلئ يَم] ددغه ځخه مُسَلْمَانَانْ ډېر خُوْشْحَالَ سو، او ټولو وَوَيَل چي تَا ډېر ښَه وکړل، او چي کله حضرت عَلِیْ وَ اَمْرِ مَعْرُوْفْ (يعني ټولو ته مَعْلُوْمْ عَمَلْ يعني بَيْعَتْ) ته رُجُوْعْ وکړه نو خلک وَ حضرت عَلِیْ ته ډېر نِژدې سول .

په دغه حَدِيْثْ کي حضرت عَلِیْ د حضرت اَبُوْبَکْرْ عَظْمَتْ کړئ دئ، او دده فَضِيْلَتْ يې بَيَانْ کئ، او د حضرت اَبُوْبَکْرْ سره يې بَيْعَتْ هم کړئ دئ، چي ددغه عَمَلْ ځخه يې دهغه وَخْتْ ټولَ مُسَلْمَانَانْ ډېر خُوْشْحَالَ سول .

لېکن اَفْسُوْسْ دئ چي حضرت عَلِیْ د حضرت اَبُوْبَکْرْ سره بَيْعَتْ وکئ د مُسَلْمَانَانُوْ تر مينځ چې کُوم اِتِّفَاقْ پَيدَا کړئ وُو، وروسته خلګو هغه اِتِّفَاقْ په هَوَا کي ځله خُوْرْ (وُرَکْ) کئ، او مُسَلْمَانَانْ يې په دُوُو حِصُّوْ کي تَقْسِيْمْ کړل .

د تهولو **مَسْلَكُوْ** په **كِتَابُوْ** كي دا لِيكلِي دي چي ددغه **بَيْعَتْ** وروسته حضرت **عَلِيْ** د دُرُو سره **خُلَفَاءْ** په **زَمَانَهْ** كي په هيڅ **وَخْتْ** بيا **خِلَافَتْ** نَه دئ غُوَښتَئ، او نَه يې ددې **تَمَنَّا** كړې ده، بلكه د تهولو **خُلَفَاءُ** يې د **زَړَهْ** په كُومِي سره **تَعَاوُنْ** كاوئ، او **مَشْوَرِي** يې وَركولې، چي په **اُمَّتْ** كي **اِنْتِشَارْ** رَا نَه سي .
چي مُوږ هم د حضرت **عَلِيْ** پر **طَرِيْقَهْ** تَلَلِي واىٔ او د **اُمَّتْ** د يَو كېدو او **اِتِّفَاقْ** كُوښښ مُو كولائي دا به څومره **ښَهْ خَبَرَهْ** واىٔ، لېكن ډېر **اَفْسُوْسْ** دئ چي مُوږ په څومره **ټُوټُو** او **جَمَاعَتُوْ** كي بېشَل سوي يُو، او د **قَوْمْ اِتِّفَاقْ** او **وَحْدَتْ خَتْمْ** سو، **فَوَا اَسَفَا عَلٰى اَعْمَالِنَا** .

## د **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْنْ** حضرت **عَلِيْ** (رضي الله عنه) **فَضِيْلَتْ**

حضرت **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْنْ عَلِيْ بِنِ اَبِيْ طَالِبْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ** د **اُمَّتْ څَلُوْرَمْ خَلِيْفَهْ** دئ، دئ په **اَهْلِ بَيْتْ** كي **شَامِلْ** دئ، او د ډېرو **فَضَائِلُ مَالِكْ** دئ، دئ د ډېر **صَفَا زَړَهْ خَاوَنْدْ** او **بَهَادُرْ صَحَابِيْ** وُو، دئ **جَبَلُ الْعِلْمْ** وُو، دئ په **سَفَرْ** او **حَضَرْ** كي د **حُضُوْرْ** (ﷺ) مَلګرئ وُو، دده سره **خَوَارِجُ ښَهْ چَلَنْ** وَنَه كړئ، او ډېر **زِيَاتْ** يې تَنګ كړ، او **بِالْاٰخِرْ** يَوه **خَارِجِيْ** دئ په **شَهَادَتْ** هم وَرسَاوَئ، چي دهغه لكبله تر **نَنْ وُرځِيْ** پُورِي زمُوږ **زړُوْنَهْ** ژړېږِي .
دده ډېر **زِيَاتْ فَضِيْلَتُوْنَهْ** دي، دهغه څخه د بعضو **فَضَائِلُوْ حَدِيْثُوْنَهْ** دغه دي

**۱۵ : قَالَ النَّبِيُّ (ﷺ) لِعَلِيٍّ اَنْتَ مِنِّيْ وَ اَنَا مِنْكَ** . (**بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ فَضَائِلِ اَصْحٰبِ النَّبِيِّ (ﷺ)،بَابُ مَنَاقِبِ عَلِيْ بن اَبِيْ طَالِبِ،ص: ۶۲۴، نَمبَرْ ۳۷۰۱**)
**تَرْجَمَهْ**:- **حُضُوْرْ** (ﷺ) وَ حَضرَت **عَلِيْ** ته وَ **فَرْمَائِلْ**:- تَه **زَمَا** يې، او **زَهْ** ستا يم .

**۱۶ : سَمِعْتُ اِبْرَاهِيْمَ بن سَعْدٍ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ (ﷺ) اَمَا تَرْضٰى اَنْ تَكُوْنَ مِنِّيْ بِمَنْزِلَةِ هَارُوْنَ مِنْ مُّوْسٰى** . (**بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ فَضَائِلِ اَصْحٰبِ النَّبِيِّ (ﷺ)،بَابُ مَنَاقِبِ عَلِيْ بن اَبِيْ طَالِبِ،ص: ۶۲۵، نَمبَرْ ۳۷۰۶**)
**تَرْجَمَهْ**:- **حُضُوْرْ** (ﷺ) وَ **فَرْمَائِلْ**:- **عَلِيْ** اَيَا **تَهْ** په دې **خَبَرَهْ** نَه يې **رَاضِيْ**، لكه څنګه چي حضرت **هَارُوْنْ** د حضرت **مُوْسٰى** لپاره وُو، دغه رنګه **تَهْ زَمَا** لپاره سې ؟

**۱۷ : عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) اَنَا مَدِيْنَةُ الْعِلْمِ وَعَلِيٌّ بَابُهَا، فَمَنْ اَرَادَ الْعِلْمَ فَلْيَأْتِ الْبَابَ** .

(مُسْتَدْرَكْ لِلْحَاكِمْ،بَابٌ وَ اَمَّا قِصَّةُ اِعْتِزَالِ مُحَمَّدُ بن مَسْلَمَةَ، ج: ٣،ص: ١٣٧، نَمْبَرْ ٤٦٣٧ / طَبْرَانِيْ كبِيْرْ،بَابُ مُجَاهِدُ عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ، ج: ١١،ص: ٦٥، نَمْبَرْ ١١٠٦١)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ:- زَهْ د عِلْمْ ښَارْ يم او عَلِيْ دهغه دَرْوَازَهْ ده، څوک چي عِلْمْ حَاصِلَوِيْ هغه دي دَرْوَازِي ته رَاسِي [يعني عَلِيْ ته دي رَاسِي] .
ددغه حَدِيْثْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي حَضرَت عَلِيْ د عِلْمْ و اَعْلٰى مَقَامْ ته رَسېدَلَئ وُو، او وَاقِعَةً دغه رنګه وُو، د حضرت (عَلِيْ وَ طَرَفْ ته مَنْسُوْبَ كِتَابْ) نَهْجُ الْبَلَاغَةْ ددې يو وَاضِحْ مِثَالْ دئ .

## حضرت عَلِيْ تر حَدْ زِيَاتْ لُوَړَوَل هم هَلَاكَتْ دئ، او دده څخه نَفْرَتْ كول هم هَلَاكَتْ دئ

حضرت عَلِيْ وَ فَرْمَائِلْ:- چي زَمَا په اړه به دُوَهْ قِسْمَ خلک هَلَاکْ سي، يَو هغه چي زَمَا په مُحَبَّتْ كي تر خپل حَدْ زِيَاتْ مَختَه وُلَاړْ سي، چي تر نَبِيْ مُو هم زِيَاتْ او لُوړه مَرْتَبَهْ ته وَرسَوِي، او دُوَهَمْ هغه خلک چي زَمَا سره په بُغْضْ او دُښْمَنِيْ كي تر حَدْ زِيَاتْ سي، لکه څنګه چي خَوَارِجُ وكړل د حضرت عَلِيْ اِرْشَادْ دئ

١٨: عَنْ اَبِيْ حَبْوَةَ قَالَ سَمِعْتُ عَلِيًا يَقُوْلُ: يُهْلَكُ فِيَّ رَجُلَانِ مُفْرِطٌ فِيْ حُبِّيْ، وَمُفْرِطٌ فِيْ بُغْضِيْ . (مُصَنَّفِ اِبْنِ اَبِيْ شَيْبَةَ، ج: ٦ ،كِتَابُ الْفَضَائِلْ،بَابُ فَضَائِلُ عَلِيِّ بن اَبِيْ طَالِبِ، ص: ٣٧٧، نَمْبَرْ ٣٢١٢٥ / ٣٢١٣٤)
تَرْجَمَهْ:- د حضرت عَلِيْ څخه مُو دا اَورېدَلِي دي وَ فَرْمَائِلْ چي:- زَمَا په اړه به دُوَهْ قِسْمَ خلک هَلَاکْ سي، يَو هغه چي زَمَا په مُحَبَّتْ كي تر حَدْ تېر سوئ وي، او دُوَهَمْ هغه چي زَمَا په دُښْمَنِيْ كي تر حَدْ تېر سوئ وي .

١٩: عَنْ اَبِيْ سَوَارِ الْعَدَوِيِّ قَالَ قَالَ عَلِيٌّ:- لَيُحِبُّنِيْ قَوْمٌ حَتّٰى يَدْخُلُوْا النَّارَ فِيْ حُبِّيْ، وَلَيُبْغِضُنِيْ قَوْمٌ حَتّٰى يَدْخُلُوْا النَّارَ فِيْ بُغْضِيْ .
(مُصَنَّفِ اِبْنِ اَبِيْ شَيْبَةَ، ج: ٦ ،كِتَابُ الْفَضَائِلْ،بَابُ فَضَائِلُ عَلِيِّ بن اَبِيْ طَالِبِ، ص: ٣٧٧، نَمْبَرْ ٣٢١٢٤ / ٣٢١٣٣)
تَرْجَمَهْ:- حضرت عَلِيْ وَ فَرْمَائِلْ چي:- زَمَا سره به بعض خلک [تر حَدْ زِيَاتْ] مُحَبَّتْ كوي چي دهغه په وَجْهَ به دُوي په دُوْزَخْ كي دَاخِلْ سي، او بعض خلک به زَمَا سره [تر حَدْ زِيَاتْ] بُغْضْ كوي چي دهغه په وَجْهَ به دُوي په دُوْزَخْ كي دَاخِلْ سي .
دا بِالْكُلْ حَقِيْقَتْ دئ چي بعض خلک د حضرت عَلِيْ په مُحَبَّتْ كي تر حَدْ تېر سوي دي، او بعض خلک د حضرت عَلِيْ په نَفْرَتْ كي تر حَدْ تېر سوي دي .

اَهْلِ سُنَّتْ وَالْجَمَاعَتْ بِالْكُلْ پر حَقْ باندي وَلَاړْ دي چي دُوي د حضرت عَلِيْ سره د زِړَهْ لَكُومِي مُحَبَّتْ كوي، لېكن په دي كي غُلُوْ نَه كوي، چي تر نَبِيَانُوْ يې هم زِيَاتْ لُوړي مَرتَبې ته وَرسَوِي، او دده څخه نَفْرَتْ خو ګر سره نَه كوي، بلكه ډېر تينګ مُحَبَّتْ وَرسرَه كوي، او د خپلو سَرُوْ تَاجْ يې ګڼي .

## حضرت عَلِيْ د ټولو مُؤْمِنَانُوْ وَلِيْ دئ، يَعنِي دُوْسْتْ دئ

بعضو حَضرَاتُو ددغه حَدِيْثْ څخه ددا ثَابتَوُلُوْ كُوښښ كړئ دئ چي حضرت عَلِيْ مَدَدْګارَهْ دئ او مُشْكِلْ كُشَا او حَاجَتْ رَوَا دئ، لېكن د حَدِيْثْ وَ دغه جُملَهْ

## اَللّٰهُمَّ عَادَ مَنْ عَادَاهُ

تَرْجَمَهْ:- چي څوک حضرت عَلِيْ دُښْمَنْ وګڼي اىٔ اَللّٰهْ تَه دهغه دُښْمَنْ سې .
ته چي وَګُورې نو دا مَعلُومېږي چي دَلتَه د مَوْلٰى تَرْجَمَهْ د دُوْسْتْ ده، د مَدَدْګارْ او مُشْكِلْ كُشَا نَه ده .
په دغه اړه تاسو په دغه كِتَابْ كي د ,, اَللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ مَدَدْ غُوښْتَلْ ,, يعني ۱۱ عُنْوَانْ وَګُورَئ .
بعضو حضراتُو ددغه حَدِيْثْ څخه د دا ثَابِتَوُلُو كُوښَښ هم كړئ دئ چي حُضُوْرْ حضرت عَلِيْ خَلِيْفَهْ اَوَّلْ جُوړ كړئ دئ، ځكه چي حضرت عَلِيْ يې د هر مُؤْمِنْ وَلِيْ ګرزولئ دئ، لېكن صَحِيْحْ خَبَرَهْ داده چي د وَلِيْ مَعْنَى ده دُوْسْتْ، چي حضرت عَلِيْ د هر مُؤْمِنْ دُوْسْتْ دئ، په اَلْمُنْجِدْ كې د وَلِيْ مَعْنَى په قَرِيْبْ او مَحْبُوْبْ سره لِيكلې ده .

د دُوْسْتْ والا حَدِيْثْ دغه دئ

۲۰ : عَنِ الْبَرَاءِ بنِ عَازِبٍ قَالَ اَقْبَلْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ (ﷺ) فِيْ حَجَّتِه الَّتِيْ حَجَّ فَنَزَلَ فِيْ بَعضِ الطَّرِيْقِ فَاَمَرَ:- اَلصَّلٰوةُ جَامِعَةً، فَاَخَذَ بِيَدِ عَلِيٍّ فَقَالَ اَلَسْتُ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ؟ قَالُوْا بَلٰى، قَالَ اَلَسْتُ اَوْلٰى بِكُلِّ مُؤْمِنٍ مِّنْ نَفْسِه؟ قَالُوْا بَلٰى،قَالَ فَهٰذَا وَلِيُّ مَنْ اَنَا مَوْلَاهُ، اَللّٰهُمَّ عَادَ مَنْ عَادَاهُ .
(اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ،فَضْلُ عَلِيِّ بنِ اَبِيْ طَالِبٍ، ص: ۱۹، نَمْبَرْ ۱۱۶)
تَرْجَمَهْ:- حضرت بَرَاءْ بِنْ عَازِبْ فرمائي چي د يَو حَجْ پر مُوْقَعْ مُوږ د حُضُوْرْ (ﷺ) سره وَاپَس رَارَوَانْ وُو، په لَارَهْ كي مُوږ رَاشَوَه سو، حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي د لُمُوْنځْ د جَمَاعَتْ لپاره تَيَّارْ سئ، بيايې حضرت عَلِيْ تر لَاسْ وَنيوئ، او وَ فَرْمَائِلْ چي

زَهْ وَ مُؤْمِنَانُوْ ته د دُوي تر ذَاتْ ډېر مَحْبُوْبَ نَه يَم؟ خلګو وويل هُوْ! بيايې وَ فَرْمَائِلْ چي د هر مُؤْمِنْ تر ذَاتْ ډېر مَحْبُوْبَ نَه يَم؟ خلګو بيا وويل هُوْ! نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي د کُوم چَا زَهْ مَحْبُوْبَ يَم دهغه دئ (عَلِيْ) مَحْبُوْبَ دئ، ائ اَللّٰهْ څوک چي د حضرت عَلِيْ سره مُحَبَّتْ وَسَاتِي تَه دهغه مَحْبُوْبَ سې، او څوک چي دده سره دُښْمَنِيْ وَسَاتِي تَه دهغه دُښْمَنْ سې .

په دغه حَدِيْثْ کې وَ فَرْمَائِلْ چي د کُوم چَا چي زَهْ وَلِيْ يَم حَضرَت عَلِيْ هم دهغه وَلِيْ دئ، بيايې وَ فَرْمَائِلْ چي څوک د حضرت عَلِيْ سره دُوْسْتِيْ وَسَاتِي تَه دهغه دُوْسْتْ سې، او څوک چي دده سره دُښْمَنِيْ ولري، اَئ اَللّٰهْ تَه دهغه دُښْمَنْ سې .

يَامْ لَرَنَهْ:- د وَلِيْ مَعْنٰي د مَدَدْګارْ هم ده، لېکن دَلتَه د وَلِيْ مَعْنٰي ده دُوْسْتْ، دَلتَه د وَلِيْ مَعْنٰي د خَلِيْفَهْ اَوَّلْ يا د مَدَدْګارْ نَه ده، تاسو په خپله د دُعَاءْ پر اَلْفَاظُوْ باندي ښه غَوَرْ وکئ .

په دغه آيَتْ کي مَوْلٰى د دُوْسْتْ په مَعْنٰي کي اِسْتِعْمَالْ سوئ دئ

**۳: يَوْمَ لَايُغْنِيْ مَوْلًى عَنْ مَّوْلًى شَيْئًا وَّ لَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ** ۝ لا (آيَتْ ۴۱،سُوْرَةُ الدُّخَانْ ۴۴) .

تَرْجَمَهْ:- چي په هغه وُرَځْ به يَو حِمَايَتِيْ د بَلْ حِمَايَتِيْ د يَوې ذَرَّې په ښَهْ نَه وَرځي، او د دُوي څخه به د يَوَه هم هيڅ مَدَدْ نَه کيږي ۝

چي دغه آيَتْ مَختَه کښېږدې نو د وَلِيْ مَعْنٰي په دُوْسْتْ سره کول بِالْکُلْ صَحِيْحْ ده .

# د اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْنْ حضرت حَسَنْ ؓ او حُسَيْنْ ؓ فَضِيْلَتُوْنَه

حضرت حَسَنْ او حُسَيْنْ د اَهْلِ بَيْتْ څخه دي، د جَنَّتْ سَرْدَارَانْ دي، او اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْنْ هم دي، لېکن د شَامْ خلګو دُوي شَهِيْدَانْ کړل، او تر نَنْ وُرَځي پُوري دغه جَنْګْ د مُسْلمَانَانُوْ په مَابَيْنْ کي د جَنْګْ جګړې بَاعِثْ او سَبَبْ ګرزېدلئ دئ، کَاشْ! چي دُوَاړو (ډلُو) صُلْحَ کړې او په خپل مينځ کې اِتِّفَاقْ سره کړئ واي او عَرَبْ مَلْکُوْنَهْ يې د اِخْتِلَافْ څخه خُوندِي سَاتَلي وائ .

فَيَا اَسَفًا!

دا **خَبَرَهْ** د **يَادَوَنِيْ** وَړ ده چي **اَهْلِ سُنَّتْ وَالْجَمَاعَتْ** د **اَهْلِ مَدِيْنَهْ حِمَايَتِيَانْ** دي، هغه نَه د حضرت **حُسَيْنْ** په **شَهَادَتْ** كي **شَرِيْكَانْ** وُو، او نَه په هغه **خُوْشْحَالَ** وُو، بلكه تر **نَنْ وُرَځِيْ** پُوري پر هغه **ظُلْمْ** باندي **اَفْسُوْسْ** كوي، نو ځكه وَ **اَهْلِ سُنَّتْ** ته ددې **اِلْزَامْ** وَركوَل **صَحِيْحْ خَبَرَهْ** نَه ده .

د دُوي د **فَضَائِلُ** په اړه ډېر **حَدِيْثُوْنَهْ** راغلي دي، دهغه څخه بعض دغه دي

**٢١ : عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) مَنْ اَحَبَّ الْحَسَنَ وَالْحُسَيْنَ فَقَدْ اَحَبَّنِيْ وَمَنْ اَبْغَضَهُمَا فَقَدْ اَبْغَضَنِي .**

(**اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ،بَابُ فَضْلِ الْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ اِبْنَىْ عَلِيِّ بنِ اَبِىْ طَالِبٍ، صِ: ٢٢، نَمْبَرْ ١٤٣**)

**تَرْجَمَهْ**:- **حُضُوْرْ** (ﷺ) وَ **فَرْمَائِلْ**:- كُوم خلګ چي د **حَسَنْ** او **حُسَيْنْ** سره **مُحَبَّتْ** كوي نو ګُواكِه هغه **زَمَا** سره **مُحَبَّتْ** كوي، او څوک چي د دُوي سره **دُښْمَنِيْ** كوي نو ګُواكِه هغه **زَمَا** سره **دُښْمَنِيْ** كوي .

**٢٢ : عَنْ اُسَامَةَ بنِ زَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ (ﷺ) اَنَّهُ كَانَ يَاْخُذُ الْحَسَنَ وَالْحُسَيْنَ وَيَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اُحِبُّهُمَا فَاَحِبَّهُمَا .**

(**بُخَارِىْ شَرِيْفْ،بَابُ مَنَاقِبِ الْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ، صِ: ٥٣١، نَمْبَرْ ٣٧٤٧ / مُسْلِمْ شَرِيْفْ،بَابٌ مِنْ فَضَائِلِ الْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ، صِ: ١٠٧، نَمْبَرْ ٢٤٢١ / ٦٢٥٦**)

**تَرْجَمَهْ**:- **حُضُوْرْ** (ﷺ) به حضرت **حَسَنْ** او **حُسَيْنْ** په **غيږ** (**غُوځِيْ**) كي وَاخستل او دا به وَ **فَرْمَائِلْ**:- ائ **اَللّٰهْ زَهْ** د دغه دواړو سره **مُحَبَّتْ** كوم، تَه هم د دُوي سره **مُحَبَّتْ** وكړې .

**٢٣ : عَنْ اَبِىْ مُوْسٰى ..... رَأَيْتُ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) عَلَى الْمَنْبَرِ وَالْحَسَنُ بنِ عَلِيِّ اِلٰى جَنْبِه وَهُوَ يَقْبِلُ عَلَى النَّاسِ مَرَّةً وَعَلَيْهِ اُخْرٰى وَيَقُوْلُ اِنَّ اِبْنِيْ هٰذَا سَيِّدٌ وَلَعَلَّ اللّٰهَ اَنْ يُّصْلِحَ بِه بَيْنَ فِئَتَيْنِ عَظِيْمَتَيْنِ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ .**

(**بُخَارِىْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الصُّلْحِ، بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ (ﷺ) لِلْحَسَنِ بنِ عَلِيٍّ، صِ: ٤٤٢، نَمْبَرْ ٢٧٠٤**)

**تَرْجَمَهْ**:- حضرت **اَبُوْ مُوْسٰى فَرْمَائِي** چي مَا **حُضُوْرْ** (ﷺ) پر **مَنْبَرْ** باندي وَلِيدَئ، چي حضرت **حَسَنْ** دده پر **څَنْګْ** وُو، **حُضُوْرْ** (ﷺ) به كله و خلكو ته **مُتَوَجِّهْ** سو، او كله به وَ حضرت **حَسَنْ** ته وَ كتَل، او دا به وَيَل، **زَمَا** دغه زُوئ **سَرْدَارْ** دئ، او كيدلائي چي د **مُسْلْمَانَانُوْ** د دُوْ **ډَلُوْ** (**جَمَاعَتُوْ**) په **مَابَيْنْ** كي دي **صُلْحِ** وكړي .

او دغه رنګه وَاقِعَهْ پيښيَه سوه چي ده د دُوُ غټُو جَمَاعتُوْ په مَابَيْنْ کي صُلْحَ وکړه، او دئ ددغه صُلْحِ سَبَبْ جوړ سو .

۲۴: عَنْ اِبْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اَلْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ سَيِّدَا شَبَابِ اَهْلِ الْجَنَّةِ، وَ اَبُوْهُمَا خَيْرٌ مِّنْهُمَا .
(اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ،بَابُ فَضْلِ عَلِيِّ بن اَبِیْ طَالِبِ، صِ: ۱۹، نَمْبَرْ ۱۱۸)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ:- حضرت حَسَنْ او حضرت حُسَيْنْ د جَنَّتْ د ځُوَانَانُوْ سَرْدَارَانْ دي، او د دُوي پَلَارْ حضرت عَلِيْ تر دُوَاړُو بِهْتَرْ دئ .

۲۵: عَنْ زَيْدِ بن الْاَرْقَمَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) لِعَلِيٍّ وَ فَاطِمَةَ وَ الْحَسَنَ وَالْحُسَيْنَ، اَنَا سِلْمٌ مَنْ سَالَمْتُمْ وَحَرْبٌ لِمَنْ حَارَبْتُمْ .
(اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ،بَابُ فَضْلِ الْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ اِبْنَیْ عَلِیِّ بن اَبِیْ طَالِبِ، صِ: ۲۲، نَمْبَرْ ۱۴۵)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ عَلِيْ، فَاطِمَهْ، حَسَنْ او حُسَيْنْ ته وَ فَرْمَائِلْ:- د کُوم چَا سره چي تاسو صُلْحَ وکئ زَهْ هم د هغه سره صُلْحْ کوم، او د کُوم چَا سره چي ستاسو جَنْګْ دئ، زَمَا هم دهغه سره جَنْګْ دئ .
دا په يَامْ کي وَلَرَئ چي اَهْلِ سُنَّتْ وَالْجَمَاعَتْ د حضرت عَلِيْ، فَاطِمَهْ، حَسَنْ او حُسَيْنْ سره په هيڅ وَخْتْ دُښْمَنِيْ نَه ده سَاتَلي، بلکه همېشه يې د دُوي سره مُحَبَّتْ سَاتَلَئ دئ، او د دُوي اِحْتِرَامْ يې کړئ دئ، لِهٰذَا پر دُوي باندي د دُښْمَنِيْ اِلْزَامْ لَګوَل غَلَطْ کارْ دئ، اَلْبَتَّهْ دُوي د شَرِيْعَتْ تر حُدُوْدُ مَخته نَه دي تېر سوي .

# د اُمُّ الْمُؤْمِنِيْنْ حضرت خَدِيْجَهْ (رضي الله عنها) فَضِيْلَتْ

که حضرت خَدِيْجَهْ ژُوَندي وایٔ نو دا به هم په اَهْلِ بَيْتْ کي شَامِلَهْ وایٔ، او د آيَتِ تَطْهِيْرْ مِصْدَاقْ به دا هم وایٔ، ځکه چي دا هم د حُضُوْرْ (ﷺ) د کُوْرْ وَالَا ده، دا بېله خَبَرَهْ ده چي ددې د وَفَاتْ وروسته
اِنَّمَا يُرِيْدُ اللهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ اَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيْرًا﴿﴾ .
(آيَتْ ۳۳، سُوْرَةُ الْاَحْزَابْ ۳۳) .
تَرْجَمَهْ:- ائ د نَبِيْ اَهْلِ بَيْتَ! (کُوْرَنِيَانُوْ!)، اَللهْ خو دا غُوَاړي چي ستاسو څخه ګَنْدَګِيْ ليري کړي، او تاسو ته دارنګه پَاکِيْزَګِيْ درکړي چي په هر ډَوَل مُکَمَّلَهْ وي.﴿﴾

نَازِلْ سو، لېکن که چېرې دا ژُوَندې واۍ نو دا به هم ددغه آيَتْ تَحْتْ دَاخِلَ واۍ، دا هم د ټولو مُؤْمِنَانُوْ مُوْرْ ده .

ددې په فَضِيْلَتْ کې دغه حَدِيْثْ دئ

**۲۶: سَمِعْتُ عَلِيَّ بن اَبِىْ طَالِبِ يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ (ﷺ) يَقُوْلُ خَيْرُ نِسَائِهَا خَدِيْجَةُ بِنْتِ خُوَيْلَدَ، وَخَيْرُ نِسَائِهَا مَرْيَمُ بِنْتِ عِمْرَانَ .**

(تِرْمِذِىْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْمَنَاقِبِ،بَابُ فَضْلِ خَدِيْجَةَ،ص: ۸۷۵، نَمْبَرْ ۳۸۷۷)

تَرْجَمَهْ:- مَا د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه دا اَورېدلې دي چې ده فَرْمَائِلْ په ټولو ښځو کې بِهْتَرِيْنَهْ ښځه خَدِيْجَهْ بِنْتِ خُوَيْلَدْ ده، او د بَنِىْ اِسْرَائِيْلُوْ په ټولو ښځو کې اَفْضَلَهْ ښځه مَرْيَمْ بِنْتِ عِمْرَانْ ده .

وَاقِعَةْ حضرت خَدِيْجَهْ ډېره اَفْضَلَهْ ده، دې د ډېرې مَجْبُوْرِيْ په حَالَتْ کې د حُضُوْرْ (ﷺ) سره مَلګرې او وَفَادَارِيْ وکړه، او ډېره تَسَلِّيْ يې ورکړه، اَللّٰهْ تَعَالٰى دې وَ دې ته ددغه عَمَلْ بِهْتَرِيْنَهْ بَدْلَهْ ورکي، آمِيْنْ يَارَبَّ الْعٰلَمِيْنَ .

## د اُمُّ الْمُؤْمِنِيْنْ حضرت عَائِشَهْ (رضي الله عنها) فَضِيْلَتْ

حضرت عَائِشَهْ د اَهْلِ بَيْتْ څخه ده، دا هم هغونه اِحْتِرَامْ لري لکه څومره چې نور اَهْلِ بَيْتْ يې لري، بيا دا ډېره غَټَّهْ خَبَرَهْ ده چې دا وَ حُضُوْرْ (ﷺ) ته ګرَانَ او مَحْبُوْبَ بِىْ بِىْ ده، او د ټُولَ اُمَّتْ مُوْرْ ده نو ځکه ددې اَدْنٰى تَوْهِيْنْ هم جَوَازْ نَه لري .

اَيَا هسې يَو څوک د خپلې بِىْ بِىْ تَوْهِيْنْ او بِى عِزَّتِىْ بَرْدَاشْتَوَلائِى سي؟ دا څومره ظُلْمْ دئ چې دده د لُوْرْ او زُوْمْ په مُحَبَّتْ کې دده وَ بِىْ بِىْ ته چَيْ و رَيْ وَيْنَا کوي، لَرْ فِكْرْ وکئ چې دا څَه کوي؟ که حُضُوْرْ (ﷺ) ژُوَنْدَيْ واۍ نو اَيَا دغه به بَرْدَاشْتْ کړي واۍ؟

که چېرې حضرت عَائِشِى د حضرت عَلِىْ په شَانْ کې کُومَه غَلَطِىْ کړې ده نو دا بَايَدْ ددې اِجْتِهَادِىْ غَلَطِىْ وَګڼل سي، او د اُمَّتْ د اِتِّفَاقْ لپاره دې دې ته عَفْوَ وکي، او د نورو اِغْيَارُوْ په مُقَابِلْ کې دې اُوس هم سره يَو ځائ سي .

تاسو نَه وِينَئ چې غَيْرِ مُسْلِمْ پر تاسو باندې څومره ظُلْمُوْنَهْ کوي، او ستاسو مَلْکُوْنَهْ تَبَاهْ کوي .

د حضرت عَائِشِى په اړه دغه آيَتْ دئ

۴: اِنَّ الَّذِيْنَ جَآءُوْا بِالْاِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنْكُمْ ط ..... اِنَّ الَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ الْغٰفِلٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ لُعِنُوْا فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ص وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ لا ..... وَالطَّيِّبٰتُ لِلطَّيِّبِيْنَ وَالطَّيِّبُوْنَ لِلطَّيِّبٰتِ ج اُولٰئِكَ مُبَرَّءُوْنَ مِمَّا يَقُوْلُوْنَ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّ رِزْقٌ كَرِيْمٌ

(آيَتْ ۱۱، ۲۳، ۲۶،سُوْرَةُ النُّوْرْ ۲۴) .

تَرْجَمَهْ:- يَقِيْنْ وكه چي كُومُو خلكو دغه دَرْوَاغْجَنْ تُهْمَتْ دځانـه جوړ كړئ رَاوړئ دئ، هغه په تاسو كي دَنَنَه يَوَه تُوْلَهْ (دَلّه) ده ..... يَادْ ولرئ چي كُوم خلګ چي پر پَاكَ لَمنُوْ مَعْصُوْمُوْ (سِيْدَا سَادَهْ) مُسَلْمَانَانُوْ زَنَانُوْ باندي تُهْمَتْ لګوي، پر دُوي باندي په دُنْيَا او آخِرَتْ كي (د خُدَائ) لَعْنَتْ سوئ دئ، او دُوي تـه بـه زَبَرْدَسْتَهْ عَذَابْ مِلاؤ سـي ..... او پَاكْبَـازَ زَنَـانـي د پَاكْبَـازْ نَـرَانُ لَائِقَتْ لـري، او پَاكْبَـازَ نَـرَانْ د پَاكْبَـازُ زَنَـانُوْ لَائِقَتْ لري، دغه (پَاكْبَازْ نَرَانْ او زَنَانـي) دهغه خَبَرُوْ څخـه بِالْكُلْ مُبَرَّاءْ دي كُوم چـي دغه خلګ يې سره جُوړَوِي، دهغو (پَاكْبَـازَانُوْ) پـه حِصَّـهْ كـي خـو مَغْفِرَتْ او د عِزَّتْ رُوْزِيْ ده

په غَزْوَهْ بَنُوْا الْمُصْطَلَقْ كي حضرت عَائِشَهْ د قَافِلي څخه شَا ته پاته سوې وه، او وروسته د حضرت صَفْوَانْ بِنِ مُعَطِّلْ سره قَافِلي ته راغله، چي دهغه په وَجْهَ عَبْدُ اللهْ بِن اُبَىْ بِن سَلُوْلْ پر حضرت عَائِشَهْ باندي د زِنَا تُهْمَتْ وَلَګاوَئ، يَوَهْ مِيَاشْتَهْ وروسته دغه لُوړ آيَتُوْنَهْ نَازِلْ سول، چي په دي كې د حضرت عَائِشي پَاكْدَامَنِيْ بَيَانْ كړې ده، نو ځكه پر دې باندي د زِنَا تُهْمَتْ لَګوَل سَرَاسَرْ ظُلْمْ دئ، آيَا يو څوک پر خپله مُوْرْ باندي د زِنَا تُهْمَتْ لَګوِي؟ يا هغې ته چَيْ و رَيْ وَيْنَا كوي؟ دا څومره بې حَيَايِيْ ده .

۲۷: عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ كَانَ يَسْئَلُ فِىْ مَرَضِهِ الَّذِىْ مَـاتَ فِيْـهِ يَقُوْلُ اَيْنَ اَنَا غَدًا؟ اَيْنَ اَنَا غَدًا؟ يُرِيْدُ يَوْمَ عَائِشَةَ، فَاَذِنَ لَهُ اَزْوَاجُهُ يَكُوْنُ حَيْثُ شَاءَ فَكَانَ فِىْ بَيْتِ عَائِشَةَ حَتّٰى مَاتَ عِنْدَهَا، قَالَتْ عَائِشَةُ فَمَاتَ فِىْ يَوْمِ الَّذِىْ كَـانَ يَدُوْرُ عَلَىَّ فِيْهِ فِىْ بَيْتِىْ فَقَبَضَـهُ اللهُ وَاِنَّ رَأْسَـهُ لَبَيْنَ نَحرِىْ وَسَحْرِىْ وَخَـالَطَ رِيْقُهُ رِيْقِىْ .

(بُخَارِىْ شَرِيْف،كِتَابُ الْمَغَازِىْ،بَابُ مَرَضِ النَّبِىِّ وَ وَفَاتِهِ،ص: ۷۵۶، نَمْبَرْ ۴۴۵۰)

تَرْجَمَهْ:- په كُوم مَرَضْ كي چي حُضُوْرْ (ﷺ) وَفَاتْ سوئ دئ په هغه كي به پُوْښْتَنَهْ كوله چي:- سَبَا د كُومي يوې سره زَمَا وَارَئ دئ؟ سَبَا د كُومِي يوې سره زَمَا وَارَئ دئ؟ حُضُوْرْ (ﷺ) دا غُوښْتَلْ چي د حضرت عَائِشَهْ وَارَئ (نَوْبَتْ) راسي، نو ځكه دغه پاته نورو بِيْ بِيْ ګانُوْ اِجَازَتْ وَرکئ چي د حُضُوْرْ (ﷺ) غُوښْتَهْ سي هلته دي شپَه تېره كي، نو ځكه تر وَفَاتْ پُوري دئ د حضرت عَائِشَهْ په كُوْرْ كي پاته سو، حضرت

عَائِشَهْ فرمائي چي:- په کُومَه وُرَځْ چي زَمَا وَارَئ (نَوْبَتْ) وُو په هغه وُرَځْ حُضُوْرْ (ﷺ) وَفَاتْ سو، حُضُوْرْ (ﷺ) زَمَا د سِيْنِي سره څَنْګْ لګوَلَئ وُو، هغه وَخْتْ اَللّٰهْ تَعَالٰی دئ خپل ځان ته رَاوَبَالَئ، او په هغه آخِرِئْ وَخْتْ کي دده لاړِ (نَانِئ) زَمَا د لاړُوْ سره ګډِئ سوې .

حضرت عَائِشَهْ (ؓ) د حُضُوْرْ (ﷺ) خومره ګرَانَ بِئ بِئْ وه چي ددې د نَوْبَتْ اِنْتِظَارْ يې کاوئ،او ددې په غېږ کې آخِرِئْ وَخْتْ تېر کئ، او ددې په غېږ کي وَفَاتْ سو، بيا هم وَ دې ته چَپْ و رَپْ وَيَل ډېره بَدَّهْ خَبَرَهْ ده .

**۲۸ : اَنَّهُ سَمِعَ اَنَسَ بنِ مَالِكٍ يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) يَقُوْلُ فَضْلُ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ كَفَضْلِ الثَّرِيْدِ عَلٰى سَائِرِ الطَّعَامِ .**

(بُخَارِئْ شَرِيْفْ،كِتَابُ فَضَائِلِ اَصْحٰبِ النَّبِيِّ (ﷺ) ،بَابُ فَضْلِ عَائِشَةَ،ص: ۶۳۳، نَمْبَرْ ۳۷۷۰)

تَرْجَمَهْ:- مَا د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه اَورېدَلِي دي وَ فَرْمَائِلْ چي:- پر (نورو) ښځو باندي د حضرت عَائِشَهْ فَضِيْلَتْ دارنګه دئ، لکه څنګه چي پر ټولو ډوْډَيُوْ باندي د ښُوْرْوَا فَضِيْلَتْ (لَذّتْ / خُوَنْدْ) دئ .

په دغه حَدِيْثُوْ کې د حضرت عَائِشَهْ ډېر فَضِيْلَتْ بَيَانْ کړئ دئ .

## د اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْنْ حضرت اَبُوْبَكْرْ (ؓ) فَضِيْلَتْ

حضرت اَبُوْبَکْرْ د حُضُوْرْ (ﷺ) مَلګرَئ وُو، او په هر وَخْتْ کې د حُضُوْرْ (ﷺ) مَلګرِي وَپَالَل، او هغه خِدْمَتُوْنَهْ يې وکړل چي بَل صَحَابِئْ د خِدْمَتْ هغه مُوْقَعْ نَه ده مُوندَلې .

که چيري دده پُوْهَنَهْ، حِكْمَتِ عَمَلِئْ، رُعْبْ او دَبْدَبَهْ، او جُرْأَتْ نَه وائ نو اُمَّتْ به ځلَه ډُوبِ ټُوټې سوئ وائ، که نَه نو کُوم حَالْ چي د حضرت عَلِئ د خِلَافَتْ په آخِرِئْ زَمَانَهْ کي جُوړ سو هغه حَالْ به د حُضُوْرْ (ﷺ) د وَفَاتْ وروسته دده په خِلَافَتْ کي هم رَا مِينځ ته سوئ وائ .

ددې لپاره تاسو د اِنْسَانَانُوْ پر فِطْرَتْ باندي غَوَرْ وکئ او دهغه زَمَانې حَالَاتْ مُطَالَعَهْ کئ نو بيا فَيْصَلَهْ وکئ .

دده د فَضَائِلُوْ آيَتُوْنَهْ دغه دي

**۵: اِذْ اَخْرَجَهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْاثَانِىَ اثْنَيْنِ اِذْ هُمَا فِى الْغَارِ اِذْ يَقُوْلُ لِصَاحِبِه لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللهَ مَعَنَا** ج **(آيَتْ ۴۰،سُوْرَةُ التَّوْبَةْ ۹)** .

**تَرْجَمَهْ:-** **اَللهْ** هغه وَخت دده مَرَستَه كړې ده، چي كله **كافِرَانُ** په داسي وَخت كي دئ (د **مَكَّهْ مُكَرَّمَهْ** څخه) اِيستَلَئ وُو چي كله دئ د دُوُو څخه **دُوهَمْ** وُو، چي كله دُوي دواړه په **غَارْ** كي وُو، چي كله ده خپل مَلګرِي ته ويل چي **غَمْ** مَه كوه، **يَقِيْنًا اَللهْ تَعَالٰي** زُمُوږ سره دئ .

دغه **آيَتْ** هم د حضرت **اَبُوْبَكْرْ** (رضي الله عنه) په **شَانْ** كي **نَازِلْ** سوئ دئ، ځكه چي د **حُضُوْرْ** (ﷺ) سره په **غَارْ** كي يَوَاځِي دئ وَر سره وُو .

ددې د **ثُبُوْتْ** لپاره دغه **حَدِيْثْ** دئ

**۲۹: عَنِ الْبَرَاءَ قَالَ اِشْتَرٰى اَبُوْبَكْرُ مِنْ عَازِبِ رَحْلًا ..... هٰذَا الطَّلَبُ قَدْ لَحِقْنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ فَقَالَ لَاتَحْزَنْ اِنَّ اللهَ مَعَنَا .**

**(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ فَضَائِلِ اَصْحٰبِ النَّبِيِّ (ﷺ) بَابُ مَنَاقِبِ الْمُهَاجِرِيْنَ وَفَضْلِهِمْ،ص: ۶۱۳، نَمْبَرْ ۳۶۵۲/ ۳۶۵۳)**

**تَرْجَمَهْ:-** حضرَت **اَبُوْبَكْرْ** د حضرت **عَازِبْ** څخه يَو **وُبِنْ** رَانِيوَئ ..... دُوي زُمُوږ په **طَلَبْ (تَلَاشْ)** كي دي، چي دغه دي مُوږ ته نِژدې رَاوَرسېدَل، **يَارَسُوْلَ اللهْ!** نو **حُضُوْرْ** (ﷺ) وَ **فَرْمَائِلْ:-** **اَبُوْبَكْرَا! غَمْ** مه كوه، **اَللهْ** زُمُوږ سره دئ .

حضرت **اَبُوْبَكْرْ** څومره **مُدَبِّرْ** او د **حُضُوْرْ** (ﷺ) **اِعْتِمَادِيْ** ملګرئ وُو چي د **هِجْرَتْ** په **شَانْ خَطَرْنَاكْ سَفَرْ** لپاره يې دئ د خپل ځانَ سره مَلګرئ كئ. او ده په ډېر **غَټْ حِكْمَتْ** سره هغه **اَنْجَامْ** ته وَرسَاوَئ، او تر **مَدِيْنَهْ** پُوري يې **حُضُوْرْ** (ﷺ) رَاوَرسَاوَئ .

**۶: وَ لَا يَاْتَلِ اُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ اَنْ يُّؤْتُوْٓا اُولِى الْقُرْبٰى وَالْمَسٰكِيْنَ وَالْمُهٰجِرِيْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ** صلى **وَلْيَعْفُوْا وَلْيَصْفَحُوْا** ط **اَ لَا تُحِبُّوْنَ اَنْ يَّغْفِرَ اللهُ لَكُمْ** ط **وَاللهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ** **(آيَتْ ۲۲،سُوْرَةُ النُّوْرْ ۲۴)** .

**تَرْجَمَهْ:-** او په تاسو كي چي كُوم خلګ **اَهْلِ خَيْرْ** دي او **مَالِيْ وُسْعَتْ** لري، هغه دي دارنګه **قَسَمْ** (سَوګند) نَه اَخلِي چي دُوي به خپلو **رِشْتَهْ دَارَانُوْ** ته، **مِسْكِيْنَانُوْ** ته او د **اَللهْ** په **لَارَهْ** كي **هِجْرَتْ** كونكو ته هيڅ شئ نَه وركوي، او دُوي ته په كار دئ چي د **مَعَافِيْ** او **بَخْښَنْ** څخه كار وَاخلِي، اَيَا تاسو دا نَه خُوښَوَئ چي **اَللهْ** ستاسو **خَطَاګَانْ** وَبَخښِي؟ او **اَللهْ** ډېر بَخښ كونكئ، **غَټْ مِهْرَبَانْ** دئ.

حضرت **مِسْطَحْ بِنْ اَثَاثَهْ** د حضرت **اَبُوْبَكْرْ رِشْتَهْ دَارْ** وُو، حضرت **اَبُوْبَكْرْ** به د حضرت **مِسْطَحْ** سره **مَالِيْ مَرَسْتَهْ** كوله، دئ هم د حضرت **عَائِشَهْ** په

تُهْمَتْ کي په هېره او غَلَطْ فَهْمَيْ کي شَرِيْکْ سوئ وُو، نو ځکه حضرت اَبُوْبَکْرْ قَسَمْ وَاخَستَئ چي زَهْ به دده سره مَرَسْتَهْ نَه کوم، پر دغه مُوْقَعْ نو دغه آيَتُوْنَهْ نَازِلْ سول، ددې وروسته حضرت اَبُوْبَکْرْ د حضرت مِسْطَحْ سره هغه يَخْوَانَيْ چَلَنْ (مَرَسْتَهْ او مَدَدْ) بَحَالَ (فَعَّالَ) کئ .

د حضرت اَبُوْبَکْرْ ځومره عَظِيْمْ مَرْتَبَهْ ده چي دده په شَانْ کي دغه آيَتُوْنَهْ نَازِلْ سول .

**۳۰: عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ (ﷺ) قَالَ لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيْلًا لَاتَّخَذْتُ اَبَابَكْرٍ خَلِيْلًا وَلٰكِنْ اَخِيْ وَ صَاحِبِيْ .**

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ (ﷺ) لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيْلًا، ص: ۶۱۴، نَمْبَرْ ۳۶۵۶)

تَرْجَمَهْ:- د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه رِوَايَتْ دئ که چيري مَا خَلِيْلْ جوړولائي، نو اَبُوْبَکْرْ به مُو خَلِيْلْ جوړ کړئ وائ، لېکن دئ زَمَا وُرُوْرْ دئ، زَمَا مَلګرئ دئ، [او خَلِيْلْ صِرف اَللهْ دئ] .

**۳۱: عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اِقْتَدُوْا بِالَّذِيْ مِنْ بَعْدِيْ اَبِيْ بَكْرَ وَعُمَرَ.**

(تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْمَنَاقِبْ،بَابُ اِقْتَدُوْا بِالَّذِيْ مِنْ بَعْدِيْ اَبِيْ بَكْرَ وَعُمَرَ،ص: ۸۳۴، نَمْبَرْ ۳۶۶۲)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ:- زَمَا وروسته د اَبُوْبَکْرْ، او عُمَرْ اِقْتِدَاءْ وکئ .

**۳۲: عَنْ مُحَمَّدِ بِن الْحَنَفِيَّةِ قَالَ قُلْتُ لِاَبِيْ [عَلِيٍّ] اَيُّ النَّاسِ خَيْرٌ بَعْدَ رَسُوْلِ اللهِ (ﷺ) قَالَ اَبُوْبَكْرُ، قُلْتُ ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ ثُمَّ عُمَرُ وَ خَشِيْتُ اَنْ يَّقُوْلَ: عُثْمَانُ، قُلْتُ ثُمَّ اَنْتَ؟ قَالَ مَا اَنَا اِلَّا رَجُلٌ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ .**

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،فَضَائِلُ اَصْحٰبِ النَّبِيِّ (ﷺ)،بَابُ، ص: ۶۱۶، نَمْبَرْ ۳۶۷۱ / اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ،بَابُ التَّفْضِيْلْ، ص: ۶۵۴، نَمْبَرْ ۴۶۲۹)

تَرْجَمَهْ:- مُحَمَّدْ بِن حَنَفِيَّهْ وويل چي مَا د خپل پَلَارْ عَلِيْ څخه پُوْښْتَنَهْ وکړه چي د حُضُوْرْ څخه وروسته تر ټولو اَفْضَلَ (اِنْسَانْ) څوک دئ؟ نو حضرت عَلِيْ وَ فَرْمَائِلْ:- اَبُوْبَکْرْ دئ، مَا پُوْښْتَنَهْ وکړه چي تر هغه وروسته بيا څوک اَفْضَلَ دئ؟ نو وَ فَرْمَائِلْ:- عُمَرْ دئ، مَا دغه خَطْرَهْ مَحْسُوْسَهْ کړه چي تر دې وروسته د حضرت عُثْمَانْ نُوْمْ وَا نه خَلِي، نو ځکه مَا پُوْښْتَنَهْ وکړه چي ته پر څُوَيَمْ نَمْبَرْ يې؟ نو حضرت عَلِيْ وَ فَرْمَائِلْ چي:- زَهْ خو د عَامَّهْ مُسْلَمَانَانُوْ څخه يَو کس يَم .

د صَحَابِیْ په دغه اَثَرْ (قَوْلْ) کي خو په خپله حضرت عَلِیْ د حضرت اَبُوْبَکْرْ د فَضِیْلَتْ اِقْرَارْ کړئ دئ، نو نور خلک بیا دده د فَضِیْلَتْ څخه اِنْکارْ وَلِي کوي؟

**۳۳: عَنْ اِبْنِ عُمَرَ قَالَ کُنَّا نُخَیِّرُ بَیْنَ النَّاسِ فِیْ زَمَانِ رَسُوْلِ اللّٰهِ (ﷺ) اَبَابَکْرٍ، ثُمَّ عُمَرَ، ثُمَّ عُثْمَانَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ .**

(بُخَارِیْ شَرِیْف،بَابُ فَضْلِ اَبِیْ بَکْرٍ بَعْدَ النَّبِیِّ (ﷺ)، ص: ۶۱۴، نَمْبَرْ ۳۶۵۵)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَبْدُ اللّٰهْ بن عُمَرْ وَ فَرْمَائِلْ چي:- د رَسُوْلُ اللّٰهْ په ژُوَنْدْ کي مُوږ په خلکو کي تر ټولو اَفْضَلَ حضرت اَبُوْبَکْرْ ګڼئ، بیا حضرت عُمَرْ، بیا حضرت عُثْمَانْ .

**۳۴: عَنْ اِبْنِ عُمَرَ قَالَ کُنَّا فِیْ زَمَنِ النَّبِیِّ (ﷺ) لَانَعْدِلُ بِاَبِیْ بَکْرٍ اَحَدًا، ثُمَّ عُمَرَ، ثُمَّ عُثْمَانَ، ثُمَّ نَتْرُکُ اَصْحَابَ النَّبِیِّ (ﷺ) لَانُفَاضِلُ بَیْنَهُمْ .**

(بُخَارِیْ شَرِیْف،بَابُ مَنَاقِبِ عُثْمَانَ بن عَفَّانَ اَبِیْ عُمَرَ الْقَرْشِیْ، ص: ۶۲۲، نَمْبَرْ ۳۶۹۸ / اَبُوْدَاوُدْ شَرِیْف،بَابُ التَّفْضِیْلْ، ص: ۶۵۴، نَمْبَرْ ۴۶۲۸)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَبْدُ اللّٰهْ بن عُمَرْ وَ فَرْمَائِلْ چي:- د رَسُوْلُ اللّٰهْ په ژُوَنْدْ کي مُوږ د حضرت اَبُوْبَکْرْ په شَانْ (اَفْضَلَ) بَل څوک نَه ګڼئ، بیا مُو حضرت عُمَرْ، بیا حضرت عُثْمَانْ، بیا مُو د حُضُوْرْ (ﷺ) په مَلګرُو کي یَوْهْ ته پر بَلْ باندي فَوْقِیَّتْ نَه وَر کاوئ .

ددغه حَدِیْثُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي تر ټولو اَوَّلْ حضرت اَبُوْبَکْرْ، بیا حضرت عُمَرْ، بیا حضرت عُثْمَانْ، بیا حضرت عَلِیْ اَفْضَلَ ګڼل کېدئ، او بیا اُمَّتْ په دغه تَرْتِیْبْ سره دغه حَضرَات خَلِیْفَه ګانْ جوړ کړل، په دغه اړه یې نَه ګومَه غَلَطِیْ کړې ده او نَه یې د هیڅ چَا حَقْ وَهَلئ دئ .

# حضرت اَبُوْبَکْرْ ددغه اَصْحَابَانُوْ څخه اَفْضَلَ

**۳۵: فَحَمِدَ اللّٰهَ اَبُوْبَکْرُ وَ اَثْنٰی عَلَیْهِ ..... فَقَالَ عُمَرُ بَلْ نُبَایِعُكَ اَنْتَ، فَاَنْتَ سَیِّدُنَا، وَ خَیْرُنَا، وَ اَحَبُّنَا اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ (ﷺ) فَاَخَذَ عُمَرُ بِیَدِهِ، فَبَایَعَهُ، وَبَایَعَهُ النَّاسُ .**

(بُخَارِیْ شَرِیْف،کِتَابُ فَضَائِلِ الصَّحَابَةِ،بَابُ ،ص: ۶۱۶، نَمْبَرْ ۳۶۶۸)

تَرْجَمَهْ:- حضرت اَبُوْبَکْرْ حَمْدْ و ثَنَا وَوَیَل ..... حضرت عُمَرْ وویل چي مُوږ ستا سره بَیْعَتْ کوو، ته زمُوږ سَرْدَارْ یې، په مُوږ ټولو کي اَفْضَلَ یې، او وَ رَسُوْلُ اللّٰهْ (ﷺ) ته تر ټولو زِیَاتْ مَحْبُوْبَ یې، حضرت عُمَرْ د حضرت اَبُوْبَکْرْ لَاسْ وَنِیوَئ او دده سره یې بَیْعَتْ وکئ، او خلګو هم دده سره بَیْعَتْ وکئ .

په دغه اَثَرْ (يَعْنِيْ قَوْلِ صَحَابِيْ) کي حضرت عُمَرْ وَ فَرْمَائِلْ چي:- حضرت اَبُوْبَکْرْ په مُوږ کي تر ټولو اَفْضَلْ هم وُو، او وَ حُضُوْرْ (ﷺ) ته يې تر ټولو زِيَاتْ قُرْبْ (مَرْتَبَهْ و مَقَامْ) هم دَرلُودَئ، په دغه وَجْهَ خو ټولو په اِجْتِمَاعِيْ تُوګه دئ خَلِيْفَهْ جوړ کړئ وُو .

## حضرت اَبُوْبَکْرْ و حَضرَت فَاطِمَهْ ته د جَنَازِي لُمُوْنځْ وَرکئ

په زِيَاتُو رِوَايَاتُوْ کي دغه راغلي دي چي حضرت اَبُوْبَکْرْ وَ حضرت فَاطِمَهْ ته د جَنَازِي لُمُوْنځْ وَرکئ، لېکن په دغه ضَعِيْفْ رِوَايَتْ کي دئ چي حضرت عَلِيْ په حضرت اَبُوْبَکْرْ باندي و حضرت فَاطِمَهْ ته د جَنَازِي لُمُوْنځْ ورکئ، عِبَارَتْ دغه دئ

**۳۶: عَنِ الشَّعْبِيِّ اَنَّ فَاطِمَةَ لَمَّا مَاتَتْ دَفَنَهَا عَلِيٌّ لَيْلًا وَ اَخَذَ بِضَبْعَيْ اَبِيْ بَکْرِ الصِّدِّيْقِ فَقَدَّمَهُ يَعْنِيْ فِي الصَّلَاةِ عَلَيْهَا .**

(بَيْهَقِيْ،کِتَابُ الْجَنَائِز،بَابُ مَنْ قَالَ اَلْوَالِيُّ اَحَقُّ بالصَّلَاةِ عَلَى الْمَيِّتِ مِنَ الْوَالِيِّ، ج: ۴،ص: ۴۶، نَمْبَرْ ۶۸۹۶)

تَرْجَمَهْ:- حضرت شَعَبِيْ فَرْمَائِي چي حضرت فَاطِمَهْ وَفَاتْ سوه نو حضرت عَلِيْ په شِپَهْ شِپَهْ کي يَتَّهْ (دَفَنْ) کړه، او حضرت اَبُوْبَکْرْ يې تر بَازُوْګَانُوْ وَنِيوَئ مَختَه يې کئ، يَعنِي چي و حَضرَت فَاطِمَهْ ته د جَنَازې لُمُوْنځْ ورکي .

## حضرت اَبُوْبَکْرْ رضی الله عنه او حَضرَت عُمَرْ رضی الله عنه د حُضُوْرْ (ﷺ) خُسَرَانْ دي

دا ډېر غَټْ فَضِيْلَتْ دئ چي حضرت اَبُوْبَکْرْ او حضرت عُمَرْ د حُضُوْرْ (ﷺ) خُسَرَانْ دي، دُوي دواړو خپله خپله لُوْرْ و حُضُوْرْ (ﷺ) ته په نِکَاحْ ورکړې ده، نو ځکه د دُوي په حَقْ کي چَيْ و رَيْ وَيْنَا کول او غَلَطِيْ خَبَرِيْ کول په کار نَه دي، دا څوک بَرْدَاشْتَوَلَائِي سي چي بَل څوک دي دده وَ خُسَرْ ته چَيْ و رَيْ وَګاپېږي؟

د دغه دواړو حَضَرَاتُوْ د بَصِيْرَتْ او حِکْمَتِ عَمَلِيْ په وَجْهَ مُسَلْمَانَانْ د اِنْتِشَارْ څخه مَحْفُوْظْ پاته سول، که چيري د دُوي رُعْبْ، دَبْدَبَهْ، او حِکْمَتِ عَمَلِيْ نَه واىٔ نو چي کُوم اِخْتِلَافْ او اِنْتِشَارْ د حضرت عَلِيْ په آخِرِيْ وَخْتْ کي راغلئ، هغه اِخْتِلَافْ او اِنْتِشَارْ به د حضرت اَبُوْبَکْرْ په زَمَانَهْ کي هم

رَامِينځ ته سوئ وائ ..... دهغه وَخْتْ پر حَالَاتُوْ باندي تاسو غَوْرْ وكئ نو بيا فَيْصَلَهْ وكئ .

## د اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْنْ حضرت عُمَرْ (رضي الله عنه) فَضِيْلَتْ

۳۷: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ (ﷺ) لَقَدْ كَانَ فِيْمَنْ قَبْلَكُمْ مِنَ الْاُمَمِ مُحَدَّثُوْنَ فَاِنْ يَّكُنْ فِيْ اُمَّتِيْ اَحَدٌ فَاِنَّهُ عُمَرُ .

عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ (ﷺ) لَقَدْ كَانَ فِيْمَنْ قَبْلَكُمْ مِنْ بَنِيْ اِسْرَائِيْلَ رِجَالٌ يُّكَلَّمُوْنَ مِنْ غَيْرِ اَنْ يَّكُوْنُوْا اَنْبِيَآءَ فَاِنْ يَّكُنْ فِيْ اُمَّتِيْ مِنْهُمْ اَحَدٌ فَعُمَرُ .

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ فَضَائِلِ اَصْحٰبِ النَّبِيِّ (ﷺ)،بَابُ مَنَاقِبِ عُمَرْ بن الْخَطَّابِ،ص: ۶۲۰، نَمْبَرْ ۳۶۸۹)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي ستاسو څخه په مَخكنَيُوْ اُمَّتُوْ كي مُحَدَّثَانْ وُو، كه چيري زَمَا په اُمَّتْ كي مُحَدِّثْ وائ نو هغه به عُمَرْ وائ .

اَبُوْهُرَيْرَةْ وَ فَرْمَائِلْ چي حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ:- ستاسو څخه مَخكِي په بَنِيْ اِسْرَائِيْلُوْ كي به څَه څَه كسَانْ وُو چي نَبِيَانْ خو به نَه وُو، لېكن فَرِشْتُوْ بـه د دُوي سره خَبَرِيْ كولې، كه چيري په اُمَّتْ كي هغه وائ نو حضرت عُمَرْ به وائ .

په دغه حَدِيْثْ كي دئ چي په حضرت عُمَرْ كي دُومرَه صَلَاحِيَّتْ سته چي دئ مُحَدِّثْ سوئ وائ، لېكن په دې اُمَّتْ كي د مُحَدِّثْ دَرَجَهْ (مَقَامْ/ مَرْتَبَهْ) نَستَه، نو ځكه دئ مُحَدِّثْ نَه سو .

نور فَضِيْلَتُوْنَهْ يې د حضرت اَبُوْبَكْرْ په عُنْوَانْ كي تېر سوي دي .

## حضرت عُمَرْ (رضي الله عنه) د حضرت عَلِيْ (رضي الله عنه) خُسَرْ دئ

يَو غَټْ فَضِيْلَتْ يې دادئ چي حضرت عُمَرْ د حضرت عَلِيْ او حضرت فَاطِمَهْ د لُوْرْ حضرت اُمِّ كُلْثُوْمْ سره په سَنَهْ ۱۷ هِجْرِيْ كي نِكَاحْ وكړه، او د حضرت عَلِيْ زُوْمْ سو، نو ځكه ده ته د چَيْ و رَيْ وَيلُو هيڅ گُنجَائِش نَستَه، ځكه چي حضرت عَلِيْ دئ خپل زُوْمْ گرزَولَئ دئ .

ددې لپاره حَدِيْثُوْنَهْ دغه دي

۳۸: اَنَّ عُمَرَ بن الْخَطَّابِ قَسَّمَ مُرُوْطًا بَيْنَ نِسَاءٍ مِّنْ نِّسَاءِ الْمَدِيْنَةِ فَبَقِيَ مِرْطٌ جَيِّدٌ فَقَالَ لَهُ بَعْضُ مَنْ عِنْدَهُ يَا اَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَعْطِ هٰذَا اِبْنَةَ رَسُوْلِ اللهِ الَّتِيْ عِنْدَكَ يُرِيْدُ اُمَّ كُلْثُوْم بِنْتِ عَلِيٍّ، فَقَالَ عُمَرُ اُمُّ سَلِيْطٍ اَحَقُّ .

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ، بَابُ حَمْلُ النِّسَاءِ الْقِرَبَ اِلَى النَّاسِ فِى الْغَزْوِ، صِ: ۴۷۶، نَمْبَرْ ۲۸۸۱)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عُمَرْ د مَدِيْنِي په ښځو کي پَرُوْنَانْ وَبېشَل، يَو ښَهْ پَرُوْنَيْ پاته سو، نو چي کُوم خلک دده سره مَوْجُوْدْ وُو دهغوي څخه يَوه وَوَيَل، اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ دغه پَرُوْنَيْ د حُضُوْرْ (ﷺ) وَ هغه لُوْرْ (يعني لُمَسي) ته وَرکه کُوم چي ستا سره (په نِکَاحْ) ده، يعني وَ اُمِّ كُلْثُوْمْ بِنْتِ عَلِيْ ته يې وَرکه، نـو حضرت عُمَرْ وَ فَرْمَائِلْ چي اُمِّ سَلِيْطْ ددې ډېره حَقْدَارَهْ ده .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي اُمِّ كُلْثُوْمْ د حضرت عُمَرْ بِيْ بِيْ (مَيْنَهْ) وه .

**۳۹: سُمِعَتْ نَافِعًا ..... وَ وُضِعَتْ جَنَازَةُ اُمِّ كُلْثُوْم بِنْتِ عَلِيِّ اِمْرَأَةُ عُمَرَ بِنِ الْخَطَّابِ وَ اِبْنٌ لَهَا يُقَالُ لَهُ زَيْدٌ وُضِعَا جَمِيْعًا وَالْاِمَامُ يَوْمَئِذٍ سَعِيْدُ بِن الْعَاصِ .**

(نِسَائِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ اِجْتِمَاعِ جَنَائِزِ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ، صِ: ۲۷۸، نَمْبَرْ ۱۹۸۰)

تَرْجَمَهْ:- د نَافِعْ څخه اَورېدَلي دي چي ..... اُمِّ كُلْثُوْمْ بِنْتِ عَلِيْ چي د حضرت عُمَرْ بِيْ بِيْ وه دهغې جَنَازَهْ، او ددې د زُوْيْ زَيْدْ جَنَازَهْ پـه يَو وَار سره کښېښُوَلې، او د دواړو اِمَامَتْ سَعِيْدْ بِن الْعَاصْ وکئ .

په دغه قَوْلِ صَحَابِيْ (يعني اَثَرْ) کي راغلي دي چي اُمِّ كُلْثُوْمْ بِنْتِ عَلِيْ د حضرت عُمَرْ مَيْنَهْ (بِيْ بِيْ) وه، په ۱۷ سَنَهْ هِجْرِيْ کي ددې وَادَهْ د حضرت عُمَرْ سره سوئ وُو .

چي حضرت عَلِيْ حضرت عُمَرْ خپل زُوْمْ وَ ګرزَاوَئ، او دُومره مُحَبَّتْ يې دده سره وکئ نو اُوس مُوږ ته د چِغَارُوْ ګُکارُوْ څه ضرورت سته؟ وَلي مُوږ په دغه وَجْهَ په خپل مِينځ کي جَنْګوْنَه او اِخْتِلَافَاتْ رَامِينځ ته کوو؟ او مُسْلمَانَانْ ځله دُوې ټُوټې کوو.

دغه ډېره د يَامْ وَړْ خَبَرَهْ ده .

# د اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْنْ حضرت عُثْمَانْ (رضي الله عنه) فَضِيْلَتْ

**۴۰: اَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) مُضْطَجِعًا فِىْ بَيْتِىْ كَاشِفًا عَنْ فَخِذَيْهِ ..... ثُمَّ دَخَلَ عُثْمَانُ فَجَلَسْتَ وَ سَوَّيْتَ ثِيَابَكَ؟ فَقَالَ اَ لَا اَسْتَحْيِىْ مِنْ رَجُلٍ تَسْتَحْيِىْ مِنْهُ الْمَلَائِكَةُ .**

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ فَضَائِلِ الصَّحَابَةِ، صِ: ۱۰۵۶، نَمْبَرْ ۲۴۰۱ / ۶۲۰۹)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَائِشَهْ فرمائي چي حُضُوْرْ (ﷺ) زَمَا په کُوْرْ کي پُنْدَیْ بسکاره (خَلَاسَ) کړې وه پُرُوْتْ وُو ..... بیا حضرت عُثْمَانْ راغلیٔ نو حُضُوْرْ (سَمْ جَکْ) کښېناستیٔ او کپړه یې سَمَّهْ صَحِیْحْ کړه، نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي د کُوم چَا څخه فِرشتې شَرْمْ کوي آیَا زَهْ دهغه څخه شَرْمْ وَ نَه کم؟

۴۱: عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ اَنَّ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) قَالَ: لِكُلِّ نَبِيٍّ رَفِیْقٌ فِی الْجَنَّةِ وَ رَفِیْقِیْ فِیْهَا عُثْمَانُ . (اِبْنِ مَاجَهْ شَرِیْفْ،کِتَابُ الْمُقَدَّمَةِ، بَابُ فَضْلِ عُثْمَانَ، ص: ۱۷، نَمْبَرْ ۱۰۹)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي په جَنَّتْ کي به د هر نَبِیْ یو رَفِیْقْ (دُوْسْتْ/ مَلګریٔ) وي، او زَمَا رَفِیْقْ به عُثْمَانْ وي .

۴۲: عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ اَنَّ النَّبِيَّ (ﷺ) لَقِیَ عُثْمَانَ عِنْدَ بَابِ الْمَسْجِدِ، فَقَالَ یَا عُثْمَانُ هٰذَا جِبْرِیْلُ اَخْبَرَنِیْ اَنَّ اللهَ قَدْ زَوَّجَكَ اُمَّ كُلْثُوْمٍ،بِمِثْلِ صُدَاقِ رُقَیَّةِ عَلٰی مِثْلِ صُحْبَتِهَا.

(اِبْنِ مَاجَهْ شَرِیْفْ،کِتَابُ الْمُقَدَّمَةِ، بَابُ فَضْلِ عُثْمَانَ، ص: ۱۸، نَمْبَرْ ۱۱۰)

تَرْجَمَهْ:- د حضرت اَبُوْهُرَیْرَةْ څخه رِوَایَتْ دیٔ چي د مَسْجِدْ د دَرْوَازې سره د حُضُوْرْ (ﷺ) د حضرت عُثْمَانْ سره مُلَاقَاتْ وسو، نو حُضُوْرْ وَ فَرْمَائِلْ، ای عُثْمَانَ دغه جِبْرَائِیْلْ دیٔ چي مَا ته دغه خَبَرْ راکوي چي د رُقَیَّهْ څومره مَهْرْ (وَلْوَرْ) وُو دهغه په بَدْلَهْ کي مُو ستا نِکَاحْ د اُمِّ کُلْثُوْمْ سره دَر وکړه، او لکه څنګه چي تَا د دې خِدْمَتْ کړیٔ وُو، په هغونه اَنْدَازَهْ خِدْمَتْ سره مُو نِکَاحْ دَر وکړه ......

حضرت عُثْمَانْ (رضی اللہ عنہ) و حُضُوْرْ (ﷺ) ته ډُومره مَحْبُوْبْ وُو
چي دُوَهَمَّهْ لُوْرْ یې هم وَ ده ته په نِکَاحْ وَر کړه

۴۳: عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ وَقَفَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) عَلٰی قَبْرِ اِبْنَتِهِ الثَّانِیَةِ الَّتِیْ کَانَتْ عِنْدَ عُثْمَانَ فَقَالَ اَ لَا اَبَا اَیِّمٍ، اَ لَا اَخَا اَیِّمٍ تَزَوَّجَهَا عُثْمَانُ، فَلَوْ کُنَّ عَشْرًا لَزَوَّجْتُهُنَّ عُثْمَانَ، وَمَا زَوَّجْتُهَا اِلَّا بِوَحْیٍ مِّنَ السَّمَآءِ، وَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) لَقِیَ عُثْمَانَ عِنْدَ بَابِ الْمَسْجِدِ فَقَالَ یَا عُثْمَانُ هٰذَا جِبْرِیْلُ یُخْبِرُنِیْ اَنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ زَوَّجَكَ اُمَّ كُلْثُوْمٍ،بِمِثْلِ صُدَاقِ رُقَیَّةِ عَلٰی مِثْلِ صَحْبَتِهَا.

(طَبْرَانِیْ کَبِیْرْ،مُسْنَدُ اُمِّ کُلْثُوْمِ بِنْتِ رَسُوْلِ اللهِ، ج: ۲۲، ص: ۴۳۶، نَمْبَرْ ۱۰۶۳)

تَرْجَمَهْ:- حضرت اَبُوْهُرَیْرَةْ فرمائي چي: حُضُوْرْ (ﷺ) د خپلې دُوَهَمې لُوْرْ پر قَبْرْ باندي وَلَاړْ وُو کُوم چي د حضرت عُثْمَانْ په نِکَاحْ وه، نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ، ای د

**كُوْنْدِيْ** **يَلاَرَهْ!** اىٔ د **كُوْنْدِيْ** **وُرُوْرَهْ!** تاسو وَاوْرِىٔ، **مَا** د **عُثْمَانْ** سره ددې **وَادَهْ** وَركړىٔ وو، كه چيري **زَمَا** **لَسْ** **لُوْنِيْ** هم واىٔ، نو **مَا** به د دُوي ټولو **نِكَاحْ** د حَضرَت **عُثْمَانْ** سره كړې واىٔ، **مَا** د دې **نِكَاحْ** د **آسْمَانِيْ** **وَحِيْ** په **وَجْهَ** كړې ده، او دا **خَبَرَهْ** هم ده چې د **مَسْجِدْ** د **دَرْوَازِيْ** سره د **حُضُوْرْ** (ﷺ) د حضرت **عُثْمَانْ** سره **مُلاَقَاتْ** وسو، نو **حُضُوْرْ** وَ **فَرْمَائِلْ**، اىٔ **عُثْمَانَ!** دغه **جِبْرَائِيْلْ** دىٔ چې **مَا** ته دغه **خَبَرْ** راكوي چې د **رُقَيَّهْ** څومره **مَهْرْ** (**وَلْوَرْ**) وُو دهغه په **بَدْلَهْ** كي مُو ستا **نِكَاحْ** د **اُمِّ** **كُلْثُوْمْ** سره دَر وكړه، او لكه څنګه چې **تَا** د دې **خِدْمَتْ** كړىٔ وُو، په هغونَه **اَنْدَازَهْ** **خِدْمَتْ** سره مُو **نِكَاحْ** دَر وكړه .....

په دغه **حَدِيْثْ** كي درې **خَبَرِيْ** دي

[**۱**] د حضرت **اُمِّ** **كُلْثُوْمْ** **نِكَاحْ** **اَللّٰهْ** **تَعَالٰى** كړې وه .

[**۲**] حضرت **عُثْمَانْ** څومره **بِنَهْ** **اِنْسَانْ** وُو چې **حُضُوْرْ** (ﷺ) وَ **فَرْمَائِلْ** كه چيري **زَمَا** **لَسْ** **لُوْنِيْ** هم واىٔ نو **مَا** به د يوې وروسته د هغه بَلِي دهغې وروسته د هغه بَلِي **نِكَاحْ** ورسره كولائي، **حَتّٰى** چې د **لَسُّوْ** سره **نِكَاحْ** به مُو دده سره كړې واىٔ .

[**۳**] او **دَرِيَمَّهْ** **خَبَرَهْ** داده چې حَضرَت **عُثْمَانْ** به د حضرت **رُقَيَّهْ** **بِنْتِ** **رَسُوْلْ** څومره **خِدْمَتْ** كړىٔ وي چې:- **حُضُوْرْ** (ﷺ) وَ **فَرْمَائِلْ** چې په كُوم **اَنْدَازْ** چې **تَا** د **رُقَيَّهْ** **خِدْمَتْ** كړىٔ دىٔ په هغونه **اَنْدَازَهْ** سره **زَهْ** په دا **اُمِيْدْ** سره د حضرت **اُمِّ** **كُلْثُوْمْ** **نِكَاحْ** ستا سره كومه .

**زَهْ** په دغه **وَجْهَ** هم ددې **تَذْكِرَهْ** كوم چې بعضو حَضرَاتُو دا **اِلْزَامْ** لګولىٔ دىٔ چې حضرت **عُثْمَانْ** د **حُضُوْرْ** (ﷺ) دواړې **لُوْنِيْ** **زَهِيْرِيْ** كړې دي، **نَعُوْذُ** **بِاللّٰهْ** **مِنْ** **ذَالِكَ**، كه چيري دغه رنګه واىٔ نو **حُضُوْرْ** (ﷺ) د **دُوَهَمِيْ** **لُوْرْ** **نِكَاحْ** د حضرت **عُثْمَانْ** سره وَلِي كوله؟ او دارنګه وَلِي **فَرْمَائِلْ** كه چيري **زَمَا** **لَسْ** **لُوْنِيْ** واىٔ نو په **يَوَهْ** **يَوَهْ** به **مَا** د **لَسُّوْ** سره **نِكَاحْ** د حضرت **عُثْمَانْ** سره كړې واىٔ ..... دغه **بِلاَوَجْهَ** پر ټولو **اَصْحَابَانُوْ** باندي يَو **اِلْزَامْ** (**تُهْمَتْ**) دىٔ، مُوږ **بَايَدْ** ددغه رنګه **خَبَرُوْ** څخه خپل **ځَانُوْنَهْ** وَساتُو .

## د **حُضُوْرْ** (ﷺ) د ټولو **رِشْتَهْ** **دَارَانُوْ** سره د **مُحَبَّتْ** كولو **تَاكِيْدْ** سوىٔ دىٔ

د **حُضُوْرْ** (ﷺ) كُوم **رِشْتَهْ** **دَارَانْ** چې د **اِيْمَانْ** په **حَالَتْ** كي **وَفَاتْ** سوي دي **اَللّٰهْ** **تَعَالٰى** د زړه لَګومِي د هغوي سره د **مُحَبَّتْ** كولو **تَاكِيْدْ** كړىٔ دىٔ، په **آيَتْ** كي ددې **تَاكِيْدْ** سوىٔ دىٔ نو ځكه دا د **اِيْمَانْ** **جُزْءْ** هم دىٔ، د دُوي څخه هسي يَو **رِشْتَهْ** **دَارْ** اِيستَل **صَحِيْحْ** كار نَه دىٔ .

د اَللّٰهْ تَعَالٰي اِرْشَادْ دغه دئ

**٧: قُلْ لَّآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِى الْقُرْبٰى ط وَمَنْ يَّقْتَرِفْ حَسَنَةً نَّزِدْ لَه فِيْهَا حُسْنًا ط . (آيَتْ ٢٣،سُوْرَةُ الشُّوْرٰى ٤٢) .**

تَرْجَمَهْ:- (اىٔ پيْغَمْبَرَهْ! كافِرَانُوْ ته) وَوَايَهْ چي:,, زَهْ ستاسو څخه پر دغه (تَبْلِيْغْ) باندي هيڅ اُجْرَتْ نَه غُواړَم، مَاسِوَا د رِشْتَهْ دَارِيْ د مُحَبَّتْ. او څوک چي يو خَيْرْ وكـي، مُوږ دهغه لپاره په هغه خَيْرْكي نور دښَايَسْتْ اِضَافَهْ كوو .

بعضو حَضرَاتُو وَيَلِي دي چي ددې څخه صِرف د اَهْلِ بَيْتْ رِشْتَهْ دَارَانْ مُرَاد دي، لېكن صَحِيْحْ خَبَرَهْ داده چي د ,, اَلْقُرْبٰى ,, لَفْظْ عَامْ دئ، نو ځكه ددې څخه د حُضُوْرْ (ﷺ) هغه ټولَ رِشْتَهْ دَارَانْ مُرَاد دي كُوم چي د اِيْمَانْ سره د دُنْيَا څخه رُخْصَتْ سوي دي .

په خُصُوْصِيْ تُوگه دغه حَضرَات بيا ډېر نِژدې رِشْتَهْ دَارَانْ دي
د دُوي سره د زړَهْ لَكُومِي مُحَبَّتْ كوئ

د حُضُوْرْ (ﷺ) د ټولو بِيْ بِيْ گانُوْ. خَدِيْجَهْ، عَائِشَهْ، حَفْصَهْ، او دغه رنگه نورو بِيْ بِيْ گانُوْ سره مُحَبَّتْ كوئ، ځكه چي هغه د حُضُوْرْ (ﷺ) بِيْ بِيْ گان دي

د حُضُوْرْ (ﷺ) د ټولو لُوْنُو. فَاطِمَهْ، زَيْنَبْ، رُقَيَّهْ، اُمِّ كُلْثُوْمْ سره مُحَبَّتْ كوئ، ځكه چي دُوي د حُضُوْرْ (ﷺ) لُوْنِيْ دي

د حُضُوْرْ (ﷺ) د زَامَنَانُوْ. اِبْرَاهِيْمْ، عَبْدُ اللّٰهْ، قَاسِمْ، سره هم مُحَبَّتْ كوئ، ځكه چي هغه د حُضُوْرْ (ﷺ) زَامَنَانْ دي

د حُضُوْرْ (ﷺ) د دواړو زُوْمَانُوْ. عَلِيْ، عُثْمَانْ سره مُحَبَّتْ كوئ، ځكه چي هغه د حُضُوْرْ (ﷺ) زُوْمَانْ دي .

د حُضُوْرْ (ﷺ) د لُمَسِيَانُوْ. حَسَنْ او حُسَيْنْ سره مُحَبَّتْ كوئ، ځكه چي دُوي د حُضُوْرْ (ﷺ) لُمَسِيَانْ دي .

د حُضُوْرْ (ﷺ) د دُواړُو خُسَرَانُوْ. اَبُوْبَكْرْ او عُمَرْ سره مُحَبَّتْ كوئ، ځكه چي دُوي د حُضُوْرْ (ﷺ) خُسَرَانْ دي .

ځكه چي دُوي ټولَ په ذَوِى الْقُرْبٰى (رِشْتَهْ دَارَانُوْ) كي دَاخِلْ دي .

پر آيَتْ باندي غَوَرْ وكئ

دغه مَطْلَبْ يې هغه وَخْتْ دئ چي په ,,اَلْقُرْبٰى,, كي د حُضُوْرْ (ﷺ) رِشْتَهْ دَارَانْ شَامِلْ سي، لكه څنگه چي بعضو مُفَسِّرِيْنُوْ كړي دي، كه نَه نو دُوَهَمْ

مَطْلَبْ يې دادئ چي اَللّٰهْ تَعَالٰي په حُضُوْرْ (ﷺ) باندي دا وَيْنَا کوي چي اې د مَکّي خلګو ستاسو سره زَمَا رِشْتَهْ دَارِيْ سته، تاسو ددغه مَرَاعَتْ وکئ او مَا مَه زَهبِرَوَئ (بلکه بِهْتَرَهْ خَبَرَهْ داده چي تاسو پر مَا باندي اِيْمَانْ رَاوْړئ) .

ددغه عَقِيدې په اړه ٧ آيَتُوْنَهْ او ٤٣ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کئ .

## زَمَا اُسْتَاذَانُوْ څومره اِحْتِرَامْ رَاښُوَلَئ دئ

زَهْ نَاچِيزَ نَنْ ډېر خُوْشْحَالَ يَم چي زَمَا اُسْتَاذَانُوْ دا رَاښُوَلِي دي چي:-
د ټولو نَبِيَانُوْ اِحْتِرَامْ کوه، او د زَړَهْ لَګُومِي د دُوي سره مُحَبَّتْ کوه .
د ټولو رَسُوْلَانُوْ اِحْتِرَامْ کوه، او د زَړَهْ لَګُومِي د دُوي سره مُحَبَّتْ کوه .
د ټولو اَصْحَابَانُوْ اِحْتِرَامْ کوه، او د زَړَهْ لَګُومِي د دُوي سره مُحَبَّتْ کوه .
د ټولو اِمَامَانُوْ اِحْتِرَامْ کوه، او د زَړَهْ لَګُومِي د دُوي سره مُحَبَّتْ کوه .
د ټولو وَلِيَانُوْ اِحْتِرَامْ کوه، او د زَړَهْ لَګُومِي د دُوي سره مُحَبَّتْ کوه .
د ټولو آسْمَانِيْ کِتَابُوْ اِحْتِرَامْ کوه، او د زَړَهْ لَګُومِي د دُوي سره مُحَبَّتْ کوه .
بلکه هغوي به دا هم وَيَل چي د هِنْدُوَانُوْ وَ مُقْتَدَايَانُوْ ته هم چَيْ و رَيْ وَيْنَاوِيْ مَه کوه، دا ډېره مُمْکِنْ خَبَرَهْ ده چي هغه د خپل وَخْتْ وَلِيَانْ او بُزَرْګَانْ تېر سوي وي، او ډېر وروسته خلګو دهغه څخه نُور څَه جوړ کړي وي، او خُرَافَاتْ دي رَامِينځ ته سوي وي ..... وَاهْ وَاهْ اِحْتِرَامْ
مَا په خپله عِلْمِيْ مُوْرْ (دَارُالْعُلُوْمْ دُيُوْبَنْدْ) کي په هيڅ وَخْتْ هم د هيڅ يَوَه مَذْهَبْ په اړه نَاوَړَهْ او نَازِيْبَا جُمْلَهْ نَه ده اَورېدَلي .
نَنْ چي د دُنْيَا حَالَتْ وِينَم نو د خپلو اُسْتَاذَانُوْ پر نَصِيْحَتْ باندي د زَړَهْ لَګُومِي دُعَاءْ رَاوَوزِي .
نَاچِيزْ :- ثَمِيْرُ الدِّيْنْ قَاسِمِيْ غُفِرَلَهُ .

## ١٩: د خِلَافَتْ مَسْئَلَهْ

ددغه عَقِيدې په اړه ۰ آيَتُوْنَهْ او ۱۲ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کئ .

د خِلَافَتْ مَسْئَلَهْ هم يَوَه ډېره غَتَّهْ مَسْئَلَهْ ده چي په دي کي د اُمَّتْ دُوې طَبقي اَختَه سوي دي، او په مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ کي خو په ټوله عَرَبْ نړئ کي يَوْ د بَلْ سره جَنْګُوْنَهْ کوي، او په دغه کي شَامْ، عِرَاقْ، يَمَنْ او لِيْبِيَا بَرْبَادْ سول دغه مَسْئَلَهْ د اَصْحَابَانُوْ د وَخْتْ وه، په مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ کي خو نَه خِلَافَتْ سته، او نَه د خِلَافَتْ مَسْئَلَهْ سته، لېکن خلګو دهغه وَخْتْ خَبَرَهْ رَاټينګه کړې ده او بَغَيْرَهْ ګُومي فَائِدې وَ دغه ته يُوْکْ وَرکوي، او د اُمَّتُوْ په مَابَيْنْ کي تَفْرَقَهْ پَيدَا کوي

کَاشْ! چي دغه خَبَرئ يې هيري کړي وائ او ټول سره يَو ځَايَه سوي وائ او خپلو خپلو مَلْکُوْنُوْ ته يې تَرَقِيْ وَرکړې وائ نو دا به ډېره ښه خَبَرَهْ وائ، په مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ کي ټولَ يُوْرُپِيْ (اُوْرُپَا) مَلْکُوْنَه سره کښېني او يَوَه فَيْصَلَهْ وکي او په آسَانِيْ سره مَسْئَلَهْ حَلْ کي، لېکن مُسَلْمَانَانْ چي سره کښېنِي نو هسي يَوَه مَسْئَلَهْ هم نَه سي حَلْ کولائي، بلکه چي هر وَخْتْ سره کښېنِي نو يَوَه نوې جَګړَه رَامِينځ ته کي بيا ځلَه وَلَاړْ سي . هَائ اَفْسُوْسْ!

## د خِلَافَتْ په اړه د اِسْلَامْ نَظَرْ

د اِسْلَامْ نَظَرْ دادئ چي د شَهِنْشَاهِيَّتْ په رنګه هسي يَو کس دي پر خلګو نَه تَرپِيْ، بلکه جَمْهُوْرِيَّتْ دي بَرْقَرَارَهْ پاته وي، او مُسَلْمَانَانْ دي په اِتِّفَاقْ سره په خپله يَو خَلِيْفَهْ مُقَرَّرْ او وَټَاکي، اَلْبَتَّهْ پر ببلا ببلو مُوَاقِعْ باندي حُضُوْرْ (ﷺ) دا اِشَارَهْ کړې ده چي حضرت اَبُوْبَکْرْ د اُمَّتْ لپاره ډېر بِهْتَرْ دئ، په ده کي ډېر ښَهْ اِنْتِظَامِيْ صَلَاحِيَّتْ مَوْجُوْدْ دئ .

## په خپله حضرت عَلِيْ وَ فَرْمَائِلْ چي مَا ته يې د خِلَافَتْ وَصِيَّتْ نَه دئ کړئ

ددې په اړه حَدِيْثُوْنَهْ دغه دي

**۱: عَنْ اَبِیْ جُحَیْفَةَ قَالَ قُلْتُ لِعَلِیِّ هَلْ عِنْدَکُمْ کِتَابٌ؟ قَالَ لَا : اِلَّا کِتَابُ اللهِ اَوْفَهْمٌ اُعْطِیَهُ رَجُلٌ مُسْلِمٌ اَوْ مَا فِیْ هٰذِهِ الصَّحِیْفَةِ، قَالَ قُلْتُ وَ مَا فِیْ هٰذِهِ الصَّحِیْفَةِ؟ قَالَ اَلْعُقْلُ وَفِکَاكُ الْاَسِیْرِ وَلَایُقْتَلُ مُسْلِمٌ بِکَافِرٍ .**

(بُخَارِیْ شَرِیْفْ،بَابُ کِتَابِ الْعِلْمِ،ص: ۲۴، نَمْبَرْ ۱۱۱)

**تَرْجَمَهْ**:- حضرت **اَبُوْجُحَیْفَةْ** فرمائي چي، **مَا** د حضرت **عَلِیْ** ځخه **پُوْښْتَنَهْ** وکړه، اَیَا ستا سره (د **رَسُوْلُ اللّٰهْ**) کُوم **خَطْ** سته؟ ده وویل چي نَه! **زَمَا** سره صِرف **قُرْآنْ** دئ، یا یَوَه **مُسَلْمَانْ** ته چي کُومَه **پُوْهَنَهْ** وَرکَول کیږي هغه ده، یا کُوم چي په دغه **صَحِیْفَهْ** کي دي، **مَا** بیا **پُوْښْتَنَهْ** ځیني وکړه، په دغه **صَحِیْفَهْ** کي چش دي؟ وَ **فَرْمَائِلْ** چي د **دِیَتْ اَحْکَامَاتْ**، د **بَنْدِیَانُو** د **رَایِلَهْ** (**خُوشِي** کولو) **اَحْکَامَاتْ**، او دا **حُکُمْ** چي **مُسَلْمَانْ** به د **کَافِرْ** په **بَدْلَهْ** کي نَه **وَژْنِيْ** .

په دغه **حَدِیْثْ** کي **سَائِلْ بَاقَاعِدَهْ پُوْښْتَنَهْ** کړي ده چي:- اَیَا د **خِلَافَتْ** په اړه ستا سره کُوم **تَحْرِیْرْ** (**خَطْ/ لِیِتَر**) سته؟ نو ده **اِنْکَارْ** وَکړئ چي **زَمَا** سره هیڅ ډَوَل **تَحْرِیْرْ** نَستَه .

**۲: عَنْ عَامِرَ بِنِ وَاثِلَةَ قَالَ سَأَلَ رَجُلٌ عَلِیًّا، هَلْ کَانَ رَسُوْلُ اللهِ یَسِرُّ اِلَیْكَ بِشَیْءٍ دُوْنَ النَّاسِ؟ فَغَضِبَ عَلِیٌّ حَتّٰی اِحْمَرَّ وَجْهُهُ وَقَالَ مَاکَانَ یَسِرُّ اِلَیَّ شَیْئًا دُوْنَ النَّاسِ غَیْرَ اَنَّهُ حَدَّثَنِیْ بِاَرْبَعِ کَلِمَاتٍ، وَاَنَا وَهُوَ فِی الْبَیْتِ فَقَالَ لَعَنَ اللهُ مَنْ لَّعَنَ وَالِدَهُ، وَلَعَنَ اللهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَیْرِ اللهِ، وَلَعَنَ اللهُ مَنْ اٰوٰی مُحْدِثًا، وَلَعَنَ اللهُ مَنْ غَیَّرَ مَنَارَ الْاَرْضِ .**

(نَسَائِی شَرِیْفْ،کِتَابُ الضَّحَایَا،بَابُ مَنْ ذَبَحَ لِغَیْرِ اللهِ عَزَّ وَ جَلَّ، ص: ۶۱۴، نَمْبَرْ ۴۴۲۷)

**تَرْجَمَهْ**:- حضرت **عَامِرْ بِنِ وَاثِلَهْ** فرمائي چي:- یَوَه سړي د حضرت **عَلِیْ** ځخه **پُوْښْتَنَهْ** وکړه، اَیَا **حُضُوْرْ** په **یَتَّهْ تَا** ته کُومَه **خَبَرَهْ** کړي ده؟ چي نورو خلګو ته یې نَه وي کړي؟ نو د حضرت **عَلِیْ مَخْ** د **خَبَنَمْ** ځخه **سُرْ** سو، او وَ **فَرْمَائِلْ** چي د خلګو په ببله یې **مَا** ته صِرف ځلور **خَبَرِیْ** کړي دي، هغه **وَخْتْ زَهْ** او **حُضُوْرْ** په **کُوْرْ** کي وُو، **حُضُوْرْ** وَ **فَرْمَائِلْ** چي:- کُوم ځَا چي پر خپل **پَلَارْ** باندي **لَعْنَتْ** وکئ **اَللّٰهْ** دي پر هغه **لَعْنَتْ** وکي، کُوم ځَا چي د **اَللّٰه** ځخه **عَلَاوَهْ** د بَل ځَا لپاره **ذَبَحْ** وکړه **اَللّٰهْ** دي پر هغه **لَعْنَتْ** وکي، چي په **دِیْنْ** کي نوئ شَئ پَیدَا کوي هغه ته چي کُوم ځَا **پَنَاهْ** وَرکړه، پر هغه دي **اَللّٰهْ لَعْنَتْ** وکي، او کُوم ځَا چي د مځکي **نِښَانْ بَدَلْ** کړئ، **اَللّٰهْ** دي پر هغه **لَعْنَتْ** وکي .

په دغه **حَدِیْثْ** کي دئ چي په خپله **سُوَالْ** کونکي **پُوْښْتَنَهْ** وکړه چي اَیَا **تَا** ته **حُضُوْرْ** کُومَه **خَاصْ خَبَرَهْ** کړي ده؟ نو حضرت **عَلِیْ** وَ **فَرْمَائِلْ** چي دغه ځلور **خَبَرِیْ** یې رَاتَه کړي دي بَلَه **خَبَرَهْ** یې نَه ده کړي، ددې **مَطْلَبْ** دغه وُو چي د **خِلَافَتْ** د **وَصِیَّتْ** په اړه یې **مَا** ته هیڅ هم نَه دي وَیَلي .

چي حضرت عَلِيْ په خپله په سَخْتِيْ سره وَ فَرْمَائِلْ چي زَمَا لپاره يې د خِلَافَتْ وَصِيَّتْ نَه دئ کړئ نو نور خلک څه شُوْرْ شَرَابَهْ کوي چي حضرت عَلِيْ خو خَلِيْفَه اَوَّلْ دئ، او حُضُوْرْ دده لپاره د خِلَافَتْ وَصِيَّتْ کړئ دئ، ددغه خَبَرِيْ ځخه هم ددې تَاکِيْدْ ښکاره کيږي چي د حضرت اَبُوْبَکْرْ سره تر بَيْعَتْ وروسته په هيڅ وَخْتْ حضرت عَلِيْ د خِلَافَتْ دَعْوَهْ نَه ده کړې، او د حضرت عُثْمَانْ تر شَهَادَتْ وروسته چي خلکو وَ غُوښتَل چي حضرت عَلِيْ ته خِلَافَتْ ورکړي نو ده صَفَا صَفَا اِنْکَارْ وکئ، او د ډېر اِصْرَارْ او ټينګار وروسته يې قَبُوْلْ کئ .

لِهٰذَا دغه شُوْرْ و غَوْغَا کول چي د حضرت عَلِيْ لپاره يې د خِلَافَتْ وَصِيَّتْ کړئ وُو دا صَحِيْحْ نَه دئ، او په خُصُوْصِيْ تُوګه چي څُوَرْ لَسْ سوه (۱۴۰۰) کالَ تېر سو اُوس ددغه مَسْئَلي پر بُنْيَادْ باندي مُسْلْمَانَانْ سره ذُوې ټُکړې کول خو نور هم بَنَهْ کَارْ نَه ښکاره کيږي، تاسو پر دغه باندي غَوْرْ وکئ .

**۳: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: مَا تَرَكَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) دِيْنَارًا وَ لَا دِرْهَمًا وَ لَا شَاةً وَ لَا بَعِيْرًا وَ لَا اَوْصٰى بشَيْءٍ .**

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ، بَابُ تَرْكِ الْوَصِيَّةِ لِمَنْ لَّيسَ لَهُ شَيْءٌ يُّوْصٰى لَهُ، ص: ۷۱۷، نَمْبَرْ ۱۶۳۵/ ۴۲۲۹)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَائِشَهْ وَ فَرْمَائِلْ چي:- حُضُوْرْ په خپل وِرَاثَتْ کي نَه دِيْنَارْ پرېښُوَئ، نَه يې دِرْهَمْ پرېښُوَئ، نَه يې بُوْزَهْ پرېښُوَلَه، نَه يې وُښَانْ پرېښُوَل، او نَه يې د کُوم شِي په اړه وَصِيَّتْ کړئ دئ .

**۴: عَنِ الْاَسْوَدِ بن يَزِيْدٍ قَالَ ذَکَرُوْا عِنْدَ عَائِشَةَ اَنَّ عَلِيًّا کَانَ وَصِيًّا فَقَالَتْ مَتٰى اَوْصٰى اِلَيْهِ؟ فَقَدْ کُنْتُ مُسْنِدَتَهُ اِلٰى صَدْرِيْ، اَوْقَالَتْ حِجْرِيْ، فَدَعٰى بِالطَّسْتِ فَلَقَدْ اِنْخَنَثَ فِيْ حِجْرِيْ وَمَا شَعَرْتُ اَنَّهُ مَاتَ، فَمَتٰى اَوْصٰى اِلَيْهِ؟ .**

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ، بَابُ تَرْكِ الْوَصِيَّةِ لِمَنْ لَّيسَ لَهُ شَيْءٌ يُّوْصٰى لَهُ، ص: ۷۱۸، نَمْبَرْ ۱۶۳۶/ ۴۲۳۱)

تَرْجَمَهْ:- د حضرت عَائِشَهْ په مَخکِي تَذْکِرَهْ راغله چي حضرت عَلِيْ د خِلَافَتْ وَصِيْ دئ، نو حضرت عَائِشَهْ وَ فَرْمَائِلْ چي:- دغه وَصِيَّتْ يې کله کړئ دئ؟ حُضُوْرْ خو زَمَا وَ ځِيګره (سِيْنَهْ) ته څَنْګْ لَګولَئ وُو، يا خو يې دارنګه وَ فَرْمَائِلْ چي:- زَمَا په غِيْږْ کي وُو ..... بيايې طَشْتْ (غَټْ لَګَنْ) رَا طَلَبْ کئ، بيا زَمَا په غِيْږْ کي رَاکُوْږْ سو، زَهْ خو پُوْهْ هم نَه سُوَم چي حُضُوْرْ (ﷺ) وَفَاتْ سو، نو حضرت عَلِيْ ته وَصِيَّتْ کله وکئ؟

ددغه دواړو حَدِيْثُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي حُضُوْرْ (ﷺ) د خِلَافَتْ په اړه وَصِيَّتْ نَه دئ کړئ .

## حُضُوْرْ (ﷺ) اِشَارَهْ وکړه چي که زَمَا وروسته اَبُوْبَکْرْ ؓ تاسو خَلِيْفَهْ کئ نو دا به ښَهْ خَبَرَهْ وي

حُضُوْرْ (ﷺ) په صَرَاحَتْ سره هيڅ څوک خَلِيْفَهْ نَه دئ مُنْتَخَبْ کړئ، لېکن په څو حَدِيْثُوْ کې اِشَارَهْ کړې ده چي که اُمَّتْ حضرت اَبُوْبَکْرْ ؓ مُنْتَخَبْ کړي نو دا به ډېره ښَهْ خَبَرَهْ وي
ددې لپاره حَدِيْثُوْنَهْ دغه دي

**۵: عَنْ مُحَمَّدِ بنِ جُبَيْرِ بنِ مُطْعِمٍ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّ اِمْرَاَةً سَاَ لَتْ رَسُوْلَ اللّٰهِ (ﷺ) شَيْئًا فَاَمَرَهَا اَنْ تَرْجِعَ اِلَيْهِ، فَقَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَرَأَيْتَ اِنْ جِئْتُ فَلَمْ اَجِدُكَ؟ قَالَ اَبِيْ: كَاَنَّهَا تَعْنِى الْمَوْتَ، قَالَ فَاِنْ لَمْ تَجِدُنِيْ فَاْتِيْ اَبَابَكْرٍ .**

**(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،بَابٌ مِنْ فَضَائِلِ اَبِيْ بَكْرٍ، ص: ۱۰۵۱، نَمْبَرْ ۲۳۸۶/ ۶۱۷۹)**

تَرْجَمَهْ:- يوې ښځې د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه څَه يُوْښْتَنَهْ وکړه نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي بِيَا رَاسَه، دې بيا يُوښْتَنَهْ ځِنِي وکړه چي يَا رَسُوْلَ اللّٰهْ! که چيري تَه نَه وې نو چَا ته وَرْسَمْ؟ زَمَا پِلَارْ اِشَارَهْ وکړه چي:- ښځې دا يُوْښْتَنَهْ کوله چي ستا د وِصَالْ (وَفَاتْ) وروسته چَا ته وَرْسَمْ؟ حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ که دې چيري زَهْ نَه وَمُوندَلَم نو اَبُوْبَکْرْ ته وَرسَه .

**۶: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) فِيْ مَرَضِه: اُدْعِيْ لِيْ اَبَابَكْرٍ اَبَاكَ وَ اَخَاكَ حَتّٰى اَكْتُبَ كِتَابًا فَاِنِّيْ اَخَافُ اَنْ يَّتَمَنّٰى مُتَمَنٍّ وَيَقُوْلَ قَائِلٌ، اَنَا اَوْلٰى، وَيَاْبَى اللّٰهُ وَالْمُؤْمِنُوْنَ اِلَّا اَبَا بَكْرٍ .**

**(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،بَابٌ مِنْ فَضَائِلِ اَبِيْ بَكْرٍ، ص: ۱۰۵۱، نَمْبَرْ ۲۳۸۷/ ۶۱۸۱)**

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَائِشَهْ فَرْمَائي چي حُضُوْرْ (ﷺ) په خپل مَرَضْ کي مَا تـه دا وويل چي خپل پِلَارْ اَبُوْبَکْرْ، او خپل وُرُوْرْ مَا ته رَاوَغْوَاړه، چي زَهْ يو تَحْرِيْرْ (خَطْ) وَلِيکم، مَا ته دا خَطَرْ دئ چي يو تَمَنَّا کونکئ دي تَمَنَّا وکي، يا يو وَيُونکئ دي دا ووائي چي زَهْ ډېر بِهْتَرْ يَم [يعني د خِلَافَتْ زَهْ ډېر حَقْدَارَهْ يَم] لېکن اَللّٰهْ او مُؤْمِنَانْ خو بـه اَبُوْبَکْرْ خُوَښَوِي .

ددغه حَدِيْثْ څخه دوې خَبَرِيْ مَعلُومېږي يَوَهْ خَبَرَهْ خو داده چي حُضُوْرْ (ﷺ) د خپل مَرَضْ په وَخْتْ کي چي کُوم خَطْ لِيکلَ غُوَښتَل هغـه يـې د اَبُوْبَکْرْ د خِلَافَتْ په اړه لِيکل غُوَښتَل، د حضرت عَلِيْ په اړه يې نَه لِيکئ، په دغه وَجَهْ

خو يې د اَبُوْبَكْرْ او دده زُوئ د رَا غُوښتلُو طَلَبْ وكئ، دُوَهَمَّهْ خَبَرَهْ داده چې حُضُوْرْ (ﷺ) تَمَنَّا ښكاره كړه چې اَللّٰهْ او مُؤْمِنَانْ به اَبُوْبَكْرْ خَلِيْفَهْ جوړوي، او دغه تَمَنَّا يې پُورَه هم سوه، خو بيا هم د كُوم ځَا لَپاره يې د خَلِيْفَهْ جوړولو وَصِيَّتْ وَ نَه كړئ .

۷: عَنْ اَبِیْ مُوْسٰی قَالَ مَرِضَ النَّبِیُّ (ﷺ) فَاشْتَدَّ مَرَضُهُ فَقَالَ مُرُوْا اَبَابَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ، قَالَتْ عَائِشَةُ: اِنَّهُ رَجُلٌ رَقِيْقٌ اِذَا قَامَ مَقَامَكَ لَمْ يَسْتَطِعْ اَنْ يُّصَلِّیْ بِالنَّاسِ، قَالَ مُرُوْا اَبَابَكْرٍ فَالْيُصَلِّ بِالنَّاسِ، فَعَادَتْ فَقَالَ مُرِیْ اَبَابَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ، فَعَادَتْ فَقَالَ مُرِیْ اَبَابَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ، فَاِنَّكُنَّ صَوَاحِبَ يُوْسُفَ، فَاَتَاهُ الرَّسُوْلُ فَصَلّٰی بِالنَّاسِ فِیْ حَيَاةِ النَّبِیِّ .

(بُخَارِیْ شَرِيْفْ،بَابُ اَهْلُ الْعِلْمِ وَالْفَضْلِ اَحَقُّ بِالْاِمَامَةِ ، ص: ۱۱۰، نَمْبَرْ ۶۷۸)

تَرْجَمَهْ:- چې د حُضُوْرْ (ﷺ) مَرَضْ ډېر سَخْتْ سو نو حُضُوْرْ وَ فَرْمَائِلْ چې:- اَبُوْبَكْرْ ته حُكْمْ وكئ چې دئ و خلكو ته لَمُوْنَځْ (جَمَاعَتْ) وركي، پر دغه خَبَرَهْ نو حضرت عَائِشې وَوَيَل چې هغه خو نَرْمْ دِلْ سړئ دئ، چې ستا پر ځائ وَدرېږي نو دئ و خلكو ته لَمُوْنَځْ نَه سي وَركولائي، پر دغه خَبَرَهْ هم حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چې:- وَ اَبُوْبَكْرْ ته د لَمُوْنَځْ (جَمَاعَتْ) وَركولو خَبَرَهْ وكئ، حضرت عَائِشې دُوَهَمْ وَارْ بيا هغه عُذْرْ وُړاندې كئ، حُضُوْرْ (ﷺ) بِيَا وويل چې:- اَبُوْبَكْرْ ته وَوَايَاست چې وَ خلكو ته دې لَمُوْنَځْ وَركي، حضرت عَائِشې بيا د اَبُوْبَكْرْ عُذْرْ وُړاندې كئ، حُضُوْرْ (ﷺ) بيا وويل چې:- اَبُوْبَكْرْ ته د لَمُوْنَځْ وَركولو ووايَاست، تاسو د حضرت يُوْسُفْ عَلَيْهِ السَّلَامْ سره چې كُومُو ښځو يِلَانُوْنَهْ جوړول، دهغوي په شَانْ ياست، حضرت اَبُوْبَكْرْ ته د رَسُوْلُ اللّٰهْ (ﷺ) قَاصِدْ (اَسْتَازئ) راغلئ، چې دهغه په وَجْهَ حضرت اَبُوْبَكْرْ د حُضُوْرْ (ﷺ) په ژُوَنْدْ كې جَمَاعَتْ وركئ .

په دغه حَدِيْثْ كې حُضُوْرْ (ﷺ) په درې وَارَهْ په زُوْرْ او شِدَّتْ سره وَيِلې دي چې حضرت اَبُوْبَكْرْ (رضي الله عنه) دې جَمَاعَتْ (لَمُوْنَځْ) وركي، دغه عَمَلْ وَ دې خَبَرَهْ ته اِشَارَهْ ده چې زَمَا وروسته دې هم حضرت اَبُوْبَكْرْ (رضي الله عنه) لَمُوْنَځْ وَركوي، او اَمِيْرْ دې مُنْتَخَبْ سي، بَس ددغه رنګه حَدِيْثُوْ په وَجْهَ اَصْحَابَانُوْ حضرت اَبُوْبَكْرْ (رضي الله عنه) خپل خَلِيْفَهْ مُنْتَخَبْ (مُقَرَّرْ) كئ .

## خلګ د بُوډَاګانُوْ (سُپِيْنْ ږيرُوْ) خَبَرَهْ مَنِي

يَوَه خَبَرَهْ دا هم په ذِهْنْ كې وَلَرئ چې د خلكو بېلا بېل طَبِيْعَتُوْنَهْ وي، د مَشْرَانُوْ يعني د ډېر عُمَرْ او سُپِيْنْ زِيرُوْ خلكو خَبَرَهْ عُمُوْمًا خلګ مَنِي،

حضرت عَلِيْ د عِلْمْ يَو غَتْ غَرْ وُو، د اَهْلِ بَيْتْ څخه وُو لېکن خو دئ ځُوَانْ وُو، د حُضُوْرْ د وَفَاتْ پر وَخْتْ دده عُمْرْ ۳۳ کالَ وُو، نو ځکه نورو عَامَّهْ خلګو دده خَبَرَهْ ژَرْ نه مَنَله، او د حضرت اَبُوْبَکْرْ عُمْرْ هغه وَخْتْ ۶۱ کالَ وُو هغه سپِيْنْ زيرَيْ وُو، نو په دغه وَجْهَ خلګو دده خَبَرَهْ مَنَله، ده د قَوْمُوْ ډېره تَجْرِبَهْ هم دَرلُودَه، نو په دغه وَجْهَ هم خلګو دئ مُنْتَخَبْ کئ .
تاسو وَ دغه نُکْتَهْ ته هم غَوْرْ وکئ .

## د اِخْتِلَافْ پر وَخْتْ د خُلَفَاءِ رَاشِدِيْنْ اِتِّبَاعْ وکئ

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي د اِخْتِلَافْ پر وَخْتْ د خُلَفَاءِ رَاشِدِيْنُ اِتِّبَاعْ کول په کار ده

**۸: عَنْ عِرْبَاضِ بن سَارِيَةَ ..... فَقَالَ قَائِلٌ يَارَسُوْلَ الله (ﷺ) كَأَنَّ هٰذِه مَوْعِظَةُ مُوَدِّعٍ فَمَا ذَا تَعَهَّدُ عَلَيْنَا؟ فَقَالَ اُوْصِيْكُمْ بِتَقْوَى اللهِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ، وَ اِنَّ عَبْدًا حَبَشِيًّا فَاِنَّهُ مَنْ يَّعِيْشُ مِنْكُمْ بَعْدِيْ فَسَيَرٰى اِخْتِلَافًا كَثِيْرًا، فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ الْمَهْدِيِّيْنَ، تَمَسَّكُوْا بِهَا وَعَضُّوْا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ .**

**(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ،كِتَابُ السُّنَّةِ، بَابٌ فِيْ لُزُوْمِ السُّنَّةِ، ص: ۶۵۱، نَمْبَرْ ۴۶۰۷ / تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ، نَمْبَرْ ۲۶۷۸)**

تَرْجَمَهْ:- وَيْنَا کونکو خلګو وويل، ائ د اَللّٰهْ رَسُوْلَا! دارنګه ښکاره کېږي لکه دغه چي اَلْوِدَاعِيْ (د حُضُوْرْ (ﷺ) آخِرِيْ) نَصِيْحَتْ وي، نو ائ د اَللّٰهْ رَسُوْلَ تَه مُوږ ته کُوم پيغَامْ راکوي؟ نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي د اَللّٰهْ سره د تَقْوٰي اِخْتِيَارُوْلُوْ وَصِيَّتْ تاسو ته کومّه،او دغه وَصِيَّتْ هم دَر ته کومّه چي د اَمِيْرْ خَبَرَهْ اَورَئ، او دهغه اِطَاعَتْ کوئ، که څَه هم حَبَشِيْ غُلَامْ وي، بيايې وَ فَرْمَائِلْ څوک چي زَمَا څخه وروسته ژُوَندَئ پاته سي هغه به ډېر اِخْتِلَافَاتْ وَوينِئ، نو هغه وَخْتْ زَمَا سُنَّتْ او د هِدَايَتْ يَافْتَهْ خُلَفَاءْ رَاشِدِيْنْ سُنَّتْ په مَضْبُوْطِيْ سره ټينګ وَنيسَئ .
په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي زَمَا وروسته به ډېر اِخْتِلَافَاتْ راسي، پر دغه رنګه مُوْقَعْ نو بَايَدْ چي د خُلَفَاءِ رَاشِدِيْنُ سُنَّتْ په مَضْبُوْطِيْ سره ټينګ او خپل کړئ، لِهٰذَا وَ دغه حضرَاتُو ته ښکنْځَا کول په کار نه دي .

## ټولو په اِتِّفَاقْ حضرت اَبُوْبَکْرْ خَلِيْفَهْ مُقَرَّرْ کئ

۹: فَحَمِدَ اللهَ اَبُوْبَكْرُ وَ اَثْنٰى عَلَيْهِ ..... فَقَالَ عُمَرُ بَلْ نُبَيِّعُكَ، اَنْتَ سَيِّدُنَا، وَ خَيْرُنَا، وَ اَحَبُّنَا اِلٰى رَسُوْلِ اللهِ (ﷺ) فَاَخَذَ عُمَرُ بِيَدِهِ، فَبَايَعَهُ، وَبَايَعَهُ النَّاسُ .

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ فَضَائِلِ الصَّحَابَةِ،بَابُ ،ص: ۶۱۶، نَمْبَرْ ۳۶۶۸)

تَرْجَمَهْ:- حضرت اَبُوْبَكْرْ حَمْدْ و ثَنَا وَوَيَل ..... حضرت عُمَرْ وويل چي مُوږ ستا سره بَيْعَتْ كوو، تَه زُمُوږ سَرْدَارْ يې، په مُوږ ټولو كي اَفْضَلَ يې، او وَ رَسُوْلُ اللهْ (ﷺ) ته تر ټولو زِيَاتْ مَحْبُوْبَ يې، حضرت عُمَرْ د حضرت اَبُوْبَكْرْ لَاسْ وَنِيوَئ او دده سره يې بَيْعَتْ وكئ، او خلكو هم دده سره بَيْعَتْ وكئ .

په دغه حَدِيْثْ (اَثَرْ) كي دئ چي ټولو خلكو په خُوْشْحَالِيْ خُوْشْحَالِيْ د حضرت اَبُوْبَكْرْ سره بَيْعَتْ كړئ دئ، نو ځكه دئ يې د ټولو په اِتِّفَاقْ سره خَلِيْفَهْ جوړ كړئ وُو، او دئ مُتَّفَقَهْ اَمِيْرْ وُو .

لِهٰذَا دغه وَيْنَا چي حضرت اَبُوْبَكْرْ پر خِلَافَتْ باندي غَاصِبْ وُو، صَحِيْحْ خَبَرَهْ نَه ده .

او په دغه قَوْلِ صَحَابِيْ كي دا هم راغلي دي چي حضرت اَبُوْبَكْرْ په هغه اَصْحَابَانُوْ كي تر ټولو بِنَهْ (اَفْضَلْ) وُو، او وَ حُضُوْرْ (ﷺ) ته تر ټولو نِژدې هم وُو، او د سُپِيْنْ ږِرْتُوْبْ لكبله يې هر ډَوَل تَجْرِبَهْ هم دَرلُودَه، نو ځكه دده خَلِيْفَهْ جوړول په هر لِحَاظْ سره بِهْتَرْ وُو .

## حضرت عَلِيْ د حضرت اَبُوْبَكْرْ سره بَيْعَتْ كړئ وُو

وروسته حضرت عَلِيْ هم د حضرت اَبُوْبَكْرْ سره بَيْعَتْ كړئ وُو، په بُخَارِيْ شَرِيْفْ كي ددې پُورَه تَفْصِيْلْ مَوْجُوْدْ دئ

۱۰: عَنْ عَائِشَةَ ..... اِسْتَنْكَرَ عَلِيٌّ وُجُوْهَ النَّاسِ فَالْتَمَسَ مَصَالَحَةَ اَبِىْ بَكْرٍ وَ مُبَايَعَتَهُ وَلَمْ يَكُنْ يُبَايِعُ تِلْكَ الْاَشْهُرِ ..... فَقَالَ عَلِيٌّ لِاَبِىْ بَكْرٍ مَوْعِدُكَ الْعَشِيَّةَ لِلْبَيْعَةِ فَلَمَّا صَلّٰى اَبُوْبَكْرُ الظُّهْرَ رَقِىَ الْمَنْبَرَ فَتَشَهَّدَ وَ ذَكَرَ شَانَ عَلِيٍّ وَتَخَلُّفَهُ عَنِ الْبَيْعَةِ وَعُذْرَهُ بِالَّذِىْ اِعْتَذَرَ اِلَيْهِ ثُمَّ اِسْتَغْفَرَ، وَتَشَهَّدَ عَلِيٌّ فَعَظَّمَ حَقَّ اَبِىْ بَكْرٍ وَحَدَّثَ اَنَّهُ لَمْ يَحْمِلْهُ عَلَى الَّذِىْ صَنَعَ نَفَاسَةً عَلٰى اَبِىْ بَكْرٍ وَ لَا اِنْكَارًا لِلَّذِىْ فَضَّلَهُ اللهُ بِهِ وَلٰكِنَّا نَرٰى فِىْ هٰذَا الْاَمْرِ نَصِيْبًا فَاسْتَبَدَّ عَلَيْنَا فَوَجَدْنَا فِىْ اَنْفُسِنَا فَسَرَّ بِذٰلِكَ الْمُسْلِمُوْنَ وَقَالُوْا اَصَبْتَ، وَكَانَ الْمُسْلِمُوْنَ اِلٰى عَلِيٍّ قَرِيْبًا حِيْنَ رَاجَعَ الْاَمْرَ الْمَعْرُوْفَ .

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْمَغَازِيْ،بَابُ غَزْوَةُ خَيْبَرَ،ص: ۷۱۹، نَمْبَرْ ۴۲۴۰)
تَرْجَمَهْ:- حضرت عَلِيْ ته دارنګه مَحْسُوْسَهْ سوه چي خلګ مَا ته لَږْ تَوَجُّهْ کوي، نو يې د حضرت اَبُوْبَکْرْ سره صُلْحَ وکړه، او دده سره يې د بَيْعَتْ کولو دَرْخُوَاسْتْ وکړئ، ده په هغه شپږ مِيَاشْتُوْ کي بَيْعَتْ نَه وُو کړئ ..... حضرت عَلِيْ وَفَرْمَائِلْ د بَيْعَتْ لپاره د مَابِنَامْ وَخْتْ مُنَاسِبْ دئ، چي کله حضرت اَبُوْبَکْرْ د مَابَيْنِيْنْ لَمُوْنَځْ وکئ نو پر مَنْبَرْ کښېناستئ، او کَلِمَهْ شَهَادَتْ يي وَوَيَل، او د حضرت عَلِيْ شَانْ (مَرْتَبَهْ او مَقَامْ) يې بَيَانْ کئ، او دا چي تر اُوسَ د بَيْعَتْ څخه شَا تـه پَاتـه وُو ددې وَجْـهْ بَيَانْ کـړه، او حضـرت عَلِيْ چي کُوم عُذْرْ وُړاندي کئ هغه يې هم ذِکْرْ کـئ، بيايي اِسْتِغْفَارْ وکـئ،او حضـرت عَلِيْ کلِمَهْ شَهَادَتْ وَوَيَلَ، او د حضرت اَبُوْبَکْرْ د حَقْ عَظْمَتْ يي بَيَانْ کئ، او دا يې هم وويل چي مَا څه وکړل هغه مُو پـر حضـرت اَبُـوْبَکْرْ بانـدي د فَوْقِيَّتْ پـه وَجْـهَ نَـه دي کړي، او اَللهْ وَ حضرت اَبُوْبَکْرْ ته کُوم فَضِيْلَتْ وَرکړئ دئ زَهْ دهغه څخه اِنْکَارْ هم نَـه کوم، لېکن زَمَا دا خِيَالْ وُو چي په دغه مَعَامَلَهْ [وِرَاثَتْ، يا خِلَافَتْ] کي زَمَا هم څَه حِصَّهْ سته، لېکن مَا ته هغه نَه ده رَسېدَلې چي دهغه په وَجْهْ زَمَا زِړَهْ رَاتَنګ سو [او اُوس زَهْ په خُوْشْحَالِيْ سره د بَيْعَتْ لپاره راغلئ يَم] ددغه څخه مُسْلْمَانَانْ ډېر خُوْشْحَالَ سو، او ټولو وَوَيَل چي تَا ډېر ښَه وکړل، او چي کله حضرت عَلِيْ وَ اَمْرِ مَعْرُوْفْ (يعني ټولو ته مَعْلُوْمْ عَمَلْ يعني بَيْعَتْ) ته رُجُوْعْ وکړه نو خلګ وَ حضرت عَلِيْ ته ډېر نِژدې سول .

په دغه حَدِيْثْ کي دُوې خَبَرِيْ دي

[۱] يَوَهْ خَبَرَهْ خو داده چي حضـرت عَلِـيْ هم وروسته د حضـرت اَبُـوْبَکْرْ سره بَيْعَتْ وکړئ .

[۲] دُوَهَمَّهْ خَبَرَهْ داده چي حضرت عَلِيْ د حضرت اَبُوْبَکْرْ د فَضِيْلَتْ اِقْـرَارْ وکـئ، او حضـرت اَبُـوْبَکْرْ هـم د حضـرت عَلِـيْ د فَضِيْلَتْ اِقْرَارْ وکـئ، دا څومره ښَهْ خَبَرَهْ ده .

دواړو مَشَرَانُوْ په خپل مينځ کي صُلْحَ (رُوْغَهْ) سره وکړه، لِهٰذَا مُوږ هم بَايَدْ د دُوي پر صُلْحَ باندي رَاضِيْ سو .

که چيري مُوږ هغه مَسْئَلَهْ رَاتينګه کړو نو مُوږ بـه پـه دُوْ حِصُّوْ کي وَبېشَـل سو، او نور قَوْمُوْنَهْ به مُوږ مَيْدَهْ مَيْدَهْ او رېزه رېزه کـي، لکـه څنګـه چـي اُوس مَحَالْ دغـه رنګـه کېږي، او د همېش لپاره بـه پـه اُمَّتْ کـي اِخْتِلَافْ بَرْقَرَارَهْ پاته وي .

## چي خَلِيْفَهْ مُتَعَيَّنْ سي نو بلَاوَجْهَ دهغه څخه اِخْتِلَافْ کول جَوَازْ نَه لري

د خِلَافَتْ لپاره د بَيْعَتْ کولو وروسته بِلَاوَجْهَ د هغه څخه اِخْتِلَافْ کول نَاجَائِزْ دئ، ځکه چي ددې څخه فِتْنَهْ جوړيږي .
دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

**۱۱: عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنَ بن عَبْدِ رَبِّ الْكَعْبَةِ ..... وَمَنْ بَايَعَ اِمَامًا فَاَعْطَاهُ صَفْقَةَ يَدِه و ثَمْرَةَ قَلْبِه فَلْيُطِعْهُ اِنِ اسْتَطَاعَ، فَاِنْ جَاءَ اٰخَرُ يُنَازِعُهُ، فَاضْرِبُوْا عُنُقَ الْاٰخَرِ .**
(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْاِمَارَةِ ،بَابُ وُجُوْبِ الْوَفَاءِ بِبَيْعَةِ الْخَلِيْفَةِ الْاَوَّلِ فَالْاَوَّل، ص: ۸۲۸، نَمْبَرْ ۱۸۴۴ / ۴۷۷۶)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ کُوم ځا چي د اِمَامْ سره بَيْعَتْ وکئ او خپل لَاسْ يې ورکئ، او خپل زَړَهْ يې هم ورکئ، نو چي څومره مُمْكِنْ وي دهغه اِطَاعَتْ دي وکي، او که چيري يَو بَل دُوَهَمْ کس د خِلَافَتْ د اَخستلُو لپاره جَګړه او اِخْتِلَافْ شروع کي نو دهغه دُوَهَمْ کس سَرْ وَر پرې کئ .
په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي خَلِيْفَهْ مُتَعَيَّنْ سي نو دهغه مُكَمَّلْ اِطَاعَتْ کول په کار دئ .
لِهٰذَا د دُومره ډېر وَخْتْ د تېرېدو وروسته هم چي کُوم څوک بَارْ بَارْ د اِخْتِلَافَاتُوْ مَعَامَلَهْ مَختَه رَاوُړي، دا ښَهْ كَارْ نَه دئ، ددې څخه بِلَاوَجْهَ د مُسَلْمَانَانُوْ په مَابَيْنْ کي اِخْتِلَافَاتْ پَيدَا کيږي، او مُسَلْمَانَانْ په دُوْ حِصُّوْ کي تَقْسِيْمْ کيږي، او د نورو قَوْمُوْ په مَخکِي د دُوي هيڅ حَيْثِيَّتْ نَه پاته کيږي .

## د پِنځُو خَلِيْفَهْ ګانُوْ د خِلَافَتْ مُدَهْ (وَخْتْ)

په حَدِيْثْ کي راغلي دي چي د خِلَافَتِ رَاشِدَهْ مُدَهْ به دېرش [۳۰] کالَ وي .
ددې دَلِيْلْ دغه حَدِيْثْ دئ

**۱۲: عَنْ سَفِيْنَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) خِلَافَةُ النُّبُوَّةِ ثَلَاثُوْنَ سَنَةً ثُمَّ يُؤتِى اللهُ الْمُلْكَ اَوْ مُلْكَهُ مَنْ يَّشَاءُ .**
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي خِلَافَتِ نَبُوَّتْ دربش (۳۰) کالَ دئ، بيا اَللّٰهْ تَعَالٰى خپل مُلْکْ چي ځا ته يې وَغُوارِي هغه ته به ورکي .
**... قَالَ سَعِيْدٌ قَالَ لِيْ سَفِيْنَةُ اَمْسَكَ عَلَيْكَ اَبَابَكْرٌ سَنَتَيْنِ، وَ عُمَرُ عَشْرًا، وَ عُثْمَانُ اِثْنَيْ عَشَرًا، وَ عَلِيٌّ كَذَالِكَ، قَالَ سَعِيْدُ قُلْتُ لِسَفِيْنَةَ، اِنَّ هٰؤُلَاءِ يَزْعُمُوْنَ اَنَّ عَلِيًّا لَمْ يَكُنْ بِخَلِيْفَةٍ قَالَ كَذَبَتْ اَسْتَاهُ بَنِيْ الزَّرْقَاءِ يَعْنِيْ بَنِيْ مَرْوَانَ .**

(اَبُوْدَاؤُدْ شَرِيْفْ،كِتَابُ السُّنَّةِ، بَابٌ فِى الْخُلَفَاءِ، ص: ۶۵۶، نَمْبَرْ ۴۶۴۶)
تَرْجَمَهْ:- حضرت سَعِيْدْ فَرْمَائي چي:- بيا حضرت سَفِيْنَهْ ددې تَفْصِيْلْ بَيَانْ کئ، چي د حضرت اَبُوْبَكْرْ د خِلَافَتْ دُوَه کالَ، د حضرت عُمَرْ لَسْ کالَ، د حضرت عُثْمَانْ دُوَهْ لَسْ کالَ، دغه رنګه د حضرت عَلِيْ خِلَافَتْ هم دئ، حضرت سَعِيْدْ وَ حضرت سَفِيْنَهْ ته وويل چي دغه مَرْوَانِيْ خلګ خو دا وائي چي:- حضرت عَلِيْ خَلِيْفَهْ نَه وُو، نو حضرت سَفِيْنَهْ وَ فَرْمَائِلْ چي بَنِيْ زَرْقَاءْ، يعني بَنِيْ مَرْوَانْ دَرْوَاغْ وائي .
په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي خِلَافَتِ نَبُوَّتْ به دېرش [۳۰] کالَ وي .

ددغه عَقِيدې په اړه ۰ آيَتُوْنَهْ او ۱۲ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کئ .

د حضرت اَبُوْبَكْرْ خِلَافَتْ دُوَهْ کالَ، درې مِيَاشْتِيْ، لَسْ وُرځي دئ .
د ۱۲ رَبِيْعُ الْاَوَّلْ سنة ۱۱ هِجْرِيْ، مُطَابِقْ ۷ جُوْنْ سنة ۶۳۲ عِيْسَوِيْ، څخه
تر ۲۲ جَمَادَى الثَّانِيْ سنة ۱۳ هِجْرِيْ، مُطَابِقْ ۲۳ اګسْتْ سنة ۶۳۴ عِيْسَوِيْ، پُوري

د حضرت عُمَرْ خِلَافَتْ لَسْ کالَ، شپَږْ مِيَاشْتِيْ، څْلُوْرْ وُرځي دئ .
د ۲۲ جَمَادَى الثَّانِيْ سنة ۱۳ هِجْرِيْ، مُطَابِقْ ۲۳ اګسْتْ سنة ۶۳۴ عِيْسَوِيْ څخه
تر ۲۶ ذِى الْحَجَّةْ سنة ۲۳ هِجْرِيْ، مُطَابِقْ ۳ نَوْمُبَرْ سنة ۶۴۴ عِيْسَوِيْ، پُوري

د حضرت عُثْمَانْ خِلَافَتْ يَوُوْلَسْ کالَ، يَوُوْلَسْ مِيَاشْتِيْ، دُوَهْ وِيْشْتْ وُرځي دئ .
د ۳ مُحَرَّمْ سنة ۲۴ هِجْرِيْ، مُطَابِقْ ۹ نَوْمُبَرْ سنة ۶۴۴ عِيْسَوِيْ څخه
تر ۲۵ ذِى الْحَجَّةْ سنة ۳۵ هِجْرِيْ، مُطَابِقْ ۲۴ جُوْنْ سنة ۶۵۶ عِيْسَوِيْ، پُوري

د حضرت عَلِيْ خِلَافَتْ څْلُوْرْ کالَ، اَتَهْ مِيَاشْتِيْ، پِنْځَوِيْشْتْ وُرځي دئ .

د ۲۶ ذِی الْحَجَّةْ سنة ۳۵ هِجْرِیْ، مُطَابِقْ ۲۵ جُوْنْ سنة ۶۵۶ عِیْسَوِیْ څخه
تر ۲۱ رَمَضَانْ سنة ۴۰ هِجْرِیْ، مُطَابِقْ ۲۸ جَنْوَرِیْ سنة ۶۶۱ عِیْسَوِیْ، پُوري

د حضرت حَسَنْ خِلَافَتْ شپَږْ مِیَاشْتِیْ، دري وُرځِي دئ .
د ۲۲ رَمَضَانْ سنة ۴۰ هِجْرِیْ، مُطَابِقْ ۲۹ جَنْوَرِیْ سنة ۶۶۱ عِیْسَوِیْ څخه
تر ۲۵ رَبِیْعُ الْاَوَّلْ سنة ۴۱ هِجْرِیْ، مُطَابِقْ ۲۹ جُوْلَائی سنة ۶۶۱ عِیْسَوِیْ، پُوري
ټوله مَجْمُوْعَهْ ۳۰ کالَ د خِلَافَتِ رَاشِدَهْ مُدَهْ سوه ..... د اِنْتَرْ نِیْتْ څخه مُو دغه حَوَالَهْ رَا اَخستې ده .

## ۲۰: وَلِیْ وَ کُوم چَا ته وَیَل کیږي؟

ددغه عَقِیدې په اړه ۴ آیَتُوْنَهْ او ۵ حَدِیْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر یَوَه تَفْصِیْلْ مُلَاحَظَهْ کړئ .

څوک چي پر اَللّٰهْ باندي اِیْمَانْ لري، پر شَرِیْعَتْ باندي پُوْرَهْ عَمَلْ کوي، او مُتَّقِیْ او پَرْهیزْګارَهْ وي، د خلګو سره ښَهْ چَلَنْ او مَعَامَلَاتْ کوي، د لُمُوْنځْ پُوْرَهْ پَابَنْدِیْ کوي، رُوْژَهْ نِیسِي، زَکٰوةْ وَرکوِي، او د حَرَامْ کَارُوْ څخه په مُکمَّلْ ټوګه ځَان سَاتِي، او د خُدَایْ خَوْفْ لري، نو هغه ته ,, وَلِیْ ,, وائي .
او کُوم خلګ چي د شَرِیْعَتْ پَابَنْدَ نَه وي، او خپل ځان ,, وَلِیْ ,, ښکاره کوي هغه ,, وَلِیْ ,, نَه دئ مَکَّارْ دئ، نَنْ سَبَا خو خَانْدَانِیْ لَخْ او بی حَیَا خلګ وَلِیَانْ ګڼي، په دغه ښَهْ ځانونه پُوْهْ کړئ .
په دغه حَدِیْثْ کي ددې تَفْصِیْلْ مَوْجُوْدْ دئ

۱: عَنْ عُبَیْدِ بن عُمَیْرِ ..... اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) قَالَ فِیْ حَجَّةِ الْوِدَاعِ، اَ لَا اِنَّ اَوْلِیَاءَ اللهِ اَلْمُصَلُّوْنَ مَنْ یُّقِیْمُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ الَّتِیْ کُتِبَتْ عَلَیْهِ، وَیَصُوْمُ

رَمَضَانَ وَيَحْتَسِبُ صَوْمَهُ يَرٰى اَنَّهُ عَلَيْهِ حَقٌّ، وَيُعْطِيْ زَكٰوةَ مَالِهٖ يَحْتَسِبُهَا، وَيَجْتَنِبُ الْكَبَائِرَ الَّتِيْ نَهَى اللهُ عَنْهَا .

(مُسْتَدْرَكْ لِلْحَاكِمْ،كِتَابُ الْاِيْمَانْ، ج: ۱ ، ص: ۱۲۷، نَمْبَرْ ۱۹۷ / سُنَن بَيْهَقِيْ،كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ مَاجَاءَ فِيْ اِسْتِقْبَالِ الْقِبْلَةِ بِالْمَوْتٰى، ج: ۳ ، ص: ۵۷۳، نَمْبَرْ ۶۷۲۳)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) په حَجَّةُ الْوِدَاعْ کي وَ فَرْمَائِلْ، وَاوْرئ! د اَللّٰهْ وَلِيَانْ هغه خلک دي چي لُمُوْنَځْ کوي، پِنْځَهْ لُمَنْځُوْنَهْ کُوم چي پر ده فَرْضْ دي هغه قَائِمْ سَاتِی، د رَمَضَانْ رُوژې نِيسِي، هغه صِرف د اَللّٰهْ لپاره نِيسِي، او په دا يَادْ دي چي رُوْژَهْ پر ده باندي د اَللّٰهْ حَقْ دئ، او صِرف د ثَوَابْ لپاره د خپل مَالْ زَکٰوةْ وَرکوي، اَللّٰهْ چي د ګُومِي ګُنَاهِ کَبِيْرَهْ څخه مَنْعْ کړئ دئ، دهغه څخه ځان سَاتِي .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي لُمُوْنَځْ کوي، رُوْژَهْ نِيسِي، زَکٰوةْ وَرکوي، او د کَبِيْرَهْ ګُنَاهْ څخه ځان سَاتِي نو هغه ,, وَلِيْ ,, دئ، او څوک چي دغه کارُوْنَه نَه کوي، او د ګُنَاهِ کَبِيْرَهْ څخه ځان نَه ګوري هغه هيڅ کله ,, وَلِيْ ,, نَه دئ .

۱: اَ لَآ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَ لَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ج صلى اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ط لَهُمُ الْبُشْرٰى فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِى الْاٰخِرَةِ ط لَا تَبْدِيْلَ لِكَلِمٰتِ اللهِ ط ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ط . (آيَتْ ۶۲،۶۳،۶۴،سُوْرَةُ يُوْنُسْ ۱۰) .

تَرْجَمَهْ:- يَادْ ولرئ چي کُوم د اَللّٰهْ دُوْسْتَانْ دي، هغوي ته به نَه کُومَه خَطْرَهْ وي، نَه به هغه غَمْ زَدَهْ وي دا هغه خلک دي چي اِيْمَانْ يې راوړئ دئ، او تَقْوٰي يې اِخْتِيَارْ کړي ده دهغوي لپاره زيرئ دئ په دُنْيَوِيْ ژُوَنْدْ کي هم، او په آخِرَتْ کي هم، د اَللّٰهْ په خَبَرُوْ کي هيڅ بَدَلْ بَدْلُوْنْ نَه کيږي، دغه زَبَرْدَسْتَهْ کاميابي ده

په دغه آيَتْ کي دُوې خَبَرِيْ دي [۱] يَوَهْ خو دا چي پر وَلِيْ به نَه خَوْفْ (ويره) وي، او نَه غَمْ وي [۲] دُوَهَمَّهْ دا چي وَلِيْ هغه دئ چي اِيْمَانْ رَاوړي، او تول ژُوَنْدْ تَقْوٰي اِخْتِيَارْ کي، لِهٰذَا چي کُوم مُؤْمِنْ نَه دئ، کافِرْ دئ هغه وَلِيْ نَه سي جُوړيدلائي، او چي کُوم څوک تَقْوٰي نَه اِخْتِيَارَوِيْ، پر شَرِيْعَتْ نَه چليږي، هغه هم وَلِيْ نَه سي جُوړيدلائي .

۲: اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللهِ اَتْقٰكُمْ ط . (آيَتْ ۱۳،سُوْرَةُ الْحُجُرَاتْ ۴۹) .

تَرْجَمَهْ:- په حَقِيْقَتْ کي د اَللّٰهْ په نيز په تاسو کي تر تولو زِيَاتْ عِزَّتْمَنْدْ هغه دئ چي په تاسو کي تر تولو زِيَاتْ مُتَّقِيْ وي .

په دغه آيَتْ کي دئ چي څوک زِيَاتْ مُتَّقِيْ وي د اَللّٰهْ په نيز هغه زِيَاتْ عِزَّتْ مَنْدْ دئ .

## د وَلِيْ عَلَامَتْ دادئ چي وَوِينې نو اِنْسَانْ ته خُدَائ وَر په يَادْ سي

کُوم څوک چي شَانْ و شَوْکتْ لري، او چي هغه وَوِيني دُنْيَا دَر په يَادْ سي نو هغه ,, وَلِيْ ,, نَه دئ، هغه خو دُنْيَادَارَهْ دئ، او چي د کُوم ځا سَادَگِيْ، پَرهيزْگارِيْ، او خُدَا تَرسِيْ وَوِينې آخِرَتْ دَر په يَادْ سي هغه د اَللّٰهْ وَلِيْ دئ .
ددې لپاره دَلِيْلْ دغه حَدِيْثْ دئ

**۲ : عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ (ﷺ) قَالَ اِبْرَاهِيْمُ سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) مَنْ اَوْلِيَاءُ اللهِ؟ قَالَ اَ لَّذِيْنَ اِذَا رَاَوُوْا ذُ كَرَ اللهَ .**

**(سُنَنِ نَسَائِيْ کُبْرٰى، بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالٰى، اَ لَاۤ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللهِ، ج: ١٠، ص: ١٢٤، نَمْبَرْ ١١١٧١)**

تَرْجَمَهْ:- د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه خلګو پُوْښْتَنَهْ وکړه چي د اَللّٰهْ وَلِيَانْ څوک دي؟ نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي کله دُوي وَوِينې خُدَائ دَر په يَادْ سي [نو پُوْهْ سَهْ چي دغه د اَللّٰهْ وَلِيْ دئ] .

**۳ : اِنَّ اَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيْدٍ اَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) يَقُوْلُ اَ لَا اُنَبِّأُكُمْ بِخِيَارِكُمْ؟ قَالُوْا بَلٰى يَا رَسُوْلَ اللهِ، قَالَ خِيَارُكُمُ الَّذِيْنَ اِذَا رَأَوْا ذَكَرَ اللهَ عَزَّ وَ جَلَّ .**

**(اِبْنِ مَاجَهْ شَرَيْفْ، کِتَابُ الزُّهْدِ، بَابُ مَنْ لَّاَيُؤْبُهُ لَهُ، ص: ٦٠١، نَمْبَرْ ٤١١٩)**

تَرْجَمَهْ:- حضرت اَسْمَاءْ بِنْتِ يَزِيْدْ وويل چي مَا د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه اَورېدَلِي دي چي دايي وَ فَرْمَائِلْ :- زَهْ يي تاسو ته دَروَښَايَم چي په تاسو کي ښَهْ خلګ څوک دي؟ خلګو وويل چي هُوْ يَارَسُوْلَ اللهْ! حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ په تاسو کي ښَهْ خلګ هغه دي چي کله دُوي وَوِينې نو خُدَائ مُو په يَادْ سي .
په دغه حَدِيْثُوْ کي دئ چي وَوِينې اَللّٰهْ تَعَالٰى دَر په يَادْ سي، بَس هغه ښَهْ خلګ دي، نو لِهٰذَا پِيْرْ صَاحِبْ بَايَدْ دارنګه د اَللّٰهْ وَالَا اِنْسَانْ وي چي تَه يې وَوِينې نو اَللّٰهْ تَعَالٰى دَر په يَادْ سي .

## چي د شَرِيْعَتْ پَابَنْدَ نَه وي هغه ,, وَلِيْ ,, نَه دئ

نَنْ سَبَا ډېر خلګ دي چي د ,, وَلِيْ ,, دَعْوَهْ کوي، لېکن هغه نَه د لُمَانْځَهْ پَابَنْدَ دي، نَه د رُوژې پَابَنْدَ دي، نَه زَکٰوةْ وَرکوِي، بلکه خلګو ته دُوګه وَرکوي او د خلګو څخه رُوْپَيْ او مَالْ و دَوْلَتْ او دَرْوَزُوْنَهْ لَاسْ ته کوي،

دغه رنګه خلک وَلِیَانْ ګڼل غَلَطْ کار دئ، او د دُوي د دَامْ (جَالْ/ مَکْرْ) څخه ځان سَاتَل په کار دئ .

## وَلِیْ چي هر څومره لُوَړ سي تر نَبِیْ او صَحَابَهْ نَه سي اَفْضَلْ کېدلائي

وروستَه وَلِیَانْ په دَرَجَهْ کي تر اَصْحَابَانُوْ هم کښتَه دي، ځکه چي اَصْحَابَانُوْ د اِیْمَانْ په حَالَتْ کي حُضُوْرْ (ﷺ) لِیدلَیٔ دئ، نو ځکه وروستَنِي وَلِیَانْ تر اَصْحَابَانُوْ اَفْضَلْ نَه دي .

بَلَه خَبَرَهْ داده چي حُضُوْرْ (ﷺ) د ټولو اَصْحَابَانُوْ ډېر فَضِیْلَتْ بَیَانْ کړئ دئ، چي هغه د وَلِیَانُ لپاره نَه دئ، نو ځکه دوروسته زَمَانِي وَلِیَانْ چي په وِلَایَتْ کي هر څومره مَختَه وُلَاړْ سي خو هغه د اَصْحَابَانُ وَ دَرَجَهْ ته نَه سي رسېدلائي .

بعض خلک د وروستَنَیُو وَلِیَانُ ډُومرَه زِیَاتْ فَضِیْلَتْ بَیَانَوِي چي تر اَصْحَابَانُوْ یې هم زِیَاتْ کي، دا صَحِیْحْ کارْ نَه دئ .

دَلِیْلْ یې دغه حَدِیْثْ دئ

۴: عَنْ عَبْدِ اللهِ بن مُغَفَّلِ الْمُزَنِيّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اَللهَ اَللهَ فِيْ اَصْحَابِيْ، اَللهَ اَللهَ فِيْ اَصْحَابِيْ لَاتَتَّخِذُوْهُمْ غَرَضًا بَعْدِيْ، فَمَنْ اَحَبَّهُمْ فَبِحُبِّيْ اَحَبَّهُمْ، وَمَنْ اَبْغَضَهُمْ فَبِبُغْضِيْ اَبْغَضَهُمْ، وَمَنْ اٰذَاهُمْ فَقَدْ اٰذَانِيْ، وَمَنْ اٰذَانِيْ فَقَدْ اٰذَا اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى، وَمَنْ اٰذَا اللهَ فَیُوْشِكُ اَنْ یَّأْخُذَهُ .

(مُسْنَدِ اِمَامْ اَحْمَدْ ،بَابُ حَدِیْثِ عَبْدِ اللهِ بن مُغَفَّلِ الْمُزَنِيِّ، ج: ۶، ص: ۴۲، نَمْبَرْ ۲۰۰۲۶)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وفرمائل چي: زَمَا د اَصْحَابَانُوْ په اړه د اَللّٰهْ څخه وَبېرېږئ، زَمَا د اَصْحَابَانُوْ په اړه د اَللّٰهْ څخه وَبېرېږئ، زَمَا وروسته دُوي د طَعْنْ و مَلَامَتْیَا نِښَانَهْ مَه ګرزوئ، څوک چي د دُوي سره مُحَبَّتْ کوي هغه به زَمَا په وَجْهَ د دُوي سره مُحَبَّتْ کوي، او څوک چي د دُوي سره بُغْضْ (نفْرَتْ) کوي هغه به زَمَا په وجْهَ د دُوي سره بُغْضْ کوي، کُوم چَا چي دُوي ته تَکْلِیفْ وَرسَاوَئ هغه ګُوَاکِهْ مَا ته تَکْلِیفْ وَرسَاوَئ، او کُوم چَا چي مَا ته تَکْلِیفْ وَرسَاوَئ نو هغه ګُوَاکِهْ وَ اَللّٰهْ ته تَکْلِیفْ ورکئ، او کُوم چَا چي و اَللّٰهْ ته تَکْلِیفْ وَرسَاوَئ نو کېدلائي سي چي اَللّٰهْ دي هغه په خپل ګرفْتْ (عَذَابْ) کي رَاتینګ کي .

حُضُوْرْ (ﷺ) په دَرِدْ (دَرْدْ) سره د خپلو اَصْحَابَانُوْ په اړه وَ فرمائل چي دُوي د طَعْنْ او مَلَامَتْیَا نِشَانْ مَه جُوړوَئ .

**٥: سَمِعْتُ جَابرَ بن عَبْدِ اللهِ يَقُوْلُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ (ﷺ) يَقُوْلُ لَاتَمُسَّ النَّارُ مُسْلِمًا رَآنِيْ اَوْ رَاٰی مَنْ رَآنِيْ .**
**(تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ، بَابُ مَاجَاءَ فِيْ فَضْلِ مَنْ رَاٰی النَّبِيَّ (ﷺ) وَصَحْبَهُ، ص: ٨٧٢، نَمْبَرْ ٣٨٥٨)**
**تَرْجَمَهْ:-** مَا د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه اَورېدَلِي دي دايې فرمائل چي: کُوم چَا چي د اِسْلَامْ په حَالَتْ کي زَهْ لِيدَلَئ يَم، يا کُوم چَا چي زَهْ لِيدَلَئ يَم [يعني زَمَا صَحَابِيْ] هغه يې لِيدَلَئ وي، نو هغه به د دُوْزَخْ اُوْرْ (وُوْرْ) مَسْ نَه کي .
په دغه حَدِيْثُوْ کي د اَصْحَابَانُوْ فَضِيْلَتْ دئ چي د يَو ,, وَلِيْ ,, لپاره نَه دئ، نو ځکه يَو اَدْنٰي صَحَابِيْ هم د وُرُوستَنَيُو ټولو وَلِيَانْ څخه اَفْضَلَ دئ .

## چي د ,, وَلِيْ ,, څخه خِلَافِ عَادَتْ شَئ ښکاره سي هغه ته کرَامَتْ وَيَل کيږي

چي د نَبِيْ څخه خَرْقِ عَادَتْ (د عَادَتْ څخه يَو بېل) شَئ ښکاره سي نو هغه ته مُعْجِزَهْ وَائي، او که د ,, وَلِيْ ,, څخه يَو عَجِيْبْ (يعني خِلَافِ عَادَتْ) شَئ ظَاهِرْ سي نو هغه ته کرَامَتْ وَائي، او که د غَيْرِ مُسْلِمْ (کَافِرْ) څخه خِلَافِ عَادَتْ شَئ ثَابِتْ سي نو هغه ته اِسْتِدْرَاجْ وَائي .
د ,, وَلِيْ ,, څخه هم خِرْقِ عَادَتْ شَئ (يعني کرَامَتْ) ښکاره کېدلائي سي .
لېکن دا خَبِرَهْ هم په ذِهْنْ کي وَسَاتَئ چي ډېر خلک د کرَامَتْ دَعْوَهْ کوي، لېکن په هغه کي هيڅ حَقِيْقَتْ نَه وي، نو ځکه په مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ کي ددغه څخه هُوْښْيَارَ وسيږئ .
د کرَامَاتُ لپاره دغه آيَتْ مَوْجُوْدْ دئ
**٣: كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ ۙ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا ۚ (آيَتْ ٣٧،سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ٣).**
**تَرْجَمَهْ:-** چي هر وَخْتْ به زَکرِيَّا دې لره ددې عِبَادَتْګَاهْ ته ورغلئ، ددې سره به يَو رِزْقْ وَ موندئ .
په دغه آيَتْ کي دئ چي حضرت مَرْيَمْ عَلَيْهَا السَّلَامْ چي نَبِيْ نَه وه، وَلِيَّهْ وه دهغې سره به بې مُوْسَمْ مِېوَه مَوْجُوْدَ وه، چي دا هم يَو کرَامَتْ دئ .

## څوک چي پر اَللّٰهْ باندي اِيْمَانْ نَه لري هغه

## ,, وَلِيْ ,, نَه سي كېدلائي

په مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ كي ډېر دارنګه كسَان دي چي پر اَللّٰهْ باندي اِيْمَانْ نَه لري، په هغه كي تَوْحِيْدْ نَستَه، يا په كُفْرْ كي مُبْتَلَاءْ دي، يا په شِرْكْ كي مُبْتَلَاءْ دي، او هغه دَعْوَهْ كوي چي زَهْ ,, وَلِيْ ,, يَم، زَهْ ډېر رَسېدَلَئ سړئ يَم، هغه مُجَاهَدي هم كوي، او خلګو ته تَعْوِيْذُوْنَه (جَنْتَرْ مَنْتَرْ/ كُوْډِيْ مُوْډِيْ) هم وَركوِي، او كله نَا كله د اَللّٰهْ تَعَالٰى په حُكْمْ سره دهغه فَائِدَهْ هم ښكاره سي، چي دهغه لكبله د عَوَامُوْ دا خِيَالْ سي چي دغه د اَللّٰهْ ,, وَلِيْ ,, دئ، او عَوَامْ دهغه مُعْتَقِدِيْنْ سي .

لېكن په دا خَبَرَهْ ځان پُوْهْ كئ تر څو تَوْحِيْدْ نَه وي، اِيْمَانْ نَه وي، د اَللّٰهْ پر ټولو اَحْكامَاتُ باندي عَمَلْ نَه كوي هغه د اَللّٰهْ ,, وَلِيْ ,, نَه دئ، دا خو دده لپاره ډِيْلْ (مُهْلَتْ) دئ، اِسْتِدْرَاجْ دئ، په هيڅ وَخْتْ د دغه رنګه خلګو پر لَاسْ بَيْعَتْ مَه كوئ، مَه د ډُوي مُرِيْدَانْ كيږئ، د ډُوي څخه ځان سَاتَل په كار دئ، ډېره مُمْكِنْ خَبَرَهْ چي كله ډُوي ته نِژدې سې نو اِيْمَانْ دي خَتْمْ سي .

ددې دَلِيْلْ دغه آيَتْ دي

۴: اَ لَآ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَ لَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ج صلى اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ط لَهُمُ الْبُشْرٰى فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِى الْاٰخِرَةِ ط لَا تَبْدِيْلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ط ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ط . (آيَتْ ۶۴،۶۳،۶۲،سُوْرَةُ يُوْنُسْ ۱۰) .

تَرْجَمَهْ:- يَادْ ولرئ چي ګوم د اَللّٰهْ دُوْسْتَانْ دي، هغوي ته به نَه ګومَه خَطْرَهْ وي، نَه به هغه غَمْ زَدَهْ وي دا هغه خلګ دي چي اِيْمَانْ يې راوړئ دئ، او تَقْوٰي يې اِخْتِيَارْ كړې ده دهغوي لپاره زېرئ دئ په دُنْيَوِيْ ژُوَنْدْ كي هم، او په آخِرَتْ كي هم، د اَللّٰهْ په خَبَرُوْ كي هيڅ ډِوَلْ بَدْلُوْنْ نَه كيږي، دغه زَبَرْدَسْتَهْ كاميَابِي ده

په دغه آيَتْ كي تر ټولو اَوَّلْ شَرْطْ دادئ چي دئ به اِيْمَانْ لري، او دُوَهَمْ شَرْطْ دادئ چي تَقْوٰي به مُخْتَارَ كړې وي، نو بيا وَلِيْ دئ، ددې بَغَيْرَهْ هيڅ څوک وَلِيْ نَه سي كېدلائي، دغه په يَامْ كي لرئ .

## ۲۱: د فِرِشْتُوْ (مَلَائِكُوْ) بَيَانْ

ددغه عَقِيدې په اړه ۹ آيَتُوْنَهْ او ۳ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ كئ .

د اِيْمَانْ په بَابْ کي به راسي چي پر شپږ خَبَرُوْ اِيْمَانْ وَلرِي نو اِنْسَانْ مُوْمِنْ دئ، دهغه څخه يَو پر فَرِشْتُوْ باندي اِيْمَانْ سَاتَل دئ، نو ځکه د فَرِشْتُوْ تَفْصِيْلْ تاسو ته بَيَانيږي .
په عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةْ کي دغه عِبَارَتْ دئ
..... وَالْاِيْمَانُ، هُوَالْاِيْمَانُ بِاللّٰهِ، وَمَلَائِکَتِه، وَکُتُبِه، وَ رُسُلِه، وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ، وَالْقَدْرِ، خَيْرِه وَشَرِّه وَ حُلْوِه وَ مُرِّه . (عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةْ، عَقِيْدَهْ نِمْبَرْ ۶۶ ، ص: ۱۵)
تَرْجَمَهْ:- او اِيْمَانْ، دادئ چي پر اَللّٰهْ باندي، دهغه پر فَرِشْتُوْ باندي، دهغه پر کِتَابُوْ باندي، دهغه پر رَسُوْلَانُوْ باندي، د آخِرَتْ پر وُرَځْ باندي، او پر تَقْدِيْرْ (ښَهْ و بَدْ، خُوْږْ و تِرخْ) باندي هم اِيْمَانْ رَاوړل دئ .
نور تَفْصِيْلْ يې د اِيْمَانْ په بَحْثْ کي مُلَاحَظَهْ کئ .

## فَرِشْتي د نُوْرْ څخه پَيدَا سوي دي

فَرِشْتي د اَللّٰهْ تَعَالٰي يَو مَعْصُوْمَ مَخْلُوْقْ دئ چي د نُوْرْ څخه پَيدَا سوي دي ددې دَلِيْلْ دغه حَدِيْثْ دئ
۱: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) خُلِقَتِ الْمَلَائِکَةُ مِنْ نُوْرٍ، وَخُلِقَ الْجَانُّ مِنْ مَّارِجٍ مِّنْ نَّارٍ، وَخُلِقَ اٰدَمُ مِمَّا وُصِّفَ لَکُمْ .
(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،کِتَابُ الْاِيْمَانْ،بَابٌ فِيْ اَحَادِيْثٍ مُّتَفَرِّقَةٍ، بَابُ الزُّهْدِ،ص: ۱۲۹۵، نَمْبَرْ ۲۹۹۶/ ۷۴۹۵)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي فَرِشْتي يې د نُوْرْ څخه پَيدَا کړي دي، او پيرَانَانْ يې د اُوْرْ (وُوْرْ) د لَمبي څخه پَيدَا کړي دي، او حضرت آدَمْ يې دهغه شِي څخه پَيدَا کړئ کُوم چي ستاسو په مَخکِي يې بَيَانْ سوئ دئ .
په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي فَرِشْتي يې د نُوْرْ څخه پَيدَا کړي دي، او پيرَانَانْ يې د وُوْرْ (اُوْرْ) څخه پَيدَا کړي دي .

## خلور غَتِّيْ فَرِشْتِيْ دي دهغوي بَيَانْ په دغه آيَتُوْ کي دئ

فَرِشْتي خو هسي ډيري دي، تَعْدَادْ يا شُمبره يې صِرف وَ اَللّٰهْ تَعَالٰي ته مَعْلُوْمَهْ ده، په دي کي خلور غَتِّيْ فَرِشْتِيْ دي
حضرت جِبْرَائِيْلْ عَلَيْهِ السَّلَامْ .
حضرت مِيْکَائِيْلْ عَلَيْهِ السَّلَامْ .

حضرت اِسْرَافِيْلْ عَلَيْهِ السَّلَامْ .
حضرت عِزْرَائِيْلْ عَلَيْهِ السَّلَامْ .
حضرت جِبْرَائِيْلْ عَلَيْهِ السَّلَامْ او حضرت مِيْكائِيْلْ عَلَيْهِ السَّلَامْ تَذْكِرَهْ په دغه کښتَه رَارَوَانْ آيَت کي سوې ده .
حضرت جِبْرَائِيْلْ عَلَيْهِ السَّلَامْ تر ټولو غَټْ فَرِشْتَهْ ګڼل کيږي، پر نَبِيَانُوْ باندي وَحِيْ رَاوړل د حضرت جِبْرَائِيْلْ عَلَيْهِ السَّلَامْ ذِمَّهْ دَارِيْ ده، بَارَانُوْنَه وُرَوَل بيا د حضرت مِيْكائِيْلْ عَلَيْهِ السَّلَامْ ذِمَّهْ دَارِيْ ده .

دُوي دغه کارونه د اَللّٰهْ په حُکْمْ سره اَنْجَامْ ته رَسَوِي، نو ځکه د حضرت مِيْكائِيْلْ عَلَيْهِ السَّلَامْ څخه بَارَانْ غُوښتَل جَوَازْ نَه لري، صِرف د اَللّٰهْ تَعَالٰي څخه به بَارَانْ غُواړئ، بعض غَيْر مُسْلِمْ د بَارَانْ لپاره د دِيْوِيْ بَندَګِي کوي، د دُوي دا عَقِيْدَهْ ده چي بَارَانْ وُرَوَل د دِيْوِيْ په اِخْتِيَارْ کي دئ، په دغه وَجْهَ دُوي وَ دِيْوِيْ او دِيْوْتَا ته بَلِّيَهْ وَرکوِي، دغه په اِسْلَامْ کي حَرَامْ دئ .

ددې لپاره دَلِيْلْ دغه آيَتُوْنَهْ دي

۱: مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِلّٰهِ وَمَلٰئِكَتِه وَ رُسُلِه وَجِبْرِيْلَ وَمِيْكٰلَ فَاِنَّ اللّٰهَ عَدُوٌّ لِّلْكٰفِرِيْنَ

(آيَتْ ۹۸،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲) .
تَرْجَمَهْ:- که يو څوک د اَللّٰهْ، دهغه د فَرِشْتُوْ او رَسُوْلَانُوْ، او د جِبْرَئِيْلْ او مِيْكائِيْلْ دُښْمَنْ وي نو (هغه دي واوري چي) اَللّٰهْ د کافِرَانُوْ دُښْمَنْ دئ
۲: قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيْلَ فَاِنَّه نَزَّلَه عَلٰى قَلْبِكَ بِاِذْنِ اللّٰهِ .
(آيَتْ ۹۷،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲) .
تَرْجَمَهْ:- که (اې پيغَمْبَرَهْ!) ووايه که يوڅوک دجِبْرَئِيْلْ دُښْمَنْ دئ، نو (دُښْمَنْ دي سي) هغه خو دا کَلَامْ د اَللّٰهْ په اِجَازَتْ سره ستا پر زَرَهْ نَازِلْ کړئ دئ .
په دغه دواړو آيَتُوْ کي د جِبْرَائِيْلْ او مِيْکائِيْلْ عَلَيْهِمَا السَّلَامْ ذِکر راغلئ دئ .

## د حضرت عِزْرَائِيْلْ (مَلَكُ الْمَوْتْ) تَذْكِرَهْ

وَ خلکو ته مَرګ وَرکوَل د حضرت عِزْرَائِيْلْ عَلَيْهِ السَّلَامْ ذِمَّهْ دَارِيْ ده،دغه کار هم دئ د اَللّٰهْ تَعَالٰي په حُکْمْ سره کوي، مَرْګْ او ژُوَنْدْ وَرکوَل صِرف د اَللّٰهْ کار دئ، اَلْبَتَّهْ دئ د اَللّٰهْ په حُکْمْ سره دغه دَنْدَهْ اَنْجَامْ ته رَسَوِي، نو

ځکه د ژُوَنْدْ لپاره بَایَدْ صِرف د اَللّٰهْ څخه دُعَا وَغُوښتَل سي، د فِرِشْتُوْ څخه نَه
دَلِيْلْ يې دغه آيَتْ دئ
۳: قُلْ يَتَوَفّٰكُمْ مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِىْ وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ تُرْجَعُوْنَ
(آيَتْ ۱۱،سُوْرَةُ السَّجْدَةْ ۳۲) .
تَرْجَمَهْ:- وَوَايَهْ چې:،، تاسو به د مرګ هغه فَرِشْتَهْ پُورَه پُورَه وُصُوْلْ کړي کُوم چې پر تاسو مُقَرَّرْ سوې ده، بيا به تاسو بېرته ستاسو پَرْوَرْدِګارْ ته بېوَل کېږئ.،،
۴: حَتّٰى اِذَا جَآءَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا وَهُمْ لَايُفَرِّطُوْنَ
(آيَتْ ۶۱،سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ۶) .
تَرْجَمَهْ:- تر دې چې ستاسو څخه د يَوَه د مرګ وَخت راسي نو زُمُوږ اَسْتَوَلْ سوي فَرِشْتي هغه (اِنْسَانْ) پُوْرَهْ پُوْرَهْ وُصُوْلْ کړي، او هغه (فَرِشْتي) يَوَه ذَرَّهْ کُوْتَاهِيْ نَه کوي
په دغه آيَتْ کي دئ چې کله د مَرْګْ وَخْتْ راسي نو د يَو سِيْکَنْڈْ لپاره هم خَنْډْ نَه وَرکوي، په دغه آيَتْ کي د مَلَكُ الْمَوْتْ بَيَانْ دئ .

## د حضرت اِسْرَافِيْلْ (عَلَيْهِ السَّلَامْ) تَذْکِرَهْ

حضرت اِسْرَافِيْلْ عَلَيْهِ السَّلَامْ د صُوْرْ (شُپېلَئ) پر پُوْهْ کولو باندي مَأْمُوْرْ سوئ دئ، دئ به د قِيَامَتْ په وَرَځْ د صُوْرْ په شُپېلَئ کي پُوْهْ کي .
دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دئ
۵: وَيَوْمَ يُنْفَخُ فِى الصُّوْرِ فَفَزِعَ مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِى الْاَرْضِ .
(آيَتْ ۸۷،سُوْرَةُ النَّمْلْ ۲۷) .
تَرْجَمَهْ:- او په کُومَه وُرَځْ چي په صُوْرْ کي پُوْهْ کېږي، نو د آسْمَانُوْ او مځکي ټولَ بَاشِنْدګانْ به ګَبْرَاوْ سي .
۶: وَنُفِخَ فِى الصُّوْرِ فَصَعِقَ مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِى الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ ط ثُمَّ نُفِخَ فِيْهِ اُخْرٰى فَاِذَا هُمْ قِيَامٌ يَّنْظُرُوْنَ (آيَتْ ۶۸،سُوْرَةُ الزُّمَرْ ۳۹) .
تَرْجَمَهْ:- او په صُوْرْ (شُپېلَئ) کي به پُوْهْ کېږي نو په آسْمَانُوْ او مځکه کي چي څومره دي، هغه به ټوله بېهُوْښَهْ سي، مَا سِوَا دهغو څخه کُوم چي اَللّٰهْ يې وَغواړي، بيا به دُوَهَمْ وَارْ پُوْهْ کېږي نو هغه ټولَ خلګ به په يَوَهْ دَمْ وَلاړْ وي ګُورِي به.

**۲: عَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اِنَّ صَاحِبَیِ الصُّوْرِ بِاَیْدِیْهِمَا اَوْ فِیْ اَیْدِیْهِمَا قَرْنَانِ یُلَاحِظَانِ النَّظَرَ مَتٰی یُؤْمَرَانِ .**

(اِبْنِ مَاجَهْ شَرِیْفْ،کِتَابُ الزُّهْدْ،بَابُ ذِکْرِ الْبَعْثِ، ص: ۶۲۳، نَمْبَرْ ۴۲۷۳)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي د صُوْرْ يُوْهْ کونکي په لَاسْ کي دُوَهْ ښکرَانْ دي، د سترګو د رَپَوُلُو بَغَیْرَهْ مُسَلْسَلْ ګوري چي کله به دې ته په صُوْرْ کي د يُوْهْ کولو حُکْمْ کيږي؟ (چي بَس دا په صُوْرْ کي يُوْهْ کي) .

په دغه آيَتُوْ او حَدِيْثْ کي د صُوْرْ د يُوْهْ کونکي فَرِشْتِي يعني حضرت مِيْکائِيْلْ عَلَيْهِ السَّلَامْ بَيَانْ سوئ دئ .

# د کِرَامًا کَاتِبِيْنُ (فَرِشْتُوْ) بَيَانْ

کِرَامًا کَاتِبِيْنْ، دغه دُوې فَرِشْتِيْ دي، يَوَهْ پر ښِیْ طَرَفْ او بَله پر کِنْ طَرَفْ، دغه دواړې زُمُوږ کړي عَمَلُوْنَه لِيکي، د ښِیْ طَرَفْ فَرِشْتَهْ ښَهْ عَمَلُوْنَه لِيکي او د کِنْ طَرَفْ فَرِشْتَهْ بَدْ عَمَلُوْنَهْ لِيکِي، دَلِيْلْ يې دغه آيَتْ دئ

**۷: وَ اِنَّ عَلَيْکُمْ لَحٰفِظِيْنَ ۝ لا کِرَامًا کَاتِبِيْنَ ۝ لا يَعْلَمُوْنَ مَا تَفْعَلُوْنَ ۝**

(آيَتْ ۱۲،۱۱،۱۰،سُوْرَةُ الْاِنْفِطَارْ ۸۲) .

تَرْجَمَهْ:- حَالَانْکِهْ پر تاسو باندي څه نِګْرَانِ (فَرِشْتي) مُقَرَّرِيْ دي، ۝ هغه مُعَزَّزْ لِيکُونکِي ۝ چي ستاسو په ټولو کارو خَبَرْدَارَهْ دي. ۝

په دغه آيَتْ کي د ,, کِرَامًا کَاتِبِيْنْ ,, فَرِشْتُوْ بَيَانْ راغلئ دئ .

# د مُنْکَرْ نَکِيْرْ (فَرِشْتُوْ) بَيَانْ

دغه دُوې فَرِشْتِيْ دي، چي کله اِنْسَانْ په قَبَرْ کي پريباسِي نو دغه دُوې فَرِشْتي وَرتَه رَاسِي، او د مړي (مُرْدَهْ) څخه درې سُوَالُوْنَه کوي .

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

**۳: عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اِذَا اُقْبِرَ الْمَيِّتُ، اَوْ قَالَ اَحَدُکُمْ، اَتَاهُ مَلَکَانِ اَسْوَدَانِ اَزْرَقَانِ يُقَالُ لِاَحَدِهِمَا الْمُنْکَرُ وَالْاٰخَرُ النَّکِيْرُ .**

(تِرْمِذِیْ شَرِيْفْ،کِتَابُ الْجَنَائِزْ،بَابُ مَاجَاءَ فِیْ عَذَابِ الْقَبْرِ، ص: ۲۵۸، نَمْبَرْ ۱۰۷۱)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي مَړئ په قَبْرْ کي کښېښُوَل سي، رَاوِيْ وائِي چي يايې دارنګه وَ فَرْمَائِلْ چي په تاسو کي يَو په قَبْرْ کي کښېښُوَل سي، نو په رنګ تُوْرِيْ

فَرِشْتي راسي چي شَني سَترگي يې وي، د هغه ځخه د يوې نُوْمْ مُنْكَرْ دئ، او د بَلِي نُوْمْ نَكِيْرْ .
په دغه حَدِيْثْ كي د مُنْكَرْ نَكِيْرْ فَرِشْتُوْ بَيَانْ راغلئ دئ .

## فَرِشْتي د اَللّٰهْ د فَرْمَانْ تَابعْدَارَهْ وي

دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي

**۸: بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَ ۙ لَا يَسْبِقُوْنَهٗ بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِاَمْرِهٖ يَعْمَلُوْنَ**
**(آيَتْ ۲۷،۲۶،سُوْرَةُ الْاَنْبِيَاءِ ۲۱)** .

**تَرْجَمَهْ:-** سُبْحَانَ اللّٰهْ! بلكه (فَرِشْتي خو د اَللّٰهْ) بَنْدَګَانْ دي چي عِزَّتْ وركول سوئ دئ ذُوي دهغه ځخه زِيَاتَهْ بَلَه خَبَرَهْ نَه كوي، او هغه دده پر حُكْمْ باندي عَمَلْ كوي

**۹: وَّالْمَلٰٓئِكَةُ وَهُمْ لَايَسْتَكْبِرُوْنَ يَخَافُوْنَ رَبَّهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَايُؤْمَرُوْنَ** السَّجْدَة **(آيَتْ ۵۰،سُوْرَةُ النَّحْلْ ۱۶)** .

**تَرْجَمَهْ:-** اوټُولِي فَرِشتي تَنْهَا اَللّٰهْ ته سَجْدَهْ كوي، او هغه هيڅ يَوَه ذَرَّهْ تَكَبُّرْ نَه كوي ذُوي دخپل هغه پَرْوَرْدِګَارْ ځخه بېرېږي كُوم چي پر ذُوي لُوړ دئ، او هغه كار كوي كُوم چي ذُوي ته حُكْمْ وَركول كيږي

په دغه آيَتُوْ كي وَيَل سوي دي چي فَرِشْتي نَافَرْمَانِيْ نَه كوي بلكه صِرف د اَللّٰهْ پر حُكْمْ باندي رَوَانْ وي، بَس دغه د ذُوي فِطْرَتْ دئ .

زُمُوږ دا عَقِيْدَهْ ده چي اِنْسَانْ تر فَرِشْتُوْ اَفْضَلْ دئ، او حُضُوْرْ (ﷺ) خو تر ټولو فَرِشْتُوْ، تر ټولو اَنْبِيَاءُ او تر ټولو رَسُوْلَانُوْ هم اَفْضَلْ دئ، او د اَللّٰهْ ځخه وروسته د حُضُوْرْ (ﷺ) مَقَامْ و مَرْتَبَهْ تر ټولو غَټَّهْ ده .
ددې تَفْصِيْلْ د نُوْرْ و بَشَرْ په عُنْوَانْ كي تاسو مُلَاحَظَهْ كئ .

## ۲۲: د جِنَّاتُ (پيرَانَانُوْ) بَيَانْ

ددغه عَقِيدې په اړه ۸ آيَتُوْنَهْ او ۲ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ كئ .

د آیَتْ څخه مَعلُومیږي چي تر اِنْسَانَانُوْ مَخکِي اَللّٰهْ تَعَالٰی جنَّاتْ پَیدَا کړي وُو، لیکن د مَصْلَحَتْ لکبله وروسته اَللّٰهْ تَعَالٰی اِنْسَانْ پَیدَا کړ، او دده په ذَرِیْعَهْ سره یې مځکه اَبَادَ کړه .

## جنَّاتْ یې د اُوْرْ څخه پَیدَا کړي دي

دَلِیْلْ یې دغه آیَتْ دئ

١: وَالْجَآنَّ خَلَقْنٰهُ مِنْ قَبْلُ مِنْ نَّارِ السَّمُوْمِ (آیَتْ ۲۷،سُوْرَةُ الْحِجْرْ ۱۵) .

تَرْجَمَهْ:- او پیرانَانْ مُوږ ددې څخه مخکي د اُوْرْ د لَمبې څخه پَیدَا کړئ وُو

۲: وَخَلَقَ الْجَآنَّ مِنْ مَّارِجٍ مِّنْ نَّارٍ ج (آیَتْ ۱۵،سُوْرَةُ الرَّحْمٰنْ ۵۵) .

تَرْجَمَهْ:- او پیْرَانَانْ یې د اُوْرْ د تَاؤ (لَمْبې) څخه پَیدَا کړل

په دغه آیَتْ کي دئ چي جنَّاتْ (پیرَانَانْ) یې د اُوْرْ څخه پَیدَا کړي دي .

## اِنْسَانْ یې د خَاوَرُوْ څخه پَیدَا کړئ دئ

دَلِیْلْ یې دغه آیَتْ دئ

۳: هُوَ الَّذِیْ خَلَقَکُمْ مِّنْ طِیْنٍ ثُمَّ قَضٰۤی اَجَلًا ط (آیَتْ ۲،سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ۶) .

تَرْجَمَهْ:- هغه ذَاتْ دئ چي تاسو یې د نَوْدی خَتِیْ څخه پیدا کړي یاست، بیایې (ستاسو د ژُوَنْدْ) یَو مِیْعَادْ مُقَرَّرْ کړئ .

۴: وَاللهُ خَلَقَکُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ جَعَلَکُمْ اَزْوَاجًا ط

(آیَتْ ۱۱،سُوْرَةُ فَاطِرْ ۳۵) .

تَرْجَمَهْ:- او اَللّٰهْ تاسو د خَاوَرُوْ څخه پَیدَا کړي یاست، بیا یې د نُطْفې څخه، بیا یې تاسو جُوْړې جُوْړې کړي یاست .

په دغه آیَتْ کي هم دئ چي اِنْسَانْ یې د خَاوَرُوْ څخه پَیدَا کړئ دئ .

## بَعض جنَّاتْ نیکْ عَمَلْ او بَعض بَدْ عَمَلْ وي

په جنَّاتُوْ کي بعض نیَکْ عَمَلْ کونکي هم وي، او بعض بَدْ عَمَلْ هم وي، لیکن د دُوي خو پَیْدَائِشْ د اُوْرْ څخه سوئ دئ، نو ځکه نیَکْ یې لَږْ او بَدْ یې ډیر وي

دا چي په جنَّاتُوْ کي نیَکْ عَمَلْ هم سته دهغه دَلِیْلْ دغه آیَتْ دئ

**۵: قُلْ اُوْحِیَ اِلَیَّ اَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ فَقَالُوْٓا اِنَّا سَمِعْنَا قُرْاٰنًا عَجَبًا ۙ يَّهْدِیْٓ اِلَی الرُّشْدِ فَاٰمَنَّا بِه ؕ وَلَنْ نُّشْرِكَ بِرَبِّنَآ اَحَدًا ۙ** (**اٰيَتْ ۲،۱، سُوْرَةُ الْجِنْ ۷۲**) .

**تَرْجَمَهْ**:- (ائ **پيْغَمْبَرَهْ!**) **وَوَايَهْ**:,, **مَا** ته **وَحْي** رَاغَلِي دي چي د پيرانانو يَوې ډَلِي (**قُرْآنْ**) په **غَوْرْ** سره وَاوْرېدَئ، او (**وُلَاړُوْ** خپل) **قَوْمْ** ته وويل چي:,, مُونږ يو **عَجِيْبْ قُرْآنْ** اَورېدَلَئ دئ، چي **سِيدَهْ لَارَهْ** ته **رهْنَمَايِيْ** کوي، نو ځکه مُونږ پر هغه **اِيْمَانْ** رَاوْړَئ دئ، او د خپل **پَرْوَرْدِگَارَهْ** سره هيڅ څوک په **عِبَادَتْ** کي **شَرِيْکْ** نه مَنُو.

په دغه **آيَتْ** کي دئ چي بعضو **جِنَّاتُوْ اِيْمَانْ** رَاوړئ .

**جِنَّاتْ** او **اِنْسَانَانْ** د **اَللّٰهْ** د **عِبَادَتْ** لپاره پَيدَا سوي دي .

**۶: وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ** (**اٰيَتْ ۵۶، سُوْرَةُ الذّٰرِيٰتْ ۵۱**) .

**تَرْجَمَهْ**:- او **مَا پيرَانَانْ** او **اِنْسَانَانْ** ددې **بَغَيْرَهْ** د **بَلْ** هيڅ کار لپاره نه دي پَيدَا کړي چي دُوي به **زَمَا عِبَادَتْ** کوي.

## **جِنَّاتْ** خو **اِنْسَانَانْ پريشَانَ** کوي لېکن دُومره هم نَه لکه څومره چي **نَنْ سبَا** په دي کي **غُلُوَ** (**زيَاتُوْبْ**) **رَوَانْ** دئ

**دَلِيْلْ** يې دغه **حَدِيْثُوْنَهْ** دي

**۱: عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِیِّ** (ﷺ) **قَالَ اِنَّ عِفْرِيْتًا مِّنَ الْجِنِّ تَفَلَّتْ عَلَیَّ الْبَارِحَةَ، اَوْ كَلِمَةً نَحْوَهَا لِيَقْطَعَ عَلَیَّ الصَّلٰوةَ، فَاَمْكَنَنِیَ اللّٰهُ مِنْهُ** .

(**بُخَارِیْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الصَّلٰوةْ، بَابُ الْاَسِيْرِ اَوِ الْغَرِيْمِ يَرْبِطُ فِی الْمَسْجِدِ، ص: ۸۰، نَمْبَرْ ۴۶۱ / مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْمَسَاجِدْ، بَابُ جَوَازِ لَعْنِ الشَّيْطٰنِ فِیْ اِثْنَاءِ الصَّلٰوةِ وَالتَّعَوُّذِ مِنْهُ، ص: ۲۲۰، نَمْبَرْ ۵۱، ۱۲۰۹**)

**تَرْجَمَهْ**:- **حُضُوْرْ** (ﷺ) وَ **فَرْمَائِلْ** چي **پَرُوْنْ** شپه يَوه **شَرَارَتِيْ جِنْ** پر **مَا** باندي **حَمْلَهْ** وکړه چي **زَمَا لُمُوْنَځْ** رَا **خَرَابْ** کي، لېکن **اَللّٰهْ تَعَالٰي مَا** ته دهغه د نِيوُلُو **قُدْرَتْ** رَاکئ .

ددې **حَدِيْثْ** څخه **مَعْلُوْمْ** سو چي **جِنَّاتْ اِنْسَانْ پريشَانَ** کوي .

**۲: عَنْ اَبِیْ عُثْمَانَ قَالَ اَتَتْ اِمْرَاَةٌ عُمَرَ بن الْخَطَّابِ، قَالَتْ اِسْتَهْوَتِ الْجِنُّ زَوْجَهَا فَاَمَرَهَا اَنْ تَتَرَبَّصَ اَرْبَعَ سِنِيْنَ** .

(**دَارِ قُطْنِیْ،كِتَابُ النِّكَاحْ، بَابُ الْمَهْرِ، ج: ۳، ص: ۲۱۷، نَمْبَرْ ۳۸۰۳/ ۳۸۴۸**)

**تَرْجَمَهْ**:- يَوه ښځه **عُمَرْ بِنْ خَطَّابْ** ته راغله چي **مېړَهْ** يې **پيرَانَانُوْ** وُړئ وُو، نو حضرت **عُمَرْ** هغه ښځي ته څلور **مِيَاشْتِيْ** د **عِدَّتْ** تېرولو **حُکْمْ** وَرکئ .

ددغه اَثَرْ (قَوْلِ صَحَابِیْ) څخه مَعْلُوْمْ سو چي پیرَانَـانْ اِنْسَـانْ پُورتَـه کـولائي سي، او بَل مَقَامْ ته بېوَلائي سي .
ددغه اَحَادِیْثُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي جِنَّاتْ هم اِنْسَانْ پرېشَانَ کوي .

## د جِنَّاتُ د تیکَهْ دَارَانُوْ څخه هُوْښیَارَ وسېږئ

لېکن نَنْ سَبَا دارنګه حَالَتْ دئ چي عُمُوْمًا تَعْوِیْذْ کـونکي او کُـوم چـي جِنَّـاتْ لیري کوي هغه لَاعِلْمَ او جَاهِلَانْ وي، هغوي د خپلو اُسْتَاذَانُوْ څخه تَعْوِیْذُوْنَـهْ دُومرَه نَه وي اِزْدَهْ کړي لکه مَکَّارِیْ او چَالَاکِیْ چـي يې اِزْدَهْ کـړې وي، نـو ځکه چي کُـوم تَعْوِیْذْ کونکي ته وَرسې هغـه دارنګـه دَرْمِیَانَـهْ دَرْمِیَانَـهْ خَبَـرِیْ کوي، مَثْلًا دا درته وائي چي تَا ته نِژدې خلکو پر تَـا بانـدي جَادُوْ کـړئ دئ، پر تَا باندي د جِنَّاتُوْ اَثَرْ دئ، یعني جِنَّاتْ هم سته او هم نَسته .
اُوس ده تَـا تـه تَعْوِیْـذْ دَرکـئ او دُوې مِیَاشـتِي تېـري سـوې د تَعْوِیْـذْ هیڅ اَثَـرْ ښکاره نَه سو او تَه دُوَهَمْ وَارْ بیا هغه ته وَرغَلـې، نـو وائـي چـي مَـا خـو دُوَه جِنَّاتْ وَیاستَل، اُوس دهغه د خَانْدَانْ پِنځُو جِنَّاتُ پر تَا بانـدي دُوَهَـمْ وَارْ حَمْلَـهْ کړې ده، اُوس ددې د اِیستَلُو لپاره دُوې مِیَاشْتِیْ وَخْتْ غُـوَاړي، او پِنځـه زَرَهْ [۵۰۰۰] رُوپَئ نـوري لګېږي، بَـس پـه دغـه رنګـه پـه مِیَاشْـتُوْ مِیَاشْـتُوْ دئ خپلي رُوپَئ کشَوِي، او عَوَامْ پرېشَانَ وي او هیڅ فَائِدَهْ هم نَه وي، دارنګه هم سـوي دي چـي تَعْوِیْـذْ ګرَانُـوْ د مَـرِیْضْ پـه زَرَهْ کـي دُومـرَه خَـوْفْ او بېـره وَاروَاچوِي، چي په ډېر وَخْتْ هغه بېره دده د زَرَهْ څخه نَه وُزِي، لِهٰذَا د دغـه رنګه تَعْوِیْذْ ګرَانُوْ څخه ځانونَه ګُورَئ .

## شَیْطَانْ هم د اُوْرْ څخه پَیدَا دئ

شَیْطَانْ هم د جِنَّاتُوْ (پیرَانَانُوْ) د خَانْدَانْ څخه دئ او هغه يـې هـم د اُوْرْ څخـه پَیدَا کړئ دئ، اَلْبَتَّهْ د ډېر عِبَادَتْ کولو لکبله دئ د فَرِشْتُوْ و صَفْ (مَابَیْنْ) ته راغلئ وُو، او چي کله وَ فَرِشْتُوْ ته د سَجْدَهْ کولو حُکْمْ وسو نو د شَیْطَانْ هـم دا خِیَالْ سو چي مَا ته هم دغه حُکْمْ دئ، لېکن ده سَجْدَهْ وَ نَه کړه، او دا دَلِیْـلْ يې وُړاندي کئ چي زِمَـا پَیدَائِش د اُوْرْ څخـه دئ، او زِمَـا دَرجَـهْ او مَقَـامْ تـر اِنْسَانْ زِیَاتْ دئ، نو ځکه زَهْ وَ اِنْسَانْ ته سَجْدَهْ نَه کوم .
دَلِیْلْ يې دغه آیَتْ دئ

۷: قَالَ مَا مَنَعَكَ اَ لَّا تَسْجُدَ اِذْ اَمَرْتُكَ ط قَالَ اَنَا خَیْرٌ مِّنْهُ ج خَلَقْتَنِیْ مِنْ نَّارٍ وَّخَلَقْتَه مِنْ طِیْنٍ (آیَتْ ۱۲، سُوْرَةُ الْاَعْرَافْ ۷) .

تَرْجَمَهْ:- اَللهْ وَ فَرْمَائِلْ:,, چي كله مَا تَا ته حُكْمْ کړئ وُ نو ته د سَجْدَهْ کولو څخه کُوم شِي مَنْعَ کړې؟,, ده وويل:,, زَهْ تر ده بِهْتَرْ يَم، تَا زَهْ د اُوْرْ څخه پيدا کړئ يَم، او دئ (آدَمْ) دي د خَاوْرُوْ څخه پيدا کړئ ,, [redacted]
په دغه آيَتْ كي دئ چي د شَيْطَانْ پَيدَائِش د اُوْرْ څخه دئ، وروسته يې دئ د همېشه لپاره وَشَاړَئ .

# اِنْسَانْ بيا شَيْطَانْ او دهغه قَبِيْلَهْ نَه سي لِيدَلائي

دَلِيْلْ يې دغه آيَتْ دئ
۸: اِنَّه يَرٰىكُمْ هُوَ وَقَبِيْلُه مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ ط (آيَتْ ۲۷، سُوْرَةُ الْاَعْرَافْ ۷) .
تَرْجَمَهْ:- دئ او دده ملګري دهغه ځايَه څخه تاسو وِينِي چي تاسو يې دهغه ځايَه څخه نَه وينئ .
په دغه آيَتْ كي دئ چي مُوږ (يعني اِنْسَانْ) شَيْطَانْ نَه سو لِيدَلائي، لِهٰذَا ددغه څخه د ځان سَاتَلُو يُوْرَهْ کُوښَښ کول په كار دئ .

# ۲۳: حَشَرْ به قَائِمْ سي

ددغه عَقِيدې په اړه ۱۸ آيَتُوْنَهْ او ۲ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کئ .

د بعضو خلګو دا خِيَالْ دئ چي مُوږ مَړَه سو دهغه بَعْدْ په بَرْزَخْ كي بيا بَل ژُوَنْدْ نَستَه، او نَه به حِسَابْ و كِتَابْ وي، بلكه د مرګ وروسته به مُوږ خَاوْرِيْ سو او خَتْمْ به سو، د دَهْرِيَانُوْ او نَاسْتَكَانُوْ دغه عَقِيْدَهْ ده، اَللهْ تَعَالٰى فَرْمَائِلِيْ دي چي دغه رنګه نَه ده، بلكه د مرګ وروسته به بيا دُوَهَمْ وَارْ ژُوَنْدْ وي، هر كس به د قِيَامَتْ پر مَيْدَانْ د خپلو کړو اَعْمَالُ حِسَابْ وَركوِي، او بيا به دده لپاره يا جَنَّتْ وي، يا به دُوْزَخْ وي .
د حَشْرْ مَطْلَبْ دادئ چي اَللهْ تَعَالٰى به په قَبْرْ كي اِنْسَانْ ژُوَنْدَئْ كي، او بيا به د حَشْرْ وَ مَيْدَانْ ته وَرسَوِي، او هلته به حِسَابْ كيږي .
په دغه آيَتُوْ كي ددې ثُبُوْتْ ستَه
۱: يَّوْمَ يُنْفَخُ فِى الصُّوْرِ وَنَحْشُرُ الْمُجْرِمِيْنَ يَوْمَئِذٍ زُرْقًا[redacted] ج صلى

(آيَتْ ۱۰۲، سُوْرَةُ طٰهٰ ۲۰) .

تَرْجَمَهْ:- په كُومه وُرَځْ چي په صُوْرْ كي پُوْهْ كيږي، او په هغه وُرَځْ به مُوږ تول مُجْرِمَانْ رَاتينګ كړو دارنګه به سره جَمَعْ كړو چي ډُوي به شْنَهْ اَوښتي پراته وي،

۲: وَيَوْمَ نَحْشُرُ مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ فَوْجًا مِّمَّنْ يُّكَذِّبُ بِاٰيٰتِنَا فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ

(آيَتْ ۸۳، سُوْرَةُ النَّمْلْ ۲۷) .

تَرْجَمَهْ:- او هغه وُرَځْ مَه هېروئ چي مُوږ د هر اُمَّتْ څخه دهغه خلګو پُوره فَوْجْ رَاتينګ كړو رَايَوَلُو كُوم چي زُمُوږ د آيَتُوْ تَكْذِيْبْ به كاوئ، بيا به ډُوي جَمَاعَتُوْنَه جَمَاعَتُوْنَه كړو.

۳: وَ يَوْمَ نُسَيِّرُ الْجِبَالَ وَتَرَى الْاَرْضَ بَارِزَةً ۙ وَّحَشَرْنٰهُمْ فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ اَحَدًا ۚ وَعُرِضُوْا عَلٰى رَبِّكَ صَفًّا ۗ لَقَدْ جِئْتُمُوْنَا كَمَا خَلَقْنٰكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ ۢ بَلْ زَعَمْتُمْ اَلَّنْ نَّجْعَلَ لَكُمْ مَّوْعِدًا (آيَتْ ۴۷،۴۸، سُوْرَةُ الْكَهْفْ ۱۸) .

تَرْجَمَهْ:- او (هغه وُرَځْ په خِيَالْ كي وَساتئ) په كُومه وُرَځْ چي مُوږ غُرُوْنَه رَوَانْ كړو، او ته به مځكه وَويني چي هغه خَلَاسَهْ (ښكاره) پَرَته ده، او مُوږ به ډُوي تول رَاګير كړو يَوځائ به جَمَعْ كړو، او د ډُوي څخه به يَو هم نَه پرېږدو او تول به ستا د رَبْ په حُضُورکي صَفْ تَرِي پيش كړو، آخِر تاسو مُوږ ته دغه رنګه راغلاست لكه څنګه چي مُوږ لُومړئ وَارْ تاسوپَيدَا كړي وَاست، ددي بَرعَكْسْ ستاسو دا دَعْوَهْ وه چي مُوږ ستاسو لپاره (دغه) مُقَرَّرْ وَخت (مَحْشَرْ) هيڅ كله نَه رَاوَلُو

## مَړي (مُرْدَهْ ګانْ) به دُوَبَارَهْ ژُوَنْدِيْ كړي

مُرْدَهْ ګانْ به دُوَهَمْ وَارْ بيا رَا ژُوَنْدِيْ كړي، د قِيَامَتْ وَ مَيْدَانْ ته به بُوزِي، او هلته به د ډُوي څخه حِسَابْ اَخستَل كيږي، دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي

۴: ثُمَّ اِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ تُبْعَثُوْنَ (آيَتْ ۱۶، سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْنْ ۲۳) .

تَرْجَمَهْ:- بيا به د قِيَامَتْ په وُرَځْ تاسو يَقِيْنًا دُوَهَمْ وَارْ ژُوَندي كيږئ

۵: وَ اَنَّهٗ يُحْيِ الْمَوْتٰى وَ اَنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۙ (آيَتْ ۶، سُوْرَةُ الْحَجْ ۲۲) .

تَرْجَمَهْ:- او هغه په مړو (مُرْدَهْ ګانُ) كي رُوْحْ اَچوِي، او هغه پر هر څَه قَادِرْ دئ

۶: وَ هُوَ يُحْيِ الْمَوْتٰى وَ هُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۙ (آيَتْ ۹، سُوْرَةُ الشُّوْرٰى ۴۲) .

تَرْجَمَهْ:- او هغه مَړي (مُرْدَهْ ګانْ) ژُوَنْدِيْ كوي ، او هغه پر هر څَه قُدْرَتْ لري

۷: قَالَ مَنْ يُّحْيِ الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيْمٌ قُلْ يُحْيِيْهَا الَّذِيْٓ اَنْشَاَهَآ اَوَّلَ مَرَّةٍ ۗ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيْمُنِ ۙ (آيَتْ ۷۸/ ۷۹ سُوْرَةُ يٰسٓ ۳۶) .

**تَرْجَمَهْ**:- وائي چي:,, دغه **هَڈُوْكُوْ** ته به څوک **ژُوَنْدْ** وَركوِي سره ددې چي هغه **هيرى هيرى** سوي وي؟,, **وَوَايَهْ** چي:,, دغه ته به **ژُوَنْدْ** هغه (**ذَاتْ**) وركوي كُوم چـي **اَوَّلْ وَارْ** يې ډُوي پيدَا كړي وُو، او هغه د پيدَا كولو په هر كار پُوهيږي،

په دغه **آيَتُوْ** كي دئ چي مړي به **دُوْبَارَهْ** **ژُوَنْدِيْ** كوي .

# **اَللّٰهْ** به د **مَحْشَرْ** **مَالِكْ** وي

**۸**: **مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ** (**آيَتْ ۳**، **سُوْرَةُ الْفَاتِحَهْ ۱**) .

**تَرْجَمَهْ**:- چي د **بَدْلي** د **وُرَځِيْ** **مَالِكْ** دئ (يعني د **مَيْدَانِ** **مَحْشَرْ** **مَالِكْ** دئ) .

**۹**: **لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ** ط **لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ** (**آيَتْ ۱۶**، **سُوْرَةُ الْمُؤْمِنْ ۴۰**) .

**تَرْجَمَهْ**:- (وَبَه وَيَل سي:),, د چَا **بَاچَهِيْ** ده **نَنْ**؟,, (**جَوَابْ** به يَو وي چي:),, صِرف د **اَللّٰهْ** چي **وَاحِدْ** و **قَهَّارْ** دئ.,,

په دغه **آيَتُوْ** كي دئ چي **اَللّٰهْ** د **مَحْشَرْ** د **وُرَځِيْ** **مَالِكْ** دئ، بَل **مَالِكْ** به نَه وي .

# په **مَحْشَرْ** به د هر چَا سره **حِسَابْ** كيږي

د **حْشَرْګاهْ** پر **مَيْدَانْ** به **پُوْرَهْ** **پُوْرَهْ** **حِسَابْ** كيږي، او په **ژُوَنْدْ** كي چې هر څومره **خَيْرْ** و **شَرْ** كړئ وي دهغه ټولو **اَعْمَالْ** **نَامَهْ** به د **اِنْسَانْ** وَ مَختَه وُړَاندِي سي، او د ټولو **حِسَابْ** به كيږي، څوک چي په **حِسَابْ** كي **كامِيَابْ** سي، **اَللّٰهْ** **تَعَالٰي** به هغه ته **جَنَّتْ** وَركي، څوک چي **نَاكامَ** سي، **اَللّٰهْ** **تَعَالٰي** به هغه په **جَهَنَّمْ** كي وَاچَوِي .

**لِهٰذَا** **اِنْسَانْ** دي په هيڅ **وَخْتْ** دا **فِكْرْ** نَه كوي چي **زَمَا** سره به **حِسَابْ** نَه كيږي، دا دده **غَلَطْ** **فِكْرِيْ** او **غَلَطْ** **فَهْمِيْ** ده

**دَلِيْلْ** يې دغه **آيَتُوْنَهْ** دي

**۱۰**: **وَوُضِعَ الْكِتٰبُ فَتَرَى الْمُجْرِمِيْنَ مُشْفِقِيْنَ مِمَّا فِيْهِ وَيَقُوْلُوْنَ يٰوَيْلَتَنَا مَالِ هٰذَا الْكِتٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيْرَةً وَّلَا كَبِيْرَةً اِلَّآ اَحْصٰهَا** ج **وَوَجَدُوْا مَا عَمِلُوْا حَاضِرًا** ط **وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ اَحَدًا** (**آيَتْ ۴۹**، **سُوْرَةُ الْكَهْفْ ۱۸**) .

**تَرْجَمَهْ**:- او (د **اَعْمَالْ**) **كِتَابْ** به مختَه كښيښوُل سي، نوتَه به **مُجْرِمَانْ** وَوِيني چي هغه د دې د **مَنْدَرجَاتُوْ** (ليكل سوو شِيَانُو) څخه په بيره كـي دي، او وَائِـي چـي:,, **هَـائِ** زُمُـوږ **بَرْبَادَيْ**! دا څنګه **كِتَابْ** دئ چي زُمُوږ يَو **كِشْنَيْ** او **غَتْ** **عَمَلْ** يې دارنګه نَه دئ پريښـئ

چي دهغه **يُوْرَهْ اِحَاطَهْ** يې نه وي کړې,, او ډُوي به خپلي ټولي کړي کارنامې خپل مخته **مَوْجُوْدَ** وَمُوندي، او ستا **پَرْوَرْدِګَارْ** به پر هيڅ چا باندي هيڅ ډَول **ظُلْمْ** نَه وکړي

**۱۱: فَاَمَّا مَنْ اُوْتِیَ كِتٰبَه بِيَمِيْنِه فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَّسِيْرًا** (آيَتْ ۷/ ۸، سُوْرَةُ الْاِنْشِقَاقْ ۸۴) .

**تَرْجَمَهْ:-** بيا چي کُوم چَا ته دده **عَمَلْ نَامَهْ** دده په **ښِيْ لَاسْ** ورکول سي، دهغه څخه خو به **اَسَانْ حِسَابْ** اَخستَل کيږي،

**۱۲: اِقْرَاْ كِتٰبَكَ** ط **كَفٰى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيْبًا** (آيَتْ ۱۴، سُوْرَةُ بَنِیْ اِسْرَائِيْلْ ۱۷)

**تَرْجَمَهْ:-** (ده ته به وويل سي چي) ځَه اُوس نو خپله **اَعْمَالْ نَامَهْ** وَوَايَه! **نَنْ** تَه په خپله دخپل **حِسَابْ** اَخستَلُو لپاره **کافِيْ** يې

**۱۳: لِيَجْزِیَ اللهُ كُلَّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ** ط **اِنَّ اللهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ** (آيَتْ ۵۱، سُوْرَةُ اِبْرَاهِيْمْ ۱۴) .

**تَرْجَمَهْ:-** چي **اَللّٰهْ** و هر سړي (**اِنْسَانْ**) ته دهغه د کړو (**اَعْمَالُوْ**) **بَدْلَهْ** ورکړي، **يَقِيْنًا اَللّٰهْ** ډېر **ژَرْ حِسَابْ** برابرونکئ دئ

**۱۴: وَ اِنْ تُبْدُوْا مَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللهُ** ط (آيَتْ ۲۸۴، سُوْرَةُ الْبَقَرَهْ ۲) .

**تَرْجَمَهْ:-** چي څَه په آسمانو کي دي او چي څَه په مځکو کي دي ټول خَالِص د **اَللّٰهْ** دي، او کُومِي **خَبَرِيْ** چي ستاسو په **زُرُوْ** کي دي، که تاسو هغه ښکاره کړئ يا يې پټِې کړئ، **اَللّٰهْ** به ستاسو څخه د هغه **حِسَابْ** اَخلِي .

په دغه ټولو **آيَتُوْ** کي دئ چي **اَللّٰهْ** به د **قِيَامَتْ** په **وُرَځْ حِسَابْ** اَخلِي .

## د **قِيَامَتْ** په **وُرَځْ** به په خپل **لَاسْ عَمَلْ نَامَهْ** وَرکوَل کيږي

د **قِيَامَتْ** په **وُرَځْ عَمَلْ نَامَهْ** وَرکوَل کيږي، کُوم چي **ښَنَهْ** خلک وي او **جَنَّتِيَانْ** وي، هغوي ته به په **ښِيْ لَاسْ عَمَلْ نَامَهْ** وَرکوَل کيږي، او چي کُوم **دُوْزَخِيَانْ** وي دهغوي په **کِڼْ لَاسْ** به **عَمَلْ نَامَهْ** وَرکوَل سي

**دَلِيْلْ** يې دغه **آيَتُوْنَهْ** دي

**۱۵: فَاَمَّا مَنْ اُوْتِیَ كِتٰبَه بِيَمِيْنِه فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَّسِيْرًا وَّيَنْقَلِبُ اِلٰى اَهْلِه مَسْرُوْرًا** ط **وَ اَمَّا مَنْ اُوْتِیَ كِتٰبَه وَرَآءَ ظَهْرِه فَسَوْفَ يَدْعُوْا ثُبُوْرًا** (آيَتْ ۸/ ۹/ ۱۰/ ۱۱/ ۱۲، سُوْرَةُ الْاِنْشِقَاقْ ۸۴) .

**تَرْجَمَهْ:-** بيا چي کُوم چَا ته دده **عَمَلْ نَامَهْ** دده په **ښِيْ لَاسْ** ورکول سي، دهغه **حِسَابْ** خو به **اَسَانْ** اَخستَل کيږي، او دئ به خپلي **کُورَنِيْ** ته په **خُوْشحَالِيْ**

خُوْشْحَالِيْ بېرته راسي، لېکن هغه څوک چي هغه ته دده عَمَلْ نَامَهْ دده مَلَا د شَا لَخْوَا ورکول کېږي، هغه به مرګ رَابُولِي،

**۱۶: فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَه بِيَمِيْنِه لا فَيَقُوْلُ هَآؤُمُ اقْرَءُوْا كِتٰبِيَهْ ج**
**(آيَتْ ۱۹، سُوْرَةُ الْحَآقَّهْ ۶۹) .**

**تَرْجَمَهْ:-** بيا چي کُوم يَوه ته دهغه اَعْمَالْ نَامَهْ دده په ښي لَاسْ کي وَرکوَل سي، هغه به ووائي چي: ,, خلګو! وګورئ! دا زَمَا اَعْمَالْ نَامَهْ وواياست،

**۱۷: وَ اَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَه بِشِمَالِه لا فَيَقُوْلُ يٰلَيْتَنِيْ لَمْ اُوْتَ كِتٰبِيَهْ ج**
**(آيَتْ ۲۵، سُوْرَةُ الْحَآقَّهْ ۶۹) .**

**تَرْجَمَهْ:-** بيا پاته سو هغه سړئ چي اَعْمَالْ نَامَهْ دهغه په کِڼ لَاسْ ورکول سي، نو هغه به ووائي چي: ,, هَائ کاش! مَا ته زَمَا اَعْمَالْ نَامَهْ رَاکوَل سوې هم نَه واي،

په دغه آيَتُوْ کي دئ چي د قِيَامَتْ په وُرَځْ به اَعْمَالْ نَامَهْ په لَاسْ وَرکوَل کېږي .

# پُلِ صِرَاطْ به قَائِمْ کړي

د مَحْشَرْ په مَيْدَانْ کي به پُلِ صِرَاطْ قَائِمْ کړي، او خلګ به پر هغه تېرېږي، چي کُوم ښَهْ خلګ وي هغه به لُوړ پر هغه تېر سي، او جَنَّتْ ته به وَرسېږي، او چي کُوم بَدْ خلګ وي هغه به پر دغه نَه سي تېرېدلائي او په دُوْزَخْ کي به پَلَه سي .

دَلِيْلْ يې دغه آيَتْ او حَدِيْثُوْنَهْ دي

**۱۸: وَ اِنْ مِّنْكُمْ اِلَّا وَارِدُهَا . (آيَتْ ۷۱، سُوْرَةُ مَرْيَمْ ۱۹) .**

**تَرْجَمَهْ:-** او په تاسو کي يَو هم دارنګه نَستَه چي پر پُلِ صِرَاطْ رَاتېر نَه سي .

**۱: اَنَّ اَبَاهُرَيْرَةَ اَخْبَرَهُمَا ..... وَيُضْرَبُ الصِّرَاطُ بَيْنَ ظَهْرَانَيْ جَهَنَّمَ، فَاَكُوْنُ اَوَّلَ مَنْ يَّجُوْزُ مِنَ الرُّسُلِ بِاُمَّتِه .**

**(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْاَذَانْ،بَابُ فَضْلِ السُّجُوْدِ، ص: ۱۳۰، نَمْبَرْ ۸۰۶)**

**تَرْجَمَهْ:-** حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- د جَهَنَّمْ پر شَا (مَلَا) به پُلِ صِرَاطْ وَدرَوَل (قَائِمْ) سي، او زَهْ به د رَسُوْلَانُوْ څخه تر ټولو اَوَّلْ يَم، چي د خپل اُمَّتْ سره به پر دغه باندي تېرېږم .

**۲: عَنِ الْمُغِيْرَةَ بِنِ شُعْبَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) شِعَارُ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلَى الصِّرَاطِ رَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ .**

(تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ صِفَةِ الْقِيٰمَةِ، بَابُ مَاجَاءَ فِيْ شَاْنِ الصِّرَاطِ، ص: ۵۵۴، نَمْبَرْ ۲۴۳۲)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ:- پر پُلِ صِراطْ به د مُؤْمِنْ شِعَارْ رَبْ سَلَامْ سَلَامْ وي .
ددغه آيَتْ او دواړ حَدِيْثُوْ ښخه مَعْلُوْمْ سو چي پُلِ صِرَاطْ به پر جَهَنَّمْ باندي قَائِمْ کړي .

## ۲۴: مِيْزَانْ هم حَقْ دئ

ددغه عَقِيدې په اړه ۱۲ آيَتُوْنَهْ او ۲ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کئ .

اَللّٰهْ تَعَالٰى به د قِيَامَتْ په وُرَځْ د اَعْمَالُ د تَلَلُو لپاره مِيْزَانْ يعني تَرَازُوْ قَائِمْ کړي.
د اَعْمَالُ د تَلَلُو مِيْزَانْ به ښنګه وي؟ ددې تَفْصِيْلْ نَه دئ مَعْلُوْمْ، دا صِرف وَ اَللّٰهْ تَعَالٰى ته مَعْلُوْمْ دئ، لېکن د قُرْآنْ و حَدِيْثْ ښخه صِرف دا مَعْلُوْمْ دئ چي د قِيَامَتْ په وُرَځْ به د اَعْمَالُ د تَلَلُو لپاره مِيْزَانْ او تَرَازُوْ وي .
په تېره زَمَانَهْ کي فَلْسَفِيَانُوْ دا اِعْتِرَاضْ کړئ وُو چي اَعْمَالْ خو جِسْمْ (بَدَنْ) نَه لري، دا خو عَرَضْ دئ نو دا به ښنګه تَلَل کېږي؟ لېکن په مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ کي تَبَّهْ او د زَرَهْ حَرَکَتْ هم تَلَل کېږي، او تر نَرَمْ لَا هم نَرَمْ شَئ تَلَل کېږي، لکه هَوَا، ګرْمِيْ، او يَخْنِيْ تَلَل کېږي، نو ځکه په مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ کي دغه اِعْتِرَاضْ نَه سي کېدلائي .

دا چي په مِيْزَانْ کي به اَعْمَالْ تَلَل کېږي، دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي
۱: وَ نَضَعُ الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا ؕ وَ اِنْ کَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ اَتَيْنَا بِهَا ؕ وَكَفٰى بِنَا حٰسِبِيْنَ (آيَتْ ۴۷، سُوْرَةُ الْاَنْبِيَاءْ ۲۱) .
تَرْجَمَهْ:- او مُوږ به د قِيَامَتْ په وُرَځْ دارنګه تَرَازُوْ رَاوړو کښې به اِږدُو چي هغه به مُکَمَّلْ اِنْصَافْ وي، نو ځکه پر هيڅ چَا به هيڅ ډَوَل ظُلْمْ نَه کېږي، او که د سُپَلَنِيْ برابر يو عَمَلْ هم وي، نو مُوږ به هغه مَخ تـه رَاوړو، او د حِسَابْ اَخستَلُو لپاره مُوږ کَافِيْ يُو .

۲: وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذِنِ الْحَقُّ ج فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُه فَأُولٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُه فَأُوْلٰئِكَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ بِمَا كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَظْلِمُوْنَ
(آيَتْ ۸/ ۹، سُوْرَةُ الْاَعْرَافْ ۷) .

تَرْجَمَهْ:- او په هغه وُرَځْ (د اَعْمَالُ) وَزَنْ كېدل خو يو اَتَلْ حَقِيْقَتْ دئ، نو د کُوم چا د تَرَازُوْ پَلّي چي دَرَنِيْ سي، هغه به کامیابي ومونډي او د کُوم چا چي د تَرَازُوْ پَلّي سُپَکِي سي، هغه خلک دي چي زُمُوږ د آيتو سره د زِيَادَتئ کولو په وجه خپل ځانونـه د تَاوَانْ كَنْدِيْ ته غُورزَوَلِي دي
په دغه آيَتُوْ کي د مِيْزَانْ يعني تَرَازُوْ بَيَانْ سوئ دئ .

۱: عَنْ عَائِشَةَ اَنَّهَا ذَكَرَتِ النَّارَ فَبَكَتْ ..... فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) اَمَّا فِيْ ثَلَاثَةِ مَوَاطِنَ فَلَايُذْكَرُ اَحَدُ، اَحَدًا عِنْدَ الْمِيْزَانِ حَتّٰى يَعْلَمَ اَيَخُفَّ مِيْزَانُـهُ اَوْ يَثْقُلَ .
(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ، بَابٌ فِيْ ذِكْرِ الْمِيْزَانِ، ص: ۶۷۲، نَمْبَرْ ۴۷۵۵)

تَرْجَمَهْ:- د حضرت عَائِشَهْ ښځه رِوَايَتْ دئ چي دي د جَهَنَّمْ بَيَانْ وکـئ نو دا پـه ژَړَا سوه ..... حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- پر دُرُوْ مَوَاقِعُ (ځايُو) باندي بـه هيڅ څوک بَل څوک نَه يَادَوِي، يَو د تَرَازُوْ پر وَخْتْ، تر څو چي دا وَرتـه مَعْلُوْمْ سي چي، دده وَزَنْ سُپَکْ سوئ دئ يا دُرُوْنْدْ (وَزْنِيْ) سوئ دئ .
په دغه حَدِيْثْ کي د مِيْزَانْ او د اَعْمَالُ د وَزَنْ بَيَانْ سوئ دئ .

## ۲۵: اَللّٰهْ جَنَّتْ پَيدَا کړئ دئ

مَخکي خو ځَه نَا ځَه اِخْتِلَافْ وُو چي جَنَّتْ او جَهَنَّمْ يې اُوس پَيدَا کړي دي که نَه دي پَيدَا کـړي، او د بعضـو خلګو دا نَظَرْ وُو چـي جَنَّتْ او جَهَنَّمْ يې تـر اُوسَه پُورِي نَه دي پَيدَا کړي، بلکه د مَحْشَرْ وروستـه بـه پَيدَا کـي ځکـه چـي اُوس دهغه ضرورت هم نَستَه، لېکن چي د قُرْآنْ و آيَتُوْ تـه وَګُورِې نـو دا مَعلُومېږي چي اَللّٰهْ تَعَالٰى جَنَّتْ او جَهَنَّمْ پَيدَا کړي دي

د جَنَّتْ د پَيدَا کولو دَلِيْلْ دغه آيَتُوْنَه دي
۱: وَ جَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ لا اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ لا (آيَتْ ۱۳۳،سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳)

تَرْجَمَهْ:- او د جَنَّتْ د حَاصِلَوْلُوْ لپاره يَوْ تر بَلْ مَختَه کېدو کُوښښ وکئ چي يُسُوْرْ يي دُومره دئ چي په هغه کي تېولَ آسمَانُوْنَهْ او مځکي ځايَدَلائي سي، چي د پَرْهېزْګَارَانُوْ لپاره تَيَّارْ سوئ دئ .

۲: اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ط (آيَتْ ۸۹، سُوْرَةُ التَّوْبَةْ ۹)

تَرْجَمَهْ:- اَللّٰهْ د دُوي لپاره هغه بَاغُوْنَهْ تَيَّارْ کړي دي چي تر هغه لاندِي کاريږونه بيږي، چي په هغه کي به دُوي همېشه وسېږي .

۳: وَ اَعَدَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِىْ تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ (آيَتْ ۹۰، سُوْرَةُ التَّوْبَةْ ۹)

تَرْجَمَهْ:- او اَللّٰهْ د دُوي لپاره دا رنګه بَاغَاتْ تَيَّارْ کړي دي چي تر هغه لاَندِي وَلي (وِيَالي) بَېيږي .

په دغه حَدِيْثْ کي هم راغلي دي

۱: عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِىِّ (ﷺ) يَقُوْلُ اللّٰهُ تَعَالٰى اَعْدَدْتُّ لِعِبَادِىَ الصَّالِحِيْنَ مَا لَا عَيْنٌ رَاَتْ. وَلَا اُذُنٌ سَمِعَتْ. وَلَا خَطَرَ عَلٰى قَلْبِ بَشَرٍ .

(بُخَارِىْ شَرِيْفْ، كِتَابُ التَّفْسِيْر، بَابُ سُوْرَةِ السَّجْدَةِ، ص: ۸۴۰، نَمْبَرْ ۴۷۸۰)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- اَللّٰهْ فَرْمَائي مَا د بَنُوْ خلکو لپاره دارنګه شَئ تَيَّارْ کړئ دئ، چي نه کُومي سْتَرْګي لِيدَلَئ دئ، نه کُوم غُوْږْ اَوريدَلَئ دئ، او نه د کُوم اِنْسَانْ پر زړَهْ باندي دغه خَبَرْ (دهغي تَصَوُّرْ/ خِيَالْ) هم تېر سوئ دئ .

په دغه آيَتُوْ او حَدِيْثْ کي د ,, اُعِدَّتْ ,, فِعْلِ مَاضِىْ صِيْغَهْ اِسْتِعْمَالْ سوې ده، ددې څخه مَعْلُوْمْ سو چي جَنَّتْ او جَهَنَّمْ پيدَا سوي دي .

## اَللّٰهْ جَهَنَّمْ پَيدَا کړئ دئ

۴: فَاتَّقُوْا النَّارَ الَّتِىْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ج صلي اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ (آيَتْ ۲۴، سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲)

تَرْجَمَهْ:- دهغه اُوْرْ (وُوْرْ) څخه وېرېږئ چي دهغه دبلېدو شِيَانْ (يَمْ/لَرْګيْ) به اِنْسَانَانْ او ډبَرِيْ وي، هغه د کَافِرَانُوْ لپاره تَيَّارْ سوئ دئ

۵: وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ وَ اَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ ط وَسَآءَتْ مَصِيْرًا (آيَتْ ۶، سُوْرَةُ الْفَتْحْ ۴۸)

تَرْجَمَهْ:- او اَللّٰهْ د دُوي څخه نَارَاضْ دئ، هغه دُوي د خپل رَحْمَتْ څخه ليرى کړي دي، او د دُوي لپاره دُوْزَخْ تَيَّارْ کړئ دئ، او هغه ډېر بَدْ ځائ دئ.

**۶**: **وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْٓ اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ** ج (**آيَتْ ۱۳۱**، **سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳**)

**تَرْجَمَهْ**:- او د هغه **اُوْرْ** (**وُوْرْ**) څخه وبېرېږئ کُوم چې د **کافِرَانُ** لپاره **تَيَّارْ** سوئ دئ

ددغه **آيَتُوْ** څخه **مَعْلُوْمْ** سو چې **جَهَنَّمْ** هم **اَللّٰهْ تَعَالٰى** پَيدَا کړئ دئ .

## **جَنَّتْ** او **جَهَنَّمْ** به **اَللّٰهْ** همېشَه **بَاقِيْ** پرېږدي

**۷**: **سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا** ط (**آيَتْ ۵۷**، **سُوْرَةُ النِّسَآءْ ۴**)

**تَرْجَمَهْ**:- هغه به مونږ په دارنګه **بَاغُوْ** کي **دَاخِلْ** کړو چي تر هغه کښته به کارېزونه (وَلِېِ) بَېِيږي، چي په هغه کي به ذُوي همېشه وسېږي .

**۸**: **سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا** ط **وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا** ط

(**آيَتْ ۱۲۲**، **سُوْرَةُ النِّسَآءْ ۴**)

**تَرْجَمَهْ**:- هغه به مونږ په دارنګه **بَاغُوْ** کي **دَاخِلْ** کړو چي تر هغه کښته به **کارېزُوْنَهْ** (وَلِېِ) بَېِيږي، چي په هغه کي به ذُوي همېشه وسېږي، دا د **اَللّٰهْ** **رِشْتُوني وَعْدَهْ** ده .

**۹**: **قِيْلَ ادْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا** ج (**آيَتْ ۷۲**، **سُوْرَةُ الزُّمَرْ ۳۹**)

**تَرْجَمَهْ**:- وبه ويل سي چي:,, د **دُوْږَخْ** په **دَرْوَازُوْ** کي د همېشَه همېشَه لپاره **دَاخِلْ** سئ .

**۱۰**: **وَمَنْ يَّعْصِ اللهَ وَ رَسُوْلَه فَاِنَّ لَه نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا** ط (**آيَتْ ۲۳**، **سُوْرَةُ الْجِنْ ۷۲**)

**تَرْجَمَهْ**:- او څوک چي د **اَللّٰهْ** او دهغه د **رَسُوْلْ** **نَافَرْمَانِيْ** کوي، نو دهغه لپاره د **دُوْږَخْ اُوْرْ** دئ چي په هغه کي به دغه رنګه خلک همېشه وسېږي

ددغه **آيَتُوْ** څخه **مَعْلُوْمْ** سو چي **جَنَّتْ** به هم همېشَه پاته وي، او **جَهَنَّمْ** به هم همېشَه پاته وي، **اَللّٰهْ پَاکْ** هغه نَه **خَتْمَوِيْ** .

## **جَنَّتْ** د **عَيْشْ** و **عَشْرَتْ** ځاىٔ دئ

**۱۱**: **اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا** ط (**آيَتْ ۸۹**، **سُوْرَةُ التَّوْبَةْ ۹**)

**تَرْجَمَہْ**:- **اَللّٰہْ** د ډُوي لپاره هغه **بَاغَاتْ** **تَیَّارْ** کړي دي چي تر هغه لاندِي کارېږونه بهيږي، چي په هغه کي به ډُوي همېشه وسېږي .

**۱۲**: **اِنَّ اَصْحٰبَ الْجَنَّۃِ الْیَوْمَ فِیْ شُغُلٍ فٰکِهُوْنَ** ج **هُمْ وَ اَزْوَاجُهُمْ فِیْ ظِلٰلٍ عَلَی الْاَرَآئِکِ مُتَّکِوُنَ** **لَهُمْ فِیْهَا فَاکِهَۃٌ وَّلَهُمْ مَّا یَدَّعُوْنَ** ج صلی

(**آیَتْ** **۵۶**/ **۵۷**/ **۵۸**، **سُوْرَۃُ یٰسٓ** **۳۶**)

**تَرْجَمَہْ**:- د **جَنَّتْ** خلک به په هغه **وُرَځْ** **یَقِیْنًا** په کارُو (**مَشْغُلْو**) کي په **اِسْتِرَاحَتْ** (**خُوَنْدُوْ**) کي **بُخْتْ** وي، ډُوي او د ډُوي **بِیْ بِیْ گَانْ** به په گڼُو **سَایُوْ** کي د **آرَامْ** پر **کټَانُوْ** (**ځایُوْ**) باندي **ځنګوْنَہْ** لګولِي وي. هلته به د ډُوي لپاره **مېوي** وي، او ډُوي ته به هر هغه **شَیْ** وَرکول کيږي چي ډُوي يې رَاوغُوارِي.

# **جَهَنَّمْ** د **عَذَابْ** و **تَکْلِیْفْ** ځایٔ دیٔ

**۱۳**: **فَاتَّقُوْا النَّارَ الَّتِیْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَۃُ** ج صلی **اُعِدَّتْ لِلْکٰفِرِیْنَ**

(**آیَتْ** **۲۴**، **سُوْرَۃُ الْبَقَرَۃْ** **۲**)

**تَرْجَمَہْ**:- دهغه **اُوْرْ** (**وُوْرْ**) څخه وبيريږئ چي دهغه دبليدو **شِیَانْ** (**یِمْ/لَرْګِیْ**) به **اِنْسَانَانْ** او **ډبَرِیْ** وي، هغه د **کافِرانُوْ** لپاره **تَیَّارْ** سوئ دیٔ

ددې څخه **عَلَاوَہْ** هم نور ډير **آیَتُوْنَہْ** دي چي مَخکِي تېر سوي دي .

## څوک چي **جَنَّتْ** ته **دَاخِلْ** سو هغه به هلَتّه همېشَه وَسيږي

چي **یَوْ** **وَارْ** **جَنَّتْ** ته **دَاخِلْ** سو هغه به هَلَتّه همېش تر همېشَ وَسيږي، په هيڅ **وَخْتْ** به دهغه ځايَه څخه نَه رَاباسِي، لېکن که يَو څوک **اِیْمَانْ** لري، او د کُومِي **ګُنَاہْ** لکبله د **سَزَا** لپاره **دُوْزَخْ** ته **وُلاړِیْ** نو هغه به په يَو **وَخْتْ** د **وَخْتُوْ** بېرته د **جَهَنَّمْ** څخه رَايستَل کيږي، او په **جَنَّتْ** کي به دَاخليږي .

دا چي په **جَنَّتْ** کي به همېشه وسيږي **دَلِیْلْ** يې دغه **آیَتُوْنَہْ** دي

**۱۴**: **اَعَدَّ اللّٰہُ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِیْنَ فِیْهَا** ط

(**آیَتْ** **۸۹**، **سُوْرَۃُ التَّوْبَۃْ** **۹**)

**تَرْجَمَہْ**:- **اَللّٰہْ** د ډُوي لپاره هغه **بَاغَاتْ** **تَیَّارْ** کړي دي چي تر هغه لاندِي کارېږونه بهيږي، چي په هغه کي به ډُوي همېشه وسيږي .

۱۵: سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِیْنَ فِیْهَآ اَبَدًا ؕ وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ
(آیَتْ ۱۲۲، سُوْرَةُ النِّسَآءْ ۴)
تَرْجَمَهْ:- هغه به موږ په دارنګه بَاغُوْ کي داخِل کړو چي تر هغه کښته به کَارِیزُوْنَهْ (وَلِې) بَېږي، چي په هغه کي به ډُوي همېشه وسيږي، دا د اَللّٰهْ رِشْتُونِي وَعْدَهْ ده .

او اِیْمَانْدَارَهْ به د جَهَنَّمْ څخه رَایستَل کیږي، دهغه دَلِیْلْ دغه حَدِیْثْ دئ

۲: عَنْ عِمْرَانَ بن حُصَیْنِ عَنِ النَّبِیِّ (ﷺ) قَالَ یُخْرَجُ قَوْمٌ مِّنَ النَّار بِشَفَاعَةِ مُحَمَّدٍ (ﷺ) فَیَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ یُسَمُّوْنَ الْجَهَنَّمِیِّیْنَ .
(بُخَارِیْ شَرِیْفْ،کِتَابُ الرِّقَاقِ، بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ، ص: ۱۱۳۶، نَمْبَرْ ۶۵۶۶)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ ﷺ وَ فَرْمَائِلْ چي د مُحَمَّدْ (ﷺ) په شَفَاعَتْ به څه خلګ د جَهَنَّمْ څخه رَاوَیستَل سي، او په جَنَّتْ کي به دَاخِلْ کړل سي، د ډُوي نُوْمْ به جَهَنّمِیَانْ (دُوْږخِیَانْ) وي .

## څوک چي جَنَّتْ ته دَاخِلیږي هغه د مَخکِي څخه لَا د اَللّٰهْ تَعَالٰی په عِلْمْ کي مُتَعَیَّنْ دي

دَلِیْلْ یې دغه حَدِیْثْ دئ

۳: عَنْ عَلِیٍّ قَالَ کُنَّا فِیْ جَنَازَةٍ فِیْ بَقِیْعِ الْغَرْقَدِ ..... قَالَ مَا مِنْکُمْ مِنْ اَحَدٍ، اَوْ مَا مِنْ نَفْسٍ مَنْفُوْسَةٍ اِلَّا کُتِبَ مَکَانُهَا مِنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ وَ اِلَّا قَدْ کُتِبَ شَقِیَّةٌ اَوْ سَعِیْدَةٌ، فَقَالَ رَجُلٌ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَفَلَا نَتَوَکَّلُ عَلٰی کِتَابِنَا وَ نَدَعُ الْعَمَلَ؟ فَمَنْ کَانَ مِنَّا مِنْ اَهْلِ السَّعَادَةِ فَسَیَصِیْرُ اِلٰی عَمَلِ اَهْلِ السَّعَادَةِ، وَ اَمَّا مَنْ کَانَ مِنَّا مِنْ اَهْلِ الشَّقَاوَةِ فَسَیَصِیْرُ اِلٰی عَمَلِ اَهْلِ الشَّقَاوَةِ، قَالَ:- اَمَّا اَهْلُ السَّعَادَةِ فَسَیَصِیْرُ اِلٰی عَمَلِ اَهْلِ السَّعَادَةِ، وَ اَمَّا مَنْ کَانَ مِنَّا مِنْ اَهْلِ الشَّقَاوَةِ فَسَیَصِیْرُ اِلٰی عَمَلِ اَهْلِ الشَّقَاوَةِ، ثُمَّ قَرَأَ (فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰی وَ اتَّقٰی وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰی[آیَتْ ۵،۶،سُوْرَةُ اللَّیْلْ ۹۲ ]
(بُخَارِیْ شَرِیْفْ،کِتَابُ الْجَنَائِزِ، بَابُ مَوْعِظَةِ الْمُحَدِّثِ عِنْدَ الْقَبْرِ وَقُعُوْدِ اَصْحَابِه حَوْلَهُ، ص: ۲۱۸، نَمْبَرْ ۱۳۶۲)
تَرْجَمَهْ:- حضرت عَلِیْ فَرْمَائِي چي مُوږ په جَنَّتُ الْبَقِیْعْ کي په یَوَه جَنَازَهْ کي مَوْجُوْدْ وُو .... حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي څومره اِنْسَانَانْ دي دهغوي لپاره جَنَّتْ یا جَهَنَّمْ لِیکل سوئ دئ، او چي نیک بَخْتْ به وي یا بَدْ بَخْتْ به وي دا هم لِیکل سوئ دئ، یَوَه سړي وویل چي یَا رَسُوْلَ اللّٰهْ نو مُوږ پر هغه لِیکل سوي باندي بَرُوْسَهْ وَ نه کوو؟ او

عَمَلْ نَه پرېږدو؟ ځکه چي په مُوږ کي کُوم نېکَانْ وي هغه به په خپله نېکْ عَمَلْ کوي، او په مُوږ کي چي کُوم بَدْ خلک دي هغه به په خپله بَدْ عَمَلْ شروع کي، نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي د بنُوْ خلکو لپاره خو بنَهْ کول اَسَانَ سي، او د بَدُوْ خلکو لپاره بَدْ عَمَلْ کول اَسَانَ سي، بيا حُضُوْرْ (ﷺ) د اِسْتِدْلَالْ لپاره فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى اِلَخْ آيَتْ وَلُوستئ .

ددغه حَدِيْثْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي کُوم خلک جَنَّتْ ته دَاخِلېږي هغه د اَوَّلْ څخه لَا د اَللّٰهْ تَعَالٰي په عِلْمْ کي مُتَعَيَّنْ دي، او چي کُوم خلک جَهَنَّمْ ته دَاخِلېږي هغه هم د اَوَّلْ څخه لَا د اَللّٰهْ تَعَالٰي په عِلْمْ کي مُتَعَيَّنْ دي .

# ۲۶: قُرْآنْ د اَللّٰهْ تَعَالٰي کلَامْ دئ

يَامْ لَرَنَهْ :- کلَامْ پر درې قِسْمَ دئ .

[۱] ... يَو هغه کلَامْ دئ چي د اَللّٰهْ تَعَالٰي خپل ذَاتِيْ صِفَتْ دئ، دغه اَبَدِيْ دئ، دا حَادِثْ يعني عَارِضِيْ نَه دئ، ځکه چي هغه خو د اَللّٰهْ تَعَالٰي صِفَتْ دئ، نو د اَللّٰهْ په شَانْ به هغه هم اَبَدِيْ سي .

[۲] ... د اِنْسَانْ کلَامْ، يا د فَرِشْتُوْ کلَامْ دغه حَادِثْ يعني عَارِضِيْ دئ، ځکه چي اِنْسَانَانْ او فَرِشْتي هم حَادِثْ او عَارِضِيْ دي، لِهٰذَا کُوم شَئ چي د دُوي څخه رَاوَتَلَئ وي هغه به هم حَادِثْ وي .

[۳] ... قُرْآنْ چي د اَللّٰهْ کلَامْ دئ، دغه کلَامْ که چيري دَاَللّٰهْ تَعَالٰي سره وي نو دا اَبَدِيْ دئ .

او دغه کلَامْ که چيري فَرِشْتي يا اِنْسَانْ ووائي نو بيا دغه حَادِثْ دئ، فَانِيْ دئ، ځکه چي زُمُوږ وَيَل (لُوستَل) حَادِثْ دي .

دا چي قُرْآنْ حَادِثْ دئ که نَه دئ، په تېره زَمَانَهْ کي په دغه مَسْئَلَهْ کي ډېر بَحْثُوْنَهْ او اِخْتِلَافَاتْ رَامِينځ ته سوي دي، لېکن که چيري دغه فَرْقْ مُوږ وَکُو چي د اَللّٰهْ سره کُوم کلَامْ دئ هغه اَبَدِيْ دئ، او اِنْسَانْ چي کُوم قُرْآنْ وَائي، يايې لِيکي هغه حَادِثْ دئ نو بيا هيڅ ډَوَل جَګړَهْ او اِخْتِلَافْ نَه پاته کيږي .

د اَللّٰهْ تَعَالٰي سره چي کُوم کلَامْ دئ هغه همېشَه دئ
او کُوم قُرْآنْ چي مُوږ يې وَايُو هغه حَادِثْ او فَانِيْ دئ
د اِمَامْ اَبُوْحَنِيْفَهْ (رح) رَأيَهْ

د اِمَامْ اَبُوْحَنِيْفَهْ  په كِتَابْ ,, فِقْهِ اَكْبَرْ ,, كي دئ
وَ لَفْظُنَا بِالْقُرْاٰنِ مَخْلُوْقٌ، وَكِتَابَتُنَا لَهُ مَخْلُوْقَةٌ، وَقِرَائَتُنَا لَهُ مَخْلُوْقَةٌ، وَالْقُرْاٰنُ غَيْرُ مَخْلُوْقٍ ..... وَالْقُرْاٰنُ كَلَامُ اللهِ تَعَالٰی فَهُوَ قَدِيْمٌ لَاكَلَامُهُمْ ..... وَكَلَامُ اللهِ تَعَالٰی غَيْرُ مَخْلُوْقٍ .
(فِقْهُ الْاَكْبَرْ لِاِمَامْ اَبُوْحَنِيْفَةَ، بَحْثُ اَنَّ الْقُرْاٰنُ كَلَامُ اللهِ غَيْرُ مَخْلُوْقٍ وَلَا حَادِثٍ، ٥٠، ٥٢، ٥٨)
تَرْجَمَهْ:- مُوږ چي كُوم قُرْآنْ وَايُو هغه خو مَخْلُوْقْ دئ، مُوږ چي كُوم قُرْآنْ لِيكُو هغه هم مَخْلُوْقْ دئ، او مُوږ چي څه وَايُو هغه مَخْلُوْقْ دئ [يعني هغه فَانِيْ دئ، حَادِثْ دئ] او قُرْآنْ كُوم چي د اَللّٰهْ اَصْلِيْ كلَامْ دئ هغه مَخْلُوْقْ نَه دئ [يعني حَادِثْ نَه دئ، فَانِيْ نَه دئ، هغه اَبَدِيْ دئ] ..... قُرْآنْ كُوم چي د اَللّٰهْ كلَامْ دئ هغه قَدِيْمْ دئ [اَبَدِيْ دئ] او اِنْسَانْ چي كُوم قُرْآنْ وَائي هغه قَدِيْمْ نَه دئ ..... د اَللّٰهْ كلَامْ مَخْلُوْقْ نَه دئ [يَعني حَادِثْ او فَانِيْ نَه دئ، بلكه هغه اَبَدِيْ او قَدِيْمْ دئ] .
دَلتَه يې درې عِبَارَتُوْنَهْ وُړَانـدِي كـړي دي، ددې حَاصِلْ او خُلَاصَـهْ داده چـي كُوم كَلَامْ او خَبَرِيْ چي د اَللّٰهْ دي، او كُوم چـي دده صِفَتْ دئ هغـه قَدِيْمْ دئ، اَبَدِيْ دئ، او اِنْسَانْ چي كُوم قُرْآنْ وَائي هغه حَادِثْ دئ، فَانِيْ دئ .

## قُرْآنْ د اَللّٰهْ تَعَالٰی خپل كلَامْ دئ

د قُرْآنْ دُوَه حَيْثِيَّتُوْنَهْ دي، يَو د اَللّٰهْ چي كُوم خپل كـلَامْ دئ، هغـه د اَللّٰهْ صِفَتْ دئ، او اَبَدِيْ دئ .
دُوَهَمْ حَيْثِيَّتْ يې دادئ چي مُوږ قُرْآنْ وَايُو، دغه حَادِثْ دئ، فَانِيْ دئ .
قُرْآنْ د اَللّٰهْ تَعَالٰی كلَامْ دئ، دَلِيْلْ يې دغه آيَتْ دئ
١: وَ اِنْ اَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ اسْتَجَارَكَ فَاَجِرْهُ حَتّٰى يَسْمَعَ كَلٰمَ اللهِ .
(آيَتْ ٦، سُوْرَةُ التَّوْبَةْ ٩)
تَرْجَمَهْ:- او كه چيري د مُشْرِكِيْنُ څخه يَو څوک ستا څخه پَنَاهْ (اَمَنْ) وغواړي نو هغه ته تر هغه وخته پوري پَنَاهْ وركړئ تر څو چي دُوي د اَللّٰهْ كَلَامْ واوْري .
دَلتَه د اَللّٰهْ د كَلَامْ څخه قُرْآنْ مُرَاد دئ .
٢: وَ اِنَّكَ لَتُلَقَّى الْقُرْاٰنَ مِنْ لَّدُنْ حَكِيْمٍ عَلِيْمٍ (آيَتْ ٦، سُوْرَةُ النَّمْلْ ٢٧)
تَرْجَمَهْ:- او (اې پيغَمْبَرَهْ!) بېشكَّهْ تَا ته دغه قُرْآنْ دهغه (اَللّٰهْ) لَخُوَا دركول كيږي چي د حِكْمَتْ مَالِكْ هم دئ، د عِلْمْ مَالِكْ هم دئ.

۱: قَالَ عُمَرُ بنِ الْخَطَّابِ: اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ كَلَامُ اللهِ فَلَايَغُرَّنَّكُمْ مَا عَطَفْتُمُوْهُ عَلٰى اَهْوَائِكُمْ . (سُنَنِ دَارِمِيْ، بَابُ اَلْقُرْاٰنُ كَلَامُ اللهِ،ص: ۵۳۳، نَمْبَرْ ۳۳۵۵)
تَرْجَمَهْ:- حضرت عُمَرْ وَ فَرْمَائِلْ چيږ- دغه قُرْآنْ د اَللّٰهْ تَعَالٰى كَلَامْ دئ، په دغه خَبَرَهْ تاسو دُوْكَهْ نَه سئ چي تاسو د خپل خُوَاهِشْ لكبله ددې (قُرْآنْ) څخه لِيري سئ .
په دغه آيَتُوْ او حَدِيْثْ كي وَ قُرْآنْ ته د اَللّٰهْ كَلَامْ وَيلِي دي .

## دغه قُرْآنْ په لَوْحِ مَحْفُوْظْ كي هم سته

دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي
۳: اِنَّه لَقُرْاٰنٌ كَرِيْمٌ ۙ فِيْ كِتٰبٍ مَّكْنُوْنٍ ۙ (آيَتْ ۷۶/ ۷۷، سُوْرَةُ الْوَاقِعَةْ ۵۶)
تَرْجَمَهْ:- چي دا ډېر بَاوَقَارَ قُرْآنْ دئ ـــــــ چي په يَوَه مَحْفُوْظَ كِتَابْ كي (مَخكِي لَا) دَرْجْ دئ،
۴: بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ ۙ فِيْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ (آيَتْ ۲۱/ ۲۲، سُوْرَةُ الْبُرُوْجْ ۸۵)
تَرْجَمَهْ:- بلكه دا خو د ډېر عَظْمَتْ څخه ډَكْ قُرْآنْ دئ، چي په لَوْحِ مَحْفُوْظْ كي لِيكلَئ دئ.
ددغه آيَتُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي قُرْآنْ په لَوْحِ مَحْفُوْظْ كي دئ .

## قُرْآنْ يې د لَوْحِ مَحْفُوْظْ څخه په لَږْ لَږْ نَازِلْ كئ

قُرْآنْ يې په دَرويْشْتْ (۲۳) كالَ كي په لَږْ لَږْ پر حُضُوْرْ (ﷺ) باندي نَازِلْ كئ .
دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي
۵: وَ قُرْاٰنًا فَرَقْنٰهُ لِتَقْرَاَهٗ عَلَى النَّاسِ عَلٰى مُكْثٍ وَّ نَزَّلْنٰهُ تَنْزِيْلًا (آيَتْ ۱۰۶، سُوْرَةُ بَنِيْ اِسْرَائِيْلْ ۱۷)
تَرْجَمَهْ:- او مُوږ د قُرْآنْ جَلَا جَلَا حِصّي جوړي كړي دي، چي تَه دئ په درنګ درنګ (آرَامْ آرَامْ) سره د خلكو په مخكي تِلَاوَتْ كې، اومُوږ دا په لَږ لَږ نَازِلْ كړئ دئ
۶: تَنْزِيْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ (آيَتْ ۸۰، سُوْرَةُ الْوَاقِعَةْ ۵۶)
تَرْجَمَهْ:- دا د ټولو جَهَانُوْ د پَرْوَرْدِګَارْ لَخْوَا لَږْ لَږْ نَازِلېږي.

**۷: وَ اِنَّه لَتَنْزِيْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط نَزَلَ بِهِ الرُّوْحُ الْاَمِيْنُ لا عَلٰى قَلْبِكَ لِتَكُوْنَ مِنَ الْمُنْذِرِيْنَ لا (آيَتْ ۱۹۲/ ۱۹۳/ ۱۹۴، سُوْرَةُ الشُّعَرَاءْ ۲۶)**

**تَرْجَمَهْ:-** بيشَكَّهْ دغه قُرْآنْ د رَبُّ الْعٰلَمِيْنْ لَخُوَا نَازِلْ سوئ دئ. اَمَانَتْ دَارَهْ فَرِشتي رَاوُړئ نَازِلْ سوئ دئ (اېٔ پيغَمْبَرَهْ!) ستا پر زړَهْ باندي نَازِلْ سوئ دئ چي ته په هغه (پيغَمْبَرَانُوْ) کي شَامِلْ سې کُوم چي خلګ خَبَرْدَارَهْ کوي،

ددغه آيَتُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي پر حُضُوْرْ (ﷺ) يې په لَږْ لَږْ دغه قُرْآنْ نَازِلْ کړئ دئ .

## څوک چي قُرْآنْ ته د اِنْسَانْ کَلَامْ ووائي هغه کافِرْ دئ

دَلِيْلْ يې دغه آيَتْ دئ

**۸: اِنْ هٰذَآ اِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ ط سَاُصْلِيْهِ سَقَرَ (آيَتْ ۲۵/ ۲۶، سُوْرَةُ الْمُدَّثِّرْ ۷۴)**

**تَرْجَمَهْ:-** هيڅ شئ نَستَه، دا خو د اِنْسَانْ يَو کَلَامْ دئ عَنْقَرِيْبْ زَهْ به دئ په دُوْزَخْ کي دَاخِلْ کم،

چي قُرْآنْ ته د اِنْسَانْ کلَامْ ووائي نو اَللّٰهْ تَعَالٰى فَرْمَائي چي زَهْ به هغه په جَهَنَّمْ کي وَاچَوَم، ځکه چي هغه اُوس کافِرْ سو .

## په دُنْيَا کي اَللّٰهْ تَعَالٰى چي کُوم کَلَامْ کوي هغه يا خو د وَحِيْ په ذَرِيْعَهْ سره يا د پَرْدي وَ شَا ته کوي

په دُنْيَا کي چي اَللّٰهْ تَعَالٰى کُوم کَلَامْ کوي هغه يا خو د وَحِيْ په ذَرِيْعَهْ سره کوي يا يې په پَرْدَهْ کي کوي، ځکه چي اِنْسَانْ اُوس مَحَالْ دُومرَه طَاقَتْ نَه لري چي د اَللّٰهْ تَعَالٰى سره بِالْمُشَافَهْ خَبَرِيْ وکي، اَلْبَتَّهْ په آخِرَتْ کي به دغه طَاقَتْ پَيدَا کي .

دَلِيْلْ يې دغه آيَتْ دئ

**۹: وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُّكَلِّمَهُ اللهُ اِلَّا وَحْيًا اَوْ مِنْ وَّرَآئِ حِجَابٍ اَوْ يُرْسِلَ رَسُوْلًا فَيُوْحِيَ بِاِذْنِه مَا يَشَآءُ ط (آيَتْ ۵۱،سُوْرَةُ الشُّوْرٰى ۴۲)**

**تَرْجَمَهْ:-** او په يَوَه اِنْسَانْ کي دا طَاقَتْ نَستَه چي اَللّٰهْ دده سره (رُوْبَرُوْ/مَخَامَخْ) خَبَرِيْ وکي، مَاسِوَا ددې چي هغه د وَحْي په ذَرِيْعَهْ سره وي، يا د پَرْدِي وَ شَا ته وي، يا خو

هغه یَو **پیْغَامْ** رَاوړونکي (**فَرِشْتَهْ**) رَاوَاستَوِي، او هغه دده په **حُکْمْ** سره چي څَه هغه وَغُوَاړي د **وَحْيِ پیْغَامْ** رَاوَرَسَوِي .

**۱۰ : وَ كَلَّمَ اللّٰهُ مُوْسٰى تَكْلِيْمًا (آيَتْ ۱۶۴،سُوْرَةُ النِّسَآءْ ۴)**

**تَرْجَمَهْ**:- او د حضرت **مُوْسٰي** سره خو **اَللّٰهْ تَعَالٰي بَرَاهِ رَاسْتْ كَلَامْ** (**خَبَرِيْ**) وکړې .
د حضرت **مُوْسٰي عَلَيْهِ السَّلَامْ** سره هم د **پَردي** وَ **شَا** ته **خَبَرِيْ** کړي دي .

## په **قُرْآنْ** کي نَه **تَحْرِيْفْ** سوئ دئ او
## نَه يې څوک کولائي سي

چي کله **قُرْآنْ نَازِلْ** سوئ دئ، په هغه کي هيڅ ډَول **تَحْرِيْفْ** (**بَدْلُوْنْ**/ **لَاسْ وَهَنَهْ**) نَه دئ سوئ، تاسو د ټولي نړَئ **قُرْآنْ مَجِيْدُوْنَهْ** رَاوَاخلَئ وَ يې ګورَئ د يَوه **حَرْفْ فَرْقْ** به پَيدَا نَه کئ .
بَس دغه يَو رَنګه **قُرْآنِ پَاکْ** د **دُنْيَا** په **كُرُوْړهَاوُ** او **مِلِيَنُوْنُوْ حَافِظَانُوْ** په **سِيْنُوْ** کي **مَحْفُوْظ** پروت دئ، او **مَحْفُوْظ** به پاته وي .
**لِهٰذَا** چي ګوم خلګ دغه **دَعْوَهْ** کوي چي په **قُرْآنْ** کي **بَدْلُوْنْ** سوئ دئ هغه **غَلَطْ** وَائي .
په دغه **آيَتْ** کي دئ چي **اَللّٰهْ تَعَالٰي** د **قِيَامَتْ** تر **وُرَځِيْ** پُوري ددې د **حِفَاظَتْ وَعْدَهْ** کړې ده .

**۱۱ : اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَ اِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ (آيَتْ ۹، سُوْرَةُ الْحِجْرْ ۱۵)**

**تَرْجَمَهْ**:- **حَقِيْقَتْ** دادئ چي دا **ذِكْرْ** (**قُرْآنْ**) **تَنْهَا** مُوږ **نَازِلْ** کړئ دئ، او **تَنْهَا** مُوږ ددې **حِفَاظَتْ** کونکي يُو
په دغه **آيَتْ** کي **اَللّٰهْ تَعَالٰي فَرْمَائِلِي** دي چي **مَا** دغه **قُرْآنْ نَازِلْ** کړئ دئ او **زَهْ** يې تر **قِيَامَتْ** پُوري **حِفَاظَتْ** کوم، او هغه تر **نَنْ وُرَځِيْ** پُوري هغه رنګه **مَحْفُوْظ** دئ لکه څنګه چي په **اَوَّلْ وُرَځْ** وُو، **لِهٰذَا** که څوک دا ووائي چي په **قُرْآنْ** کي **تَحْرِيْفْ** سوئ دئ نو دا **بِالْكُلِّيَهْ غَلَطَهْ وَيْنَا** ده .

## **اَلْبَتَّهْ** په **اُوَهْ قِرَأَتْ** کي د **قُرْآنْ** د **وَيلُوْ اِجَازَتْ** وُو

**اَلْبَتَّهْ** دغه **خَبَرَهْ** ده چي کله **قُرْآنْ نَازِلْ** سو نو د عَرَبُ **اُوَهْ** مَشهُورَه قَبِيلي وې، او د هري قَبِيلي **جَلَا جَلَا طَرْزْ** او د **خَبَرُوْ اَنْدَازْ** وُو، (لکه زُمُوږ په دغه **پَښْتُوْ** کي د **قَنْدَهَارْ** د خلګو د **پَښْتُوْ طَرْزْ جَلَا** دئ، د **چَمَنْ** او **کُوټِيْ** دا **جَلَا** دئ، د **بَرښُوْرْ** دا **جَلَا** دئ، د **پيښَوَرْ آفْرِيْدَانُوْ. مَسْعُوْدْ.خټَکْ. وَزِيْرْ** دا **جَلَا** دئ ) نو **اَللّٰهْ تَعَالٰي** دا **اِجَازَتْ**

وَرکړئ وُو چي يَو آيَتْ په اُوَهْ طَرْزْ او لَهْجَهْ کي وَيلائي سئ، وروسته چي حضرت عُثْمَانْ دغه قُرْآنْ په مُصْحَفْ کي جَمَعْ کئ نو د قُرَيْشْ پر لَهْجَهْ يې جَمَعْ کئ، ځکه چي دغه لَهْجَهْ تر ټولو بهْتَرَهْ لَهْجَهْ وَه، او په مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ کي قُرْآنْ په هغه لَهْجَهْ او هغه قِرأَتْ کي لِيکلَئ مَوْجُوْدْ دئ .

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

۲: قَالَ سَمِعْتُ عُمَرَ بن الْخَطَّابِ ..... اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ اُنْزِلَ عَلٰى سَبْعَةِ اَحْرُفٍ فَاقْرَؤُوْا مِنْهُ مَا تَيَسَّرَ . (بُخَارِىْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْخُصُوْمَاتْ، بَابُ كَلَامِ الْخُصُوْمِ بَعْضُهُمْ فِىْ بَعْضٍ، ص: ۳۸۹، نَمْبَرْ ۲۴۱۹ / مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِيْنَ، بَابُ بَيَانِ اَنَّ الْقُرْآنَ اُنْزِلَ عَلٰى سَبْعَةِ اَحْرُفٍ، ص: ۳۲۹، نَمْبَرْ ۸۱۸ / ۱۸۹۹)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي قُرْآنْ يې پر اُوَهْ قِرْأَتْ باندي نَازِلْ کړئ دئ، په دي کي چي کُوم اَسَانْ وي پر هغه يې وَايَاست .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي آيَتْ او حُکْمْ خو يَو دئ اَلْبَتَّهْ دهغه د وَيلُو اُوَهْ لَهْجي او طَرِيقي دي، او د اُوَهْ قِرَأَتُوْ اِسْتِعْمَالْ کول جَائِزْ دئ .

## په آخِرَتْ کي به اَللّٰهْ تَعَالٰي د جَنَّتِيَانُوْ سره خَبَرِيْ وکي

په آخِرَتْ کي به اَللّٰهْ تَعَالٰي د جَنَّتِيَانُوْ سره خَبَرِيْ وکي، لېکن د هغه کَيْفِيَّتْ به څنګه وي، هغه وَ اَللّٰهْ تَعَالٰي ته مَعْلُوْمْ دئ

دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي

۱۲: سَلٰمٌ قف قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ (آيَتْ ۵۸، سُوْرَةُ يٰسٓ ۳۶)

تَرْجَمَهْ:- د رَحْمَتْ کونکي پَرْوَرْدِګَارْ لَخوَا به دُوي ته سَلَامْ وَيَل کيږي.

۱۳: وَلَايُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَلَايُزَكِّيْهِمْ ج صلي وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ (آيَتْ ۱۷۴، سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲)

تَرْجَمَهْ:- د قِيَامَتْ په وُرځ به اَللّٰهْ تَعَالٰي د دُوي سره خَبَرِيْ (د شَفَقَتْ) هم نَه کوي، او نَه به دُوي پَاکْ کړي، او د دُوي لپاره دَرْدْنَاکَ عَذَابْ دئ

ددغه آيَتُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي اَللّٰهْ تَعَالٰي به په قِيَامَتْ د جَنَّتِيَانُوْ سره کَلَامْ کوي، او د دُوْزَخِيَانُوْ سره به نَه کوي .

۳: عَنْ جَابِرَ بن عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) بَيْنَمَا اَهْلُ الْجَنَّةِ فِىْ نَعِيْمِهِمْ اِذْ سُطِحَ لَهُمْ نُوْرٌ فَرَفَعُوْا رُؤُوْسَهُمْ فَاِذَا الرَّبُّ قَدْ اَشْرَفَ عَلَيْهِمْ مِنْ

فَوْقِهِمْ، فَقَالَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا اَهْلَ الْجَنَّةِ، قَالَ:- وَ ذَالِكَ قَوْلُ اللهِ: [ سَلٰمٌ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ آيَتْ ۵۸، سُوْرَةُ يٰسٓ ۳۶ ] (اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْمُقَدَّمَةْ،بَابٌ فِيْمَا اَنْكَرَتِ الْجَهْمِيَّةُ، ص: ۲۸، نَمْبَرْ ۱۸۴)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ:- جَنَّتِيَانْ به په خپل آرَامْ كي بُخْتْ وي چي ډُوي به يَوَه رَنَا (رُوْنَا) وَوِينِي، ډُوي به و هغه ته سَرُوْنَه رَاپُورتَه كي نو ډُوي به وَوِينِي چي خُدَاوَنْدِ قُدُّوْسْ د بَالَا طَرَفْ څخه ګُوري، او هغه وَائي چي:- جَنَّتِيَانُوْ! اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ، د آيَتْ ,, سَلٰمٌ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ ,, دغه تَفْسِيْرْ دئ .

په دغه حَدِيْثْ كي دئ چي اَللّٰهْ به د جَنَّتِيَانُوْ سره كَلَامْ كوي .

۴: عَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ (ﷺ) اِنَّ اللهَ يَقُوْلُ لِاَهْلِ الْجَنَّةِ يَا اَهْلَ الْجَنَّةِ فَيَقُوْلُوْنَ لَبَّيْكَ رَبَّنَا وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ فِيْ يَدَيْكَ .

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ، بَابُ كَلَامِ الرَّبِّ مَعَ اَهْلِ الْجَنَّةِ، ص: ۱۲۹۶، نَمْبَرْ ۷۵۱۸)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ:- اَللّٰهْ به وَ جَنَّتِيَانْ ته ووائي، اې جَنَّتِيَانُوْ! نو جَنَّتِيَانْ به ووائي، لَبَّيْكَ رَبَّنَا وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ فِيْ يَدَيْكَ . اې زُمُوږ رَبَّ مُوږ حَاضِرْ يُو، هر رنګه نېک بَخْتِيْ او خَيْرْ ستا په لَاسْ (قَبْضَهْ) كي دئ .

لېكن د اَللّٰهْ تَعَالٰي دغه كَلَامْ د اِنْسَانْ د كَلَامْ په شَانْ حَادِثْ نَه دئ، بلكه دغه قَدِيْمْ دئ، او د كَيْفِيَّتْ څخه پَاكْ دئ، ځكه چي د اَللّٰهْ تَعَالٰي كَلَامْ په ټولَه كائِنَاتُوْ (نړئ) كي د هيڅ چَا سره مُشَابَهَتْ نَه لري، ځكه چي په قُرْآنْ كي راغلي :- [ لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ ج وَ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ آيَتْ ۱۱، سُوْرَةُ الشُّوْرٰى ۴۲ ]

تَرْجَمَهْ:- د اَللّٰهْ د ذَاتْ يا د هغه د صِفَاتُوْ په شَانْ هيڅ شَئ نَستَه، او هغه دئ چي هره خَبَرَهْ اَورِي، هر څَه وِينِي.

## ۲۷: اَللّٰهْ تَعَالٰي چيري دئ؟

اَللّٰهْ تَعَالٰي چيري دئ؟ په دغه اړه ډېر اِخْتِلَافْ دئ، او ددې وَجْهَ داده چي په دې اړه مُخْتَلِفْ آيَتُوْنَه او مُخْتَلِفْ حَدِيْثُوْنَه راغلي دي، نو ځكه يَو جِهَتْ مُتَعَيَّنْ كول مُشْكِلْ دئ

نو ځكه په دغه اړه شپږ [۶] جَمَاعَتُوْنَه سول

د اَللّٰهْ په اړه څلور خَبَرِيْ په يَادْ وَلَرَئ

[۱] اَللهْ تَعَالٰی وَاجِبُ الْوُجُوْدْ دئ، د همېشَه څخه دئ او همېشَه به پاتـه وي، هغَه د ټولو شِيَانُوْ خَالِقْ دئ، په هغه کي فَنَا نستَه، نَـه دهغـه پـه ذَاتْ کـي فَنَـا ستَه نَه يې په صِفَاتُوْ کي فَنَا سته .

[۲] هغه د جِهَتْ (طَرَفْ، سَائِدْ) څخه پَاکْ دئ، يعني پر يَوه طَرَفْ او جِهَتْ باندي نَستَه، يعني نَه لُوَړْ دئ نَه کښَتَّهْ، نَه ښِيْ او نَه کِـڼْ طَرَفْ تـه دئ، نَـه د مَخْتَهْ او نَه د شَا وَ طَرَفْ ته دئ .

[۳] هغه د کَيْفِيَّتْ څخه پَاکْ دئ، يعني پـه اِنْسَـانُوْ او نـورو شِـيَانُوْ کـي چـي کُوم بېلا بېل کَيْفِيَّتُوْنَهْ سته، په اَللهْ کي دغه نَستَه، ځکه چـي کَيْفِيَّتُوْنَـه خـو اَللهْ تَعَالٰی په خپله پَيدَا کوي، نو په اَللهْ کي به کَيْفِيَّتْ څنګه وي .

[۴] د اَللهْ په شَانْ هيڅ يَو شَئ نَستَه، نَه په صِفَاتُوْ کي دده مِثْلْ سته، او نَه په ذَاتْ کي دده مِثْلْ سته، لِهٰذَا د يَو صِفَتْ په اړه دا وَيَل چي هغـه د اَللهْ د صِـفَتْ په شَانْ دئ، نو ددې مَطْلَبْ دادئ چي په لَفْظِيْ ټوګه هغه زُمُوږ د صِـفَاتُوْ پـه شَانْ ښکاره کيږي، لېکن په حَقِيْقَتْ کـي هغـه يَـو بېـل او جَـلَا شَـئ دئ، چـي مُوږ يې اِدْرَاکْ نَه سو کـولائي، او نَـه دهغـه شُـعُوْرْ کـولائي سـو، لِهٰـذَا د اَللهْ تَعَالٰی هسي يَو صِفَتْ د مَخْلُوْقَاتُوْ پر صِفَاتُوْ باندي نَه سي قِيَاسْ کېدلائي .

د دَلِيْلْ لپاره يې دغه آيَتْ او حَدِيْثْ دئ

**۱: لَـيْسَ كَمِثْلِـه شَـىْءٌ ج وَ هُـوَ السَّـمِيْعُ الْبَصِـيْرُ (آيَـتْ ۱۱، سُوْرَةُ الشُّوْرٰی ۴۲)**

تَرْجَمَهْ:- د اَللهْ د ذَاتْ يا د هغه د صِفَاتُوْ په شَانْ هيڅ شَئ نَستَه، او هغه دئ چي هـره خَبَرَهْ اوري، هر څَه وينِي.

په دغه آيَتْ کي دئ چي د اَللهْ په شَانْ هـيڅ شَـئ نَـستَه، نـو مُـوږ څنګـه دغـه قِيَاسْ کولائي سو چي زُمُوږ په شَانْ دئ پر کُرْسَـئ نَاسـتَه دئ، يـا زُمُـوږ پـه شَانْ دده لَاسُوْنَهْ او پُښِي دي، يا زُمُوږ د صِفَاتُوْ په شَانْ دده صِفَتُوْنَهْ دي .

**۱: عَـنْ اَبِـىْ هُرَيْـرَةَ عَـنِ النَّبِـىِّ (ﷺ) يَقُـوْلُ اللهُ تَعَـالٰی اَعْـدَدْتُّ لِعِبَـادِیَ الصَّالِحِيْنَ مَا لَا عَيْنٌ رَاَتْ. وَلَا اُذُنٌ سَمِعَتْ. وَلَا خَطَرَ عَلٰى قَلْبِ بَشَرٍ، فَـاقْرَؤُوْا اِنْ شِئْتُمْ .[ فَلَا تَعْلَـمُ نَفْسٌ مَّـآ اُخْفِـىَ لَهُـمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ ج ، آيَتْ ۱۷، سُوْرَةِ السَّجْدَةِ ۳۲] .**

(بُخَارِىْ شَرِيْفْ،کِتَابُ بَدْءِ الْخَلْقِ،بَابُ مَاجَاءَ فِىْ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَ اَنَّهَا مَخْلُوْقَةٌ،ص:۵۴۱، نَمبَرْ ۳۲۴۴/ مُسْلِمْ شَرِيْفْ، کِتَابُ الْجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيْمِهَا وَ اَهْلِهَا، بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ، ص: ۱۲۲۸، نَمبَرْ ۲۸۲۴/ ۷۱۳۲)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- اَللهْ فَرْمَائِي مَا د بِنُوْ خلكو لپاره دارنګه نِعْمَتْ تَيَّارْ كړئ دئ، چي نَه كُومِي سِتَرْګِيْ لِيدَلَئ دئ، نَه كُوم غُوَږْ اَورېدَلَئ دئ، او نَه د كُوم اِنْسَانْ پر زَړَهْ باندي ددغه نِعْمَتْ (دهغه تَصَوُّرْ/ خِيَالْ) هم تېر سوئ دئ، او د هغه د دَلِيْلْ لپاره دغه آيَتْ وَوَايَاسْتْ (حَالَاْنْكِهْ يَوَه مُتَنَفِّسْ (اِنْسَانْ) ته هيڅ مَعْلُوْمَاتْ هم نَستَه چي ددغه رنګه خلكو لپاره د ستركو د يَخُوْلُوْ كُوم سَامَانُوْنَ د دُوي د اَعْمَالْ په بَدَلْ كي پَټْ سَاتَلْ سوي دي) .

په دغه حَدِيْثْ كي راغلي دي چي د جَنَّتْ نِعْمَتُوْنَهْ نَه خو ستركو لِيدَلِي دي، او نَه غُوَږُوْ دهغه په اړه مُكَمَّلْ تَفْصِيْلْ اَورېدَلَئ دئ، او نَه پر زَړَهْ باندي دهغه مُكَمَّلْ خِيَالْ هم تېر سوئ دئ، چي د جَنَّتْ د نِعْمَتُوْ دغه حَالَتْ دئ چي مَخْلُوْقْ دي، نومُوړ د اَللهْ د ذَاتْ او دهغه د صِفَاتُوْ د كَيْفِيَّتْ تَصَوُّرْ څنګه كولائي سو؟ لِهٰذَا دا چي د اَللهْ ذَاتْ چيري دئ؟ او دهغه كَيْفِيَّتْ څنګه دئ؟ په دغه اړه خپله رَأْيَهْ مَه قَائِمَوَئ، او مَه يې پر خپلو ځانو او نورو مَخْلُوْقَاتُوْ باندي قِيَاسْ كوئ .

## [۱] اَوَّلْ جَمَاعَتْ

د اَوَّلْ جَمَاعَتْ:- نَظَرْ دادئ چي اَللهْ تَعَالٰي د خپل شَانْ مُطَابِقْ په هر ځائ كي مَوْجُوْدْ دئ .

ليكن په كُوم كَيْفِيَّتْ سره مَوْجُوْدْ دئ، د ذَاتْ سره مَوْجُوْدْ دئ؟ يا د عِلْمْ و قُدْرَتْ، و بَصِيْرَتْ سره مَوْجُوْدْ دئ؟ په دغه اړه دُوي هيڅ ډَوَل بَحْثْ نَه كوي، ځكه چي اَللهْ د جِهَتْ او كَيْفِيَّتْ څخه پَاكْ دئ .

كُوم حضرات چي وائي چي اَللهْ تَعَالٰي هر ځائ مَوْجُوْدْ دئ دهغوي دَلِيْلْ دغه آيَتُوْنَهْ دي

۱: وَهُوَ مَعَكُمْ اَيْنَ مَا كُنْتُمْ ط وَاللهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ (آيَتْ ۴، سُوْرَةُ الْحَدِيْدْ ۵۷)

تَرْجَمَهْ:- هغه ستاسو سره مَوْجُوْدْ دئ. او كُوم كار چي تاسو كوئ، اَللهْ هغه وِينِي .

۲: وَ لَآ اَدْنٰى مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْثَرَ اِلَّا هُوَ مَعَهُمْ اَيْنَ مَا كَانُوْا ج (آيَتْ ۷، سُوْرَةُ الْمُجَادَلَةْ ۵۸)

تَرْجَمَهْ:- او كه سَرګُوْبِنِيْ كونكي تر دې لَږْ وي يا زِيَاتْ وي، هغه چي چيري هم وي، اَللهْ د دُوي سره وي .

۳: اِذْ يَقُوْلُ لِصَاحِبِه لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللهَ مَعَنَا ج (آيَتْ ۴۰،سُوْرَةُ التَّوْبَةْ ۹)

تَرْجَمَهْ:- چي کله حُضُوْرْ و خپل مَلګرِي حضرت اَبُوْبَکْرْ ته ويل چي:,, غَمْ مَه کوه، يَقِيْنًا اَللّٰهْ زمُوږ سره دئ .

۴: فَلَا تَهِنُوْا وَتَدْعُوْٓا اِلَى السَّلْمِ ق صلى وَ اَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ ق صلى وَاللّٰهُ مَعَكُمْ .

(آيَتْ ۳۵،سُوْرَةُ مُحَمَّدْ ۴۷)

تَرْجَمَهْ:- لِهٰذَا (ائ مُسْلْمَانَانُوْ!) تاسو مَه کمزُورِ کيږئ چي د صُلْحِ دَعْوَتْ وَرکئ، تاسو به سَرْبَلَنْدَ ياست، اَللّٰهْ ستاسو سره دئ .

۵: وَ اِذَا سَاَ لَكَ عِبَادِىْ عَنِّىْ فَاِنِّىْ قَرِيْبٌ . (آيَتْ ۱۸۶،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲)

تَرْجَمَهْ:- ائ حُضُوْرْ (ﷺ) چي کله ستا څخه زَمَا بَنْدَهْ پُوْښْتَنَهْ کوي، نو ورته وَوَايَهْ چي زَهْ ډېر نِژدې يَم .

۶: وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهٖ نَفْسُهٗ ج صلى وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ .

(آيَتْ ۱۶،سُوْرَةُ قٓ ۵۰)

تَرْجَمَهْ:- او د اِنْسَانْ په زَړَهْ کي چي کُوم خِيَالَاتْ رَاځِي، په هغه (لَا) مُوږ ښَهْ خَبَرْ يُو، او مُوږ ددې تر شَهْ رَګْ هم زِيَاتْ ده ته نِژدې يُو .

۷: وَ لِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ق فَاَيْنَمَا تُوَلُّوْا فَثَمَّ وَجْهُ اللّٰهِ ط اِنَّ اللّٰهَ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ

(آيَتْ ۱۱۵،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲)

تَرْجَمَهْ:- او مَشْرِقْ او مَغْرِبْ (اَطْرَافْ) ټول خَالِصْ د اَللّٰهْ دي، لِهٰذَا چي تاسو کُوم طَرف ته رُخْ (مَخ) وګرزوئ، هلته د اَللّٰهْ تَعَالٰى رُخْ (رَضَاءْ) سته، بيشکه اَللّٰهْ تَعَالٰى د ډېر وُسْعَتْ (پراخئ) مَالِکْ، ډېر عِلْمْ لرونکئ ذَاتْ دئ.

ددغه ۷ آيَتُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي اَللّٰهْ په هر ځائ کي مَوْجُوْدْ دئ، لېکن د مَکَانْ او کيْفِيَّتْ بِغَيْرَهْ مَوْجُوْدْ دئ .

دغه جَمَاعَتْ يَو دا اِعْتِرَاضْ هم کوي چي که چيري مُوږ اَللّٰهْ تَعَالٰى پر عَرْشْ باندي مُسْتَوِيْ تَسْلِيْمْ کړو، او دا ووايو چي اَللّٰهْ تَعَالٰى پر عَرْشْ باندي مُسْتَوِيْ دئ، نو دا اِشْکَالْ دئ چي د عَرْشْ جوړولو څخه مَخکي اَللّٰهْ تَعَالٰى چيري وُو؟

## [۲] دُوَهَمْ جَمَاعَتْ

د دُوَهَمْ جَمَاعَتْ:- نَظَرْ دادئ چي اَللّٰهْ تَعَالٰى د خپل شَانْ مُطَابِقْ پر عَرْشْ باندي مَوْجُوْدْ دئ .

لېکن په کُوم **كَيْفِيَّتْ** سره **مَوْجُوْدْ** دئ، دُوي په دي کې **بَحْثْ** نه کوي، ځکه چي **اَللّٰهْ تَعَالٰي** د **جِهَتْ** څخه او د **كَيْفِيَّتْ** څخه **بِالْكُلْ پَاکْ** دئ .
دُوي وائي چي **اَللّٰهْ تَعَالٰي** په **اُوَهْ آيَتُوْ** کي فرمائلي دي چي **اَللّٰهْ** پر **عَرْشْ** دئ، نو مُوږ دغه مَنُو او پر دغه **آيَتُوْ** باندي **اِيْمَانْ** رَاوړو، او په دي کي **تَأْوِيْلْ** کول **مُنَاسِبْ** نه ګڼو .
دغه حَضرَات مَخته تېر سوي **اُوَهْ آيَتُوْنَهْ** چي په هغه کي دغه وُو چي **اَللّٰهْ** په هر ځائ کي **مَوْجُوْدْ** دئ، دهغه دا **جَوَابْ** ورکوي چي **اَللّٰهْ** د **عِلْمْ** و **بَصِيْرَتْ** او **قُدْرَتْ** سره هر ځائ **مَوْجُوْدْ** دئ .
د دُوي خپل **دَلَائِلْ** دغه **اُوَهْ آيَتُوْنَهْ** دي

**۸: اَلرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى**[redacted] **(آيَتْ ۵،سُوْرَةُ طٰهٰ ۲۰)**
**تَرْجَمَهْ**:- هغه د غټ **رَحْمَتْ مَالِکْ** پر **عَرْشْ** يې **اِسْتِوَاءْ** کړې ده[redacted]

**۹: اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِىْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِىْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ** قف
**(آيَتْ ۵۴،سُوْرَةُ الْاَعْرَافْ ۷)**
**تَرْجَمَهْ**:- **يَقِيْنًا** ستاسو **پَرْوَرْدِګَارْ** هغه **اَللّٰهْ** دئ چي دا ټول آسمانونه او مځکه په شُپږ وُرَځي کي جوړ کړل، بيا ده پر **عَرْشْ** باندي **اِسْتِوَاءْ** وکړه .

**۱۰: اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِىْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِىْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ**
**(آيَتْ ۳،سُوْرَةُ يُوْنُسْ ۱۰)**
**تَرْجَمَهْ**:- **حَقِيْقَتْ** دادئ چي ستاسو پَروَردِګار **اَللّٰهْ** دئ چي ټولـه آسمانونه او مځکه په شُپږ وُرَځي کي پيدا کړل، بيا ده پر **عَرْشْ** باندي په دارنګه **اَنْدَازْ** سره **اِسْتِوَاءْ** وکړه .

**۱۱: اَللّٰهُ الَّذِىْ رَفَعَ السَّمٰوٰتِ بِغَيْرِعَمَدٍ تَرَوْنَهَا ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ .**
**(آيَتْ ۲،سُوْرَةُ الرَّعْدْ ۱۳)**
**تَرْجَمَهْ**:- **اَللّٰهْ** هغه دئ چي د دارنګه **تَمْبُوْ** بغيره آسمان **بَلَنْد** کړئ چي تاسو يې وَوينَئ، بيا ده پر **عَرْشْ** باندي **اِسْتِوَاءْ** وکړه .

**۱۲: اَلَّذِىْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِىْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ** ج
**(آيَتْ ۵۹،سُوْرَةُ الْفُرْقَانْ ۲۵)**
**تَرْجَمَهْ**:- او هغه **ذَاتْ** چي په **شُپَږْ** وُرَځي يې ټولَ **آسْمَانُوْنَهْ** او **مځکي** او دهغه په **مَابَيْنْ** کي (**مَوْجُوْدْ**) **شِيَانْ** پيدَا کړل، بيا ده پر **عَرْشْ** باندي **اِسْتِوَاءْ** وکړه .

**١٣: اَللهُ الَّذِىْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَابَيْنَهُمَا فِىْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ط**

(آيَتْ ۴،سُوْرَةُ السَّجْدَةْ ٣٢)

تَرْجَمَهْ:- اَللهْ هغه (ذَاتْ) دئ چي آسْمَانُوْنَه او مځکي او د دې په مَابَيْنْ کي ټولَ شِيَانْ يې په شُپِږْ وُرَځيْ کي پَيدَا کړل، بيا ده پر عَرْشْ باندي اِسْتِوَاءْ وکړه .

**١۴: هُوَ الَّذِىْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِىْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ط .**

(آيَتْ ۴،سُوْرَةُ الْحَدِيْدْ ۵٧)

تَرْجَمَهْ:- هغه دئ چي آسْمَانُوْنَهْ او مځکه يې په شُپِږْ وُرَځيْ کي پَيدَا کړل، بيايې پر عَرْشْ اِسْتِوَاءْ وکړه .

په دغه اُوَهْ آيَتُوْ کي دئ چي اَللهْ تَعَالٰي پر عَرْشْ باندي اِسْتِوٰي وکړه .

نودغه دُوَهَمْ جَمَاعَتْ ددې خَبَرِيْ قَائِلْ سو چي اَللهْ پر عَرْشْ باندي مُسْتَوِيْ دئ، پاته سو دا چي په کُوم اَنْدَازْ سره مُسْتَوِيْ دئ؟ دا نه دئ مَعْلُوْمْ، بَس د اَللهْ تَعَالٰي د خپل د شَانْ مُطَابِقْ مُسْتَوِيْ دئ .

لُغَتْ:- اِسْتِوٰي د عَرَبِيْ ژَبې لَفْظْ دئ، ددې مَعْنٰي ده سِيْدَهْ کېدل، قَائِمَوَلْ، قَابُوْ کېدَل، او کله نَا کله د کښېنَستَلُو په مَعْنٰي هم اِسْتِعْمَالْ سي، دغه لَفْظْ د مُتَشَابِهَاتْ څخه دئ، نو ځکه د اَللهْ تَعَالٰي لپاره ددغه لَفْظْ کُومَه مَخْصُوْصَ مَعْنٰي مُتَعَيَّنْ کول مُشْکِلْ ده، ځکه چي اَللهْ د سِيدَهْ درېدُو او قَائِمْ کېدو څخه پَاکْ دئ،هغه خو د هسي کُوم کَيْفِيَّتْ څخه هم پَاکْ دئ .

## عَرْشْ يَو ډېر غَټْ مَخْلُوْقْ دئ

**١۵: اَللهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ۩** اَلسَّجْدَةْ (آيَتْ ٢٦،سُوْرَةُ النَّمَلْ ٢٧)

تَرْجَمَهْ:- اَللهْ خو هغه دئ چي دده بِغَيْرَهْ بَلْ د عِبَادَتْ لَائِقْ نَستَه، (او) چي د عَرْشِ عَظِيْمْ مَالِکْ دئ ۩

**١٦: لَآ اِلٰـهَ اِلَّا هُوَ ط عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ۩** (آيَتْ ١٢٩،سُوْرَةُ التَّوْبَةْ ٩)

تَرْجَمَهْ:- دهغه څخه مَاسِوَا بَلْ مَعْبُوْدْ نَستَه، پر هغه باندي مَا بَرُوْسَهْ کړې ده، او هغه د عَرْشِ عَظِيْمْ مَالِکْ دئ ۩

ددغه آيَتُوْ او د نورو ډېرو آيَتُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي عَرْشْ يَو غَټْ او عَظِيْمْ مَخْلُوْقْ دئ، چي اَللهْ تَعَالٰي پَيدَا کړئ دئ .

# كُرْسَئ

كُرْسَئ هم د اَللّٰهْ تَعَالٰى يَو مَخْلُوْقْ دئ، لېكن د عَرْشْ پـه مُقَابَلَـهْ كـي كُرْسَـئ ډېر كِشنَئ مَخْلُوْقْ دئ، لكه په صَحْرَا او ځَنْګَلْ كي چي يَوَه كـړَهْ تَـسّـه كـړي، نو د صَحْرَا په مُقَابِلْ كي د وَسِيْعِيْ يـوه حَلْقَـهْ او كـړَهْ هيڅ حَيْثِيَّتْ نَـه لـري، دغه رنګه د عَرْشْ په مُقَابِلْ كي د كُرْسَئ كُوم خَاصْ حَيْثِيَّتْ نَـه پاتـه كېږي ..... پاته سو دا چي دغه څنګه كُرْسَئ ده؟ دا صِرف وَ اَللّٰهْ ته مَعْلُوْمْ ده .
لېكن دغه كُرْسَئ بيا هم ډُومرَه غَټّهْ ده چي ټـولَ مځكـه او آسْمَانْ يـې ځـائ كړي دي .
په دغه آيَتْ كي د كُرْسَئ ثُبُوْتْ سته

**١٧: وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ۚ وَلَايَئُوْدُهٗ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ**

**(آيَتْ ٢٥٥،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ٢)**

تَرْجَمَهْ:- دده كُرْسَئ (بَاچَاهِي يا/ غَلَبَهْ يا په حَقِيْقَتْ كـي كُرْسَـئْ دومره غټّـه ده چـي) ټـول آسـمانونه او مځـكي يـې رَاګېـر كـړي دي، او ددې دواړو (مځكـي او آسـمان) د نِګرَانَئ څخه ده هيڅ بُوج نَه دئ محسوس كړئ، او هغـه ډېر عَالِيْ شَانَ، د عَظْمَتْ مَالِكْ دئ.

# [٣] درَيَمْ جَمَاعَتْ

د درَيَمْ جَمَاعَتْ:- نَظَرْ دادئ چي اَللّٰهْ تَعَالٰى پـه كائِنَـاتُوْ كـي د عِلْمْ، قُدْرَتْ او بَصِيْرَتْ سره مَوْجُوْدْ دئ، د ذَاتْ سره په دغه كائِنَاتُوْ كي مَوْجُوْدْ نَه دئ، پاتـه سو دا چي نو چيري دئ؟ په دغه اړه ډُوي خَامُوْشْ (پَتّهْ خُولَهْ) دي .
د ډُوي دَلِيْلُوْنَهْ دغه دي
ډُوي فَرْمَائي چي كائِنَـاتْ خـو اَللّٰهْ تَعَالٰى مُونـدلَئ دئ، نـو دئ بـه پـه كائِنَـاتُوْ څنګه مَوْجُوْدْ وي؟
دُوَهَمَّهْ خَبَرَهْ داده چي كائِنَاتْ فَانِيْ دئ، نو كـه چيـري د اَللّٰهْ ذَاتْ پـه دي كـي مَوْجُوْدْ سي نو د اَللّٰهْ ذَاتْ به هم فَانِيْ سي، لِهٰذَا دارنګه بَايَدْ وويل سي چي د عِلْمْ او بَصِيْرَتْ په اِعْتِبَارْ سره اَللّٰهْ تَعَالٰى په كائِنَاتُوْ كي مَوْجُوْدْ دئ .

د دُوي دَلَائِلْ دغه آيَتُوْنَهْ دي

۱۸: وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيْطًا (آيَتْ ۱۲۶،سُوْرَةُ النِّسَآءْ ۴)

تَرْجَمَهْ:- او اَللّٰهْ هر شَئ (د خپل قُدْرَتْ) په اِحَاطَهْ كي اَخستَئ دئ

۱۹: اَ لَآ اِنَّه بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيْطٌ (آيَتْ ۵۴،سُوْرَةُ حٰمٓ اَلسَّجْدَةْ/ سُوْرَةُ فُصِّلَتْ ۴۱)

تَرْجَمَهْ:- يَادْ ولرئ چي ده هر شَئ په اِحَاطَهْ كي اَخستَئ دئ.

۲۰: وَاللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ (آيَتْ ۴۷،سُوْرَةُ الْاَنْفَالْ ۸)

تَرْجَمَهْ:- او اَللّٰهْ د خلكو ټول اَعْمَالْ (دخپل عِلْمْ) په اِحَاطَهْ كي اَخستِي دي

په دغه درو آيَتُوْ كي دئ چي اَللّٰهْ هر شَئ په اِحَاطَهْ كي اَخستَئ دئ، نو ځكه دئ د عِلْمْ په لِحَاظْ سره خو په كائِنَاتُوْ كي مَوْجُوْدْ دئ، د ذَاتْ په اِعْتِبَارْ سره نَه .

۲۱: يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ج وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ (آيَتْ ۲،سُوْرَةُ الْحَدِيْدْ ۵۷)

تَرْجَمَهْ:- هغه ژُوَنْدْ او مرْګْ وَركوِي، او هغه پر هر څَه پُوْرَهْ قُدْرَتْ لري.

۲۲: بَلٰى اِنَّه عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ (آيَتْ ۳۳،سُوْرَةُ الْاَحْقَافْ ۴۶)

تَرْجَمَهْ:- او وَلِيْ به نَه وي؟ هغه بېشَكَّهْ د هر شِيْ پُوْرَهْ قُدْرَتْ لرونكئ دئ.

۲۳: تَبٰرَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ ز وَ هُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرُ ن لا (آيَتْ ۱،سُوْرَةُ الْمُلْكْ ۶۷)

تَرْجَمَهْ:- غَټْ شَانْ دئ د هغه ذَاتْ چي ټولَه بَاچَهِيْ يې په لَاسْ كي ده، اوهغه پر هر شِي پُورَه قَادِرْ دئ.

۲۴: وَيَجْعَلُ مَنْ يَّشَآءُ عَقِيْمًا ط اِنَّه عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ (آيَتْ ۵۰،سُوْرَةُ الشُّوْرٰى ۴۲)

تَرْجَمَهْ:- او چا ته چي وَغُوَاړِي، وَچْ يې كي. يَقِيْنًا هغه د عِلْمْ هم مَالِكْ دئ، د قُدْرَتْ هم مَالِكْ دئ.

په دغه اُوَهْ آيَتُوْ كي دئ چي اَللّٰهْ تَعَالٰى د عِلْمْ، قُدْرَتْ او مِلْكِيَّتْ په اِعْتِبَارْ سره ټولَ كائِنَاتْ په اِحَاطَهْ كي اَخستِي دي، نو ځكه دغه دَرَيَمْ جمَاعَتْ دا وائي چي اَللّٰهْ تَعَالٰى د عِلْمْ، قُدْرَتْ او بَصِيْرَتْ په اِعْتِبَارْ سره په كائِنَاتُوْ كي مَوْجُوْدْ دئ، د ذَاتْ په اِعْتِبَارْ سره نَه .

## [۴] څَلُوْرَمْ جمَاعَتْ

د خُلُوْرَمْ جَمَاعَتْ:- نَظَرْ دادئ چي اَللّٰهْ تَعَالٰی د خپل شَانْ مُطَابِقْ په بَلَنْدِيْ او عُلُوْ کي مَوْجُوْدْ دئ، دغه ډېر غَټْ جَمَاعَتْ نَه دئ، دا چي اَللّٰهْ پر خومره بَلَنْدِيْ باندي دئ؟ ډُوي په دغه اړه هيڅ ډَوَل تَعْيِيْنْ نَه کوي، لېکن دده د شَانْ په لِحَاظْ سره دئ پر بَلَنْدِيْ باندي مَوْجُوْدْ دئ .

د ډُوي دَلِيْلْ دغه آيَتُوْنَهْ دي

۲۵: يَخَافُوْنَ رَبَّهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَايُؤْمَرُوْنَ السَّجْدَة ع (آيَتْ ۵۰، سُوْرَةُ النَّحْلْ ۱۶)

تَرْجَمَهْ:- ډُوي دخپل هغه پَرْوَرْدِګَارْ څخه ببريږي ګُوم چي پر ډُوي لُوړ دئ، او هغه کار کوي ګُوم چي ډُوي ته حُکْمْ وَرکول کيږي

۲۶: اِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُه ط (آيَتْ ۵۰، سُوْرَةُ النَّحْلْ ۱۶)

تَرْجَمَهْ:- يَاکَهْ کِلِمَهْ دهغه وَطَرَفْ ته خبژي، او بِنَهْ عَمَلْ هغه لُوړ پُورتَه کوي .

۲۷: مِّنَ اللهِ ذِی الْمَعَارِجِ ط تَعْرُجُ الْمَلٰئِكَةُ وَالرُّوْحُ اِلَيْهِ فِیْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُه خَمْسِيْنَ اَلْفَ سَنَةٍ ج (آيَتْ ۴، سُوْرَةُ الْمَعَارِجْ ۷۰)

تَرْجَمَهْ:- هغه به د اَللّٰهْ لَخُوَا رَاځِي چي د ختَلُو د ډېولو لَارُوْ مَالِکْ دئ مَلَائِکي او رُوْحُ الْقُدْسْ دهغه وَ طَرَفْ ته په يَوه دارنګه وُرَځْ کي خيږي چي مِقْدَارْ يې پِنْځُوْسْ زَرَهْ کالَ دئ.

۲۸: يُدَبِّرُ الْاَمْرَ مِنَ السَّمَآءِ اِلَی الْاَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ اِلَيْهِ فِیْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗ اَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوْنَ (آيَتْ ۵، سُوْرَةُ السَّجْدَةْ ۳۲)

تَرْجَمَهْ:- هغه دآسْمَانَ څخه وَنِيسي ترمځکي پُوري د هر کَارْ اِنْتِظَامْ په خپله کوي، بياهغه کَارْ په دارنګه وُ رَ ځْ کي هغه ته لُوړ رسيږي چي د هغه مِقْدَارْ ستاسو د شُمېر په حِسَابْ سره زَرْ کَالَ وي.

په دغه خُلُوْرُوْ آيَتُوْ کي دې ته اِشَارَهْ سوې ده چي اَللّٰهْ تَعَالٰی پر بَلَنْدِيْ باندي مَوْجُوْدْ دئ .

۱: عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) قَالَ يَنْزِلُ رَبُّنَا عَزَّ وَ جَلَّ كُلَّ لَيْلَةٍ اِلٰی سَمَاءِ الدُّنْيَا حِيْنَ يَبْقٰی ثُلُثُ اللَّيْلِ الْاٰخِرِ .

(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ،كِتَابُ التَّطَوُّعِ، بَابُ اَیُّ اللَّيْلِ اَفْضَلُ؟، ص: ۱۹۷، نَمْبَرْ ۱۳۱۵)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- زُمُوږ رَبْ هره شپه، چي کلـه د شُپې دَرِيَمَهْ حِصَّهْ پاته وي نو دغه د دُنْيَا وَ آسْمَانْ ته رَا ښْوَهْ کيږي .

په دغه حَدِيْثْ کي هم د اِشَارِي څخه مَعلُوميږي چي اَللّٰهْ پر بَلَنْدِيْ دئ .

نو ځکه ددغه خُلُوْرَمْ جَمَاعَتْ نَظَرْ دادئ چي اَللّٰهْ تَعَالٰی پر بَلَنْدِئ باندي دئ، پاته سو دا چي په کُوم کیْفِیَّتْ کي دئ؟ نو په دغه اړه مُوږ هیڅ ډَوَل بَحْثْ نَه کوو، بَس د خپل شَانْ مُطَابِقْ دئ .

## [۵] پِنْځَمْ جمَاعَتْ

د پِنْځَمْ جَمَاعَتْ:- نَظَرْ دادئ چي اَللّٰهْ تَعَالٰی د خپل شَانْ مُطَابِقْ پر آسْمَانْ دئ، دا هم څه ډېر غَټْ جَمَاعَتْ نَه دئ، بلکه د څه کسَانُو رَاْیَهْ ده، او دغه رَاْیَهْ وَ لُوَړه تېر سوي رَاْیَهْ ته نِژدي نِژدېِ ده .

د دُوي دَلِیْلْ دغه حَدِیْثْ دئ

۲: عَنْ مُعَاوِیَةَ بن الْحَکَم السُّلَمِیّ قَالَ بَیْنَا اَنَا اُصَلِّیْ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ (ﷺ) ..... قَالَ وَکَانَتْ لِیْ جَارِیَةٌ تَرْعٰی غَنَمًا لِیْ ..... قَالَ اِئْتِنِیْ بِهَا فَاَتَیْتُهُ بِهَا فَقَالَ لَهَا، اَیْنَ اللّٰهَ؟ قَالَتْ فِی السَّمَاءِ، قَالَ مَنْ اَنَا قَالَتْ اَنْتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ، قَالَ اَعْتِقْهَا فَاِنَّهَا مُؤْمِنَةٌ .

(مُسْلِمْ شَرِیْفْ،کِتَابُ الْمَسَاجِدْ، بَابُ تَحْرِیْمِ الْکَلَامِ فِی الصَّلَاةِ وَنَسْخِ مَاکَانَ مِنْ اِبَاحَتِه، ص: ۲۱۸، نَمْبَرْ ۵۳۷/ ۱۱۹۹)

تَرْجَمَهْ:- مُوږ لُمُوْنْځْ کاوئ ..... زَمَا سره یَوه مِینځَه وه، چي زَمَا وُزی (بُزی) یي کتَلې ..... حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- مِینځَه مَا ته رَاوَلَئ، نو مُوږ مینځَه حُضُوْرْ (ﷺ) ته رَاوَستَلَه، حُضُوْرْ (ﷺ) د مِینځِي څخه پُوْښْتَنَهْ وکړه چي:- اَللّٰهْ چیري دئ؟ مِینځِي وویل چي، په آسْمَانْ کي دئ، بیایي پُوْښْتَنَهْ ځِینِي وکړه چي زَهْ څوک یَم؟ مِینځِي وویل،تَه د اَللّٰهْ رَسُوْلْ یيِ،حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي دغه مِینځَه آزَادَ که، دغه مُؤْمِنَهْ ده .

په دغه حَدِیْثْ کي دئ چي مِینځِي وویل چي اَللّٰهْ په آسْمَانْ کي دئ، نو حُضُوْرْ (ﷺ) هغه قَبُوْلَ کړه .

نوځکه ددغه جَمَاعَتْ نَظَرْ دغه دئ چي اَللّٰهْ په آسْمَانْ کي دئ، اُوس په کُوم کیْفِیَّتْ کي دئ؟ په دغه اړه دُوي هیڅ بَحْثْ نَه کوي، بَس دده د خپل شَانْ مُطَابِقْ دئ .

## [۶] شپَږَمْ جمَاعَتْ

د شپَږَمْ جَمَاعَتْ:- نَظَرْ دادئ چي اِسْتِوَاءْ عَلَی الْعَرْشْ، اَللّٰهْ تَعَالٰی چیري دئ، د اَللّٰهْ تَعَالٰی چِهْرَهْ، د اَللّٰهْ تَعَالٰی لَاسْ، د اَللّٰهْ تَعَالٰی قَدَمْ، د اَللّٰهْ تَعَالٰی گُوتَهْ، د

اَللّٰهْ تَعَالٰى نُزُوْلْ، دغه ټول د مُتَشَابِهَاتُوْ څخه دي، نو ځکه ددې په اړه بَايَدْ دا وويل سي چي ددې مَعْنٰى خو مَعْلُوْمَ ده، لېکن كيْفِيَّتْ يې نه دئ مَعْلُوْمْ، پر دې باندي اِيْمَانْ ساتَل وَاجِبْ دي، او ددې په اړه بَحْثْ كول بِدْعَتْ دئ، لِهٰذَا په دې اړه پَتَّهْ خُوْلَهْ كېدَل بِهْتَرْ دئ .

## په دُوي كي د اِمَامِ مَالِكْ () دغه قَوْلْ ډېر مَشْهُوْرْ دئ

... سَمِعْتُ يَحْيٰ بن يَحْيٰ يَقُوْلُ كُنَّا عِنْدَ مَالِكِ بن اَنَسٍ فَجَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَا اَبَا عَبْدِ اللّٰهِ، اَلرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى. (اَيَتْ ۵،سُوْرَةُ طٰهٰ ۲۰) كَيْفَ اِسْتَوٰى؟ قَالَ فَاَطْرَقَ مَالِكُ رَاْسَهُ حَتّٰى عَلَاهُ الرَّحْضَاءُ ثُمَّ قَالَ اَلْاِسْتِوٰى غَيْرُ مَجْهُوْلٍ، وَالْكَيْفُ غَيْرُ مَعْقُوْلٍ، وَالْاِيْمَانُ بِه وَاجِبٌ، وَالسُّوَالُ عَنْهُ بِدْعَةٌ، وَمَا اَرَاكَ اِلَّا مُبْتَدِعًا، فَاَمَرَ بِه اَنْ يَّخْرُجَ، قَالَ الشَّيْخُ:- وَعَلٰى مِثْلِ هٰذَا دَرَجَ اَكْثَرُ عُلَمَائِنَا فِىْ مَسْئَلَةِ الْاِسْتِوٰى، وَفِىْ مَسْئَلَةِ الْمَجِىْءِ، وَالْاِتْيَامِ، وَ النُّزُوْلِ .

(اَ لْاَسْمَاءُ وَالصِّفَاتُ، لِلْبَيْهَقِىْ، كِتَابُ الْاِعْتِقَادْ، لِلْبَيْهَقِىْ، بَابُ اَلْقَوْلُ فِى الْاِسْتِوٰى، ج: ۱، ص: ۱۱۶، شَرْحِ فِقْهِ اَكْبَرْ ص: ۷۰)

تَرْجَمَهْ:- مُوږ د مَالِكْ بِنِ اَنَسْ سره مَوْجُوْدْ نَاسْتْ وُو، يَو سړئ راغلئ وويل چي اېٔ اَبُوْعَبْدِ اللّٰهْ! رَحْمٰنْ پر عَرْشْ باندي مُسْتَوِىْ دئ، نو د اِسْتِوٰى كيْفِيَّتْ څنګه دئ؟ حضرت مَالِكْ خپل سَرْ كښتَه وَځړاوئ، آن تر دې چي پر ده باندي خُوْلِي راغلي، بيا ده وَ فَرْمَائِلْ:- د اِسْتِوِىْ مَعْنٰى مَجْهُوْلَ نه ده، ددې كيْفِيَّتْ په عَقْلْ كي نه رَاځي، پر دې باندي اِيْمَانْ ساتَل وَاجِبْ دئ، او ددې په اړه سُوَالْ كول بِدْعَتْ دئ، بيايې وَ فَرْمَائِلْ چي:- زَمَا دا خِيَالْ دئ دغه سړئ بِدْعَتِيْ دئ، نو ځكه دهغه سړي د دباندي اِيستَلو حُكْمْ يې وركړئ، شَيْخْ فَرْمَائِي چي:- زمُوږ عُلَمَاءُ د اَللّٰهْ د رَاتُلُو، د اِتْيَامْ، او د شَوَهْ كېدو مَعَامَلَهْ هم، په دغه اِسْتِوٰى كي شَامِلَ كړې ده، [يعني ددې په اړه هم سُوَالْ كول بِدْعَتْ دئ] .

په دغه عِبَارَتْ كي تر دې پوري سته چي حضرت اِمَامِ مَالِكْ () د اِسْتِوٰى په اړه سُوَالْ كونكي ته بِدْعَتِيْ وويل، او هغه يې د خپلي كمرې څخه وَيَاستَئ .

د دُوي دَلِيْلْ دغه آيَتْ دئ

۲۹: هُوَ الَّذِىْٓ اَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ مِنْهُ اٰيٰتٌ مُّحْكَمٰتٌ هُنَّ اُمُّ الْكِتٰبِ وَ اُخَرُ مُتَشٰبِهٰتٌ ط فَاَمَّا الَّذِيْنَ فِىْ قُلُوْبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُوْنَ مَاتَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَآءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَآءَ تَاْوِيْلِه ج وَمَايَعْلَمُ تَاْوِيْلَهٗٓ اِلَّا اللّٰهُ م وَالرّٰسِخُوْنَ فِى الْعِلْمِ

يَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِه ۙ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ رَبِّنَا ۚ وَمَايَذَّكَّرُ اِلَّآ اُولُوا الْاَ لْبَابِ (آيَتْ ۷، سُوْرَةُ آل عِمْرَانْ ۳) .
تَرْجَمَهْ:- (اىٔ رَسُوْلَ!) هغه اَللّٰهْ دئ چي پر تَـا يـي كِتَـابْ نَـازِلْ كړئ دئ، چـي دهغـه بعض آيَتُوْنَهْ خو مُحْكَمْ دي چي د كِتَابْ اَصل بُنْيَادْ پـر هغـو دئ، او بعـض نـور آيَتُوْنَـهْ مُتَشَابهْ دي، نو اُوس چي د كومو خلكو په زړُوْ كـي كَـجْ رَوِيْ (اِنْحِرَافْ/شَرْپَسَنْدِيْ) ده هغه په مُتَشَابهْ آيتو پسي لګيدلي دي ددې لپاره چي فِتْنَـهْ پيدا كړي او دهغـه آيَتُوْنُـوْ تَأْوِيْلَاتْ پيدا كړي، حالانكه دهغه آيَتُوْ صحيح صحيح مَطْلَبْ د اَللّٰهْ بغيره بَل چاته نَه دئ مَعْلُوْمْ، او چي كُوم خلګ پُخْتَهْ (ښَه ټينګ) عِلْمْ لري هغه دا وائي چي:,, موږ پر دغـه (يعني ددې پر مَطْلَبْ) باندي اِيْمَانْ راوړئ (كُوم چي اَللّٰهْ تـه معلوم دئ)، ټـولَ زمـوږ د پَرْوَرْدِګارْ لجانِب څخه دي,, او نَصِيْحَتْ خو هغه خلګ حَاصِلَوِي چي عَقَلْ لري
په دغه آيَتْ كي دا نَصِيْحَتْ كړئ دئ چي په مُتَشَابهْ اَلْفَاظُوْ او دهغه په مَطْلَبْ مَه پَسي كيږئ، بلكه پر دغه رنګه مُوْقَعْ د اَللّٰهْ پر آيَتُوْ اِيْمَانْ وَساتَئ او پَتَّهْ خُوْلَهْ سئ، نو څكه مُوږ د اِسْتَوٰى په تَحْقِيْقْ نَه پَسي كيږو، بلكه پَتَّهْ خُوْلَهْ كيږو .

## د اِمَامْ اَبُوْحَنِيْفَهْ رَاْيَهْ

په دغه اړه د اِمَامْ اَبُوْحَنِيْفَهْ رَاْيَهْ داده چي دارنګه بَايَدْ وَوَيَل سي چي:- ددې مَعْنٰي خو مَعْلُوْمَ ده، لېكن كَيْفِيَّتْ يې نَه دئ مَعْلُوْمْ، څكه چي د كَيْفِيَّتْ مَعْلُوْمَاتْ يې مُوږ نَه لرو، د شَرْحِ فِقْهِ اَكْبَرْ چي د اِمَامْ اَبُوْحَنِيْفَهْ يو مَشْهُوْرْ كِتَابْ دئ، دهغه عِبَارَتْ دغه دئ

..... وَلَهُ يَدٌ وَ وَجْهٌ وَ نَفْسٌ كَمَا ذَ كَرَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى فِى الْقُرْاٰنِ، فَمَا ذَ كَرَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى فِى الْقُرْاٰنِ مِنْ ذِكْرِ الْوَجْهِ وَالْيَدِ وَالنَّفْسِ فَهُوَ لَهُ صِفَاتٌ بِلَاكَيْفٍ ، وَلَايُقَالُ: اِنَّ يَدَهُ قُدْرَتُهُ اَوْ نِعْمَتُهُ لِاَنَّ فِيْهِ اِبْطَالُ الصِّفَةِ وَهُوَ قَوْلُ اَهْلِ الْقَدْرِ وَالْاِعْتِزَالِ، وَلٰكِنْ يَدَهُ صِفَتُهُ بِلَاكَيْفٍ، وَغَضَبُهُ وَ رِضَاهُ صِفَتَانِ تَعَالٰى بِلَاكَيْفٍ .

(شَرْحُ كِتَابِ الْفِقْهِ الْاَكْبَرْ، ص: ۶۶/ ۶۸)
تَرْجَمَهْ:- د اَللّٰهْ لپاره لَاسْ، چِهْرَهْ، نَفْسْ، لكه څنګه چي په قُرْآنْ كي ددې تَذْكِرَهْ راغلي ده [پر دې باندي اِيْمَانْ وَساتَئ] نـو اَللّٰهْ تَعَالٰى چي پـه قُرْآنْ كي كُـوم بَيَـانْ كړئ دئ، چِهْرَهْ، لَاسْ، نَفْسْ، نو دغه د اَللّٰهْ صِفَاتْ دي، لېكن د كَيْفِيَّتْ څخه بَغَيْرَهْ دي .
او دا بَايَدْ وَنَه وَيَل سي چي:- د اَللّٰهْ د لَاسْ مَطْلَبْ، دهغه قُدْرَتْ دئ، يـا د اَللّٰهْ نِعْمَتْ دئ، څكه چي په تَأْوِيْلْ كولو سره د اَللّٰهْ صِفَتْ بَاطِلْ ګرزي، د قَدْرِيَّـهْ او مُعْتَزِلَـهْ دواړو دَلُو دغه رَاْيَهْ ده چي:- [د اَللّٰهْ د لَاسْ مَطْلَبْ دده قُدْرَتْ يـا دده نِعْمَتْ دئ] لـېكن اَصْلَ خَبَرَهْ

دغه ده چي:- د اَللّٰهْ د لَاسْ مَطْلَبْ دده صِفَتْ، لېکن د کیْفِیَّتْ څخه بَغَیْرَهْ، د اَللّٰهْ خَبْنَمْ او د اَللّٰهْ رَضَامَنْدِيْ دواړه د اَللّٰهْ صِفَتُوْنَهْ دي، لېکن د کیْفِیَّتْ څخه بَغَیْرَه .

او شَارِحِیْنُ ,, اَلرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى ,, آیَتْ هم په دغه کي دَاخِلْ کړئ دئ چي د اِسْتِوٰي مَعْنٰي خو مَعْلُوْمَ ده، لېکن اَللّٰهْ په کُوم کیْفِیَّتْ سره پر عَرْشْ باندي اِسْتِوٰي کړې ده؟ دغه نَه ده مَعْلُوْمَ، او نَه د بَل آیَتْ یا حَدِیْثْ څخه دغه کیْفِیَّتْ مَعلومېږي، نو ځکه دغه هم د مُتَشَابِهَاتُوْ څخه دئ، لِهٰذَا پر دغه باندي پَتَّهْ خُولَهْ کېدل بِهْتَرْ دئ .

## د اِمَامِ غَزَالِيْ ﴿﴾ رَایَهْ

اِمَامِ غَزَالِيْ ﴿﴾ فَرْمَایلي دي چي د اِسْتِوٰي تَرْجَمَهْ پر عَرْشْ باندي د اِسْتِقْرَارْ یا د کېنېنَسْتَلُو نَه ده، بلکه ددې تَرْجَمَهْ داده چي:-

د عَرْشْ حِفَاظَتْ یې وکئ، پر عَرْشْ یې قَبْضَهْ وکړه، عَرْشْ یې بَاقِيْ پرېښُوَئ .

که چیري د ,, عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى ,, تَرْجَمَهْ په د عَرْشْ حِفَاظَتْ یې وکئ، پر عَرْشْ یې قَبْضَهْ وکړه، عَرْشْ یې بَاقِيْ پرېښُوَئ، سره وکړل سي، نو په دي کي د اَللّٰهْ د کیْفِیَّتْ ذِکْرْ نَه رَاځِي، نو ځکه په دغه تَرْجَمَهْ کي د کیْفِیَّتْ د بَحْثْ کولو ضرورت نَستَه .

دده عِبَارَتْ دغه دئ

د اِسْتِوٰي مَفْهُوْمْ یې دا بَیَانْ کړئ دئ [ ,, عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى ,, ] اَيْ ,, قَهَرَ، حَفِظَ، وَ اَبْقٰی ,, (قَوَاعِدُ الْعَقَائِدْ، ص: ۱۶۷)

تَرْجَمَهْ :- پر عَرْشْ باندي مُسْتَوِيْ سو یعني پر هغه قَاهِرْ سو، دهغه حِفَاظَتْ یې وکئ، او هغه یې بَاقِيْ پرېښُوَئ .

دُوي یې دا تَرْجَمَهْ نَه ده کړې چي اَللّٰهْ پر عَرْشْ باندي مُسْتَقِرْ سو، یا مُسْتَوِيْ سو .

## د اِمَامِ طَحَاوِيْ ﴿﴾ مَسْلَکْ

اِمَامِ طَحَاوِيْ ﴿﴾ دا مَسْلَکَ اِخْتِیَارْ کړئ دئ چي عَرْشْ او کُرْسَيْ حَقْ دي، لېکن اَللّٰهْ د عَرْشْ او کُرْسَيْ څخه بې نِیَازَ دئ، دده عِبَارَتْ دغه دئ

وَالْعَرْشُ وَالْکُرْسِيُّ حَقٌّ، وَهُوَ عَزَّ وَ جَلَّ مُسْتَغْنِي عَنِ الْعَرْشِ وَ مَادُوْنَهُ .

(اَلْعَقِیْدَةُ الطَّحَاوِیَّةُ، عَقِیْدَهْ نَمْبَرْ: ۴۹، /۵۰، ص: ۱۳)

تَرْجَمَهْ:- عَرْشْ او کُرْسَيْ حَقْ دي، لېکن اَللّٰهْ تَعَالٰي د عَرْشْ او کُرْسَئ څخه بې نِیَازَ دئ .

دغه **شپږ ٦ جَمَاعَتُوْنَهْ** او د **څلورو ۴ بُزَرْګانُوْ** رَاپِي ستاسو په مَخکِي دي، تاسو په خپله هم **غَوَرْ** وکئ .

## دغه لَفْظُوْنَهْ هم د مُتَشَابِهَاتُوْ څخه دي

**[١]** د ,, **اِسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ** ,, څخه **عَلَاوَهْ** دغه نَه **٩ اَلْفَاظْ** هم د **مُتَشَابِهَاتُوْ** څخه دي، مَختَه دا تېر سو چي **لَيْسَ كَمِثْلِه شَيْءٌ**. **(آيَتْ ١١ ،سُوْرَةُ الشُّوْرٰى ٤٢)** .

**تَرْجَمَهْ**:- يَو شَئ د **اَللهْ** په **مِثْلْ (شَانْ)** نستَه .

نو ځکه د **اَللهْ تَعَالٰى لَاسْ**، **چِهْرَهْ** زُمُوږ د **لَاسْ** او **چِهرِي** په **شَانْ** نَه سي کېدلائي، ددې **حَقِيْقِيْ مَعْنٰى** خو صِرف وَ **اَللهْ تَعَالٰى** ته **مَعْلُوْمَ** ده، نو ځکه دغه **اَلْفَاظْ** او **اَعْضَاءْ** د **مُتَشَابِهَاتُوْ** څخه دي، او په **مُتَشَابِهَاتُوْ** کي ډېر **دَنَنَهْ** تَلَل او دهغه د **مَعْنٰى** او **مَطْلَبْ** په **پَلَتَنَهْ** کي **بُحْثْ** کېدلو څخه په آيَت کي **مَنْعَ** کړې ده، نو ځکه پر دغه **اَلْفَاظُوْ** باندي **اِيْمَانْ** وَسَاتَئ، او د ډېري **پَلَتَنِي** څخه **اِحْتِرَازْ** وکئ .

**مُفَسِّرِيْنُ حَضَرَاتُوْ** د **مُوْقِعْ** او **مَحَلْ** په **اِعْتِبَارْ** سره ددغه **اَلْفَاظُوْ تَرْجَمَهْ** کړې ده، چي **حَقِيْقِيْ تَرْجَمَهْ** خو نَه ده، لېکن د خلګو د **يُوْهَنِيْ** لپاره د **قَرِيْبْ قَرِيْبْ مَفْهُوْمْ** د بَيَانَوُل کُوښښ يې کړئ دئ .

هغه نَه **٩ اَعْضَاءْ** يا **اَنْدَامُوْنَهْ** دغه دي

**[١]** د **اَللهْ لَاسْ** .

**[٢]** د **اَللهْ چِهْرَهْ**، **وَجْهُ اللهْ** .

**[٣]** د **اَللهْ نَفْسْ** .

**[۴]** د **اَللهْ سترګه** .

**[۵]** د **اَللهْ بِنَئ لَاسْ** .

**[٦] ګُوَتَهْ** .

**[٧] قَدَمْ** .

**[٨]** د **اَللهْ رَاشَوَهْ** کېدل .

**[٩]** د حضرت **آدَمْ** پر خپل **صُوْرَتْ** پَيدَا کول .

[۱] د اَللهْ د لَاسْ لپاره دغه آيَتُوْنَهْ دي .

۳۰: وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ يَدُ اللهِ مَغْلُوْلَةٌ ط غُلَّتْ اَيْدِيْهِمْ وَلُعِنُوْا بِمَا قَالُوْا م بَلْ يَدٰهُ مَبْسُوْطَتٰنِ لا يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَآءُ ط (آيَتْ ۶۴، سُوْرَةُ الْمَائِدَةْ ۵) .

تَرْجَمَهْ:- او يَهُوْدِيَانْ وائي چي ,, د اَللهْ لَاسُوْنَه تړلي دي,, لَاسُوْنَهْ خو په خپله د دُوي دا تړلِيْ دي، او كُوْمَهْ خَبَرَهْ چي دُوي كړي ده دهغه په وَجْهَ پر دُوي باندي جَلَا لَعْنَتْ سوئ دئ، كه نَه نو د اَللهْ دُوَاړه لَاسُوْنَهْ مُكمَّلْ خَلَاسْ (پرَاخ) دي، هغه چې څنګه وغواړي مَصْرَفْ كوي يې .

۳۱: اِنَّ الَّذِيْنَ يُبَايِعُوْنَكَ اِنَّمَا يُبَايِعُوْنَ اللهَ ط يَدُ اللهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ ج (آيَتْ ۱۰، سُوْرَةُ الْفَتْحْ ۴۸) .

تَرْجَمَهْ:- (اىٔ پيْغَمْبَرَهْ!) كُوم خلګ چي ستا سره بَيْعَتْ كوي، هغه په حَقِيْقَتْ كي د اَللهْ سره بَيْعَتْ كوي. د اَللهْ لَاسْ د دُوي پر لَاسُوْ (بِلَا كَيْفَ) پُرُوت دئ .

۳۲: فَسُبْحٰنَ الَّذِىْ بِيَدِهٖ مَلَكُوْتُ كُلِّ شَىْءٍ وَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ (آيَتْ ۸۳، سُوْرَةُ يٰسٓ ۳۶) .

تَرْجَمَهْ:- غَرَضْ پَاكْ دئ هغه ذَاتْ چي د هر شِي حُكُوْمَتْ دده په لَاسْ كي دئ، او دهغه وَ طَرَفْ ته به آخِرْ كارْ تاسو ټوله بيوَل كيږئ.

په دغه درو سره آيَتُوْ كي د اَللهْ د لَاسْ ذِكْرْ سوئ دئ .

[۲] د اَللهْ د وَجْهْ يعني چِهرِي لپاره دغه آيَتُوْنَهْ دي .

۳۳: وَ لِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ق فَاَيْنَمَا تُوَلُّوْا فَثَمَّ وَجْهُ اللهِ ط اِنَّ اللهَ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ (آيَتْ ۱۱۵،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲)

تَرْجَمَهْ:- او مَشْرِقْ او مَغْرِبْ (اَطْرَافْ) ټول خَالِصْ د اَللهْ دي، لِهٰذَا چي تاسو كُوم طرف ته رُخْ (مَخ) وګرزوئ، هلته د اَللهْ تَعَالٰي رُخْ (رَضَاءْ) سته، بيشكه اَللهْ تَعَالٰي د ډير وُسْعَتْ (پراخئ) مَالِكْ، ډير عِلْمْ لرونكئ ذَاتْ دئ

۳۴: وَمَاتُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَلِاَنْفُسِكُمْ ط وَمَاتُنْفِقُوْنَ اِلَّا ابْتِغَآءَ وَجْهِ اللهِ ط (آيَتْ ۲۷۲،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲)

تَرْجَمَهْ:- او كُوم مَالْ چي تاسو مَصرَفْ كوئ هغه ستاسو د فائدي لپاره دئ، او سره ددي چي تاسو يې د اَللهْ د رَضَامَنْدِئ د طَلَبْ كولو بغيره د بَل هيڅ ډول غَرَضْ لپاره نَه مَصْرَفْ كوئ .

دي .

۳۵: وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ زَكٰوةٍ تُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُوْنَ (آيَتْ ۳۹،سُوْرَةُ الرُّوْمْ ۳۰)

**تَرْجَمَهْ**:- او کُوم **زَکوٰةْ** چي تاسو د **اَللّٰهْ** د **رَضَامَنْدَئ** د **حَاصِلَوُلُوْ** په **اِرَادَهْ** ورکوئ، نو چي کُوم خلګ دغه رنګه کوي، (بَس) هغه دي چي (خپل **مَالُوْنَ**) څُو **چَنْدَ** زِيَاتوِي.
په دغه درو سره **آيَتُوْ** کي د **اَللّٰهْ** د **وَجْهْ** يعني **چِهْرِي** ذِکر سوئ دئ .

**[۳]** د **نَفْسْ** لپاره دغه **آيَتْ** دئ .

**۳۶: تَعْلَمُ مَا فِيْ نَفْسِيْ وَلَآ اَعْلَمُ مَا فِيْ نَفْسِكَ .** (**آيَتْ ۱۱۶،سُوْرَةُ الْمَائِدَةْ ۵**)

**تَرْجَمَهْ**:- تَه په (هغه) **خَبَرُوْ خَبَرْدَارَهْ** يي کُوم چي **زَمَا** په **زَرَهْ** کي پَټي دي، او **زَهْ** ستاپه **پَټُوخَبَرُوْ** نَه يم **خَبَرْ، يَقِيْنَا** تَه په ټولو پَټُو **خَبَرُوْ پُوْرَهْ پُوْرَهْ خَبَرْ** يې
په دغه **آيَتْ** کي د **نَفْسْ** ذِکر سوئ دئ .

**[۴]** د **ستَرْګِيْ** لپاره دغه **آيَتْ** دئ .

**۳۷: وَلِتُصْنَعَ عَلٰى عَيْنِيْ** (**آيَتْ ۳۹،سُوْرَةُ طٰهٰ ۵**)

**تَرْجَمَهْ**:- او دغه ټول څَه مُو په دې **وَجْهَ** کړي وُو چي تَه **زَمَا** په نِګرَاني کي **پَرْوَرِښْ** وکې
دغه **وَيْنَا اَللّٰهْ تَعَالٰي** و حضرت **مُوْسٰي عَلَيْهِ السَّلَامْ** ته کړې وه، په دغه **آيَتْ** کي د **عَيْنْ** (يعني **سترګي**) ذِکر سوئ دئ .

**[۵]** د **يَمِيْنْ** يعني ښِي **لَاسْ** لپاره دغه **آيَتْ** دئ .

**۳۸: وَالسَّمٰوٰتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِيْنِه** (**آيَتْ ۶۷،سُوْرَةُ الزُّمَرْ ۳۹**)

**تَرْجَمَهْ**:- او ټوله **آسْمَانُوْنَهْ** به دده په **ښِيْ لَاسْ** کي **پيچَلْ** سوي وي .

**[۶]** د **ګوْتِيْ** لپاره دغه **حَدِيْثْ** دئ .

**۳: اِنَّ قُلُوْبَ بَنِيْ اٰدَمَ كُلَّهَا بَيْنَ اِصْبَعَيْنِ مِنْ اَصَابِعِ الرَّحْمٰنِ .**
(**مُسْنَدِ اَحْمَدْ، مُسْنَدُ عَبْدِاللهِ بن عَمْرو بن الْعَاصْ، ج: ۱۱، ص: ۱۳۰، نَمْبَرْ ۶۵۶۹**)

**تَرْجَمَهْ**:- د ټولو **بَنِيْ آدَمَانُوْ زُړُوْنَهْ** د **رَحْمٰنْ** په **ګُوْتُوْ** کي دي .
په دغه **حَدِيْثْ** کي د **ګُوْتُوْ** ذِکر سوئ دئ .

**[۷]** د **قَدَمْ** لپاره دغه **حَدِيْثْ** دئ .

**۴: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ ..... يُقَالُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَأْتِ وَتَقُوْلُ هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ؟ فَيَضَعُ الرَّبُّ تَبَارَكَ وَتَعَالٰي قَدَمَهُ فَتَقُوْلُ قَطِّ قَطِّ .**

(بُخَارِیْ شَرِيْفْ، كِتَابُ سُوْرَةِ قٓ، بَابُ قَوْلِه وَتَقُوْلُ هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ، ص: ۸۵۸، نَمْبَرْ ۴۸۴۹)

تَرْجَمَهْ:- د دُوْزَخْ څخه به پُوْښْتَنَهْ وسي چي اَيَا ته ډَکْ سوې؟ نو دُوْزَخْ به وائي، بَسْ بَسْ .

په دغه حَدِيْثْ کي د اَللّٰهْ د قَدَمُوْ ثُبُوْتْ سته .

[۸] د رَاشَوَهْ کېدو لپاره دغه حَدِيْثْ دئ .

عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) قَالَ يَنْزِلُ رَبُّنَا عَزَّ وَ جَلَّ كُلَّ لَيْلَةٍ اِلٰی سَمَاءِ الدُّنْيَا حِيْنَ يَبْقٰی ثُلُثُ اللَّيْلِ الْاٰخِرِ .

(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ،كِتَابُ التَّطَوُّعِ، بَابُ اَیُّ اللَّيْلِ اَفْضَلُ؟، ص: ۱۹۷، نَمْبَرْ ۱۳۱۵)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- زمُوږ رَبْ هره شپه، چي کله د شپې دَرِيَمَهْ حِصَّهْ پاته وي نو دغه د دُنْيَا وَ آسمَانْ ته رَا شَوَهْ کېږي .

په دغه حَدِيْثْ کي د اَللّٰهْ د رَاشَوَهْ کېدو ثُبُوْتْ سته .

[۹] حضرت آدَمْ عَلَيْهِ السَّلَامْ يې پر خپل صُوْرَتْ پَيدَا کئ .

۶: عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِیِّ (ﷺ) قَالَ خَلَقَ اللهُ اٰدَمَ عَلٰی صُوْرَتِه طُوْلُه سِتُّوْنَ ذِرَاعًا .

(بُخَارِیْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْاِسْتِئْذَانْ، بَابُ بَدْءُ السَّلَامْ، ص: ۱۰۸۴، نَمْبَرْ ۶۲۲۷/مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَّةِ وَنَعِيْمُهَا، بَابُ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ اَقْوَامٌ اَفْئِدَتُهُمْ مِثْلَ اَفْئِدَةِ الطَّيْرِ، ص: ۱۲۳۴، نَمْبَرْ ۲۸۴۱/ ۷۱۶۳)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- اَللّٰهْ تَعَالٰی حضرت آدَمْ پر خپل صُوْرَتْ پَيدَا کئ، دهغه جَګْوَالَیْ (وُږْدْوَلْ) شپېتَه هَتِیْ (ذِرَاعْ/ شَرْعِیْ ګزْ/ لَاسْ) ؤو .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي حضرت آدَمْ اَللّٰهْ تَعَالٰی پر خپل صُوْرَتْ باندي پَيدَا کړئ دئ .

دغه اَلْفَاظْ د مُتَشَابِهَاتُوْ څخه دي، ددې دَننَهْ مَطْلَبْ او مَعْنٰی په دي کي تَحْقِيْقْ او تَلَاشْ مَه کوئ .

## ۲۸: قَلَمْ چِشئ دئ؟

ددغه عَقِيدې په اړه ۴ آيَتُوْنَهْ او ۲ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحظَهْ کئ .

د **قُرْآنْ** و **حَدِیْثْ** څخه مَعلُومیږي چي **اَللهْ تَعَالٰی** د لِیکلُو لپاره **قَلَمْ** پَیدَا کئ، او هغه ته د لِیکلُو **حُکْمْ** ورکئ، نو **قَلَمْ** هغه ټولَ **شِیَانْ** وَلِیکل کُوم چي ده ته یې د لِیکلُو **حُکْمْ** سوئ وُو، لیکن ددې **کیْفِیَّتْ** څنګه دئ؟ دا نَه دئ **مَعْلُوْمْ**، دا صِرف وَ **اَللهْ تَعَالٰی** ته **مَعْلُوْمْ** دئ .

**دَلِیْلْ** یې دغه **آیَتُوْنَهْ** دي

**۱:** **نٓ وَالْقَلَمِ وَمَا یَسْطُرُوْنَ** ﴿لا﴾ (**آیَتْ ۱**،**سُوْرَةُ الْقَلَمْ ۶۸**)

**تَرْجَمَهْ**:- **نٓ**. (ای **پیْغَمْبَرَهْ**!) په **قَلَمْ** دي مِي **قَسَمْ** وي، او په هغه شي چي هغه (**فَرِشْتِی**) یې لیکي،﴿﴾

**۲:** **اِقْرَاْ وَ رَبُّكَ الاَ کْرَمُ** ﴿لا﴾ **الَّذِیْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ** ﴿لا﴾ (**آیَتْ ۳**، **۴**، **سُوْرَةُ الْعَلَقْ ۹۶**)

**تَرْجَمَهْ**:- **وَلْوَلَهْ**، او ستا **پَرْوَرْدِګارْ** تر ټولو **زِیَاتْ کرَمْ** کونکئ دئ،﴿﴾ چي د **قَلَمْ** په **ذَرِیْعَهْ** سره **تَعْلِیْمْ** وَرکړئ دئ،﴿﴾

**۱:** **قَالَ عِبَادَ ةُ بِنِ الصَّامِتِ لِاِبْنِهِ** ..... **سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ** (ﷺ) **یَقُوْلُ اِنَّ اَوَّلَ مَا خَلَقَ اللهُ تَعَالٰی الْقَلَمَ، فَقَالَ لَهُ اُکْتُبْ فَقَالَ رَبِّ وَمَا ذَا اَکْتُبُ؟ قَالَ اُکْتُبْ مَقَادِیْرَ کُلِّ شَیْءٍ حَتّٰی تَقُوْمُ السَّاعَةُ، یَابُنَیَّ اِنِّیْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ** (ﷺ) **یَقُوْلُ مَنْ مَاتَ عَلٰی غَیْرِ هٰذَا فَلَیْسَ مِنِّیْ** .

(**اَبُوْدَاوُدْ شَرِیْفْ**، **کِتَابُ السُّنَّةْ**، **بَابٌ فِی الْقَدْرِ**، **ص**: **۶۶۴**، **نَمْبَرْ ۴۷۰۰**/**تِرْمِذِیْ شَرِیْفْ**، **کِتَابُ الْقَدْرِ**، **بَابُ اِعْظَامُ اَمْرِ الْاِیْمَانِ بِالْقَدْرِ**، **ص**: **۴۹۵**، **نَمْبَرْ ۲۱۵۵**)

**تَرْجَمَهْ**:- حضرت **عِبَادَهْ بِنْ صَامِتْ** وَ خپل زُوئ ته وویل ..... د **حُضُوْرْ** (ﷺ) څخه **مَا** اَوریدَلِي دي چي:- **اَللهْ تَعَالٰی** تر ټولو مَخکِي **قَلَمْ** پَیدَا کئ، هغه ته یې وویل چي وَلِیکه، **قَلَمْ** وویل چي **زَمَا رَبْ** څشئ وَلِیکم؟ **اَللهْ** وَ **فَرْمَائِلْ** چي:- د **قِیَامَتْ** تر **قَائِمْ** کیدو پُورِي د هر شِي **تَقْدِیْرْ** وَلِیکه، بیا حضرت **عِبَادَهْ بِنْ صَامِتْ** وویل، ای **زُوْیَهْ**! **مَا** د **حُضُوْرْ** (ﷺ) څخه دا اَوریدَلِي دي چي څوک ددغه **تَقْدِیْرْ** څخه **عَلَاوَهْ** پر بَل (**اِعْتِقَادْ**) **مَړْ** سي هغه **زَمَا** څخه نَه دئ، یعني **مُسْلْمَانْ** نَه دئ .

ددغه **آیَتُوْ** او **حَدِیْثْ** څخه **مَعْلُوْمْ** سو چي **قَلَمْ** د **اَللهْ تَعَالٰی** یَو **خَاصْ** شئ دئ چي تر ټولو مَخکِي یې پَیدَا کړئ دئ او تر **قِیَامَتْ** پُوري او دهغه **بَعْدْ** رَاتْلُونکو ټولُو **خَبَرُوْ** د لِیکلُو **حُکْمْ** یې ورکئ، او **قَلَمْ** هغه ټولي **خَبَرِیْ** وَلِیکلي، لیکن دغه **قَلَمْ** زُمُوږ د **قَلَمْ** په **شَانْ** نَه دئ، دا څنګه دئ؟ دا نو صِرف وَ **اَللهْ تَعَالٰی** ته **مَعْلُوْمْ** دئ .

# لَوْحْ چشئ دئ؟

لَوْحْ وَ تَخْتَیْ ته وَيَل کيږي، لېکن دغه ځنګه لَوْحْ ده دا صِرف وَ اَللهْ تَعَالٰی ته مَعْلُوْمَ ده، شَيَاطِيْنْ او جِنَّاتْ وَ دغه لَوْحْ ته نَه سي رسېدَلائي، چې په دي کي کُوم بَدْلُوْنْ يا تَحْرِيْفْ وکي، په دغه لَوْحْ کي قُرْآن کرِيْمْ مَحْفُوْظْ وُو، او اُوس مَحَالْ هم په هغه کي مَحْفُوْظْ دئ، دهغه ځخه يې رَاوَيَاستَئ پر حُضُوْرْ (ﷺ) باندي نَازِلْ کئ، چي اُوس مَحَالْ زُمُوږ او ستاسو په مَخکِي مَوْجُوْدْ دئ .

دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ او حَدِيْثْ دئ

**۳: بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ ۝ۙ فِیْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ ۝** (آيَتْ ۲۱، ۲۲، سُوْرَةُ الْبُرُوْجْ ۸۵)

تَرْجَمَهْ:- (د دُوي د اِنْکارْ کولو ځخه پر قُرْآنْ باندي هيڅ اَثَرْ نَه لُوېږي) بلکه دا خو د ډېر عَظْمَتْ ځخه ډَکْ قُرْآنْ دئ، ۝ چي په لَوْحِ مَحْفُوْظْ کي لِيکلَئ دئ. ۝

**۴: اِنَّهٗ لَقُرْاٰنٌ کَرِيْمٌ ۝ۙ فِیْ کِتٰبٍ مَّکْنُوْنٍ ۝ۙ** (آيَتْ ۷۷، ۷۸، سُوْرَةُ الْوَاقِعَةْ ۵۶)

تَرْجَمَهْ:- دا ډېر بَاوَقَارْ قُرْآنْ دئ ۝ چي په يَوَه مَحْفُوْظَ کِتَابْ کي (مَخکِي لَا) دَرْجْ دئ، ۝

**۲: عَنْ عِمْرَانَ بن الْحُصَيْنِ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) ..... قَالَ کَانَ اللهُ قَبْلَ کُلِّ شَیْءٍ، وَ کَانَ عَرْشُهُ عَلَی الْمَاءِ، وَکَتَبَ فِی اللَّوْحِ ذِکْرَ کُلِّ شَیْءٍ .**

(مُسْنَدِ اَحْمَدْ، حَدِيْثُ عِمْرَانْ بن حُصَيْنِ، ج: ۳۳، ص: ۱۰۷، نَمْبَرْ ۱۹۸۷۶)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي تر ټولو مَخکِي اَللهْ وُو، او د اَللهْ عَرْشْ پر اُوبُوْ وُو، او د هر شِي ذِکْرْ يې په لَوْحِ مَحْفُوْظْ کي وَلِيکئ .

ددغه آيَتُوْ او حَدِيْثْ ځخه مَعْلُوْمْ سو چي قُرْآنْ په لَوْحِ مَحْفُوْظْ کي وُو، او د هغه ځايَهْ ځخه يې پر حُضُوْرْ (ﷺ) باندي نَازِلْ کئ، او دا هم مَعْلُوْمْ سو چي په لَوْحِ مَحْفُوْظْ کي د هر شِي ذِکْرْ سوئ دئ .

## ۲۹: د اِيْمَانْ تَفْصِيْلْ

ددغه عَقِيدي په اړه ۱۴ آيَتُوْنَهْ او ۶ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کئ .

# چي پر شيَرُوْ شِيَانُوْ بې اِيْمَانْ وي نو هغه ته مُؤْمِنْ وَيَلائي سې

چي ددغه شيَرُوْ شِيَانُوْ څخه د يَوَه شِي اِنْكَارْ وكي نو كَافِرْ كېږي، لېكن كه ددغه شيَرُوْ څخه د يَوَه اِنْكَارْ نَه كوي نو بيا كَافِرْ نَه دئ، بيا مُسْلْمَانْ دئ، نو ځكه پر لَږْ لَږْ او كِشْنِي كِشْنِي خَبَرُوْ باندي د كُفْرْ فَتْوٰي وركول نَاجَائِزْ كار دئ، هغه شيُرْ شِيَانْ دغه دي

[۱] پر اَللّٰهْ به اِيْمَانْ وي .

[۲] پر رَسُوْلْ به اِيْمَانْ وي .

[۳] پر كِتَابْ يعني قُرْآن مَجِيْدْ به اِيْمَانْ وي .

[۴] پر فَرِشْتُوْ به اِيْمَانْ وي .

[۵] د آخِرَتْ پر وُرَځْ به اِيْمَانْ وي .

[۶] او چي پر تَقْدِيْرْ باندې اِيْمَانْ وي نو هغه مُؤْمِنْ دئ .

## په عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّهْ كي دئ

چي پر دغه شيُرُوْ شِيَانُوْ باندي اِيْمَانْ سَاتَل ضروري دئ

..... وَالْاِيْمَانُ، هُوَالْاِيْمَانُ بِاللّٰهِ، وَمَلَائِكَتِهِ، وَكُتُبِهِ، وَ رُسُلِهِ، وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ، وَالْقَدْرِ، خَيْرِهِ وَشَرِّهِ وَ حُلْوِهِ وَ مُرِّهِ . (عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةْ، عَقِيْدَهْ نِمْبَرْ ۶۶ ، ص: ۱۵)

تَرْجَمَهْ:- او اِيْمَانْ، دادئ چي پر اَللّٰهْ باندي، دهغه پر فَرِشْتُوْ باندي، دهغه پر كِتَابُوْ باندي، دهغه پر رَسُوْلَانُوْ باندي، د آخِرَتْ پر وُرَځْ باندي، او پر تَقْدِيْرْ (ښَهْ و بَدْ، خُوْږْ و تِرِخْ) باندي هم اِيْمَانْ رَاوْړل دئ .

په دغه عِبَارَتْ كي دئ چي پر شيَرْ شِيَانُوْ اِيْمَانْ وي نو بيا اِنْسَانْ مُؤْمِنْ كېدلائي سي .

ددغه شيَرُوْ شِيَانُوْ دَلِيْلْ دغه دئ

آيَتْ دادئ

**١: اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِن رَّبِّه وَالْمُؤْمِنُوْنَ ط كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰئِكَتِه وَكُتُبِه وَ رُسُلِه قف لَانُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِه قف . (آيَتْ ٢٨٥،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ٢) .**

تَرْجَمَهْ:- دغه رَسُوْلْ (حضرت مُحَمَّدْ صَلَّي اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ) پر هغه شِي اِيْمَانْ راوړئ دئ چي دده وطَرَفْ ته دده د رَبْ لجانِب څخه نَازِلْ سوئ دئ، او (دده سره) ټولو مُسَلْمَانَانُوْ هم، دُوي ټولو پر اَللهْ باندي، دهغه پر فَرِشْتُوْ باندي، دهغه پر كِتَابُوْ باندي، او دهغه پر رَسُوْلَانُوْ باندي اِيْمَانْ راوړئ دئ، (دُوي وائي چي) موږ دهغه د رَسُوْلَانُوْ تر مينځ هيڅ فَرِقْ (په نَفْسِ رِسَالَتْ كي/ يا دځان څخه هسي فَرِقْ/ يا چي دهغه بَل نَبِي تَوْهِيْن په رَاځِي/ يا چي پر بعضورَسُوْلَانُوْ باندي اِيْمَانْ راوړو او پر بعضو يي نه راوړو، داډول فَرِقْ) نَه كوو .

په دغه آيَتْ كي صِرف پر خَلُوْرُوْ شِيَانُوْ باندي د اِيْمَانْ رَاوړلو ذِكْر سوئ دئ .

**٢: وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْمَلٰئِكَةِ وَالْكِتٰبِ وَالنَّبِيّنَ ج (آيَتْ ١٧٧،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ٢) .**

تَرْجَمَهْ:- بلكه نېكي (بِعَيْنِه) داده چي خلګ پر اَللهْ، د آخِرَتْ پر وُرَځْ، پر فَرِشْتُوْ او د اَللهْ پر كِتَابُوْ او د هغه پر نَبِيَانْ اِيْمَانْ راوړي .

حَدِيْثُوْنَهْ دغه دي

**١: عَنْ يَحْيٰ بن يَعْمَرْ ..... قَالَ فَاَخْبِرْنِىْ عَنِ الْاِيْمَانِ، قَالَ اَنْ تُوْمِنَ بِاللّٰهِ، وَمَلَائِكَتِه، وَكُتُبِه، وَ رُسُلِه، وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ، وَ تُوْمِنَ بِالْقَدْرِ خَيْرِه وَ شَرِّه، قَالَ صَدَقْتَ . (مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْاِيْمَانْ، ص: ٢٥، نَمْبَرْ ٨/ ٩٣)**

تَرْجَمَهْ:- د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه يُوْښْتَنَهْ وَكړَه چي مَا ته د اِيْمَانْ په اړه څه رَاوَښيَه، نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- پر اَللهْ باندي اِيْمَانْ رَاوړه، دهغه پر فَرِشْتُوْ باندي، دهغه پر كِتَابُوْ باندي، دهغه پر رَسُوْلَانُوْ باندي، د آخِرَتْ پر وُرَځْ باندي، خَيْرْ او شَرْ د اَللهْ لَجَانِبْ څخه دئ، پر دغه تَقْدِيْرْ باندي اِيْمَانْ رَاوړه، فَرِشْتي وويل چي:- تَا رِشْتِيَا وويل .

**٢: عَنْ اَبِىْ سَعِيْدٍ قَالَ لَقِىَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اِبْنَ صَائِدٍ فِىْ بَعضِ طُرُقِ الْمَدِيْنَةِ ..... فَقَالَ اَتَشْهَدُ اَنْتَ اَنِّىْ رَسُوْلُ اللهِ؟ فَقَالَ النَّبِىُّ (ﷺ) اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ، وَمَلَائِكَتِه، وَكُتُبِه، وَ رُسُلِه، وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ .**

**(تِرْمِذِىْ شَرِيْفْ،بَابُ مَاجَاءَ فِىْ ذِكْرِ اِبْنِ صَيَّادٍ، ص: ٥١٦، نَمْبَرْ ٢٢٤٧)**

تَرْجَمَهْ:- د مَدِيْنَهْ مُنَوَّرَهْ په يَوه لَارَهْ كي د حُضُوْرْ (ﷺ) د اِبْنِ صَائِدْ سره مُلَاقَاتْ وسو ..... اِبْنِ صَائِدْ وويل چي اَيَا تَه ددې خَبَرِيْ ګوَاهِيْ وَركوې چي زَهْ د اَللهْ رَسُوْلْ يَم؟ نو

حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي: زَهْ اِيْمَانْ رَاوړم پر اَللّٰهْ باندي، دهغه پر فَرِشْتُوْ باندي، دهغه پر كِتَابُوْ باندي، دهغه پر رَسُوْلَانُوْ باندي، او د آخِرَتْ پر وُرَځْ باندي .
په دغه آيَتُوْ او حَدِيْثُوْ كي پر شپږُوْ شِيَانُوْ باندي د اِيْمَانْ رَاوړلو ذِكر سوئ دئ، نو كه چيري پر دغه شپږُوْ شِيَانُوْ باندي اِيْمَانْ رَاوړي خو مُؤْمِنْ ګرزي، كه نَه نو بيا مُؤْمِنْ نَه دئ .

## پر اَللّٰهْ باندي د اِيْمَانْ رَاوړلو مَطْلَبْ

پر اَللّٰهْ باندي د اِيْمَانْ رَاوړلو مَطْلَبْ دادئ چي اَللّٰهْ يَو وَمَنِي .
كَافِرْ:- اُوس كه څوک اَللّٰهْ تَعَالٰي ګر سره خَالِقْ نَه مَنِي، او دا وائي چي ټولَ دُنْيَا په خپله پَيدَا سوې ده، لكه دَهْرِيَّهْ چي وائي، يا د مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ نَاسْتَكْ او كِيمُوْنِسْتِيَانْ چي وائي، نو دغه رنګه كس ته كَافِرْ وَيَل كيږي .
مُشْرِكْ:- او كه چيري خُدَائ مَنِي، د دُنْيَا پَيدَا كونكئ يې مَنِي، لېكن ډېر خُدَايَانْ مَنِي، نو دغه كس ته بيا مُشْرِكْ وَيَل كيږي ..... نور تَفْصِيْلْ يې تاسو د شِرْكْ په بَحْثْ كي مُلَاحَظَهْ كولائي سئ .

## د كِتَابْ، قُرْآنْ د مَنَلُو مَطْلَبْ

د قُرْآنْ د مَنَلُو دري صُوْرَتُوْنَهْ دي
[۱] د قُرْآنْ د مَنَلُو مَطْلَبْ دادئ چي ددې هر هر آيَتْ وَمَنِي چي دغه د اَللّٰهْ د طَرَفْ څخه نَازِلْ سوئ آيَتْ دئ، كه ددې څخه د يَوَه آيَتْ اِنْكَارْ وكي نو كَافِرْ كيږي .
[۲] كه د صَرِيْحْ آيَتْ څخه يَو حُكْمْ ثَابِتْ وي نو هغه مَنَل هم ضروري دئ، كه دهغه څخه اِنْكَارْ وكي نو هم كَافِرْ كيږي .
مَثَلًا لُمُوْنځ، رُوْژَهْ د صَرِيْحْ آيَتْ څخه ثَابِتْ دي نو كه چيري ددې څخه اِنْكَارْ وكي، مَثَلًا چي دارنګه ووائي چي زَهْ لُمُوْنځ نَه مَنَم، يا رُوْژَهْ نَه مَنَم، نو دا كَافِرْ كيږي، ځكه چي ده د آيَتْ څخه اِنْكَارْ كړئ دئ .
د فِقْهِ په كِتَابُوْ كي دغه خَبَرَهْ كړې ده چي د اُمُوْرِ دِيْنِيَّهْ څخه اِنْكَارْ وكي نو كَافِرْ كيږي، يعني هغه اُمُوْرِ دِيْنِيَّهْ چي په صَرِيْحْ آيَتْ سره ثَابِتْ وي نو دهغه د اِنْكَارْ څخه د آيَتْ څخه اِنْكَارْ لَازِمْ كيږي، نو ځكه اُوس دئ كَافِرْ دئ .
لېكن كه يَو څوک دا مَنِي چي لُمُوْنځ فَرْضْ دئ، رُوْژَهْ فَرْضْ ده، دهغه څخه اِنْكَارْ نَه كوي، لېكن د سُسْتَيْ په وَجْهِ لُمُوْنځ نَه كوي، يا رُوْژَهْ نَه نِيسِي، نو دغه اُوس كَافِرْ نَه دئ، اَلْبَتَّهْ دي ته به فَاسِقْ وَيَل كيږي .

# د مُغْلَقْ آيَتْ د تَفْسِيْرْ د مَنَلُو اُصُوْلْ

[۳] دَرَيَمْ صُوْرَتْ دادئ چي:- آيَتْ مُغْلَقْ (مُشْكِلْ/ پيچيدَه) دئ، مَعْنٰی يې وَاضِحْ نَه ده، او په يَوَه صَرِيْحْ حَدِيْثْ کي هم ددې مَعْنٰی نَه ده بَيَانْ سوې، اُوس دُوُو مُفَسِّرِيْنُ دُوې مَعْنَاوِيْ بَيَانْ کړي دي، اُوس يَو کس دئ چي آيَتْ خو مَنِي چي دغه د اَللّٰهْ لَطَرَفْ څخه نَازِلْ سوئ آيَتْ دئ، لېکن يَو تَفْسِيْرْ مَنِي، او د دُوَهَمْ تَفْسِيْرْ په اِعْتِبَارْ سره چي کُومَه مَعْنٰی ده، يا د دُوَهَمْ تَفْسِيْرْ په اِعْتِبَارْ سره چي کُوم حُکْمْ دئ هغه حُکْمْ نَه مَنِي، نو اُوس هم دغه سړئ کافِرْ نَه ګرزي، ځکه چي دئ خو آيَتْ مَنِي، اَلْبَتَّهْ د آيَتْ دغه مُغْلَقْ تَفْسِيْرْ نَه مَنِي، نو ځکه دئ نَه کافِرْ کيږي .

دغه اُصُوْلْ په يَادْ سَاتَل ډېر ضروري دئ، که نَه د بَعضُو مَسْلَکُو خلګ ډېر دارنګه کوي چي د مُبْهَمْ آيَتْ مَعْنٰی د خپل تَفْسِيْرْ په اِعْتِبَارْ سره کوي، او د بَل مَسْلَکْ خلګ بيا هغه نَه مَنِي نو هغه ته کافِرْ وائي، او دُومرَه تَشَدُّدْ او سَخْتِيْ کوي چي په هغه پسِي لُمُوْنْځْ هم نَه کوي، او که څوک هغه ته د جَنَازِيْ لُمُوْنْځْ وَرکي نو دغه جَنَازَهْ وَرکوُنکئ، او په جَنَازَهْ کي شَرِيْکْ خلګ ټولَ کافِرَانْ ګڼي، او د ټولو نِکاحْ وَر خَتَمْ کوي .

تاسو پر دغه نُکْتَهْ باندي غَوْرْ وکئ، چي په دغه رنګه فَتْوٰی سره مُسَلْمَانْ په څو حِصُّوْ کي تَقْسِيْمْ سول؟ او نَنْ د مُسَلْمَانَانُوْ کُوم حَشَرْ سوئ دئ ؟

دا چي د آيَتْ د اِنْکارْ څخه کافِرْ ګرزي، دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي

۳: اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ؕ . (آيَتْ ۴،سُوْرَةُ آل عِمْرَنْ ۳)
.
تَرْجَمَهْ:- يَقِيْنْ وکئ چي کُومو خلګو د اَللّٰهْ د آيَتُوْ څخه اِنْکَارْ وکړئ دهغوي لپاره سخت عَذَابْ دئ .

۴: وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ (آيَتْ ۱۹،سُوْرَةُ آل عِمْرَنْ ۳) .

تَرْجَمَهْ:- او چي هسي يَو څوک د اَللّٰهْ د آيَتُوْ تَکْذِيْبْ (اِنْکَارْ) وکړي نو (هغه دې يَادْ ولري چي) اَللّٰهْ ډېر ژَر (چَسْپْ/چَابَکْ) حِسَابْ اخستونکئ دئ

**۵: اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللهِ وَيَقْتُلُوْنَ النَّبِيّنَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ وَّيَقْتُلُوْنَ الَّذِيْنَ يَاْمُرُوْنَ بِالْقِسْطِ مِنَ النَّاسِ ۙ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ** (آيَتْ ۲۱،سُوْرَةُ آلِ عِمْرَنْ ۳) .

**تَرْجَمَهْ**:- کُوم خلک چي د اَللّٰهْ د آيَتُوْ اِنْکَارْ کوي او نَبِيَانْ نَـاحَقَّ قتلوي، او د اِنْصَـافْ تَلْقِيْنْ کونکي خلک هم قتلوي، هغوي ته د دَرِدْنَاکَ عَذَابْ زيرئ ورکه

**۶: وَلٰكِنَّ الظّٰلِمِيْنَ بِاٰيٰتِ اللهِ يَجْحَدُوْنَ** (آيَتْ ۳۳،سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ۶) .

**تَرْجَمَهْ**:- بلکه دغه ظَالِمَانْ د اَللّٰهْ د آيَتُوْ تَکْذِيْبْ (اِنْکَارْ) کوي

په دغه ټولو آيَتُوْ کي دئ چي څوک د اَللّٰهْ آيَتُوْنَهْ نَه مِنِي هغه کافِرْ دئ .

او د آيَتْ د اِنْکَارْ مَطْلَبْ مَخکِي تېر سوئ دئ چي د قُرْآنْ د هسي يَوَه آيَتْ څخه اِنْکَارْ وکي، يا د آيَتْ څخه چي کُوم صَرِيْحْ حُکْمْ ثَابِتْ وي دهغه څخه چي څوک اِنْکَارْ وکي نو کافِرْ کيږي .

# پر کِتَابُوْ او رَسُوْلَانُوْ د اِيْمَانْ رَاوړلو مَطْلَبْ

په دغه آيَتْ وَكُتُبِه وَ رُسُلِه ۚ لَانُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِه ۚ.(آيَتْ ۲۸۵،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲) کي د جَمَعْ صِيْغَهْ راغلي ده، ددې وَ مَطْلَبْ ته تاسو مُتَوَجِّهْ سئ

**كُتُبِه** :- په آيَتْ کي د جَمَعْ صِيْغَهْ ده، ددې مَطْلَبْ دادئ چي اَللّٰهْ هر څومره کِتَابُوْنَهْ نَازِلْ کړي دي هغه ټولَ بَرْحَقْ دي، مُوږ به پر هغه ټولو اِيْمَانْ ساتو چي هغه کِتَابُوْنَهْ په خپل خپل وَخْتْ کي د رِهْنَمَايِيْ (هِدَايَتْ) لپاره کافِيْ وُو، او په هغه کِتَابُوْ کي هم د اِيْمَانْ هغه شِيَزْ جُزْءَ (شِيَزْ شِيَانْ) مَوْجُوْدْ وُو، کُوم چي زُمُوږ وَ اُمَّتْ ته يې وَيَلِي دي چي پر هغوي اِيْمَانْ رَاوړل ضروري دئ، اَلْبَتَّهْ دهغوي جُزْئِيَاتِيْ مَسْئَلِي جَلَا جَلَا وې، اُوس پر هغه (جُزْئِيَاتِيْ مَسْئَلُوْ) باندي عَمَلْ کول نَاجَائِزْ دئ، ځکه چي هغه مَسْئَلِي اُوس مَحَالْ مَنْسُوْخْ سوي دي، اُوس خو به د حُضُوْرْ پر شَرِيْعَتْ باندي عَمَلْ کيږي .

تاسو د زَړَهْ لَکُومِي ددغه ټولو آسْمَانِيْ کِتَابُوْ اِحْتِرَامْ کوئ، او ددې سره مُحَبَّتْ کوئ .

**وَ رُسُلِه** :- په آيَتْ کي رُسُلِه د جَمَعْ صِيْغَهْ ده، ددې مَطْلَبْ دادئ چي مُوږ به پر ټولو رَسُوْلَانُوْ باندي اِيْمَانْ سَاتُو، چي هغه په خپل خپل وَخْتْ کي بَرْحَقْ رَسُوْلَانُوْ او نَبِيَانْ وُو، او د دُوي شَرِيْعَتْ هم بَرْحَقْ وُو، په هغوي کي د اِيْمَانْ چي کُوم شِيَزْ شِيَانْ دي [اَللّٰهْ، رَسُوْلْ، کِتَابْ، فَرِشْتَهْ، آخِرَتْ، او پر

تَقْدِيْرْ باندي اِيْمَانْ رَاوړل] دغه په ټولو نَبِيَانُوْ کي يَو رنګه وُو، اَلْبَتَّهْ د دُوي چي کُومِي جُزْئِيَاتِيْ مَسْئَلِي وې، مَثَلًا د لُمُوْنْځ طَرِيْقَهْ، د رُوْژِيْ طَرِيْقَهْ، دغه يې جَلَا جَلَا وه، نوځکه د دُوي پر جُزْئِيَاتِيْ مَسْئَلُوْ به اُوس عَمَلْ نَه کوو، او پر شِيَږْ شِيَانُوْ خو به زُمُوږ اِيْمَانْ خَامَخَا وي .

د تېرو سوو رَسُوْلَانُوْ په شَرِيْعَتْ کي وُو چي پر دغه شِيَږُوْ شِيَانُوْ باندي اِيْمَانْ رَاوړل ضروري دئ .

دَلِيْلْ يې دغه آيَتْ دئ
اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِن رَّبِّه وَالْمُوْمِنُوْنَ ط كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰئِكَتِه وَكُتُبِه وَ رُسُلِه قف لَانُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِه قف . (آيَتْ ۲۸۵،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲) .
تَرْجَمَهْ:- دغه رَسُوْلْ (يعني حضرت مُحَمَّدْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ) پر هغه شي اِيْمَانْ راوړئ دئ چي دده وطَرَفْ ته دده د رَبْ لجانِب څخه نَازِلْ سوئ دئ، او (دده سره) ټولو مُسَلْمَانَانُوْ هم، دُوي ټولو پر اَللّٰهْ باندي، دهغه پر فَرِشْتُوْ باندي، دهغه پر کِتَابُوْ باندي، او دهغه پر رَسُوْلَانُوْ باندي اِيْمَانْ راوړئ دئ، (دُوي وائي چي) موږ دهغه د رَسُوْلَانُوْ تر مينځ هيځ فَرِقْ (په نَفْسِ رِسَالَتْ کي/ يا دځان څخه هسي فَرِقْ/ يا چي دهغه بَل نَبِي تَوْهِيْن په رَاځِي/ يا چي پر بعضورَسُوْلَانُوْ باندي اِيْمَانْ راوړو او پر بعضو يې نَه راوړو، داډول فَرِقْ) نَه کوو .
په دغه آيَتْ کي دئ چي دتېرو سوو ټولو رَسُوْلَانُوْ په شَرِيْعَتْ کي پر اَللّٰهْ. پر ټولو رَسُوْلَانُوْ. پر ټولو فَرِشْتُوْ. او پر ټولو کِتَابُوْ باندي اِيْمَانْ رَاوړل ضروري وُو .
پر دغه ټولو رَسُوْلَانُوْ باندي هم اِيْمَانْ وَلَرَئ چي هغه بَرْحَقْ رَسُوْلَانُوْ وُو، او بَرْحَقْ نَبِيَانْ وُو، او دهغوي اِحْتِرَامْ کول هم لَازِمْ دئ، او د زِرَهْ لَکُومِي دهغوي سره مُحَبَّتْ وَسَاتئ، په دي کي اَدْنٰي کمِي او کُوْتَاهِيْ کول هم جَوَازْ نَه لري، دغه د اِسْلَامْ تَعْلِيْمْ دئ .

## که په دغه شِيَږْ شِيَانُوْ کي د يَوَه څخه اِنْکَارْ وکي نو هم کَافِرْ کېږي

په دغه شيَرْ شيَانُوْ کي که د يَوَه څخه هم اِنْکارْ وکي نوکافِرْ کيږي، لېکن که د دغه شيَرُوْ څخه د يَوَه اِنْکارْ هم نَه کوي نو بيا نَه کافِرْ کيږي، بيا مُسَلْمَانْ دئ، نو ځکه پر لَږْ لَږْ خَبَرُوْ باندي د کُفْرْ فَتْوِي لَګَوَل جَوَازْ نَه لري .
ددې دَلِيْلْ د عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةْ دغه عِبَارَتْ دئ

**وَلَايَخْرُجُ الْعَبْدُ مِنَ الْاِيْمَانِ اِلَّا بِجُحُوْدِ مَا اَدْخَلَهُ اللهُ فِيْهِ .**

(عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةْ، عَقِيْدَهْ نَمبَرْ ۶۱، ص: ۱۵)

تَرْجَمَهْ:- پر ګُومُو شيَانُوْ باندي د اِيْمَانْ ساتلو په وَجْهَ چي اَللهْ په اِيْمَانْ کي دَاخِلْ کړل، دهغه په اِنْکارْ سره دئ د اِيْمَانْ څخه وُزِي .

په دغه عِبَارَتْ کي دئ چي ددغه شيَرُوْ شيَانُوْ په اِقْرَارْ سره اِنْسَانْ مُسَلْمَانْ کيږي، نو ددغه شيَرُوْ څخه د يوه په اِنْکارْ کولو سره د اِيْمَانْ څخه هم وُزِي، لېکن که چيري ددې څخه د يَوَه اِنْکارْ نَه کوي نو بيا هغه اِنْسَانْ مُؤْمِنْ دئ، دغه رنګه په ګُنَاهِ کبِيْرَهْ سره اِنْسَانْ نَه کافِرْ کيږي، اَلْبَتَّهْ که چيري ګُنَاهِ کبِيْرَهْ کول حَلَالْ او جَائِزْ وَګڼِي نو بيا کافِرْ کيږي، ځکه چي څوک ګُنَاهِ کبِيْرَهْ حَلَالَ وَګڼِي نو ددې مَطْلَبْ دادئ چي دئ د ګُنَاهِ کبِيْرَهْ د هغه آيَتْ څخه اِنْکارْ کوي، او د آيَتْ څخه اِنْکارْ کول کُفْرْ دئ .

## په زړَهْ سره تَصْدِيْقْ او په ژَبَهْ د اِقْرَارْ کولو نُوْمْ اِيْمَانْ دئ

د اِيْمَانْ لپاره چي ګُوم شيَرْ شيَانْ ضروري دي په زړَهْ سره دهغه ټولو تَصْدِيْقْ وکي او په ژَبَهْ دهغه اِقْرَارْ هم وکي چي زَهْ مُسَلْمَانْ يَم نو بيا دغه اِنْسَانْ مُؤْمِنْ ګرزي، او که چيري دئ په زړَهْ سره تَصْدِيْقْ نَه کوي صرف په ژَبَهْ دهغه اِقْرَارْ کوي نو دغه اِنْسَانْ مُؤْمِنْ نَه دئ، په شَرِيْعَتْ کي وَ دغه ته ,, مُنَافِقْ ,, وَيَل کيږي، او په بعضو کِتَابُوْ کي دا هم راغلي دي چي په اَعْضَاءْ يعني اَنْدَامُوْ سره پر دغه باندي عَمَلْ هم وکي .

په ژَبَهْ سره اِقْرَارْ خو په دې وَجْهَ ضروري دئ چي پر هغه باندي بيا دُنْيَاوِيْ اَحْکامَاتْ جَارِيْ سي، مَثْلًا دا چي پر ده باندي د جَنَازِي لُمُوْنځْ اَدَاءْ کړي، د مُسَلْمَانِ ښځي نِکاحْ دده سره وکړل سي، که چيري د اِسْلَامْ اِقْرَارْ وَ نَه کي نو د دُنْيَا وَ خلګو ته به څنګه مَعلُومېږي چي دئ مُسَلْمَانْ دئ، او پر ده باندي اِسْلَامِيْ حُکمُوْنَهْ جَارِيْ کړل سي .

په عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةْ کي دغه عِبَارَتْ دئ

**وَالْاِيْمَانُ:- هُوَ الْاِقْرَارُ بِاللِّسَانِ، وَالتَّصْدِيْقُ بِالْجِنَانِ .**

(عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةْ، عَقِيْدَهْ نَمبَرْ ۶۲، ص: ۱۵)
تَرْجَمَهْ:- په ژَبَهْ سره اِقْرَارْ کول، او په زَړَهْ سره د تَصْدِيْقْ کولو نُوم اِيْمَانْ دئ .
په دغه عِبَارَتْ کي دئ چي په زَړَهْ سره تَصْدِيْقْ کول، او په ژَبَهْ سره دهغه اِقْرَارْ کولو ته اِيْمَانْ وائي .

## د قَتْلْ (مَرْګْ) د خَوْفْ څخه د اِيْمَانْ اِنْکارْ کول

که چيري په زَړَهْ کي اِيْمَانْ مَوْجُوْدْ وي، لېکن د وَژْلُوْ (قَتْلْ) د بېري څخه يې صِرف په ژَبَهْ د اِيْمَانْ څخه اِنْکارْ وکړئ نو بيا هم دغه کس مُؤْمِنْ دئ، ځکه چي اَصْلْ اِيْمَانْ خو دادئ چي په زَړَهْ سره اَللّٰهْ يَو (وَاحِدْ) وَګڼِي .
ددې دَلِيْلْ دغه آيَتْ دئ

۷: مَنْ كَفَرَ بِاللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ اِيْمَانِهٖٓ اِلَّا مَنْ اُكْرِهَ وَقَلْبُهٗ مُطْمَئِنٌّۢ بِالْاِيْمَانِ وَلٰكِنْ مَّنْ شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ اللّٰهِ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ

(آيَتْ ۱۰۶،سُوْرَةُ النَّحْلْ ۱۶) .
تَرْجَمَهْ:- څوک چي پر اَللّٰهْ د اِيْمَانْ رَاوړلو وروسته دهغه سره کُفْرْ وکړي [نو هغه کافِرْ دئ] ——— هغه کافِرْ نَه دئ چي په زُوْرْ زَبَرْدَسْتِيْ يې (د کَلِمَهْ کُفْرْ پر وَيْنَا) مَجْبُوْرْ کړئ وي، سره ددې چي دده زَړَهْ پر اِيْمَانْ باندي مُطْمَئِنْ وي، بلکه هغه کَسْ چي خپله سِيْنَهْ يې د کُفْرْ لپاره خَلَاسَهْ کړې وي [نو هغه کافِرْ سو] ——— نو پر دغه رنګه خلګو به د اَللّٰهْ لَطَرَف څخه غَضَبْ نَازِلْ سي، او د دُوي لپاره زَبَرْدَسْتَهْ عَذَابْ تَيَّارْ دئ
په دغه آيَتْ کي دوې خَبَرِيْ دي يَوَهْ خَبَرَهْ دا چي په زَړَهْ سره اَللّٰهْ تَعَالٰي وَاحِدْ (يَو) نَه مِنِي نو بيا که په ژَبَهْ سره ووائي هم هغه کس د اَللّٰهْ په نېز مُؤْمِنْ نَه دئ . دُوهَمَّهْ خَبَرَهْ داده چي په زَړَهْ کي اِيْمَانْ مَضْبُوْطَ (رَاسِخْ) وي، لېکن د يَوې مَجْبُوْرَيْ لکبله يې په ژَبَهْ د اَللّٰهْ څخه اِنْکارْ وکړئ نو دغه کس مُؤْمِنْ دئ، پر ده باندي د کُفْرْ فَتْوٰي لګول صَحِيْحْ نَه ده .

۸: اُولٰٓئِكَ كَتَبَ فِىْ قُلُوْبِهِمُ الْاِيْمَانَ . (آيَتْ ۲۲،سُوْرَةُ الْمُجَادَلَةْ ۵۸) .
تَرْجَمَهْ:- دا هغه خلګ دي چي اَللّٰهْ يې پر زړُوْ باندي اِيْمَانْ نَقْشْ کړئ دئ .
ددغه آيَتْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي په زَړَهْ کي د اَللّٰهْ د تَوْحِيْدْ د رَاسِخْ کېدو نُوم اِيْمَانْ دئ .

۳: عَنْ اَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ (ﷺ) قَالَ يُخْرَجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَفِىْ قَلْبِه وَزْنُ شَعِيْرَةٍ مِّنْ خَيْرٍ .

(بُخَارِیْ شَرِیْفْ،كِتَابُ الْاِیْمَانْ،بَابُ زِيَادَةِ الْاِیْمَانِ وَنُقْصَانِهٖ، ص: ١٠، نَمْبَرْ ٤٤)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ كُوم چا چي ,, لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ,, وَوَيَل او دده په زړه كي د وُرْبُشِیْ بَرَابَرْ اِیْمَانْ وي، نو هغه به د دُوْزَخْ څخه رَايستَل كيږي .

۴: عَنْ اَنَسٍ بن مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) ..... ثُمَّ يُخْرَجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَكَانَ فِیْ قَلْبِهٖ مِنَ الْخَيْرِ مَايَزِنُ ذَرَّةً .
(مُسْلِمْ شَرِیْفْ،اُرْدُوْ مُتَرْجَمْ، ج ١ ،حديث نمبر،٤٧٨ ، كِتَابُ الْاِیْمَانْ،بَابُ اَدْنٰى اَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً فِيْهَا،ص:١٠٢،نَمْبَرْ ٣٤٧٨،١٩٣/بُخَارِیْ شَرِیْفْ،بَابُ كِتَابِ التَّوْحِيْدِ، بَابُ كَلَامِ الرَّبِّ تَعَالٰى يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ الْاَنْبِيَاءِ وَغَيْرِهِمْ، ص: ١٢٩٤، نَمْبَرْ ٧٥١٠)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ ..... كُوم چا چي ,, لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ,, وَوَيَل او دده په زړه كي د ذَرَّه بَرَابَرْ خَيْرْ يعني اِیْمَانْ وي، نو هغه به د دُوْزَخْ څخه رَايستَل كيږي .
ددغه آيَتُوْ او حَدِيْثُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي كُوم څوک د يوې ذرّې برابر اِیْمَانْ لري نو هغه به جَنَّتْ ته دَاخِلْ سي، ددې مَطْلَبْ دادئ چي د زړه د تَصْدِيْقْ نُوم ,, اَصْلْ اِیْمَانْ ,, دئ .

## مُوږ د زړه د څارَنِیْ (تَحْقِيْقْ او پَلَټَنِیْ) مُكَلَّفْ نَه يُو

كه چيري په ژَبَهْ سره د اِیْمَانْ اِقْرَارْ كوي نو مُوږ په دې خَبَرَهْ نَه يُو مُكَلَّفْ چي دغه تَفْتِيْشْ (پَلَټَنَهْ) وكو چي ده د زړه په اِخْلَاصْ دغه اِقْرَارْ كړئ دئ كه نَه ؟ بلكه مُوږ به دئ مُوْمِنْ ګڼو او پر ده به د اِسْلَامْ اَحْكَامَاتْ جَارِیْ كوو، اَلْبَتَّهْ كه چيري دئ په ظَاهِرَهْ د كُفْرْ او شِرْكْ عَمَلْ كوي نو اُوس به دئ كَافِرْ ګڼل كيږي، مَثَلًا دئ د اِیْمَانْ اِقْرَارْ هم كوي، او وَ بُتَانُ ته سَجْدَهْ هم كوي نو اُوس به دئ كَافِرْ ګڼل كيږي، ځكه چي د عَمَلْ په اِعْتِبَارْ سره ده كُفْرْ كړئ دئ .
دا چي د زړه د تَفْتِيْشْ، د زړه د تَحْقِيْقْ، د زړه په پَلَټَنِیْ سره مُوږ مُكَلَّفْ نَه يُو دهغه دَلِيْلْ دغه حَدِيْثْ دئ

۵: عَنْ اُسَامَةَ بن زَيْدٍ ..... فَاَدْرَكْتُ رَجُلًا، فَقَالَ:- لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ فَطَعَنْتُهُ فَوَقَعَ فِیْ نَفْسِیْ مِنْ ذَالِكَ فَذَكَرْتُهُ لِلنَّبِیِّ (ﷺ) فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) أَقَالَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَقَتَلْتَهُ؟ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّمَا قَالَهَا خَوْفًا مِّنَ السَّلَاحِ، قَالَ اَفَلَا شَقَقْتَ عَنْ قَلْبِهٖ حَتّٰى تَعْلَمَ أَقَالَهَا اَمْ لَا، فَمَا زَالَ يُكَرِّرُهَا عَلَیَّ حَتّٰى تَمَنَّيْتُ اَنِّیْ اَسْلَمْتُ يَوْمَئِذٍ .

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْاِيْمَانْ،بَابُ تَحْرِيْم قَتْلِ الْكافِرِ بَعْدَ قَوْلِه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، ص: ۵۶، نَمْبَرْ ۹۶/ ۲۷۷ /، اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْجِهَادْ،بَابٌ عَلٰی مَايُقَاتَلُ الْمُشْرِكُوْنَ، ص: ۳۸۱، نَمْبَرْ ۲۶۴۰) .

تَرْجَمَهْ:- حضرت خَالِدْ فرمائي چي زَهْ د يَوَه سړي سره مِلاؤ سوم، نو هغه وويل، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، لېکن بيا هم مَا هغه قَتْلْ (مَړ) کئ، په دغه اړه زَمَا په زِړَهْ کي خَبَرَهْ راغله نو مَا د حُضُوْرْ (ﷺ) په مَخکِي دهغې تَذْكِرَهْ وکړه، حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ، اَيَا تَا دهغه زِړَهْ څِيرَي کړئ وَ دِي کاتَئ! چي تَا ته مَعْلُوْمْ سي چي ده رِشْتِيَا وَيَلِي وُو که نَه؟ او دغه خَبَرَهْ يې په څُو څُو كَرَتَّهْ کوله کوله، آن تر دې چي مَا تَمَنَّا وکړه چي که نَنْ زَهْ مُسْلَمَانْ سوئ وائ نو به ډېر بِنَهْ وائ .

ددغه حَدِيْثْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي په ژَبَهْ سره ووائي نو مَختَه بيا په زِړَهْ کي اِيْمَانْ سته که نَستَه؟ ددې د تَحْقِيْقْ کولو ضرورت نَستَه، دا خو بَس وَ اَللّٰهْ ته مَعْلُوْمْ دئ مُوږ به دئ مُسَلْمَانْ گڼو او پر ده به اِسْلَامِيْ حُكْمُوْنَهْ جَارِيْ کيږي، نَنْ سَبَا پر لَږ لَږ خَبَرُوْ باندي خلک د نورو د كَافِرْ کېدو او مُشْرِكْ کېدو فَتْوٰي جَارِيْ کوي، او پر هغه باندي تَشَدُّدْ کوي، دغه كَارْ د حَدِيْثْ څخه خِلَافْ دئ .

# عَمَلْ کول هم د اِيْمَانْ يَوَه حِصَّهْ ده

د اِيْمَانْ يَوَه حِصَّهْ عَمَلْ کول هم ده، په دغه وَجْهَ په بعضو كِتَابُوْ کي راغلي دي، وَالْعَمَلُ بِالْاَرْكَانِ، چي اَلْبَتَّهْ يَوَه خَبَرَهْ ضرور ده که چيري د اَصْلْ اِيْمَانْ څخه خِلَافْ عَمَلْ وکي نو هغه به كَافِرْ گڼل کيږي، مَثْلًا په آيَتْ کي دئ چي د اَللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ بَل چَا ته سَجْدَهْ مَه کوئ، او ده و بُتَانُ ته سَجْدَهْ وکړه، نو په دغه عَمَلْ سره دئ كَافِرْ گرزي، ځکه چي ده د صَرِيْحْ آيَتْ څخه خِلَافْ عَمَلْ وکئ .

د عَمَلْ کولو دَلِيْلْ دغه آيَتْ دئ

۹: وَ اِ نِّیْ لَغَفَّارٌ لِّمَنْ تَابَ وَ اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدٰی (آيَتْ ۸۲،سُوْرَةُ طٰهٰ ۲۰) .

تَرْجَمَهْ:- او دا هم حَقِيْقَتْ دئ چي گُوم څوک تُوْبَهْ وکړي، اِيْمَانْ رَاوړي، او نيکْ عَمَلْ وکړي، بيا پر سِيْدَا لَارَهْ قَائِمْ وَدَرېږي نو زَهْ دهغه لپاره ډېر بَخښنَس كونكئ يَم.

۱۰: اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ (آيَتْ ۳،سُوْرَةُ الْعَصْرْ ۱۰۳) .

تَرْجَمَهْ:- مَا سِوَا دهغه خلکو چي اِيْمَانْ رَاوړي، او بِنَهْ عَمَلْ وکي، نو هغه په نُقْصَانْ کي نَه دي .

**۱۱: مَنْ اٰمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ** ص **(آيَتْ ۶۲،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲)** .

**تَرْجَمَهْ**:- ځوک چي پر **اَللّٰهْ** او د **آخِرَتْ** پر **وُرَځْ اِيْمَانْ** راوړي، او نېک **عَمَلْ** وکي، هغه به د خپل **پَرْوَرْدِګَارْ** سره دخپل **اَجْرْ مُسْتَحِقْ** سي .

په دغه **آيَتُوْ** کي دئ چي **اِيْمَانْ** رَاوړي او نېک **عَمَلْ** وکي، ددې څخه **مَعْلُوْمْ** سو چي نېک **عَمَلْ** کول هم د **اِيْمَانْ حِصَّهْ** ده .

## مُوږ چي کُومَه **کَلِمَهْ** وايو هغه د دُوْ **آيَتُوْ مَجْمُوْعَهْ** ده

**کَلِمَهْ طَيِّبَهْ** د دُوْ **آيَتُوْ مَجْمُوْعَهْ** ده، يوه ,, **لَآ اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ** ,, ده ، او دُوَيمَه ,, **مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهْ** ,, .

**دَلِيْلْ** يې دغه **آيَتْ** دئ

**۱۲: فَاعْلَمْ اَنَّه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ** . **(آيَتْ ۱۹،سُوْرَةُ مُحَمَّدْ ۴۷)** .

**تَرْجَمَهْ**:- **لِهٰذَا** (اِئ **پيْغَمْبَرَهْ!**) **يَقِيْنْ** وکه چي د **اَللّٰهْ بَغَيْرَهْ** يو ځوک د **عِبَادَتْ لَائِقْ** نَستَه، او پر خپل **قُصُوْرْ** باندي هم د **بَخْښَنْ دُعَاءْ** کوه .

**۱۳: اِنَّهُمْ كَانُوْٓا اِذَا قِيْلَ لَهُمْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ** لا **يَسْتَكْبِرُوْنَ** **(آيَتْ ۳۵،سُوْرَةُ الصَّافَّاتْ ۳۷)** .

**تَرْجَمَهْ**:- د دُوي دا **حَالَتْ** وُو چي دُوي ته به وويل سو چي د **اَللّٰهْ بَغَيْرَهْ بَلْ مَعْبُوْدْ** نَستَه نو دُوي به **لُوْيِيْ** ښکاره کول.

**۱۴: مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ** ط **وَالَّذِيْنَ مَعَه اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ** . **(آيَتْ ۲۹،سُوْرَةُ الْفَتْحْ ۴۸)** .

**تَرْجَمَهْ**:- **مُحَمَّدْ** (**صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ**) د **اَللّٰهْ رَسُوْلْ** دئ، او کُوم خلک چي دده سره مَلګري دي، هغه د **کافِرَانُ** په **مُقَابَلَهْ** کي **سَخْتْ** دي، (او) په خپل مينځ کي **يَوْ** د **بَلْ** لپاره **رَحْمْ دِلْ** دي .

**۶: عَنْ اِبْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) بُنِىَ الْاِسْلَامُ عَلٰى خَمْسٍ، شَهَادَةُ اَنْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، وَ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ** .

**(بُخَارِىْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْاِيْمَانْ،بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ، بُنِىَ الْاِسْلَامُ عَلٰى خَمْسٍ، صِ: ۵، نَمْبَرْ ۸)**

**تَرْجَمَهْ**:- **حُضُوْرْ** (ﷺ) وَ **فَرْمَائِلْ**:- د **اِسْلَامْ بُنْيَادْ** پر **پِنْځُوْ شِيَانُوْ** دئ، **شَهَادَةُ اَنْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، وَ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ** .

# ۳۰: تَقْدِیْرْ

ددغه عَقِيدې په اړه ۲ آيَتُوْنَهْ او ۶ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کئ .

د تَقْدِیْرْ مَطْلَبْ دادئ چي اَللّٰهْ د يَو ځَا په قِسْمَتْ کي يَو شَئ لِيکلئ وي هغه به هرو مرو (حَتْمًا) کيږي، اَللّٰهْ تَعَالٰی د هر اِنْسَانْ ټولي خَبَرِيْ (حَالَاتْ) د اَوَّلْ څخه لِيکلِي دي، بيا چي کُوم اِنْسَانْ نيک بَخْتْ وي هغه په خپله مَرْضٰی او غُوښْتَنِيْ سره نيکْ کارُوْنَهْ کوي، او دئ په جَنَّتْ کي دَاخِلْ سي، او بَدْ اِنْسَانْ په خپله مَرْضٰيْ او اِخْتِيَارْ سره بَدْ بَدْ کارُوْنَهْ کوي، او دهغه لکبله دئ په دُوْزَخْ کي دَاخِلْ سي، دئ په خپل عَمَلْ سره دَاخِلْ سو، که څه هم په تَقْدِیْرْ کي د مَخکي څخه لَا لِيکلِي وُو .
اِنْسَانْ بَايَدْ پر دغه اِيْمَانْ وَساتِي، د اِيْمَانْ د شِپَږُوْ اَجْزَاءُ څخه يَو جُزْءْ تَقْدِیْرْ هم دئ .
دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي

۱: وَمَا يَعْزُبُ عَنْ رَّبِّكَ مِنْ مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِى الْاَرْضِ وَ لَا فِى السَّمَآءِ وَ لَآ اَصْغَرَ مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَ كْبَرَ اِلَّا فِىْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ (آيَتْ ۶۱،سُوْرَةُ يُوْنُسْ ۱۰) .
تَرْجَمَهْ:- او ستا د رَبْ څخه يَوه ذَرَّهْ برابر شئ هم پَټْ نَه دئ، نَه په مځکه کي نَه په آسمان کي، نَه تر دې کِښَنَئ، نَه غټْ، لېکن هغه په يَو وَاضِحْ کِتَابْ کي دَرْجْ (ليکلئ) دي

۲: وَ كُلُّ شَىْءٍ فَعَلُوْهُ فِى الزُّبُرِ وَكُلُّ صَغِيْرٍ وَّ كَبِيْرٍ مُّسْتَطَرٌ (آيَتْ ۵۲،۵۳،سُوْرَةُ الْقَمَرْ ۵۴) .
تَرْجَمَهْ:- او کُوم کُوم کارُوْنَهْ چي دُوي کړي دي، هغه ټولَ په اَعْمَالْ نَامُوْ کي دَرْجْ دي، او هره کِشْنَي او غَټَّهْ خَبَرَهْ لِيکلې ده.
په دغه آيَتُوْ کي د تَقْدِیْرْ بَيَانْ سوئ دئ، نو ځکه پر تَقْدِیْرْ باندي اِيْمَانْ سَاتَل ضروري دئ .

۱: وَقَالَ (ﷺ) اَوَّلُ مَا خَلَقَ اللّٰهُ الْقَلَمَ، فَقَالَ لَهُ اُكْتُبْ فَقَالَ الْقَلَمُ مَا ذَا اَكْتُبُ يَارَبِّ؟ فَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى اُكْتُبْ مَا هُوَ كَائِنٌ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ .

(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ، نَمْبَرْ ۴۷۰۰/ تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ، نَمْبَرْ ۲۱۵۵)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ اَللّٰهْ تر ټولو مَخکِي قَلَمْ پَيدَا کئ، او هغه ته يې وويل وَلِيکه، قَلَمْ وويل اىٔ رَبَّهْ! زَهْ څِشئ وَلِيکم؟ اَللّٰهْ وَ فَرْمَائِلْ، تر قِيَامَتْ پُورِي چې څومره خَبَرئ وَاقِعْ کيږي هغه ټولي وَلِيکه .

۲: عَنْ عَبْدِ اللهِ بن عَمْرو بن الْعَاصِ قَالَ سَمِعْتُ عَمْرَو بن الْعَاصِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) يَقُوْلُ كَتَبَ اللهُ مَقَادِيْرَ الْخَلَائِقِ قَبْلَ اَنْ يَّخْلُقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِخَمْسِيْنَ اَلْفَ سَنَةٍ قَالَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ .

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ، بَابُ حِجَاجِ اٰدَمَ وَ مُوْسٰى، ص: ۱۱۵۶، نَمْبَرْ ۲۶۵۳ / ۶۷۴۸)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي د مخکي او د آسمَانْ تر پَيدَا کېدو پِنځُوس زَرَهْ کالَ مَخکِي اَللّٰهْ تَعَالٰي د مَخْلُوْقَاتُ تَقْدِيْرْ وَلِيکئ، او دا يې هم وَ فَرْمَائِلْ چي د اَللّٰهْ تَعَالٰي عَرْشْ پر اُوْبُوْ وُو .

۳: عَنْ جَابِرَ بن عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) لَايُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتّٰى يُؤْمِنَ بِالْقَدْرِ خَيْرِه وَ شَرِّه حَتّٰى يَعْلَمَ اَنَّ مَا اَصَابَهُ لَمْ يَكُنْ لِيُخْطِئَهُ وَ اَنَّ مَا اَخْطَئَهُ لَمْ يَكُنْ لِيُصِيْبَهُ . (تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ، بَابُ مَاجَاءَ اَنَّ الْاِيْمَانَ بِالْقَدْرِ خَيْرِه وَشَرِّه، ص: ۴۹۳، نَمْبَرْ ۲۱۴۴)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- په تَقْدِيْرْ کي چي کُوم خَيْرْ و شَرْ لِيکلي دي، پر هغه چي تر څو پُورِي اِيْمَانْ نَه وَسَاتِي، اِنْسَانْ نَه سي مُؤْمِنْ کېدلائي، په دغه دي هم پُوْهْ سِي چي هر څَه وَ ده ته رسيږي، هغه په هيڅ وَخْتْ نَه سي خَطَاءْ کېدلائي، او چي څَه ده ته نَه رسيږي، په هغه کي هم غَلَطِيْ نَه کيږي، دغه يَقِيْنْ دي وَسَاتِي .
په دغه آيَتُوْ او حَدِيْثُوْ کي دئ چي تَقْدِيْرْ حَقْ دئ، او پر هغه باندي اِيْمَانْ سَاتَل ضروري دئ .

## [۱] تَقْدِيْرْ مُبْرَمْ [۲] تَقْدِيْرْ مُعَلَّقْ

تَقْدِيْرْ پر دُوَه قِسْمْ دئ. تَقْدِيْرْ مُبْرَمْ، او تَقْدِيْرْ مُعَلَّقْ .
تَقْدِيْرْ مُبْرَمْ:- ددې مَطْلَبْ دادئ چي دغه تَقْدِيْرْ نَه بَدليږي، دا حَتْمِيْ دئ، لکه دا چي د زَيْدْ په عُمْرْ (ژُوَنْدْ) کي وَلِيکل چي دئ به پر پِنْځُوسْ کالَ مَړ کيږي، نو دا فَيْصَلَهْ سوه چي دئ به پر پِنْځُوسْ کالَ مَړ کيږي .
تَقْدِيْرْ مُعَلَّقْ:- ددې مَطْلَبْ دادئ چي دغه تَقْدِيْرْ د يَو بَل کار پر کولو باندي مُعَلَّقْ دئ، او دهغه کار په کولو سره دغه تَقْدِيْرْ بَدلېدلائي سي، مَثَلًا دا ووائي چي که چيري تَا د مُوْرْ خِدْمَتْ وکئ نو ددې څخه به ستا عُمْرْ زِيَاتْ سي، ذو دَلْتَه د خِدْمَتْ څخه عُمْرْ زِيَاتْ سو، دغه تَقْدِيْرْ مُعَلَّقْ دئ، لېکن وَ اَللّٰهْ تَعَالٰي

ته خو مَعْلُوْمْ دئ چي دغه سړئ به د مُوْرْ خِدْمَتْ كوي كه نه؟ او دده عُمْرْ زِيَاتيږي كه نَه؟ دغه تَقْدِيْر مُبْرَمْ دئ .
د تَقْدِيْرْ مُعَلَّقْ دَلِيْلْ دغه حَدِيْثْ دئ
۴: عَنْ سَلْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) لَايَرُدُّ الْقَضَاءَ اِلَّا الدُّعَاءُ، وَلَايَزِيْدُ الْعُمْرَ اِلَّا الْبِرُّ . (تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ،بَابُ مَاجَاءَ لَايَرُدُّ الْقَدْرَ اِلَّا الدُّعَاءُ، ص: ۴۹۲، نَمْبَرْ ۲۱۳۹)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- دُعَاءْ خو بَس د اَللهْ فَيْصَلَهْ بَدلَوِي، او نيكي خو بَس عُمْرْ زِيَاتَوِي .
په دغه حَدِيْثْ كي دئ چي بَس د دُعَاءْ په وَجْهَ د اَللهْ فَيْصَلَهْ بَدلېدلائي سي، يا د نيكْ او ښَهْ عَمَلْ په وَجْهَ عُمْرْ زِيَاتېدلائي سي، دغه شَئ په تَقْدِيْرْ مُعَلَّقْ كي وي، اَلْبَتَّهْ دغه كس به دارنګه كوي كه به نَه كوي؟ دغه خَبَرَهْ د اَللهْ تَعَالٰي په عِلْمْ كي په حَتْمِيْ او يَقِيْنِيْ تُوګه سره مَوْجُوْدَ ده، چي وَ دې ته تَقْدِيْرْ مُبْرَمْ وَيَل كيږي .

## چي څوک ښنګه وي دهغه رنګه كار كولو تَوْفِيْقْ وَرتَه مِلاوېږي

حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- تَقْدِيْرْ حَقْ دئ، لېكن چي كُوم اِنْسَانْ نيک عَمَلْ وي هغه ته د نيكئ كولو تَوْفِيْقْ مِلاوېږي، او هغه به د خپل نيک عَمَلْ په وَجْهَ جَنَّتْ ته وُلَاړْ سي، او چي كُوم بَدْ عَمَلْ دئ هغه ته به د بَدْ عَمَلْ كولو تَوْفِيْقْ مِلاوېږي، بيا به هغه د خپلي بَدْعَمَلَئ په وَجْهَ دُوْخْ ته وُلَاړْ سي .
دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ
۵: عَنْ عَلِيِّ قَالَ كُنَّا فِيْ جِنَازَةِ فِيْ بَقِيْعِ الْغَرْقَدِ ..... قَالَ مَا مِنْكُمْ مِنْ اَحَدٍ، مَا مِنْ نَفْسٍ مَنْفُوْسَةٍ اِلَّا كُتِبَ مَكَانُهَا مِنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ وَ اِلَّا كُتِبَ شَقِيَّةً اَوْ سَعِيْدَةً، فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَفَلَا نَتَوَكَّلُ عَلٰى كِتَابِنَا وَ نَدَعُ الْعَمَلَ؟ فَمَنْ كَانَ مِنَّا مِنْ اَهْلِ السَّعَادَةِ فَسَيَصِيْرُ اِلٰى عَمَلِ اَهْلِ السَّعَادَةِ، وَ اَمَّا مَنْ كَانَ مِنَّا مِنْ اَهْلِ الشَّقَاوَةِ فَسَيَصِيْرُ اِلٰى عَمَلِ اَهْلِ الشَّقَاوَةِ، قَالَ:- اَمَّا اَهْلُ السَّعَادَةِ فَيُيَسِرُوْنَ لِعَمَلِ السَّعَادَةِ، وَ اَمَّا اَهْلُ الشَّقَاوَةِ فَيُيَسِرُوْنَ لِعَمَلِ الشَّقَاوَةِ، ثُمَّ قَرَأَ (فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى وَ اتَّقٰى وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى[آيَتْ ۶،۵،سُوْرَةُ اللَّيْلْ ۹۲ ]
(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْجَنَائِزِ، بَابُ مَوْعِظَةِ الْمُحَدِّثِ عِنْدَ الْقَبْرِ وَقُعُوْدِ اَصْحَابِه□ حَوْلَهُ، ص: ۲۱۸، نَمْبَرْ ۱۳۶۲)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَلِي فَرْمَائِي چي مُوږ په جَنَّتُ الْبَقِيْعْ كي په يَوه جَنَازَهْ كي مَوْجُوْدْ وُو ..... حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي څومره اِنْسَانَانْ دي دهغوي لپاره جَنَّتْ يا جَهَنَّمْ لِيكل سوئ دئ، او چي نيک بَخْتْ به وي يا بَدْ بَخْتْ به وي دا هم لِيكل سوئ دئ، يَوه سړي وويل چي يَا رَسُوْلَ اللّٰهْ نو مُوږ پر هغه لِيكل سوي باندي بَرُوْسَهْ وَ نَه كوو؟ او عَمَلْ نَه پريږدو؟ ځكه چي په مُوږ كي كُوم نيكَانْ وي هغه به په خپله نيکْ عَمَلْ كوي، او په مُوږ كي چي كُوم بَدْ خلک دي هغه به په خپله بَدْ عَمَلْ شروع كي، نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي د ښُوْ خلكو لپاره خو ښَهْ كول اَسَانَ سي، او د بَدُّوْ خلكو لپاره بَدْ عَمَلْ كول اَسَانَ سي، بيا حُضُوْرْ (ﷺ) د اِسْتِدْلَالْ لپاره فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى اِلَخْ آيَتْ وَلُوستئ .

ددغه حَدِيْثْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي د كُوم چَا په تَقْدِيْرْ كي نيكِي ليكلي ده هغه به هرو مرو نيک عَمَلْ كوي، او د كُوم چَا په تَقْدِيْرْ كي چي بَدْ عَمَلْ لِيكلئ دئ هغه به بَدْ عَمَلْ كوي .

## د تَقْدِيْرْ په اړه ډېر بَحْثْ كول په كار نَه دئ

په تَقْدِيْرْ باندي ځان پُوْهْ كول او د تَقْدِيْرْ بَحْثْ ډېر مُشْكِلْ بَحْثْ دئ، نوځكه په دې اړه يې د ډېر بَحْثْ كولو څخه مَنْعَ كړې ده، حَدِيْثْ دغه دئ

۶: عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) وَنَحْنُ نَتَنَازَعُ فِى الْقَدْرِ فَغَضِبَ حَتّٰى اِحْمَرَّ وَجْهُهُ حَتّٰى كَاَنَّمَا فُقِىءَ فِىْ وجْنَتَيْهِ الرُّمَّانُ، فَقَالَ: أَبِهٰذَا اُمِرْتُمْ اَمْ بِهٰذَا اُرْسِلْتُ اِلَيْكُمْ؟ اِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حِيْنَ تَنَازَعُوْا فِىْ هٰذَا الْاَمْرِ، عَزَمْتُ عَلَيْكُمْ عَزَمْتُ عَلَيْكُمْ اَنْ لَّاتَنَازَعُوْا فِيْهِ .

(تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ،بَابُ مَاجَاءَ فِى التَّشْدِيْدِ فِى الْقَدْرِ، ص: ۴۹۰، نَمْبَرْ ۲۱۳۳)

تَرْجَمَهْ:- حضرت اَبُوْهُرَيْرَةْ فَرْمَائِي چي مُوږ د تَقْدِيْرْ په اړه اِخْتِلَافْ كاوئ زُمُوږ مَختَه حُضُوْرْ (ﷺ) تَشريف رَاوړئ، نو حُضُوْرْ (ﷺ) ډُومره په خَشَمْ سو چي چِهْرَهْ مُبَارَکْ يې سَرَهْ سوه، دارنګه ښكاره كېدله لكه دده پر چِهْرَهْ چي اَنَارْ وَرڅيرلئ (تُوئي كړئ) وي، او وَ فَرْمَائِلْ چي آيَا تاسو ته ددغه حُكُمْ دَركړئ دئ؟ آيَا زَهْ يې ددغه لپاره مَبْعُوْثْ كړئ يم؟ ستاسو څخه مَخكِي چي كُومُو خلكو په دې اړه اِخْتِلَافَاتْ (بَحْثُوْنَهْ) كول نو هغه هَلَاکْ سول، تاسو ته په څو څو كَرَتَّهْ په سَخْتِيْ سره وَايَم چي د تَقْدِيْرْ په اړه بِالْكُلْ نِزَاعْ (اِخْتِلَافِيْ بَحْثُوْنَهْ) مَه كوئ .

## ۳۱: اِسْتِطَاعَتْ، خَلْقْ، كسَبْ چشئ دي؟

ددغه عَقِيدې په اړه ۸ آيَتُوْنَهْ او ۲ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوه تَفْصِيْلْ مُلَاحظَهْ كئ .

په دغه **بَابْ** کي درې **خَبَرِيْ** دي. **خَلْقْ**، **اِسْتِطَاعَتْ**، او **كَسَبْ**، په دغه درو سره ځان **پُوْهْ** کول ضروري دئ .

## اِسْتِطَاعَتْ چشئ دي؟

د **اِسْتِطَاعَتْ مَطْلَبْ** دادئ چي ستا سره د هغه کار د کولو ټول **سَهُوْلَتُوْنَهْ** او **اَسَانْتِيَاوِيْ مَوْجُوْدِ** وي، ټول **اَسْبَابْ مَوْجُوْدْ** وي، د **اَللّٰهْ** د **اَحْكامَاتُ دَارْ** و **مَدَارْ** پر دغه **اِسْتِطَاعَتْ** دئ .

د **اَحْكامَاتُ** د اَدَاء کولو لپاره چي دغه څلور **شِيَانْ** وي نو دې ته **اِسْتِطَاعَتْ** وَيَل کيږي

[**۱**] دغه **اِنْسَانْ** په **بَدَنْ** دُومرَه جُوړ وي چي هغه **عِبَادَتْ** اداء کولائي سي .

[**۲**] دهغه کار د کولو **طَاقَتْ** وَلَرِي .

[**۳**] پر هغه کار کولو **قَادِرْ** هم وي .

[**۴**] او د هغه کار د کولو لپاره **اَعْضَاءْ صَحِيْحْ** و **سَالِمْ** وي، نو بيا هغه کار پر **اِنْسَانْ** باندي **وَاجِبْ** وي، وَ دغه ته **قُدْرَتِ مُيَسَّرَهْ** وائي .

ددغه څلورو کارو د کېدو وروسته دهغه کار څخه مَخکِي د **اِنْسَانْ اِرَادَهْ** وي او پر دغه **اِرَادَهْ** باندي نو **اَللّٰهْ** هغه کار **اَنْجَامْ** ته وَرَسَوِي او هغه **تَخْلِيْقْ** کړي، دغه ته **تَوْفِيْقْ** وائي، ددغه پَيدَا کولو **نُوْمْ تَخْلِيْقْ** دئ، چي د **اَللّٰهْ تَعَالٰى** کار دئ .

### په دغه اړه د عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّهْ عِبَارَتْ دغه دئ

**وَاسْتِطَاعَةُ الَّتِيْ يَجِبُ بِهَا الْفِعْلُ مِنْ نَحْوِ التَّوْفِيْقِ الَّذِيْ لَايَجُوْزُ اَنْ يُّوْصَفَ الْمَخْلُوْقَ بِهِ (تَكُوْنُ) مَعَ الْفِعْلِ وَ اَمَّا الْاِسْتِطَاعَةَ مِنْ جِهَةِ الصِّحَّةِ، وَالْوُسْعِ، وَالتَّمَكُّنِ، وَ سَلَامَةِ الْاٰلَاتِ، فَهِيَ قَبْلَ الْفِعْلِ وَبِهَا يَتَعَلَّقُ الْخِطَابُ، وَ هُوَ كَمَا قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى: لَايُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا . [آيَتْ ۲۸۶،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲] (اَلْعَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةْ، عَقِيْدَهْ نَمْبَرْ ۸۵، ص: ۱۸)**

**تَرْجَمَهْ**:- يَو هغه **اِسْتِطَاعَتْ** دئ چي د **فِعْلْ** سره وي، چي **تَوْفِيْقْ** وَرتَه وَيَل کيږي، دغه د **مَخْلُوْقْ صِفَتْ** نَه سي کېدلائي، دغه د **فِعْلْ** سره وي [دغه د **اَللّٰهْ صِفَتْ** دئ] **دُوَيَمْ اِسْتِطَاعَتْ** دادئ چي **اِنْسَانْ** په **صِحَّتْ جُوْړْ** وي، ده ته د **عِبَادَتْ** کولو **گُنْجَائِشْ** وي، پر **عِبَادَتْ** کولو **قَادِرْ** وي، دده **اَعْضَاءْ صَحِيْحْ** و **سَالِمْ** وي، دغه **اِسْتِطَاعَتْ** د **فِعْلْ** څخه مَخکِي وي، او د **اَللّٰهْ تَعَالٰى خِطَابْ** ددغه سره **مُتَعَلِّقْ** وي، لکه څنګه چي **اَللّٰهْ تَعَالٰى** فرمائي: **لَايُكَلِّفُ اللّٰهُ اِلَخْ** .

په دغه عِبَارَتْ کي دُوَه اِسْتِطَاعَتْ بَيَانْ سوي دي، يَو دئ فِعْلْ، يعني کار پَيدَا کول، دا خو د اَللّٰهْ تَعَالٰي صِفَتْ دئ، دا د مَخْلُوْقْ صِفَتْ نَه سي کېدلائي، او دُوَهَمْ اِسْتِطَاعَتْ دادئ چي صِحَّتْ يې جُوْړْ وي، گُنْجَائِشْ وي، مُوْقَعْ وي، د کار کولو قُدْرَتْ وي، اَعْضَاءْ يې صَحِيْحْ سَالِمْ وي، پر دغه دُوَهَمْ اِسْتِطَاعَتْ باندي د اَللّٰهْ تَعَالٰي حُکْمْ رَاځِي .

## په دغه آيَتُوْ کي د اِسْتِطَاعَتْ بَيَانْ سوئ دئ

۱: وَ لِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا ط (آيَتْ ۹۷،سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳) .

تَرْجَمَهْ:- او د خلګو څخه چي ګُوم خلګ تر بَيْتُ اللّٰهْ پوري د رسېدو طَاقَتْ لري پر هغوي باندي د اَللّٰهْ لپاره ددې ګُورْ حَجْ کول فَرْضْ دئ .

۲: وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا اَنْ يَّنْكِحَ الْمُحْصَنٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ فَمِنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ . (آيَتْ ۲۵ ،سُوْرَةُ النِّسَآءْ ۴) .

تَرْجَمَهْ:- او ستاسو څخه چي څوک ددې طَاقَتْ نَه لري چي د اَزَادِ مُسْلْمَانِ ښځي سره نِکَاحْ وکړي، نو هغه د مُسْلْمَانْ مينځو څخه هسي د يوې سره نِکَاحْ کولائ سي ګُوم چي ستاسو په مِلْکِيَّتْ کي وي .

۱: عَنْ عِمْرَانَ بن حُصَيْنٍ قَالَ كَانَتْ بِىْ بَوَاسِيْرُ فَسَاَلْتُ النَّبِىَّ (ﷺ) عَنِ الصَّلَاةِ ؟ فَقَالَ صَلِّ قَائِمًا فَاِنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا فَاِنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَعَلٰى جَنْبٍ .

(بُخَارِئ شَرِيْفْ،كِتَابُ التَّقْصِيْرْ، بَابٌ اِذَا لَمْ يُطِقْ قَاعِدًا صَلّٰى اِلٰى جَنْبٍ، ص: ۱۷۹، نَمْبَرْ ۱۱۱۷)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عِمْرَانْ بن حُصَيْنْ فَرْمَائِي چي زَهْ د بَوَاسِيْرُ مَرِيْضْ وَم، نوځکه مَا د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه د لَمُوْنْځْ په اړه پُوْښْتَنَهْ وکړه؟ نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- په وَلَاړِئ لَمُوْنْځْ کوه، او که چيري پر هغه قُدْرَتْ نَه وي نو په نَاسْتِيْ، او که پر هغه هم قُدْرَتْ نَه وي پر اَړَخْ په پُرُوْتِيْ لَمُوْنْځْ کوه .

ددغه آيَتُوْ او حَدِيْثْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي د ټولو اَسْبَابُ د مُهَيَّا کېدو نُوْمْ اِسْتِطَاعَتْ دئ، او پر دغه باندي د اَحْکَامَاتُوْ دَارْ و مَدَارْ دئ .

# کَسْبْ

د کَسْبْ مَعْنٰی ده ګټَلْ. چي تَه ديَوه کار اِرَادَهْ وکې، بيا دهغه کار لپاره اَسْبَابْ لَاسْ ته رَاوْړې، او هغه کار په خپله اِرَادَهْ سره کوې، وَ دغه کار کولو تـه

کسْبْ وَيَل کيږي، او پر دغه باندي د ثَوَابْ او عَذَابْ دَارْ و مَدَارْ دئ، ځکه چي تَا په خپله اِرَادَهْ سره دغه کار کړئ دئ که څَه هم د کار پر کولو باندي اَللّٰهْ تَعَالٰي ددغه کار تَخْلِيْقْ کوي .

په دغه آيتُوْ کي د کسْبْ بَيَانْ سوئ دئ، او دغه بَيَانْ هم سوئ دئ چي ستاسو د کسْبْ کولو په وَجْهَ عَذَابْ يا ثَوَابْ دَرکوَل کيږي .

دَلِيْلْ يې دغه آيتُوْنَهْ دي

۳: وَ وُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَايُظْلَمُوْنَ (آيَتْ ۲۵،سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳) .

تَرْجَمَهْ:- او هر هر اِنْسَانْ که هر څَه عَمَلْ (کتَّه) کړې وي هغه به ده ته پُورَه پُورَه ورکول کيږي، او پر دُوي به هيڅ ظُلْم نَه کيږي

۴: ثُمَّ تُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّاكَسَبَتْ وَهُمْ لَايُظْلَمُوْنَ (آيَتْ ۱۶۱،سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳) .

تَرْجَمَهْ:- بيا به هر چَا ته چي څَه هغه گټلي (کړي) وي پوره پوره ورکول سي، او پر دُوي به هيڅ ظُلْمْ وَنَه سي

۵: بَلٰى مَنْ كَسَبَ سَيِّئَةً وَّ اَحَاطَتْ بِهٖ خَطِيْٓئَتُهٗ فَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ج (آيَتْ ۸۱،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲) .

تَرْجَمَهْ:- کُوم خلک چي بَدْ (اَعْمَالْ) کوي او د هغه بَدِيْ دُوي رَاگېر کړي نو هغه خلک خو دُوْزِخِيَانْ دي .

ددغه آيتُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي مُوږ په خپله اِرَادَهْ سره چي کُوم کسْبْ کوو، دهغه بَدْلَهْ به مِلاوېږي، او پر هغه باندي د عَذَابْ يا ثَوَابْ دَارْ و مَدَارْ دئ .

# خَلْقْ

د خَلْقْ مَعْنٰي ده پَيدَا کول، يَو شَئ پَيدَا کول د اَللّٰهْ تَعَالٰي کار دئ، آن تر دې چي کُوم کارُونَه چي مُوږ په خپله کوو هغه هم اَللّٰهْ تَعَالٰي پَيدَا کوي، لېکن دغه کسْبْ يې مُوږ کوو يعني د ښُوْ يا بَدُّوْ اِرَادَهْ مُوږ کوو، او بيا هغه کار په خپله اِرَادَهْ سره شروع کوو، چي دهغه لکبله اَللّٰهْ تَعَالٰي زُمُوږ کار پَيدَا کړي يعني هغه تَخْلِيْقْ کي، هغه ته وُجُوْدْ وَرکړي، نو ددغه کسْبْ کولو په وَجْهَ اِنْسَانْ ته ثَوَابْ يا عَذَابْ وَرکوَل کيږي .

په دغه آيتُوْ کي دئ چي د هر شِي پَيدَا کونکئ اَللّٰهْ تَعَالٰي دئ

۶: اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَّهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّ كِيْلٌ (آيَتْ ۶۲،سُوْرَةُ الزُّمَرْ ۳۹) .
تَرْجَمَهْ:- اَللّٰهْ هر شَيْ پَيدَا كونكئ دئ، او هغه د هر شِيْ سَاتُونكئ دئ.
۷: ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ (آيَتْ ۶۲،سُوْرَةُ الْمُؤْمِنْ ۴۰) .
تَرْجَمَهْ:- دغه اَللّٰهْ دئ چي ستاسو پَرْوَرْدِگَارْ دئ، هر شَيْ پَيدَا كونكئ، دهغه بَغَيْرَهْ بَلْ مَعْبُوْدْ نسته .
په دغه آيَتُوْ كي دئ چي خَيْرْ وي كه شَرْ وي د هر شِي پَيدَا كونكئ اَللّٰهْ تَعَالٰى دئ، نو ځكه زُمُوږ د كَسْبْ وروسته چي هسي كُوم فِعْلْ پَيدَا سي هغه هم اَللّٰهْ تَعَالٰى پَيدَا كوي .
په تېره زَمَانَهْ كي په دغه مَسْئَلَهْ كي ډېر اِخْتِلَافْ سوئ دئ .
نور تَفْصِيْلْ يې ,, اَللّٰهْ د هر شِي پَيدَا كونكئ دئ ,, په عُنْوَانْ كي مُلَاحَظَهْ كئ.

# عَهْدِ اَلَسْتُ

په اَزَلْ كي اَللّٰهْ تَعَالٰى د حضرت آدَمْ عَلَيْهِ السَّلَامْ اَوْلَادَهْ دده د شَا (مَلَا) څخه رَاوَيَاستَل. او د ټولو څخه يې دغه عَهْدْ يا وَعْدَهْ وَاخستَه چي آيَا زَهْ ستاسو رَبْ نَه يم؟ ټولو وويل چي هو! تَه زُمُوږ رَبْ يې، ودغه ته ,,عَهْدِ اَ لَسْتُ,, وَائي .
په دغه آيَتْ كي د ,, عَهْدِ اَ لَسْتُ ,, ثُبُوْتْ ستَه
۸: وَ اِذْ اَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِيْٓ اٰدَمَ مِنْ ظُهُوْرِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَ اَشْهَدَهُمْ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوْا بَلٰى شَهِدْنَا اَنْ تَقُوْلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اِنَّا كُنَّا عَنْ هٰذَا غٰفِلِيْنَ
(آيَتْ ۱۷۲،سُوْرَةُ الْاَعْرَافْ ۷) .
تَرْجَمَهْ:- او (اې رَسُوْلَ! خلكو ته هغه وخت وَرپه يَادْ كه) چي كله ستا پَرْوَرْدِگَارْ د آدَمْ د زَامَنَانْ د پُشْتْ (شَا) څخه د دُوي ټول اَوْلَادُوْنَه رَايستَلِي وُو، (او يُوبنْتَنَهْ ځيني كړې وه چي:) ,, آيَا زَهْ ستاسو رَبْ نَه يم؟,, ټولو جَوَابْ وركړئ وُو چي:,, وَلِيْ نَه؟ مُوږ ټول ددې خَبَرِيْ گواهي وركوو.,, (او دغه اِقْرَارْ مُوږ په دې وجه د دُوي څخه اَخستَئ وُو) چي تاسو د قِيَامَتْ په وُرځْ دا وَنَه وَايَاست چي:,, مُوږ خو په دغه شِي سره نَاخَبَرَهْ وُو,,

۲: عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ (ﷺ) قَالَ اَخَذَ اللهُ الْمِيْثَاقَ مِنْ ظُهُوْرِ اٰدَمَ بِنُعْمَانَ، يَعْنِيْ عَرَفَةَ، فَاَخْرَجَ مِنْ صُلْبِه كُلَّ ذُرِّيَّةٍ ذَرَأَهَا فَنَثَرَهُمْ بَيْنَ يَدَيْهِ كَالذَّرِّ ثُمَّ كَلَّمَهُمْ فتَلَا قَالَ:- اَ لَسْتُ بِرَبِّكُمْ اِلَخْ . [آيَتْ ۱۷۳، سُوْرَةُ الْاَعْرَافْ ۷] (مُسْنَدِ اَحْمَدْ، مُسْنَدُ عَبْدِ اللهْ بن عَبَّاسٍ، ج: ۴، ص: ۲۶۷، نَمْبَرْ ۲۴۵۵)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- اَللهْ تَعَالٰی په نُعْمَانْ يعني عَرَفَهْ كي د حضرت آدَمْ د شَا (مَلَا) څخه رَاوَيَاستَل دغه عَهْدْ يې ځِيني وَاخستَئ، بيايې د هري شَا څخه هر اَوْلَادْ رَاوَيَاستَئ، او په خپل مَخكې د ذَرّاتُوْ په شَانْ خُوَارَهْ وَارَهْ كړل، بيايې دهغه ټولو سره خَبَرَهْ وكړه [چي اَيَا زَهْ ستاسو رَبْ نَه يم؟] او دغه لُوَړ آيَتْ اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ اِلَخْ يې وَلُوَستَئ.

په آيَتْ او حَدِيْثْ كي د ,, اَ لَسْتُ بِرَبِّكُمْ ,, پُورَه تَفْصِيْلْ مَوْجُوْدْ دئ .

## ۳۲: شِرْكْ په ټولو آسْمَانِيْ كِتَابُوْ كي مَمْنُوْعْ دئ

ددغه عَقِيدي په اړه ۳۴ آيَتُوْنَهْ او ۶ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ كئ .

تر ټولو غَتَّهْ گُنَاهْ د شِرْكْ او كُفْرْ ده، لِهٰذَا ددې څخه بَايَدْ ځان وَسَاتَل سي .
په دغه آيَتُوْ كي دئ چي و مَخكنَيُوْ خلكو ته هم د شِرْكْ نَه كولو حُكْمْ سوئ وُو، او زُمُوږ په شَرِيْعَتْ كي هم دغه حُكْمْ دئ

۱: قُلْ يٰٓاَ هْلَ الْكِتٰبِ تَعَالَوْا اِلٰى كَلِمَةٍ سَوَآءٍۢ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ اَ لَّا نَعْبُدَ اِلَّا اللهَ وَ لَانُشْرِكَ بِه شَيْئًا وَّ لَايَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللهِؕ (آيَتْ ۶۴،سُوْرَةُ آل عِمْرَانْ ۳) .

تَرْجَمَهْ:- (مُسْلَمَانَانُوْ! يَهُوْدْ او نَصَارٰی ته) ووايَاست چي: اِئ اَهْلِ كِتَابُ! يَو دارنگه خَبَرِئ ته راسئ چي په موږ او تاسو كي مُشْتَرَكْ وي، (او هغه دا) چي موږ به د اَللهْ څخه بغيره د بَل چا عِبَادَتْ نَه كوو، او دهغه سره به هيڅ څوک شَرِيْكْ نَه جوړو، او چي اَللهْ پريږدو يو بَل رَبْ به موږ نَه جوړو .

۲: وَلَقَدْ اُوْحِيَ اِلَيْكَ وَ اِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ ج لَئِنْ اَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ ج وَلَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ (آيَتْ ۶۵،سُوْرَةُ الزُّمَرْ ۳۹) .

تَرْجَمَهْ:- او دا حَقِيْقَتْ دئ چي تَا ته او ستا څخه مخکي ټولو پيْغَمْبَرَانُوْ ته د وَحْي په ذَرِيْعَهْ سره دا خَبَرَهْ سوې وه چي كه تَه شِرْكْ وكې نو ستا ټول كړي اَعْمَالْ به بَرْبَادْ (ضَائِعْ) سي، او تَه به يَقِيْنًا په سَخْتْ نُقْصَانْ پُورتَه كونكو خلكو كي شَامِلْ سې.

**۳: قُلْ اِنِّيْٓ اُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ اَوَّلَ مَنْ اَسْلَمَ وَلَاتَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ**

(آيَتْ ۱۴، سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ۶) .

تَرْجَمَهْ:- وَوَايَهْ چي:،، مَا تَه دغه حُكْمْ رَاكړل سوئ دئ چي په فَرْمَانْبَرْدَارِئ كي تر ټولوخلكو لُوْمړِئ (اَوَّلْ) ځان جوړ كړم، اوتاسو په مُشْرِكَانُ كي هيڅ وخت مَه شَاملېږئ

**۴: قُلْ اِنَّمَآ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ اللهَ وَ لَآ اُشْرِكَ بِه ط اِلَيْهِ اَدْعُوْا وَ اِلَيْهِ مَابِ**

(آيَتْ ۳۶، سُوْرَةُ الرَّعْدْ ۱۳) .

تَرْجَمَهْ:- وَوَايَهْ چي:،، مَا ته خو دا حُكْمْ سوئ دئ چي زَهْ د اَللهْ عِبَادَتْ وكړم، او دهغه سره هيڅ څوک په خُدَايِي كي شَرِيْکْ تَسْلِيْمْ نَه كړم، ددغه خَبَرِئ زَهْ دَعْوَتْ وركوم، او دهغه (اَللهْ) وطرف ته زَمَا بېرته تَلَل دي،،

په دغه ټولو آيَتُوْ كي دغه وَيَل سوي دي چي په هيڅ وَخْتْ شِرْکْ مَه كوئ .

## اَهْلِ عَرَبْ يَو خُدَا مَنَئ لېكن شِرْکْ يې هم كاوئ

اَهْلِ عَرَبْ به يَو خُدَا مَنَئ، لېكن ددې سره سره يې نور هم د اَللهْ سره په صِفَاتُ كي شَرِيْکْ گڼل .

دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي

**۵: قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ اَمَّنْ يَّمْلِكُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَمَنْ يُّخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَمَنْ يُّدَبِّرُ الْاَمْرَ ط فَسَيَقُوْلُوْنَ اللهُ ج فَقُلْ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ** (آيَتْ ۳۱، سُوْرَةُ يُوْنُسْ ۱۰) .

تَرْجَمَهْ:- (اِئ پيْغَمْبَرَهْ! دغه مُشْرِكِيْنُ ته) وَوَايَهْ چي:،، څوک دئ چي د آسْمَانْ او مځكي څخه تاسو ته رُوْزِئ در رَسَوِي؟ يا بَل څوک دئ چي د اَوربدَلُو او لِيدَلُو د قُوَّتُوْ مَالِکْ دئ؟ او څوک دئ چي ژُوَندَئ د مَړِي څخه او مَړَئ د ژُوَندِي څخه دبَاندِي رَابَاسِي؟ او څوک دئ چي د هر كار اِنْتِظَامْ كوي؟ ،، نو دغه خلک به ووائي چي:،، اَللهْ! ،، نو تَه دُوي ته وَوَايَهْ چي:،، آيَا بيا هم تاسو د اَللهْ څخه نَه بېرېږئ؟

**۶: وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ نَّزَّلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ مِنْ م بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُوْلُنَّ اللهُ ط قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ط بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ** (آيَتْ ۶۳، سُوْرَةُ الْعَنْكَبُوْتْ ۲۹) .

**تَرْجَمَهْ**:- او که چیري تَه د دُوي څخه **پُوښْتَنَهْ** وکـې چـي:,, څـوک دئ چـي د **آسْمَانْ** څخه يې **اُوْبَهْ** وَوُرَوَلي، بیا یې دهغه په **ذَرِیْعَهْ** سره د مځکي د مړه کېدو (وَچېدو/**خُشْکْ** کېدو) وروسته هغې تـه **ژُوَنْـدْ** ورکـئ؟,, نـو دُوي بـه ضـرور دا ووائـي چـي:,, **اَللّٰهْ**!,, **وَوَايَهْ**:,, **اَلْحَمْدُ لِلّٰهْ**!,, لېکن د دُوي څخه **اَکْثَرَهْ** خلګ د **عَقْلْ** څخه کار نَه اَخلِي.

**۷**: **وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ** . (**آيَتْ ۸۷**، **سُوْرَةُ الزُّخْرُفْ ۴۳**) .

**تَرْجَمَهْ**:- او که چیري تَه ددغه خلګو څخه **پُوښْتَنَهْ** وکې چي دغه چَا پَیدَا کړي دي نـو دُوي به ضرور دا ووائي چي **اَللّٰهْ** .

**۸**: **وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِه اَوْلِيَآءَ مَانَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَآ اِلَى اللّٰهِ زُلْفٰى**ط

(**آيَتْ ۳**، **سُوْرَةُ الزُّمَرْ ۳۹**) .

**تَرْجَمَهْ**:- اوګُومُوخلګوچي دده **بَغَیْرَهْ** نـور **کَارْسَـازَ** جوړکړي دي ـــــــــــ. (پـه دا **وَيْنَا** سره چي:),, مُوږ د دُوي **عِبَادَتْ** صِرف پـه دې **وَجْـهَ** کـوو چـي دُوي مُـوږ **اَللّٰهْ** تـه **قَرِيْبْ** (نِژدې) کړي .

په دغه **آيَتْ** کي دئ چي د **مَکّي مُشْرِکانُ** دا مَنَل چي **اَللّٰهْ** یَو دئ، لېکن د **دِيْوِيْ**، **دِيْوْتَا**، او **بُتَانُوْ عِبَادَتْ** يې په دې **وَجْهَ** کاوئ چي دُوي وَ **اَللّٰهْ** ته وَرسَوِي، هغه ته يې نِژدي کي، ځکه چي د دُوي دا **خِيَالْ** وُو چي وَ دغه **دِيْوِيْ**، **دِيْوْتَا** ته **اَللّٰهْ تَعَالٰى** دغه **طَاقَتْ** وَرکړئ دئ چي دُوي **اَللّٰهْ** ته وَرسَوِي، **اَللّٰهْ تَعَالٰى تَنْبِيْهْ** وَرتَه وکړه چي دُوي **بِالْکُلْ غَلَطْ** کوي .

## **اَللّٰهْ تَعَالٰى** په هیڅ **وَخْتْ شِرْکْ** نَه مَعَافَوِي

**۹**: **اِنَّ اللّٰهَ لَايَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِه وَيَغْفِرُ مَادُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ** ج **وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدِ افْتَرٰٓى اِثْمًا عَظِيْمًا** (**آيَتْ ۴۸**، **سُوْرَةُ النِّسَآءْ ۴**) .

**تَرْجَمَهْ**:- **بِېشَکَّهْ اَللّٰهْ تَعَالٰى** دا **خَبَرَهْ** نَه معافوي چي دده سره څوک **شَرِيْکْ** ونیسي، او تر دغه کَم (کښتّه) هر **خَبَرَهْ** د چا لپاره چي وغواړي معافوي يې، او څوک چي د **اَللّٰهْ** سره **بَلْ** څوک **شَرِيْکْ** کَني، هغه دارنګه **بُهْتَانْ** تړي چي ډېره **غَتَّهْ ګُنَاهْ** ده.

**۱۰**: **وَلَقَدْ اُوْحِيَ اِلَيْكَ وَ اِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ** ج **لَئِنْ اَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ** ج **وَلَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ** (**آيَتْ ۶۵**،**سُوْرَةُ الزُّمَرْ ۳۹**) .

**تَرْجَمَهْ**:- او دا **حَقِيْقَتْ** دئ چي **تَا** ته او ستا څخه مخکي ټولو **پِيْغَمْبَرَانُوْ** ته د **وَحْيِ** په **ذَرِيْعَهْ** سره دا **خَبَرَهْ** سوې وه چي که تَه **شِرْکْ** وکې نو ستا ټول کړي **اَعْمَالْ** به **بَرْبَادْ** (**ضَائِعْ**) سي، او تَه به **يَقِيْنًا** په **سَخْتْ نُقْصَانْ** پُورتَه کونکو خلګو کي **شَامِلْ** سې.

۱۱: اِنَّه مَنْ يُّشْرِكْ بِاللهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَاْوٰىهُ النَّارُ ط وَمَالِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ (آيَتْ ۷۲،سُوْرَةُ الْمَائِدَةْ ۵) .

تَرْجَمَهْ:- بَاوَرْ (يَقِيْنْ) وکئ چي څوک د اَللّٰهْ سره شَرِيْکْ وَنِيسِي، اَللّٰهْ دهغه لپاره جَنَّتْ حَرَامْ کړئ دئ، او دهغه ځائ دُوْزَخْ دئ، او کُوم خلک چي (دغه) ظُلْمْ کوي هغه به هيڅ ډَول يَارْ او مَدَدْګارْ پيدا نه کړي .

په دغه آيَتُوْ کي دئ چي څوک د شِرْکْ په حَالَتْ کي مَړ سو، او تر مَرګْ مَخکي ددغه ګُنَاهْ څخه تُوْبَهْ وَ نَه کړه نو اَللّٰهْ تَعَالٰى به په هيڅ وَخْتَ هغه مُعَافْ نه کړي، بلکه هغه به همېشَه تر همېشَه په دُوْزَخْ کي سُوَځِي .

## د اَللّٰهْ په ذَاتْ کي څوک شَرِيْکْ کول حَرَامْ دئ

د شِرْکْ هسي ډېر قِسْمُوْنَهْ دي، لېکن په هغه کي دُوَه قِسْمَ ډېر مُهِمْ دي يَو دادئ چي د اَللّٰهْ په ذَاتْ کي څوک شَرِيْکْ کړي، يعني دُوَه خُدَايَانْ مَنَل .

او دُوَهَمْ دا چي د اَللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ د بَل چَا عِبَادَتْ کول، دهغه بَنْدَګِي کول .

لِهٰذَا صِرف يَو خُدَا بَايَدْ وَمَنَل سي، په هغه کي بَل څوک شَرِيْکْ کول په کار نَه دئ .

په دغه آيَتُوْ کي دئ چي صِرف او صِرف يَو خُدَائ دئ، دُوَهَمْ خُدَا په هيڅ صُوْرَتْ نَستَه

۱۲: وَقَا لَ اللهُ لَا تَتَّخِذُوْٓ ا اِلٰهَيْنِ اثْنَيْنِ ج اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ج فَاِيَّاىَ فَارْهَبُوْنِ

(آيَتْ ۵۱،سُوْرَةُ النَّحْلْ ۱۶) .

تَرْجَمَهْ:- او اَللّٰهْ فَرْمَائِلِيْ دي چي:،، دُوَهْ دُوَهْ مَعْبُوْدَانْ مَه جوړوئ، هغه خو بَس يَو مَعْبُوْدْ دئ، نو ځکه بَس تَنْهَا زَمَا څخه وَ ببرېږئ،،

۱۳: اَءِنَّكُمْ لَتَشْهَدُوْنَ اَنَّ مَعَ اللهِ اٰلِهَةً اُخْرٰى ط قُلْ لَّآ اَشْهَدُ ج قُلْ اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّ احِدٌ وَّ اِنَّنِىْ بَرِىْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ م (آيَتْ ۵۱،سُوْرَةُ النَّحْلْ ۱۶) .

تَرْجَمَهْ:- اَيَا په صحيح رِشْتِيَا سره تاسو دا ګوَاهِيْ ورکولائي سئ چي د اَللّٰهْ سره نُور مَعْبُوْدَانْ هم سته؟،، وَوَايَهْ چي:،، زَهْ خو دارنګه ګوَاهِيْ نَه ورکوم ،، وَوَايَهْ چي:،، هغه خو صِرف يَوْ خُدَائ دئ، او کُوم کُوم شِيَان چي تاسو دده سره په خُدَائي کي شَرِيْکَانْ کښئ، زَهْ دهغه ټولو څخه بېزاره يَم ،،

۱۴: لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ م وَمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّآ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ط

(آيَتْ ۷۳ ،سُوْرَةُ الْمَائِدَةْ ۵) .

تَرْجَمَهْ:- هغه خلک (هم) يَقِيْنًا كافِرَانْ سوي دي چي دا يې ويلي دي چي:,, اَللّٰهْ د دُرُوْ دَرِيَمْ دئ ,,. حَالَانْكِهْ د يَوَهْ خُدَا بغيره بَلْ خُدَا نَستَه .

۱۵: وَ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ج لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ع (آيَتْ ۱۶۳ ،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲)

تَرْجَمَهْ:- ستاسو خُدَایْ يو خُدَایْ دئ، دهغه بغيره بَل خُدَایْ نسته چي پر ټولو مِهْرَبَانْ، ډېر زِيَاتْ مِهْرَبَانْ دئ

۱۶: لَوْ كَانَ فِيْهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلَّا اللهُ لَفَسَدَتَا ج (آيَتْ ۲۲ ،سُوْرَةُ الْاَنْبِيَآءْ ۲۱)

تَرْجَمَهْ:- كه په آسْمَانْ او مځكَهْ كي د اَللّٰهْ بغيره نور خُدَايَانْ وای نو دواړه به تَبَاهْ او بَرْبَادْ سوي وای .

۱۷: وَمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّا اللهُ ط وَ اِنَّ اللهَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ (آيَتْ ۶۲ ،سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳)

تَرْجَمَهْ:- او د اَللّٰهْ بغيره بَل مَعْبُوْدْ نسته، او يَقِيْنًا يواځي اَللّٰهْ دئ چي د اِقْتِدَارْ مَالِكْ هم دئ، د حِكْمَتْ مَالِكْ هم دئ

تَقْرِيْبًا په يَوْ سَلْ څَلْوِيْښْتْ آيَتُوْ كي راغلي دي چي خُدَا يَو دئ، دُوَهَمْ په هيڅ صُوْرَتْ نَستَه .

## د اَللّٰهْ سره په عِبَادَتْ كي شِرْكْ كول حَرَامْ دئ

د عِبَادَتْ چي هر خومره صُوْرَتُوْنَهْ دي، مَثَلًا سَجْدَهْ كول، رُكُوْعْ كول، د عِبَادَتْ په تُوګه دده په مَخكِي وَلَاړَهْ، يا دهغه بَنْدَګِيْ كول، د اَللّٰهْ بَغَيْرَهْ د بَل چَا په مَخكِي دغه كارونه كول شِرْكْ دئ، حَرَامْ دئ .

دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي

۱۸: وَ قَضٰى رَبُّكَ اَ لَّا تَعْبُدُوْٓ ا اِلَّآ اِيَّاهُ . (آيَتْ ۲۳ ،سُوْرَةُ بَنِيْٓ اِسْرَآئِيْلْ ۱۷)

تَرْجَمَهْ:- او ستا پَرْوَرْدِګَارْ دا حُكْمْ كړئ دئ چي دهغه بغيره د بَلْ چَا عِبَادَتْ مَه كوئ .

۱۹: قُلْ اِنِّيْ نُهِيْتُ اَنْ اَعْبُدَ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللهِ لَمَّا جَآءَنِيَ الْبَيِّنٰتُ مِنْ رَّبِّيْ ز وَاُمِرْتُ اَنْ اُسْلِمَ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ (آيَتْ ۶۶ ،سُوْرَةُ الْغَافِرْ/ سُوْرَةُ الْمُؤْمِنْ ۴۰)

تَرْجَمَهْ:- اې پیغَمْبَرَهْ! کافِرَانُوْ ته) وَوَایَهْ چي:,, زَهْ یې ددې خَبَرِيْ څخه مَنْعَ کړې یَم چي مَا ته زَمَا د رَبْ لَخْوَا وَاضِحِيْ وَاضِحِيْ نِښَانَيْ راغلي دي، نو بیا هم زَهْ دهغه عِبَادَتْ وکړم کُوم چي تاسو یې د اَللّٰهْ پر ځای رَابُولَئ. او مَا ته دا حُکْمْ سوئ دئ چي زَهْ د ټولو جَهَانُوْ د پَرْوَرْدِګَارْ په حُضُور کي سَرْ تِيْټْ کم.,,

۲۰: اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَ اِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ . (آيَتْ ۴،سُوْرَةُ الْفَاتِحَةْ ۱) .

تَرْجَمَهْ:- (اې اَللّٰهْ!) مُوږ خَالِصْ ستا عِبَادَتْ کوو، او ستا څخه مَرْسْتَهْ غواړو

۲۱: اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ . (آيَتْ ۲،سُوْرَةُ هُوْدْ ۱۱)

تَرْجَمَهْ:- د اَللّٰهْ بِغَیْرَهْ د بَل چَا عِبَادَتْ مَه کوئ .

۲۲: اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ . (آيَتْ ۲۶،سُوْرَةُ هُوْدْ ۱۱)

تَرْجَمَهْ:- د اَللّٰهْ بِغَیْرَهْ د بَل چَا عِبَادَتْ مَه کوئ .

۲۳: اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ . (آيَتْ ۱۴،سُوْرَةُ فُصِّلَتْ/ سُوْرَةُ حٰمٓ اَلسَّجْدَةْ ۴۱)

تَرْجَمَهْ:- د اَللّٰهْ بِغَیْرَهْ د بَل چَا عِبَادَتْ مَه کوئ .

په دغه آيَتُوْ کي دئ چي د اَللّٰهْ بِغَیْرَهْ په هیڅ وَخْتْ د بَل چَا عِبَادَتْ مَه کوئ، او په عِبَادَتْ کي سَجْدَهْ کول، رُکُوْعْ کول، د عِبَادَتْ لپاره قِيَامْ کول، دغه ټول په عِبَادَتْ کي شَامِلْ دي، نو ځکه ددغه ټولو شِيَانُوْ څخه پَرْهیزْ کول په کار دئ .

په دغه سره هم اِنْسَانْ مُشْرِکْ ګرزي، چي اَنْجَامْ یې دغه دئ چي اَللّٰهْ هغه په هیڅ وَخْتْ نَه مَعَافَوِي، او دئ به همېشه تر همېشه په دُوْزَخْ کي وسیږي .

خلګ په دي کي اِحْتِيَاطْ نَه کوي .

## د اَللّٰهْ بِغَیْرَهْ بَل چَا ته سَجْدَهْ، او رُکُوْعْ جَوَازْ نَه لري

د عِبَادَتْ په تُوګه چي د چَا په مَخکِي سَجْدَهْ وکي نوهغه مُشْرِکْ کیږي، او د تَعْظِيْمْ په تُوګه د چَا په مَخکِي سَجْدَهْ کول حَرَامْ ده، دغه رنګه د عِبَادَتْ په تُوګه د چَا په مَخکِي رُکُوْعْ کول هم نَاجَائِزْ کَارْ دئ، ځکه چي دغه هم د لُمُوْنځْ او عِبَادَتْ یَوَه حِصَّهْ ده .

دَلِيْلْ یې دغه آيَتُوْنَهْ دي

۲۴: لَا تَسْجُدُوْا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ الَّذِيْ خَلَقَهُنَّ اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ (آيَتْ ۳۷،سُوْرَةُ فُصِّلَتْ/ سُوْرَةُ حٰمٓ اَلسَّجْدَةْ ۴۱)

تَرْجَمَهْ:- مَه و لُمَرْ ته سَجْدَهْ کوئ، مَه و سُپُوْږْمَئ ته، او سَجْدَهْ و هغه اَللّٰهْ ته کوئ کُوم چي دُوي يې پَيدَا کړي دي، که چيري وَاقِعَة تاسو دهغه عِبَادَتْ کوئ.

**۲۵: يٰاَ يُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ارْكَعُوْا وَاسْجُدُوْا وَاعْبُدُوْا رَبَّكُمْ . (آيَتْ ۷۷،سُوْرَةُ الْحَجْ ۲۲)**

تَرْجَمَهْ:- ائ مُؤْمِنَانُوْ! رُكُوْعْ کوئ، او سَجْدَهْ کوئ، او دخپل پَرْوَرْدِګَارْ بَندَګي کوئ .

**۲۶: فَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ وَ اعْبُدُوْا (آيَتْ ۶۲، سُوْرَةُ النَّجْمْ ۵۳)**

تَرْجَمَهْ:- د اَللّٰهْ لپاره سَجْدَهْ کوئ او دهغه بَنْدَګِي کوئ .

**۲۷: يٰمَرْيَمُ اقْنُتِيْ لِرَبِّكِ وَاسْجُدِيْ وَارْكَعِيْ مَعَ الرّٰكِعِيْنَ (آيَتْ ۴۳،سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳)**

تَرْجَمَهْ:- اِئ مَرْيَمْ! تَه د خپل رَبْ په عِبَادَتْ (يا قِيَامْ/ يا اِطَاعَتْ) کي بُخْتَ وسېږه، او سَجْدَهْ کوه او د رُكُوْعْ کونکو سره رُكُوْعْ هم کوه

**۲۸: وَ اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَ اٰتُوا الزَّكٰوةَ وَ ارْكَعُوْا مَعَ الرَّاكِعِيْنَ (آيَتْ ۴۳،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲)**

تَرْجَمَهْ:- او لُمُونْځ قائِموئ،او زَكٰوةْ اداء کوئ، او د رُكُوْعْ کونکو سره رُكُوْعْ کوئ

په دغه آيَتُوْ کې دا بَيَانْ کړئ دئ چې بَس تَنهَا د اَللّٰهْ لپاره رُكُوْعْ او سَجْدَهْ کوئ، نو ځکه وَ بَل چَا ته نَه سَجْدَهْ کول جَائِزْ ده، او نَه د عِبَادَتْ په تُوګه د بَل چَا په مَخکِي رُكُوْعْ کول جَائِزْ ده .

**۱: عَنْ قَيْسِ بنِ سَعْدٍ قَالَ اَتَيْتُ الْحِيْرَةَ فَرَأَيْتُهُمْ يَسْجُدُوْنَ لِمَرْزَبَانٍ لَّهُمْ فَقُلْتُ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اَحَقُّ اَنْ يَّسْجُدَ لَهُ، قَالَ فَاَتَيْتُ النَّبِيَّ (ﷺ) فَقُلْتُ اِنِّيْ اَتَيْتُ الْحِيْرَةَ فَرَأَيْتُهُمْ يَسْجُدُوْنَ لِمَرْزَبَانٍ لَّهُمْ فَاَنْتَ يَا رَسُوْلَ اللهِ! اَحَقُّ اَنْ نَسْجُدَ لَكَ، قَالَ: اَرَأَيْتَ لَوْ مَرَرْتَ بِقَبْرِيْ أَكُنْتَ تَسْجُدُ لَهُ؟ قَالَ قُلْتُ لَا، قَالَ: فَلَا تَفْعَلُوْا، لَوْ كُنْتُ اٰمُرًا اَحَدًا اَنْ يَّسْجُدَ لِاَحَدٍ لَاَمَرْتُ النِّسَاءَ اَنْ يَّسْجُدْنَ لِاَزْوَاجِهِنَّ لِمَا جَعَلَ اللهُ لَهُمْ عَلَيْهِنَّ مِنَ الْحَقِّ .**

**(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ،كِتَابُ النِّكَاحْ،بَابٌ فِيْ حَقِّ الزَّوْجِ عَلَى الْمَرْاَةِ،ص: ۳۰۹، نَمْبَرْ ۲۱۴۰ / اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ،كِتَابُ النِّكَاحْ،بَابُ حَقِّ الزَّوْجِ عَلَى الْمَرْأَةِ،ص: ۲۶۵، نَمْبَرْ ۱۸۵۳)**

تَرْجَمَهْ:- قَيْسْ بِنْ سَعْدْ فرمائي چي زَهْ حِيْرَهْ مَقَامْ ته راغلم نو وَمِي لِيدَل چي هغه خلک و خپلو سَرْدَارَانُوْ ته سَجْدَهْ کوي، نو مَا وويل چي رَسُوْلُ اللّٰهْ (ﷺ) خو زِيَاتْ حَقْدَارَهْ دئ چي هغه ته سَجْدَهْ وکړل سي، زَهْ حُضُوْرْ (ﷺ) ته راغلم او وَرتَه وَ مُو وَيَل چي زَهْ حِيْرَهْ مَقَامْ ته تَلَلئ وَم، هلتَه مُو وَلِيدَل چي هغه خلک و خپلو سَرْدَارَانُوْ ته سَجْدَهْ کوي، نو ځکه تَه يَا رَسُوْلَ اللّٰهْ ډېر حَقْدَارَهْ يې چي مُوږ تَا ته سَجْدَهْ وکوو، حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- که تاسو زَمَا د قَبْرْ سره تېرېږئ نو اَيَا هغه ته به سَجْدَهْ کوئ؟ قَيْسْ په جَوَابْ کي وويل چي نَه! نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي په ژُوَنْدْ کي هم مَا ته

سَجْدَهْ مَه کوئ، که چیرې مَا بَل چَا ته د سَجْدَهْ کولو حُکْمْ کولائې، نو ښځو ته به مُو حُکْمْ کړئ وائ چې ذُوې دې و خپلو مېړهْ ګانُو (خَاوَنْدَانُوْ) ته سَجْدَهْ کوې، ځکه چې اَللّٰهْ و مېړهْ ګانُوْ ته پر مَیْنُو (بِیْ بِیْ ګانُوْ) باندې ډېر حُقُوْقْ وَرکړې دې .
په دغه حَدِیْثْ کې دئ چې د اَللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ بَل چَا ته د تَعْظِیْمْ سَجْدَهْ هم حَرَامَ ده .

## مُوږ شَخْصًا چَا ته په یَقِیْنِیْ تُوګه جَنّتِیْ یا دُوْزخِیْ نَه سو وَیلائې

د یَو چَا په اړه دغه حَتْمِیْ فَیْصَلَهْ نَه سو کولائې چې دئ جَنَّتِیْ دئ، یا دُوْزخِیْ دئ تر څو چې په قُرْآنْ یا حَدِیْثْ کې دهغه صَرَاحَتْ نَه وي سوئ په قُرْآنْ یا حَدِیْثْ کې چې د کُوم چَا نُوْمْ اَخستئ وي چې دغه کس جَنَّتِیْ یا دُوْزخِیْ دئ، نو دهغه په اړه خو مُوږ دا وَیلائې سو چې دغه جَنَّتِیْ یا دُوْزخِیْ دئ، لېکن که چیرې نُوْمْ نَه وُ اَخستئ، بَاقَاعِدَهْ یې دهغه د جَنَّتِیْ یا دُوْزخِیْ حُکْمْ نَه وُو کړئ نو دا قَوِیْ اِمْکَانْ سته چې په ظَاهِرَهْ دې دئ جَنَّتِیْ وي لېکن دَنَنَهْ دې د اَللّٰهْ په نېز دئ دُوْزخِیْ وي، یا په ظَاهِرَهْ دې دئ دُوْزخِیْ وي لېکن دَنَنَهْ دې د اَللّٰهْ په نېز دئ جَنَّتِیْ وي ځکه چې د اِیمَانْ او تَصْدِیْقْ مَعَامِلَهْ خو د زړهْ مَعَامِلَهْ ده، او د زړهْ حَالْ خو وَ اَللّٰهْ ته مَعْلُوْمْ دئ .
اَلْبَتَّهْ که چیرې په یَو چَا کې د کُفْرْ عَلَامَتْ وي نوبیا دا وَیَل کېدلائې سي چې په دغه کس کې د کُفْرْ عَلَامَتْ سته نو ځکه دا اِمْکَانْ سته چې دئ دې کَافِرْ سوئ وي، او پر هغه به د کُفْرْ اَحْکَامَاتْ جَارِیْ کېږي، لېکن په حَتْمِیْ تُوګه ده ته کَافِرْ نَه سي وَیَل کېدلائې .
نو ځکه کُوم خلګ چې په خپلو تَقْرِیْرُوْ کې په نَامَهْ سره وائې چې فَلَانَیْ فُلَانَیْ کَافِرْ دئ، یا جَنَّتِیْ دئ، دغه وَیْنَا په کار نَه ده .

د عَقِیْدَةُ الطَّحَاوِیَّةْ عِبَارَتْ دغه دئ
**وَلَانُنَزِّلُ اَحَدًا مِّنْهُمْ جَنَّةً وَّلَا نَارًا، وَلَا نَشْهَدُ عَلَیْهِمْ بِالْکُفْرِ وَلَا بِشِرْکٍ وَلَا بِنِفَاقٍ مَا لَمْ یَظْهَرْ مِنْهُمْ شَیْءٌ مِّنْ ذَالِكَ، وَنَذَرُ سَرَائِرَهُمْ اِلَی اللهِ تَعَالٰی .**
(اَلْعَقِیْدَةُ الطَّحَاوِیَّةْ ، عَقِیْدَهْ نَمْبَرْ ٧٠، ص: ١۶)
تَرْجَمَهْ:- مُوږ څوک جَنَّتِیْ یا دُوْزخِیْ نَه سو ګڼلائې، او نَه مُوږ پر هغه باندې د کُفْرْ او شِرْکْ او نِفَاقْ ګَوَاهِیْ وَرکولائې سو تر څو چې د دُوې څخه ددغه (شِیَانُوْ) څخه یَو شَئ ښکاره سوئ نَه وي، او چې کُومې پټې خَبَرِیْ دې هغه وَ اَللّٰهْ ته سُپُرْدْ کوو .

ددغه عِبَارَتْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي د چا په اړه په حَتْمِيْ تُوګه دا نَه سي وَيَل کېدلائي چي دغه کس جَنَّتِيْ يا دُوْزَخِيْ دئ .

دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ او حَدِيْثْ دئ .

**۲۹: يٰاَ يُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ** . (آيَتْ ۱۲،سُوْرَةُ الْحُجُرَاتْ ۴۹) .

تَرْجَمَهْ:- اې مُؤْمِنَانُوْ! د ډېرو ګُمَانُوْ څخه ځانونَه وَساتَئ، بعض ګُمَانُوْنَهْ ګُنَاهْ وي .

**۳۰: يٰاَ يُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ عَسٰۤى اَنْ يَّكُوْنُوْا خَيْرًا مِّنْهُمْ** .

(آيَتْ ۱۱،سُوْرَةُ الْحُجُرَاتْ ۴۹) .

تَرْجَمَهْ:- اې مُؤْمِنَانُوْ! نَه خو دي نَرْ په نُورو نَرَانُوْ يَسْخَنْدْ وَهِي، کېدلائي سي چي هغه (کُوم چي يَسْخَنْدْ په وَهَلْ کېږي) په خپله تر هغوي بِهْتَرْ وي،

په دغه آيَتُوْ کې د ګُمَانْ کولو څخه مَنْعَ کړې ده، ددې څخه مَعْلُوْمْ سو چي مُوږ په حَتْمِيْ تُوګه چا ته جَنَّتِيْ يا دُوْزَخِيْ نَه سو وَيَلائي .

**۲: عَنْ عَائِشَةَ اُمِّ الْمُؤْمِنِيْنَ قَالَتْ دُعِيَ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلٰى جَنَازَةِ صَبِيٍّ مِّنَ الْاَنْصَار فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ طُوْبٰى لِهٰذَا عُصْفُوْرٌ مِّنْ عَصَافِيْرِ الْجَنَّةِ! لَمْ يَعْمَلِ السُّوْءَ وَلَمْ يُدْرِكْهُ، قَالَ اَوَ غَيْرَ ذَالِكَ؟ يَا عَائِشَةُ! اِنَّ اللّٰهَ خَلَقَ لِلْجَنَّةِ اَهْلًا خَلَقَهُمْ لَهَا وَهُمْ فِيْ اَصْلَابِ اٰبَائِهِمْ وَخَلَقَ لِلنَّارِ اَهْلًا خَلَقَهُمْ لَهَا وَهُمْ فِيْ اَصْلَابِ اٰبَائِهِمْ** .

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْقَدْرْ، بَابُ مَعْنٰى كُلُّ مَوْلُوْدٍ يُوْلَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ وَحُكْمُ مَوْتٰى اَطْفَالُ الْكُفَّارِ وَ اَطْفَالُ الْمُسْلِمِيْنَ، ص: ۱۱۵۹، نَمبَرْ ۲۶۶۲/ ۶۷۶۸)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَائِشَهْ فرمائي چي حُضُوْرْ (ﷺ) د اَنْصَارْ د کِشْنِيْ (هَلَکْ) وَ جَنَازِي ته رَاوَبَلَل سو، مَا وويل چي يَارَسُوْلَ اللّٰهْ! دغه د جَنَّتْ مَرْغَيْ ده، دده لپاره دي خُوْشْخَبْرِيْ وي، ده خو يَوه ګُنَاهْ هم نَه ده کړې، او ده ته د ګُنَاهْ وَخْتْ هم نَه دئ مِلاؤ سوئ، حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- نور څه وَيْنَا هم کول غُوَاړې که بَس؟ اې عَائِشَهْ! چي کله خلګ د پَلَارَانُوْ په شَاوُوْ (مَلَاوُوْ) کې وُو په هغه وَخْتْ لَا اَللّٰهْ تَعَالٰي هغه خلګ پَيدَا کړي وُو کُوم چي جَنَّتْ ته ځِي، او چي کله دُوي د پَلَارَانُوْ په شَاوُوْ (مَلَاوُوْ) کي وُو په هغه وَخْتْ لَا اَللّٰهْ تَعَالٰي هغه خلګ پَيدَا کړي وُو کُوم چي دُوْزَخْ ته ځِي .

ددغه حَدِيْثْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي د اَوَّلْ څخه لَا د اَللّٰهْ تَعَالٰي په عِلْمْ کي دغه سته چي څوک جَنَّتِيْ دئ؟ او څوک دُوْزَخِيْ دئ؟ نو ځکه مُوږ د چا په لِيدَلُو سره د جَنَّتِيْ يا د دُوْزَخِيْ فَيْصَلَهْ نَه سو کولائي .

# د ګُنَاهِ صَغِیْرَهْ او ګُنَاهِ کبیْرَهْ تَعْرِیْفْ

**ګُنَاهِ کبیْرَهْ**:- پر کُومُو **ګُنَاهُوْ** چي **وَعِیْدْ** او **سَزَا** راغلې وي یايې په **دُنْیَا** کې **لَعْنَتْ** پر کړئ وي، او **سَخْتْ زَجْرْ** يې پر کړئ وي، هغه ته **ګُنَاهِ کبیْرَهْ** وائي .

**ګُنَاهِ کبیْرَهْ**:- په **تُوْبَهْ** کولو سره **مَعَافْ** کيږي، تر دې مَخکې نه **مَعَافْ** کيږي، **اَلْبَتَّهْ** که **اَللّٰهْ تَعَالٰی** وَغُوَاړي نو د يَو ځَا **ګُنَاهِ کبیْرَهْ** هم **مَعَافْ** کولائي سي، **لٰیکِنْ شِرْکْ** يَوَه دارنګه **ګُنَاهِ کبیْرَهْ** ده چي **بَغَیْرَهْ** د **تُوْبَهْ** کولو يې **اَللّٰهْ تَعَالٰی** نه مَعَافَوِي، د **ګُنَاهِ کبیْرَهْ** په کولو سره **اِنْسَانْ** نه **مُشْرِکْ** کيږي او نه **کَافِرْ** کيږي، ځکه چي دده په **زِړَهْ** کي **اِیْمَانْ** او **تَصْدِیْقْ بِالْقَلْبْ مَوْجُوْدْ** دئ، **اَلْبَتَّهْ** دا ډيره **غَتَّهْ ګُنَاهْ** ده، په هر **حَالَتْ** کي ددې څخه ځان سَاتَل په کار دئ، او **خُدَا نَخْوَاسْتَهْ** که چيري د **اِنْسَانْ** څخه دغه **ګُنَاهْ صَادِرَهْ** سي نو **بَایَدْ فَوْرًا تُوْبَهْ** وکاړي .

**ګُنَاهِ صَغِیْرَهْ**:- او پر کُومُو **ګُنَاهُوْ** چي **وَعِیْدْ** نه وي **بَیَانْ** سوئ هغه ته **ګُنَاهِ صَغِیْرَهْ** وائي .

**ګُنَاهِ صَغِیْرَهْ**:- د **نیکیُوْ** په کِشنې کِشنې **کارُوْ** سره هم **مَعَافْ** کيږي،

**ګُنَاهِ صَغِیْرَهْ**:- **بَغَیْرَهْ** د **تُوْبَهْ** کولو هم **اَللّٰهْ تَعَالٰی مَعَافْ** کوي .

**دَلِیْلْ** يې دغه **آیَتُوْنَهْ** دي

**۳۱**: **اِنْ تَجْتَنِبُوْا کَبَآئِرَ مَاتُنْهَوْنَ عَنْهُ نُکَفِّرْ عَنْکُمْ سَیِّاٰتِکُمْ وَنُدْخِلْکُمْ مُّدْخَلًا کَرِیْمًا** (**آیَتْ ۳۱، سُوْرَةُ النِّسَآءِ ۴**) .

**تَرْجَمَهْ**:- که چيري تاسو دهغه **غَتُّوْ غَتُّوْ ګُنَاهُوْنُوْ** څخه **پَرْهِیزْ** وکړئ چي د هغه څخه تاسو **مَنْعْ** کړل سوي ياست نو ستاسو د **کِشْنِيْ کِشْنِيْ ګُنَاهُوْنُوْ** به موږ په خپله **کَفَّارَهْ** وکړو، او تاسو به د **یَوْ عِزَّتْ** په ځائ کي **دَاخِلْ** کړو

**۳۲**: **اَ لَّذِیْنَ یَجْتَنِبُوْنَ کَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ اِلَّا اللَّمَمَ ؕ اِنَّ رَبَّکَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ ؕ**

(**آیَتْ ۳۲، سُوْرَةُ النَّجْمْ ۵۳**) .

**تَرْجَمَهْ**:- هغو خلګو ته چي د **غَتُّوْ غَتُّوْ ګُنَاهُوْنُوْ** او د **بې حَیَايِيْ** د کارُو څخه **ځَانُوْنَهْ** ګُورِي، **اَلْبَتَّهْ** کله نَا کله بښکېدَل (کشنې **ګُنَاهْ** څُو) بېلَه **خَبَرَهْ** ده، **یَقِیْنْ** وکه ستا **پَرْوَرْدِګَارْ** د ډير **وَسِیْعْ مَغْفِرَتْ مَالِکْ** دئ [هغه به **مَعَافْ** کي] .

په دغه آيَتُوْ کي اِشَارَهْ سوې ده چي کـه د غَټُوْ غَټُوْ گُنَاهُوْ څخه ځانونه وَسَاتَئ نو کېدلائي سي چي اَللّٰهْ تَعَالٰي کِشْنِيْ کِشْنِيْ گُنَاهُوْنَهْ دَر مَعَافْ کي .

## گُنَاهِ کبيْرَهْ کونکئ به جَنَّتْ ته ځِي

که د کُفْرْ او شِرْکْ څخه عَلَاوَهْ يَوه بَلَه گُنَاهِ کبيْرَهْ کړې وي، او د تُوْبَهْ کولو بغَيْرَهْ مړ سو نو کېدلائي سي چي ددغه گُنَاهْ سَزَا دي وَ ده ته مِلاؤ سي او تر ډېره وَخْتَه پُوري دي په دُوْزَخْ کي سَزَا وَزْغمِيْ، لېکن د سَزَا د کاټَوُلُو وروسته يَو وَخْتْ نَه يَو وَخْتْ به جَنَّتْ ته دَاخِلْ سي، ځکه چي ددہ په زَړهْ کي اِيْمَانْ سته، او مُؤْمِنْ به يَو وَخْتْ نَه يَو وَخْتْ جَنَّتْ ته ضرور دَاخِلېږي .
او که چيري د گُنَاهِ کبيْرَهْ څخه تُوْبَهْ وکړه، او دده تُوْبَهْ قَبُوْلَ هم سوه نو دهغه د سَزَا د مِلاؤېدو بغَيْرَهْ به جَنَّتْ ته دَاخِلْ سي، ځکه چي ده تُوْبَهْ کړې ده او دده تُوْبَهْ قَبُوْلَ هم سوه .

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

۳: عَنْ اَبِیْ ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) اَتَانِیْ اٰتٍ مِّنْ رَّبِّیْ، فَاَخْبَرَنِیْ، اَوْ قَالَ بَشَّرَنِیْ، اَنَّهُ مَنْ مَاتَ مِنْ اُمَّتِیْ لَايُشْرِكُ بِاللّٰهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ فَقُلْتُ وَ اِنْ زَنٰی وَ اِنْ سَرَقَ؟ قَالَ وَ اِنْ زَنٰی وَ اِنْ سَرَقَ .
(بُخَارِیْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، ص: ۱۹۸، نَمْبَرْ ۱۲۳۷ / مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْاِيْمَانْ،بَابُ الدَّلِيْلُ عَلٰی مَنْ مَاتَ لَايُشْرِكُ بِاللّٰهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ، ص: ۵۴، نَمْبَرْ ۹۲/ ۲۶۷۸)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- زَمَا د رَبْ لَخْوَا يَو رَاتْلُونکئ راغلئ او مَا ته يې خَبَرْ راکړئ، يايې دارنګه وَ فَرْمَائِلْ چي مَا ته يې زېرئ وَاوْرَاوَئ چي:- زَمَا د اُمَّتْ څخه کُوم چَا چي د اَللّٰهْ سره شِرْکْ نَه کاوئ او دئ وَفَاتْ سو نو هغه به جَنَّتْ ته دَاخِلْ سي، مَا يُوْښْتَنَهْ وکړه چي، که څَه هم هغه زِنٰي هم کوي او غْلَا هم کوي نو بيا هم؟ نو هغه زېري رَاکوُنکي وويل چي، هو که څَه هم هغه زِنٰي هم کوي او غْلَا هم کوي نو بيا هم هغه به جَنَّتْ ته دَاخِلْ سي .
په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي څوک د شِرْکْ په حَالَتْ کي نَه وي مړ سوئ نو هغه به جَنَّتْ ته دَاخِلېږي، نو ځکه گُنَاهِ کبيْرَهْ کونکئ به هم جَنَّتْ ته دَاخِلېږي .

۴: عَنْ اَنَسِ بنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) ..... ثُمَّ يُخْرَجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَكَانَ فِیْ قَلْبِه مِنَ الْخَيْرِ مَايَزِنُ ذَرَّةً .

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْاِيْمَانْ،بَابُ اَدْنٰى اَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً فِيْهَا،ص:۱۰۲،نَمْبَرْ ۱۹۳،۳۴۷۸/بُخَارِيْ شَرِيْفْ،بَابُ كِتَابِ التَّوْحِيْدِ، بَابُ كَلَامِ الرَّبِّ تَعَالٰى يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ الْاَنْبِيَاءِ وَغَيْرِهِمْ، ص: ۱۲۹۴، نَمْبَرْ ۷۵۱۰)

تَرْجَمَهْ:- نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ ..... كُوم چا چي ,, لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ,, وَوَيَل او دده په زَرَهْ كي د ذَرَّهْ بَرَابَرْ خَيْرْ يعني اِيْمَانْ وي، نو هغه به د دُوْزَخْ څخه رَايستَل كيږي .

ددغه اَيتُوْ او حَدِيْثُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي د كُوم چا په زَرَهْ كي د يوې ذَرّې بَرَابَرْ اِيْمَانْ وي نو هغه به جَنَّتْ ته دَاخِلْ سي، ددې مَطْلَبْ دا سو چي گُنَاهِ كبيْرَهْ كونكئ به هم جَنَّتْ ته دَاخِليږي .

## چي گُنَاهِ كبيْرَهْ حَلَالَ وَگڼي هغه كَافِرْ كيږي

د نَاخَبْرَيْ په حَالَتْ كي يا د مَجْبُوْرَيْ په حَالَتْ كي گُنَاهِ كبيْرَهْ ځيني صَادِرَهْ سوه، سره ددې چي هغه گُنَاهْ پر گُنَاهْ بُولِي، نو دهغه سَزَا به ورته مِلاوېږي، لېكن په دې سره اِنسَانْ نَه كَافِرْ كيږي، لېكن كه چيري دارنگه گُنَاهِ كبيْرَهْ وكي چي دهغې مَمَانَعَتْ په آيَتْ كي صَرَاحتًا مَوْجُوْدْ وي، اُوس كه چيري دغه گُنَاهْ دئ حَلَالَ وَگڼي او وَكِي نو بيا دغه مُجْرِمْ كَافِرْ كيږي .

ځكه چي حَلَالَ يې وَگڼل او بيا يې گُنَاهْ وكړه نو ده دهغه صَرِيْحْ آيَتْ څخه اِنْكَارْ وكئ په كُوم كي چي ددغه گُنَاهْ مَمَانَعَتْ راغلئ دئ، او مَخته تېر سوي دي چي د اِيْمَانْ په شپږ اَجْزَاءُ كي يَو جُزْءُ قُرْآنْ او دهغه د آيتُوْ مَنَل هم دئ، او ده خو ددغه آيَتْ څخه اِنْكَارْ وكئ، نو ځكه اُوس دئ كَافِرْ كيږي، مَثَلًا د زِنَا حُرْمَتْ په آيَتْ كي مَوْجُوْدْ دئ، اُوس چي دئ يې حَلَالَ وَگڼِي او بيايې كوي، نو گواكه د زِنَا د آيَتْ اِنْكَارْ يې وكئ، نو ځكه اُوس دئ كَافِرْ گرزي، اُوس چي دئ ددې څخه تُوْبَهْ وكاږي نو بيا مُسْلِمَانْ كيږي .

په عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةْ كي دغه عِبَارَتْ دئ

..... وَلَانُكَفِّرُ اَحَدًا مِّنْ اَهْلِ الْقِبْلَةِ بِذَنْبٍ مَا لَمْ يَسْتَحِلَّهُ .

(عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةْ، عَقِيْدَهْ نَمْبَرْ ۵۷، ص: ۱۴)

تَرْجَمَهْ:- د كُومِي گُنَاهْ په وَجَهَ اَهْلِ قِبْلَهْ مُوږ كَافِرَانْ نَه گڼو، تر څو چي هغه گُنَاهْ حَلَالَ وَنَه گڼي .

په دغه عِبَارَتْ كي د ,, مَالَمْ يَسْتَحِلَّهُ ,, مَطْلَبْ دغه دئ چي گُنَاهْ حَلَالَ وَگڼي، چي دهغه لكبله د صَرِيْحْ آيَتْ څخه اِنْكَارْ لَازِمْ سي، او دهغه په وَجَهَ به دئ كَافِرْ گڼل كيږي .

# د ګُنَاهِ کبیْرَهْ تَعْدَادْ یا شُمبرَهْ

د ګُنَاهِ کبیْرَهْ تَعْدَادْ مُتَعَیَّنْ نَه دئ، اَلْبَتَّهْ دغه ټولَ په ګُنَاهِ کبیْرَهْ کي شَامِلْ دي، شِرْکْ، کُفْرْ، قَتْلْ، زِنَا کول، د زِنَا تُهْمَتْ لَګَول، غَلَا کول، شَرَابْ څِیْښَل، سُوْدْ کول، د مُوْرْ و پَلَارْ نَافَرْمَانِيْ، دَرُوَاغْجَنْ قَسَمْ اَخستَل، د جِهَادْ د مَیْدَانْ څخه تیښتَه، د یَتِیْمْ مَالْ خُوړَل .

دَلِیْلْ یې دغه آیَتْ دئ

**۳۳**: وَالَّذِیْنَ لَا یَدْعُوْنَ مَعَ اللهِ اِلٰهًا اٰخَرَ وَلَا یَقْتُلُوْنَ النَّفْسَ الَّتِیْ حَرَّمَ اللهُ اِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا یَزْنُوْنَ ج وَمَنْ یَّفْعَلْ ذٰلِكَ یَلْقَ اَثَامًا لا (آیَتْ ۶۸، سُوْرَةُ الْفُرْقَانْ ۲۵) .

تَرْجَمَهْ:- او چي د اَللّٰهْ سره د بَلْ یَوه مَعْبُوْدْ عِبَادَتْ هم نَه کوي، او کُوم اِنْسَانْ تـه چـي اَللّٰهْ حُرْمَتْ ورکړئ دئ، هغه نَاحَقْ نَه قَتلَوِي، او نَه ځُوي زِنَا کوي، او چـي څـوک دغـه کار کوي، هغه به دخپلي ګُنَاهْ د وَبَالْ سره مَخَامَخ کیږي .

په دغه آیَتْ کي د دُرُوْ ګُنَاهُوْ شِرْکْ، قَتْلْ او زِنَا بَیَانْ سوئ دئ .

**۵**: عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) قَالَ اِجْتَنِبُوْا السَّبْعَ الْمُوْبِقَاتِ، قِیْلَ یَا رَسُوْلَ اللهِ مَاهُنَّ؟ قَالَ اَلشِّرْكُ بِاللهِ، وَالسِّحْرُ، وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِیْ حَرَّمَ اللهُ اِلَّا بِالْحَقِّ، وَ اَکْلُ مَالَ الْیَتِیْمِ، وَ اَکْلُ الرِّبَا، وَالتَّوَلِّی یَوْمَ الزَّحْفِ، وَ قَذْفُ الْمُحْصِنَاتِ الْغَافِلَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ .

(مُسْلِمْ شَرِیْفْ،کِتَابُ الْاِیْمَانْ،بَابُ الْکَبَائِرِ وَ اَکْبَرُهَا، ص:۵۳،نَمبَرْ ۸۹، ۲۶۲)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي د اُوَهْ هَلَاکْ کونکو ګُنَاهُوْ څخه ځانونـه وَسَاتَئ، خلګو پُوْښْتَنَهْ وکړه هغه کُومِي دي؟ وَ فَرْمَائِلْ چي:- د اَللّٰهْ سره شِرْکْ کول، جَادُوْ کول، اَللّٰهْ چي کُوم نَفْسْ حَرَامْ (مُحْتَرَمْ/ مَحْفُوْظْ) ګرزولئ دئ هغه وَژَلْ. اَلْبَتَّهْ چي د کُوم نَفْسْ د وَژَلُوْ حَقْ دئ (هغه بیا ببله خَبَرَهْ ده)، د یَتِیْمْ مَالْ خُوړَلْ، سُوْدْ خُوړَلْ، د جَنْګْ د مَیْدَانْ څخه په تیښْتَهْ تَلَل، پر پَاکْ لَمَنُوْ مُؤْمِنَاتُوْ ښځو باندي د زِنَا تُهْمَتْ لَګَول .

په دغه حَدِیْثْ کي اُوَهْ قِسَمْ کبیْرَهْ ګُنَاهُوْنَه بَیَانْ کړي دي .

**۶**: عَنْ اَبِیْ بَکْرَةَ قَالَ کُنَّا عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ (ﷺ) فَقَالَ اَ لَا اُنَبِّئُکُمْ بِاَکْبَرِ الْکَبَائِرِ ثَلَاثًا؟ اَ لْاِشْرَاكُ بِاللهِ، وَعُقُوْقُ الْوَالِدَیْنِ، وَ شَهَادَةُ الزُّوْرِ .

(مُسْلِمْ شَرِیْفْ،کِتَابُ الْاِیْمَانْ،بَابُ الْکَبَائِرِ وَ اَکْبَرُهَا، ص:۵۳،نَمبَرْ ۲۵۹۸۷)

تَرْجَمَهْ:- حضرت اَبُوْبَکْرَهْ فرمائي چي مُورِ د حُضُوْرْ (ﷺ) سره مَوْجُوْدْ وُو، چي حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ زَهْ وَ تاسو ته تر ټولو غَټِيْ دريِ گُنَاهُوْنَهْ دَروَښَايَم؟ د اَللّٰهْ سره شِرْكْ کول، د مُوْرْ و پلَارْ نَافَرْمَانِيْ کول، او د دَرْوَاغُوْ گُوَاهِيْ ورکول .

۳۴: وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآ ؤُه جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِيْهَا وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَه وَ اَعَدَّ لَه عَذَابًا عَظِيْمًا . (آيَتْ ۹۳، سُوْرَةُ النِّسَآءْ ۴) .

تَرْجَمَهْ:- او څوک چي په قَصْدًا يو مُسْلْمَانْ مَړْ (قَتْلْ) کړي نو دهغه سَزَاءْ جَهَنَّمْ دئ چي په هغه کي به دئ همېشه وسېږي او اَللّٰهْ به پر هغه باندي غَضَبْ نَازِلْ کړي او لَعْنَتْ به پر وکړي، او اَللّٰهْ د هغه لپاره زَبَرْدَسْتَ عَذَابْ تَيَّارْ کړئ دئ .

په دغه آيَتْ کي دئ چي يَو چَا نَاحَقَّ قَتْلْ وکړئ نو دهغه سَزَا د همېشَه لپاره دُوْزَخْ دئ، لېکن دغه د تَاکِيْدْ لپاره دئ که نَه نو د اِيْمَانْ په وَجْهَ سره به يَو وَخْتْ نَه يو وَخْتْ جَنَّتْ ته دَاخِلْ سي .

## ۳۳: مُسْلْمَانْ کله مُرْتَدْ کيږي؟

ددغه عَقِيدېِ په اړه ۱ آيَتْ او ۸ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کئ .

د اِيْمَانْ په بَحْثْ کي تېر سو چي پر شپږُوْ شِيَانُوْ باندي اِيْمَانْ وَلَرِي نو بيا مُؤْمِنْ گرزي، هغه شپږ شِيَانْ دغه وُو
يعني [۱] پر اَللّٰهْ باندي اِيْمَانْ [۲] پر رَسُوْلْ باندي اِيْمَانْ [۳] پر کِتَابْ يعني قُرْآن مَجِيْدْ باندي اِيْمَانْ [۴] پر فَرِشْتُوْ باندي اِيْمَانْ [۵] د آخِرَتْ پر وُرَځْ باندي اِيْمَانْ [۶] پر تَقْدِيْرْ باندي اِيْمَانْ .
که په دغه شپږُو کي د يَوَه شي اِنْکَارْ وکي نو هم مُرْتَدْ گرزي .
دَلِيْلْ يي د عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةْ دغه عِبَارَتْ دئ
..... وَلَا يَخْرُجُ الْعَبْدُ مِنَ الْاِيْمَانِ اِلَّا بِجُهُوْدِ مَا اَدْخَلَهُ اللّٰهُ فِيْهَا .
(عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةْ، عَقِيْدَهْ نَمْبَرْ ۶۱، ص: ۱۵)
تَرْجَمَهْ:- د کُومُو شِيَانُوْ په وَجْهَ چي په اِيْمَانْ کي دَاخِلْ سوئ دئ دهغه څخه د اِنْکَارْ کولو په وَجْهَ اِنْسَانْ د اِيْمَانْ څخه وُزِي .
په دغه عِبَارَتْ کي دئ چي ددغه شپږ خَبَرُوْ په اِقْرَارْ سره اِنْسَانْ مُسْلْمَانْ کيږي، چي په دغه کي د هسي يَوېِ څخه اِنْکَارْ وکي نو د اِيْمَانْ څخه وُزِي،

لېکن که چیري په دي کي د يَوې خَبَرِيْ اِنْکَارْ نَه کوي نو بيا مُوْمِنْ پاتـه دئ .

## مُرْتَدْ ته به شَرْعِيْ قَاضِيْ د قَتْلْ سَزَا ورکوي

دَلِيْلْ يې دغه آيَتْ دئ

١: وَمَنْ يَّرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِه فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَاُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ج وَ اُولٰئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ (آيَتْ ٢١٧، سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ٢) .

تَرْجَمَهْ:- او که ستاسو څخه څوک خپل دِيْنْ پرېږدي، او د کُفْر په حالت کي مړ سي، نـو د داډول خلګو اَعْمَالْ بـه پـه دُنْيَـا او آخِـرَتْ دواړو کـي ضَـائِعْ سـي، داډول خلـګ دُوْزَخِيَانْ دي، او دُوي به په هغه کي همېشه وسيږي.

١: قَالَ اُتِىَ عَلِىٌّ بِزَنَادِقَةٍ فَاَحْرَقَهُمْ ..... لِقَوْلِ رَسُوْلِ اللهِ (ﷺ) مَنْ بَدَّلَ دِيْنَـهُ فَاقْتُلُوْهُ . (بُخَارِىْ شَرِيْفْ، بَابُ حُكْمُ الْمُرْتَدِّ وَالْمُرْتَدَّةِ وَ اِسْتِتَابَتَهُمْ، ص: ١١٩٣، نَمْبَرْ ٦٩٢٢)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَلِيْ ته يَو زَنْدِيْقْ رَاوَستَئ، نو ده دهغه د سُوَځَلُو حُكْمْ ورکړئ .... ځکه چي حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ :- څوک چي دِيْنْ بَدَلْ کي هغه قَتْلْ (مَړْ) کئ .

٢: عَنْ اَبِىْ مُوْسٰى قَالَ ..... فَاِذَا رَجُلٌ عِنْدَهُ (عِنْدَ اَبِىْ مُوْسٰى) مُوَثَّقٌ، قَالَ مَا هٰذَا؟ قَالَ كَانَ يَهُوْدِيًّا فَاَسْلَمَ ثُمَّ تَهَوَّدَ، قَـالَ اِجْلِسْ! قَـالَ لَا اَجْلِسُ حَتّٰـى يُقْتَلُ قَضَاءُ اللهُ وَ رَسُوْلِه ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَاَمَرَ بِه فَقُتِلَ .

(بُخَارِىْ شَرِيْفْ، بَابُ حُكْمُ الْمُرْتَدِّ وَالْمُرْتَدَّةِ وَ اِسْتِتَابَتَهُمْ، ص: ١١٩٣، نَمْبَرْ ٦٩٢٣)

تَرْجَمَهْ:- حضرت مَعَاذْ راغلئ، هلته د اَبُوْ مُوْسٰي سره يَو کس تړلـئ وُو، حضـرت مَعَاذْ يُوْښْتَنَهْ وکړه چي دغه څِشَئ دئ؟ نو خلګو ورته وويل چي دغه يَو يَهُوْدِيْ وُو، بيا مُسْلْمَانْ سو، اُوس بيا يَهُوْدِيْ سوئ دئ، بيايي حضرت مَعَاذْ ته وويل چي تَه کښېنه، نـو ده وويل چي:- تر څو چي دئ مُو قَتْلْ کړئ نه وي زَهْ تر هغه وَخْتَهْ نـه کښـېنم، دغـه د اَللّٰهْ او دهغه د رَسُوْلْ فَيْصَلَهْ ده، دغه يې درې وَارَه وَفَرْمَائِلْ، حَاكِمْ حُكْمْ وَرکئ او هغـه يَهُوْدِيْ يې قَتْلْ کئ .

## لېکن د مُرْتَدْ د قَتْلَوُلو لپاره درې شَرْطُوْنَهْ دي

[١] ... اَوَّلْ شَرْطْ دادئ چي اِسْلَامِيْ حُکُوْمَتْ وي .

اَوَّلْ شَرْطْ دادئ چي اِسْلَامِيْ حُكُوْمَتْ به وي نو بيا به دئ قَتْلَوِيْ چي بيا بَل مُسْلَمَانْ مُرْتَدْ نَه سي، دَلِيْلْ يې دغه قَوْلِ صَحَابِيْ دئ

۳: عَنْ زَيْدِ بن ثَابتٍ ﷺ قَالَ لَاتُقَامُ الْحُدُوْدُ فِيْ دَارِ الْحَرْبِ مَخَافَةَ اَنْ يَّلْحَقَ اَهْلُهَا بِالْعَدُوِّ . (سُنَن كُبْرٰى لِلْبَيْهَقِيْ،كِتَابُ السِّيَر، بَابُ مَنْ زَعَمَ لَاتُقَامُ الْحُدُوْدُ فِيْ اَرْضِ الْحَرْبِ حَتّٰى يَرْجِعَ، ج: ۹، ص: ۱۷۸، نَمْبَرْ ۱۸۲۲۵ / اَ لْاَصْلُ لِاِمَامِ مُحَمَّدْ، كِتَابُ السِّيَرِ فِيْ اَرْضِ الْحَرْبِ، بَابُ اِقَامَةِ الْحُدُوْدِ فِيْ دَارِ الْحَرْبِ وَتَقْصِيْرِ الصَّلَاةِ، ج: ۷، ص: ۴۶۲)

تَرْجَمَهْ:- حضرت زَيْدْ بِن ثَابِتْ وَ فَرْمَائِلْ چي:- په دَارُالْحَرْبْ كي به حَدْ نه قَائِمَوِي، ددې خَوْفْ په وَجْهَ چي دئ د حَرْبِيَانُوْ سره مِلاؤ (يَو ځائ) نَه سي .

۴: عَنْ حَكِيْمِ بن عُمَيْرِ كَتَبَ اِلٰى عُمَيْر بن سَعْدِ الْاَنْصَارِيّ ﷺ وَ اِلٰى عُمَّالِه اَنْ لَا يُقِيْمُوْا حَدًّا عَلٰى اَحَدٍ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ فِيْ اَرْضِ الْحَرْبِ حَتّٰى يَخْرُجُوْا اِلٰى اَرْضِ الْمَصَالِحَةِ .

(سُنَن كُبْرٰى لِلْبَيْهَقِيْ،كِتَابُ السِّيَر، بَابُ مَنْ زَعَمَ لَاتُقَامُ الْحُدُوْدُ فِيْ اَرْضِ الْحَرْبِ حَتّٰى يَرْجِعَ، ج: ۹، ص: ۱۷۸، نَمْبَرْ ۱۸۲۲۶)

تَرْجَمَهْ:- حضرت حَكِيْمْ وَ عُمَيْرْ او دده و عَامِلَهْ ته وَلِيكل، چي په دَارُالْحَرْبْ كي پر يَوه مُسْلْمَانْ باندي هم حَدْ مَه قَائِمَوَه، تر څو چي هغه د صُلْحِ و مځكه (ځائ) ته نَه وي راغلئ .

په دغه اَثَرْ (يَعْنِيْ قَوْلِ صَحَابِيْ) كي دئ چي مُسْلْمَانْ اَمِيْرْ وي نو بيا هم په دَارُالْحَرْبْ كي حَدْ مَه قَائِمَوَئ، نو په كُوم ځائ كي چي اِسْلَامِيْ حُكُوْمَتْ هم نَه وي نو هلته به حُدُوْدْ څنګه قَائِمَوِي ؟

[۲] ... دُوَهَمْ شَرْطْ دادئ چي شَرْعِيْ قَاضِيْ به وي چي د حَدْ فَيْصَلَهْ وكي .

دُوَهَمْ شَرْطْ دادئ چي شَرْعِيْ قَاضِيْ به وي، هغه به مُكَمَّلْ تَحْقِيْقَاتْ يَعنِي پَلْتَنَهْ كوي چي د قَتْلْ فَيْصَلَهْ وكړي، دهغه وروسته به بيا قَتْلَوِيْ، دغه د عَوَامُوْ كار نَه دئ .

۵: عَنْ عُقْبَةَ بن الْحَارِثِ، اَنَّ النَّبِيَّ (ﷺ) اُتِيَ بِنُعْمَانَ اَوْ بِابْنِ نُعْمَانَ وَهُوَ سُكْرَانٌ فَشَقَّ عَلَيْهِ وَ اَمَرَ مَنْ فِى الْبَيْتِ اَنْ يَّضْرِبُوْهُ، فَضَرَبُوْهُ بِالْجَرِيْدِ وَالنِّعَالِ .

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْحُدُوْدِ، بَابُ الضَّرْبُ بِالْجَرِيْدِ وَالنِّعَالِ، ص: ۱۱۶۸، نَمْبَرْ ۶۷۷۵)

تَرْجَمَهْ:- نُعْمَانْ، يا اِبْنِ نُعْمَانْ يې حُضُوْرْ (ﷺ) ته رَاوَاستئ، په دارنګه حَالَتْ كي چي دئ په نَشَهْ كي وُو، دغه خَبَرَهْ پر حُضُوْرْ (ﷺ) باندي څُورَا ډېره سوه، بيا چي كُوم

خلک په کُوْرْ کي وُو هغوي ته حُکْمْ ورکئ چي دئ (یعني نُعْمَانْ) وَوَهَئ، نو خلکو د خُوْرْمَا په بَنَاخْلُوْ او په چَوَتُوْ سره وَوَاهَئ .

۶: عَنْ اَنَسٍ قَالَ جَلَدَ النَّبِیُّ (ﷺ) فِی الْخَمْرِ بِالْجَرِیْدِ وَالنِّعَالِ .
(بُخَارِیْ شَرِیْفْ،کِتَابُ الْحُدُوْدِ، بَابُ الضَّرْبِ بِالْجَرِیْدِ وَالنِّعَالِ، ص: ۱۱۶۸، نَمْبَرْ ۶۷۷۶)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) د شَرَابُوْ په سَزَا کي د خُوْرْمَا (د دَرَخْتِیْ) په لَرْگِیْ او چَوَتُوْ سره وَوَاهَئ .
په دغه دواړو حَدِیْثُوْ کي حُضُوْرْ (ﷺ) د حَدْ فَیْصَلَهْ کړي ده چي په هغه وَخْتْ کي حَاکِمْ او قَاضِیْ وُو، لِهٰذَا صِرف د قَاضِیْ په فَیْصَلَهْ سره د حَدْ سَزَا وَرکوَل کېدلائي سي .
نو په کُوم ځاىٔ کي چي شَرْعِیْ قَاضِیْ نَه وي هَلتَه د حَدْ سَزَا نَه سي قَائِمْ کېدلائي، که نَه نو په عَوَامُوْ کي به اِنْتِشَارْ پَیدَا سي، اَلْبَتَّهْ دهغه ځاىٔ د حَاکِمْ څخه د تَعْزِیْرْ مُطَالَبَهْ کولائي سي، چي هغه دغه رنګه غَیْر اِسْلَامِیْ حَرَکَتْ کونکئ مَنْعَ کي، هغه ته تَنْبِیْهْ ورکي .

[۳] ... درَیَمْ شَرْطْ دادئ چي درې وُرَځِیْ به و ډُوي ته د تُوْبَهْ کولو مُهْلَتْ وَرکوَل کېږي .
درَیَمْ شَرْطْ دادئ چي تر دُرُوْ وُرَځُوْ پُوري به ده ته مُهْلَتْ ورکوي، هغه کس به په ښُو ښُو کرَتّه پُوْهْ کوي، او د اِسْلَامْ حَقَّانِیَّتْ به دده په مَخکِي وَاضِحْ کوي، تر دُرُوْ وُرَځُوْ پُورِي د پُوْهْ کولو وروسته هم که چیري خَبَرَهْ نَه وَمَنَل نو بیا به دئ قَتْلَوِیْ .

تر دُرُوْ وُرَځُوْ پُورِي د پُوْهْ کولو دَلِیْلْ دغه اَثَرْ دئ
۷: عَنْ عَلِیٍّ قَالَ یُسْتَتَابُ الْمُرْتَدُّ ثَلَاثًا .
(مُصَنَّفْ اِبْنِ اَبِیْ شَیْبَةْ، ۳۰، مَاقَالُوْا فِی الْمُرْتَدِّ کَمْ یُسْتَتَابُ؟ ج: ۶، ص: ۴۴۴، نَمْبَرْ ۳۲۷۴۷ / سُنَن بَیْهَقِیْ، بَابُ مَنْ قَالَ یُحْبَسُ ثَلَاثَةَ اَیَّامٍ، ج: ۸، ص: ۳۵۹، نَمْبَرْ ۱۶۸۸۷)
تَرْجَمَهْ:- حضرت عَلِیْ به د مُرْتَدْ څخه درې وُرَځِیْ د تُوْبَهْ کولو مُطَالَبَهْ کوله .
حضرت عُمَرْ به تر دُرُوْ وُرَځُوْ پُوري مُهْلَتْ وَرکوُلو باندي سَخْتِیْ کوله

**٨: لَمَّا قَدِمَ عَلٰى عُمَرَ فَتْحُ تَسْتَرَ، وَتَسْتَرَ مِنْ اَرْضِ الْبَصْرَةِ، سَاَ لَهُمْ هَلْ مِنْ مَّغْرِبِيَّةٍ؟ قَاَلُوْا رَجُلٌ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ لَحِقَ بِالْمُشْرِكِيْنَ فَاَخَذْنَاهُ، قَالَ مَاصَنَعْتُمْ بِه؟ قَالُوْا قَتَلْنَاهُ، قَالَ:- اَفَلَا اَدْخَلْتُمُوْهُ بَيْتًا وَاَغْلَقْتُمْ عَلَيْهِ بَابًا وَاَطْعَمْتُمُوْهُ كُلَّ يَوْمٍ رَغِيْفًا ثُمَّ اِسْتَتَبْتُمُوْهُ ثَلَاثًا، فَاِنْ تَابَ وَ اِلَّا قَتَلْتُمُوْهُ ثُمَّ قَالَ اَللّٰهُمَّ لَمْ اَشْهَدْ وَلَمْ اٰمُرْ وَلَمْ اَرْضَ اِذَا بَلَغَنِيْ .**

(مُصَنَّفِ اِبْنِ اَبِيْ شَيْبَةَ، ٣٠ ،مَا قَالُوْا فِي الْمُرْتَدْ كَمْ يُسْتَتَابُ، ج:٦،ص:٤٤٤ ،نَمْبَرْ:٣٢٧٤٤/ سُنَنْ لِلْبَيْهَقِيْ ، بَابُ مَنْ قَالَ يُحْبَسُ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ، ج:٨،ص:٣٥٩ ،نَمْبَرْ:١٦٨٨٧)

تَرْجَمَهْ:- چي كُوم وَخْتْ حضرت عُمَرْ ته د تَسْتَرْ د فَتْحِ خَبَرْ راغلئ، تَسْتَرْ د بَصْرَهْ عَلَاقَهْ ده، حضرت عُمَرْ پُوْښْتَنَهْ وكړه چي د مَغْرِبْ يو سړئ سته؟ خلكو ورته وويل چي د مُسْلْمَانَانُوْ يَو سړئ مُشْرِكْ سوئ وُو، نو مُوږ هغه وَنِيوئ، حضرت عُمَرْ پُوْښْتَنَهْ وكړه چي په هغه مُو څه وكړل؟ خلكو ورته وويل چي هغه خو مُوږ قَتْلْ كئ، نو حضرت عُمَرْ وفرمائل چي وَلِي مُو په كُوْرْ كي نه بَنْدِيْ كاوئ؟ او هره وُرَځْ مُو يَوَه ډُوْډَيْ وَركولائي، بيا مُو تر دُرُو وُرَځُوْ پُوري دده څخه د تُوْبَهْ كولو مُطَالَبَهْ كولائي، كه تُوْبَهْ كړې وائ نو پرېښئ به مُو وائ، كه نَه نو قَتْلْ كړئ به مُو وائ، بيا حضرت عُمَرْ وفرمائل ائ اَللّٰهْ ته ګَوَاهْ وُسَه، نَه خو مَا دغه خلكو ته د قَتْلْ كولو حُكْمْ وَركړئ وُو، او چي كُوم وَخْتْ دده د قَتْلْ خَبَرْ راغلئ نَه زَهْ په هغه رَاضِيْ سوئ يَم .

ددغه صَحَابِيْ په قَوْلْ كي دئ چي:- تر درې وُرَځِيْ مَخكې قَتْلْ كئ نو حضرت عُمَرْ وَ فَرْمَائِلْ چي ائ اَللّٰهْ نَه زَهْ په دي كي حَاضِرْ سوئ يَم او نَه مَا ددې حُكْمْ وركړئ دئ او نَه زَهْ په دې سره رَاضِيْ يَم، ددې څخه مَعْلُوْمْ سو چي تر دُرُو وُرَځُوْ پُورِي مُهْلَتْ وَركول ضروري دئ، كه د دُرُو وُرَځُوْ وروسته هم پر خپله خَبَرَهْ وَلَاړْ وُو، نو بيا به هغه وَژْنِيْ .

پر دغه شَرْطُوْ باندي په مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ كي په دې وَجْهَ هم عَمَلْ كول ضروري دئ چي ډېر وَخْتْ دارنګه پېښَه سوې ده چي يَوَه سړي پر بَل سړي باندي د شِرْكْ يا د ګُسْتَاخِيْ اِلْزَامْ وَلَګاوئ، او دهغه د سَزَا لپاره يَوَه مَجْمَعْ سره رَاټُولَ سي او دا مُطَالَبَهْ كوي چي دغه مُلْزِمْ مُوږ ته په حَوَالَهْ كئ چي مُوږ وَ ده ته سَزَا وركوو، او پر سَرَكْ باندې په وَهْلُوْ وَهْلُوْ مَړ كو، او قَانُوْنْ په خپل لَاسْ كي وَاخلُو، ددغه صُوْرَتِ حَالْ څخه په ټول مُلْكْ كي اِنْتِشَارْ پَيدَا سي، او د مِيْډِيَا خلك هغه ته بې اِنْتِهَا شُهْرَتْ وَركوِي، چي وَ ګورَئ اِسْلَامْ څومره خَطَرْنَاكْ مَذْهَبْ دئ .

نو ځكه ددې خَاصْ خِيَالْ وَسَاتَئ چي د حَدْ د سَزَا لپاره شَرْعِيْ قَاضِيْ ضروري دئ، دغه د عَوَامُوْ كار نَه دئ .

# په نِيمَئ جُمْلَهْ سره څوک مَه مُشْرِكْ کوئ

په مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ دارنګه ډېري پيښي کيږي چي د يَو چَا نِيمَئ جُمْلَهْ يې رَاوَخستَلَه، يايي د يَو چَا نِيمَئ خَبَرَهْ او نِيمَئ خَبَرَهْ بيا د خپل ځانَ څخه جوړ کي، يا هغه د تَقْرِيْرْ په جرْيَانْ کي يَوَه دارنګه خَبَرَهْ وکړه چي د يوې کِښئ جُزئيي په خِلَافْ ده، خلګو بَس هغه تِيْپْ کړه، او د ځانَ سره يې مَحْفُوْظْ کړه، اُوس يې بَس دغه خَبَرَهْ ټينګه کړي ده، او ددغه کس د قَتْلْ مُطَالَبَهْ کوي، بَل طَرَفْ ته دغه کس په وَار وَار ددې څخه اِنْکارْ کوي يا تُوْبَهْ کوي خو بيا يې هم نَه مَنِي، او تر څو چې هغه وَ يَانْسَئ ته نَه وي رَسَوَلَئ دُوي خپل تَحْرِيْکْ رَوَانْ کړئ وي، دغه رنګه حَرَکتُوْنَهْ غَيْر مُسْلِمْ مِيْډِيَا (رِيْډِيُوْګانْ، ټيليويژنَانْ، فِيْسْ بُکْ، وَائِبْ سِيْټْ او دغه رنګه نور نور) او دغه خَبَرئ بيا بيا نَشَرْ کوي او په خپلو پرُوْګرَامُوْ کې ښکاره کوي، او وَ عَامَّهْ خلګو ته دا بَاوَرْ ورکوي چي نَعُوْذُ بِاللّٰهْ اِسْلَامْ خو ډېر ظَالِمْ مَذْهَبْ دئ چي څوک په خپل اِخْتِيَارْ سره کُوم مَذْهَبْ اِخْتِيَارَوِيْ دهغه کس اَزَادِيْ هم ځِينِي اَخلِي، او هغه ته په عَامَ يَانْسَئ هم وَرکوي، حَالَانْکِهْ اُوس تېر سو چي که حَقِيْقَةً او وَاقِعَةً مُرْتَدْ سوئ وي خوبيا هم چي تُوْبَهْ وکاږي نو بيا به هم يَلَه کوي او خُوشِي کوي به، هغه به نَه وَژْنِيْ .

مَا يَو کِتَابْ وَلِيدَئ چي مُصَنِّفْ د خَتْمِ نَبُوَّتْ د اِثْبَاتْ لپاره لِيکلَئ وُو، او مُصَنِّفْ دا ثَابِتْ کړي وه چي حُضُوْرْ (ﷺ) د اِنْسَانَانُوْ، پيرَانَانُوْ، فَرِشْتُوْ او د ټولي دُنْيَا لپاره يې آخِرِيْ نَبِيْ دئ، لېکن بعض حَضَرَات مِي وَلِيدَل چي ددغه کِتَابْ څَه څَه جُمِلي يې کاټ کړي او مَختَه ښَا ته يې کړي او دايې ځِينِي ثَابِتْ کړل چي ددغه کِتَابْ مُصَنِّفْ د خَتْمِ نَبُوَّتْ قَائِلْ نَه دئ، مَا چي کله اَصِلْ کِتَابْ وَلِيدَئ نو حَيْرَانْ سوم، چي په څنګه طَرْزْ يې جُملي کاټ کړي او دئ يې بَدْنَامَ کړئ دئ .

نو ځکه ددغه رنګه فَيْصَلُوْ لپاره دا ضروري ده چي هغه کس ته دري وُرځِيْ مُهْلَتْ ورکي، او هغه پُوْهْ کي، او چي هسي په يَو صُوْرَتْ که ثَابِتْ سي چي دغه کس مُسْلمَانْ دئ نو بَايَدْ چي قَتْلْ يې نَه کي، که نَه نو ددې څخه ډېر زِيَاتْ اِنْتِشَارْ پيدَا کيږي، او اِسْلَامْ (مُسلْمَانْ) بَدْنَامَ کيږي .

نَنْ سَبَا پر مِيْډِيَا باندي خلګ دغه سُوَالْ ډېر ډېر کوي چي په آيَتْ کي دئ لَآ اِکْرَاهَ فِي الدِّيْنِ قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ . (آيَتْ ۲۵۶، سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲)

تَرْجَمَهْ:- يعني دِيْنْ او مَذْهَبْ په نورو باندي قَبْلَوُلُوْ کي هيڅ زُوْرْ زَبَرْدَسْتِيْ نستَه .

نو مُرْتَدْ خو په خپله مَرْضِيْ سره بَل دِيْنْ قَبُوْلْ کړئ دئ نو دئ بيا وَلِي وَژَل کيږي؟
دُوي بَايَدْ تاسو يُوهْ کئ چي دا مَسْئَلَهْ په هغه مُلکُو کي ده چي هلته اِسْلَامِيْ حُکُوْمَتْ وي، د يُوْرَپْ او اَمْرِيْکَهْ لپاره دغه مَسْئَلَهْ نَه ده، نو ځکه هلته دغه بَحْثْ کول هم فَائِدَهْ نَه لري .

## تَعْزِيْرْ څشَئ دئ؟

قُرْآنِ کرِيْمْ د ګنشُمېرُو جَرَائِمُ لپاره حَدْ مُقَرَّرْ کړئ دئ، په غَيْر مُسْلِمْ مُلْکْ کي خو قَاضِيْ نَه وي نو ځکه هلته حَدْ نَه سي جَارِيْ کېدلائي، لِهٰذَا د حَدْ څخه کَمْ يعني تر څلوېښتُو کُوْړُوْ کَمْ يعني نَه دېرش [۳۹] کُوړِي پُورِي لَګوُلُو مُطَالَبَهْ کول تَعْزِيْرْ دئ، يا پر مُجْرِمْ باندي کُومَه مُنَاسِبْ جُرْمَانَه لګول تَعْزِيْرْ دئ، په غَيْرِ مُسلِمْ مُلْکْ کي ددې مُطَالَبَهْ کول جَائِزْ ده .

## وَ مُرْتَدْ ته د سَزَا ورکولو څَه حِکْمَتْ دئ؟

د مُرْتَدْ په سَزَا کي اَصَلْ حِکْمَتْ دادئ که:- چيري په اِسْلَامِيْ حُکُوْمَتْ کي دغه رنګه اَزَادِيْ وَرکوَل سي نو بيا خو وَ نورو خلګو ته د کُفْرْ د اِخْتِيَارَوُلُو مُوْقَعْ مِلاوېږي، او په دغه سره به د دُوي آخِرَتْ بَرْبَادْ سي، چي همېشه تر همېشه به دُوْږخْ ته ځِي، نو ځکه دده د آخِرَتْ د خُوْنْدِيْ او مَحْفُوْظَ ساتلو لپاره يې دغه اِقْدَامْ کړئ دئ، په دي کي په خپله د مُرْتَدْ فَائِدَهْ ده، ګُوم چي دئ په هغه نَه پُوهېږي .

## ۳۴: اَهْلِ قِبْلَهْ ګُوم خلګ دي؟

د زِرَهْ لَګُومِي د حُضُوْرْ (ﷺ) د رَاوړُو تولو هِدَايَاتُوْ د تَسْلِيْمَوُلُوْ نُوْمْ اَهْلِ قِبْلَهْ دئ .

په عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةْ کي دغه رنګه عِبَارَتْ دئ
..... وَنُسَمِّيْ اَهْلَ قِبْلَتِنَا مُسْلِمِيْنَ مُؤْمِنِيْنَ، مَا دَامُوْا بِمَا جَاءَ بِهِ النَّبِيُّ (ﷺ) مُعْتَرِفِيْنَ، وَلَهُ بِكُلِّ مَاقَالَ وَ اَخْبَرَ مُصَدِّقِيْنَ (عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةْ، عَقِيْدَهْ نَمبَرْ ۵۴، ص: ۱۴)

تَرْجَمَهْ:- چي کُوم اَهْلِ قِبْلَهْ دي مُوږ هغه مُسَلْمَانَانْ او مُؤْمِنَانْ ګڼو په دې شَرْطْ چي حُضُوْرْ (ﷺ) کُوم څه (اَحْکامَاتْ) رَاوْړي دي دهغه اِعْتِرَافْ (اِقْرَارْ) کونکئ وي، او چي څه حُضُوْرْ (ﷺ) فَرْمَائِلِيْ دي او خَبَرْ يې وَرکړئ دئ دهغه تَصْدِيْقْ کونکي وي .

په دغه عِبَارَتْ کې فرمائلي دي چي حُضُوْرْ (ﷺ) کُوم شَرِيْعَتْ رَاوْړئ دئ دهغه اِعْتِرَافْ (اِقْرَارْ) کونکئ وي چي دغه د اَللّٰهْ لَجَانِب څخه دئ، او چي څه حُضُوْرْ (ﷺ) فَرْمَائِلِيْ دي د زړَهْ لَکُومِي دهغه تَصْدِيْقْ کوي نو بيا مُؤْمِنْ دئ، مُسَلْمَانْ دئ، او هغه اَهْلِ قِبْلَهْ دئ .

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثُوْنَهْ دي

١: عَنْ اَنَسِ بن مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) مَنْ صَلّٰى صَلَاتَنَا وَاسْتَقْبَلَ قِبْلَتَنَا وَ اَ كَلَ ذَبِيْحَتَنَا فَذَالِكَ الْمُسْلِمُ الَّذِىْ لَهُ ذِمَّةُ اللّٰهِ وَ ذِمَّةُ رَسُوْلِهِ، فَلَا تَكْفِرُوْا اللّٰهَ فِىْ ذِمَّتِه

(بُخَارِىْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الصَّلَاةْ ، بَابُ فَضْلِ اِسْتِقْبَالِ الْقِبْلَةِ، ص: ٦٩، نَمْبَرْ ٣٩١)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- کُوم چا چي زُمُوږ په شَانْ لُمُوْنځْ وکئ، زُمُوږ د قِبْلي اِسْتِقْبَالْ يې وکئ، زُمُوږ ذَبِحْ (حَلَالْ) کړې غُوښَهْ يې وَخُوړَه نو دغه مُسَلْمَانْ دئ، چي دده لپاره د اَللّٰهْ او د هغه د رَسُوْلْ ذِمَّهْ مَوْجُوْدْ ده، لِهٰذَا د اَللّٰهْ ذِمَّهْ مه پِيَوئ .

٢: عَنْ اَنَسِ بن مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) اُمِرْتُ اَنْ اُقَاتِلَ النَّاسَ حَتّٰى يَقُوْلُوْا لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، فَاِذَا قَالُوْهَا وَصَلَّوْا صَلَاتَنَا وَاسْتَقْبَلُوْا قِبْلَتَنَا وَذَبَحُوْا ذَبِيْحَتَنَا فَقَدْ حُرِّمَتْ عَلَيْنَا دِمَائُهُمْ وَاَمْوَالُهُمْ اِلَّا بحَقِّهَا، وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللّٰهِ .

(بُخَارِىْ شَرِيْفْ، نَمْبَرْ ٣٩٢)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ تر څو چي خلګ:- لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، نَه ووائي تر هغه وَخْتَهْ يې مَا ته (دهغوي سره) د جَنْګْ حُکْمْ کړئ دئ، بيا چي کله لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، ووائي، او زُمُوږ په شَانْ لُمُوْنځْ شروع کي، زُمُوږ د قِبْلي اِسْتِقْبَالْ وکي، او زُمُوږ حَلَالْ (ذَبِحْ) کړې غُوښَهْ خُوړَل شروع کي، نو دهغه وَژَلْ، دهغه مَالْ اَخستَل پر مُوږ باندي حَرَامْ دئ، اَلْبَتَّهْ چي کُوم د اَللّٰهْ حَقْ دئ مُوږ به هغه اَخلُو، پاته نور حِسَابْ يې پر اَللّٰهْ دئ .

او مَختَه د بُخَارِىْ شَرِيْفْ په رَارَوَانْ حَدِيْثْ کي دئ چي

فَهُوَ مُسْلِمٌ، لَهُ مَا لِلْمُسْلِمِ وَعَلَيْهِ مَا عَلَى الْمُسْلِمِ .

(بُخَارِىْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الصَّلَاةْ ، بَابُ فَضْلِ اِسْتِقْبَالِ الْقِبْلَةِ، ص: ٦٩، نَمْبَرْ ٣٩٢/ ٣٩٣)

**تَرْجَمَهْ**:- دغه خلک **مُسَلْمَانَانْ** دي، د **مُسَلْمَانْ** چي کُوم **حَقْ** دئ هغه به ده ته هم مِلاوېږي، او پر **مُسَلْمَانَانُوْ** چي کُومِي **ذِمَّهْ دَارِيَانْ** دي پر ذُوي باندي هم هغه **ذِمَّهْ دَارَئ** سته .

په دغه دُرُو **حَدِيْثُوْ** کي دغه **بَيَانْ** سوئ دئ چي **اَهْلِ قِبْلَهْ** وي نو هغه **مُسَلْمَانْ** دئ، مَه وَ هغه ته **کَافِرْ** وَايَاست او مَه د **کَافِرَانُوْ** په **شَانْ چَلَنْ (سُلُوْکْ)** وَرسره کوئ .

## کُوم خلک چي دغه شپَږ **شِيَانْ** د **زَړَهْ** لَکُومِي مَنِي هغوي ته **اَهْلِ قِبْلَهْ** وائي

هغه **شپَږْ شِيَانْ** دغه دي يعني **[۱]** پر **اَللّٰهْ** باندي **اِيْمَانْ [۲]** پر **رَسُوْلْ** باندي **اِيْمَانْ [۳]** پر **کِتَابْ** يعني **قُرْآنِ مَجِيْدْ** باندي **اِيْمَانْ [۴]** پر **فَرِشْتُوْ** باندي **اِيْمَانْ [۵]** د **آخِرَتْ** پر **وُرَځْ** باندي **اِيْمَانْ [۶]** پر **تَقْدِيْرْ** باندي **اِيْمَانْ**، چي کُوم څوک دغه مَنِي هغه ته **مُؤْمِنْ** وائي، او هغه **اَهْلِ قِبْلَهْ** دئ

په **عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّة** کي دغه **عِبَارَتْ** دئ

**..... وَالْاِيْمَانُ، هُوَالْاِيْمَانُ بِاللّٰهِ، وَمَلَائِكَتِهِ، وَكُتُبِهِ، وَ رُسُلِهِ، وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ، وَالْقَدْرِ، خَيْرِهِ وَشَرِّهِ وَ حُلْوِهِ وَ مُرِّهِ** . **(عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةُ، عَقِيْدَهْ نَمْبَرْ ۶۶ ، ص: ۱۵)**

**تَرْجَمَهْ**:- او **اِيْمَانْ**، دادئ چي پر **اَللّٰهْ** باندي، دهغه پر **فَرِشْتُوْ** باندي، دهغه پر **کِتَابُوْ** باندي، دهغه پر **رَسُوْلَانُوْ** باندي، د **آخِرَتْ** پر **وُرَځْ** باندي، او پر **تَقْدِيْرْ (ښَهْ** و **بَدْ**، **خُوږْ** و **تِرخْ)** باندي هم **اِيْمَانْ** رَاوړل دئ .

پر دغه **خَبَرُوْ** باندي د **اِيْمَانْ** رَاوړلو **دَلِيْلْ** د **اِيْمَانْ** په **بَحْثْ** کي تېر سوئ دئ

ددې څخه مَخکِي **عِبَارَتْ** کي هم دئ چي د **حُضُوْرْ** (ﷺ) د رَاوړو **خَبَرُوْ اِعْتِرَافْ** کوي، او د **زَړَهْ** لَکُومِي هغه مَنِي نو هغه **مُؤْمِنْ** دئ، **مُسَلْمَانْ** دئ، او هغه **اَهْلِ قِبْلَهْ** دئ، دا چي صِرف زُمُوږ **ذَبَحْ** کړې **ذَبِيْحَهْ** خُوړِي په دې سره **اَهْلِ قِبْلَهْ** نَه گرزي .

ددې **مُکَمَّلْ تَفْصِيْلْ** تاسو د **اِيْمَانْ** په **بَحْثْ** کي **مُلَاحَظَهْ** کئ .

## د **فَاجِرْ اِمَامَتْ جَائِزْ** دئ، **اَلْبَتَّهْ مَکْرُوْهْ**

چي په خپل **اِخْتِيَارْ** سره څوک **اِمَامْ مُتَعَيَّنْ** کي نو **بَايَدْ مُتَّقِيْ** او **پَرْهيزْګارَهْ اِمَامْ** وَتَاکِي، که چيري يو ځائ په **فَاسِقْ، فَاجِرْ** پَسِي **لُمُوْنَځْ** کولو ته **مَجْبُوْرَ** سي نو **لُمُوْنَځْ** دي پَسِي وکي، چي په **جَمَاعَتْ** سره خو **لُمُوْنَځْ** اَداء سي، او ستا د پرېښوُلُو په **وَجْهَ اِنْتِشَارْ** هم پَيدَا نَه سي .
**نَنْ سَبَا** پر **لَږْ لَږْ خَبَرُوْ اِخْتِلَافَاتْ** کوي، او **لُمُوْنَځْ** نَه پسِي کوي، په **دِيَارِ غَيْرْ** (**غَيْرِ مُسْلِمْ مُلْکُوْ**) کي د **اِتِّحَادْ** او **اِتِّفَاقْ** په **خَاطَرْ** ددغه شِي څخه ځان ګورئ .

د **فَاجِرْ** د **اِمَامَتْ** په اړه په **عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةْ** کي دغه **عِبَارَتْ** دئ
**..... وَ نَرٰى الصَّلَاةَ خَلْفَ كُلِّ بِرٍّ وَ فَاجِرٍ مِّنْ اَهْلِ الْقِبْلَةِ وَعَلٰى مَنْ مَاتَ مِنْهُمْ .**
(**عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةْ، عَقِيْدَهْ نَمْبَرْ ٦٩ ، ص: ١٦**)
**تَرْجَمَهْ**:- چي کُوم **اَهْلِ قِبْلَهْ** دي دهغوي څخه په هر **نيکْ** او **فَاجِرْ** سړي پسي **لُمُوْنَځْ** کول مُوږ **جَائِزْ** ګڼو، او د **اَهْلِ قِبْلَهْ** څخه چي کُوم **نيک** يا **فَاجِرْ** مړ سي پر هغه باندي **لُمُوْنَځْ** (**جَنَازَهْ**) کول هم **جَائِزْ** ګڼو .
ددغه **عِبَارَتْ** څخه **مَعْلُوْمْ** سو چي **اِحْتِيَاطْ** خو په دغه کي دئ چي په **ښُوْ** خلګو (**اِمَامْ**) پَسِي **لُمُوْنَځْ** اداء کي، لېکن که يَو **وَخْتْ** په **فَاجِرْ** پَسِي **لُمُوْنَځْ** کولو ته **مَجْبُوْرَ** سي نو په هغه پَسِي دې اداء کي، ځکه چي په **فَاسِقْ اِمَامْ** پَسِي هم **لُمُوْنَځْ** کول **جَائِزْ** دئ .
**دَلِيْلْ** يې دغه **حَدِيْثْ** دئ
**٣: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اَلصَّلَاةُ الْمَكْتُوْبَةُ وَاجِبَةٌ خَلْفَ كُلِّ مُسْلِمٍ بَرًّا كَانَ اَوْ فَاجِرًا، وَ اِنْ عَمِلَ الْكَبَائِرَ .**
(**اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الصَّلَاةْ، بَابُ اِمَامَةِ الْبَرِّ وَالْفَاجِرِ، ص: ٩٧، نَمْبَرْ ٥٩٤**)
**تَرْجَمَهْ**:- **حُضُوْرْ** (ﷺ) وَ **فَرْمَائِلْ** چي:- **لُمُوْنَځْ** په هر **مُسْلْمَانْ** پَسِي کول **وَاجِبْ** دئ، که هغه **نيکْ** وي که **فَاجِرْ** وي، او که څه هم هغه **ګُنَاهِ کبِيْرَهْ** کوي .
په دغه **حَدِيْثْ** کي دئ چي **اِنْسَانْ** که **نيکْ** وي که **فَاجِرْ** وي په هغه پَسِي **لُمُوْنَځْ** کول **جَائِزْ** دئ په دې **شَرْطْ** چي هغه **مُسْلْمَانْ** وي، **کَافِرْ** يا **مُشْرِکْ** نَه وي .

لېکن که چيري **نيکْ اِمَامْ** مِلاؤ سي نو د هميشَه
لپاره هغه **اِمَامْ** جوړول **بِهْتَرْ** دئ

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

۴: عَنْ جَابِرَ بِن عَبْدِ اللهِ قَالَ خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) ..... اَنْ لَّا تُؤَمَّنَّ اِمْرَأَةٌ رَجُلًا وَ لَايَؤُمَّ اَعْرَابِيٌّ مُهَاجِرًا وَ لَايَؤُمَّ فَاجِرٌ مُؤْمِنًا اِلَّا يُقَهِّرَهُ بِسُلْطَانٍ يَّخَافُ سَيْفَهُ وَ سَوْطَهُ . (اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ، كِتَابُ اِقَامَةِ الصَّلَاةْ، بَابٌ فِىْ فَرْضِ الْجُمْعَةِ، ص: ۱۵۲، نَمْبَرْ ۱۰۸۱)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) مُوږ ته خُطْبَهْ وَويَل ..... وَاوَرَئ ښځه دي د نَرْ اِمَامَتْ نَه كوي، صَحْرَايِيْ دي د هغه صَحَابِيْ اِمَامَتْ نَه كوي چي هِجْرَتْ يې كړئ وي، فَاجِرْ دي د مُتَّقِيْ مُؤْمِنْ اِمَامَتْ نَه كوي، اَلْبَتَّهْ كه يَو بَاچَا هغه مَجْبُوْرَهْ كي، او اِنْسَانْ دهغه د تُرِئْ ، او د هغه د كُوْرِئْ ښخه بېرېږي نو [نو بيا دي په هغه فَاجِرْ پَسِي لُمُوْنځ وكي] .

په مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ كي دا حَالَتْ دئ چي د يَوَه مَسْلَكْ خلګ د بَل مَسْلَكْ په خلګو پَسِي لُمُوْنځ نَه كوي چي ددې لكبله ډُمرَه اِنْتِشَارْ دئ چي ټول (مُسْلِمْ) قَوْمْ وَ تَبَاهِيْ ته رَوَانْ دئ .

اَللّٰهْ دي مُوږ ته يُوْهَنَهْ (عَقْلْ) راكي .

## په اِسْلَامْ كي سَخْتِيْ (تَشَدُّدْ) هم نستَه.او ډېر ډيل (سُسْتِيْ) هم نستَه

په اِسْلَامْ كي سَخْتِيْ (تَشَدُّدْ) هم نَستَه، او ډېر ډيل (سُسْتِيْ) هم نَستَه بلكه اِسْلَامْ ددې دُوَاړُو په مَابَيْنْ كي دئ

د عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةْ عِبَارَتْ دغه دئ

..... وَ هُوَ [يَعْنِى الْاِسْلَامُ] بَيْنَ الْغُلُوِ وَالتَّقْصِيْرِ، وَبَيْنَ التَّشْبُّهِ وَالتَّعْطِيْلِ، وَبَيْنَ الْجَبْرِ وَالْقَدْرِ، وَبَيْنَ الْاَمْنِ وَالْيَأْسِ . (عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةْ، عَقِيْدَهْ نِمْبَرْ ۱۰۴ ، ص: ۲۲)

تَرْجَمَهْ:- [ډېر زِيَاتْ غُلْوَ كول، او ډېر زِيَاتْ كمِي كول] [اَللّٰهْ د يَو څَا سره مُشَابَهْ ګڼل، او اَللّٰهْ بېكارَه ګڼل] [اَللّٰهْ مَجْبُوْرَ ګڼل، اِنْسَانْ قَادِرْ ګڼل] [د ګُنَاهْ ښخه بِي خَوْفَ كېدل، د اَللّٰهْ ښخه بِالْكُلْ نَااُمِيْدَ كېدل]، ددغه شِيَانُوْ و دَرْمِيَانِيْ لَارَهْ ته اِسْلَامْ وَيَل كيږي .

په دغه عِبَارَتْ كي دئ چي ډېره زِيَاتَه غُلْوَ كول هم صَحِيْحْ نَه ده، او ډېره كمِي كول هم صَحِيْحْ نَه ده، ددې وَ دَرْمِيَانِي ْلَارَهْ ته بَس اِسْلَامْ وَيَل كيږي .

دَلِيْلْ يې دغه آيَتْ دئ

۱: يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِىْ دِيْنِكُمْ وَلَا تَقُوْلُوْا عَلَى اللهِ اِلَّا الْحَقَّ .

(آيَتْ ۱۷۱، سُوْرَةُ النِّسَاءْ ۴)

تَرْجَمَهْ:- اىٔ اَهْلِ كِتَابُوْ! په خپل دِيْنْ كي تر حَدْ مه تېرېږئ، او د اَللّٰهْ په اړه د حَقْ بغيره بله خَبَرَهْ مَه كوئ .

٢: يَٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَاتُحَرِّمُوْا طَيِّبٰتِ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ وَلَاتَعْتَدُوْاؕ .

(آيَتْ ٨٧، سُوْرَةُ الْمَائِدَةْ ٥)

تَرْجَمَهْ:- اىٔ مُؤْمِنَانُوْ! اَللّٰهْ چي كُوم پَاكْ شِيَانْ ستاسو لپاره حَلَالْ كړي دي هغه مَه حَرَامَوئ، او تَر حَدْ تَجَاوُزْ مَه كوئ، يَقِيْنْ وكئ چي اَللّٰهْ تر حَدْ تَجَاوُزْ كونكي نَه خُوښَوِي.

٥: عَنْ اَنَسٍ اَنَّ نَفَرًا مِّنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ (ﷺ) سَأَلُوْا اَزْوَاجَ النَّبِيِّ (ﷺ) عَنْ عَمَلِهٖ فِي السِّرِّ؟ فَقَالَ بَعْضُهُمْ لَا اَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ وَقَالَ بَعْضُهُمْ لَا اٰ كُلُ اللَّحْمَ وَقَالَ بَعْضُهُمْ لَا اَنَامُ فِيْ فِرَاشٍ، فَحَمِدَ اللّٰهَ وَ اَثْنٰى عَلَيْهِ فَقَالَ: مَابَالُ اَقْوَامٍ قَالُوْا كَذَا كَذَا؟ لٰـكِنِّيْ اُصَلِّيْ وَ اَنَامُ وَ اَصُوْمُ وَ اَفْطِرُ وَ اَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ، فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ فَلَيْسَ مِنِّيْ .

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ النِّكَاحْ، ص: ٥٨٦، نَمْبَرْ ١٤٠١/ ٣٤٠٣)

تَرْجَمَهْ:- حضرت اَنَسْ فرمائي چي بعضو اَصْحَابَانُوْ د حُضُوْرْ (ﷺ) د بِيْ بِيْ گانُوْ څخه د حُضُوْرْ (ﷺ) د كُوْرَنِيْ (دَنَنَهْ) عَمَلْ په اړه پُوښْتَنَهْ وكړه؟ بيا د هغوي څخه يَوَه وويل چي زَهْ به د ښځُو سره وَادَهْ نَه كومه، دُوَهَمْ وويل چي زَهْ به غُوښَهْ نَه خُورَمَه، يَوَه وويل چي زَهْ به پر بِسْتَرَهْ نَه بيدېږَمَه، نو حُضُوْرْ (ﷺ) د حَمْدْ و ثَنَا وروسته وَ فَرْمَائِلْ چي:- خلكو ته څَه وَرپېښنَه ده چي دغه رنگه خَبَرِيْ كوي، لېكن زَهْ خو لُمُوْنَځْ هم كوَمّه، او بيدېږَمَه هم، رُوْژَهْ هم نِيسَمَه، او كله بيا رُوْژَهْ نَه نِيسَمَه، او د ښځُو سره نِكَاحْ هم كوَمّه، دغه زَمَا سُنَّتْ دئ، څوک چي زَمَا د سُنَّتْ څخه بِيْ رَغْبَتِيْ وكي هغه زَمَا (د اُمَّتْ) څخه نَه دئ .

په دغه حَدِيْثْ كي دئ چي دُومرَه سَخْتِيْ هم مَه كوئ چي خلک تَنْګْ سي، او دُومرَه اَسَانْتِيَا هم مَه وركوئ چي خلک حَرَامْ كارُوْنَهْ شروع كي .

# ٣٥: پِيْرِيْ او مُرِيْدِيْ

ددغه عَقِيدې په اړه ٣ آيَتُوْنَهْ او ٧ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ كئ .

## د پِيْرَيْ اومُرِيْدَيْ فَائِدَهْ

پِيْرْ بَايَدْ مُخْلِصْ وي، د خپل مُرِيْدْ د ښَهْ اِنْسَانْ جوړولو طَلَبْ وَلَرِي، او په خپله هم نيکْ او ښَهْ اِنْسَانْ وي نو دهغه څخه وَ مُرِيْدْ ته فَائِدَهْ رسيږي، هغه هم نيک اِنْسَانْ جوړ سي، لکه څنګه چي اُسْتَاذْ ښَهْ وي، مُخْلِصْ وي او په ښَهْ طَرِيْقَهْ سره دَرْسْ وَرکوي نو دهغه څخه بيا ډېر ښَهْ شَاګِرْدَانْ تَيَّارېږي، دغه رنګه د پِيْرْ حَالَتْ هم دئ .

ليکن ددې لپاره دا شَرْطْ دئ چي په مُرِيْدْ کي هم د نيکئ د حَاصِلَوُلُوْ صَلَاحِيَّتْ مَوْجُوْدْ وي، او هغه د نيکْ جوړېدو لپاره پُوْرَهْ مِحْنَتْ هم کوي، نو بيا دئ نيک جوړېدلائي سي، که نَه هسي به ژړېږي .

وَ دغه شَاګِرِدَئ ته د رَاتلُو لپاره د پِيْرْ پر لَاسْ باندي دا عَهْدْ کوي چي زَهْ دغه وَعْدَهْ کوَمّه چي ستا نَصِيْحَتْ به مَنَم او په پَابَنْدِئ سره به پر شَرِيْعَتْ باندي عَمَلْ کوَمّه. ددغه عَهْدْ نُوْمْ ,, بَيْعَتْ ،، دئ .

## پِيْرْ وَ خپل مُرِيْدْ ته دغه څلُور فَائِدي رَسوَلائي سي

اَللّٰهْ تَعَالٰى خپل مَحْبُوْبْ پيغَمْبَرْ حضرت مُحَمَّدْ (ﷺ) ددغه څلُورو کارُو لپاره مَبْعُوْثْ کړئ دئ، د پِيْرْ هم دغه ذِمَّهْ دَارِئ ده چي وَ خپل مُرِيْدْ ته دغه څلُور کارُوْنَهْ وَروَښَايِي .

[۱] ..... د اُمَّتْ په مَخکِي به قُرْآنْ وائي .

[۲] ..... وَ اُمَّتْ ته به قُرْآنْ وَر اِزدَه کوي .

[۳] ..... وَ اُمَّتْ ته به حِکْمَتْ وَر اِزدَه کوي .

[۴] ..... د اُمَّتْ تَزْکِيَّهْ (بَاطِنِئ پَاکِي) به کوي .

دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي

۱: هُوَ الَّذِیْ بَعَثَ فِی الْاُمِّیّٖنَ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ یَتْلُوْا عَلَیْهِمْ اٰیٰتِهٖ وَیُزَکِّیْهِمْ وَیُعَلِّمُهُمُ الْکِتٰبَ وَالْحِکْمَةَ ۗ وَ اِنْ کَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ۙ (آيَتْ ۲، سُوْرَةُ الْجُمْعَةْ ۶۲)

تَرْجَمَهْ:- هغه دئ چي په اُمِّيَانُوْ خلګو کي دهغوي څخه يَو رَسُوْلْ رَاوَاستَاوَئ چي د دُوي په مَخکِي دده آيَتُوْنَهْ تِلَاوَتْ کي، او دُوي پَاکْ وګرزوي، او دُوي ته د کِتَابْ او حِکْمَتْ تَعْلِيْمْ وَرکي، سره ددې چي دُوي تر دغه مَخکِي په ښکاره ګُمْرَاهِئ کي پراته وُو،

۲: رَبَّنَا وَابْعَثْ فِیْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ یَتْلُوْا عَلَیْهِمْ اٰیٰتِكَ وَیُعَلِّمُهُمُ الْکِتٰبَ وَالْحِکْمَةَ وَیُزَکِّیْهِمْ ؕ . (آيَتْ ۱۲۹، سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲) .

تَرْجَمَہْ:- ای زُمُوږ پَرْوَرْدِګَارَہْ! په دُوي کې يو دارنګه رَسُوْلْ هم رَاوَاستوَه چې د دُوي څخه وي، چې د دُوي په مخکې ستا اَيْتُوْنَہْ تِلَاوَتْ کړي، دُوي ته د کِتَابْ او حِکْمَتْ تَعْلِيْم ورکړي، او دُوي پَاکْ کړي .

په دغه آيَتْ کې دئ چې حُضُوْرْ (ﷺ) يې د څلورو کارُو لپاره مَبْعُوْثْ کړئ دئ

[۱] د قُرْآنْ د تِلَاوَتْ کولو لپاره .

[۲] د قُرْآنْ د وَر اِزدَه کولو لپاره .

[۳] د حِکْمَتْ د وَر اِزدَه کولو لپاره .

[۴] او د تَزْکِيَّہْ کولو لپاره .

چې پِيْرْ صَاحِبْ ښَہْ اِنْسَانْ وي نو دئ هم دغه څلور کارُوْنَہْ وَر اِزدَه کوي، او مُرِيْدْ ته دغه فَائِدَہْ رَسوِي .

په تَفْسِيْرِ اِبْنِ عَبَّاسْ کې د تَزْکِيَّہْ دغه مَعْنٰي کړې ده، چې پِيْرْ صَاحِبْ به خپل مُرِيْدَانْ په تَوْحِيْدْ پُوه کوي او د شِرْکْ څخه به يې د رَاګرزَوُلو کوښښ کوي، او په مُرِيْدَانُوْ به تُوْبَہْ کوي د ګُنَاهُوْ څخه د رَاګرزَوُلو کوښښ به کوي، د ,, يُزَکِّيْهِمْ ,, دغه مَطْلَبْ دئ .

دا مَطْلَبْ نَه دئ چې پِيْرْ صَاحِبْ به يې په کُومَه مَخْصُوْصْ ډَوَل د زَړَہْ صَفَايِیْ وَرکوِي، لکه څنګه چې د بعضو حضرَاتُو خَيَالْ دئ، که چيري دغه رنګه وائي نو پِيْرْ صَاحِبْ به اَوَّلْ د خپل اَوْلَادْ تَزْکِيَّہْ کړې وائ، او د هر پِيْرْ زُوي به کَامِلْ وَلِيْ واىٔ، حَالَانْکِہْ مُوږ يې وِينُو چې د ډېرو پِيْرَانُوْ اَوْلَادَۃْ نَاکارَہْ او نَا اَهْلَ وي .

د تَفْسِيْرِ اِبْنِ عَبَّاسْ عِبَارَتْ دغه دئ

... [وَيُزَكِّيْهِمْ] يُطَهِّرُهُمْ بِالتَّوْحِيْدِ مِنَ الشِّرْكِ، وَيُقَالُ بِالزَّكٰوةِ وَالتَّوْبَةِ مِنَ الذُّنُوْبِ، اَيْ يَدْعُوْهُمْ اِلٰي ذٰالِكَ (تَفْسِيْرِ اِبْنِ عَبَّاسْ، آيَتْ ۲، سُوْرَةُ الْجُمْعَةِ ۶۲) .

تَرْجَمَہْ:- خلک پَاکوِيْ، يعني د تَوْحِيْدْ په ذَرِيْعَہْ سره د شِرْکْ څخه پَاکوِيْ، بعضو حضرَاتُو دا هم فَرْمَائِلِيْ دي چې:- د زَکٰوۃْ مَطْلَبْ دادئ چې د ګُنَاهُوْ څخه تُوْبَہْ په کوي، د تُوْبَہْ کولو وَ طَرَفْ ته خلک رَابُولي .

په دغه تَفْسِيْرْ کې دئ چې د تَوْحِيْدْ په ذَرِيْعَہْ سره به مُرِيْدَانْ د شِرْکْ څخه د پَاکْ کولو کوښښ کوي، او د ګُنَاهُوْ څخه د تُوْبَہْ کولو کوښښ به کوي، لِهٰذَا دا مَطْلَبْ يې نَه دئ چې د زَړَہْ کُومَه خَاصْ قِسْمْ صَفَايِیْ به يې کوي .

او دغه د شِرْکْ څخه تَزْکِيَّہْ هم هغه وَخْتْ کيږي چې په خپله په مُرِيْدْ کې صَلَاحِيَّتْ وي او په خپله هم د شِرْکْ څخه د ځان سَاتلُو مِحْنَتْ وکي، که

چيري دئ مِحْنَتْ نَه كوي نو چي پِيرْ صَاحِبْ هر څومره سَرْ د ډګاره وَوَهِي هيڅ نَتِيْجَهْ نَه وَرکوِي .

## چي پِيرْ صَاحِبْ خُدَا تَرْسْ وي نو د هغه زِيَاتْ اَثَرْ وي

١: اِنَّ اَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيْدَ اَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) يَقُوْلُ:- اَ لَا يُنَبِّأُكُمْ بِخِيَارِكُمْ؟ قَالُوْا بَلٰى يَا رَسُوْلَ اللهِ، قَالَ خِيَارُكُمُ الَّذِيْنَ اِذَا رَأَوُوْا ذَكَرَ اللهَ عَزَّ وَ جَلَّ .

(اِبْن مَاجَهْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الزُّهْدِ، بَابُ مَنْ لَّايَؤُبُهُ لَهُ، ص: ٦٠١، نَمْبَرْ ٤١١٩)

تَرْجَمَهْ:- حضرت اَسْمَاءْ بِنْتِ يَزِيْدْ وويل چي مَا د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه اَوریدَلِي دي چي دايي وَ فَرْمَائِلْ :- زَهْ یي تاسو ته ذَروَښَايَم چي په تاسو کي ښَهْ خلک څوک دي؟ خلکو وويل چي هُوْ يَارَسُوْلَ اللهْ! حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ په تاسو کي ښَهْ خلک هغه دي چي کله دُوي وَوِينِئ نو خُدَائِ مُو په يَادْ سي .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي وَوِينِي اَللهْ تَعَالٰي دَر په يَادْ سي، بَس هغه ښَهْ خلک دي، نو لِهٰذَا پِيرْ صَاحِبْ بَايَدْ دارنګه د اَللهْ وَالَا اِنْسَانْ وي چي تَه یي وَوِينِي نو اَللهْ تَعَالٰي دَر په يَادْ سي، او که چيري د پِيرْ صَاحِبْ شَانْ و شَوْکَتْ وَوِينِي دُنْيَا وَر په يَادْ سي او چي دده مَکَّارِيْ وَوِينِي ستا زَړَهْ ګبرَاؤ سي نو بيا ددغه پِيرْ سره په نَاستَه کي به تَا ته څَه فَائِدَهْ مِلاؤ سي ؟

حَدِيْثْ دغه دئ

٢: سَمِعْتُ اَبَا بُرْدَةَ بِن اَبِىْ مُوْسٰى عَنْ اَبِيْهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) مَثَلُ الْجَلِيْسِ الصَّالِحِ وَالْجَلِيْسِ السُّوْءِ كَمَثَلِ صَاحِبِ الْمِسْكِ وَكِيْرِ الْحَدَّادِ لَايُعْدِمُكَ مِنْ صَاحِبِ الْمِسْكِ اِمَّا تَشْتَرِيْهِ اَوْ تَجِدُ رِيْحَهُ، وَكِيْرُ الْحَدَّادِ يَحْرِقُ بَيْتَكَ، اَوْ ثَوْبَكَ، اَوْ تَجِدُ مِنْهُ رِيْحًا خَبِيْثَةً . (بُخَارِىْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْبُيُوْعْ، بَابٌ فِى الْعَطَّارِ وَبَيْعِ الْمِسْكِ، ص: ٣٣٨، نَمْبَرْ ٢١٠١ / مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْبُيُوْعْ، بَابٌ فِى الْعَطَّارِ وَبَيْعِ الْمِسْكِ، ص: ٣٣٨، نَمْبَرْ ٢١٠١/ ٤٤٣)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- د ښَهْ نَاسْتْ ګُوِيَهْ او د بَدْ نَاسْتْ ګُوِيَهْ مِثَالْ دارنګه دئ، لکه د مُشْکْ وَالا او د پِښْ د بَټَي، د مُشْکْ والا څخه به تَا ته څَه نَا څَه مِلاؤيږي، يا خو به دهغه څخه مُشْکْ رَانِيسي، يا خو به دهغه څخه خُوْشْبُوْ حَتْمًا مِلاؤيږي، او د پِښْ بَټِي خو به يا ستا کُوْرْ وَسوَځي، يا به ستا کَيږي وَسوَځي، يا خو به دهغه بَدْبُوْيِيْ ضرور دَر وَ رَسيږي .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي د ښُوْ خلکو او بَدُّوْ خلکو اَثَرْ کيږي .

ددغه حَدِيْثُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي پِيْرْ صَاحِبْ ښَهْ وي او مُخْلِصْ وي، او دهغه څخه فَائِدَهْ اَخستُونکئ هم مُخْلِصْ وي او په مِحْنَتْ سره يې حَاصِلْ کي، نو دهغه څخه دغه لُوړي بَيَانْ سوي څلور فَائِدې او څلور فَيْضْ حَاصِلېږي .

## د دُنْيَا د طَلَبْ لپاره پِيْرْ جوړول، يا مُرِيْدْ جوړول ښَهْ خَبَرَهْ نَه ده

دَلِيْلْ دغه حَدِيْثْ دئ

۳: سَمِعْتُ اَبَاهُرَيْرَةَ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) ثَلَاثَـةٌ لَايَنْظُرُ اللهُ اِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَايُزَكِّيْهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ..... وَ رَجُلٌ بَايَعَ اِمَامَـهُ لَايُبَايِعُـهُ اِلَّا لِلدُّنْيَا فَاِنْ اَعْطَاهُ مِنْهَا رَضِيَ وَ اِنْ لَّمْ يُعْطِهِ مِنْهَا سَخِطَ ..... ثُمَّ قَرَأَ [اِنَّ الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللهِ وَ اَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيْلًا] [آيَتْ ۷۷، سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳] .

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْمُسَاقَاةْ، بَابُ اِثْمُ مَنْ مَنَعَ اِبْنَ السَّبِيْلَ مِنَ الْمَاءِ، ص: ۳۷۹، نَمْبَرْ ۲۳۵۸)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- د قِيَامَتْ په وُرَځْ به و دُرُو کسَانُو ته اَللّٰهْ تَعَالٰی (د رَحْمَتْ په نَظَرْ) نَه ګُورِي، او نَه به هغه پَاکْ کوي، او د هغوي لپاره به دَرْدْنَاکَ عَذَابْ وي ..... يَو هغه کس چي د خپل اِمَامْ سره يې بَيْعَتْ کړئ وي، او صِرف د دُنْيَا د ګټولو لپاره يې بَيْعَتْ کړئ وي، که اِمَامْ څه (مَالْ) ورکئ خو خُوْشْحَالَ او رَاضِيْ سي، او که چيري څه (مَالْ) وَر نَه کئ نو دهغه څخه نَارَاضْ سي ..... بيا حُضُوْرْ (ﷺ) دغه آيَتْ ووايه [چي تَرْجَمَهْ يې دغه ده] ګُوم خلک چي د اَللّٰهْ په عَهْدْ او د خپلو قَسمُوْ په ذَرِيْعَهْ سره لږ څه مَالْ رَانِيسِي اِلَخْ .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي څوک د دُنْيَا لپاره بَيْعَتْ کوي نو اَللّٰهْ تَعَالٰی د قِيَامَتْ په وُرَځْ وهغه ته د رَحْمَتْ په نَظَرْ سره نَه ګُورِي، او نَه هغه پَاکْ کوي،او دهغه لپاره به دَرْدْنَاکَ عَذَابْ وي .

په مَوْجُوْدَهْ زَمَانَهْ کي بعضو خلکو مُرِيْدْ جوړول هم د دُنْيَا يَوَه دَنْدَهْ ګرزولې ده، د مَالْدَارَهْ مُرِيْدَانُوْ څخه د خِلَافَتْ پر نُوْمْ باندي ډېر مَالْ لُوټَوِي او لَاسْ ته يې رَسَوِي، ددغه رنګه پِيْرَانُوْ څخه بَايَدْ هُوْښْيَارَ وَوسېږئ، ځُوي يې د دِيْنْ لپاره او د تَرْبِيَّتْ لپاره نَه مُرِيْدَانْ کوي، بلکه د پَيْسُوْ او د دَوْلَتْ ګټَلُو لپاره د پِيْرَيْ او مُرِيْدَيْ يَو جَالْ خُورَوِي او اَوَارَوِي يې، ددغه رنګه پِيْرَانُوْ څخه ځَان ګُورَئ .

په دغه دُنْيَا کي ښَهْ پِيْرَانْ هم سته چي د خلکو تَرْبِيَّتْ کوي، زَمَا يَو اُسْتَاذْ وُو چي پِيْرْ وُو، هغه به مُوږ ته اُلْټَا پيسې هم رَاکوَلې، او ډېر مُخْلِصْ وُو، د يَو

عَظِيْمْ مُفْتِيْ بَاوُجُوْدَ ټولَ ژُوَنْدْ يې په فَقْرْ او مَسْكَنَتْ كي تېر كـئ، زَهْ تـر نَـنْ وُرَځِيْ پُورِي دهغه څخه مُتَأَثِّرْ يَم .

زَمَا په ژُوَنْدْ كي ډُوَه درې پِيْرَانْ دغه رنګه راغلي دي چي ټولَ ژُوَنْـدْ يـې پـه فَقْرْ و فَاقَهْ كي تېر كئ، او د مُرِيْدَانُوْ په تَرْبِيَّتْ كې كُوښښ جَارِيْ سَاتَئ، فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ .

زَهْ د كُوم ځَا سره د نَفْرَتْ لپاره نَه بلكه ددې لپاره دغه څَه لِيكم چـي خلـک د خُرَافَاتُوْ څخه وَژْغُورَمْ (وَسَاتَم)، تاسو زَمَا د تَجْرَبِي څخه فَائِدَهْ وَاخلَئ .

# د بَيْعَتْ څلور قِسْمُوْنَهْ وي

[١] پر اِيْمَانْ باندي د بَرْقَرَارَهْ پاته كېدو لپاره بَيْعَتْ كول .
[٢] د جِهَادْ لپاره بَيْعَتْ كول .
[٣] د خِلَافَتْ لپاره بَيْعَتْ كول .
[٤] د اَعْمَالِ صَالِحَهْ كولو لپاره، او په هغه كي د تَرَقِّيْ لپاره بَيْعَتْ كول .

[١] پر اِيْمَانْ باندي د بَرْقَرَارَهْ پاته كېدو لپاره بَيْعَتْ كول .

دَلِيْلْ يې دغه آيَتْ دئ

٣: يٰـاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا جَآءَكَ الْمُؤْمِنٰتُ يُبَايِعْنَكَ عَلٰى اَنْ لَّا يُشْرِكْنَ بِاللّٰهِ شَيْئًا وَّ لَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِيْنَ وَلَا يَقْتُلْنَ اَوْلَادَهُنَّ وَلَا يَاْتِيْنَ بِبُهْتَانٍ يَّفْتَرِيْنَه بَيْنَ اَيْدِيْهِنَّ وَ اَرْجُلِهِنَّ وَلَا يَعْصِيْنَكَ فِيْ مَعْرُوْفٍ فَبَايِعْهُنَّ وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللّٰهَ ط اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ

(آيَتْ ١٢، سُوْرَةُ الْمُمْتَحِنَةْ ٦٠) .

تَرْجَمَهْ:- اَئ نَبِيْ! چي كله تَا ته مُسَلْمَانَانِيْ ښځې پر دغـه خَبَـرَهْ بانـدي د بَيْعَتْ كولـو لپاره رَاسِي چي ډُوي د اَللّٰهْ سره يَو شَئ هم شَرِيْکْ نَه مَنِي، او غَلَا نَه كوي، او زِنَـا نَـه كوي، او خپل اَوْلَادُوْنَهْ نَه قَتلَوِي، او نَه يَو دارنګه بُهْتَانْ لَګوِي ګُوم چي ډُوي د خپلـو لَاسُوْ او پُښُوْ په مَابَيْنْ كي سره جوړ كړئ وي، او نَه په يَو ښَهْ كَارْ كي ستا نَافَرْمَـانِيْ كوي، نو تَه د ډُوى سره بَيْعَتْ كوه، او د ډُوي پـه حَقْ كـي د اَللّٰهْ څخـه د مَغْفِرَتْ دُعَـاءْ كوه. يَقِيْنًا اَللّٰهْ ډېر بَخْښنْ كونكئ، ډېر زِيَاتْ مِهْرَبَانْ دئ.

په دغه آيَتْ كې و حُضُوْرْ (ﷺ) ته دا وَيَنَا كړې ده چي تَه پر ښُوْ اَعْمَالُوْ باندي د ډُوي څخه بَيْعَتْ وَاخلَه .

[۲] د جِهَادْ کولو لپاره بَیْعَتْ کول .

دَلِیْلْ یې دغه آیَتُوْنَهْ دي

۴: اِنَّ الَّذِیْنَ یُبَایِعُوْنَکَ اِنَّمَا یُبَایِعُوْنَ اللّٰہَ ؕ یَدُ اللّٰہِ فَوْقَ اَیْدِیْهِمْ ۚ فَمَنْ نَّکَثَ فَاِنَّمَا یَنْکُثُ عَلٰی نَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ اَوْفٰی بِمَا عٰهَدَ عَلَیْهُ اللّٰہَ فَسَیُؤْتِیْهِ اَجْرًا عَظِیْمًا ع

(آیَتْ ۱۰، سُوْرَةُ الْفَتْحْ ۴۸) .

تَرْجَمَهْ:- (اې پیْغَمْبَرَهْ!) کُوم خلګ چې ستا سره بَیْعَتْ کوي، هغه په حَقِیْقَتْ کې د اَللّٰہْ سره بَیْعَتْ کوي. د اَللّٰہْ لَاسْ د دُوي پر لَاسُوْ (بِلَا کَیْفَ) پُرُوت دئ. دهغه بَعْدْ چې څوک عَهْدْ مَاتَوِي، دهغه د عَهْدْ د مَاتَوُلُو وَبَالْ به پر هغه وي، او څوک چې هغه عَهْدْ پُوره کوي کُوم چې ده د اَللّٰہْ سره کړئ دئ، نو اَللّٰہْ به هغه ته زَبَرْدَسْتَهْ ثَوَابْ وَرکي.

۵: لَقَدْ رَضِیَ اللّٰہُ عَنِ الْمُؤْمِنِیْنَ اِذْ یُبَایِعُوْنَکَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِیْ قُلُوْبِهِمْ فَاَنْزَلَ السَّکِیْنَةَ عَلَیْهِمْ وَ اَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِیْبًا ۙ (آیَتْ ۱۸، سُوْرَةُ الْفَتْحْ ۴۸) .

تَرْجَمَهْ:- یَقِیْنًا اَللّٰہْ دهغه مُؤْمِنَانُوْ څخه ډېر خُوْشْحَالَ سو چې کله دُوي تر دَرَخْتَهْ لَانْدِیْ ستا سره بَیْعَتْ کاوئ، او د دُوي په زُرُوْ کي چې څه وُو هغه هم اَللّٰہْ ته مَعْلُوْمْ وُو، نو ځکه ده پر هغوي باندي سَکِیْنَتْ نَازِلْ کئ، او دُوي ته یې په اِنْعَامْ کي یَوَه نِژدې فَتْحْ ورکړه،

په دغه دواړو آیَتُوْ کي پر جِهَادْ باندي د بَیْعَتْ اَخستَلُو بَیَانْ دئ .

[۳] پر خِلَافَتْ باندي بَیْعَتْ اَخستَل .

دَلِیْلْ یې دغه اَثَرْ یَعنِي قَوْل صَحَابِیْ دئ

۴: فَحَمِدَ اللّٰہَ اَبُوْبَکْرُ وَ اَثْنٰی عَلَیْهِ ..... فَقَالَ عُمَرُ بَلْ نُبَیِّعُکَ، اَنْتَ سَیِّدُنَا، وَ خَیْرُنَا، وَ اَحَبُّنَا اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰہِ (ﷺ) فَاَخَذَ عُمَرُ بِیَدِهٖ، فَبَایَعَهُ، وَبَایَعَهُ النَّاسُ .

(بُخَارِیْ شَرِیْفْ،کِتَابُ فَضَائِلِ الصَّحَابَةِ،بَابُ ،ص: ۶۱۶، نَمْبَرْ ۳۶۶۸)

تَرْجَمَهْ:- حضرت اَبُوْبَکْرْ حَمْدْ و ثَنَا وَوَیَل ..... حضرت عُمَرْ وویل چې مُوږ ستا سره بَیْعَتْ کوو، ته زُموږ سَرْدَارْ یې، په موږ ټولو کي اَفْضَلْ یې، او وَ رَسُوْلُ اللّٰہْ (ﷺ) ته تر ټولو زِیَاتْ مَحْبُوْبَ یې، حضرت عُمَرْ د حضرت اَبُوْبَکْرْ لَاسْ وَنِیوَئ او دده سره یې بَیْعَتْ وکئ، او خلګو هم دده سره بَیْعَتْ وکئ .

په دغه حَدِیْثْ (اَثَرْ) کي پر خِلَافَتْ باندي د بَیْعَتْ اَخستَلُو ثُبُوْتْ مَوْجُوْدْ دئ .

[۴] د اَعْمَالِ صَالِحَهْ کولو لپاره، او په هغه کي د تَرَقِّیْ لپاره بَیْعَتْ کول .

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

**۴: سَمِعْتُ جَرِيْرَ بن عَبْدِ اللهِ يَقُوْلُ بَايَعْتُ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) عَلٰى شَهَادَةِ اَنْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ، وَ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلَ اللهِ، وَ اِقَامِ الصَّلَاةِ، وَ اِيْتَاءِ الزَّكٰوةِ، وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ، وَالنُّصْحِ لِكُلِّ مُسْلِمٍ .**

**(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْبُيُوْعْ، بَابُ هَلْ يَبِيْعُ حَاضِرٌ لِبَادٍ بِغَيْرِ اَجْرٍ، ص: ۳۴۵، نَمْبَرْ ۲۱۵۷)**

تَرْجَمَهْ:- حضرت جَرِيْرْ بِن عَبْدُ اللهْ فَرْمَائِي چي مَا د حُضُوْرْ (ﷺ) سره پر دغه خَبَرُوْ باندي بَيْعَتْ وکړئ شَهَادَةُ اَنْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ، وَ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلَ اللهِ، او دا چي لُمُوْنْځْ قَائِمْ کړم، زَکٰوةْ اداء کړم، د حُضُوْرْ (ﷺ) خَبَرَهْ وَاوْرَم، دده اِطَاعَتْ وکړم، او د هر مُسْلْمَانْ سره د خَيْرْ خُوَاهِيْ مَعَامَلَهْ وکړم .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي د اَعْمَالْ صَالِحَهْ د کولو لپاره يې د حُضُوْرْ (ﷺ) پر لَاسْ باندي بَيْعَتْ کړئ وُو .

**حُضُوْرْ (ﷺ) به د ښځو (زَنَانُوْ) سره بَيْعَتْ کاوئ لېکن**
**د هغوي لَاسْ ته به خپل لَاسْ مُبَارَکْ نَه وُر وړئ**

حُضُوْرْ (ﷺ) به د ښځو سره بَيْعَتْ کاوئ لېکن د هغوي لَاسْ ته يې خپل لَاسْ نَه وَروړئ، او نَه يې مَسْ کاوئ، بلکه په پَرْدَهْ کي (يعني د پَردې وَ شَا ته) به بَيْعَتْ کاوئ، دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ (اَثَرْ) دئ

**۶: عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ (ﷺ) ..... قَالَتْ عَائِشَةُ فَمَنْ اَقَرَّ بِهٰذَا الشَّرْطِ مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ فَقَدْ اَقَرَّ بِالْمِحْنَةِ، فَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اِذَا اَقْرَرْنَ بِذَالِكَ مِنْ قَوْلِهِنَّ قَالَ لَهُنَّ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اِنْطَلِقْنَ فَقَدْ بَايَعْتُكُنَّ، لَا وَ اللهِ مَامَسَّتْ يَدُ رَسُوْلِ اللهِ (ﷺ) يَدَ اِمْرَأَةٍ قَطُّ غَيْرَ اَنَّهُ بَايَعْهُنَّ بِالْكَلَامِ، وَاللهِ مَا اَخَذَ رَسُوْلُ اللهِ عَلَى النِّسَاءِ اِلَّا بِمَا اَمَرَهُ اللهُ، يَقُوْلُ لَهُنَّ اِذَا اَخَذَ عَلَيْهِنَّ قَدْ بَايَعْتُكُنَّ كَلَامًا .**

**(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الطَّلَاقْ، بَابُ اِذَا اَسْلَمَتِ الْمُشْرِكَةُ اَوِ النَّصْرَانِيَّةُ تَحْتَ الذِّمِّيِّ اَوِ الْحَرْبِيِّ، ص: ۹۴۵، نَمْبَرْ ۵۲۸۸)**

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَائِشَهْ فَرْمَائِي چي:- د مُؤْمِنَاتْ ښځو څخه چي کُومُو به د آيَتْ د شَرْطُوْ اِقْرَارْ وکړئ نو ګُوَاکِهْ هغې د اِمْتِحَانْ د وَرکوُلو د خَبَرُوْ اِقْرَارْ وکړئ، ښځو چي به د خَبَرُوْ د لَارِيْ څخه ددغه شِيَانُوْ اِقْرَارْ وکړئ، نو حُضُوْرْ (ﷺ) به وَ فَرْمَائِلْ چي:- تاسو وُلَارِيْ سئ، مَا ستاسو سره بَيْعَتْ وکړئ، قَسَمْ په خُدَایْ د حُضُوْرْ (ﷺ) لَاسْ په هيڅ وَخْتْ د (غَيْرْ مَحْرَمْ) لَاسْ نَه دئ مَسْ کړئ، صِرف په خَبَرُوْ سره به يې بَيْعَتْ کاوئ، چي اَللّٰهْ څومره حُکْمْ ده ته وَرکړئ وُو، حُضُوْرْ (ﷺ) د ښځو سره په هغونَه اَنْدَازَهْ مَعَامَلَهْ کوله،

**حُضُوْرْ** (ﷺ) چي به د ښځو څخه **بَيْعَتْ** اَخستئ نو دغه به يې ورته وَيَل، **مَا** د **خَبَرُوْ** (**كَلاَمْ**) د **لاَرِئْ** ستاسو سره **بَيْعَتْ** كړئ دئ .

په دغه **حَدِيْثْ** (**اَثَرْ**) كي دئ چي د ښځو سره يې صِرف د **خَبَرُوْ** د **لاَرِئْ** **بَيْعَتْ** كړئ دئ، دهغوي **لاَسْ** ته يې **لاَسْ** نَه دئ وَروړئ .

**نَنْ سَبَا** يې وِينُو چي **مُرِيْدَهْ زَنَانَهْ** د خپل **پِيْرْ** په مَخكِي **بې پَرِدَهْ** نَاستَه وي، او د **بې پَرْدَهْ ګئ** هغه تولِي **نَخْرِي** كوي ګُوم چي كول يې په كار نَه دي، ددغه څخه په هر **حَاڵْ** كي **بَايَدْ** ځانونَه وَسَاتَل سي .

## دا چي **پِيْرْ صَاحِبْ** دي **تَا** ته ګُوم **مَعْنَوِيْ فَيْضْ** درکړي، دغه رنګه نَه ده

بعض **پِيْرَانْ صَاحِبَانْ** دغه **تَأَثُّرْ** وركوي چي كه **زَمَا خِدْمَتْ** كوې نو **زَهْ** به **تَا** ته يَو **مَعْنَوِيْ فَيْضْ** دركړم، او **مُرِيْدْ** د هغه د حَاصِلَوُلُو لپاره په كلُو كلُو په **خِدْمَتْ** كي لِګيَا وي او ذُوي ددغه **حَدِيْثْ** څخه **اِسْتِدْلاَلْ** كوي، لېكن دا هم په **يَادْ** وَلَرَئ چي ددغه **مَعْنَوِيْ** شِي وَركوُلُو **وَاقِعَهْ** په **حَدِيْثْ** كي صِرف يَو وار راغلې ده، او يَوه **وَاقِعَهْ** ده او هغه هم د **مُعْجِزِي** په تُوګه **وَاقِعْ** سوې وه، دهغه وروسته بيا نَه ده **صَادِرَهْ** سوې ..... او نَه هر **پِيْرْ** و خپل **اَوْلاَدْ** ته مَخكِي دغه **فَيْضْ** وَركاوئ، **حَدِيْثْ** دغه دئ

**۷: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ ..... وَ قَالَ النَّبِيُّ (ﷺ) يَوْمًا لَنْ يَّبْسُطَ اَحَدٌ مِّنْكُمْ ثَوْبَهُ حَتّٰى اَقْضِيَ مَقَالَتِيْ هٰذِه ثُمَّ يَجْمَعُهُ اِلٰى صَدْرِه فَيَنْسٰى مِنْ مَّقَالَتِيْ شَيْئًا اَبَدًا، فَبَسَطْتُّ نَمِرَةً لَيْسَ عَلَيَّ ثَوْبًا غَيْرُهَا حَتّٰى قَضَى النَّبِيُّ (ﷺ) مَقَالَتَهُ ثُمَّ جَمَعْتُهَا اِلٰى صَدْرِيْ فَوَالَّذِيْ بَعَثَهُ بِالْحَقِّ مَانَسِيْتُ مِنْ مَّقَالَتِه تِلْكَ اِلٰى يَوْمِيْ هٰذَا .**

(**بُخَارِئْ شَرِيْفْ**،**كِتَابُ الْحَرْثِ وَالْمَزَارَعَةِ**، **بَابُ مَاجَاءَ فِى الْغَرْسِ**، **ص**: ۳۷۷، **نَمْبَرْ** ۲۳۵۰)

**تَرْجَمَهْ**:- **حُضُوْرْ** (ﷺ) يَوه **وُرَځْ** وَ **فَرْمَائِلْ** چي:- يَو څوک دي خپله كپړه وَغُوړوي چي **زَهْ** په هغه كي خپله يَوه **خَبَرَهْ** وكم، او هغه دي د خپل **بَدَنْ** سره وَمُښلَوِي، نو په هيڅ **وَخْتْ** به **زَمَا خَبَرَهْ** هېره نَه سي، نو **مَا** خپل يَو **پَتُوْ اَوَارْ** (**خُوْرْ**) كړ، **زَمَا** سره دهغه څخه **عَلاَوَهْ** بَل وُو هم نَه، **حُضُوْرْ** (ﷺ) په هغه كي خپله **خَبَرَهْ** وكړه، بيامِې هغه **پَتُوْ** پر خپله **سِيْنَهْ** باندي وَ مُښلاوَئ، نو **قَسَمْ** دي مِې په هغه **ذَاتْ** وي چي په **حَقْ** سره يې دئ **مَبْعُوْثْ** كړئ دئ، دده يَوه **خَبَرَهْ** مِې تر اُوسَه نَه ده هېره سوې .

دغه حَدِيْثْ د مُعْجزِي په تُوګه وُو، همېشَه دغه رنګه خَبَرَهْ نَه وه، کـه نَـه نـو بَارْ بَارْ (په څو څو کرَتَّهْ به) حُضُوْرْ (ﷺ) دغه فَيْضْ وَرکولائي .

## ۳۶: تَعْوِيْذْ په غَاړَهْ کول څنګه دئ؟

ددغه عَقِيدې په اړه ۴ آيَتُوْنَهْ او ۳۰ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کئ .

د تَعْوِيْذْ اُوَهْ قِسْمُوْنَهْ دي

[۱] ..... چي د قُرْآنْ و حَدِيْثْ جَائِزْ تَعْوِيْذْ د جَائِزْ مَقْصَدْ لپاره وَوِيَل سي، يـا يې په غَاړَهْ وَځَړوِي يا يې تر ګرْدِي وَځړوِي نو دا جَائِزْ دئ .

[۲] ..... په تَعْوِيْذْ يا مَنْتَرْ کي د اَللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ مَـدَدْ غُوَښتَل سوئ وي نـو دغه بيا حَرَامْ دئ .

[۳] ..... په تَعْوِيْذْ يا مَنْتَرْ کي دغه رنګه اَلْفَاظْ اِسْتِعْمَالْ سوي وي چي مَعْنٰی يې نَه وي مَعْلُوْمَ، نو کېدلائي سي چي په دغه کي دي د اَللّٰهْ څخه عَـلَاوَهْ مَـدَدْ غُوَښتَل سوئ وي نو دغه هم جَوَازْ نَه لري .

[۴] ..... چي بَدْ نَظَرْ وَرتَه لګېدَلَئ وي .

[۵] ..... جَادُوْ ... دغه خو بِالْکُلْ حَرَامْ دئ .

[۶] ..... عَرَّافْ چي دا دَعْوَهْ کوي چـي زَهْ پـه غَيْبُ خَبَرْ يَم، هغـه تـه تَلَـل بِالْکُلْ حَرَامْ دئ .

[۷] ..... پِيْرَانَانْ (جنَّاتْ) رَايَستَل .

### د تَعْوِيْذْ کولو دُوَه صُوْرَتُوْنَهْ دي

[۱] ..... يَو دا چي پر مَرِيْضْ باندي قُرْآنْ و حَدِيْثْ وَيَـل او پـر چُفْ کـول، ددغه خو په حَدِيْثْ کي ثُبُوْتْ سته .

[۲] ..... دُوَيَـمْ دا چـي قُـرْآنْ و حَـدِيْثْ وَلِيکـي او پـه غَـاړَهْ يـې وَځَـړوِي، د حَدِيْثْ څخه ددې مُمَانَعَتْ ښکاره کېږي، د هر يَوَه لپـاره مَختَـه آيَـتْ او حَـدِيْثْ تاسو مُلَاحَظَهْ کئ

## د بعضو تَعْوِيْذْ ګرَانُوْ مَکْرُوْنَهْ او چِمُوْنَهْ

په دُنْيَا کي بِنَهْ خلګ هم سته، لېکن څَه کسَان دغه رنګه هم کوي .
ټولَ دارنګه نَه دي، بعض تَعْوِيْذْ کونکي د مَابَيْنْ مَابَيْنْ خَبَرِيْ کوي، ډُوي نَه خو دا وَائي چي جِنَّاتْ دي، او نَه ډُوي دهغه څخه اِنْکارْ کوي، بلکه دارنګه وائي چي پرِ دې باندي د جِنَّاتُوْ سَايَهْ ده، يعني جِنَّاتْ سته هم او نَستَه هم، او ددغه پِيْرَانَانُوْ د لِيرِي کولو لپاره بِنَهْ ډيري پَيسې وُصُولوِي، او مِيَاشْتَهْ بَعْدْ چي پِيْرَانَانْ نَه سي لیري نو دا وائي چي مَا خو يَو پِيْرَئ ليري کړئ وُو، لېکن اُوس دده د خَانْدَانْ نور خلګ راغلي دي، نو اُوس دهغه د لِيرِي کولو لپاره نوري پَيسې لګيږي .
کله نَا کله دا ورته وائي چي تَا ته نِژدې خلګو په تَا باندي جَادُوْ کړئ دئ، يا يې تَعْوِيْذْ دَر کړئ دئ، او په نِژدي خلګو کي هَمْسَايَهْ، وُرِيْنْدَارَهْ، خُوَابنِي او عَمَّهْ يعني تُرُوْرِيْ وي، نو ددغه څخه هسي د يوې څخه ټولَ ژُوَنْدْ په زړَهْ کي دَنَنَهْ دَنَنَهْ دُښْمَنِيْ پَيدَا سي، او کله نَا کله خو غَتَّهْ هَنْګامَهْ ځِيني جوړَ سي، او دغه ټولَ د تَعْوِيْذْ والاپه کوي، حَالَانْکِهْ په خپله دغه تَعْوِيْذْ والا په هيڅ خَبَرْ هم نَه وي، نو ځکه د دغه رنګه تَعْوِيْذْ ګرانُوْ او جَادُوْ ګرانُوْ څخه ځان سَاتَل بِهْتَرْ دئ، په دغه آيَتْ کي ددې وَضَاحَتْ سوئ دئ
١ : فَيَتَعَلَّمُوْنَ مِنْهُمَا مَايُفَرِّقُوْنَ بِه بَيْنَ الْمَرْءِ وَ زَوْجِه ط وَمَاهُمْ بِضَآرِّيْنَ بِه مِنْ اَحَدٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللهِ ط (آيَتْ ١٠٢، سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ٢) .
تَرْجَمَهْ:- بياهم دې خلګو دهغوي (فَرِشْتُوْ) څخه هغه شِيَانْ اِزدَه کول چي د مېړَهْ او دهغه د مَيْنِي تر مينځ تَفْرِيْقْ (جُدَائِي) راولي، (هسي دا خَبَرَهْ بَايَدْ وَاضِحْ وي چي) ډُوي ددې (جَادُوْ) په ذَرِيْعَهْ سره هيڅ چا ته د اَللهْ د مَشِيَّتْ (اِرَادې) بغيره هيڅ ډول نُقْصَانْ نَه سو رسولائي .
په دغه آيَتْ کي فَرْمَائِلِيْ دي چي جَادُوْ کونکي عُمُوْمًا دغه رنګه حَرَکتُوْنَهْ کوي چي د مېړَهْ او مَيْنِي په مَابَيْنْ کي هم اِخْتِلَافْ پَيدَا کړي،کله نَا کله د رِشْتَهْ دَارَانُوْ په مَابَيْنْ کي دُښْمَنِيْ پَيدَا کي، وَاقِعَهْ بعض تَعْوِيْذْ ګرَانْ د رِشْتَهْ دَارَانُوْ په مَابَيْنْ کي اِخْتِلَافَاتْ پَيدَا کوي .
په دغه حَدِيْثْ کي دا هم بَيَانْ سوئ دئ چي دغه تَعْوِيْذْ کونکو ته يَوَه خَبَرَهْ مَعْلُوْمَ سي نو په هغه کي سَلْ دَرْوَاغْ نور هم د ځانَ څخه وَر ګډ کي بيايې وَ مَرِيْضْ ته وائي چي هغه يَقِيْنْ وکي، او دده دُکانْ بنَه وَچلیږي .
دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

**۱: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ! اِنَّ الْكُهَّانَ كَانُوْا يُحَدِّثُوْنَنَا بِالشَّئِ فَنَجِدُهُ حَقًّا، قَالَ تِلْكَ الْكَلِمَةُ الْحَقُّ يَخْطِفُهَا الْجِنِّيُّ فَيَقْذِفُهَا فِيْ اُذُنِ وَلِيِّه، وَيَزِيْدُ فِيْهَا مِائَةَ كَذِبَةٍ .**

(**مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ السَّلَامِ،بَابُ تَحْرِيْمِ الْكَهَّانَةِ وَ اِتْيَانُ الْكُهَّانِ، ص: ۹۸۹، نَمْبَرْ ۲۲۲۸/ ۵۸۱۶**)

**تَرْجَمَهْ**:- حضرت **عَائِشَهْ** فرمائي چي:- **مَا** وويل **كاهِنَانْ** څَه (بَعض) **خَبَرِيْ** مُوږ ته كوي نو مُوږ هغه **رِشْتِيَا** وَ مُوندُو، نو **حُضُوْرْ** (ﷺ) وَ **فَرْمَائِلْ** چي:- **پِيْرَانَانْ** هسي يَوَه **رِشْتِيَا خَبَرَهْ** د يَو ځايَه څخه وَ مُوندِي، هغه و خپل **مُوَكِّلْ** ته وكړي، او **مُوَكِّلْ** په هغه كي **سَلْ دَرْوَاغُوْنَهْ** ګډَوِي .

په دغه **حَدِيْثْ** كي دئ چي **مُوَكِّلْ سَلْ دَرْوَاغَ** د خپل ځانَ څخه وَر سره ګډوِي او بيايې وَخلګو ته وائي .

## په كُوم **كُوْرْ** كي چي د **تَعْوِيْذْ رِوَاجْ** جوړ سي
## هغه بيا ځان نَه سي خَلاسولائي

كله نَا كله دارنګه ﭘﯧښي هم سوي دي چي په كُوم **كُوْرْ** كي د **تَعْوِيْذُوْ** ډېر **رِوَاجْ** وي، نو دهغه **كُوْرْ** و **اِنْسَانَانُوْ** ته دهغه **وَهْمْ** پَيدَا سي، او چي هسي يَوَه **پرېشَانِيْ** راسي نو ددُوي دا **خِيَالْ** وي چي په مُوږ باندي يَو چَا **جَادُوْ** كړئ دئ، آن تر دي كه چيري **اَچَانَكْ** (نَابَبرَهْ) د **لَاسْ** څخه **لُوْبنَئْ اِيْلَهْ** سي نو هم د دُوي دا **خِيَالْ** وي چي د يَو چَا د **جَادُوْ** يا د **تَعْوِيْذْ** لكبله دغه **لُوْبنَئْ اِيْلَهْ** سو، چي **زَرْ وَارَهْ** يې **يُوْ** كې چي دا خو **اَچَانَكْ لُوْبنَئْ** د **لَاسْ** څخه **اِيْلَهْ** سو، يا دغه د **دَرْدْ** يا **مَرَضْ** په **وَجْهَ** دئ نو دئ بيا هم نَه پُوهېږي، ځكه چي دده په **دِمَاغْ** كي د **تَعْوِيْذْ** يا **جَادُوْ خَبَرَهْ** كښېنَستَلې ده، او بَس بيا نو ددغه **جَادُوْ** د **خَتْمْ** كولو لپاره **تَعْوِيْذْ ګرَانُوْ** ته وَرځِي، او هغه دارنګه د مِينځ مينځ **خَبَرِيْ** ورته كوي چي دئ يې په **تَرَدُّدْ** كي اَچَوَلَئ وي او خپلي پَيسي ځينِي اَخلِي، او ټول **عُمْرْ** يې **يَسَاوْ** كړئ وي، ځكه چي دده **مَطْلَبْ** خو پَيسې او **دَوْلَتْ** دئ، او په **مَعَاشَرَهْ** كي خپل **شُهْرَتْ** تر **لَاسْ** كول دئ .

نو ځكه په ډېر **اَدَبْ** ستاسو څخه **ګُزَارَشْ** دئ چي ددغه **وَهْمِيَّاتُوْ** څخه ځانُونَه ليري كئ، په دغه **وَجْهَ** خو **حُضُوْرْ** (ﷺ) بعض **تَعْوِيْذُوْنَهْ**، او **جَادُوْ مَنْعَ** كړي هم دي، **تَفْصِيْلْ** يې تاسو مَختَه **مُلَاحَظَهْ** كولائي سئ .

# د تَعْوِیْذْ ځخه لَږ ځَه ذِهْنِيْ تَسَلِّيْ مِلاوُیږي

یَوَه تَعْوِیْذْ کونکي مَا ته ځَلُوْرْ خَبَرِيْ وکړې
[۱] ..... پر ګوم ځا چي مُوږ دَمْ او چُفْ کوو هغه عُمُوْمًا ذِهْنِيْ مَرِیْضَانْ وي، یا خو هغه ته خُوْبْ نَه وَرځـي، یـا دهغـه پـر ذِهْنْ بانـدي خَوْفْ (بېـرَه) مُسَلَّطْ وي، چي دهغه لکبله دئ هر وَخْتْ پـه بېـره کـي وي، او چـي یَـو رَ ږَغْ وسي نو دده دا خِیَالْ وي چي دا د پیْرَانَانُوْ یا د شَیْطَانْ رَ ږَغْ دئ، او اُوس بـه دئ پر مَا باندي حَمْلَه کوي، ددغه بېرِي یا وَهْمْ ځخه دئ هر وَخْتْ پـه خَوْفْ کي مُبْتَلَا وي،او کله نَا کله خو ددغه خَوْفْ لکبله ده ته پُورَه اَتَـهْ ګنْټِي خَوْبْ هم نَه وَرځِي، لَږْ ځَه بِیدَه سي او بَس رَاپُورتَه سي، اُوس ددغه لَږْ خَوْبْ لکبله بیا تېولَ وُرَځْ دده پر سَرْ دَرْدْ وي، غَاړَهْ یې دَرْدْ کوي، چي دهغه لکبلـه دده دا خِیَالْ وي چي پر مَا باندي پیرَانَانْ سُیَارَهْ دي، او دئ دهغه ځخه نَـا اَرَامْ وي، حَالَانْکِهْ هیڅ پیرَانَانْ نَه وي، هغه ډُومرَه فُرْصَتْ چیري لري چي دده پـر سَرْ دي سُیَارَهْ سـي، او خپـل کارُوْنَـهْ دي پرېـږدي بَـس دَلتَـه دي خپـل چَکرُوْنَـهْ وَهِيْ، اَصَلْ مَسْئَلَهْ داده چي د خَوْفْ لکبله یا د کُوْرَنَيْ پرېشَانَيْ په وَجْهَ ده تـه خَوْبْ نَه وَرځِي، دهغه په وَجْهَ دده ټولَ بَدَنْ مَاتْ مَاتْ وي .
چي کله مَا تـه مَـرِیْضْ راسـي نـو زَمَـا دا فِکْـرْ وي چـي دئ پریشَـانَ دئ، او خَوْبْ نَه وَرتَه رَاځِي، لېکن چي سِیدَا خَبَرَهْ وَرتَه وکم نو په هغه سره کَـارْ نَـه چلېږي، نو ځکه دا وَرتَـه وایـم چـي دغـه تَعْوِیْـذْ وَاخلَـه پـه دې سره بـه ټـولَ پیرَانَانْ وَتَښتِي، په دغه دَمْ او چُفْ سره مَرِیْضْ ته تَسَلِّيْ او سُکُوْنْ مِلاوْ سـي چي پیرَانَانْ او جَادُوْ خو بِالْکُلْ وَ تَښتېدَل، په دغه رنګه دده خَـوْفْ خَتْمْ سـي، اُوس دئ په آرَامْ سره بِیدَه سي، او ددغه بیدېدُو په وَجْهَ دده مَرَضْ خَتْمْ سـي، نو ځکه زُمُوږ تَعْوِیْذْ یَو قِسْمْ تَسَلِّيْ ده .
[۲] ..... هغه دُوَهَمَّهْ خَبَرَهْ دا رَاتَه وکړه چي زُمُوږ په لَاسْ کـي هـیڅ ډوَل کرَامَتْ نَه وي، مُوږ خو مُخْتَلِفِيْ دُعَاګَانْ وَرتَه لِیکـوو هغـه وَرکـوو، پـه هغـه کي اَثَرْ اَچَوَل د اَللّٰهْ تَعَالٰی کار دئ، که دهغه خُوَښَه سي نو په هغه سره شِفَاءْ وَرتَه مِلاوْ سي، او که دهغه نَه سي خُوَښَه نو هیڅ هم نَه وي، نو ځکه زُمُـوږ په لَاسْ کي هیڅ کرَامَتْ او جَلَا شَئ نَه وي .
[۳] ..... او دَرِیَمَّهْ خَبَرَهْ یې دا رَا ته وَکړه چي عُمُوْمًا زُمُـوږ پـه لَاسْ کـي جنَّاتْ یا مُوَکِّلْ تَابِعْ نَه وي، د عَوَامُوْ دغه وَهْمْ ډېر صَحِیْحْ او پـر ځـائ نَـه دئ، اِمْکانْ سته چي دغه دي وي، لېکن زَمَا تر مَعْلُوْمَاتُ پُورِي دغه دئ چي

جنَّاتْ يې تَابعْ نَه وي، د پَيسُو لپاره ډېر خلګ دغه خَبَرِئ کوي چي زَمَا سره مُؤَکِّلْ دئ، که چيري دغه رنګه وي نو بيا په دغه مُؤَکِّلْ باندي وَلِي پَيسې نَه جَمَعْ کوي؟ دُوي يې د نورو څخه وَلِي غُواړي؟

[۴] ..... او څلُوْرَمَّهْ خَبَرَهْ يې دا رَا تَه وکړه چي مُوږ په غَيْبُ هم نَه يُو خَبَرْ، مُوږ دارنګه کوو چي د مَرِيْضْ څخه د يوې خُوَا او بَلِي پُوښتَنِي کوو، سُوَالُوْنَهْ ځِيني کوو، خَبَرِئ ځِيني پُوښتُو، دهغه څخه ځَه اَنْدَازَهْ وکو، بيا په خپل ذَهَانَتْ سره، په خپله تَجْرَبَهْ سره، د مِينځ مينځ خَبَرِئ ده ته کوو، او دغه تَأَثُّرْ ورکوو چي مُوږ ته د غَيْبُ عِلْمْ حَاصِلْ دئ، يا و مَا ته ستا په اړه جنَّاتُوْ تولَ مَعْلُوْمَاتْ راکړي دي، او هغه خو عَامْ اِنْسَانَانْ وي، نو ځکه زُمُوږ پر خَبَرُوْ يَقِيْنْ وکي، او دا يې خَيَالْ سي چي مُوږ ته خو عِلْمِ غَيْبْ حَاصِلْ دئ، يا مُوږ رسېدَلِي بَابَاګَانْ يُو، چي د مَرِيْضْ په هره خَبَرَهْ په هر حَالْ سره خَبَرْدَارَهْ وي .

او که چيري يَو ذَهِيْنْ کس راسي، او هغه زُمُوږ د خَبَرُوْ پَلَتَنَهْ شروع کي نو بيا مُوږ دهغه سره ډېري خَبَرِئ نَه کوو، بلکه دهغه څخه ځان خَلاسوو چي دغه زُمُوږ تر لَاسَ کړئ شُهْرَتْ د خَاوْرُو سره خَاوْرِي نَه سي، او رَارَوَانْ دَوْلَتْ او پَيسي بَندِ نَه سي، ځکه چي زُمُوږ سره د پَيسُو لپاره تر ټولو ښَهْ دغه يَو دُکَانْ دئ، چي ددغه دُکَانْ څخه ډېر ځَه مِلاوېږي او مَصْرَفْ يې بالْکُلْ نَستَه .

اُوس ددغه مُخْلِصْ تَعْوِيْذْ کونکي خَبَرَهْ تر کُومَه حَدَّ پُورِي صَحِيْحْ ده، دا خو وَ ده ته مَعْلُوْمَ ده، اَلْبَتَّهْ دده په خَبَرُوْ کي ځَه نَا ځَه وَزَنْ خو سته، تاسو هم ددغه خَبَرُوْ څخه فَائِدَهْ تر لَاسَ کئ، او د دُوکَهْ خوړلو څخه خپل ځانُونَه مَحْفُوْظَ کئ. وَاللهُ اَعْلَمُ بالصَّوَابْ .

## [۱] ... د قُرْآنْ و حَدِيْثْ جَائِزْ تَعْوِيْذْ

که چيري د تَعْوِيْذْ په ذَرِيْعَهْ سره د خلګو پرِيْشَانِي ليري کول مَقْصَدْ وي نو بيا خو صَحِيْحْ دئ، او که چيري ددې لپاره تَعْوِيْذْ کوي چي د يَو ځَا زِيْرَوَلْ يې مَقْصَدْ وي، يا د مېړه او مَيني په مَابَيْنْ کي نَفْرَتْ پَيدَا کول مَقْصَدْ وي، يا د رِشْتَهْ دَارَانُوْ په مَابَيْنْ کي نَفْرَتْ زِيَاتَوَل مَقْصَدْ وي نو دغه رنګه تَعْوِيْذْ کول جَوَازْ نَه لري، ددې به ډېره سَخْتَهْ ګُنَاهْ وي .

په تَعْوِيْذْ كي بَايَدْ دارنګه كلِمَاتِ وي چي په هغه كي صِرف د اَللّٰهْ څخه مَدَدْ غُوَښتَل سوئ وي نو دا جَائِزْ دئ، بلكه كه په تَعْوِيْذ كي هغه كلِمَاتِ وي چي په هغه سره حُضُوْرْ (ﷺ) تَعْوِيْذْ كړئ وي نو دا ډېر بِهْتَرْ دئ، او چي د حُضُوْرْ (ﷺ) كلِمَاتِ دي نو په هغه كي به اَثَرْ هم زِيَاتْ وي، او ثَوَابْ به هم مِلاؤ سي .

٢: عَنْ عَبْدِ الْعَزِيْزِ قَالَ دَخَلْتُ اَنَا وَ ثَابتٌ عَلٰى اَنَسِ بن مَالِكٍ، فَقَالَ ثَابتُ:- يَا اَبَا حَمْزَةَ اِشْتَكَيْتُ، فَقَالَ اَنَسٌ اَ لَا اَرْقِيْكَ برُقْيَةِ رَسُوْلِ اللهِ (ﷺ) ؟ قَالَ بَلٰى، قَالَ اَللّٰهُمَّ رَبَّ النَّاسِ، مُذْهِبِ الْبَأسِ، اِشْفِ اَنْتَ الشَّافِيْ، لَاشَافِيَ اِلَّا اَنْتَ، شِفَاءً لَايُغَادِرُ سَقْمًا . (بُخَارِىْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الطِّبْ، بَابُ رُقْيَةِ النَّبِيِّ (ﷺ)، ص: ١٠١٤، نَمْبَرْ ٥٧٤٢)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَبْدُ الْعَزِيْزْ وَ فَرْمَائِلْ چي:- زَهْ او ثَابِتْ حضرت اَنَسْ ته راغلو، نو حضرت ثَابِتْ وويل، اىٔ اَبُوْحَمْزَهْ زَهْ مَرِيْضْ يم؟ نو حضرت اَنَسْ وَ فَرْمَائِلْ، حُضُوْرْ (ﷺ) چي كُوم تَعْوِيْذْ كړئ دئ زَهْ هغه تَعْوِيْذْ در نه كړم؟ نو ثَابِتْ وويل هُوْ! نو حضرت اَنَسْ دغه دُعَاءْ وَوَيل، [تَرْجَمَهْ يې دغه ده] اىٔ د اِنْسَانْ رَبَّ، تَكْلِيْفْ ليري كونكې، شِفَاءْ راكې، تَنْهَا ته شِفَاءْ وَركوُنكئ يې، ستا څخه بَغَيْرَهْ بَل شِفَاءْ وَركوُنكئ نَستَه، دارنګه شِفَاءْ چي هيڅ ډَول مَرَضْ (تر شَا) پرې نه اِږدِي .

په دغه حَدِيْثْ كي دئ چي صِرف اَللّٰهْ تَعَالٰى شِفَاءْ وَركوُنكئ دئ، لِهٰذَا صِرف دهغه څخه مَدَدْ غُوَښتَل په كار دئ .

## بيا د تَعْوِيْذْ كولو دُوې طَرِيقِيْ دي

[١] ..... يَوَه داده چي د تَعْوِيْذْ كلِمَاتِ پر ووائي پر مَرِيْضْ يې چُفْ كي، دا خو جَائِزْ ده، ځكه چي حُضُوْرْ (ﷺ) پر مَرِيْضْ باندي څَه وويل او دَمْ يې پر وكړئ.

[٢] ..... دُوَهَمْ دا چي د تَعْوِيْذْ كلِمَاتِ پر كاغَذْ وَليكي په غَارَهْ يا تر ګرْدِيْ يې وَتړِي، دغه صُوْرَتْ ډېر بِنَهْ نه دئ، ددې مُكمَّلْ تَفْصِيْلْ مَختَه رَاروَانْ دئ .

## حُضُوْرْ (ﷺ) د تَعْوِيْذْ كلِمَاتِ وَيلِي او پر مَرِيْضْ يې دَمْ كړئ دئ

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثُوْنَهْ دي

**۳: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اِذَا اشْتَكٰى مِنْ اِنْسَانٍ مَسَحَهُ بِيَمِيْنِهِ ثُمَّ قَالَ اِذْهَبِ الْبَأْسَ رَبَّ النَّاسِ وَ اشْفِ اَنْتَ الشَّافِيْ لَاشِفَاءَ اِلَّا شِفَائُكَ شِفَاءً لَايُغَادِرُ سَقْمًا .(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ السَّلَامْ، بَابُ اِسْتِحْبَاب رُقِيَّةِ الْمَرِيْضِ، ص: ۹۷۲، نَمْبَرْ ۲۱۹۱/ ۵۷۰۷)**

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَائِشَهْ فَرْمَائي چي:- چي يَو كس به مَرِيْضْ سو نو حُضُوْرْ (ﷺ) به خپل ښئ لَاسْ پر هغه تېراوَئ، بيا به وويل، ائ د اِنْسَانَانُوْ رَبَّ، تَكْلِيْفْ لِيرې كې، او شِفَاءْ وركې، تَنْهَا ته شِفَاءْ وركونكئ يې، صِرف ستا شِفَاءْ سته، دارنګه شِفَاءْ چي هيڅ ډَول بِيْمَارِيْ (تر شَا) نه پرېږ اِږدِي .

**۴: عَنْ عَبْدِ الْعَزِيْزْ قَالَ دَخَلْتُ اَنَا وَ ثَابِتٌ عَلٰى اَنَسِ بنِ مَالِكٍ، فَقَالَ ثَابِتٌ:- يَا اَبَا حَمْزَةَ اِشْتَكَيْتُ، فَقَالَ اَنَسٌ اَ لَا اَرْقِيْكَ بِرُقِيَّةِ رَسُوْلِ اللهِ (ﷺ) ؟ قَالَ بَلٰى، قَالَ اَللّٰهُمَّ رَبَّ النَّاسِ، مُذْهِبَ الْبَأْسِ، اِشْفِ اَنْتَ الشَّافِيْ، لَاشَافِيَ اِلَّا اَنْتَ، شِفَاءً لَايُغَادِرُ سَقْمًا . (بُخَارِيْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الطِّبْ، بَابُ رُقِيَّةِ النَّبِيِّ (ﷺ)، ص: ۱۰۱۴، نَمْبَرْ ۵۷۴۲)**

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَبْدُ الْعَزِيْزْ وَ فَرْمَائِلْ چي:- زَهْ او ثَابِتْ حضرت اَنَسْ ته راغلو، نو حضرت ثَابِتْ وويل، ائ اَبُوْحَمْزَهْ زَهْ مَرِيْضْ يَم؟ نو حضرت اَنَسْ وَ فَرْمَائِلْ، حُضُوْرْ (ﷺ) چي كُوم تَعْوِيْذْ كړئ دئ زَهْ هغه تَعْوِيْذْ در نه كړم؟ نو ثَابِتْ وويل هُوْ! نو حضرت اَنَسْ دغه دُعَاءْ وَوَيل، [تَرْجَمَهْ يې دغه ده] ائ د اِنْسَانْ رَبَّ، تَكْلِيْفْ ليري كونكې، شِفَاءْ راكې، تَنْهَا ته شِفَاءْ وَركُونكئ يې، ستا څخه بِغَيْرَهْ بَل شِفَاءْ وَركُونكئ نَسته، دارنګه شِفَاءْ چي هيڅ ډَول مَرَضْ (تر شَا) پرېږ نه اِږدِي .

كله به آيَتْ ووايئ او دَمْ به يې پر كاوئ، دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

**۵: عَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) خَيْرُ الدَّوَاءِ اَلْقُرْاٰنُ .**

**(اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الطِّبِّ، بَابُ الْاِسْتِشْفَاءِ بِالْقُرْاٰنِ، ص: ۵۰۹، نَمْبَرْ ۳۵۳۳)**

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- قُرْآنْ بِهْتَرِيْنَ دَوَاءْ ده .

**۶: عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ النَّبِيَّ (ﷺ) كَانَ يَنْفُثُ عَلٰى نَفْسِهِ فِيْ مَرَضِهِ الَّذِيْ قُبِضَ فِيْهِ بِالْمُعَوَّذَاتِ . (بُخَارِيْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الطِّبِّ، بَابُ الْمَرْأَةِ تَرْقِى الرَّجُلَ، ص: ۱۰۱۵، نَمْبَرْ ۵۷۵۱)**

تَرْجَمَهْ:- په كُوم مَرَضْ كي چي حُضُوْرْ (ﷺ) وَفَاتْ سو، په هغه كي حُضُوْرْ پر خپل ځَانْ باندي قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقْ او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسْ وَايَه او بيا به يې چُفْ كاوه .

**۷: عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ النَّبِيَّ (ﷺ) كَانَ يَنْفُثُ فِى الرُّقِيَّةِ .**

**(بُخَارِيْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الطِّبِّ، بَابُ الْمَرْأَةُ تَرْقِى الرَّجُلَ، ص: ۱۰۱۵، نَمْبَرْ ۵۷۵۱)**

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) به په تَعْوِيْذْ كي دَمْ كاوئ (يعني تَعْوِيْذْ به وَركاوئ، او دغه د تَعْوِيْذْ په ذَرِيْعَهْ سره به يې دَمْ وَركاوئ) .
ددغه حَدِيْثُوْ څخه درې خَبَرِيْ مَعلُومِ سوې .
[۱] ..... يَوَهْ خَبَرَهْ خو دا چي د آيَتْ او حَدِيْثْ په اَلْفَاظُوْ سره تَعْوِيْذْ كول جَائِزْ دئ .
[۲] ..... دُوهَمَّهْ خَبَرَهْ دا چي په تَعْوِيْذَاتُ كي به صِرف د اَللّٰهْ څخه مَدَدْ غُوَښتَل كيږي، هغه شِفَاءْ وَركونكئ دئ، د بَل چَا څخه په هيڅ صُوْرَتْ كي شِفَاءْ غُوَښتَل جَوَازْ نَه لري، كله نَا كله هغه په شِرْكْ كي شُمَارْ وي .
[۳] ..... او دَرِيَمَّهْ خَبَرَهْ دا چي اَلْفَاظْ ووائي او پر چُفْ كِي نو دا جَائِزْ دئ .

## د لِبوَنْتُوْبْ د ليري كولو لپاره په حَدِيْثْ كي دغه دُعَا راغلې ده

حُضُوْرْ (ﷺ) دغه آيَتُوْنَهْ وويل او پر يَاگَلْ (لِبوَنِيْ) يې چُفْ كړل، او هغه جُوړ سو، حَدِيْثْ دغه دئ

۸: عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنَ بن اَبِيْ لَيْلٰى عَنْ اَبِيْهِ اَبِيْ لَيْلٰى قَالَ كُنْتُ جَالِسًا عِنْدَ النَّبِيِّ (ﷺ) اِذْ جَاءَ اَعْرَابِيٌّ ، فَقَالَ اِنَّ لِيْ اَخًا وَجِعًا قَالَ مَا وَجْعُ اَخِيْكَ؟ قَالَ بِه لَمَمٌ، قَالَ اِذْهَبْ فَأْتِنِيْ بِه قَالَ فَذَهَبَ فَجَاءَ بِه فَاَجْلَسَهُ بَيْنَ يَدَيْهِ فَسَمِعْتُهُ عَوْذُهُ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَ اَرْبَعَ اٰيَاتٍ مِّنْ اَوَّلِ الْبَقَرَةِ وَ اٰيَتَيْنِ مِنْ وَّسْطِهَا [وَ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ] (آيَتْ ۱۶۳سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ۲) وَ اٰيَةَ الْكُرْسِيِّ وَثَلَاثَ اٰيَاتٍ مِّنْ خَاتِمَتِهَا وَ اٰيَةً مِّنْ آلِ عِمْرَانَ اَحْسِبُهُ قَالَ [شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّه لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ] وَ اٰيَةً مِّنَ الْاَعْرَافِ [اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ] (آيَتْ ۵۴، سُوْرَةُ الْاَعْرَافْ ۷) وَ اٰيَةً مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ [وَمَنْ يَّدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ لَابُرْهَانَ لَه بِه] (آيَتْ ۱۱۷، سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْنَ ۲۳) وَ اٰيَةً مِّنَ الْجِنِّ [وَ اَنَّه تَعَالٰى جَدُّ رَبِّنَا] ( آيَتْ ۳، سُوْرَةُ الْجِنْ ۷۲) وَ عَشْرَةَ اٰيَاتٍ مِّنْ اَوَّلِ الصَّافَّاتِ وَ ثَلَاثَ اٰيَاتٍ مِّنْ اٰخِرِ الْحَشْرِ، وَ [قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ] ( آيَتْ ۱، سُوْرَةُ الْاِخْلَاصْ ۱۱۲) وَ الْمُعَوَّذَتَيْنِ، فَقَامَ الْاَعْرَابِيُّ قَدْ بَرَأَ، لَيْسَ بِه بَأْسٌ .

(اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الطِّبْ، بَابُ الْفَزْعِ وَالْاَرَقِ وَمَا يَتَعَوَّذُ بِه مِنْهُ، ص: ۵۱۱، نَمْبَرْ ۳۵۴۹)

تَرْجَمَهْ:- حضرت اَبُوْلَيْلٰى فَرْمَائي چي:- زَهْ د حُضُوْرْ (ﷺ) سره نَاسْتْ وَم، يَو صَحْرَايِي (كس) راغلئ او وويل چي زَمَا وُرُوْرْ يَو خَه تَكْلِيْفْ لري، حُضُوْرْ (ﷺ) پُوْښتَنَهْ وكړه چي ستا وُرُوْرْ خَه تَكْلِيْفْ لري؟ صَحْرَايِي وويل چي د لِبُوْنْتُوْبْ يَو خَه اَثَرْ پر سته، حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- هغه مَا ته رَاوَلئ، صَحْرَايِي وُلاَړئ هغه يې رَاوَستئ، هغه يې د حُضُوْرْ (ﷺ) په مَخكي كي كښېناوَئ، نو مَا وَاوْرېدَل چي دده په دغه آيتُوْ سره يې تَعْوِيْذْ (دَمْ و چُفْ) كاوَئ، سُوْرَةُ الْفَاتِحَهْ يې وويل، او د سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ خخه خلور آيتُوْنَهْ وويل، او دهغه د مَابيْنْ خخه يې [وَ اِلٰـهُكُمْ اِلٰـهٌ وَّاحِدٌ] (آيَتْ ۱۶۳، سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ۲) وواِيَه، او آيَةُ الْكُرْسِيْ يې وويل، او د سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ د آخِرْ خخه درې آيتُوْنَهْ وويل، او د سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ خخه يَو آيَتْ وواِيَه، زَمَا دا خَيَالْ دئ چي:- [شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّه لَآ اِلٰـهَ اِلَّا هُوَ] يې وواِيَه، او د سُوْرَةُ الْاَعْرَافْ [اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ] وواِيَه، او د سُوْرَةُ الْمُؤْمِنِيْنْ خخه يَو آيَتْ [وَمَنْ يَّدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰـهًا اٰخَرَ لَابُرْهَانَ لَه بِه] وواِيَه، او يَو آيَتْ يې د سُوْرَةُ الْجِنْ خخه [وَ اَنَّه تَعَالٰى جَدُّ رَبِّنَا] وواِيَه، او د سُوْرَةُ الصَّافَّاتْ د شروع خخه لَسْ آيتُوْنَهْ وويل، او د سُوْرَةُ الْحَشْرْ د آخِرْ خخه درې آيتُوْنَهْ وويل، او سُوْرَةُ الْاِخْلَاصْ [قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ] يې وواِيَه، او سُوْرَةِ قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقْ، او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسْ يې وويل دَمْ يې پر وكئ، نو چي ګُورُو هغه لېونَئ بِالْكُلْ رُوْغْ رَمَتْ سوئ وُو، هيڅ ډَوَل مَرَضْ يې هم نَه دَرلُودَئ .

په دغه حَدِيْثْ كي دئ چي حُضُوْرْ (ﷺ) دُومرَه زِيَاتْ آيتُوْنَهْ وويل او دَمْ يې پر وكئ دهغه يَاكَلْ (لېونِئ) عِلَاجْ يې وكئ، او هغه جُوړ هم سو، دغه خو حَقِيْقَتْ دئ ليكن په مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ كي د يَاكَلْ په عِلَاجْ كي دغه ذَهِيْنَ خلګو لُوْټْ مَارْ هم ډېر كړئ دئ، ددې خخه لَرْ په اِحْتِيَاطْ وسېږئ .

## [۲] ..... دُوَهَمْ دا چي آيَتْ يا حَدِيْثْ لِيكل او په غَاړَهْ ځړَوَل

عَرَبُوْ به تَكَّهْ يا غَتْ اَنَكْئ (چي اُوس يې رِوَاجْ خَتْمْ سوئ دئ) په سِيْنْسِيْ وَپيمدَئ، غَاړكِي به ځيني جوړه كړه، او وَ مَرِيْضْ ته به وَر په غَاړَهْ كړه، او كله نَا كله به د اَللّٰهْ خخه عَلَاوَهْ د پيرِئ، شَيْطَانْ او دِيْوْ مِيْوْ خخه مَدَدْ هم غُوښتَئ، د غَتْ اَنَكْيَانُوْ يا تَكُّوْ وَ دغه رنګه غَاړكِئ ته تَمِيْمَهْ وَيَل كيږي، حُضُوْرْ (ﷺ) دغه رنګه تَمِيْمَهْ ته شِرْكْ وَيَلِي دي .

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

۹:- عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ (ﷺ) يَقُوْلُ اِنَّ الرُّقٰى وَالتَّمَائِمَ وَالتَّوْلَةَ شِرْكٌ .

(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الطِّبِّ، بَابٌ فِىْ تَعْلِيْقِ التَّمَائِمِ، ص: ۵۵۲، نَمْبَرْ ۳۸۸۳ / اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الطِّبِّ، بَابُ تَعْلِيْقِ التَّمَائِمِ، ص: ۵۰۸، نَمْبَرْ ۳۵۳۰)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- د جَادُوْ لپاره دَمْ چُفْ کول، تَعْوِيْذُوْنَه (يعني شِرْکِيَّهْ تَعْوِيْذُوْنَهْ، چي دغه شِنِي دَاني، او د لَرْکَيْ خُوْشَاوْزَهْ او دغه رنګه نور هم په دي کي شَامِلْ دي. مُتَرْجِمْ) او کُوْډِيْ کول شِرْکْ دئ .

**۱۰: عَنْ عُقْبَةَ بِن عَامِرِ الْجُهَنِيِّ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) اَقْبَلَ اِلَيْهِ رَهْطٌ فَبَايَعَ تِسْعَةً وَ اَمْسَكَ عَنْ وَّاحِدٍ فَقَالُوْا يَارَسُوْلَ اللهِ بَايَعْتَ وَتَرَكْتَ هٰذَا؟ قَالَ اِنَّ عَلَيْهِ تَمِيْمَةً فَاَدْخَلَ يَدَهُ فَقَطَعَهَا فَبَايَعَهُ وَقَالَ مَنْ عَلَّقَ تَمِيْمَةً فَقَدْ اَشْرَكَ .**

(مُسْنَدِ اَحْمَدْ، بَابُ حَدِيْثِ عُقْبَةَ بِنِ عَامِرِ الْجُهَنِيِّ، ج: ۵، ص: ۱۵۶، نَمْبَرْ ۱۶۹۶۹)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عُقْبَهْ بِنِ عَامِرْ فَرْمَائي چي حُضُوْرْ (ﷺ) ته يو جَمَاعَتْ راغلئ، نو د نَهْ کسَانُوْ سره يې بَيْعَتْ وکئ او د يَوَه سره يې نَه وکئ، نو خلګو پُوْښْتَنَهْ وکړه چي: يَارَسُوْلَ اللهْ تَا د ټولو سره بَيْعَتْ وکئ او هغه يو دي پريښوئ! نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي پر هغه باندي د شِرْکِيَّهْ تَعْوِيْذُوْ غَاړکَيْ ځړېږي، هغه کسْ خپل لَاسْ (په غَاړَهْ کي) دَاخِلْ کئ او غَاړکَيْ يې دَبَاندي رَاوَيستَلَه، بيا حُضُوْرْ (ﷺ) بَيْعتْ وَر سره وکړئ، او دا رنګه يې وَفَرْمَائِلْ چي:- ګُوم چَا چي (د شِرْکِيَّهْ تَعْوِيْذُوْ) غَاړکَيْ وَځړول، نو ګُوَاکِه هغه شِرْکْ وکئ .

**۱۱: اِنَّ اِبْنَ مَسْعُوْدٍ کَانَ يَقُوْلُ کَانَ النَّبِيُّ (ﷺ) يَکْرَهُ عَشْرَ خِلَالٍ، وَالرُّقٰى اِلَّا بِالْمُعَوِّذَاتِ وَعَقْدَ التَّمَائِمِ .**

(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ، کِتَابُ الْخَاتَمِ، بَابُ مَاجَاءَ فِيْ خَاتَمِ الذَّهَبِ، ص: ۵۹۲، نَمْبَرْ ۴۲۲۲)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) لَسْ شِيَانْ (کارُوْنَهْ) نَه خُوښول ..... د قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقْ، او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسْ، څخه عَلَاوَهْ په بَل شِي سره تَعْوِيْذْ کول، او غَاړکَيْ ځړول (يعني دغه لَسْ کارُوْنَهْ يې نَاخُوْښَهْ ګڼل) .

## چي تَعْوِيْذْ نَه وَځړوي او صَبْرْ وکي نو دغه د تَقْوٰى اَعْلٰى دَرَجَهْ ده

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

**۱۲: عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا النَّبِيُّ (ﷺ) يَوْمًا ..... فَرَأَيْتُ سَوَادًا کَثِيْرًا سَدَّ الْاُفُقَ، فَقِيْلَ هٰؤُلَاءِ اُمَّتُكَ وَمَعَ هٰؤُلَاءِ سَبْعُوْنَ اَلْفًا يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ ..... فَقَالَ هُمُ الَّذِيْنَ لَايَتَطَيَّرُوْنَ وَ لَايَکْتَوُوْنَ وَ لَايَسْتَرْقُوْنَ وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَکَّلُوْنَ .**

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ، بَابُ مَنْ لَّمْ يَرْقِ، ص: ۱۰۱۶، نَمْبَرْ ۵۷۵۲)

**تَرْجَمَهْ**:- **حُضُوْرْ** (ﷺ) يوه **وُرَځْ** زمونږ مختـه **تَشْرِيْفْ** راوړئ ..... **حُضُوْرْ** (ﷺ) وَ **فَرْمَائِلْ** چي:- **مَا** يو **غَتْ جَمَاعَتْ** وَلِيدَئ چي **اُفَقْ** يې راګير کړئ وُو، **مَا** ته دا وويل سو چي دغه ستا **اُمَّتْ** دئ، ددې **اَوْيَا زِرَهْ كسَانْ** به **بَغَيْرْ حِسَابَ جَنَّتْ** ته **دَاخِلْ** سي ..... **حُضُوْرْ** (ﷺ) وَ **فَرْمَائِلْ** دا هغه خلک دي چي **بَدْفَالِيْ** نه اَخلي، **بَدَنْ** ته **دَاغُوْنَهْ** نه وَرکوِي، **تَعْوِيْذْ** نَه کوي، **تَنْهَا** پر خپل **رَبْ** باندي **تَوَكَّلْ** کوي .

**۲**: **وَ اِلَيْهِ يُرْجَعُ الْاَمْرُ كُلُّه فَاعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ**ط . (**آيَتْ ۱۲۳**، **سُوْرَةُ هُوْدْ ۱۱**) .

**تَرْجَمَهْ**:- او وهغه ته به ټولي **مَعَامَلي** وَاپَس رَاځي، **لِهٰذَا** (اې **پيْغَمْبَرَهْ!**) دهغه **عِبَادَتْ** کوه، او پر هغه باندي **بَرُوْسَهْ** ولره .

په دغه **آيَتْ** او **حَدِيْثْ** کې دا **تَرْغِيْبْ** ورکړئ دئ چي **تَعْوِيْذْ** مَه کوئ، او پر **اَللّٰهْ** باندي **بَرُوْسَهْ** وکئ نو دا ډېره **بِهْتَرَهْ خَبَرَهْ** ده، **حَقِيْقَتْ** دادئ چي په **مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ** کي **تَعْوِيْذْ** کونکي دغه **عَوَامْ** خلک ډېر **بيوُقُوْفْ** کړي دي، او ډېر **لُوْټْ مَارْ** يې جوړ کړئ دئ .

## که د **تَسَلِّيْ** لپاره يو **وَخْتْ تَعْوِيْذْ** وَځړوِي نو ددې هم **لَږْ** څَه **ګُنْجَائِشْ** سته

په **حَدِيْثْ** کې د **تَعْوِيْذْ** ځړوُلو څخه **مَنْعَ** کړې ده، لېکن د **صَحَابِيْ** او **تَابِعِيْ** د **قَوْلْ** او **عَمَلْ** څخه ددې **لَږْ** څَه **ګُنْجَائِشْ** ښکاره کيږي، **لِهٰذَا** که چيري کله نَا کله **تَعْوِيْذْ** وَځړاوَئ، او په دي کې هم **بَرُوْسَهْ** پر **اَللّٰهْ تَعَالٰي** باندي وکړه، چي په **تَعْوِيْذْ** سره هيڅ نَه کيږي، هر څَه صِرف د **اَللّٰهْ ذَاتْ** کوي نو بيا ددې **ګُنْجَائِشْ** سته، په دې سره **زړَهْ** ته **تَسَلِّيْ** مِلاوېږي .

د **تَعْوِيْذْ** په ځَړوُلو کي د **صَحَابِيْ عَمَلْ** دغه دئ

**۱۳**: **عَنْ عَمْرو بن شُعَيْب عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ** (ﷺ) **قَالَ**:- **اِذَا فَزِعَ اَحَدُكُمْ فِي النَّوْمِ فَلْيَقُلْ اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ غَضَبِه وَ عِقَابِه وَ شَرِّ عِبَادِه وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِيْنِ وَ اَنْ يَّحْضُرُوْنَ، فَاِنَّهَا لَنْ تَضُرُّهُ، قَالَ فَكَانَ عَبْدُ اللهِ بن عُمَرَ يُعَلِّمُهَا مَنْ بَلَغَ مِنْ وَّلَدِهِ، وَمَنْ لَّمْ يَبْلُغْ مِنْهُمْ كَتَبَهَا فِيْ صَكٍّ ثُمَّ عَلَّقَهَا فِيْ عُنُقِه** .

(**تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ**، **كِتَابُ الدَّعْوَاتْ**، **بَابُ دُعَاءِ الْفَزْعِ مِنَ النَّوْمِ**، **ص: ۸۰۴**، **نَمْبَرْ ۳۵۲۸**)

**تَرْجَمَهْ**:- **حُضُوْرْ** (ﷺ) وَ **فَرْمَائِلْ** چي:- که څوک په **خُوْبْ** کي **ګبْرَاوْ** سي (وَببرېږي) نو دغه دي ووائي:- **اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ غَضَبِه وَ عِقَابِه وَ شَرِّ عِبَادِه**

وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِيْنِ وَ اَنْ يَّحْضُرُوْنَ، ددغه دُعَا په وَيلُوْ سره به ده ته هيڅ نُقْصَانْ وَنه رسيږي .
رَاوِيْ وائي چي عَبْدُ اللّٰهْ بِنْ عُمَرْ به دغه دُعَا وَ خپل بَالِغْ اَوْلَادُوْ ته وَر اِزده کوله، او چي کُوم بَالِغْ نَه وُو، نو پر يَوَه کَاغَذْ به يې وَلِيکله او دهغه په غَاړَهْ به وَرځَړَوَله .

د تَابِعِيْ قَوْلْ دغه دئ

**۱۴: عَنْ عَطَاءَ قَالَ لَابَأْسَ اَنْ يُّعَلَّقَ الْقُرْاٰنَ .**

(مُصَنَّفِ اِبْنِ اَبِیْ شَيْبَةَ، ج: ۵، كِتَابُ الطِّبْ، بَابُ مَنْ رَخَّصَ فِیْ تَعْلِيْقِ التَّعَاوِيْذِ، ص: ۴۳، نَمْبَرْ ۲۳۵۴۰ / ۲۳۵۵۰)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَطَاءْ فَرْمَائي چي د قُرْآنْ څه حِصَّهْ (آيَتُوْنَهْ) د تَعْوِيْذْ په تُوګه وَځَړوِي نو هيڅ د حَرَجْ خَبَرَهْ نَه ده .

**۱۵: عَنْ الضَّحَّاكِ لَمْ يَكُنْ بَأْسًا اَنْ يُّعَلَّقَ الرَّجُلُ الشَّیْءَ مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ اِذَا وَضَعَهُ عِنْدَ الْغُسْلِ وَ عِنْدَ الْغَائِطِ .**

(مُصَنَّفِ اِبْنِ اَبِیْ شَيْبَةَ، ج: ۵، كِتَابُ الطِّبْ، بَابُ مَنْ رَخَّصَ فِیْ تَعْلِيْقِ التَّعَاوِيْذِ، ص: ۴۳، نَمْبَرْ ۲۳۵۴۲ / ۲۳۵۵۲)

تَرْجَمَهْ:- حضرت ضَحَّاكْ فَرْمَائي چي يَوځوک د قُرْآنْ څه شَئ (آيَتُوْنَهْ) د تَعْوِيْذْ په تُوګه وَځَړوِي نو په دي کي هيڅ حَرَجْ نَستَه، په دې شَرْطْ چي د غُسْلْ پر وَخْتْ او د يَاخَانَي (غُوْلْ او مِچَاڑُوْ) پر وَخْتْ يې وَکاږي جَلَا يې کښېږدي .

**۱۶: عَنْ يُوْنُسَ بِنِ خَبَّابٍ قَالَ سَأَلْتُ اَبَا جَعْفَرَ عَنِ التَّعْوِيْذِ يُعَلَّقُ عَلَى الصِّبْيَانِ، فَرَخَّصَ فِيْهِ .**

(مُصَنَّفِ اِبْنِ اَبِیْ شَيْبَةَ، ج: ۵،كِتَابُ الطِّبْ، بَابُ مَنْ رَخَّصَ فِیْ تَعْلِيْقِ التَّعَاوِيْذِ، ص: ۴۳، نَمْبَرْ ۲۳۵۵۱)

تَرْجَمَهْ:- حضرت يُوْنُسْ فَرْمَائي چي مَا پر كِشْنِيَانُوْ باندي كُوم تَعْوِيْذُوْنَهْ ځَړوَلي وُو دهغه په اړه مِي د حضرت اَبُوْ جَعْفَرْ څخه پُوْښْتَنَهْ وکړه، نو هغه ددې اِجَازَتْ راکئ .
په حَدِيْثْ کي خو د تَعْوِيْذْ ځړولو څخه مَنْعَ راغلي ده، اَلْبَتَّهْ چي هغه وائي او پر چُفْ کي نو دا جَائِزْ دئ، مګر ددغه تَابِعِيْ د قَوْلْ څخه مَعلُومېږي چي د تَعْوِيْذْ ځړولو څَه نَا څَه گُنْجَائِشْ سته، لېکن دغه دي خپله دَنْدَهْ او كَارْ و بَارْ نَه جوړوي .

## د تَعْوِيْذْ لپاره د شُكْرَانَهْ اَخستَلُو لَرْ خَه گُنْجَائِشْ ستـه

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

۱۷: عَنْ اَبیْ سَعِيْدِ الْخُدْرِیّ اَنَّ نَاسًا مِنْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ (ﷺ) كَانُوْا فِیْ سَفَرٍ فَمَرُّوْا بِحَیٍّ مِّنْ اَحْيَاءِ الْعَرَبِ ..... فَاَتَاهُ فَرَقَّاهُ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فَبَرَأَ الرَّجُلُ فَاَعْطٰی قَطِيْعًا مِّنْ غَنَمٍ ..... ثُمَّ قَالَ خُذُوْا مِنْهُمْ وَ اضْرِبُوْا لِیْ بِسَهْمٍ مَّعَكُمْ .

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ السَّلَامْ، بَابُ جَوَازِ اَخْذِ الْاُجْرَةِ عَلَی الرُّقْيَّـةِ بِـالْقُرْاٰنِ وَالْاَذْكَـارِ، صِ: ۹۷۵، نَمْبَرْ ۲۲۰۱/ ۵۷۳۳/ بُخَارِیْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الطِّبِّ، بَابُ الرُّقٰی بِفَاتِحَـةِ الْكِتَـابِ، صِ: ۱۰۱۳، نَمْبَرْ ۵۷۳۶)

تَرْجَمَهْ:- د حُضُوْرْ (ﷺ) څه اَصْحَابَانْ په سَفَرْ کي وُو، ذُوي د يَوَه عَرَبُوْ د كِلِـيْ سره رَاتېر سو ..... سرئ مَرِيْضْ ته راغلئ او سُوْرَةُ الْفَاتِحَهْ يې وويل او جُفْ يې كړل، چي دهغه لكبله مَرِيْضْ جُوړ سو، او هغه څـو وُزِی (بُـوزې) وركـړې ..... حُضُـوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ دده څخه بُوزِی (وُزې) وَاخلَئ، او په هغه كي زَمَا بَرْخَهْ (حِصَّهْ) هم كښېږ دئ . ددغه حَدِيْثْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي كله نَا كله كه د تَعْوِيْذْ خَه پيسې وَاخسـتې نـو ددې هم گُنْجَائِشْ ستـه .

## لېكن تَعْوِيْذُوْنَهْ خپل كَارْ و بَارْ گرزول بِنَهْ كَارْ نَه دئ

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثُوْنَهْ دي

۱۸: عَنْ عُبَـادَةَ بِـنِ الصَّـامِتِ قَـالَ عَلَّـمْـتُ نَاسًـا مِّـنْ اَهْلِ الصُّفَّةِ الْقُرْاٰنَ وَالْكِتَابَةَ فَاَهْدٰی اِلَیَّ رَجُلٌ مِّـنْهُمْ قَوْسًـا فَقُلْـتُ لَيْسَـتْ بِمَـالٍ وَ اَرْمِـیْ عَنْهَـا فِیْ سَبِيْلِ اللهِ، فَسَأَلْتُ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) عَنْهَا فَقَالَ:- اِنْ سَرَّكَ اَنْ تَطَـوَّقَ بِهَـا طَوْقًـا مِّنْ نَّارٍ فَاقْبَلْهَا .

(اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ،كِتَابُ التِّجَارَاتِ، بَابُ الْاَجْرِ عَلٰی تَعْلِيْمِ الْقُرْاٰنِ، صِ: ۳۱۰، نَمْبَرْ ۲۱۵۷)

تَرْجَمَهْ:- د حضرت عُبَادَهْ بِنِ صَامِتْ څخه رِوَايَتْ دئ:- ده وَ فَرْمَائِلْ چي مَا د صُفَّهْ و څه كسَانُوْ ته قُرْآنْ او خَطْ وَر اِزدَه كئ، نو د هغوي څخه يَوَه و مَا ته لِيْنْدَهْ په هَدْيَهْ كي رَاكړه، مَا په زړَهْ كي وويل چي دا مَالْ نَه دئ، زَهْ به ددې په ذَرِيْعَـهْ سره دَاللهْ پـه لَارَهْ كي غَشِي تَسَه وَمَّه، مَا ددې په اړه د حُضُوْرْ (ﷺ) څخـه پُوْښْـتَنَهْ وكـړه، نـو حُضُـوْرْ وَ فَرْمَائِلْ چي: كه تَه په دې سره رَاضِيْ يې چي د اُوْرْ (وُوْرْ) طَوْقْ (غَاړَگِيْ) په غَاړَهْ كې نو بيا خو دغه هَدْيَهْ قَبُوْلْ كه .

**١٩: عَنْ اُبَیْ بن كَعْبٍ قَالَ عَلَّمْتُ رَجُلًا اَلْقُرْاٰنَ فَاَهْدٰی اِلَیَّ قَوْسًا، فَذَكَرْتُ ذَالِكَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ (ﷺ)، فَقَالَ اِنْ اَخَذْتَهَا اَخَذْتَ قَوْسًا مِّنْ نَّارٍ، فَرَدَدْتُّهَا .**
(اِبْنِ مَاجَهْ شَرِیْفْ،كِتَابُ التِّجَارَاتِ، بَابُ الْاَجْرِ عَلٰی تَعْلِیْمِ الْقُرْاٰنِ، ص: ٣١٠، نَمْبَرْ ٢١٥٨)
**تَرْجَمَهْ**:- حضرت اُبَیْ بن كَعْبْ فَرْمَائی چي مَا وَ یَوه سړي ته قُرْآنْ وَر اِزْدَهْ کړ، نو هغه وَ مَا ته یَوه لِیْنْدَهْ په هَدْیَهْ کي راکړه، مَا وَ حُضُوْرْ (ﷺ) ته دهغه تَذْکِرَهْ وکړه، نو حُضُوْرْ وَ فَرْمَائِلْ که چیري تَا هغه وَاخَستَه نو ګواکِه د اُوْرْ (وُوْرْ) یَوه لِیْنْدَهْ دي وَاخَستَه، نو بیا مَا هغه وَاپَس کړه .
یعني د قُرْآنْ د دَرْسْ ورکولو په بَدْلَهْ کي د غَشِيْ (یا لِیْنْدَهْ) اَخستَل دارنګه ده لکه د اُوْرْ اَخستَل چي وي، نو ځکه د تَعْوِیْذْ په بَدْلَهْ کي د پَیسُو اَخستُلو دَنْدَهْ جوړول ښَهْ کارْ نَه دئ .

## په دغه حَدِیْثْ کي دئ چي د دَوَا اِسْتِعْمَالْ جَائِزْ دئ

د مَرَضْ لپاره دَوَا کول او عِلَاجْ کول سُنَّتْ دئ
**٢٠: عَنْ جَابِرَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ (ﷺ) اَنَّهُ قَالَ لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءٌ فَاِذَا اُصِیْبَ دَوَاءُ الدَّاءَ بَرَأَ بِاِذْنِ اللّٰهِ تَعَالٰی .**
(مُسْلِمْ شَرِیْفْ،كِتَابُ السَّلَامْ،بَابُ لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءٌ وَ اِسْتِحْبَابُ التَّدَاوِيْ،ص: ٩٧٧، نَمْبَرْ ٢٢٠٤/ ٥٧٤١)
**تَرْجَمَهْ**:- د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه رِوَایَتْ دئ چي:- د هر مَرَضْ دَوَا سته، که چیري د بِیْمَارِيْ صَحِیْحْ دَوَا مِلاوْ سي نو د اَللّٰهْ په حُكْمْ سره هغه بِیْمَارِيْ صَحِیْحْ (خَتْمْ) سي .

**[٢]** ..... په تَعْوِیْذْ یا مَنْتَرْ کي د اَللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ مَدَدْ غُوَښتَل سوئ وي نو دغه بیا حَرَامْ دئ .
**[٣]** ..... په تَعْوِیْذْ یا مَنْتَرْ کي دغه رنګه اَلْفَاظْ اِسْتِعْمَالْ سوي وي چي مَعْنٰی یې نَه وي مَعْلُوْمَ، نو کېدلائي سي چي په دغه کي دي د اَللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ مَدَدْ غُوَښتَل سوئ وي نو دغه هم جَوَازْ نَه لري، ځکه چي د اَللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ مَدَدْ غُوَښتَل جَوَازْ نَه لري .
غَیْرِ مُسْلِمْ چي کُوم مَنْتَرْ کوي هغه عُمُوْمًا د خپلو دِیْوِيْ دِیْوْتَا څخه مَدَدْ غُوَاړي، او په هغه کي شِرْکِیَّهْ کَلِمَاتِ وي، نو ځکه د هِنْدُوَانُوْ او دغه رنګه نورو غَیْرِ مُسْلِمِیْنُ څخه جَنْتَرْ مَنْتَرْ (تَعْوِیْذْ) کول په کار نَه دئ .

ددغه دواړو لپاره دَلِيْلْ دغه حَدِيْثْ دئ

۲۱: عَنْ عَوْفِ بن مَالِكِ الْاَشْجَعِيّ قَالَ كُنَّا نَرْقٰى فِى الْجَاهِلِيَّةِ، فَقُلْنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! كَيْفَ تَرٰى فِيْ ذَالِكَ؟ فَقَالَ اَعْرِضُوْا عَلَيَّ رُقَاكُمْ، لَابَأْسَ بِالرُّقٰى مَالَمْ يَكُنْ فِيْهِ شِرْكٌ .

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ السَّلَامْ، بَابٌ لَابَأْسَ بِالرُّقٰى مَالَمْ يَكُنْ فِيْهِ شِرْكٌ، ص: ۹۷۵، نَمْبَرْ ۲۲۰۰/ ۵۷۳۲)

تَرْجَمَهْ:- عَوْفْ بِنِ مَالِكْ فَرْمَائِي چي:- مُوږ په زَمَانَهْ جَاهِلِيَّتْ كي دَمْ چُفْ كاوئ، مَا وويل يَارَسُوْلَ اللّٰهْ په دې اړه ستا څه فَرْمَانْ دئ؟ نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- خپل دَمْ چُفْ (تَعْوِيْذْ) مَا ته وُړَانْدِې كئ، بيا حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ كه چيري په هغه كي شِرْكْ نَه وي نو په تَعْوِيْذْ (دَمْ و چُفْ) كي هيڅ حَرَجْ نَستَه .

ددغه حَدِيْثْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي په شِرْكِيَّهْ كَلِمَاتُ سره دَمْ و چُفْ كول جَوَازْ نَه لري، اَلْبَتَّهْ كه د اَللّٰهْ څخه مَدَدْ غُوښتَل سوئ وي، نو دهغه تَعْوِيْذْ په لُوَستَلُو كي هيڅ حَرَجْ نَستَه .

## [۴] ..... چي بَدْ نَظَرْ وَرتَه لګيدَلَئ وي .

چي يَو چَا ته د بَل چَا نَظَرْ لَګيدَلَئ وي چي دهغه لګبله هغه كس ته نُقْصَانْ وَرَسيږي، دا حَقْ دئ .

د كُوم چَا چي نَظَرْ لګيږي، په هغه كي ددغه كس خپل اِخْتِيَارْ نَه وي، په خپله بې اِخْتِيَارَ دده نَظَرْ لګيږي، نو ځكه هغه ته چَيْ و رَيْ وَيَل په كار نَه دئ، ځكه چي دده قُصُوْرْ نَستَه .

د كُوم چَا چي نَظَرْ لَګيږي، هغه ته په كار دئ چي كله يَو عَجِيْبَ شَئ وَوِينِي نو ,, مَاشَاءَ اللّٰهْ ,, دي ووائي، ددغه په وَيَلُو سره بيا دده نَظَرْ نَه لګيږي .

ددې عِلَاجْ دادئ چي د كُوم چَا نَظَرْ لګيدَلَئ وي هغه ته دي غُسْلْ وَركِي، او هغه اُوْبَهْ دي پر مَرِيْضْ باندي وَاچَوِي، نو ددې څخه به بَدْنَظَرْ خَتم سي .

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

۲۲: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ (ﷺ) قَالَ اَلْعَيْنُ حَقٌّ .

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الطِّبْ، بَابُ اَلْعَيْنُ حَقٌّ، ص: ۱۰۱۴، نَمْبَرْ ۵۷۴۰)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- نَظَرْ لَګيدَل (يعني نَظَرْ كبدل) حَقْ دئ .

۲۳: عَنْ اَبْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ (ﷺ) قَالَ اَلْعَيْنُ حَقٌّ، وَلَوْكَانَ شَيْءٌ سَابَقَ الْقَدْرَ سَبَقَتْهُ الْعَيْنُ، وَ اِذَا اِسْتُغْسِلْتُمْ فَاغْسِلُوْا .

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ السَّلَامْ، بَابُ الطِّبِّ وَالْمَرَضِ وَالرُّقٰى، ص: ۹۷۱، نَمْبَرْ ۲۱۸۸ / ۵۷۰۲)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- نَظَرْ لګېدَل (يعني نَظَرْ کېدل) حَقْ دئ، که چيري يَو شَئ تر تَقْدِيْرْ مَخته تللائي سي، نو نَظَرْ لګېدَل مَخته تللائي سي، که تاسو ته څوک ووائي چي غُسْلْ وکئ، نو بيا خو غُسْلْ کوئ .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي د کُوم چَا نَظَرْ پر لګېدَلَئ وي، که وَ هغه ته څوک د غُسْلْ لپاره ووائي نو هغه بَايَدْ چي غُسْلْ وکي .

## [۵] ..... جَادُوْ ... دغه خو بِالْکُلْ حَرَامْ دئ .

دَلِيْلْ يې دغه آيَتْ دئ

۳: وَمَا كَفَرَ سُلَيْمٰنُ وَلٰكِنَّ الشَّيٰطِيْنَ كَفَرُوْا يُعَلِّمُوْنَ النَّاسَ السِّحْرَ ق .

(آيَتْ ۱۰۲، سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲) .

تَرْجَمَهْ:- او سُلَيْمَانْ (عَلَيْهِ السَّلَامْ) هيڅ کُفْرْ نَه وُ کړئ، اَلْبَتَّهْ شَيْطَانَانُوْ خلکو ته د جَادُوْ د تَعْلِيْمْ په ورکولو سره د کُفْرْ اِرْتِکابْ (جِنَايَتْ) کاوئ .

په دغه آيَتْ کي دئ چي جَادُوْ کول خو کُفْرْ دئ .

۲۴: عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رضی اللہ عنہ عَنِ النَّبِىِّ (ﷺ) قَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) قَالَ اِجْتَنِبُوْا السَّبْعَ الْمُوْبِقَاتِ، قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ مَاهُنَّ؟ قَالَ اَلشِّرْكُ بِاللهِ، وَالسِّحْرُ، وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِىْ حَرَّمَ اللهُ اِلَّا بِالْحَقِّ .

(بُخَارِىْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْوَصَايَا، بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالٰى، اِنَّ الَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ الْيَتٰمٰى ظُلْمًا، ص:۴۵۸، نَمْبَرْ ۲۷۶۶ /مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْاِيْمَانْ،بَابُ الْكَبَائِرِ وَ اَكْبَرُهَا، ص:۵۳،نَمْبَرْ ۸۹، ۲۶۲)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي د اُوَهْ هَلَاکْ کونکو ګُنَاهُوْ څخه ځانونه وَسَاتَئ، خلکو يُوْښْتَنَهْ وکړه هغه کُومي دي؟ وَ فَرْمَائِلْ چي:- د اَللهْ سره شِرْکْ کول، جَادُوْ کول، اَللهْ چي کُوم نَفْسْ حَرَامْ (مُحْتَرَمْ/ مَحْفُوْظْ) ګرزوَلئ دئ هغه وَژَلْ. اَلْبَتَّهْ چي د کُوم نَفْسْ د وَژْلُوْ حَقْ دئ (هغه بيا ببله خَبَرَهْ ده) .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي جَادُوْ کول ګُنَاهِ کبِيْرَهْ ده .

## جَادُوْ خپل يَو حَقِيْقَتْ لري

په دغه آيَتْ کې بَيَانْ سوئ دئ

۴: فَاِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ اِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ اَنَّهَا تَسْعٰى

(آیَتْ ۶۶، سُوْرَۃُ طٰهٰ ۲۰)

تَرْجَمَهْ:- بَس بیا چي ګُورې نَاګهَانَ د دُوي (تَسِي کړي) رَسِیَانِیْ او لَکړِیْ د دُوي د جَادُوْ په نَتِیْجَهْ کي مُوْسٰي ته دارنګه مَحْسُوْسَهْ سوې لکه هغه چي مَنډِي وَهِي

۲۵: عَنْ عَائِشَةَ، اَنَّ النَّبِيَّ (ﷺ) سُحِرَ حَتّٰى كَانَ يُخَيَّلُ اِلَيْهِ اَنَّهُ صَنَعَ شَيْئًا وَلَمْ يَصْنَعْهُ .

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْجِزْيَةِ وَالْمُوَادَعَةِ، بَابُ هَلْ يُعْفٰى عَنِ الذِّمِّيْ اِذَا سَحَرَ، ص:۵۲۹،نَمْبَرْ ۳۱۷۵)

تَرْجَمَهْ:- پر حُضُوْرْ (ﷺ) یې جَادُوْ وکړئ، چي دهغه لکبله به دده دا خِیَالْ سو چي فُلَانِیْ کارْ مِي کړئ دئ، حَالَانْکِهْ هغه کارْ به حُضُوْرْ (ﷺ) نَه وُ کړئ .

۲۶: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَحَرَ رَسُوْلَ اللّٰهِ (ﷺ) يَهُوْدِيٌّ مِّنْ يَهُوْدِ بَنِيْ زُرَيْقٍ يُقَالُ لَهُ لَبِيْدُ بِنِ الْاَعْصَمِ، قَالَتْ:- حَتّٰى كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) يُخَيَّلُ اِلَيْهِ اَنَّهُ يَفْعَلُ الشَّيْءَ وَمَا يَفْعَلُهُ . (مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ السَّلَامْ، بَابُ السِّحْرِ، ص:۹۷۱، نَمْبَرْ ۲۱۸۹ / ۵۷۰۳)

تَرْجَمَهْ:- د بَنُوْ زَرِیْقْ یَوه یَهُوْدِیْ پر حُضُوْرْ (ﷺ) باندي جَادُوْ وکړئ، دهغه نُوم لَبِیْدْ بِن اَعْصَمْ وُو، حضرت عَائِشَهْ فَرْمَائي چي:- د حُضُوْرْ (ﷺ) دارنګه حَالْ سو چي دده به دا خِیَالْ سو چي فُلَانِیْ کارْ یې کړئ دئ، حَالَانْکِهْ هغه کارْ به ده نَه وُو کړئ .

ددغه حَدِیْثْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي جَادُوْ یَو خپل حَقِیْقَتْ لري، او پر حُضُوْرْ باندي هم دهغه اَثَرْ سوئ وُو، لېکن نَنْ سَبَا هر تَعْوِیْذْ ګرْ چي د جَادُوْ یا د پیریْ د اَثَرْ خَبَرَهْ کوي، هغه اَکْثَرَهْ دَرْوَاغْ وي .

## [۶] ..... عَرَّافْ چي دا دَعْوَهْ کوي

بعض خلګ دا دَعْوَهْ کوي چي زَهْ په غَیْبُ خَبَرْ یَم، او بعض خلګ بیا صَفَا صَفَا خو نَه وائي، لېکن دغه تَاثُّرْ ورکوي چي زَهْ د مَرِیْضْ په اړه مُکَمَّلْ خَبَرْ یَم، دغه رنګه خلګو ته عَرَّافْ وَیَل کیږي، یعني ډېر زِیَاتْ خَبَرْدَارَهْ .

اَکْثَرَهْ دارنګه کیږي چي ګُوم ځَا د تَعْوِیْذُوْ دُکَانْ خَلَاسْ کړئ نَاستْ وي هغه وَ رَاتلُونکو خلګو ته دا تَاثُّرْ ورکوي چي مَا ته خو هر څَه مَعْلُوْمْ سو، او د مَابَیْنْ مَابَیْنْ خَبَرَهْ وکي و مَخَامَخ مَوْجُوْدْ خلګو ته دا دَادْ (هُوْډْ) وَرکوي چي دئ خو وَاقِعِیْ په غَیْبُ خَبَرْ دئ، او زُمُوږ حَالْ وَ ده ته مَعْلُوْمْ دئ، نو ځکه دئ به جَادُوْ لِیري وَبَاسِي، او ددې لپاره هغه بِنَهْ ډېري رُوپَیِئْ وَرکوِي، په نَنْ زَمَانْ کي دغه هم یَو قِسم غَیْبْ دَانْ او عَرَّافْ دئ، لِهٰذَا د دُوي په جَالْ (چَکَّرْ) کي مَه رَاځئ .

## د عَرَّافْ پر خَبَرُوْ يَقِيْنْ كول نَاجَائِزْ دئ

په عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةْ كي دغه عِبَارَتْ مَوْجُوْدْ دئ
**وَلَا نُصَدِّقُ كَاهِنًا وَلَا عَرَّافًا، وَلَا مَنْ يَّدَّعِىْ شَيئًا يُخَالِفُ الْكِتَابَ وَالسُّنَّةَ وَ اِجْمَاعَ الْاُمَّةِ**
(عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةْ ،عَقِيْدَةْ نَمبَرْ ۱۰۱ ،ص: ۲۱)
تَرْجَمَهْ:- مُونږ د كاهِنْ او عَرَّافْ تَصْدِيْقْ نَه كوو، دغه رنګه کُوم چي د قُرْآنْ، حَدِيْثْ او د اِجْمَاعِ اُمَّتْ څخه مُخَالِفِ خَبَرِئْ وي، دهغه شِيَانُوْ دَعْوَهْ كوي نو مُونږ دهغه كس تَصْدِيْقْ هم نَه كوو .

## چي عَرَّافْ ته وُلَاړْ سي خَلوِېښتْ وُرځِيْ يې عِبَادَتْ نَه قَبليږي

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ
**۲۷: عَنْ بَعْضِ اَزْوَاجِ النَّبِيِّ (ﷺ) قَالَ مَنْ اَتٰى عَرَّافًا فَسَأَلَهُ عَنْ شَيْءٍ لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةُ اَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً .**
(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ السَّلَامْ،بَابُ تَحْرِيْمِ الْكَهَانَةِ وَاِتْيَانُ الْكُهَّانِ،ص: ۹۹۰،نَمبَرْ ۲۲۳۰/ ۵۸۲۱)
تَرْجَمَهْ:- بعضو بِیْ بِیْ ګانُوْ د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه نَقْلْ كړئ دئ:- څوک چي عَرَّافْ ته وَرسِي، او دهغه څخه څَه پُوْښْتَنَهْ وكي، نو دهغه د خلوېښتو وُرځُوْ لمُوْنْځْ نَه قَبليږي .

**۲۸: عَنْ مُعَاوِيَةَ الْحَكَمِ السُّلَمِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ! اُمُوْرٌ كُنَّا نَصْنَعُهَا فِى الْجَاهِلِيَّةِ، كُنَّا نَاْتِى الْكَهَّانَ، قَالَ (ﷺ) فَلَاتَاْتُوا الْكَهَّانَ قَالَ قُلْتُ كُنَّا نَتَطَيَّرُ قَالَ ذَاكَ شَيْءٌ يَجِدُهُ اَحَدُكُمْ فِىْ نَفْسِهِ، فَلَايَصُدَّنَّكُمْ .**
(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ السَّلَامْ،بَابُ تَحْرِيْمِ الْكَهَانَةِ وَاِتْيَانُ الْكَهَّانِ،ص: ۹۸۹،نَمبَرْ ۲۲۲۷/ ۵۸۱۳)
تَرْجَمَهْ:- حضرت مُعَاوِيَهْ سُلَمِیْ فَرْمَائي، يَا رَسُوْلَ اللهْ! څَه څَه كارُوْنَهْ وُو چي په زَمَانَهْ جَاهِلِيَّتْ كي مُونږ كول، مَثْلًا مُونږ و كاهِنَانُوْ ته وَرتْلُو، نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ:- وَ كاهِنَانُوْ ته مَه وَرځَئ، مَا وويل چي مُونږ بَدْفَالِيْ اَخستلَه، نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ:- چي تاسو خو هسي (بې حَقِيْقَتْ) خَبَرِئْ په زَړَهْ كي دَرګرزَوَئ، بَدْفَالِيْ ستاسو هيڅ شَئ نَه سي لِيَري (مَنْعَ) كولائي [ يعنِي په بَدْفَالِيْ سره هيڅ هم نَه كيږي ] .

**۲۹: عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ، وَ الْحَسَنِ عَنِ النَّبِیِّ (ﷺ) قَالَ مَنْ اَتٰی كَاهِنًا اَو عَرَّافًا فَصَدَّقَهُ بِمَا یَقُوْلُ فَقَدْ كَفَرَ بِمَا اُنْزِلَ عَلٰی مُحَمَّدٍ .**

(مُسْنَدِ اَحْمَدْ، مُسْنَدُ اَبِیْ هُرَیْرَةَ، ج: ۱۵، ص: ۳۳۱، نَمْبَرْ ۹۵۳۶)

تَرْجَمَهْ:- د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه رِوَایَتْ دیٔ چي څوک كَاهِنْ ته یا وَ عَرَّافْ تـه وَرغَلَـیٔ، اُوس چي هغه څَه وائي، ده دهغه تَصْدِیْقْ وکیٔ، نو پر حُضُوْرْ (ﷺ) باندي چي کُوم قُرْآنْ نَازِلْ سویٔ ده ګُوَاکِه دهغه څخه اِنْكَارْ وکیٔ .

په دغه حَدِیْثْ کـي دیٔ چـي كـاهِنْ او عَـرَّافْ تـه وُلَاړْ سـي، او دهغـه تَصْـدِیْقْ وکي یعني دهغه پـر خَبَـرَهْ بانـدي یَقِیْنْ وکـي نـو هغـه تَصْـدِیْقْ کـونکیٔ كـافِرْ کیږي .

نَنْ سَبَا څومره تَعْوِیْذْ ګرَانْ دي چي د كاهِنْ او عَرَّافْ په شَانْ د غَیْبْ د خَبَرُوْ دَعْوَهْ کوي، او خلک دهغه تَصْدِیْقْ کوي، اُوس تاسو فِكْرْ وکیٔ چـي د دُوي د اِیْمَانْ به څَه حَالْ وي؟ ..... ددیِ څخه ځانُوْنَهْ ګُورَیٔ .

**۳۰: عَـنْ عَائِشَـةَ قَالَـتْ قُلْـتُ یَـا رَسُـوْلَ اللهِ! اِنَّ الْكَهَّـانَ كَـانُوْا یُحَـدِّثُوْنَا بِالشَّیْءِ فَنَجِدُهُ حَقًّا، قَـالَ تِلْـكَ الْكَلِمَـةُ الْحَقِّ یَخْطِفُهَـا الْجِنِّـیُّ فَیَقْذِفُهَا فِـیْ اُذُنِ وَلِیِّه□، وَیَزِیْدُ فِیْهَا مِائَةَ كَذِبَةٍ .**

(مُسْلِمْ شَرِیْفْ،كِتَابُ السَّلَامِ،بَـابُ تَحْـرِیْمِ الْكَهَّانَـةِ وَ اِتْیَـانُ الْكُهَّـانِ، ص: ۹۸۹، نَمْبَـرْ ۲۲۲۸/ ۵۸۱۶)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَائِشَهْ فرمائي چي:- مَا وویل كاهِنَانْ څَه (بَعض) خَبَرِیْ مُوږ تـه کوي نو مُوږ هغه رِشْتِیَا وَ مُوندُو، نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- پیْرَانَانْ هسـي یَوَه رِشْتِیَا خَبَرَهْ د یَو ځایَه څخه وَ مُوندِي، هغه و خپل مُؤَكِّلْ ته وکړي، او مُؤَكِّلْ په هغه کي سَلْ دَرْوَاغُوْنَهْ ګډوِي .

په دغه حَدِیْثْ کي دیٔ چي مُؤَكِّلْ په هغه کي سَلْ دَرْوَاغْ د خپل ځانَ څخـه وَر ګډوِي او خلګو ته یيِ وائي .

## [۷] ..... پیْرَانَانْ (جِنَّاتْ) رَایَستَل .

خلک وائي چي بعض تَعْوِیْذْ کـونکي جِنَّـاتْ رَابَاسِـي، لیري کـوي یـيِ، لـیکن څنګه یيِ بَاسِيِ؟ زَهْ ددیِ په اړه هیڅ مَعْلُوْمَاتْ نَـه لـرم، او نَـه مَـا پـه دیِ اَړَه کُوم حَدِیْثْ یا قَوْلِ صَحَابِیْ مُوندَلَیٔ دیٔ، مَا ته دا هم مَعْلُوْمْ نَـه دیٔ چـي جِنَّـاتْ پر یَو ڇا باندي كښېنِي که نَه كښېنِي. دا صِـرف د ځـانَ څخـه هَـوَایِیْ خَبَـرِیْ دي، لِهٰذَا زَهْ مَعْذُوْرْ یَم .

# ۳۷: د قَبْرُوْ زِيَارَتْ كول

ددغه عَقِيدې په اړه ۲۲ آيَتُوْنَهْ او ۴۶ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ كئ .

تېر سوي قَوْمُوْنَهْ ددغه څلورو خَبَرُوْ لكبله په شِرْكْ كي مُبْتَلَاءْ سول، او اَللّٰهْ تَعَالٰي دُوي هَلَاكْ كړل .

[۱] ..... د اَللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ بَل څوک مَعْبُوْدْ مَنَل .
[۲] ..... د اَللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ وَ بَل چَا ته سَجْدَهْ كول .
[۳] ..... د اَللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ د بَل چَا څخه مَدَدْ غُوَښتَل .
[۴] ..... د اَللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ بَل څوک حَاجَتْ رَوَا ګڼل .

ددغه څلورو خَبَرُوْ رِوَاجْ دارنګه شروع سو چي اَوَّلْ يې د خپلو هغه بُزُرْګَانُوْ كُوم چي مَخكِي تېر سوي او مړه دي، دهغو مُرْدَهْ ګانُوْ عِزَّتْ او اِحْتِرَامْ يې شروع كئ، بيايې د وَخْتْ په تېرېدو سره وَ هغوي ته سَجْدَهْ شروع كړه او په دغه كي بُخْتْ او مَشْغُوْلَ پاته سول .
د خپلو بُزُرْګَانُوْ په اړه يې دا عَقِيْدَهْ سوه چي دُوي زُمُوږ خَبَرَهْ اَورِي، او زُمُوږ مَدَدْ كولائي سي .
نو ځكه د خپل ضرورت د پوره كولو لپاره يې دهغوي بُتَانْ جوړ كړل، بيايې دهغوي څخه د مَدَدْ غُوَښتَلُو لپاره د دُوي په مَخكِي تِيتْ سول، بيايې سَجْدَهْ وكړه، او د وَخْتْ په تېرېدو سره هغه خُدَايَانْ وَګڼل، او دغه شِرْكْ دئ چي اَللّٰهْ تَعَالٰي يې په هيڅ وَخْتْ نَه مَعَافَوِي .
لِهٰذَا مُوږ بَايَدْ د بُزُرْګانُوْ دارنګه تَعْظِيْمْ وَ نَه كوو چي دهغه لكبله په سَوكه سَوكه شِرْكْ شروع سي .

## د هِنْدُوَانُوْ پر رِوَاجُوْ باندي تاسو غَوَرْ وكئ

كه تاسو د هِنْدُوَانُوْ پر ټولو رِوَاجُوْ باندي غَوَرْ وكئ، د دُوي د بُتَانُوْ پر جوړولو باندئ غَوَرْ وكئ، د هغوي څخه د مَدَدْ پر غُوَښتَلُو غَوَرْ وكئ، او د

هغوي په مَخکي د دُوي پر عِبَادَتْ کولو باندي غَوَرْ وکئ، نو دغه خَبَرِي به ښکاره سي:- چي دُوي د خپلو بُزَرْګانُوْ تر حَدْ زِيَاتْ تَعْظِيْمْ وکئ، بيا نو په سَوکه سَوکه په شِرْکْ کي مُبْتَلَاءْ سول .

هِنْدُوَانْ هم يَو خُدَا مَنِي، چي وهغه ته دُوي اِيْشُوْرْ وائي او په دُوي کي بعض پَنْدِتَانْ صِرف هغه مَنِي، لېکن په دُوي کي اَکْثَرَهْ خلګ اِيْشُوْرْ مَنِي خو ددې سره سره د بُتَانُوْ عِبَادَتْ هم کوي .
دُوي چي څومره بُتَانْ جوړوي هغه د دُوي د بُزَرْګانُوْ شِبِيْهْ (صُوْرَتُوْنَهْ) دي .
دُوي ته مَعْلُوْمْ دئ چي دغه د خَاوُرُوْ څخه جوړ سوئ بُتْ دئ، لېکن د دُوي اِعْتِقَادْ دادئ چي د دُوي د بُزَرْګانُوْ اَرْوَحَانْ، يا د دُوي د دِيْوِئ دِيْوْتَا اَرْوَحَانْ په دغه بُتَانُوْ کي دَنَنَهْ رَاځِي دَاخِلېږي .
هغه د دُوي خَبَرِئ اَورِي، او د دُوي مَدَدْ هم کوي، دُوي ته د مَدَدْ کولو اِخْتِيَارْ هم حَاصِلْ دئ .
په دغه وَجْهَ هغه خلګ ددغه بُتَانُوْ عِبَادَتْ کوي، او د زَړَهْ لَګُومِي دهغوي څخه مَدَدْ غُوَاړِي، چي شَرِيْعَتْ وَ دغه ته شِرْکْ وائي .

## حُضُوْرْ ﷺ تر حَدْ زِيَاتْ د قَبْرُوْ د تَعْظِيْمْ څخه مَنْعَ کړې ده

وَ اَللهْ تَعَالٰی ته خو دا مَعْلُوْمْ وُو چي مُسَلْمَانَانْ به هم د خپلو بُزَرْګانُوْ څخه حَاجَتُوْنَهْ غُوَاړِي، يا به د هغوي بُتَانْ (شَبِيْهْ) جوړوي، او دهغه په مَخکِي به سَجْدَهْ کوي، نو ځکه حُضُوْرْ (ﷺ) کله نَا کله خو قَبْرْ ته د تَلْلُو اِجَازَتْ ورکړئ، لېکن په څو څو کرَتَّهْ يې دا تَنْبِيْهْ وکړه چي د قَبْرُوْ په مَخکِي کي سَجْدَهْ مه کوئ، د هغه څخه خپل حَاجَتُوْنَهْ مه غُوَاړِئ، هغه خپله عِيْدْګاهْ مَه ګرزوَئ، پر هغه باندي عِمَارَتْ (کُوْتَهْ/ خُوْنَهْ/چَارْدِيْوَارِئ/مَاجَرْ) مَه جوړوئ، بلکه صِرف هغوي ته سَلَامْ کوئ، هغوي ته دُعَاګَانْ کوئ او بېرتَه وَاپَس ځِينِي ځئ .
تاسو ددغه ټولو تَفْصِيْلَاتُ لپاره صَحِيْحْ حَدِيْثُوْنَهْ مُلَاحَظَهْ کئ .

## قَبْرْ چِش ته وَيَل کيږي؟

چي مَړَئ خَاوْرُوْ ته وَسپَارِي دهغه وروسته د قِيَامَتْ تر قَائِمْ کېدو پُورِي چي کُوم وَخْتْ دئ هغه ته قَبْرْ وَيَل کيږي، د مُرْدَهْ (مَړِي) بَدَنْ که په مځکه کي وي، يايې سُوَځَلَئ وي، يا کُوم حَيْوَانْ خُوړَلَئ وي دغه ټولو ته ددغه مُرْدَهْ اِنْسَانْ قَبْرْ وَيَل کيږي .

وَ دغه وَخْتْ بَرْزَخْ هم وَيَل کيږي .

په دغه آيَتْ کي ددې وَضَاحَتْ سوئ دئ

۱: حَتّٰى اِذَا جَآءَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُوْنِ لَعَلِّيْٓ اَعْمَلُ صَالِحًا فِيْمَا تَرَكْتُ كَلَّاؕ اِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَآئِلُهَاؕ وَمِنْ وَّرَآئِهِمْ بَرْزَخٌ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ (آيَتْ ۱۰۰، سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْنْ ۲۳) .

تَرْجَمَهْ:- تر دې چي کله د دُوي څخه يَوَه ته مرګ رَاوَرسيږي نو هغه به وائي چي: ,, زَمَا پَرْوَرْدګارَهْ! مَا بېرته وَاپَس وَاستَوَه ددې لپاره چي کُومَه دُنْيَا مَا پرېيښې ده، هغې ته وُلاړْ سَم نيک عَمَلْ وکړم ,, . هيڅ کله نَه! دا خو بَس خَالِصْ يَوَه خَبَرَهْ ده چي دئ يې په ژَبَهْ سره کوي، او د دُوي (مُرْدَهْ ګانُوْ) وَ مختِه د عَالَمِ بَرْزَخْ حَائِلْ (حِجَابْ) دئ، چي تر هغه وَخته به قَائِمْ وي تر څو چي دُوي دُوَهَمْ وَارْ ژُوَندِي رَاپُورتَه کيږي

په دغه آيَتْ کي دئ چي د مَرګ څخه وَنِيسې بيا د قَبْرْ څخه تر رَاپُورتَه کېدو پُورِي دې ته بَرْزَخْ وَائي، ددې حَالَاتْ د دُنْيَا د حَالَاتْ څخه مُخْتَلِفْ دي .

## قَبْرْ ته په دې وَجْهَ د تَلَلُو اِجَازَتْ دئ چي هلته و اِنْسَانْ ته آخِرَتْ وَر په يَادْ سي

که چيري وَ قَبْرْ ته د تَلَلُو څخه آخِرَتْ وَر په يَادْ سي، او مَرګْ وَر په يَادْ سي نو بيا خو پُوْهْ سَه چي ده ته د رَاتلُو فَائِدَهْ وَرسېدَه، او که چيري دَلتَه د رَاتَګ مَقْصَدْ تَفْرِيْحْ کول وي، يا چَکَرْ وَهَل او تَمَاشَهْ کول وي، يا رُوْپَئ لَاسْ ته کول وي نو بيا خو قَبْرْ ته د رَاتْلُو هيڅ فَائِدَهْ حَاصِلَ نَه سوه، او په دغه رنګه صُوْرَتْ کي قَبْرْ ته تَلَل بِنَهْ کارْ نَه دئ .

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثُوْنَه دي

۱: عَنْ اِبْنِ مَسْعُوْدٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) قَالَ كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ فَزُوْرُوْهَا، فَاِنَّهَا تُزَهِّدُ فِى الدُّنْيَا وَتُذَكِّرُ الْاٰخِرَةَ .

(اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ مَاجَاءَ فِيْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ، ص: ۲۲۳، نَمْبَرْ ۱۵۷۱)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- مَا تاسو د قَبْرُو د زِيَارَتْ کولو څخه مَنْعْ کولاست، اُوس د قَبْرُوْ زِيَارَتْ کوئ، ځکه چي ددې لکبله د دُنْيَا څخه بې رَغْبَتِيْ پَيدَا کيږي، او آخِرَتْ په يَادْ وَرځي .

۲: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ زَارَ النَّبِيُّ (ﷺ) قَبْرَ اُمِّه فَبَكٰى وَ اَبْكٰى مَنْ حَوْلَهُ فَقَالَ اِسْتَأْذَنْتُ رَبِّيْ فِيْ اَنْ اَسْتَغْفِرَ لَهَا فَلَمْ يَأْذَنْ لِّيْ وَ اِسْتَأْذَنْتُ رَبِّيْ اَنْ اَزُوْرَ قَبْرَهَا فَاُذِنَ لِيْ، فَزُوْرُوْا الْقُبُوْرَ، فَاِنَّهَا تُذَكِّرُكُمُ الْمَوْتَ .

(اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ، بَابُ مَاجَاءَ فِيْ زِيَارَةِ قُبُوْرِ الْمُشْرِكِيْنَ، ص: ۲۲۴، نَمْبَرْ ۱۵۷۲)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) د خپلي مُوْرْ د قَبْرْ زِيَارَتْ وکئ نو ده وَژْړَلْ، او چي کُوم نِژدې خلک وُو هغه يې هم وَژْړَوَلْ، بيايې وَ فَرْمَائِلْ چي مَا د خپل رَبْ څخه د خپلي مُوْرْ لپاره د مَغْفِرَتْ اِجَازَتْ وَغُوښتئ نو مَا ته اِجَازَتْ نَه سو مِلاؤ، او د خپل رَبْ څخه مِي ددې د قَبْرْ د زِيَارَتْ کولو اِجَازَتْ وَغُوښتئ نو مَا تـه اِجَازَتْ مِلاؤ سو، د قَبْرُوْ زِيَارَتْ کوئ، ځکه چي دغه تاسو ته مَرْګْ په يَادْ دَرولِي .

په دغه حَدِيْثُوْ کي درې درې خَبَرِيْ دي

[۱] ..... چي پر قَبْرْ باندي په خپله ژَړَا وَرسِي نـو دا جَائِزْ دئ، آهْ و فَرْيَادْ کول جَوَازْ نَه لري .

[۲] ..... دُوَهَمَّهْ خَبَرَهْ داده چي کله نَا کله د قَبْرْ زِيَارَتْ کول پـه کـار دئ، ځکه چي حُضُوْرْ (ﷺ) په ژُوَنْدْ کي يَو وَارْ د مُوْرْ د قَبْرْ زِيَارَتْ کړئ دئ، پـه شِيَهْ او د وُرَځْ پر قَبْرُوْ باندي رَشْ او بَازَارْ جوړول په کَارْ نَه دئ .

[۳] ..... او دَرِيَمَّهْ خَبَرَهْ دا مَعْلُوْمَ سوه چي ددې لپاره دي د قَبْرْ زِيَارَتْ کوي چي مَرْګْ وَر په يَادْ سي، د تَمَاشُوْ او د سَيْرْ و تَفْرِيْحْ لپاره دي د قَبْرْ زِيَارَتْ نَه کوي .

په مَوْجُوْدَهْ زَمَانْ کي ډېر خلک د تَفْرِيْحْ او چَکَّرْ وَهَلُو، او د مَوْجْ و مَسْتَئْ لپاره مَزَارُوْ ته وَرځي، چي په هيڅ صُوْرَتْ جَوَازْ نَه لري .

## د ۷ شَرْطُوْ سره قَبْرْ ته د تَلَلُو اِجَازَتْ سته

ددغه ۷ شَرْطُوْ سره دي قَبْرْ ته وُلاړْ سي، ددې بَغَيْرَهْ دي نَه ځِي .

## [۱] د اَللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ د بَل چَا عِبَادَتْ دي نَه کوي .

اَوَّلْ شَرْطْ دادئ چي د اَللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ د بَل هيڅ چَا عِبَادَتْ دي هم نَه کوي .
دَلِيْلْ يې دغه آيَتْ دئ

۲: قُلْ اِنِّیْ نُهِيْتُ اَنْ اَعْبُدَ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللهِ (آيَتْ ۵۶، سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ۶)

تَرْجَمَهْ:- (اې پيْغَمْبَرَهْ! کافِرَانُوْ ته) وَوَايَهْ چي:,, زَهْ يې ددې خَبَرِیْ څخه مَنْعَ کړئ يَم چي د اَللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ دهغه عِبَادَتْ وکم کُوم چي تاسو يې د اَللّٰهْ پر ځائ رَابُولَئ .

۳: اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ط اَمَرَ اَ لَّا تَعْبُدُوْٓ ا اِلَّآ اِيَّاهُ ط (آيَتْ ۴۰، سُوْرَةُ يُوْسُفْ ۱۲)

تَرْجَمَهْ:- صِرف د اَللّٰهْ حُکْمْ به چلېږي، او هغه دغه حُکْمْ وَرکړئ دئ چي صِرف دهغه عِبَادَتْ کوئ .

۴: اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓ ا اِلَّا اللهُ (آيَتْ ۱۴، سُوْرَةُ فُصِّلَتْ ۴۱)

تَرْجَمَهْ:- صِرف د اَللّٰهْ عِبَادَتْ کوئ .

۵: قُلْ اَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللهِ مَالَايَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّاوَّلَانَفْعًا ط
(آيَتْ ۷۶،سُوْرَةُ الْمَآئِدَةْ ۵)

تَرْجَمَهْ:- (اې پيغمبره! دُوي ته) وَوَايَهْ چي :,, اَيَا تاسو د اَللّٰهْ بغيره د دارنګه مَخْلُوْقْ عِبَادَتْ کوئ چي نَه تاسوته د نُقْصَانْ رسولو طَاقَتْ لري، او نَه د فَائدي رَسَوُلُو .

۶: وَمَآ اُمِرُوْٓ ا اِلَّا لِيَعْبُدُوا اللهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ لا حُنَفَاءُ (آيَتْ ۵، سُوْرَةُ الْبَيِّنَةُ ۹۸)

تَرْجَمَهْ:- صِرف دغه حُکْمْ يې ورکړئ وُو چي په تَوَجُّهْ سره خَالِصْ او صِرف د اَللّٰهْ عِبَادَتْ کوئ .

۷: وَمَآ اُمِرُوْٓ ا اِلَّا لِيَعْبُدُوْٓ ا اِلٰـهًا وَّاحِدًا ج لَآ اِلٰـهَ اِلَّا هُوَ ط (آيَتْ ۳۱، سُوْرَةُ التَّوْبَةْ ۹)

تَرْجَمَهْ:- حَالَانْکِهْ دُوي ته د يوه خُدَائ بغيره دهيڅ يَو چَا د عِبَادَتْ کولو حُکْمْ نَه وُ ورکول سوئ، دهغه بغيره بَلْ خُدَائ نَستَه .

په دغه ۶ سره آيَتُوْ کې يَو حُکْمْ ورکړئ دئ چي صِرف د يَوه خُدَائ عِبَادَتْ کوئ، لِهٰذَا د بَل چَا عِبَادَتْ کول په هيڅ صُوْرَتْ جَوَازْ نَه لري .

## [۲] د قَبْرُوْ والا څخه هيڅ شَئ مَه غُوَاړَئ

دُوَهَمْ شَرْطْ دادئ چي د قَبْرْ والا څخه دي هيڅ شَئ نَه غُوَاړي .

دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَه دي

**۸: اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَ اِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ (آيَتْ ۴، سُوْرَةُ الْفَاتِحَةْ ۱)**

تَرْجَمَهْ:- (اىٔ اَللّٰهْ!) مُوږ خَالِصْ ستا عِبَادَتْ كوو، او ستا څخه مَرَسْتَهْ غواړو

په دغه آيَتْ كې په حَصْرْ او تَاكِيْدْ سره دا وَيلِي دي چي صرف د اَللّٰهْ عِبَادَتْ كوي، او صرف دهغه څخه مَدَدْ غُوَارِي، په شِيَه او وُرَځْ كي فَرْضْ لَمُوْنَځْ اوَلَّسْ رَكْعَتُوْنَه دي، او لَږْ تر لَږْ اُوَلَّسْ وَارَهْ په يَوه مُؤْمِنْ باندي دا اِقْرَارْ كوي چي مُوږ صِرف د اَللّٰهْ عِبَادَتْ كوو او صِرف د اَللّٰهْ څخه مَدَدْ غُوَاړُو، نو ځكه د بَل چَا عِبَادَتْ كول جَوَازْ نَه لري، او د بَل هيڅ چا څخه مَدَدْ غُوَښتَل هم جَوَازْ نَه لري .

**۹: وَ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِه لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَكُمْ وَ لَآ اَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُوْنَ**

**(آيَتْ ۱۹۷، سُوْرَةُ الْاَعْرَافْ ۷)**

تَرْجَمَهْ:- او تاسو دده بغيره چي كُوم كُوم چاته بَلَنَه وركوئ، هغه نَه ستاسو مرسته كولائي سي، نَه خپله مرسته كوي

**۱۰: اَغَيْرَ اللهِ تَدْعُوْنَ ج اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ بَلْ اِيَّاهُ تَدْعُوْنَ .**

**(آيَتْ ۴۰/ ۴۱ ، سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ۶) .**

تَرْجَمَهْ:- نو اَيَا د اَللّٰهْ بغيره بَلْ ته به بَلَنَهْ وركوئ كه چيري تاسو رِشْتُوْنِيْ ياست؟ بلكه هغه ته به بَلَنَهْ وركوئ .

**۱۱: وَّ اَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللهِ اَحَدًا لا (آيَتْ ۱۸، سُوْرَةُ الْجِنْ ۷۲) .**

تَرْجَمَهْ:- سَجْدَهْ خو بَس د اَللّٰهْ لپاره ده، نو ځكه د اَللّٰهْ سره د بَل چَا عِبَادَتْ مَه كوئ

**۱۲: اِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللهِ عِبَادٌ اَمْثَالُكُمْ (آيَتْ ۱۹۴، سُوْرَةُ الْاَعْرَافْ ۷) .**

تَرْجَمَهْ:- يَقِيْنْ وكئ د اَللّٰهْ بغيره چي تاسو كُوم كُوم چاته بَلَنه وركوئ، هغه ټول ستاسو په شَان (د اَللّٰهْ) بَنْدَهْ ګانْ دي .

**۱۳: وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِه مَا يَمْلِكُوْنَ مِنْ قِطْمِيْرٍ ط (آيَتْ ۱۳، سُوْرَةُ فَاطِرْ ۳۵) .**

تَرْجَمَهْ:- او دهغه په بيله چي كُومُو (مَصْنُوْعِيْ خُدَايَانُوْ) ته تاسو بَلَنَهْ وَركوَئ، هغه د خُوْرْمَا د تَاكِيْ د پُوْسْتُوْكِيْ په اَنْدَازَهْ هيڅ اِخْتِيَارْ هم نَه لري (نو ستاسو به څه مَدَدْ وكي؟).

۱۴: قُلْ اِنَّمَآ اَدْعُوْا رَبِّیْ وَلَآ اُشْرِكُ بِه اَحَدًا (آیَتْ ۲۰، سُوْرَةُ الْجِنْ ۷۲) .
تَرْجَمَهْ:- وَوَایَهْ چي:,, زَهْ خو صِرف د خپل پَرْوَرْدِگَارْ عِبَادَتْ کوم، او دهغه سره هیڅ یو شَرِیْکْ نَه مَنَم.
په دغه ۷ آیَتُوْ کي دئ چي صِرف اَللّٰهْ ته بَلَنَهْ ورکوئ، لِهٰذَا بَل چَا ته بَلَنَهْ وَرکوَل، او د بَل چَا څخه مَدَدْ غُوښتَل هرگِز هرگِز جَوَازْ نَه لري، نو ځکه چي قَبْرْ ته وُلَاړْ سي د بَل چَا څخه دي مَدَدْ نَه غُوَاړِي، او د قَبْرْ وَالا که وَلِيْ وي که نَبِيْ وي دهغه څخه دي مَدَدْ نَه غُوَاړِي .
په مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ کي ډېر خلک مَزَارُوْ او قَبْرِسْتَانُوْ ته ددې لپاره ځِي چي د قَبْرْ والا څخه مَدَدْ او مَرَسْتَهْ وَغُوَاړِي، دا جَوَازْ نَه لري، چي څه وَرکوِي هغه ذَاتْ صِرف د اَللّٰهْ ذَاتْ دئ .
ددې مُکَمَّلْ تَفْصِیْلْ مَختَه ,, بَس صِرف د اَللّٰهْ څخه مَدَدْ غُوښتَلائي سي ,, په عُنْوَانْ کي تېر سوئ دئ، تاسو يې هلته مُلَاحَظَهْ کولائي سئ .

## [۳] پر قَبْرْ دي سَجْدَهْ نَه کوي

دَرِیَمْ شَرْطْ دادئ چي پر قَبْرْ دي سَجْدَهْ نَه کوي، دَلِیْلْ يې دغه آیَتُوْنَهْ دي
۱۵: لَا تَسْجُدُوْا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ الَّذِیْ خَلَقَهُنَّ اِنْ کُنْتُمْ اِیَّاهُ تَعْبُدُوْنَ (آیَتْ ۳۷،سُوْرَةُ فُصِّلَتْ/ سُوْرَةُ حٰمٓ اَلسَّجْدَةْ ۴۱)
تَرْجَمَهْ:- مَه و لُمَرْ ته سَجْدَهْ کوئ، مَه و سپُوږْمَئ ته، او سَجْدَهْ و هغه اَللّٰهْ ته کوئ کُوم چي دُوي يې پَیدَا کړي دي، که چیري وَاقِعَةْ تاسو دهغه عِبَادَتْ کوئ.
۱۶: فَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ وَ اعْبُدُوْا (آیَتْ ۶۲، سُوْرَةُ النَّجْمْ ۵۳)
تَرْجَمَهْ:- د اَللّٰهْ لپاره سَجْدَهْ کوئ او دهغه بَنْدَگِيْ کوئ .

۳: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ:- قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) فِیْ مَرَضِهِ الَّذِیْ لَمْ یَقُمْ مِنْهُ، لَعَنَ اللّٰهُ الْیَهُوْدَ وَالنَّصَارٰی اِتَّخَذُوْا قُبُوْرَ اَنْبِیَاءِهِمْ مَسَاجِدَ .
(بُخَارِیْ شَرِیْفْ، بَابُ مَاجَاءَ فِیْ قَبْرِ النَّبِیِّ (ﷺ) وَ اَبِیْ بَکْرٍ وَ عُمَرَ، ص: ۲۲۳، نَمْبَرْ ۱۳۹۰)
تَرْجَمَهْ:- په کُوم مَرَضْ کي چي حُضُوْرْ (ﷺ) وَفَاتْ سو په هغه مَرَضْ کي حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- اَللّٰهْ دي پر یَهُوْدُ او نَصَارٰی باندي لَعْنَتْ وکي چي دُوي د نَبِیَانُوْ قَبْرُوْنَهْ سَجْدَهْ گاهْ وَگرزَوَل .
په دغه حَدِیْثْ کي دئ چي قَبْرْ د سَجْدَهْ ځائ گرزوَل جَوَازْ نَه لري .

**۴: سَمِعْتُ اَبَا مَرْسَدَ الْغَنَوِیّ يَقُوْلُ:- قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) لَاتَجْلِسُوْا عَلَى الْقُبُوْرِ وَلَا تُصَلُّوْا اِلَيْهَا .**

(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابٌ فِیْ كَرَاهِيَةِ الْقُبُوْرِ عَلَى الْقَبْرِ، ص: ۴۷۱، نَمْبَرْ ۳۲۲۹)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَفَرْمَائِلْ چي:- پر قَبْرُوْ مَه کښېنئ، او چي وهغه ته مُو مَخ كرزولئ وي لُمُوْنځْ هم مَه كوئ .

او دغه حُكْمْ يي په دې وَجْهَ كړئ دئ چي داسي نَه وي چي دغه د قَبْرْ والا ته د خُدَائي په نَظَرْ وَ نَه ګوري، نو ځکه چي وَ قَبْرْ ته يې مَخ وي نو لُمُوْنځْ كولو څخه يې مَنْعَ كړې ده ..... چي وَ قَبْرْ ته دي مَخْ ګرزَوَلئ وي لُمُوْنځْ هم مَه كوه نو وَ قَبْرْ ته به سَجْدَهْ كول څنګه جَوَازْ پيدَا كي؟

**۵: عَنْ قَيْسِ بنِ سَعْدٍ قَالَ اَتَيْتُ الْحِيْرَةَ فَرَأَيْتُهُمْ يَسْجُدُوْنَ لِمَرْزَبَانٍ لَّهُمْ فَقُلْتُ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اَحَقُّ اَنْ يَّسْجُدَ لَهُ، قَالَ فَاَتَيْتُ النَّبِیَّ (ﷺ) فَقُلْتُ اِنِّیْ اَتَيْتُ الْحِيْرَةَ فَرَأَيْتُهُمْ يَسْجُدُوْنَ لِمَرْزَبَانٍ لَّهُمْ فَاَنْتَ يَا رَسُوْلَ اللهِ! اَحَقُّ اَنْ نَسْجُدَ لَكَ، قَالَ: اَرَأَيْتَ لَوْ مَرَرْتَ بِقَبْرِیْ اَكُنْتَ تَسْجُدُ لَهُ؟ قَالَ قُلْتُ لَا، قَالَ: فَلَا تَفْعَلُوْا، لَوْ كُنْتُ اٰمُرًا اَحَدًا اَنْ يَّسْجُدَ لِاَحَدٍ لَاَمَرْتُ النِّسَاءَ اَنْ يَّسْجُدْنَ لِاَزْوَاجِهِنَّ لِمَا جَعَلَ اللهُ لَهُمْ عَلَيْهِنَّ مِنَ الْحَقِّ .**

(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ،كِتَابُ النِّكَاحْ،بَابٌ فِیْ حَقِّ الزَّوْجِ عَلَى الْمَرْأَةِ،ص: ۳۰۹، نَمْبَرْ ۲۱۴۰ / اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ،كِتَابُ النِّكَاحْ،بَابُ حَقِّ الزَّوْجِ عَلَى الْمَرْأَةِ،ص: ۲۶۵، نَمْبَرْ ۱۸۵۳)

تَرْجَمَهْ:- قَيْسْ بِنْ سَعْدْ فرمائي چي زَهْ حِيْرَهْ مَقَامْ ته راغلم نو وَمِي لِيدَل چي هغه خلګ و خپلو سَرْدَارَانُوْ ته سَجْدَهْ كوي، نو مَا وويل چي رَسُوْلُ اللّٰهْ (ﷺ) خو زِيَاتْ حَقْدَارَهْ دئ چي هغه ته سَجْدَهْ وكړل سي، زَهْ حُضُوْرْ (ﷺ) ته راغلم او وَرتَه وَ مُو وَيَل چي زَهْ حِيْرَهْ مَقَامْ ته تَلَلَئ وَم، هلتَه مُو وَلِيدَل چي هغه خلګ و خپلو سَرْدَارَانُوْ ته سَجْدَهْ كوي، نو ځکه تَه يَا رَسُوْلَ اللّٰهْ ډېر حَقْدَارَهْ يې چي مُوږ تَا ته سَجْدَهْ وكوو، حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- كه تاسو زَمَا د قَبْرْ سره تېرېږئ نو آيَا هغه ته به سَجْدَهْ كوئ؟ قَيْسْ په جَوَابْ كي وويل چي نَه! نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي په ژُوَنْدْ كي هم مَا ته سَجْدَهْ مَه كوئ، كه چيري مَا بَل چَا ته د سَجْدَهْ كولو حُكْمْ كولائي، نو ښځو ته به مُو حُكْمْ كړئ وائ چي ډُوي دي و خپلو مېړه ګانُوْ (خَاوَنْدَانُوْ) ته سَجْدَهْ كوي، ځکه چي اَللّٰهْ و مېړَهْ ګانُوْ ته پر مَيْنُوْ (بِیْ بِیْ ګانُوْ) باندي ډېر حُقُوْقْ وَركړي دي .

په دغه حَدِيْثْ كي دئ چي د اَللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ بَل چَا ته د تَعْظِيْمْ سَجْدَهْ هم حَرَامْ ده .

په مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ كي دا حَالَتْ دئ چي ډېر مُجَاوِرِيْنْ په زَائِرِيْنْ (رَاتْلُونكو خلګو) باندي د قَبْرْ په مَخكِي سَجْدَهْ كوي، او د دُوي مَقْصَدْ دا وي چي په يَو صُوْرَتْ د صُوْرَتُوْ دئ ددغه قَبْرْ والا عَقِيْدَتْ مَنْدْ جوړ سي، او مَا ته دده نَذْرْ و نِيَازْ هم رَارَوَانْ وي .

[۴] ..... په پَرْدَهْ كي وُلَاړَهْ سي په بې پَرْدَهْ ګِيْ كي هيڅ كله نَه ځِي

ځْلُوْرَمْ شَرْطْ دادئ چي په پَرْدَهْ كي دي وُلَاړَهْ سي، د بې پَرْدَهْ ګِيْ په حَالَتْ كي دي هيڅ كله هم نَه ځِي، دَلِيْلْ دغه حَدِيْثْ او آيَتُوْنَهْ دي

۶: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ، كُنْتُ اَدْخُلُ بَيْتِيَ الَّذِیْ دُفِنَ فِيْهِ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) وَ اَبِیْ، فَاَضَعُ ثَوْبِیْ فَاَقُوْلُ:- اِنَّمَا زَوْجِیْ وَ اَبِیْ، فَلَمَّا دُفِنَ عُمَرُ مَعَهُمْ فَوَ اللهِ مَا دَخَلْتُ اِلَّا اَنَا مَشْدُوْدَةٌ عَلَیَّ ثِيَابِیْ حَيَاءً مِّنْ عُمَرَ .

(مُسْنَدِ اَحْمَدْ، بَابُ حَدِيْثُ السَّيِّدَةِ عَائِشَةَ، ج: ۷، ص: ۲۸۸، نَمْبَرْ ۲۵۱۳۲)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَائِشَهْ فَرْمَائِي چي زَمَا په كُوم كُوْرْ كي چي حُضُوْرْ (ﷺ) دَفَنْ سوئ دئ زَهْ د پَرْدي بَغَيْرَهْ هم په هغه كي دَاخلېدَم، او دا سوچ به مِي كاوئ چي دَلته خو زَمَا خَاوَنْدْ دئ، او زَمَا پَلَارْ دئ، بيا چي كله حضرت عُمَرْ د دُوي سره دَفَنْ سو، د حضرت عُمَرْ څخه د شَرْمْ په وَجْهَ چي زَهْ كُوم وَخْتْ دَاخِلَ سوې يَمَه نو پُوْرَهْ كپړه به مِي تَړلَه دَاخِلېدَمّه .

په دغه حَدِيْثْ كي دئ چي قَبْرْ ته په پَرْدَهْ كي تَلَل په كار دئ .

۱۷: وَ قُلْ لِّلْمُؤْمِنٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ اَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوْجَهُنَّ وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوْبِهِنَّ ص وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا لِبُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اٰبَآئِهِنَّ (آيَتْ ۳۱،سُوْرَةُ النُّوْرْ ۲۴)

تَرْجَمَهْ:- او مُؤْمِنَاتُوْ ښځو ته وَوَايَهْ چي دُوي خپل نَظَرُوْنَه (ستركي) كښتَه وَسَاتِي، اود خپلو شَرْمَګاهُوْ حِفَاظَتْ وكړي، او خپل ښَايَسْتْ (سِنْګارْ) دي هيڅ چَا ته نَه ښكاره كوي، مَاسِوَا دهغه څخه چي هسي په خپله ښكاره سي او دخپلو پَړُوْنَانُوْ ځَاكُوْنَه (پَلَوْ/كِنَارَهْ) پر خپلو ګريوَانُوْ باندي اَچَوَئ، او خپل سِنْګارْ هيڅ چَا ته مَه ښكاره كوئ مَاسِوَا د خپلو خَاوَنْدَانُوْ څخه، يا خپلو پَلَارَانُوْ، اَلَخْ

په دغه آيَتْ كي دئ چي خپل سِينْګارْ (زِيْبْ و زِيْنَتْ) هيڅ چَا ته مَه ښكاره كوئ .

۱۸: وَقَرْنَ فِیْ بُيُوْتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّ جَ الْجَاهِلِيَّةِ الْاُوْلٰى .

(آيَتْ ۳۳، سُوْرَةُ الْاَحْزَابْ ۳۳) .

تَرْجَمَهْ:- او په خپلو کُوْرُوْ کي په قَرَارَ وسېږئ، او (نَامَحْرَمْ خلګو ته) د زِيْبْ و زِيْنَتْ سره مَه ګرزئ رَاګرزئ، لکه څنګه چي په يَځْوَانِيْ جَاهِلِيَّتْ کي ښکاره کېدله .

۷: عَنْ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ (ﷺ) قَالَ اَلْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ فَاِذَا خَرَجَتْ اِسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ .

(تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ، بَابُ اِسْتِشْرَافِ الشَّيْطَانِ الْمَرْأَةَ اِذَا اَخْرَجَتْ، ص: ۲۸۴، نَمْبَرْ ۱۱۷۳)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ:- ښِځَهْ چي (د کُوْرْ څخه) دبَانْدِيْ وَوزِيْ نو شَيْطَانْ اِشَارَهْ کوي چي دې ته په غَوْرْ غَوْرْ سره ګُورَئ .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي ښِځَهْ په زِيْبْ و زِيْنَتْ سره د کُوْرْ څخه دبَانْدِيْ رَاووزِي نو شَيْطَانْ خلګ مُتَوَجِّهْ کوي چي وَ دغه ښِځَهْ ته ګُورَئ .

## نَرَانُ ته هم دغه حُکْمْ وَرکړئ دئ چي خپل نَظَرْ کښتّه وَسَاتَئ

دَلِيْلْ يې دغه آيَتْ دئ

۱۹: قُلْ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ ط ذٰلِكَ اَزْكٰى لَهُمْ ط (آيَتْ ۳۰، سُوْرَةُ النُّوْرْ ۲۴) .

تَرْجَمَهْ:- مُؤْمِنَانُوْ نَرَانُوْ ته وَوَايَهْ چي دُوي خپل نَظَرُوْنَهْ (سترګي) کښتَه وَسَاتِي، او د خپلو شَرْمګاهُوْ حِفَاظَتْ وکړي، دغه د دُوي لپاره يَاکِيزَهْ تَرِيْنَهْ طَرِيْقَهْ ده .

په دغه آيَتْ کي و نَرَانُوْ ته دا حُکْمْ دئ چي خپل نَظَرُوْنَهْ کښتّه وَسَاتِي، نو وَ ښځو ته به څنګه اِجَازَتْ وي چي دُوي پر مَزَارُوْ (قَبْرُوْ) باندي بې پَرْدَهْ ځغَلِي رَاځغَلِي؟

## [۵] ..... پر قَبْرْ دي بُغَارِيْ چِغَارِيْ نَه وَهِيْ

پِنْځَمْ شَرْطْ دادئ چي پر قَبْرْ دي بُغَارِيْ چِغَارِيْ نَه کوي يعني بلَاوَجْهَ دي په زُوْرَهْ زُوْرَهْ نَه ژَارِي، او نَه دي سِيْنَهْ ټکوِي .

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثُوْنَهْ دي

۸: عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) لَيْسَ مِنَّا مَنْ شَقَّ الْجُيُوْبَ وَضَرَبَ الْخُدُوْدَ وَ دَعَا بدَعْوَ الْجَاهِلِيَّةِ .

(اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ، بَابُ مَاجَاءَ عَنْ نَّهْيِ ضَرْبِ الْخُدُوْدِ وَ شَقِّ الْجُيُوْبِ، ص: ۲۲۵، نَمْبَرْ ۱۵۸۴)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ:- هغه کس زُمُوږ څخه نَه دئ چي کيږې (ګريوَانُوْنَهْ) څيري کي، او مَخْ وَوَهِيْ (وَټکوِي)، او د زَمَانَهْ جَاهِلِيَّتْ په شَانْ خَبَرِيْ وکي .

**۹: لَمَّا ثَقَلَ اَبُوْ مُوْسیٰ ..... اَنَّ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) قَالَ اَنَا بَرِیْءٌ مِّمَّنْ خَلَقَ وَ سَلَقَ وَخَرَقَ .**
(اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ، بَابُ مَاجَاءَ عَنْ نَّهْيِ ضَرْبِ الْخُدُوْدِ وَ شَقِّ الْجُيُوْبِ، ص: ۲۲۵، نَمْبَرْ ۱۵۸۶ / مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْاِيْمَانْ، بَابُ تَحْرِيْم ضَرْبِ الْخُدُوْدِ، ص: ۵۸، نَمْبَرْ ۱۰۳/ ۲۸۵)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- زَهْ دهغه کس څخه بَرِیْ (بيزَارَهْ) يَم چي د سَرْ بيښتَانْ وَكارِي، په آهْ و فَرْيَادْ سره غَارِي شِيْنِیْ کي، او کيرِی (پر ځانْ) څِيري کي .

**۱۰: عَنْ جَابِرَ بِن عَبْدِ اللهِ ..... قَالَ:- لَا، وَلٰكِنْ نُهِيْتُ عَنْ صَوْتَيْنِ اَحْمَقَيْنِ فَاجِرَيْنِ صَوْتٌ عِنْدَ مُصِيْبَةٍ خَمْشُ وُجُوْهِ وَشَقُّ جُيُوْبِ وَ رِنَّةُ شَيْطَانٍ .**
(تِرْمِذِیْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْجَنَائِزْ،بَابُ مَاجَاءَ فِی الرُّخْصَةِ فِی الْبُكَاءِعَلَی الْمَيِّتِ،ص: ۲۴۳،نَمْبَرْ ۱۰۰۵)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ:- دُوَهْ اَحْمَقْ اَوَازُوْنَهْ چي فَاجِرْ دي، ددې څخه يې زَهْ مَنْعْ کړئ يَم، يَو هغه اَوَازْ دئ چي د مُصِيْبَتْ پر وَخْتْ مَخ په ځَاپيرَهْ (چِپَلَاخْ) وَوَهِیْ اَوَازُوْنَهْ کاږي، او کيږه څيري کي، او دُوَهَمْ اَوَازْ د شَيْطَانْ د (پِرِیْ) غْنْهَارِیْ اَوَازْ دئ .
په دغه حَدِيْثْ کې د آهْ و فَرْيَادْ کولو څخه په سَخْتِیْ سره مَنْعْ کړې ده، زَهْ نـه پُوهيږَم چي بعض خلک د مُحَرَّمُ الْحَرَامْ پر مُوْقَعْ باندي دُومره آهْ و فَرْيَادْ وَلِي کوي؟
نور تَفْصِيْلْ يې تاسو د ,, مَاتَمْ ,, په عُنْوَانْ ,, کي مُلَاحَظَهْ کئ .

## [۶] ..... دَ قَبْرْ والا ته دي سَلَامْ وکي او دُعَاءْ دي وکي

شَيَږَمْ شَرْطْ دادئ چي خلک پر قَبْرْ باندي ډېر خُرَافَاتْ کوي، لِهٰذَا هلته خُرَافَاتْ مَه کوئ .
صِرف د قَبْرْ والا ته دي سَلَامْ وکي، دهغوي لپاره دي اِسْتِغْفَارْ وکي، دهغوي لپاره دي دُعَاءْ وکـي، او قُرْآنْ يـا دُرُوْدْ شَرِيْفْ دي ووائـي هغـه تـه دې وَبَخښِي، او مَرْګْ دي په يَادْ کي، او دا خِيَالْ دي وکي چي زَهْ بـه هم قَبْرْ تـه رَاځَم، دَلته په اَحَادِيْثُو سره بَس دغه شِيَانْ ثَابِتْ دي، نوري قِصّي او رَسْمُوْنَه خو هسي بَس فُضُوْلْ شِيَانْ دي .

د سَلَامْ او اِسْتِغْفَارْ لپاره دَلِيْلْ دغه حَدِيْثُوْنَهْ دي

**١١: عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَرَّ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) بِقُبُوْرِ الْمَدِيْنَةِ فَاَقْبَلَ عَلَيْهِمْ بِوَجْهِهِ فَقَالَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا اَهْلَ الْقُبُوْرِ يَغْفِرُ اللهُ لَنَا وَلَكُمْ اَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْاَثَرِ .**

(تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ مَايَقُوْلُ الرَّجُلُ اِذَا دَخَلَ الْمَقَابِرَ، ص: ٢٥٤، نَمْبَرْ ١٠٥٣)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) د مَدِيْنَهْ مُنَوَّرَهْ د يَوَه قَبْرِسْتَانْ سره رَاتېر سو، نو وَ هغه ته مُتَوَجِّهْ سو او وَ فَرْمَائِلْ:- اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا اَهْلَ الْقُبُوْرْ اِلَخْ، اَللهْ دي زُمُوږ او ستاسو مَغْفِرَتْ وکي، تاسو زُمُوږ سَلَفْ (مَخ وُرِي) ياست او مُوږ وروسته رَارَوَانْ يُو .

په دغه حَدِيْثْ کي دیٔ چي د قَبْرِسْتَانْ وَ خلګو ته دي سَلَامْ وکي او دهغوي لپاره دي د مَغْفِرَتْ دُعَاءْ وکي .

**١٢: عَنْ عَائِشَةَ اَنَّهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) كُلَّمَا كَانَ لَيْلَتُهَا مِنْ رَسُوْلِ اللهِ (ﷺ) يَخْرُجُ مِنْ اٰخِرِ اللَّيْلِ اِلَى الْبَقِيْعِ فَيَقُوْلُ:- اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِيْنَ وَاَتَاكُمْ مَّا تُوْعَدُوْنَ غَدًا مُؤَجَّلُوْنَ، وَ اِنَّا اِنْ شَاءَ اللهُ، بِكُمْ لَلَاحِقُوْنَ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِاَهْلِ بَقِيْعِ الْغَرْقَدِ .**

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ مَايَقُوْلُ عِنْدَ دُخُوْلِ الْقُبُوْرِ وَالدُّعَاءِ لِاَهْلِهَا، ص: ٣٩٢، نَمْبَرْ ٩٧٤ / ٢٢٥٥)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَائِشَهْ فَرْمَائِي چي هر کله به حُضُوْرْ (ﷺ) زَمَا په نَوْبَتْ (وَارِيْ) وُو نو د شپې په آخِرِيْ حِصَّهْ کي به جَنَّتُ الْبَقِيْعْ (قَبْرِسْتَانْ) ته تَشْرِيْفْ يُوړَیٔ، او دغه كَلِمَاتْ به ويَلې، :- اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمِ مُّؤْمِنِيْنَ اِلَخْ ، او دا به وَيَل چي اېٔ اَللهْ د بَقِيْعْ وَالا مَعَافْ کې .

په دغه دواړو حَدِيْثُوْ کي دُوې خَبَرِيْ دي، يَوَه خو دا چي د قَبْرِسْتَانْ وَ خلګو ته به څنګه سَلَامْ کوي؟ او دُوَهَمَهْ خَبَرَهْ داده چي د دُوي لپاره به اِسْتِغْفَارْ کوي .

## [٧] ..... دَ قَبْرْ والا لپاره دي اِسْتِغْفَارْ وکي

اُوَمَّهْ خَبَرَهْ داده چي د قَبْرِسْتَانْ د خلګو لپاره دي اِسْتِغْفَارْ وکي .

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثُوْنَهْ دي

۱۳: عَنْ عُثْمَانَ بن عَفَّانَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ (ﷺ) اِذَا فَرَغَ مِنْ دَفْنِ الْمَيِّتِ وَقَفَ عَلَيْهِ فَقَالَ اِسْتَغْفِرُوْا لِاَخِيْكُمْ وَ اسْئَلُوْا لَهُ بِالتَّثْبِيْتِ فَاِنَّهُ الْاٰنَ يُسْئَلُ .
(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ الْاِسْتِغْفَار عِنْدَ الْقَبْر لِلْمَيِّتِ فِيْ وَقْتِ الْاِنْصِرَافِ، ص: ۴۷۰، نَمْبَرْ ۳۲۲۱)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) چي به د مړي (مَيِّتْ) د دَفَنْ څخه فَارِغْ سو نو هغه ته به نژدې وَدَرېدئ، او دا به يې فَرْمَائِلْ:- د خپل وُرُوْرْ لپاره اِسْتِغْفَارْ وَغُوارئ، او دده لپاره د ثَابِتْ قَدَمْ پاته کېدو دُعَاءْ وَغُوارئ، ځکه چي اوس مُنْكَرْ نَكِيْرْ (فَرِشْتي) دده څخه سُوَالْ كوي .

۱۴: سَمِعْتُ عَائِشَةَ تُحَدِّثُ فَقَالَتْ ..... فَقَالَ اِنَّ رَبَّكَ يَأْمُرُكَ اَنْ تَاْتِيَ اَهْلَ الْبَقِيْعِ فَتَسْتَغْفِرْ لَهُمْ، قَالَتْ قُلْتُ كَيْفَ اَقُوْلُ لَهُمْ؟ يَارَسُوْلَ اللهِ! قَالَ قُوْلِيْ اَلسَّلَامُ عَلٰى اَهْلِ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَ الْمُسْلِمِيْنَ وَيَرْحَمُ اللهُ الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنَّا وَالْمُسْتَأْخِرِيْنَ، وَ اِنَّا اِنْ شَاءَ اللهُ بِكُمْ لَلَاحِقُوْنَ .
(مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ مَايُقَالُ عِنْدَ دُخُوْلِ الْقُبُوْرِ وَالدُّعَاءُ لِاَهْلِهَا، ص: ۳۹۲، نَمْبَرْ ۹۷۴ / ۲۲۵۶)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- ستا رَبْ وَ تَا ته حُكْمْ درکوي چي د بَقِيْعْ و خلکو ته وَرسَه او د دُوي لپاره اِسْتِغْفَارْ وکه، حضرت عَائِشَهْ فَرْمَائِي چي مَا د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه پُوْښْتَنَهْ وکړه چي د دُوي لپاره څنګه دُعَاءْ وَ کم؟ نو حُضُوْرْ (ﷺ) و فَرْمَائِلْ ,, اَلسَّلَامُ عَلٰى اَهْلِ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَ الْمُسْلِمِيْنَ ,, تر اٰخِرْ پُوري وَوَايَهْ .

۱۵: عَنْ عَائِشَةَ اَنَّهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) كُلَّمَا كَانَ لَيْلَتُهَا مِنْ رَسُوْلِ اللهِ (ﷺ) يَخْرُجُ مِنْ اٰخِرِ اللَّيْلِ اِلَى الْبَقِيْعِ فَيَقُوْلُ:- اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِيْنَ وَاَتَاكُمْ مَّا تُوْعَدُوْنَ غَدًا مُؤَجَّلُوْنَ، وَ اِنَّا اِنْ شَاءَ اللهُ، بِكُمْ لَلَاحِقُوْنَ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِاَهْلِ بَقِيْعِ الْغَرْقَدِ .
(مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ مَايَقُوْلُ عِنْدَ دُخُوْلِ الْقُبُوْرِ وَالدُّعَاءِ لِاَهْلِهَا، ص: ۳۹۲، نَمْبَرْ ۹۷۴ / ۲۲۵۵)
تَرْجَمَهْ:- حضرت عَائِشَهْ فَرْمَائِي چي هر كله به حُضُوْرْ (ﷺ) زَمَا په نَوْبَتْ (وَارئ) وُو نو د شپې په اٰخِرِيْ حِصَّهْ كي به جَنَّتُ الْبَقِيْعْ (قَبْرِسْتَانْ) ته تَشْرِيْفْ يُوړئ، او دغه كَلِمَاتْ به ويلې، :- اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِيْنَ اِلَخْ ، او دا به وَيَل چي ائ اَللهْ د بَقِيْعْ وَالا مَعَافْ كې .
په دغه حَدِيْثْ كي دئ چي د مړي (مَيِّتْ) لپاره دي اِسْتِغْفَارْ وكي .

چي د قَبْرْ والا ته سَلَامْ كوي نو وَ قَبْرْ ته مُتَوَجِّهْ كېدلائي سي

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

**۱۶: عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَرَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) بِقُبُوْرِ الْمَدِيْنَةِ فَاَقْبَلَ عَلَيْهِمْ بِوَجْهِه فَقَالَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا اَهْلَ الْقُبُوْرِ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ اَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْاَثَرِ .**

(تِرمِذِيْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ مَايَقُوْلُ الرَّجُلُ اِذَا دَخَلَ الْمَقَابِرَ، ص: ۲۵۴، نَمْبَرْ ۱۰۵۳)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) د مَدِيْنَهْ مُنَوَّرَهْ د يَوه قَبْرِسْتَانْ سره رَاتېر سو، نو وَ هغه ته مُتَوَجِّهْ سو او وَ فَرْمَائِلْ:- اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا اَهْلَ الْقُبُوْرْ اِلَخْ، اَللّٰهْ دي زمُوږ او ستاسو مَغْفِرَتْ وكي، تاسو زمُوږ سَلَفْ (مَخ وُړي) ياست او مُوږ وروسته رَارَوَانْ يُو .

په دغه حَدِيْثْ كي دئ چي د سَلَامْ كولو لپاره حُضُوْرْ (ﷺ) د اَهْلِ مَدِيْنَهْ د قَبْرُوْ وَ طَرَفْ ته مُتَوَجِّهْ سو .

## كه د قَبْرْ سره كښېنِي نو وَ قِبْلَهْ ته دي مَخَامَخْ كښېنِي

چي د قَبْرُوْ سره نَاسْتْ وي نو بَايَدْ چِهْرَهْ يې وَ قِبْلَهْ ته وي چي د يَو چَا دا خِيَالْ نَه سي چي د قَبْرْ والا سره نَاسْتْ دئ دهغه څخه څَه غُوَاړي .

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

**۱۷: عَنِ الْبَرَاءَ بن عَاذِبٍ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ (ﷺ) فِيْ جَنَازَةِ رَجُلٍ مِّنَ الْاَنْصَارِ فَانْتَهَيْنَا اِلَى الْقَبْرِ وَلَمْ يُلْحِدْ بَعْدُ فَجَلَسَ النَّبِيُّ (ﷺ) مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ وَجَلَسْنَا مَعَهُ .**

(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابٌ كَيْفَ يَجْلِسُ عِنْدَ الْقَبْرِ، ص: ۴۶۹، نَمْبَرْ ۳۲۱۲)

تَرْجَمَهْ:- مُوږ د حُضُوْرْ (ﷺ) سره د يَوه اَنْصَارِيْ صَحَابِيْ په جَنَازَهْ كي رَاوَوَتُو، مُوږ قَبْرْ ته رَاوَرَسېدُو ، تر اُوسَه لا قَبْرْ نَه وُو كښل سوئ، نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ قِبْلَهْ ته مُتَوَجِّهْ (مَخَامَخْ) كښېنَستَئ، او مُوږ هم دده سره كښېنَستُلُو .

په دغه حَدِيْثْ كي دئ چي حُضُوْرْ (ﷺ) په قَبْرِسْتَانْ كي وَ قِبْلَهْ ته مَخَامَخ كښېنَستَئ. د اَدَبْ تَقَاضَا هم دغه ده .

## په عَامَّهْ حَالَاتُوْ كي د ښځو لپاره قَبْرْ ته تَلَل مَنْعَ دئ

په عُمُوْمِيْ حَالَاتُوْ کي د ښځو لپاره وَ قَبْرِسْتَانْ ته تَلَل مَنْعَ دئ، ځکه چي دُوي آهْ و فَرْيَادْ کوي، او د شَرِيْعَتْ څخه په خِلَافْ کارُوْ کي مَشْغُوْلَ سي، اَلْبَتَّهْ د بعضو نورو حَدِيْثُوْ لکبله بعضو حَضْرَاتُوْ کله نَا کله د تَلَلُو گُنْجَائِشْ وَرکړئ دئ، په دي کي هم هغه اُوَهْ شَرْطُوْنَهْ سته .

دا چي د ښځو لپاره قَبْرِسْتَانْ ته تَلَل مَنْعَ دئ، دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

**۱۸: عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَعَنَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) زَوَّرَاتِ الْقُبُوْرِ .**

**(اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ، بَابُ مَاجَاءَ عَنْ زِيَارَةِ النِّسَاءِ الْقُبُوْرَ، ص: ۲۲۴، نَمْبَرْ ۱۵۷۵)**

تَرْجَمَهْ:- د قَبْرْ پر زِيَارَتْ کونکو ښځو باندي حُضُوْرْ (ﷺ) لَعْنَتْ وکړئ .

**۱۹: عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَعَنَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) زَائِرَاتَ الْقُبُوْرِ وَالْمُتَّخِذِيْنَ عَلَيْهَا الْمَسَاجِدَ وَ السُّرُجَ .**

**(تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الصَّلَاةْ، بَابُ مَاجَاءَ فِيْ كَرَاهِيَةِ اَنْ يَتَّخِذَ عَلَى الْقَبْرِ مَسْجِدًا، ص: ۸۸، نَمْبَرْ ۳۲۰ / نَسائي شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ التَّغْلِيْظِ فِيْ اِتِّخَاذِ السُّرُجِ عَلَى الْقُبُوْرِ، ص: ۲۸۶، نَمْبَرْ ۲۰۴۵)**

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) د قَبْرْ پر زِيَارَتْ کونکو ښځو باندي لَعْنَتْ وکړئ، او پر هغو چي پر قَبْرُوْ باندي مَسْجِدُوْنَهْ جوړوي، او چي هلته څرَاغُوْنَهْ بلَوِي (لَگوِي) پر هغوي يې هم لَعْنَتْ وکئ .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي کُومي ښځي د قَبْرُوْ زِيَارَتْ کوي پر هغوي باندي حُضُوْرْ (ﷺ) لَعْنَتْ کړئ دئ، نو ځکه په عَامَّهْ حَالَاتُوْ کي د ښځو وَ قَبْرِسْتَانْ ته تَلَل ښَهْ کارْ نَه دئ، اَلْبَتَّهْ چي کله نَا کله وُلَاړيْ سي نو ددې گُنْجَائِشْ سته .

## د ښځو لپاره کله نَا کله د قَبْرْ د زِيَارَتْ گُنْجَائِشْ سته

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

**۲۰: عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) رَخَّصَ فِيْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ .**

**(اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ، بَابُ مَاجَاءَ فِيْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ، ص: ۲۲۳، نَمْبَرْ ۱۵۷۰)**

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) د قَبْرْ د زِيَارَتْ کولو رُخْصَتْ (اِجَازَتْ) ورکړئ .

ددغه ,, رُخْصَتْ ,, د لَفْظْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي کله نَا کله زِيَارَتْ وکي نو ددغه گُنْجَائِشْ يا اِجَازَتْ سته .

۲۱: عَنْ سُلَيْمَانَ بن بُرِيْدَةَ قَالَ:- قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) قَدْ كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ فَقَدْ اُذِنَ لِمُحَمَّدٍ فِیْ زِيَارَةِ قَبْرِ اُمِّهٖ، فَزُوْرُوْهَا فَاِنَّهَا تُذَكِّرُ الْاٰخِرَةَ .

(تِرْمِذِیْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ مَاجَاءَ فِی الرُّخْصَةِ فِیْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ، ص: ۲۵۴، نَمْبَرْ ۱۰۵۴)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- مَا به تاسو د قَبْرُوْ د زِيَارَتْ كولو څخه مَنْعَ كولاست، لېكن وَ مُحَمَّدْ ته يې د خپلي مُوْرْ د قَبْرْ د زِيَارَتْ كولو اِجَازَتْ وركئ، نو لِهٰذَا اُوس ددې زِيَارَتْ كوئ، ځكه چي په دې سره آخِرَتْ په يَادېږي .

۲۲: قَالَ تُوُفِّیَ عَبْدُ الرَّحْمٰنُ بنِ اَبِیْ بَكْرٍ بِالْحُبْشِیِّ قَالَ فَحُمِلَ اِلٰی مَكَّةَ فَدُفِنَ فِيْهَا فَلَمَّا قَدِمَتْ عَائِشَةَ اَتَتْ قَبْرَ عَبْدِالرَّحْمٰنَ بنِ اَبِیْ بَكْرٍ .

(تِرْمِذِیْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ مَاجَاءَ فِی الزِّيَارَةِ لِلْقُبُوْرِ لِلنِّسَاءِ، ص: ۲۵۵، نَمْبَرْ ۱۰۵۵)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَبْدُ الرَّحْمٰنْ بِن اَبِیْ بَكْرْ په حَبْشَهْ كي وَفَاتْ سو نو دئ يې مَكَّهْ ته رَاوړئ، او هلته يې دَفْنْ كئ، چي كله حضرت عَائِشَهْ د سَفَرْ څخه بېرته وَاپَس راغله نو د عَبْدُ الرَّحْمٰنْ بِن اَبِیْ بَكْرْ د زِيَارَتْ لپاره وَرغَلَه .

ددغه حَدِيْثُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي ښځي (زَنَانِي) كله نَا كله قَبْرْ ته تللائي سي .

## پر قَبْرْ باندي عِمَارَتْ جوړول مَكْرُوْهْ دئ

پر قَبْرْ باندي عِمَارَتْ (خُوْنَهْ/ كُوْتَهْ/ كمْرَهْ) جوړول مَكْرُوْهْ ده، ددې دَلِيْلْ دغه حَدِيْثْ دئ

۲۳: عَنْ جَابرَ قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اَنْ تَجَصَّصَ الْقُبُوْرَ، وَ اَنْ يَّكْتُبَ عَلَيْهَا، وَ اَنْ يَّبْنٰی عَلَيْهَا، وَ اَنْ تُوْطَاَ .

(تِرْمِذِیْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ مَاجَاءَ فِی كَرَاهِيَةِ تَجْصِيْصِ الْقُبُوْرِ وَالْكِتَابَةِ عَلَيْهَا، ص: ۲۵۴، نَمْبَرْ ۱۰۵۲ / اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ، بَابُ مَاجَاءَ فِی النَّهْیِ عَنِ الْبنَاءِ عَلَی الْقُبُوْرِ وَالْكِتَابَةِ عَلَيْهَا، ص: ۲۲۲، نَمْبَرْ ۱۵۶۲)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) د قَبْرْ د يَخُوْلُو څخه مَنْعَ كړې ده، او پر هغه باندې د عِمَارَتْ جوړولو څخه مَنْعَ كړې ده، او دا چي هغه تر پښُو وَكاږي (يعني پر قَبْرُوْ باندي د خَتَلُو او لوېدَلُو) څخه يې مَنْعَ كړې ده .

**۲۴: عَنْ جَابرَ نَـهٰی رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اَنْ يُّجَصِّصَ الْقَبْرَ، وَ اَنْ يَّقْعُدَ عَلَيْهِ، وَ اَنْ يَّبْنٰى عَلَيْهِ .**
(**مُسْلِمْ شَرِيْفْ**، **كِتَابُ الْجَنَائِزْ**، **بَابُ النَّهْيِ عَنْ تَجْصِيْصِ الْقَبْرِ وَالْبِنَاءِ عَلَيْـهِ**، **ص**: **۳۹۰**، **نَمْبَرْ ۹۷۰ / ۲۲۴۵**)
**تَرْجَمَـهْ**:- **حُضُـوْرْ** (ﷺ) د **قَبْـرْ** د **يَخُوْلُـو** څخـه **مَنْـعَ** كـړې ده، او پـر هغـه بانـدې د **كېښېنَسْتَلُو** څخه **مَنْعَ** كړې، او پر هغه باندې د **تَعْمِيْرْ** جوړولو څخه **مَنْعَ** كړې ده .

**۲۵: عَنْ اَبِىْ سَعِيْدٍ اَنَّ النَّبِىَّ (ﷺ) نَهٰى اَنْ يَّبْنٰى عَلَى الْقُبُوْرِ .**
(**اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ**، **بَابُ مَاجَاءَ فِى النَّهْيِ عَنِ الْبِنَاءِ عَلَـى الْقُبُوْرِ وَالْكِتَابَـةِ عَلَيْهَـا**، **ص**: **۲۲۲**، **نَمْبَرْ ۱۵۶۴**)
**تَرْجَمَهْ**:- **حُضُوْرْ** (ﷺ) پر **قَبْرْ** باندې د **عِمَارَتْ** جوړولو څخه **مَنْعَ** كړې ده .
په دغه درو سره **حَدِيْثُوْ** كې پر **قَبْرْ** بانـدې د **عِمَـارَتْ** (يعنـې **كُوْټِې** او **مَـاجَرْ**) جوړولو څخه په ډېره **سَخْتِيْ** سره **مَنْعَ** كړې ده .

## څوک چې پر **قَبْرْ عِمَارَتْ** جوړوي دهغوي **دَلِيْلْ**

بعض حِضَرَات وائي ددې لپاره چې خلـک **قُرْآنْ** پـه كـې ووائـي، يـا د **دُعَـاءْ** كولو لپاره د **قَبْرْ** شَا و خُوَا ته يَو ځائ **عِمَارَتْ** او **خُوْنَهْ** جـوړول **جَائِزْ** ده، او ددې لپاره ډُوي د **بُزَرْګَانُوْ** بَعض **اَقْوَالْ** وُړَاندِې كوي

## لېكن په هغه كې دغه **خَامِيَان** دي

**[۱]** ..... چې په **حَدِيْثْ** كې په **سَخْتِيْ** سره **مَنْعَ** كـړې وي نـو د ګُوم **بُزَرْګْ قَوْلْ** په **اِسْتِدْلَالْ** كې وُړَاندِې كول **صَحِيْحْ كَارْ** نَه دئ .
**[۲]** ..... **نَنْ سَبَا** خلک د **قُرْآنْ** وَيَلُو لپاره **لَږْ**، او د **شُـهْرَتْ**، **قَوَّالِيْ** او **ډُوْلْ**، (او د **وَدُوْ** يعني **شَادِيْ هَالْ**) لپاره ډېـر **عِمَارَتُوْنَـهْ** جـوړوي، تاسـو ددې لپـاره **يُوْتِيُوْبْ** (youtube) او **اِنْتَرْ نِيْتْ** (internat) وَګُورَئ، بيا **فَيْصَلَهْ** وكئ .
**[۳]** ..... **حُضُوْرْ** (ﷺ) ته دا **خَطَرْ** وُو چې دتېر سوو **قَوْمُوْنُـوْ** پـه **شَـانْ** دغـه **زَمَا قَوْمْ** هم د **قَبْرْ** او د **اَهْلِ قَبْرْ** په **خُرَافَاتْ** كې وَ نَه لوېږي، نـو ځكـه يـې پـر **قَبْرْ** باندې د **عِمَارَتْ** جوړولو او پر **قَبْرْ** باندې د **څَرَاغَانُوْ** لګولـو څخـه يـې پـه ډېره **سَخْتِيْ** سره **مَنْعَ** وكړه .

# د حُضُوْرْ (ﷺ) پر قَبْرْ باندي گُنْبَدْ وَلِي ستـه؟

د حَدِيْثْ په رَنَا كي بَايَدْ چي د حُضُوْرْ (ﷺ) پر قَبْرْ باندي چَتْ نَه واىٔ، لـيكن لُومړي خَبَرَهْ خو داده چي د حُضُوْرْ (ﷺ) قَبْرْ شَرِيْفْ د حضـرت عَائِشَـهْ پـه خُوْنَـهْ (كُوْتَهْ) كي وُو، نو ځكه د اَوَّلْ څخه لَا سَايَوَانْ وُو، او دغه سَايَوَانْ تـر ډېرو كلُوْنُوْ پُوري وُو، وروسته بيا دارنګه سو چي كُوم خلـک د دَبَانْـدِيْ او لِيري لِيرِي عَلَاقُوْ څخه رَاتَلَل هغوي دا غُوَښتَل چي وَ قَبْرْ تـه نِـژدې وَرسِـي، او څَه كسَانُو دهغه ځايَه څخه خَاوْرِيْ هم رَاپُورتَه كولي، ځكه چي د دَبَانْـدِيْ خلګ ډُومرَه زِيَاتْ تَرْبِيَّتْ يَافْتَهْ نَه وُو، نو په دغه وَجْـهَ يـې د قَبْـرْ شَـا و خُـوَا دِبوَالْ رَاوَګرزَاوَئ چي خلګ تر هغه ځايَه پُوري نَه وَرسېږي، او عَمَلًا د قَبْرْ شَرِيْفْ تَوْهِيْنْ وَ نَه كي .

په سنة ۵۵۷ هِجْرِيْ مُطَابِقْ ۱۱۶۲ عِيْسَوِيْ كي سُلْطَانْ نُـوْرُ الـدِّيْنْ زَنْـكِـيْ چي د دَمِشْقْ (شَامْ) وَالِيْ وُو د هغه په زَمَانَـهْ كي يَوَه وَاقِعَهْ رَامِينځ تـه سوه، هغه وَاقِعَهْ دا وه چي څَه يَهُوْدِيَانُوْ د حُضُوْرْ (ﷺ) تر قَبْرْ پُوري سُرُنْګْ جوړ كئ او د حُضُوْرْ (ﷺ) د تَوْهِيْنْ كولو يَو نَاوَړَهْ كُوښښ يـې وكـئ، نـو پـه دغـه وَجْـهَ نُوْرُ الدِّيْنْ زَنْكِيْ د قَبْرْ شَا و خُوَا اَطْرَافْ ته د چِيـنې يَـو مَضْبُوْطْ بُنْيَـادْ وَاچاوَئ چي كُوم يَهُوْدِيْ دلته سُرُنْګْ يا په مځكه كي نَغْمْ جوړ نَه كي .

ددغـه حَـالَاتُوْ لمَخّـه پـه سـنة ۶۷۸ هِجْـرِيْ، مُطَـابِقْ ۱۲۷۹ عِيْسَـوِيْ كـي سُلْطَانْ سَيْفُ الدِّيْنْ قَلَادُوْنْ دهغه مَرَمَّتْ وكـئ او د لَرْكِـيْ يَـو مَضْبُوْطْ دبـوَالْ يې جوړ كئ، او چَتْ يې هم پر جوړ كئ، چي څـوک د لُـوړي خُـوَا څخـه هـم رَا نَه سي، او يَو څوک د شَا و خُوَا اَطْرَافْ څخه هم دَنَنَهْ وُلَاړْ نَه سي، او نَـه څوک نُقْصَانْ وَر وَرسَوِي، نو ددغه مَجْبُوْرِيْ پـه وَجْـهَ يـې د حُضُوْرْ (ﷺ) د قَبْرْ شَرِيْفْ شَا و خُوَا د لَرْكِيُوْ دِبوَالْ، او د لَرْكِيُوْ چَتْ پر جوړ كئ، كه نَـه نـو د حَدِيْثْ په اِعْتِبَارْ سره پر دې باندي بَايَدْ نَه كُوم عِمَارَتْ واىٔ، او نَه كُوم چَتْ واىٔ .

په هغه وَخْتْ خو دغه دبوَالْ د لَرْكِيْ وُو، نـو پـه سَـنَةْ ۸۸۶ هِجْـرِيْ، مُطَـابِقْ ۱۴۸۱ عِيْسَـوِيْ كـي پـه دغـه عِمَـارَتْ كـي يَـو ډېـر زَبَرْدَسْـتَهْ اُوْرْ (وُوْرْ) وَلَګېدَئ، او وَسوځَل سو، چي ددې لكبله سُلْطَانْ قَاتِيْبَـائِي مِصْرِيْ پـه خَبْـتُوْ او ډَبرُوْ سره ددې تَعْمِيْرْ وكـئ، او پر هغه يې مَضْبُوْطْ گُنْبَدْ جوړَ كـړه، چـي څوک دَنَنَهْ وُلَاړْ نَه سي، هغه وَخْتْ يې دغه عِمَـارَتْ او گُنْبَـدْ پـه سَـادَهْ رَنـګ سره رَنګوَلـه، پـه سَـنَةْ ۱۲۵۳ هِجْـرِيْ، مُطَـابِقْ سَـنَةْ ۱۸۳۷ عِيْسَـوِيْ كـي

سُلْطَانْ مَحْمُوْدْ بِن عَبْدُ الْحَمِيْدْ هغه په زَرْغُوْنْ رَنګ سره وَ رَنګوَلَه، او هغه رَنګ تر نَنْ وُرَځِې پُورِي رَارَوَانْ دئ .
دا چې پر قَبْرْ باندي عِمَارَتْ مَه جوړوئ پر دغه حَدِيْثْ باندي د عَمَلْ كولو په وَجْهَه د حُضُوْرْ (ﷺ) قَبْر، او د حضرت اَبُوْبَكْرْ او حضرت عُمَرْ قَبْرُوْنَهْ د خَاوْرُوْ دي، او پر هغه باندي شِګِيْ اَوَارِيْ دي، اَلْبَتَّهْ د خلګو څخه د حِفَاظَتْ په خَاطَرْ يې لِيْرِيْ لِيْرِيْ دِيوَالْ او پر هغه يې چَتْ جوړ كړئ دئ .

د حُضُوْرْ (ﷺ) پر قَبْرْ مُبَارَكْ باندي خَاوْرِيْ دي، دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ
**۲۶**: عَنِ الْقَاسِمِ قَالَ دَخَلْتُ عَلٰى عَائِشَةَ فَقُلْتُ يَا اُمَّهْ! اِكْشِفِيْ لِيْ عَنْ قَبْرِ رَسُوْلِ اللهِ (ﷺ) وَصَاحِبَيْهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فَكَشَفَتْهُ لِيْ عَنْ ثَلَاثَةِ قُبُوْرٍ، لَامُشْرِفَةٍ، وَ لَا لَاطِئَةٍ، مَبْطُوْحَةٍ بِبَطْحَاءِ الْعَرْصَةِ الْحَمْرَاءَ .
(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابٌ فِيْ تَسْوِيَةِ الْقَبْرِ، ص: ۴۷۰، نَمْبَرْ ۳۲۲۰)
تَرْجَمَهْ:- حضرت قَاسِمْ ؒ فَرْمَائِي چې زَهْ حضرت عَائِشَهْ ته راغلم، او هغې ته مې ووېل چې مَا ته د حُضُوْرْ (ﷺ) او دده د دُوُو مَلګرُو قَبْرُوْنَهْ رَاښكاره كه؟ نو هغې درې قَبْرُوْنَهْ رَاښكاره كړل، چې ډېر لُوَړْ (جَګْ) هم نَه وُو، او ډېر كښَتَّه (ټِيْټْ) هم نَه وُو، پر هغه يې د بَطْحَاءْ سرې سرې شَګِيْ اَوَارِيْ كړي وې .
په دغه قَوْلِ صَحَابِيْ يعني اَثَرْ كي دئ چې د حُضُوْرْ (ﷺ) پر قَبْرْ باندي اُوس مَحَالْ هم سرې شِګِيْ اَوَارِيْ دي .

نو ځكه دا چې د حُضُوْرْ (ﷺ) پر قَبْرْ باندي عِمَارَتْ جوړ سوئ دئ ددې څخه دا اِسْتِدْلَالْ كول چې پر نورو قَبْرُوْ باندي هم قُبَّهْ او ګُنْبَدْ جوړول جَائِزْ ده، دغه اِسْتِدْلَالْ كول غَلَطْ دئ، دغه د حَدِيْثْ څخه خِلَافْ دئ .

## قَبْرْ ډېر جګول (لُوړَوَلْ) هم مَكْرُوْهْ دئ

قَبْرْ جګوَل هم صَحِيْحْ نَه دئ .
دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ
**۲۷**: عَنْ اَبِى الْهِيَاجِ الْاَسَدِيّ قَالَ:- قَالَ لِيْ عَلِيٌّ بِن اَبِيْ طَالِب اَ لَا اُبْعِثُكَ عَلٰى مَا بَعَثَنِيْ عَلَيْهِ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) ؟ اَنْ لَّا تَدَعُ تِمْثَالًا اِلَّا طَمَسْتُهُ وَلَا قَبْرًا مُشْرِفًا اِلَّا سَوَّيْتُهُ .
(مُسْلِمْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ الْاَمْرِ بِتَسْوِيَةِ الْقَبْرِ، ص: ۳۸۹، نَمْبَرْ ۹۶۹/ ۲۲۴۳)

تَرْجَمَہْ:- اَبُوالْهِيَاجْ اَسَدِيْ وائي چي حضرت عَلِيْ مَا تـه وَ فَرْمَائِلْ چـي:- د څُوم شـي لپاره چي زَهْ حُضُوْرْ (ﷺ) رَا اَستوَلَئ يم زَهْ تَا دهغه لپاره نه وَاستوَم؟ زَهْ يې ددې خَبَرِيْ لپاره اَستوَلَئ يم چي يَو بُتْ نه وَوِينَم مگر دا چي هغه مَاتْ کم، او يَو جَڳْ قَبْرْ وَ نه وِينَم مگر دا چي هغه بَرَابَرْ کم .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي جَڳْ جَڳْ قَبْرُوْ سره بَرَابَرْ کـئ، ځکه چـي قَبْرْ جَڳوَل هم صَحِيْحْ نَه دئ، لِهٰذَا قَبْرْ يَخُوَلْ او جَڳوَلْ بِنَہْ کَارْ نَه دئ .

بعضو حضراتو دا فَرْمَائِلِيْ دي چي دغـه حُکْمْ د کَافِرَانُوْ د قَبْرُوْ پـه اړه وُو چي هغه سره بَرَابَرْ کړئ، ليکن دغه تَأْوِيْلْ په دې وَجْهْ صَحِيْحْ نَـه دئ پـه دغـه حَدِيْثْ کي د هيڅ يَوَه قَبْرْ تَخْصِيْصْ نَه دئ سو، بلکه د ټولـو قَبْرُوْ لپـاره دغـه حُکْمْ عَامْ دئ .

## د قَبْرْ شَا و خُوَا ته مَسْجِدْ جوړول هم مَکْرُوْهْ دئ

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

**۲۸ : عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَعَنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) زَائِرَاتِ الْقُبُوْرِ وَالْمُتَّخِذِيْنَ عَلَيْهَا الْمَسَاجِدَ وَ السُّرُجَ .**

(تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ، کِتَابُ الصَّلَاةْ، بَابُ مَاجَاءَ فِيْ کَرَاهِيَةِ اَنْ يَّتَّخِذَ عَلَى الْقَبْرِ مَسْجِدًا، ص: ۸۸، نَمْبَرْ ۳۲۰ / نَسَائی شَرِيْفْ، کِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ التَّغْلِيْظِ فِيْ اِتِّخَاذِ السُّرُجِ عَلَى الْقُبُوْرِ، ص: ۲۸۶، نَمْبَرْ ۲۰۴۵)

تَرْجَمَہْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) د قَبْرْ پر زِيَارَتْ کونکو ښځو باندي لَعْنَتْ وکړئ، او پـر هغـو چي پر قَبْرُوْ باندي مَسْجِدُوْنَهْ جوړوي، او چي هلته څَرَاغُوْنَهْ بَلَوي (لَګوِي) پـر هغـوي يې هم لَعْنَتْ وکـئ .

**۲۹ : عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ اُمِّ سَلَمَةَ ذَ کَرَتْ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ (ﷺ) کَنِيْسَةً رَأَتْهَا بِاَرْضِ الْحَبْشَةِ يُقَالُ لَهَا مَارِيَةٌ فَذَکَرَتْ لَهُ مَا رَأَتْ فِيْهَا مِنَ الصُّوَرِ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) اُولٰئِكَ قَوْمٌ اِذَا مَاتَ فِيْهِمُ الْعَبْدُ الصَّالِحُ اَوِ الرَّجُلُ الصَّالِحُ بَنَوْا عَلٰى قَبْرِه□ مَسْجِدًا وَصَوَّرُوْا فِيْهِ تِلْكَ الصُّوَرَ، اُولٰئِكَ شِرَارُ الْخَلْقِ عِنْدَ اللّٰهِ .**

(بُخَارِیْ شَرِيْفْ، کِتَابُ الصَّلَاةْ، بَابُ الصَّلَاةِ فِى الْبِيْعَةِ، ص: ۷۵، نَمْبَرْ ۴۳۴)

تَرْجَمَہْ:- حضرت اُمِّ سَلَمَةْ د حُضُوْرْ (ﷺ) په مَخکې د هغه چَرْچْ (کَلِيْسَا) بَيَانْ وکـئ کُوم چي دې په حَبْشَهْ کي لِيدَلې وه، د هغه کَلِيْسَا نُوْمْ ,, مَارِيَّہْ ,, وُو، پـه هغـه کـي چي کُوم تَصْوِيْرْ لَګېدَلَئ دئ د هغه تَذْکِرَهْ يې وکړه، نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي دا خو يَو قَوْمْ وُو چي کله به د دُوي بِنَہْ نيکَانْ خلک مَړَه سول نـو دهغـوي پـر قَبْرُوْ بـه يـې

مَسْجِدْ جوړاوَئ، او په هغه کي به دهغه تَصْوِيْرَانْ لګوَل، د اَللّٰهْ په نيز دغه شَرِيْرْ مَخْلُوْقْ دئ .
په دغه حَدِيْثُوْ کي دئ چي قَبْرْ ته نِژدي مَسْجِدْ جوړول هم مَکْرُوْهْ دئ، لېکن بعضو خلګو خَامَخَا ددې په خِلَافْ فَتْوٰي ورکړې ده، او خلګ يې ګُمْرَاهَانْ کړي دي .

## پر قَبْرْ باندي څرَاغَانْ بلَوَلْ هم مَکْرُوْهْ دي

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

**۳۰: عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَعَنَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) زَائِرَاتِ الْقُبُوْرِ وَالْمُتَّخِذِيْنَ عَلَيْهَا الْمَسَاجِدَ وَ السُّرُجَ .**

(تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الصَّلَاةْ، بَابُ مَاجَاءَ فِيْ كَرَاهِيَةِ اَنْ يَّتَّخِذَ عَلَى الْقَبْرِ مَسْجِدًا، ص: ۸۸، نَمْبَرْ ۳۲۰ / نَسَائِي شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ التَّغْلِيْظِ فِيْ اِتِّخَاذِ السُّرُجِ عَلَى الْقُبُوْرِ، ص: ۲۸۶، نَمْبَرْ ۲۰۴۵)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) د قَبْرْ پر زِيَارَتْ کونکو ښځو باندي لَعْنَتْ وکړئ، او پر هغو چي پر قَبْرُوْ باندي مَسْجِدُوْنَهْ جوړوي، او چي هلته څرَاغُوْنَهْ بلَوِي (لَګوِي) پر هغوي يې هم لَعْنَتْ وکئ .
په مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ کي خلګ پر قَبْرُوْ باندي څرَاغَانْ (بلَيَانْ) بلَوِي،او رَنْګا رَنْګهْ د بِجْلَئْ قُمْقُمي لَګوِي، او دغه د ثَوَابْ کارْ هم ګڼي .

## پر قَبْرُوْ باندي ګُلَانْ اَچَوَل هم ښَهْ کارْ نَه دئ

حُضُوْرْ (ﷺ) يا اَصْحَابَانُوْ ﷺ په هيڅ وَخْتْ هم پر هسي يَوَه قَبْرْ باندي ګُلَانْ نَه دي اَچَوِلي .
دغه د هِنْدُوَانُوْ طَرِيْقَهْ ده چي دُوي پر خپلو بُتَانُوْ او مُجَسَّمُوْ باندي ګُلُانْ اَچَوِي، او دهغوي د خُوْشْحَالَ کولو کُوښښ کوي، مُوږ بَايَدْ د هِنْدُوَانُوْ طَرِيْقَهْ خپله نَه کوو .

بعض حَضرَات ددغه حَدِيْثْ څخه پر قَبْرْ باندي د ګُلَانُوْ د اَچَوُلُو پر جَوَازْ باندي اِسْتِدْلَالْ کوي .

**۳۱: عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ (ﷺ) اَنَّهُ مَرَّ بِقَبْرَيْنِ يُعَذَّبَانِ، فَقَالَ اِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ ..... ثُمَّ اَخَذَ جَرِيْدَةً رَطْبَةً فَشَقَّهَا بِنِصْفَيْنِ ثُمَّ غَرَزَ فِيْ كُلِّ قَبْرٍ وَاحِدَةً، فَقَالُوْا يَارَسُوْلَ اللهِ لِمَ صَنَعْتَ هٰذَا؟ فَقَالَ لَعَلَّهُ اَنْ يُّخَفِّفَ عَنْهُمَا مَالَمْ يَيْبَسَا .**

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ الْجَرِيْدَةِ عَلَى الْقَبْرِ، صِ: ۲۱۸، نَمْبَرْ ۱۳۶۱)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) پر دُوْ قَبْرُوْ راتېر سو چي هغوي ته عَذَابْ وَرکېدئ، نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي دغه دواړو ته عَذَابْ وَرکوَل کېږي ..... بيا يې يَو نُنْدْ (نَوْدْ) ښَاخْ رَاوَاخستئ او هغه يې دُوې ټوټې کړئ، بيايې پر هر قَبْرْ باندي يَو يَو ښَاخْ جَګْ کئ، خلکو يُوښْتَنَهْ وکړه چي يَارَسُوْلَ اللهْ دا رنګه دي وَلِي وکړل؟ نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- تر څو چي دغه (ښَاخُوْنَهْ) وَچ سوي نَه وي نو کېدلائي سي چي تر هغه وَخْتَهْ دي د دُوي دُوَاړُوْ په عَذَابْ کي کمِي راسي .

په دغه حَدِيْثْ کي حُضُوْرْ (ﷺ) فَرْمَائِلِيْ دئ چي د قَبْرْ والا ته عَذَابْ وَرکوَل کېږي نو حُضُوْرْ (ﷺ) پر هغه باندي د خُوْرْمَا د دَرَخْتِيْ ښَاخْ جَګْ وَدَرَاوَئ، او دا يې وويل تر څو چي دا وَچْ سوئ نَه وي نو تر هغه وَخْتَهْ به د دُوي څخه عَذَابْ کم وي .

ددغه څخه اِسْتِدْلَالْ کوي چي پر قَبْرْ باندي ګُلَانْ اَچوَل جَائِزْ دي .

لېکن په دي کي دا خَبَرَهْ د يَامْ وَړ ده چي حُضُوْرْ (ﷺ) صِرف يَوْ وَارْ دغه رنګه کړي دي، نو ځکه دا مُمْکِنْ ده چي د حُضُوْرْ (ﷺ) په بَرَکَتْ سره دي عَذَابْ کم سوئ وي، نو دا څَه ضروري ده چي مُوږ هم يَو ښَاخْ پر قَبْرْ جَګ کو نو دهغه عَذَابْ دي کم سي؟ حُضُوْرْ (ﷺ) خو د خُوْرْمَا د دَرَخْتِيْ ښَاخْ جَګ کړئ وُو او مُوږ ګُلَانْ پر اَچوُو، او ګُلَانْ اَچوَل د هِنْدُوَانُوْ طَرِيْقَهْ ده هغه هم پر خپلو بُتَانُوْ باندي ګُلَانْ اَچوِي، لِهٰذَا ددې څخه پَرْهِيزْ کول بِهْتَرْ دئ .

نَنْ سَبَا پر قَبْرُوْ باندي يَو ګُلْ نَه اَچوِي، بلکه دغه د مُجَاوِرِيْنُ يَو ډېر ښَهْ کټَوَر کَارْ و بَارْ کرزېدَلئ دي، ددې څخه څومره خلک تِجَارَتْ کوي، تاسو وَګُوَئ دغه څومره غَټْ فَرْقْ دئ؟

## د غَرَائِبُ فَتْوٰي

بعض حَضرَات د دَلِيْلْ په تُوکه دغه فَتْوٰي وړَاندِي کوي، لېکن دغه فَتْوٰي په دې وَجْهَ هيڅ اِعْتِبَارْ نَه لري چي د فَتَاوٰي هِنْدِيَّهْ والا د ,, غَرَائِبْ ,, چي يَو کِتَابْ دئ دهغه څخه دغه فَتْوٰي نَقْلْ کړې ده، او پر هغه يې هيڅ يَو حَدِيْثْ هم نَه دئ وړَاندِي کړئ .

د ,, غَرَائِبْ ,, فَتْوٰي دغه ده

**وَضْعُ الْوَرْدَةِ وَالرَّيَاحِيْنَ عَلَى الْقُبُوْرِ حَسَنٌ وَ اِنْ تَصَدَّقَ بِقِيْمَةِ الْوَرْدِ كَانَ اَحْسَنُ كَذَا فِى الْغَرَائِبِ .**

(فَتَاوٰى هِنْدِيَّهْ، كِتَابُ الْكَرَاهِيَّةْ، اَلْبَابُ السَّادِسُ عَشَرَ، فِىْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ، ج: ۵، ص: ۳۵۱)

تَرْجَمَهْ:- چي پر قَبْرْ باندي گُلْ كُلَابْ كښېږدي، يا خُوْشْبُوْ كښېږدي نو دا ښَهْ كَارْ دئ، او كه دهغه قِيْمَتْ خَيْرَاتْ كي نو دا بيا ډېر ښَهْ كَارْ دئ، د غَرَائِبْ په كِتَابْ كي دغه رنګه لِيكلي دي .

په دغه عِبَارَتْ كي تاسو وَګورَئ چي يَو حَدِيْثْ يې نَه دئ وُړَانـدِي كړئ، او نَه يې د ګوم مُهِمْ كِتَابْ حَوَالَهْ وَركړې ده، دغه خو د غَرَائِبْ يَو عِبَارَتْ دئ نو ځكه دغه فَتْوٰي صَحِيْحْ نَه ده. بيا په خُصُوْصِيْ تُوګه نَنْ سَبَا چي دغه يَو ډېر غَتْ تِجَارَتْ هم ګرزېدلَئ وي .

## پر قَبْرْ باندي لِيكل هم ښَهْ كَارْ نَه دئ

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

**۳۲: عَنْ جَابِرَ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اَنْ يَّكْتُبَ عَلَى الْقَبْرِ شَىْءٌ .**

(اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ، بَابُ مَاجَاءَ فِى النَّهْىِ عَنِ الْبِنَاءِ عَلَى الْقُبُوْرِ وَالْكِتَابَةِ عَلَيْهَا، ص: ۲۲۲، نَمْبَرْ ۱۵۶۳)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) پر قَبْرْ باندي د يَو شِي د لِيكلُو څخه مَنْعَ كړې ده .

په دغه حَدِيْثْ كي دئ چي پر قَبْرْ باندي د څَه لِيكلُو څخه يې مَنْعَ كړې ده .

## پر قَبْرْ باندي د عَلَامَتْ لپاره ډَبَرَهْ اِيښُوَل جَائِزْ ده

چي پر قَبْرْ باندي د عَلَامَتْ يَو شَئ كښېږدي چي مَعْلُوْمْ سي چي دا د فُلَانِيْ قَبْرْ دئ نو ددې څَه نَا څَه ګُنْجَائِشْ سته، لېكن يَو عَامْ رِوَاجْ دي نَه جوړوي .

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

**۳۳: عَنْ اَنَسِ بن مَالِكٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) اَعْلَمَ قَبْرَ عُثْمَانَ بِنِ مَظْعُوْنٍ بِصَخْرَةٍ .**

(اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ، بَابُ مَاجَاءَ فِى الْعَلَامَةِ فِى الْقَبْرِ، ص: ۲۲۲، نَمْبَرْ ۱۵۶۱)

تَرْجَمَـهْ:- حُضُـوْرْ (ﷺ) د حضـرت عُثْمَـانْ بِـنِ مَظْعُـوْنْ پـر قَبْـرْ بانـدي پَرْښَـهْ (غَرْګئ/ګارَهْ) کښېښوَلَه چي نِشَانِيْ وي .

## وَ قَبْرْ ته مَخَامَخْ لُمُوْنْځْ کول جَائِزْ نَه دئ

چي وَ قَبْرْ ته مَخْ وي او لُمُوْنْځْ کوي نو دا هم نَاجَائِزْ دئ، نو هغه ته سَجْدَهْ کول به څنګه جَائِزْ وي؟

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

۳۴: عَنْ اَبِیْ مَرْسَدِ الْغَنَوِیّ قَالَ:- قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) لَاتَجْلِسُوْا عَلَی الْقُبُوْرِ وَلَا تُصَلُّوْا اِلَيْهَا .

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْجُلُوْسِ عَلَى الْقَبْرِ وَالصَّلَاةِ عَلَيْهِ، ص: ۳۹۰، نَمبَرْ ۹۷۲ / ۲۲۵۰)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَفَرْمَائِلْ چي:- پر قَبْرُوْ مَه کښېنئ، او چي وهغه ته مُو مَخ کړزولئ وي لُمُوْنْځْ هم مَه کوئ .

ددغه حَدِيْثْ څخه ثَابِتْ سو چي وَ قَبْرْ ته يې مَخْ کړئ وي لُمُوْنْځْ کول هم نَاجَائِزْ دئ، چي د خلګو دا خِيَالْ نَه سي چي دئ د صَاحِبِ قَبْرْ عِبَادَتْ کوي .

## پر قَبْرْ باندي کښېنَستَل هم مَكْرُوْهْ دئ

چي پر قَبْرْ کښِينِي نو د قَبْرْ وَالا تَوْهِيْنْ او بِي عِزَّتِيْ ده، نو ځکه پر قَبْرْ باندي کښېنَستَل او دَرېدَل او لُوړ پر تېرېدَل هم مَكْرُوْهْ دئ

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

۳۵: عَنْ اَبِیْ مَرْسَدِ الْغَنَوِیّ قَالَ:- قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) لَاتَجْلِسُوْا عَلَی الْقُبُوْرِ وَلَا تُصَلُّوْا اِلَيْهَا .

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْجُلُوْسِ عَلَى الْقَبْرِ وَالصَّلَاةِ عَلَيْهِ، ص: ۳۹۰، نَمبَرْ ۹۷۲ / ۲۲۵۰)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَفَرْمَائِلْ چي:- پر قَبْرُوْ مَه کښېنئ، او چي وهغه ته مُو مَخ کړزولئ وي لُمُوْنْځْ هم مَه کوئ .

۳۶: عَنْ جَابِرَ نَهٰی رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اَنْ يُّجَصَّصَ الْقَبْرَ، وَ اَنْ يَّقْعُدَ عَلَيْهَا، وَ اَنْ يَّبْنٰی عَلَيْهَا .

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ النَّهْيِ عَنْ تَجْصِيْصِ الْقَبْرِ وَالْبِنَاءِ عَلَيْهِ، ص: ۳۹۰، نَمْبَرْ ۹۷۰ / ۲۲۴۵)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) د قَبْرْ د يَخُوْلُو څخه مَنْعَ كړې ده، او پر هغه باندې د كښېنَسْتَلُو څخه مَنْعَ كړې ده، او پر هغه باندي د تَعْمِيْرْ جوړولو څخه يې مَنْعَ كړې ده .

## قَبْرْ تر پُښُوْ كښل (پر قَبْرْ خَتَلْ) مَكْرُوْهْ دئ

۳۷: عَنْ جَابِرَ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) اَنْ تَجَصَّصَ الْقُبُوْرَ، وَ اَنْ يَّكْتُبَ عَلَيْهَا، وَ اَنْ يَّبْنٰى عَلَيْهَا، وَ اَنْ تُوْطَأَ .
(تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ مَاجَاءَ فِى كَرَاهِيَةِ تَجْصِيْصِ الْقُبُوْرِ وَالْكِتَابَةِ عَلَيْهَا، ص: ۲۵۴، نَمْبَرْ ۱۰۵۲ / اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ، بَابُ مَاجَاءَ فِى النَّهْيِ عَنِ الْبِنَاءِ عَلَى الْقُبُوْرِ وَالْكِتَابَةِ عَلَيْهَا، ص: ۲۲۲، نَمْبَرْ ۱۵۶۲)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) د قَبْرْ د يَخُوْلُوْ څخه مَنْعَ كړې ده، او پر هغه باندې د عِمَارَتْ جوړولو څخه مَنْعَ كړې، او دا چي هغه تر پُښُوْ وَكاږي (يعني پر قَبْرُوْ باندي د خَتَلُو او لوېدَلُو) څخه مَنْعَ كړې ده .

## كه د قَبْرُوْ په مَابَيْنْ كي د تېرېدُو ضرورت پېښ سي نو چَوَتِيْ (كُوْتُوْنَهْ) دي وَ كاږي تېر دي سي

كه د قَبْرُوْ په مَابَيْنْ كي د تېرېدُو ضرورت پېښ سي نو چَوَتِيْ (كُوْتُوْنَهْ/ چِيْلَكِيْ/ مَاسَئِ) دي وَ كاږي تېر دي سي چي د قَبْرُوْ تَوْهِيْنْ نَه وَسِي، لېكن كه چيري هلته وَابنَهْ، اَغْزِيْ، ډَبَرِيْ يا دغه رنګه بَل شئ وي چي دهغه لكبله لَڅي پښې تَلَل مُمْكِنْ نَه وي نو بيا چَوَتِيْ په پُښُوْ كولائي سي .

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

۳۸: اِنَّ بَشِيْرَ اِبْنَ الْخَصَاصِيَّةَ قَالَ:- كُنْتُ اَمْشِيْ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ (ﷺ) فَمَرَّ عَلٰى قُبُوْرِ الْمُسْلِمِيْنَ فَقَالَ:- لَقَدْ سَبَقَ هٰؤُلَاءِ شَرًّا كَثِيْرًا، ثُمَّ مَرَّ عَلٰى قُبُوْرِ الْمُشْرِكِيْنَ فَقَالَ لَقَدْ سَبَقَ هٰؤُلَاءِ خَيْرًا كَثِيْرًا، فَحَانَتْ مِنْهُ الْتِفَاتَةً فَرَاٰى رَجُلًا يَّمْشِيْ بَيْنَ الْقُبُوْرِ فِيْ نَعْلَيْهِ فَقَالَ يَاصَاحِبَ السَّبْتَتَيْنِ اَلْقِهِمَا .
(نَسَائِي شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ كَرَاهِيَةِ الْمَشْيِ بَيْنَ الْقُبُوْرِ فِى النِّعَالِ الْبِتِيَّةِ، ص: ۲۸۷، نَمْبَرْ ۲۰۵۰)
تَرْجَمَهْ:- بَشِيْرْ بِنْ خَصَاصِيَّةْ فَرْمَائِي چي:- مُوږ د حُضُوْرْ (ﷺ) سره د مُسْلَمَانَانُوْ د قَبْرُوْ په مَابَيْنْ كي رَوَانْ وُو، نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- دغه خلک د شَرْ تر ډېرو شِيَانُوْ مَخْتَه تېر سوي دي، بيا مُوږ د مُشْرِكِيْنْ د قَبْرُوْ په مَابَيْنْ كي رَوَانْ وُو نو حُضُوْرْ

(ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- دغه خلګو ډېر د خَيْرْ شِيَانْ تر شَا پرېښِي راغلي دي، په دغه دَوْرَانْ کي حُضُوْرْ (ﷺ) يَو کس وَلِيدَئ چي هغه چَوَتِې په پِښُو کړي وِ د قَبْرُوْ په مَابَيْنْ کي رَوَانْ وُو، نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- ائ د چَوَتُو والا دغه وَکَاږَهْ .
په دغه حَدِيْثْ کي حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي د چَمړي چَوَتِېْ وَکاږه نو بيا د قَبْرُوْ په مَابَيْنْ کي وُلَاړْ سَه .
لُغَتْ : سَبْتِيَّهْ، د چَمړي چُوَتِهْ .

## چيري چي مَړَئ سوئ وي د هغوي کُوْرْ ته تَيَّارَهْ ډُوْډَئ اَستَوَل سُنَّتْ ده

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

**۳۹: عَنْ عَبْدِ اللهِ بن جَعْفَرَ قَالَ لَمَّا جَاءَ نَعْيُ جَعْفَرَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) اِصْنَعُوْا لِاٰلِ جَعْفَرَ طَعَامًا فَقَدْ اَتَاهُمْ مَايُشْغِلُهُمْ، اَوْ اَمرٌ يُشْغِلُهُمْ .**

(اِبْن مَاجَهْ شَرِيْفْ، بَابٌ فِى الطَّعَامِ يُبْعَثُ اِلٰى اَهْلِ الْمَيّتِ، ص: ۲۲۹، نَمْبَرْ ۱۶۱۰)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَبْدُ اللهْ بِنِ جَعْفَرْ فَرْمَائي چي کله د حضرت جَعْفَرْ د مَرګ خَبَرْ راغلئ نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- د حضرت جَعْفَرْ د رِشْتَهْ دَارَانُو لپاره ډُوْډَئ تَيَّارَ کئ، ځکه چي دُوي ته دارنګه خَبَرْ راغلَئ دئ، چي دهغه لکبله دُوي مَشْغُوْلَ سوي دي، يايې دارنګه وَ فَرْمَائِلْ چي: دارنګه مَعَامَلَهْ پېښه سوې ده چي په هغه کي دُوي مَشْغُوْلَ دي، [يَعْنِيْ د غَمْ په وَجْهَ د ډُوْډَئْ د تَيَّارَوْلُو فُرْصَتْ نه لري] .
په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي د مَړي کُوْرْ ته ډُوْډَئْ اَستَوَل په کارْ دئ .

لېکن اُوس په مَوْجُوْدَهْ زَمَانَهْ کي دغه حَالَتْ دئ چي د ګُوم چَا په کُوْرْ کي مړئ سوئ وي هَلَته ډُوْډَئ خو چيري وَر اَستَوِي، بلکه د هغوي په کُوْرْ کي رِشْتَهْ دَارَانْ او عَوَامْ ډُومرَه ډُوْډَئ خُورِي چي دهغه د کُوْرْ والا ځِينِي تَنْګ سي .

## چيري چي مَړَئ سوئ وي د هغوي ډُوْډَئ خُوَړَل مَکْرُوْهْ ده

نَنْ سَبَا د اِيْصَالِ ثَوَابْ (صَدْقَهْ و خَيْرَاتْ) په نُوْمْ په هغه کُورنَئ باندي دُومرَه مَصْرَفْ کوي چي هغه کُوْرْ والا تَنْګْ سي .
حَالَانْکِهْ اِيْصَالِ ثَوَابْ کول يَو مُسْتَحَبْ کَارْ دئ، او د وَارِثَانُ د خپلي مَرضَئ شئ دئ، چي ګُوم وَخْتْ يې دُوي وَغُوَاړِي په خپله مَرضِي سره وَ ځه

مِسْكِيْنَانُوْ ته په يَتَّهْ ډُوډَئ وَرکي، يا كِيرِي وَركي، او دهغه ثَوَابْ وَ مَړِي ته وَرَسَوِي، دغه ثَوَابْ وَ مُرْدَهْ (مَړِي) ته رَسيږِي .
ددې لپاره نَه د وَخْتْ د مَعلُومَوَلو ضرورت سته او نَه د اِعْلَانْ کولو ضرورت سته، ځکه چي په يَتَّهْ وَ غَرِيْبَانُوْ ته ډُوْډَئ وَرکوَل ده .
لېکن مَا لِيدَلِي دي چي ډېر غَرِيْبَانْ دي چي مُوْرْ يې وَفَاتْ سوه نو بعضو ذَهِيْنَ خلګو ډُومره مَجْبُوْرَ کئ چي ده د هِنْدُوَانُوْ (دا مُصَنِّفْ د خپل مُلْكْ هِنْدُوْسْتَانْ او اِنْډِيَا وَاقِعَهْ ده) څخه په زَرْهَاوُ رُوْپَئْ په سُوْدْ وَاخستلې په خلګو يې ډُوْډَئ وَخُوَرَوَل نو بيا ده د خلګو د خَبَرُوْ څخه ځان خَلَاسْ کئ .
ددې دَلِيْلْ دغه د صَحَابِيْ قَوْلْ دئ

**۴۰: عَنْ جَرِيْرِ بنِ عَبْدِ اللهِ الْبَجَلِيِّ ﷺ قَالَ كُنَّا نَرٰى الْاِجْتِمَاعَ اِلٰى اَهْلِ الْمَيِّتِ وَصُنْعَةَ الطَّعَامِ مِنَ النِّيَاحَةِ .**

(اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ، بَابُ مَاجَاءَ فِى نَهْيِ الْاِجْتِمَاعِ اِلٰى اَهْلِ الْمَيِّتِ وَصُنْعَةِ الطَّعَامِ، ص: ۲۳۰، نَمْبَرْ ۱۶۱۲ / مُسْنَدِ اَحْمَدْ، مُسْنَدُ عَبْدِاللّٰهِ بن عَمْرِو بن الْعَاصِ، ج: ۱، ص: ۵۰۵، نَمْبَرْ ۲۲۷۹)

تَرْجَمَهْ:- حضرت جَرِيْرْ بِنْ عَبْدُ اللهْ فَرْمَائي چي:- مُوږ د مَړِيْ وَ خُوَا ته جَمْعْ کېدَل، او په ډُوي باندي ډُوْډَئ تَيَّارَوَلْ د نَوْحَهْ يو قِسْمْ ګانَئ .
په دغه حَدِيْثْ (يعني اَثَرْ) کي دئ چي لکه څنګه چي مُوږ نَوْحَهْ کول نَاجَائِزْ ګڼل دغه رنګه د مړي په کُوْرْ کي ډُوْډَئ هم مُوږ نَاجَائِزْ ګڼو .

## د مَړِي لپاره ډېر اِعْلَانُوْنَهْ کول هم ښَهْ کارْ نَه دئ

که د مَړِيْ لپاره ډېر زِيَاتْ اِعْلَانُوْنَهْ وکړي نو هَلتَه به رَشْ جوړ سي، او دهغه سَمْبَالَوَلْ به مُشْكِلْ سي، نو ځکه شَرِيْعَتْ دغه مِعْيَارْ مُقَرَّرْ کړئ دئ چي د مَړِيْ په کُوْرْ کي ډېر رَشْ او اِجْتِمَاعْ جوړ نَه سي .
دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

**۴۱: عَنْ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ (ﷺ) قَالَ اِيَّاكُمْ وَالنَّعْيَ فَاِنَّ النَّعْيَ مِنْ عَمَلِ الْجَاهِلِيَّةِ، قَالَ عَبْدُ اللهِ وَالنَّعْيُ اَذَانٌ بِالْمَيِّتِ .**

(تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ مَاجَاءَ فِىْ كَرَاهِيَةِ النَّعْيِ، ص: ۲۳۹، نَمْبَرْ ۹۸۴/ اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ مَاجَاءَ فِى النَّهْيِ عَنِ النَّعْيِ، ص: ۲۱۱، نَمْبَرْ ۱۴۷۶)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- په خلګو کي د مَرګ د اِعْلَانْ څخه ځان ګُورَئ، ځکه چي دغه د جَاهِلِيَّتْ عَمَلْ دئ، حضرت عَبْدُ اللهْ وَ فَرْمَائِلْ چي د نَعْيِ مَعْنٰى ده په خلګو کي د مَرګ اِعْلَانْ کول .

په دغه **حَدِيْثْ** کې په **اِهْتِمَامْ** سره په خلکو کي د يَو ځَا د **مَرْګْ** د **اِعْلَانْ** کولو ځخه **مَنْعَ** کړې ده. **اَلْبَتَّهْ** که **لَږْ** و **ډېر** د **جَنَازِي اِطِّلَاعْ** او **خَبَرْ** ورکي نو ددې **ګُنْجَائِشْ** سته، لېکن **رَشْ کَشْ** جوړول **ښَهْ کارْ** نَه دئ .

په **مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ** کې دا **حَالْ** دئ چې د ګوم ځَا کره مَړئ وَسِي هلته په **مِيَاشْتُوْ مِيَاشْتُوْ** خلک **جَمْعْ** وي، او د **کُوْرْ** والا خپلو **کارُوْ** ته **فُرْصَتْ** نَه سي پَيدَا کولائي، او ډېر **زِيَاتْ مَصْرَفْ** هم ځينِي کېږي .

## تر درې **وُرَځِيْ زِيَاتْ** دي **غَمْ** نَه جوړوي

**مِيْنَهْ** خو به **ځْلُوْرْ مِيَاشْتِيْ لَسْ** شپې د خپل مېړه په **غَمْ** سره **غَمْ زَدَهْ** وي، ددې ځخه **عَلَاوَهْ** خلک دي تر درې **وُرَځِيْ زِيَاتْ غَمْ** نَه جوړوي، په **حَدِيْثْ** کې ددغه ځخه **مَنْعَ** کړې ده .

دغه ګوم خلک چې تر **ځْلوېښْتُ وُرَځُوْ** پُوري **غَمْ** کوي يا هر کال **غَمْ** جوړوي، او **هَنګامي** يې جوړې کړي وي، **آسْمَانْ** يې پر **سَرْ** پُورتَه کړئ وي، دغه **کارُوْنَهْ** د **حَدِيْثْ** په **رَڼَا** کي **غَلَطْ** دي .

**دَلِيْلْ** يې دغه **حَدِيْثْ** دئ

**۴۲: عَنْ اُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ كُنَّا نُنْهٰى اَنْ نُّحِدَّ عَلَى الْمَيِّتِ فَوْقَ ثَلَاثٍ اِلَّا عَلٰى زَوْجٍ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّ عَشْرًا . (بُخَارِئ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْحَيْضِ، بَابُ الطِّيْبِ لِلْمَرْأَةِ عِنْدَ غُسْلِهَا مِنَ الْمَحِيْضِ، ص: ۵۴، نَمْبَرْ ۳۱۳ / مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الطَّلَاقِ، بَابُ وُجُوْبِ الْاِحْدَادِ فِئ عِدَّةِ الْوَفَاةِ وَتَحْرِيْمِهِ فِئ غَيْرِ ذَالِكَ اِلَّا ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ، ص: ۶۴۴، نَمْبَرْ ۱۴۸۶ / ۳۷۲۵)**

**تَرْجَمَهْ:-** حضرت **اُمِّ عَطِيَّهْ فَرْمَائِي** چي:- تر درې **وُرَځِيْ زِيَاتْ** پر مَړي باندي د **غَمْ (سُوْګ/مَاتَمْ)** کولو ځخه يې مُوږ **مَنْعَ** کولو. **مَاسِوَا** د **مېړَهْ** ځخه چي پر هغه باندي به ځلور **مِيَاشْتِيْ لَسْ وُرَځِيْ مِيْنَهْ غَمْ (سُوْګْ)** کوي .

په دغه **حَدِيْثْ** کي دئ چي تر درې **وُرَځِيْ زِيَاتْ** دي د **غَمْ اِظْهَارْ** نَه کوي .

## په **قَبْرْ** کي **ګُنَاهْ ګارَانُوْ** ته **عَذَابْ** وَرکول کېږي

د **قَبْرْ عَذَابْ حَقْ** دئ، او هغه **ژُوَنْدْ** د **بَرْزَخْ ژُوَنْدْ** دئ

**دَلِيْلْ** يې دغه **آيَتُوْنَهْ** دي

**٢٠: حَتّٰى اِذَا جَآءَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُوْنِ لا لَعَلِّىْٓ اَعْمَلُ صَالِحًا فِيْمَا تَرَكْتُ كَلَّا ط اِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَآئِلُهَا ط وَمِنْ وَّرَآئِهِمْ بَرْزَخٌ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ .**

**(آيَتْ ٩٩ / ١٠٠، سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْنْ ٢٣) .**

**تَرْجَمَهْ:-** تر دې چي كله د دُوي څخه يَوَه ته مرګ رَاوَرَسيږي نو هغه به ووائي چي:,, **زَمَا يَرْوَرْدِګارَهْ! مَا** بيرته وَايَس وَاستَوَه ددې لپاره چي کُومَه **دُنْيَا مَا** پريښي ده، هغې ته **وُلَاړْ** سَم **بِنَهْ عَمَلْ** وکړم,,. هيڅ كله نَه! دا خو بَس **خَالِصْ** يَوَه **خَبَرَهْ** ده چي دئ يي په **ژَبَهْ** سره كوي، او ددُوي **(مُرْدَهْ ګانُوْ)** وَ مختَه د **عَالَمِ بَرْزَخْ حَائِلْ (حِجَابْ)** دئ، چي تر هغه وَختَه به **قَائِمْ** وي تر څو چي دُوي **دُوَهَمْ وَارْ** ژُوَندي رَاپُورتَه كيږي .

**٢١: وَحَاقَ بِاٰلِ فِرْعَوْنَ سُوْٓءُ الْعَذَابِ ج اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا ج وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ قف اَدْخِلُوْٓا اٰلَ فِرْعَوْنَ اَشَدَّ الْعَذَابِ .**

**(آيَتْ ٤٥ / ٤٦، سُوْرَةُ الْمُؤْمِنْ ٤٠) .**

**تَرْجَمَهْ:-** او د **فِرْعَوْنْ** خلګ **بَدْتَرِيْنْ عَذَابْ** رَاګِير كړل. **اُوْرْ** دئ چي دهغه په مخكي به دُوي **سَهَارْ** او **مَابِنَامْ** پيشيږي، او په کُومَه **وُرَځْ** چي **قِيَامَتْ** رَاسِي،(هغه **وُرَځْ** به **حُكْمْ** وسي چي:),, د **فِرْعَوْنْ** خلګ **بَدْتَرِيْنَهْ عَذَابْ** ته **دَاخِلْ** كئ,,.

**٢٢: وَلَوْ تَرٰى اِذِالظّٰلِمُوْنَ فِىْ غَمَرٰتِ الْمَوْتِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَاسِطُوْٓا اَيْدِيْهِمْ ج اَخْرِجُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ط اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ . (آيَتْ ٩٣ سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ٦) .**

**تَرْجَمَهْ:-** او كه چيري تاسو هغه **وَخْتْ** ووينئ (نو ډير بيرېدُونكئ **مَنْظَرْ** به ښكاره سي) چي **ظَالِمَانْ اِنْسَانَانْ** به د مَرګ په **سَخْتِيُوْ** كي **ګرفْتَارْ** وي، او **فَرِشْتُوْ** خپل **لَاسُوْنَهْ** څَغَوَلِي، (دا به وائي چي) ,, خپل **اَرْوَاحْ** رَاوَبَاسَئ، **نَنْ** به تاسو ته د **ذِلَّتْ عَذَابْ** دركول كيږي .

په دغه دُرُو **آيَتُوْ** كي **اِشَارَةً** د **عَذَابِ قَبْرْ بَيَانْ** سوئ دئ .

**٤٣: عَنْ اَبِىْ اَيُّوْبَ ؓ قَالَ خَرَجَ النَّبِىُّ (ﷺ) وَقَدْ وَجَبَتِ الشَّمْسُ، فَسَمِعَ صَوْتًا فَقَالَ يَهُوْدٌ يُعَذَّبُ فِىْ قُبُوْرِهَا .**

**(بُخَارِىْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ التَّعَوُّذْ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، ص: ٢٢٠، نَمْبَرْ ١٣٧٥)**

**تَرْجَمَهْ:-** د **لُمَرْ** د **پريوتُوْ** پر **وَخْتْ حُضُوْرْ** (ﷺ) **رَاوَوَاتَئ** يَو **اَوَازْ** يې وَاوريدئ نو **حُضُوْرْ** (ﷺ) وَ **فَرْمَائِلْ** چي:- وَ **يَهُوْدُ** ته په خپل **قَبْرْ** كي **عَذَابْ** وَركَول كيږي .

**٤٤: عَنْ عَائِشَةَ ..... قَالَتْ عَائِشَةُ فَمَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ (ﷺ) بَعْدُ صَلّٰى صَلَاةً اِلَّا تَعَوَّذَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَ زَادَ غُنْدُرُ، عَذَابُ الْقَبْرِ حَقٌّ .**

(بُخَارِیْ شَرِیْفْ، ، کِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ مَاجَاءَ فِیْ عَذَابِ الْقَبْرِ، ص: ۲۲۰، نَمْبَرْ ۱۳۷۲)
تَرْجَمَہْ:- حضرت عَائِشَہْ فَرْمَائي چي د هر لُمُوْنځ وروسته مَا حُضُوْرْ (ﷺ) وَلِیدَئ چي ده به د قَبْرْ د عَذَابْ څخه پَنَاهْ غُوښتَل، حضرت غُنْدَرْ دا هم وَ فَرْمَائِلْ چي د قَبْرْ عَذَابْ حَقْ دئ .

**۴۵: حَدَّثَتْنِیْ اِبْنَۃُ خَالِدِ بن سَعِیْدِ اِبْنِ الْعَاصِ اَنَّهَا سَمِعَتِ النَّبِیَّ (ﷺ) وَهُوَ یَتَعَوَّذُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ .**
(بُخَارِیْ شَرِیْفْ، کِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ التَّعَوُّذُ مِنْ عَذَابِ الْقَبرِ، ص: ۲۲۱، نَمْبَرْ ۱۳۷۶)
تَرْجَمَہْ:- حضرت سَعِیْدْ بن عَاصْ فَرْمَائي چي مَا وَاوْرېدَل چي حُضُوْرْ (ﷺ) د قَبْرْ د عَذَابْ څخه پَنَاهْ غُوښتَل .
په دغه حَدِیْثْ کي دئ چي حُضُوْرْ (ﷺ) د قَبْرْ د عَذَابْ څخه پَنَاهْ غُوښتَل، ددې څخه هم مَعْلُوْمْ سو چي دغه حَیَاتِ بَرْزَخِیْ ده .

**۴۶: عَنِ الْبَرَاءَ بن عَاذِبِ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِیّ (ﷺ) فِیْ جَنَازَۃٍ ..... قَالَ فَتُعَادُ رُوْحُهُ فِیْ جَسَدِهِ، فَیَاْتِیْهِ مَلَکَانِ فَیُجْلِسَانِهِ فَیَقُوْلَانِ لَهُ مَنْ رَّبُّکَ؟ فَیَقُوْلُ رَبِّیَ اللّٰهُ .... تُعَادُ رُوْحُهُ وَیَاْتِیْهِ مَلَکَانِ فَیُجْلِسَانِهِ فَیَقُوْلَانِ مَنْ رَّبُّکَ؟ فَیَقُوْلُ هَا هَا لَا اَدْرِیْ.**
(مُسْنَدِ اَحمَدْ، حَدِیْثُ الْبَرَاءِ بن عَاذِبِ، ج:۵، ص:۳۶۴، نَمْبَرْ: ۱۸۰۶۳ / اَبُوْدَاوُدْ شَرِیْفْ،بَابُ الْمَسْئَلَۃِ فِی الْقَبْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ، ص:۶۷۲، نَمْبَرْ: ۴۷۵۳)
تَرْجَمَہْ:- حَضْرَتْ بَرَاءْ بن عَاذِبْ فرمائي چي مُوږ د حُضُوْرِ پَاکْ (ﷺ) سره په یَوَه جَنَازَہْ کي رَاوَوَتَلُو ..... حُضُور وَفرمَائِل چي د مړي و بَدَنْ ته رُوْحْ رَاوَاپِس کیږي، بیا هغه ته دُوې فَرِشْتي رَاځِي، هغه دُوَاړې فَرِشْتي مړئ رَاکښېنَوِي، او پُوْښْتَنَہْ ځِیني کوي چي ستا رَبْ څوک دئ؟ هغه وائي چي زَمَا رَبْ اَللّٰهْ دئ ..... د مړي رُوْحْ رَاوَاپَس کیږي، هغه ته دُوې فَرِشْتي رَاځِي، او هغه کښېنَوِي، بیا پُوْښْتَنَہْ ځِیني کوي چي ستا رَبْ څوک دئ؟ مړئ وائي هَائ هَائ مَا ته هیڅ شئ نَه دئ مَعْلُوْمْ .
په دغه حَدِیْثُوْ کي دئ چي په قَبْرْ کي وَ اِنْسَانْ ته عَذَابْ وَرکوَل کیږي، او دا هم مَعْلُوْمْ سو چي دده دغه ژُوَنْدْ د بَرْزَخْ ژُوَنْدُوْنْ دئ .

## ۳۸: پر قَبْرْ باندي عُرْسْ کول نَاجَائِزْ دئ

ددغه عَقِيدې په اړه ۲ آيَتُوْنَهْ او ۱۰ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کړئ .

چي پر قَبْرْ باندي عُرْسْ کوي نو دا د عِيْدْ او خُوْشْحَالَئ يَو صُوْرَتْ دئ، او حُضُوْرْ (ﷺ) پر قَبْرُوْ باندي د عِيْدْ جوړولو څخه مَنْعَ کړې ده، لِهٰذَا دغه عُرْسْ هم جَوَازْ نَه لري .

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

۱: عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) لَاتَجْعَلُوْا بُيُوْتَكُمْ قُبُوْرًا، وَلَاتَجْعَلُوْا قَبْرِیْ عِيْدًا، وَصَلُّوْا عَلَیَّ فَاِنَّ صَلَاتَكُمْ تُبَلِّغُنِیْ حَيْثُ كُنْتُمْ .

(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْمَنَاسِكَ، بَابُ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ،ص: ۲۹۶، نَمْبَرْ: ۲۰۴۲)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ وفرمائل خپل کُوْرُوْنَهْ د قَبْرُوْ په شَانْ مَه ګرزوئ [چي په هغه کي ګر سره عِبَادَتْ نَه کوئ] او زَمَا قَبْرْ د اَخْتَرْ جوړولو په شَانْ مَه جوړوئ، او پر مَا باندي دُرُوْدْ اَستوَئ، تاسو چي هر چيري ياست مَا ته ستاسو دُرُوْدْ رَارَسَول کيږي .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي پر قَبْرْ باندي د عِيْدْ او اَخْتَرْ په شَانْ اِجْتِمَاعْ مَه جوړوئ، او په عُرْسْ کي د عِيْدْ يا اِجْتِمَاعْ يَو صُوْرَتْ وي، نو ځکه دا جَوَازْ نَه لري .

## ددغه حَدِيْثْ څخه د عُرْسْ لپاره اِسْتِدْلَالْ صَحِيْحْ نَه دئ

بعضو حَضرَاتُو ددغه حَدِيْثْ څخه د عُرْسْ د جَوَازْ لپاره اِسْتِدْلَالْ کړئ دئ

۲: عَنْ مُحَمَّدِ بِن اِبْرَاهِيْمَ التَّيْمِیِّ قَالَ كَانَ النَّبِیُّ (ﷺ) يَاْتِیْ قُبُوْرَ الشُّهَدَاءِ عِنْدَ رَاْسِ الْحَوْلِ، فَيَقُوْلُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ بِمَاصَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَی الدَّارَ، قَالَ وَكَانَ اَبُوْبَكْرُ وَعُمَرُ وَعُثْمَانُ يَفْعَلُوْنَ ذَالِكَ .

(مُصَنَّفِ عَبْدُ الرَّزَّاقْ، بَابُ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ، ج: ۳، ص: ۵۷۳، نَمْبَرْ ۶۷۱۶)

تَرْجَمَهْ:- مُحَمَّدْ اِبْنِ اِبْرَاهِيْمْ اَلتَّيْمِیْ فَرْمَائي چي حُضُوْرْ (ﷺ) د کَالْ په شروع کي د شَهِيْدَانُوْ وَ قَبْرُوْ وَرتلَئ، او دا به يې وَرتَه وَيَل اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ بِمَاصَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَی الدَّارَ، او حضرت اَبُوْبَكْرْ او حضرت عُمَرْ او حضرت عُثْمَانْ هم دغه رنګه تَلَل .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي حُضُوْرْ (ﷺ) د هر کَالْ په شُرُوْعْ کي د اُحُدْ د شَهِيْدَانُوْ وَ قَبْرُوْ ته تَشْرِيْفْ وُړَئ .

ددغه څخه بعضو حَضرَاتُو اِسْتِدْلَالْ کړئ دئ چي هر کال عُرْسْ کول جَائِزْ دئ .

لېکن په دي کي دغه **څلور خَامِيَان** دي

[١] ..... **اَوَّلَ خَبَرَهْ** دا چي **حُضُوْرْ** (ﷺ) د هيڅ ډَوَل **اِعْلَانْ بَغَيْرَهْ** تَلَئ دئ،دغه خو **وَجْهَ** ده چي بعض په **خَبَرْ** سول او بعض په هغه **خَبَرْ** نَه سول، په دغه **وَجْهَ** دغه **حَدِيْثْ** چي د هر **كَالْ** په شروع کي به تَلَئ د **صِحَاحِ سِتَّةْ** په يَوَه **كِتَابْ** کي هم نَستَه، او دهغوي د **اُسْتَاذَانُوْ** د يَوَه په **كِتَابْ** کي هم نَستَه. صِرف **مُصَنَّفِ عَبْدُالرَّزَّاقْ** دغه **حَدِيْثْ** ذِکر کړئ دئ .

ددغه **حَدِيْثْ مُطَابِقْ** که يَو څوک کله نَا کله **قَبْرِسْتَانْ** ته **وُلَاړْ** سي او صِرف **اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ بِمَاصَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارَ**، ووائي او بېرته وَاپَس راسي نو په دي کي هيڅ څوک **اِعْتِرَاضْ** نَه لري، لېکن دَلتَه (په **عُرْسْ**) کي خو **تَارِيْخْ مُتَعَيَّنْ** کړي، د **عُرْسْ** په **نُوْمْ** په **لَكْهَاوُوْ** رُوپَئ **مَصْرَفْ** کوي، په **مِيَاشْتُوْ مِيَاشْتُوْ** ددې **اِعْلَانُوْنَهْ** کېږي، **بِي اِنْتِهَا** خلګو ته **بَلْنَهْ** وَرکوي، او هغه **دَهمَالْ** کېږي چي د **هِنْدُوَانُوْ مِيلَهْ** د **شَرْمْ** لکبله خپل **سَرْ ټِيْتْ** کړي، ددغه **خُرَافَاتُ** به نوڅنګه **ګُنْجَائِشْ** وي؟

[٢] ..... **دُوَهَمَّهْ خَبَرَهْ** داده چي په دغه **حَدِيْثْ** کي يَوَه **تَابِعِيْ** د **حُضُوْرْ** (ﷺ) **عَمَلْ نَقْلْ** کړئ دئ، او په **مَابَيْنْ** کې د **صَحَابِيْ نُوْمْ** پرېښَئ دئ! ځکه چي **مُحَمَّدْ بِنْ اِبْرَاهِيْمْ اَلتَّيْمِيْ** خو **تَابِعِيْ** دئ، نو **لِهٰذَا** دغه **حَدِيْثْ مَرْفُوْعْ حَدِيْثْ** نَه دئ، بلکه دغه **مُرْسَلْ حَدِيْثْ** دئ، نو ځکه ددې **حَيْثِيَّتْ كَمْ (لَږْ)** دئ .

[٣] ..... **دَرِيَمَّهْ خَبَرَهْ** داده چي په **عُرْسْ** کي د **اَخْتَرْ (عِيْدْ)** په **شَانْ مِيلَهْ** وي، او اُوس مَختَه تېر سو چي **حُضُوْرْ** (ﷺ) په **قَبْرِسْتَانْ** کي د **عِيْدْ** په **شَانْ مِيلَهْ** جوړولو څخه **مَنْعْ** کړې ده، نو د **عُرْسْ اِجَازَتْ** څنګه وَرکوَل کېدائي سي؟

[۴] ..... **څَلُوْرَمَّهْ خَبَرَهْ** داده چي په هيڅ **وَخْتْ** نَه يَوَه **صَحَابِيْ** او نَه يَوَه **تَابِعِيْ عُرْسْ** کړس دئ، نو بيا ددې **اِجَازَتْ** څنګه وَرکوَل کېدائي سي؟

بلکه چي لُوَړ **حَدِيْثْ** ته وَګورې نو دا ښکاره کېږي چي **حُضُوْرْ** (ﷺ) ددغه رنګه **خَبَرُوْ** څخه **مَنْعْ** کړې ده، چي په سَوکه سَوکه خلګ بيا په **شِرْكْ** کي **مُبْتَلَاءْ** نَه سي .

[۵] ..... **پِنْځَمَّهْ خَبَرَهْ** او **اَصَلْ خَبَرَهْ** داده چي د **ذَهِيْنُ (چَالَاكْ/مَكَّارُوْ)** خلګو د خُوَړلُو چِينلُو او دټولَه کالَ د **خَرْچْ** د **جَمَعْ** کېدو يَوَه ډېر **اَسَانْ دَنْدَهْ** ده، تاسو په خپله هم پر دي باندي **غَوَرْ** و **فِكْرْ** وکئ .

ددغه حَدِيْثْ ځخه مَعلُومېږي چي حُضُوْرْ (ﷺ) کله نَا کله د شُهَدَاءُ وَ قَبْرُوْ ته وَرتَلَئ، په هغه کي تَارِيْخْ مُتَعَيَّنْ نَه وُو .

۳: سَمِعْتُ طَلْحَةَ بن عُبَيْدِ اللهِ يُحَدِّثُ ..... قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ (ﷺ) نُرِيْدُ قُبُوْرَ الشُّهَدَاءِ حَتّٰى اِذَا اَشْرَفْنَا عَلٰى حَرَّةِ وَاقِمٍ فَلَمَّا تَدَلَّيْنَا مِنْهَا فَاِذَا قُبُوْرٌ بِمَحْنِيَّةٍ قَالَ قُلْنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ! قُبُوْرُ اِخْوَانِنَا هٰذِه؟ قَالَ قُبُوْرُ اَصْحَابِنَا، فَلَمَّا جِئْنَا قُبُوْرَ الشُّهَدَاءِ قَالَ هٰذِه قُبُوْرُ اِخْوَانِنَا .

(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْمَنَاسِكِ، بَابُ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ، ص: ۲۹۶، نَمْبَرْ ۲۰۴۳)

تَرْجَمَهْ:- وَ فَرْمَائِلْ چي مُوږ د حُضُوْرْ (ﷺ) سره رَاوَوَاتُو، د شَهِيْدَانُوْ و قَبْرُوْ ته د تَلْلُو اِرَادَهْ مي وَه، چي مُوږ د حِرَا وَاقِمْ (مَقَامْ) ته راغلو، نو چي مُوږ (لَږْ ځـه) مَخته وُلاَړُوْ نو په مَحْنِيَّهْ کي قَبْرُوْنَهْ وُو، مُوږ وويل يَارَسُوْلَ اللهْ دغه زُمُوږ د وُرُوْنُوْ قَبْرُوْنَهْ دي؟ نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ دغه زُمُوږ د مَلګرُو قَبْرُوْنَهْ دي، بيا چي کله مُوږ د اُحَدْ د شَهِيْدَانُوْ وَ قَبْرُوْ ته راغلو، نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي دغه زُمُوږ د وُرُوْنُوْ قَبْرُوْنَهْ دي .

ددغه حَدِيْثْ دُومرَه خَبَرَهْ وَاضِحْ ده چي حُضُوْرْ (ﷺ) کله نَا کله د اُحَدْ د شَهِيْدَانُوْ وَ قَبْرُوْ ته وَرتَلَئ .

بعض حَضرَات د ۱۱۰۰ سوه کالَ وُروستَه بُزَرْګـانُوْ اَقْـوَالْ او دهغوي اَعْمَالْ د عُرْسْ، چِهلَمْ او دغه رنګه نورو خُرَافَاتُوْ د جَوَازْ د ثُبُوْتْ لپاره وُړَاندِي کوي ....... لېکن دغه صَحِيْحْ نَه دئ ځکه

[۱] ..... چي ډېر وروسته تېر سوو بُزُرْګانُوْ د عَمَلْ ځخه اِعْتِقَادِيْ مَسْئَلَهْ نَه ثَابِتېږي، ددې د اِثْبَاتْ لپاره صَرِيْحْ آيَتْ يا مَضْبُوْطْ حَدِيْثْ ضروري دئ .

[۲] ..... ددې په خِلاَفْ ډېر حَدِيْثُوْنَهْ مُوږ تاسو ته وُړَاندِي کړي دي .

[۳] ..... اُوس مَحَالْ دغه شِيَانْ د آخِرَتْ د يَادوَنِيْ او د دُنْيَا ځخه د بې رَغْبَتِيْ شِيَانْ نَه سول پاته، بلکه صِرفْ د تَفْرِيْحْ، بَازِيْ، او د مَذْهَبْ پر نُوْمْ باندي د لُوْټْ مَارْ يَوَه ذَرِيْعَهْ ګرزېدَلي ده، فَاِلَى اللهِ الْمُشْتَكٰى!

## غَزَلِيْ او دَرْيَا. او رَبَابْ او ډُوْلْ وَهَل حَرَامْ دي

لَږْ و ډېر نَظَمْ، يا نَعْتْ وَيَل جَائِزْ دئ، په دي کي دا شَرْطْ دئ چي د ډُوْلْ، دَرْيَا، او رَبَابْ وَهلُو ځخه سَازْ پَيدَا نَه سي، که چيري سَازْ پکښي پَيدَا سي نو يَو نَظَمْ هم جَوَازْ نَه لري .

دَلِيْلْ دغه آيَتُوْنَه دي

**١: وَ مِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْتَرِیْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ قصلى وَّيَتَّخِذَهَا هُزُوًا ط أُولٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ (آيَتْ ٦، سُوْرَةُ لُقْمَانْ ٣١)**

تَرْجَمَهْ:- او بعض خلګ هغه دي چي ځانونه د اَللهْ څخه غَافِلْ کونکي خَبَرُوْ خَرِيْدَارَانْ جوړوي، چي دهغه په ذَرِيْعَهْ سره خلګ په نَايُوْهِيْ کي د اَللهْ د لَارِ څخه ګُمْرَاهَانْ کړي، او په هغه يُسْخَنْدْ وَوَهِيْ،دغه خلګو ته به هغه عَذَابْ ورکول سي چي ذُوي به ذَلِيْلْ پرېږدي

په دغه آيَتْ کې د غَافِلْ کونکو خَبَرُوْ څخه نَفْرَتْ سَرګندَ کړئ دئ .

**٢: وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ اِلَّا مُكَآ ءً وَّتَصْدِيَةً ط فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ (آيَتْ ٣٥، سُوْرَةُ الْاَنْفَالْ ٨)**

تَرْجَمَهْ:- او د بَيْتُ اللهْ سره د ذُوي لَمُوْنَځْ د شُپېلکِي وَهَلُو بغيره او د لَاسْ ټکولو بغيره بَل هيڅ شَئ نَه دئ، لهٰذَا (اىٔ کافِرَانُوْ!) ګومي کُفْرِیْ خَبَرِیْ چي تاسو کولې، دهغه په وَجْهَ اُوس د عَذَابْ خُوَند وګورئ

کافِرَانُوْ به د بَيْتُ اللهْ سره لَاسُوْنَهْ ټکوَل او شُپِيلکِيَانْ به يې وَهَل، اَللهْ تَعَالٰي ددغه څخه نَفْرَتْ سَرګندَ کړئ، او په قَوَّالِیْ او غَزَلُوْ او بَدَلُوْ کي دغه خُرَافَاتْ وي، نو ځکه ددغه څخه هم ځان سَاتَل په کار دئ .

او حَدِيْثُوْنَه دغه دي

**۴: حَدَّثَنِیْ اَبُوْعَامِرَ ..... وَاللهِ مَا كَذَّبَنِیْ:- سَمِعَ النَّبِیَّ يَقُوْلُ لَيَكُوْنَنَّ مِنْ اُمَّتِیْ يَسْتَحِلُّوْنَ الْحِرَّ، وَالْحَرِيْرَ، وَالْخَمْرَ، وَالْمَعَازِفَ .**

**(بُخَارِیْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْاَشْرِبَةِ، بَابُ مَاجَاءَ فِیْ مَنْ يَّحِلُّ الْخَمْرَ وَيُسَمِّيْهِ بِغَيْرِ اِسْمِهِ، ص: ٩٩٢، نَمْبَرْ ٥٥٩٠)**

تَرْجَمَهْ:- قَسَمْ په خُدَائ مَا ته يې دَرْوَاغْ نَه دي وَيلِي، مَا د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه اَورېدَلِي دي چي زَمَا په اُمَّتْ کي به دارنګه خلګ وي چي زِنَا، رِيْشَمْ، او د غَزَلُوْ بَدَلُوْ شِيَانْ به حَلَالْ ګڼي .

**۵: عَنْ اَبِیْ اُمَامَةَ عَنِ النَّبِیِّ (ﷺ) قَالَ اِنَّ اللهَ بَعَثَنِیْ رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ وَ اَمَرَنِیْ اَنْ اَمْحَقَ الْمَزَامِيْرَ، وَالْكَنَارَاتِ، يَعْنِیْ بَرَابِطَ وَالْمَعَازِفَ وَالْاَوْثَانَ الَّتِیْ كَانَتْ تُعْبَدُ فِی الْجَاهِلِيَّةِ . (مُسْنَدِ اَحْمَدْ، حَدِيْثُ اَبِیْ اُمَامَةَ الْبَاهِلِیِّ، ج: ٣٦، ص: ٥٥١، نَمْبَرْ ٢٢٢١٨ / ٢٢٣٠٧)**

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي اَللهْ تَعَالٰی زَهْ د دُنْيَا لپاره رَحْمَتْ جوړ کړئ رَا اَستَوَلَئ يَم، او دا حُکْمْ يې راکړئ دئ چي:- نَيْ، ډُوْلْ، بَاجَهْ، د غَزَلُوْ شِيَانْ او بُتَانْ مِټاو کم، ګُوم چي په زَمَانَهْ جَاهِلِيَّتْ کي ددې عِبَادَتْ کېدئ .

په دغه حَدِيْثُوْ کي دئ چي مَزَامِيْرْ او ډُوْلَکْ حَرَامْ دي، نو په عُرْسْ کي دغه غَزَلِيْ او قَوَّالِيَانِ، او دهمَالْ به څنګه جَائِزْ وي؟

## په غُنِي (ګانګوړه) اَوَازْ سره غَزَلِيْ وَيَل هم مَکْرُوْهْ دي

د بَازَئ او لَهْوُ لَعَبْ پر وَخْتْ په غُنْهَارِيْ سره چي کُوم شِعْرْ (يعني په يَزَهْ کي اَوَازْ لکه هُوْ هُوْ . هُوْ هُوْ) وائي، په حَدِيْثْ کې دهغه څخه هم مَنْعَ کړې ده .

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

**۶: عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنَ بن عَوْفِ ..... وَ لٰــکِنِّيْ نُهِيْتُ عَنْ صَوْتَيْنْ اَحْمَقَيْن فَاجِرَيْن، صَوْتٌ عِنْدَ نَغْمَةِ لَهْوِ وَ لَعِبِ وَ مَزَامِيْرُ الشَّيْطَانِ .**

(مُسْتَدْرَکْ لِلْحَاکِمْ، کِتَابُ مَعْرِفَةِ الصَّحَابَةِ، بَابُ ذِکْر سَرَارِی رَسُوْلِ اللهِ (ﷺ) فَاَوَّلُهُنَّ مَارِيَةُ الْقِبْطِيَّةُ اُمُّ اِبْرَاهِيْمَ،ج: ۴، ص: ۴۳، نَمْبَرْ ۶۸۲۵)

تَرْجَمَهْ:- زَهْ يې د دُو اَحْمَقْ اَوَازُوْ څخه چي فَاجِرَانْ دي مَنْعَ کړئ يَم، د لَهْوْ و لَعَبْ پر وَخْتْ د غُنْهَارِيْ اَوَازْ څخه، او د شَيْطَانْ د نِيْ (يعني تُرْلَکِي) د اَوَازْ څخه .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي د لَهْوُ لَعَبْ پر وَخْتْ غُنْهَارِيْ هم صَحِيْحْ نَه دئ .

**۷: عَنْ جَابرَ بن عَبْدِ اللهِ ..... قَالَ:- لَا، وَلٰــکِنْ نُهِيْتُ عَنْ صَوْتَيْن اَحْمَقَيْن فَاجِرَيْن صَوْتٌ عِنْدَ مُصِيْبَةٍ خَمْشُ وُجُوْهٍ وَشَقُّ جُيُوْبِ وَ رِنَّةُ شَيْطَانِ .**

(تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ،کِتَابُ الْجَنَائِزْ،بَابُ مَاجَاءَ فِى الرُّخْصَةِ فِى الْبُکَاءِعَلَى الْمَيِّتِ،ص: ۲۴۳،نَمْبَرْ ۱۰۰۵)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ:- دُوَهْ اَحْمَقْ اَوَازُوْنَهْ چي فَاجِرْ دي، ددې څخه يې زَهْ مَنْعَ کړئ يَم، يَو هغه اَوَازْ دئ چي د مُصِيْبَتْ پر وَخْتْ مَخ په څَاپِيړَهْ (چِيَلَاخْ) وَوَهِيْ اَوَازُوْنَهْ کاږي، او کيږه څيري کي، او دُوَهَمْ اَوَازْ د شَيْطَانْ د (يَزِيْ) غُنْهَارِيْ اَوَازْ دئ .

په دغه دواړو حَدِيْثُوْ کي دئ چي د غَزَلُوْ په شَانْ په يَزَهْ کي غُنْهَارِيْ کول هم په حَدِيْثْ کي مَنْعَ دئ .

نو ځکه پر مَزَارَاتُوْ (قَبْرُوْ) باندي د ډُوْلُوْ او بَاجُوْ سره چي کُومِي غَزَلِيْ وَيَل کيږي، دا صَحِيْحْ کارْ نَه دئ .

اُوس خو په عُرْسْ کي د قَوَّالَيُوْ د ويَلُو لپاره اِنْجُوْنِيْ هم قَوَّالَيْ ته راغلي دي .

## ددغه حَدِيْثُوْ څخه بعضو حَضَرَاتُوْ د قَوَّالِيْ د جَوَازْ لپاره اِسْتِدْلَالْ کړئ دئ

بعض حضرات د دغه کښتّه رَارَوَانُوْ حَدِيْثُوْ څخه دا اِسْتِدْلَالْ کوي چي قَوَّالِيْ جَائِزْ ده .

لېکن دغه اِسْتِدْلَالْ په دي وَجْهَ نه دئ صَحِيْحْ چي په دي کي صِرف د نَظْمْ او نَعْتْ شَکْلْ دئ، او په دي کي ډُوْلْ، بَاجَهْ، سَارَنْګِيْ بِالْکُلْ نـه وي، او په قَوَّالِيْ کي دغه ټولَ ډهمَالُوْنَهْ (او نَخرې) وي، نو دا به څنګه جَائِزْ وي؟

حَدِيْثْ دغه دئ

**٨: عَنْ سَعِيْدِ بن الْمُسَيّبِ قَالَ:- مَرَّ عُمَرُ فِى الْمَسْجِدِ وَحَسَّانُ يَنْشُدُ فَقَالَ كُنْتُ اَنْشُدُ فِيْهِ وَ فِيْهِ مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِّنْكَ ثُمَّ اِلْتَفَتَ اِلٰى اَبِىْ هُرَيْرَةَ فَقَالَ اُنْشِدُكَ بِاللهِ أَسَمِعْتَ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) يَقُوْلُ:- اِجِبْ عَنِّىْ اَللّٰهُمَّ اَيِّدْهُ بِرُوْحِ الْقُدُّوْسِ؟ قَالَ نَعَمْ .**

(بُخَارِىْ شَرِيْفْ، كِتَابُ بَدْءُ الْخَلْقِ، بَابُ ذِكْرِ الْمَلَائِكَةِ صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِمْ، ص: ٥٣٧، نَمْبَرْ ٣٢١٢ / مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ فَضَائِلِ الصَّحَابَةِ، بَابُ فَضَائِلِ حَسَّانَ بن ثَابِتٍ، ص: ١٠٩٤، نَمْبَرْ ٢٤٨٥ / ٦٣٨٤)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عُمَرْ د مَسْجِدْ سره رَاتېرېدَئ، او حضرت حَسَّانْ شِعْرُوْنَهْ وَيَل، [شَايَدْ چي وَ حضرت عُمَرْ ته دغه خُوند نَه وي وَرکړئ] نو حضرت حَسَّانْ وَ فَرْمَائِلْ چي تر تَا چي کُوم بِهْتَرْ وُو يعني حُضُوْرْ (ﷺ) دهغه په مَخکِي مَا شِعْرُوْنَهْ وَيَل، بيا و حضرت اَبُوْهُرَيْرَةْ ته مُتَوَجّهْ سو، او وويل چي زَهْ وَ تَا ته د اَللّٰهْ په نُوْمْ سره قَسَمْ دَرکوم دا دَرتَه وائم چي:- اَيَا تَا د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه دغه فَرْمَانْ اَورېدَلئ وُو؟ چي زَمَا لَخْوَا وَ قُرَيْشُ ته جَوَابْ ورکه، ائ اَللّٰهْ د حضرت جِبْرَئِيْلْ په ذَرِيْعَهْ سره دده (يعني د حَسَّانْ بن ثَابِتْ] مَدَدْ وکې، نو حضرت اَبُوْهُرَيْرَةْ وَ فَرْمَائِلْ چي هُو مَا د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه اَورېدَلِي وُو .

په دغه حَدِيْثْ کي د نَظَمْ د وَيَلُو بَيَانْ خو سته، لېکن په دي کي دا هم سته چي حضرت عُمَرْ دغه نَاخُوْښَّهْ کړئ، په دغه وَجْهَ خو حضرت حَسَّانْ د حضرت اَبُوْهُرَيْرَةْ د ګَوَاهِيْ اَخستَلُو ته مَجْبُوْرْ سو، نو څکه نَظْمْ (شِعْرُوْنَهْ) وَيَل ډُومره ښَهْ کارْ نَه دئ .

**٩: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ:- قَالَ حَسَّانُ يَا رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) اِئْذَنْ لِّىْ فِىْ اَبِىْ سُفْيَانَ، قَالَ كَيْفَ بِقَرَابَتِىْ مِنْهُ؟ قَالَ وَالَّذِىْ اَكْرَمَكَ لَاَسُلَّنَّكَ كَمَا تُسَلُّ الشَّعْرَةُ مِنَ الْخَمِيْرِ فَقَالَ حَسَّانُ .**

**ع وَ اَنَّ سَنَامُ الْمَجْدِ مِنْ اٰلِ هَاشَمِ اِلَخْ .**

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ فَضَائِلِ الصَّحَابَةِ، بَابُ فَضَائِلِ حَسَّانَ بِن ثَابِتٍ، ص: ١٠٩٥، نَمْبَرْ ٢٤٨٩ / ٦٣٩٣)
تَرْجَمَهْ:- حضرت حَسَّانْ پُوښتَنَه وکړه يَارَسُوْلَ اللّٰهْ (ﷺ) مَا ته د اَبُوْسُفْيَانْ د مَذَمَّتْ کولو اِجَازَتْ وکه، نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي هغه خو زَمَا رِشْتَهْ دَارْ دئ، نو دهغه مَذَمَّتْ به څنګه کوې؟ حضرت حَسَّانْ وَ فَرْمَائِلْ چي:- ګُوم خُدَا چي تَا ته عِزَّتْ دَرکړئ دئ، لکه څنګه چي د وَرُوْ څخه ببِښْتَانْ رَا ايستَل کيږي دغه رنګه به زَهْ تَا د دُوي د مَذَمَّتْ څخه رَاوَبَاسَم، بيابې مَختَه وُړدَه قَصِيْدَهْ وَوَيَل چي يَوَه مِصْرَعْ يې داده
ع وَ اَنَّ سَنَامُ الْمَجْدِ مِنْ اٰلِ هَاشَمِ اَلَخْ .
په دغه حَدِيْثْ کي و حَضرَت حَسَّانْ ته حُضُوْرْ (ﷺ) د نَظْمْ د وَيَلُو اِجَازَتْ وَرکړئ دئ .

١٠: عَنْ عَائِشَةَ اَنْ اَبَابَكْرٍ دَخَلَ عَلَيْهَا وَ عِنْدَهَا جَارِيَتَانِ فِیْ اَيَّامِ مِنٰی تُدَفِّفَانِ وَ تَضْرِبَانِ، وَالنَّبِیُّ (ﷺ) مُتَغَشٍّ بِثَوْبِه فَانْتَهَرَهُمَا اَبُوْبَكْرُ فَكَشَفَ النَّبِیُّ (ﷺ) عَنْ وَجْهِه وَقَالَ دَعْهُمَا يَا اَبَابَكْرِ فَاِنَّهَا اَيَّامُ عِيْدٍ، وَتِلْكَ الْاَيَّامُ اَيَّامُ مِنٰی .
(بُخَارِیْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْعِيْدَيْنِ، بَابٌ اِذَا فَاتَهُ الْعِيْدُ يُصَلِّیْ رَكْعَتَيْنِ، ص: ١٥٩، نَمْبَرْ ٩٨٧ / مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ صَلَاةِ الْعِيْدْ، بَابُ الرُّخْصَةِ فِی اللَّعَبِ الَّذِیْ لَامَعْصِيَةَ فِيْهِ فِیْ اَيَّامِ الْعِيْدِ، ص: ٣٥٦، نَمْبَرْ ٨٩٢ / ٢٠٦١)
تَرْجَمَهْ:- حضرت اَبُوْبَكْرْ دَاخِلْ سو، دغه د مِنٰی وَخْتْ وُو، هغه وَخْتْ دُوو اِنْجُوْنُوْ ډُوْلْ ټکاوَئ، او حُضُوْرْ (ﷺ) په کيره کي ځَان پيچَلئ پَتْ وُو، نو حضرت اَبُوْبَكْرْ هغه دُوارو اِنْجُوْنُوْ ته خَبَمْ وکئ، نو حُضُوْرْ (ﷺ) د خپلي چِهْرِی څخه کيرَه لِيري کړه او وَفَرْمَائِلْ:- اَبُوْبَكْرْ دُوي پرېږدَه، دا خُو د اَخْتَرْ وُرَځْ ده، او دغه زَمَانَهْ د مِنٰی زَمَانَهْ وَه .
په دغه حَدِيْثُوْ کي دئ چي ځَه نَا ځَه شِعْرُوْنَهْ هم وَيَلائي سي، او د نَغْمُوْ او سُرُوْرْ بَغَيْرَهْ ډُوْلْ هم وَيَلائي سي .
لېکن د اَحَادِيْثُوْ څخه مَعلُوميږي چي وَ اَصْحَابَانُوْ ته په دُومرَه اَنْدَازَهْ هم خُوَښ نَه وُو، په دغه وَجَهْ اَبُوْبَكْرْ مَنْعَ کړئ، لېکن د اَخْتَرْ وُرَځْ وه، او کِشنَئ کِشنَئ اِنْجُوْنِیْ وې نو حُضُوْرْ (ﷺ) لَږْ ځَه ګُنْجَائِشْ ورکړئ .
مُوږ يې وِينُو چي د عُلَمَاءُ په جَلْسُوْ کي طَالِبَانْ نَظْمُوْنَهْ وائي، نَعْتُوْنَهْ وائي، او په هغه کي هيڅ ډَول ډُوْلْ نَه وي، او نَه تَالَیْ وَهَلْ کيږي، نَه اَتَنْ کيږي، او نَه دهغه سره کَارَهْ وَارَهْ کيږي، نوبَس په دغونَه اَنْدَازَهْ د حَدِيْثْ څخه جَائِزْ بنکاره کيږي .
بُزُرْګَانْ دِيْنْ او مَشَائِخْ به هم چي ذِکْرْ و اَذْکَارْ وکړل ستړي به سول، نو د تَفْرِيْحْ لپاره به کله نَا کله نَظْمْ اَوريدَئ چي د حَدِيْثْ په رَنَا کي جَائِزْ دئ .

وُرُوسْتَنَيُوْ خلکو بيا د خپل رُوْزْګَارْ او کَارْ و بَارْ لپاره دغه ته د ,, سِمَاعْ ,, نُوْمْ وَرکـئ، دغـه تـه يې د ,, قَوَّالِيْ ,, نُـوْمْ وَرکـئ، او بيايې پـه دغـه کـي سَارَنګئ،ډُوْلْ،بَاجَهْ،نَيْ او تُرْلَکهْ وَر شَامِلْ کړل، چي په آيَتْ او حَدِيْثْ کې په سَخْتِيْ سره مَنْـعَ کـړي دي، او بيـايې هغـه تـولَ دَهمَـالْ شـروع کـړل چـي د هِنْدُوَانُوْ مِيلي هم دهغه څخه شَرَمْ کوي، فَيَا لَلْاَسَفْ .

يَو په دا خَبَرَهْ هم ځانُونَه پُوْهْ کئ چي په حَدِيْثْ کي چي ګُوم لَرْ و ډېر د نَظْمْ بَيَانْ راغلئ وُو هغه يې د خُوْشْحَالِيْ پر وَخْتْ وَيَلِي وُو، يا بُزَرْګَانُوْ چي ګُومَه سِمَاعْ کړې وه هغه يې په خپلو خَانَقَاهُوْ کي کړې وه، او قَوَّالِيْ خو پر ډُوْلْ او سُرْنَا باندي وَيَل کېږي، حَالَانْکِهْ دغـه ځـائ د غَمْ کولـو ځـائ دئ، او د آخِرَتْ د يَادَوُلُ ځائ دئ، دَلتَه د نَظْمْ او د قَوَّالِيْ پـه مَابَيْنْ کـي هيڅ مُنَاسَبَتْ نَستَه، دا خو دارنګه سو لکه په مَنْـدَرْ کي د مُوْرْتِيْ (يعنـي بُتَـانُوْ) پـه مَخکِـي چي بَهجَنْ (د اَللهْ حَمْدْ) وَيَل کيږي .

تاسو پر دغه نُکْتَهْ باندي غَوَرْ وکئ .

## هِنْدُوَانْ د خپلو بُزَرْګَانُوْ د مَنْدَرَانُوْ سره مِيلي لَګوِي

هِنْدُوَانْ هر کال د خپلو تيرو سوو بُزَرْګَـانُوْ د مَنْـدَرَانُوْ سـره مِيلـي جوړوي، هَلَتّه غَزَلِيْ، بَاجي او سُرْنَاوِيْ وائي، دهغوي څخه هر څَه غُوَاړي، د هغـوي عِبَادَتْ کـوي، د هغـوي پـه مَخکِـي سَرْ ټِيَـوِي، او سَجْدي وَرتـه کـوي، چـي شِرْکْ دئ .

پر قَبَرْ باندي عُرْسْ هم ددغه سره مُشَابَهَتْ لري، نو ځکه دغه بَايَدْ وَنَه کړي .

تاسو پر دغه نُکْتَهْ باندي غَوَرْ وکئ .

## ۳۹: فَيْضْ حَاصِلَوَل

اِکْتِسَابِ فَيْضْ يعني د يَو ځَا څخه فَيْضْ حَاصِلَوَلْ، په مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ کـي يَـوَه ډېره مُغْلَقْ يا مُشْکِلْ مَسْئِلَهْ ګرزېدلې ده .

ددغه عَقِيدي په اړه ۳ آيَتُوْنَهْ او ۴ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کئ .

د فَيْضْ د حَاصِلَوُلُوْ دُوَهْ صُوْرَتُوْنَهْ دي
[۱] ..... د ژُوَنْدُوْ څخه فَيْضْ حَاصِلَوَلْ .
[۲] ..... د مُرْدَهْ ګانُوْ څخه فَيْضْ حَاصِلَوَلْ .

## د ژُوَنْدُوْ څخه کُوم فَيْضْ حَاصِليږي؟

که چيري په اُسْتَاذْ يا پِيرْ کي دغه دري صِفَتُوْنَهْ وي نو دهغه څخه فَيْضْ حَاصِلېدائ سي .

[۱] ..... اَوَّلْ صِفَتْ دادئ چي:- اُسْتَاذْ يا پِيرْ مُخْلِصْ وي دهغه مَقْصَدْ بَس دغه وي چي د خلګو اِصْلَاحْ وکي، او خلک دِيْنْ ته رَاوَلِي، او په دغه مَعَامَلَهْ کي په ډېر مِحْنَتْ سره کَارْ وکي، د پَيْسُوْ او دَوْلَتْ جَمَعْ کولو لپاره پِيْرِئ مُرِيْدِئ نَه کوي، دده مَقْصَدْ دا نَه وي چي د ,, اِکْتِسَاب فَيْضْ ,, په نُوْمْ د ټولَ کال خَرْچَهْ جَمَعْ کي، او د ټولي کُوْرَنَئ د ټولَ کال مَصْرَفْ لَاسْ ته رَاوَلِي، يا د خَانَقَاهْ په نُوْمْ خپل کُوْرْ جوړ کي او دهغه مَرَمَّتْ وکي، که چيري ددغه مَقْصَدْ لپاره پِيْرِئ مُرِيْدِئ کوي نو دهغه څخه هيڅ ډَوَل ,, اِکْتِسَاب فَيْضْ ,, نَه سي کولائي .

[۲] ..... دُوَهَمْ دا چي اُسْتَاذْ يا پِيرْ به په خپله هم د شَرِيْعَتْ پَابَنْدَ وي، که چيري هغه په خپله هم فَرْضْ لُمُوْنْځْ نَه کوي، رُوْژَهْ نَه نِيسِي نو هغه به تَا ته څه فَيْضْ درکړي .

[۳] ..... دَرَيَمْ دا چي په هغه کي به رِيَاءْ او نَمُوْدْ نَه وي، دئ دغه کَارْ د نَامَهْ او شُهْرَتْ لپاره نَه کوي، که چيري دئ ددې لپاره دغه کار کوي چي پر تيليويژَنْ (Television) باندي راسي، يا پر يُوْتُيُوْبْ (you tube) باندي راسي، نو دغه د شُهْرَتْ لپاره دئ، په دغه کي به نو څَه فَيْضْ حَاصِلْ سي ؟
يا دده مَقْصَدْ دا وي چي د خپلي کُوْرَنَئ لپاره خَرْچَهْ جَمَعْ کړي نو تَا ته به څَه فَائِدَهْ دَر وَرَسَوِي؟
لِهٰذَا د پِيرْ اِنْتِخَابْ به په ډېر سُوْچْ او فِکْرْ سره کوئ، دا زَمَا د اِخْلَاصْ څخه ډکّه يَوَه مَشْوَرَهْ ده .

# په قُرْآن پَاکْ کي خُلُوْرْ قِسْمَ فَيْضْ ذِکر سوئ دئ

[۱] ..... پِيْرْ صَاحِبْ به د مُرِيْدَانُ په مَخکِي قُرآنْ وائي او د دُوي د قُرْآنْ تَلَفُّظْ به وَر صَحِيْحْ کوي .

[۲] ..... و مُرِيْدَانُ ته به د قُرْآنْ مَعْنٰي وَر اِزْدَهْ کوي .

[۳] ..... په قُرْآنْ کي چي کُوم حِکْمَتْ دئ، يعني د حَلَالْ و حَرَامْ چي کُوم اَحْکامَاتْ دي هغه به وَ مُرِيْدَانُ ته وَر اِزدَه کوي .

[۴] ..... او د زَرَهْ تَزْکِيَّهْ به يې کوي، يعني د شِرْکْ او بِدْعَتْ او نورو رُسُوْمَاتُ څخه به د دُوي د سَاتَلُو کُوښښ کوي .

دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي

۱: رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيْهِمْ ط اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ع (آيَتْ ۱۲۹ ،سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲)

تَرْجَمَهْ:- ائ زمونږ پَرْوَرْدِګارَهْ! په دُوي کي يو دارنګه رَسُوْلْ هم رَاوَاستَوَه چي د دُوي څخه وي، چي د دُوي په مخکي ستا آيَتُوْنَهْ تِلَاوَتْ کړي، دُوي ته د کِتَابْ او حِکْمَتْ تَعْلِيْمْ ورکړي، او دُوي پَاکْ کړي، بېشکّه ستا، او صِرف ستا، ذَاتْ هغه دئ چي دهغه اِقْتِدَارْ هم کامِلْ دئ، دهغه حِکْمَتْ هم کامِلْ دئ,,

په دغه آيَتْ کي دئ چي حُضُوْرْ (ﷺ) د څلورو کارُو لپاره مَبْعُوْثْ سوئ دئ . دي

۲: لَقَدْ مَنَّ اللهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْبَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِه وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ ج و اِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ

(آيَتْ ۱۶۴ ،سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ۳)

تَرْجَمَهْ:- حَقِيْقَتْ دادئ چي اَللّٰهْ پر مُؤْمِنَانُو غَټْ اِحْسَانْ کړئ دئ چي دُوي ته يې د دُوي (د نَسَلْ) څخه يَو رَسُوْلْ رَاوَاستَاوَئ چي د دُوي په مخکي د اَللّٰهْ آيَتُوْنَهْ تِلَاوَتْ کړي، دُوي پَاکْ صَافْ کړي (يا د دُوي څخه زَکوٰةْ اَخلِي) او دُوي ته د کِتَابْ او حِکْمَتْ تَعْلِيْمْ ورکړي، سره ددې چي تر دې مخکي دغه خلګ يَقِيْنًا په ښکاره ګُمْرَاهِيْ کي مُبْتَلَاءْ وُو

۳: كَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْكُمْ رَسُوْلًا مِّنْكُمْ يَتْلُوْا عَلَيْكُمْ اٰيٰتِنَا وَيُزَكِّيْكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُمْ مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ (آيَتْ ۱۵۱ ، سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲)

تَرْجَمَهْ:- (دا اِنْعَامْ دغه رنګه دئ) لکه موږ چي ستاسو په مینځ کي ستاسو څخه يَو رَسُوْلْ راواستاوئ چي ستاسو په مخکي زموږ آيَتوْنَهْ تِلَاوَتْ کوي، او تاسو پَاکْ کوي، او تاسو ته د کِتَابْ او حِكْمَتْ د خَبَرُوْ تَعْلِيْمْ درکوی، او تاسو ته هغه خَبَرِيْ دَربَنايِي چي تاسو ته مخکي معلوم نَه وي.

ددغه آيَتُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي اُسْتَاذْ يا پِيْرْ مُخْلِصْ وي نو دهغه څخه دغه څَلُوْرْ قِسْمَ فَيْضْ حَاصِلېدلائي سي .

[۱] ..... پِيْرْ صَاحِبْ به د مُرِيْدَانُ په مَخکِي قُرآنْ وائي او د دُوي د قُرْآنْ تَلَفُّظْ به وَر صَحِيْحْ کوي .

[۲] ..... و مُرِيْدَانُ ته به د قُرْآنْ مَعْنٰي وَر اِزْدَهْ کوي .

[۳] ..... په قُرْآنْ کي چي کُوم حِكْمَتْ دئ، يعني د حَلَالْ و حَرَامْ چي کُوم اَحْكَامَاتْ دي هغه به وَ مُرِيْدَانُ ته وَر اِزدَه کوي .

[۴] ..... او د زَړَهْ تَزْكِيَّهْ به يې کوي، يعني د شِرْکْ او بِدْعَتْ او نورو رُسُوْمَاتُ څخه به د دُوي د سَاتَلُو کُوښښ کوي .

چي پِيْرْ ښَهْ اِنْسَانْ وي او مُرِيْدْ هم په تَوَجُّهْ او مِحْنَتْ سره فَيْضْ حَاصِلْ کي نو وَ مُرِيْدَانُ ته دغه څَلُوْرْ قِسْمَ فَيْضْ حَاصِلېږي، په قُرْآنْ کي ددې بَيَانْ راغلئ دئ .

د بعضو خلکو دا خِيَالْ وي چي پِيْرْ صَاحِبْ يَو خَاصْ مَعْنَوِيْ شَئ وَ مُرِيْدَانُ ته وَرکوي، او مُرِيْدْ د هغه د حَاصِلَوُلو لپاره په کلُوْ کلُوْ د پِيْرْ خِدْمَتْ کوي، لېکن د حَدِيْثْ او رِوَايَتْ څخه دغه رنګه نَه ښکاره کېږي، بلکه هغه څَلُوْرْ خَبَرِيْ کُوم چي اُوس مَخته بَيَانْ سوې هغه حَاصِلېږي .

## د,, يُزَكِّيْكُمْ ,, تَفْسِيْرْ

د بعضو خلکو دا خِيَالْ دئ چي پِيْرْ صَاحِبْ وَ خپل مُرِيْدْ ته کُوم مَعْنَوِيْ شئ وَرکوي، او هغه حضرات ددغه آيَتْ څخه اِسْتِدْلَالْ کوي

كَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْكُمْ رَسُوْلًا مِّنْكُمْ يَتْلُوْا عَلَيْكُمْ اٰيٰتِنَا وَيُزَكِّيْكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُمْ مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ (آيَتْ ۱۵۱ ، سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲)

تَرْجَمَهْ:- (دا اِنْعَامْ دغه رنګه دئ) لکه موږ چي ستاسو په مينځ کي ستاسو څخه يَو رَسُوْلْ راواستاوئ چي ستاسو په مخکي زموږ آيَتوْنَهْ تِلَاوَتْ کوي، او تاسو پَاکْ کوي، او تاسو ته د کِتَابْ او حِکْمَتْ د خَبَرُوْ تَعْلِيْمْ درکوی، او تاسو ته هغه خَبَرِيْ دَربنَاپِي چي تاسو ته مخکي معلوم نَه وې.

په دغه آيَتْ کي چي ګُوم ,, يُزَکِّيْکُمْ ,, چي رَسُوْلْ ستاسو تَزْکِيَّهْ کوي، څخه اِسْتِدْلَالْ کوي .

لېکن د تَفْسِيْرْ اِبْنِ عَبَّاسْ څخه دا مَعلُومېږي چي په دې آيَتْ کي ګُومَه مَعْنَوِيْ مَعْنٰي وَرکوَل مَقْصَدْ نَه دئ، بلکه د ,, يُزَکِّيْکُمْ ,, مَعْنٰي داده چي په تاسو باندي د تَوَحُّدْ په اِزدَه کولو سره او د زَکٰوةْ په وَرکوُلُو سره او د صَدَقَهْ په وَرکوُلُو سره تاسو د ګُنَاهُوْ څخه پَاکْ ګرزوي .

په تَفْسِيْرْ اِبْنِ عَبَّاسْ کې د ,, يُزَکِّيْکُمْ ,, تَرْجَمَهْ کړې ده [يُطَهِّرُکُمْ بِالتَّوْحِيْدِ، وَالزَّکٰوةِ، وَالصَّدَقَةِ مِنَ الذُّنُوْبِ] .

تَرْجَمَهْ:- دا چي په تاسو باندي تَوْحِيْدْ اِزدَهْ کړي، په تاسو زَکٰوةْ اَدَاءِ کي، او په تاسو صَدَقَهْ وَرکړي، (په دغه ذَرِيْعَهْ سره) تاسو پَاکْ ګرزوي .

لِهٰذَا ګُوم خلګ چي د ,, يُزَکِّيْکُمْ ,, مَعْنٰي دا کوي چي پِيْرْ صَاحِبْ د زَړَهْ تَزْکِيَّهْ کوي دا غَلَطْ دئ، بلکه ددې مَعْنٰي داده چي په شَرِيْعَتْ کي چي ګُوم د حَلَالْ، او حَرَامْ اَحْکَامَاتْ دي پِيْرْ صَاحِبْ هغه وَربنَيِي، لکه څنګه چې يَو اُسْتَاذْ وَ خپلو شَاګِرْدَانُوْ ته وَربنَيِي .

## چي پِيْرْ صَاحِبْ خُدَا تَرْسْ وي نو د هغه زِيَاتْ اَثَرْ وي

چي پِيْرْ صَاحِبْ خُدَا تَرْسْ وي، او په مِحْنَتْ سره کَارْ وکي، او مُرِيْدْ هم په شَوْقْ او تَوَجُّهْ سره مِحْنَتْ وکي نو دهغه اَثَرْ زِيَاتْ وي

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

١: اِنَّ اَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيْدَ اَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) يَقُوْلُ:- اَ لَا يُنَبِّأُکُمْ بِخِيَارِکُمْ؟ قَالُوْا بَلٰى يَا رَسُوْلَ اللهِ، قَالَ خِيَارُکُمُ الَّذِيْنَ اِذَا رَأَوُوْا ذَ کَرَ اللهَ عَزَّ وَ جَلَّ .

(اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ، کِتَابُ الزُّهْدِ، بَابُ مَنْ لَّايَؤُبُهُ لَهُ، ص: ٦٠١، نَمْبَرْ ٤١١٩)

تَرْجَمَهْ:- حضرت اَسْمَاءْ بِنْتِ يَزِيْدْ وويل چي مَا د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه اَورېدَلِي دي چي دايي وَ فَرْمَائِلْ :- زَهْ يې تاسو ته دَروَبنَايَم چي په تاسو کي بِنَهْ خلګ څوک دي؟ خلګو وويل چي هُوْ يَارَسُوْلَ اللهْ! حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ په تاسو کي بِنَهْ خلګ هغه دي چي کله دُوي وَوِينَئ نو خُدَائ مُو يَادْ سي .

په دغه حَدِيْثْ كي دئ چي وَوِينې اَللهْ تَعَالٰی دَر په يَادْ سي، بَس هغه بِنَهْ خلک دي، نو لِهٰذَا پِيْرْ صَاحِبْ بَايَدْ دارنګه د اَللهْ وَالاَ اِنْسَانْ وي چي ته يې وَوِينې نو اَللهْ تَعَالٰی دَر په يَادْ سي .

دغه ځَلُوْرْ فَائِدې هغه وَخْتْ حَاصِلېدلائي سي چي پِيْرْ صَاحِبْ ژُوَنْدَئ وي، او ته بِالْمُشَافَهْ دده څخه دَرْسْ حَاصِلْ کې، لېکن که يَو څوک وَفَاتْ سي نو هغه بيا دغه فَيْضْ نَه سي دَرکولائي، ځکه چي د مَرګ وروسته دده عَمَلْ مُنْقَطَعْ سي، په حَدِيْثْ کي دغه راغلي دي، نو ځکه اُوس دئ دغه فَيْضْ نَه سي دَرکولائي .

## د قَبْرُوْ او مُرْدَهْ ګانُوْ څخه کُوم فَيْضْ حَاصِلېږي

ډېر خلک د مُرْدَهْ ګانُوْ او مَزَارَاتُ څخه د فُيُوْضَاتُ خَبَرِيْ کوي، لېکن د قُرْآنْ و حَدِيْثْ څخه دا مَعْلُوْمَ ده چي:-

## قَبْرْ ته د تَلَلُو څخه ۳ فَيْضَ حَاصِلېږي .

[۱] ... آخِرَتْ وَر په يَادْ سي .

[۲] ... د دُنْيَا څخه زَړَهْ ډَکْ سي .

[۳] ... مَرګْ وَر په يَادْ سي،يعني دا فِکْرْ ورته راسي چي لکه څنګه چي دغه غَټْ غَټْ خلک د دُنْيَا څخه تَلِلي دي، د څُو وُرَځُوْ وروسته به زَهْ هم دغه هر څَه پرېږدَم او ددې ځايَه څخه به ځَم، نو ځکه چي د دُنيَا مَالْ و دَوْلَتْ سره جَمَعْ کړم نو دا څَه فَائِدَهْ ده؟ يا که ددې ځائ شُهْرَتْ حَاصِلْ کم نو څَه فَائِدَهْ ده ؟

که چيري قَبْرسْتَانْ ته د تَلَلُو څه دغه درې فَائِدې تر لَاسَ سي نو بيا خو بِنَهْ خَبَرَهْ ده، او که چيري قَبْرْ رُوْنْ، زَرْغُوْنْ، يَړکْ وَهِيْ، او پر هغه باندي ښَنَهْ زَرْغُوْنَهْ شَالُوْنَهْ، ګُلَانْ، غَاړَګِئ ځړېږي، او د دُنْيَا نَخرې او خُرَافَاتْ تولَ پر کېږي، او د آخِرَتْ تر يَادْ زِيَاتْ ددې دُنْيَا سَيْرْ و تَفْرِيْحْ وي، د دُنْيَا رَاحَتُوْنَهْ وي، بلکه مَزَارَاتْ د مَالْ جَمَعْ کولو ذَرِيْعَهْ وي، (لکه نَنْ سَبَا چي سَرْکَارْ يې په ټيکهْ ورکوي، او د آمَدَنْ يَوَه ډېره بِنَهْ ذَرِيْعَهْ ده)، نو دغه خو د قَبْرْ فَيْضْ نَه دئ، بلکه اُلتَا دا نُقْصَانْ دئ .

په دغه حَدِيْثُوْ کې د قَبْرُوْ د زِيَارَتْ کولو فَائِدې بَيَانْ کړې دي

۳: عَنْ اِبْنِ مَسْعُوْدٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) قَالَ كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ فَزُوْرُوْهَا، فَاِنَّهَا تُزَهِّدُ فِى الدُّنْيَا وَتُذَكِّرُ الْاٰخِرَةَ .

(اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ، بَابُ مَاجَاءَ فِىْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ، ص: ۲۲۳، نَمْبَرْ ۱۵۷۱)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چې:- مَا تاسو د قَبْرُو د زِيَارَتْ کولو څخه مَنْعْ کولاست، اُوس د قَبْرُوْ زِيَارَتْ کوئ، ځکه چې ددې لکبله د دُنْيَا څخه بې رَغْبَتِيْ پَيدَا کيږي، او آخِرَتْ په يَادْ وَرځي .

۴: عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ قَالَ زَارَ النَّبِىُّ (ﷺ) قَبْرَ اُمِّه فَبَكٰى وَ اَبْكٰى مَنْ حَوْلَهُ فَقَالَ اِسْتَأْذَنْتُ رَبِّىْ فِىْ اَنْ اَسْتَغْفِرَ لَهَا فَلَمْ يَأْذَنْ لِىْ وَ اِسْتَأْذَنْتُ رَبِّىْ اَنْ اَزُوْرَ قَبْرَهَا فَاُذِنَ لِىْ، فَزُوْرُوْا الْقُبُوْرَ، فَاِنَّهَا تُذَكِّرُكُمُ الْمَوْتَ .

(اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ، بَابُ مَاجَاءَ فِىْ زِيَارَةِ قُبُوْرِ الْمُشْرِكِيْنَ، ص: ۲۲۴، نَمْبَرْ ۱۵۷۲)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) د خپلي مُوْرْ د قَبْرْ زِيَارَتْ وکئ نو ده وَژَړلْ، او چې کُوم نِژدې خلک وُو هغه يې هم وَژَړولْ، بيايې وَ فَرْمَائِلْ چې مَا د خپل رَبْ څخه د خپلي مُوْرْ لپاره د مَغْفِرَتْ اِجَازَتْ وَغُوښتَئ نو مَا ته اِجَازَتْ نَه سو مِلاؤ، او د خپل رَبْ څخه مې ددې د قَبْرْ د زِيَارَتْ کولو اِجَازَتْ وَغُوښتَئ نو مَا ته اِجَازَتْ مِلاؤ سو، د قَبْرُوْ زِيَارَتْ کوئ، ځکه چې دغه تاسو ته مَرْګْ په يَادْ دَروَلي .

په دغه حَدِيْثُوْ کې درې درې فَائِدی بَيَانْ کړې دي

[۱] ... چې په دُنْيَا کې زُهْدْ پَيدَا سي، يعنې چې قَبْرْ وَوِيْنِيْ نو زړَهْ يې د دُنْيَا څخه صَبْرْ سي .

[۲] ... آخِرَتْ يې په يَادْ سي .

[۳] ... اوچې قَبْرْ وَوِيْنِي خپل مَرْګْ وَر په يَادْ سي، چې زړَهْ به هم دغه قَبْرْ ته رَاځَم .

مَزَارَاتُ ته د تَلَلُو اَصلْ فَيْضْ دغه دئ .

او که چيري قَبْرْ ته د تَلَلُو څخه دغه درې فَائِدی حَاصِل سي خو بِنَهْ خَبَرَهْ ده، لېکن که چيري هلته د تَلَلُو څخه ستا تَفْرِيْحْ وي، په خپله په دُنْيَا کې زړَهْ نور زِيَاتْ وَلګيږي، او تَه د عَيْشْ و عِشْرَتْ لپاره ځې، نو دغه د قَبْرْ فَيْضْ نَه دئ، دا خو اُلْټَا اَثَرْ دئ، نو ځکه بيا تَا ته د قَبْرْ د زِيَارَتْ کولو اِجَازَتْ نَستَه .

لېکن ځَه وَګُوو چې بعضو خلګو د يَيسُوْ لپاره او د خپل شُهْرَتْ لپاره د عَجِيْبْ عَجِيْبْ فُيُوْضَاتُ بَيَانْ کړئ دئ، چې د وَلِيَّانُوْ څخه به دارنګه فَيْضْ

حَاصِلْ سي، دغه رنګه حَاجَتُوْنَه به دي پُوْرَهْ سي، په حَدِيْثْ کي ددې بَيَانْ نَستَه .

## په مُسْتَحَبْ كَارْ كي تَشَدُّدْ

په مَوْجُوْدَهْ زَمَانْ کي دا هم يَوَه غَتَّهْ مَسْئَلَهْ ده چي يَو شَئ په حَدِيْثْ سره ثَابتْ دئ، لېکن هغه کار حُضُوْرْ (ﷺ) کله نَا کله (يَو وَخْتْ) کړئ دئ. په هغه کار کي بَل ځَا ته هم بَلَنَهْ نَه ده وَرکړې، بلکه چي کُوم خلګ هَلَتّه حَاضِرْ وُو بَس هغوي دغه کار وکړئ .

مَثَلًا صَحَابَهْ كِرَامْ يَو وَخْتْ سره يَو ځَائ سول، او هَلَتَه يې د اَللهْ ذِكْرْ وکړئ، نو دا د حَدِيْثْ څخه ثَابتْ دئ، او بَس په دغونَه اَنْدَازَهْ کول جَائِزْ دئ، لېکن اُوس په بعضو ځَايُو کي مُوږ لِيدَلِي دي [اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ په هره ځَائ دغه رنګه خَبَرَهْ نَه ده] چي د ذِكْرْ پر نُوْمْ باندي ښو ښو مِيَاشْتِيْ مَخکِي لَا اِشْتِهَارُوْنَه وَرکوَل کېږي، خلګ سره رَاجَمَعْ کوي، ددې لپاره بِنَهْ مَضْبُوْطْ چَنْدَهْ کېږي، او بې اَنْدَازي مَصْرَفْ کېږي، او جَګْ جَګْ غُوَرزِي، سَرُوْنَهْ سره بِنُوْرَوِيْ، په دارنګه اَنْدَازْ سره ذِكْرْ کوي، ستا به دا خِيَالْ سي چي ډُوي نَاچْ کوي، او دغه د نَاچْ او غَزَلُوْ يَو مِحْفَلْ وي، او چي ډُوي ته څَه ووائې نو فَوْرًا د حَدِيْثْ حَوَالَهْ دَرکوي، او دا فِكْرْ نَه کوي، چي هغه خو کله نَا کله وُو، او اَچَانَکْ وُو، او تاسو خو د ذِكْرْ پر نُوْمْ باندي هَنګامي او شُوْرْ شَرَابَهْ کوئ، او پر يُوْتيُوْبْ باندي دهغه تَشْهِيْرْ کوئ، او چي تَحْقِيْقْ يې وکې نو دَنَنَهْ به دا مَعْلُوْمْ سي چي ډُوي خو وائي چي مُوږ ذِكْرْ کوو، يا د دِيْنْ خِدْمَتْ کوو، لېکن په اَصَلْ کي دغه رنګه حَرَکتْ کونکي خلګو ته درې شِيَانْ په کار وي

[١] ... په عَوَامُوْ کي خپل شُهْرَتْ حَاصِلَوَل، چي زِيَاتْ او ډېر عَوَامْ سره جَمَعْ سي .

[٢] ... په عَوَامُوْ کي خپل رُعْبْ رَاوَستَل .

[٣] ... او چي په دغه بَهَانَهْ سره ډُومرَه پَيسې سره جَمَعْ کي چي د ټول کال مَصْرَفْ په پُورَه کي .

نو ځکه د دغه رنګه ډېرو مُسْتَحَبَّاتُوْ څخه پَرْهِيزْ کوَل په کار دئ، چي په هغه کي تَدَاعِيْ وي، يعني چي په هغه کي يې خلګ په بَلُلو بَلُلو سره رَا جَمَعْ کړي وي، ځکه چي په دُرّمُخْتَارْ کي لِيکلِي دي چي د مُسْتَحَبْ كَارْ لپاره

تَدَاعِيْ يعني خلک بَاقَاعِدَهْ رَابَلَل او سره جَمَعْ کول د هسي يَوَه مُسْتَحَبْ کَارْ لپاره مَكْرُوْهْ دي، او شَرِيْعَتْ ددغه رنګه تَدَاعِيْ څخه مَنَعْ کوي، نو ځکه ددې څخه د ځان ساتلو ډېر سَخْتْ ضرورت دئ .
په زِيَارَتِ قُبُوْرْ کي، او دغه رنګه د مَرْګْ پر مُوْقَعْ باندي ډېر وَخْتْ دارنګه کېږي چي بعض کَارُوْنَهْ په بُنْيَادِيْ ټُوګه سره مُسْتَحَبْ وي، لېکن خلک پر هغه باندي ډُومرَه تَشَدُّدْ کوي چي هغه د تَدَاعِيْ په دَرَجَهْ کي رَاځِي .
کله خو بيا هغه په نُمُوْدْ او رِيَاکَارِيْ کي رَاځِي، او کله خو بيا په بعضو رَوَاجُوْ کي ډُومرَه مَصْرَفْ وکي چي اِنْسَانْ تَنګ سي، او کله نَا کله خو په سُوْدْ پَيسې وَاخلِي او دغه رَوَاجِيْ کَارُوْنَهْ په کوي، لِهٰذَا په مُسْتَحَبْ کَارْ کي ډُومرَه تَشَدُّدْ کول بِالْکُلْ صَحِيْحْ نَه دئ .

# ۴۰: د قَبْرْ سره نِژدې ذَبَحْ کول مَنْعَ ده

حَيْوَانْ ذَبَحْ کول او په مِسْکِيْنَانُوْ خُوَرَوَل صَدَقَهْ ده، په شَرِيْعَتْ کي صَدَقَهْ کول او د هغه ثَوَابْ و مُرْدَهْ ته بَخښَل جَائِزْ دئ، لېکن په دي کي دا شَرْطْ دئ چي د اَللّٰهْ پر نُوْمْ يې ذَبَحْ کړئ وي، په دي کي بَس ډُومرَه خَبَرَهْ ده چي حَيْوَانْ ذَبَحْ کول دئ او مُرْدَهْ ته يې ثَوَابْ رَسَوَل دئ، لېکن اُوس خو په دي کي ډېري رِيَاءْ کَارِيْ راغلي دي .

## د ذَبَحْ کولو څَلُوْرْ صُوْرَتُوْنَهْ

ددې تَفْصِيْلْ مَخته مُلَاحَظَهْ کئ

ددغه عَقِيدې په اړه ۴ آيَتُوْنَهْ او ۳ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کئ .

[۱] ... اَوَّلْ صُوْرَتْ دادئ چي د اَللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ د بَل پر نُوْمْ ذَبَحْ وکي

د اَللّٰهْ پر نُوْمْ يې ذَبَحْ نَه کي، يا خو يې د هيڅ چَا نُوْمْ نه وَاخستَئ، يا يې نُوْمْ وَاخستَئ لېکن د اَللّٰهْ څخه عَلَاوَهْ د بَل چَا نُوْمْ يې وَاخستَئ، نو دغه غُوَښَهْ حَرَامَ ده، ددې خُوړَلْ حَرَامْ ده .
دَلِيْلْ يې دغه آيَتْ دئ

**۱**: **وَ لَا تَاْ كُلُوْا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ وَ اِنَّه لَفِسْقٌ** ط . (**آيَتْ ۱۲۱**، **سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ۶**)
**تَرْجَمَهْ**:- او پر کُوم **حَيْوَانْ** چي د **اَللّٰهْ نُوْمْ** نَه وي اَخستَل سوئ، دهغه څخه **خُورَکْ** مَه کوئ، او دارنګه کول سختَه **ګُنَاهْ** ده .

**۲**: **حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيْرِ وَمَآ اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِه وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوْذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيْحَةُ وَمَآ اَ كَلَ السَّبُعُ اِلَّا مَاذَ كَّيْتُمْ** قف **وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ**
(**آيَتْ ۳**، **سُوْرَةُ الْمَائِدَةْ ۵**)
**تَرْجَمَهْ**:- پر تاسو باندي **مَړْ** سوئ **حَيْوَانْ** او **وينَهْ** او د **سُوَرْ** (**خِنْزِيْرْ**) **غُوښَهْ** او هغه **حَيْوَانْ حَرَامْ** کړل سوئ دئ چي پر هغه باندي د **اَللّٰهْ** بغيره د **بَلْ** چا نُوم **اَخستَلْ** سوئ وي، او هغه چي تر **غَاړَهْ** نيولو (**خَپَهْ** کېدو) په وجه **مَړْ** وي، او هغه چي د **زَخْمِيْ** کېدو (**وَهلُوْ**) په وجه **مَړْ** سوئ وي، او چي د **لُوړْ** ځايَه څخه رالېله سوئ **مَړْ** وي، او هغه چي **بَلْ حَيْوَانْ** په **ښکَرْ** وهلئ وي **مَړْ** کړئ يې وي، او هغه چي يو دَرِندې ځيني خوړلئ وي، **مَاسِوَا** دهغه چي تاسو (دهغه د مړ کېدو څخه مخکي مخکي) هغه **ذَبَحْ** (**حَلَالْ**) کړئ وي، او هغه (**حَيْوَانْ** هم **حَرَامْ** دئ) چي د **بُتَانُ** د **قُرْبَانئ** پر ځائ يې **ذَبَحْ** کړئ وي .
په دغه **آيَتُوْ** کي دئ چي د **اَللّٰهْ نُوْمْ** يې نَه وي پر اَخستَئ هغه مَه خُورَئ، ځکه چي هغه ګر سره **حَلَالْ** هم نَه دئ .

## [**۲**] ... **دُوَهَمْ صُوْرَتْ** دا چي پر **قَبْرْ** يايې پر **بُتَانُ ذَبَحْ** کي

**دُوَهَمْ صُوْرَتْ** دادئ چي د **اَللّٰهْ** څخه **عَلَاوَهْ مَثَلًا** د **بُتَانُوْ** والا يا د **قَبْرُوْ** والا د **خُوْشْحَالَ** کولو لپاره د **بُتَانُ** سره نِژدې يا و **قَبْرُوْ** ته نِژدې يې **ذَبَحْ** کي، په دغه **صُوْرَتْ** کي که چيري د **اَللّٰهْ نُوْمْ** اَخستَئ وي بيايې **ذَبَحْ** کړئ وي، خو بيا هم **حَلَالْ** نَه دئ، ځکه چي د **اَللّٰهْ** څخه **عَلَاوَهْ** د بَل چَا د **خُوْشْحَالَ** کولو لپاره يې **ذَبَحْ** کړې ده .

**دَلِيْلْ** يې دغه **آيَتْ** دئ
**۳**: **حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيْرِ وَمَآ اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِه وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوْذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيْحَةُ وَمَآ اَ كَلَ السَّبُعُ اِلَّا مَاذَ كَّيْتُمْ** قف **وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ**

(آیَتْ ۳، سُوْرَۃُ الْمَائِدَۃْ ۵)
تَرْجَمَہْ:- پر تاسو باندي مَړْ سوئ حَيْوَانْ او وِيْنَہْ او د سُوَرْ (خِنْزِيْرْ) غُوَښَہْ او هغه حَيْوَانْ حَرَامْ کړل سوئ دئ چي پر هغه باندي د اَللّٰہْ بغيره د بَلْ چا نُوم اَخَسْتَلْ سوئ وي، او هغه چي تر غَاړَہْ نيولو (خَپَہْ کېدو) په وجه مَړْ وي، او هغه چي د زَخْمِيْ کېدو (وَهَلُوْ) په وجه مَړْ سوئ وي، او چي د لُوَړْ ځايَه ښخه رايله سوئ مَړْ وي، او هغه چي بَلْ حَيْوَانْ په ښکرْ وهلئ وي مَړْ کړئ يې وي، او هغه چي يو دَرِندي ځيني خوړلئ وي، مَاسِوَا دهغه چي تاسو (دهغه د مړ کېدو ښخه مخکي مخکي) هغه ذَبَحْ (حَلَالْ) کړئ وي، او هغه (حَيْوَانْ هم حَرَامْ دئ) چي د بُتَانُ د قُرْبَانِئْ پر ځائ يې ذَبَحْ کړئ وي .

۴: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْاَنْصَابُ وَالْاَ زْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْہُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ (آیَتْ ۹۰، سُوْرَۃُ الْمَائِدَۃْ ۵)
تَرْجَمَہْ:- ائ مُؤْمِنَانُ! شَرَابْ،خُمَارْ، د بُتَانُ تَانْ ( يعني هغه ځائ چي حَيْوَانَانْ خلک پر حَلَالَوِئْ / يا دغه ډېرِئْ) او د خُمَارْ غَشِيْ، دا ټول نَاپَاکْ شَيْطَانِيْ کارونه دي، لِهٰذَا ددي ښخه ځان ګورئ، چي تاسو فَلَاحْ وموندئ
په دغه آيَتُوْ کي دئ چي پر بُتَانُ يې ذَبَحْ کړئ وي نو هغه غُوَښَہْ حَرَامَ ده .

په دغه حَدِيْثْ کي هم دئ چي د اَللّٰہْ ښخه د عَلَاوَہْ لپاره يې ذَبَحْ کړئ وي نو هغه نَاجَائِزْ دئ، پر هغه باندي لَعْنَتْ دئ
۱: عَنْ عامِرَ بِن وَاثِلَۃَ قَالَ سَئَلَ رَجُلٌ عَلِيًّا هَلْ کَانَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) يَسِرُّ اِلَيْكَ بِشَيْءٍ دُوْنَ النَّاسِ؟ فَغَضِبَ عَلِيٌّ حَتّٰى اِحْمَرَّ وَجْهُهُ وَقَالَ مَاکَانَ يَسِرُّ اِلَيَّ شَيْئًا دُوْنَ النَّاسِ غَيْرَ اَنَّهُ حَدَّثَنِيْ بِاَرْبَعِ کَلِمَاتٍ وَ اَنَا وَ هُوَ فِي الْبَيْتِ فَقَالَ:- لَعَنَ اللهُ مَنْ لَعَنَ وَالِدَهُ، وَلَعَنَ اللهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللهِ، وَلَعَنَ اللهُ مَنْ اٰوٰى مُحْدِثًا، وَلَعَنَ اللهُ مَنْ غَيَّرَ مَنَارَ الْاَرْضِ .
(نَسَائِی شَرِيْفْ، کِتَابُ الضَّحَايَا، بَابُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللهِ عَزَّ وَ جَلَّ، ص: ۶۱۴، نَمْبَرْ ۴۴۲۷)
تَرْجَمَہْ:- يَوَہ سړي د حضرت عَلِيْ ښخه پُوْښْتَنَہْ وکړه چي حُضُوْرْ (ﷺ) د (نورو) خلکو په بېله وَ تَا ته کُومَه پَټَّہْ خَبَرَہْ کړې وه؟ د حضرت عَلِيْ مَخْ مُبَارَکْ د خَښَمْ ښخه سُرْ سو، او وويل چي د (نورو) خلکو په بېلَه يې وَ مَا ته کُومَه د رَازْ (پَټَّہْ) خَبَرَہْ نَه ده کړې، اَلْبَتَّہْ څُلُوَرْ خَبَرِيْ يې وَ مَا ته په کُوَرْ کي کړي دي، کُوم چَا چي پر وَالِدَيْنُ لَعَنَتْ وکئ اَللّٰہْ دي پر هغه لَعْنَتْ وکي، او کُوم چَا چي د اَللّٰہْ ښخه د عَلَاوَہْ لپاره ذَبَحْ وکړه اَللّٰہْ دي پر هغه لَعْنَتْ وکي، چي (په دِيْنْ کي) نَوَئ شَئ پَيدَا کوي هغه ته چي کُوم ښوک پَنَاہْ ورکي پر هغه دي اَللّٰہْ لَعْنَتْ وکي، چي د مځکي نِشَانْ بَدَلْ کي اَللّٰہْ دي پر هغه لَعْنَتْ وکي [مَا ته يې دغه څُلُوَرْ خَبَرِئْ په خُصُوْصِيْ تُوګه حُضُوْرْ (ﷺ) کړي دي]

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي څوک د اَللّٰهْ څخه د عَلَاوَهْ لپاره ذَبَحْ وکړي پر هغه دي لَعْنَتْ وي .

## [۳] ... دَرَيَمْ صُوْرَتْ دادئ چي د قَبْرْ سره يې ذَبَحْ کي

دَرَيَمْ صُوْرَتْ دادئ چي د اَللّٰهْ پر نُوْمْ يې ذَبَحْ کړي لېکن د قَبْرْ سره يې ذَبَحْ کړي نو دا هم مَکْرُوْهْ دئ .
دَلِيْلْ يې په دغه حَدِيْثْ کي دئ
**۲: عَنْ اَنَسٍ قَالَ:- قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) لَا عَقْرَ فِيْ الْاِسْلَامِ قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقُ:- كَانُوْا يَعْقِرُوْنَ عِنْدَ الْقَبْرِ يَعْنِيْ بَقَرَةً اَوْ بِشَيْءٍ .**
(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ كَرَاهِيَةِ الذَّبْحِ عِنْدَ الْقَبْرِ، ص: ۴۷۰، نَمْبَرْ ۳۲۲۲ / مُسْنَدِ اَحْمَدْ، مُسْنَدُ اَنَسِ بن مَالِكٍ، ج: ۴، ص: ۵۱، نَمْبَرْ ۱۲۶۲۰)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- په اِسْلَامْ کي عُقْرْ نَستَه .
عَبْدُ الرَّزَّاقْ وَ فَرْمَائِلْ چي:- د جَاهِلِيَّتْ په زَمَانَه کي خلګو د قَبْرُوْ سره غُوَا او دغه رنګه نُور (حَيْوَانَانْ) ذَبَحْ کول .
په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي په اِسْلَامْ کي عُقْرْ نَستَه، يعني د قَبْرْ سره ذَبَحْ کول جَوَازْ نَه لري .

## چي د قَبْرْ سره د ذَبَحْ کولو شَائِبَهْ هم وي نو هغه هم مَنْعَ دئ

چي د قَبْرْ سره يې ذَبَحْ کي نو خلګ په شِرْکْ کي مُبْتَلَاءْ نَه سي، نو ځکه يې ډُومرَه سَخت مَنْعَ کړې ده، لِهٰذَا چي پر قَبْرْ باندي د ذَبَحْ کولو شَائِبَهْ هم وي نو هغه مَنْعَ ده .
دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ
**۳: حَدَّثَنِيْ ثَابِتُ بن الضَّحَّاكَ قَالَ نَذَرَ رَجُلٌ عَلٰى عَهْدِ النَّبِيّ وَ اَنْ يَّنْحَرَ اِبِلًا بِبَوَانَةَ، فَقَالَ النَّبِيُّ (ﷺ) هَلْ كَانَ فِيْهَا وَثَنٌ مِنْ اَوْثَانِ الْجَاهِلِيَّةِ يُعْبَدُ؟ قَالُوْا لَا، قَالَ هَلْ كَانَ فِيْهَا عِيْدٌ مِنْ اَعْيَادِهِمْ؟ قَالُوْا لَا، قَالَ النَّبِيُّ (ﷺ) اُوْفِ بِنَذْرِكَ فَاِنَّهُ لَا وَفَاءَ لِنَذْرٍ فِيْ مَعْصِيَةِ اللهِ وَ لَا فِيْمَا لَايَمْلِكُ اِبْنُ اٰدَمَ .**
(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْاِيْمَانِ وَالنُّذُوْرِ، بَابُ مَايُؤْمَرُ بِهٖ مِنْ وَفَاءِ النَّذَرِ، ص: ۴۸۰، نَمْبَرْ ۳۳۱۳)

تَرْجَمَهْ:- يَوه سړي د حُضُوْرْ (ﷺ) په زَمَانَهْ كي په بَوانَهْ (مَقَامْ) كي د وُښْ د ذَبَحْ كولو نَذَرْ وَمَانَئ، حُضُوْرْ (ﷺ) پُوښْتَنَهْ وكړه چي په زَمَانَهْ جَاهِلِيَّتْ كي خو به هَلتَه بُتْ نَه وُو چي خلګو يې عِبَادَتْ كاوئ؟ خلګو وويل چي نَه وُو، بيا حُضُوْرْ (ﷺ) پُوښْتَنَهْ وكړه چي هَلتَه خو به يې عِيْدْ نَه جوړاوئ؟ خلګو وويل چي نَه جُوړَاوَئ، دهغه بَعْدْ حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي خپل نَذَرْ پُورَه كه، ځكه چي د اَللّٰهْ په نَافَرْمَانِئ كي نَذَرْ پُورَه كول صَحِيْحْ (لاَزِمْ) نَه دئ، او اِنْسَانْ چي د كُوم شِي مَالِكْ نَه وي په هغه كي نَذَرْ پُورَه كول صَحِيْحْ (لاَزِمْ) نَه دئ .

په دغه حَدِيْثْ كي دئ چي كه هَلتَه په جَاهِلِيَّتْ كي خلګو عِيْدْ هم جُوړَاوَئ نو بيا هم هَلتَه حَيْوَانْ مَه ذَبَحْ كوئ، ځكه چي په دغه رنګه په سَوكه سَوكه به بيا د بُتَانُ عِبَادَتْ او تَعْظِيْمْ شروع كي، او په سَوكه سَوكه به خلګ په شِرْكْ كي مُبْتَلاَءْ سي .

اُوس خو صُوْرَتِ حَالْ دادئ چي مَلَنْګْ د غُوَښُوْ د اَخَستَلُو لپاره او دهغه سره سره د رُوْپَيُوْ او تُحْفُوْ او هَدْيُوْ د اَخَستَلُو لپاره ددې پُوْرَهْ پُوْرَهْ تَرْغِيْبْ وَركوي، چي بَابَا صَاحِبْ به ستا هر مُرَادْ پُورَه كوي، نو ځكه هغه يې خَاصْ د قَبْرْ سره حَيْوَانْ په ذَبَحْ كوي، او په يَوه نَاجَائِزْ كَارْ كي د خلګو د مُبْتَلاَءْ كولو كُوښښ كوي، عَوَامْ بَايَدْ ددې څخه خپل ځَانُوْنَهْ وَسَاتِي .

## [۴] ... څُلُوْرَمْ صُوْرَتْ دادئ چي د اَللّٰهْ پر نُوْمْ يې ذَبَحْ كي، او د قَبْرْ څخه يې لِيري ذَبَحْ كي

څُلُوْرَمْ صُوْرَتْ دادئ چي د اَللّٰهْ پر نُوْمْ حَيْوَانْ ذَبَحْ كي او د قَبْرْ څخه يې لِيري ذَبَحْ كي، په دي كي د قَبْرْ وَالا د خُوْشْحَالْ كولو نِيَّتْ هم نَه وي، صِرف دا نِيَّتْ يې وي چي دغه غُوَښَهْ به په غَرِيْبَانُ خُوَرَوَم، نو ده خو د قَبْرْ سره نِژدې هم نَه دئ ذَبَحْ كړئ، او د ذَبَحْ كولو پر وَخْتْ يې صِرف د اَللّٰهْ نُوْمْ هم اَخستَئ دئ، نو ځكه دغه غُوَښَهْ حَلاَلَ ده، لېكن وَ مُرْدَهْ ته هغونه ثَوَابْ مِلاوېږي څومره غُوَښَهْ چي په مِسْكِيْنْ او غَرِيْبْ باندي وَخُوَرَوِي .

ددې اَصْلَ طَرِيْقَهْ داده چي د قَبْرْ څخه بِنَهْ لِيري حَيْوَانْ ذَبَحْ كي دهغه غُوَښَهْ په غَرِيْبَانُ او مِسْكِيْنَانُ كي تَقْسِيْمْ كي، يايې يَخَهْ كي په مِسْكِيْنَانْ او غَرِيْبَانُ يې وَخُوَرَوِي نو ددغه خُوَرَوُلُو ثَوَابْ وَ مُرْدَهْ ته رسيږي، دغه يَو صُوْرَتْ جَائِزْ دئ، په دي كي چي نُمُوْدْ او رِيَاءْ كَارِيْ څومره لږ وي هغونه به ثَوَابْ زِيَاتْ وي، چي نُمُوْدْ او رِيَاءْ كَارِيْ يې څومره ډېره وي هغونه به ثَوَابْ لَږ

وي، او كه چيري صِرف رِيَاءْ او نُمُوْدْ او شُهْرَتْ يې مَقْصَدْ وي نو هيڅ ثَوَابْ نَه وَرتَه مِلاوېږي .
لېكن نَنْ سَبَا دارنګه دئ چي د غَرِيْبْ پر ځائ يې مَالْدَارْ او رِشْتَهْ دَارْ ډېر خُورِي، يايې مُجَاوِرِيْنْ ډېر لُوټوِي، غَرِيْبْ ته خو ډېره لَږْ مِلاوېږي، عَوَمْ بَايَدْ ددغه څخه پَرْهيزْ وكي .
په دغه حَدِيْثْ كي دئ چي د خَيْرَاتْ كولو ثَوَابْ وَ مُرْدَهْ ته رسيږي

۴: أَنْبَأَنَا اِبْنُ عَبَّاسٍ اَنَّ سَعْدَ بن عِبَادَةَ تُوُفِّيَتْ اُمُّهُ وَ هُوَ غَائِبٌ عَنْهَا فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ اِنَّ اُمَّتِيْ تُوُفِّيَتْ وَ اَنَا غَائِبٌ عَنْهَا أَيَنْفَعُهَا شَيْءٌ اِنْ تَصَدَّقْتُ بِهِ عَنْهَا؟ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَاِنِّيْ اُشْهِدُكَ اَنَّ حَائِطِيْ الْمِخْرَافَ صَدَقَةٌ عَلَيْهَا .
(بُخَارِيْ شَرِيْفْ، بَابُ اِذَا قَالَ اَرْضِيْ او بُسْتَانِيْ صَدَقَةٌ لِلّٰهِ عَنْ اُمِّيْ، ص: ۴۵۶، / مُسْلِمْ شَرِيْفْ، بَابُ وُصُوْل ثَوَابِ الصَّدَقَاتِ اِلَي الْمَيِّتِ، ص: ۷۱۶، نَمْبَرْ ۱۶۳۰/ ۴۲۱۹)
تَرْجَمَهْ:- حضرت سَعْدْ بِنِ عِبَادَهْ وَ فَرْمَائِلْ چي:- زَهْ د كُوْرْ څخه غَائِبْ وَم چي زَمَا مُوْرْ وَفَاتْ سوه، بيايې پُوْښْتَنَهْ وكړه چي يَارَسُوْلَ اللهِ زَمَا مُوْرْ وَفَاتْ سوه، او زَهْ غَائِبْ وَم، اَيَا چي ددې لَطَرَفْ څخه صَدَقَهْ وكم نو وَ دې ته يې فَائِدَهْ رسيږي؟ حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- هُو! سَعْدْ وَ فَرْمَائِلْ چي زَهْ تَا ګَوَاهْ جوړوم چي زَمَا د مِخْرَافْ بَاغْ زَمَا د مُوْرْ لپاره صَدَقَهْ دئ .
په دغه حَدِيْثْ كي دئ چي د بَل چَا د خَيْرَاتْ ثَوَابْ وَ مُرْدَهْ ته رسيږي .
مُكمَّلْ تَفْصِيْلْ يې په اِيْصَالِ ثَوَابْ كي مُلَاحَظَهْ كئ .

# ۴۱: مَاتَمْ كول حَرَامْ دئ

ددغه عَقِيدې په اړه ۳ آيَتُوْنَهْ او ۵ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ كئ .

كه نَاڅَاپَهْ غَمْ راسي او وُښْكِيْ رَاوَوزِي نو په دي كي هيڅ حَرَجْ نَستَه .
لېكن په دي كي دُوې خَبَرِيْ دي، يَوَهْ خو دا چي پر دغه رنګه مُوْقَعْ باندي د خُولې څخه دارنګه خَبَرَهْ نَه رَاوَوزِي چي دهغه څخه بې صَبْرِيْ ښكاره كيږي، يا د اَللّٰهْ تَعَالٰي څخه شِكَايَتْ وي، يا چَيْ و رَيْ وَيْنَا وي .
او دُوَهَمَّهْ خَبَرَهْ داده چي نَه په دي كي شُوْرْ و غَوْغَا وي، او نَه كيږِي ځله څيري، وَ دغه ته وَاوېلَا (آهْ و فَرْيَادْ) وائي، دغه جَوَازْ نَه لري، او د ډېر

وَخْتْ وروسته بيا بَارْ بَارْ غَمْ په يَادَوَل، او خلکو ته وَيَل چي زَهْ ډېر غَمْ زَدَهْ يَم، او بيا سِيْنَهْ ټَکوَل، او شَوْرْ شَرَابَهْ کول هم جَوَازْ نَه لري .

## د مصِيْبَتْ پر وَخْتْ قُرْآنْ د صَبْرْ کولو دَرْسْ ورکوي

د اِسْلَامْ دغه تَعْلِيْمَاتْ نَه دي چي د مُصِيْبَتْ پر وَخْتْ شُوْرْ و غَوْغَا کوي، بلکه د اِسْلَامْ تَعْلِيْمْ دادئ که چيري مُصِيْبَتْ راسي نو پر هغه دي صَبْرْ وکي او د اَللّٰهْ څخه دي د عَافِيَّتْ سُوَالْ وکي .

دَلِيْلْ يې دغه آيَتُوْنَهْ دي

۱: يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ط اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ۝ وَ لَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ يُّقْتَلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتٌ ط بَلْ اَحْيَآءٌ وَّلٰكِنْ لَّاتَشْعُرُوْنَ۝ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوْعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْاَمْوَالِ وَالْاَنْفُسِ وَالثَّمَرٰتِ ط وَبَشِّرِالصّٰبِرِيْنَ۝ اَ لَّذِيْنَ اِذَ آ اَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ لا قَالُوْٓا اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ۝ اُولٰٓئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوٰتٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ وَ رَحْمَةٌ قف وَ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُوْنَ۝ (آيَتْ ۱۵۳/ ۱۵۷، سُوْرَۃُ الْبَقَرَۃْ ۲)

تَرْجَمَهْ:- ائ مُؤْمِنَانُوْ! په صَبْرْ کولو او لُمُوْنْځْ کولو سره مَدَدْ وغواړئ، بېشکه اَللّٰهْ تَعَالٰى د صَبْرْ کونکو اِنْسَانَانُ سره (مَلْ/مَلګرئ/مَدَدْکونکئ) دئ۝ او کُوم خلک چي د اَللّٰهْ تَعَالٰى په لاَرَهْ کي وَوژَلْ (قَتْلْ) سي هغوي تـه مَـرَهْ مَـه واياست، پـه اَصَـلْ کـي هغـه ژُوَنْدِيْ دي، مګر تاسو ته (دهغوي د ژُوَنْدْ) اِحْسَاسْ نسته۝ او موږ به خامخا په تاسو اِمْتِحَانْ وکُو، (کله د دُښْمَنْ يا د اَللّٰهْ ) په ډېره سره، او (کله) په لُوږَهْ (يعني قَحْطْ سَالَئ يا رُوْژَهْ) او (کله) د مَالْ و نَفْسْ (يعني خلکو) او مېـوُوْ (يعنـي اَوْلَادْ چـي د زړَهْ مېـوَهْ ده) په کمبُوت سره، او کُوم خلک چي په داسي حَالَتْ کي د صَبْرْ څخه کار اَخلِي هغوي ته زېرئ ورکړه۝ دا هغه خلک دي چي ذُوي ته يو مُصِيْبَتْ ورسېږي (کـه څـه هـم د چَوَتِي ټَنَئ وَشليږي يا څِرَاغْ مړ سي) نـو ذُوي وائـي چـي موږ ټـول د اَللّٰهْ تَعَالٰى (پـه مِلْکِيَّتْ کي) يُو، او موږ به بېرته د اَللّٰهْ تَعَالٰى و حُضُور ته حَاضِرېږو ۝ دا هغه خلک دي چي د اَللّٰهْ لطرف څخه پر ذُوي خَـاصْ عِنَايَتُوْنَـهْ دي، او عَـامْ رَحْمَـتْ دئ، او دغـه خلک دي چي پر هِدَايَتْ دي۝

په دغه آيَتْ کي درې وَارَهْ د صَبْرْ کولو تَاکِيْدْ کړئ دئ، او دا يې هم فَرْمَائِلِيْ دي چي څوک صَبْرْ کوي پر هغه باندي صَلَوَاتْ او رَحْمَتُوْنَهْ نَازِلېږي، او هغه په اَصَلْ کي هِدَايَتْ يَافْتَهْ دي .

۲: وَ اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ط وَ اِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِيْنَ۝ لا (آيَتْ ۴۵، سُوْرَۃُ الْبَقَرَۃْ ۲)

تَرْجَمَهْ:- او په صَبْرْ او لُمُوْنْځْ سره مَدَدْ (مرسته) حَاصِلْ کئ، او دغه لُمُوْنْځْ (يا دغه صَبْرْ) ډېر دُرُوْنْدْ (گرَانْ کار) دئ مگر هغه خلگو ته نَه چي په خُشُوْعْ (عَاجِزِيْ) سره لُمُوْنْځْ کوي

٣: يَآاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اصْبِرُوْا وَصَابِرُوْا وَ رَابِطُوْاقف وَاتَّقُوا اللهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ

(آيَتْ ٢٠٠، سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانْ ٣)

تَرْجَمَهْ:- ائ مُؤْمِنَانُ! صَبْرْ اِخْتِيَارْ کئ، د مُقَابَلې په وخت کي ثَابِتْ قَدْمِيْ ښکاره کئ، او د سَرْحَدَاتُ د حِفَاظَتْ لپاره ټينگ پر خپل ځائ وسېږئ، او د اَللّٰهْ څخه ىېرېږئ، چي تاسو ته کامْيَابِيْ ملاؤ سي

په دغه درو سره آيَتُوْ کي په څو څو کرَتّه د صَبْرْ تَلْقِيْنْ کړئ دئ، نو ځکه آهْ و فَرْيَادْ کول، او شُوْرْ و غَوْغَا کول بِالْكُلْ صَحِيْحْ کار نَه دئ .

## د رِشْتَهْ دَارْ د ژَړَا لکبله وَ مړي ته عَذَابْ وَرکوَل کيږي

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي د رِشْتَهْ دَارْ د ژَړَا لکبله و مُرْدَهْ ته عَذَابْ وَرکوَل کيږي، نو ځکه بِلَاوَجْهْ هسي شُوْرْ او آهْ و فَرْيَادْ کول په کار نَه دئ دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

١: فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بنِ عُمَرَ لِعُمَرَ بن عُثْمَانَ اَ لَا تَنْتَهِيْ عَنِ الْبُكَاءِ فَاِنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) قَالَ اِنَّ الْمَيّتَ لَيُعَذّبُ بِبُكَاءِ اَهْلِه .

(بُخَارِئ شَرِيْفْ، بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ (ﷺ) يُعَذَّبُ الْمَيّتُ بِبَعْضِ بُكَاءِ اَهْلِه عَلَيْهِ اِذَا كَانَ النَّوْحُ مِنْ سُنَّتِه ،ص: ٢٠٦، نَمْبَرْ ١٢٨٦)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَبْدُ اللهْ بن عُمَرْ و عُمَرْ بن عُثْمَانْ ته وويل چي تَه د ژَړَا څخه نَه مَنْعَ کيږې؟ ځکه چي حُضُوْرْ (ﷺ) فَرْمَائِلِيْ دي چي:- د کُوْرْ (اِنْسَانَانْ يې) ژَاړِئ نو د دُوي د ژَړَا لکبله وَ مُرْدَهْ ته عَذَابْ وَرکوَل کيږي .

په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي د کُوْرَنِيَانُ د ژَړَا لکبله وَ مُرْدَهْ ته عَذَابْ وَرکوَل کيږي، لېکن ددې بَاوُجُوْدَ نَه پُوهېږم چي خلگ هر کال وَلِي خپل ځِگْرُوْنَهْ او سِينِي ټکوِي؟ او د مُرْدَهْ په عَذَابْ کي اِضَافَهْ کوي .

## آهْ و فَرْيَادْ کول مَنْعَ دئ

يَو دا چي په خپله او بې اِخْتِيَارْ وُښْکِي رَاوَبَيږي دا خو جَائِزْ دئ، ځکه چي په دي کي اِنْسَانْ مَجْبُوْرَ دئ، او بَل دا چي خَامَخَا بِلَاوَجَهْ شُوْرْ و غَوْغَا

کوي، آهْ و فَرْيَادْ کوي، او خپله غَارَهْ ځله څيري دغه نَاجَائِزْ دئ، په دغه حَدِيْثُو کې د آهْ و فَرْيَادْ کولو څخه مَنْعَ کړې ده
دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

۲: عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ (ﷺ) لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَطَمَ الْخُدُوْدَ وَشَقَّ الْجُيُوْبَ وَ دَعَا بِدَعْوَ الْجَاهِلِيَّةِ .

(بُخَارِیْ شَرِيْفْ، بَابُ لَيْسَ مِنَّا مَنْ شَقَّ الْجُيُوْبَ، ص: ۲۰۷، نَمْبَرْ ۱۲۹۴ / مُسْلِمْ شَرِيْفْ، بَابُ مَنْ ضَرَبَ الْخُدُوْدَ وَشَقَّ الْجُيُوْبَ وَ دَعَا بِدَعْوٰى الْجَاهِلِيَّةِ، ص: ۵۸، نَمْبَرْ ۱۰۳ / ۲۸۵)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- مَخ په چَپَلَاخَهْ وَوَهِيْ، او لَمَنْ (گريوانْ/ کَيرِیْ) څيري کړي، او د جَاهِلِيَّتْ په زَمَانَهْ کي چي کُوم بَکْوَاسُوْنَهْ (نَاپِرِيتِيْ) کېدل، هغه رنګه بَکْوَاسْ وکي، نو هغه زَمَا څخه نَه دئ، [يعني دغه کارُوْنَهْ د مُسَلْمَانَانُوْ نَه دي] .

۳: قَالَ وَجِعَ اَبُوْمُوْسٰى ..... قَالَ اِنِّیْ بَرِیْءٌ مِّمَّنْ بَرِیَ مِنْهُ مُحَمَّدٌ (ﷺ) اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) بَرِیَ مِنَ الصَّالِقَةِ، وَ الْحَالِقَةِ، وَالشَّاقَّةِ .

(بُخَارِیْ شَرِيْفْ، بَابُ مَا يُنْهٰى مِنَ الْحَلْقِ عِنْدَ الْمُصِيْبَةِ، ص: ۲۰۷، نَمْبَرْ ۱۲۹۶ / مُسْلِمْ شَرِيْفْ، بَابُ مَنْ ضَرَبَ الْخُدُوْدَ وَشَقَّ الْجُيُوْبَ وَ دَعَا بِدَعْوٰى الْجَاهِلِيَّةِ، ص: ۵۸، نَمْبَرْ ۱۰۳ / ۲۸۸)

تَرْجَمَهْ:- حضرت اَبُوْمُوْسٰى وَ فَرْمَائِلْ ..... د کُوم ځَا څخه چي مُحَمَّدْ (ﷺ) بَرِیْ دئ زَهْ هم دهغه څخه بَرِیْ يَم، رَسُوْلُ اللهْ (ﷺ) دهغه ښځي څخه چي آهْ و فَرْيَادْ (چِيغَیْ ګَکارِیْ) وَهِیْ، ببېښتَانْ کارِي، او کپړې څيري کي دهغې څخه بَرِیْ دئ .

## چي په خپله هسي وُبنْکِیْ وَبَبِيرِي نو دا مَعَافْ دي

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ

۴: قَالَ اَنَسُ لَقَدْ رَأَيْتُهُ يَكِيْدُ بِنَفْسِهِ بَيْنَ يَدَیْ رَسُوْلِ اللهِ (ﷺ) فَدَمَعَتْ عَيْنَا رَسُوْلِ اللهِ (ﷺ) فَقَالَ تَدْمَعُ الْعَيْنُ وَيَحْزُنُ الْقَلْبُ، وَلَانَقُوْلُ اِلَّا مَايَرْضٰى رَبُّنَا، اَنَا بِكَ يَا اِبْرَاهِيْمُ لَمَحْزُوْنُوْنَ .

(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ الْبُكَاءِ عَلَى الْمَيِّتِ، ص: ۴۵۸، نَمْبَرْ ۳۱۲۶)

تَرْجَمَهْ:- حضرت اَنَسْ فَرْمَائي چي مَا حضرت اِبْرَاهِيْمْ وَلِيدَئ چي د حُضُوْرْ (ﷺ) په غېږ کې خپل ځان وَ اَللهْ ته سُپُرْدْ کاوئ، نو د حُضُوْرْ (ﷺ) په سترګو کي وُښْکِیْ راغلې،[يَوه کس يُوښْتَنَهْ ځِينې وکړه چي حُضُوْرْ ته هم ژَاړې؟] نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ

فَرْمَائِلْ چي:- سترْګِيْ وُښْکِيْ تُويَوِي، زَړَهْ غَمْزَدَهْ دئ، لېکن په کُوم څَه چي زَمَا رَبْ رَاضِيْ وي زَهْ هغه وَايَم، ائ اِبْرَاهِيْمَ ﷺ زَهْ ستاپه وَجْهَ غَمْګِيْنْ يَم .
په دغه حَدِيْثْ کي دئ چي په خپله وُښْکِيْ رَا وَوزِي نو هغه مَعَافْ دي .

**۵: حَدَّثَنِيْ اُسَامَةُ بن زَيْدٍ ..... فَرُفِعَ اِلٰى رَسُوْلِ اللهِ الصَّبِيُّ وَ نَفْسُهُ تَتَقَعْقَعُ قَالَ حَسِبْتُ اَنَّهُ قَالَ كَاَنَّهَا شَنٌّ فَاضَتْ عَيْنَاهُ فَقَالَ سَعْدُ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا هٰذَا؟ فَقَالَ هٰذِه رَحْمَةٌ جَعَلَهَا اللهُ فِيْ قُلُوْبِ عِبَادِه وَ اِنَّمَا يَرْحَمُ اللهُ مِنْ عِبَادِهِ الرُّحَمَاءُ .**
(بُخَارِيْ شَرِيفْ، بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ (ﷺ) يَعَذَّبُ الْمَيِّتُ بِبَعْضِ بُكَاءِ اَهْلِه عَلَيْهِ، ص: ۲۰۵، نَمْبَرْ ۱۲۸۴)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) ته يې يَو اِنْجلَيْ رَاوْړَله، هغې آخِرِيْ سَا اَخستَلَه، رَاوِيْ وائي چي زَمَا دا ګُمَانْ دئ چي هغه د زَاړَهْ مُشْکْ (چَاګلَه/ ګودِي) په شَانْ وه، د حُضُوْرْ (ﷺ) سترګي (په وُښْکُوْ) وَبَيَدَلي، حضرت سَعْدْ پُوْښْتَنَهْ وکړه چي يَارَسُوْلَ اللهْ دغه څَشئ دئ؟ حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- دغه رَحْمَتْ دئ، اَللهْ تَعَالٰي د خپل بَنْدَهْ په زَړَهْ کي دغه اِيښَئ دئ، کُوم خلګ چي رَحْمْ کونکي دي اَللهْ تَعَالٰي پر دغه رنګه بَنْدَهْ ګانُوْ باندي رَحْمْ کوي .
ددغه حَدِيْثْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي د سَخْتْ غَمْ لکبله چي بې اِخْتِيَارَ وُښْکِيْ رَاوَوزِي، او د ژَبِيْ څخه غَلَطَّهْ مَلَطَّهْ جُمْلَهْ نَه رَاووزِي نو په دي کي هيڅ حَرَجْ نَستَه .

# ۴۲: اِيْصَالِ ثَوَابْ يَو مُسْتَحَبْ کار دئ

چي هسي کُوم ښَهْ کَارْ وکي او دهغه ثَوَابْ وَ مُرْدَهْ ته وَ بَخښِي نو وَ دغه عَمَلْ ته اِيْصَالِ ثَوَابْ وائي .

ددغه عَقِيدي په اړه ۱۱ آيَتُوْنَهْ او ۱۴ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کئ .

اِيْصَالِ ثَوَابْ يَو مُسْتَحَبْ کَارْ دئ که زَړَهْ وَ غُوَاړي نو کولائي سي، او که زَړَهْ نَه غُوَاړي نو هيڅ ګُنَاهْ نَه لري .

## په اِيْصَالِ ثَوَابْ کي دغه پِنْځَهْ خَبَرِيْ ضروري دي

[١] ... په دي کي به رِيَا او نُمُوْدْ نَه وي، که چيري ددي لپاره وکي چي خلګ يې وَوينِي نو دغه خو يې د ثَوَابْ لپاره نَه دئ کړئ نو ځکه ثَوَابْ نَه مِلاوئيږي، او چي دغه کار کونکي ته ثَوَابْ نَه مِلاوئيږي نو وَ مُرْدَهْ ته به څَه ثَوَابْ وَرَسوِي؟ بلکه بِهْتَرْ دادئ چي په ښِيْ لَاسْ يې وَرکي نو کِڼْ لَاسْ هم په خَبَرْ نَه سي، په دُومرَه پَټَّه دې وکي .

[٢] ... د رَسْمْ و رِوَاجْ پَابَنْدِيْ نَه وي پکښې، دا سي چي دغه کَارْ خو ټولَ خلګ کوي، يَو عَادَتْ ګرزيدَلئ دئ لِهٰذَا زَهْ يې هم کوم .

[٣] ... که مَالِيْ صَدَقَهْ کوي نو وَ غَرِيْبَانُ ته دې وَرکي، ځکه چي د هغوي حَقْ دئ، او چي هغوي ته وَرکې نو ثَوَابْ يې هم ډېر دئ .

[۴] ... په دي کي بَايَدْ فُضُوْلْ خَرْچِيْ نَه وي .

[٥] ... د اِيْصَالِ ثَوَابْ لپاره خلګ رَابَلَل او رَشْ کَشْ جوړول هم صَحِيْحْ کَارْ نَه دئ .

ځکه چي دګوم ځَا په کُوْرْ کي مَړَئ سوئ وي دهغه لپاره اِعْلَانْ کول، او خلګ جَمَعْ کول يې هم په حَدِيْثْ کي ښَهْ نَه دئ ګڼلئ، نو د اِيْصَالِ ثَوَابْ لپاره خلګ جَمَعْ کول، د نَاچْ او ګَانُوْ په شَانْ رَشْ کَشْ او طَرْزْ خپلول او هغه ټولَ خُرَافَاتْ کول کُوم چي هِنْدُوَانْ يې کوي هغه به نو څَکه جَائِزْ وي؟

دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثْ دئ

١ : عَنْ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ (ﷺ) قَالَ اِيَّاکُمْ وَالنَّعْيِ فَاِنَّ النَّعْيَ مِنْ عَمَلِ الْجَاهِلِيَّةِ، قَالَ عَبْدُ اللهِ وَالنَّعْيُ اَذَانٌ بِالْمَيِّتِ .

(تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ، کِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ مَاجَاءَ فِيْ کَرَاهِيَةِ النَّعْيِ، ص: ٢٣٩، نَمْبَرْ ٩٨۴/ اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ، کِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ مَاجَاءَ فِى النَّهْيِ عَنِ النَّعْيِ، ص: ٢١١، نَمْبَرْ ١۴٧٦)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- په خلګو کي د مَرګ د اِعْلَانْ څخه ځان ګُورَئ، ځکه چي دغه د جَاهِلِيَّتْ عَمَلْ دئ، حضرت عَبْدُ اللهْ وَ فَرْمَائِلْ چي د نَعْيِ مَعْنٰی ده په خلګو کي د مَرْګْ اِعْلَانْ کول .

په دغه حَدِيْثْ کې په اِهْتِمَامْ سره په خلګو کي د يَو ځَا د مَرْګْ د اِعْلَانْ کولو څخه مَنْعَ کړې ده. اَلْبَتَّهْ که لَږْ و ډېر د جَنَازَى اِطِّلَاعْ او خَبَرْ ورکي نو ددې ګُنْجَائِشْ سته، لېکن رَشْ کَشْ جوړول ښَهْ کَارْ نَه دئ .

دا د **غَمْ مُوْقَعْ** ده، دغه يې **آخِرِيْ دِيْدَنْ** دئ، او پر دغه باندي د **جَنَازِي لُمُوْنَځْ** هم اداء كول دئ، لېكن ددې سره سره د **رَشْ كَشْ** جوړولو څخه **شَرِيْعَتْ مَنْعْ** كړي ده، نو د **اِيْصَالِ ثَوَابْ** په **شَاَنْ مُوْقَعْ** چي **شَرِيْعَتْ** وائي په **يَتَّهْ** يې كوئ پر هغه **مُوْقَعْ** نو دغه ډُومرَه د **دُنْيَا اِنْسَانَانْ** سره رَا **جَمَعْ** كول به څنګه **جَائِزْ** وي؟ **اَلْبَتَّهْ** كه د **خُرَافَاتُ بِغَيْرَهْ** خلګ سره **جَمَعْ** سول څَه **قُرْآنْ وَغَيْرَهْ** ووائي او وَ **مُرْدَهْ** ته يې وَبَخښي نو **عُلَمَاءُ** ددې **گُنْجَائِشْ** وَركړئ دئ .

## د مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ زِيَاتُوْبْ

لېكن په **مَوْجُوْدَهْ وَخْتْ** كي دغه **عَالَمْ** دئ چي په يَو **مُسْتَحَبْ كَارْ** كي ډېر **اِفْرَاطْ** شروع دئ .

د يَوه سړي **يَلَارْ وَفَاتْ** سو، په هغه كي تر **څَلوېښتُوْ وُرَځُوْ** پُورِي خلګ **رَارَوَانْ** وُو، او په هغه كي يې ددغه **كُوْرْ** والا **څَلوېښتْ زَرَهْ يُوْنْډَ** وَر **مَصْرَفْ** كړل، او هغه **كَسْ** يې **مُفْلِسْ (خَالِيْ لَاسْ)** كښېنَاوَئ، آيَا په **مُسْتَحَبْ كَارْ** كي دغه رنګه **زِيَاتُوْبْ** كول **جَائِزْ** دئ؟

**زَمَا** په **كلِيْ** كي ډېر **كسَانْ وَفَاتْ** سوي دي، دهغوي د **وَارِثَانُوْ** سره د **كَفَنْ** پَيسي هم نَه وې، لېكن خلګو وَ دې ته **مَجْبُوْرَ** كړل چي په **سُوْدْ** باندي **قَرْضْ** وَاخلَه، او هغه د **هِنْدُوْ** څخه درې **زَرَهْ** رُوپَۍ په **قَرْضْ** وَاخستې او په خلګو يې ډُوډَئ وَخُوَرَوَل .

پر دغه رنګه **مُوْقَعْ** نو **رِشْتَهْ دَارَانْ** په سړي پَسې سي، او بعض **ذَهِيْنْ** خلګ هم وَر سره **تَېْ** سي، او د **اِيْصَالِ ثَوَابْ** پر **نُوْمْ** يې ډُومرَه **تَنْګ** كړي چي د **غَرِيْبْ** سړي **چَمْرَهْ** وَر وَاړَوِي، **فَيَا لَلْاَسَفْ** !

## د اِيْصَالِ ثَوَابْ درې صُوْرَتُوْنَهْ دي

[۱] ... **مَالِيْ صَدَقَهْ** كول او **ثَوَابْ** يې بَخښَل .

**مَثَلًا مَالِيْ خَيْرَاتْ** كول او **ثَوَابْ** يې وَ بَل چَا ته بَخښَل .

**ډُوْډَئ** خُوَرَوَل او **ثَوَابْ** يې وَ بَل چَا ته بَخښَل .

و **غَرِيْبَانُوْ** ته **حَيْوَانْ** يعني **يُسَهْ**، **غُوَيَئ**، **وُښْ صَدَقَهْ** كول او **ثَوَابْ** يې بَخښَل .

**قُرْبَانِيْ** كول او **ثَوَابْ** يې وَ يَو چَا ته وَر بَخښَل .

[۲] ... بَدَنِیْ اَعْمَالْ کول او ثَوَابْ يې بَل چا ته رَسَوَل .
مَثَلًا حَجْ کول او دهغه ثَوَابْ وَ مُرْدَهْ ته بَخښنَل .
رُوْژَهْ نِيْوَلْ او دهغه ثَوَابْ وَ مُرْدَهْ ته بَخښنَل .
لَمُوْنْځْ کول او ثَوَابْ يې وَ مُرْدَهْ ته بَخښنَل .

[۳] ... ځَهْ وَيَل (لُوستَل) او ثَوَابْ يې بَل چا ته رَسَوَل .
مَثَلًا د حُضُوْرْ (ﷺ) لپاره دُرُوْدْ شَرِيْفْ وَيَل .
قُرْآنْ وَيَل او دهغه ثَوَابْ وَ مُرْدَهْ ته بَخښنَل .
دُعَاءْ کول او وَ مُرْدَهْ ته يې ثَوَابْ بَخښنَل .

## [۱] ... مَالِیْ صَدَقَهْ کول او ثَوَابْ يې بَخښنَل .

ددې لپاره دَلِيْلْ د عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةْ دغه عِبَارَتْ دئ
**وَفِیْ دُعَاءِ الْاَحْيَاءِ وَصَدَقَاتِهِمْ مَنْفَعَةٌ لِلْاَمْوَاتِ .**
(عَقِيْدَةُ الطَّحَاوِيَّةْ ،عَقِيْدَةْ نَمْبَرْ ۸۹ ،ص: ۱۹)
تَرْجَمَهْ:- دا چې ژُوَنْدَئ اِنْسَانْ د مُرْدَهْ ګانُوْ لپاره دُعَاءْ وکي، يا هغه صَدَقَهْ وکي ددې ځخه وَ مُرْدَهْ ګانُوْ ته فَائِدَهْ رسېږي .
**وَ مِنْهَا:- اَنَّ دُعَاءَ الْاَحْيَاءِ لِلْاَمْوَاتِ وَ صَدَقَتِهِمْ عَنْهُمْ نَفْعٌ لَّهُمْ فِیْ عُلُوِّ الْحَالَاتِ .**
(شَرْحُ فِقْهِ الْاَ كْبَرْ، مَسْئَلَةٌ فِیْ اَنَّ الدُّعَاءَ لِلْمَيِّتِ يَنْفَعُ خِلَافًا لِلْمُعْتَزِلَةِ، ص: ۲۲۴)
تَرْجَمَهْ:- يَوه فَائِدَهْ دا هم ده چې ژُوَنْدِيْ خلک د مُرْدَهْ ګانُوْ لپاره دُعَاءْ وکي، يا دهغوي لَځْوَا صَدَقَهْ وکي نو د حَالَاتْ په بُلَنْدِیْ کې هغه ته نَفَعْ ورکوي .
په دغه عِبَارَتْ کې دئ چې وَ مُرْدَهْ ته د مَالِیْ صَدَقَاتْ نَفْعَ رسېږي .

حَدِيْثُوْنَهْ دغه دي
**۲ : أَنْبَأَنَا اِبْنُ عَبَّاسٍ اَنَّ سَعْدَ بن عِبَادَةَ تُوُفِّيَتْ اُمُّهُ وَ هُوَ غَائِبٌ عَنْهَا فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ اِنَّ اُمِّیْ تُوُفِّيَتْ وَ اَنَا غَائِبٌ عَنْهَا أَيَنْفَعُهَا شَیْءٌ اِنْ تَصَدَّقْتُ بِهِ عَنْهَا؟ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَاِنِّیْ اُشْهِدُكَ اَنَّ حَائِطِیْ الْمِخْرَافَ صَدَقَةٌ عَلَيْهَا .**
(بُخَارِیْ شَرِيْفْ، بَابُ اِذَا قَالَ اَرْضِیْ او بُسْتَانِیْ صَدَقَةٌ لِلّٰهِ عَنْ اُمِّیْ، ص: ۴۵۶، / مُسْلِمْ شَرِيْفْ، بَابُ وُصُوْلُ ثَوَابِ الصَّدَقَاتِ اِلَی الْمَيِّتِ، ص: ۷۱۶، نَمْبَرْ ۱۶۳۰/ ۴۲۱۹)

تَرْجَمَهْ:- حضرت سَعْدْ بِنِ عِبَادَهْ وَ فَرْمَائِلْ چي:- زَهْ د كُوْرْ څخه غَائِبْ وَم چي زَمَا مُوْرْ وَفَاتْ سوه، بيايي يُوْښْتَنَهْ وكړه چي يَارَسُوْلَ اللهِ زَمَا مُوْرْ وَفَاتْ سوه، او زَهْ غَائِبْ وَم، اَيَا چي ددې لَطَرَفْ څخه صَدَقَهْ وكم نو وَ دې ته يې فَائِدَهْ رسيږي؟ حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- هُو! سَعْدْ وَ فَرْمَائِلْ چي زَهْ تَا ګوَاهْ جوړوم چي زَمَا د مِخْرَافْ بَاغْ زَمَا د مُوْرْ لپاره صَدَقَهْ دئ .

۳: عَنْ سَعْدِ بن عِبَادَةَ اَنَّهُ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ اِنَّ اُمَّ سَعْدٍ مَاتَتْ فَاَىُّ الصَّدَقَةِ اَفْضَلُ؟ قَالَ اَلْمَاءُ قَالَ فَحَفَرَ بِئْرًا وَقَالَ هٰذِه لِاُمِّ سَعْدٍ .
(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الزَّكوٰةْ، بَابُ فِىْ فَضْلِ سَقْىِ الْمَاءِ، ص: ۲۴۹، نَمْبَرْ ۱۶۸۱)
تَرْجَمَهْ:- حضرت سَعْدْ وَ فَرْمَائِلْ چي:- يَارَسُوْلَ اللهْ (ﷺ) زَمَا مُوْرْ وَفَاتْ سوه نو كُومَه صَدَقَهْ كول اَفْضَلْ ده؟ حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ، اُوْبَهْ، رَاوِيْ وائي چي حضرت سَعْدْ يَو څَاهْ وَكښئ، بيايي دا وويل چي:- دغه د سَعْدْ د مُوْرْ لپاره صَدَقَهْ دئ .
په دغه حَدِيْثُوْ كي دئ چي بَل څوک صَدَقَهْ وكي نو دهغه ثَوَابْ وَ مُرْدَهْ ته رسيږي .

۴: عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ رَجُلًا اَتَى النَّبِىَّ (ﷺ) فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ! اِنَّ اُمِّىْ اُفْتُلِتَتْ نَفْسُهَا وَلَمْ تُوْصِ، وَ اَظُنُّهَا لَوْ تَكَلَّمَتْ تَصَدَّقَتْ، اَفَلَهَا اَجْرٌ اِنْ تَصَدَّقْتُ عَنْهَا؟ قَالَ نَعَمْ .
(مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الزَّكوٰةْ، بَابُ وُصُوْلِ ثَوَابِ الصَّدَقَةِ عَنِ الْمَيِّتِ اِلَيْهِ، ص: ۴۰۶، نَمْبَرْ ۱۰۰۴/ ۲۳۲۶)
تَرْجَمَهْ:- حضرت عَائِشَهْ فَرْمَائِيْ چي:- يَو سړئ حُضُوْرْ (ﷺ) ته راغلئ، او وويل يَا رَسُوْلَ اللهْ زَمَا مُوْرْ اَچَانَک وَفَاتْ سوه، او وَصِيَّتْ يې وَنَه كئ، او زَمَا دا خِيَالْ دئ كه چيري دې خَبَرَهْ كړې وائ نو صَدَقَهْ به ضرور كړې واى، كه چيري زَهْ ددې لَطَرَفْ څخه صَدَقَهْ وكم نو هغې ته به اَجْرْ مِلاؤ سي؟ حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ! هُو (مِلاوېږي) .

۵: عَنْ جَابِرَ بن عَبْدِ اللهِ ..... نَزَلَ مِنْ مَنْبَرِه وَ اُتِىَ بِكَبْشٍ فَذَبَحَهُ رَسُوْلُ اللهِ بِيَدِه وَ قَالَ بِسْمِ اللهِ وَ اللهُ اَكْبَرُ هٰذَا عَنِّىْ وَ عَنْ لَّمْ يُّضَحِّ مِنْ اُمَّتِىْ .
(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الضَّحَايَا، بَابُ فِى الشَّاةِ يُضَحِّىْ بِهَا عَنْ جَمَاعَةٍ، ص: ۴۰۹، نَمْبَرْ ۲۸۱۰)
تَرْجَمَهْ:- د حضرت جَابِرْ بِنِ عَبْدِ اللهْ څخه رِوَايَتْ دئ ..... چي:- حُضُوْرْ (ﷺ) د مَنْبَرْ څخه كښتّه رَاښوَهْ سو، دده وَ مَخْتَهْ يې يَو وُزْګرَيْ رَاوستئ، او حُضُوْرْ (ﷺ) په خپل لَاسْ هغه ذَبَحْ كئ، او وَ فَرْمَائِلْ:- بِسْمِ اللهِ وَ اللهُ اَكْبَرُ، دغه زَمَا لَطَرَفْ څخه دئ، او زَمَا په اُمَّتْ كي چي كُوم چا قُرْبَانِيْ نَه ده كړې دهغوي لَطَرَفْ څخه دئ .

۶: قَالَ رَأَيْتُ عَلِيًّا ﷺ يُضَحِّىْ بِكَبْشَيْن فَقُلْتُ لَهُ مَا هٰذَا؟ فَقَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) اَوْصَانِىْ اَنْ اُضَحِّىَ عَنْهُ فَاَنَا اُضَحِّىْ عَنْهُ .
(اَبُوْدَاؤُدْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الضَّحَايَا، بَابُ الْاُضْحِيَةِ عَنِ الْمَيّتِ، ص: ۴۰۷، نَمْبَرْ ۲۷۹۰)
تَرْجَمَهْ:- رَاوِىْ وائي چي مَا حضرت عَلِىْ وَلِيدَئ چي ده وُزْگرِئ ذَبَحْ كاوَئ، مَا يُوْبِنْتَنَهْ ځِينِي وكړه دغه څشئ دئ؟ نو ده وَ فَرْمَائِلْ چي:- مَا ته حُضُوْرْ (ﷺ) وَصِيَّتْ كړئ دئ چي زَهْ د حُضُوْرْ ﷺ لَطَرَفْ څخه قُرْبَانِىْ وكم، نو زَهْ دغه دده لَطَرَفْ څخه قُرْبَانِىْ كومّه .

ددغه ۶ حَدِيْثُوْ څخه ثَابِتْ سو چي مَالِىْ صَدَقَهْ وكي نو دهغه ثَوَابْ وَ مُرْدَهْ ته رسيږي .
اَلْبَتَّهْ په دي كي دي شُهْرَتْ، رِيَاءْ كَارِىْ، نُوْمْ، او د نورو د تنگوُلُو كُوښښ نـه وي، او نَـه دي د رَسْمْ و رَوَاجْ پَابَنْدِىْ وي، او نَـه دي پـه هغـه كـي فُضُوْلْ خَرْچِىْ يعني اِسْرَافْ وي .
دغه كَارْ كله نَا كله يو وَخْتْ وكي، او دهغه ثَوَابْ وَ مُرْدَهْ تـه وَبخښـي، ځكـه چي دغه كَارْ صِرف مُسْتَحَبْ كَارْ دئ .

## [۲] ... بَدَنِىْ اَعْمَالْ كول او ثَوَابْ يي بَل چَا ته رَسَوَل .

ددي دَلِيْلْ دغه حَدِيْثْ دئ
۷: عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ اِلَى النَّبِىِّ (ﷺ) فَقَالَ أَحُجُّ عَنْ اَبِىْ قَالَ نَعَمْ حَجِّ عَنْ اَبِيْكَ . (اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْمَنَاسِكْ، بَابُ الْحَجِّ عَنِ الْمَيّتِ، ص: ۴۲۰، نَمْبَرْ ۲۹۰۴)
تَرْجَمَهْ:- يَو سړئ حُضُوْرْ (ﷺ) ته راغلئ، او يُوْبِنْتَنَهْ يي وَكړه چي زَهْ د خپل پَلَارْ لَطَرَفْ څخه حَجْ وكم؟ حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- هُوْ! د خپل پَلَارْ لَطَرَفْ څخـه حَجْ وكه .

۸: عَنْ اَبِى الْغَوْثِ بن حُصَيْنٍ، رَجُلٌ مِّنَ الْفُرُوْعِ، اِنَّـهُ اِسْتَفْتَى النَّبِىَّ (ﷺ) عَنْ حَجَّةٍ كَانَتْ عَلٰى اَبِيْهِ مَاتَ وَلَمْ يَحُجَّ، قَالَ النَّبِىُّ (ﷺ) حَجِّ عَنْ اَبِيْكَ، وَقَـالَ النَّبِىُّ كَذَالِكَ الصِّيَامُ فِى النَّذْرِ يُقْضٰى عَنْهُ .
(اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْمَنَاسِكْ، بَابُ الْحَجِّ عَنِ الْمَيّتِ، ص: ۴۲۰، نَمْبَرْ ۲۹۰۵)

**تَرْجَمَهْ**:- د **اَبِیْ غَوْثْ بِنِ حُصَیْنْ** څخه **رِوَایَتْ** دئ چي:- پر **یِلَارْ** يې يَو **حَجْ** پاته وُو، او هغه **حَجْ** نَه وُو کړئ، او هغه **وَفَاتْ** سوئ وُو، د هغه په اړه يې **فَتْوٰی** وَپُوښتَل، نو **حُضُوْرْ** (ﷺ) وَ **فَرْمَائِلْ** چي د خپل **یِلَارْ لَطَرَفْ** څخه **حَجْ** وکه، **حُضُوْرْ** (ﷺ) دا هم وَ **فَرْمَائِلْ** چي:- که د **نَذَرْ رُوْژَهْ** پر پاته وي نو دهغه **لَطَرَفْ** څخه يې **قَضَاءْ** کولائي سي .
**حَجْ** کول، **رُوْژَهْ** نِيوَل **بَدَنِیْ عِبَادَتُوْنَهْ** دي، نو د دغه دواړو **حَدِیْثُوْ** څخه **مَعْلُوْمْ** سو چي **بَدَنِیْ عِبَادَتْ** وکي **ثَوَابْ** يې وَ **مُرْدَهْ** ته رَسَوَلائي سي .

## [۳] ... **ځَهْ** وَيَل (لُوَستَل) **دُعَاءْ** کول او **ثَوَابْ** يې وَ بَل ځا ته رَسَوَل .

لېکن ددې لپاره **وَخْتْ مُتَعَيَّنْ** کول، **وِیْدْیُوْ** جوړول، **نَاچُوْنَهْ**، **غَزَلِیْ** وي، **بَاجِی** او **ډُوْلْ** وي، او پر دې بيا د نَوِي نَوِي **طَرْزْ ډَانْسُوْنَهْ** هم وي، چي تر ډېره **وَخْتَهْ** يې دغه **یَادْګَارُوْنَهْ** پر **یُوْتیُوْبْ** (you tube) او **اِنْتَرْ نِیْتْ** (internat) باندي **بَاقِیْ** پاته وي، دغه ټول (**خُرَافَاتْ**) نو تر کُوم **حَدَّ** پُورِي **جَائِزْ** دي، تاسو په خپله **فَتْوٰی** ورکئ .

ددې **دَلِیْلْ** دغه **آیَتُوْنَهْ** دي

**۱: وَ الَّذِیْنَ جَآءُوْا مِنْۢ بَعْدِهِمْ یَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَ لِاِخْوَانِنَا الَّذِیْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِیْمَانِ .** **(آیَتْ ۱۰، سُوْرَةُ الْحَشْرْ ۵۹)**
**تَرْجَمَهْ**:- او (دغه **مَالِ فَیْ**) دهغه خلګو هم **حَقْ** دئ چي د دُوي (يعني **مُهَاجِرِیْنُوْ** او **اَنْصَارُوْ**) څخه وروسته راغلو، هغه دا وائي چي:،، ای زُمُوږ **پَرْوَرْدِګَارَهْ!** مُوږ ته هم **بَخْښِنْ** وکې ، او زُمُوږ و هغه **وُرُوْنُوْ** ته هم کُوم چي زُمُوږ څخه يې مَخکِي **اِیْمَانْ** رَاوړئ دئ .

**۲: رَبِّ اغْفِرْ لِیْ وَلِوَالِدَیَّ وَلِمَنْ دَخَلَ بَیْتِیَ مُؤْمِنًا وَّلِلْمُؤْمِنِیْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ؕ** **(آیَتْ ۲۸، سُوْرَةُ نُوْحْ ۷۱)**
**تَرْجَمَهْ**:- **زَمَا پَرْوَرْدِګَارَهْ! مَا** ته هم **بَخْښِنْ** وکې، **زَمَا** و **مُوْرْ** و **یِلَارْ** ته هم، هر هغه **کسْ** ته هم چي **زَمَا کُوْرْ** ته د **اِیْمَانْ** په **حَالَتْ** کي **دَاخِلْ** سوئ وي، او ټولو **مُوْمِنْ نَرَانُوْ** او **مُوْمِنُوْ ښځُوْ** ته هم .

**۳: اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِکَتَهٗ یُصَلُّوْنَ عَلَی النَّبِیِّ ؕ یٰٓاَ یُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَیْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِیْمًا** **(آیَتْ ۵۶، سُوْرَةُ الْاَحْزَابْ ۳۳)**
**تَرْجَمَهْ**:- **بیشَکَّهْ اَللّٰهْ** او دده **فِرِشْتِی** پر **نَبِیْ** باندي **دَرُوْدْ** اَستَوِي، ای **مُؤْمِنَانُوْ!** تاسو په خپله هم پر ده باندي **دَرُوْدْ** وَاستَوَئ، او ښه **سَلَامُوْنَهْ** اَستَوَئ.

په دغه **آيَتْ** کي دئ چي **اَللّٰهْ** او **فرِشْتي** پر **حُضُوْرْ** (ﷺ) باندي **دَرُوْدْ شَرِيْفْ** اَستَوِي، نو ځکه وَ **مُؤْمِنَانُوْ** ته يې هم دا **حُکْمْ** وَرکړئ دئ چي پر **حُضُوْرْ** (ﷺ) باندي په خپله **دَرُوْدْ شَرِيْفْ** اَستَوئ، **لِهٰذَا** پر **حُضُوْرْ** (ﷺ) باندي په خپله **دَرُوْدْ** اَستَوَل په کار دئ، په لَوستَلُو کي دغه تر ټولو **غَټْ عِبَادَتْ** دئ .

په دغه **آيَتْ** کې پر **حُضُوْرْ** (ﷺ) باندي د **دَرُوْدْ** د اَستَوُلُو (يعني وَيلُو) **حُکْمْ** وَرکړئ دئ، که چيري په دي کي **ثَوَابْ** نَه وائ نو د **دَرُوْدْ** د اَستَوُلُو **حُکْمْ** يې وَلِي وَرکاوئ ؟

د ځه وَيلُو او بَخښلُو لپاره **دَلِيْلْ** دغه **حَدِيْثُوْنَهْ** دي

**۹: عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) قَالَ اِذَا مَاتَ الْاِنْسَانُ اِنْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ اِلَّا مِنْ ثَلَاثٍ اِلَّا مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ اَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِه اَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُوْا لَهُ .**

(**مُسْلِمْ شَرِيْفْ، بَابُ مَايُلْحَقُ الْاِنْسَانُ مِنَ الثَّوَابِ بَعْدَ وَفَاتِه، ص: ۷۱۶، نَمْبَرْ ۱۶۳۱/ ۴۲۲۳**)

**تَرْجَمَهْ**:- **حُضُوْرْ** (ﷺ) وَ **فَرْمَائِلْ** چي:- **اِنْسَانْ** مړ سي نو دده **عَمَلْ مُنْقَطَعْ** سي، لېکن د دُرو **اَعْمَالُ ثَوَابْ** (**مُسَلْسَلْ**) مِلاوېږي، [۱] د **صَدَقَهْ جَارِيَهْ ثَوَابْ**. [۲] دارنګه **عِلْمْ** يې تر شَا پرېښوَئ چي دهغه څخه خلک **فَائِدَهْ** اَخلِي. [۳] **نېک اَوْلَادْ** چي دده لپاره **دُعَاءْ** کوي ددغه **ثَوَابْ**، تر مرګ وروسته هم مِلاوېږي .

**۱۰: عَنْ مَعْقَلِ بِنِ يَسَارٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) اِقْرَؤُا (يٰسٓ) عَلٰی مَوْتَاکُمْ .**

(**اَبُوْدَاؤُدْ شَرِيْفْ، بَابُ الْقِرَأةِ عِنْدَ الْمَيِّتِ، ص: ۴۵۷، نَمْبَرْ ۳۱۲۱**)

**تَرْجَمَهْ**:- **حُضُوْرْ** (ﷺ) وَ **فَرْمَائِلْ** چي:- پر خپلو **مُرْدَهْ ګانُوْ** باندي **سُوْرَةِ (يٰسٓ) شَرِيْفْ** وَاياست .

**۱۱: عَنْ عُثْمَانَ بِنِ عَفَّانَ قَالَ کَانَ النَّبِیُّ (ﷺ) اِذَا فَرَغَ مِنْ دَفْنِ الْمَيِّتِ وَقَفَ عَلَيْهِ فَقَالَ اِسْتَغْفِرُوْا لِاَخِيْکُمْ وَ اسْئَلُوْا لَهُ بِالتَّثْبِيْتِ فَاِنَّهُ الْاٰنَ يُسْئَلُ .**

(**اَبُوْدَاؤُدْ شَرِيْفْ، کِتَابُ الْجَنَائِزْ، بَابُ الْاِسْتِغْفَارِ عِنْدَ الْقَبْرِ لِلْمَيِّتِ فِیْ وَقْتِ الْاِنْصِرَافِ، ص: ۴۷۰، نَمْبَرْ ۳۲۲۱**)

**تَرْجَمَهْ**:- **حُضُوْرْ** (ﷺ) چي به د **مَړِي (مَيِّتْ)** د **دَفَنْ** څخه **فَارِغْ** سو نو هغه ته به نِژدې وَدرېدَئ، او دا به يې **فَرْمَائِلْ**:- د خپل **وُرُوْرْ** لپاره **اِسْتِغْفَارْ** وَغُوَاړئ، او دده لپاره د **ثَابِتْ**

قَدَمْ پاته کېدو دُعَاءْ وَغُوَاړئ، ځکه چي اُوس مُنْکَرْ نَکِيْرْ (فَرِشْتي) دده ښخه سُوَالْ کوي .

**۱۲: عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) يَقُوْلُ اِذَا صَلَّيْتُمْ عَلَى الْمَيِّتِ فَاَخْلِصُوْا لَهُ الدُّعَاءَ .** (اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ، بَابُ الدُّعَاءِ لِلْمَيِّتِ، ص: ۴۶۷، نَمْبَرْ ۳۱۹۹)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) فَرْمَائي چي پر مړئ (مَيِّتْ) د جَنَازي لُمُوْنځْ وکئ نو دده لپاره په اِخْلَاصْ سره دُعَاءْ وکئ .

**۱۳: حَدَّثَنَا صَفْوَانُ حَدَّثَنِي الْمَشِيْخَةُ اَنَّهُمْ حَضَرُوْا غَضِيْفَ بِنِ الْحَارِثِ الثُّمَالِيِّ حِيْنَ اِشْتَدَّ سَوْقُهُ فَقَالَ هَلْ مِنْكُمْ اَحَدٌ يَقْرَأُ (يٰسٓ) .. ... فَكَانَتِ الْمَشِيْخَةُ يَقُوْلُوْنَ اِذَا قُرِئَتْ عِنْدَ الْمَيِّتِ خُفِّفَ عَنْهُ بِهَا .**

(مُسْنَدِ اَحْمَدْ، مُسْنَدُ حَدِيْثُ غَضِيْفَ بِنِ الْحَارِثِ، ج: ۵، ص: ۷۵، نَمْبَرْ ۱۶۵۲۱)

تَرْجَمَهْ:- چي کله د غَضِيْفْ بِنِ الْحَارِثْ الثُّمَالِيْ د مَرْګْ وَخْتْ راغلئ نو يې وويل چي په تاسو کي څوک سُوْرَةِ (يٰسٓ) وَيلائي سي ..... ځکه چي بُوْډَاګَانْ خلګ وائي چي کله وَ مُرْدَهْ (قَرِيْبُ الْمَوْتْ کس) ته نژدې (سُوْرَةِ يٰسٓ) وويل سي نو دهغه په بَرَکَتْ سره د مَرْګْ په سَخْتِيْ کي کمِي رَاځِي .

په دغه اَثَرْ (يعني قَوْلِ صَحَابِيْ) کي دئ چي د يٰسٓ شَرِيْفْ په وَيلُو سره د مَرْګْ سَخْتِيْ اَسَانَ کيږي، او کميږي .

**۱۴: عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنَ بنِ الْعَلَاءِ بنِ اللَّجْلَاجِ عَنْ اَبِيهِ اَنَّهُ قَالَ لِبَنِيْهِ:- اِذَا اَدْخَلْتُمُوْنِيْ قَبْرِیْ فَضَعُوْنِيْ فِی اللَّحَدِ وَقُوْلُوْا بِسْمِ اللهِ وَ عَلٰی سُنَّةِ رَسُوْلِ اللهِ (ﷺ) وَسَنُّوْا عَلَیَّ التُّرَابَ سَنًّا وَ اقْرَأُوْا عِنْدَ رَأْسِیْ اَوَّلَ الْبَقَرَةِ وَخَاتِمَهَا فَاِنِّیْ رَأَيْتُ اِبْنَ عُمَرَ يَسْتَحِبُّهَا ذَالِكَ .**

(سُنَن بَيْهَقِیْ ،كِتَابُ الْجَنَائِزْ،بَابُ مَا وَرَدَ فِیْ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ عِنْدَ الْقَبْرِ،ج: ۴،ص: ۹۳، نَمْبَرْ ۷۰۶۸)

تَرْجَمَهْ:- اِبْنِ لَجْلَاجْ وَ خپل زُوئ ته وويل چي کله مَا وَ قَبْرْ ته وَرسَوه کئ او مَا په لَحَدْ کي کښېږدئ، نو ,, بِسْمِ اللهِ وَ عَلٰی سُنَّةِ رَسُوْلِ اللهِ ,, وواياست، او پر مَا باندي خَاوْرئ وَاچوئ، بيا زَمَا د سَرْ سره د سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ شروع او دهغه آخِرِیْ حِصَّهْ وَوَايَاست، ځکه چي حضرت عَبْدُ اللهْ بن عُمَرْ دغه عَمَلْ ته مُسْتَحَبْ وَيل .

ددغه تَابِعِيْ د عَمَلْ ښخه مَعْلُوْمْ سو چي د مُرْدَهْ و سَرْ ته دي سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ووائي .

ددغه **١۴ حَدِيْثُوْ** او **٣ آيَتُوْ** ښخه **مَعْلُوْمْ** سو چي د **خَيرَاتْ ثَوَابْ** او د **دُعَاءْ** او **اِسْتِغْفَارْ ثَوَابْ** وَ **مُرْدَهْ** ته رسيږي .

په دي کي تر ټولو **غَتَّهْ** او **مُهِمَّهْ خَبَرَهْ** دغه ده چي د **دُعَاءْ** او **دُرُوْدْ** دي هر **وَخْتْ اِهْتِمَامْ** کوي، او دغه نور **اَعْمَالْ** دي کله نَا کله کوي .
لېکن دَلتَه دا هم په **نَظَرْ** کي سَاتئ چي **وُرَځْ** دي **مَعْلُوْمْ** نَه وي، **رَسْمْ** و **رِوَاجْ** دي نَه وي، او **رِيَاءْ** دي نَه وي، **فُضُوْلْ خَرْچِيْ** دي نَه وي، **رَشْ کَشْ**، **ډُوْلْ**، **بَاجَهْ**، **نَاچُوْنَه**، او **غَزَلِيْ** او **خُرَافَاتْ** دي نَه وي، چي دهغه ښخه د **هِنْدُوَانُوْ** مېلَه هم شَرمېږي .
**مَالِيْ صَدَقَاتْ** دي وَ **غَرِيْبَانُ** ته وَرکي، وَ **لُتْ مَارَانُوْ** او **ذَهِيْنْ چَالاَکْ مَکَّارَانُوْ** ته دې **هَرْ ګِزْ** نَه وَرکوِي .

## د بَعضو **حَضَرَاتُوْ** دا **رَأْيَهْ** ده چي **ثَوَابْ** نَه سي رَسَوَلائي

او بَعض حَضَرَات وائي چي د **دُعَاءْ ثَوَابْ** خو رسيږي، ځکه چي دا په **حَدِيْثْ** سره **ثَابِتْ** دئ .
د **مَالِيْ صَدَقَاتُ ثَوَابْ** نَه رسيږي

د دُوي **دَلِيْلْ** دادئ چي د يَوه **ګُنَاهْ** بَل ته نَه رسيږي
**دَلِيْلْ** يې دغه **آيَتُوْنَهْ** دي
**۴: اَ لَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ۝ وَ اَنْ لَّيْسَ لِلْاِنْسَانِ اِلَّا مَا سَعٰى ۝**
**(آيَتْ ٣٨، ٣٩، سُوْرَةُ النَّجْمْ ٥٣)**
**تَرْجَمَهْ**:- يعني داچي يَو **پېټَيْ** پُورتَه کونکئ به دبَل چَا (د **ګُنَاهْ**) **پېټَيْ** نَه سي پُورتَه کولائي، ۝ او دا چي **اِنْسَانْ** ته په خپله د خپل **کُوْښښْ بغَيْرَهْ** د بَل شِي (د **بَدْلَهْ** اَخستلُو) **حَقْ** نَستَه، ۝
**۵: وَ لَا تَکْسِبُ کُلُّ نَفْسٍ اِلَّا عَلَيْهَا ج وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ج**
**(آيَتْ ١۶۴، سُوْرَةُ الْاَنْعَامْ ۶)**
**تَرْجَمَهْ**:- او ښوک چي يَو **کَسْبْ** (**کَارْ/ګټَّهْ**) کوي، دهغه **فَائِدَهْ** پر **بَلْ** چَا نَه، په خپله پر ده باندي مُبتَلِي، او يَو **بُوْجْ** پُورتَه کونکئ د **بَلْ** چَا **بُوْجْ** نَه پُورتَه کوي .
**۶: کُلُّ نَفْسٍ بِمَا کَسَبَتْ رَهِيْنَةٌ ۝** **(آيَتْ ٣٨، سُوْرَةُ الْمُدَّثِّرْ ٧۴)**

**تَرْجَمَهْ**:- هر **كسْ** د خپلو **اَعْمَالُوْ** لكبله **گرَوْ** پُرُوت دئ

**۷**: **لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا كْتَسَبَتْ** . (**آيَتْ ۲۸۶**، **سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲**)

**تَرْجَمَهْ**:- ده ته به هم دهغه **كارْ** څخه **فَائِدَهْ** رسيږي ګُوم چي دئ يې په خپله **اِرَادَهْ** سره وكي، او **نُقْصَانْ** به هم دهغه **كـارْ** څخه رسيږي ګُوم چي دئ يې په خپله **اِرَادَهْ** سره وكي .

**۸**: **تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ** ج **لَهَا مَاكَسَبَتْ وَلَكُمْ مَّاكَسَبْتُمْ** ج (**آيَتْ ۱۳۴**، **سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲**)

**تَرْجَمَهْ**:- هغه يو **اُمَّتْ** وُ چي تېر سو، چي څَه دُوي ګټلي دي هغـه د دُوي دي، او چـي څَه تاسو ګټلي دي هغه ستاسو دي .

**۹**: **تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ** ج **لَهَا مَاكَسَبَتْ وَلَكُمْ مَّاكَسَبْتُمْ** ج (**آيَتْ ۱۴۱**، **سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲**)

**تَرْجَمَهْ**:- هغه يو **اُمَّتْ** وُ چي تېر سو، چي څَه دُوي ګټلي دي هغـه د دُوي دي، او چـي څَه تاسو ګټلي دي هغه ستاسو دي .

**۱۰**: **ثُمَّ تُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّاكَسَبَتْ وَهُمْ لَايُظْلَمُوْنَ** ع (**آيَتْ ۲۸۱**، **سُوْرَةُ الْبَقَرَةْ ۲**)

**تَرْجَمَهْ**:- بيا به هر چَا ته چي څَه هغه ګټلي (کړي) وي **پُوْرَهْ پُوْرَهْ** ورکـول سـي، او پر دُوي به هيڅ **ظُلْمْ** وَنَه سي

په دغه ټولو **آيَتُوْ** كي دئ چي **اِنْسَانْ** په خپله ګُوم **كارْ** كوي دهغه به وَ ده ته **ثَوَابْ** مِلاؤيږي .

ددغه څخه دُوي دا ثَابِتَوِي چي وَ **مُرْدَهْ** ته د نورو خلګو د **اِيْصَالِ ثَوَابْ** كولو څخه **مَالِيْ ثَوَابْ** نَه رسيږي، بَس چي ګُوم څَه ده په خپل **ژُوَنْدْ** كي كړي دي دهغه **ثَوَابْ** يا **عَذَابْ** به ده ته رسيږي .

## د دغه درو **وَجُوْهَاتُ** لكبله **جَمْهُوْرْ** د **اِيْصَالِ ثَوَابْ قَائِلْ** سوي دي

د دغه دُرو **وُجُوْهَاتُ** لكبله **جَمْهُوْرْ اُمَّتْ** ددې **خَبَرِيْ قَائِلْ** سوي دي چي وَ **مُرْدَهْ** ته **مَالِيْ** او د **قِرْأَتْ** (وَيلُو) **ثَوَابْ** مِلاؤيږي .

**۱**: مختَه **۱۴ حَدِيْثُوْنَهْ** او **۳ آيَتُوْنَهْ** تېر سول دهغوي څخه دا **مَعْلُوْمْ** سو چي وَ **مَيِّتْ (مُرْدَهْ)** ته چي کُوم **ثَوَابْ** وَاستَوِي نو هغه ته رَسيږي، که چيري دغه **آيَتُوْنَهْ** او **حَدِيْثُوْنَهْ** نَه وائ

**۲**: د لُوړُو **آيَتُوْ** څخه صِرف دُومرَه مَعلُومېږي چي د يَوَه کس **گُنَاهْ** وَ بَل ته نَه مِلاوُيږي، ځکه چي د **اِنْصَافْ تَقَاضَاءْ** هم دغه ده، لېکن دا چي بَل څوک **ثَوَابْ** وَروَاستَوِي نو دهغه **ثَوَابْ** هم نَه وَرتَه مِلاوُيږي، ددې **ذِکْرْ** او **بَيَانْ** په دغه **آيَتْ** کي نَستَه، نو ځکه **ثَوَابْ** مِلاوُېدلائي سي .

**۳**: **جَمْهُوْرُوْ** يَو بَل **جَوَابْ** دا وَرکړئ دئ چي دغه **مُرْدَهْ کسْ** په **ژُوَنْدْ** کي يَو **دُوْسْتْ** جوړوي، يا يې خپل **رِشْتَهْ دَارْ** وي، يا د خپل **اَوْلَادْ تَرْبِيَّتْ** کوي، نو دغه **دُوْسْتْ** جوړوَل او د **اَوْلَادْ تَرْبِيَّتْ** کول هم يَو **قِسْمْ** د **نِيکيُوْ** حَاصِلَوُلُو **ذَرِيْعَهْ** او **سَبَبْ** دئ، **لِهٰذَا** ددغه **سَبَبْ** جُوړَوُلُو لکبله به **ثَوَابْ** وَرتَه مِلاوُيږي .
او دا چي **سَبَبْ** جُوړ سي نو دهغه **گُنَاهْ** به وَرتَه مِلاوُيږي، دهغه **دَلِيْلْ** دغه **آيَتْ** دئ

**۱۱**: **لِيَحْمِلُوْٓا اَوْزَارَهُمْ کَامِلَةً يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ** ۙ **وَمِنْ اَوْزَارِ الَّذِيْنَ يُضِلُّوْنَهُمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ** ؕ **اَ لَا سَآءَ مَايَزِرُوْنَ** ع **(آيَتْ ۲۵، سُوْرَةُ النَّحْلْ ۱۶)**

**تَرْجَمَهْ**:- ددې **خَبَرُوْ نَتِيْجَهْ** داده چي دُوي به د **قِيَامَتْ** په **وَرَځْ** په خپله دخپلو(**گُنَاهُوْ**) پېټِي هم **پُوْرَهْ پُوْرَهْ** پرخپلوځانو **رَابَارْ** کړي، اودهغه خلکو د پېټِي يَوَه **حِصَّهْ** هم کُوم چي دُوي يې دهيڅ ډَوَل **عِلْمْ** بغيره **گُمْرَاهْ** کوي، **يَادْ** ولرئ ډېر **بَدْ** پېټَئ دئ کُوم چي دُوي يې بَارَوِي

**۱۵**: **عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) قَالَ مَنْ دَعَا اِلٰی هُدًی کَانَ لَهُ مِنَ الْاَجْرِ مِثْلَ اُجُوْرِ مَنْ تَبِعَهُ لَايَنْقُصُ ذَالِكَ مِنْ اُجُوْرِهِمْ شَيْئًا، وَمَنْ دَعَا اِلٰی ضَلَالَةٍ کَانَ عَلَيْهِ مِنَ الْاِثْمِ مِثْلَ اٰثَامِ مَنْ تَبِعَهُ لَايَنْقُصُ ذَالِكَ مِنْ اٰثَامِهِمْ شَيْئًا .**
**(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ، بَابُ مَنْ دَعَا اِلَی السُّنَّةِ، ص: ۶۵۲، نَمْبَرْ ۴۶۰۹)**

**تَرْجَمَهْ**:- **حُضُوْرْ** (ﷺ) وَ **فَرْمَائِلْ** چي:- څوک د **هِدَايَتْ** وَ **طَرَفْ** ته رَاوَبُولِي نو چي کُوم ځَا دهغه **اِتِّبَاعْ** وکړه دهغه **اَجْرْ** به هم وَ ده ته مِلاوُيږي، د **اِتِّبَاعْ** کونکو په **اَجْرْ** کي هيڅ کمِي نَه کيږي، او کُوم ځَا چي د **گُمْرَهِيْ** وَ **طَرَفْ** ته رَاوَبَلَل نو چي کُوم ځَا دهغه **اِتِّبَاعْ** وکړه د هغه **گُنَاهْ** به هم وَ ده ته مِلاوُيږي، د **اِتِّبَاعْ** کونکو په **گُنَاهْ** کي به هيڅ کمِي نَه کيږي .

په دغه **حَدِيْثْ** کي دئ چي که ستا په **رِهْنَمَايِي** او **لَارْ بِنُوَنَهْ** سره څوک يَو **کَارْ** وکي نو دهغه **کَارْ** کونکي **ثَوَابْ** به و دغه **رِهْنَمَايِي** کونکي ته هم مِلاوُيږي، دغه رنګه که چيري ستا په **گُمْرَاهْ** کولو سره يَو څوک **گُنَاهْ** وکي

نو دهغه گُنَاهْ كونكي عَذَابْ به وَ دغه گُمْرَاهْ كونكي تـه هـم مِلاوُېږي، ځكـه چي دئ يې د گُمْرَاهْ كولو سَبَبْ گرزېدَلَئ دئ .
په دغه آيَتْ او حَدِيْثْ كي دئ چي څوك سَبَبْ جوړ سي نو ددغه سَبَبْ لكبلـه به وَ سَبَبْ جوړېدونكو ته ثَوَابْ يا عَذَابْ مِلاوُېږي، او اِيْمَـانْ قَبلَـوُنكئ خـو د اِيْمَانْ په وَجْهَ د ثَوَابْ حَقْدَارَهْ گرزېدَلَئ دئ، نـو ځكـه چـي څـوك ثَـوَابْ وَر رَسَوِي دهغه ثَوَابْ به وَ مُرْدَهْ ته مِلاوُېږي .

## د قَبْرْ د خُرَافَاتُ څخه ثَوَابْ نَه مِلاوُېږي

پر قَبْرُوْ او مَزَارَاتْ چي څـومره نَـذَرْ و نِيَـازْ كـوي، يـا ذَبَـحْ كـوي، يـا هَدْيَـهْ وركـوي پـه حَـدِيْثْ كـي ددي يَوَه ثُبُـوْتْ هـم نَسـتَه، بلكـه ددې پـه خِـلَافْ كـي حَدِيْثُوْنَـهْ سته، او نَـه ددې گُـوم ثَـوَابْ مِلاوُېږي، بَـس د شَـرِيْعَتْ مُطَـابِقْ دي اِيْصَالِ ثَوَابْ وكي، وَ مُرْدَهْ ته بَس دهغه ثَوَابْ رسېږي، او پـه هغونـه اَنْـدَازَهْ بَايَدْ اِنْسَانْ وكي .

## د بَعضو مُجَاوِرِيْنُ (مَلَنگِيَانُ) دُكانُوْنَهْ

څومره حَدِيْثُوْنَهْ چي وُرَاندِي كېږي دهغه څخـه دُومـرَه ثَابِـتْ ده چـي قَبْـرْ تـه وُلَاړْ سَئ نو د مُرْدَهْ لپاره دُعَاءْ وكئ، او كله نَا كله په يَتَّـهْ سره پـر غَرِيْبَـانُوْ باندي صَدَقَهْ وكئ، او دغه رنگه كول مُسْتَحَبْ دئ .
لېكن نَنْ وُرَځْ خو حَالَـتْ دادئ چـي دغـه صِـرف د جَـوَازْ يـا اِسْـتِحْبَابْ فَتْـوَا خلگو د ځـان لپـاره سُيَرْ گرزوَلـي ده او بعضـو مُجَـاوِرِيْنُ غَتّـيْ غَتّـيْ قَبّـي (گُمْبَدِي) جوړي كړي دي، رَنْگْ بَرَنْـگْ يَـرَكْ وَهُـونكِيْ بَلَيَـانْ يې لَگـوَلِي دي، او وَ هر رَاتْلُونكي كس ته دا تَرْغِيْبْ وركـوي چـي دغـه بُـزَرْگْ بـه سـتا ټُـولَ مُرَادُوْنَهْ پُوْرَهْ كوي، او ددې څخه به دُومرَه فَيْضْ تَا ته حَاصِلْ سـي چـي سـتا ژُوَنْدْ به بَرَابَرْ سي، او په دغه رنگـه يـې وَغْلَـوِيْ او د خلگو څخـه دَوْلَـتْ او رُوِيَئ كشَوِي، او د دُوي جيبُوْنَهْ وَر خَالِيْ كوي، او څوك چي پـه دغـه چَكَّـرْ كي وَلوُېږي هغه غَرِيْبْ او تَبَاهْ و بَرْبَادْ كړي، ..... چيري كلـه نَـا كلـه د قَبْـرْ زِيَارَتْ او چيري ددغه لُوْټْ مَارَانُوْ تَمَاشي .
بيا دُوي صِرف پر دغه باندي بَسْ هـم نَـه لـري، بلكـه هـر جُمْعَرَاتْ پـر قَبْـرْ باندي حَاضِرِيْ، د عُرْسْ او په بېلا بېلو حِيلُوْ سره خلگو تـه د رَاتْلُـو دَعْـوَتْ

ورکوي، بيا د عُرْسْ په نُوْمْ باندي مبلَهْ وَلَګوِي، قَوَّالِيَانْ وي، رَنْډِيَان نَاڅُوْنَهْ کوي، او ټُولَ شپَه هغه دَهمَالْ کيږي چي د هِنْدُوَانُوْ مېلې هم وَ دې ته عَاجِزْ دي .

څَه کسَانُو دُومرَه ګُنْجَائِشْ ورکړئ وُو چي د قَبْرِسْتَانْ څخه به فَيْضْ حَاصِلْ سي، او په حَدِيْثْ کي هغه خَاصْ فَيْضْ دغه دئ چي وَ قَبْرْ او دهغه وَ وِيْرَانِيْ ته وَګُورِي نو آخِرَتْ به په يَادْ سي، د دُنْيَا څخه به بې رَغْبَتْ سي، او دَلتَه خو دغه صُوْرَتِ حَالْ دئ چي د دُنْيَا اِنْسَانْ بِالْکُلْ لَخْ پَخْ رَاروَانْ وي، ښځې په لَخُوْ مَخَانُوْ، په لَخُوْ ځِيګرُوْ، په نَګرُوْخُوْ لَاسُوْنَهْ او پُښې سرې کړي ښکاره رَاروَانْ وي، تاسو فَيْصلَهْ وکئ چيري د مُسْتَحَبْ کارْ په نُوْمْ هغه د بُزُرګَانُوْ لَرِ څَه اِجَازَتْ او چيري دغه پِيغْلِيْ اِنْجُوْنِيْ او هَلْکَانْ، او په لَاسُوْ کي ټَچْ مُوْبَائِلْ، پر هغه باندي تَصْوِيْرُوْنَهْ، بيا پر يُوْتيُوْبْ (you tube) او اِنْتَرْ نِيْتْ (internat) او تِيْ وِيْ (tv ) باندي دهغه اِشْتِهَارَاتْ او خُرَافَاتْ، دا څومره فَرْقْ دئ! هَائ اَفسُوْسْ ؟

## ۴۳: مُرْدَهْ ګانْ (مَړِي) اَورِي که نَه؟

ددغه عَقِيدې په اړه ۴ آيَتُوْنَهْ او ۷ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحظَهْ کئ .

مَړئ اَورَي که نَه اَورِي، دغه مَسْئلَهْ هم د خَتُوْ د لِيْ په شَانْ يَو لَيْ او چَخْرَبَهْ ده، دَلتَه د مُرْدَهْ د اَوربدَلُو په سِلْسِلَهْ کي درې مَسْلَکْ دي، او د دُرُو سره وُو سره د آيَتْ او حَدِيْثْ دَلَائِلْ ستَه .

[۱] ... يَوَهْ رَأْيَهْ داده چي مَړئ نَه اَوري .

[۲] ... دُوَهَمَّهْ رَأْيَهْ داده چي مَړئ اَورِي .

[۳] ... او دَرَيمَّهْ رَأْيَهْ داده چي هره خَبَرَهْ خو نَه اَورِي، اَلْبَتَّهْ چي اَللّٰهْ يې وَغُوَارِي هغه خَبَرَهْ په اَورَوِي، هغه که د فَرِشْتُوْ په ذَرِيْعَهْ سره وي يا په بَلَه ذَرِيْعَهْ سره يې په اَورَوِي .

یَامْ لَرَنَهْ:- چي دمړي په اَوريدَلُو کي لَا هم اِخْتِلَافْ دئ، نو بيا ددې اِجَازَتْ څنګه وَرکيدلائي سي چي اِنْسَانْ د نبيَانُو اوا وَلِيَانُوْ څخه د خپل ضرورت لپاره سُوَالْ وکي، او هغه حَاجَتْ رَوَا وَګڼي، او بَلَنَهْ وَرتَه ورکي .

## [۱] ... هغه حَضَرَاتْ چي دا وائي چي مړئ نَه اَوري .

دهغوي دَلَائِلْ دغه دي

۱: اِنَّکَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَآءَ اِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِيْنَ
(آيَتْ ۸۰، سُوْرَةُ النَّمْلْ ۲۷)

تَرْجَمَهْ:- يَادْ ولره چي تَه په مُړُوْ (مُرْدَهْ ګانُوْ) باندي خپله خَبَرَهْ نَه سي اَورَولائي، او نَه په کڼُوْ باندي خپل رَغْ اَوريدَلائي سې، چي کله هغه شَاوِي وګرزوي وُلَاړْ سي.

۲: فَاِنَّکَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَآءَ اِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِيْنَ
(آيَتْ ۵۲، سُوْرَةُ الرُّوْمْ ۳۰)

تَرْجَمَهْ:- غَرَضْ (ائ پيغَمْبَرَهْ!) تَه په مُرْدَهْ ګانُ باندي خپله خَبَرَهْ نَه سي اَورَولائي، او نَه په کڼُوْ خپله نَعْرَهْ (رَغْ) اَورَولائي سې چي کله دُوي شَاوِ وَګرزَوِي رَوَانْ وي،

۳: وَمَا يَسْتَوِى الْاَحْيَآءُ وَلَا الْاَمْوَاتُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُسْمِعُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَمَآ اَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَّنْ فِى الْقُبُوْرِ (آيَتْ ۲۲، سُوْرَةُ فَاطِرْ ۳۵)

تَرْجَمَهْ:- او ژُونْدِيْ خلک او مړهْ نَه سي سره بَرَابَرْ کيدلائي، اَللّٰهْ چي وَغُوَاړِي، په هغه باندي خَبَرَهْ اَورِي، او تَه په هغوي خَبَرَهْ نَه سي اَورَولائي کُوم چي په قَبَرُوْ کي پراته دي.

په دغه دُروسره آيَتُوْ کې وَ حُضُوْرْ (ﷺ) ته دا فَرْمَائِلِي دي چي تَهْ يې په مُرْدَهْ ګانُوْ نَه سي اَورَوَلائي، اَلْبَتَّهْ اَللّٰهْ چي وَ کُوم ڃا ته وَغُوَاړي په هغه يې اَورَوَلائي سي، ددغه سُوْرَةِ فَاطِرْ د آيَتْ څخه يَوه بُزَرْګْ دا اِسْتِدْلَالْ کړئ دئ چي مُوږ يې په مُرْدَهْ ګانُوْ نَه سو اَورَوَلائي، هُو که اَللّٰهْ تَعَالٰي وَغُوَاړي هغه يې په هر ڃا باندي اَورَوَلائي سي .

حضرت عَائِشَهْ ددغه خَبَرِیْ قَائِلَ وه چي مُرْدَهْ ګانْ نَه اَورِي، او حُضُوْرْ (ﷺ) چي کُوم په اَورَوَلئ وُو هغه يې صِرف په هغه وَخْتْ د مُعْجزي په تُوګه په اَورَوَلئ وُو، همېشَه يې نَه سي په اَورَوَلائي، په دغه وَجْهَ خو په هغه حَدِيْثْ کي دغه اَلْفَاظْ راغلي دي چي ,, يَسْمَعُ الْاٰنَ ,, يعني اُوس يې هغه اَورِي، نو حضرت عَائِشي وَ فَرْمَائِلْ چي مُرْدَهْ ګانْ نَه اَورِي، او د دَلِيْلْ په تُوګه يې دغه آيَتْ ,, اِنَّکَ لَاتُسْمِعُ الْمَوْتٰى ,, وَوَايَه .

حَدِیْثُوْنَهْ دغه دي

۱: عَنْ اِبْنِ عُمَرَ قَالَ وَقَفَ النَّبِیُّ عَلٰی قَلِیْبِ بَدْرٍ فَقَالَ هَلْ وَجَدْتُّمْ مَّا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا؟ ثُمَّ قَالَ اِنَّهُمُ الْاٰنَ یَسْمَعُوْنَ مَا اَقُوْلُ، فَذُكِرَ لِعَائِشَةَ فَقَالَتْ اِنَّمَا قَالَ النَّبِیُّ (ﷺ) اِنَّهُمُ الْاٰنَ لَیَعْلَمُوْنَ اَنَّ الَّذِیْ كُنْتُ اَقُوْلُ لَهُمْ هُوَ الْحَقُّ، ثُمَّ قَرَأَتْ (اِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰی) [آیَتْ ۸۰، سُوْرَةُ النَّمَلْ ۲۷] حَتّٰی قَرَأَتِ الْاٰیَةَ .

(بُخَارِیْ شَرِیْفْ، كِتَابُ الْمَغَازِیْ، بَابُ قَتْلِ اَبِیْ جَهْلٍ، ص: ۶۷۱، نَمْبَرْ ۳۹۸۰/ ۳۹۸۱)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَبْدُ اللّٰهْ بن عُمَرْ فَرْمَائِي چي حُضُوْرْ (ﷺ) د بَدْرْ پر ځَاهْ باندي وَدَرېدَئ، او وَ كُفَّارِ مَكَّهْ ته یې دا وویَل چي ستاسو رَبْ چي ستاسو سره کُومَه وَعْدَهْ کړې وه، اَیَا تاسو هغه حَقْ (او په رِشْتِیَا) وَلِیدَلَه؟ بیا حُضُوْرْ (ﷺ) اِرْشَادْ وَ فَرْمَایَهْ چي:- دُوي اُوس زَمَا خَبَرِیْ اَورِي، د حضرت عَائِشَهْ په مَخکې ددغه وَاقِعې بَیَانْ راغلئ نو هغې وَ فَرْمَائِلْ چي، حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ:- اُوس چي زَهْ ځَه وَیْنَا کومه دُوي په هغه پُوهېږي چي مَا کُوم ځَه وَیَل هغه حَقْ ده، بیا حضرت عَائِشَهْ د اِسْتِدْلَالْ په تُوګه (اِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰی) آیَتْ ووایَه، چي په هغه کي دئ چي تَه یې وَ مُرْدَهْ ګانُوْ ته نَه سې اَورَوَلائي .

په دغه حَدِیْثْ کي حضرت عَائِشَي فَرمَائِلي دي چي دا خَبَرَهْ نَه ده چي مُرْدَهْ ګانْ اَورِي، بلکه حُضُوْرْ (ﷺ) دارنګه وَ فَرْمَائِلْ چي مَا چي کُوم ځَه وَیَل د بَدْرْ د ځَاهْ وَالا اُوس یَقِیْنْ کوي چي مَا رِشْتِیَا (حَقْ) وَیَل .

ددې تَائِیْدْ د حضرت قَتَادَهْ ددغه تَأْوِیْلْ څخه هم کیږي

۲: عَنْ اَبِیْ طَلْحَةَ اَنَّ نَبِیَّ اللّٰهِ (ﷺ) اَمَرَ یَوْمَ بَدْرٍ ..... فَقُذِفُوْا فِیْ طَوِیِّ مِنْ اَطْوَاءِ بَدْرٍ ..... فَجَعَلَ یُنَادِیْهِمْ بِاَسْمَائِهِمْ وَ اَسْمَاءِ اٰبَائِهِمْ ..... فَقَالَ عُمَرُ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ مَا تُكَلِّمَ مِنْ اَجْسَادٍ لَا اَرْوَاحَ لَهَا، فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) وَالَّذِیْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِیَدِهِ □ مَا اَنْتُمْ بِاَسْمَعَ لِمَا اَقُوْلُ مِنْهُمْ .

قَالَ قَتَادَةُ اَحْیَاهُمُ اللّٰهُ حَتّٰی اَسْمَعَهُمْ قَوْلَهُ تَوْبِیْخًا وَتَصْغِیْرًا وَنَقْمَةً وَحَسْرَةً وَنَدَمًا .

(بُخَارِیْ شَرِیْفْ، كِتَابُ الْمَغَازِیْ، بَابُ قَتْلِ اَبِیْ جَهْلٍ، ص: ۶۷۱، نَمْبَرْ ۳۹۷۶)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) د جَنْګِ بَدَرْ په وُرَځْ ..... د كُفَّارِ مَكَّهْ مُرْدَهْ ګانْ یې په ځَاهْ کي وَاچَوَل، حُضُوْرْ (ﷺ) د هغوي او د هغوي د پِلَارَانُوْ نُوْمُوْنَهْ وَاخستَل رَ غْ یې پر وکئ ..... نو حضرت عُمَرْ وَ فَرْمَائِلْ په کُوم بَدَنْ کي چي رُوْحْ نَستَه، حُضُوْرْ تَه دهغه سره خَبَرِیْ کوې؟ نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- د کُوم ځَا په قَبْضَهْ کي چي د مُحَمَّدْ رُوْحْ دئ، چي ځَه زَهْ وَایَم تاسو یې تر دُوي زِیَاتْ نَه اَورَئ .

حضرت قَتَادَهْ وائي چي اَللّٰهْ تَعَالٰی هغه مُرْدَهْ ګانْ ژُوَنْدِيْ کړل چي د حُضُوْرْ (ﷺ) خَبَرَهْ وَاوُرِي، د تَنْبِیْهْ په توګه، د حَقِیْرْ کولو لپاره،د سَزَاءْ په تُوګه،او د شَرْمِنْدَهْ کولو لپاره .

د حضرت قَتَادَهْ د تَأْوِيْلْ څخه معلومېږي چي هسي خو مُرْدَهْ ګانْ نه اورِي، لېکن كُفَّارِ قُرَيْشْ اَللّٰهْ تَعَالٰى ژُوَندي كړل، او د شَرْمِنْدَهْ كولو لپاره يې په دُوي باندي د حُضُوْرْ (ﷺ) خَبَرِيْ وَاوْرَولې، نو ځكه دغه د حُضُوْرْ (ﷺ) مُعْجِزَهْ ده، په عَامَّهْ حَالَاتُوْ كي مُرْدَهْ ګانْ نَه اورِي .
ددغه ۳ آيَتُوْ او ۲ حَدِيْثُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي مُرْدَهْ ګانْ نَه اورِي .

## [۲] ... هغه حَضَرَاتْ چي دا وائي چي مړئ اَورِي .

دهغوي دَلَائِلْ دغه حَدِيْثُوْنَهْ دي

۳: اَنَّ اِبْنَ عُمَرَ اَخْبَرَهُ قَالَ اِطَّلَعَ النَّبِيُّ (ﷺ) عَلٰى اَهْلِ الْقَلِيْبِ فَقَالَ:- وَجَدْتُّمْ مَا وَعَدَ رَبُّكُم حَقًّا؟ فَقِيْلَ لَهُ اَتَدْعُوْنَ أَمْوَاتًا، فَقَالَ مَا اَنْتُمْ بِاَسْمَعَ مِنْهُمْ وَلٰكِنْ لَّايُجِيْبُوْنَ . (بُخَارِيْ شَرِيْفْ، بَابُ مَاجَاءَ فِيْ عَذَابِ الْقَبْرِ، ص: ۲۲۰، نَمْبَرْ ۱۳۷۰)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) د بَدْرْ پر څَاهْ والا باندي راغلئ، او وويل چي: ستاسو رَبْ چي ستاسو سره كُومَه وَعْدَهْ كړې وه، اَيَا تاسو هغه حَقْ (او په رِشْتِيَا) وَلِيدَلَه؟ خلكو د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه پُوْښْتَنَهْ وكړه چي: اَيَا تَهْ مُرْدَهْ ګانُوْ ته اَوَازْ كوې؟ نو حُضُوْرْ (ﷺ) اِرْشَادْ وَ فَرْمَايَهْ چي:- تاسو هم تر دُوي زِيَاتْ څَه نَه اورَوَئ، لېكن اُوس دُوي جَوَابْ نه سي دَركولائي .

۴: عَنْ اَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ (ﷺ) قَالَ:- اَلْعَبْدُ اِذَا وُضِعَ فِيْ قَبْرِه وَتَوَلّٰى وَ ذَهَبَ اَصْحَابُهُ حَتّٰى اِنَّهُ لَيَسْمَعُ قَرْعَ نِعَالِه، اَتَاهُ مَلَكَانِ فَاَقْعَدَاهُ فَيَقُوْلَانِ لَهُ مَاكُنْتَ تَقُوْلُ فِيْ هٰذَا الرَّجُلِ مُحَمَّدٍ (ﷺ) ؟ فَيَقُوْلُ اَشْهَدُ اَنَّهُ عَبْدُ اللهِ وَ رَسُوْلُهُ .
(بُخَارِيْ شَرِيْفْ، بَابُ اَلْمَيِّتُ يَسْمَعُ خَفْقَ النِّعَالِ،ص: ۲۱۳، نَمْبَرْ ۱۳۳۸)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- اِنْسَانْ په قَبْرْ كي كښېږدي، او دده مَلګرِي بېرته وَاپَس ځِيني راسي آنْ تر دې چي مُرْدَهْ د چَوتِيْ اَوَازْ (كښَـهَارِيْ) اورِي نو ده ته دُوې فَرِشْتي راسي، او دئ رَاكښېنوِي، او پُوْښْتَنَهْ ځِيني وكي چي ددغه كس مُحَمَّدْ (ﷺ) په اړه تَهْ څَه وَايَايې؟ نو هغه جَوَابْ وركوي چي زَهْ ګـوَاهِيْ وركوم چي دئ د اَللّٰهْ بَنْدَهْ او رَسُوْلْ دئ .
په دغه حَدِيْثْ كي دئ چي مُرْدَهْ ګانْ د چَوتُوْ اَوَازْ اورِي .

۵: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ:- قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ عِنْدَ قَبْرِيْ وُكِّلَ بِهِمَا مَلَكٌ يُبَلِّغُنِيْ وَكَفٰى بِهِمَا اَمْرَ دُنْيَاهُ وَ اٰخِرَتِهُ وَكُنْتُ لَهُ شَهِيْدًا اَوْ

شَفِيْعًا، هٰذَا اللَّفْظُ مِنْ حَدِيْثِ الْاَصْمَعِيِّ، وَ فِيْ رِوَايَةِ الْحَنَفِيِّ قَالَ:- عَنِ النَّبِيِّ (ﷺ) قَالَ مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ عِنْدَ قَبْرِيْ سَمِعْتُهُ وَمَنْ صَلّٰى عَلَيَّ نَائِيًا اُبْلِغْتُهُ. (بَيْهَقِيْ [مُتَوَفّٰى ۴۵۸] فِيْ شُعَبِ الْاِيْمَانِ، بَابٌ فِيْ تَعْظِيْمِ النَّبِيِّ (ﷺ) وَ اِجْلَالِه وَتَوْقِيْرِه، ج: ۲، ص: ۲۱۸، نَمْبَرْ ۱۵۸۳)

تَرْجَمَهْ:- حضرت اَبُوْهُرَيْرَةْ فَرْمَائي چي حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ:- څوک چي زَمَا د قَبْرْ سره دَرُوْدْ ووائي نو پر هغه باندي اَللّٰهْ فَرِشْتَهْ مُقَرَّرْ کوي چي وَ مَا ته دَرُوْدْ رَاوَرَسَوِي، دهغه لپاره د دُنْيَا او آخِرَتْ خَيْرْ كِفَايَتْ وکي، او زَهْ به دهغه لپاره گَوَاهْ يَم، او سَفَارِشِيْ به يَم ..... د حَدِيْثْ دغه جُمْلَهْ د حضرت اَصْمَعِيْ څخه نَقْلْ سوې ده ..... او د حضرت حَنَفِيْ په رِوَايَتْ کي دغه رنګه راغلي دي چي حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ:- څوک چي زَمَا وَ قَبْرْ ته نِژدې دَرُوْدْ وائي نو زَهْ هغه (په خپله) اَورَم، او که د لِيرِي څخه دَرُوْدْ ووائي نو مَا ته رَارَسَوَل کيږي .

مَا په مَكْتَبَهْ شَامِلَهْ کي ډېر تَلَاشْ کړئ، خو په يَوَه كِتَابْ کي مِي هم د ,, عِنْدَ قَبْرِيْ سَمِعْتُهُ ,, لَفْظُوْنَهْ نَه دي پَيدَا کړي، او ډېرو مُحَدِّثِيْنُوْ دغه ته ضَعِيْفْ وَيَلي دي .

[يَامْ لَرَنَهْ:- مُتَرْجِمْ عَبْدُ الْمَتِيْنْ قُطَبْ وائي چي د ,, سَمِعْتُهُ ,, لَفْظُوْنَهْ په حَدِيْثْ کي راغلي دي،په كِتَابْ ,,مَسْلَكِ اَهْلِ سُنَّتْ وَالْجَمَاعَتْ يعني د عُلَمَاءِ دِيُوْبَنْدْ عَقَائِدْ و نَظْرِيَّاتْ,, چي دمَوْلَانَا تَوْحِيْدْ عَالَمْ قَاسِمِيْ بِجْنَوْرِيْ تَالِيْفْ دئ، دهغه پر صَفْحَهْ نمبر ۱۱۴، بِحَوَالَهْ فَيْضُ الْقَدِيْرْ رَقَمُ الْحَدِيْثْ ۸۸۱۲، او بِحَوَالَهْ شَرْحِ سُنَنِ نَسَائي جلد نمبر ۴، صَفْحَهْ نمبر ۸۰، او جِلَاءُ الْاِفْهَامْ صَفْحَهْ نمبر ۱۹ کي ذِکر سوئ دئ، دا چي مَوْلَانَا فرمائي چي مَا په مَكْتَبَهْ شَامِلَهْ کي دغه حَدِيْثْ نَه دئ مُوندَلَئ، نو دغه دده نَه مُوندَل د حَدِيْثْ پر عَدَمِ وُجُوْدْ باندي دَلَالَتْ نَه کوي، بلکه د عُلَمَاءِ دِيُوْبَنْدْ تَرْجِيْحِيْ مَسْلَكْ هم دغه دئ چي مُرْدَهْ گَانْ اَورِي، او د ,, سَمِعْتُهُ ,, لَفْظُوْنَهْ په رِوَايَاتُوْ کي راغلي دي، او سِمَاعِ مَوْتِي حَقْ ده، لِهٰذَا دا د مَوْلَانَا ثَمِيْرُ الدِّيْنْ صَاحِبْ خپل ذَاتِيْ نَظَرْ کېدلائي، د عُلَمَاءِ دِيُوْبَنْدْ نَظَرْ نَه دئ] .

## [۳] ... ځُوم حَضَرَاتْ چي دا وائي چي په خپله خو نَه اَورِي لېکن اَللّٰهْ چي څومره وَغُوَاړي په دُوي يې اَورَوِي

دهغوي دَلَائِلْ دغه دي

۴: وَمَا يَسْتَوِي الْاَحْيَآءُ وَلَا الْاَمْوَاتُ ط اِنَّ اللّٰهَ يُسْمِعُ مَنْ يَّشَآءُ ج وَمَآ اَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَّنْ فِي الْقُبُوْرِ (آيَتْ ۲۲،سُوْرَةُ فَاطِرْ ۳۵)

تَرْجَمَهْ:- او ژُوَنْدِیْ خلګ او مړهْ نَه سي سره بَرَابَرْ کېدلائي، اَللّٰهْ چي وَغُوَاړِي، په هغه باندي خَبَرَهْ اَورَوِي، او تَه په هغوي خَبَرَهْ نَه سې اَورَوَلائي کُوم چي په قَبْرُوْ کي پراته دي.

په دغه آیَتْ کي دئ چي په قَبْرُوْ کي کُوم خلګ دي هغوي ته که اَللّٰهْ تَعَالٰی وَغُوَاړي نو په اَورَوِي یې، حُضُوْرْ (ﷺ) تَه یې نَه سې په اَورَوَلائي .

۶: عَنْ اَوْسِ بِنِ اَوْسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) ..... فَاِنَّ صَلَاتَکُمْ مَعْرُوْضَةٌ عَلَیَّ، قَالَ فَقَالُوْا یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! وَکَیْفَ تُعْرَضُ صَلَاتُنَا عَلَیْكَ وَقَدْ اَرَمْتَّ؟ قَالَ یَقُوْلُوْنَ بَلَیْتَ. قَالَ اِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ عَلَی الْاَرْضِ اَجْسَادَ الْاَنْبِیَاءِ (ﷺ) .
(اَبُوْدَاوُدْ شَرِیْفْ،بَابٌ فِی الْاِسْتِغْفَارْ،ص: ۲۲۶، نَمْبَرْ ۱۵۳۱ / اِبْنِ مَاجَهْ شَرِیْفْ،بَابٌ فِی فَضْلِ الْجُمْعَةِ،ص: ۱۵۲، نَمْبَرْ ۱۰۸۵)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرِ پَاکْ (ﷺ) وفرمائل ستاسو دُرُوْدْ پر مَا باندي وړاندي کېږي، خلګو پُوْښْتَنَهْ وکړه چي زُمُوږ دُرُوْدْ پر تَا باندي څنګه وړاندي کېږي؟ تَهْ خو به زُوْړْ (بُوْسِیْدَهْ) سوئ یې! شَایَدْ رَاوِیْ د ,, اَرَمْتَّ ,, پر ځائ د ,, بَلَیْتَ ,, لَفْظْ اِسْتِعْمَالْ کړئ دئ، حُضُور وفرمائل چي اَللّٰهْ پر مځکه باندي د نَبِیَانُوْ بَدَنُوْنَهْ حَرَامْ کړي دي چي هغه دي وَخُورِي [مځکه د اَنْبِیَاءُ بَدَنُوْنَهْ نَه سي خُوړَلائي] .
په دغه حَدِیْثْ کي دئ چي پر حُضُوْرْ (ﷺ) باندي دُرُوْدْ شَرِیْفْ وړاندي کوئ، دئ یې د لِیرِي څخه نَه اَورِي، بلکه وَرتَه اَورَوَل کېږي .

۷: عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) لَاتَجْعَلُوْا بُیُوْتَکُمْ قُبُوْرًا، وَلَاتَجْعَلُوْا قَبْرِیْ عِیْدًا، وَصَلُّوْا عَلَیَّ فَاِنَّ صَلَاتَکُمْ تَبْلُغُنِیْ حَیْثُ کُنْتُمْ .
(اَبُوْدَاوُدْ شَرِیْفْ، کِتَابُ الْمَنَاسِكَ، بَابُ زِیَارَةِ الْقُبُوْرْ،ص: ۲۹۶، نَمْبَرْ: ۲۰۴۲)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ وفرمائل خپل کُوْرُوْنَهْ د قَبْرُوْ په شَانْ مَه ګرزوئ [چي په هغه کي ګر سره عِبَادَتْ نَه کوئ] او زَمَا قَبْرْ د اَخْتَرْ جوړولو په شَانْ مَه جوړوئ، او پر مَا باندي دُرُوْدْ اَستَوَئ، تاسو چي هر چیري یاست مَا ته ستاسو دُرُوْدْ رَارَسَوَل کېږي .
ددغه حَدِیْثُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي حُضُوْرْ (ﷺ) بَرَاهِ رَاسْتْ نَه اَورِي، بلکه ده ته اَورَوَل کېږي، او پر ده باندي دَرُوْدْ شَرِیْفْ وړاندي کېږي .

## د یَوَهْ اُسْتَاذْ رَأْیَهْ

زَمَا یَوَه اُسْتَاذْ دغه فَرْمَایَلْ چي دُوَاړَه قِسمَ حَدِیْثُوْنَهْ او آیَتُوْنَهْ سره یَو ځائ کي نو دا ځِینِي مَعلُومیږي چي مُرْدَهْ خو په خپله نَه اَورِي، اَلْبَتَّهْ اَللّٰهْ چي وَ

کُوم چَا ته وَغُوَاړِي، په هغه يې اَوروِي، دغه د **سَلاَمَتِيْ** يَوه **بِنَـهْ طَرِيْقَـهْ** ده، او وَ دُوَاړُو **قِسَمَ آيَتُوْنُوْ** ته **جَامِعْ** ده، **وَاللهُ اَعْلَمُ !**

## **۴۴**: دغه **لَسْ شِيَانْ** د **قِيَامَتْ عَلاَمَتُوْنَهْ** دي

ددغه عَقِيدې په اړه **۳ آيَتُوْنَهْ** او **۱۶ حَدِيْثُوْنَهْ** دي، تاسو د هر يَوه **تَفْصِيْلْ مُلاَحَظَهْ** کړئ .

[**۱**] **دُوْدْ** .
[**۲**] د **دَجَّالْ** رَاوَتَل .
[**۳**] د مځکي څخه به **حَيْوَانْ** رَاووزِي چې د **اِنْسَانَانُوْ** سره به **خَبَرِيْ** کوي .
[**۴**] **لُمَرْ** به د **مَغْرِبْ** لَخُوَا رَاوَخېږي .
[**۵**] حضرت **عِيْسٰى عَلَيْهِ السَّلاَمْ** به د **آسْمَانْ** څخه مځکي ته رَاشوَه سي .
[**۶**] **يَأْجُوْجْ** و **مَأْجُوْجْ** يو **قَوْمْ** دئ هغه به رَاووزِي او **دُنْيَا** به **تَبَاهْ** و **بَرْبَادْ** کي .
[**۹/۸/۷**] درې ځايَه به مځکه کښېنِي، يعني **خَسَفْ** به راسي، په **مَشْرِقْ** کي، په **مَغْرِبْ** کي، او **دَرَيَمْ** په **جَزِيْرَةُ الْعَرَبْ** کي .
[**۱۰**] يَو **اُوْرْ** (**وُوْرْ**) به رَا سَرګندَ سي چې خلګ به **مَحْشَرْ** ته رَا **جَمَعْ** کي .
[**۱۱**] د **قِيَامَتْ** څه نور **عَلاَمَتُوْنَهْ** هم سته .

## مُور پر هغه **عَلاَمَاتِ قِيَامَتْ** باندي **اِيْمَانْ** لرو

ځکه چې ددې **ثُبُوْتْ** په **آيَتْ** او **مَضْبُوْطَ حَدِيْثْ** کي دئ، ددغه **لَسْ عَلاَمَاتُ دَلِيْلْ** دغه **حَدِيْثْ** دئ

**۱**: **عَنْ حُذَيْفَةَ بن اُسَيْدِ الْغِفَّارِيّ قَالَ اِطَّلَعَ النَّبِيُّ (ﷺ) عَلَيْنَا وَ نَحْنُ نَتَذَاكَرُ فَقَالَ مَا تَذَاكَرُوْنَ؟ قَالُوْا نَذْكُرُ السَّاعَةَ، قَالَ اِنَّهَا لَنْ تَقُوْمَ حَتّٰى تَرَوْنَ قَبْلَهَا عَشْرَ اٰيَاتٍ، فَذَ كَرَ الدُّخَانَ، وَ الدَّجَّالَ، وَ الدَّابَّةَ، وَ طُلُوْعَ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا، وَ نُزُوْلَ عِيْسٰى اِبْنِ مَرْيَمَ، وَيَأْجُوْجَ وَ مَأْجُوْجَ ، وَ ثَلاَثَةَ خُسُوْفٍ، خَسْفٌ بِالْمَشْرِقِ، وَ خَسْفٌ بِالْمَغْرِبِ، وَ خَسْفٌ بِجَزِيْرَةِ الْعَرَبِ، وَ اٰخِرُ ذٰالِكَ نَارٌ تَخْرُجُ مِنَ الْيَمَنِ تَطْرُدُ النَّاسَ اِلٰى مَحْشَرِهِمْ .**

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْفِتَنْ، بَابٌ فِى الْاٰيَاتِ الَّتِىْ تَكُوْنُ قَبْلَ السَّاعَةِ، ص: ۱۲۵۶، نَمْبَرْ ۲۹۰۱/ ۷۲۸۵ / اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْمَلَاحِمْ، بَابُ اَمَارَاتِ السَّاعَةِ، ص: ۶۰۵، نَمْبَرْ ۴۳۱۱)

تَرْجَمَهْ:- حضرت حُذَيْفَهْ بِنْ اُسَيْدْ فَرْمَائي چي زُمُوږ مَختـه حُضُوْرْ (ﷺ) تَشْرِيْفْ رَاوُړئ، مُوږ د يَو شِي تَذْكِرَهْ كوله، حُضُوْرْ (ﷺ) پُوْښْتَنَهْ وكړه چي د كُوم شِي تَذْكِرَهْ كوئ؟ خلكو وويل چي د قِيَامَتْ تَذْكِرَهْ سره كوو، نو حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- تر څو چي تاسو دهغه څخه مَخكِي لَسْ شِيَانْ نَه وَوينئ، قِيَامَتْ هَرګِز نَه سي رَاتلائي، مَختَه بيا حُضُوْرْ (ﷺ) بَيَانْ كړل، دُوْدْ، دَجَّالْ، يَو حَيْوَانْ بـه رَاوُوْزِئ، لُمَرْ بـه د مَغْرِبْ څخه رَاوَخيږي، حضرت عِيْسٰى اِبْنِ مَرْيَمْ بـه د آسْمَانْ څخـه رَاشَوَهْ سي، يَأْجُوْجْ و مَأْجُوْجْ به رَاوُوْزِئ، او درې ځايَه به مځكه كښِيني، يَو پـه شَرْقْ كي، دُوَهَمْ پـه غَرْبْ كي، دَرَيَمْ په جَزِيْرَۃُ الْعَرَبْ كي، او په آخِرْ كي به د يَمَنْ څخه اُوْرْ رَاووزي، چي خلك به تر مَيْدَانِ حَشَرْ پُورِي په تيلَه تِيلَه وَتَمبَوِي .

د قِيَامَتْ څخه مَخكِي به دغه لَسْ غَتِّيْ غَتِّيْ نِشَانَئ ښكاره سي .

## حضرت عِيْسٰى به دُوَهَمْ وَارْ مځكي ته رَاشَوَهْ سي

بعض حَضرَات دا وائي چي حضرت عِيْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامْ دُوْبَارَهْ نَـه رَاځِي، دغه خَبَرَهْ صَحِيْحْ نَه ده .

ځكه چي په مَضْبُوْطْ او صَحِيْحْ حَدِيْثْ كـي راغلـي دي چي حضـرت عِيْسٰـى عَلَيْهِ السَّلَامْ يې آسْمَانْ ته پُورتَه كړئ دئ، او هغه به دُوَهَمْ وَارْ بيا مځكي ته رَاشَوَه كيږي، او د حُضُوْرْ (ﷺ) د شَرِيْعَتْ مُطَابِقْ به شَرِيْعَتْ نَافِذْ كوي، هغـه وَخْتْ به دده خپل شَرِيْعَتْ نَه وي، حضرت عِيْسٰى عَلَيْـهِ السَّلَامْ بـه د حُضُوْرْ (ﷺ) د اُمَّتِيْ په حَيْثِيَّتْ سره رَاځِي، ځكه چي حُضُوْرْ (ﷺ) خَاتَمُ النَّبِيِّيْنْ دئ، د حُضُوْرْ (ﷺ) وروسته بَل نَبِيْ نَه رَاځِي، اُوس كه څوك د نَبُوَّتْ دَعْوَهْ كـوي هغه دَرْوَاغْجَنْ دئ .

بعضو خلكو دا دَعْوَهْ هم كړې ده چي زَهْ عِيْسٰى يَم،لېكن دغـه دَعْوَهْ بِالْكُلْ غَلَطَّهْ ده، ځكه چي حضرت عِيْسٰى به بِالْكُلْ پـه اَخِيْرْ كـي وي، او پـه خپـل لَاسْ به دَجَّالْ قَتْلْ كي، او چـي كُـوم دَعْوَهْ كـونكي دي هغـوي ګرسـره دَجَّالْ لِيدَلَئ هم نَه دئ، او نَه يې قَتْلْ كړئ دئ، لِهٰذَا دغه دَعْوَهْ يې بِالْكُلِّيَه غَلَطَّهْ ده .

د حضرت عِيْسٰى د رَاشَوَه كيدو دَلِيْلْ دغه آيَتْ دئ

**۱: وَ مَا قَتَلُوْہُ يَقِيْنًا ۙ بَلْ رَّفَعَهُ اللهُ اِلَيْهِ ؕ وَ كَانَ اللهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا وَ اِنْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِه قَبْلَ مَوْتِه ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكُوْنُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا ۚ**

**(آيَتْ ۱۵۸، ۱۵۹، سُوْرَۃُ النِّسَاءِ ۴)**

**تَرْجَمَهْ:-** او دا **بِالْكُلْ يَقِيْنِيْ خَبَرَهْ** ده چي دُوي نـه وَتُوانېدَل چي **عِيْسٰى** (**عَلَيْهِ السَّلَامْ**) قتل كړي بلكه **اَللّٰهْ** دئ خپل طرف ته **پُوْرْتَهْ** كړئ وُو، او **اَللّٰهْ** د **غَتْ اِقْتِدَارْ مَالِكْ**، د **غَتْ حِكْمَتْ** والا دئ او په **اَهْلِ كِتَابْ** كي يَو هم دارنگه نسته چي دخپل مرگ څخه مخكي **ضَرُوْرْ بِالضَّرُوْرْ** پر **عِيْسٰى** (**عَلَيْهِ السَّلَامْ**) باندي **اِيْمَانْ** نَه راوړي، او د **قِيَامَتْ** په وُرَځ به هغه ددغه خلگو په **خِلَافْ گَوَاهَانْ** جوړ سي

په **تَفْسِيْرِ اِبْنِ عَبَّاسْ** كي دئ چي په دغه **آيَتْ** كي **اِشَارَهْ** سوې ده چي حضرت **عِيْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامْ** به پر مځكه رَاشوَه كيږي، او ټول **اَهْلِ كِتَابْ** به **اِيْمَانْ** رَاوړي، ددې څخه دده د **دُوْبَارَهْ** د رَاشوَه كېدو **اِشَارَهْ** مِلاوېږي .

په دغه **حَدِيْثْ** كي دئ

**۲: عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ﷺ) قَالَ ..... فَبَيْنَا هُمْ يَعُدُّوْنَ لِلْقِتَالِ يُسَوُّوْنَ الصُّفُوْفَ اِذْ اُقِيْمَتِ الصَّلَاةُ فَيَنْزِلُ عِيْسٰى اِبْنُ مَرْيَمَ فَاَمَّهُمْ، فَاِذَا رَاٰهُ عَدُوُّ اللهِ ذَابَ كَمَا يَذُوْبُ الْمِلْحُ فِى الْمَاءِ، فَلَوْ تَرَكَهُ لَانْذَابَ حَتّٰى يَهْلِكَ، وَلٰـكِنْ يَقْتُلُهُ اللهُ بِيَدِه فَيُرِيْهِمْ دَمَهُ فِىْ حَرْبَتِه .**

**(مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْفِتَنْ، بَابٌ فِىْ فَتْحِ قُسْطُنْطُنِيَةَ، وَخُرُوْجُ الدَّجَّالِ، وَنُزُوْلُ عِيْسٰى اِبْنِ مَرْيَمَ، ص: ۱۲۵۴، نَمْبَرْ ۲۸۹۷/ ۷۲۷۸)**

**تَرْجَمَهْ:-** **حُضُوْرْ** (ﷺ) وَ **فَرْمَائِلْ** ..... **قِيَامَتْ** ته نژدې به خلگ د يَو **جَنْگ** پـه **تَيَّارِئْ** كولو كي **بُخْتْ** وي، او **صَفُوْنَهْ** به يي سره **سَمْ** كړي وي، او د **لُمُوْنَځْ** لپاره به **اِقَامَتْ** هم سوئ وي، حضرت **عِيْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامْ** به **كِبْنَتَهْ** رَاشوَه سي، او د خلگو **اِمَامَتْ** به وكي، بَل **طَرَفْ** ته د **اَللّٰهْ دُبْشْمَنْ دَجَّالْ** چې **وَوِيْنِي** نو لكه څنگه چي په **اُوْبُوْ** كي **مَالْگَهْ** وِيليږي، دغه رنگه به دئ د **وِيْلِبدُوْ** كُوښښ كوي، كه چيري دئ هسي دغه رنگه پرېښئ وائ نو هغه به وِيلي سوئ وائ، او **مَرْ** بـه وائ، لېكن **اَللّٰهْ تَعَالٰى** بـه د حضرت **عِيْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامْ** په **لَاسْ** باندي دئ **قَتْلْ** كي، بيا به حضرت **عِيْسٰى** [خلگو ته د **يَقِيْنْ** وَركولو لپاره] پر خپله **نيزَهْ** باندي د **دَجَّالْ وِيْنَهْ** وَرښكاره كي .

**۳: سُمِعَ اَبَا هُرَيْرَةَ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) وَالَّذِىْ نَفْسِىْ بِيَدِه! لَيُوْشِكَنَّ اَنْ يَّنْزِلَ فِيْكُمْ اِبْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا مُقْسِطًا، فَيَكْسِرُ الصَّلِيْبَ، وَيَقْتُلُ الْخِنْزِيْرَ، وَيَضَعُ الْجِزْيَةَ، وَيُفِيْضُ الْمَالُ حَتّٰى لَايَقْبَلُهُ اَحَدٌ .**

**(مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْاِيْمَانْ، بَابُ نُزُوْلِ عِيْسٰى اِبْنِ مَرْيَمْ حَاكِمًا بِشَرِيْعَةِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ، ص: ۷۷، نَمْبَرْ ۱۵۵/ ۳۸۹)**

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- قَسَمْ په هغه ذَاتْ چي زَمَا رُوْحْ دده په قَبْضَهْ کي دئ چي حضرت عِيْسٰي به ستاسو په مينځ کي ضرور رَاشَوَه کېږي، هغه به اِنْصَافْ کونکئ حَاكِمْ وي، هغه به صَلِيْبْ مَاتَوِي، خِنْزِيْرْ به قَتْلْ کړي، جِزْيَهْ به خَتَمْ کي، [يعني ټولَه خلګ به حَتْمًا اِيْمَانْ رَاوْي، چي هيڅ څوک جِزْيَهْ وَر نَه کي]، او دده په زَمَانَهْ کي به مَالْ دُومرَه ډېر سي چي اَخستُونکئ څوک به پاتَه نَه سي .

۴: اَنَّ اَبَاهُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) كَيْفَ اَنْتُمْ اِذَا نَزَلَ اِبْنُ مَرْيَمَ فِيْكُمْ، وَ اِمَامُكُمْ مِنْكُمْ .
(مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْاِيْمَانْ، بَابُ نُزُوْلِ عِيْسٰى اِبْنِ مَرْيَمْ حَاكِمًا بِشَرِيْعَةِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ، ص: ۷۸، نَمْبَرْ ۱۵۵/ ۳۹۲)
تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- هغه وَخْتْ به ستاسو څنګه حَالْ وي چي ستاسو په مينځ کي حضرت عِيْسٰي عَلَيْهِ السَّلَامْ رَاشَوَه سي، او هغه وَخْتْ به اِمَامْ ستاسو څخه وي [يعني حضرت مِهْدِيْ عَلَيْهِ السَّلَامْ به اِمَامْ وي، او حضرت عِيْسٰي عَلَيْهِ السَّلَامْ به دهغه تَابِعْ وي] .

۵: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ ..... قَالَ اِبْنُ اَبِيْ ذِئْبِ:- تَدْرِيْ مَا اَمَّكُمْ مِنْكُمْ؟ قُلْتُ:- تُخْبِرُنِيْ، قَالَ فَاَمَّكُمْ بِكِتَابِ رَبِّكُمْ عَزَّ وَ جَلَّ وَ سُنَّةِ نَبِيِّكُمْ.
(مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْاِيْمَانْ، بَابُ نُزُوْلِ عِيْسٰى اِبْنِ مَرْيَمْ حَاكِمًا بِشَرِيْعَةِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ، ص: ۷۸، نَمْبَرْ ۱۵۵/ ۳۹۴)
تَرْجَمَهْ:- اِبْنِ اَبِيْ ذِئْبْ وويل چي د اَمَّكُمْ مِنْكُمْ مَعْنٰي تاسو ته مَعْلُوْمْ ده؟ مَا ورته وويل چي تَه يې رَاوَښيَه، نو هغه وويل چي:- د قُرْآنْ په ذَرِيْعَهْ او د حُضُوْرْ (ﷺ) د سُنَّتْ مُطَابِقْ به حضرت عِيْسٰي عَلَيْهِ السَّلَامْ ستاسو اِمَامَتْ کوي .
ددغه حَدِيْثُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي حضرت عِيْسٰي عَلَيْهِ السَّلَامْ به دُوْبَارَهْ مځکي ته رَاشَوَه کېږي، او هغه به د حُضُوْرْ (ﷺ) د شَرِيْعَتْ تَابِعْ وي، او دده د اُمَّتِيْ په حَيْثْ به دُنْيَا ته تَشْرِيْفْ رَاوړي .

# حضرت اِمَامِ مِهْدِيْ عَلَيْهِ السَّلَامْ

دغه هم د قِيَامَتْ د عَلَامَاتُوْ څخه دئ
د حضرت مِهْدِيْ عَلَيْهِ السَّلَامْ نُوم به د حُضُوْرْ (ﷺ) د مُبَارَکْ نُوم مُطَابِقْ يعني ,, مُحَمَّدْ ,, به وي، او د پَلَارْ نُوم به د حُضُوْرْ (ﷺ) د پَلَارْ پر نُوم ,, عَبْدُ اللهْ ,, به وي، او دئ به د حضرت فَاطِمَهْ په اَوْلَادْ کي وي، او د

حضرت **حَسَنْ** په **اَوْلَادَهْ** کي به وي، [يعني د **اَشْرَافُ** څخه به وي، **سَيِّدْ** به نه وي. **قُطَبْ**] .

**قِيَامَتْ** ته نِژدې به خلک دده پر **لَاسْ** باندي **بَيْعَتْ** وکي، او دئ به **آخِرِيْ خَلِيْفَهْ** وي، دئ به خلکو ته **جَمَاعَتْ** وَرکوِي چي په دغه **جرْيَانْ** کي به حضرت **عِيْسٰي عَلَيْهِ السَّلَامْ** د **آسْمَانَ** څخه رَاشَوَه سي، او دده په **اِمَامَتْ** کي به **لُمُوْنَځْ** اداء کي، بيا به دُوي په دُوَاړُو د **دَجَّالْ** سره يَو ځائ **جَنْګْ** کوي، او حضرت **عِيْسٰي عَلَيْهِ السَّلَامْ** به **دَجَّالْ قَتْلْ** کړي .

**دَلِيْلْ** يې دغه **حَدِيْثُوْنَهْ** دي

**۶: عَنْ اُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ (ﷺ) عَنِ النَّبِيِّ (ﷺ) قَالَ يَكُوْنُ اِخْتِلَافٌ عِنْدَ مَوْتِ خَلِيْفَةٍ فَيَخْرُجُ رَجُلٌ مِنْ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ هَارِبًا اِلٰى مَكَّةَ فَيَأْتِيْهِ نَاسٌ مِّنْ اَهْلِ مَكَّةَ فَيُخْرِجُوْنَهُ وَهُوَ كَارِهٌ، فَيُبَايِعُوْنَهُ بَيْنَ الرُّكْنِ وَالْمَقَامِ، يُلْقِي الْاِسْلَامَ بِجَرَانِهِ اِلَى الْاَرْضِ، فَيَلْبَثُ سَبْعَ سِنِيْنَ، ثُمَّ يُتَوَفّٰى وَيُصَلّٰى عَلَيْهِ الْمُسْلِمُوْنَ.**

**(اَبُوْدَاوُدْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْمَلَاحِمْ، بَابُ اَوَّلُ كِتَابِ الْمِهْدِيّ، ص: ۶۰۲، نَمْبَرْ ۴۲۸۶)**

**تَرْجَمَهْ**:- **حُضُوْرْ** (ﷺ) وَ **فَرْمَائِلْ** چي:- د يَوه **خَلِيْفَهْ** پر **مَرګْ** به د خلکو په **مَابَيْنْ** کي **اِخْتِلَافْ** وي، چي يَو کس [حضرت **مِهْدِيْ**] به د **مَدِيْنَهْ** څخه په **مَيْدَانْ مَيْدَانْ مَکَّهْ** ته رَاسِي، هغه ته به د **مَکَّهْ مُکَرَّمَهْ** خلک راسي، او **مِهْدِيْ** به د خلکو وَ مَختَه رَاوَلِي، **حَالَانْکِهْ** هغه (**مِهْدِيْ**) به نَه غُوَاړِي چي **خَلِيْفَهْ** جُوړ سي، د **رُکْنِ يَمَانِيْ** او **مَقَامِ اِبْرَاهِيْمْ** په **مَابَيْنْ** کي به **بَيْعَتْ** وکي ..... هغه **وَخْتْ** به **اِسْلَامْ** په مځکه کي **جَرْ** (**بيخْ**) **مَضْبُوْطَ** کي، حضرت **مِهْدِيْ** به ددغه څخه وروسته تر **اُوَهْ** کالَ پُوړِي **ژُوَنْدَيْ** پاته وي، بيا به هغه **وَفَاتْ** سي، او **مُسْلْمَانَانْ** به پر هغه د **جَنَازِي لُمُوْنَځْ** اداء کي .

**۷: عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ)** :- **لَاتَذْهَبِ الدُّنْيَا حَتّٰى يَمْلِكُ الْعَرَبَ رَجُلٌ مِنْ اَهْلِ بَيْتِيْ يُوَاطِيْ اِسْمُهُ اِسْمِيْ** .

**(تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْفِتَنْ، بَابُ مَاجَاءَ فِي الْمِهْدِيْ، ص: ۵۱۲، نَمْبَرْ ۲۲۳۰)**

**تَرْجَمَهْ**:- **حُضُوْرْ** (ﷺ) وَ **فَرْمَائِلْ** چي:- **دُنْيَا** به **خَتْمْ** نَه سي، تر څو چي **زَمَا** د **اَهْلِ بَيْتْ** څخه به يَو کس د **عَرَبُ مَالِکْ** جُوړ سي، دهغه **نُوْمْ** به **زَمَا** په **نُوْمْ** ,, **مُحَمَّدْ** ,, وي .

**۸: عَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيّ قَالَ خَشِيْنَا اَنْ يَّكُوْنَ بَعْدَ نَبِيِّنَا حَدَثٌ، فَسَاَلْنَا نَبِيَّ اللهِ (ﷺ) فَقَالَ:- اِنَّ فِيْ اُمَّتِيْ الْمِهْدِيَّ يَخْرُجُ يَعِيْشُ خَمْسًا اَوْ سَبْعًا اَوْ تِسْعًا ..... قَالَ فَيَجِيْءُ اِلَيْهِ رَجُلٌ فَيَقُوْلُ يَا مِهْدِيُّ اَعْطِنِيْ اَعْطِنِيْ، قَالَ فَيَجِيْءُ لَهُ فِيْ ثَوْبِهِ مَا اسْتَطَاعَ اَنْ يَّحْمِلَهُ.** **(تِرْمِذِيْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْفِتَنْ، بَابُ مَاجَاءَ فِي الْمِهْدِيّ، ص: ۵۱۲، نَمْبَرْ ۲۲۳۲)**

تَرْجَمَهْ:- حضرت اَبُوْسَعِيْدْ خُدْرِيْ فَرْمَائِي چي:- مُوږ دا خَطَرْ مَحْسُوْسَ کړئ چي خُدَا مَه که د حُضُوْرْ (ﷺ) وروسته کُومَه (نَاوِرَهْ) وَاقِعَهْ رَا مينځ ته نَه سي، نو مُوږ د حُضُوْرْ (ﷺ) څخه پُوْښْتَنَهْ وکړه، حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- زَمَا په اُمَّتْ کي به مِهْدِيْ وي، هغه به پِنْځَهْ کالَ ، يا اُوَهْ کالَ، يا نَهْ کالَ ژُوَنْدَيْ وي ..... هغه ته به خلک راسي او هغه ته به ووائي ائ مِهْدِيْ مَا ته (څَه مَالْ) راکه، مَا ته (څَه مَالْ) راکه، رَاوِيْ وائي چي اِنْسَانْ څومره (بُوْجْ) پُورته کولائي سي، دهغه په کپړه کي به هغونَه وَاچوِي [يعني د مَالْ به ډُومرَه کثْرَتْ سي چي حضرت مِهْدِيْ به وَ خلکو ته بي حِسَابَ مَالْ ورکي] .

ددغه حَدِيْثُوْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي حضرت مِهْدِيْ به وَ قِيَامَتْ ته نِژدې تَشْرِيْفْ رَاوړي، هغه به خَلِيْفَهْ سي، او دده په زَمَانَهْ کي به ډېري فُتُوْحَاتِ وسي، او مَالْ به ډېر زِيَاتْ سي .

# د دَجَّالْ بيَانْ

دَجَّالْ به اِنْسَانْ وي، لېکن اَللّٰهْ تَعَالٰي به هغه ته ډُومَره طَاقَتْ ورکي چي خلک گُمرَاهَانْ کولائي سي .
دَلِيْلْ يې دغه حَدِيْثُوْنَهْ دي

**۹: اَنَّ اَبَاسَعِيْدَ الْخُدْرِيّ قَالَ حَدَّثَنَا رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) حَدِيْثًا طَوِيْلًا عَنِ الدَّجَّالِ ..... فَيَقُوْلُ الدَّجَّالُ أَرَأَيْتَ اِنْ قَتَلْتُ هٰذَا ثُمَّ اَحْيَيْتُهُ، هَلْ تَشُكُوْنَ فِيْ هٰذَا الْاَمْرِ؟ فَيَقُوْلُوْنَ، لَا، فَيَقْتُلُهُ ثُمَّ يُحْيِيْهِ، فَيَقُوْلُ حِيْنَ يُحْيِيْهِ، وَ اللهِ مَاكُنْتُ قَطُّ اَشَدَّ بَصِيْرَةً مِّنِّيْ الْيَوْمَ، فَيَقُوْلُ الدَّجَّالُ اَقْتُلُهُ، فَلَا يُسَلَّطُ عَلَيْهِ.**
**(بُخَارِيْ شَرِيْفْ، كِتَابُ فَضَائِلِ الْمَدِيْنَةِ، بَابٌ لَايَدْخُلُ الدَّجَّالُ الْمَدِيْنَةَ، ص: ۳۰۳، نَمْبَرْ ۱۸۸۲)**

تَرْجَمَهْ:- حضرت اَبُوْسَعِيْدْ خُدْرِيْ فَرْمَائِي چي:- حُضُوْرْ (ﷺ) د دَجَّالْ په اړه يَو وُږدْ حَدِيْثْ بيَانْ کئ ..... دَجَّالْ به خلکو ته ووائي، که چيري زَهْ دغه سړئ قَتْلْ کړم او بيايې ژُوَنْدَيْ کړم نو آيَا زَمَا په مَعَامَلَهْ کي به تاسو ته کُوم شَكْ پاته وي؟ خلک به ووائي چي، نَهْ! دَجَّالْ به هغه قَتْلْ کړي بيا به هغه ژُوَنْدَيْ کړي،چي کله هغه ژُوَنْدَيْ کړي، نو هغه کس به ووائي، نَنْ وُرَځْ چي څنګه مَا ته يَقِيْنْ حَاصِلْ سو [چي تَه دَجَّالْ يې] قَسَمْ په خُدَاىْ تر دې مَخکې نَه وُو حَاصِلْ سوئ، اُوس به دَجَّالْ ووائي آيَا دئ قَتْلْ نَه کړم؟ لېکن اَللّٰهْ به پر هغه قَتْلْ کولو باندي ده ته قُدْرَتْ نَه ورکوي .

**۱۰: اَنَّ عَبْدَ اللهِ بِنْ عَمْرِو قَالَ:- قَامَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) فِي النَّاسِ فَاَثْنٰى عَلَى اللّٰهِ بِمَا هُوَ اَهْلُهُ ثُمَّ ذَ كَرَ الدَّجَّالَ فَقَالَ لَاَنْذَرْكُمُوْهُ، وَمَا مِنْ نَبِيٍّ اِلَّا قَدْ اَنْذَرَهُ**

قَوْمَهُ، وَلٰــكِنِّيْ سَأَقُوْلُ لَكُمْ فِيْهِ قَوْلًا لَمْ يَقُلْهُ نَبِيٌّ لِقَوْمِه، اِنَّهُ اَعْوَرُ، وَ اَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِاَعْوَرَ.

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ، بَابُ ذِكْرِ الدَّجَّالِ، ص: ۱۲۲۷، نَمْبَرْ ۷۱۲۷ / مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْفِتَنْ، بَابُ ذِكْرِ الدَّجَّالْ، ص: ۱۲۶۹، نَمْبَرْ ۲۹۳۲/ ۷۳۶۱)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) د خلکو په مینځ کي وَدَرېدَئ، د اَللّٰهْ د شَانْ سره مُنَاسِبْ تَعْرِيْفْ يې وکئ، بيايې د دَجَّالْ تَذْکِرَهْ وکړه، او وَ فَرْمَائِلْ چي:- هر نَبِيْ خپل قَوْمْ د دَجَّالْ څخه ببېرَوَلَئ دئ، او زَهْ هم تاسو دهغه د فِتْني څخه ببېروَم، لېکن زَهْ دارنګه خَبَرَهْ کوَمّه چي يَوَه نَبِيْ وَ خپل قَوْمْ ته نَه ده کړې، [هغه دا] چي دَجَّالْ په يَوَه سترګه ړُنْدْ دئ، او خُدَا هَرګِز اَعْوَرْ (په يَوَه سترګه) نَه دئ .

**۱۱: عَنْ حُذَيْفَةَ عَنِ النَّبِيِّ (ﷺ) قَالَ فِي الدَّجَّالِ، اِنَّ مَعَهُ مَاءٌ، وَ نَارٌ، فَنَارُهُ مَاءٌ بَارِدٌ، وَ مَائُهُ نَارٌ.** (بُخَارِيْ شَرِيْفْ، بَابُ ذِكْرِ الدَّجَّالِ، ص: ۱۲۲۸، نَمْبَرْ ۷۱۳۰)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) د دَجَّالْ په اړه وَ فَرْمَائِلْ چي:- د دَجَّالْ سره به اُوْبَهْ او اُوْرْ وَر سره رَوَانْ وي، کُوم چي هغه دده اُوْرْ دئ هغه په حَقِيْقَتْ کي يَخِيْ اُوْبَهْ دي، او کُوم چي په ظَاهِرَهْ اُوْبَهْ ښکاره کېږي هغه په حَقِيْقَتْ کي اُوْرْ (وُوْرْ) دئ .

**۱۲: اَنَّ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ (ﷺ) يَسْتَعِيْذُ فِيْ صَلَاتِه مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ.**

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ، بَابُ ذِكْرِ الدَّجَّالِ، ص: ۱۲۲۸، نَمْبَرْ ۷۱۲۹)

تَرْجَمَهْ:- حضرت عَائِشَهْ فَرْمَائِي چي مَا وَاوَرېدَل چي حُضُوْرْ (ﷺ) په خپل لَمُوْنْځ کي د دَجَّالْ د فِتْني څخه پَنَاهْ غُوښتَل .

دَجَّالْ به يَوَه غَتَّهْ فِتْنَهْ وي، ددې څخه هم پَنَاهْ غُوَښتَل په کار ده، دغه هم د قِيَامَتْ د عَلَامَاتْ څخه دئ .

## يَاْجُوْجْ و مَاْجُوْجْ به رَاوَوزِي

يَاْجُوْجْ و مَاْجُوْجْ يَو ډېر غَتْ قَوْمْ دئ، چي قِيَامَتْ ته نِژدې به رَاوَوزِي، او ډېر تولَه نړئ به يَو پِرْتَمْ (شُهْرَتْ، هَنْګَامَهْ) وَغُوَرِوِي، حُضُوْرْ (ﷺ) ددې په اړه خَبَرْ وَرکړئ دئ

دَلِيْلْ يې دغه آيَتْ دئ

**۲: حَتّٰى اِذَا فُتِحَتْ يَاْجُوْ جُ وَمَاْجُوْ جُ وَهُمْ مِّنْ كُلِّ حَدَبٍ يَّنْسِلُوْنَ و اقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ .** (آيَتْ ۹۶، سُوْرَةُ الْاَنْبِيَآءْ ۲۱)

**تَرْجَمَهْ**:- تر څو يَأْجُوْجْ و مَأْجُوْجْ خَلَاسْ (يَلَـه) سي، او هغه د هر لُوړ ځايَـه ځغـه رَاښكيږُونكي ښكاره كيږي او د رِشْتُوْنِيْ وَعْدِي (قِيَامَتْ) د پُورَه كيدو وَخْتْ نِـژدي راسي .

حَدِيْثْ دغه دئ

**۱۳: عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ اَنَّ النَّبِيَّ (ﷺ) اِسْتَيْقَظَ مِنْ نَوْمِه وَ هُوَ يَقُوْلُ:- لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، وَيْلٌ لِلْعَرَبْ مِنْ شَرٍّ قَدْ اِقْتَرَبَ، فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يَاْجُوْجَ وَ مَاْجُوْجَ مِثْلَ هٰذِه وَعَقَدَ سُفْيَانُ بِيَدِه عَشَرَةً .**

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْفِتَنْ، بَابُ اِقْتِرَابِ الْفِتَنِ وَ اَشْرَاطُ السَّاعَةِ، ص: ۱۲۴۶، نَمْبَرْ ۲۸۸۰/ ۷۲۳۵)

**تَرْجَمَهْ**:- حُضُوْرْ (ﷺ) د خُوْبْ څخه رَاوِښْ سو،او دا يي وَيَل لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، د عَرَبُ لپاره دي هَلَاكَتْ وي شَرْ ډير نِژدي رَارَسيدَلَئ دئ، او نَنْ د يَاْجُوْجْ و مَاْجُوْجْ سُوْرَاخْ دُومرَه خَلَاسْ سوئ دئ، حضرت سُفْيَانْ په كُوْتُوْ سره ګُول حَلْقَهْ جوړَكړه وويل چي دُومرَه خَلَاسَ سوه .

ددغه آيَتْ او حَدِيْثْ څخه مَعْلُوْمْ سو چي په قِيَامَتْ به يَاْجُوْجْ و مَاْجُوْجْ رَايَلَه سي .

## لُمَرْ به د غَرْبْ لَخْوَا رَا وَخيږي

ددي دَلِيْلْ دغه حَدِيْثْ دئ

**۱۴: حَدَّثَنَا اَبُوْهرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) لَاتَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا فَاِذَا رَاٰهَا النَّاسُ اٰمَنَ مَنْ عَلَيْهَا فَذَالِكَ حِيْنَ [لَايَنْفَعُ نَفْسًا اِيْمَانُهَا لَمْ تَكُنْ اٰمَنَتْ مِنْ قَبْلُ]** (آيَتْ ۱۵۸، سُوْرَةُ الْاَ نْعَامْ ۶) .

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ، كِتَابُ التَّفْسِيْرْ، بَابُ لَايَنْفَعُ نَفْسًا اِيْمَانُهَا، ص: ۷۹۳، نَمْبَرْ ۴۶۳۵)

**تَرْجَمَهْ**:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- تر څو چي لُمَرْ د مَغْرِبْ لَخْوَا نَه وي رَاخَتَلَئ قِيَامَتْ نَه قَائِمْ كيږي، چي كله هغه وَوِيْنِيْ چي رَاخيژي نو ټُولَ خلګ به اِيْمَانْ رَاوړي [ليكن هغه وَخْتْ به دغه اِيْمَانْ قَابل قَبُوْلَ نَه وي، په دغه آيَتْ لَايَنْفَعُ نَفْسًا اِيْمَانُهَا] كـي ددي بَيَانْ سوئ دئ .

## يَو عَجِيْبْ حَيْوَانْ به رَاوَوزِي

قِيَامَتْ ته نژدې به يَو عَجِيْبْ حَيْوَانْ رَاوَوزِي، چي د اِنْسَانَانُوْ سره به خَبَرِيْ كوي او هغه وَخْتْ به د تُوْبَهْ د قَبلېدو دَرْوَازَهْ بَندَ سي، د حَيْوَانْ د رَاوَتَلو دَلِيْلْ دغه آيَتْ دئ

**۳: وَ اِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ اَخْرَجْنَا لَهُمْ دَآ بَّةً مِّنَ الْاَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ ۙ اَنَّ النَّاسَ كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا لَايُوْقِنُوْنَ ۝ ع (آيَتْ ۸۲، سُوْرَةُ النَّمَلْ ۲۷)**

تَرْجَمَهْ:- او چي كله (زُمُوږ) د خَبَرِيْ د پُورَه كېدو وَخْتْ هغه خلكو ته رَاوَرسېږي نو مُوږ به د دُوي لپاره دمځكي څخه يَو حَيْوَانْ رَاوَبَاسُو چي د دُوي سره بـه خَبَرِيْ كـوي چي خلكو زُمُوږ پر آيَتُوْ يَقِيْنْ نه كاوئ.

## څَه نور شِيَانْ هم د قِيَامَتْ د عَلَامَاتُوْ څخه دي

قِيَامَتْ ته نژدې به زِنَاءْ كَارِيْ ډېره عَامَ سي، غَزَلِيْ بَدَلِيْ به عَامِ سي، شَرَابْ به په عَامَ چيښَل كېږي، د دِيْنْ څخه به جَهَالَتْ عَامْ سي، د مُوْرْ و پِلَارْ سره به د خپل اَوْلَادْ چَلَنْ دارنګه سي لكه د مَالِكْ او غُلَامْ سره، او اَوْلَادُوْنَهْ به د مُوْرْ و پِلَارْ هيڅ اِحْتِرَامْ نه كوي، او كَبنَتَّهْ (رَذِيْلَانْ/ شَيْنِيَانْ) رنګه خلګ به غَتْ غَتْ بِلْډِنْګَانْ او مَانِيْ جوړ كي .

په دغه حَدِيْثُوْ كي ددې تَذْكِرَهْ سوې ده

**۱۵: عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ ..... وَ سَاُخْبِرُكَ عَنْ اَشْرَاطِهَا اِذَا وَلَدَتِ الْاَمَةُ رَبَّتَهَا، وَ اِذَا تَطَاوَلَ رُعَاةُ الْاِبِلِ الْبُهْمُ فِى الْبُنْيَانِ .**

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ،كِتَابُ الْاِيْمَانْ،بَابُ سُوَال جِبْرَئِيْلَ النَّبِىَّ (ﷺ) عَنِ الْاِيْمَانِ،ص: ۱۲،نَمْبَرْ ۵۰)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- د قِيَامَتْ د رَاتْلُو عَلَامَتْ تاسو ته دَر ښَايَم، چي كله ښځي خپل مَوْلِي و مَالِكْ وَ زېږوِيْ، د تُوْرُوْ وُښَانُوْ شُيْنِيَانْ خلګ د غَتُّوْ غَتُّوْ مَانِيُوْ په جوړولو كي يَوْ بَلْ ته لَافِ وَهَلْ شروع كي .

**۱۶: عَنْ اَنَسِ بن مَالِكٍ ..... اِنَّ مِنْ اَشْرَاطِ السَّاعَةِاَنْ يَّرْفَعَ الْعِلْمُ، وَ يَظْهَرُ الْجَهْلُ، وَ يَفْشُوْا الزِّنَا، وَ يُشْرَبُ الْخَمْرُ، وَ يَذْهَبُ الرِّجَالُ، وَ يَبْقَى النِّسَاءُ حَتّٰى يَكُوْنَ لِخَمْسِيْنَ اِمْرَأَةً قَيِّمٌ وَاحِدٌ.**

(اِبْنِ مَاجَهْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْفِتَنْ، بَابُ اَشْرَاطِ السَّاعَةِ، ص: ۵۸۴، نَمْبَرْ ۴۰۴۵)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- د قِيَامَتْ د عَلَامَاتُوْ څخه دادئ چي:- عِلْمِ دِيْنْ به پُورتَه سي، جَهَالَتْ به عَامْ سي، زِنَا به عَامَ سي، شَرَابْ به ډېر چيښَل كېږي، نَرَانْ به لَږْ سي، ښځي به ډېري سي آنْ تر دې چي د پِنْځُوْسْ ښځو به يَو ذِمَّهْ دَارَ (نَرْ) وي .

## تَمَّتْ بِالْخَيْرْ

وَ اٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ، وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمُ، وَ عَلٰى اٰلِهِ□ وَ اَصْحٰبِهِ□ اَجْمَعِيْنَ، اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ .

اَلْحَمْدُ لِلّٰهْ نَنْ پـه يَكَمْ جَمَادِيَ الثَّانِيْ ۱۴۴۱ هِجْرِيْ/ مُطَابِقْ ۲۷ جَنْوَرِيْ ۲۰۲۰ عِيْسَوِيْ د دُوَهْ شَمْبِى پـه وُرَځْ سَهَارْ اُوَهْ نِيْمِيْ بجـې ددغـه كِتَابْ يَبِنْتُوْ تَرْجَمَهْ تَكْمِيْلْ ته ورسېده، چي دا زَمَا د ژُوَنْدْ يَو ډېر مُهِمْ كِتَابْ دئ، اَللّٰهْ تَعَالٰى دي دې تـه مَقْبُوْلِيَّتْ عَامْ او تَامْ ورکـړي، او ددې اِفَادَهْ دي هـم عَامَّهْ کړي .

اَحْقَرُ الْعِبَادْ

اَبُوالْحُسَيْنْ

## عَبْدُ الْمَتِيْنْ قُطَبْ

بِن اَلْوَلِيُّ الْكَامِلْ اَلشَّيْخْ مَوْلَانَا مُحَمَّدْ اِسْحٰقْ نَوَّرَ اللهُ مَرْقَدَهُ .

مَحَلَّهْ مَسْجِدِ شَيْخْ قُطَبْ مَحْمُوْدْ آبَادْ يَبِنْتُوْنْ آبَادْ كُوَتَّهْ

بَلُوْچِسْتَانْ پَاكِسْتَانْ

ذَرِيْعَهْ ،

ددغه

ددغه

ددغه

۲: پر اَللّٰهْ باندي جَزَا يا سَزَا ورکول وَاجِبْ نَه ده

ددغه

(ﷺ) (ﷺ) () ()

يَخْلٰى بِه□ عَلَيْكَ لَهٓ□. ه□ ه□ ه□

ددغه عَقِيدې پـه اړه ۹ آيَتُوْنَهْ او ۳ حَدِيْثُوْنَهْ دي، تاسو د هر يَوَه تَفْصِيْلْ مُلَاحَظَهْ کئ .

(حَدَّثَكَ) ذٰلِكَ ذٰلِكَ يٰا بَنِي ... قَوْمَآنِ ... اِلٰى ... بِهٖ□ بِهٖ□ بِه□.. بِهٖ□ بِه□. ... لَهٗ□.

کئ ۱: اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ تَنْزِيْلًا . (آيَتْ ۲۳، سُوْرَةُ الْاِنْسَانْ / سُوْرَةُ الدَّهْرْ ۷۶)

تَرْجَمَهْ:- اىٔ پيغَمْبَرَهْ مُوږ دغه قُرْآنْ په لَږْ لَږْ پر تَا باندي نَازِلْ کړئ دئ

کئ ۱۰: ذَرِّ قَالَ سَاَ لْتُ رَسُوْلَ اللهِ هَلْ رَاَيْتَ رَبَّكَ؟ قَالَ نُوْرٌ اَنّٰى اَرَاهُ؟ .

(مُسْلِمْ شَرِيْفْ، كِتَابُ الْاِيْمَانْ، بَابُ قَوْلِهٖ عَلَيْهِ السَّلَامْ نُوْرٌ اَنّٰى اَرَاهُ، ص: ۹۱، نَمْبَرْ ۱۷۸/ ۴۴۳)

تَرْجَمَهْ:- حُضُوْرْ (ﷺ) وَ فَرْمَائِلْ چي:- په تَقْدِيْرْ کي چي کُوم خَيْرْ و شَرْ لِيکلي دي،

''

.... '' ... ... '' '' ؟...

(بُخَارِيْ شَرِيْفْ، اَحَادِيْثُ الْاَنْبِيَآءِ، بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالٰى [ وَ اذْ كُرْ فِى الْكِتٰبِ مَرْيَمَ اِذِ انْتَبَذَتْ مِنْ اَهْلِهَا] ... (آيَتْ ۱۶، سُوْرَةُ مَرْيَمْ ۴۴)... ، ص: ۵۸۰ ، نَمْبَرْ ۳۴۴۵)

(حَدَّثَكَ) ذٰلِكَ ذٰلِكَ يٰا بَنِي ... قَوْمَآنِ ... اِلٰى ... بِهٖ□ بِه□.. لَهٗ□. لَه□

## ۲: پر اَللّٰهْ باندي جَزَا يا سَزَا ورکول وَاجِبْ نَه ده

ددغه

() () ()

() () () (ﷺ) (ﷺ)() () ()

:,, ... ... ,, ,,

(١٣)، (١٣)، (١٣)،

(يَارَهْ ٩ آيت ١٦٣ تا١٦٦) ذٰلِكَ رَبُّكَ fid(you tube)e fide

() () () () () ()

na fide Stan (S124000ta)Bo

نَ يَٓا بَنِي ... قَوْمَآنِ ... اِلٰى ... بهٓ□ به□... لهٓ□.

الْأَعْرَافْ (يَارَهْ ٩ آيت ١٦٣ تا١٦٦) كي راروان دئ . ١٦

وَفِيْ كُلِّ شَىْءٍ لَّهٗ□ اٰيَةٌ : تَدُلُّ عَلٰى اَنَّه□ مَرْسَلُ. بعَيْنِه□ آ اَبٰى يَٓا بِه□

لَه□ الْعٰلَمِيْنَ

ببه ببه ببه .... لبه لبه لبه